بسم الله الرحمن الرحیم

من یرد الله به خیرا یفقهه فی الدین (الحدیث)

الحق الصریح

پښتو شرح

مشکوٰة المصابیح

تالیف:

فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

جمع وترتیب: ابو زهیر سیف الله غفرله

٢

مکتبه محمدیه

بیرون کوهاټ ګیټ منګل مارکیټ پېښور

بسم اللہ الرحمن الرحیم

من یرد اللہ بہ خیرا یفقھہ فی الدین (الحدیث)

الحق الصریح

(۲)

رسالہ

پښتو شرح

مشکوۃ المصابیح

تالیف:

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری حفظہ اللہ

ترتیب: ابو زھیر سیف اللہ

ترجمۃ احادیث: ابو سلمان حضرت محمد غفرلہ

په دے جلد کښے د دوه سو څلور شپیته 264 (۲۶۴) احادیثو تشریح کړے شوے ده

مکتبہ محمدیہ

بیرون کنج گیٹ منگل مارکیٹ پیښور

د کتاب نوم ———— الحق الصریح شرح مشکاه المصابیح پښتو

د مؤلف نوم ———— الشیخ العلامه ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

ترتیب ———— ابو زهیر سیف الله

ترجمه احادیث ———— ابو سلمان حضرت محمد غفرله

تعداد ———— ایک هزار نسخې

کال ———— ۱٤۲۷ هـ صفر المظفر موافق ۲۰۰٦/۳/۱۵ء

فن ———— الحدیث

ناشر ———— مکتبه محمدیه ګنج پېښور

طباعت ———— دریم ځل / څلورم ځل صفر ۱٤۳۳ / موافق ۲۰۱۲/۱/۳۰ء

مکتبه محمدیه

بیرون ګنج ګیټ پهندو روډ منګل مارکیټ پېښور

مدیر : ولی الله

موبائل نمبر: 03018828402

بسم الله الرحمن الرحیم

تقریظ الشیخ العلامة المفسر السید عبد السلام الرستمي حفظه الله

ان الحمد لله نحمده ونستعینه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سیئات اعمالنا من یهده الله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادی له . وأشهد أن لا اله الا الله وحده لا شریك له واشهد ان محمدا عبده ورسوله صلی الله تعالی علیه وسلم تسلیما کثیرا کثیرا .

اما بعد :

الله تعالی د ذکر د حفاظت وعده کړیده : ﴿ انا نحن نزلنا الذکر وانا له لحافظون ﴾ او الذکر لفظ وحی متلو او وحی غیر متلو یعني قرآن کریم او احادیثو د رسول الله ﷺ ته عام او شامل دے . الله تعالیٰ دا وعده پوره کړیده د دواړو حفاظت ئې په لیکلو سره کړیدے، او دارنګه په حفظ سره کړے دے . د قرآن کریم الفاظ او معانی ئې محفوظ ساتلی دی، نو داسے د احادیثو ئې لفظی او معنوی یا صرف معنوی حفاظت کړیدے . دا حفاظت علمائے حدیث په خپله غاړه باندے کیخودلے دے . د احادیثو یاد ساتل او دهغے لیکل او د هغے درس و تدریس کول او د هغے ترجمے او د هغے تشریحات لیکل او دا په امت باندے د دغه علمائے کرامو عظیم احسان دے چه په دے سره دین اسلام محفوظ ساتلے شویدے .

په دے سلسله کښے زما ورور الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری په دے وخت کښے مشهور او نمایان عالم دے، چه هغه د نورو دینی مصروفیاتو سره سره د مشکوه المصابیح شرح چه نوم (**الحق الصریح**) دے شروع کړیده . چه د هغے دوه جلدونو پوره شوی دی، دا شرح دے کتاب، زما په نظر کښے داسے شرح ده چه عالم او طالب العلم بلکه د پښتو ژبے لوستونکو دپاره د نورو شرحو د کتلو نه بے پرواه کوی . د حدیث معنیٰ، د هغے تشریح، أو دحدیث درجه، صحیح، حسن، ضعیف موضوع په کښے په ډیر تحقیق سره ذکر کړی دی .

طلباء د حدیث او بالخصوص د مشکوه المصابیح د طالبانو دپاره ضروری دی چه ددے کتاب نه استفاده اوکړی .

او الله تعالیٰ نه دعاء ده چه مؤلف د کتاب ته ددے د تکمیل توفیق احسن ورکړی . او دا د هغه دپاره صدقه جاریه مقبوله اوګرځوی . وما ذلك علی الله بعزیز .

اخوکم فی الله ابو زکریا **عبد السلام** الرستمي

۲۷ محرم /۱٤۲۷ هـ



بَابُ مَا يُوجِبُ الْوُضُوْءَ

ربط او مناسبت دما قبل سره

مخکښې فضائل داودس وغيره بيان شو نو اوس مسائل او احكام داوداسه ذكر كوي، چه اودس په كومو څيزونو سره واجبيږي.

بيا چونكه اودس زيات واقع كيږي په نسبت د غسل او صلوة وغيره نو ځكه دا باب مقدم شو په نورو ابوابو باندې. دلته اوس موجبات الوضوء بيانوي.

فائده : بعضې مصنفين په دې مقام كښې داسې باب لګوي :

بَابُ نَوَاقِضِ الْوُضُوْءِ – يعنې اودس ماتونكي څيزونه. ليكن دا عنوان غوره نه دې ځكه چه اول اودس كول ضروري دي بيا روستو بيان دنواقضو پكار دې. او د مصنف طرز راجح دې، وجه داده چه ده اول موجبات داودس ذكر كړي دي چه په كومو څيزونو سره اودس كول واجبيږي.

الْوُضُوْءُ : وُضوء چه په ضمې سره شي نو مراد ترينه اودس كول دي، او چه په فتحې د واؤ سره شي نو مراد ترينه هغه اوبه دي چه په هغې سره اودس كيږي، خو ليكن كله ددواړو لفظونو نه اوبه مراد وي، او كله ددواړو نه اودس كول مراد وي (يعنې مصدري معنى) هكذا في القاموس.

مُوجِبات الوضوء دوه قسمه دي :

١ – اتفاقي . ٢ – اختلافي د علماؤ ترمينځ.

اتفاقي موجبات الوضوء هغه دي چه د سبيلينو (قبُل، دُبر) نه اوځي، لكه مني، مذي، حيض، نفاس، استحاض، ريح، بول، غائط وغيره خارج شي، نو په دې سره اتفاقا اودس

واجبيږي۔

٢ – ددې نه علاوه نور ټول اختلافي دي، اودا اختلافي څيزونه ډير زيات دي چه په هغې كښې د صحابه كرامو اوتابعينو اختلاف وي، دوجې د تعارض د ادله نه، چه په دې كښې به راجح باعتبار الدليل اخستلے شي، لكه:

١ – وضوء مِمَّا مَسَّتِ النار (كوم څيزونه چه په اور پخ كړے شوي وي هغې خوړلو نه اودس كول)۔

٢ – الوضوء من اكل لحوم الابل (اوښ غوښه خوړلو نه پس اودس كول).

٣ – مس الذكر. ٤ – مس المرأة. ٥ – النوم. ٦ – خروج الدم والقيح. ٧ – خروج القئ من المعدة بالفم۔ ٨ – وضوء من حمل الجنازه۔

فائده عجيبه: لنډه خبره د فتوى وركولو دپاره داده چه په احاديثو كښې درې شيان بغير د څه قيد نه موجبات الوضوء ښودلے شويدي:

١ – ما خرج من السبيلين: كه هر څه وي۔

٢ – اكل لحوم الابل على القول الراجح۔

٣ – النوم مطلقا، من غير قيد الاتكاء والاسناد۔

دې وجې نه امام بخاري رحمه الله باب تړلے دے:

باب من لم ير الوضوء الامن المخرجين ۔ اشاره كوي ترجيح ددې قول ته چه صرف په ماخرج من السبيلين سره اودس ماتيږي، نه په قئ، دم وغيره باندې۔

او هرچه دم او مس الذكر او مس المرأة دي نو دا په شرطونو سره اودس واجبوي، اوكله اودس كول مستحب كوي لكه خروج الدم باندې وجوب نه راځي، صرف استحباب راځي، لكه چه خپل خپل ځائے كښې به راشي ان شاء الله تعالىٰ۔

(دا خلاصه ددې باب ده)۔

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ – اول فصل

١ – عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: (لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ مَنْ اَحْدَثَ حَتّٰى يَتَوَضَّأَ) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله (ﷺ) اوفرمائيل : دے اودسه شخص مونځ نه قبليږي تر دے چه اودس او کړي (بخاري، مسلم)۔

تشريح : لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ مَنْ اَحْدَثَ حَتّٰى يَتَوَضَّأَ :

دَرْءُ الْغُلُوْل فِىْ تَحْقِيْق اَقْسَام الْقَبُوْل

قبول په کلام عربئ او قرآن او احاديثو کښے په دوه معنو استعماليږي :

(۱) **يو قبول** په معنیٰ د صحت او ترتب د ثواب سره، يعنے چه يو عمل صحيح هم وي او ثواب هم پرے ملاويږي، ديته قبول فقهي او قبول مطلق او قبول اصابت وائي، نو د عدم قبول معنیٰ به داوي چه داشے صحيح هم نه دے او ثواب هم پرے نه ملاويږي، ذمه به ئے نه وي فارغه۔

حافظ ابن حجرؒ فتح الباري (۱/۱۸۹) کښے فرمائي : د قبول حقيقت دادے چه طاعات په داسے طريقه واقع شي چه به هغے سره ذمه واري ساقطه شي، او ذمه هله فارغيږي چه اتيان بالشرائط اوشي (يعنے عمل د شرائطو سره اوکړے شي) او په اتيان بالشرائط باندے اجزاء او صحت د عمل مرتب دے۔ په دے وجه په اتيان بالشرائط سره قبول (يعنے صحت) مرتب کيږي، او په عدم قبول سره عدم صحت راځي۔ دا د قبول حقيقي معنیٰ ده۔ نو معنی د حديث به داشي چه د بے اودسه انسان مونځ صحيح نه دے، ترڅو چه اودس اونه کړي، ځکه چه اودس شرط دے دمانځه دپاره، او چه شرط پوره نه کړے شي نو صحت او اجزاء د عمل نه راځي۔

ددے قسم قبول تعريف داسے کولے شي :

کون الشئ مستجمعا لجميع الشرائط والارکان.

(يعنے : د يوشئ د ټولو شرائطو او ارکانو سره موجوديدل)۔

(۲) – **دويم قسم قبول** : په معنیٰ د ترتب د ثواب او عدم قبول په معنیٰ د نفي د ثواب سره۔ اوديته قبول اجابت، قبول کامل او قبول عند الله وائي۔ د دے قبول په نفي سره صرف نفي د ثواب راځي، او نفي ددے قسم قبول مستلزم نه ده نفي د صحت لره، بلکه

عمل به ئې صحيح وي. فقهاء به ورته د اعادې حكم نه كوي، ذمه به ئې فارغه وي، ليكن اجر او ثواب به ورته نه ملاويږي. ددې مثال دادې لكه حديث كښې دي: (من اتى عرافا لم تقبل له صلاة) دلته معنىٰ داده چه څوك فالګر ته راغلو نو مونځ ئې قبول نه دې، يعنې اجر او ثواب ورته نه ملاويږي، اګركه ذمه به ئې فارغه وي. فقهاء به ورته د دوباره راګرځولو حكم نه كوي. يا لكه (لا تقبل صلاة امرأة باتت وزوجها عليها غضبان) دلته هم معنىٰ داده چه ثواب او اجر ورته نه ملاويږي، ځكه مونځ په شرائطو او اركانو سره شويدې، نو صحيح دې، ليكن فساد په كښې د خارج نه راغلې دې.

ددې قسم قبول تعريف داسې دې: كون الشئ واقعا فى حيز مرضاة الله (يعنې يو شې د الله تعالىٰ د رضا په مقام كښې واقع كيدل).

خلاصه: داچه كه شرائط او اركان نه وي اداء شوي نو اول قسم عدم قبول به مراد وي. اوكه شرائط او اركان پوره وو ليكن فساد په كښې د خارج نه راغلې وو، نو هلته به د عدم قبول نه دويمه معنىٰ مراد وي يعنې عدم قبول عند الله. اودا معنىٰ مجازى د قبول ده، كما قال الحافظ. او امام ابن دقيق العيدؒ فرمائي: قبول مشترك دې په دواړو معنو كښې، يعنې صحت او ترتب د ثواب كښې. نو د (لا تقبل صلاة من احدث) معنىٰ داده چه بغير داودس نه مونځ صحيح هم نه دې او اجر او ثواب ئې هم نشته. دلته كه معنىٰ ثاني د قبول واخستې شي نو معنىٰ به داشي چه بغير د اودس نه مونځ باندې اجر او ثواب نشته. او هرچه عدم صحت دې نو هغه به د بل حديث نه معلوميږي چه (مفتاح الصلاة الطهور) رواه الترمذى، وقد تقدم فى اول الطهارة.

ليكن دلته اوله معنىٰ مراد ده. او په ترمذى كښې چونكه دوه بابونه يوشان راغلي دي، يو: باب ماجاء لا تقبل صلاة بغير طهور (صفحه: ۲). بل: باب ماجاء مفتاح الصلاة الطهور (ص: ۵). نو شارحينو د تفرقه د بابونو دپاره په اول مقام كښې عدم قبول په معنىٰ ثاني اخستې دې او په دويم مقام كښې دويمه معنىٰ مراد كړيده.

بعضې علماء فرمائي: قبول استعماليږي په ضد او په مقابل د رد كښې، نو د (لا تقبل) معنىٰ به داوي چه دده عمل مردود دې، لكه قرآن كريم كښې راځي ﴿ انما يتقبل الله من

المتقين ﴾ او ﴿ لن يقبل من احدهم ملء الأرض ذهبا ﴾ آل عمران ـ معنیٰ هم داده چه ددے کفارو دا عمل (فدیه ورکول) مردود دے، صحیح نه دے۔

★ د بعضے علماؤ په نیز **قبول** په درے قسمه دے :

۱ - **قبول اعلیٰ** : په دے کښے ددرے څیزونو موجودیدل ضروری وی (۱) صحت (۲) ترتب دثواب (۳) استحسان، یعنے داشے به صحیح هم وی او اجر او ثواب به ئے هم وی، اوپوره مستحسن او بهتر او کمال والا به وی ـ ددے قبول په نفی سره صرف کمال او استحسان نفی کیږی، نه صحت او نه ترتب د ثواب، ځکه چه نفی اکثر متوجه کیږی اعلیٰ قید ته، نو د (لا تقبل) معنیٰ به داوی چه داشے قبول نه دے، یعنے مستحسن (مزیدار او اعلیٰ درجے والا) نه دے اگرچه صحیح به وی او ثواب به هم په دے باندے مرتب وی، ځکه چه په صورت د نفی کښے صرف اعلیٰ قید سلب کیږی چه هغه استحسان دے ـ ددے مثالونه په احادیثو کښے دومره نشته، صرف یو مثال دوه دی، یو (لا صلاة لجار المسجد الا في المسجد)، یا د ابوداود روایت کښے دی (من صلى على جنازة في المسجد فلا اجر له)، ددے معنیٰ بعضے علماء داکوی چه مونځ صحیح هم دے او جر هم شته، لیکن اعلیٰ درجه قبول نه دے۔

۲ - **قبول متوسط** : په دے کښے دوه څیزونه وی (۱) صحت (۲) ترتب د ثواب . نو کله چه ددے قبول نفی اوشی نو صرف ترتب دثواب به نفی کیږی، او صحت به باقی وی، او معنیٰ د (لايقبل) به داوی : (ای لا يثاب مع صحة ذلك الشئ في الدنيا) ـ ددے مثال دا حدیث دے لکه (لا يقبل الله صلاة امرأة باتت وزوجها عليها غضبان) یا لکه (لا تقبل صلاة مسبل ازاره) یا لکه (لا تقبل صلاة عبد آبق حتى يرجع) یا لکه حدیث کښے دی (من اتى عرافا لم تقبل له صلاة) فتح الباری ـ په دے ټولو ځایونو کښے مونځ به صحیح وی، ذمه به فارغه وی، البته د الله په نزد به ددے خلقو اجر او ثواب نه وی۔

۳ - **قبولِ ادنیٰ** : په دے کښے صرف صحت وی، نو ددے په نفی سره به نفی د صحت کیږی او مطلب به داوی چه دا عمل صحیح نه دے بلکه باطل دے، اعاده ئے ضروری ده، لکه په دے حدیث الباب کښے، یا لکه (لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب)

ځکه چه اودس شرط دے او فاتحه رکن دے، نو ددے دواړو په نفي سره نفي د مانځه راځي۔
په دے ټولو کښے به مقام او قرینے ته کتلے شي، او ددلیل په بناء باندے به یو قبول مراد کولے شي۔

لیکن **جمهور** علماء دا تقسیم ښه نه ګڼړي، ددے وجے نه هغوئ د قبول صرف دوه قسمه بیانوي، لکه چه مخکښے تیر شو۔ او وجه د غوره والي د تقسیم ثنائی داده چه مونږ قبول اعلیٰ مراد کړو نو بیا به د نبي ﷺ مضبوطه مؤکده خبره په خلاف الأفضل باندے حمل کیږي، مثلا نبي ﷺ په تاکید سره فرمائي (لا تقبل صلاة امرأة الخ) او ته وائے چه ثواب هم شته او صحیح هم دے۔ خو صرف کمال او استحسان په کښے نشته۔ نو دا مناسبه نه ښکاري، ددے وجے نه قبول صرف دوه قسمه کول پکار دي، او قبول اعلیٰ په کښے شاذ او نادر دے، مثالونه ئے په احادیثو کښے ډیر نشته۔

شیخ محمد صالح العثیمین د **قبول** تحقیق داسے کوي: چه نفي د قبول سره نفي د صحت راځي او که نه؟ نو پدے کښے د دلائلو په اعتبار اختلاف واقع شویدے خو صحیح دا ده چه دلیل نافي د قبول په څلور قسمه دے (۱) چه په هغه کښے انتفاء د امر وجودي وي لکه: لا یقبل الله صلاة احدکم اذا احدث حتی یتوضأ. یا لکه لاصیام لمن لم یبیت النیة من اللیل .وغیره۔ نو دلته نفي د قبول نفي د صحت ده یقینا ځکه دلته قبول معلق شویدے په امر مطلوب پورے او هغه خو حاصل نشو نو بطلان د منفي متعین شو۔

(۲) دویم دا چه: نفي د قبول د یو معنی د وجه نه وي چه هغه مناقض د منفي وي لکه لا یقبل الله صدقة من غلول) نو په غلول کښے داسے معنی ده چه هغه منافي ده د معنی د صدقے سره۔ ځکه مقصود د صدقه نه احسان دے او هغه د د غلول نه کول لویه ګناه ده دا قسم د اول پشان دے۔ (۳) نفي د قبول ددے نه سوا بل څه وجه نه وي لکه (من شرب الخمر لم تقبل له صلاة اربعین صباحا)۔ نو نفي د قبول نه مراد دا دے چه پدے کښے ډیر شر دے چه هغه مقابل دے د ثواب د مانځه سره تردے مودے پورے او تقاضا د بطلان نه کوي۔ یا لکه (من اتی عرافا فسأله لم تقبل له صلاة اربعین لیلة). رواه مسلم۔

(٤) چه امر متردد وي ددے اقسامو ترمینځ که اکثر مشابهت ئے د کوم قسم سره وي نو

هغه پورے به ملحق كولے شي ددے وجه نه علماء پدے قسم كښے مختلف شويدي۔

نو ددے قسم نه هغه احاديث دي چه راغلي دي په باره د عبدِ آبق او هغه ښځه چه خاوند ترے ناراض وي او د پو قوم امام چه هغوي ته ناخوښ وي چه ددے خلقو مونځونه د غوږونو نه نه تيريږي۔ نو چا چه دا وئيلي دي چه پدے خلقو كښے يوه معنى ده چه هغه منافي ده د منفي سره نو هغوي وئيلي دي چه مونځ ئے صحيح ندے او همدغه شان خبره په عبد آبق كښے ده ليكن علماؤ دا خاص كړيدے په نفل مانځه پورے ځكه چه فرض خو د مالك په خوا كښې هم ادا كولے شي او د مالك حق دده په ذمه نشته په دغه وخت كښے۔

او هر چه ناشز دے نو علماؤ په هغوي كښے د عبد آبق حكم ندے كړے ځكه فرق دواړو كښے دادے چه زمانۀ د غلام من كل الوجوه د سيد مملوك ده، په خلاف د زوجه نه ځكه چه زوج د زوجه نه د هغه زمانے مالك دے چه دا ترے فائده حاصلوي او عام حالت كښے ئے ملكيت پرے نشته ددے وجه نه مالك غلام په اجاره وركولے شي خو خاوند زوجه نشي وركولے۔ او د امام حكم دا دے چه مقصود د جماعت نه حصول الائتلاف دے (چه د مومنانو الفت او اجتماعيت پيدا شي) او امامت خو د جماعت دپاره ضروري دے نو كله چه مقصود د جماعت باطل شو نو ددے متعلقات (چه امامت دے) هغه به هم باطل وي۔ نو كله چه امامت باطل شو نو مونځ ئے (هم)باطل شو۔

بيا ئے د (النكت) نه نقل كړيدے چه دا احاديث چونكه بعضو كښې ضعف دے نو ددے وجه نه په تحريم باندے دلالت نكوي البته كراهت پيدا كوي انتهى۔

المنتقى من فرائد الفوائد ص (٥٠) لابن عثيمين رحمه الله۔

فائده : په دے حديث كښے صرف دا خبره راغله چه انسان ترڅو اودس نه وي كړے نو مونځ ئے نه دے صحيح، او حال دا چه دمانځه دپاره خو نور شرائط او اركان هم شته، چه هغه اداء نه كړي نو هم مونځ نه كيږي، لكه ستر العوره، قبلے ته مخ كول وغيره۔ نو دلته ورسره دا مراد دے چه (لا تقبل صلاة احدكم حتى يتوضأ مع باقى الشرائط والأركان) يعنے نور اركان او شرائط به ئے هم اداء كړي وي نو هله به ئے مونځ قبليږي، ليكن دلته صرف د اوداسه متعلق خبره بيانيږي، ددے وجے نه ئے صرف اودس ذكر كړو، نه باقي اركان او شرائط

اګرچه هغه هم مراد دي.

۲ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: (لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ بِغَيْرِ طُهُوْرٍ وَلَا صَدَقَةٌ مِنْ غُلُوْلٍ). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او جناب ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: بغیر د طهارت (اودس) نه مونځ نه کیږي، او د حرام مال نه خیرات نه قبلیږي.

تشريح: لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ بِغَيْرِ طُهُوْرٍ:

فائده: اقسام د طهارت درے دي (۱) طهارت بالغسل (۲) طهارت بالوضوء (۳) طهارت بالتیمم. که دا څیزونه څوك اونه مومي هغه به څه کوي؟ نو په دے باندے مسئله د فاقد الطهورين متفرع ده.

﴿ طلوع النيّرين فی مسئلة فاقد الطهورين ﴾

فاقد الطهورين هغه شخص ته وائي چه نه په استعمال د اوبو باندے قادر وي اونه په خاوره. مثلاً په یو داسے ځائے کښے راګیر وي چه هلته اوبه هم نه وي او هغه مکان هم نجس وي چه تیمم پرے نه کیږي لکه جیل شو. یا دواړو په غره کښے روان وي، خاوره اوبه نشته، یا د یو شخص لاسونه نه وي، تیمم نشي وهلے اود بل په لاس خو تیمم نه کیږي. یا هوائي جهاز کښے اوګد سفر وي، نو دا به څه کوي؟ آیا مونځ به کوي که نه؟.

نو په دے کښے په ګڼرو اقوالو سره اختلاف شویدے:

۱ – امام ابو حنیفهؒ او سفیان ثوریؒ وائي چه: (لا يصلي بل يقضي اذا قدر) في الحال به مونځ نه کوي کله چه قادر شو نو بیا به قضاء راوړي.

دليل: ظاهر ددے حدیث دے چه بغیر د طهارت نه مونځ نه کیږي، دغه شان د آیت: اذا قمتم الى الصلاة فاغسلوا الآية ﴾، او ﴿ فلم تجدوا ماء فتيمموا الآية ﴾ نه معلومیږي. نو شرط د مانځه نشته نو مونځ هم نشته. اوچونکه مونځ خو ئے په ذمه پاتے دے لهذا قضائي به ئے راوړي.

۲ – صاحبینؒ وائي: تشبه بالمصلين به کوي، یعنے د مانځه هیئت به جوړ کړي او

ركوع سجده كښې به نيت نه كوي او قرائت به هم نه كوي، بيا به روستو قضاء راؤړي.
اوذا قول عند الأحناف مفتىٰ به دے، اود امام صاحبؒ نه دے قول تهٔرجوع هم ثابت ده.
(درس ترمذی : ١/١٥٦).

دوئ په خپله رائے باندے څو مثالونه پيش كړي دي : (١) په اضحيه كښې دحاجيانو سره مشابهت كولے شي (٢) يو ګنجے شخص دے چه په سر باندے ئے ويخته نشته نو دا به په حج او عمره كښې دحلق په وخت هسے په سر باندے چاړه راكاږي او تشبّه بالمحلقين به كوي (٣) دغه شان دوئ قياس كوي په صوم رمضان باندے چه يو شخص درمضان په ورځ كښې مسلمان شو يا بالغ شو يا حائضه پاكه شوه نو هغه به په باقي ورځ كښې خوراك څكاك نه كوي بلكه تشبه بالصائمين به كوي.

الغرض : دصاحبينو سره دليل نقلي نشته سيوا د قياسونو نه.

٣ - امام شافعيؒ فرمائي : (يصلي ثم يقضي). يعنے في الحال به مونځ كوي ځكه چه امر ورته متوجه دے، او بيا به قضاء راوړي ځكه بلا شرطه مونځ ئے كړيدے، په دے قول باندے هيڅ دليل نشته.

٤ - امام مالكؒ فرمائي : (لا يصلي ولا يقضي بعده). يعنے في الحال به هم مونځ نه كوي او قضاء پرے هم نشته.

دليل : في الحال په نه اداء كولو باندے دليل حديث الباب دے چه طهارت نه دے موجود نو مونځ نشته، او چونكه د خروج الوقت په صورت كښې ده ته د اقيموا الصلاة خطاب نه دے متوجه. لهذا قضاء هم نشته.

ليكن دا قول هم بے دليله دے ځكه مونځ په هيڅ حالت كښې بالكليه نه ساقطيږي، بلكه يا به في الحال كوي او يا به قضائي راؤړي.

٥ - امام احمد بن حنبلؒ او محدثينؒ فرمائي : (يصلي ولا يقضي). يعنے في الحال به مونځ اداء كوي اګرچه بے اودسه دے او قضاء پرے نشته ځكه مونځ ئے اوكړو. وهو الراجح دليلا. په دے قول باندے **دلائل** عامه دادي :

(١) قرآن كريم كښې عامه قاعده ده :﴿ فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ﴾.

﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾ ـ او دلتـه ددې شخـص د طهارت استطاعت او وسع ختمه شویده نوپه اودسه به مونځ کوي۔

(۲) حديث البخاري ومسلم : (إذا امرتكم بشئ فاتوا منه ما استطعتم)۔ يعنې کله چه زه تاسو دځه شئ حکم اوکړم نو هغې باندې د خپل وس مطابق عمل کوئ۔

اودلتـه فـاقـد الـطهـوريـن خـو يـقينا په اوبو اوخاوره باندې قادر نه دې نو معذور دې په حـصـول د طهارت کښې لهذا بدون الطهاره مونځ کول ورله جائز دی . خو په دې شرط چه ده خپـل کـوشـش صـرف کـړې (لـګولې) وی په طلب د اوبو اوخاوره پسې، اوکه کوشش او طلب او نه کړی نو مونځ ئې نه قبليږی۔

ددې مسئلې تفصيل ابن حزم په المحلى (۳٦۲/۱) او ابن قدامه په المغنى (۳۱۱/۱) او نووی په شرح مسلم (۱۱۹/۱) کښې کړيدې۔

بل دليل : حـديث د عـائشـة ؓ دې چه دې په غزوه د بنى المصطلق کښې د خپلې خور اسـمـاء) امـيـل ورك کـړو، نـو صـحـابـه ؓ ورپسې ګرځيدل او بيا پيدا شو، دې کښې د مانځه وخت راغې او اوبـه نه وې نو بغير د اودس نه ئې مونځ اوکړو، بيا ئې رسول الله ﷺ ته ددې شکايت اوکړو، نو آيت د تيمم نازل شو۔ بيا اسيد بن حضير ؓ اوفرمائيل :

(فو اللّٰه ما نزل بك امر تكرهينه الا جعل اللّٰه ذلكَ لكِ وللمسلمين فيه خيرا)۔

يـعـنې پتـا بـانـدې چه کـومـه حـادثـه راغـلې وی په هغې کښې الله تعالى ستا اود نورو مسلمانانو دپاره ضرور خير ګرځولې وی۔

حـافظ په فتح البارى (۳٤۹/۱) کښې فرمائی : (فـفيـه دليـل على وجوب الصلاة لفاقد الطهورين) دا دليـل دې چـه فـاقـد الـطهـوريـن باندې په دې حالت کښې مونځ فرض دې او کوی به ئې۔ بيا فرمائی : (ولو كانت الصلاة حينئذ ممنوعة لانكر عليهم النبى ﷺ)، يعنې که چرې پـه دې حـالـت کښې مونځ ناجائز وې نو نبى ﷺ به په دوئ باندې ضرور انکار او رد کـړې وې، هـرکـلـه چـه نبـی ﷺ مـنـع نه کړل نو دا دليل دې چه په همدې حالت کښې به مونځ کوی (فتح البارى : ۱٤۹/۱)، او دا قـول امـام بـخارى ؒ غوره کړيدې ځکه هغه داسې باب تړلې : باب اذا لم يجد ماء ولا ترابا۔

﴿ نشر الضیاء فی مسئلة البناء ﴾

ددې حدیث متعلق یوه بله مسئله هم بیانیږي چه دیته (مسئله د بناء) وائي. دا مسئله اګرچه د کتاب الصلاة سره مناسب ده، مګر ددې حدیث نه په دې مسئله باندې استدلال کیږي. د مسئلې خلاصه داده چه یو انسان په مانځه ولاړ وي او په مانځه کښې ورته بې اودسي راپیښه شي، نو آیا دا به استیناف کوي (یعنې مونځ به دسره کوي) او که بناء به کوي (یعنې کوم ځائې ته ئې چه مونځ رسولې وو د اودس کولو نه پس به ددغه ځائې نه مونځ شروع کړي او مینځ کښې به خبرې نه کوي) ؟ په دې مسئله کښې اختلاف دې :

(۱) احناف وائي : بناء کول جائز دي او مونځ د سره راګرزول بهتر دي.

(۲) محققین علماء – لکه امام مالك، سفیان ثوري، قول آخر د امام شافعي، امام زهري، ابن سیرین، ابن حزم ظاهري، او په صحابو کښې مسور بن مخرمة وغیره – فرمائي : استیناف به کیږي (یعنې مونځ به دوباره کوي).

دلائل : د احنافو سره دلیل : روایت د عائشة دې مرفوعا : (من قاء او رعف فی صلاته فلینصرف ولیتوضا ولیبن علی صلاته ما لم یتکلم).

(رواه ابن ماجه والدارقطنی : ۱/۱۵۲، والبیهقی : ۲/۲۵۵).

داسې حدیث په روایت د ابو سعید خدري هم راغلې دې (دارقطني : ۱/۱۵۷) او په روایت د ابن عباس کښې د نبي ﷺ عمل ذکر دې چه هغه به بناء کوله.

لیکن ددې نه جواب دادې چه دا درې واړه روایتونه سخت ضعیف دي، یو حدیث هم قابل استدلال نه دې. روایت د عائشة کښې اسماعیل بن عیاش دې چه د ابن جریج حجازي نه ئې نقل کړیدې، او د اسماعیل روایت د غیر شامینو نه ضعیف دې. او دلته ئې هم د غیر شامي یعنې حجازي نه روایت نقل کړیدې.

او د ابو سعید خدري روایت موضوع حدیث دې، په دې کښې ابو بکر الداهري کذاب راوي دې. او حجاج بن ارطاة د زهري نه سماع هم نه ده ثابت

او په روایت د ابن عباس کښې عمر بن رباح د رجال راوي دې، دارقطني وائي : متروک دې.

خلاصه داچه : مرفوع احاديث په کښې نشته۔ البته د صحابوؓ آثار په کښې شته، لکه د عبد الله بن عمرؓ عمل داوو چه کله به ئې مانځه کښې دپوزې نه وينه لاړه نو اودس به ئې اوکړو او بناء به ئې اوکړه، او مينځ کښې به ئې خبرې نه کولې۔ (اخرجه مالك في الموطأ ۱/۲۷، والبيهقي : ۲/۲۵٦، وسنده صحيح)۔ دغه شان د على بن ابى طالبؓ نه هم نقل دی (کذا في الجوهر النقي : ۲/۲۵٦).

ابن عبد البرؒ په (الاستذكار) کښې فرمائی :

بناء الراعف على ما صلى مالم يتكلم ثبت عن عمر وعلى وابن عمر، وروى عن ابى بكر، ولا مخالف لهم من الصحابة، الا المسور بن مخرمة وحدهٗ.

د محققينو علماؤ دلائل

۱ – حديث د طلق بن علىؓ دے مرفوعا : (اذا فسا احدكم في الصلاة فلينصرف فليتوضأ وليعد الصلاة).(رواه ابو داود : ۱/۳۱، والترمذی، باب الرضاع، واحمد، وذكره الزيلعي في نصب الراية : ۲/٦۱. وفي سنده عيسى بن حطان، ومسلم بن سلام وهو مجهول، وصححه ابن حبان، وقال الترمذی : حديث حسن. وقال الشيخ عبد الله البسام في توضيح الأحكام : ۱/٤۳۳ : الحديث حسن، ويشهد له ما رواه مسلم عن ابى هريرة مرفوعاً: اذا وجد احدكم في بطنه شيئا .... الحديث. وقد حسن الحديث الامام احمد وصححه كل من ابن حبان وابن السكن انتهى).

۲ – بل روايت د ابن عباسؓ مرفوعا کښې د (وليستقبل صلاته) الفاظ راغلى دى : (نصب الراية : ۲/٦۱، وسنده ضعيف جدا، فيه سليمان بن ارقم وهو متروك، قاله ابن عدى).

۳ – علامه ابن حجرؒ ددے حديث الباب نه داسے استدلال کوی چه کله د انسان اودس مات شو نو دوباره اودس کولو وخت پورے مونځ بغير د طهارت جوړيږی، او مونځ بغير د طهارت نه درست نه دے، نو دا دليل دے چه کله اودس مات شو نو بناء کول د باقى مونځ په اول مونځ باندے صحيح نه دى، اودا استدلال ابن حزمؒ په المحلى (۳/٦۵) کښې په داسے الفاظو سره ذکر کړيدے :

فاذ صح ان الصلاة ممن احدث لا يقبلها الله حتى يتوضأ وقد صح بلا خلاف وبالنص ان

الصلاة لا تجزئ الا متصلة، ولا يجوز إن يفرق بين اجزائها بما ليس صلاة – الى آخر ما قال.

يعنې: کله چه دا خبره صحيح ثابته شوه چه د پې اودسه انسان مونځ الله تعالیٰ نه قبلوی ترڅو چه اودس اونه کړی، او دا هم صحيح په نص او اجماع سره ثابت ده چه مونځ به هله جائز وی چه کله هغه متصل اداء شی او دهغې په اجزاؤ کښې بل شے چه د مانځه نه نه وی – ورداخل نکړے نشی۔

بيا فرمائی: د بناء د قائلينو نه تپوس کوو: چه دا پے اودسه شخص په مانځه کښې دے اوکه نه ؟ که دوئ وائی: په مانځه کښې دے په دے حالت کښې، نو د نبی ﷺ دا قول ئے تکذيب کوی چه (ان الله لا يقبل صلاة من احدث حتى يتوضأ) نو دا خبره ثابته شوه چه دده مخکښې عمل منقطع شو، او اجرئے باقی دے۔ او اوس په مانځه کښې نه دے، ځکه په دے حالت کښې خو مونځ قبول نه دے۔ اوکه دوئ وائی: په مانځه کښې نه دے، نو مونږ وايو چه تاسو رشتيا وائے، هرکله چه دا په مانځه کښې نه دے نو ده بانديے لازم دی چه مونځ متصل را اوګرځوی، او ددے د اجزاؤ ترمينځه بل شے حائل واقع نه کړی، کوم چه د مانځه نه نه دے۔ (وهذا برهان لا مخلص منه) انتهى۔

شيخ بسام ؒ فرمائی: فكل حدث منع ابتداء الصلاة منع البناء عليها، فان صلاته بلا وضوء استهزاء بالدين (توضيح الأحكام: ٤٣٨/١)۔ هره بے اودسی چه ابتداء د مانځه منع کوی نو انتهاء د مانځه هم منع کوی، ځکه چه کله دده اودس مات شو نو دا پدے حالت کښې پے ادسه دے او پدے حالت کښې مونځ کول استهزاء ده په دين پورے۔

په دے دواړو قولونو کښې راجح قول د محققينو دے، د وجے ددے حديث مرفوع نه، او احنافو سره مرفوع حديث نشته، البته د بعضے صحابوؓ عمل شته چه د دوئ مخالف مسور بن مخرمهؓ دے چه دده په نيز اعاده د مانځه ضروری ده۔ نو راجح داده چه اعاده اوکړی ځکه چه د صحابوؓ اختلاف شو او مرفوع حديث د علی بن طلق د محققينو سره دے، او ددے حديث مرفوع نه هم استدلال کيدے شی، لکه چه د حافظ په عبارت کښې کر شو۔

وَلَا صَدَقَةٌ مِنْ غُلُولٍ : مناسبت ددے جملے د ما قبل سره دادے چه قرآن اوسنت

کښې عبادت بدني او مالي يو ځائې ذکر کيږي نو اول عبادت بدني ذکر شو اوس عبادت مالي ذکر کوي۔

(۲) مخکښې طهارت حسيه بيان شو اوس طهارت معنويه بيانوي په صدقې سره چه په دې سره طهارت عن البخل رائحي. لکه ديته په دې آيت کريمه کښې اشاره شويده:

﴿ خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا ﴾ التوبة۔

(۳) په بې اودسه مونځ کولو سره انسان کافر کيږي ځکه د الله بې ادبي کوي او الله تعالىٰ ته په نجاساتو باندې تقرب حاصلوي، اودا قسم تقرب حرام دې نو دغه شان په حرام مال سره صدقه کښې نيت د ثواب کول انسان کافر کوي. لکه چه دا د احنافو رائې هم ده۔

كذا في المرقات (٦/)، بذل المجهود (١/١٤٥) دار الديان للتراث القاهرة۔

او نور علماء فرمائي چه کافر نه دې خو سخت ګنهګار دې او حرام کارئې کړيدې، بلکه حرام مال به دځانه جدا کوي په نيت د فراغ الذمه سره، که مالك د مال وي هغه له به ئې ورکړي او که مالك نه وي معلوم لکه سود يا رشوت ئې اخستې وي نو بيا به مال دهغوئ دطرفنه خيرات کړي، ددې تفصيل به په کتاب البيوع کښې راشي. ان شاء الله۔

غُلُوْلٍ : په ضمه دغين سره په مال غنيمت کښې خيانت کولو ته وائي۔

(شرح مسلم: ١/١١٩). كما في الآية ﴿ وما كان لنبي ان يغل ﴾ آل عمران.

اودلته ترې مراد مطلق حرام مال دې. بيا دغلول لفظ ئې دلته راوړو اشاره ده ديته چه په مال غنيمت سره چه مشترك دې دعام خلقو په مينځ کښې صدقه کول حرام دي نو په هغه پردي مال کښې چه خاص د يو شخص وي صدقه کول بنيه الثواب په طريقه اولىٰ سره حرام دي۔

---

٣ – وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ : (كُنْتُ رَجُلاً مَذَّاءً فَكُنْتُ اَسْتَحْيِيْ اَنْ أَسْأَلَ النَّبِيَّ ﷺ لِمَكَانِ ابْنَتِهِ فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ فَسَأَلَهُ، فَقَالَ : يَغْسِلُ ذَكَرَهُ وَيَتَوَضَّأُ) . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔

ترجمه : او جناب علي رضي الله عنه نه روايت دې دا فرمائي : ما ته مذي زياته راتله، نو زه به شرميدلم چه د نبي ﷺ نه تپوس اوکړم (چه أيا دې سره غسل واجبيږي اوکه اودس)۔

ځکه چه دهغوئ لور (فاطمهٔ) زما په نکاح کښې وه، نو ما مقدادؓ ته حکم اوکړو (چه نبی ﷺ نه دا مسئله اوتپوسه) نو مقدادؓ د نبی ﷺ نه تپوس اوکړو، نو نبی ﷺ ارشاد اوفرمائیلو : اندام مخصوصه دې اووینځی او اودس دې اوکړی۔(بخاری، مسلم).

تشریح : کُنْتُ رَجُلاً مَذَّاءً : بفتح المیم وتشدید الذال، دمبالغې صیغه ده، ای کثیر المذی. مذی هغه سپینې نرمې څلیښناکې اوبه دی چه د سړی نه په وخت د لوبو تهوقو او خکلولو د بی بی کښې یا دجماع په یادولو سره خارجیږی. مذی دهغه ځوان نه خارجیږی چه قوی وی، بدن ئې مضبوط وی. مذی نجس ده خو په دې کښې تخفیف دې، صرف ذکر او خصیتین وینځل ددې نه کافی وی. غسل کول واجب نه دی۔

فوائد الحدیث : ۱ – خروج المذی من اسباب وجوب الوضوء. ۲ – مذی نجس دې غسل پرې نشته بالاتفاق، لیکن په وینځلو کښې ئې تخفیف دې چه هسې اوبو چنړکاؤ کولو سره پاکیږی (کما فی روایة ابن حبان وابن خزیمة : وینضح من المذی) ځکه کوم شې چه ډیر واقع کیږی هغې کښې حرج وی نو شریعت تخفیف ورکوی۔ ۳ – مذی صرف اوبو سره پاکیږی، نه په بل شئ سره۔

بیا بل روایت کښې ورسره تشریح ده چه علی – رضی الله عنه – فرمائی : مابه د مذی په خارجیدو غسل کولو تردې چه کله به په ورځ کښې نمبر درې کرتو غسل کولو ته اورسیدلو تردې چه ملا مې د ډیر غسل کولو په وجه ماته شوه، نو اراده دتپوس مې اوکړه، خو خپله مې نشوه کولې ځکه چه د نبی کریم ﷺ لور زما سره وه (ځکه د تپوس مطلب دا جوړیدو چه یا رسول الله ! ستا دلور سره لوبې کوم نو مذی رانه خارجیږی، اودا خو ډیره دحیاء خبره ده سخر سره ځوك دا خبرې نشی کولې پاتې لا دا چه پیغمبر وی، نو ځکه ئې بالواسطه تپوس کړیدې)۔

اَسْتَحْیِیْ : **فائده** : د حیاء شرعی معنیٰ په اول جلد (۱۰۹/۱) کښې تیره شویده، د الحیاء شعبة من الایمان – حدیث لاندې دلته د فائدې دپاره جدا طرز سره لیکلې شی :

۱ – د جنیدؒ نه نقل دی : الحیاء رؤیة الآلاء، ورؤیة التقصیر : یعنې د الله د نعمتونه لیدو اوبیا د خپلو کوتاهیانو لیدلو نه چه کوم حالت پیدا شی دیته حیاء وائی۔

۲ – حافظ ابن قیمؒ فرمائی: (وحقیقته خلق یبعث علی ترك القبائح ویمنع من التفریط فی حق صاحب الحق)۔ یعنې د حیاء تعریف دادې چه دا یو خوئی دې چه انسان د قبائحو او بدکارونو په پریخودلو باندې را پورته کوی، او د حقدار په حق کښې د تفریط او تقصیر کولو نه انسان منع کوی۔

او د **حیاء لس اقسام** ئې ذکر کړی دی (۱) حیاء جنایت (۲) حیاء تقصیر (۳) حیاء اجلال (٤) احیاء اکرام (٥) حیاء حشمت (٦) حیاء استصغار للنفس واحتقار لها (۷) حیاء محبت (۸) حیاء عبودیت (۹) حیاء شرف وعزت (۱۰) حیاء المستحی من نفسه۔

(۱) حیاء جنایت: هغه حیاء ده چه د جرم کولو نه پس انسان ته عارضه شی لکه حیاء د آدم علیه السلام کله ئې چه اونه اوخوړه نو جنت کښې ئې منډه کړه، الله ورته اوفرمائیل: افرارا منی یا آدم؟ قال: لا، یا رب! بل حیاء منك۔

(۲) حیاء التقصیر: چه یو شخص ځان کوتاه ګنړی، لکه حیاء د ملائکو چه د قیامت په ورځ به اووائی: سبحانك ما عبدناك حق عبادتك۔

(۳) حیاء الاجلال: دیته حیاء المعرفه هم وائی، چه د یو ذات لوئی شان اوپیژنی او د هغې نه پس ده ته د هغه نه حیاء ورځی۔ څومره چه انسان د الله معرفت لری هغومره ترې حیاء کوی۔

(٤) حیاء الاکرام: لکه یو عزتمند انسان چانه د خپل عزت د وجې نه خپل حق نشی طلب کولې، لکه حیاء د نبی کریم ﷺ د هغه صحابوؓ نه چه د زینب رضی الله عنها د واده ولیمې ته راغو ختلې شوی وو، او هغوئ راغلل او ډیر وخته پورې نبی اکرم ﷺ کره ناست وو، نو هغوئ نه پاڅیدل او نبی ﷺ هغوئ ته دحیاء د وجې نه د پاڅیدلو حکم نه کولو۔

(٥) حیاء الحشمت: یعنې دغیرت حیاء، لکه د علی بن ابی طالبؓ حیاء چه نبی ﷺ نه ئې د مذی باره کښې تپوس نشو کولې۔

(٦) حیاء الاستحقار: د ځان سپك ګنړلو د وجې نه چه کومه حیاء پیدا شی، لکه: حیاء العبد من ربه عز وجل حین یسأل حوائجه احتقارا لشانه، واستصغارا لها، واستعظاما لذنوبه۔

(۷) حیاء المحبت: لکه د محب حیاء د خپل محبوب نه۔

(۸) حیاء العبودیة: دا هغه حیاء ده چه مرکب ده د خوف او محبت نه چه بنده خپل عبادت د معبود د شان سره موافق نه وینی، نو حیاء ورته راشی۔

(۹) حیاء الشرف: د لوئی او غټ نفس حیاء کله چه هغه چاسره څه احسان اوکړی، چاله څه ورکړی خو د خپلې مرتبې نه کم، نو دې ددې سخاوت نه حیاء کوی، د عزت نفس او شرافت د وجې نه۔

(۱۰) حیاء المرء من نفسه: یعنې د انسان د خپل ځان نه حیاء کول، فهو حیاء النفوس الشریفة العزیزة الرفیعة من رضاها لنفسها بالنقص وقناعتها بالدون، فیجد نفسه مستحیا من نفسه حتی کأن له نفسین یستحیی باحداهما من الاخری، وهذا اکمل ما یکون من الحیاء، بان العبد اذا استحیی من نفسه فهو بان یستحیی من غیره اجدر.

(مدارج السالکین: ۲/۲٦۲) ډیر مزیدار ابحاث ذکر کړی دی هغې ته رجوع پکار ده)۔

حیاء دوه قسمه ده (۱) مذموم (۲) ممدوح. مذموم هغه ده چه مانع واقع شی د طلب د علم نه چه د هغې په وجه علم نه زده کوی لکه امام مجاهدؒ فرمائی: لا یتعلم العلم مستکبر ولا مستحی. او دلته حیاء ممدوح ده ځکه مانع نه ده واقع شوې د طلب د علم نه ځکه چه علی رضی الله عنه بالواسطه علم زده کولو.

لِمَکَانِ ابْنَتِهٖ: مکان مصدر میمی دې په معنیٰ د کینونت سره یعنی د وجې دکیدو د لور د هغه نه زما په نکاح کښې.

(۳) امام بخاریؒ ددې حدیث نه فائده معلومه کړیده چه علم دوه قسمه زده کیږی، یو بالذات او بل بالواسطه، دلته بالواسطه دې چه یو انسان مقرر کړی د تپوس کولو د پاره نو هغه لاړ شی او تپوس اوکړی چه فلانے داسې وائی نوم دې واخلی یا دې په طریقه د عموم تپوس اوکړی چه یو انسان ته داسې حالت راپیښیږی نو دا به څه کوی؟۔

فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ: **سوال** دادې چه په روایت د نسائی کښې دی: (فَأَمَرْتُ عَمَّاراً) او په روایت دابن حِبان او ترمذی کښې دی چه (فسألتُ) علی – رضی الله عنه – په خپله تپوس کړیدې، او په دې روایت کښې دی چه مقداد ته ئې امر کړیدې د تپوس کولو، او دا صریح تعارض دې ددې تطبیق څه دې؟۔

جواب : ابن حِبانؒ داسے تطبیق کړیدے چه علی – رضی الله عنه – اول عمار ته د تپوس کولو حکم کړے وو، بیائے مقداد ته حکم کړے وو لیکن د هغوئ د تپوس کولو نه مخکښے علی – رضی الله عنه – پخپله تپوس اوکړو. نو اول ئے دوئ دواړو ته حکم کړے وو نو ځکه هغوئ ته د سوال نسبت اوشو.

(۲) یا علی رضی الله عنه پخپله تپوس نه دے کړے لیکن ده ته د تپوس ضرورت وو نو ځکه ده ته نسبت کیږی مجازاً، أی : سألتُ بواسطة المقداد او عمار، اود عمار تپوس کولو نه مخکښے مقداد تپوس اوکړو.

(۳) یا دا چه عمارؓ به مقدادؓ ته وئیل چه ته تپوس اوکړه او مقدادؓ به عمارؓ ته وئیل چه ته تپوس اوکړه، آخر دا چه په یو مجلس کښے علی او عمار او مقداد – رضی الله عنهم – درے واړه حاضر وو نو مقداد تپوس اوکړو، نو درے واړو ته نسبت کیږی ځکه چه درے واړه دتپوس کولو قصد کړے وو. وهو الراجح.

فائده : حدیث دلیل دے چه خبر واحد به قبلولے شی، دلته مقدادؓ یا عمارؓ علیؓ ته خبر ورکوی، نو علیؓ به ئے خامخا معتبروی.

يَغْسِلُ ذَكَرَهُ : مسئله نادره : (۱) استنجاء په اوبو او کاڼو دواړو سره کولے شی او په وینځلو د مذی کښے به فقط اوبه استعمالوی، په کاڼو وغیره سره استنجاء نه کیږی، ځکه نبی ﷺ د (یغسل ذکره) لفظ وئیلے دے، که (یستنجی) ئے وئیلے وے نو مونږ به په دواړو سره جائز ګڼړلے. (فتدبر واحفظه) !

(۲) – **دویمه مسئله** :

۱ – جمهور علماء وائی چه مذی کوم ځائے ته رسیدلے وی هغه ځائے به وینځی فقط. دلیل ئے دا حدیث دے چه (یغسل ذکره) لفظ په کښے راغلے دے، نو خصیتین (هګئ) وینځل ورسره ضروری نه دی.

۲ – امام احمدؒ او نور محدثینؒ فرمائی : چه ذکر او خصیتین دواړه به وینځی.

جمهور وائی : دے حدیث کښے دخصیتین ذکر نشته. دغه شان اکثر روایاتو دصحیحینو کښے هم خصیتین نه دی ذکر. لیکن د امام احمدؒ د طرفنه وئیلے شی چه ابوداود

(۱/ ۳۱) کښې په صحيح سند سره حديث دے (ليغسل ذكره وانثيه) صحيح ابى داود (۱/ ٤٢) رقم (۱۹۲) دغه شان طحاوى (۱/ ۳۹) کښې صحيح حديث دے (اذا وجدت الماء فاغسل فرجك وانثيك وتوضأ وضوئك للصلاة) وصحيح ابى داود رقم (۱۹٦) ـ اود غه روايت د علیؓ کښې دى په مصنف عبد الرزاق (۱/ ۱۵۷)۔

اودا قانون دے چه يو حديث کښې زيادت ذکر شى او بل حديث کښې نه وى ذکر، نو په زيادت باندے به عمل کولے شى۔

جمهور جواب کوى چه خصيتين وينځل عِلَاجاً او تَبرِيْدًا دى، حکم شرعى نه دے، ځکه چه خصيه کله اووينځل شى نو مذى اودريږى۔

امام احمد ورته فرمائى: نبى کريم ﷺ امر کړيدے مونږ د هغه د امر دوجے نه عمل کوو. او علاج خو يو حکمت ذکر کول دى، او په حکمت سره حکم شرعى نشى ساقطيدلے . نبى کريم ﷺ ورته داسے نه دى وئيلى چه: انما امرتكم بهذا للعلاج ـ

بلـه دا چه د نبى کريم ﷺ په امر باندے عمل کول – د هر حکمت دپاره چه وى – زمونږ دپاره دين دے، او دا علاج خو زمونږ دپاره څه بد هم نه دے۔

---

٤ – وَعَنْ أَبِىْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : (تَوَضَّؤُوْا مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ). رَوَاهُ مُسْلِمٌ. قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ الْأَجَلُّ مُحْيِى السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللهُ : هٰذَا مَنْسُوْخٌ بِحَدِيْثِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ أَكَلَ كَتِفَ شَاةٍ ثُمَّ صَلّٰى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او جناب ابو هريرةؓ نه روايت دے دا فرمائى : ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلى دى چه کوم څيز اور پخ کړے وى د هغے خوړلو نه پس اودس کوئ۔ (مسلم)۔

امام محيى السنةؒ فرمائى : دا حکم د ابن عباسؓ هغے حديث سره منسوخ دے چه جناب نبى کريم ﷺ د چيلئ د پتون غوښه اوخوړله بيائے مونځ اوکړو او اودس ئے اونه کړو۔ (بخارى اومسلم)۔

تشريح : تَوَضَّؤُوا مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ :

اول حکمت او بیا اختلاف ذکر کیږي. **حکمت** دادے چه انسان کله اور پخ کړے شے اوخوري نو دهغے نه پس اودس کول واجب دي، وجه داده چه شیطان د اور نه پیدا دے نو د اور پخ کړي سره د شیطان تسلط په انسان باندے زیاتیږي، نو په اوبو استعمالولو سره د شیطان تسلط کم شي.

دویم دا چه : په اور پخ کړي شي خوړلو سره انسان په قرائت کښے نخلي کله چه اوبه استعمال شي نو ژبه جاري شي.

بیا **وضوء مما مست النار**، اختلافي مسئله وه په صحابوؓ کښے :

(١) د ابو هریره، ابن عمر، زید بن ثابت او بعضے نورو صحابو – رضی الله عنهم – چه امام طحاویؒ ورله نومونه اخستي دي مذهب دا وو چه وضوء مما مست النار واجب دے. د وجے ددے حدیث اوداسے نورو احادیثو نه چه ابوداؤد نقل کړیدي.

(٢) ددے مذکوره صحابوؓ نه سیوا د باقي ټولو صحابه کرامو لکه خلفاء راشدینو، ابن مسعود، ابودرداء، جابر، ابن عباس، انس، ابو موسیٰ، ابی بن کعب – رضی الله عنهم – او ائمه اربعهؒ وغیرهم ټولو په دے اتفاق دے چه دا حکم منسوخ دے. دلائل په نسخ باندے دادي : چه د ناسخ زمانه روسته وي او منسوخ مقدم وي، اودلته هم داسے ده لکه چه دا معلومیږي د حدیث دجابرؓ نه، دے فرمائي :

كَانَ آخِرَ الأمرينِ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ تَرْكُ الْوُضُوْءِ مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ.(رواه ابوداود والنسائی، نیل الأوطار : ١/٢٦٣) صحیح ابی داود رقم (١٧٧).

نو دا مؤخر او ناسخ دے. دغه شان نور احادیث دي چه دلالت کوي په دے خبره چه دا امر منسوخ دے (کما تراها فی مسلم : ١/١٥٦).

لیکن شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ په مجموع الفتاوی (٢١/٢٤١) کښے فرمائي چه صرف وجوب منسوخ شویدے او استحباب اوس هم باقي دے. اودلیل په دے باندے دادے چه بعضے صحابه کرامؓ د وفات د نبی کریم ﷺ نه روستو هم اودس کولو لکه چه طحاوي او مسلم ذکر کړي دي. نو دا دلیل دے په دے چه صرف وجوب منسوخ دے نه

استحباب، ځکه که بالکلیه دا امر منسوخ وے نو په منسوخ باندے عمل کول جائز نه دی، نو دے صحابوؓ بیا ولے دا عمل کولو؟ معلومیږی چه صرف وجوب منسوخ دے. او په دے قول سره تطبیق راځی په مابین د هغه احادیثو کښے چه په هغے کښے امر راغلے دے په اودس کولو اود هغه احادیثو کښے چه ترك الوضوء په کښے راغلے۔

٢ – دویم بنه دلیل په بقاء داستحباب داودس باندے د اور پخ کړی د خوړلو نه پس، روایت د جابر بن سمرةؓ دے لکه چه روستو به راشی: (اخرجه الطحاوی: ٥٦/١) عن جابر بن سمرة: ان رجلا قال: یا رسول الله! اتوضأ من لحوم الغنم؟ قال: اِنْ شِئْتَ فَعَلْتَ واِنْ شِئْتَ لَمْ تَفْعَلْ. قال: یا رسول الله! أتوضأ من لحوم الابل؟ قال: نعم! و کذا رواه مسلم (١٥٨/١).

نو په دے حدیث کښے (ان شِئْتَ) لفظ دلیل دے په اختیار باندے یعنے اجر په کښے شته خو واجب نه دے، نو اودس کول ترینه مستحب شو۔ دا وجه ده چه عرف الشذی (٢٤/١) کښے شاه انور شاه صاحبؒ دامام ولی الله دهلویؒ نه نقل کوی چه هغه په ترجمه د الموطأ کښے داسے فرمائیلی: چه اودس کول دخواصو دپاره مستحب دی ـ اودے خبرے ته شعرانی هم اشاره کړیده۔ نو معلومیږی چه استحباب باقی دے۔ او پدے استحباب باندے ابن تیمیه په المنتقی بشرح النیل (٢٦٢/١) کښے باب ایخے دے:

باب استحباب الوضوء مما مسته النار والرخصة فی ترکه.

پدے تحقیق سره دا سوال دفع شو چه د نبی علیه السلام په فعل سره د امر نسخ څنګه راتلے شی؟ ځکه دا اصولی مسلمه قاعده ده چه د نبی فعل او عمل ناسخ نه ګرځی د هغه د امر دپاره۔ نو مونږ ته ئے د مما مست النار نه د اودس کولو حکم کړیدے او هغه دے خپله ددے نه اودس نه وی کړے؟ ـ پدے کښے هیڅ مانع نشته۔ ددے وجه نه یوه طائفه د علماؤ – چه هغه شرح مسلم (١٥٦/١) او نیل الاوطار (٢٥٢/١) کښے ذکر دی لکه عمر بن عبد العزیز، حسن بصری، زهری، ابوقلابه او ابومجلز – قائل دی پدے باندے چه د اور پخکړی نه پس اودس کول واجب دی او ندی منسوخ د وجے ددے قاعدے نه۔

لیکن د دویٔ دا خبره مدفوع ده په دے چه دا امر یواځے په عمل د نبی علیه السلام

باندې ندې منسوخ بلکه په دغه حديث د جابر بن سمرةؓ سره منسوخ دې چه تا اوپيژندلو چه په هغې کښې اختيار دې چه که اودس ترې کوې او که نه؟۔ او متصل راروان دې۔

هٰذَا مَنْسُوْخٌ بِحَدِيْثِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ أَكَلَ كَتِفَ شَاةٍ ثُمَّ صَلّٰى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

د مصنفؒ د اخبره په محل د نظر کښې ده ځکه (۱) چه دا اصولی قاعده ده چه فعلی حديث ناسخ د قولی حديث نشي جوړيدلے ، اودلته دا حديث فعلی دے او توضؤا مما مست النار والاحديث قولی دے، او حديث فعلی کښې دومره قوت نه وی چه حديث قولی پرې منسوخ کړے شی، ځکه چه فعلی حديث کښې احتمال د تخصيص کيدے شی ، ليکن نور احاديث قوليه شته چه ددے وجوب پرے منسوخ کيدلے شی کما عرفت۔ نو مصنفؒ ځکه اکتفاء په حديث قولی اوکړه۔

۲ – دويم داچه : نبی ﷺ کله يو عمل اوکړی او وجه دتخصيص دخپل ځان پورے ذکر نه کړی نو دا په منزله دحديث قولی شو نو په دے سره نسخ دحديث قولی صحيح ده .

فائده : نبی کريم ﷺ ته لحم (غوښه) محبوبه وه، بيا په حيوان کښې ورته دکتف غوښه ډيره محبوبه وه۔

---

٥ – وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ : أَنَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُوْمِ الْغَنَمِ ؟ قَالَ : اِنْ شِئْتَ فَتَوَضَّأْ، وَاِنْ شِئْتَ فَلَا تَتَوَضَّأْ. قَالَ أَنَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُوْمِ الْإِبِلِ ؟ قَالَ : نَعَمْ، فَتَوَضَّأْ مِنْ لُحُوْمِ الْإِبِلِ. قَالَ : أُصَلِّيْ فِيْ مَرَابِضِ الْغَنَمِ ؟ قَالَ : نَعَمْ، قَالَ : أُصَلِّيْ فِيْ مَبَارِكِ الْإِبِلِ ؟ قَالَ : لَا !) رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جابر بن سمرةؓ فرمائی : يو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو : آيا مونږ د چيلۍ د غوښې خوړلو نه پس اودس کوو؟ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل : که ستا زړه غواړی، نو اودس اوکړه، اوکه نه غواړی مه ئے کوه۔ بيا هغه سړی تپوس اوکړو : آيا د اوښ غوښه خوړلو نه پس اودس اوکړم ؟ نبی ﷺ ورته اوفرمائيل : هو، د اوښ غوښه خوړلو نه پس اودس اوکړه، بيا هغه سړی تپوس اوکړو : آيا د چيلو اوسيدو ځائے

پښـړغـالـي) كښې مـونځ كووم؟ نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: هو، بيا ئے تپوس اوكړو: آيا د اوښانو تړلو ځائے كښې مونځ كووم؟ نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: نه. (مسلم).

تعارف د جابر بن سمره رضي الله عنه :

دا مشهـور صـحـابي دے او پـلار ئے سـمـره بن جناده السوائي هم صحابي دے، دكوفے اوسيـدونـكے دے او پـه هـغـې كښې په سنه (٧٤ هـ) كښې د عبد الملك بن مروان په خلافت كښې وفات شويدے. ټول (١٤٦) احاديث ترے نقل دي.

تشريح : قَالَ أَنَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُوْمِ الْإِبِلِ ؟ قَالَ : نَعَم :

أَسَفُ البَال على من انكر من الوضوء بِأَكْلِ لَحْمِ الْأَبَال

مخكښې دا معلومه شوه چه لحوم الغنم وغيره خوړلو نه پس اودس كول واجب نه دى بـلـكـه وجوب ئے منسـوخ دے، نـو آيا په لحوم الابل كښې هم دا حكم دے؟ نو په دے باره كښې دعلماؤ اختلاف دے: (١) ائـمـه ثـلاثه ؒ قول دادے چه لحوم الابل خوړلو سره اودس واجب نـه دے، بـلـكـه مستـحـب درجـه كښې دے. دليل: دادے چه د (مامست النار) والا احاديث منسـوخ شـويـدي، اولـحـوم الابـل هـم په مامست النار كښې داخل دي، نو دا هم منسوخ شول.

٢ – امام نـووي ؒ پـه شـرح دمسلـم (١٥٨/١) كښې وئيلي دي چه خلفاء راشدينو، ابن مسـعـود، ابي بـن كـعـب، ابـن عبـاس او ابو درداء – رضي الله عنهم – به دلحوم الابل نه اودس نه وئيلو. (فذهب الأكثرون الى انه لا ينقض الوضوء).

(٢) قول ثاني : اكل لحوم الابل سره اودس ماتيږي:

وذهـب احـمـد بـن حـنـبـل واسـحـق بن راهوية ويحيى بن يحيىٰ وابوبكر بن المنذر وابن خـزيـمـة واختـاره الـحـافـظ ابو بكر البيهقي وحكاه عن أصحاب الحديث مطلقا وحكى عن جماعة من الصحابة انه ناقض للوضوء.

اودا قـول پـه احـنـافـو كښې د علامه عبد الحي لكهنوي ؒ هم دے، اودا صحيح او راجح مذهب دے. د وجے ددے دلائلو نه:

١ - يودليل : دا حديث دجابر بن سمرةؓ دے (نعم فتوضأ من لحوم الابل) . او په دے حديث كښے ناسخ او منسوخ دواړه موجود دی، نو لحم الابل په (مما مست النار) كښے نه ده داخل ځكه چه نبی كريم ﷺ جدا راويستلے ده. نو وضوء من لحوم الغنم منسوخ دے ، او وضوء من لحوم الابل غير منسوخ دے. وجه داده چه حديث دجابر (كان آخر الأمرين من رسول الله ﷺ ترك الوضوء مما مست النار) عام دے، او حديث (الوضوء من لحوم الابل) خاص دے. اودا قانون دے چه خاص مقدم وی په عام باندے. او عام ناسخ دخاص نشی كيدے. كذا فی المغنی (١/٢١٣) ونيل الاوطار (١/٢٥٢) وشرح مسلم. او دارنگه د نبی عليه السلام اودس نكول د اور پخكړی نه ناسخ نشی كيدے د ترك الوضوء من لحوم الابل دپاره ځكه دا مسلمه اصولی قاعده ده چه :

(فعله ﷺ لايعارض القول الخاص بنا ولا ينسخه بل يكون فعله لخلاف ما امر به امرا خاصا بالامة دليل الاختصاص به. قاله الشوكانیؒ. فتدبرا۔

شيخ رمضان په تعليق المشكاة النسخة الهندية (١/١٥٦) كښے فرمائی :

كان آخر الامرين من رسول الله ﷺ ترك الوضوء مما مست النار. هذا حديث عام وما ورد فی نقض الوضوء بلحم الابل خاص والعام يحمل علی الخاص فيخرج منه الصور التی قام عليها دليل التخصيص لايقال بالنسخ مع امكان الجمع لان النسخ مع امكان الجمع ابطال احد الدليلين وهو ليس بباطل - يعنی دغه حديث د جابر عام حديث دے او د لحوم الابل والا حديث خاص دے او عام محمول وی په خاص باندے نو ددے عام نه هغه خاص صورت اوځی كوم باندے چه دليل د تخصيص موجود وی او كله چه جمع د دوه نصينو ممكن وی نو بيا د نسخ خبره كول صحيح ندی ځكه چه په نسخ سره احد الدليلين باطليږی، او حال دا چه هغه باطل ندے۔

دارنگه حديث الباب په درے وجهو سره قوی دے دحديث دجابرؓ نه، نو حديث دجابرؓ ناسخ نشی كيدے، كما فی المغنی.

٢ - دويم دليل : حديث البراء بن عازب رضی الله عنه ، قال : سئل النبی ﷺ عن الوضوء من لحوم الابل فأمر به۔

يعنې : د نبي ﷺ نه د اوښانو د غوښې خوړلو نه پس د اودس کولو متعلق تپوس اوشو، نو هغه حکم اوکړو چه اودس اوکړئ۔

قال احمد بن حنبل واسحق بن راهوية : صح عن النبي ﷺ في هذا حديثان : حديث جابر، وحديث البراء. قال النووي : وهذا المذهب أقوىٰ دليلا وان كان الجمهور على خلافه.

ترجمه : امام احمدؒ او امام اسحقؒ فرمائي : د نبي ﷺ نه په صحيح سند سره په دې باره کښې دوه حديثونه ثابت دي يو حديث د جابرؓ او بل حديث د براءؓ دے۔ امام نوويؒ وائي دا مذهب د دليل په لحاظ ډير قوي دے اګرکه جمهور ددے مخالف دي۔

(شرح مسلم : ۱/۱۵۸).

اودا د امام نوويؒ انصاف او حق پرستي ده، اګرکه دے شافعي المذهب دے خو دلته د دليل تابع شويدے . او پخواني علماء به تول داسے انصاف دار وو چه ديو امام قول به غلط يا ضعيف وو نو هغه به ئې نه اخستلو . په خلاف ددے زمانے دمقلدينو نه چه دامام خبره که غلطه وي نو هغې دپاره غلط دلائل لټوي او حديث ورته ورانوي، دا کارحرام دے۔ نور دلائل په (السنن الكبرى ۱۵۸) کښې اوګوره۔

پاتے شو دخلفاء راشدينو – رضي الله تعالى عنهم – عمل، نو دهغې جواب شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په القواعد النورانية ص (۹) کښې ورکړيدے چه :

داخبره غلطه ده چه څوك وائي چه خلفاء راشدينؓ به وضوء من لحم الابل نه کولو . بلکه دهغوئ نه دا ثابت دي چه هغوئ به وضوء مما مست النار نه کولو، نو ددے نه خو دا نه معلوميږي چه هغوئ به (وضوء من لحم الابل) نه کولو . ځکه نبي کريم ﷺ چه د لحوم الابل خوړلو نه پس داوداسه حکم کړيدے نو دهغې سبب مس النار نه دے، بلکه دا ئے دمس النار نه خارج کړيدے لکه وئيلې شي چه فلانے دمس الذکر نه اودس نه کوي، نو ددے مطلب خو دا نه دے چه که هغه نه مذي خارجه شي نو هم اودس نه کوي، نو دغه شان دلته هم خلفاء راشدينؓ د مما مست النار نه اودس نه کولو اود لحوم الابل نه به ئے کولو – انظر فتاوى الدين الخالص (۲/۳۹۹).

د شيخ الاسلام د قول تائيد دادے چه طحاوي (۱/۴۱) او بيهقي (۱/۱۵۷) کښې دجابر

بن عبد اللهؓ روایت دے : (ان ابا بکر الصدیق وعمر بن الخطاب اکلا خبزا ولحما فصلیا ولم یتوضآ، وهکذا عن عثمان، والبیهقی عن علی)۔

نو په دے آثارو کښے دلحم الابل ذکر نشته بلکه عامه غوښه ذکر ده۔

او کوم روایت چه کشف النقاب (۲۳۱/۲) د ابن ابی شیبة (۴۷/۱)، او عبد الرزاق (۴۰۸/۱، رقم : ۱۵۹۸) نه نقل کړے دے د عمر فاروقؓ نه چه هغه به د اوښ غوښے خوړلو نه پس اودس نکولو نو د هغے په سند کښے ابو سبره النخعی الکوفی راغلے دے، ابن حجرؒ په التقریب کښے وائی : دا لین الحدیث یعنے ضعیف دے، او په روایت د علیؓ کښے شریك بن عبد الله الکوفی النخعی مشهور ضعیف راوی دے۔ حافظ ابن حجرؒ په تقریب ص (۲۶۶۱) کښے وائی : ضعیف تغیر حفظه فی آخر عمره۔ اوکه بالفرض والتقدیر دا روایات ثابت هم شی، نو دا ددے صحابه کرامو اجتهاد دے، او مرفوع حدیث ورته نه دے رسیدلے چه په هغے کښے د اوښ د غوښے خوړلو اودس ضروری خودلے شویدے کما مرّ۔

خلاصه: دا چه دخلفاء راشدینؓ نه د عدم الوضوء من لحوم الابل نقل درست نه دے۔

۳ – **دلیل** : عمر رضی الله عنه فرمائی : کنا نتوضأ من لحوم الابل.

(مصنف ابن ابی شیبه : ۴۶/۱).

نو د عمر فاروق رضی الله عنه نه خو اودس کول نقل دی۔ معلومه شوه چه دا دعویٰ هم باطله ده چه خلفاء راشدینؓ د اوښ د غوښے خوړلو نه روستو د اودس کولو قائل نه وو۔

٤ – دارنګه دنورو صحابه کرامو نه هم اودس کول ثابت دی،جابر بن سمرةؓ فرمائی :

کنا نتوضأ من لحوم الابل، ولا نتوضأ من لحوم الغنم.

رواه ابن ابی شیبة (۴۶/۱) بسند صحیح.

علامه شوکانیؒ فرمائی : نبی کریم ﷺ د مما مست النار د خوړلو نه پس اودس نه دے کړے اودا منسوخ شویدے، اود اوبنانو د غوښے خوړلو نه پس د اوداسه حکم ئے کړیدے امت ته، نو دا حکم نبی ﷺ ته په هیڅ طریقه نه دے شامل، نه بالتنصیص اونه بالظهور، نو ترك الوضوء مما مست النار ناسخ نه جوړیږی دپاره ددے امر، ځکه دا اصولی قاعده ده چه (فعله ﷺ لا یعارض القول الخاص بنا ولا ینسخه) چه د پیغمبر ﷺ فعل د هغه د قول

ناسخ نه ګرځي کوم چه امت پورې خاص وي، نو معلومه شوه چه وضوء من لحوم الابل امت دپاره شته اګرکه وضوء مِمَّا مَسَّتِ النَّار منسوخ دے (نيل الأوطار : ۲۵۲/۱)۔

حاصل دا چه دخلفاء راشدينؓ نه په صحيح سند سره دا نه دی ثابت چه هغوئ دلحوم الإبل نه اودس نه کولو او اودس کول ترے په صحيح حديثونو کښې ثابت دے .

بيا دا امر للوجوب دے، نه د استحباب، ځکه چه نبی کريم ﷺ جواب د سوال ورکړيدے، نو په وجوب به حمل وي۔ که چرے په استحباب حمل شي نو دا جواب بيا نه صحيح کيږي، ځکه چه بيا خو تلبيس جوړيږي چه مخاطب دا مطلب فهم کړي چه اودس د لحم الابل نه واجب دے اود نبی ﷺ مطلب داوي چه امر للاستحباب دے، بيا جواب مطابق د سوال نه جوړيږي فتدبر!۔

۲ – بله قاعده مسلمه ده چه کوم امر مطلق عن القرينه وي هغه به د وجوب دپاره وي . اود وضوء نه مراد وضوء شرعي دے ځکه الفاظِ شرعيه به په حقيقتِ شرعيه باندے حمليږي حتى ياتي القرينة بخلافها. كذا في نيل الأوطار (۲۵۳/۱)۔

په دے کښې رد دے په هغه چاچه وائي : په حديث کښې د اودس نه مراد وضوء لغوی دے، يعنې صرف لاسونه وينځل۔

أُصَلِّيْ فِيْ مَرَابِضِ الْغَنَمِ ؟ قَالَ : نَعَمْ :

مرابض جمع د مربض ده، د ګډو بيزو د اوسيدو ځائے، غوژل ته وائي۔ په دے کښې مونځ ځکه جائز شو چه انسان ددے ګډو بيزو نه يريږي، دا اصيل مال دے، د انسان خشوع نه خرابوي۔ او هرچه اوښان دی نو د هغوئ نه يره کيږي نو دانسان خشوع او توجه خرابوي ۔ اودا وجه نه ده چه ګنے يو پاك دے او بل ناپاك . خودا علت بعضے علماؤ ذکر کړيدے حديث کښې نه دے راغلے . دا وجه ده که اوښان په خپل پنړغالي کښې نه وي، غرونو ته تلې وي او ځائے خالي وي نو آيا مونځ به په کښې کيږي اوکه نه ؟ نو ظاهر دحديث دادے چه بيا به هم په کښې مونځ نه کوي، ځکه حديث مطلق دے عام دے . دنبی کريم ﷺ الفاظو ته اوګوره، اوکه انسان هميشه دپاره حکمتونو ته ګوري نو سرې نه قياسی جوړيږي اوکله منکر حديث هم شي . پکار داده چه د نبی کريم ﷺ الفاظو ته اوکتلے شي

هغه فرمائي : مبارك الإبل كښې مونځ مه كوه.

بيا مرابض الغنم كښې د مونځ كولو مطلب دا نه دے چه ته به هلته درځ او جانماز واچوے او مونځ به كوے، دا خبره غلطه ده بلكه همداسې مونځ كول هم جواز لرى. اوددے دلائل به روستو راشي چه كوم حيوانات ماكول اللحم وى دهغې بول نجس نه دى.

ددے مسئلې تفصيل به روسته راشي، لږ تفصيل دادے.

بول او روث د ماكول اللحم او غير ماكول اللحم څه حكم لرى ؟

نو په دے كښې خو اتفاق دے چه بول دماكول اللحم حيوان مستقذر دى يعنې طبيعت ئے بدګنړى ليكن : (۱) د امام ابو حنيفهؒ په نيز نجس دى (۲) امام ابو يوسفؒ وائى : نجس دى ليكن صرف تداوى دپاره ئے استعمال جائز دے (۳) امام مالكؒ، امام محمدؒ، امام زهرىؒ او ابن سيرينؒ وغيره په نزد دا څيزونه جائز هم دى او پاك هم دى. او ددے قول دپاره (۱۶) دلائل دى چه په خپل ځائے كښې به راشي ان شاء الله، چه يو دهغې دلائلو نه دا حديث الباب دے۔

---

٦ – وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (اِذَا وَجَدَ اَحَدُكُمْ فِىْ بَطْنِهٖ شَيْئًا فَاَشْكَلَ عَلَيْهِ أَخَرَجَ مِنْهُ شَيْئٌ أَمْ لَا، فَلَا يَخْرُجَنَّ مِنَ الْمَسْجِدِ حَتّٰى يَسْمَعَ صَوْتًا اَوْ يَجِدَ رِيْحاً). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو هريرةؓ نه روايت دے، چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : هر كله چه تاسو كښې څوك خيټه كښې دننه څه (قرقوړ) بيامومى او په هغه باندے دا خبره مشتبه شى چه څه څيز خارج شو، يانه، نو هغه وخته پورے دے اودس دپاره دجومات نه بهر نه اوځى څو پورے چه آواز وانه ورى، يا بوئے بيانه مومى۔ (مسلم)۔

تشريح : اِذَا وَجَدَ اَحَدُكُمْ فِىْ بَطْنِهٖ شَيْئًا :

فائده : په دے حديث كښې يوه قاعده ذكر ده اودا اتفاقى قاعده ده، د علماو په كښې څه اختلاف نشته هغه داچه : اليقين لا يزول بالشك. دا فقهى قاعده ده، ډير مسائل پرے حل كيږى. ددے قاعدے مطلب دادے چه يقينى شے په شك سره نه زائله كيږى، نه

خرابیږي لکه مثلا تا یقیني اودس اوکړو، پته درته شته چه ما فلانی ځائے کښے اودس کړیدے خو روستـه دے شك پیدا شو چه کیدے شي مابه متیازے کړے وي، اودس به مے مات کړے وي، نو دے شك لره اعتبار نشته ځکه ستا اودس کول یقیني دی او ماتول ئے شکي دی، نو شکي څیز سره به یقیني څیز نه خرابیږي۔

دغه شان ستا یقین دے چه ما مخکښے ساعت کښے متیازے اوکړے، خو اوداسه کښے دے شك دے چه دابه مے کړے وي اوکه نه؟ نو دا اودس نه دے شوے خامخا به اودس کوے.

دغه شان یو انسان اودس کړیدے (کما فی هذا الحدیث) خو په ځان ئے شك شو چه خیټه کښے ګړبړ دے، هواء خو به رانه نه وي خارجه شوی، نو نبی کریم ﷺ فرمائی چه په دے اشتباه باندے اودس نه ماتیږي ځکه چه شیطان کله نا کله په مقعد کښے پوکے اوکړي نو انسان شکي کړي چه ګنے څه رانه خارج شو حال دا چه دهغه نه هیڅ نه وي خارج شوي؛ نو دے شك لره هیڅ اعتبار نشته. دغه شان کله بدن کښے اختلاج بیماري راشي.

اختلاج دیته وائي چه دبدن بعضے حصه اورپیږي لکه کله سترګه اورپیږي اوکله مخ اوکله د ملا غوښه غیر اختیاری طریقے سره اورپي، نو کله دُبر هم اورپیږي ځکه هلته هم رګونه دی، نو شیطان ورته وائي چه ستانه څه خارج شو، اودس دے مات شو، خو نبی علیه السلام فرمائی اودس دے نه دے مات، ترڅو چه یقین دے نه وي راغلے چه آو، یقیني هواء خارجه شوه۔

د یقین صورت دادے چه هواء د سرې نه خارجه شي بالصوت چه آواز واوري، یا دهغے بدبوئ پرے راشي، که آواز نه وي۔

دلته د ټولو محدثینو په دے باندے اتفاق دے چه د (حَتّٰى يَسْمَعَ صَوْتًا اَوْ يَجِدَ رِيْحًا) نه مراد تیقن دے، ولے دیو سړي غوږونه به کاڼه وي، اوپوزه به ئے بنده وي، دده نه به هواء خارجه شوے وي اونه به ئے بوئي محسوس کړے وي اونه به ئے آواز، نو آیا دده اودس به نه وي مات؟ ولے نه؟ نو مراد ددے دواړو جملو نه یقین دے چه دده یقین راشي او محسوسه کړي چه دده نه یقینا هواء خارجه شوه نو اودس به کوي، اوکه هسے خیټه کښے ګړبړ وي یا اختلاج اوشي نو هغے باندے اودس نه ماتیږي، او هر انسان په خپل ځان باندے

پوهیږي، ځکه دهرا نسان علم په خپل ځان باندے علم حضوري دے. ددے تشریح ته ضرورت نشته، هرچاته دا معلومه ده۔
بیا دا قاعده په اوقاتو او مونځونو تولو کښے جاري کیږي مثلا تا مونځ اوکړو، دمانځه نه روسته دے شك شو چه مانه به سجده پاتے شوے وي، نو ددے شك هیڅ اعتبار نشته۔
★ ستا شك دے چه وخت د ماسپخین به داخل شوے وي اوکه نه ؟ نو مونځ جائز نه دے۔ دغه شان کله چه وقت داخل دے خو ستا شك دے چه دا به خارج شوے وي اوکه نه ؟ نو یقینا داخل دے، شك لره اعتبار نشته. اوکه مانځه کښے دننه شك پیدا شي نو دهغے درے صورتونه به روستو راشي. ان شاء الله تعالی۔
فَلَا يَخْرُجَنَّ مِنَ الْمَسْجِدِ : قید ئے ځکه اولګولو چه دا سړے به مسجد ته راغلے وي، د مانځه په انتظار به ناست وي نو د مسجد نه دے بهر نه وځي دپاره د اوداسه کولو. اوکه مسجد کښے نه وو، بلکه په کور کښے په مانځه ولاړ وي، نو هم د اقانون دے، لیکن مسجد قید ئے اولګولو د وجے د عادت نه ځکه اکثر او اغلبه داده چه انسان اودس اوکړي نو مانځه دپاره مسجد له ځي۔ اود (حَتّٰى يَسْمَعَ صَوْتًا) قید هم بنا بر اغلبیت دے ځکه چه د عامو انسانانو غوږونه کار کوي، نو آواز آوریدے شي، بوئې محسوس کولے شي۔ او که څوك آواز وا هم نه اوري یا بوئي محسوس هم نه کړي نو بیائے هم اودس مات دے۔
تنبیه : بعضے اهلِ بدعت په اهلِ حدیثو باندے دا تهمت لګوي چه دوئ په لګ شان بادو باندے اودس مات نه ګڼړي ددے حدیث د وجے نه۔ خو دا په غلط انداز سره خبره پیش کول دي، او خلقو لره دحق او اهل حقو نه متنفر کول دي۔
مونږ وایو تاسو دا حدیث منئ یا نه ؟ که منئ نو بیا خو ستاسو هم داسے مذهب دے. اوکه نه ئے منئ نو بیا خو مسلمانان نه ئے۔ دلږ او ډیر خبره په کښے نشته بلکه دے حدیث کښے خود خیتے د ګړبړ مسئله ده چه په دے سره اودس نه ماتیږي ترڅو چه دخه بادو په وتلو سره ئے یقین رانشي، برابره خبره ده که باد لګ وي اوکه ډیر وي په اتفاق دمسلمانانو سره په دے باندے اودس ماتیږي کله چه د دبر نه خارج شي، ځکه چه دا هواء په ګندګئ ورتیریږي، نو ممکنه ده چه ځان سره ګندګي رابهر کړي اګرکه دا فِيْ نَفْسِهٖ نجس نه ده،

ولې كه دا نجس وې نو بيا كه په جامه اولګي دهغې جامې وينځل به لازم وې، ليكن دې كښې مظنه د خروج النجاست (ګمان د نجاست د وتلو) دې نو ځكه اودس ماتوي . بيا كه څه ګندګي ئې رابهر كړې وي اوكه نه خو د شريعت حكم دې چه اودس به كوي۔

بيا **ريح** په دوه قسمه دې (١) مِنَ الدُّبر: ددې حكم خو معلوم شو چه اودس پرې ماتيږي لكه ړى كه ديږ ,٢, مِنَ القُبُل : يعنې قُبُل المرأة والرجل، دزنانه ياناريته دفرج يا كر نه چه هواء خارجه شي نو ددې په نقض الوضوء كښې اختلاف دې .

(١) امام شافعيؒ ته منسوب ده او اسحاق بن راهويهؒ او امام محمدؒ قول دې (كما ذكر عنه القدوري، انظر حاشيه شرح الوقايه : ٦٩) . چه ريح خارجه من القبل والذكر موجب د اوداسه دې، اودس پرې ماتيږي. دوئ استدلال كوي په اطلاق ددې احاديثو باندې چه په دې كښې خروج الريح مطلق دې كه د دبر نه وي اوكه د ذكر نه .

(اخرجه الدارقطني في كتاب غرائب مالك، انظر عمدة الرعاية) .

(٢) صاحب هدايه، منيه او محيط والا وئيلي دي چه د قبل او ذكر نه په ريح خارجيدو سره اودس نه ماتيږي. وجه ئې دا بيان كړيده چه دا اختلاج دې او ريح نه دې (السقاية على شرح الوقاية : ١/٤٨). اوكه بالفرض دا ريح هم وي نو په نجاست باندې نه ورتيريږي. بل داچه د سړي په ذكر كښې دا قسم ريح خارجيدل نه متصور كيږي ځكه هغې كښې څه كهلاوه لاره نشته چه هواء په كښې خارجه شي ځكه دهغې لاره مثانې ته تلې ده او مثانه محل دريح نه دې. او هرچه دزنانه قبل (فرج) دې نو هغې كښې اګرچه دا متصور كيدې شي ځكه درحم په لاره باندې ريح راتلې شي، كله په كښې جمع كيدې شي مګر هغه نجس نه دې ځكه هغه دبهر نه هواء ورغلې وي يا رحم اوړي راوړي نو هواء پيدا كړي او په نجاست باندې نه ورتيريږي نو ناقض داوداسه نه شو .

بيا فقه حنفي كښې ئې ورسره دا مسئله هم ليكلې ده چه كه يوه زنانه مُفْضَاة وي يعنى دواړه لارې ئې يو ځائې شوې وي نو د قبل نه چه كومه هواء خارجه شي نو په دې سره اودس كول مستحب دي (كذا في السراجية) . اوبعضې وائي چه اودس پرې واجب دې، ځكه احتمال شته چه دا د دبر نه خارجه شوې وي۔

لیکن دا وجه خطاء ده ځکه چه انسان په خپل ځان باندے علم حضوري لري، او الله تعالى په اندامونو کښے دحِس ماده اچولے ده، ضرور پو هیږی چه دا هواء د دبر نه خارجه شوه اوکه د فرج نه، لکه دا مجربه خبره ده، خودا د فقهاؤ تعمقات دی چه بعضے وخت پے ځایه وجے بیانوی۔ صحیح خبره داده چه که د ریح القُبُل والذکر په وجه څه لوندوالے بهر شو نو اودس مات دے اوکه نه وی نو نه دے مات اودا اختلاج دے . دے باره کښے څه صریح نص نشته چه دریح خارجه من القُبُل نه اودس مات دے۔

اودغه شان اختلاف په دودة القبل والذکر کښے هم دے چه د ذکر یا فرج نه چینجے اوځی . کوم خلق چه په ریح القبل والذکر باندے اودس مات نه ګنړی نو په چینجی باندے ئے هم نه ګنړی، او څوك چه په هغے باندے اودس مات ګنړی نو په دے باندے ئے هم مات ګنړی. صاحب دشرح وقایه (۷۷/۱) وائی : چه که دذکر نه خارج شی نو اودس نه ماتیږی ځکه دا دزخم نه خارج شویدے، اوکه د قُبُل المرأه نه خارج شی نو په دے کښے دغه اختلاف دے۔

---

۷ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ شَرِبَ لَبَنًا فَمَضْمَضَ، وَقَالَ : اِنَّ لَهُ دَسَمًا). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عبد الله بن عباسؓ نه روایت دے چه (یو ځل) رسول الله ﷺ پئ اوڅکل او (هغے نه پس ئے) خله کنګال کړه او وے فرمائیل : پیئو کښے غوړوالے وی۔ (بخاری، مسلم)۔

تشریح : شَرِبَ لَبَنًا : ۱– **فائده** : د پیئو څکلو نه روسته – پاخه وی که کچه – خوله وینځل سنت طریقه ده او اودس پرے لازم نه دے۔ ځکه ابن عباسؓ پخپله د پیئو څښلو نه پس مضمضه پریخے ده۔ لکه فتح الباری کښے دی :

عن ابن عباس انه شرب لبنا فمضمض ثم قال : لو لم اتمضمض ماباليت. رواه الشافعی.

(یعنے : ابن عباسؓ پئ اوڅکل او بیا ئے مضمضه اوکړه، او وے فرمائی : که زه مضمضه اونه کړم نو زه هیڅ باك نه کووم)۔

نو دا ترك بَيَانًا للجواز دے۔ او مضمضه کول مستحب دی لکه دا حدیث الباب ئے

دلیل شو۔

دغه شان نبی ﷺ هم پریخې ده لکه په حدیث د انس؄ کښې دی : (ان النبی ﷺ شرب لبنا فلم یتمضمض ولم یتوضأ) رواه ابوداؤد باسناد حسن.

اِنَّ لَهٗ دَسَمًا : دُسُوْمَت غوړزیٔ ته وائی، ددې علت ذکرکولو نه دا فائده معلومه شوه چه هر هغه شے چه هغه غوړزی لری دهغې دخوړلو او څکلو نه پس خوله وینځل سنت طریقه ده، اتباعًا لرسول الله ﷺ، ځکه علت ئے ذکر کړو. او وجه داده چه خوله چه کله غوړه وی نو مانځه کښې توجه نه برابریږی انسان به هغې سره مشغول وی زړه به ئے غافل وی، او قرأت کښې انسان بند بند کیږی۔

ابن بطال د مهلب؄ نه نقل کړی دی هغه فرمائی چه (اِنَّ لَهٗ دَسَمًا) سره علت د امر بالوضوء مما مست النار بیانوی، ځکه چه عام خلقو په جاهلیت کښې د نظافت ډیر خیال نه ساتلو، دقلتِ نظافت سره آموخته وو، نو صحابة؄ ؤ ته حکم اوشو چه د اور پخکړی خوړلو نه پس اودس کوئ، خو کله چه هغوئ کښې نظافت عام شو نو دا حکم منسوخ شو (فتح الباری : ۱/۱۵۰)۔

مناسبت دحدیث د باب سره دادې ۱ – چه دا قسم مضمضه دمتمماتو داوداسه نه ده.

۲ – یا پۓ او هر غوړ شے خوړل، څښل موجب د اودس نه دی۔

---

۹ – وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلَّى الصَّلَوَاتِ يَوْمَ الْفَتْحِ بِوُضُوْءٍ وَاحِدٍ، وَمَسَحَ عَلٰى خُفَّيْهِ. فَقَالَ لَهٗ عُمَرُ : لَقَدْ صَنَعْتَ الْيَوْمَ شَيْئًا لَمْ تَكُنْ تَصْنَعُهٗ ! فَقَالَ : عَمْدًا صَنَعْتُهٗ يَا عُمَرُ !) . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : بریدة؄ فرمائی : دمکې دفتح په ورځ نبی ﷺ یواودس سره څو مونځونه اوکړل (یعني یو اودس سره ئے پنځه واړه مونځونه اوکړل) او په موزوئے مسح اوکړله (دے لیدو سره) جناب عمر؄، نبی ﷺ ته عرض اوکړو : نن تاسو هغه څیز اوکړو چه مخکښې مو هیڅ کله نه دے کړے ! نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل : اے عمر ! ما داسے قصداً اوکړل۔ مسلم)۔

تعارف د بريده رضي الله عنه :

دده پلار نوم حُصيب بن عبد الله بن الحارث الاسلمي دے، دغزوه بدر نه مخکښے ئے ايمان راوړے او جنګ بدر ته نه دے حاضر شوے او بيعة الرضوان، خيبر او فتح مکے ته حاضر شويدے، دمدينے اوسيدونکے دے بيا بصرے ته نقل شويدے، بيا مرو ته نقل شو. او نبي کريم ﷺ عامل مقرر کړے وو په صدقاتو د قوم خپل. په مرو کښے د يزيد بن معاويه په خلافت کښے په (٦٣ هـ) کښے وفات شويدے. دده نه (١٦٤) احاديث منقول دی، اودا آخري صحابي دے چه په خراسان کښے وفات شويدے.

تشريح : بِوُضُوْءٍ وَاحِدٍ :

ډير مونځونه په يو اوداسه سره کيږی، اګرکه مستحبه داده چه هر مانځه دپاره جدا جدا اودس اوکړے شی. په ابتداء داسلام کښے هرمانځه ته اودس کول لازم وو، بيا دا منسوخ شو دهغے په ځائے دمسواك حکم اوکړے شو چه اودس کولو کښے مسواك استعمالوئ.

(کذا فی حديث ابی داؤد عن عبد الله بن حنظلة الغسيل، وسيأتی فی المشکاة : ١/٤٧).

بيا **سوال** پيدا شو چه په يو اودس باندے پنځه مونځونه کول خو د ظاهر د قرآن خلاف معلوميږی ځکه آيت ﴿ اذا قمتم الی الصلوة فاغسلوا وجوهكم ..الآية ﴾ کښے دی چه هر کله مانځه ته اودريږئ نو اودس کوئ ؟

جواب : د قرآن آيت مجمل دے او احاديث ئے تفسير او شرح ده، (لان السنة مبينة لکتاب الله). پيغمبر ﷺ په قرآن کريم ښه پوهيدلو نو د هغه تشريح به معتبره وی.

۲- **جواب** : آيت کښے قيد مراد دے ﴿ اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلَاةِ ﴾ وَاَنْتُمْ مُحْدَثُوْنَ. اودا معلوميږی د سياق د آيت نه چه ﴿ وان کنتم جنبا فاطهروا ﴾ ځکه که چرے دا قيد مراد نه کړے شی نو بيا ددے عطف په ماقبل باندے نه صحيح کيږی، فتدبر.

۳- **جواب** : آيت کښے عموم دے او امر مشترك دے په وجوب او استحباب کښے، نو د محدث دپاره امر د وجوب دے او دمتوضئ دپاره امر للاستحباب دے.

٤- **جواب** : آيت مطلق دے او نبی کريم ﷺ مقيد کړيدے او تقييد دکتاب الله په

خبر واحد سره صحیح او جائز دے بناء په قول صحیح باندے.

عَمْدًا : د عمر رضی الله عنه د وینا مطلب دا وو چه د نبی ﷺ معمول داوو چه هر مانځه ته به ئے اودس تازه کولو، لیکن نن هغه په یو اودس باندے پنځه واړه مونځونه اوکړل او بیا ئے یو نوے کار هم اوکړو چه په موزو باندے ئے مسح هم اوکړه چه داسے کار نبی ﷺ مخکښے کله نه وو کړے. نبی ﷺ ددے په جواب کښے اوفرمائیل : چه دا کار ما د هیرے او نسیان په وجه نه دے کړے بلکه قَصْداً مے اوکړو، دے دپاره چه خلقو ته دا مسئله معلومه شی چه دا دواړه صورتونه هم جائز دی او نور خلق هم داسے عمل کولے شی۔

فوائد الحدیث : ۱ – د رسول الله ﷺ دپاره مفضول کار افضل وو، اجر ورته ملاویدو، ځکه چه هغه داعی دے او د بیان په نیت باندے عمل کول اجر دے، مثلا یو مفضول کار دے هغه ته دے دپاره کوے چه خلقو ته دا مسئله واضحه شی نو تاله الله تعالیٰ پوره اجر درکوی.

۲ – د رسول الله ﷺ افعال به محمول وی په دین باندے، نه په سهوه او غفلت او تخصیص باندے، ترڅو چه بل دلیل او قرینه نه وی راغلی د تخصیص یا دسهو وغیره. دا ډیره مفیده نکته ده، په ډیرو مقاماتو کښے پکار راځی. ځکه بعضے خلق د یو حدیث باره کښے وائی : دا د پیغمبر ﷺ پورے خاص دے یا خاص واقعه ده، عموم په کښے نشته، نو دا خبره صحیح نه ده ترڅو چه دلیل ئے نه وی موجود نو اصل په افعالو د نبی کریم ﷺ کښے داده چه دابه دین او تشریع عامه وی دالله دامر په بناء باندے به وی : ﴿ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوىٰ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحىٰ ﴾۔

۳ – **فائده** : په موزو باندے مسح کول مشهور عمل وو، لیکن خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه ترے اوسه پورے خبر نه وو، او بیا عبد الله بن عمرؓ ترے د خلافت عمریؓ پورے خبر نه وو، تردے چه د سعدؓ په واسطه ترے خبر شو، او هغه داسے چه ابن عمر سعدؓ اولیدلو چه په موزو باندے ئے مسح کوله، نو ابن عمرؓ ناشنا اوګڼړله، سعدؓ ورته اووئیل : د خپل پلار (عمرؓ) نه تپوس اوکړه الخ۔ (بخاری : ۱/۳۳، بشرح الفتح :

/۲٤٥)۔ نو دا دلیل دے چه کله کله په صحابیؓ باندے یو حدیث پټ پاتے کیږی۔

---

۱۰ – وَعَنْ سُوَیْدِ بْنِ النُّعْمَانِ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ عَامَ خَیْبَرَ حَتّٰی إِذَا کَانُوْا بِالصَّهْبَاءِ وَهِیَ مِنْ أَدْنٰی خَیْبَرَ، صَلَّی الْعَصْرَ ثُمَّ دَعَا بِالْأَزْوَادِ فَلَمْ یُؤْتَ إِلَّا بِالسَّوِیْقِ، فَأَمَرَ بِهٖ فَثُرِّیَ فَأَکَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَأَکَلْنَا ثُمَّ قَامَ إِلَی الْمَغْرِبِ، فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا ثُمَّ صَلّٰی وَلَمْ یَتَوَضَّأْ). رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ.

ترجمه : سوید بن نعمانؓ نه روایت دے چه دے د رسول الله ﷺسره د خیبر د (فتح) په کال په سفر لاړو، کوم وخت چه صبهاء (مقام) ته اورسیدلو چه خیبر ته نزدے دے، نو د مازیګر مونځ ئے اوکړو، بیا نبی کریم ﷺ (د لارے) توښے اوغوښتے، نو د ستوانونه علاوه بل څیز حاضر نه کړے شو، رسول الله ﷺ حکم اوکړو (چه لامده ئے کړئ) نو هغه (په اوبو) لامده کړے شو، نو رسول الله ﷺ او مونږ هغه اوخوړل۔ بیا د ماښام مونځ دپاره اودریدو، نبی کریم ﷺ خله کنګال کړه اومونږ هم کنګال کړه بیا ئے مونځ اوکړو او اودس ئے اونه کړو۔(بخاری)۔

تعارف : د سوید بن النعمان رَضِیَ اللهُ عَنْهُ :

انصاری اوسی مدنی صحابی دے، غزوه احد او ما بعد غزواتو ته حاضر شوے او (۷) احادیث ترے منقول دی، دده صرف یو شاګرد دے بشیر بن یسار۔

تشریح : عَامَ خَیْبَرَ : دا غزوه د شپږم کال په ابتداء کښے واقع شویده دیهودو سره، په خیبر کښے آته قلعه جات وو ټولے اونیولے شوے او (۱۸) صحابه کرام – رضی الله عنهم – شهیدان شول، او ډیر غنیمتونه په کښے ضبط شول، خلق ددے وخت نه روستو په کجورو باندے ماړه شول۔

فَثُرِّیَ : بضم الثاء وتشدید الراء ویجوز تخفیفها : یعنے په اوبو لامده کړے شو چه خوراك ئے آسان شی۔

فوائد الحدیث :

١ – د نبي كريم ﷺ ژوندكي جهادي وه، لكه ددې واقعې نه معلوميږي.

٢ – د نبي كريم ﷺ زمانه كښې به د ماښام روټۍ مازيګر كښې خوړلې شوه چه دا صحت او هضميدو ته فائده رسوي، او انسان سَحر وختې پاڅيدې شي، خو نبي ﷺ كله كله نا وخته هم خوړلې ده.

٣ – زاد او توښه په سفر كښې ځان سره اخستل د توكل خلاف نه دي بلكه بعينه توكل دې.

٤ – امام مهلبؒ دا فائده معلومه كړيده چه امام او خليفه له دا جائز دي چه محتكرين ذخيره اندوزو) باندې زور اوكړي په راويستلو د طعام باندې كله چه كم وي، او په محتاجينو باندې ئې خرڅ كړي.

٥ – وضوء مما مست النار منسوخ دې، ځكه ستوان په اور پاخه شوي دي، نبي ﷺ او صحابوؓ خوړلي دي او بيا ئې ددې د وجې نه اودس نه دې كړې، صرف خله ئې كنګال كړيده.

٦ – د هر خوراك نه پس مضمضه مستحب ده، اګرچه غوړوالې په كښې نه وي ځكه چه په دې سره د غاښونو نه ګند او باقي اجزاء لرې كيږي.

٧ – هر مانځه دپاره اودس واجب او ضروري نه دې كله چه دانسان اودس په ځائې وي.

٨ – امير او مشر له پكار دي چه دخپل رعيت دفقر او لوګې خيال اوساتي او مالدارو ته حكم اوكړي چه غريبانو ته طعام وركړي.

٩ – مونږ هدف ثابت شوه، طعام شريكول او بيا په يو ځائې خوړل اګركه يو ډيره اوخوري اوبل لږه.

١٠ – توښه ځان سره سفر كښې وړل سنت دي او د توكل خلاف نه دي.

الفصل الثاني : دويم فصل

١١ – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: (لَا وُضُوءَ إِلَّا مِنْ صَوْتٍ أَوْ رِيحٍ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : ابو هريرةؓ نه روايت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : اودس كول صرف آواز

یا بوئی سره واجب کیږی ۔ (احمد، ترمذی)۔

تشریح : لَا وُضُوْءَ اِلَّا مِنْ صَوْتٍ اَوْ رِيْحٍ : یعنے اودس واجب نه دے مګر په آوریدو د آواز او یا په محسوسولو دهواء سره یعنی یقینی حدث (بے اودسی) وی، نو هله وضوء واجب دے او په مشکوك حدث سره اودس نه دے واجب نو مقصود په حصر کښے نفی دجنس شك ده، یعنے په هیڅ قسم شك سره اودس نه واجبیږی ترڅو چه یقین نه وی، اودلته قصر اضافی دے، یعنے قصر په نسبت سره شك ته دے۔ اودا مطلب نه دے چه صرف او صرف په صوت او ریح سره اودس واجبیږی او په نورو څیزونو سره نه واجبیږی۔

٢ - **فائده سَنِيَّه** : اودس به نه وی مګر دهغه څیز نه چه حدیث کښے ذکر وی، نو په وینه، زوه، قیح وغیره باندے اودس نه ماتیږی، ځکه دلیل قوی نشته اوقیاس ته ضرورت نشته، والاصل الطهارة۔

درجة الحديث : رواه أحمد (٢/ ٤١٠، ٤٣٥، ٤٧١) والترمذی (١/ ١٦) وقال : حديث حسن صحيح، وابن ماجة رقم (٥١٥) وهذا سند صحيح على شرط مسلم، كذا فی صحيح الترمذی (١/ ٣٣) رقم (٦٤)، وتعليق المشكاة (١/ ١٠٢) وقال : انه حديث صحيح.

١٢ - وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ : سَأَلْتُ النَّبِيَّ ﷺ عَنِ الْمَذِيِّ، فَقَالَ : مِنَ الْمَذِيِّ الْوُضُوْءُ، وَمِنَ الْمَنِيِّ الْغُسْلُ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : د علی رضی الله عنه نه روایت دے دا فرمائی : ما د نبی کریم ﷺ نه د مذی په باره کښے تپوس اوکړو (چه به دے باندے غسل واجب کیږی اوکه اودس) نو نبی ﷺ اوفرمائیل : د مذی نه اودس کول دی اود منی نه غسل کول ۔ (ترمذی)۔

تشریح : وَمِنَ الْمَنِيِّ الْغُسْلُ :

١ - امام شافعیؒ ته منسوب دی چه خروج المنی مطلقًا غسل واجبوی، برابره خبره ده که په طریقه د دفق (توپ) سره وی اوکه نه، نو په جریان بیماریٔ سره دده په نزد غسل واجب دے. دے عمل کوی په اطلاق ددے دحدیث باندے ځکه قید د دفق وغیره ورسره نشته دے۔

٢ - جمهور علماء وائي : هغه مني سره غسل واجبيږي چه په شهوت سره خارجه شي، اوكه دمرض په وجه بغير دشهوت نه خارجه شي لكه دجريان والا نه نو غسل نه واجبيږي.

١ - دليل : په مسند احمد (١٠٩/١)، وابن حبان (٢٤١) كښې حديث دے ، وصححه ابن خزيمة : اذا حذفت فاغتسل من الجنابة، واذا لم تكن حاذفا فلا تغتسل.

وسنده حسن او صحيح، ارواء : ١٦٢/١، وفي رواية : اذا فضخت الماء فاغتسل.

(وكذا في صحيح ابي داود : ٤١/١، وارواء الغليل : ١٦٢/١، باسناد صحيح عن علي).

حَذْف او فَضْخ په هغه مني كښې وي چه په شهوت سره په دفق اوځي وهو الراجح (هكذا في حاشية ابي داؤد : ٤١/١، رقم : ٢٠٦) .

٢ - دليل : روايت د ابن عباسؓ كتاب العلم كښې تير شويدے په حديث د (فقيه واحد اشد على الشيطان من الف عابد) كښې، چه هغه يو شخص ته دا فتوئ وركړے وه چه كه خوند نه محسوسوے نو غسل مه كوه. كذا في ابن عساكر بسند حسن، حياة الصحابة : ١٦٦/٣، عن مجاهد، الارواء، فتاوى الدين الخالص : ٤٥٥/٢).

درجة الحديث : رواه الترمذي (٢٤/١) وابن ماجة وقال : حديث حسن صحيح، وهو كما قال، وقال الألباني : بل هو صحيح كما في صحيح الترمذي (٣٦/١) رقم (١١٤).

په دے حديث كښې د مني او مذي په مابين كښې فرق كړے شويدے چه د مني په وتلو غسل لازم دے اود مذي په وتلو صرف اودس لازم دے، ليكن ددے دواړو څه حقيقت دے ؟. ددے وضاحت هم ضروري دے. نو د انسان نه چه كومے اوبه اوځي هغه درے قسمه دي يو مذي دويم مني دريم ودي.

په مذي كښې درے لغات دي (١) د ميم فتحه اود ذال سكون (٢) د ذال كسره اود ياء تشديد (٣) د ذال كسره او د ياء تخفيف. اولني دوه لغات مشهور دي، او اولنے په كښې اوضح او اشهر دے.

د مذي تعريف : هو ماء ابيض رقيق لزج يخرج عند شهوة، لا بشهوة ولا دفق ولا يعقبه فتور وربما لا يحس بخروجه ويكون ذلك للرجل والمرأة وهو في النساء اكثر منه في

الرجال. (نووی شرح مسلم : ١/١٤٣).

مذی : هغه سپينے نرمے خليښناکے اوبه دی چه د شهوت په وجه راځی اود وتو په وخت کښے ئے خوند او توپ نه وی، او ددے د وتلو نه پس د انسان په اندام کښے څه سستی هم نه راځی او ډير کرته انسان د هغے په وتلو باندے پو هيږی هم نه، اوداد سړی او ښځے دواړو نه اوځی خو د ښځے نه زيات خارجيږی.

شيخ بسام ؒ ئے داسے تعريف کوی : المذی ماء ابيض لزج رقيق يخرج عند الملاعبة والتقبيل ونحوهما وخروجه من مجری البول من افراز الغدد المبالية.

يعنے : دا هغه سپينے خليښناکے نرمے اوبه دی چه د خپلے بی بی سره د لوبو توقو او بوس وکنار په وخت اوځی او د متيازو په لاره د جدا رګونو نه اوځی.

بعض وائی مذی هغه ده چه د معمولی شهوت سره بغير د توپ نه اوځی او د اوبو پشان نرئ وی او ددے په وتو سره شهوت زياتيږی او د متيازو نه پس چه د خړو اوبو په شان بغير د شهوت نه اوځی هغه ودی ده. السقايه علی شرح الوقايه. ص (٦٣)

اود **منی تعريف** امام نووی ؒ داسے کوی :

قال العلماء منی الرجل فی حال الصحة ابيض ثخين يتدفق فی خروجه دفقة بعد دفقة ويخرج بشهوة ويتلذذ بخروجه، واذا خرج استعقب خروجه فتور او رائحة كرائحة طلع النخل ورائحة طلع النخل قريبة من رائحة العجين.

ترجمه : علماؤ وئيلی دی چه د صحت په حالت کښے د سړی منی سپينه، ټينګه وی، د وتو په وخت ټوپونه وهی او په شهوت سره اوځی، اود وتو په وخت انسان خوند محسوسوی اوکله چه د بدن نه اوځی نو بدن سست شی. د منی بوئی د کجورے د غونچك پشان وی، او ددے غونچك بوئی د وړو بوټی ته نزدے وی.

بعضے وائی : کله چه منی اوچه شی نو ددے بوئی د متيازو پشان وی. اوکله چه انسان مريض وی نو منی ئے نرمه زيړه وی، يا کله چه د منی لوخے سست شی نو بغير د خوند او شهوت نه بهيږی، ياکله چه انسان جماع زياته کړی نو منی سره شی او د غوښے د اوبو پشان شی، اوکله ترے وينه خارجه شی، خو کله چه منی سره وينه خارجه شی نو دا پاکه

ده، اګرکه په وتو ئے غسل واجب دے۔

امام نوویؒ دا هم فرمائی: د منی هغه خواص چه شریعت کښے معتبر دی درے دی (۱) چه په شهوت سره اوځی او بدن ورسره سست شی (۲) د کجورے د غونچك پشان بوئی کوی (۳) توپونو سره اوځی۔ دا هریو د منی د اثبات دپاره کافی دے او د تولو اجتماع شرط نه ده، اوکله چه په دے کښے هیڅ یو موجود نه شی نو دیته منی نه وائی، دا خو د سړی منی ده۔

او د زنانه منی زیړه او نرمه وی، اوکله چه د زنانه قوت زیات شی نو بیا ئے منی سپینه وی، ددے په منی کښے دوه خصوصیته دی (۱) بوئی د سړی د منی پشان کوی (۲) په وتو سره ئے خوند ملاویږی۔ او ددے نه پس شهوت سوړ شی۔ (شرح مسلم: ۱/۱٤٥)۔

شیخ بسام په یو مقام کښے د منی داسے تعریف هم کوی: واما المنی فهو عباره عن مادة مکونة من جمیع اجزاء البدن ولذا نری الجسم یتأثر بخروجه ولا یتأثر بخروج البول توضیح الاحکام (۱/۲۹۰) یعنی منی هغه مادے ته وائی چه جوړیږی د تول اجزاؤ د بدن نه دا وجه ده چه ددے په وتو سره جسم متأثر کیږی او د بول په وتو سره نه متأثر کیږی دارنګه د انسان پس د جماع کولو نه د بدن قوت کښے ضعیف پیدا کیږی خو کله چه په اوبو باندے اولامبی نو بدن ته دوباره دا ورك شوے قوت راواپس شی کوم چه په خروج المنی سره ختم شوے وو او هغه سستی ختمه شی او په غسل سره یو نشاط او تازه ګی پیدا شی او طبیبانو دا تصریح کړیده چه د جماع نه پس غسل کول بدن ته خپل قوت راواپس کوی او دا په بدن کښے د وینے په ګردش کښے د تازګی پیدا کولو دپاره ډیر فائده مند وی۔ او غسل نه کولو نه ډیر اضرار پیدا کیږی۔

دریم شے ودی: تعریف ئے دا دے: هو ماء ابیض کدر ثخین یشبه المنی فی الثخانة ویخالفه فی الکدورة لا رائحة له یعقب البول وقد یسبقه۔ مراقی الفلاح ص (۲۳) البحر الرائق (۱/٦۲)۔ دا هغه سپینے خړے ټینګے اوبه دی چه د منی مشابه وی په ټینګوالی کښں او خلاف وی د هغینه په خړوالی کښے، بوئی نه لری او عام حالاتو کښے د متیازو په آخر کښے اوځی او کله نا کله مخکښے هم اوځی، ددے حکم تول په توله د متیازو پشان

دې مګر صرف دومره ده چه د ودی نه روستو بول کول مناسب دی، دې دپاره چه د ذکر په لاره کښې څه شے پاتے نشي۔ او د مذی حکم دا دے چه ددے نه روستو اودس کول سره د خصیتینو وینځلونه ضروري دی۔

١٣ – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (مِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُوْرُ ، وَ تَحْرِيْمُهَا التَّكْبِيْرُ وَتَحْلِيْلُهَا التَّسْلِيْمُ).رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

١٤ – وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْهُ وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ.

ترجمه : او د علیؓ نه روایت دے دا فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د مونځ قنجی اودس دے، او د مونځ تحریم تکبیر دے (یعنی الله اکبر وئیل دی) او د مونځ تحلیل سلام ګرځول دی۔ (أبوداود، ترمذی، دارمی)۔ او ابن ماجه دا حدیث د علیؓ او أبو سعیدؓ نه روایت کړیدے۔

تشریح : وَ تَحْرِيْمُهَا التَّكْبِيْرُ : دا مصدر مبنی للفاعل دے په معنیٰ د مُحَرِّمْ سره یعنے حرامونکے شے حلال څیزونو لره تکبیر دے، او حلالونکے څیز حرامو څیزونو لره په مانځه کښې سلام ګرځول دی، په مانځه کښې داخلیدلو دپاره چه کوم شے وضع شوے دے هغے ته تکبیر تحریمه وائی دا ځکه چه په مُصَلِّي باندے ددے تکبیر په وجه اکل او شرب اوباقی څیزونه چه د مانځه نه بهر حلال دی حرامیږی۔

دلته یو اختلاف دے خو لیکن مخکښے داخبره اوپیژنه چه اختلاف دوه قسمه دے :

(١) اختلاف علمی (٢) اختلاف عملی . علمی هغه اختلاف دے چه هیڅا عمل پرے نه وی کړے، بلکه ټول په عمل کښې متفق وی، لیکن اختلاف صرف په زعم او اعتقاد کښې وی۔

(٢) او عملی هغه دے چه دواړه فریقین جدا جدا عمل کوی، سره د جداوالی د عقیدے نه۔

نودلته دا راتلونکے اختلاف علمی دے، عملی نه دے، عمل کښې ټول متفق دی۔

اختلاف دادے چه په مانځه کښې په :

کومو الفاظو سره شروع کول جواز لري ؟

۱ - نو د امام ابو حنیفهؒ او محمدؒ مذهب دادے چه په هر هغه لفظ باندے شروع کولے شي چه هغه دال وي په تعظیم د الله باندے او شریك د الله سره په کښے نه وي، یعنے الله پورے خاص وي.

او استدلال کوي په آیت د ﴿وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ﴾ باندے. دا ذکر عام دے که په لفظ د (الاله اجل) سره وي او که (الله اعظم) یا (الرحمن اعظم) یا الرحمن اکبر او یا لا اله الا اللّٰهُ، یاتَبَارَكَ اللّٰهُ وغیره سره وي. نو په دے آیت سره نفس تکبیر فرض دے او په حدیث (خبر واحد) سره وجوب د تکبیر (الله اکبر وئیلو) ثابت شو. نو که چا قصداً الله اکبر پریخودلو نو مونځ ئے جائز دے خو بِصِفَةِ النقصان، او که نِسْيَانًا ترك شو نو سجده سهو به واجبیږي فقط. ځکه د احنافو په نزد په خبر واحد باندے فرضیت نه ثابتیږي. او د جمهورو علماؤ په نزد په خبر واحد باندے فرضیت ثابتیږي - وهو الراجح کما قدمنا في بحث (انما الأعمال بالنیات : ٦٤/١) فراجعه. او د دوئ په نیز په اللهم اغفرلي سره تکبیر صحیح نه دے ځکه چه دے کښے خالص تعظیم نشته بلکه دا تعظیم د طلب الحاجت سره خلط دے.

۲ - د امام ابو یوسفؒ او امام شافعيؒ په نزد په هغه لفظونو سره جائز دے چه د تکبیر مناسب وي، بیا ابو یوسفؒ څلور الفاظ وائي : الله اکبر، الله الأکبر، الله الکبیر، الله کبیر. ځکه افعل اوفعیل وزن د الله په صفاتو کښ په معنیٰ کښے برابر دي.

دلیل : استدلال کوي په آیت ﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾ باندے. اودا حدیث دلیل دے چه دے کښے تکبیر لفظ راغلے دے، نو ما سیوا د لفظ د تکبیر نه به جائز نه وي.

او امام شافعيؒ وائي : اللّٰه اکبر، او اللّٰه الأکبر باندے جواز لري نه په نورو الفاظو، ځکه چه دے دویم کښے مبالغه ده په ثناء کښے ځکه چه خبر معرف مفید د حصر وي په مبتداء کښے.

۳ - د امام مالكؒ، احمدؒ او عام امت قول دا دے چه صرف په (اَللّٰهُ اکبر) لفظ سره د مانځه شروع کول فرض دي، اودے نه سیوا په بل لفظ باندے مونځ شروع کول باطل دي. او همدا قول صحیح دے.

(۱) **دليل** : قرآن كريم كښې ﴿ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴾ او ﴿ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى ﴾ راغلى دى، دا عبادت دے اوعبادات مُجْمَلات وى، بيان ته محتاج وى او الله تعالى نبى كريم ﷺ ددے عباداتو د بيان دپاره راليږلے دے ﴿ لتبين للناس ﴾ او نبى كريم ﷺ ددے بيان صرف په (الله أكبر) سره عملا هم كړيدے، ځكه چه هغه تقريبا ديرش (۳۰) زره مونځونه كړيدى په خپل ژوند مبارك كښے، او په يو مونځ كښے هم دهغه نه دا ثابت نه دى چه هغه د (الله اكبر) لفظ نه علاوه په بل لفظ سره مونځ شروع كړے وى. دغه شان قولا او تعليما هم. او دصحابه كرامؓ تعامل هم په دے (الله اكبر) سره دے.

او آيت مطلق نه دے، وجه دا ده چه په مطلق باندے چه مخاطب څنګه عمل كوى هغه ورله جائز وى. او په مجمل باندے عمل كول ممنوع وى ترديے چه متكلم (نبى ﷺ) دهغے بيان اونه كړى.

۲ - **دليل** : دا حديث الباب دے، چه په دے كښے د تكبير نه مراد (الله اكبر) دے، الف لام په كښے عهدى دى اودا دپاره دحصر دى.

وَتَحْلِيْلُهَا التَّسْلِيْمُ : سلام ته ئے تحليل بمعنى مُحَلِّل اووئيلو ځكه چه د سلام په وجه كوم څيزونه چه په مانځه كښے حرام وو حلال كړے شو. دلته هم مبتداء او خبر معرفے دى مفيد د حصر دى يعنے صرف او صرف حرامونكے شے اكبر دے، نه بل څه.

په سلام كښے اختلاف

په دے كښے هم اختلاف دے چه د مانځه نه وتل په سلام سره فرض دى كه نه ؟.

۱ - د ائمه ثلاثه مذهب دادے چه سلام اړول فرض دى.

۲ - د امام ابو حنيفهؒ نه مشهور روايت دادے چه خروج بِصُنْعِ الْمُصَلِّيْ فرض دے (كما فى كتب الفقه)، يعنے دمانځه نه په يو كار كولو سره وتل فرض وى، او دده په نيز لفظ د سلام فرض نه دے، بلكه واجب درجه كښے ئے ګڼړى. او دا خروج بصنع المصلى ځكه فرض ګڼړى چه كه ته هميشه په مانځه كښے ناست ئے او ځان نه فارغوے نو په پتا باندے د بل فرض مونځ وخت راځى او هغه اداء كول به واجب وى او هغه به هله اداء كيږى چه ددے مانځه نه خو ځان اوباسے نو دا خروج ځكه فرض دے.

★ **اول دلیل** : اخبار آحاد ظني الثبوت او قطعي الدلالة دی نو کوم احادیثو کښې چه لفظ د سلام راغلے دے نو په هغې سره فرضیت نه راځي (عندهم) نو که په هر څه سره اوځي، وتلے شي او مونځ به دے جائز وي، او سلام لفظ وئیل واجب دی۔ لیکن تحقیقي قول دادے چه اخبارو آحادو باندے فرضیت ثابتیږي و هو قول الجمهور۔ وقد مر هذا البحث في اول الکتاب۔

★ **دویم دلیل** : حدیث دابوداؤد (۱٤٦/۱) باب التشهد کښې د ابن مسعودؓ نه نقل دی قال : اذا قلت هذا او فعلت هذا فقد تمت صلاتك، وان شئت ان تقوم فقم وان شئت ان تقعد فاقعد۔

طریقه د استدلال داده : چه دلته نبي ﷺ ابن مسعودؓ ته اوفرمائیل : چه کله تشهد اولولے، ستا مونځ پوره شو، نو د تشهد لوستلو نه پس ستا اختیار دے که پاڅیږے او که کینې۔ یعنې لفظ د سلام نه دے ذکر کړے نو بغیر د سلام نه هم مونځ پوره دے.

جواب : ۱- په دے روایت کښې صحیح خبره داده چه دا د ابن مسعودؓ قول دے خپل شاګرد علقمه ته، یعنې موقوف حدیث دے، لکه چه دا خبره امام زیلعيؒ په نصب الرایه (٤٢٤/۱) کښې تفصیلا کړیده چه دا قول د نبي ﷺ نه دے، بلکه دا مدرج روایت دے، شبابه بن سوار راوی دخپل استاذ زهیر بن معاویه نه دا روایت نقل کړیدے او هغه دا کلام د ابن مسعودؓ ګرځولے دے، او د زهیر نورو شاګردانو دا قول د نبي ﷺ ګرځولے دے. لیکن قول د شبابه ډیر قوي دے چه دا قول د ابن مسعودؓ دے، نه د نبي ﷺ. اودا قول ابن حبان هم غوره کړیدے، اوردئے کړے په هغه چا چه وائي دا قول د نبي ﷺ دے.

۲ - **جواب** : که اومنو چه دا حدیث د نبي ﷺ دے نو په دے حدیث کښې دی (وان شئت فقم وان شئت فاقعد) یعنې دتشهد نه پس که پاڅیږے او که کینې دواړو کښې اختیار دے. حالانکه داچه تاسو احناف هم دا وایئ چه څوك قصدا پاڅیدو نو مونځ ئے باطل دے، او که سهوا پاڅیدو نو سجده سهوه به کوي (کما في حاشیة شرح الوقایة :۱/۱٦۱)۔

نو تاسو هم په پوره حدیث عمل اونه کړو ځکه حدیث کښې خو اختیارورکړے شویدے په قعود او قیام کښې، او تاسو اختیار نه منئ، فما هو جوابکم فهو جوابنا.

٣ -- **جواب** : دا حديث دليل نه دے په عدم فرضيت دسلام باندے، ځکه چه د ټولو اهل علمو په دے باندے اتفاق دے چه کله انسان تشهد اووائی نو مونځ ئے نه دے کامل شوے تردے چه صلاه (درود) په نبی کريم ﷺ باندے اونه وائی او دعاء اونه کړی او سلام اونه ګرځوی،نو خامخا د (تَمَّتْ صَلَاتُكَ) معنی به دا وی چه (قَارَبَتِ التَّمَامَ) يعنے تماميدو ته نزدے شو، او بالفعل تام نه دے ځکه چه تاسو هم درود او سلام وئيل واجب ګنړئ ! حال دا چه درود اوسلام او دعاء خو لا نه دی اداء شوی ! نو بيا څنګه دمذکوره حديث نه استدلال کوئ ؟ نو ګويا په اجماع د فريقينو دا تاويل متعين دے۔

٤ – يا د دغه مذکوره حديث توجيه دا ده چه (ان شئت فقم) نه مراد دادے چه د سلام ګرځولو نه روسته تالره اختيار دے که په خپل ځائے کينے اوکه پاڅيږے، لکه چه دا د نورو رواياتو نه معلوميږی۔

٥ – **جواب** : دا حکم منسوخ دے، دا په هغه وخت کښے وو چه کله سلام نه ؤ فرض شوے، لکه : السنن الكبرى (١/١٧٦) او نيل الأوطار (٢/٣٤٤) کښے ذکر دی چه نبی کريم ﷺ به ابتداء کښے کله چه د تشهد نه فارغ شو نو خلقو ته به ئے مخ راګرځولو، بيا روسته د سلام ګرځولو حکم نازل شو۔

٦ – **جواب** : دا حديث ضعيف دے۔ وجه د ضعف امام بيهقی په الخلافيات کښے داسے بيان کړيده چه دا روايت کالشاذ (د شاذ پشان) دے ځکه چه د حسن بن الحر اکثر شاګردانو دا زيادت نه دے ذکر کړے نه په قول د ابن مسعود کښے او نه ئے مدرج ګرځولے دے په قول د نبی عليه السلام کښے بلکه دا زيادت صرف عبد الرحمن بن ثابت عن الحسن ذکر کړيدے او دائے قول د ابن مسعود ګرځولے دے او زهير بن معاويه عن الحسن په آخر د حديث کښے مدرج ګرځولے دے لکه د هغه اکثرو شاګردانو دا اقرار کړيدے۔ لکه چه دارقطنی ذکر کړيدی۔ بلکه د ابن مسعود نه ددے زيادت مخالف روايت امام بيهقی د ابی الاحوص عن ابن مسعود په سند ذکر کړيدے د هغے الفاظ داسے دی : مفتاح الصلوة التكبير وانقضائها التسليم اذا سلم الامام فقم ان شئت. قال وهذا الاثر صحيح عن ابن مسعود ۔ يعنی مونځ به هله پوره کيږی چه سلام اوګرځوے او کله چه امام سلام

اوګرځولو نو که ډېر خوښه وي نو پاڅه. په سلام باندې ستا او د امام تعلق ختم شو.
علامه ابن حزمؒ فرمائي: د ابن مسعود نه صحيح ثابت دي چه سلام فرض دې. انظر لتفصيل ذلك نيل الاوطار (٣٤٤/٢).
نو کله چه ابن مسعود په فرضيت د سلام قائل شو نو د احناف د اصولو مطابق کله چه د يو راوي روايت د هغه د رأی مخالف وي نو روايت باندې به ئې عمل نشي کيدې نو احنافو لره پکار دي چه پدې اصولو عمل اوکړي.
دا وجه ده چه شان انور شاهؒ او ابن الهمامؒ وئيلي دي چه دا قول د امام ابو حنيفهؒ نه نه دې ثابت، بلکه دا د ابو سعيد البردعي قول دې، استنباط ئې کړيدې د بعضې مسائلو نه. دې وجې نه در مختار کښې دي: (ومنها) اى ومن الفرائض الخروج بصنعه فرضا غير منصوص عن الامام،واستنبطه البردعي الخ. انظر اعلاء السنن: ١٧٥/٢). وكذا بذل المجهود: ١/١٥٥).
نو امام ابو حنيفهؒ هم په فرضيت د لفظ سلام باندې قائل دې، لکه تنظيم الأشتات (٦٣٠/١) کښې اوګوره. اوشرح السنه کښې هم دا خبره ده چه دا قول دامام نه دې بلکه هغه هم په فرضيت باندې قائل دې. نو د دې نه بيا دا فائده معلومه شوه چه امام ابو حنيفهؒ هم په اخبار آحادو باندې فرضيت ثابتوي لکه دجمهورو پشان. او د فقهاؤ خبره د خپل صاحب مذهب نه مخالف شوه.

په فرضيت دسلام باندې د جمهورو دلائل:

جمهور علماؤ دپاره دسلام په فرضيت باندې ډير دلائل دي، نوکه چا خروج د مانځه نه په لفظ دسلام سره اونه کړو نو د ده مونځ فاسد اوباطل دې، ځکه چه ده رکن د مانځه پريخودلو بعضې دلائل دادي:

١ – دليل: عن علي – رضى الله عنه – قال: قال رسول الله ﷺ: مفتاح الصلاة الطهور، وتحريمها التكبير وتحليلها التسليم (اخرجه ابو داود: ١٥٠/١، والترمذی: ١٥/١).
دا حديث دارمي هم نقل کړيدې په اسناد صحيح سره، ابن حجر ورته په فتح البارى (٢٦٧/٢) کښې صحيح وئيلې دې.

نو دلته نبي کريم ﷺ مانځه دپاره حلالونکے شے صرف سلام گرځولے دے نه بل شے. دا دلیل دے چه دا رکن دے۔

٢ – **دلیل**: عن عائشة – رضي الله عنها – قالت: كان رسول الله ﷺ يستفتح الصلاة بالتكبير والقرائة بالحمد لله. (وفيه) وكانْ يختم الصلاة بالتسليم.

(رواه مسلم: ١/١٩٤، وهو في المشكاة: ١/٧٥)۔

او نبي ﷺ فرمائي: (صلوا كما رأيتموني اصلي) نو امر د نبي کريم ﷺ دپاره د وجوب او فرضيت دے ځکه چه نبي ﷺ يوه ورځ څه چه يو مونځ هم بغير دسلام نه نه دے ختم کړے، معلومه شوه چه سلام رکن دے۔

٣ – **دلیل**: ابو نعيم الأصبهاني په خپل کتاب کښے د عبد الله بن مسعودؓ نه موقوف روايت نقل کړيدے چه (مفتاح الصلاة الطهور، وانقضاؤها التسليم، واسناده صحيح وتقدم مثله برواية البيهقي ايضا).

نو د ابن مسعودؓ په نزد هم سلام رکن دے د مانځه، هغه ابن مسعودؓ چه احناف دعویٰ لري چه ده زمونږ فقه حنفي کړلے ده، نو دوئ د هغه نه هم خلاف کوي، وجه داده چه دکرکيلے خبره بے بنياده ده۔

٤ – **دلیل**: صحيح مسلم (١/١٨١) کښے دجابرؓ طويل مرفوع حديث کښے دی

انمايكفي احدكم ان يضع يده على فخذه، ثم يسلم على أخيه من على يمينه وشماله۔

نو په دے حديث کښے هم داخبره ده چه د مانځه نه وتلو کښے صرف سلام کافي دے، بل شے نه کافي کيږي. ځکه (انما) دحصر دپاره دے.

٥ – **دلیل**: رسول الله ﷺ او تول صحابه کرامؓ او تابعينؒ نه مداومت نقل دے په لفظ د سلام باندے، او هيڅ يو صحيح حديث کښے دا نشته چه نبي يا صحابي بغير د سلام نه په بل څه سره خروج د مانځه نه کړے وی. نو دا يو لويه قرينه ده چه سلام رکن دے، بغير د سلام نه د مونځ نه خارجيدل باطل دی۔

(كذا في فتاوى الدين الخالص: ٤/٤٢٠)۔

لطيفه: علامه كمال الدين الدميري يوه قصه نقل کړيده هغه وائي:

ذکر ابن خلکان فی ترجمة سلطان محمود الغزنوی، عن امام الحرمین عبد الملك بن الشیخ ابی محمد الجوینی ان السلطان المذکور کان حنفی المذهب، و کان مولعاً بعلم الحدیث و کان یسمع عنده الحدیث و کان یسئل عن معناه فیجد اکثره موافقاً لمذهب الامام الشافعیؒ فجمع فقهاء المذهبین والتمس منهما الکلام فی ترجیح احد المذهبین فوقع الاتفاق علی ان یصلی بین یدیه رکعتین علی مذهب الامام الشافعی ثم علی مذهب الامام ابی حنیفة رکعتان، فینظر السلطان الی ذلك ویختار الاحسن – فصلی القفال المروزی (الفقیه الشافعی توفی سنة ٤١٧) بطهارة سابغة وشرائط معتبرة من الطهارة والسترة واستقبال القبلة، واتی بالارکان والهیئات والسنن والابعاض والآداب علی وجه الکمال و کانت صلاة لایجوز الشافعی دونها – ثم صلی رکعتین علی مایجوز ابو حنیفة، فلبس جلد کلب کان مدبوغا ولطخ ربعه بالنجاسة وتوضا بنبیذ التمر و کان ذلك فی صمیم الصیف، فاجتمع علیه الذبان والبعوض و کان وضوئه منکسرا، ثم استقبل القبلة واحرم بالصلاه من غیر نیة فی الوضوء و کبر بالفارسیة، ثم قرأ بها دوبرك سبز، ثم نقر کنقر الدیك من غیر فصل بینهما، ومن غیر طمانینة وتشهد وضرط فی آخرهما وخرج من غیر نیة السلام، وقال ایها السلطان ! هذه صلاة ابی حنیفة، فقال السلطان : لولم تکن هذه صلاة ابی حنیفة، لقتلتك، لان مثل هذه الصلاة لا یجوزها ذو دین، فانکر الحنفیة ان تکون هذه الصلاة جائزة عند ابی حنیفة، فطلب القفال کتب ابی حنیفة فامر السلطان باحضارها وامر نصرانیا ان یقرأ کتب المذهبین جمیعا، فوجدت الصلاة التی صلاها القفال جائزة عند ابی حنیفة، فاعرض السلطان عن مذهب ابی حنیفة وتحول شافعیاوتوفی السلطان بغزنة سنة (٤٢٢هـ) اثنتین وعشرین واربع مائة، وتفسیر دوبرك : ورقتان خضراوتان وهو معنی قوله تعالی : مدهامتان.

(حیوة الحیوان (٢/٣٥٢) للدمیری المتوفی (٨٠٨هـ)، سیر اعلام النبلاء (١٧/٤٨٦)، للامام الذهبی رحمه الله۔

ترجمه : ابن خلکان د سلطان محمود غزنوی په سوانحو کښې دامام حرمین عبد الملك بن الشیخ ابی محمد عبد الله الجوینی نه یوه قصه نقل کړېده دے وائی : سلطان محمود غزنوی حنفی مذهب والا وو، خو د علم الحدیث سره ئے مینه وه، اود امام جوینی

نه به ئے حدیث اوریدل اودهغے د معنی تپوس به ئے ترے کولو، سلطان محمود به اکثر احادیث د امام شافعی د مذهب سره موافق بیا موندل، نو د شافعی اوحنفی دواړو مذهبونو فقهاء ئے راجمع کړل اود دواړو نه ئے دخپل خپل مذهب د ترجیح پوښتنه وکړه، نو د دوئ په دے اتفاق راغے چه د هر مذهب په هغه طریقه چه صرف مونځ پرے جائز وی دوه رکعته مونځ به کوی، اوسلطان محمود غزنوی به ئے گوری اوبیا به په دے دواړو طریقو کښے چه کوم مونځ ښه وی هغه به اختیاروی (چه دچا جوازی مونځ دحدیث موافق دے) نو علامه قفالؒ المروزی د امام شافعی په مذهب دوه رکعته مونځ وکړو، خو اول ئے اودس په پوره شرطونو باندے چه کوم معتبر دی په اودس کښے اوبغیر دهغے نه مونځ نه کیږی - وکړو، بیا ئے سُتره مخے ته کیښودله اومخ ئے قبلے ته وګرځولو اوپه مونځ کښے ئے پوره ارکان اوهغه واجبات چه بغیر د هغے نه مونځ نه کیږی اداء کړل، خلاصه داچه داسے مونځ ئے اوکړو چه دامام شافعی د مذهب د اصولو مطابق د دغه مونځ نه علاوه بل قسم مونځ نه کیږی - بیا ئے نور دوه رکعته داسے وکړل کوم چه د امام ابو حنیفه په مذهب کښے دغه قسم مونځ جواز لری، نو اول ئے دسپی څرمن چه رنګ کړے شوے وه واغوستله، اوڅلورمه حصه ئے ورله په ګندګئ باندے ګنده کړله (ځکه احناف وائی چه څلورمه حصه دجامے پاکه وی، نو مونځ کیږی) او اودس ئے دکجورو په شربت اوکړو (ځکه چه دوی داجائز ګنړی) اودا واقعه په موسم داوړی کښے چه ګرمی وه پیښه شوه نو (چونکه په شربت باندے ئے اودس کړے وو نو) مچان اوماشی پرے راټول شو او اودس ئے هم سرچپه وکړو، (یعنے اول ئے خپے بیائے مسح د سر اوبیائے لاسونه اوبیا ئے مخ ووینځلو) بیا مخ په قبله شو اومونځ ئے شروع کړو، په غیر د نیت نه په اودس کښے (ځکه دوی په اوداسه کښے نیت ضروری نه ګنړی) اوتکبیر ئے په فارسئ ژبه کښے اووئیلو (یعنے خدا بزرګ است) بیائے د (مدهامتان) ترجمه اووئیله چه دوبرګ سبز (یعنے دوه شنے پانړے) بیائے دچرګ د ټونګو په شان یو څو ټونګے اووهلے (چه قومه اوجلسه ئے معلومه نه وه) او تشهد ئے ووئیلو، اوپه آخره کښے ئے په مانځه کښے دننه باد واچول (ځکه احناف خروج بصنع المصلی ته فرض وائی) او د مونځ نه فارغ شو، په غیر د سلام نه (یعنے سلام ئے وانهړولو

دغسې پاڅیدلو) بیا ورته دغه قفال شاشي اووئیل : اې بادشاه ! دا د ابو حنیفه مونځ دې !
سلطان محمود غزنوی ؒ ووئیل : که دا مونځ د ابو حنیفه نه وی نو بیا به دې قتل کړم، ځکه دا قسم مونځ خو دیندار سړې جائز نه ګنړی، یعنې که چا کښې لږ غوندې هم دین وی نو دا به جائز ونه ګنړی، نو احنافو د دې مونځ نه انکار اوکړو چه دغه مذکوره مونځ زمونږ د مذهب مونځ نه دې، اود ابو حنیفه په نیز دا مونځ جائز نه دې، نو قفال شاشي د ابو حنیفه د مذهب کتابونه راوغوښتل، نو بادشاه امر وکړو په حاضرولو دکتابونو، اویو نصرانی مُلا ته ئې امر وکړو چه د دواړو مذهبونو کتابونه وګوری، نو دغه نصرانی کتابونه ولوستل نو دغه (ناوړه مونځ) د ابو حنیفه په نیز جائز وختلو، نو سلطان محمود غزنوی د مذهب حنفی نه شافعی مذهب ته نقل شو، سلطان محمود غزنوی په سنه (٤٢٢ ھ) کښې وفات شویدې، اوتفسیر د دو برګ سبز ، دوه شنې پاڼړی دی اودا معنې ددې قول د الله تعالی ده : مدهامتان۔

درجة الحدیث : رواه الترمذی (١/ ٢٤) بسند حسن صحیح، کذا فی صحیح الترمذی للألبانی).

١٥ – وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ طَلْقٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ، فَلْيَتَوَضَّأْ، وَلَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِيْ أَعْجَازِهِنَّ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : اود علی بن طلق ؓ نه روایت دې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : هرکله چه تاسو کښې څوك بې اودسه شی (یعنې بغیر د آواز نه هوا ترې خارجه شی) نو هغه دې اودس اوکړی، او تاسو ښځو ته دهغوئ په شا طرف کښې راتګ مه کوئ (یعنې دُبر کښې ورسره جماع مه کوئ ۔ (ترمذی ، ابوداود)۔

تعارف د علی بن طلق : دا صحابی دې (۳) احادیث ترې نقل دی، دلته صحیح نسخه داده چه علی بن طلق دې او بعضو نسخو کښې طلق بن علی دې لیکن هغه صحیح نه ده ځکه علی بن طلق دطلق بن علی پلار دې، اوطلق ئې ځوئې دې نو دعلی پلار طلق دې او علی ئې نیکه دې نسب ئې داسې دې : علی بن طلق بن علی۔

تشریح : فَسَا : د ماضی صیغه ده، فسوّ او فسیا ئې مصدر دې هغه هواء ته وائی

چه بغير د آوازه د انسان نه اوځي۔ ددې په وتلو سره اودس ماتيږي، لږه وي که ډيره، قصداً وي که په هيره۔

وَلَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِيْ أَعْجَازِهِنَّ : ددې دواړو جملو مناسبت واضح دے هغه دا چه هواء هم په شا باندے خارجيږي نو لکه څنګه چه دچانه هواء خارجه شوه او بيا همدغسے الله تعالیٰ ته يے اودسه اودريږي نو دا ډير لوئي مجرم دے نو دغه شان څوك چه خپل اهل (بي بي) ته په شا طرف کښے راتګ کوي نو دا هم لوئي مجرم دے، دواړه ګناهونه دي ديو ځائے، څکه نبي ﷺ دواړه جمع کړيدي۔

درجة الحديث : رواه الترمذي في الرضاع من أبواب النكاح من طريقين حسن احدهما، ولم يحكم بالطريق الأخرىٰ بشيء، ولكن ضعفه الألباني في ضعيف الترمذي (١/٣٦) (١١٨٠) وضعيف سنن أبي داود وقال في تعليق المشكاة : قال الترمذي : حديث حسن، ويشهد له حديث مسلم : اذا وجد أحدكم في بطنه شيئاً – الحديث السابع من هذا الباب – وقد نقل المنذري تحسين الترمذي وأقره. وصحح الالباني الشطر الثاني منه في ضعيف الترمذي رقم (١١٨١) وفي اسناده عبد الملك بن مسلم بن سلام عن ابيه، وهو ثقة وابوه مقبول، كما في التقريب، فلا ينحط عن درجة الحسن ان شآء الله، لا سيما وشواهده كثيرة.

---

١٦ – وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِيْ سُفْيَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : (اِنَّمَا الْعَيْنَانِ وِكَاءُ السَّهِ، فَإِذَا نَامَتِ الْعَيْنُ اسْتَطْلَقَ الْوِكَاءُ). رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او معاويه بن أبي سفيان رضي الله عنه نه روايت دے چه نبي ﷺ اوفرمائيل : سترګے د کوناتو سربند (اومزے) دے، کله چه سترګے اودے شي نو سربند پرانستے شي۔

تعارف : د معاويه بن ابي سفيان رضی الله عنهما :

دده پلار ابوسفيان صخر بن حرب الأموي القرشي مشهور صحابي دے د عام الفيل نه لس کاله مخکښے پيدا شوے دے د جاهليت په زمانه کښے د اشرافو د قريشو نه وو، او په غزوه احد کښے د مشرکانو رئيس وو، او په خندق کښے هم د احزاب رئيس وو، په زمانه د فتح مکه کښے ئے ايمان راوړو او حنين او طائف غزاګانو ته حاضر شويدے. نبي ﷺ ورته

د حُنين په غنيمتونو کښې سل اوښان او څلويښت اوقيه د مؤلفة القلوب په مناسبت ورکړې وو، او په جنګ طائف کښې ئې سترګه ړنده شوې وه، په سنه (٣٢ﻫ) کښې وفات شويدے. او معاويه هغه چالاك هوښيار جليل القدر صحابي دے چه علماء فرمائي په صحابو کښې په امورو د سياست باندے ښه پوهيدونکو کښې يو معاويه او عمرو بن العاص او مغيره بن شعبه دے۔

تشريح : مطلب د حديث دادے چه کله انسان ويښ وی نو د هغه په مقعد باندے يو بند لګيدلے وی چه د هغے په وجه هواء نه خارجيږی بلکه په کنټرول کښې وی، اوکه اوځی نو انسان ته د هغے احساس کيږی۔ خو کله چه اوده شی نو څونکه هغه بے اختياره شی او اندامونه اوجوړونه سست شی نو د هواء د وتلو احتمال وی چه انسان ته يقيني طور سره د هغے احساس نه کيږی چه دده نه څه خارج شو، په دے وجه خوب ته ناقض د اودس وئيلے شويدے۔

وِ كَاءُ السَّهِ : وکاء بکسر الواو، پړی او مزی ته وائی چه په هغے سره د بوجۍ کسوړے خوله تړلے شی۔ او (سه) بفتح السين وتخفيف الهاء دُبر ته وائی، يا د دُبر حلقے ته وائی۔ السَّهُ په اصل کښې السته تاء په کښې حذف شوه جمع ئې اَسْتَاهٌ راځی او تصغير ئې سُتَيهٌ دے په ۔ په دے حديث کښې نبی ﷺ د سترګے ويښ کيدل د کناتو دپاره داسے اوګرځول لکه مزے د بوجۍ دپاره، نو لکه څنګه چه بوجۍ په مزی تړلے شوی وی نو هغه د مالك په اختيار کښې وی، دغه شان کناتی چه تر څو پورے د سترګو په ويښ والی باندے محفوظ وی نو د انسان په اختيارکښې وی۔

نو حاصل د معنیٰ دادے چه ويښ والے د دُبر مزے دے، يعنے د دُبر حفاظت کوی د هواء د وتلو نه څکه انسان چه ترڅو ويښ وی نو د څه څيز په وتلو پو هيږی۔ فتدبر۔

مسئله په کښې داده چه (١) خوب سره اودس ماتيږی (٢) خوب نجس نه دے ليکن دا مظنه دخروج النجاست ده، نو دا قائم مقام دنجاست دے فلهٔ حکم النجاسة.

درجة الحديث : رواه الترمذی (١/١٤٩) وأحمد (٤/٩٦) وفي سندهما أبو بكر بن أبی مريم وهو ضعيف لاختلاطه، لكن يشهد له حديث علي الذی بعده، وحديث صفوان بن

عسال الآتی فی الفصل الثانی من باب المسح علی الخفین، فانه یشمل باطلاقه کل نوم سواء کان قاعداً او قائماً (تعلیق المشکاة ص ۱۰۳) فالحدیث صحیح بمجموع الطرق . و کذا حسنه الالبانی فی صحیح ابی داود (۱/۴۱).

۱۷ - وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (وِكَاءُ السَّهِ الْعَيْنَانِ، فَمَنْ نَامَ فَلْيَتَوَضَّأْ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ. وَقَالَ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللهُ : هٰذَا فِيْ غَيْرِ الْقَاعِدِ .

۱۸ - لِمَا صَحَّ عَنْ أَنَسٍ قَالَ : كَانَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ يَنْتَظِرُوْنَ الْعِشَاءَ حَتّٰى تَخْفِقَ رُؤُوْسُهُمْ ثُمَّ يُصَلُّوْنَ وَلَا يَتَوَضَّؤُوْنَ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ (بِاسْنَادٍ صَحِيْحٍ) وَالتِّرْمِذِيُّ إِلَّا أَنَّهُ ذَكَرَ فِيْهِ : يَنَامُوْنَ، بَدَلَ يَنْتَظِرُوْنَ الْعِشَاءَ حَتّٰى تَخْفِقَ رُؤُوْسُهُمْ .

ترجمه : او د علی ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د کوناتو تسمه سترگے دی نو څوك چه اوده شو هغه دے اودس اوکړی ـ (ابوداود)ـ امام محیی السنة ؒ فرمائی : دا حکم هغه سړی دپاره دے چه ناست نه وی ځکه چه د أنس ؓ نه صحیح طور سره ثابت دی چه هغه فرمائیلی دی : د نبی کریم ﷺ ملگری به د ماسخوتن مانځه په انتظار ناست وو تردے چه دخوب په وجه به ئے سرونه ښکته شو ـ دے حالت کښے به هغوئ مونځ کولو او اودس به ئے نه کولو ـ (أبوداود، ترمذی)ـ خو ترمذی خپل روایت کښے د (ینتظرون العشاء حتی تخفق رؤسهم) په ځائے لفظ (ینامون) ذکر کړیدےـ

تشریح : وَقَالَ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللهُ : اوس تاویل کوی دپاره د تطبیق ددوه روایتونو اودا تاویل مصنف دامام شافعی ؒ دقول مطابق کوی، چه په ناسته باندے خوب کول اودس نه ماتوی، او بل حدیث په عامو حالاتو باندے حمل دے . لیکن دا تاویل دده صحیح نه دے، ځکه دغه حدیث کښے لفظ د (ینتظرون العشاء) دے اودا نه معلومیږی چه په ناسته به اوده کیدل بلکه کیدے شی په تکیه یاپه ملاسته باندے انتظار کړے وی نو دغه تطبیق صحیح نشو، دا وجه ده علامه البانی رحمه الله فرمائی : د انس ؓ دا حدیث په قاعد باندے په حمل کولو کښے نظر دے ځکه په روایت د احمد (فی مسائل ابی داود

عنه) کښې داسې الفاظ دی (انهم کانوا ینامون مضطجعین) وسنده صحیح کما ذکره فی صحیح ابی داود رقم (۱۹٦) وصححه الحافظ۔

نو بهتره داده چه دا حمل دے په ابتداء د اسلام چه هغه وخت کښې خوب ناقض د اودس نه وو (تعلیق المشکاه : ۱/۱۰٤)۔

درجة الحديث : رواه أبوداود وسكت عنه وهو حديث صحيح، وحسّن سنده المنذری وابن الصلاح والنووی والألبانی فی صحیح سنن أبی داود (۱/٤۱) وتعلیق المشکاة (۱/۱۰۳) والمرعاة (۲/۳۱) وفی سنده بقیة بن الولید، قال الحافظ : صدوق سیئ الحفظ، ووثقه عبد الرحمن بن إبراهیم وابن معین وأحمد، وقال ابن عدی : لم أر بحدیثه بأساً، فهو حدیث حسن أو صحیح لغیره۔

۱۹ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (اِنَّ الْوُضُوْءَ عَلٰى مَنْ نَامَ مُضْطَجِعًا، فَاِنَّهُ اِذَا اضْطَجَعَ اِسْتَرْخَتْ مَفَاصِلُهٗ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : اودس په هغه چا لازم دے چه په اړخ باندے اوده شی، ځکه چه وخت انسان څملی نو د هغه د بدن جوړونه سست شی۔ (ترمذی، ابوداود)۔

درجة الحديث : حدیث ابن عباس رواه ابوداود والترمذی واسناد الحدیث ضعیف . په دے کښې یزید بن عبد الرحمن ابی خالد الدالانی راوی دے چه امام بخاری، ترمذی په العلل المفرد کښې او احمد بن حنبل او دارقطنی او منذری، بیهقی او ابوداود اوبغوی ورته ضعیف وئیلی دی . قال ابوداود : قوله الوضوء علی من نام مضطجعا هو حدیث منکر.

وضعفه الالبانی فی ضعیف سنن ابی داود : ۱/۱۸، رقم : ۱٦، وقال : ان الدالانی اخطأ فی متن الحدیث۔ زیات تفصیل په المرعاه (۲/۳۳) باندے اوګوره۔

مسئلة نقض الوضوء بالنوم

په نوم کښې مجموعی طور سره درے مذاهب دی چه ټول اقوال په کښې راګیر دی (۱) یو دا چه نوم مطلقا اودس نه ماتوی (۲) مطلقا اودس ماتوی (۳) اودس ماتوی خو په

شرطونو باندے، يعنے مقيد خوب اودس ماتوی. بيا په دے مقيد كښے مذاهب دی، څوك شرط دقيام لګوی، څوك تكيه او څوك جلوس. لكه ددے تفصيل امام نوویؒ په شرح دمسلم (١٦٣/١) كښے او شوكانیؒ په نيل الاوطار (٢٣٩/١) او صاحب د سبل السلام داسے ذكر كړيدے چه ټول آته اقوال دی :

١ - اول قول : نوم (خوب) مطلقا اودس نه ماتوی لږ وی كه ډير او په هر حالت كښے چه وی. اودا قول دابو موسیٰ اشعریؓ، سعيد بن المسيبؒ، ابو مجلزؒ، شعبةؒ اوحميد الأعرجؒ او شيعه اماميه دے. دوئ سره دليل نشته سيوا دعمل الصحابه نه، اودځے جواب روستو په حديث سره راځی.

٢ - قول ثانی : النوم ينقض الوُضُوْءَ بِكُلِّ حالٍ، وهو الراجح. اودا مذهب د حسن بصریؒ، مزنیؒ، ابو عبيد القاسم بن سلامؒ، اسحق بن راهويةؒ، ابن المنذرؒ او د امام شافعیؒ يو غريب قول هم دے. اودا قول د ابن عباسؓ، انسؓ او ابو هريرةؓ نه هم نقل دے. البته ددے نه نعاس او پركالی مستثنی دی لكه روستو به راشی.

تنبيه : دا قول اګركه د أئمه أربعه ؤ د قول خلاف دے ليكن همدا راجح دے، اودا هم د هغه مسائلو نه دے چه راجحه مسئله ده او أئمه أربعه پرے قائل نه دی، نو دين په ائمه اربعه ؤ كښے راګيرول صحيح خبره نه ده. ورجحه الألبانی فی تعليق المشكاة (١٠٤/١)، وتمام المنة ص (٩٩) فتاوی الدين الخالص (٤٨٣/٢) وهو اختيار الامام البخاری رحمه الله فی صحيحه (١٥٠/١).

٣ - قول ثالث : كثير خوب ناقض الوضوء دے بكل حال، او قليل خوب غير ناقض دے، اودا قول د امام زهریؒ، ربيعةؒ، اوزاعیؒ، مالكؒ او احمدؒ نه يو روايت دے، ليكن دا مذهب هم قوی نه دے ځكه د لږ او ډير معلومات نشته، نو په فرق باندے دليل نشته، يو انسان به ډير خوب كړے وی وائی به مالږ خوب كړيدے.

٤ - قول رابع : كه په يو هيئت د هيئاتو دمونځ كونكی باندے وی لكه راكع، يا ساجد، يا قائم يا قاعد وی نو اودس نه ماتوی، برابره خبره ده كه په مانځه كښے وی يا خارج دمانځه نه. اوكه چرے مضطجع وی يا مُسْتَلْقِيًا په څټ باندے اوده شی نو اودس مات

دی. اودا قول دامام ابو حنیفة، ابن مبارک، احمد، نووی اود داؤد ظاهری او یو غریب قول دامام شافعی دی.

٥ - **قول**: صرف نوم الراکع والساجد ناقض داودس دی. اودا یو قول دامام احمد بن حنبل دی. وجه دا ده چه د رکوع سجدې حالت کښې غالب گمان کیدې شی، چه د انسان نه به څه خارج شوی وی.

٦ - **قول**: نوم الساجد صرف ناقض دی، دا هم یو روایت داحمد دی. وجه دا ده چه په سجده کښې د خروج الریح امکان زیات دی.

٧ - **قول**: نوم په مانځه کښې ناقض نه دی په هر حال کښې چه وی او خارج د مانځه نه ناقض دی. دا یو ضعیف قول دامام شافعی دی. او په البحر الرائق کښې ئې زید بن علی او ابو حنیفه ته منسوب کړیدی.

٨ - **قول**: کله چه په ناسته اوده شی چه په زمکه مضبوط ناست وی، مقعد ئې لګولې وی نو اودس مات نه دی، اوددې نه بغیر ناقض دی، لږ وی که ډیر، خارج الصلاة وی که داخل. اودا قول دامام شافعی دی او صاحب المشکاة هم ذکر کړیدی. ورجحه الشوکانی فی النیل (١/ ٢٤٠).

په دې اقوالو کښې قول ثانی راجح دی چه خوب مطلقا ناقض دی، د وجې ددې راتلونکو دلائلو نه. بیا به جواب الاشکالات وی:

دلائل

١ - **اول دلیل**: حدیث د مسند احمد (٤/ ٢٠٤) والترمذی (١/ ٣٠) عن صفوان بن عسال فی حدیثه الطویل قال: نعم، کان یأمرنا اذا کنا سفرا او مسافرین ان لا ننزع خفافنا ثلاثة ایام ولیالیهن الا من جنابة، ولکن من غائط وبول ونوم... الحدیث. وهو حدیث صحیح.

نو دا حدیث مطلق دی دلالت کوی په دې چه نوم مطلقا ناقض دی.

٢ - **دلیل**: عن علی - رضی الله عنه - قال: قال رسول الله ﷺ: وکاء السه العینان، فمن نام فلیتوضأ - اخرجه ابو داود: ١/ ٤١، وسنده صحیح، کما مر.

په دے حديث كښے امر دے هر نائم ته په اودس كولو باندے، هيڅ قيد په كښے نشته.

٣ - دليل : لغت دے، امام خطابیؒ په غريب الحديث (٣٢/٢) كښے ليكلى دى :

وحقيقة النوم هى الغشية الثقيلة التى تهجم على القلب فتقطعه عن معرفة الأمور الظاهرة (والناعس) هو الذى رهقه ثقل فتقطعه عن معرفة الأحوال الباطنة.

نو په نوم كښے دروند والے وى چه انسان ظاهرى امورو باندے نه پو هيږى، او په نعاس (پركالئ) كښے دومره درونډوالے نه وى، بلكه صرف باطني امورو باندے انسان نه پو هيږى، زړه بيدار وى.

نو كله چه دا فرق اوشو نو په دے سره ډير اشكالات ختميږى چه نعاس سره اودس نه دے مات او نوم سره مات دے. دا وجه ده امام بخاریؒ باب لګولے :

باب الوضوء من النوم ومن لم ير الوضوء من النعسة والنعستين والخفقة وضوء، آهـ (٣٤/١).

اود صحابه كرامؓ احوال به هم په نعسه (پركالي – جوته) باندے محمولولے شى او په دے سره جمع د احاديثو راځى، حافظ فرمائى : دا قول د اكثرو علماؤ دے.

اوس **اشكالات** وړاندے كيږى :

١ - اول اشكال : ابوداود، اونيل الأوطار (٢٣٩/١) د ابن عباسؓ نه مرفوعا درے احاديث نقل دى چه په هغے كښے نوم مقيد سره اودس ناقض ښودل شويدے.

عن ابن عباس ليس على من نام ساجدا وضوء.

جواب : درے واړه احاديث ضعيف دى، اګرچه نيل الأوطار كښے ئے ورته صحيح وئيلى دى چه د يو بل تقويت كوى، ليكن هغه روايات ډير ضعيف دى چه د يو بل تقويت نه كوى، شديدة الضعف دى اكثر متروك دى.

٢ - دويم اشكال : روايت د ابن عباس كښے دى :

فاذا اضطجع استرخت مفاصله.

دا روايت دليل دے چه په اضطجاع سره استرخاء د مفاصلو (جوړونو) راځى اودا سبب دے د نقض الوضوء په خوب سره، ځكه په دے كښے احتمال د خارجيدو دڅه شى شته دے

لکه چه دا قول دائمه أربعه ؤ دے.

جواب : دا روایت هم ضعیف دے، رواه الترمذی وابوداود من طریق یزید بن عبد الرحمن ابی خالد الدالانی وهو حدیث منکر کما تراه فی المرعاة (٣٣) ونیل الأوطار (١/٣٣٩). وانکروا سماعه من قتادة۔ وضعفه ابوداود قال ذکرت حدیث یزید الدالانی لاحمد بن حنبل فانتهرنی استعظاما له وقال الترمذی فی العلل المفرد : سألت البخاری عن هذا الحدیث فقال : هذا لا شئ۔ ونحوه فی البیهقی ولکنه ایضا منکر۔

٣ - دریم اشکال : (ابوداود : ١/٤٠، او مسلم : ١/١٥٨) کښې صحیح حدیث دے :

عن انس قال کان اصحاب رسول الله ﷺ ینتظرون العشاء الآخرة حتی تخفق رؤسهم ثم یصلون ولا یتوضؤون.

لکه دا حدیث صاحب المشکاة هم په تطبیق کښې ذکر کړو. نو دے نه معلومیږی چه په ناسته اوده شویدی او اودس ئے بیا نه دے کړے.

جواب : دا حدیث صحیح دے لیکن مجمل دے، حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (١/٢٥١) کښې لیکی : دا حدیث مجمل دے. دغه شان په کشف الأستار عن زوائد البزار (١/١٤٦) کښې ددے تفصیل داسے شویدے :

عن انس ان اصحاب رسول الله ﷺ کانوا یضعون جنوبهم فینامون، فمنهم من یتوضأ ومنهم لا یتوضأ.

یعنے صحابه کرامو به ډډه کیخودله نو چا چه به خوب اوکړو نو اودس به ئے کولو، او چا چه به خوب نه وو کړے نو اودس به ئے نه کولو. نو مخکنی روایت کښې چه راوی انسؓ دے دصحابو حال بیانوی نو د ټولو حال په دے طریقه نه وو چه ټول به اوده وو، ځکه چه د ماسخوتن د مانځه په انتظار کښې چه ځوک ناست وی نو آیا هغه ټول اوده کیږی ؟۔ نه، بعض به اوده وو او بعض به نه وو.

نو دا حدیث تفسیر او بیان شو ددغه مخکنی مجمل حدیث، ځکه چه د دواړو راوی هم یو دے، او تعارض به هم ختم شی. او په دے خبرے سره د امام بغوی صاحبؒ د تاویل بطلان هم ښکاره شو، فتذکر !۔ دارنګه د امام بغوی تاویل پدے وجه هم صحیح ندے چه

په همدې روايت د انس کښې ورسره په روايت د بزار او ابويعلى کښې دا سې الفاظ دي: يضعون جنوبهم۔ نو دا په نوم الجالس باندې حمل کول صحيح نشو۔ بلکه صحيح خبره دغه ده چه که په حالت د ناسته يا ډېره لګولو کښې خوب راغلې وي نو اودس مات دې او که هسې ناست وي يا ئې ډډه لګولې وي خوب نه وي نو بيا اودس ندې مات۔

يا جواب دادې چه ددې بعض صحابو عمل په مقابله د نص کښې نه دې مقبول لکه چه مخکښې ددې بيان اوشو، خو ليکن مونږ به ددې صحابه کرامؓ دا عمل په ښه حالت باندې حمل کوو، هغه دا چه دوئ به هم د حديث موافق عمل کولو چه قائل وو په دې خبره چه نوم مطلقًا ناقض دې نو اودس به ئې کولو.

شيخ البانى رحمه الله په ارواء الغليل (١٤٩/١– رقم ١١٤) کښې د دغه صحابو دې قسم عمل په باره کښې داسې فرمائي چه (لاحتمال ان يكون الحديث كان قبل الايجاب على البرائة الاصلية ثم جاء الامر بالوضوء) يعنى دا احتمال شته چه دا په ابتداء د اسلام کښې وو چه په خوب سره اودس نه ماتيدو او بيا حکم راغلو چه چاخوب اوکړو نو اودس به کوي۔

٤ - **اشکال**: نوم خو پخپله نجس نه دې بلکه دا مظنه دخروج د يو شي ده، نو مطلقا څنګه ناقض ګرځي؟۔

جواب: هر نائم ته نبي عليه السلام امر کړيدې چه اودس اوکړه ځکه چه هغه خبر ورکړيدې (انما العينان وكاء السه) (يعنى سترګې پټيدلو سره د دبر خوله سسته شي) نو که تا نه څه نه وي خارج شوي ليکن احتمال شته چه ته په ناسته باندې خوزيدلې ئې او ريح درنه خارج شوې وي. فقد ينطلق وكاء السه ولو فى بعض الأحوال . نو دحکمت تقاضا داده چه ده ته مطلقًا حکم اوکړې شي په اودس کولو باندې.

هر کله چه احتمال او شك راغلو نو شريعت امر اوکړو چه مطلقًا خوب نه پس اودس اوکړه اګرچه في الحال ستانه څه نه وي خارج شوي، نو نفس نوم سبب داودس شو لکه چه نفس سفر قائم مقام د قصر د مانځه دې اګرچه مشقت په سفر کښې نه وي.

خلاصه دا چه: نوم سره مطلقًا اودس مات دې. او هر چه نعاس او پرکالي او پريشاني ده

نو دے سره اودس نه ماتیږي، هرکله ئے چه زړه بیدار وي، بلکه دا شریعت معاف کړیدے لکه ابن عمرؓ نه په صحیح سند سره نقل دي چه دا به په ناسته اوده کیده او بیا به ئے اودس نه کولو، نو دا صرف نعاس دے چه دا معاف دے. (کما فی الموطأ: ١٥/١).

دا وجه ده چه امام بخاریؒ هم دا قول کړیدے چه په عام نوم سره مطلقا اودس مات دے، سیوا د نعسه او نعستین نه، اودا راجح قول دے، په دے سره جمع دتولو احادیثو راځي. ددے مسئلے تفصیل په: تمام المنة للشیخ الألباني ص: ٩٩، فتاوی الدین الخالص: ٤٨٣/٢، نیل الأوطار: ٢٣٩/١، کښې اوګوره.

٢٠ – وَعَنْ بُسْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : (اِذَا مَسَّ أَحَدُكُمْ ذَكَرَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ). رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او بي بي بسرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه: تاسو کښے چه کوم سړے خپل ذکر (اندام مخصوصه) له لاس وروړي نو هغه له پکار دي چه اودس اوکړي ـ(مالك، احمد، ابوداود، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، دارمي)ـ

درجة الحديث : رواه مالك وأحمد وأبوداود والترمذي وقال: حديث حسن صحيح، قال الألباني: وهو كما قال وصححه جماعة آخرون، تعليق المشكاة (١٠٤/١) ارواء الغليل (١٥٠/١) وصححه البخاري وابن معين وأحمد والدارقطني وابن خزيمة وابن حبان وابن السكن والحاكم والبيهقي وابن عبد البر وأبو حامد بن الشرقي والحازمي والنووي والحافظ. وضعفه الطحاوي وحده، وهو مدفوع كما سيأتي. فقوله بلا دليل.

٢١ – وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ مَسِّ الرَّجُلِ ذَكَرَهُ بَعْدَ مَا يَتَوَضَّأُ، قَالَ : وَهَلْ هُوَ اِلَّا بَضْعَةٌ مِنْهُ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ. وَرَوَى ابْنُ مَاجَه نَحْوَهُ.

ترجمه : او طلق بن عليؓ فرمائي: (يو ځل) رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چه داودس نه پس که يو سړے خپل ذکر له لاس يوسي (نو ددے څه حکم دے)، وے فرمائيل: هغه هم دسړي دغوښے يو ټکړه ده. (أبوداود، ترمذي، نسائي) او ابن ماجه هم دغسے روايت

کړیدے۔

درجة الحديث : اخرجه ابوداود : ۱/ ۲٤، والترمذی : ۱/ ۲٥، والنسائی : ۱/ ۲۷، وابن ماجه : ۱/ ۱۳٥، وهو فی المغنی : ۱/ ۲٤۱ .صححه عمرو بن الفلاس وعلی بن المدینی والطحاوی وابن حبان والطبرانی وابن حزم، وضعفه الشافعی وأبو حاتم وأبوزرعة والدارقطنی والبیهقی وابن الجوزی. وقال الشیخ الألبانی : هذا حدیث حدیث صحیح ۔ صحیح سنن أبی داود : ۱/ ۳۷. وقال العلامة المبارکفوری فی المرعاة (۲/ ۳۷) : والراجح أن حدیث طلق هذا لا ینحط عن درجة الحسن، وحدیث بسرة أصح وأثبت وأرجح من حدیثه.

بَضْعَةٌ : قطعه او حصے ته وائی دلته مراد یو اندام دے د اندامونو نه۔

تشریح : د بسره بنت صفوانؓ په حدیث کښې امر دے په اودس کولو باندے هغه چاته چه خپل ذکر (شرمگاه) له لاس یوسی۔ او په حدیث د طلق بن علیؓ کښې د اودس د نه واجب کیدو بیان دے، دے وجے نه دا مسئله هم د نورو مسائلو په شان اختلافی ده د وجے د تعدد د احادیثو نه په طرفینو کښې۔

﴿ حُمُودُ الشَّرَرِ فی مسئلة مَسّ الذَّکَرِ ﴾

نو آیا په ذکر یا فرج یا دبر مس کولو اودس ماتیږی اوکه نه ؟ په دے مسئله کښې څو اقوال دی :

۱ - **قول اول** : مس الذکر والفرج اودس نه ماتوی مطلقا، اودا قول د علی، ابن مسعود، حذیفه، عمران بن حصین، ابو درداء، سعد - رضی الله عنهم - ربیعهؒ، سفیانؒ ثوری، حسن بصریؒ، ابراهیم نخعیؒ او احنافو دے.

دلیل : حدیث د طلق بن علی دے : سئل رسول الله ﷺ عن مس الرجل ذکره بعدما یتوضأ، قال : وهل هو الا بضعة منه).

دا مرفوع حدیث دے او باقی آثار دصحابوؓ پیش کوی چه ابن عباس، ابن مسعود، عمار بن یاسر، حذیفه او عمران بن حصین - رضی الله عنهم - نه نقل دی :

ما أبالی ذکری مسست فی الصلاة او أذنی أو انفی، کذا فی الطحاوی : ۱/ ٤۷، والمرقات : ۱/ ۳٤۱۔

یعنې دوئ فرمائي : زمونږ په نیز پوږه غوږ او ذکر مس کول یو برابر دي په نه ماتولو داودس کښې . او دوئ اعتراضونه کوي په حدیث د بسره بنت صفوانؓ باندې کوم چه راروان دي.

په حدیث د بسرةؓ باندې اعتراضات او د هغې جوابات

۱ - اعتراض : حدیث د بسره زنانه نقل کړیدې اودا مس الذکر یو داسې مسئله ده چه عموم البلوي ده او د سړو ورته ضرورت دې نو پکار ده چه سړي ئې نقل کړي، هرکله چه سړو نقل نه کړه معلومیږي چه دا حدیث ثابت نه دې .

۱ - جواب : دا خبره خطاء ده، ځکه په باب د روایت کښې دسړو او زنانو فرق نشته، که فرق راشي نو ډیره ذخیره داحادیثو به ضائع شي، لکه دا خبره معلومه ده، چه احادیث خو د ډیرو زنانو نه هم نقل دي، اودا قاعده داحنافو شوکاني په ارشاد الفحول ص (٤٩) کښې او ابن حزم په اصول الأحکام (۱۲/۲) کښې او ابن قدامه په جنة المناظر (۳۲۷/۱) کښې باطله کړې ده .

۲ - جواب : دا حدیث یواځې بسرةؓ نه دې نقل کړې بلکه د (۲۱) صحابوؓ نه نقل دې چه بعض طحاوي (۵۷/۱) ذکر کړي دي، اوځینې نیل الأوطار او اکثر په ارواء الغلیل (۱۵۱/۱) او ترمذي (۲۵/۱)، او مسند احمد (۲۲۳/۲) کښې دعمرو بن شعیب په روایت، سره ذکر کړي دي. چه هغه صحابه :

ابو ایوب انصاري، جابر، عمر بن الخطاب، ابن عمر، ابن عباس، زید بن خالد، سعد بن ابي وقاص (في احدی الروایتین عنه) ابو هریرة، ام حبیبة، عائشة، اروی بنت انیس، ام سلمة، طلق بن علي، نعمان بن بشیر، انس، ابي بن کعب، معاویة بن حیدة او قبیصة وغیره – رضي الله عنهم – دي . او د دوئ روایت حسنه الأسناد دي، کذا في الارواء (۱۵۱/۱) .

بل دا چه دا حدیث خو د حدیث الوضوء بالنبیذ نه ډیر مشهور دې، فتفکر . نو دا خبره دجاهلانو ده چه دا صرف د زنانه حدیث دې، او سړو ددې روایت نه دې کړې، هکذا في فتاوی الدین الخالص (۳۸٤/۲) وفي التلخیص الحبیر (٤٦/۱) .

۲ - اعتراض : دا روایت عروه د مروان نه یا د هغه د شرطي (فوجي) نه نقل کړې او

مروان عادل نه دے، مطعون دے په عدالت کښے دده د فسق د وجے نه او شرطي ئے مجهول الحال دے نو دا روایت قابلِ قبول نه دے.

جواب: عروهؒ خپله فرمائي: كان مروان لا يتهم في الحديث.

يعني په احاديثو کښے مروان غير متهم دے. دا وجه ده دمروان نه به سهل بن سعد صحابیؓ هم حديث نقل كولو، او امام مالكؒ به هم دده په حديث اعتماد كولو، او امام بخاریؒ هم پرے اعتماد کوی په خپل صحيح کښے، نو دموطأ او د بخاري درجالو نه حساب دے.

بلکه دا چه ابن حزمؒ فرمائي: مروان باندے هيڅ د فسق وغيره جرح نشته، مخکښے د خروج نه په ابن الزبيرؓ باندے. او عروهؒ د مروان نه دا حديث مخکښے د خروج نه په ابن الزبيرؓ باندے– نقل کړيدے.

دغه شان دا ثابته ده چه عروهؒ بلا واسطه د بسرهؓ نه دا حديث نقل کړيدے چه په هغے کښے مروان نشته. لکه دا خبره ابن خزيمه، ابن حبان او حاكم کړيده.

(التلخيص الحبير: ١/٤٥، مستدرك: ١/١٣٧، تعليق الترمذي للشيخ احمد شاكر).

٣ – اعتراض: دا حديث په روايت د هشام بن عروهؒ نقل دے او هشام دخپل پلار عروهؒ نه سماع نه ده ثابت، لکه په دے باندے دليل روايت د طبراني دے.

جواب: دا خبره خطاء ده، وجه داده چه روايت د احمد، ترمذي او حاكم صريح دے په دے کښے چه هشام دخپل پلار نه سماع ثابت ده. او صحيح بخاري (٢/١) کښے عن هشام عن ابيه عروه سند راغلے دے.

اوکه بالفرض اومنو، نو بيا هم دا علت هيڅ تاثير نه لري، وجه داده چه دا روايت د هشام نه سيوا نورو ثقاتو هم دعروهؓ نه آوريدلے دے، لکه عبد الله بن ابي بكر بن محمد بن عمرو بن حزم، او دده پلار ابو بکر شو. لکه چه دا په روايت دمالك، احمد او ابن الجارود کښے کتلے شي.

٤ – اعتراض: کوم خلق چه مس الذکر ناقض گڼري نو هغوئ مضطرب دی په مصداق دحديث د بسرهؓ کښے په ډيرو اقوالو باندے چه شلويښتو ته رسيږي، لکه ابن

العربي په شرح د ترمذي كښې تفصيلا ذكر كړې دي، او د يو روايت په مصداق كښې دومره اختلاف راتلل شبهه پيدا كوي په استدلال كښې په حديث باندې، ځكه دا دليل دې چه دا حديث نه دې ثابت او محمل دحديث نه دې متعين، نوكه اومنو چه حديث صحيح دې نو بيا هم مجمل دې مراد ئې ښكاره نه دې ددې علماؤ په نزد، او هرچه د عدم نقض قائلين دي نو هغوئ كښې اختلاف نشته.

جواب: معنى دحديث ښكاره ده او مصداق ئې ظاهر دې، او محمل ئې هم متعين دې دهغه چا دپاره چه متبع سنت وي، اومنصف وي. او څوك چه متعسف حيله گر وي داحاديثو صحيحو او سنن ثابته ؤ نو هغه دحديث دپاره باطل عذرونه گوري. او خپل مذهب ته ئې راړوي، نو هغوئ لره هيڅ اعتبار نشته. دغه شان هغه اختلاف دمالكيه او شوافعو چه په معنى دحديث كښې دې هغې لره هم څه اعتبار نشته، ځكه دچا په تفريعاتو اوتاويلاتو سره صريح حديث نه مجمل كيږي.

٥ - اعتراض: دا حديث (د بسرةؓ) مقيد دې په هغه وخت پورې كله چه په مس الذكر سره څه خارج شي نو ناقض دې، اوكه خارج نشي نو غير ناقض دې.

جواب: په دې تقييد باندې هيڅ دليل په احاديثو كښې نشته، دا خبره مردود ده،دځان نه به احاديثو ته پيوندونه نشي اچولې، داپه نبي ﷺ باندې جرأت كول دي.

٦ - اعتراض: دا حديث د قياس خلاف دې ځكه چه قياس تقاضا كوي چه كله نجاست د ذكر يا فرج نه نه وي خارج شوې نو پكار ده چه اودس مات نشي ؟

جواب: قياس په مقابله د نص صريح صحيح كښې باطل دې، او نص صريح صحيح ثابت دې په خلاف دقياس باندې، او قياس خو دضرورت په وخت كيږي كله چه نص نه وي، اوكله چه نص موجود وي نو قياس نص لره نشي رد كولې. اودا خبره به احناف هم مني.

٧ - اعتراض: احتمال شته چه مس الذكر كنايه وي د اودس وچولو نه پس د بولو نه نو بول نه په مس الذكر سره كنايه شويده، ځكه ئې حكم داودس كړې دې.

جواب: دا احتمال بعيد بلكه باطل دې دليل دبطلان ئې روستو حديث دابو هريرةؓ دې

(اذا افضىٰ احدكم بيده ليس بينه و بينها شئ الخ).

دغه شان دا احتمال دهيڅ صحابي يا تابعي په زړه کښې هم نه دے تير شوے او هيڅا دا قول نه دے کړے کـه وے نو نقل شوے به وے بلکه هر عالم په ظاهري معنیٰ باندے حمل کړيدے. دا لانجے روستو په مقلدينو کښې پيدا شوے.

٨ – اعتراض: د وضوء نه مراد وضوء لغوي دے يعني لاس وينځل، وضوء شرعي نه دے مراد، لکه د وضوء قبل الطعام پشان، کما قال الطحاوي، مرقاة (١/٣٤١).

جواب: الفاظ شرعيه به په حقائق شرعيه ؤ باندے حمل کولے شي،او وضوء په شريعت کښې وضوء عرفي ته وائي. وهو غسل الأعضاء الثلاثة ومسح الرأس. اوکله چه قرينه موجوده وي نو بيا به دمعنیٰ شرعي نه عدول کيږي معنیٰ لغوي ته، او دلته هيڅ دليل نشته او هيچا دا معنیٰ نه ده اخستے په سلفو کښې.

علاوه لا دا چه دابن عمرؓ نه دارقطني (١/١٤٧) بسند صحيح نقل کړې دی (فليتوضأ وضوئه للصلاة). يعني داسے اودس دِے اوکړي لکه څنګه ئے چه مانځه دپاره کوي.

تحفة الأحوذي (١/٨٦) وهكذا عن بسرة في مجمع الزوائد (١/٢٤٥).

٩ – اعتراض: وضوء شرعي مراد دے ليکن دا حکم دخواصو دپاره استحبابي دے نه دعوامو دپاره.

جواب: دلته امر (په حديث کښې) دپاره دوجوب دے څکه چه امر مطلق للوجوب وي عند الجمهور، کله چه قرينه صارفه عن الوجوب نه وي. او په حديث دابو هريرةؓ کښې ددے رد دے لکه په مسند احمد (٣/٨٠) کښې دی: (من افضىٰ بيده الى ذكره فقد وجب عليه الوضوء) صححه الحاكم وابن حبان وابن السكن . نو په دے حکم کښې عوام او خواص ټول يو شان شريك دی، مَن لفظ ټولو ته شامل دے.

نو په دے حديث کښې صفا د وجوب لفظ ذکر دے.

بيا هر کله چه دوئ اودس مستحب ګڼړي نو د خواصو او عوامو فرق دکوم ځائے نه ثابتوي ؟.

اوهر چه دا خبره کوي چه بيا خو ذکر د فخذ (پتون) نه هم لګيږي اود هغے نه خو اودس

کول ضروری نه دی، نو ددے مس بالید نه هم اودس کول ضروری ندی. نو دا خبره خطاء ده، وجه داده چه د فخذ په مس کولو سره اودس ناقض نه دے، او په مس بالید سره اودس مات دے، اودلیل په دے باندے حدیث دابو هریرة دے (کوم چه راروان) دے چه په هغے کښے لفظ د (ید) ذکر دے، نو لاس وروړلو سره اودس ماتیدل په حدیث کښے ذکر دی او د ذکر د پتون سره مسه کیدلو سره اودس ماتیدل په هیڅ حدیث کښے ندی ذکر. نو دا قیاس په مقابله د نص کښے دے.

۱۰ - اعتراض : دلته تاویل دے او مفعول حذف دے : (ای من مس ذکره بفرج امرأته) (چا چه ذکر د خپلے بی بی د فرج سره اوجنګولو) یعنی چه التقاء الختانین اوشی نو اودس په خپله ماتیږی نو دلته ذکر د سبب دے او مراد ترینه مسبب دے ځکه چه په مس الختان سره ضرور د بدن نه څه خارجیږی، نو امر بالوضوء للاحتیاط دے.

جواب : دا تحریف معنوی دے په دے حدیث کښے. اوددے تحریف درد کولو دپاره حدیث دابو هریره (راتلونکے) کافی دے چه په هغے کښے لفظ د (ید) راغلے دے، کما مر (اذا افضیٰ احدکم بیده الخ).

نو حدیث کښے ید ذکر کیږی او دوئ په هغے کښے تحریف کوی او بدلوی ئے په مس الفرج سره، دا دتقلید روندوالے دے.

تلك عشرةٌ کاملةٌ. دا ټول تاویلات باطل دی په حدیث د بسرةؓ کښے. واکثرها فی المرعاة (۳۶/۲، وتحفة الأحوذی : ۸۶/۱). اوس دویم قول ذکر کوو.

۲ - القول الثانی : مس الذکر او فرج المرأه والدبر اودس ماتوی په شرطونو سره (۱) چه مُبَاشرةً (بلا حائل) لاس اولګوی (۲) مس بالکف اوکړی یعنے ورغوے اولګوی، ځکه (افضیٰ) لفظ راغلے دے. بل روایت کښے (کف) لفظ راغلے.

اودا قول د عمر بن الخطاب، سعد بن ابی وقاص، ابن عمر، ابن عباس، ابو هریرة، عائشة – رضی الله عنهم – سعید بن المسیب، عطاء بن ابی رباح، ابان بن عثمان، عروة بن زبیر، سلیمان بن یسار، مجاهد، ابو العالیة، الزهری، مالك، احمد، شافعی، اوزاعی، اسحق بن راهویه، ابو ثور اومزنی – رحمهم الله – دے.

(المجموع شرح المهذب : ٥١/٢، المغني لابن قدامة : ٢٤٠/١ نيل الاوطار ٢٤٩/١).

دلائل : ١ – حدیث دبسره بنت صفوانؓ دے :

ان النبی ﷺ قال : من مس ذكره فلا يصلي حتى يتوضأ.

اخرجه مالك : ٢٩/١، واحمد وابوداود : ٢٤/١، والترمذی : ٢٥/١، والنسائی : ١٣١/١، واسناده صحیح وصححه احمد ایضا فی المناظرة بین ابن المدینی ویحیی بن معین.

٢ – دلیل : عن ام حبیبة قالت : سمعت رسول الله ﷺ یقول : من مس فرجه فلیتوضأ.

اخرجه ابن ماجة : ١٣٥/١، وغیره وسنده صحیح، کذا فی الارواء : ٥١/١.

٣ – دلیل : عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال : قال رسول الله ﷺ : من مس فرجه فلیتوضأ، وایما امرأة مست فرجها فلتتوضأ.

اخرجه احمد : ٨/٢، مع الفتح الربانی، وسنده حسن.

اودا دلیل دے چه د نارینه او زنانه فرق په دے باب کښے نشته، کذا قال صاحب بلوغ الأمانی.

٤ – دلیل : عن زید بن خالد الجهنی قال : سمعت رسول الله ﷺ یقول : من مس فرجه فلیتوضأ.

اخرجه احمد : ٨٤/٢، مع الفتح الربانی، قال الهیثمی : رواه احمد والبزار والطبرانی فی الکبیر ورجاله رجال الصحیح، الا ابن اسحق مدلس، وقال : حدثنی، فانتفی التدلیس فالحدیث صحیح، بلوغ الأمانی شرح مسند احمد الشیبانی : ٨٥/٢، ومجمع الزوائد : ٢٤٥/١.

تنبیه : د هیثمی په قول سره رد اوشو په صاحب د تنظیم الأشتات (١٣٣/١) باندے چه د طحاوی (٤٤/١) نه ئے نقل کړیدی چه په دے روایت کښے مدلس راوی (محمد بن اسحق) دے، دے وائی دا خو دوئ هم منی چه مدلس دے، نو بیا په مونږ باندے په دے حدیث سره حجت قائمول ظلم دے.

جواب : هیثمی هم وائی چه دا مدلس دے لیکن مدلس چه کله عنعنه اوکړی نو هله قابل قبول نه وی، اوکله چه تصریح بالتحدیث اوکړی لکه لفظ (حدثنا، اخبرنا) نو بیا دهغه روایت اتفاقا مقبول دے، کذا فی قواعد الحرح والتعدیل.

٥ - دليل : عن ابي هريرة عن النبي ﷺ قال : من أفضىٰ بيده الى ذكره ليس دونه ستر، فقد وجب عليه الوضوء.

اخرجه احمد : ٢/ ٨٠، ورواه ابن حبان في صحيحه وقال في كتاب الصلاة : هذا حديث صحيح سنده، عدول نقلته، وصححه الحاكم من هذا الوجه وابن عبد البر. بلوغ الأماني :٢/٨٥.

دغه شان دمذکوره صحابوؓ نه هم دا احاديث نقل دی، چه اکثر حافظ ابن حجرؒ په التلخيص الحبير (١٨٦/١) کښې جرحا و تعديلا ذکر کړيدی، هغې ته رجوع پکار ده، وکذا الطحاوی (٥٧/١).

اوس د اول شرط دپاره دليل څه دے (چه مباشرت به وی، حائل به نه وی) ؟

دليل دادے چه : حديث دابو هريره رضی الله عنه کښې دی :

اذا افضىٰ احدكم بيده الى فرجه ليس دونها حجاب ولا ستر، فقد وجب عليه الوضوء.

(اخرجه ابن حبان، كذا في تحفة الأحوذي :١/ ٨٥، ومر الحديث بمعناه).

او د دويم شرط (چه په کف او ورغوی سره به مس شوے وی) دپاره هم دليل دے ځکه د افضاء معنی اهل اللغة دا کړيده چه په باطن الکف (ورغوی سره) سره وی.

لکه صاحب د بلوغ الأماني (٨٨/٢) دواړو شرطونو ته اشاره کوی فرمائی :

وفي احاديث الباب ايضا اشتراط عدم الحائل بين اليد والذكر وهذا متفق عليه عند من قالوا بالنقض – واستدل به الشافعية في ان النقض انما يكون اذا مس الذكر بباطن الكف، لما يعطيه لفظ الافضاء في حديث ابي هريرة، وقد فسره الامام الشافعي في الأم، فقال : الافضاء باليد انما هو بباطنها، كما تقول : افضىٰ بيده معانقا وأفضىٰ بيده الى الأرض ساجدا آهـ.

يعنې : کوم علماء چه په مس الذکر والفرج والدبر سره اودس واجبوی دهغوئ ټولو اتفاق دے په دے خبره چه په مابين د ذکر او لاس کښې به حائل نه وی. (دا اول شرط) او په دے باندے شوافعو هم استدلال کړيدے چه اودس به هله ماتوی چه په باطن الکف سره مس کړی، ځکه چه په حديث دابو هريرهؓ کښې د افضاء لفظ ديته شامل دے، او امام شافعیؒ په کتاب الأم کښې هم ددے تفسير داسے کړے چه افضاء باليد دا په باطن الکف

سره وی، لکه چه عرب په محاوره کښې وائی : افضیٰ بیده معانقا الخ .
خلاصه : داچه پدے باب کښې احناف هم صرف په یو حدیث عمل کوی چه حدیث دطلق دے، او شوافع هم صرف په یو حدیث عمل کوی چه حدیث دبسرةؓ دے .
۳ - قول ثالث : وهو الراجح :
دا قول شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ په مجموعه الفتاوی (۲۴۱/۲۱) کښې ذکر کړے چه په دے سره تطبیق راځی ددواړو حدیثونو ترمینځ فرمائی چه :
حدیث دطلق بن علیؓ محمول دے په مس بغیر دشهوت باندے، اودلیل په دے باندے دادے چه دلته د ذکر تشبیه ورکړے شویده دانف او اصبع وغیره سره (هل هو الا بضعة) اوکه ذکر د شهوت سره واخستے شی نو بیا دا تشبیه نه صحیح کیږی، ځکه چه ذکر کله په شهوت کښې وی نو هغه کښې حرکت وی، او په انف او اصبع وغیره کښې حرکت نشته .
او حدیث د بسره بنت صفوانؓ محمول دے په مس الذکر بشهوةٍ باندے . اودا ډیر ښه تطبیق دے، وجه داده چه په دواړو حدیثونو باندے عمل راځی، اوکه دا اونه کړے شی نو بیا په یو حدیث عمل راځی او بل مهمل پاتے کول راځی۔ اوشیخ البانی رحمه الله هم ددے خبرے تحسین کړیدے (تعلیق المشکاة : ۱۰۴/۱)۔
او صاحب د توضیح الأحکام یوه بله توجیه هم ذکرکړیده چه : مس د ذکر ناقض د اودس دے، که چرے دا مس بغیر د حائل (پردے) نه وی، اوناقض داودس نه دے که چرے سره دحائل اوپردے نه وی۔ دارنګ وائی چه : ددے تائید د یو بل روایت نه هم کیږی چه هغے کښې داسے تپوس شویدے (الرجل یمس ذکره فی الصلاة) یعنے مانځه کښې لاس یوسی، نو مونځ کښې خو بغیر د حائل نه شرمګاه نه مسه کیږی۔
لیکن بیا وائی : کومه جمع چه شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ ذکرکړیده دا ډیره قریبه ده حق اوصواب ته (توضیح الأحکام : ۲۷۷/۱) .
باقی ددے تفصیل په نیل الأوطار : ۲۴۷/۱، ارواء الغلیل : ۱۵۰/۱، السنن الکبری : ۱۳۰/۱، المغنی : ۲۴۰/۱، المجموع شرح المهذب : ۵۱/۲، المصنف لعبد الرزاق :

١/١١٢، البيهقي : ١/١٣٠، ابن ابي شيبة : ١/١٦٣، فتاوى الدين الخالص : ٢/٣٨٩، التحقيقات لرد الهفوات : ٧٧) كښې تفصيلا اوګوره.

تنبيه : که يو شخص د ماشوم يا د بل چا ذکر له ګوتې يوسي نو ددې څه حکم دې؟

نو راجح داده چه دده اودس مات دې، کله چه په شهوت سره وي. وجه داده چه علت د مس کولو مشترك دې چه خپل ذکر وي اوکه د بل.

دوېم: داچه په مصنف عبد الرزاق (١/١٢٢) کښې دعطاءؒ وغيره نه نقل دی (قال: توضأ من ذلك) يعنې ددې نه هم اودس اوکړه.

اوکله چه په شهوت سره نه وي نو اودس نه ماتيږي، لکه داسې حکم په فتاوىٰ العثيمين (٢/٢٠٣) کښې هم شته.

يا داچه: اودس ترې کول مستحب دی، واجب نه دی .راجع في ذلك الدين الخالص : ٢/٣٨٥.

مسئله : په مس الدبر سره د اودس په نقض کښې څه صريح دليل نشته، نو ظاهر رائې داده چه په دې سره اودس نه ماتيږي، او قياس کولو ته حاجت نشته.

قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللهُ : هٰذَا مَنْسُوْخٌ لِاَنَّ اَبَا هُرَيْرَةَ اَسْلَمَ بَعْدَ قُدُوْمِ طَلْقٍ.

٢٢ - وَقَدْ رَوٰى اَبُوْ هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَ : اِذَا أَفْضٰى اَحَدُكُمْ بِيَدِهٖ اِلٰى ذَكَرِهٖ لَيْسَ بَيْنَهٗ وَبَيْنَهَا شَيْئٌ فَلْيَتَوَضَّأْ). رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ وَالدَّارِقُطْنِيُّ.

٢٣ - وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ بُسْرَةَ اِلَّا اَنَّهٗ لَمْ يَذْكُرْ : لَيْسَ بَيْنَهٗ وَبَيْنَهَا شَيْئٌ .

ترجمه : امام محيي السنةؒ فرمائي : دا حديث منسوخ دې ځکه چه ابو هريرةؓ د طلق بن عليؓ د راتلو نه وروستو اسلام راوړې دې او أبو هريرةؓ د رسول الله ﷺ نه دا حديث نقل کړې دې : هر کله چه تاسو کښې د چا لاس ذکر ته اورسي، او د لاس او ذکر مينځ کښې څه حائل (پرده) نه وي نو هغه له پکار دی چه اودس اوکړي (شافعي، دارقطني) او نسائي د بي بي بسرةؓ نه دا روايت نقل کړې دې چه هغې کښې (ليس بينه وبينها شئ) الفاظ مذکور نه دي.

درجة الحديث : رواه الشافعي والدارقطني وفي سندهما يزيد بن عبد الملك، وقد ضعفه الأكثرون، ووثقه ابن سعد وابن معين في رواية. وأخرجه أحمد وابن حبان في صحيحه والحاكم والبيهقي (١/١٣٣) والطبراني في الصغير من طريق نافع بن أبي نعيم، وفيه : فقد وجب عليه الوضوء، بدل قوله : فليتوضأ. قال ابن حبان : هذا حديث صحيح سنده، عدول نقلته، وصححه الحاكم وابن عبد البر، وقال ابن السكن : هو أجود ما روى في هذا الباب. وقال الألباني في السلسلة الصحيحة : ٣/٢٣٨، رقم : ١٢٣٥ : إذا أفضىٰ أحدكم بيده إلى فرجه وليس بينهما سترة ولا حجاب فليتوضأ، أخرجه ابن حبان (٢١٠) والسياق له، والدارقطني (٥٣) والبيهقي (١/١٣٣) واسناد ابن حبان جيد، آهـ.

نو دا حديث صحيح دے، اود تطبيق او جمع بين الأحاديث دپاره كافي شافي دے۔ و انظر ايضاً : المشكاة النسخة الهندية بتعليق رمضان بن أحمد بن علي آل عوف (١/١٦٣).

اوس محي السنه صاحبؒ تطبيق بين الحديثين كوي، چه حديث دطلق بن عليؓ (چه په هغے كښے عدم نقض الوضوء بالمس ده) منسوخ دے په حديث دابو هريرةؓ اوبسرةؓ باندے. چه ابو هريرةؓ د نبي كريم ﷺ نه نقل كوي فرمائي :

تشريح : **اِذَا اَفْضٰى اَحَدُكُمْ بِيَدِهٖ الخ**: يعني مس الذكر بغير دحائل نه اودس ماتوي. نو دا حديث دابو هريرةؓ ناسخ دے. وجه دا بيانوي چه ابو هريرةؓ دطلق بن عليؓ نه اووه (٧) كاله روستو ايمان راوړے، ځكه چه طلقؓ دهجرت په اول كال كله چه نبي ﷺ مسجد جوړولو د يمن نه راغے او ايمان ئے راوړو، او ابو هريرةؓ په اووم كال (دخيبر) باندے ايمان راوړے.

نو د ابو هريرةؓ حديث متاخر شو اود طلقؓ حديث مقدم دے، او متاخر ناسخ وي دمقدم دپاره. دغه شان د بسرةؓ ايمان راوړل متاخر دي. مطلب دا شو چه په مس الذكر سره اودس نه ماتيدل منسوخ دي۔ دا د محيي السنه صاحبؒ تطبيق دے.

ليكن دا صحيح نه دے، د دوه وجهونه :

١ – اوله وجه داده چه په دے خبره صريح دليل نشته چه حديث دطلق مقدم دے منسوخ دے، اوحديث دابي هريرةؓ متاخر اوناسخ دے.

٢- دويمه وجه : دا چه په نفس تقدم داسلام باندے حديث منسوخ نه ګرځي او په تاخر داسلام باندے حديث ناسخ نه ګرځي، ځکه کيدے شي چه يو کشر صحابي (متاخر الاسلام) دے دمشر صحابي نه حديث الرسول ﷺ اوريدلے وي، او يا مشر صحابي - مثلا ابو بکرؓ - دے دکشرانو صحابوؓ په زمانه کښے د نبي ﷺ نه حديث آورريدلے وي په زمانه د وفات د نبي کريم ﷺ کښے نو په نفس مخکښے والي او روستو والي سره نسخ نه ثابتيږي، ترڅو چه يقيني دليل نه وي په نسخ باندے، اودا خبره هله صحيح ده چه کله طلق بن عليؓ دا يو حديث آوريدلے وي او بيا د نبي کريم ﷺ سره بالکل نه وي ملاؤ شوے (ولم يثبت الرجوع الى المدينة عند المباركفوري في التحفه : ٨٧/١).

البته طلق بن عليؓ نه يوبل حديث هم نقل دے چه طبراني في الکبير نه صاحب د مجمع الزوائد (٢٤٥/١) نقل کړے وکذا في النيل (٢٥٠/١) چه هغه د بسره بنت صفوانؓ د حديث پشان دے :

عن طلق بن علي و كان في الوفد الذين وفدوا الى رسول الله ﷺ : ان رسول الله ﷺ قال : من مس فرجه فليتوضأ.

دے حديث ته طبراني صحيح وئيلي دي، نو دوه روايته ثابت شو دطلق نه.

او بيائے داسے تطبيق کړے لکه چه محيي السنه صاحبؒ کړے، چه ممکنه ده چه طلق دا اول حديث (چه په عدم نقض الوضوء باندے دلالت کوي چه هل هو الا بضعه په کښے ذکر دے) د نبي عليه السلام نه مخکښے آوريدلے وي او روستو ئے دا دويم حديث آوريدلے وي (کوم چه په نقض الوضوء باندے دال دے) نو دده دويم حديث دبسرےؓ، ام حبيبهؓ، ابو هريرهؓ او زيد بن خالدؓ دحديث سره مطابق شو نو داناسخ شو داول حديث دده دپاره. نو طلق بن عليؓ ناسخ او منسوخ دواړه حديثونه آوريدلي دي.

ليکن حاشيه کښے ليکلي چه په روايت ثانيه دطلقؓ کښے (کوم چه دال دے په نقض الوضوء باندے) ايوب بن عتبه دے، اودا ضعيف دے، اوده ته په تقريب کښے صدوق کثير الخطأ وئيلے شويدے، نو دده روايت ثانيه منکر شو.

٣- دريمه وجه داده : چه نسخ ته ضرورت نشته ځکه تطبيق ممکن دے کما مرّ.

وجوه ترجيح حديث بسرة على حديث طلق

١ - اوله وجه : دترجيح خوداده چه صاحب المرعاة (٢/٣٤) كښې ليكلې ده چه حديث د بسره امام شافعي في الأم، ابن خزيمه، ابن حبان، ابن الجارود، حاكم، بيهقي نقل كړے، او امام احمد، بخاري، ابن معين، ترمذي ورته صحيح وئيلى دى. دارنګه دارقطني، ابن حبان، ابن السكن، حاكم، بيهقي، ابن عبد الله ابو حامد الشرقي، حازمي، نووي، ابن حجر اونورو علماؤ - رحمهم الله - ورته صحيح وئيلى.

اوهرچه حديث دطلق بن علي دے نو ديته بعضے علماؤ صحيح او بعضے نورو ورته ضعيف وئيلے، نو دا حسن شو او هغه صحيح دے، او صحيح ارجح وى په حسن باندے.

٢ - وجه : په حديث دطلق كښې چه كوم راويان دى نو په هغے باندے شيخان (بخاري او مسلم) احتجاج نه دے كړے، او په حديث دبسرة كښې چه كوم راويان دى په هغے ټولو باندے شيخانو احتجاج كړيدے. قال في المغني : ١/٢٠٣ : قال البخاري : اصح شئ في هذا الباب حديث بسرة.

٣ - وجه : حديث دبسرة دپاره كثره الطرق او شواهد كثيره دى، سره دصحت دسند نه، لكه چه مخكښې تير شو نو دا هم يوه طريقه دترجيح ده.

٤ - وجه : بسرة به دا حديث د مهاجرينو او انصارو په كورونو كښې بيانولو او صحابه پوره موجود وو او هيچا نه منع كوله، بلكه منع لا څه چه بعضے صحابو هم دا مذهب اختيار كړے وو. (مرعاة).

٥ - وجه : حديث دطلق ته بعضے علماؤ منسوخ وئيلى لكه امام حازمي په كتاب الاعتبار كښې او ابن حبان. او حديث د بسرة وغيره ته هيڅ عالم منسوخ نه دى وئيلى.

٦ - وجه : حديث د طلق موافق دے د پخوانى حالت سره چه عدم النقض دے او حديث د بسره د هغے نه ناقل دے نو ناقل ته به ترجيح وى.

د نورو وجهو دپاره تحفة الأحوذي : ١/٨٧، او مرعاة : ٢/٣٥ او نيل الاوطار ١/٢٤٩) ته رجوع اوكړه. په دے مسئله كښې د جمع بين الأحاديث دپاره دويم قول راجح دے، كوم چه شيخ الاسلام ذكر كړيدے.

۲٤ – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُقَبِّلُ بَعْضَ أَزْوَاجِهِ ثُمَّ يُصَلِّيْ وَلَايَتَوَضَّأُ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : عائشه ؓ نه روایت دے چه دا فرمائی : نبی کریم ﷺ به خپلے څینے بیبیانے خکل کړے، بیا به ئے مونځ کولو او اودس به ئے نه کولو ۔ (أبوداؤد، ترمذی، نسائی)۔

درجة الحديث : رواه أبوداود (۱۷۸، ۱۷۹) والترمذی (۸٦) والنسائی (۱/۱۰٤) وابن ماجة (۵۰۲) واسناده صحيح، وأخرجه أحمد (٦/۲۱۰) وقد صححه العلامة أحمد شاكر فی شرح الترمذی (۱/۱۳۳، ۱٤۲) والألبانی، المشكاة بتعليق رمضان بن أحمد (۱/۱٦۳) وقال الألبانی فی تعليق المشكاة : لكن الحديث صحيح، فقد جاء من طرق أخرى بعضها صحيح، كما حققناه فی صحيح سنن أبی داود (۱/۳٦) رقم (۱۷۸) ورجحه أيضاً فی تحقيق أحمد شاكر علی الترمذی (۱/۱۳۳، ۱٤۲).

تشريح : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُقَبِّلُ بَعْضَ أَزْوَاجِهِ :

۱– ددے حديث نه دا معلومه شوه چه رسول الله ﷺ به د خپلو بی بیانو سره محبت کولو او دا د زنانو حق دے په سرې باندے۔

۲– دارنګه دين بيانولو کښے حياء کول صحيح ندی څکه چه عائشه رضی الله عنها ټول امت ته د خپل راز بيان کوی چه رسول الله ﷺ به ما سره داسے بوس او کنار کولو که عائشے وغيره دا بيان نه وے کړے نو دا حکم شرعی به څنګه معلوميدلو۔

۳– بيا عائشے دلته بعضے بی بيانے ذکر کړے مراد ترينه پخپله عائشه ده لکه دا د بل روايت نه معلوميږی چه کله دے دا حديث بيان کړو نو عروه بن الزبير (چه ددے خورئے وو) دے ته ئے اووئيل (هل هی انت ؟ فضحکت)۔ يعنی دا بی بی ته وے نو هغے اوخاندل۔

٤– کله چه يوه خبره د حياء سره تعلق ساتی او په هغے کښے مقصود په کناياتو سره حاصليږی نو تصريح کول مناسب ندی۔

مرکزی مسئله په حديث کښے دا ده چه دخپلے بی بی خکلولو او لاس وروړلو سره اودس نه ماتيږی۔ ليکن دے مسئله کښے هم اختلاف شته۔

: – **اول مذهب** دادے چه مس المرأة مطلقًا ناقض دے اودس لره، اودا قول دابن

مسعودؓ، ابن عمرؓ، زهریؒ امام شافعیؒ لو دهغه داتباعو دے.

دلیل : د سورت المائده او النساء آیت ﴿اَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ﴾ وفی قرائةٍ: ﴿اَوْ لَمَسْتُمُ النِّسَاءَ﴾ - دا آیت دلیل دے چه مس المرأه سره اودس ماتیږی، وجه داستدلال داده چه لمس حقیقت دے په لمس بالید (لاس وروړلو) کښے او مجاز دے په جماع کښے نودلته حقیقت مراد دے، نه مجاز.

اوددے حدیث الباب نه جواب کوی چه دا حدیث ضعیف دے لکه چه امام ترمذیؒ ددے ضعف بیان کړے، کما یأتی فی الکتاب.

۲ - **دلیل** : دابن عمرؓ نه امام بیهقیؒ اود ابن مسعودؓ نه امام مالكؒ او شافعیؒ نقل کړے چه: "من قبل امرأته او جسها بیده فعلیه الوضوء، وعن ابن مسعود : القبلة من اللمس وفیها الوضوء. کذا فی نیل الأوطار: ۱/۲٤٥.

۲ - **قول ثانی** : مس المرأه اودس نه ماتوی مگر کله چه څه خارج شی نو بیا اودس مات دے، اودا قول دعلیؓ، ابن عباسؓ، عطاءؒ، طاؤسؒ، حسن بصریؒ، مسروقؒ او یو روایت قویه د احمدؒ نه او د امام ابو حنیفةؒ او ابو یوسفؒ دے. او همدا قول راجح دے.

دلائل : ۱ - په دے مسئله کښے هیڅ صحیح واضح دلیل نشته چه دلالت اوکړی په ماتیدو داودس باندے، لهذا اودس به په خپل حال باندے باقی وی، ترڅو چه واضح دلیل په ماتیدو رانشی.

۲ - **دلیل** : دا مسئله ډیره عامه ده او هر مُتَزَوِّج انسان ته راپیش کیږی یعنے پدیکښے عموم بلویٰ ده، نوکه په مس المرأه سره اودس ماتیدلے نو نبی کریم ﷺ به ذدے عمومی بیان کړے وے، ځکه چه نبی ﷺ د بیان دپاره راغلے دے، هرکله چه د نبی ﷺ د طرفه صحیح او واضح بیان رانغے نو دا دلیل دے په دے چه اودس نه ماتیږی. والأصل بقاء الطهارة علی حالها.

او هرچه اول مذهب والا په آیت استدلال کړے نو هغه مرجوح دے، ځکه د لمس نه مراد جماع ده لکه دا تفسیر دابن عباسؓ او علیؓ نه نقل دے (مغنی: ۱/۲۲۱، تحفة الأحوذی: ۱/۹۸، مجموعة الفتاوی: ۲۱/۲۳۲، هیئة کبار العلماء: ۱/۱۵۱، ابن کثیر).

او په دے تفسیر باندے دوه قرینے دی :

اولـه قـرینـه : دادة چه په آیت کریمه کښے الله تعالی دوه قسمه طهارتونه بیان کړی دی (۱) صغری (۲) کبریٰ . نو په ﴿ فاغسلوا وجوهکم وأیدیکم الی المرافق وامسحوا برؤسکم وأرجلکم الی الکعبین ﴾ کښے طهارت بالماء ذکر کوی اودا طهارت صغریٰ دے . او د ﴿ لامستم النساء ﴾ نه مراد سبب د طهارت کبریٰ دے . او ﴿ جاء احد منکم من الغائط ﴾ سبب د طهارت صغریٰ دے . او ﴿ فلم تجدوا ماء ﴾ نه روسته بدل دطهارت بیانوی چه تیمم دے نو که دلته د ﴿ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ ﴾ نه جماع مراد نشی نو په آیت کښے به دطهارت صغریٰ دپاره سبب راشی اود طهارت کبریٰ دپاره به سبب موجود نشی (سره ددے نه چه طهارت کبریٰ ئے په ﴿ وان کنتم جنبا فاطهروا ﴾ سره ذکر کړیدے) نو بیا به دبلاغت قرآنی نه خلاف راشی اودا خو صحیح نه ده . کذا فی فتاوی الدین الخالص : ۳۹۵/۲ ۔

بلـه وجـه داده : چـه پـه آیـت کښے مـلامست ذکر دے او مفاعله باب کښے شرکت وی دجانبینـو نـه اودا متـصـور کیـږی پـه دوه کسـانـو کښے چه ښځه اوخاوند دی اودا د جماع صورت دے . (المغنی : ۲۲۱/۱) .

۳ – دویمه قرینه **او دریم دلیل** : حدیث التقبیل (حدیث الباب) دے چه د نبی ﷺ عمل دلیل دے چه دوئ د خپلے بی بی تقبیل کړے او اودس ئے نه دے کړے . او دے حدیث کښے اگرچه امام ترمذیؒ کلام کوی لیکن دا صحیح دے لکه روسته به راشی۔

٤ – **دلیل** : عائشه رضی الله عنها فرمائی : ان کـان رسـول الله ﷺ لیصلی وانی لـمـعترضة بین یدیه اعتراض الجنازه حتی اذا أراد أن یوتر مسنی برجله . رواه النسائی، کذا فی النیل : ۲٤٦/۱ . قال الحافظ فی التلخیص : اسناده صحیح، انظر التحفة: ۸۸/۱ .

نو په دے کښے د نبی ﷺ خپه د عائشهؓ نه لګیدلے ده۔

او په بل روایت د عائشه صدیقهؓ کښے داسے دی :

ان کـان رسـول الله ﷺ لیصـلـی وانـی لـمـعترضة بین یدیه اعتراض الجنازة، فاذا أراد أن یسجد غمزنی فقبضت برجلی . متفق علیه .

په دے حدیث کښے نبی ﷺ په مانځه کښے عائشهؓ سکونډلے ده۔

اوبـل روایت کښې دی : قـالـت : فـزعـت ذات لیلة و فقدت رسول اللّٰه ﷺ فمددت یدی فـوقـعـت یـدی عـلی قدمیه وهما منصوبتان هو ساجد (رواه احمد : ٦/٥٨، ٢٠١، ابوداود : ١/٥٤٧، دارقطنی : ١/١٤٣).

په دے کښې د عائشےؓ لاس ونه د نبی کریم ﷺ په قدمونو لګیدلی دی۔

٥ - دلیل : نبـی کـریـم ﷺ اُمَامَه بنت ابی العاص بن الربیع په مانځه کښې په اوګو باندے اوچتوله اوکله به ئے چه سجده کوله نو هغه به ئے کینوله (متفق علیه)۔

اونبـی کـریـم ﷺ پـه بـاب داحـکـامو کښې دامت سره شریك دے تـرڅو چـه دلیل دخصوص رانشی، اودلته دلیل دخصوص نشته. لهذا مس المرأه سره اودس نه ماتیږی.

سوال : ابـن مسـعـودؓ او ابن عمرؓ قول سره به څه کیږی چه قائل دی په نقض الوضوء بمس المرأه باندے ؟

جواب : دوئ دواړو سره نـورو عـامـو صحابوؓ په دے مسئله کښې اختلاف کړے اوکله چه دصحابوؓ اختلاف راشی په یوه مسئله کښې نو رجوع به کیږی کتاب او سنت د رسول ﷺ ته، او کتاب او سنت دواړو کښې دا خبره ده چه مس المرأه ناقض للوضوء نه دے۔

ددے ځائے نه بله فائده معلومه شوه هغه دا چه : احنافو او نورو علماؤ د عمر، ابن عمر او ابـن مسـعـود - رضـی الـلـه عـنـهـم - خبره نه ده منلے ځکه هغوئ سره دلیل دے اودے صـحـابوؓ سره دلیل نشته ، نود دلیل د تابعداریٔ د وجے نه ددے صحابوؓ خبره پریدی اودا ډیر ښـه کـار دے، اودیـتـه انصاف وائی، حق پرستی هم داده چه دلیل کله راغے نوکه غټو خلقو هم - په خپل اجتهاد سره - دهغے خلاف خبره اوکړه هغه به پریدی۔

احـنـاف دا دعـویٰ کـوی چـه فـقـه حـنفی ابن مسعودؓ کرلے ده، حال دا چه د ابن مسعودؓ ډیرے فتـوے د فـقـه حـنفی خلاف دی، یو د هغے نه دا فتویٰ ده (چه د ښځے ښکلولو کښے اودس لازم دے) مـونـږ دلتـه د ابن مسعودؓ خبره پریدو ځکه چه دلیل ورسره نشته، په امت باندے د دلیل تابعداری فرض ده، تقلیدونه دین کښې نشـتـه۔

۳ - په دے مقام کښے یو بل قول هم شته هغه دا چه : مس المرأه ناقض د اودس دے که چرے پـه شهـوت سره وی، او نـه دے نـاقـض کـه چرے بغیر د شهوت نـه وی . اودا قول د

علقمة، ابی عبیدةؒ، نخعیؒ، حمادؒ، امام مالكؒ، امام شعبیؒ، امام سفیان ثوریؒ، اسحقؒ او مشهور قول د امام احمدؒ دے (المغنی : ۲۱۹/۱) اودا قول صاحب د مغنی او علامه شوکانیؒ په نیل الأوطار (۲٤۷/۱) کښې او علامه بسامؒ په توضیح الأحکام (۲۳۱/۱) کښې غوره کړیدے۔

وجه دا بیانوی چه دا حدیث محمول دے په هغه تقبیل باندے چه په شهوت سره نه وی، بلکه د محبت او شفقت خکلول دی، او دا قسم لمس خو ناقض د اودس نه دے، ځکه چه نبی ﷺ عائشةؓ په مانځه کښې سکوندلے ده، او د لمس ذات خو ناقض نه دے بلکه دا مَظِنَّه د خروج الشهوة ده، نو هغه لمس چه عادی وی او بغیر د شهوت نه وی نو هغه به په خپل اصل باقی پاتے وی چه اودس نه ماتیدل دی۔

ددے قول والا سره هیڅ دلیل په دے فرق باندے نشته دے سیوا ددے نه چه تاویل په احادیثو کښې کوی. او په دے قید باندے هیڅ صریح واضح صحیح دلیل نشته لکه دا خبره مونږ مخکښې اوکړه.

نو په مس المرأه سره اودس مات ګنړلو باره کښې هیڅ حدیث نشته ترڅو پورے چه څه شے خارج شوے نه وی نو بناء په دے باندے قول ثانی راجح دے، لکه چه دیته ئے ترجیح ورکړیده په تحفة الأحوذی : ۸۸/۱، کښې، ابن جریرؒ راجح کړیدے په خپل تفسیر کښې. او دے قول ته په فتاوی الدین الخالص (۳۹٤/۲) کښې هم ترجیح ورکړے شوے ده، اوددے مسئلے پوره تحقیق په نیل الأوطار ، المغنی او تحفة الأحوذی کښې اوګورئ۔

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : لَا يَصِحُّ عِنْدَ أَصْحَابِنَا بِحَالٍ إِسْنَادُ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ. وَأَيْضًا : إِسْنَادُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنْهَا. وَقَالَ أَبُوْدَاوُدَ : هٰذَا مُرْسَلٌ وَإِبْرَاهِيمُ التَّيْمِيُّ لَمْ يَسْمَعْ عَنْ عَائِشَةَ.

اوترمذی وئیلی دی : زمونږ د علماؤ په نیز په هیڅ حال کښې دعروه سند اودغه شان دابراهیم تیمی سند دعائشےؓ نه صحیح کیدے نشی، او ابوداود وئیلی دی چه دا حدیث مرسل دے ځکه ابراهیم تیمی د بی بی عائشةؓ نه، نه دے آوریدلے۔

﴿ تحصيل الثروة فی تحقيق اعتراض الترمذی علی حديث عروة ﴾

دلته **سوال** پيدا کيږی چه امام ترمذیؒ په دے مقام کښے رد کوی چه اسناد عروه عن عائشه صحيح نه دے حالانکه ترمذی کښے ډير داسے روايات دی چه عروةؒ په کښے دعائشے رضی الله عنها نه نقل کوی، نو آيا دامام ترمذیؒ په دے خبره کښے تعارض نه ښکاری ؟۔

جواب : ظاهر کښے تعارض معلوميږی ولے په واقع کښے هيڅ تعارض نشته ځکه چه عروه دوه کسان دی (۱) عروة بن الزبير (۲) عروة المزنی. نو دلته چه رد کوی نو دا په اسناد د عروة المزنی باندے کوی، او نور احاديث چه موجود دی نو هغه دعروة بن الزبير دی۔

اوس به راشو اعتراض د ترمذیؒ ته : نو غرض د امام ترمذیؒ په دے عبارت خپل سره چه (لانه لا يصح عندهم بحال الاسناد) تضعيف ددے حديث دے او په دے ضعيف کولو باندے دوه قوله بيانوی، اول قول د يحيیٰ بن سعيد القطان پيش کوی چه هغه فرمائی (هُوَ شِبْهُ لَا شئ) او بل د امام بخاریؒ قول پيش کوی چه هغه ورته ضعيف وئيلے دے.

ليکن که فکر اوکړے شی نو دا خبره بے حقيقته ده، اودا حديث صحيح دے او د امام مسلم د شرطونو برابر دے. نو په دے خبره ځان پو هول پکار دی چه ددے حديث دوه طريقے دی چه په هغے سره رانقل شويدے :

اولے طريقے سره داسے نقل شوے : عن حبيب بن ابی ثابت عن عروة عن عائشة ۔

اودويمه طريقه : عن ابی روق عن ابراهيم التيمی عن عائشة۔

په اوله طريقه باندے (چه هغه طريقه د عروه ده) دوه اعتراضه وارديږی :

اول **اعتراض** دادے چه د عروه نه مراد عروه المزنی دے نه عروه بن الزبير، او عروه المزنی خو مجهول دے، اوددے خبرے دليل چه مراد عروه المزنی دے دادے چه امام ابوداود ددے حديث يوه بله طريقه نقل کړيده او په هغے کښے د عروه المزنی تصريح موجود ده.

معلوميږی چه دلته هم د عروه نه مراد عروه المزنی دے. هغه طريقه داسے ده :

حدثنا ابراهيم بن مخلد الطالقانی قال حدثنا عبد الرحمن بن مغراء قال حدثنا الأعمش قال ثنا أصحاب لنا عن عروة المزنی عن عائشة بهذا الحديث ۔

(۲) دارنګه امام ابوداؤدؒ د سفيان الثوريؒ دا قول هم نقل کړے دے چه قال : ما حدثنا حبيب الا عن عروة المزني (يعني لم يحدثهم عن عروة ابن الزبير بشئ)۔

نو دا هم دليل دے ددے خبرے چه په حديث الباب کښے مراد د عروه نه عروه مزني دے .

جواب : دا طريقه او سند د ابوداود انتهائي ضعيف دے، په دے کښے خو يو عبد الرحمن بن مغراء دے اوداچه کله د اعمش نه روايت کوی نو دده روايت ليس بشئ دے، يحيى بن معين دده په باره کښے فرمائي : له ست مائة حديث يرويها عن الأعمش تركناها لم يكن بذاك ۔

۲ – دويم داچه په دے سند کښے اصحاب لنا، مجاهيل روات دی نو په دے سند سره استدلال باطل دے . او امام ابوداؤدؒ چه د سفيان الثوريؒ قول پيش کړيدے نو د هغے جواب دادے چه هغه ئے بے سنده ذکر کړيدے فلا يعتبر .

دويم داچه : د سفيان ثوريؒ دقول نه امام ابوداؤدؒ خپله خلاف کړے لکه چه فرمائيلي دی :

وقد روى حمزة الزيات عن حبيب عن عروة بن الزبير عن عائشة حديثا صحيحا.

ددے نه مراد د امام ابوداود هغه حديث دے چه کتاب الدعوات (۲/۲۰۵) کښے امام ترمذيؒ نقل کړيدے۔

نو ددے خبرے د ابوداود نه دوه خبرے معلومے شوے :

(۱) د عروه نه مراد عروه بن الزبير دے، لکه چه ددے تصريح امام احمدؒ او ابن ماجه کښے شويده، لکه چه روستو به راشي۔

(۲) د ابوداود په نيز هم روايت د حبيب عن عروه صحيح دے ۔

(کذا في المرعاة : ۱/۴۰)۔

۳ – **جواب** : د سفيان ثوريؒ قول د خپل علم مطابق دے يعنے د هغه د عدم علم نه دا نه لازميږی چه په واقع کښے دے هم دا روايت نه وی ثابت، بلکه بذل المجهود کښے څلور صحيح روايتونه په واسطه د حبيب ابن ابی ثابت د عروه نه روايت شويدی، چه د هغے نه معلوميږی چه حبيب بن ابی ثابت د عروه نه نقل د روايت کول بعيد نه دی۔

اوس دليـل پـه دے خبـره چـه دا عـروه ابـن الزبير دے دادے چـه ابن ماجـه (٣٨/١) باب الـوضـوء مـن القُبلة ، وصحيح سنن ابن ماجه رقم (٥٠٢) بسند صحيح كښے، ددے روايت سند داسے مروى دے :

حدثنا ابو بكر بن ابى شيبة وعلى بن محمد قالا ثنا وكيع عن حبيب بن ابى ثابت عن عروة بن الزبير عن عائشة ان رسول الله ﷺ قبل بعض نسائه ثم خرج الى الصلاة ولم يتوضأ، قلت : ما هى الا أنت، فضحكت۔

ددے روايت سنـد پـوره صحيح دے، او امام البانیؒ ورته صَحيح وئيلى دى، دغه شان نصب الرايه (٧٢/١) كښے دى : صحيح.

٢ – بـل دليـل دادے چـه پـه سـنـن دارقطنى (١٤٢/١) مسند احمد او مصنف ابن ابى شيبـه (٤٤/١) كښے ددے حديث متعدد طرق راغلى دى چه په بعضو كښے ابن الزبير اوپه بعضو كښے ابن اسماء الفاظو سره تصريح موجود ده.

٣ – صـاحـب الـمـرعـاة ذكر كړى دى چه په عرف دمحدثينو كښے چه كله عروه مطلقا ذكر شى نو مراد ترينه عروه بن الزبير وى.

٤ – په روايت مذكوره دابن ماجه كښے ورسره د (ما هى الا انت) سوال ذكر دے. ددے نه مـعلوميږى چه داجرأت په تپوس چه كوى نو دا ابن الزبير (چه خورئے د عائشےؓ دے) كولے شى، نـه عـروه الـمزنى، ځكه هغه اجنبى شخص دے. دغه شان خندا دعائشےؓ دعروةؓ سره دليل دے چه دائے خورئے دے نه بل څوك، فتدبر فيه!

دا خو يو اعتراض دے په روايت د عروه۔

٢ – دويم **اعتراض** پـه دے سـنـد دادے چـه كـه عـروه نـه مـراد ابن الزبير شى بيا هم د حبيب ابـن ابـى ثـابت سماع د هغه نه نه ده ثابت، لكه چه په دے باندے دليل امام ترمذیؒ دامام بـخـاریؒ نـه دا قـول نـقـل كړيدے : (حبيب بن ابى ثابت لم يسمع من عروة) نو حديث منقطع شو.

جواب : صـاحـب د نـصب الراية (٧٢/١) او صاحب المرعاة (٤٠/٢) د ابن عبد البرؒ نه داسے نقل كړيدى چه د حبيب بن ابى ثابت سماع د عروه بن الزبيړ نه ثابت ده، وجه داده چه

د حبيب سَماع د داسې خلقو نه هم ثابت ده چه هغه د عروه نه هم مقدم دی په عمر کښې اومخکښې ترې وفات شوی دی، ابن عبد البرؒ فرمائي :

صححه الكوفيون وثبتوه لرواية الثقات من ائمة الحديث له، وحبيب لا ينكر لقائه عروة لروايته عمن هو اكبر من عروة وأقدم موتا. وفي موضع آخر : لا شك انه ادرك عروة، انتهىٰ. (نصب : ۷۲/۱).

اودې خبرې تـه ابوداود هم ميلان كړيدې پشان دابـن عبد البرّ، لكه چه مخكښې دابوداود عبارت تير شو (وقد روى حمزة الزيات عن عروة ... حديثا صحيحا) . نو سماع دحبيب ثابت ده د عروه نه۔

۲ - بلـه وجه داده چه حبيب سَماع كړيده دعروه بن الزبير نه هم اودارنگه دعروه المزني نه هم، لكه چه دا په ډيرو احاديثو كښې ثابت ده . انظر نصب الرايه (۷۲/۱) .

او هرچه دا قول د امام بخاریؒ دې چه (حبيب لم يسمع من عروة) نو ددې جواب دادې چه امام بخاریؒ دا خبره د خپل شرط مطابق كړيده ځكه چه د هغه شرط په اتصال د حديث كښې دادې چه معاصرت د راوي به د مروي عنه سره هم وي، او سماع به هم ثابته وي، او نفس معاصرت كافي نه دې ترڅو چه ثبوت د لقاء نه وي . اود امام مسلمؒ صرف معاصرت (يو والې دزمانې) او امكان د لقاء او سماع شرط گڼړي د صحت دحديث دپاره . او دلته خو معاصرت د حبيب اوعروه موجود دې، نوپه دې وجه دا حديث صحيح علىٰ شرط مسلم دې۔

اود امام بخاریؒ دا شرط ډير سخت دې ډير علماء ورسره اتفاق نه كوي، نو دا اعتراض هغه د خپل شرط مطابق كړيدې، ورنه سماع هم ثابت ده (كما أسلفنا لك)۔

خلاصه : داچه هيڅ اعتراض پـه دې طريقه باندې نـه دې صحيح۔ هاؤ ! يو ژور اعتراض شته هغه داچه حبيب مدلس دې او عنعنه ئې كړيده۔ نو جواب دادې چه نور طرق شته هغه به جبيره شي۔

اوكه اومنو چه دا حديث منقطع دې نو ددې حديث نور ډير اسانيد دي، امام احمد (۲۱۰/٦) ابن ماجه (۵۰۲) البزار الدارقطني (۱٤۱/۱) الطبري ذكر كړيدي چه بعض

جید الاسناد دی، او بعضے حسن ته نزدے دی. نو په دے کثرة الطرق سره به جبیره اوشی د ضعف دانقطاع. نوبیا حدیث صحیح اوګرځیدلو، فتدبر!
(کذا فی المرعاة، ونصب الرایة : ۱/۷۲) او شوکانیؒ هم دا خبره تسلیمی ذکر کړیده. (نیل الأوطار (۱/۲٤٦)۔

الاعتراض علی الطریق الثانی :

په دویمه طریقه باندے امام ترمذیؒ داسے اعتراض کوی :
ولا نعرف لابراهیم التیمی سماعا من عائشه.
داسے اعتراض امام ابوداوُدؒ هم کړے د هغه طریقه داسے ده :
حدثنا محمد بن بشار قال ثنا یحییٰ وعبد الرحمن قالا ثنا سفیان عن ابی روق عن ابراهیم التیمی عن عائشة ان النبی ﷺ قبلها ولم یتوضأ.
امام ابوداودؒ فرمائی : قال ابو داود : وهومرسل وابراهیم التیمی لم یسمع من عائشة شیئا.
ترمذی او ابوداود دواړو ورته منقطع حدیث وئیلے دے ؟۔
جواب : ددے اعتراض نه دادے چه دا حدیث ډے مرسل شی اومراسیل الثقات حجت دے په دے شرط سره چه کله ددے بل مؤید روایت موجود وی، کذا فی مصطلح الحدیث. او دلته ددے مؤید روایات ډیر زیات دی، لکه چه مخکښے ددے تفصیل اوشو۔
۲ – **جواب** : امام دارقطنیؒ په خپل سنن (۱/۱٤۱) کښے ددے حدیث ذکر کولو نه روسته لیکی :
وقد روی هذا الحدیث معاویة بن هشام عن الثوری عن ابی روق عن ابراهیم التیمی عن ابیه عن عائشة فوصل اسناده۔
په دے سند کښے د (عن ابیه) زیادت په وجه حدیث متصل شو. نو اعتراض دارسال ختم شو. نو حدیث صحیح شو لکه چه اکثرو علماؤ ورته صحیح وئیلی دی. (کذا فی نصب الرایة والمرعاة)۔
اود ابراهیم التیمی دپلار نوم حارث دے اودا صحابی دے نو دحدیث ټول راویان پوره ثقات دی۔

امام البانیؒ په السلسلة الضعيفة (۲/ ٤٢٩) کښې فرمائی : د دے حدیث لس طرق نقل دی چه بعضې دهغې نه صحیح دی لکه چه هغه په صحیح ابی داود کښې نقل کړیدی.

نو ددے طرقو دوجې نه هم د انقطاع ضعف ختم شو.

او مصنف عبد الرزاق (۱/ ۱۳۵، رقم الحديث : ٥٠٠، باب الوضوء من القبلة واللمس والمباشرة) کښې يو روايت په بل سند داسې نقل کړيدے :

عن عبد الرزاق عن ابراهيم بن محمد عن معبد بن بنانة عن محمد بن عمرو عن عروة بن الزبير عن عائشة قالت : قبلني رسول الله ﷺ ثم صلى ولم يحدث وضوء.

په دے روايت کښې دابن الزبير تصريح هم شويده او په سند کښې نه ابراهيم التيمي شته اونه حبيب ابن ابی ثابت.

---

۲۵ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ : أَكَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ كَتِفًا ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ بِمِسْحٍ كَانَ تَحْتَهُ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : ابن عباسؓ فرمائی : رسول الله ﷺ د چیلئ د پټون (وریته) غوښه اوخوړله، بیا ئے خپل لاس په ټاټ سره اوچ کړل چه لاندے ترے غوړیدلے وو، بیا اودریدلو مونځ ئے اوکړو. (ابوداود، ابن ماجه).

تشریح : ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ : **فائده** : ۱- حدیث دلیل دے په دے چه اوریخ کړی شی خوړلو نه روستـه اودس نه دے لازم. ۲ - خوراك نه روسته لاس وینځل یا ښتل یا صرف اوچول سنت کښې راغلی دی، او وینځل واجب نه دی. ۳ - په دستر خوان وغیره باندے لاس اوچول جواز لری، څکه هغه ددے دپاره وی اوکه قیمتی درئ وغیره وی نو په هغے باندے اوچول نه دی پکار څکه چه داد مال ضائع کول دی.

مسح : د میم کسره ده هغه ز ګے جامے، درئ ته وائی چه د وېښتو نه جوړه وی.

درجة الحديث : رواه أبوداود واللفظ له، وابن ماجة (٤٨٨) واسناد الحديث حسن، و قال الألباني في صحيح ابی داؤد (١٨٩) : اسناده صحيح، وقال ابن حجر : وصححه ابن حبان (١١٢٩) و (١١٦٢) وأصله في الصحيح . تعليق المشكاة لرمضان بن أحمد .

۲۶ - وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَرَّبَتْ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ جَنْبًا مَشْوِيًّا فَأَكَلَ مِنْهُ ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ . رَوَاهُ أَحْمَدُ .

ترجمه : بی بی أم سلمهؓ نه روایت دے چه دے نبی ﷺ ته (د چیلۍ) وریت کړے پټون یوړلو، نبی کریم ﷺ دهغے نه اوخوړلو بیا مونځ دپاره اودریدلو او اودس ئے اونه کړو - (احمد)۔

تشریح : د (جَنْبًا) نه مراد اړخ او لیچه دے، مشوی هغے ته وائی چه په اور باندے په انګار کنبے وریت شوے وی۔

وَلَمْ يَتَوَضَّأْ : نه دا معلومه شوه چه شرعي اودس ئے اونه کړو، او لاسونه ئے هم په څه خیز رانه خکل چه دیته لغوی وضوء وائی، د بیان د جواز دپاره ئے دا کار اوکړو۔ بلکه دا چه لاسونه به هله وینځی یا اوچوی چه غوړ شی او دلته غوړ نه وو۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، أخرجه أحمد (۳۰۷/٦) والحديث أخرجه كذلك الترمذي (۱۸۲۹) وقال : حديث حسن صحيح، وقال الألباني : وسنده صحيح على شرط الشيخين تعليق المشكاة (۱۰٦/۱) للألباني ولرمضان (۱٦٤/۱) .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ - دریم فصل

۲۷ - عَنْ أَبِي رَافِعٍ رضي الله عنه قَالَ : أَشْهَدُ لَقَدْ كُنْتُ أَشْوِي لِرَسُولِ اللهِ ﷺ بَطْنَ الشَّاةِ ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : ابو رافعؓ فرمائی : زه په دے خبره قسم خورم چه ما به رسول الله ﷺ دپاره د چیلۍ د خیټے دننه څیزونه (مثلا زړه، اینه وغیره) وریتول، نبی ﷺ به دهغینه خوراک اوکړو بیا به مونځ دپاره اودریدلو او اودس به ئے نه کولو - (مسلم)۔

تشریح : مقصود د حدیث دا دے چه نبی علیه السلام اور پخکړے شے خوړلے دے او بیا ئے اودس ندے کړے نو دا دلیل دے چه حکم د وضوء ما مست النار منسوخ دے۔

بطن الشاة : نه مراد دګډے، چیلئ باطنی څیزونه دی یعنی جګر، توری زړه وغیره لوړ ماخ دے۔

۲۸ – وَعَنْهُ رضي الله عنه قَالَ : أُهْدِيَتْ لَهُ شَاةٌ فَجَعَلَهَا فِي الْقِدْرِ فَدَخَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَقَالَ : مَا هٰذَا يَا أَبَا رَافِعٍ؟ فَقَالَ : شَاةٌ أُهْدِيَتْ لَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ ! فَطَبَخْتُهَا فِي الْقِدْرِ، قَالَ : نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ يَا أَبَا رَافِعٍ، فَنَاوَلْتُهُ الذِّرَاعَ، ثُمَّ قَالَ : نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ الْآخَرَ، فَنَاوَلْتُهُ الذِّرَاعَ الْآخَرَ، ثُمَّ قَالَ : نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ الْآخَرَ، فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! ، إِنَّمَا لِلشَّاةِ ذِرَاعَانِ. فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : أَمَا إِنَّكَ لَوْ سَكَتَّ لَنَاوَلْتَنِي ذِرَاعًا فَذِرَاعًا مَا سَكَتَّ، ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَتَمَضْمَضَ فَاهُ وَغَسَلَ أَطْرَافَ أَصَابِعِهِ، ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى، ثُمَّ عَادَ إِلَيْهِمْ فَوَجَدَ عِنْدَهُمْ لَحْمًا بَارِدًا فَأَكَلَ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلّٰى وَلَمْ يَمَسَّ مَاءً). رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او أبو رافع رضي الله عنه فرمائی : (یوه ورځ) ماته د تحفے په طور چیلئ راولیږلے شوه ما دهغے غوښه پخولو دپاره کټوئ کښے واچوله (دے مینځ کښے) رسول الله ﷺ تشریف راوړلو۔ وے فرمائیل : أبو رافع داڅه دی ؟ ما عرض اوکړو : یا رسول الله ! د چیلئ غوښه ده چه ماته هدیه شویده۔ ما کټوئ کښے پخ کړے ده۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ابو رافع ! یو لاس (لیچه) ماته هم راکړه، نو ما یو لیچه د رسول الله ﷺ خدمت کښے پیش کړه، بیا هغوئ اوفرمائیل : یو لیچه راکړه ! ما دویمه لیچه هم پیش کړه، بیا نبی ﷺ اوفرمائیل : بل راکړه۔ ما عرض اوکړو : یا رسول الله ! دچیلئ خو دوه لیچے وی (اوهغه دواړه مے ستاسو په خدمت کښے پیش کړلے، اوس بله لیچه خو نشته) نبی کریم ﷺ هغه ته اوفرمائیل : اے ابو رافع ! که ته خاموش پاتے شوے وے نو ماته به دے لیچه په لیچه راکولو څو پورے چه ته چپ وے، بیا نبی کریم ﷺ اوبه اوغوښتلے او خله ئے کنګال کړه او دګوتو طرفونه ئے اووینځل، بیا پاڅیدلو او مونځ ئے اوکړو۔ بیا أبو رافع ته ورغلو هغه سره ئے یخه (پخه) غوښه اولیده نو نبی کریم ﷺ هغه اوخوړله، هغے نه پس ئے مسجد ته

تشریف یوړلو، او مونځ ئے اوکړو، او اوبه ئے مسه هم نه کړے (یعنی نه ئے اودس اوکړو اونه ئے خله کنګال کړه) - احمد) اودا حدیث دارمی هم روایت کړے دے خو (ثم دعا بماء) نه آخر پورے ئے نه دے ذکر کړے۔

تشریح : أُهْدِيَتْ لَهُ شَاةٌ (ای لابی رافع) شَاةٌ : ځکه دا د نبی کریم ﷺ غلام دے ده ته هدیه داسے ده لکه مالك ته۔

فائده : د نبی کریم ﷺ دپاره هدیه خوړل جائز او صدقه خوړل ناجائز وو. ځکه صدقه کښے مقصود د ګناهونو ازاله او درجات اوچتول وی اودا صدقه دانسانانو خیرے صفا کوی نو د نبی ﷺ د شان سره دا مناسب نه وه. او هرچه هدیه ده نو په دے کښے مقصود د مُهْدىٰ له (چاته چه هدیه شوے وی) رضاء ګول اوخوشحالول وی. اودا دنبی کریم ﷺ دشان اوچتوالے دے. نو دا هغه دپاره جائز وه۔

بیا په دے مقام کښے د وفاء الوفاء (٢/٢٠٢) په حاشیه کښے ددے حدیث رد کړیدے په مجرد عقل باندے چه د نبی کریم ﷺ د شان سره دا نه ښائی چه هغه دومره ډیره غوښه اوخوری دا خو د خواهش پرستو کار دے، اود اسبابو خلاف دے. ددے جواب دادے چه قیاس په مقابله د نص کښے صحیح نه دے، وجه داده چه دا معجزه د نبی ﷺ وه. اود اخستو د ذراع نه خو دا نه معلومیږی چه نبی کریم ﷺ دے خوړلے وی، کیدے شی چه ملګرو لره ئے ورکولو۔

٢ - یا دا چه مقصود په دے مقام کښے ښکاره کول د خپلے معجزے وو نه خوراك دهغے، ځکه چه نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل که ته غلے شوے وے او لاس دے خکته کړے وے نو نورے لیچے به دے هم راکولے۔ نو د یوے ګډے لاسونه (لیچے) زیاتیدل به معجزه وے۔

٣ - بله دا چه دا ټول شاروے یوه کتوئ کښے راتلو نودا وړوکے وو، او په یو یو وړوکی ذراع باندے د انسان هیڅ کار نه کیږی، نو په عقل باندے صحیح حدیث رد کول جائز نه دی. کله به ستا عقل یوے خبرے ته رسیږی او کله به نه رسیږی، خو چه د رسول الله ﷺ نه صحیح ثابت شو، نو په آمنا سره به دهغے تصدیق کوے، اود معتزله او خوارجو پشان

چون وچرا به په کښې نه کوې !۔

اِنَّمَا لِلشَّاةِ ذِرَاعَانِ : **فائده** : ابو رافع عقل اوچلولو په مقابله د نص کښې اجتهاداً، پکار داده چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ذراع راکړه نو ده به لاس اچولے وے، ده به ظاهر ته کتلی وے عقل به ئے نه چلولے . دے باندې د انسان ذهن کهلاویږی که څوك سوچ اوکړی، په دے وجه ده باندې رسول الله ﷺ ضمنی رد هم اوکړو چه تالره داخبره کول نه وو پکار، چه دګډے دوه ذراعه وی، بلکه تابه ورته لاس اچولے وے چه پیغمبر ﷺ وائی راکړه نو که یو ځائے کښې څه شے نه وی هم خو ته ګوتے وروړه الله به ئے پیدا کوی، لکه بعض صحابوؓ سره داسے واقعات راغلی دی. دجابر بن عبد اللهؓ او ابو طلحهؓ کور ته نبی کریم ﷺ ډیر مسلمانان ور وستل او هغه پروګرام دلږو کسان دپاره کړے وو، نو هغه خفه شو چه ددے سره به څه کوو ؟ ښځے ورته اووئیل : پیغمبر ﷺ راوستی دی نو الله به ئے مروی، نبی ﷺ بنه پوهیږی، الله به ئے ورله ورکوی ! نو دلته هم دغه شان پکار وه، نو که دیو شی په باره کښې شارع اووئیل چه دے کښې ستاسو خیر دے نو مونږ به په کښې خیر ګنړو اګرچه زمونږ د مشاهدے خلاف وی۔ نو حدیث کښې اتباع سنت ته کلك ترغیب دے۔

لَوْ سَكَتَّ : **سوال** دادے چه هرکله دا ذراع راپیدا کیدل معجزه ده نو څه وجه ده چه په خبرو د ابو رافع سره منقطع شوه ؟۔

جواب : وجه داده چه په وخت د معجزه کښې نبی کریم ﷺ رب ته متوجه وی، او په دے خبرو سره د نبی کریم ﷺ توجه د ابو رافعؓ خبرو ته راغله نو ځکه معجزه منقطع شوه۔

۲ – یا دا چه د عالم الغیب نه چه یو څیز په طریقه دخرق العادت سره ښکاره کیږی نو ددے شرط دادے چه په هغے کښې شك نه وی، او نقصان به په یقین اوتصدیق کښې نه وی او دلته د ابو رافع دخبرو په وجه تردد او شك پیدا شو، نو ځکه معجزه منقطع شوه۔

مَا سَكَتَّ : پدے کښې ما په معنی د مودے سره دے او ظرف دے د ناولتنی دپاره ای لناولتنی ذراعا فذراعا مُدَّةَ سكوتك ۔

لَحْمًا بَارِدًا فَأَكَلَ ، وَلَمْ يَمَسَّ مَاءً : يعنے كله چه اوچه غوښه اوخوړلے شي او هيڅ غوړوالے نه لري نو خوله وينځل هم ضروري نه دي ۔

درجة الحديث : رواه أحمد في المسند (٦/٣٩٢) واسناده صحيح، وقال الألباني في تعليق المشكاة : في اسناده ضعف، لكنه يتقوى بالشاهد الذي قبله و بالشاهد الذي بعدهٗ، كذا في التعليقين للمشكاة. فالحديث صحيح .

٢٩ - وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ أَبِيْ عُبَيْدٍ اِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ : ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ اِلٰى آخِرِهٖ.

ابي عبيد : دا د نبي كريم ﷺ غلام دے اوصحابي دے، په اسم كنيه مشهور دے خپل نوم ئے نه دے معلوم، او صرف دا يو حديث ترے نقل دے۔

درجة الحديث : رواه الدارمي (١/٢٢) واسناد رجاله ثقات غير شهر بن حوشب وهو ضعيف من قبل حفظه، لكن الحديث قوي بحدث أبي رافع الذي قبله بطريقيه، مشكاة الألباني (١/١٠٧) .

---

٣٠ - وَعَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ : كُنْتُ اَنَا وَاُبَيٌّ وَاَبُوْطَلْحَةَ جُلُوْسًا فَاَكَلْنَا لَحْمًا وَخُبْزًا ثُمَّ دَعَوْتُ بِوَضُوْءٍ فَقَالَا : لِمَ تَتَوَضَّأُ ؟ فَقُلْتُ : لِهٰذَا الطَّعَامِ الَّذِيْ اَكَلْنَا فَقَالَا : اَتَتَوَضَّأُ مِنَ الطَّيِّبَاتِ لَمْ يَتَوَضَّأْ مِنْهُ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنْكَ. رَوَاهُ اَحْمَدُ.

ترجمه : انس بن مالكؓ فرمائي : زه، أبي بن كعب او أبو طلحه ناست وو، مونږ غوښه او روټئ اوخوړله (خوراك نه پس) ما د اودس اوبه راوغوښتے، ابئ بن كعبؓ او أبو طلحهؓ اووئيل : ته اودس ولے كوے ؟ ما ورته اووئيل : ددے طعام په وجه چه ما اوس اوخوړلو، نو هغے دواړو اووئيل : آيا پاكيزه څيزونو خوړلو نه اودس كوے، دے څيزونو خوړلو سره هغے سړي اودس نه دے كړے كوم چه تانه بهتر دے (يعني نبي كريم ﷺ)۔ احمد۔

تعارف د ابو طلحه ﷺ :

دده نوم زيد بن سهل بن الأسود بن حرام دے، انصاري مدني نجاري دے، په كنيه باندے

مشهور دے، د اوچتو صحابوؓ نه شمار دے، عقبه او بدر او نورو ټولو معرکو ته حاضر شويدے، دام سليمؓ خاوند دے اود انس بن مالكؓ پلندر دے . اودا په صحابوؓ کښے مشهور تير انداز (غشي ويشتونکے) وو، ده باره کښے نبي کريم ﷺ فرمائي :

لصوت ابی طلحة فی الجیش خیر من فئة۔

د حنين په جنګ کښے ئے شل کفار وژلي وو، اود احد په جنګ کښے ورته ډير مصيبت رسيدلے وو، د نبي کريم ﷺ د حفاظت دپاره ئے غشو ته لاس وړاندے کولو تردے چه هغه شل شو . دوه نوی (۹۲) احاديث ئے امت ته رانقل کړی دی .

انسؓ فرمائي : د نبي کريم ﷺ د وفات نه روستو څلويښت کالو پورے ژوندے وو، او ټول عمر ئے روژه نيوله، سيوا داخترونو نه اود نبي ﷺ په ژوند کښے روژو نيولو ته اوزګار نه وو، ځکه چه په غزواتو اوجهادی امورو باندے مشغول وو . په سنه (٥١) هـ کښے وفات شويدے . رضي الله تعالیٰ عنه .

تشريح : ثُمَّ دَعَوْتُ بِوَضُوْءٍ : دلته انسؓ ته حديث ناسخ نه دے معلوم چه دا حکم منسوخ دے او نورو صحابوؓ ته معلوم دے .

فَقَالَا : اَ تَتَوَضَّأُ مِنَ الطَّيِّبَاتِ : دلته ورته دليل عقلي اوقياس ذکر کوی اودد سره نص پيش کوی اودا ډير ښکلے دليل وی چه د نص سره دليل عقلي هم پيش شي، اوګويا کښے دلته دنسخ حکمت ورته ښائي چه لحم اوخبز طيبات دی اود طيبات نه روستو اودس نه وی لازم، نو په دے وجه دا حکم منسوخ شوے دے . او ابتداء داسلام کښے چه اودس کول لازم وو نو دهغے به نور حکمتونه وو.

فائده : صحابه کرامؓ به په هغه عمل باندے ځان الله تعالیٰ ته نه نزدے کولو کوم عمل چه به نبي کريم ﷺ نه وو مشروع کړے۔ او أنسؓ چه د غوښے نه اودس کولو نو شايد چه ده ته به نسخ نه وه رسيدلے۔ نودے حديث کښے رد الحديث بالقياس نه دے، کما يفعله الجهال بلکه تنبيه ده په علم بالمنسوخ باندے۔

طحاوي نقل کړی دی : قال ابو طلحة : اعراقية ؟ آيا دا مسئله انس د عراق نه راوړے ؟ عراق چونکه موضع الفتن والبدع دے ځکه ئے ددے تخصيص کړيدے۔ (١/٥٦)۔

درجة الحديث : رواه أحمد في المسند (٤/ ٣٠) ورجاله ثقات معروفون، غير عبد الرحمن بن زيد بن عقبة قال أبو حاتم : ما بحديثه بأس. وذكره ابن حبان في الثقات. فالاسناد جيد. تعليق المشكاة (١/ ١٠٧).

٣١ - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا كَانَ يَقُوْلُ : قُبْلَةُ الرَّجُلِ اِمْرَأَتَهُ وَجَسُّهَا مِنَ الْمُلَامَسَةِ وَ مَنْ قَبَّلَ اِمْرَأَتَهُ اَوْجَسَّهَا بِيَدِهٖ فَعَلَيْهِ الْوُضُوْءُ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَالشَّافِعِيُّ .

ترجمه : ابن عمرؓ نه روايت دے چه ده به فرمائيل : د سړی د خپلے ښځے نه بوسه (كوكئ) اخستل او هغه خپل لاس سره مسه كول دا هم ملامست دے، اوكوم سړی چه خپلے ښځے نه كوكئ (بوسه) واخسته يائے هغے له لاس وروړو نو په هغه باندے اودس واجب دے ـ (مالك، شافعي)ـ

تشريح : دا د ابن عمرؓ فتویٰ ده چه په مس المرأه سره اودس ماتيږی (رواه مالك والشافعي) ليكن امام شافعیؒ ورله صرف دا قول منلے دے او امام مالكؒ ورله نه دے منلے، ځكه چه هغه ته نور نصوص احاديث مرفوعه معلوم دی، چه په مس المرأه سره اودس نه ماتيږی څو پورے چه څه شے خارج شوے نه وی، نو د ابن عمرؓ دا فتویٰ د احاديثو خلاف ده، نو دا ډير محترم صحابیؓ دے، د امت مشر ذے ليكن دے فتویٰ باندے به ئے عمل نه كيږی، حجت د الله اود رسول ﷺ په خبرو كښے دے، د حديث د وجے نه دچا خبره پريخودل عين ادب دے .

درجة الحديث : رواه مالك في الموطأ رقم (٦٤) وسنده صحيح، وعنه رواه الشافعي كما في البيهقي، وصححه ابن عبد البر، تعليق المشكاة : ١/ ١٠٧ ـ

امام زيلعی په نصب الرايه كښے دابن عبد البرؒ نه نقل كړيدی چه دا روايت د عمرؓ نه په ضعيف سند سره نقل دے اودا د محدثينو په نزد خطاء روايت دے . وجه داده چه اصل كښے دا روايت د ابن عمرؓ دے اود هغه قول دے اوبعض راويان په دے كښے خطاء شوی دی نو نسبت ئے عمر فاروقؓ ته كړيدے .

٣٢ - وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ ﷺ كَانَ يَقُولُ : مِنْ قُبْلَةِ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ الْوُضُوْءُ. رَوَاهُ مَالِكٌ .

ترجمه : ابن مسعودؓ نه روايت دے چه ده به فرمائيل : په سړى باندے دخپلے ښځے نه بوسه آخستو سره اودس لازميږى۔ (مالك)۔

درجة الحديث : رواه مالك في الموطأ رقم (٦٥) انه بلغه ان عبد الله بن مسعود كان يقول۔ قال الألباني في تعليق المشكاة : ١٠٧/١ : هذا من بلاغات مالك فكان على المؤلف ان يذكر ذلك لئلا يتوهم احد انه صحيح، نعم روى معناه البيهقي في سننه : ١٢٤/١، من طريق اخرى عنه، واسناده صحيح، فالحديث ثابت۔

---

٣٣ - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالَ : اِنَّ الْقُبْلَةَ مِنَ اللَّمْسِ فَتَوَضَّؤُوْا مِنْهَا .

ترجمه : ابن عمرؓ نه روايت دے چه جناب عمر فاروقؓ به فرمائيل : چه بوسه اخستل لمس كښے داخل دى - كوم چه په قرآن كښے ذكر دے - نو بوسه اخستونه پس اودس كوئ۔

تشريح : دلته چه كوم درے آثار مصنفؒ نقل كړى نو دا ددے صحابوؒ مذهب دے، او حديث مرفوع ورسره نشته، بلكه صرف استدلال ئے كړيدے د آيت نه، كما تقدم. اودا حديث موقوف بمنزله المرفوع هم نه دے، ځكه دلته اجتهاد دپاره مجال شته دے، چه لمس نه مراد ئے لمس باليد اخستے دے، او حديث مرفوع صحيح صريح د عائشهؓ ددے آثارو خلاف دے، ممكنه ده چه دے صحابوؒ ته مرفوع حديث نه وى رسيدلے، او كله چه تعارض راشى د حديث مرفوع صحيح د موقوف حديث سره نو ترجيح مرفوع لره وى۔

ولا حجة في قول الصحابي عند معارضة الحديث المرفوع الصحيح، كما هو مسلم عند الكل۔

درجة الحديث : رواه الدارقطني : ٥٣/١، وقال : صحيح وفيه نظر، فان في اسناده

محمد بن عبد الله بن عمرو بن عثمان الملقب بالديباج وفيه ضعف من قبل حفظه، وقال ابن التركماني في الجوهر النقي : ذكر ابن عبد البر في التمهيد اثر عمر ثم قال : هذا عندهم خطأ وانما هو عن ابن عمر صحيح، لا عن عمر، قال الألباني : ويؤيده ان عاتكة بنت زيد زوجة عمر بن الخطاب قبلته ثم صلى ولم يتوضأ، رواه الأثرم في سننه (ق : ۱۹ /۲/۲).

نو عمر رضی الله عنه نه ددے مخکښے روایت خلاف بل روایت هم راغلو چه هغه هم قائل دے په نه ماتیدلو د اودس په مسه کولو د ښځے سره۔

---

٣٤ – وَعَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ عَنْ تَمِيْمِ الدَّارِيِّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (اَلْوُضُوْءُ مِنْ كُلِّ دَمٍ سَائِلٍ) . رَوَاهُمَا الدَّارِقُطْنِيُّ، وَقَالَ : عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ تَمِيْمِ الدَّارِيِّ وَلَا رَآهُ وَيَزِيْدُ بْنُ خَالِدٍ وَيَزِيْدُ بْنُ مُحَمَّدٍ مَجْهُوْلَانِ .

ترجمه : عمر بن عبد العزیز د تمیم داری نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : هر بهیدونکی وینے سره اودس لاز میږی۔ دواړه روایتونه دارقطنی نقل کړی دی او وئیلی ئے دی چه عمر بن عبد العزیز، نه خو تمیم داری نه آوریدلی دی اونه ئے هغه لیدلے دے، اوددے روایت دوه راویان یزید بن خالد اویزید بن محمد مجهول دی۔

تعارف د عمر بن عبد العزیز رحمه الله :

دده نوم عمر بن عبد العزیز بن مروان بن الحکم بن ابی العاص بن امیه بن عبد شمس القرشی الأموی، ابو حفص المدنی، ثم الدمشقی أمیر المؤمنین . دده مور أم عاصم بنت عاصم بن عمر بن الخطاب نوم ئے لیلیٰ وه . د ولید د طرفنه د مدینے والی وو، اود سلیمان بن عبد الملک سره د وزیر پشان وو، او د هغه دمرګ نه پس په (۹۹) هـ کښے ورته خلافت اوسپارل شو . ډیر د عدل اوانصاف خلافت ئے قائم کړو . دا وجه ده چه داد خلفاء راشدینؓ نه حساب دے، دا ډیر بهادر شخص وو، اوپه خپل دور خلافت کښے هم ډیر زیات زاهد اوعابد اوعفیف پاتے شو . علماء به دده مجلس ته راجمع کیدل اود یو بل نه به ئے استفاده کوله،

دده په مرګ باندې حسن بصریؒ او فرمائیل : مات خیر الناس . موده دخلافت ئې دوه کاله پنځه میاشتې او یو شو ورځې دپاسه وو. د رجب په میاشت سنه (۱۰۱ هـ) کښې د حمص مقام په دیر سمعان علاقه کښې وفات شویدې . رحمه الله۔

تعارف د تمیم الداری رضی الله عنه :

دده کنیه ابو رقیه ده، اودا منسوب دې خپل نیکه ته، الدار بن هانئ بن خبیب، دده خپل نوم تمیم بن اوس بن خارجه الداری دې، مشهور صحابی دې، د عثمانؓ د قتل نه پس په بیت المقدس کښې اوسیدلو . اسلام ئې په (۹) نهم کال دهجرت باندې راوړو، اودا مخکښې نصرانی وو، اودده خصوصیت داوو (۱) چه په یو رکعت کښې به ئې قرآن ختمولو . مسروقؒ فرمائي : یوه شپه کښې ئې تهجد په یو آیت (ام حسب الذین اجترحوا السیئات) باندې اوکړل . (۲) اود تیولو نه اول ده په مسجد نبوی کښې ډیوه بله کړیده . (۳) او نبی علیه السلام دده نه حدیث د دجال نقل کړیدې، دده دا لوئې فضیلت دې . اګرچه حدیث د دجال نبی ﷺ مخکښې بیان کړې وو مګر دلته تمیم داریؓ دجال لیدلې دې نو نبی علیه السلام دا لیدلې حدیث بیان کړو. دده نه (۱۸) احادیث نقل دی . په سنه (۴۰) هـ کښې وفات شویدې.

تشریح : اَلْوُضُوْءُ مِنْ کُلِّ دَمٍ سَائِلٍ : په دې مقام کښې دوه قسمه مسئلې دی :

۱ – **اوله مسئله** : وینه وتلو سره اودس ماتیږی که نه ؟۔

۲ – **دویمه مسئله** : وینه نجس ده که نه ؟۔

هرچه اوله مسئله ده نو په دې کښې اختلاف دې په دوه قولونو سره :

۱ - **اول قول** : د امام شافعیؒ، مالکؒ او په تابعینوؒ کښې دعطاءؒ، طاؤسؒ، حسنؒ، قاسمؒ بن محمد، اوسعید بن المسیبؒ دې . علامه عبد الحیؒ په التعلیق الممجد (۶۲/۱) کښې فرمائي :

وهو مذهب طاؤس ویحییٰ بن سعید الأنصاری وربیعة بن عبد الرحمن وابی ثور وابن عباس وابن ابی اوفی وجابر وابی هریرة وعائشة – رضی الله عنهم.

قال الألبانی فی السلسلة الصحیحة (۴۸۲/۱) : ولهذا کان مذهب اهل الحجاز ان لیس

فی الدم الوضوء وهو مذهب الفقهاء السبعة من اهل المدینة وسلفهم.

دویٔ فرمائی چه په وینه وتلو سره اودس نه ماتیږی، لیکن اودس کول مستحب دی، واجب نه دی. دارنګه په قئ اوقیح وغیره سره هم اودس نه ماتیږی. لنډه دا چه هر هغه شے چه دغیر سبیلین نه خارج شی په هغے سره اودس نه ماتیږی. اودا قوی مذهب دے دوجے دلائلو نه۔

دلائل ددے قول (چه په وینه اودس نه ماتیږی):

۱ – ابن حبان په خپل صحیح (۲/۲۱۲) کښے او امام بخاری (۱/۲۹) تعلیقا، ابوداود (۱/۲۹)، ابن خزیمه (۱/۲٤) بیهقی (۱/۱٤۱) کښے راوړیدے:

عن جابر: خرجنا مع رسول اللّٰه ﷺ فی غزوة ذات الرقاع من نخل – الحدیث طویل وفیه – فقام الانصاری یصلی واتی الرجل فلما رأی شخصه وعرف انه ربیئة للقوم فرماه بسهم فوضعه فیه فنزعه حتی رماه بثلاثة اسهم ثم رکع وسجد، ثم أنبه صاحبه فلما عرف انهم قد نزروا به هرب فلما رأی المهاجری مابالانصاری من الدماء قال: سبحان اللّٰه! الا نبهتنی اول ما رمی قال: انی کنت فی سورة اقرؤها فلم احب ان اقطعها، حتی انفذها، فلما تابع علیّ الرمی رکعت فآذنتك، الحدیث.

ترجمه: جابرؓ فرمائی: مونږ د رسول اللّٰه ﷺ سره دغزوه ذات الرقاع په موقعه روان وو، حدیث اوګد دے، جابرؓ فرمائی: یو انصاری صحابی پاڅیده مونځ ئے کولو، او یو سړے د مشرکانو نه راغے او دے ئے اولیده نو پوهه شو چه دا خو ددے قوم څوکیدار دے نو په غشی باندے ئے وویشتلو، او سم ئے په کښے کیخودلو، نو دغه صحابی بیا دغه غشے را اوویستلو، تردے چه په درے غشو ئے وویشتلو بیا هغه صحابی رکوع وکړه اوسجده ئے وکړه بیا ئے خپل مهاجر ملګرے راویښ کړو، کله چه هغه مشرك ته پته ولګیده چه مسلمانان خپلو کښے سره پوهه شو په دے واقعه نو هغه وتښتیدو، کله چه مهاجر صحابی د انصاری وینے ولیدے، وئیل سبحان اللّٰه! ولے دے زه نه خبرولم کله چه دراندے اولنے غشے ولږیدلو، هغه ووئیل: ما داسے یو سورت لوستلو چه د هغے پریښودل مے زړه اونه غوښتل، ترڅو مے چه ختم کړے نه وی، خو چه کله پرله پسے راباندے غشی لګیدل

شروع شو نو رکوع ئې اوکړه او تاته ئې خبر درکړو)۔

ددې انصاري نوم عباد بن بشر او د مهاجر نوم عمار بن یاسر دې، رضی الله عنهما۔

دا حدیث صحیح سند سره ثابت دې، او صریح او واضح دلیل دې په دې خبره چه په وینه وتلو سره اودس نه ماتیږي، او وینه پاکه ده ځکه چه د انصاري جامې پرې هم لړلې شوې دي۔

سوال : دا خو عمل د صحابي دې او دا حجت نه دې.

جواب : ظاهره داده چه رسول الله ﷺ په دې واقعه خبر شو او خاموش شو نو دا سنت تقریري شو، په دومره لویه واقعه باندې د نبي کریم ﷺ نه خبریدل ډیره بعیده ده، ځکه چه نبي ﷺ پخپله کینولي دي او بیا د هغوئ خبر نه اخستل په پیغمبر ﷺ باندې بدګماني ده۔

۳ – بله دا چه که پیغمبر ﷺ نه وې خبر نو الله به ورته ددې واقعې وحي کړې وې چه ستا صحابه غلط مونځ کوي، په نجاست کښې مونځ کوي۔

٤ – علاوه لا دا چه په بل حدیث کښې تصریح راغلې ده چه نبي ﷺ ددې واقعې نه خبر شو او دې دواړو صحابو ته ئې دعاء هم اوکړه، لکه حدیث داسې دې :

فبلغ ذلك رسول الله ﷺ فدعا لهما. (کما فی المرعاة : ۲/ ٤٦، والعینی : ۱/ ۱۲۲، بروایة سنن ابی داود، وصحیح ابن حبان، والدارقطنی، والبیهقی)۔

دلته احناف په شوافعو باندې اعتراض کوي چه هرکله دې انصاري صحابي نه وینه بهیدله نو ستاسو په نیز خو اودس مات نشو لیکن وینه خو ستاسو په نزد هم نجس ده، نو په نجاست سره څنګه مونځ کوي ؟ فما هو جوابکم فهو جوابنا فی انتقاض الوضوء.

نو هغوئ بیهوده جواب ورکوي لکه امام نووي ؒ وائي چه شاید دغه وینه نیغه بهیدله په بدن نه لګیدله. لیکن دا جواب د عقل خلاف دې، چه هیڅ وینه په بدن نه وي لګیدلې۔

بله دا چه دا لفظ د ابوداود پرې دلیل دې (فلما رأى المهاجری ما بالأنصاری من الدماء) یعني مهاجري په انصاري باندې وینې اولیدلې دلیل دې چه وینو باندې ککړ شوې وو.

نو بنه جواب دادے چه د وينے په نجاست کښې هم دغه اختلاف دے، اصح داده چه نجس نه ده، كما سيأتي تفصيله.

۲ - **جواب** : امام بخاريؒ کوی. که اومنو چه وينه نجس ده نو بيا نجاست دوه قسمه دے، يو هغه دے چه دمانځه نه خارج وی نو دا مضر دے مانځه ته. (۲) بل نجاست عارضه دے په داخل د مانځه کښې، نودا مفسد دمانځه نه دے، ځکه مشرکانو په نبی ﷺ باندے په مانځه کښې لرے اوکولے وغيره په حالت دسجده کښې اچولی وو چه هغه دهغے په وجه نشو پورته کيدلے، بيا فاطمےؓ ترے گذار کړو، نو نبی ﷺ مونځ پوره کړو او بيائے دغه کسانو ته ښيرے اوکړے - دلته نبی ﷺ مونځ پوره کړے دے، دليل دے په دے چه نجاست عارضه مفسد نه دے۔

۲ - **دليل** : حديث : لا وضوء الا من حدث او ريح.

(بخاری : ۱/۲۹، مسلم، احمد، ترمذی، مشکاة (۱/٤۰، الفتح الربانی : ۲/۷۵).

دا حديث واضح دليل دے او الفاظ دحصرئے راوړيدی چه اودس په وينه او قئ دغه شان په هر خارج من غير السبيلين نه ماتيږی. اود خارج من السبيلين ناقض د اودس کيدل د نورو دلائلو نه ثابت دی۔

۳ - **دليل** : حديث د ابن عمرؓ دے چه ابن ابی شيبه (۱/۹۲) په صحيح سند سره او امام بخاریؒ (۱/۲۹) تعليقا ذکر کړے :

عن ابن عمر انه عصر بثرة فی وجهه فخرج شئ من دم فحکه بين اصبعيه ثم صلی ولم يتوضأ.

(ابن عمرؓ به دخپل مخ وړے وړے دانے دگوتو ترمينځه اومښلے دهغے نه به څه وينه اووتله، بيا به ئے مونځ کولو او اودس به ئے نه کولو)۔

٤ - حديث د عبد الله بن ابی اوفیؓ دے چه عبد الرزاق مصنف (۱/۱٤۸) کښے او امام بخاری (۱/۲۹) تعليقا راوړے : انه بزق دما فی صلاته فمضی فی صلاته۔

يعنی : دهغه په خوله کښې وينه راغله او په مانځه کښې ئے دخلے نه تو ئے کړه او مونځ ئے جاری اوساتلو۔

۵ – حدیث د ابن عمرؓ دے چه امام بخاریؒ (۲۹/۱) تعلیقا او امام بیهقیؒ (۱/۱٤۰) په صحیح سند سره ذکر کړے چه :

انه کان اذا احتجم غسل محاجمه۔

یعنے : ابن عمرؓ به چه کله ښکر اولګولو نو صرف هغه ځایونه به ئے اووینځل په کوم چه به ئے ښکر لګولے وو (اودس به ئے نه کولو)۔

٦ – حدیث دابو هریرهؓ دے چه مصنف ابن ابی شیبه او مصنف عبد الرازق (۱/۱٤۵) بسند صحیح روایت کړے چه میمون بن مهرانؒ وائی :

رأیت اباهریرة ادخل اصبعه فی انفه فخرج مخضبة دما ففته ثم صلی فلم یتوضأ۔

ترجمه : ما ابو هریرهؓ اولیدلو چه خپله ګوته ئے په پوزه کښے ننویستله، وینه ترے راووته، هغه ئے اومښله، اومونځ ئے اوکړو او اودس ئے اونه کړو۔

۷ – اثر د سعید بن المسیبؒ دے چه موطأ امام مالك (۲۷/۱) ذکر کړے :

انه کان یرعف فیخرج منه الدم حتی تختضب اصابعه من الدم ثم یصلی ولا یتوضأ.

چه د هغه د پوزے نه وینه روانه وه، دلاس تولے ګوتے ئے پرے رنګ شوے، بیا ئے مونځ اوکړو او د وینے د وتلو په وجه ئے اودس اونه کړو۔

امام زرقانیؒ فرمائی : لان وضوئه لم ینتقض. (زرقانی علی الموطأ : ۱/۱٤٦)۔

دارنګه وینه ئے پاکه ګڼړله ځکه اودس ئے اونه کړو او لاسونه ئے ترے هم اونه وینځل۔

۸ – اثر دسالم بن عبد اللهؒ دے چه دا هم امام مالكؒ نقل کړے :

انه کان یخرج من انفه الدم حتی تختضب اصابعه ثم یفتله ثم یصلی ولا یتوضأ۔

چه د هغه د پوزے نه به وینه اووتله تردے چه ګوتے به ئے رنګ شوے بیا به ئے اومښله او مونځ به ئے اوکړو خو اودس به ئے ترے نه کولو۔

۹ – اثر د سعید بن جبیرؒ دے چه عبد الرزاق په المصنف (۱/۱۵۵) کښے راوړے، حمید الطویل فرمائی : ما د سعید بن جبیرؒ نه تپوس اوکړو چه زما په مخ وړه دانه وه هغه ما ماته کړه او وینه ترے لاړه او په ګوتو مے بیا اومښله نو ددے څه حکم دے؟ هغه اوفرمائیل : په دے سره اودس نه ماتیږی۔

١٠ – حديث د انس بن مالكؓ دے دا فرمائی :

احتجم رسول الله ﷺ فصلى ولم يتوضأ، ولم يزد على غسل محاجمه۔

يعنے : رسول الله ﷺ خكر اولګولو بيا ئے مونځ اوکړو او اودس ئے اونه کړو، صرف داچه دخکر لګولو ځايونه ئے اووينځل.

(السنن الكبرىٰ : ١/٢٢) رقم : (٦٦٦) و (١٤١).

١١ – يولسم دليل دادے چه : هيڅ صحيح حديث په باره د ماتيدو د اوداسه کښے په وينه وغيره باندے نه دے ثابت، او اصل هم داده چه طهارت په خپل حال باقي وی. ترڅو چه صحيح دليل ددے په نقض باندے دلالت اوکړی، کوم چه دلته نشته۔

اقوال العلماء فی عدم نقض الوضوء بالدم

١ – شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په مجموع الفتاوی (٢٢٨/٢١) کښے فرمائی :

لايجب الوضوء من خروج الدم، ولكنه يستحب۔

٢ – شيخ صالح العثيمين په خپله فتاوی (١٩٩/٤) کښے فرمائی :

وليعلم ان الدم الخارج من الانسان من غير السبيلين لا ينقض الوضوء لا قليله ولا كثيره، كدم الرعاف ودم الجرح بل نقول : كل خارج من غير السبيلين من بدن الانسان فانه لاينقض الوضوء،مثل الدم وماء الجروح وغيرها، لأن الأصل بقاء الطهارة حتى يقوم دليل على انتقاضها

٣ – امام بخاریؒ باب تړلے : باب من لم ير الوضوء الا من المخرجين (٢٨/١)۔

بيا ئے دحسن بصریؒ نه نقل کړی دی :

ما زال الناس يصلون فی جراحاتهم. حافظ ابن حجرؒ فرمائی :

وصله سعيد بن منصور، بسند صحيح۔

٤ – شيخ البانیؒ فرمائی : حقه خبره داده چه دوينے په وتلو سره داودس په وجوب باندے يو حديث هم صحيح نشته، لهذا مذهب د اهل حجاز دادے چه په وينه تلو سره اودس نه دے لازم، اودا مذهب د فقهائے سبعه دمدينے هم دے۔

(سلسلة الأحاديث الضعيفة : ٤٨٣/١، وكذا فی تمام المنة۔

٥ – امام بهاؤ الدين ابن شداد المتوفی (٦٣٢) هـ په کتاب دلائل الأحكام (٦٠/١)

کښې د امام بخاريؒ د جابرؓ د حديث په فوائدو کښې داسې فرمائي :

ومن فوائده : انه تمسك به من لم ير انتقاض الوضوء بخروج الدم من غير السبيلين وذهب اليه من التابعين عطاء وطاؤس والحسن والقاسم بن محمد وسعيد بن المسيب وهو مذهب مالك والشافعي انتهى۔

٦ – امام نوويؒ فرمائي :

ومذهبنا انه لا ينقض الوضوء بخروج شئ من غير السبيلين كدم الفصد والحجامة والقئ والرعاف سواء قل او كثر. وبهذا قال ابن عمر، وابن عباس، وابن ابي اوفىٰ، وجابر، وابو هريرة، وعائشة، وابن المسيب، وسالم بن عبد الله بن عمر، والقاسم بن محمد، وطاؤس، وعطاء، ومكحول، وربيعة، ومالك، وابو ثور، وداؤد. قال البغوى : وهو قول اكثر الصحابة والتابعين – رضى الله تعالى عنهم اجمعين – انتهى. المجموع شرح المذهب : ٢/٦٠٠).

قال ابن حزم : لا ينقض الوضوء القئ كثر اوقل، ولا قلس و لا قيح. (المحلى : ١/٢٣٥)۔

القول الثاني : چه په وينه وتلو سره اودس ماتيږي كله چه سيلان په كښې وي، يعنې د مخرج نه اوبهيږي. او اودس كول واجب دي، يعنې هر هغه شے چه د بدن نه لاړ شي (سيوا دګرنګ، خراشكي او اوښكو نه) په هغې اودس ماتيږي – اودا قول د امام ابو حنيفةؒ، احمد بن حنبلؒ، اسحق بن راهويهؒ، اوزاعيؒ، سفيان ثوريؒ، قتادةؒ، عروه بن الزبيرؒ، شعبي، علقمةؒ، اسودؒ اوزهريؒ دے. او په صحابوؓ كښې د ابن مسعودؓ، زيد بن ثابتؓ، ابودرداءؓ او ثوبانؓ دے۔

ددے قول دلائل او د هغے تجزيه

١ – ددے قول والا دپاره قوى **دليل** صرف يو حديث د فاطمه بنت ابى حبيشؓ دے (كما قال العلامة عبد الحى اللكهنوى فى حاشية شرح الوقاية : ١/٧٠) چه امام بخاريؒ، اصحاب السنن وغيره تولو كتابونو راوړيدے چه په هغے كښې دا الفاظ دي :

قالت : يارسول الله ! انى استحاض فلا اطهر أفادع الصلاة ؟ قال : لا، انما ذلك عرق، وليست بالحيضة، فاذا اقبلت الحيضة فدعى الصلاة واذا ادبرت فاغسلى عنك الدم وتوضئ لكل صلاة، حتى يجئ ذلك الوقت.

یعنې : کله چه حیض ختم شي نو وینه دځان نه اووینځه، اود هر مانځه دپاره اودس اوکړه الخ - نودې حدیث کښې امر شوې دې فاطمې ته په اودس کولو سره دوینې د وتلو په وجه. اود (عرق) یعنې رګ ذکر کولو کښې اشاره ده دیته چه عرق تاثیر دې په نقض الطهارة کښې، کما قاله عبد الحیؒ۔

جواب : ۱- دا وینه د فرج نه راوتې ده نو دا په (ماخرج من السبیلین) کښې داخل ده نو ځکه اودس واجبوي، اودا وجه نه ده چه دا د بدن نه خارج ده، ځکه که د سبیلین نه طاهر شے هم خارج شي اودس ماتوي، لکه ریح وغیره. پاتې لا دا چه د حیض وینه ترې خارجه شي۔

اودلته خو داسې نه دي وئیلي چه د هر عرق (رګ) نه چه خارجه شي هغه به ناقضه وي. بلکه دلته صرف داخبره ده چه دا درګ وینه ده نو موجب داودس ده ،ځکه چه د فرج په لاره راوتې ده، لکه څنګه چه مني اوحیض د فرج په لاره راوځي نو په هغې کښې غسل دې او په دې کښې اودس دې۔

باقي قیاساتو ته هیڅ ضرورت نشته، وجه داده چه که په وینه اودس ماتیدلے نو نبي ﷺ خو د بیان دپاره امت ته راغلے دے نو په یو حدیث صحیح کښې به خو ثابته شوې وې چه وینه اودس ماتوي۔

۲ - **جواب** دادې : چه دا حدیث صحیح دې خو دا د مستحاضې پورې خاص دې اودا حکم تعبدي دې او په دې باندې قیاس نشي کیدې. حکم تعبدي دیته وائي چه (لا یعقل معناه) غیر معقول المعنی وي، دهغې معنی باندې عقل نه پوهیږي.

۳ - **جواب** دادې : چه په دې حدیث کښې په خپله سبب ذکر دې چه (انی امرأة استحاض فلا اطهر الخ) اودیته پته وه چه حائضه خپل پاکوالې نه پیژني مګر په ختمیدو د وینې سره، او اوس خو وینه جاري ده نو آیا زه مونځ پریدم؟ نو سبب د وضوء وینه داستحاض ده چه راوځي د فرج نه کما مر.

۲ - **دویم دلیل** : ابن ماجه رقم (۱۲۲۱) کښې د عائشهؓ مرفوع روایت دې :

قالت : قال رسول الله ﷺ : من اصابه قئ او رعاف اوقلس او مذی فلینصرف فلیتوضأ ثم

لیین علی صلاته، وهو فی ذلك لا یتکلم. (قلس : توته د وینې)۔

جواب : دا حدث ضعیف دے، یوه وجه داده چه اسماعیل بن عیاش په کښې دے. دویم ابن جریج مدلس دے اودلته ئې عنعنه کړیده (تعلیق التحقیق : ۱۸۸/۱).

امام عبد الرحمن بن اسماعیل البوصیریؒ المتوفی (۸۴۰) هـ په مصباح الزجاجه فی زوائد ابن ماجه (۱۸۴) کښې فرمائی :

هذا اسناد ضعیف لأن اسماعیل بن عیاش روایته عن الحجازیین ضعیفة، انتهی.

امام ترمذیؒ فرمائی : قال احمد بن حنبل : اسماعیل بن عیاش اصلح بدنا من بقیة، ولبقیة احادیث مناکیر عن الثقات وسمعت عبد الله بن عبد الرحمن یقول : سمعت زکریا بن عدی یقول : قال ابو اسحق الفزاری : خذوا عن بقیة ما حدث عن الثقات ولاتأخذوا من اسماعیل بن عیاش ما حدث عن الثقات ولا غیر الثقات (جامع الترمذی : ۳۲/۲).

امام منذریؒ فرمائی : اسماعیل بن عیاش الحمصی عالم اهل الشام قال النسائی : ضعیف، قال ابن حبان : کثیر الخطاء فی حدیثه فخرج عن حد الاحتجاج به، وقال علی بن المدینی : اسماعیل عندی ضعیف. وقال ابن خزیمة : لا یحتج به. وقال ابوداود : سمعت ابن معین : ثقة.

نودلته دوه خبرے دی : یوه داچه اسماعیل چه دخپل اهل بلد نه روایت اوکړی نوصحیح دے۔

دویم داچه : دحجازینو نه روایت اوکړی نو بیا ضعیف دے. اودلته ئې د حجازینو نه روایت کړیدے چه ابن جریج دے. نودا روایت ضعیف شو۔

الترغیب والترهیب : ۳۲۰/۴۔

امام بیهقیؒ په السنن الکبری (۱۴۲/۱) کښې فرمائی :

قال الشافعی فی حدیث ابن جریج عن ابن ابی ملیکة عن ابیه فلیست الروایة ثابتة، واما حدیث ابن جریج عن ابن ابی ملیکة الذی یرویه اسماعیل فلیس بشئ.

امام نوویؒ په المجموع شرح المهذب (۶۸/۲) کښې فرمائی :

واما الجواب عن حدیث ابن جریج من احسنها : انه ضعیف باتفاق الحفاظ، وضعفه من

وجهين. بیا ئے دغه پورتنئ دوه وجے ذکر کړی دی، اودریمه وجه ئے دا ذکر کړیده چه دا محمول دے په استحباب باندے.

نو ددے حدیث نه استدلال کول بالکل صحیح نه دی، یو خو دا حدیث مرفوع نه دے. او دویم مرسل دے، دریم: مرسل هم ضعیف دے. او په ضعیف مرفوع سره استدلال نه کیږی، بیا لا مرسل، او بیا لا ضعیف!

۳ - **دریم دلیل** : حدیث الباب د عمر بن عبد العزیز عن تمیم الداری :

الوضوء من کل دم سائل۔

جواب : دا حدیث دارقطنی ذکر کړے دے اوهغه پرے بیا جرح کړیده، چه دا حدیث ددرے وجهو نه ضعیف دے (۱) یو په کښے یزید بن خالد (۲) بل دهغه استاذ یزید بن محمد دواړه مجهول راویان دی (۳) دریمه دا چه عمر بن عبد العزیزؒ دتمیم داریؓ نه سماع اولیدل نه دی ثابت، البانی وائی : بل علت په کښے دادے چه بقیه بن الولید په کښے عنعنه کړیده اودے مدلس دے (تعلیق المشکاة : ۱/۱۰۸)۔

نو حدیث ضعیف او منقطع دے، قابل استدلال نه دے، پاتے لا دا چه وجوب دے پرے ثابت شی، لکه چه دا خبره امام زیلعیؒ په نصب الرایه (۱/۳۸) کښے او شیخ البانیؒ په سلسله الضعیفه کښے ذکر کړیده۔

٤ - **څلورم دلیل** : حدیث دزید بن ثابتؓ دے چه ابن عدی نقل کړے : الوضوء من کل دم سائل. (نصب الزایة : ۱/۳۷).

جواب : دا حدیث هم ضعیف جدا دے، پخپله ابن عدیؒ فرمائی :

هذا حدیث لا نعرفه الا من حدیث احمد بن الفرج وهو ممن لا یحتج بحدیثه، ولکنه یکتب فان الناس مع ضعفه قد احتملوا حدیثه. (نفس المصدر).

لیکن احمد بن الفرج حمصی چه لقب ئے الجماری دے ده باره کښے امام محمد بن عوفؒ فرمائی : کذاب، ولیس عنده فی بقیة اصل وهو فیها اکذب خلق الله۔

خطیب بغدادیؒ فرمائی : فاشهد علیه بالله انه کذاب، و کذلك کذبه غیر واحد من العارفین به، فسقط حدیثه جملة ولم یجز ان یستشهد به، فکیف یحتج به ؟

(البانی فی الضعیفة : ۱/۴۸۳، رقم : ۴۷۰، تاریخ بغداد للخطیب : ۴/۳۴۱).

نو د ابن عدی دا خبره چه (ولکنه یکتب) دا تساهل دهغه دے، سره ددے نه چه پخپله وائی (وهو ممن لا یحتج بحدیثه).

او صاحب د درس ترمذی (۱/۳۱۸) چه دا خبره کړے چه دده حدیث حسن درجے ته رسیږی نو دا پے ځایه خبره ده.

خلاصه داچه : په وینه او قئ وغیره سره اودس نه ماتیږی اونه ددے نه پس اودس واجب دے. او ددے په باره کښے هیڅ صحیح حدیث نشته.

(سلسلة الأحادیث الضعیفة : ۱/۴۸۳، ۴۷۰، تعلیق المشکاة : ۱/۱۰۸).

اوکوم حدیث د ابو داؤد کښے چه راځی :

ان رسول الله ﷺ قاء فافطر فتوضأ، فلقیت ثوبان فی مسجد دمشق فذکرت له ذلك، فقال : صدق أنا صببت له وضوئه .

(اخرجه الترمذی : ۱/۲۷، واحمد : ۶/۴۴۳، وهو فی المشکاة : ۱/۱۷۶).

نو دهغے نه (۱) **جواب** دادے چه : دا حدیث په استحباب باندے حمل دے او اودس ئے کړے دے، دپاره د نظافت حاصلولو، اودا خو مونږ هم منو چه اودس بهتر او مستحب دے، لیکن واجب نه دے، ځکه وجوب ثابتولو دپاره قوی دلیل ضروری دے اودا په دغه حدیث کښے نشته.

دا وجه ده چه امام شاه ولی الله دهلوی" فرمائی : د قئ اودم نه روسته اودس کول مستحب دی، واجب نه دی، ځکه واجب قوی دی نو قوی دلیل غواړی او هغه نشته .

(حجة الله البالغة : ۱/۱۷۷، مبحث موجبات الوضوء).

۲ – **جواب** دادے : چه دا فعل د نبی ﷺ دے او مجرد فعل د نبی ﷺ په وجوب او تحریم باندے دلالت نه کوی. لکه ابن حجر" فرمائی :

وفعله المجرد لا یدل علی الوجوب، ولا التحریم. (فتح الباری : ۱/۳۶۲، و ۹/۱۴، توجیه القاری : ۸۹، فتاوی الدین الخالص : ۱/۴۳۲).

۳ – **جواب** دادے : چه (قاء فافطر فتوضأ) معنی دا هم کیدے شی چه اودس ئے د قئ

په وجه نه دے کړے، بلکه د بلے وجے نه ئے اودس کړے وی لکه دخولے د صفائی او نظافت حاصلولو دپاره، اوداسے نه ده چه قئ ناقض د اودس دے، دا خبره ورسره په حدیث کښے نشته. لکه چه دا جواب المجموع شرح المهذب (۶۸/۲) کښے امام نووی ؒ ذکر کړے فرمائی : والثالث انه یحتمل الوضوء لا بسبب القئ فلیس فیه انه توضأ من القئ.

نو دا حدیث هم صریح نه دے په دے خبره کښے چه اودس ئے د قئ په وجه کړیدے.

اولنی دوه جوابه ډیر ښه دی.

۵ - **عقلی دلیل** دادے : چه وینه نجس ده او هر نجس شے چه دبدن نه اووځی نو دا د بول وبراز پشان حکم لری نو اودس پرے ماتیږی.

جواب : وینه ډیر اقسام لری، مطلقا هره وینه نجس نه ده بلکه په دے کښے تفصیل دے کما سیأتی . ددے مسئلے د پوره تحقیق دپاره التحقیقات فی رد الهفوات ص (۷۰) او نصب الرایه (۳۷/۱) ته رجوع کول پکار دی.

دویمه مسئله : وینه نجس ده که نه ؟.

﴿ اقسام الدم وحکم کل قسم ﴾

وينه په يو څو قسمه ده :

۱ - **اول قسم وينه** : دحيض ده، دا نجس ده اتفاقا، او وينځل ئې فرض دی۔

دليل : حديث اسماء في البخاري (۲٤/۱)۔

۲ - **دويم قسم وينه** : دهغه حيوان چه دهغه غوښه حرام وی، لکه سپے، خر، خنزير، کارغه اوداسے نور، نو دا هم نجس ده اتفاقا، اودا اتفاق علامه قرطبی (۲۲۱/۲) او امام نووی په المجموع (۵۵۷/۲) کښے ذکر کړیدے۔

۳ - **دريم قسم وينه** : دماکول اللحم (پاك اوحلال حيوان). نو دا هم دوه قسمه ده :

(أ) چه دغوښے نه ئے وينه راوځی او هغے پورے نښتی وی، نو دا خو پاکه ده. دا قول دقتادة، ابو مجلز او عائشة دے. کما في ابن کثير (۱۸۳/۲)۔

(ب) د رګونو وينه. نو دے کښے اختلاف دے. يو قول دادے چه دا هم طاهر ده او نجس نه ده، اګرچه خوړل اوڅکل ئے حرام دی۔

اوکه څوك د قرآن کريم آيت ﴿ او دما مسفوحا فانه رجس اوفسقا ﴾ په دليل کښے ذکر کړی نو د هغے نه جواب دادے چه (انه) ضمير راجع دے اقرب مذکورته چه خنزير دے، لکه چه دا ابن کثير او زاد المسير والا ذکر کړی دی۔

۱ - **دليل** : دا پيښ کوی چه ابن مسعود اوښان ذبح کړل او دهغے په وينه او خوشيانو ليت پيت شو نو اقامت دمانځه دپاره اوشو، نو بغير داودس نه ئے مونځ اوکړو.

(اخرجه عبد الرزاق في المصنف : ۱۲۵/۱، وابن شيبة : ۲۹۲/۱، والطبراني في الکبير : ۲۸٤/۹، بسند صحيح عنه)۔

۲ - **دليل** : د ابو موسىٰ اشعری نه امام بغوی په جعديات (۸۸۷/۲) کښے نقل کړی دی فرمائی : ما ابالي لونحرت جزورا فتطلخت بفرثها ودمها ثم صليت ولم امس ماء. وفي سنده ضعف.

۳ - **دليل** داچه : بول د ماکول اللحم طاهر دی، نو دم ئے هم طاهر دے. څکه چه دليل د دواړو يو دے، چه هغه برائت د ذمے دے ترڅو چه ددے په نجاست باندے دليل نه وی راغلے

قول ثاني : دادے چه دا قسم وینه هم نجس ده۔

۱ - دلیل : دادے چه (فانه رجس اوفسقا) کښے اصل اوظاهر د قرآن دادے چه ضمیر درے واړو (المیتة، لحم الخنزیر او دم) ته راجع شي، دے دپاره چه علت د تولو دپاره ذکر شي اودا علت صرف د لحم الخنزیر دپاره ذکر کول نه دنورو دپاره دترتیب بیانی دقرآن نه خلاف دے۔ **۲ - دلیل** : د میته نه چه کومه وینه خارجه شي اود حیوان ماکول اللحم نه چه خارجه شي دا دواړه یو شان دی هیڅ فرق په کښے نشته، نو یو د بل نه جدا کول صحیح نه دی۔ او په دے قول کښے احتیاط دے۔

٤ - څلورم قسم وینه : دانسان ده، په دے کښے هم اختلاف دے په دوه قوله کښے :

اول قول داچه : دا نجس ده۔

دلائل : نبی ﷺ چه کله په غزوه احد کښے زخمی شو نو فاطمے ؓ به د نبی ﷺ نه وینه وینځله او علی ؓ به په ډال باندے اوبه وراچولے۔

(صحیح بخاری :۲/۵۸٤، مسلم : ۲/۱۰۷، عن سهل بن سعد)۔

لیکن په دے حدیث باندے په نجاست د وینه د انسان دیو څو وجوهو نه استدلال صحیح نه دے :

اوله وجه : داده چه دا وینځل د نظافت حاصلولو دپاره وو، نه د طهارت شرعی دپاره۔

دویمه وجه : داده چه اوبه اچول په زخم باندے وینه اودروی، نو دا د دوائی په طور استعمال شوی دی، نه داچه دطهارت حاصلولو په طور، چه ګنے وینه نجس ده او هغه وینځی۔

دریمه وجه : دا صرف فعل النبی ﷺ دے او مخکښے په حواله دفتح الباری (۱/۳٦۲) تیر شو چه (الفعل المجرد لا یدل علی الوجوب) زیات نه زیات وینځل مستحب دی۔

القول الثانی : بعض سلف فرمائی : چه دا قسم وینه طاهر ده، او وینځل ئے واجب نه دی، اومونځ ورسره جائز دے، او اودس په دے نه ماتیږی، مګر اودس کول ترے مستحب دی۔

۱ - دلیل : حدیث دجابر ؓ دے چه په هغے کښے دانصاری صحابی واقعه ده چه بدن نه

ئې دغشې لګيدو په وجه وينه روانه وه، مونځ ئې مات نه کړو، بلکه آخر ته ئې اورسولو، لکه چه مخکښې تير شو (بخاري : ۲۹/۱، ابوداود : ۲٦/۱)۔
دا حديث په حکم دمرفوع کښې دے ځکه بل روايت کښې دي چه نبي ﷺ پرے خبر شو او دعاء ورلره اوغوښته. نو که وينه نجس وے نو نبي ﷺ به بيان کړے وے. اودا قول د امام بخاريؒ او د بے شماره محققينو هم دے، کما في فتاوى الدين الخالص (۱/٤٤٦)۔
۲ - دليل : د حسن بصريؒ قول دے چه امام بخاريؒ تعليقا ذکر کړے دے (۱/۲۹) :
مازال المسلمون يصلون في جراحاتهم۔
نوزخم نه خو عام طور سره وينه راوځي، نو معلوميږي چه هغه نجس نه ده. دحسن بصريؒ قول اګرچه دليل نه دے ليکن ده دعامو مسلمانانو حال ذکر کړيدے چه هغوئ به اودس نه کولو دوينې نه۔
دا وجه ده چه دعمر فاروقؓ نه حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري (۱/۲۲٦) کښې نقل کړي چه دهغه نه په صحيح سند سره ثابته ده چه هغه به په داسے حال کښې مونځ کولو چه د زخم نه به ئې وينه روانه وه. او امام بخاريؒ دا قول دطاؤسؒ، محمد بن عليؒ او عطاءؒ او اهل حجاز نه نقل کړے چه په وينه اودس نه ماتيږي. بيائې هغه آثار چه مخکښې تير شو ذکر کړي دي۔
۳ - دليل عقلي : دادے چه کله دانسان يو جزء پريکړے شي نو هغه خو طاهر دے نو وينه هم يو جزء دے، دا به هم ضرور طاهر وي، اوبل طرفته د وجوب دليل هم نشته. فتدبر
۱ - اوکوم خلق چه دا آثار (وروايۃ ابي هريرة في ابن ابي شيبۃ) په لږه وينه باندے حمل کوي نو دا بے ځايه خبره ده، ځکه چه نجاست شرعيه لږ او ډير تول برابر دي په وجوب د زائل کولو کښې، او مونږ وايو : دلږ او ډير نجاست فرق په کوم نص سره ثابت دے ؟
۲ - دارنګه چاچه داخبره کړيده چه دا احوال دصحابوؓ په ضرورت حمل دي، دا هم صحيح نه ده، وجه داده چه که مونږ دا په ضرورت حمل کړو، نو بل کوم ځائے کښې داسے دليل موجود دے چه وينه نجس ده ؟ او نبي ﷺ او صحابوؓ نه بل کوم ځائے دا نص په صحيح سند سره نقل دے چه وينه نجس ده اودس ترے کول واجب دي ؟۔

۵ - **پنځم قسم وینه** : کوم حیوانات چه په اوبو کښې ژوند تیروی دهغوئ وینه هم پاکه ده. لکه ماهی وغیره.

دلیل : ځکه ددې میته حلاله ده، نووینه خو په طریقه اولیٰ طاهره ده، بله داچه : یو حیوان میته حرامیږی نودا ځکه چه وینه په کښې باقی پاتې شی، لکه چه دا په حدیث کښې ذکرده (ما انهر الدم و ذکر اسم الله علیه فکل).

نو سبب دحل دپاره دوه څیزونه دی (۱) وینه بهیدل دحیوان نه (۲) دالله نوم پرې اخستل۔

نو معلومیږی چه کوم حیوان نه وینه خارجه نشی دهغې غوښه حرام ده. او سره ددې نه دماهی میته حلال ده، اګرچه وینه په کښې باقی وی نو وینه هم پاکه شوه۔

٦ - **شپږم قسم وینه** : دحشراتو ده، لکه ماشې، مچ، مچئ، میګې وغیره، داهم طاهر ده، ځکه ددې میته هم طاهر ده (اګرچه خوړل ئې حرام دی) لکه حدیث د ابو هریرهؓ کښې راځی : (اذا وقع الذباب فی اناء احدکم ... فامقلوه).

نو نبی علیه السلام امر کړیدې په غوپه کولو دهغه مچ چه په لوښی کښې واقع شی نو که دا نجس وې نو بیا ولې په غوپه کولو باندې امرکوی ؟۔

۷ - **اووم قسم وینه** : هغه ده چه د ذبح شوی حیوان د باقی بدن نه خارجه شی لکه د زړه وینه، توری، جګر وغیره وینه، نو دا هم طاهره ده. وجه داده چه صحابوؓ به غوښې نه وینځلې او همداسې به ئې پخولې. عائشهؓ فرمائی : مونږ به غوښې خوړلې او وینه به ئې په کټوئ کښې ښکاره کیدله۔

خلاصه : داچه ټولې وینې نجسې نه دی بلکه دې کښې تفصیل دې. فتدبر !

* * * * *

بَابُ آدَابِ الْخَلَاءِ

مناسبت د باب د ما قبل سره : دادے چه مخکښے موجبات د اوداسه بیان شو، اوس د اوداسه نواقض (ماتونکی) آداب بیانوی۔

بیا آداب چه په احادیثو کښے ذکر شی نو شامل به وی فرائضو، مستحباتو، واجبو او حرامو تهولو ته، نو دا آداب په دے مختلفو درجاتو کښے دی، د بعضو تکمیل کول اود بعضو نه اجتناب کول ضروری دی۔

په آداب الخلاء کښے متعدد څیزونه او مسائل ذکرکیږی، اودا باب هغے لره مشتمل دے۔

۱ - اوله مسئله : د قضاء حاجت ادب ذکر کوی، چه قبلے ته به مخ یا شاکوے نه، د قبلے احترام پکار دے۔

۲ - استعمال داحجارو ثلاثه د قضاء حاجت نه پس، دپاره د لحاظ ساتلو د صفائی۔

۳ - په قضاء حاجت کښے به عام خلقو ته ضرر نه رسوے، لکه چه دهغوئ د ونو په سورو او لارو کښے بول وبراز اوکړے شی چه هغوی ته تکلیف ملاؤ شی، یا په ولاړو اوبو کښے اوکړے شی چه خلق ترے فائده وانخلی۔

٤ - اختیار محاسن الأخلاق والعادات : یعنے ښه عادت به انسان خپلوی، نو په ښی لاس به اودس نه اوچوی، او ذکر به پرے نه رانیسی۔

٥ - د پردے کولو لحاظ به ساتی، نو قضاء حاجت دپاره به لرے ځائے ته ځی او ځان به پټوی۔

٦ - ځان به ساتی ددے نه چه بدن او جامے ته نجاست اونه رسیږی. اودیته اشاره شویده په دے قول د نبی ﷺ کښے (اذا أراد احدکم ان یبول فلیرتد لبوله)۔

۷ - ازالة الوسواس : نو په مستحم (غسل خانه) کښے به متیازے نه کوئ چه وسوسے ئے پیدا نشی. فان عامة الوسواس منه۔

معنى الأدب والخلاء

آداب جمع دأدب ده، ادب په لغتِ عربئ كښې دعوت وركولو ته وائي، اودے آدابو ته ځكه آداب وائي چه په دے سره هم انسان ته دعوت وركولے شي چه ځان په دے سره ښائسته كړي. اوپه **اصطلاح** كښې دأدب معنى بعضے علماء فرمائي داده (١) : مراعاة كل شئ (يعني دهر شئ دحدودو لحاظ كولو ته ادب وائي)۔

(٢) علامه ابن القيمؒ فرمائي : (هذه اللفظة مؤذنة بالاجتماع فالأدب : اجتماع خصال الخير في العبد) ۔ يعنے : دا لفظ د ادب دلالت كوي په اجتماع باندے، نو ادب ديته وائي چه په انسان كښے د خير ښيګړے ټول خويونه او عادتونه راجمع شي۔

(٣) د بعضو نه نقل دي چه أدب : (هو استعمال ما يحمد قولا وفعلا) . يعنے : ښه اقوال او افعال استعمالول او په هغے باندے ځان متصف كول، يعنے داسے صفات اختيارول چه دهغے انسانان مدح او صفت كوي چه فلانے شخص ډير أدب ناك دے۔

او عرب د آدابو اطلاق په هر هغه شئ باندے كوي چه هغه د يو شخص يا يو څيز سره لائق او مناسب وي، يعنے هغه څيزونه چه لائق او مناسب دي د درس او مسجد وغيره سره

(٣) د بعضو نه داسے معنى نقل ده (ملاحظة كل شئ في وقته ومكانه) يعنے هر شئ په خپل وخت اومكان كښے كول اود هغے لحاظ ساتلو ته ادب وائي۔

(٤) امام ابن المبارك فرمائي : (معرفة النفس ورعوناتها، والاجتناب عن ذلك) ۔ يعنے : نفس او د هغے حظوظ او خواهشات او تقاضا ګانے پيژندلو او بيا د هغے نه ځان ساتلو ته ادب وائي ۔ (مدارج السالكين : ٢/٣٧٧)۔

اقوال الصالحين في الأدب

١ – يحيى بن معاذؒ فرمائي : من تأدب بأدب الله صار من اهل محبة الله۔

(څوك چه د الله تعالىٰ په آدابو باندے عمل كوي هغه د الله تعالىٰ په محبوبانو كښے شمارلے شي)۔

٢ – ابو على الدقاقؒ فرمائي : من صاحب الملوك بغير أدب أسلمه الجهل الى القتل

(څوک چه د بادشاهانو سره په بې ادبئ سره ملګرتیا کوی نو د جهالت په وجه به قتل ته اوسپارلے شی)۔ یعنے بادشاهانو سره به انسان په احتیاط اوسی هسے نه چه بې ادبی ترې اوشی او ددے په وجه ئے بادشاه قتل کړی۔

۳ – عبد الله بن المبارکؒ فرمائی : نحن الی قلیل من الأدب احوج منا الی کثیر من العلم۔ (یعنے مونږ انسانان ادب ته د علم نه هم زیات محتاج یو)۔

٤ – ابو علیؒ فرمائی : ترک الأدب یوجب الطرد، فمن أساء الأدب علی البساط رد الی الباب، ومن أساء الأدب علی الباب رد الی سیاسة الدواب ۔

(بې ادبی کول سبب دے د شړلو، نو څوک چه په بستره بې ادبی اوکړی هغه به دروازے ته اوشړلے شی، او څوک چه دروازه کښے بې ادبی اوکړی نو بیا به غوجل ته اوشړلے شی)۔

۵ – عبد الله بن المبارکؒ فرمائی : من تهاون بالأدب عوقب بحرمان السنن، ومن تهاون بالسنن عوقب بحرمان الفرائض، ومن تهاون بالفرائض عوقب بحرمان المعرفة۔

(څوک چه آداب سپک ګنړی، هغه ته د سنتو نه د محروم والی سزا ورکولے شی، او څوک چه سنت سپک ګنړی هغه ته د فرضو نه د محروم والی سزا ورکولے شی، او څوک چه فرض سپک ګنړی نو هغه ته د الله د معرفت او پیژندنے نه د محروم کیدلو سزا ورکولے شی) نو ددین هیڅ یو عمل سپک نه دی ګنړل پکار۔

٦ – بعضے وائی : الزم الأدب ظاهراً وباطنا فما أساء أحد الأدب فی الظاهر الا عوقب ظاهراً، وما أساء أحد الأدب باطناً الا عوقب باطناً.

(ظاهری او باطنی ټولو حالاتو کښے ادب لازم اونیسه، ځکه څوک چه ظاهر کښے بې ادبی اوکړی (اوآدابو باندے عمل اونه کړی) نو دهٔ ته به د ظاهر سزا ورکړے شی، الله به ئے ټول کارونه خراب کړی، او څوک چه په باطن کښے آدابو باندے عمل نه کوی هغه ته به باطن کښے سزا ورکولے شی، یعنے الله به ئے زړه خراب کړی)۔

۷ – سهلؒ فرمائی : من قهر نفسه بالأدب فهو یعبد الله بالاخلاص :

یعنے څوک چه خپل نفس باندے زور کوی چه ادب په کښے پیدا کړی نو دا انسان د الله عبادت په اخلاص سره کولے شی، یعنے الله تعالی به ورته په خپل عبادت کښے د اخلاص

توفيق ورکړي ـ

الخلاء : د خاء په فتحه او په مد سره، د قضاء حاجت ځائے ـ ديته خلاء ځکه وائي :

۱ – چه دا د قضاء حاجت د وخت نه علاوه خالي پروت وي ـ

۲ – يا دا وجه ده چه انسان په دے کښې ځان خالي کوي. خلاء په اصل کښې خالي مکان ته وائي، ليکن علماؤ بيا استعمال کړيدے په قضاء حاجت کښې نو ځکه داسے باب تړي : باب آداب الخلاء، أي : آداب قضاء الحاجة ـ

خلاصة آداب الخلاء

۱ – د بول او براز په وخت به قبلے طرفته نه مخ کوي اونه به ورته شا کوي، دا دواړه جائز نه دي (كما في حديث ابي ايوب الأنصاري ، بخاري : ۲٦/۱، ومسلم : ۱۳۰۱)ـ

۲ – کله چه په کاڼو باندے استنجاء کوي نو درے کاڼو نه به کم نه استعمالوي، درے کاڼي ضروري دي، اوکه په اوبو استنجاء کوي نو په هغے کښې تعيين نشته ـ

۳ – په هډوکو، خوشائي، طعام او ګندګئ سره به استنجاء نه کوي ـ

٤ – د متيازو د څاڅکو نه به ځان ساتي، دا سبب د عذاب قبر دے ـ

٥ – د خلقو په لارو، ګودرو او سورو او هر فائده مند ځائے کښې به بول وبراز نه کوي ـ

٦ – په حمام او د اوداسه په ځائے کښې به بول نه کوي، ځکه ددے نه وسوسے پيدا کيږي ـ (فان عامة الوسواس منه)ـ

۷ – مستحب داده چه استنجاء دپاره يو لوښے استعمال کړي او چار اندام دپاره بل لوښے (كما في حديث ابي داود : ٤/۱ عن ابي هريرة : كان النبي ﷺ : اذا اتى الخلاء اتيته بماء في تور او ركوة فاستنجى ثم مسح يده على الأرض ثم أتيته باناء آخر فتوضأ)ـ

۸ – د استنجاء کولو نه پس لاس په زمکه يا ديوال وغيره باندے راخکل سنت دي، لکه دے مخکښې حديث نه معلومه شوه ـ

۹ – د اوداسه نه پس پرتوګ ته په لږ شان اوبو سره چنړکاؤ کول مستحب دي ـ

۱۰ – په ښي لاس به اودس نه اوچوي، اونه به په ښي لاس استنجاء کوي ـ

۱۱ – سوړه کښې به بول نه کوي ـ

۱۲ – د ضرورت په وخت په لوښي وغیره کښې بول کول جواز لري (کان للنبي ﷺ قدح من عیدان تحت سریره یبول فیه باللیل) ابوداود : ٤/١۔

۱۳ – کله چه د بول وبراز اراده اوکړي نو خپل پرتوګ به تر هغه وخته پورې نه ښکته کوي ترڅو چه زمکې ته ښه نزدې شي۔ سلسلة الأحادیث الصحیحة : ۳/٦۰۔

۱٤ – مستحب دي چه د بول کولو دپاره ځان له نرم ځائې تیارکړي، دې دپاره چه څاڅکي ورته اونه شي۔

۱۵ – خلقو نه به ځان پټ ساتي او لرې به ځي۔

۱٦ – بیت الخلاء ته داخلیدو وخت کښې به ګسه خپه مخکښې کړي۔

۱۷ – د داخلیدو په وخت به (بسم الله، اللهم انی اعوذ بك من الخبث والخبائث) دعاء اووائي۔

۱۸ – د بول کولو نه پس ذکر (اندام مخصوصه) څنډل، یا غاړه تازه کول، یا مزل کول، یا اوچت ختل، یا ذکر تاوول را تاوول دا ټول کارونه مستحب نه دي، بلکه ددې نه وسوسې پیدا کیږي۔ اوکوم روایات چه دې باره کښې راغلي دي هغه ضعیف دي۔ (مسند احمد : ٤/٣٤٧، الضعیفة رقم : ١٦٢١، ٤/١٢٤) ۔ نو د فقه حنفي دا خبره صحیح نه شوه چه د بول کولو نه روستو دغه مذکوره کارونه مستحب دي۔

امام نووي فرمائي : ددې کار نه په زړه کښې وسوسې پیدا کیږي۔

شیخ الاسلام رحمه الله فرمائي :

الذکر کالضرع ان حلبته درّ، وان ترکته قرّ. (مجموع الفتاوی : ۲۱/۱۰٦).

یعنې ذکر د غلانزې پشان دې، څومره ئې چه لشې، پئ کوي، اوکه پریخودلې شي نو اودریږي۔

۱۹ – د بول کولو په وخت په سر باندې لاس کیخودل مستحب نه دي، دا چرته نه دي ثابت۔ دا د صوفیاؤ ایجاد کړه مسئله ده۔ دغه شان د قضائې حاجت په وخت سر پټول هم سنت نه دي۔

۲۰ – د بول وبراز په وخت ښئ خپه اودرول او په ګسه خپه باندې ځان تکیه کولو باره

کښې يو حديث راغلې خو ضعيف دے (قال سراقة بن مالك : علمنا رسول الله ﷺ في الخلاء ان نقعد على اليسرى وننصب اليمنى - (بيهقى : ۱/ ۱٦، وفى سنده مجهولان).
وضعفه الحافظ فى التلخيص - البته ددے په باره کښې يو مؤيد حديث راغلے دے :
(اذا ذهبتم الى الغائط فاتقوا المجالس على الظل والطريق، خُذُوا النُبَلَ، واستنشبوا على سوقكم، واستجمروا وتراً، كما فى السلسلة الصحيحة : ٦/٥٦٥، رقم : ٢٧٤٩. وسنده حسن. په دے حديث کښې بل ادب دادے چه متيازو ته د تللو په وخت واړه واړه (مناسب) کانړى استعمالوئ، او په وخت د بول کولو کښې د زمکے نه قدمونه معمولى اوچت ساتئ، او ټول قدمونه په زمکه مه مضبوطوئ او غونډ کيږئ، او تاك کانړى استعمالوئ - النهايه لابن الأثير : (٤٣٨/٢).

نو ددے نه معلوميږى چه ددے حديث دپاره اصل شته نو ان شاء الله چه دا كار به سنت وى- او دا خبره د ډاکټرى اصولو هم برابره ده لکه دکتور طبيب محمد بن علي البار فرمائى : ډاکټرى اصولو مطابق قضاء حاجت کښې د فضلات او ګندګى وېستلو دپاره بنائسته (فزيالوجى) طريقه په زمکه باندے کيناستل او ګسه خپه باندے تکيه کول دى او ددے وجه دا ده چه په کولمو کښې د آخيرنۍ سختے کولمے شکل مستقيم دے او په هغے کښې فضلات جمع کيږى پدے شکل (٤)، نو که انسان ګس طرفته تکيه شى نو دا فضلات شکل مستقيم اختيار کړى، راخکلے شى نو د ګندګۍ راوتل په آسانۍ باندے اوشى او ددے مستقيم نه شاته بله سخته کولمه ده چه هغے ته (القولون السينى) وائى ځکه چه هغه د (س) په شکل ده نو کله چه انسان په خۍ خپه باندے تکيه شى نو د هغے وضع هم مستقيمه شى او پدے طريقه ګندګى په آسانۍ سره بهر شى- نو دا حديث د نبى ﷺ يوه علمى معجزه ده چه دنيا ورته حيرانه ده- توضيح الاحكام (۳۲۸/۱) -

۲۱ – دغه شان د اودس اوچولو په کانړو وېشتلو کښې د اوړى اوژمى فرق کول څنګه چه بعضے حنفى فقهاؤ ليکلى دى، دا بے اصله خبره ده- انظر قاضيخان و مراقى الفلاح -

۲۲ – بيت الخلاء ته بے ضرورته هغه څيز نه دى داخلول پکار کوم کښې چه قرآنى آيت يا د الله ذکر وغيره وى -

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ - اول فصل

١ - عَنْ اَبِیْ اَیُّوْبَ الْاَنْصَارِیِّ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (اِذَا اَتَیْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلَا تَسْتَدْبِرُوْهَا وَلٰكِنْ شَرِّقُوْا اَوْغَرِّبُوْا). مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ.

قَالَ الشَّیْخُ الاِمَامُ مُحْیِ السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللهُ : هٰذَا الْحَدِیْثُ فِی الصَّحْرَاءِ وَأَمَّا فِی الْبُنْیَانِ فَلَا بَأْسَ، لِمَا رُوِیَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : اِرْتَقَیْتُ فَوْقَ بَیْتِ حَفْصَةَ لِبَعْضِ حَاجَتِیْ فَرَأَیْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ یَقْضِیْ حَاجَتَهٗ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ مُسْتَقْبِلَ الشَّامِ. مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ.

ترجمه : ابو أیوب انصاریؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کله چه تاسو بیت الخلاء (قضاء حاجت ځائے) ته ځئ نو قبلے طرفته مه مخ کوئ او مه ورته شا کوئ، بلکه مشرق یا مغرب طرفته کینئ۔ (بخاری، مسلم)۔ امام محیی السنهؒ فرمائی : داد ځنګل حکم دے، آبادئ کښے داسے کولو کښے څه حرج نشته ځکه چه عبد الله بن عمرؓ فرمائی : زه خپل څه ضرورت دپاره د (خپلے خور) بی بی حفصےؓ کور ته اوختم نو ما نبی ﷺ (بیت الخلاء) کښے قضائے حاجت باندے اولیدلو چه قبلے طرفته ئے شا او شام طرف ته ئے مخ کړے وو۔ (بخاری، مسلم)۔

تعارف : د ابو ایوب الأنصاری رضي الله عنه :

دده خپل نوم خالد بن زید بن کلیب بن ثعلبه الأنصاری الخزرجی النجاری دے۔ کنیه ئے ابو ایوب المدنی ده۔ دا د ابتدائی مسلمانانو نه دے، عقبه، بدر، احد اونورو ټولو غزواتو ته د نبی علیه السلام سره حاضر شوے دے۔ دده لوئے فضیلت دادے چه نبی ﷺ چه کله مدینے ته هجرت اوکړو نو دده په کور کښے یو میاشت پورے اوسیدلو۔ تردے چه مسجد نبوی جوړ شو۔ نهایت ادبناک وو، دا بره اوسیدلو او نبی ﷺ لاندے چت کښے۔ حیاة الصحابة (٣٢٨/٢، او کنز العمال : ٥٠/٨، او مستدرك : ٤٦١/٣) کښے راځی چه دده خپل اهل ته د شپے اووئیل چه دا خو بے أدبی ده چه مونږ د پیغمبر ﷺ په

سرګرځو، سحرئے نبي ﷺ ته عرض اوکړو چه تاسو بره اوخيژئ۔ دے فرمائی : يو وړځ زمونږه د اوبو منګے مات شو، اوبه په زمکه تويے شويے نو زه او أم ايوب پاڅيدو او يوه شړئ مو وه هغے باندے مو اوبه اوچولے، دے دپاره چه رسول الله ﷺ ته زمونږ د طرفنه تکليف اونه رسی۔

ده د علی رضی الله عنه سره د خوارجو په جنګ کښے ملګرتيا کړيده، او مدائن ته د هغه په صحبت کښے ورغلے دے، اود علی رضی الله عنه د شهادت نه پس ډيره زمانه ژوندے وو، تردے چه په قسطنطينيه کښے په خلافت د معاويه رضی الله عنه کښے په سنه (۵۱)هـ کښے مرابط وفات شو۔ کله چه يزيد بن معاويه غزا ته اووتلو نو داهم ورسره ملګرے وو خوبيا مريض شو او مرض ئے سخت شو نوخپلو ملګرو ته ئے اووئيل : چه زه کله مړ شم نو دځان سره مے يوسئ تردے چه کله د دشمن مقابله کښے صفونه اوتړئ نوما دخپلو قدمونو نه لاندے خخ کړئ۔

امام بغوی فرمائی : دا د شپے دفن شو نو يزيد بن معاويه حکم اوکړو چه اسونه مخکښے روسته اوزغلوی، نو په دے کښے دده قبر پټ شو، چاته پته اونه لګيده۔

ابن حبان فرمائی : مسلمانان د قسطنطينيه په ګيره کښے مشغول وو نو هغوئ د يو ديوال طرفته دفن کړو۔ دده نه (۱۵۰) احاديث نقل دی۔ رضی الله تعالیٰ عنه۔

تشريح :

إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلَا تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْغَرِّبُوا:

غائط په اصل کښے هغه ښکته پراخه مکان ته وئيلے شی چه په صحراء کښے وی (المكان المطمئن من الأرض) بيائے اطلاق کيږی په هر هغه ځائے باندے چه دقضاء حاجت دپاره تيار شوے وی ځکه د انسانانو عادت دادے چه په ښکته ځائے کښے خپل حاجت پوره کوی چه هغه پټوونکے وی انسان لره۔ بيا په کښے نور تصرف اوشو تردے چه د نفس براز (ګندګئ) دپاره کوم چه دانسان نه خارجيږی استعماليږی، ذکر دمحل او مراد ترينه حال دے۔

په دے حديث کښے (شرقوا او غربوا) الفاظ راغلی دی يعنے : قبلے ته مه مخ کوئ او مه

ورته شاکوئ، بلکه مشرق یا مغرب ته متوجه شئ، دا حکم دهغه خلقو دپاره دے چه دهغوئ قبله مغرب طرفته نه وی، لکه مدینے والا شو. او دکومو خلقو قبله چه مغرب طرفته وی لکه زمونږ ملك پاکستان وغیره، نو دوئ ته د (جَنِّبُوا، شَمِّلُوا) حکم دے، یعنے دوئ به جنوب یا شمال طرفته مخ کوی اوقبلے طرفته به نه مخ کوی اونه شاکوی. اودا مقصود دحدیث هم دے چه د قبلے احترام اوکړئ، که ستاسو نه هر طرفته وی، اودا خطاب (په حدیث کښے) مدینے والو ته دے.

ددے نه دا فائده معلومه شوه چه کله د رسول الله ﷺ خطاب څه خاص خلقو پورے خاص وی خو دا هله چه کله دلیل موجود وی چه دا خصوصیت د فلانی خلقو دے لکه دلته دلیل موجود دے چه د شرقوا او غربوا حکم مدینے والو پورے خاص دے. دلیل پرے ابتداء د حدیث ده چه : فلا تسقبلوا القبلة ولا تستدبروها) دے.

مسئله د استقبال او استدبار په حالت د بول وبراز کښے

اوس په دے مسئله کښے دعلماؤ اختلاف دے چه آیا قبلے ته د بول وبراز په وخت مخ کول او شاکول جائز دی که نا جائز ؟ په دے کښے یو څو اقوال دی. اودا اختلاف بناء دے په اختلاف درواياتو سره چه وارد دی په دے باب کښے.

۱ - **اول قول** - چه راجح دے - دادے چه استقبال او استدبار دواړه حرام دی، برابره خبره ده چه صحراء کښے وی اوکه په آبادئ کښے، اودا قول د ابو هريره، ابن مسعود، ابو ایوب انصاری، سراقه بن مالك - رضی الله عنهم - مجاهدؒ، ابرهيم نخعیؒ، امام ابو حنيفهؒ، امام محمدؒ او علامه ابن حزم ظاهریؒ دے. اودا قول امام شوکانیؒ په نیل الأوطار (۱۳۹/۱)، اوشیخ مبارکفوریؒ په تحفة الأحوذی (۶۵/۱) کښے راجح کړیدے.

وجه د ترجيح : داده چه راوی ابو ایوب انصاریؓ په دے حدیث باندے خپله عمل کړیدے، لکه په بخاری (باب قبلة اهل المدينة) کښے ورسره دا الفاظ دی : (فقدمنا الشام فوجدنا مراحيض بنيت قِبَلَ القبلة فننحرف عنها ونستغفر الله - (فتح الباری : ۱۹۷/۱، مسلم : ۱۳۰/۱). او راوی په خپل مروی (روایت)باندے ښه پوهیږی، نو هغه به په بيت الخلاء ګانو کښے هم قبلے ته مخ شاکرځول حرام ګڼړل.

۲ – دویمه وجه داده : چه دا حدیث قولي دے، او حدیث دابن عمرؓ (کوم چه روستو راروان دے او دال بالجواز دے) فعلي دے. اول خو دلته تعارض نشته په مابین دروایتینو کښے، اوکه تعارض راشي نو قولي روایت لره ترجیح وی په فعلي روایت باندے، لکه چه دا د اصول فقه قاعده ده، ځکه فعلي روایت کښے احتمال دخصوصیت یا دضرورت وی. او په قولي کښے دا نه وی.

۳ – دریمه وجه داده : چه صحراء او آبادئ کښے فرق کول صحیح نه دی، ځکه که قبلے ته دمخ کولو نه مانع دیوال وغیره وی نوزمونږ مخے ته خو بیا ډیر غرونه شته دے، اګرچه مونږ په صحراء کښے یو، نو په صحراء کښے هم مانع شته دے. لیکن دا عقلي وجه ده، دے وجے نه ماته دا خوښه نه ده.

٤ – ښه وجه داده چه صحیح ابن حِبان کښے حدیث دے (من تفل تجاه القبلة جاء یوم القیامة وتفلته بین عینیه). ورواه ابوداود فی ابواب الأطعمة رقم : ۳۲۳۹، والمنذری فی الترغیب والترهیب : ۱/۲۰۱، وکنز العمال : ۱۹۹٤۷، بسند صحیح.

هرکله چه قبلے طرفته د لاړے توکلو داحکم شو اودا عام دے که په آبادئ کښے وی اوکه په صحراء کښے، په مانځه کښے وی اوکه خارج دمانځه نه وی (بخاری کښے دمانځه باره کښے دی). نو دغه شان حکم به د بول و براز هم وی، بلکه په طریقه اولیٰ سره به دا ناروا وی، ځکه په بول کښے قبلے طرفته ډیره بے ادبی ده په نسبت دلاړو توکلو، ځکه لاړے پاکے دی او بول نجس دی.

دلائل ددے قول دادی :

۱ – حدیث د ابو ایوب انصاریؓ دے چه بخاری اومسلم نقل کړیدے (حدیث الباب دے) په دے کښے داستقبال او استدبار نه مطلقا نهی راغلے ده. دصحراء او بنیان (آبادئ) فرق په کښے نشته. او مقصود په نهی کښے حرمت او احترام د قبلے دے اودا که په صحراء کښے وی اوکه آبادئ کښے ضروری دے.

۲ – حدیث ابو هریرةؓ دے چه امام احمد او مسلم (۱/۱۳۱) راوړیدے، کما فی نیل الأوطار (۱/۹۳).

عن ابی هریرة رضی الله عنه عن رسول الله ﷺ قال : اذا جلس احد کم لحاجته، فلا یستقبل القبلة ولا یستدبرها۔

۳ – د حدیث سلمان الفارسیؓ دے کما یأتی، واخرجه مسلم : ۱/۱۳۰ :
لقد نهانا النبی ﷺ ان نستقبل القبلة بغائط او بول .... الحدیث ۔

ددے نه علاوه نور دلائل هم شته۔ کذا فی النیل۔

قول ثانی : دادے چه استقبال او استدبار په صحراء کښے ناجائز او په آبادو کښے جائز دے، اودا قول د مالکؒ، شافعیؒ، او یو روایت د امام احمدؒ دے، اسحق بن راهویهؒ، او شعبیؒ قول دے، او په صحابوؓ کښے د عباس بن عبد المطلبؓ او عبد الله بن عمرؓ او عبد الله بن العباسؓ قول دے، او په احنافو کښے دطحاوی مذهب دے۔ اودا قول ابن حجر (فی الفتح) او صاحب د نیل الأوطار او السندهی فی حاشیه النسائی او امام بغویؒ غوره کړیدے۔

ځکه : (۱) دلته لفظ دغائط راغلے دے او غائط په صحراء کښے وی ځکه غائط ښکته مکان ته وائی (۲) په صحراء کښے دا شان ځان دقبلے نه اړولے شی خو که بیت الخلاء قبلے طرفته جوړه شوے وی نو دهغے نه کړیدل ګران وی، دا عقلی وجه ده۔ دا علماء کرام فرمائی چه په دے قول سره جمع راځی په مابین دټولو روایاتو کښے اودا درمیانه قول دے، او اعمال په ټولو روایاتو بهتر دے دا همال نه۔

دلیل : حدیث دابن عمرؓ او عائشےؓ دے۔ حدیث دابن عمرؓ امام ترمذیؒ کتاب الطهارة باب ماجاء فی الرخصة فی ذلك کښے راوړیدے :

قال رقیتُ یوما علی بیت حفصة فرأیت النبی ﷺ علی حاجته مستقبل الشام مستدبر الکعبة۔

مصنفؒ هم داسے ذکر کړیدے په روایت د بخاری او مسلم سره۔

نو په دے حدیث کښے د نبی ﷺ عمل په ظاهر کښے مخالف شو د قول ده نه کوم چه په حدیث ابو ایوبؓ او ابو هریرةؓ وغیره کښے وو (لکه چه مخکښے ذکر شو)۔ نو دلته په دواړو حدیثونو باندے عمل کول بهتر دی، هغه داسے چه حدیث د ابو ایوبؓ وغیره دے حمل کړے شی په صحراء باندے اودا روایت د ابن عمرؓ دے دلیل شی چه په آبادیٔ کښے

دواړه جواز لري۔

او سندهي" صاحب هم په حاشيه د بخاري کښې دا راجح کوي چه فرق دے اوکړے شي، وجه دا بيانوي چه په صحراء کښې انسان د قبلې نه بل طرفته آوړيدے شي، او استدلال کوي (دأتيتم الغائط) نه چه غائط المكان المنخفض من الأرض ته وائي، او دے کښې انسان د قبلې نه بل طرفته تاويدلے شي، او آبادئ کښې بيت الخلاء په داسې طريقه جوړے وي چه انسان په کښې نشي تاويدے۔ او عبد الله بن عمرؓ به هم دا فتوئ ورکوله، لکه روسته رائحي۔

٢ - دليل : عمل او فتوئ دابن عمر دهٔ، کومه چه امام ابوداود نقل کړيده۔

عن مروا ن الأصفر قال : رأيت ابن عمر أناخ راحلته مستقبل القبلة يبول اليها، فقلت : يا أبا عبد الرحمن ! أليس قد نهي عن ذلك ؟ فقال : بلىٰ، انما نهي عن هذا في الفضاء، فاذا كان بينك وبين القبلة شئ يسترك فلا بأس۔ (صحيح ابى داود رقم : ٨، للألباني)۔

يعنې : کله چه ستا اود قبلې ترمينځه څه پټونکے شے وي نو بيا قبلې ته مخ يا شاکړل جائز دي۔

(قال الحافظ في الفتح : اخرجه ابوداود، والحاكم باسناد حسن، كذا في النيل : ١/١٠١)۔

قول ثالث : استقبال په آبادئ او صحراء دواړو کښې ناجائز او استدبار (شاکول) په دواړو کښې جائز او دا يو روايت د امام ابو حنيفه او امام احمد دے۔

ددے قول والاؤ دپاره **دليل** د سلمان هغه روايت دے چه مسلم کښې راغلے دے او په هغې کښې صرف نهي د استقبال نه ذکر ده۔ ليکن دا خبره باطله ده ځکه چه په صحيح احاديثو کښې د استدبار نه هم منع ثابته ده نو په هغه زيادت باندے به هم عمل کيږي لکه دا حديث د ابوايوب انصاري شو۔

قول رابع : دامام ابو يوسف" او يو روايت دامام ابو حنيفة" دے چه استقبال په صحراء او آبادو دواړو کښې ناجائز دے او استدبار په صحراء کښې ناجائز او آبادئ کښې جائز دے۔

دليل دادے چه دوئ وائي په حديث د ابن عمرؓ کښې صرف مستدبر القبلة لفظ ذکر

دے، نو په بنیان کښے استدبار جائز دے ځکه نبی ﷺ په آبادئ کښے قبلے طرفته شا اړولے وه، نو دوئ عمل کړے دے په ظاهر د حدیث د ابن عمرؓ باندے. بله دا چه قبلے ته په شا اړولو کښے بے ادبی کمه ده، او کله چه آبادی هم وی نو بیا به بالکل ختمه شی، او دلیل هم پرے موجود دے. پاتے شو استقبال نو په دے کښے بے ادبی ډیره ده نو که په آبادئ کښے وی نو هم نه ده پکار، او دلیل ئے هم نشته. دا هم یوښه قول دے دظاهر دا حادیثو موافق قول دے. دلته امام ابو یوسفؒ د نصوصو ظاهر ته کتلی دی، قیاس او رائے لره ئے اعتبار نه دے ورکړے، او د علماؤ اقوال چه اکثر صحیح کیږی، نو دا په دے وجه چه د نصوصو ظاهر پسے روان شی.

قول خامس : د محمد بن سیرینؒ او ابراهیم نخعیؒ دے، هغه دا چه استقبال او استدبار قبلے ته دواړه په تولو ځایونو کښے ناجائز دی، سره د بیت المقدس نه.

دلیل : دوئ استدلال کوی په حدیث د معقل الأسدیؓ باندے :

قال : نهی رسول الله ﷺ ان نستقبل القبلتین ببول او غائط.

أخرجه ابو داود و ابن ماجة ضعیف ابی داود رقم : ٢، وضعیف سنن ابن ماجة رقم : ٣١٩.

او د قبلتین نه مراد کعبه او بیت المقدس دے.

لیکن : ١ – **جواب** دادے چه دا حدیث سَنَداً ضعیف دے، پدے کښے مجهول الحال راوی دے چه د هغه کنیه ابوزید دے، اسمه الولید مولی بن ثعلبه، کذا قاله الحافظ فی التقریب ص (٥٨٨) شیخ البانیؒ دے حدیث ته په ضعیف ابی داؤد ص (٥) کښے منکر روایت وئیلے دے. لمخالفتها سائر الروایات الصحیحة. علامه شوکانیؒ په السیل الجرار : (٦٩/١) کښے وائی : وفی اسناده ابو زید الراوی عن معقل وهو مجهول لا تقوم به حجه.

٢ – **جواب** : بیت المقدس هغه وخت قبله وه او س منسوخ شویده. دلیل په دے باندے استدلال د ابن عمرؓ دے چه بعضے خلقو بیت المقدس او کعبے ته مخ کول بد ګنړل نو ابن عمرؓ اوفرمائیل : دا صحیح نه وائی بلکه زه خپله د حفصےؓ کور باندے اوختلم او نبی ﷺ مے اولیدلو چه قبلے ته ئے شا کړے وه (شرح السنه : ٢٧٤/١، رقم : ١٧٦).

٣ – یا **جواب** دادے : که اومنو چه حدیث صحیح دے نو مراد ددے نه اهل مدینه او

هر هغه ځوك دي چه د دوئ په طرف كښے واقع دي، ځكه چه مدينے واړه چه كله بيت المقدس ته مخ اړوي نو كعبے ته ئے شا راځي، نو په دے حديث كښے علت دادے چه استدبار كعبے ته حرام دے او استقبال بيت المقدس ته علت نه دے۔

٤ – بله وجه داده : چه په دے حديث الباب كښے مستقبل الشام لفظ راغلے، او بيت المقدس شام كښے دے، نو دلته خو شام طرفته مخ شوے دے۔

قول سادس : تحريم مختص دے په اهل مدينه پورے، بهر خلقو دپاره هرطرفته مخ او شا كول قبلے ته جائز دي (وهو قول أبي عوانة صاحب المزني كذا قاله في الفتح)۔

ليكن دا قول هم ضعيف دے۔ (۱) ځكه اګركه اصل په امر او خطاب كښے تعميم دے، مګر كله چه قرينه وي، لكه دلته (شرقوا، غربو) صرف دمدينے والو دپاره دے، چه د دوئ قبله مغرب طرفته نه ده، او دا معنى زمونږ دپاره نه جوړيږي۔ زمونږ دپاره (جنبوا اوشملو) حكم دے۔

(۲) دويم دا چه : عمل د ابو ايوب انصاري په دے قول باندے رد كوي ځكه هغه په شام كښے عمل كړيدے چه د قبلے نه ئے مخ او شا دواړه اړولي دي، كما مر، نو په شرقوا او غربوا باندے بهر دنيا كښے عمل نه دے شوے۔

قول سابع : استقبال او استدبار هرځائے جائز دے، او دا حكم منسوخ دے په حديث د ابن عمر باندے، يعنے په عمل د نبي ﷺ چه هغه مستدبر الكعبه ناست وو، نو استدبار دے روايت كښے جائز شو، او استقبال روستو په روايت دجابر كښے راغلے۔

او دا قول د عروة بن زبير او ربيعه الرأى او داود ظاهري دے۔

دليل : حديث دجابر دے : (نهانا النبي ﷺ ان نستقبل القبلة ونستدبرها ببول، ثم رأيته قبل ان يقبض بعام يستقبلها۔ رواه ابوداود والترمذي وابن ماجة رقم : ۳۲۵، صحيح ابي داود رقم : ۹، باسناد حسن۔

كله چه استقبال ثابت شو نو استدبار ددے نه هم آسان دے۔

۲ – دارنګه په حديث د عراك عن عائشة كښے دي :

ذكر لرسول الله ﷺ ان ناسا يكرهون ان يستقبلوا القبلة بفروجهم، فقال ﷺ : او قد

فعلوها، حولوا مقعدتي قبل القبلة . رواه الدارقطني : ١/ ٦٠، وابن عساكر : ٥/ ٦٦۔

۱ - **جواب** : حدیث د ابن عمرؓ او عائشةؓ نه جواب دادے چه په ناسخ او منسوخ کښې د زمانے تقدم او تاخر معلومول ضروري دي، او دلته پته نشته چه کوم متاخر دے او کوم متقدم ؟۔

۲ - **جواب** : وهو الراجح : په دے حدیث کښې عمل د نبي ﷺ دے او عمل ناسخ نه وي د قول د نبي ﷺ دپاره، کما مر۔

۳ - صحابوؓ د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو په دے حدیث د ابوایوبؓ باندے عمل کړے دے، معلومیږي چه دا منسوخ نه دے۔

٤ - او حدیث دعائشةؓ نه بل جواب دادے چه ابن حزمؒ په المحلی (۱۹۲/۱) کښې فرمائي :

دا روایت ضعیف دے ځکه په دے کښې خالد بن ابي الصلت دے او دا مجهول دے۔

وضعفه الألباني في ضعيف ابن ماجة رقم : ٣٢٤، والضعيفة : ٩٤٧۔ وقال الذهبي ان حديث حولوا مقعدي منكر۔ نيل الاطار (١/ ٩٥)۔

علامه مبارکفوريؒ په تحفة الأحوذي (۱۶/۱) کښې فرمائي :

فهو حديث ضعيف لا يصلح للاحتجاج۔

امام احمدؒ نه صاحب المغني (۱۸۵/۱) نقل کوي چه عراك دعائشةؓ آوریدل نه دي کړي۔ مګر اثرم فرمائي : ما امام احمدؒ ته اوویل چه حماد بن سلمه روایت کوي د خالد الحذاء نه او په هغے کښې دادي چه عراك عن عائشةؓ قال : سمعتُ عائشة۔ نو په دے کښې سماع د عراك د عائشےؓ نه ثابت شوه۔ نو امام احمدؒ دا ناشنا اوګڼرله او تعجب ئے اوکړو، نو د عراك په سماع کښې د عائشے نه اختلاف واقع شو، مګر روایت کښې خالد بن ابي الصلت راوي مجهول دے، ابن حجرؒ ورته په تقریب کښې مقبول وئیلے دے، یعنې چه متابع ئے موجود شي مقبول به وي، خو دلته متابع نشته . نو روایت ضعیف شو، کما قال الدکتور عبد الغفار سلیمان البنداري في تحقیق المحلی (۱۹۱/۱)۔

۲ - **بل جواب** دادے چه دے حدیث کښې دا تاویل دے چه دلته نفس قبلے ته مخ کول

بعضے کسانو ناجائز ګڼړلی اود بول براز حالت نه دے مراد، وجه داده چه دا څنګه کیدے شی چه نبی ﷺ اول منع کوی چه استقبال اواستدبار الی القبله مه کوئ اوبیا په خپله فرمائی چه زما د ناستے ځائے قبلے ته واړوئ۔ معلومیږی چه دا حالت د بول نه دے مراد بلکه د نبی ﷺ مقصد دادے چه نفس قبلے ته مخ کول حرام نه دی۔ لکه چه بعضے خلقو دا حرام ګڼړلی وو چه هسے به قبلے ته مخامخ نه کینے۔ والله اعلم۔

اتم قول : هم شوکانی ذکر کړیدے چه نهی د تنزیه دپاره ده نو قبلے ته مخ او شا راړول په حالت د بول کښے صرف مکروه دی او حرام ندی۔ او دا یو روایت د ابو حنیفهؒ امام احمدؒ ابوثورؒ، او ابوایوب انصاری رضی الله عنه دے۔ وهو قول النخعیؒ ایضا۔

دوئ وائی چه حدیث د ابن عمر او حدیث د جابر او حدیث د عائشے نهی د تحریم نه نقل کړه تنزیه ته۔

په دے اقوالو کښے اولنے **قول راجح** دے، اګرچه احتیاط او سختی په کښے ده، اوقول ثانی او رابع کښے آسانی ده۔ نو په دے باقی اقوالو کښے به فائده دا شی چه اولنی قول کښے به حرمت راښکته کړی ترك استحباب ته، اودا نور روایات به ضرورت باندے حمل شی که ضرورت وی نو استقبال او استدبار به په بنیان وغیره کښے جائز وی۔ اوکه ضرورت نه وی نو بیا به ناجائز وی۔ اودا د اتم قول والا دپاره هم دلیل دے چه دا نهی د تنزیه (خلاف اولیٰ) دپاره ده۔ وهو اختیار مراد شکری فی المنخلة النونیة ص ۱۲، بتحقیق انیق۔

بعضے علماء د**حدیث** دابن عمرؓ نه **جوابونه** کوی :

۱ - **اول جواب** داچه : د رسول الله ﷺ بول وبراز پاك دی،نو په دے سره بے ادبی د قبلے نه رائحی۔ لکه دا خبره شیخ زکریا صاحب په فضائل اعمال کښے ذکر کړیده۔ دوئ استدلال کوی په وینه د نبی کریم ﷺ باندے چه یو صحابی عبد الله بن زبیرؓ او سفینهؓ هغه څکلے وه۔ لیکن د دوئ دا استدلال صحیح نه دے، ځکه چه وینه کښے هم اختلاف تیر شویدے، کما فی حکایة الصحابة (۳۲۶/۲) وفتاوی الدین الخالص (۲۹/۲)، چه د انسان وینه پاکه ده علیٰ قولٍ۔

بله داچه نبی کریم ﷺ د امت سره په احکامو کښے شریك دے ترڅو چه دلیل

دخصوصيت رانشي، اوډليل نشته په دے خبره چه دهغه بول وبراز پاك دى، بلكه نبى ﷺ به استنجاء كوله د بول و براز نه او د نجاست نه به ئے جامے وينځلے.

۲ - **جواب** : دا كوى چه عبد الله بن عمرؓ خطاء شويدے ځكه نبى ﷺ قبلے ته شا نه وه كړے ليكن بول والا ته انسان فطرةً پوره طريقے سره نشى كتلے خصوصا نبى ﷺ ته، نو ده دا گمان اوكړو چه نبى ﷺ شاكړيده، حالانكه شا خوبل طرفته وه.

ليكن دا جواب هم صحيح نه دے، وجه داده چه دا تخطئه الثقات ده اودا د شيعه گانو مذهب دے، خصوصا چه صحابى وى، ځكه صحابه كرامؓ دومره بے احتياطه خلق نه وو چه يو كارئے نه وى ليدلے او په گمان سره خبره كوى. بلكه هغه (رأيت) لفظ صراحةً استعمالوى. ددے جواب سره په صحابه كرامؓ باندے بدگمانى پيدا كيږى په باب د دين كښے.

بله وجه داده چه عبد الله بن عمرؓ به روستو د وفات د نبى ﷺ نه فتوىٰ وركوله په دے ليدلو باندے.

۳ - **څوك** جواب كوى چه دا خصوصيت د نبى ﷺ دے، كما قال الشاه ولى الله الدهلوىؒ. دا احتمال هم كيدے شى چه دا كار دے دهغه پورے خاص وى، او مونږ ته ئے حكم كړيدے چه (اذا أتيتم الغائط فلا تستقبلوها ولا تستدبروها) نو مونږ به په امر باندے عمل كوو. دا ښه جواب دے چه (فعل النبى ﷺ لا يعارض القول الخاص بنا) لكه چه دا د نيل الأوطار په حواله مونږ مخكښے نقل كړو. ددے وجه داده چه كه بيان غرض وے نو بيان يا په قول سره كيږى او يا په فعل سره، نه دا چه په پټ ځائے كښے متيازو ته كينى چه عام خلق ئے نه وينى او هر چه ابن عمر دے نو هغه خو ناگهانى ليدلے دے.

٤ - **څلورم جواب** دا كوى : چه دا كار نبى ﷺ بيانا للجواز كړيدے اگرچه افضله نه ده، او نبى ﷺ دپاره يو غير افضل كار افضل وى، ځكه هغه داعى دے او داعى دپاره يو غير افضله او جائزه مسئله بيانول هم افضل وى.

بناء په دے جوابونو سره د قول ثانى اورابع جوابونه هم اوشو كومو چه په حديث د ابن عمرؓ استدلال كړے وو.

تنبیه : په دے تهولو اقوالو کښے اول قول کښے احتیاط هم دے او سختی هم ده، اودویم قول کښے آسانی ده، نو ددے اختلاف نه معلومه شوه چه انسان به په دے باب کښے سخته منع نه کوی، بلکه داسے وئیل پکار دی چه اول قول غوره دے او مطلقًا قبلے ته مخ کول او شا کول نه دی پکار، خو که چا په آبادئ کښے مخ او شا قبلے ته اوګرځوله نو هغه ته به داسے نه وائے چه تا حرام کار اوکړو، بلکه دا به یو نامناسب کار ګنړلے شی، ځکه د هغوئ سره هم حدیث د ابن عمرؓ شته دے، او خاصکر د ضرورت په وخت کښے پرے عمل کول بالکل صحیح دی۔

فَوْقَ بَيْتِ حَفْصَةَ :

تعارف : د حفصه رضی الله عنها :

ذاد عبد الله بن عمرؓ خور ده، أم المؤمنین، دنبی ﷺ زوجه ده، د عمر بن خطابؓ لور بی بی ده، د نبی ﷺ د نبوت نه پنځه کاله مخکښے پیدا شویده، ابتداء کښے خُنَیْس بن حُذَافَة السهمی په نکاح کښے وه، دهغه سره ئے هجرت اوکړو، او هغه ترے دغزوه بدر نه روستو وفات شو، بیا عمر فاروقؓ په ابو بکر صدیقؓ باندے پیش کړه، هغه هیڅ جواب ورنه کړو، او عثمانؓ ته ئے پیش کړه هغه هم قبوله نه کړه، تردے چه نبی ﷺ ورته د نکاح پیغام اولیګلو نو هغه ته ئے په نکاح ورکړه، په دریم کال دهجرت باندے، په شعبان (۴۵) هـ۔ د (۶۰) کالو په عمر وفات شویده ۔ او (۶۰) احادیث ترے نقل دی ۔ رضی الله تعالیٰ عنها ۔

---

۳ - وَعَنْ سَلْمَانَ رضی الله عنه قَالَ : نَهَانَا - يَعْنِيْ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ - اَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ بِغَائِطٍ اَوْ بَوْلٍ، اَوْاَنْ نَسْتَنْجِيَ بِالْيَمِيْنِ، اَوْ اَنْ نَسْتَنْجِيَ بِاَقَلَّ مِنْ ثَلَاثَةِ اَحْجَارٍ، اَوْ اَنْ نَسْتَنْجِيَ بِرَجِيْعٍ اَوْ بِعَظْمٍ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : جناب سلمانؓ فرمائی : رسول الله ﷺ مونږ ددے نه منع کړی یو چه مونږ د لویو یا وړو بولو په وخت قبلے طرفته مخ کړو، اوددے نه چه مونږ ددرے کانړو نه کم سره استنجاء اوکړو، اوددے نه چه مونږ خوشائی یا هډوکی سره استنجاء اوکړو ۔ (مسلم) ۔

تعارف : د سلمان رضی الله عنه :

دده نوم سلمان الفارسی، کنیت ئې ابو عبد الله، ابن الاسلام دې، دده لقب سلمان الخیر دې، اصل ئې داصبهان دې، بعضې وائي د (رامُهُرمُز) دې، نبی ﷺ چه کله مدینې ته راغلو نو ده اسلام قبول کړو، اوله غزوه خندق ته حاضر شویدې۔ علامه ابن عبد البرّ د بعضو علماؤ نه نقل دی کړی دی چه بدر کښې هم شریك شویدې۔ دخپل کلی نه ئې د دین طلب کولو دپاره سفر اوکړو، زړه کښې ورته الله ددین جذبه واچوله، نو یوه ورځ پلار قولپې ته اودرولو، نو سلمان ترې پټ شو او اوتښتیدلو او یوې ګیرجې ته لاړو، اول ئې نصرانیت دین قبول کړو او کتابونه ئې اولوستل اوپه دې کښې ئې مسلسل مشقتونه برداشت کړل، د یو استاذ نه به نقل کیدو بل ته آخر کښې اراده ئې اوکړه چه مدینې ته ځمن یو پیغمبر راروان دې نو د عربو یو قوم اونیولو او غلام ئې ترې جوړ کړو او په یهودیانو باندې ئې خرڅ کړو، سلمان دهغوئ سره مکاتبت اوکړو او نبی ﷺ ورسره په کتابت کښې امداد اوکړو، اهل تاریخ لیکی چه اولس (۱۷) سیدان مالکان ئې بدل کړی دی۔ تردې چه نبی ﷺ ته راورسیدو، کله چه هغه مدینې ته راغې نو نبی ﷺ دده باره کښې اوفرمائیل : سلمان منا اهل البیت۔ اوداد هغه کسانو نه دې چه جنت ورته شوق لرلو، ډیر عمر والا وو، بعضې وائي (۲۵۰) او ځینې وائي (۳۵۰) سوه کاله عمر ئې تیر کړیدې، اول قول اصح دې۔ دخپل لاس دکسب نه به ئې خوراك کولو اوصدقه به ئې ورکوله۔ مدائن علاقه کښې په سنه (۳۵) هـ یا (۳۳) هـ کښې وفات شویدې۔ ټول (۶۰) احادیث ترې نقل دی۔ رضی الله تعالیٰ عنه

نَهَانَا : دا **جواب** د سوال دې، سلمانؓ ته یو مشرك (بطور استهزاء اوتحقیر) اووئیل : ستاسو پیغمبر تاسو ته هرڅه خودلی دی، هر څه کښې ئې ګوتې وهلې، تردې چه د اودس ماتی طریقه ئې هم درخودلې ده۔ سلمانؓ ورته جواب اوکړو (اجل، نهانا) حاصل د جواب دادې چه په دې کښې څه عیب دې چه دا مونږ ته را اوخائی، بلکه دا خو ډیر ښه آداب دی، انسان پرې انسان جوړیږی، ځکه ئې مونږ ته راخودلی دی۔

اَوْ اَنْ نَسْتَنْجِيَ : استنجاء په لغت کښې ازالة النجو (ګندګئ لرې کولو) ته وائي او ددې ختمول په اوبو یا په کانړو باندې۔

په دې مقام کښې څو مباحث او مسائل دي ـ

۱ ـ اوله مسئله : د استنجاء اقسام :

استنجاء درې قسمه ده (۱) استنجاء بالماء فقط : چه صرف اوبه استعمال کړي، اوکانړي استعمال نه کړي (۲) استنجاء بالأحجار فقط : چه صرف کانړي استعمال کړي (۳) استنجاء بالأحجار والماء جميعا : چه دواړه استعمال کړي ـ

اولنۍ دوه قسمونه په صحيح احاديثو سره ثابت دي، اودا قسم استنجاء په يمين (ښي لاس) سره کول جائز نه دي ـ

بيا که په اوبو سره استنجاء کوي نو درې کانړي استعمالول ضروري نه دي، که يو کانړے يا دوه کانړي استعمال کړي اوباقي اوبه استعمال کړي نو هم جائز دي ـ خو چه صرف کانړي استعمالوي او اوبه روستو نه استعمالوي نو بيا به درې کانړي استعمالول ضروري وي لکه دے حديث کښې دي (نهانا ان نستنجي باقل من ثلاثة احجار) يعنې مونږ نبي عليه السلام ددې نه منع کړي يو چه د درې کانړو نه په کم باندې استنجاء اوکړو نو درې کانړي استعمالول ضروري دي ـ

بيا په کانړو سره استنجاء کښې کوم خاص کيفيت په احاديثو کښې نشته کوم چه صاحب د نور الايضاح وغيره ذکر کړيدې، چه څه کانړي به مخې ته ګذاري او څه روستو، دغه شان د ژمي او اوړي فرق به په کښې کوي ـ دا څه اسلامي آداب نه دي، بلکه دا يوه تجربه ده ـ ددې په ځائې نور آداب راغلي دي په مجمع الزوائد (۱/ ۲۱۱) کښې د سهل بن سعدؓ روايت مرفوعا نقل دے چه (حجرين للصفحتين وحجر للمسربة) يعنې درې کانړي به داسې طريقې سره استعمالوي چه دوه کانړي به د دُبر د غاړو پاکولو دپاره استعمال کړي او يو به د دُبر د مينځ دپاره ـ واسناده حسن ـ وفي الصحيحه رقم (۲۷۴۹) ـ

بل حديث کښې راغلي دي (اذا ذهبتم الى الغائط فاتقوا المجالس على الظل والطريق، خذوا النبل، واستنشبوا على سوقكم، واستجمروا وتراً، كما في السلسلة الصحيحة : ۶/ ۵۶۵، رقم : ۲۷۴۹ ـ وسنده حسن ـ په دې حديث کښې بل ادب دادے چه متيازو ته د تللو په وخت واړه واړه (مناسب) کانړي استعمالوئ، او په وخت د بول کولو کښې د زمکے

نه قدمونه معمولې اوچت ساتئ، او ټول قدمونه په زمکه مه مضبوطوئ او غونړ کينئ، او تاك، کانړي استعمالوئ – النهاية لابن الأثير : (۲/۴۳۸)۔

هرچه دريم قسم استنجاء ده نو په دې کښې اختلاف دې (۱) احناف وائي دا سنت او ادب دې، کما في شرح الوقايه ۔ ليکن دې باره کښې صحيح او صريح حديث نشته چه په هغې کښې دکانړو او اوبو جمع راغلې وی ۔ نو کومو علماؤ چه ورته مستحب وئيلی دی دا صحيح نه ده بلکه دا صرف د جواز او مباح درجه ده، لکه چه ابن قدامه په المغني (۱/۱۸٤) کښې د امام احمدؒ نه نقل کړيدی :

ولم ينقل عن النبي ﷺ انه استعمل التراب مع الماء في الاستنجاء ولا أمر به .

وكذا قال الأمير الصنعاني في سبل السلام (۱/۱۲٦) : ولم نجد عنه ﷺ انه جمع بينهما، آه۔ قال النووي في المجموع شرح المهذب : المعروف في طرق الحديث انهم كانوا يستنجون بالماء وليس فيه انهم كانوا يجمعون بين الماء والأحجار .سبل السلام : ۱/۱۲۵۔

يعنې : د نبي ﷺ نه په استنجاء کښې د اوبو او کانړو جمع کول نه دی نقل، اونه نبي ﷺ په دې باندې حکم کړې دې۔

اوکوم حديث کښې چه داخبره ده چه اهل قباء به کانړي او اوبه جمع کولې، او بيا ددوئ باره کښې دا آيت نازل شو (فيه رجال يحبون ان يتطهروا) نو دا حديث ضعيف الاسناد دې۔ امام نوويؒ، حافظ ابن حجرؒ، ابن کثيرؒ (في سورة التوبة : ۲/۳۹۰) او البانيؒ ورته ضعيف وئيلې دې ۔ کما في تمام المنه ص (٦٥)۔ حافظ ابن حجر فرمائي : ددې په سند کښې محمد بن عبد العزيز دې ضعفه ابو حاتم فقال : ليس له ولا لاخويه عمران وعبد الله حديث مستقيم. تلخيص الجبير : ۱/۱۱۲، سبل السلام : ۱/۱۲۵)۔

او تمام المنه کښې ئې جمع بين الأحجار والماء ته غلو في الدين وئيلې ده، ليکن مونږ وايو چه غُلوّ نه ده خو مستحب هم نه ده، بلکه صرف جواز لري، ځکه چه رواياتِ مجمله کښې احتمال ددغه معنیٰ شته دې، البته که څوك ئې قوی سنت ګڼړي نو بيا به غلو في الدين جوړيږي ۔

او ابن کثيرؒ دا روايت په خپل تفسير کښې دمسند البزار په حواله راوړې، او ضعيف ئې

ورته وئيلي. اګرچه دا حديث دي په اهل قباء والا کښې نو صحيح دے ليکن دے کښې د (حجاره) ذکر نشته. ولذلك اورده ابوداود (١/٧) رقم (٤٤) في باب الاستنجاء بالماء ـ وله شواهد كثيرة ليس في شئ منها ذكر الحجارة.

او وجه د فضيلت دا هل قباء والا صحابه کرامو داوه چه عام صحابوٓ به کاڼړی استعمالول، او مسجد قباء والو به ددے برعکس اوبه استعمالولے، د زيات طهارت حاصلولو دپاره. نو ځکه د دوئ په باره کښې آيت نازل شو.

او په دے باب کښې حديث دعلی رضی الله عنه نه هم نقل دے (فاتبعوا الحجارة الماء) ليکن هغه د موقوف کيدو سره ضعيف هم دے. ځکه دا منقطع دے د عبد الملك او علی بن ابی طالبؓ ترمينځه. اودا مدلس هم دے، او په سماع باندے ئے تصريح نه ده کړے. (كذا اخرجه البيهقي : ١/ ١٠). وذكره عبد الحي في حواشي الهداية، كذا في فتاوى الدين الخالص : ١/ ٣٩١).

٢ - دويمه مسئله : الاختلاف في عدد الأحجار :

مخکښې تير شو چه څوك صرف په کاڼړو استنجاء کوی نو درے کاڼړی ضروری دی، اګرچه پاکی ئے په يو يا دوه کاڼړو هم راشی، خو دے کښې اختلاف دے.

(١) احناف وائی : درے کاڼړی استعمالول مستحب دی، اوکه ددے نه په کمو باندے نظافت حاصل شی نو بيا د درے کاڼړو استعمالول واجب نه دی، بلکه مستحب دی. واجب محل صفا کول دی، که په يو کاڼړی سره وی اوکه په دوو يا دريو سره وی. خو غالبًا صفائی په درے ؤ سره راځی، اودا قول دامام مالكؒ او صاحبينوٓ هم دے.

(٢) دويم قول د جمهورو امام شافعیؒ، احمدؒ، اسحق بن راهويهؒ او ابو ثورؒ دے، دوئ فرمائی : اِيتار (تاك) او درے کاڼړی استعمالول واجب دی اګرکه صفائی ددے نه په کمو سره هم راشی، اودا قول حق دے.

دلائل الجمهور :

١ - يو دا حديث د سلمانؓ دے چه په دے کښې نهی د رسول الله ﷺ ذکر ده، او نهی دتحريم دپاره وی، اود نهی په ارتکاب سره استنجاء نه کيږی. نو د درے کاڼړو نه په کمو

سره استنجاء کول حرام شو، او درېے واجب شو ـ دا حديث مسلم (١٣٠/١)، او ترمذی (٩/١) راوړے۔

٢ - **دويم دليل** : فصل ثاني کښے حديث د ابو هريرة دے په روايت دابوداود (٦/١) ابن ماجه (٥٧/١) او دارمی (١٣٨/١) نقل دے : (وأمر بثلاثة احجار)، وسنده صحيح ـ

او امر د نبی ﷺ د وجوب او فرضيت دپاره وی۔

٣ - **دريم دليل** : حديث دعائشة : (اذا ذهب احدکم الی الغائط فليذهب معه بثلاثة احجار، يستطيب بهن فانها تجزئ عنه).

(ابوداود : ٦/١، نسائی : ١٦/١، دارمی : ١٣٧/١، احمد : ١٠٨/٦، باسناد صحيح)۔

٤ - **څلورم دليل** : حديث دخزيمه بن ثابت دے : (فی الاستنجاء ثلاثة احجار ليس فيها رجيع)۔ يعنی استنجاء کښے به درے کانړی استعمالولے شی چه ګندګی به پکښے نه وی۔

(ابوداود، رقم : ٣١، ابن ماجة : ٧٥/١، باسناد صحيح)۔

٥ - **پنځم دليل** : حديث د سلمان دے په مسلم (١٣٠/١) کښے :

(لا يستنجی احدکم بدون ثلثة احجار). وفی رواية مسلم و ابن ماجة رقم : ٣١٦، عن سلمان : ولا نکتفی بدون ثلثة احجار، بسند صحيح)۔

دا احاديث صريح دی په وجوب الايتار والتثليث کښے، چه ددے نه عدول کول جائز نه دی، بغير ددے نه استنجاء نه کيږی۔

دلائل الأحناف :

١ - **دليل** : حديث د ابو هريرة دے چه ابوداود (٦/١) او ابن ماجه راوړے :

من استجمر فليوتر، فمن فعل فقد احسن ومن لا فلا حرج ـ لکه روستو را روان دے۔

نو وتر (طاق) يو حجر هم کيدے شی، او فلا حرج دليل دے په دے چه تثليث واجب نه دے بلکه مستحب دے ـ

جواب : دا حديث سندا ضعيف دے، په دے کښے دوه مجهول رويان دی : الحصين الحبرانی الحمصی، او ابو سعيد ـ کذا فی نيل الأوطار (١١٦/١) والدين الخالص :

٤٩٣/١)۔ وضعفه الألباني في الضعيفة رقم: ١٠٢٨، وصحيح ابن ماجة: ٣٣٧، وضعيف ابی داود: ٨۔

تنبيه: حافظ ابن حجرؒ په دے مقام کښے په فتح الباری (٢٠٦/١) کښے خطاء شویدے چه دے روایت ته ئے حسنه الاسناد وئیلے دے، وجه دخطائی داده چه ده خپله په تقریب (١٧١) کښے دے دوارو راویانو ته مجهول وئیلی دی، نو په مجهول راویانو سره روایت څنګه حسن شو؟ بلکه ضعیف دے۔

٢ – دارنګه بیا هغه ددے روایت یو تاویل هم کړیدے چه: (فلیوتر) نه مراد په دے حدیث کښے ایتار په مافوق الثلاثه کښے دے۔ یعنے درے خو ضروری دی، لیکن کله چه په دریو هم صفائی رانشی نو بیا به زیات استعمالوی او په دے مافوق الثلاثه کښے ایتار واجب نه دے۔ اوهر چه ثلاثه دی نو هغه خو په دے نورو احادیثو آمره اوناهیه ؤ سره واجب دی۔ او په دے توجیه سره ددے روایت تطبیق د صحیح روایاتو سره راځی۔

٢ – **دلیل**: بخاری بشرح فتح الباری (٢٠٦/١) کښے حدیث دعبد الله بن مسعودؓ دے چه ده ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل: درے کاڼی راوړه، نو ابن مسعودؓ ورته دوه کاڼی اویو روثه (خوشائی) راوړو: (فاخذ الحجرين وألقى الروثة، وقال: انها ركس)۔

نو نبی ﷺ په حجرینو (دوه کاڼو) باندے استنجاء اوکړه او دریم ئے طلب نه کړو۔ معلومیږی چه درے کاڼی واجب نه دی۔لکه چه دا استدلال امام طحاویؒ کړیدے۔

١ – **جواب**: جمهور جواب کوی چه نه منو داخبره چه نبی ﷺ صرف په دوه کاڼو باندے استنجاء کړیده او دریم ئے نه دے غوښتلے، بلکه په روایت د مسند احمد کښے داسے الفاظ راغلی دی: وكذا في الدراية: ٧٨/١:

(فالقى الروثة وقال: انها ركس، ايتني بحجر)۔

یعنی خوشائی ګوزار کړو او وے وئیل: ما ته بل (دریم) کاڼے راوړه!۔ دینه معلومیږی چه نبی علیه السلام هیچرے اکتفاء په دوه کاڼو نه ده کړے۔

او دے روایت ته بعضو منقطع وئیلے دے د ابو اسحق سماع د علقمه نه نه دے ثابت، لیکن علامه کرابیسی دده سماع ثابت کړیده۔، لیکن حافظ ابن حجرؒ فرمائی: (وجدته

موصولا عند احمد والدارقطنی من وجه آخر – الدراية : ۷۸)، ورجاله ثقات اثبات. او بيا ئے دهغے سند ذکر کړيدے.

او حافظ فرمائي : ددے روايت نه امام طحاويؒ غافل دے . انتهى.

او دغه شان روايت په دارقطني : ۵۵/۱، کښے هم ذکر دے. چه په هغے کښے داسے الفاظ دي : (انها رکس، فأتني بغيرها) اودا روايت صحيح دے، علامه عظيم آباديؒ په تعليق الدارقطني کښے ددے د کلام نه سکوت کړيدے، او علامه مبارکفوريؒ په تحفه الأحوذي : ۸۹/۱، کښے په عيني باندے سخت تکونه کړي دي چه هغه د طحاوي پے ځايه ډله کړيده، د هغے کتل هم پکار دي.

۲ – **دويم جواب** : ابن مسعودؓ چه روثه راوړيده نو هغه ته دا معلومه ده چه درے عدد ضروري دے . ځکه که دهغه په نيز درے ؤ عدد ضروري نه وے نو نبي ﷺ ته به ئے دوه کانړي راوړي وے، دخوشائي راوړلو څه معنیٰ وه ؟ خوشائي ئے ځکه ورسره راوړو چه تثليث (درے عدد) پوره شي . نو دا صحيح حديث الته داحنافو په خلاف دليل دے .

۳ – حافظ ابن حجرؒ دا **جواب** هم کوي چه نبي ﷺ ابتداء کښے ددرے کانړو په راوړلو امر اوکړو نو کله چه روثه ئے ګذار کړه، نو دوباره امرئے اونه کړو ځکه چه اکتفاء ئے اوکړه په ابتدائي امر باندے اودا دوه کانړي ئے داسے استعمال کړل چه ددريم کانړي کارئے د دويم کانړي د يو طرف استعمالولو نه واخستلو .اودا مقام دضرورت وو، چه ابن مسعودؓ ګرځيدلے دے خو بيا هم ورته دريم کانړے نه دے ملاؤ شوے. دا جواب تسليمي دے.

٤ – بنه **جواب** دا هم دے چه درے کانړو باندے امر چه کوم احاديثو کښے راغلے دے هغه قولي احاديث دي، اودا حديث د ابن مسعودؓ فعلي دے، او عند التعارض ترجيح قولي حديث ته ورکولے شي په فعلي حديث باندے، لکه چه دا قاعده مسلم عند الخصم هم ده .اول خو تعارض نشته، خو که تعارض راهم شي نو داقاعده به جاري کيږي .

تقي عثماني صاحب په درس ترمذي (۲۰۹/۱) کښے وائي چه د احنافو په مستدل حديث ابن مسعودؓ باندے دا اعتراض هم کيږي چه که د (ائتني بحجر) زيادت والا روايت ثابت نه وي، نو هم دا احتمال شته چه نبي ﷺ خوشائي ګوذارولو نه پس دريم کانړے

پخپله را اوچت کړے وی، یا ئے د ابن مسعودؓ نه طلب کړے وی، ځکه عدم ذکر مستلزم نه دے عدم الشئ لره، واذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال۔

بیا وائی : دا اعتراض بلا شبه وزنی دے۔ شیخ الهند په الورد الشذی کښے هم تسلیم کړیدے۔

۵ - جواب : که اومنو چه دریم کاڼړے ئے نه دے طلب کړے، نو عدم طلب دحجر ثالث دلالت نه کوی په عدم وجوب د ثلاثه باندے، بلکه وجوب د درے کاڼړو په نورو احادیثو سره ثابت دے، کما ذکرناها۔

خلاصه : داچه د احنافو سره هیڅ صریح صحیح حدیث نشته، صرف احتمالات دی۔ او د جمهورو علماؤ قول قوی او حق دے، د وجے ددے دلائلو نه چه ستا دماغ پرے خلاص شول۔

الفائدة البدیعة : د بول (تشو متیازو) اوچولو دپاره درے کاڼړی استعمالول ضروری نه دی، بلکه مقصود په دے کښے صرف اودس اوچول دی، که په یو کاڼړی سره وی اوکه په دوه یا دریؤ وغیره سره وی، تول جواز لری۔البته امام نوویؒ په شرح د مسلم (۱۳۱/۱) کښے لیکی چه شپږ کاڼړی به استعمالوی، درے د وړو بولو او درے د غټو بولو دپاره۔ خوددے دپاره حدیث کښے دلیل نشته۔

دا وجه ده چه احادیثو کښے په درے کاڼړو باندے امر دغټو بولو دپاره راغلے دے، نه د وړو بولو دپاره، فتدبر واحفظه فانه جدید۔

۳ - فائده : که یو کاڼړے درے **طرفونه** لری نو آیا دا د درے کاڼړو حکم لری که نه ؟۔ نو دا هم اختلافی مسئله ده په مابین د علماؤ کښے :

۱ - امام شافعیؒ، اسحقؒ، ابو ثورؒ او یو روایت د احمدؒ نه دا دے چه لوئے کاڼړے چه درے طرفونه لری او په دے سره صفائی راشی نو ددے حکم د درے کاڼړو دے۔

دلیل : دا دے چه مقصود په حدیث کښے درے کرته مسح کول د دُبر دی، دپاره ددے چه ښه صفائی راشی، اودا کار په مذکوره کاڼړی کښے هم کیدے شی سره د لحاظ د عدد (درے والی) نه او حدیث کښے بیل بیل کاڼړے استعمالول نه دی مراد، لکه ددے مثال په

عربئ ژبه کښې دادې چه عرب وائي : ضربته ثلاثه اسواط اى ثلاث ضربات بسوط۔ يعنې ما دا سړے په درے چابکو اووهلو، يعنې درے گوزارونه مې پرې په چابك سره اوکړل، نو چابك يو دے خو گوذارونه پرې درے شويدى۔ نو دلته هم کانړے يو دے خو درے ځل پرې مسح شويده۔ دا وجه ده دا علماء وائي : چه که تعيين د کانړو اوشي نو بيا پکار ده چه په لوټه، لرگي يا ټوټه باندې استنجاء اونشي۔ او حال دا چه په هغې باندې هم استنجاء کول جائز دي۔

۲ – بل طرفته د ابن المنذر مذهب دادې چه د درې کانړو نه په کمو سره استنجاء نه صحيح کيږي، اودا يو قول د امام احمدؒ هم دے۔ دليل دادې چه نبي ﷺ فرمائيلي دي چه د درې کانړو نه په کم باندې استنجاء نه کيږي (لايكفي احدكم دون ثلاثة احجار) نو که يو انسان په کانړو استنجاء کوی نو خامخا به درے استعمالوی، نه کم۔ ځکه نبي کريم ﷺ عدد متعين کړے دے۔ او په دے سره صفائي هم راځي، نو د دواړو لحاظ به کولے شي۔ كذا في المغني : ۱۸۱/۱۔

۳ – دريمه مسئله : حكم الاستنجاء :

۱ – دجمهورو علماؤ په نيز استنجاء فرض ده، په اوبو وي اوکه په کانړو۔

دلائل دا مخکښې احاديث دي چه امر اونهي په کښې راغلي دي، لړ بول او ډير بول دواړه په نجاست کښې يو شان دي۔

۲ – احنافو په نيز استنجاء کښې اقسام دي، اصل استنجاء د دوئ په نيز سنت ده (هدايه، شرح وقايه) . هدايه فصل في الاستنجاء (۷۸/۱) کښې دي :

الاستنجاء سنة، لان النبي واظب عليه ۔ نكته کښې عبد الحي صاحب ليکي : (مع الترك) ۔ يعنې نبي ﷺ کله پريخې ده، ځکه چه سنت همدے ته وائي چه نبي ﷺ هميشه کړے وي خو کله نا کله ئې پريخې هم وي۔ خودا هله سنت ده د دوئ په نيز چه کله مقعد يو درهم په اندازه گنده وي، اوکه چرے د قدر الدهم نه زيات گنده شي (مقعد نه ئې تجاوز کړے وي) نو بيا د دوئ په نيز واجب ده ۔

ليکن په دے تقسيم باندې هيڅ دليل نشته، دا په دين کښې بدعت دے ۔ ځوك چه

استنجاء ته سنت وائی او بيا د سنت دا تعريف کوی چه دا هغه شے دے چه نبی ﷺ يو کرت دوه کرت پريخے وی، نو آيا داسے چرته کيدے شی چه نبی ﷺ بول وبراز کړے وی او بيا بغير د استنجاء نه په اوبو يا په کاڼو دغسے راپاڅيدلے وی - دا خو د هر ذی عقل د عقل او د فطرت او طبيعت خلاف خبره ده، چه همداسے گنده راپاڅي، پاتے لا دا چه شريعت دے په دے کښے اجازت ورکړی !۔

که د احنافو دا مسئله عوامو ته اوکړے شی نو د احنافو نه به ډير نفرت اوکړی۔ دا صرف د متاخرينو خبرے دی، او په تقليد باندے بناء دی، تقليد انسان کوم ځائے ته رسوی ؟ په بدعاتو کښے ئے واقع کوی۔ په دے کښے څه نقصان دے چه سره د وجود د دلائلو د فرضيت د استنجاء نه استنجاء ته فرض اووئيلے شی ؟۔

بيا ددے ځائے نه ئے دقدر الدرهم مسئله مستنبطه کړيده چه ستا په جامه باندے د يو درهم په اندازه گندگی موجوده وی او ته قصدا هم هغه اونه وينځے او مونځ ورسره اوکړے نو دا مونځ اوشو، ځکه وائی چه په مقعد کښے شريعت دا اجازت ورکړيدے چه که ته هغه اونه وينځے نو جائز ده، (شرح وقايه : ١٣٩/١ : کښے دی : وقدر الدرهم من نجس غليظ كبول ودم ..... عفو، وانظر حواشي شرح الوقاية۔ دا استدلال من المقعد دے۔

(قال في الهداية : ٧٤/١) : وقدرناه بقدر الدرهم اخذا من موضع الاستنجاء۔

دا مسئله د دوئ **غلطه** ده، ځکه اول خو دانه منو چه د مقعد استنجاء کښے معافی شته دے، بلکه هغه هم شريعت فرض کړيده، كما هو قول الجمهور۔

٢ - دويم دا چه که بالفرض مقعد کښے معافی هم اوشی نو بيا قياس ته ضرورت نشته ځکه هلته ضرورت دے او په بل ځائے کښے ضرورت نشته دے۔ د جامے وينځل فرض دی، الله فرمائی : ﴿ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴾۔ جامے د هر قسم گندگئ نه صفا کړه لږه گندگی وی او که ډيره، د درهم په اندازه وی او که کمه۔ ئ

بله د تعجب خبره دا ده چه احناف وائی تقييد د کتاب الله په خبر واحد سره جائز ندے نو دلته قرآن ﴿ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴾ مطلق دے۔ نو دوئ دا څنگه مقيد کوی په قياس باندے ؟ او بيا هغه قياس هم څه په نص باندے نه دے بلکه په دُبر باندے دے۔ فتدبر !

٤ - څلورمه مسئله : استنجاء په څه شي سره کيږي ؟

آيا استنجاء صرف په کاڼو متعين ده اوکه تو ته، کاغذ وغيره استعمالول هم جواز لري ؟ـ په دے مسئله کښے اختلاف دے :

١ - اهل ظواهر وائي : استنجاء صرف په کاڼو کيږي، وجه داده چه نبي ﷺ تصريح په کاڼو باندے کړيده، نود کاڼو نه سيوا باندے استنجاء ناجائز ده، اومفهوم مخالف نه معلوميږي چه دکاڼو نه علاوه په بل څه کاغذ وغيره باندے استنجاء جواز نه لري ـ

٢ - جمهور علماء وائي چه حجر متعين نه دے بلکه دکاڼو په ځائے تو ته، کاغذ، لرگے وغيره هم قائميدے شي ـ

امام نوويؒ فرمائي : ددے حديث مفهوم مخالف لره اعتبار نشته ـ

★ وجه داده چه داداسے دے لکه ﴿وَلَا تَقْتُلُوا اَوْلَادَكُمْ مِنْ اِمْلَاقٍ﴾ که دلته مفهوم معتبر شي نو مقصود به خراب شي چه اولاد دلوږے د ويرے په وجه مه قتلوئ او ددے نه سيوا د بل څه د وجے نه ئے قتلول جواز لري ! اودا صحيح نه ده ـ

★ بله وجه داده چه حجر کښے ځکه تعين نشته چه نبي ﷺ د استنجاء بالعظم والروث والبعر والرجيع او فحم (سکاره) نه منع فرمائيلے ده، که صرف حجر متعين وے نو بيا به نبي ﷺ مطلقا منع کړے وے او صرف دا څيزونه به ئے په منع پورے نه خاص کولے ـ والتفصيل فى نيل الأوطار (١١٦/١) و شرح السنه ـ

٥ - پنځمه مسئله : په منع شوو څيزونو باندے د استنجاء کولو حکم

١ - دجمهورو علماؤ : شافعيؒ، احمدؒ، اسحقؒ، سفيان الثوريؒ، اهل ظواهرؒو او امام مالكؒ مذهب دادے چه استنجاء بالعظام (په هډوکو) او روث اوطعام باندے حرام او ناجائز ده، اودا استنجاء نه کيږي ـ

دليل : حديث د سلمانؓ دے چه په هغے کښے دی :

(وان نستنجي برجيع او بعظم) او په دے باب کښے گڼ احاديث صاحب المغنى (١٧٩/١) ذکر کړيدي، هغے ته رجوع پکار ده ـ

لکه په روايت د ترمذى (٢٩/١، بتحقيق احمد شاکر بسند صحيح) کښے د ابن

مسعودؓ نه مرفوعا نقل دی :

لا تستنجوا بالروث ولا بالعظام، فانها زاد اخوانکم من الجن ـ

دارقطنی نه ئے حدیث نقل کړیدے مرفوعا : (ان النبی ﷺ نهی ان نستنجی بروث او عظم، وقال : انهما لا یطهران). وقال اسناده صحیح ـ

۲ – د امام ابو حنیفهؒ او بعض بغدادینو قول دادے چه په هډوکو او خوشیانو باندے استنجاء جائز مع الکراهه ده، یعنے صرف مکروه قدرے ده ـ

★ **دلیل** : دا وائی چه دا څیزونه نجاست اوچوی او محل پاکوی نو دا دکانړی پشان شو ـ نو مقصود پرے حاصلیږی چه انقاء المحل یعنی ځائے پاکول دی (هدایه : ۷۹/۱)ـ

صحیح خبره داده چه که یو انسان په دے ممنوع څیزونو استنجاء اوکړی نو دده استنجاء نه ده شوے ځکه شرعی استنجاء هغه ده چه محل پاك کړے شی په هغه څیزونو چه شریعت هغه جائز ګڼړلی دی دپاره د پاکوالی، او مطلق پاکوالی ته استنجاء شرعی نه وائی ـ

بِرَجِیْعٍ : د هر څیز ګندګئ ته وائی که انسان وی اوکه دحیوان ـ په دے سره استنجاء ځکه حرام ده چه دا طهارت نه راولی ـ

اَوْ بِعَظْمٍ : په هډوکی سره استنجاء ځکه حرام ده چه (۱) فانها زاد اخوانکم من الجن : یعنے دا د پیریانو خوراك دے ـ (۲) دویم دا چه : دے سره انسان زخمی کیږی غالبا ـ (۳) دریمه وجه : املس یعنی ښوئے دے نجاست پرے نه زائل کیږی، بلکه نور انسان ګنده کوی ـ

---

٤ – وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ قَالَ : کَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ یَقُوْلُ : (اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِکَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ). مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ.

ترجمه : انسؓ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله بیت الخلاء ته داخلیدلو نو دا دعاء به ئے لوستله : اَللّٰهُمَّ الخ (ترجمه) اے الله ! زه پنا پورے د نارینه اوزنانه د خبیث (او ناپاك) شیطانانو نه پناه غواړم ـ (متفق علیه)ـ

تشريح : اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِکَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ :

١ – خبث په ضمه دخاء او سكون دباء سره دے په معنیٰ د نجاست او پليتئ او ناكاره شیئ سره دے ـ اوخبائث نه مراد معاصي او افعال ذميمه دي، داقول دابو عبيده دے ـ يعني زه پناه غواړم د پليتئ او خبيثو كارونو (ګناهونو) نه ـ

٢ – امام خطابیؒ په معالم السنن (١٦/١) كښے ليكي : چه صحيح قرأت دادے چه خبُث په ضمه دخاء اوباء سره شي او سكون د باء غلط دے ـ او د اجمع د خبيث ده، نو د خبث معنیٰ به داوي چه مذكر شيطانانو نه هم پناه غواړم، او خبائث جمع دخبيثه ده، يعني دمؤنث شيطانانو نه هم پناه غواړم (وكذا في التحفه : ١٥/١)۔

د اولني قول دليل دادے چه خبث په وزن د فعُل دے لكه كتب او په دے كښے دعربو عادت دادے چه تخفيف كوي په سكون دعينٗ كلمه سره لكه كتب او رُسُل وائي ـ

بيا په روايت د ترمذي كښے په دے دعاء كښے راوي داسے شك كړيدے چه كله (اللهم اني اعوذ بك من الخبث والخبيث وائي، اوكله الخبث والخبائث وائي ـ ليكن علامه مباركفوريؒ صاحب وائي چه صحيح خبره داده چه الخبث والخبائث اووئيلے شي، وجه داده چه په روايت دصحيح البخاري او عام رواياتو كښے همدا الفاظ راغلي دي، نو همدا قوي دي ـ

علة الاستعاذة : د قضاء حاجت په وخت كښے داستعاذے طلب كولو وجه داده چه بيت الخلاء اوګنده ځايونه دشيطانانو مراكز وي او د قضاء حاجت په وخت كښے انسانانو ته تكليف رسوي، بعضے رواياتو نه معلوميږي چه شيطانان د قضاء حاجت په وخت دانسانانو دكناتو سره لوبے كوي (فان الشيطان يلعب بمقاعد بني آدم) رواه ابوداود وابن ماجة وفي سنده مجهولان، وسيأتي بعد ـ

نو كله چه بسم الله اودا دعاء اولوستلے شي نو هغه شيطانان انسان ته تكليف نشي وركولے ـ او دهغوئ په سترګو باندے الله تعالیٰ پرده واچوي چه انسان ته نشي كتلے ـ

په المطالب العاليه (١٨/١) كښے ذكر دي چه د سعد بن عبادةؓ د قتل وجه هم داوه چه هغه په حمام كښے په ولاړه متيازے كولے نو پيريانو قتل كړو، اودا شعرئے اووئيلو :

قتلنا سيد الخزرج سعد بن عبادة رميناه بسهمين فلم نخط فؤاده ـ

بيا په دې كښې اختلاف دے چه دا دعاء به په كوم وخت كښې وائى :

(١) د جمهور علماؤ قول دادے چه كه انسان په كور كښې وى، نو لږ مخكښې به دا دعاء لولى، اوكه په صحراء كښې وى نو د عورت ښكاره كولو نه مخكښې به ئې لولي ـ اوكه بيت الخلاء ته داخل شو او دعاء اونه لوستله نو بيا به ئې په ژبه سره نه لولى، بلكه په زړه كښې به ئې صرف تيره كړى ـ

(٢) امام مالكؒ په نيز د عورت ښكاره كولو نه مخكښې اود بيت الخلاءِ ته د داخليدو نه پس به دا ذكر كوى ـ او استدلال كوى په حديث الباب باندې چه (اِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ) الفاظ په كښې ذكر دى، نو د دخول نه پس به ئې وائى ـ خاصكر زمونږ د زمانے بيت الخلاء صفا وى د ننه لوستل هم جواز لرى ـ

دجمهورو په نيز د (اِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ) نه مراد (اذا أراد ان يدخل الخلاء) دے،اودے تاويل دليل دادے چه امام بخارىؒ همدغه حديث په الأدب المفرد ص (١٩٠، رقم : ٧١٣) كښې په دے الفاظو سره روايت كړيدے :

عن انس رضى الله عنه قال : كان النبى ﷺ اذا أراد ان يدخل الخلاء قال : اللهم انى اعوذ بك الخ ـ بلكه صحيح البخارى (٢٦/١) كښې هم شته ـ

فائده نادره : په (اِذَا) لفظ كښې يو قانون واوره ! كله چه يوه مامور به د (اِذَا) سره متعلق كړے شى نو په دے كښې درے صورتونه دى :

(١) اول صورت : مامور به به د (اِذَا) دمدخول نه مخكښې اداء كول واجب وى، لكه ﴿ اذا قمتم الى الصلاة فاغسلوا وجوهكم ﴾ ـ نو غسل الأعضاء (اودس كول) به د قيام الى الصلاه نه مخكښې واجب وى۔

(٢) دويم صورت : دمامور به اداء كول به د (اِذَا) دمدخول سره سره واجب وى، لكه ﴿اِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهُ وَاَنْصِتُوْا ﴾ ـ اذا قَرَأْتَ فَتَرَسَّلْ ـ استماع او ترسل به د قرأت سره يو ځائے واجب وى۔

(٣) دريم صورت : اوكله به دمامور به اداء كول د (اِذَا) دمدخول نه روستو وى، لكه : ﴿

اذا حللتم فاصطادوا ﴾۔ ښکار به د احرام نه د فارغیدو نه پس جائز وی۔

امام مالکؒ دلته دریمه معنی اخلی، لیکن جمهور اولنئ معانی اخلی، او وجه د ترجیح هم داده، چه بیت الخلاء دګندګئ ځائے دے نو هلته ذکر اودعاء اواستعاذه کول د ادب خلاف دی۔

لیکن مونږ وایو چه که د انسان نه هیره شی نوفلش کښے دننه هم وئیلے شی، اوخصوصا دے زمانه کښے فلشونه هم صفا وی، نودننه وئیلو کښے هم څه باك نشته، خو ددے دعاء سره به ابتداء کښے بسم الله ملګرے کوی، کما تقدم۔

---

٥ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ : مَرَّ النَّبِيُّ ﷺ بِقَبْرَيْنِ، فَقَالَ : إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِيْ كَبِيْرٍ ، أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ : لَا يَسْتَنْزِهُ مِنَ الْبَوْلِ. وَأَمَّا الْآخَرُ فَكَانَ يَمْشِيْ بِالنَّمِيْمَةِ ثُمَّ أَخَذَ جَرِيْدَةً رَطْبَةً فَشَقَّهَا بِنِصْفَيْنِ، ثُمَّ غَرَزَ فِيْ كُلِّ قَبْرٍ وَاحِدَةً، قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! ، لِمَ صَنَعْتَ هٰذَا ؟ فَقَالَ : لَعَلَّهُ أَنْ يُخَفَّفَ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابن عباسؓ نه روایت دے دا فرمائی : نبی کریم ﷺ په دوه قبرونو باندے ور تیر شو نو وے فرمائیل : دے دواړو له عذاب ورکولے شی، او په څه غټ څیز کښے دوئ له عذاب نه ورکولے کیږی (چه دهغے نه بچ کیدل ګران وی) په دے دواړو کښے یو خو د متیازو نه نه بچ کیدلو، د مسلم دیو روایت الفاظ دا دی : چه متیازو نه ئے ځان نه ساتلو، اودویم کس چغل خور وو۔ بیا نبی کریم ﷺ د قجورے یو لونده څانګه واخسته، هغه ئے په مینځ دوه حصے کړه او په دواړو قبرونو ئے یوه یوه حصه ښخه کړه۔ دے لیدو سره صحابوؓ تپوس اوکړو : یا رسول الله ! تاسو داسے ولے اوکړل ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : کیدے شی چه د دوئ په عذاب کښے (هغه وخته پورے) څه تخفیف اوشی، څو پورے چه دا څانګے نه وی اوچے شوی ۔ (بخاری، مسلم)۔

تشریح : مَرَّ النَّبِيُّ ﷺ بِقَبْرَيْنِ :

فوائد الحدیث :

۱ - نبی کریم ﷺ تـه ددې عـذاب څنګه پتـه اولګیده ؟ ددې جواب دادې چه دایا کشف وو، چه نبی ﷺ تـه معجزه شوې وو، اودا کشف غیر نبی تـه هم کیدې شي (کَرَامَةٌ لَهُ)، چه د هغه اعزاز په کښې مقصد وي، لیکن په شریعت کښې ورله هیڅ اعتبار نشتـه چه بدعتیـان په کشفونو سره احکام ثابتوي. د ا یو قانون او علم نه دې چه کشف پرې انسان حاصل کړي۔

۲ - **فائده** : داخبره ثابتـه شوه چه په دې قبر محسوس کښې عذاب شته دې، بیا په روایت دبـخاري کښې ورسره داسې الفاظ راغلي دي : (وانه لکبیر) نوسوال دادې چه په نفي او اثبات کښې څه فائده ده ؟ چه اول ئې (مَا يُعَذَّبَانِ فِيْ كَبِيْرٍ) اووئیلو، اوبیا (وانه لکبیر) وائي - یعنې لوئې کار نه دې او یقینا لوئې کاردې۔

ددې یـو څو جوابونه دي : (۱) **اول جواب** دادې چـه د (ومـا یـعـذبان فی کبیر) نه مراد ګران کـار او امرِ شاقـه دې چه د هغې نـه احتـراز کول او ځان ساتل دومره ګران نه دي، که انسـان اراده اوکړي یـعـنـي دوئ له دا عذاب پداسې کار کښې نه ورکړې کیږي چه د هغې نه ځان ساتل ګران وو۔ ځان ساتل ترې آسان وو خو دوئ ځان نه ساتلو۔ او د (انه لکبیر) نه مرادِ دادې چـه لـویـه ګـنـاه ده ځـکه مونځ پرې فاسدیږي، اود انسان عمل بربادوي، ځکه حدیث کښې دي (لا یدخل الجنة قتات او نمام) اود بول باره کښې حدیث دې : (فان عامة عذاب القبر منه) ۔

۲ - **جواب** : وَمَا يُعَذَّبَانِ فِيْ كَبِيْرٍ : ای أکبر الکبائر، یعنې اکبر الکبائر (شرك او کفرؔ کښې ورلـه عـذاب نشته بلکه په کبیره ګناه کښې ورته عذاب ملاویږي ځکه نمامیت او د بول نهِ ځان نه ساتل کفر او شرك نه دې بلکه کبیره ګناه ده۔

۳ - **جواب** : دا دواړه ګـنـا هـونـه فی نفسه کبیره نه وو لیکن بار بار کولو سره او عادت جوړولو سره کبیره ګنا هونه شو، ځکه اصرار علی الصغائر سره کبیره ګناه جوړیږي ۔

٤ - **جواب** : دا هـم شـویدې چه مایعذبان فی کبیر نه مراد دادې چه دا ګناهونه دوئ ته واړه ښـکاره کیـدل د دوئ پـه ګـمـان کښې واړه وو او (انه لکبیر) نه مراد دادې چه دا عملونه

لوئي ګناه هونه دی او عذاب ئې کبير دے يعني په ظاهره انسان ته دا اعمال واړه ښکاري ليکن عذاب ئې سخت دے ۔ بناء په دے توجيه د (انه لکبير) ضمير راجع دے عذاب ته، يعني ان عذابه لکبير، وان کان الذنب ليس بکبير في زعمهما، او په دے باندے دليل روايت دابن حبان دے عن ابي هريره (يعذبان عذابا شديدا)۔

بيا په دے کښے اختلاف دے چه ددے :

قبرونو والا کافر وو که مسلمانان ؟۔

۱ – نو ابو موسیٰ المدینیؒ وغيره دا غوره کړيده چه دا دواړه کافر وو، ځکه چه په بعضے رواياتو کښے ورسره راغلي دی چه دا قبرونه زاړه دجاهليت د زمانے خخ شوی وو، لهذا کافر وو ۔ کما في رواية جابر، مرعلی قبرين من بني النجار هلكا في الجاهلية وفي اسناده ابن لهيعة، كذا في النيل (۱/۱۱۳)۔

۲– ليکن حافظ ابن حجرؒ فرمائي : الظاهر من مجموع طرق الحديث : ان المقبورين كانا مسلمين ۔ يعنے دا مسلمانان وو، وجه داده چه په روايت دابن ماجه (۱/۶۱، رقم : ۲۷۷) کښے ورسره دا الفاظ دی :

(مر النبي ﷺ بقبرين جديدين) ۔ ددے نه معلوميږی چه دا دمسلمانانو قبرونه وو ۔

★ دغه شان که دا کافر وے نو نبي ﷺ به ورله دعاء نه کولے او په (لعل) کلمه سره به ئے ورله اميد نه ساتلے۔ (كذا في حاشية البخاري و نيل الاوطار : ۱/۱۱۳)۔

اَمَّا اَحَدُهُمَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ :

البول نه مراد (بَوْلِهِ) دے يعنے دخپلو متيازو نه به ئے ځان نه ساتلو، لکه دا په بل روايت کښے راغلي دی، يعنے دبول نه به همداسے پاڅيدو لکه بعضے خلق دخوب يا دکارو بار په جامو کښے د بول کولو نه همداسے پاځي، بغير داودس اوچولو نه نوداکار هم غلط دے ۔

مسئلة : نجاسة الأبوال وطهارتها – کوم بول نجس دی ؟۔

نو اول دا خبره زده کړه چه بول په دوه قسمه دی :

۱ – **بول الانسان** : دا نجس دی او اجتناب ترے واجب دے اودا اجماعي فتویٰ ده، ځکه دا سبب دعذاب قبر دے ۔ سيوا د بول دهغه ماشوم (رضيع) نه چه پئ خوري، او د

روټئ وغيره خوراك ئے لانه وى شروع كړے، كما سيأتى حكمه ـ

٢ – **بول الحيوان** : دا په دوه قسمه دى :

الف – بول او روث او بعرات (پچے) وغيره دحيوان غير ماكول اللحم (چه غوښه ئے نشى خوړلے) لكه بغل، حمار، كلب، خنزير وغيره، نو دا هم نجس دى، اودليل دطهارت ئے نشته، او روث (خوشائى) ته نبى ﷺ (انها ركس) وئيلى دى، لكه چه مخكښے روايت دابن مسعودؓ كښے تير شو ـ اودارنګ دا قسم ابوال حمل اوقياس دى په بول الانسان باندے ـ ځكه علت مشتركه په كښے عدم اكل اللحم دے، كذا فى النيل (٦٢/١) ګوياكه دا هم اتفاقى ده ـ

(ب) بول او روث او بعرات دحيوان ماكول اللحم : لكه بول الابل والغنم والبقر والدجاجه وغيرها ـ نو په دے كښے اختلاف دے چه نجس دى كه طاهر ؟ ـ

١ – اول قول د امام ابو حنيفهؒ، شافعىؒ او ابو ثورؒ دے چه دا نجس دى، لا يجوز استعمالها للدواء ولا لغيره ـ هرقسمه استعمال ئے منع دے ـ

دلائل : ١ – **اول دليل** : دا حديث الباب دے چه (لا يستتر من البول) كښے الف لام جنسى دى ، يعنى كه د انسان بول وى اوكه د بل حيوان ـ

٢ – **دليل** : حديث د دارقطنى او حاكم دے چه امام منذرى په الترغيب (١٣٩/١) كښے راوړے :

استنزهوا من البول فان عامة عذاب القبر منه .(رواه الدارقطنى) بلوغ المرام : ٢٨٣/١، بشرح توضيح الأحكام.

وفى رواية : اكثر عذاب القبر من البول (رواه الحاكم، صحيح على شرط الشيخين)ـ

٣ – **دليل** : حديث د ابن مسعودؓ دے كما فى البخارى (٢٠٦/١) بشرح الفتح واحمد ، كوم چه مخكښے تير شو :

(فأتيته بحجرين وروثة فألقى الروثة وقال : انها ركس). أى : نجس ـ

(٢) دويم قول د امام ابو يوسفؒ دے : چه دا قسم بول نجس دى، ليكن ددوائى دپاره ئے استعمالول مطلقا جائز دى ـ (لان الضرورات تبيح المحظورات)ـ

(۳) دریم قول : دامام مالكؒ، احمدؒ، زهریؒ، محمدؒ، زفرؒ، ابراهیم نخعیؒ، امام اوزاعیؒ، عطاءؒ او بعضې نورو سلفو اود شوافعو نه دابن المنذرؒ، ابن خزیمهؒ، ابن حبانؒ، وغیره دې۔ هغه داچه دا ابوال طاهر دی، خو مستقذر دی، یعنې طبیعت ترې کرکه کوی، بدئې گنړي۔

ددې جمهورو علماؤ دپاره شپاړس (۱۶) **دلائل** دی، چه تفصیل سره په فتاوئ الدین الخالص کښې ذکر شوی دی (۴۱۷/۱)۔

لیکن اول دوئ جوابونه کوی روستو دلائل ذکر کوی۔

د اول قول والا د اول او ثانی دلیل نه جواب :

۱ – د (لایستتر من البول) او (استنزهوا من البول) نه جواب دادې چه الف لام کښې اصل او حقیقت عهد خارجي دی، باقي مجازي دی ـ الا اذا جاء دلیل صارف یصرفه عن حقیقته ـ نو مراد د (البول) نه بول الانسان دی ـ لکه چه دا په بل روایت د بخاری کښې راغلی دی (کان لا یستتر من بوله) دا دلیل د الف لام عهدی هم دې ـ

قال البخاریؒ : ولم یذکر سوی بول الناس، فالتعریف فی البول للعهد، قال ابن بطال : اراد البخاری ان المراد بقوله : کان لا یستتر من البول : بول الانسان، لا بول سائر الحیوان، فلا یکون فیه حجة لمن حمله علی العموم فی بول جمیع الحیوان ، الخ. کذا فی النیل (۶۱/۱)۔

اوکه چرې الف لام عهدی وانخلو نو دا نور روایات ضائع کیږي (کوم چه راروان دی)۔

۲ – او د حدیث د ابن مسعودؓ (انها رکس) نه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په مجموع الفتاویٰ (۵۷۸/۲۱) کښې (۱) داسې جواب کوی چه : رکس په معنیٰ د مرکوس دې یعنې مردود شې دې، او نجس نه دې، اوډیر اشیاء مردود مرکوس دی، لیکن نجس نه دی، لکه هډوکې، د لیکلو کاغذ، توته وغیره پدې استنجاء نه کیږي سره ددې چه نجس ندی۔

(۲) یا داچه دا یقین نشته چه دا روثه د ماکول اللحم وه که د غیر ماکول اللحم ؟ (واذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال) اود لفظ رکس نه معلومیږي چه دا د غیر ماکول اللحم روثه ده، نو ددې حکم د رجیع (گندگئ) پشان دې چه استنجاء پرې نه کیږي، یا ددې وجې نه چه دا گیاه دجناتو دچارپایانو ده، هرکله چه یقین رانغلو نو روثه د ماکول اللحم ته نجس وئیل

صحيح نشو ـ

۳ - **بل جواب** : شوکانیؒ ذکر کړي چه روثه اګرچه د اس، قچر او خر ټولو خاشنو ته شامل ده لیکن دلته ددې روثې نه مراد روثه دحمار ده، لکه امام ابن خزیمه په خپل صحیح کښې ددې روایت سره دا لفظ زیاتی کړیدې چه (انها روثة حمار) ـ نو بناء په دې دا دغیر ماکول اللحم روثه شوه چه اتفاقي حرامه او نجس ده، فلا تعارض في الأحاديث ـ

د جمهورو دلائل :

۱ - **اول دلیل** : حدیث العرنیین دې (بخاری : ۳۶/۱)، چه دا یو قوم وو، چه د عرفات نه شاته اوسیدل، مدینې طیبې ته راغلل خو دهغې آب وهوا ورسره موافقه رانغله، خیټې ئې خرابې شوې، رنګونه ئې زیړ شو، نو نبي ﷺ ورته حکم اوکړو چه دبیت المال اوښانو ته لاړ شئ (اشربوا من ابوالها والبانها) اود هغې پئ او تشې متیازې څکئ نو ښه به شئ ! هغوی چه لاړل دا ئې اوڅکل، ښه شو نو د اوښانو شپونکې ئې قتل کړو الی آخر القصه ـ

نو داحدیث دلیل دې په دې چه بول د ماکول اللحم طاهر دی، ولې که نجس وې نو نبي ﷺ به دهغې په څکلو باندې ورته حکم نه کولو، ځکه چه د صحیح مسلم په حدیث کښې دی : (ان الله لم یجعل شفائکم فیما حرم علیکم) ـ

که نجس وې نو بیا خو په نجس شئ کښې شفاء نشته دې، نو دوئ ته څنګه حکم کوی چه تاسو دا اوڅکئ ښه به شئ ـ دغه شان که دا خصوصیت دهغوئ وې نو نبي ﷺ به بیان کړې وې چه دا ستاسو خصوصیت دې، اود باقي امت دپاره دا څکل جائز نه دی، که څوك ئې دهغوئ پورې خاص کوی نو بیا هره خبره دصحابوؓ پورې خاص کولو دعوئ کیدلې شي، نه ! بلکه تخصیص دلیل غواړي او هغه دلته نشته ـ

۲ - **دلیل** : حدیث د جابرؓ نمبر (۵) دې چه په باب مایوجب الوضوء کښې تیر شو :

قال : اصلی فی مرابض الغنم ؟ قال : نعم ! قال : أصلی فی مبارك الابل ؟ قال : لا .رواه مسلم ـ دغه شان روایت دابو هریرةؓ نه امام ترمذیؒ نقل کړې (۸۱/۱) :

قال رسول الله ﷺ : صلوا فی مرابض الغنم، ولاتصلوا فی أعطان الابل ـ

طریقه استدلال : هرکله چه نبی ﷺ په غوژل دګډو بزو کښې مونځ کول جائز کړل اودا حکم ئے ورته اونه کړو چه څه څادر، بزکے، چټائی وغیره پرے واچوئ چه د نجاست نه محفوظ شئ ! نو دا دلیل دے چه بول الغنم او بعرات دهغے پاك دی، اودارنګ داوښانو هم، لیکن نهی دمانځه نه په اعطان الابل کښې ددے وجے نه نه ده شوے چه ګنے دانجس دی بلکه ددے وجے نه اوشوه چه اوښان شیطانان دی اود انسان نه ډیرنفرت کوی، نو په انسان باندے مونځ ګډوډ کوی، دغه شان انسان هم ترے ویره کوی۔ یا نهی پدے وجه شویده چه هلته کښې شیطانان موجود وی۔

۳ - دلیل : حدیث دانس مالك رواه البخاری (۶۱/۱) ابو التیاح فرمائی : ما انس بن مالك نه واوریدل چه فرمائیلے :

کان النبی ﷺ یصلی فی مرابض الغنم قبل ان یبنی المسجد . (أی النبوی)۔

دا هم صریح دلیل دے چه نبی ﷺ دصحابوؓ سره په داسے مقام کښې مونځ کړیدے، چه ګډے بزے به په کښې ترلے شوے اودا هم نه دی نقل چه دوئ ددے دپاسه څه شے خور کړے وی۔

٤ - دلیل : امام بخاری په : باب ابوال الابل والدواب والغنم ومرابضها، کښې د ابو موسیٰ اشعری اثر تعلیقا نقل کړے چه ابو موسیٰ په خوشیانو وغیره باندے دپاسه اودریدو او مونځ ئے اوکړو، چا ورته اووئیل چه اخوا دیخوا پاك ځائے کښې دے ولے مونځ اونه کړو چه دے غوژل کښې اودریدے ؟ ابو موسی اشعری ورته جواب ورکړو : (ههنا وثم سواء) دا ځائے اودغه بل ځائے دواړه برابر دی په پاکوالی کښې (۳۶/۱)۔

حافظ ابن حجر فرمائی : دا حدیث ابن نعیم (چه د بخاری شیخ دے) او سفیان الثوری په خپل مسند کښې متصل ذکر کړے دے (فتح الباری : ۲۶۷/۱)۔

۵ - پنځم دلیل : حدیث دابن مسعود (کوم چه راتلونکے) دے :

قال : قال رسول الله ﷺ : لا تستنجوا بالروث ولا بالعظام، فانها زاد اخوانکم من الجن ۔

رواه الترمذی : ۱۱/۱، والنسائی : ۱۶/۱ ۔

طریقه داستدلال : داده چه نبی ﷺ مونږ په پچو او خاشنو باندے داستنجاء کولو

نه منع کړو، او وجه ئې دا او خودله چه دا د پیریانو د چارپایانو خوراکه ده، که استنجاء پرې اوشي نو نجس کرځي۔ نو که دا چرته پخپله نجس وې نو بیا خو دغه روث او بعره په کوم چه استنجاء شوې وي او په کوم چه نه وي شوي هیڅ فرق نشته، نو بیا هرکله چه د استنجاء کولو نه مخکښې دا پلیت شو، نو نبي ﷺ بیا ولې مونږ د استنجاء کولو نه په دې څیزونو باندې منع کړو ؟۔

۲ – بلـه دا چه که روث او بعر (خاشنه او پچې) وغیره نجس شي نو بیا خوددې په خوراك سره دحیوان نه جلاله جوړیږي، نو دغه حیوان خوراك خو د جناتو دپاره هم حرام دې ۔ نو بیا څنګه نبي ﷺ مسلمانانو پیریانو ته د نجس شي په خوړلو امر کوي ؟

٦ – **دلیل** : نبي ﷺ مسجد حرام ته په اوښه باندې سور ننوتلو او طواف ئې اوکړو، دغه شان ام سلمهؓ ته ئې اجازت ورکړې وو چه په سورلئ باندې طواف اوکړي (کما في البخاري : ۱/۲۲۱، ومسلم : ۱/۴۱۳)۔

د دې نه معلومیږي چه که بول د اوښانو نجس وې نو نبي ﷺ به مسجد حرام پاکې زمکې ته نه داخلولې، ځکه چه چارپایانو سره خو دا عقل نشته چه دا پاك ځائې دې بول په کښې نه دي پکار، بلکه هغوئ له چه کله بول ورشي کوي ئې، نو که بول او بعر نجس شي نو بیا سوال دا دې چه نبي ﷺ ولې پاك مسجد حرام ته دا حیوان داخلوي چه دمتیازو کولو خطره ئې ده ؟

دارنګه په دې داخلولو کښې څه ضرورت هم نه وو، بلکه امت ته دا ښودل وو چه بول ددې قسم حیوانانو پاك دي او طواف په حال الرکوب کښې جائز دې ۔ نو په اشاره النص سره ثابته شوه چه دا قسم بول او خاشنه وغیره پاك دي۔

۷ – **اووم دلیل** : شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائي : عام امت په درمندونو کښې په غوایانو باندې غوبل کوي، او دا حیوانات خامخا بول کوي، او څوك ئې حفاظت نه کوي۔ معلومیږي چه د دوئ بول نجس نه دي، باجماع الأمه ۔

۸ – **اتم دلیل** : عام صحابهؓ او تابعینؒ چارپایان ساتل، او د دوئ نه دا نقل نه دي چه ابوال او ارواث او ابعار د ماکول اللحم نجس دي، لکه عبد الله بن مغفلؓ به مونځ کولو او

په قدمونو پورې به ئې دخوشیانو اثر وو، دارنګه قول د ابو موسیٰ اشعری ؓ تیر شو، عبید بن عمیرؓ نه نقل دی دا فرمائي : زما ګډې بزې دی اومسجد کښې پچې کوی (اوزه ورته نجس نه وایم)، ابراهیم نخعیؒ دهغه شخص باره کښې فرمائي چه خوشیان ورپورې لګیدلی وی اومونځ کوی : چه په دې کښې هیڅ باك نشته ۔ابو جعفرؒ الباقر او نافعؒ مولی ابن عمرؓ نه نقل دی چه پتګې ته داوښ پچه اورسی هیڅ باك نشته ۔

اوکومو بعضو صحابوؓ او تابعینوؒ نه چه وینځل نقل دی نو دا دلیل د نجاست نه دے بلکه دا د نظافت پطور دی، زمونږ خبره په طهارت کښې ده، نه په نظافت کښې، مونږ هم وایو چه نظافت ښه شے دے، خوکه چا په کښې مونځ اوکړو، مونځ ئې کیږی ځکه طاهر دی، وینځل ئې واجب نه دی، اګرچه نظافت مستحب عمل دے، خودلته خبره دفتویٰ په درجه کښې ده چه څوك په داسې حالت کښې مونځ اوکړی نو آیا اعاده به کوی که نه ؟۔ نوعام علماء وائي چه اعاده نشته، فلا استدلال للمبتدعة ۔

۹ – دلیل : دا بلویٰ عامه ده،که دا څیزونه نجس وے نو نبی ﷺ به ددے بیان کړے وے، ځکه هغه د بیان دپاره راغلے وو، بلکه حدیث کښې دی : (وما سكت عنه فهو مماعفي عنه). وفي رواية : وسكت عن اشياء رحمه لكم . (رواه ابوداود في الأطعمة موقوفا على ابن عباس وقد هذان الحديثان في باب الاعتصام بالكتاب من المجلد الأول ص (٦١)۔

اوکوم حدیث دجابرؓ کښې چه راغلی دی : (ما اكل لحمه فلا بأس ببوله – البيهقي : ٢٥٢/١، الدارقطني : ٤٠١/١) څوك ورته موقوف وائي، څوك ورته مرفوع نو دا حدیث ضعیف دے، قابل استدلال نه دے ۔ وسیأتی فی الکتاب۔

۱۰ – دلیل : صلى ابن مسعود وعلى بطنه فرث ودم من جزر نحرها، ولم يتوضأ. وفي رواية : ثم اقيمت الصلاة فصلى ولم يتوضأ (ابن ابی شيبة : ٣٩٢/١، عبد الرزاق رقم : ٤٥٩، الطبراني في الكبير : ٢٨٤/٩، تمام المنة ص : ٥٢، بسند صحيح)۔

یعنے : یحییٰ بن الجزارؒ فرمائي : ابن مسعودؓ په داسے حال کښې مونځ اوکړو چه په خیټه ئې خوشیان او وینه داوښانو وه کوم چه ئې ذبح کړی وو، اوددے نه ئې اودس اونه کړو۔

باقی دلائل په فتاویٰ الدین الخالص (٤١٩/١) او مجموع الفتاویٰ (٥٤٤/٢١) کښې

تفصيلا اوګورئ۔

يَمْشِيْ بِالنَّمِيمَةِ : نميمه ماخوذ دے د نَمْنَمَ نه چه په اصل کښے دځادر نقش اوښائسته کولو ته وائی، چغل خور انسان هم خبره ښائسته کوی۔ نميمه په اصطلاح کښے (نقل كلام الغير على وجه الفساد) (يعنے چغلی کول)۔ ديو نه خبره بل چا ته ددے دپاره ورل چه فساد او ورانے راشی ۔ داکار ګناه کبيره ده، حديث کښے دی : (لايدخل الجنة نمام، وفی رواية : قتات) متفق عليه۔ بل حديث کښے دی : (من كان ذا وجهين فى الدنيا كان له يوم القيامة لسان من نار)، اودا لوئے سبب دعذاب قبر دے ۔

ثُمَّ اَخَذَ جَرِيْدَةً رَطْبَةً : جريده د کجورے ځانګے اوڅکے ته وائی، نبی ﷺ دا ولے په دے قبرونو باندے اودروله، ددے څه حکمت دے ؟۔

جواب : ددے حکمت بعضے علماؤ دا بيان کړے چه نبی ﷺ دالله نه د دوئ دپاره د تخفيف العذاب سوال اوکړو نو الله ورله شفاعت قبول کړو تر هغه وخته پورے چه دا څوکه نه وی اوچه شوی، لکه دا په حديث دجابرؓ فی آخر مسلم (٢٣٥/٨) کښے دی۔ (انی مررت بقبرين يعذبان فاحببت بشفاعتی ان يرفه عنهما مادام الغصنان رطبين)۔

ليکن داخبره هله صحيح ده کله چه دواړه حديثونو کښے يوه واقعه وی، ليکن که واقعه جدا شی نو بيا هم دا احتمال قوی شته چه دا شفاعت د نبی ﷺ دے ۔ وصوّبه الألبانی فی تعليق المشكاة واحكام الجنائز۔

٢ – بله وجه داده (ببركة يدهِ) چه دا د نبی ﷺ د لاس په برکت سره دے چه تر دغه وخته پورے ترے عذاب سپك شو اودا مطلب نه دے چه په لوندوالی د ځانګه کښے اثر دے چه د دے نه بيا مبتدعين استدلال کوی چه ځانګه چه لونده وی نو ذکر کوی، نو قبرونو باندے ذکر او تلاوت مستحب دے، لکه چه صاحب د تنظيم الأشتات (١٤٣/١) دا فاسده خبره کړيده۔ وکذا فی حاشية المشكوة : واستحب العلماء تلاوة القرآن عند القبر لهذا الحديث اذ تلاوة القرآن اولىٰ بالتخفيف من تسبيح الجريد ۔

ددے **جواب** دادے : چه دا بناء الفاسد على الفاسد دے ځکه چه تلاوت او ذکر عبادت دے، او عبادت په قياسونو باندے نه ثابتيږی، ددے دپاره نقل ضروری دے۔ که په مقبره

کښې د قبرونو خواته تلاوت جائز او مستحب وے نو نبی ﷺ به امت ته ددے بیان کړے وے هغه خو بیان دپاره راغلے وو، ضرور به ئے دا فرمائیلی وے چه قبرونو خواته تلاوت کوئ څکه مړو ته فائده رسی، لیکن کله چه هغوئ نه دا ثابته نه ده نو بیا دا کار بدعت دے۔

۲ – دویمه دا چه حدیث کښې خو دا خبره نشته چه دا څانګه تسبیح وائی څکه عذاب کښې تخفیف راځی، بلکه حدیث د مسلم نه معلومه شوه چه نبی ﷺ سفارش کړیدے اودا د څانګې داوچیدو پورے قبول شو۔ که چرے نفس تسبیح وئیل سبب دتخفیف عذاب وے نو بیا خو د قبر خاورے اوجته دمړی، دا ټول څیزونه تسبیح وائی، نودے څانګې نالولو ته څه ضرورت وو ؟ هر شے د الله ذکر کوی، کما فی القرآن : ﴿ وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَٰكِنْ لَا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ﴾ اسراء۔

دلته مقیس علیه صحیح نه دے نو مقیس هم باطل شو۔

۳ – دریمه وجه داده : چه د جمهورو علماؤ په مذهب کښې په مقبره کښې تلاوت القرآن مکروه دے، امام ابو حنیفهؒ فرمائی : په مقبره کښې تلاوت کول مکروه دی، امام احمدؒ نه مشهور روایت دادے چه مکروه دے، اوهمدا د امام شافعیؒ مذهب هم دے۔ صرف امام محمدؒ په کښې ګنجائش ورکړے۔

انظر تفصیل المسئلة فی مقدمة ریاض الصالحین للألبانی، واقتضاء الصراط المستقیم لشیخ الاسلام . ص (۱۸۲)۔

شیخ الاسلام رحمه الله فرمائی :

ولا یحفظ عن الشافعی فی هذه المسألة کلام، وذلك لان ذلك کان عنده بدعة، وقال مالك : ما علمت احدا یفعل ذلك، فعلم ان الصحابة والتابعین ما کانوا یفعلونه (اقتضاء)۔

یعنے د امام شافعیؒ نه په دے مسئله کښې د جواز هیڅ قول محفوظ نه دے، اودا څکه چه دا کار د هغه په نیز بدعت وو، امام مالك فرمائی : ماته هیڅوك معلوم نه دے چه دا کارئے کړے وی۔ دے نه معلومه شوه چه صحابهؓ او تابعینوؒ به دا کار نه کولو۔

(وانظر الاختیارات العلمیة لشیخ الاسلام ص : ٥٤، آپ کے مسائل اور انکا حل للشیخ مبشر احمد ربانی)۔

مسئله بديعه : په قبر باندې څه شي نالول (اودرول) څنګه دي ؟

جواب : دې کښې ډير څيزونه دي : (۱) شمع، ګنبدونه، غلافونه، منارې اودرول په قبر باندې ټول حرام او باطل کار دې، هيڅ دليل په شريعت کښې دجواز نشته۔

فقهائے احنافو هم ددې څيزونو ترديد کړيدې ۔ تنظيم الأشتات ص (۲۶۹) کښې ليکي چه د مذاهب اربعه ؤ په دې اتفاق دې چه دا کارونه حرام دي ۔

۲ – دويم ګياه، لرګے وغيره اودرول، نو په دې کښې د علماؤ درې قوله نقل دي :

۱ – اول قول : دادې چه دا کار د نبي ﷺ پورې خاص وو، داد هغه دلاس برکت دې، نور امت به په دې سره نشي قياس کولے، اودا د نبي ﷺ عادت نه وو چه په قبرونو به ئې څه شي نالولو، داوجه ده چه صحابو ؓ څکه تپوس کړيدې چه (لم صنعت هذا يا رسول الله ؟) دا کار دِې ولے اوکړو اے د الله رسوله !، فهذه واقعة حال لاعموم لها ۔او په نبي ﷺ باندې غير نبي نشي قياس کولے ۔ څکه چه د پيغمبر ﷺ په دې کار سره په مړي تخفيف راغلو ليکن د نورو خلقو په چوکه اودرولو باندې پته نه لګيږي ۔

۲ – دويم قول : دادې چه دا خصوصيت د نبي ﷺ نه دې بلکه عام دې، دليل ددې خبرې دادې چه بخاري (۱۸۱/۱) کښې دي چه بريده بن الحصيب ؓ اودارنګه ابو برزه الأسلمي ؓ وصيت کړې وو چه زمونږ د مرګ نه پس زمونږ په قبر باندې دوه څانګې نالے کړئ، نوکه دا عمل صرف د نبي ﷺ پورې خاص وے نو دې صحابه کرامو ؓ ولے وصيت کولو ؟ ليکن قول اول والا جواب کوي چه دا ددې دوه صحابو ؓ اجتهادي عمل دې، استدلال ئې ددې حديث نه کړيدې او بل صريح دليل ورسره نشته ۔

۳ – دريم قول : دادې چه دا قسم اعمال نبي ﷺ عموما نه دي کړي، بلکه دا يو کرت صرف ثابت شو، نوکه يو انسان د نبي ﷺ د اقتداء په نيت يو څل دوه څله دا عمل اوکړي نودا به ان شاء الله جائز وي۔ خو دائمي عملِ به ترې نه جوړوي ۔ دارنګه ددې نه به نور محرمات نه ثابتوي چه شمع ګنبدونه وغيره د قبرونو دپاسه جوړوي ۔ اوددې قول تائيد دادې چه عام صحابو ؓ چرته داسې وصيت نه دې کړې، سيوا ددې دوه صحابو ؓ نه، نو په دې قول کښې تطبيق ددې دواړو قولونو هم دې ۔

مناسبة الحدیث :

۱ - من آداب الخلاء : الاستنجاء بالأحجار او بالماء۔

۲ - د بول نه به ځان ساتې همداسې به دګندګۍ نه نه پاڅې، ورنه په عذاب قبر کښې به مبتلا شې ۔

---

۶ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (اِتَّقُوْا اللَّاعِنَیْنِ، قَالُوْا : وَمَا اللَّاعِنَان یَا رَسُوْلَ اللهِ ، قَالَ : اَلَّذِیْ یَتَخَلّٰی فِیْ طَرِیْقِ النَّاسِ اَوْ فِیْ ظِلِّهِمْ) . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ابو هریرةؓ نه روایت دے دا فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : تاسو ځان بچ کړئ د هغه دوه ځیزونو نه چه سبب د لعنت جوړیږی، صحابوؓ عرض اوکړو : یا رسول الله ! دوه لعنتی ځیزونه کوم کوم دی ؟ وے فرمائیل : یوخو دادے چه یو سړے د خلقو په لارو کښې لوئی بول اوکړی، دویم دا چه یو سړے د خلقو د سوری لاندے لوئی بول اوکړی ۔ (مسلم)۔

تشریح : اِتَّقُوْا اللَّاعِنَیْنِ الخ : یعنې ځان اوساتئ د هغه دوه ځیزونو نه چه سبب د لعنت دی، او لعنت راکاږی، د لاعنین نه مراد الأمرین الجالبین للعنة دی، یعنې انسان په لعنت کښې واقع کوی۔

لعنت ویونکی څوک دی ؟

۱ - نو یاخو الله تعالیٰ دے، الله تعالیٰ پرے لعنت وائی، ځکه دا خلقو ته ضرر رسوی ۔ ۲ - یا لعنت ویونکی خلق دی، لکه یو سړے په داسې ځائے کښې متیازے اووینی نو د هغه د خولې نه د لعنت الفاظ راوځی وائی په دے متیازے کونکی دے لعنت وی داسے ځائے ئے خراب کړیدے، ظاهره داده چه دواړه لعنت کونکی مراد دی، الله اود هغه مخلوق ۔ یعنې ددے کارونو په کولو سره انسان د الله تعالیٰ په لعنت او د انسانانو په لعنت کښې اخته کیږی ۔

۲ - یا لاعن کلمه په معنیٰ د ملعون راځی او نائب فاعل محذوف دے ای الملعون

فعلهما او فاعلهما۔ يعنې د هغه دوه كارونو نه ځان اوساتئ چه د هغې په كولو يا كونكي باندې لعنت وئيلې شي۔

رسول الله ﷺ اول داخبره اجمالًا ذكركړه دپاره ددې چه صحابهٔ متوجه شي اوهغه ئې مجبور كړل تپوس كولو ته، ځكه چه دتپوس كولو نه پس جواب ته انسان ښه متوجه وي ـ بيا په دې حديث كښې د لعنت دوه سببه ذكر شو (١) يو بول كول په لارو دخلقو كښې (٢) او بل په سورو كښې ـ اونورو احاديثو كښې نور اسباب هم ذكر دي، ځكه چه دا قاعده ده چه (التنصيص بالشئ لا ينفي ما عداه) يعنې په يو شئ باندې چه تصريح اوشي نودا نفي د ما سيوا نكوي، نو ددې حديث دامعنىٰ نه ده چه ددې دوه ځايونو نه ما سيوا كښې بول براز كول جائز دي، بلكه روستو حديث كښې درې ځايونه ذكر دي :

اتقوا الملاعن الثلاثة البراز في الموارد وقارعة الطريقة والظل ـ ګودر هم ورسره ذكر شو ـ بيا كه ددې سره علت مشتركه ملګرې كړې چه په دې كاركښې مقصد خلقو ته ضرر رسول كيږي، نو خبره به ډيره عامه شي، يعنې هر هغه ځائې كښې چه هلته بول كولو سره انسانانو ته ضرر رسي نو بول وبراز په كښې كول حرام دي اود لعنت سبب دې، ددې حديث د علت د وجې نه يا د نورو دلائلو شرعيه ؤنه معلوميږي چه: لا ضرر ولا ضرار في الاسلام ... الحديث (جامع العلوم والحكم : ١/٤٠٤، لابن رجب، و الصحيحة رقم : ٢٥٠، بسند صحيح بمجموع الطرق)۔ او ضرري څيز به د لارې نه لرې كولې شي ـ نوددې په حكم كښې هر چمن، لاره اونمر ته د خلقو د ناستې ځائې، اجتماع ګاه اوهر هغه ځايونه دي چه خلق ترې فائده اخلي نو دلته به بول وبراز كول ناجائز وي ـ

اَلَّذِيْ يَتَخَلّٰى : دلته مضاف حذف دې، اى تخلّي الذي يتخلي، يا عمل الذي يتخلي ـ يعنې سبب د لعنت د هغه سړي عمل دې چه الخ ـ دامضاف ځكه مقدر كوو چه حمل د (الذي) په اللاعنان باندې صحيح شي، ځكه د لاعنان نه مراد امرين دي، كما مر ـ اوكه د (اللاعنان) نه مراد ملعونين شي، لكه كله لاعن په معنىٰ د ملعون سره هم راځي نو بيا تقدير ته ضرورت نشته ـ اومراد د تخلي نه بول او براز كول دي، يعنې ځان خالي كول دورو او غټو بولو نه ـ

اَوْ فِیْ ظِلِّهِمْ : أى الذى يتخلى فى ظل الناس ـ دظل نه مراد هغه سوري دي چه په هغې سره خلق فائده اخلي، انسانان دهغې لاندې اوده كيږي، كيني، جرګې كوي، ګډې بزې ترې لاندې اودروي. او مطلق ظل (سورې) نه دې مراد، ځكه چه نبي ﷺ به دكهجورې دسورې لاندې قضاء حاجت كولو، خو هغه به شاړ سورې وو چابه ترې فائده نه اخستله ـ

---

٧ – وَعَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (اِذَا شَرِبَ اَحَدُكُمْ فَلَا يَتَنَفَّسْ فِي الْاِنَاءِ، وَاِذَا اَتَى الْخَلَاءَ فَلَا يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِيْنِهِ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : ابو قتادة رضي الله عنه نه روايت دې دا فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دې : كله چه په تاسو كښې څوك اوبه څكي نو (د اوبو څكلو) لوښي كښې دې ساه نه آخلي، او هركله چه بيت الخلاء ته لاړ شي نو خپل ذكر (خاص اندام) له دې خپل ښي لاس نه وروړي ـ (بخاري، مسلم).

تعارف : د ابو قتاده رضي الله عنه :

انصاري، سُلمي مشهور صحابي دې، د نبي ﷺ لوئي شهسوار دې، په نوم كښې ئې اختلاف دې حارث بن ربعي دې يا عمرو يا نعمان دې، په كنيه ډير مشهور دې، غزوه احد او مابعد ټولو غزواتو ته حاضر شويدې. دا په صحابوؓ كښې ښكاري وو، واقعات ئې مشهور دي. په كوفه كښې په سنه (٥٤) كښې د (٧٠) كالو په عمر وفات شويدې ـ (١٧٠) احاديث ئې امت ته رانقل كړي دي ـ رضي الله عنه ـ

تشريح : فَلَا يَتَنَفَّسْ : په دې جملو كښې مناسبت دادې چه په دې كښې داوبو څكلو اوبيا دهغې د بولو په لاره خارجولو طريقه ښائي نو ځكه ئې دواړه په يو حديث كښې جمع كړيدي.

په اوبو كښې د ساه نه اخستلو **حكمت** دادې :

١ – چه ددې نه په جګر كښې شرقه بيماري پيدا كيږي ـ ٢ – دويم : كيدې شي چه د پوزې نه ئې څه خارج شي نو اوبه به درباندې خرابې كړي، يا به بل دپاره خرابې شي ـ ٣ – يا په دې سره داوبو يخوالې ختميږي، ځكه دانسان ساه ګرمه ده ـ

٢ - **فائده** : اوبـه پـه يـو ساه باندې څکل هم جائز دی، کله چه لږې څکی، او په درې هم جائز ده کله چه ډیرې څکی، اوپه دوه هم جائز ده۔ خو چه کله ډیرې څکی نو بیا به په یـو ځل څـکـلـو کـښـې ساه په مینځ کښې نه اخلی ۔ اوکه ساه په کښې نه اخلی نو هم جواز لری ۔ **دليل** : (ترمذی : ٢/١١، باب ما جاء في الشرب بنفسين، مشكاة : ٢/٣٧١، حديث ابی سعید کښې ذکر دی)۔ او د حديث الباب د (فلا يتنفس في الاناء) کښې صرف د تنفس نه نهی راغلې ده نو دا صورتونه په کښې جائز دی، کله چه تنفس نه وی، او د بل حديث د درې ځله سکلو نه معلومیږی۔

فَلا يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ : **سوال** : دې مسئلې ته څه ضرورت دې چه وائی ښې لاس ذکر له مه وړئ ؟ **جواب** : وجـه داده چـه د بـعـضـې خلقو متیازې بغیر ددې نه نه کیږی چه ذکـر لـه ګـوتـې ور نـه وړی، یا ئې د خـصـیـتـیـنـو نـه جدا کړې نه وی، نو نبی ﷺ ورته ادب بیانوی چه که دا کار کوې نو په ښی لاس ئې مه کوه بلکه ګس لاس استعمال کړه ۔

مسئله بديعه : په عام اوقاتو کښې **ذکر په ښی لاس نیول** جواز لری اوکه نه ؟۔

پـه دې کـښـې دوه قوله دی : (١) اول قـول دادې چـه مـس الـذکـر صرف په وخت دبول او استـنـجاء کښې ناجائز دې، دلیل دادې چه په دې روایت کښې د وخت د بول پورې خاص دې، اودغـه شان بل روایت کښې دی (اذا بـال احـدکـم فلا يمس ذكره بيمينه ولا يستنج بيمينه) ، صحيح ابن ماجه رقم : ٢٥٠، وصحيح ابی داود : ٢٣، فتح الباری : ١/٢٠٤۔

نـو دا قسـم روایـاتو کښې نهی د مس الذکر نه مقیده ده په حالت د بول پورې، او په عام حـالاتـو کښې ذکر له ښې لاس ور وړل جواز لری ۔ اوکوم روایاتو کښې چه مطلقًا نهی راغلې ده د مس الذکر نه، نو هغه به حمل وی په دې مقید باندې، ځکه علت یودې وهو الحرمه۔

٢ - **قول ثانی** : دادې چه مس الذکر بالیمین مطلقًا ناجائز دې، که حالت د بول کښې وی اوکـه بـغـیـر د حالت د بول نه وی، وجه داده چه هرکله حالت د بول کښې د نیولو نه منع اوشـوه، سره ددې نه چه ضرورت هم په دغه حالت کښې شته، نو په عام حالت کښې خو په طریقه اولیٰ سره به منع وی۔ ولې چه حاجت هم نشته ۔

د قـول اول (جواز) دپاره بل دلیل دا هم دې چه حدیث د طلق بن علی ؓ کښې دی (انما هو

بضعة منك) نو دا دلالت كوي په جواز باندې په هر حال كښې، او حالت د بول په دې حديث الباب سره خارج شو، نو باقي حالاتو كښې جواز پاتې شو۔

او په حالت د بولو كښې په ښي لاس نيولو نه په دې وجه منع راغلې ده چه هر كله استنجاء باليمين منع شوه نو د مس الآله نه هم منع راغله ځكه چه دواړه د يو بل سره مجاور دي، نو يو مجاور لره حكم د بل وركولې شي ۔ او د ښي لاس په متيازو باندې د پليت كيدو احتمال هم په كښې شته نو ځكه منع اوشوه، وهو الراجح۔

---

٨ – وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (مَنْ تَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ ، وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوْتِرْ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : ابو هريرةؓ نه روايت دې فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كوم سړې چه اودس كوي هغه له پكار دي چه هغه پوزه هم سونړ كړي، اوكوم سړې چه په كاڼړو سره استنجاء كوي، هغه له پكار دي چه طاق كاڼړي استعمال كړي ۔ (بخاري، مسلم)۔

تشريح : وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوْتِرْ : داستجمار دوه معاني دي (١) اوله معنى استنجاء بالجمره، يعنې كاڼړي باندې استنجاء كول (٢) دويمه معنىٰ : خوشبوئ استعمالول ۔ ليكن دلته اوله معنى مراد ده ۔

فَلْيُوْتِرْ : دا لفظ په يو كاڼړي سره استنجاء كولو ته هم شامل دې، ليكن دلته به دا مطلق حمل وي په مقيد باندې كوم چه په نورو رواياتو سابقه ؤ كښې راغلې دې، چه درې كاڼړي استعمالول واجب دي۔ او د فليوتر نه به مراد داوي چه (فليوتر بثلاث، أو خمس، أو سبع أو غير ذلك) نو مازاد على الثلاثه د (ومن لا فلا حرج) دوجې نه جائز دي، او درې واجب او فرض دي، د هغه نورو رواياتو دوجې نه ۔ او پوزه سونړل هم واجب دي، لكه تفصيل روستو را روان دې، دا حديث به په كښې پيش كيږي۔

٩ – وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَدْخُلُ الْخَلَاءَ فَاَحْمِلُ اَنَا وَغُلَامٌ إِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ وَعَنَزَةً يَسْتَنْجِيْ بِالْمَآءِ). متفق عليه .

ترجمه : أنس ؓ نه روايت دے دا فرمائي : رسول الله ﷺ به چه کله بيت الخلاء ته ننوتلو نو ما اويو بل هلك به د اوبو يوه مشکيزه او يوه وړه نيزه واخسته۔ نبي کريم ﷺ به اوبو سره استنجاء کوله ۔(بخاري، مسلم)۔

تشريح : فَاَحْمِلُ اَنَا وَغُلَامٌ :انس ؓ فرمائي : ما او يو غلام به د نبي ﷺ داسے خدمت کولو چه اوبه وغيره به مو نبي ﷺ دپاره حاضرولے، ددے غلام نه مراد يا جابر بن عبد الله ، يا ابو هريره، يا ابن مسعودؓ دے، خو د غلام اطلاق پرے مجازا شويدے ۔ والظاهر انه ابن مسعود۔ يا يو يهودي غلام وو، ځکه د نبي ﷺ ډير خادمان وو، نو دا دليل دے چه خدمت د مشرانو مستحب عمل دے ۔

إِدَاوَةً : بكسر الهمزة، مشکيزے ته وائي، چه د څرمنے نه جوړه شوے وي او اوبه وغيره په کښے راوړے شي ۔

وَعَنَزَةً : بفتح العين والنون والزاء، هغه چوکے (لرګې) ته وائي چه په سر کښے ئے اوسپنه وي، دا به رسول الله ﷺ ددے دپاره ګرځوله چه ستره ترے جوړه کړي، ځکه نبي ﷺ به د اوداسه نه پس دوه رکعاته مونځ کولو، او ددے همسانه به ئے ستره جوړه کړه، مخے ته به ئے اودرله، ځکه رسول الله ﷺ بغير دُسترے نه چرے مونځ نه دے کړے ۔ سيوا د طواف د حالت نه چه په هغے کښے يو ضعيف روايت دے لکه چه دا به په باب السترة کښے راشي ان شاء الله، بغير دسترے نه مونځ کول ګناه ده۔ نبي ﷺ فرمائي :

(لا تصل الا الى سترة .... الحديث) اخرجه ابن خزيمة : ۹/۲، وابن حبان : ۴۵/۴، والحاكم : ۲۵۱/۱، والبيهقي : ۲۶۸/۲، بسند صحيح۔

ددے مسئلے نه ډير عوام څه چه طلباء او علماء هم ناخبره دي ۔ او په مسجد کښے په غير د سُترے نه ولاړ وي مونځ کوي ۔

الفصل الثاني : دويم فصل

۱۰ – عَنْ اَنَسٍ ؓ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ نَزَعَ خَاتَمَهُ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ، قَالَ

اَبُوْدَاوُدَ : هٰذَا حَدِيْثٌ مُنْكَرٌ، وَفِيْ رِوَايَتِهٖ : وَضَعَ بَدَلَ : نَزَعَ .

ترجمه : أنسؓ فرمائی : نبی کریم ﷺ به چه کله بیت الخلاء ته ننوتلو نو خپله گوتمه به ئې اوویستله ـ (ابوداود، نسائی، ترمذی) او ترمذی وئیلی دی : دا حدیث حسن صحیح غریب دے، او أبوداود وائی : دا حدیث منکر دے، اود هغویٔ روایت د لفظ (نزع) په ځائې (وضع) دے ـ

تشریح : نَزَعَ خَاتَمَهٗ: یعنے کله چه به بیت الخلاء ته داخلیدو نو خاتم (گوتمه) به ئې اوویسته، وجه داده چه په هغې باندے (محمد رسول الله) الفاظ لیکلی وو، الله بره، بیا رسول، بیا محمد ـ په داسے شکل : الله رسول محمد

اودا خاتم ئې په هغه وخت کنبے جوړ کړے وو کله چه ئې کفارو ته دخطونو لیږلو اراده اوکړه، چا ورته اووئیل چه یا رسول الله ! کفار خطونه ترهغه وخته پورے نه قبلوی ترڅو پورے چه په هغې باندے مهر نه وی لگیدلے ـ نو نبی ﷺ خاتم جوړ کړو، نو صحابوؓ هم جوړ کړو دپاره د تابعداریٔ د رسول الله ﷺ ـ رسول الله ﷺ اول گوتمه د سرو زرو جوړه کړے وه بیا ئې هغه لرے کړه اود سپینو زرو نه ئې جوړه کړه، صحابوؓ هم د سپینو زرو نه جوړه کړه ـ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : گوتے خو مو جوړے کړے خو تاسو به پرے زما الفاظ نه لیکئ، ځکه بیا پته نه لگی ـ نو کله چه به بیت الخلاء ته داخلیدو نو دا خاتم به ئې اوویستو، احترامًا لذکر الله ـ

نوددے نه دا **معلومه** شوه چه دچا په جیب کنبے قرآن وی، یا ددین بل کتاب وی او بیت الخلاء ته داخلیږی نودابه دادب او احترام دوجے نه جیب نه لرے کوی ـ لیکن د اهل علمو داسے فتویٰ هم شته چه یو انسان دے دهغه سره په جیب کنبے قرآن دے یا یو بل دینی کتاب دے، او بیت الخلاء ته داخلیدو اراده لری، نوکه قرآن اوکتاب بهر پریدی نو یره ده چه څوك به ئې ترے غلا کړی، اوکه ځان سره ئې دننه کوی نوبے ادبی ده ـ نو ضرورت دے، د مال ضائع کول دین کنبے نشته، نوده لره جائز دی چه قرآن یا کتاب جیب کنبے یا څادر وغیره کنبے پټ کړی، یا بیت الخلاء کنبے دے په طاق یا دیوال کنبے کیدی، نو د سخت ضرورت په وخت به داکار جائز وی ـ

قال شيخ الاسلام : الدراهم اذا كتب عليها لا اله الا الله و كانت في منديل او خريطة يجوز ان يدخل بها الخلاء ۔ شيخ بسام فرمائی : وهذا مبنی علی قاعدة : ان الكراهة تزول مع الحاجة ۔ يعنې كله چه ضرورت راشي نو كراهت زائله كيږي ۔ (توضيح الأحكام : ۱/۱۵۹)۔ ددې نه **حرمت د تعويذ** جوړولو معلوم شو ځكه چه هغې كښې هم د الله د كتاب بې ادبي راځي ۔

فائده : خاتم : حلقة ذات فص من غيرها، فان لم يكن فهي فتخة.

يعنې : خاتم هغه ګوتمې، حلقې ته وائي چه غمې په كښې وي، كه غمې په كښې نه وي هغې ته بيا فتخه وائي ۔ (كذا في المصباح، توضيح الأحكام : ۱/۲۵۸)۔

قَالَ اَبُوْدَاوُدَ : هٰذَا حَدِيْثٌ مُنْكَرٌ :

درجة الحديث : دې حديث كښې اختلاف دې چه صحيح دې كه ضعيف، حافظ ابن حجرؒ په موافقت د ترمذيؒ سره په تلخيص الحبير ص (۱۰۸) كښې دې حديث ته حسن صحيح وئيلې دې، دغه شان ابن حبان، المنذريؒ، ابو الفتح القشيريؒ، موسى بن هارونؒ ورته صحيح وئيلي، اوهمدا خبره حقه ده (عون المعبود) او امام ابو داودؒ ورته منكر وئيلې دې، نوويؒ او نسائيؒ هم ورته غير محفوظ وئيلې دې ۔

امام ابوداودؒ دې حديث ته منكر وئيلي، ليكن دې ته شاذ وئيل پكار دي، نودا اصطلاح دامام ابوداودؒ چه شاذ ته منكر وائي هم شاذه اصطلاح ده، ځكه منكر خو ديته وائي چه (مارواه الضعيف مخالفا للثقة) اوشاذ ديته وائي (مارواه الثقة مخالفا للأوثق) اودلته همدا كار شويدې ځكه ديته شاذ وئيلې شي ۔ ليكن مونږ دلته ګورو چه آيا ثقه راوي واقعي خلاف كړې دې اوكه نه ؟ اوس وجه د نكارت دامام ابوداودؒ په نيز داده چه مدار دسند دلته همام دې، چه ده نورو شاګردانو دابن جريج نه خلاف كړيدې، ځكه نور شاګردان داسې حديث نقل كوي :

ابن جريج عن زياد بن سعد عن الزهري، عن انس قال : ان النبي ﷺ اتخذ خاتما من ورق ثم القاه ۔ او همام همدې حديث كښې خطاء او په وهم كښې واقع شو اوداسې الفاظ ئې اووئيل : (كان النبي ﷺ اذا دخل الخلاء نزع خاتمه) ۔

نو په همام باندے قلب راغلو، او الفاظ ئے بدل کړل۔
لیکن ددے شذوذ نه **جواب** دادے چه همام درجال دصحیح البخاری نه دے، دهغه پشان کښے داڅنګه وئیلے شی چه ده نه بالکل هغه مخکښی الفاظ دحدیث هیر شو او نور (روستنی) الفاظ ئے دهغے په ځائے ذکر کړل، بیا به دا د بخاری درجالو نه نه وی چه دومره غلطی کوی ۔بلکه صحیح خبره داده چه دلته دوه حدیثونه دی، اودواړه جدا جدا سندونه دی، څکه اول حدیث د ابن جریج عن زیاد بن سعد عن الزهری دے، نو ابن جریج د زهری نه په واسطه د زیاد آوریدلے دے، اودویم حدیث ئے بلا واسطه آوریدلے دے، اودواړه حدیثونه ابن حبان صحیح کړی دي۔ اودا خبره موسیٰ بن هارونؒ هم کړیده چه دوه حدیثونه دی ۔
دارنګه ماردینیؒ په الجوهر النقی کښے وائی : الحدیثان مختلفان متنا وسندا ۔
٢ – دویمه وجه داده : چه همام صرف په دے روایت متفرد نه دے، بلکه دهمام متابعین موجود دی ۔ (١) یو یحیی بن الضریس البجلی (٢) بل یحیی بن المتوکل البصری دے، چه ددواړو حدیثونو تخریج حاکم ، دارقطنی او بیهقی کړیدے، او ابن الضریس ثقه دے ۔ نو معلومه شوه چه د امام ترمذیؒ خبره صحیح ده چه (هذا حدیث حسن صحیح) او د امام ابوداودؒ خبره بے ځایه ده (هذا کله فی عون المعبود : ١/٨، ٩، والتلخیص الحبیر ص (١٠٨) والمرعاة : ١/٥٤٠)۔
وقال البسام فی توضیح الأحکام : ١/٢٥٨ : وسنده حسن۔

---

١١ – وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا اَرَادَ الْبَرَازَ اِنْطَلَقَ حَتّٰى لَا يَرَاهُ اَحَدٌ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او د جابرؓ نه روایت دے دا فرمائی : نبی ﷺ به چه کله د قضائے حاجت اراده اوکړه نو دومره لرے به ئے تشریف یوړلو چه چابه نه لیدلو ۔ (ابوداود)۔

تشریح : د نبی کریم ﷺ دا عادت مبارك وو چه کله به قضاء حاجت دپاره تلو نو لرے به تلو دے دپاره چه خلقو ته ښکاره نشي، دوجے د زیاتے حیاء د هغه نه، نو دا سنت طریقه ده چه انسان قضاء حاجت په پټ ځائے کښے اوکړی او د بے حیاء خلقو د عادت نه ځان

اوساتې چه د خلقو مخامخ قضائے حاجت کوي، خاصکر بعضې زنانه، ځکه دا کار حرام دې، نو دې حدیث کښې د قضائے حاجت دا ادب ذکر دې. او دا مناسبت دې د باب سره.

اَلْبَرَازَ : دا لفظ په فتحه د باء دې او کسره په کښې قلیله ده، اصل کښې د زمکې کهلاؤ میدان ته وائې، بیا کنایه ګرځیدلې ده د قضاء حاجت (غائط) کولو نه، ځکه خلق به د غټو بولو دپاره دغسې کهلاؤ صحراء، میدان ته تلل.

درجة الحديث : قال الألباني في تعليق المشكاة : ١١٢/١ : اسناده ضعيف لكن له شواهد بعضها صحيح، ولهذا أوردته في صحيح ابي داود رقم : ٢ ـ فالحديث صحيح.

---

١٢ – وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى رضي الله عنه قَالَ : كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ ذَاتَ يَوْمٍ فَاَرَادَ اَنْ يَبُوْلَ فَاَتٰى دَمِثًا فِيْ أَصْلِ جِدَارٍ، فَبَالَ. ثُمَّ قَالَ : (إِذَا اَرَادَ اَحَدُكُمْ اَنْ يَبُوْلَ فَلْيَرْتَدْ لِبَوْلِهٖ).رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : أبو موسیٰ نه روایت دې دا فرمائي : یوه ورځ زه د نبي کریم ﷺ سره ملګرې ووم، نبي کریم ﷺ د تشو متیازو کولو اراده اوکړه، نو د یو دیوال جړ کښې (یعنې هغې ته قریب) نرمې زمکې ته راغې او واړه بول ئې اوکړل، بیا (فارغیدو سره) ئې اوفرمائیل : هرکله چه تاسو کښې څوك د وړو بولو اراده اوکړي نو هغه له پکار دي چه وړو بولو دپاره نرمه زمکه تلاش کړي (چه څاڅکي ورته نه کیږي) ابوداود.

تشریح : **فَاَتٰى دَمِثًا** : بفتح الدال وكسر الميم، دمث هغه نرم مکان او زمکې ته وائې چه متیازې جذب کوي او بول کونکي ته څاڅکي نه کوي.

فَلْيَرْتَدْ : دا د باب افتعال نه د امر غائب صیغه ده، مفعول ئې حذف دې : اى فليطلب مكانا لينا سهلا، ارتیاد په معنیٰ دطلب کولو سره راځي یعنې طلب دې کړي ځان لره داسې ځائے چه نرم وي، دې دپاره چه څاڅکي ورته اونشي.

لطيفه : خلق په مثال کښې وائي چه کم عقلان په درې قسمه دي (١) یو دلړ ساعت کم عقل چه متیازې اوچت ځائے ته کوي، چه دا ترې لاندې وي، متیازې پرې راروانې وي، نو دا ترې ځان جدا جدا کوي، کله ئې لمن ګنده شي اوکله خپې (٢) دکال کم عقل هغه دې

چه داسې ځپلۍ، چپل، بوټان واخلي چه تنګ وي، اوهر وخت دهغې نه پريشانه وي، نه ئې ګذارولے شي اونه ئې استعمالولے شي (٣) د عمر کم عقل هغه دے چه ناکاره ښځه اوکړي چه هميشه په جګړو اخته شي، نودے درے واړو کارونو کښې احتياط پکار دے۔ نو نبي ﷺ سيد العقلاء مونږ دکم عقلو دکارونو نه منع کوي ۔ اود عقلمندو خويونه را ازده کوي۔

بيا دلته دا **سوال** پيدا کيږي چه نبي ﷺ دے پردی ديوال بيخ ته متيازے ولے اوکړے څکه چه متيازو کښې خودا اثر دے چه ديوالونه نړوي ؟۔

جواب : ١ – دلته خو يا اذن دلالةً موجود دے او هغه دا چه نبي عليه السلام سيد القوم دے، دده په بول باندے مالك نه خفه کيږي، بلکه که خبر شي نو لابه سعادت اوګڼړي۔ ٢ – يا داهسے شاړ ګنډر دے، دچا په ملکيت کښې نه دے، او په بول کولو سره ورته څه ضرر نه رسي۔

درجة الحديث : رواه احمد (٤/٣٩٦) وابوداود (٣) باسناد فيه رجل مجهول، وضعفه النووي أيضا ۔ دا حديث اګرچه ضعيف دے ليکن معنیٰ ئې د نورو صحيح احاديثو نه ثابته ده چه تنزه من البول باندے أمر راغلے دے۔

---

١٣ – وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا أَرَادَ الْحَاجَةَ لَمْ يَرْفَعْ ثَوْبَهُ حَتّٰى يَدْنُوَ مِنَ الْاَرْضِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ .

ترجمه : جناب أنس رضی الله عنه فرمائي : نبي کريم ﷺ به چه کله د قضائے حاجت کولو اراده اوکړه نو هغه وخته پورے به ئې خپله جامه نه اوچتوله څو پورے به چه زمکے ته نه وو نزدے شوے ۔ (ترمذی، أبوداود، دارمی)۔

تشريح : دے حديث کښې بل أدب دقضاء حاجت دا ذکر دے چه کله انسان قضاء حاجت کوي، نو د مخکښې نه به لنګ، پرتوګ نه کوزوي، بلکه کله چه قضاء حاجت ته کيني أوزمکے ته نزدے شي نو بيا به دضرورت مطابق عورت ښکاره کيږي۔

او ددے نه دا قاعده مستنبطه ده چه ما ابيح للضرورة يتقدر بقدر الضرورة ۔ يعنې کوم شے

چه د ضرورت په وجه جائز شی نو هغه به د ضرورت په اندازه مقرر وی، زیادت به په کښې نشی کولے۔

درجة الحديث : رواه ابوداود عن انس معلقا وضعفه، ورواه عن ابن عمر موصولا وفيه رجل لم يسم، لكن سماه البيهقي : القاسم بن محمد، وهو ثقة حجة، أشهر من ان يذكر، فالسند صحيح ولله الحمد، تعليق المشكاة : ١١٢/١، وهو فى الصحيحة رقم : ١٠٧١)۔

---

١٤ – وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ مِثْلُ الْوَالِدِ لِوَلَدِهٖ، أُعَلِّمُكُمْ، إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلَا تَسْتَدْبِرُوْهَا، وَأَمَرَ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ وَنَهٰى عَنِ الرَّوْثِ وَالرِّمَّةِ، وَنَهٰى أَنْ يَسْتَطِيْبَ الرَّجُلُ بِيَمِيْنِهٖ). رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ .

ترجمه : جناب أبو هريرهؓ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي : زه تاسو دپاره (په أدب دركولو كښې) داسې يم لكه څنګه چه پلار دخپل بچي دپاره وی، تاسو له تعليم دركوم (هغه داچه) كله چه تاسو اودس ماتی دپاره راشئ نو مه قبلې طرفته مخ كوئ او مه ورته شا كرځوئ۔ او رسول الله ﷺ په درې كانړو باندې حكم فرمائيلي دې، او منع ئې كړيده د (استنجاء كولو نه په) خوشائي او هډوكی سره، اوددې نه ئې هم منع كړې ده چه يو سړې په خپل ښي لاس سره استنجاء اوكړي ۔ (ابن ماجه، دارمی)۔

تشريح : إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ مِثْلُ الْوَالِدِ لِوَلَدِهٖ : يعنې زه تاسو باندې داسې شفقت كوم لكه چه پلار په بچو باندې څنګه شفقت كوي۔ نو بچې چه څه ته محتاج وی هغه ورته پلار ښائي، اودهغې په ذكر كولو كښې حياء نه كوي۔ نو زه هم تاسو ته د آداب الخلاء په درښولو كښې حياء او شرم نه كووم۔ په دې كښې تمهيد دې روستو آدابو ذكر كولو ته څكه چه انسان ډير كرت ددې په ذكر كولو كښې شرم محسوسوی، خاصكر كله چه مشران غټان خلق موجود وی۔

٢ - **فائده** : پلرونو باندې واجب دی چه بچو ته به تربيت وركوی، اوهغوی ته به

تعليم د ديني كارونو وركوي. او په بچو باندې د هغې منل واجب دي. دا د اشاره النص نه معلوميږي. چه نبي عليه السلام ځان د والد سره مشابه كړو.

وَأَمَرَ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ : دا صريح دليل دې په دې چه د استنجاء كولو په وخت درې كاڼړي استعمالول واجب دي، ددې نه په كمو باندې استنجاء نه كيږي. درې ځكه مقرر شو چه په دې سره انقاء المحل (پاكوالې) هم راځي او ايتار (تاك والې) هم. اودا دواړه شريعت كښې مطلوب دي.

وَنَهَىٰ عَنِ الرَّوْثِ وَالرِّمَّةِ : يعنې دخوشائي اوزوړ هډوكي داستعمالولو نه ئې منع فرمائيلې ده. (روث) : خوشائي ته وائي، دلته ترې عامه ګندګي دحيواناتو اوانسانانو مراد ده. يا خاص خوشائي مراد دې، اود انسانانو وغيره رجيع ئې ذكر نه كړو ځكه چه هركله په خوشائي باندې استنجاء نه كيږي چه دې كښې لا دومره نجاست نشته نود انسان وغيره ګندګي په طريق اولىٰ سره په استنجاء كښې استعمالول ممنوع دي.

الرِّمَّةِ : بكسر الراء وتشديد الميم، زاړه هډوكي ته وائي، دلته ترې مراد مطلق هډوكي دې، اويازاړه مراد دي او دائې ځكه ذكر كړل چه دې نه لا فائده هم نشي اخستې نو كوم نه چه فائده اخستې شي هغه به په طريقه اولىٰ ممنوع وي.

فائده : نهي صرف ددې دوه څيزونو داستعمال نه راغله، نو دا تخصيص دلالت كوي چه په هر هغه څيز به استنجاء كول جائز وي چه د كاڼړو په ځائې قائم مقام وي په پاكوالي كښې، او محترم نه وي، لكه لوټه، لرګې، خاوره، شړه، ټوټه، ټكرې۔ كذا قال البغوىؒ في شرح السنة (۱/۲۷٦). وقد تقدم قريبا۔

فائده : فقه كښې وائي چه شيشه، اوسپنه، اومحترمه ټوټه باندې استنجاء جائز نه ده، او حال داچه دا خبرې حديث كښې نشته، نو بعضې بې عقله وائي : حديث ناقص دې او فقه كامله ده۔ نو جواب دادې چه دلته دوه دليلونه واوره چه هغه جامع او پوره دي :

اول : النهي عن الاسراف۔ **دويم** : لا ضرر ولا ضرار في الاسلام۔الحديث وقد تقدم تخريجه۔

اسراف منع دې، او ځان ته يا بل چاته ضرر وركول منع دي ۔ نو په دې كښې هر شے

داخل شو، کوم چه فقه کنبيے ليکلے دے۔ څکه په دغه څيزونو کنبيے يا بل ته ضرر دے يا ځان ته۔ نو ددے استعمال هم منع شو۔

درجة الحديث : رواه ابن ماجة (۳۱۳) والدارمی (۱/۱۷۲، ۱۷۳) وكذا رواه ابوداود (۸) والنسائی (۱/۳۸) فی أوائل الطهارة والشافعی فی الام (۱/۲۲) وابو عوانة فی صحيحه وهو حديث صحيح. وصححه الألبانی فی صحيح ابی داود رقم : ٦، وقال فی صحيح النسائی رقم : ۳۹ : حسن صحيح۔

---

۱۵ - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كَانَتْ يَدُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ الْيُمْنٰى لِطُهُوْرِهٖ وَطَعَامِهٖ، وَكَانَتْ يَدُهُ الْيُسْرٰى لِخَلَائِهٖ وَمَا كَانَ مِنْ أَذًى . رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : بی بی عائشہؓ نه روايت دے دا فرمائی : د رسول الله ﷺ ښيے لاس د پاکئ او خوراك (څکاك) دپاره وو، او گس لاس ئے د قضائے حاجت او هر کرکجن څيز دپاره وو. (أبوداود)۔

تشريح : كَانَتْ يَدُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ :

فائده جليله : ددے حديث نه يوه لويه قاعده معلومه شوه او هغه دا چه هر هغه کار چه د نيکئ دقبيلے نه وی او په يو لاس يا يوه خپه باندے کيږی نو په ښی لاس اوښئ خپه به کولے شی، لکه جامه اغوستل، مسجد ته داخليدل (كما فی حديث المستدرك عن أنس) ، چپل اچول چاله څه ورکول، اخستل كما فی حديث مسلم) ، خوراك څکاك (كما فی حديث البخاری)۔

(رياض الصالحين باب المصافحة، عون المعبود : ٤/۱۱۸، تحفة الأحوذی : ۱/۲۱٦، فتح الباری : ۱/، شرح مسلم : ۱/۱۳۲، رد المحتار : ۱/۲۸).

امام نووی فرمائی : هذه قاعدة مستمرة فی الشرع وهی ان ما كان من باب التكريم والتشريف كلبس الثوب والسراويل والخف ودخول المسجد والسواك والاكتحال وتقليم الاظفار وقص الشارب وترجيل الشعر ونتف الابط وحلق الرأس والسلام من الصلاة وغسل اعضاء الطهارة والخروج من الخلاء والاكل والشرب والمصافحة واستلام الحجر الاسود

وغير ذلك مما هو في معناه يستحب التيامن فيه. واما ما كان بضده كدخول الخلاء والخروج من المسجد والامتخاط والاستنجاء وخلع الثوب والسراويل والخف وما اشبه ذلك فيستحب التياسر فيه وذلك كله لكرامة اليمين وشرفها. والله اعلم انتهى.

مصافحه به هم صرف په ښی لاس سره وی، كما صرح به الأئمة الأربعة. او دا حديث پرې دليل دے اودا قاعده ورله دليل دے نو **مصافحه** په دواړو لاسونو سره كول خلاف سنت ده ---- اودے په خلاف دمسجد نه وتلو كښے به ګسه خپه مخكښے كوی (كما في الحديث) او استنجاء كولو، دغه شان چپل ويستلو كښے ګسه خپه مخكښے كوی، لكه حديث كښے دی : كله چه تاسو چپل څپلۍ اغوندئ نو په ښۍ خپه باندے شروع كوئ (فابدؤا بميانكم، لتكن اليمنى اولهما تنعل وآخرهما تنزع). اود بيت الخلاء نه وتلو او پوزے سونړلو او ترخ نه ويخته ويستلو باره كښے اګرچه نص صريح نشته ليكن دغه مذكوره قاعده په كښے جاری كيږی۔

اود **مسواک** په وهلو كښے دوه قوله دی۔

۱ - شيخ الاسلام ابن تيميه" فرمائی : دا به په ګس لاس سره وهی، ځكه چه دا د قبيلے د ازالة المستقذرات نه دے، او ټول ګنده كارونو ته به ګس لاس مخكښے كوی۔

۲ - او عام علماؤ رائے داده چه ښی لاس باندے مسواك كول پكار دی. اود علامه ابن تيميه" قول ضعيف دے وجه داده چه حديث د ابوداود (۲/۲۱۷، رقم (۴۱۴۰) كتاب اللباس باب الانتعال كښے دی (كان يحب التيامن في كل شئ في تنعله وترجله وطهوره وسواكه)۔

دے قاعده باندے عمل كول ځكه ضروری دی چه په دے سره دكفارو مخالفت راځی اودا د ايمان يو ركن دے ---- مرقات (۱/۳۵۵) كښے ملا علی قاری" يو ګيله كړيده چه په دے حديث باندے ډير طالبان د علم عمل نه كوی، فرمائی : (وكثيرا ما رأينا طلبة العلم ياخذون الكتاب باليسار والنعال باليمين امام لجهلهم واما لغفلتهم).

چه څپلۍ ئے په ښی لاس كښے نيولی وی او كتاب به ئے په ګس لاس كښے دا خو يا جاهلان دی يا غافلان۔ چه دے احاديثو ته او اسلامی آدابو ته نظر اوكړے شی او بيا زمونږ

معاشرے ته، نو انسان به افسوس اوكړي چه مسلمانان د غير دين خلقو په قدمونو باندے چلن كوي، په ګس لاس به خوراك څكاك كوي، د كفارو په طريقه به په ګس طرف روان وي، روډونه، سركونه په ګس طرف، سرونه به ګس اړخ ته اړوي، وركړه راكړه په ګس لاس، سر خرئيل وړوكے كولو كښے په ګس اړخ شروع۔ الغرض اسلامى آداب پائمال شوى دى څكه داسے حيوانى تنګ ژوند كښے مبتلا دى، هر طرفته پريشانى ده۔ فالى الله المشتكىٰ۔

درجة الحديث : رواه ابوداود باسناد فيه انقطاع بين ابراهيم النخعى وعائشة. ليكن داسے حديث متفق عليه راروان دے. فى آخر الفصل الأول من سنن الوضوء۔

---

١٦ – وَعَنْهَا قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (اِذَا ذَهَبَ أَحَدُكُمْ اِلَى الْغَائِطِ فَلْيَذْهَبْ مَعَهُ بِثَلاثَةِ أَحْجَارٍ يَسْتَطِيْبُ بِهِنَّ فَاِنَّهَا تُجْزِئُ عَنْهُ) . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ .

ترجمه : بى بى عائشةؓ نه روايت دے دا فرمائى : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے دے : كله چه په تاسو كښے څوك قضائے حاجت دپاره ځى نو څان سره دے درے كانړى يوسى چه استنجاء پرے اوكړى، څكه چه دا دده دپاره كافى كيږى (يعنى د اوبو استعمالولو ضرورت نه پاتے كيږى) ۔ (أبوداود، نسائى، دارمى)۔

تشريح : دا حديث هم دليل چه درے كانړى استعمالول ضرورى دى او كافى دى د اوبو د استعمالولو نه، او د دريو نه كم استعمالول كافى ندى، څكه چه اِجزاء (كافى كيدل) غالبا په وجوب كښے استعماليږى۔

بِثَلاثَةِ أَحْجَارٍ : كښے باء د تعديت ده، يعنے څان سره دِے يوسى۔

يَسْتَطِيْبُ : دا مرفوع دے كلام مستانف دے، او علت د امر دے، يعنے ددے كانړو څان سره وړلو غرض څه دے، څان پرے صفا كول۔ يا حال دے يعنے په داسے حال كښے چه څان به پرے پاك كړى۔ استطابه، استجمار، استنجاء اواستنفاض په يوه معنى استعماليږى۔

تُجْزِئُ : د باب افعال اِجزاء نه دے، په معنىٰ د تَكْفِيْ او تُغْنِيْ سره دے، (عنه) كښے

ضميريا خو مستنجي (استنجاء كونكى) ته راجع دے، يا هغه اوبو ته راجع دے چه د مقام نه معلوميږى، يعنے كانړى استعمالول د اوبو په ځائے كافي دى، اوكم ددريےؤ نه نه دى كافي- دا حديث دليل دے چه په استنجاء كښے اوبه استعمالول ضرورى ندى بلكه كانړى هم ددے په ځائے كار وركوى-

درجة الحديث : رواه أحمد (١٠٨/٦) (١١٣٣) وأبوداود (٤٠) والنسائى (٤١/١) والدارقطنى (٥٤/١) رقم (٤) وقال : اسناده صحيح. وقال الشيخ الألبانى فى تعليق المشكاة (١١٣/١) وفى سنده : جهالة، وحسنه الدارقطنى، وله شاهد من حديث أبى أيوب الأنصارى ولذلك أوردته فى صحيح أبى داود رقم (٣٠) وقال المحقق رمضان بن أحمد فى تعليق المشكاة (١٧٢/١) واسناده حسن. فالحديث صحيح. والحمد لله.

---

١٧ - وَعَنْ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (لَا تَسْتَنْجُوْا بِالرَّوْثِ وَلَا بِالْعِظَامِ، فَإِنَّهَا زَادُ اِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ، إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ : زَادُ اِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ .

ترجمه : جناب ابن مسعودؓ فرمائى : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : په خاشنو او هډوكو باندے استنجاء مه كوئ ځكه دا ستاسو د پيريانو ورونو خوراك دے - (ترمذى، نسائى) البته نسائى (ستاسو د پيريانو ورونو خوراك دے) نه دے ذكر كړے-

تشريح : لَا تَسْتَنْجُوا بِالرَّوْثِ وَلَا بِالْعِظَامِ :

الفوائد الحديثية : ١ - استنجاء په روث (خوشائى) خوناجائز ده، او پخپله پاك دے، كه دجامے څپلئ وغيره نه اولگى. ځكه مقصود په استنجاء كښے صفائى كول دى او هغه په خوشائى سره پوره طور سره نه حاصليږى ځكه دا تلويث پيدا كوى.

٢ - جناتو ته اخوان (ورونه) وئيلے شوى دى، دا اسلامى اخوّت دے، هغوى كښے هم مسلمانان شته دے-

٣ - فانها زاد : كښے ضمير راجع دے عظام ته، او روث دهغے تابع گرځول شويدے، لكه د ﴿واذا رأوا تجارة او لهوا انفضوا اليها﴾ پشان-

ابن حجر مکی دلته دانکته بیان کړیده چه ضمیر صرف عظام ته راجع دے، اود روث نه ئے سکوت کړیدے ځکه چه (روث) د جناتو خوراك نه دے بلکه دا دجناتو دحیواناتو خوراك دے او (عظام) د دوئ خپله خوراك دے. لکه چه دا په بل حدیث کښے راغلی دی چه : جناتو د نبی ﷺ نه زاد (خوراك) طلب کړو، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : (لکم کل عظم ذکر اسم الله علیه یقع فی أیدیکم أوفر ما یکون لحما، وکل بعرة علف لدوابکم، فقال رسول الله ﷺ : فلا تستنجوا بهما فانهما طعام الجن). (رواه مسلم واحمد).

یعنی هر هډوکے چه ستاسو لاسونو ته اورسی او بسم الله پرے وئیلے شوی وی نو دا به ستاسو دپاره د مخکښے پشان د غوښے نه ډك شی او هره پچه ستاسو د حیواناتو دپاره ګیاه ده. نو نبی علیه السلام ځکه پدے سره د استنجاء نه منع اوکړه چه د پیرانو او د هغوی د حیواناتو خوراك خراب او نجس نشی.

٤ - کوم شے چه حیواناتو لره نافع وی دهغے استعمالول په استنجاء کښے جائز نه دی، ځکه چه د پیریانو دحیواناتو دپاره چه فائده مند وی هغه استعمالول حرام نود انسانانو دحیواناتو دپاره چه فائده مند وی هغه استعمالول به په طریقه اولیٰ سره په استنجاء کښے منع وی.

٥ - تخصیص دروث او عظام او بعره وغیره چه نورو احادیثو کښے راغلے دی دلیل دے چه ما سوی ددے نه په استنجاء کښے استعمالول جواز لری، لکه توټه، ټکرے، ټائلیټ پیپر، خاورے، ایره وغیره. صرف ضروری او اسراف والا شیانو باندے استنجاء ناجائز ده.

درجة الحديث : أخرجه الترمذی (١٨) والنسائی (٣٧/١) وسنده صحیح، وان اعله الترمذی بالارسال فقد وصله ثقتان، اخرجه من طریق احدهما الترمذی بتحقیق احمد شاکر (٢٩/١) ومسلم (٣٦/٢) من طریق آخر وللحدیث طریق آخر بمعناه وسنده صحیح وسیأتی . تعلیق المشکاة للشیخ الألبانی (١١٣/١)، والمحقق رمضان.

---

١٨ - وَعَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : يَا رُوَيْفِعُ ! لَعَلَّ الْحَيَاةَ سَتَطُوْلُ بِکَ بَعْدِیْ فَأَخْبِرِ النَّاسَ أَنَّ مَنْ عَقَدَ لِحيَتَهُ اَوْتَقَلَّدَ وَتَرًا اَوِ

اَسْتَنْجَى بِرَجِيْعِ دَابَةٍ اَوْ عَظْمٍ فَإِنَّ مُحَمَّدًا بَرِيْءٌ مِنْهُ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : جناب رويفع بن ثابت ؓ نه روايت دے دا فرمائی : رسول الله ﷺ ماته اوفرمائيل : اے رويفعه ! كيدے شي چه مانه پس ستا عمر اوګد شي، نو خلقو ته دا خبر وركړه چه چا خپله ګيره غوټه كړه، يا ئے غاړه كښے د ژئ هار (ليندے تار) واچولو، يا ئے د ځناورو خاشنو (يا سوټو) او هډوكي سره استنجاء اوكړه نو محمد (ﷺ) دهغه نه بيزاره دے - (أبوداود)-

تعارف : د رويفع بن ثابت ؓ :

انصاری مدنی صحابی دے، په مصر كښے اوسيدو، معاويه رضی الله عنه په طرابلس علاقه باندے ګورنر مقرر كړے وو، په سنه (٤٦) هـ كښے نو افريقيه سره ئے جنګ اوكړو، دهغے نه پس د افريقے په برقه علاقه باندے أمير وو، تردے چه په دغه علاقه كښے په سنه (٥٦) كښے وفات شو، او هلته دفن شو . تول (٨) احاديث ترے نقل دی- رضی الله تعالى عنه -

تشريح : أَنَّ مَنْ عَقَدَ لِحْيَتَهُ : ١ - د عربو عادت وو چه كله به جنګ ته تلل نو ګيرو لره به ئے غوټے وركړے د تكبر په وجه.

٢ - د چا به چه خومره ښځے وے هغومره غوټے به ئے وركولے، نو دے كښے به دښځو عدد ته اشاره وه . ففيه رد الرسم والرواج.

٣ - دارنګه بعض خلق دګيرے د پټولو او كمے ښكاره كولو دپاره غوټے وركوی يا د ښځو سره دمشابهت دوجے نه . دا ټول كارونه حرام دی .

٤ - بعضے خلق ګيرے دے دپاره تاووی چه كوږئ شي او ښائسته ښكاره شي- نو دے نه منع ځكه اوشوه چه سنت ګيره ګومنزول دی نه تاو ول نو دا د سنت مخالفت دے-

٥ - بعض وائی داد عجمو عادت دے چه ګيرے تاووی او دا تغير خلق الله كښے داخل دے ځكه منع اوشوه. دا ټول مصداق صحيح كيدے شي-

اَوْتَقَلَّدَ وَتَرًا : چاچه دليندے ژئ واچوله . وتر د ليندے مزی (ربړ) ته وائی . بعضے خلقو به خپل ځان او خپل اولاد او اسونو ته دم شوی تارونه تړل (يعنی بندونه) دے دپاره

چه مصيبتونو او سترګو لګيدو نه ځان بچ کړي، نو داکار کول حرام دي (مرقات).

۲ – يا هغه تار مراد دے چه خلقو به اسونو ته غاړو کښے دے دپاره اچولو چه ګونګري وغيره ورته زوړند کړي، نو دا هم منع دي، په دے وجه چه د اسونه د منډے په وقت کښے ساه خفه کيږي نو نهي دپاره د دفع دضرر دوجے اوشوه، يا ذ دفع درسم او رواج.

ددے حديث نه معلومه شوه چه د کافرانو داسے واړه واړه رسمونه اختيارول چه په ګناه کبيره کښے هم شامل نه وي، د رسول الله ﷺ د بيزارئ او نارضګئ سبب دے، نو د کافرانو، شيعه ګانو او هندوانو هغه غټ غټ رسمونه او رواجونه چه د بد قسمتئ نه مسلمانان نن صبا په هغے کښے مبتلا دي چه هغه په ګناه کبيره او شرکونو کښے شمارلے شي، په دے سره به د نبي ﷺ خومره زيات نفرت کيږي، او ددے رسمونو والو به د الله په دربار کښے څه انجام وي ! والله المستعان.

درجة الحديث : أخرجه أبوداود (۳٦) وفي سنده جهالة، لكن رواه من حديث عبد الله بن عمرو به، وسنده صحيح. و كذا رواه النسائي (۲/۲۷۷) واسناده صحيح، والأولىٰ للمصنف أن يعزوه إليه، قاله الألباني في التعليق و الشيخ رمضان.

---

۱۹ – وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (مَنِ اكْتَحَلَ فَلْيُوْتِرْ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ، وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوْتِرْ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ، وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ، وَمَنْ أَكَلَ فَمَا تَخَلَّلَ فَلْيَلْفِظْ وَمَالَاکَ بِلِسَانِهٖ فَلْيَبْتَلِعْ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ، وَمَنْ أَتَى الْغَائِطَ فَلْيَسْتَتِرْ، وَمَنْ لَمْ يَجِدْ اِلَّا اَنْ يَجْمَعَ كَثِيْبًا مِنْ رَمْلٍ فَلْيَسْتَدْبِرْهُ، فَاِنَّ الشَّيْطَانَ يَلْعَبُ بِمَقَاعِدِ بَنِىْ آدَمَ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ .

ترجمه : جناب أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : څوك چه رانجه پورے کوي هغه له پکار دي چه طاق ئے پورے کړي، چا چه دا کار اوکړو نو بيشکه چه ښه ئے اوکړل، او چا چه اونه کړو نو څه حرج نشته. او څوك چه په کاڼو سره استنجاء کوي

هغه له پکار دی چه طاق (پنځه یا اووه وغیره) کانړی استعمال کړی، څوك چه دا کار اوکړی هغه ښه اوکړل، اوچا چه اونه کړو نو په دے کښے هم څه باك نشته ـ اوڅوك چه څه اوخوری نوکوم څیز چه د غاښونو ترمینځه راوځی نو پکار دی چه هغه اوغورځوی، او څه چه ژبے سره راوکاږی نو هغه دے تیر کړی، څوك چه دا کار اوکړی نو ښه ئے اوکړل او څوك ئے چه اونه کړی نو په دے کښې څه باك نشته ـ او څوك چه قضائے حاجت دپاره لاړ شی نوهغه له پکار دی چه ځان پټ کړی، نو چه څه ورته ملاؤ نشو مگر دا چه د شګو یوه ډیره کئ راجمع کړی نو د هغے شاته دے کینی، ځکه چه شیطانٌ د انسانانو کناتو سره لوبے کوی ـ څوك چه دا کار اوکړی نو ښه ئے اوکړل او که چا اونه کړو نو په دے کښے هم څه حرج نشته ـ (ابوداود، ابن ماجه، دارمی) ـ

تشریح : مَنِ اکْتَحَلَ فَلْیُوْتِرْ : حدیث دشمائل الترمذی کښے داکتحال کیفیت ذکر دے ـ ابن عباسؓ نه مرفوعا یا موقوفا نقل دی چه د نبی ﷺ دپاره یوه نجړومه وه چه دهغے نه به ئے هره شپه درے سلائی په یوه سترګه اودرے په بله سترګه کښے اچول . کذا یأتی فی المشکاه (۳۸۳/۲).

او په روایت دانسؓ کښے مرفوعا داسے دی (کان یکتحل فی عینه الیمنی ثلاث مرات، والیسری مرتین) نو داهم وتر شو ـ هذا حدیث صحیح لشواهده، رواه الطبرانی فی الکبیر (۱۹۹/۳)، ومجمع الزوائد : ۹٦/٥، وفی الصحیحه : ۲۱٤/۲، و کذا فی الدین الخالص (۵۸۸/۱) ـ بیا دا **طریقه** په کښے **نشته** چه اول به ښئ سترګه کښے یو ځل واچوی او بیا به دوه ځله ګسه سترګه کښے، داد ځانه صوفیانو جوړه کړے طریقه ده، دغه شان نورے طریقے هم ـ دارنګه دجُمعے شپه خاص کول د رنجو پورے کولو دپاره، دا هم بدعت دے، بلکه هره شپه او ورځ کښے استعمالول جواز لری . دارنګه د شیعه ګانو په خلاف د عاشوراء ورځ د رنجو پورے کولو دپاره خاص کول دا هم بدعت دے ـ

وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْیُوْتِرْ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ : ددے جواب مخکښے تیر شویدے (۱) چه دلته دایتار داستحباب نه مراد په مافوق الثلاثه کښے دایتار استحباب دے، یعنے درے کانړی استعمالول واجب او ددرے نه زیاتو کښے ایتار واجب نه دے . بلکه ایتار مستحب او

غير ايتار جائز . (۲) يا ددرے كانړو والا حديثونه صحيح دی اودا حديث متكلم فيه دے .

فَمَا تَخَلَّلَ فَلْيَلْفِظْ : يعنے كوم خوراك چه دده په غاښونو كښے نختے وی او په لرګی يا په ګوته ئے راوباسی نودا دے ګوذار كړی ځكه انسان په دے بدے ښكاری، يا دا چه په غاښونو كښے چه كوم خوراك نختے وی تو هغه متغير شوے وی نو دهغے خوړل مناسب نه دی.

وَمَالَاكَ : يعنے كوم خوراك چه په ژبه تاوولو سره دغاښ نه راؤباسی نو هغه دے تير كړی ځكه هغه بهر دخولے نه نه دے راوتلے .

فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَلْعَبُ بِمَقَاعِدِ بَنِيْ آدَمَ : ددے دوه معانی دی : (۱) يو دا چه مقاعد جمع دمقعده ده، ځائے دناستے ته وائی، اسم ظرف دے، مراد تردے تښتئ ده، يعنے په داسے ځايونو كښے شيطان انسان ته حاضريږی . او ضرر اوفساد كښے ئے اخته كوی . ګندګی، بے ستری، غلط سوچونو او فكرونو كښے ئے مبتلا كوی، او عورت ته ئے ګوری .

۲ – يا مقعده په معنی داسفل البدن (كناتی) سره دے، نو شيطان دانسان په كناتو لوبے كوی، خلق ورته متوجه كوی، لكه دا په مشاهده كښے راځی چه څوك په متيازو ناست وی نو دخلقو نظر پرے زر لګی .

وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ : **استتار** په وخت دقضاء حاجت كښے د واجباتو نه دے، نو دلته څنګه وائی چه چا دا كار اونه كړو نو هغه باندے حرج نشته ؟ .

جواب : دا حديث (۱) محمول دے په هغه صورت باندے چه يو انسان په خيته درد وی نو هغه قضاء حاجت ته لاړ شی خو دډيركئ جوړولو فرصت ورته ملاؤ نشی اوهمداسے په ميدان كښے كينی، نو ده باندے څه ګناه نشته، ځكه چه دا غريب مجبور دے، خلقو دپاره ده ته كتل حرام دی.

۲ – يا د (من لا فلا حرج) نه مراد هغه څوك دے چه صحراء كښے قضاء حاجت كوی اوهلته خلق نه وی . فتدبر !

درجة الحديث : سنده ضعيف، فيه مجهولان : حصين الحبرانی وشيخه أبو سعيد الحبرانی الحمصی التابعی (تعليق المشكاة ۱/۱۱٤) وأخرجه الدارمی (۱/۱٦۹) وابن ماجة

(۳۳۷) واسناده فيه مجهول.

و رواه ابوداود والحاكم وابن حبان، وفيه حصين الحبراني عن أبى سعيد الحبراني الحمصى، و كلاهما مجهول، قاله الحافظ. قال الذهبى : الأول لا يعرف، وقال ابو زرعة : ابو سعيد لا يعرف، وذكرهما ابن حبان فى الثقات. وقال ابوزرعة : حصين الحبراني شيخ . وقال الحافظ في الفتح في حديث أبي هريرة هذا : حسن الاسناد.

ليكن د ابن حجرؒ خبره صحيح نه ده۔ په خبره كښې ئې تعارض دے۔

---

۲۰ - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : (لَا يَبُوْلَنَّ أَحَدُكُمْ فِيْ مُسْتَحَمِّهٖ ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ اَوْ يَتَوَضَّأُ فِيْهِ، فَإِنَّ عَامَةَ الْوَسْوَاسِ مِنْهُ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ، إِلَّا أَنَّهُمَا لَمْ يَذْكُرَا : ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ أَوْ يَتَوَضَّأُ فِيْهِ .

ترجمه: عبد الله بن مغفلؓ نه روايت دے دا فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے دے : په تاسو كښې دِے څوك په خپله غسل خانه كښې واړه بول نه كوى، چه بيا په كښې غسل يا اودس هم كوى، ولے چه عامے وسوسے دهمدے نه پيدا كيږي ۔ (ابوداود، ترمذى، نسائي)۔ ترمذى اونسائي (بيا په كښې غسل يا اودس كوى) الفاظ نه دى ذكر كړي۔

تعارف د عبد الله بن مغفل ؓ :

كنيه ئې ابوعبد الرحمن المزني ده، صحابي دے او بيعه الرضوان كښې شريك شويدے، د مدينے اوسيدونكے دے، بيا مصر ته نقل شو . حسن بصريؒ فرمائي : داد هغه لس كسانو نه وو چه عمر رضى الله عنه مونږ ته د دين د ازده كولو دپارهٔ راليږلى وو، اودا په خپل ملګرو كښې نقيب او مشر وو. دا اولنے هغه شخص دے چه تستر علاقے ته كله چه هغه فتحه شوه د تولو نه اول داخل شو ۔ په سنه (۵۷) هـ كښې وفات شويدے . ټول (۴۳) احاديث ترے منقول دى. د بدعاتو سره ئې ډيره دشمنى لرله .

فِيْ مُسْتَحَمِّهٖ : مستحم غسل خانے ته وائي . اصل كښې هغه ځائي ته وائي چه هلته خلق غسل كوى په ګرمو اوبو سره . دحميم معنى په كښې پرته ده، غسل خانه كښې

متيازې كول صحيح نه دي، مګر كه د متيازو ځائې جدا وي اود غسل ځائې جدا وي، نو خير دې باك نه لري.

امام ابن ماجه د خپل استاذ علي بن محمد نه نقل كوي چه دا نهي په هغه غسل خانو كښې ده چه دخاورو يا د شګو نه جوړې وي چه بول په كښې پاتې كيږي، او هرچه نن صبا زمانه ده نو په دې كښې غسل خانې دچونې، سمينټو وغيره نه جوړې وي، نو كه په دې اوبه واچوي نه ايساريږي، نو په دې كښې بول كول باك نه لري.

اودا خبره دعبد الله بن المبارك نه هم نقل ده، لكه فرمائي :

قد وسع في البول في المغتسل اذا جرى فيه الماء. نقله الترمذي .

ليكن علامه عبد الرحمن المباركفوري صاحبؒ په تحفة الأحوذي : ۳۳/۱، كښې فرمائي : ظاهر دحديث دا تقاضا كوي چه په دغسې مقاماتو كښې هم د بول كولو نه احتراز اوكړې شي ځكه چه حديث كښې ورسره هيڅ قيد نشته. او بله دا چه وسوسې لكه څنګه چه د نرم مكان نه پيدا كيږي نو دغه شان د سخت مكان نه هم پيدا كيږي.

ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ : دا ثم د استبعاد دپاره دې، يعنې دا ډيره بعيده ده د عاقل نه چه په يو ځائې كښې بول هم كوي او بيا په كښې غسل هم كوي ! نو ددې نه دا معلومه شوه چه كه يو سړې يو ځائې كښې بول اوكړي خو بيا په دغه ځائې كښې غسل نه كوي نو دا كار حرام نه دې.

درجة الحديث : أخرجه أبوداود (۲۷) والترمذي (۲۱) والنسائي (۳٤/۱) وابن ماجة (۳۰٤) واسناده صحيح، وقد ضعفه الألباني في ضعيف ابن ماجة (٦۲) والراجح : أنه صحيح، راجع كلام ابن القطان في بيان الوهم والإيهام من كتاب الأحكام (۵۷۳/۲). تعليق المشكاة للمحقق رمضان (۱۷۳/۲)، وقد قال الشيخ الألباني ما حاصله : أن هذا الحديث مؤلف من قسمين الأول، لا يبولن أحدكم في مستحمه، ثم يغتسل فيه . وهو صحيح كما في صحيح أبي داود رقم (۲۲)، وصحيح الجامع الصغير رقم (۷۵۹۷). والثاني : لا يبولن أحدكم في مستحمه ثم يتوضأ فيه، فإن عامة الوسواس منه. وهوضعيف كما في ضعيف الجامع الصغير (٦۳۲۵) وصحيح أبي داود (۲۲)، فالحديث في المشكاة صحيح، دون قوله

(فإن عامة الوسواس منه)، وقد جعل صاحب المشكاة الحديثين حديثاً واحداً فتدبر. والحال أن أبا داؤد ذكرهما بسندين.

---

٢١ - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (لَا يَبُوْلَنَّ اَحَدُكُمْ فِيْ جُحْرٍ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : جناب عبد الله بن سرجس رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دے : په تاسو كښے دے څوك په سوړه كښے متيازے نه كوى ـ (أبوداود، نسائي).

تعارف : د عبد الله بن سرجس رضي الله عنه :

داد مزينـه قبيلے مشهور صحابى دے، بصره كښے سكونت پذير وو ـ د نبى ﷺ سره ئے درے څلور كاله تيركړى دى. ټول (١٧) احاديث ترے منقول دى ـ

تشريح : فِيْ جُحْرٍ : يعنے سوړه كښے بول كول منع دى، وجه دمنع داده چه :

١ - داد پيريانو وغيره كورونه دى، هغوئ ته به په دے سره تكليف ملاويږى.

٢ - دويـم حـكـمـت پـه كـښـے دادے چـه پـه دے كـښـے د مارانو، لړمانانو وغيره د ضرر وركولو خطره ده، څكه هغه به په سوړه كښے تنگ شى، رابهر به شى او اوبه ئے چيچى، يا بـه دهـغـے نـه مـنـده كـړى پرتـوگ بـه ئے گنده شى، اويا به ئے خلقو ته عورت ښكاره شى، ياداچه پيـريـان بـه وربـانـدے كينى. دشريعت په دے كښے نور حكمتونه هم شته چه هغه مونږ ته معلوم نه دى.

ددے باره كښے يوه **واقعه** د سعد بن عبادة رضي الله عنه مشهوره ده چه ده په شام كښے په يوه سوړه كښے متيـازے اوكړے نـو اولتـه پـريـوتو او مړ شو (ثم استلقى ميتا) دا حديث اگرچه سند لـحـاظ سره صحيح نـه دے مـگـر ابن عبد البر په الاستيعاب : ٢/٣٧، كښے ليكى (ولم يختلفوا انه وجد ميتا في مغتسله وقد اخضر جسده) ـ يعنے علماؤ كښے مشهوره ده چه سعد په خپل حمام (غسل خانه) كښے مړ اوموندے شو او بدن ئے شين شوے وو، آهـ. نو كيدے شى چه غسل خانه كښے ئے په سوړه كښے بول كړى وى ـ قال الألباني : اخرجه ابن عساكر : ٧/٦٣، عن ابن سيرين مرسلا ورجاله ثقات، ارواء الغليل : ١/٩٥، رقم : ٥٦ ـ

درجة الحديث : رواه أبوداود (۲۹) والنسائی (۳۳/۱) وفی سنده قتادة وهو مدلس (التلخيص الحبير) ثم ذكروا أنه لم يصح له سماع من عبد الله بن سرجس كما قال الألبانی فی إرواء الغليل رقم (۵۵) والحافظ، و باقی رجاله ثقات ولكنه ضعيف من هذه العلة الخفية وإن صححه الحاكم ولكن الشيخ الألبانی قد رد قوله من ثلثة وجوه فی الإرواء ـ راجع اليه . لكن يشهد له بول سعد فی جحر وموته، كما فی الارواء : ۵۶/۱، رقم : ۹۴ .وقال الشوكانی فی السيل الجرار : ۶۶/۱ : رواه الحاكم وابوداود والنسائی واسناده صحيح، وكل رجاله ثقات، وقال فی نيل الأوطار : ۱۰۳/۱ : وقيل : ان قتادة لم يسمع من عبد اللّٰه بن سرجس واثبت سماعه منه علی بن المدينی وصححه ابن خزيمه وابن السكن، انتهی.

---

۲۲ – وَعَنْ مُعَاذٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (اِتَّقُوا الْمَلَاعِنَ الثَّلَاثَةَ : الْبَرَازَ فِي الْمَوَارِدِ، وَقَارِعَةِ الطَّرِيْقِ وَالظِّلِّ). رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه .

ترجمه : جناب معاذؓ نه روایت دے دا فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : ځان ددرے لعنتی کارونو نه بچ کړئ : (۱) په ګودرونو کښې د غټ بول کولو نه (۲) دلارے په مینځ کښې (۳) او په سورو کښې (د غټ بول کولو نه)۔ (ابوداود، ابن ماجه)۔

تشریح : اِتَّقُوا الْمَلَاعِنَ الثَّلَاثَةَ : یعنی د لعنت ددرے ځایونو نه ځان اوساتئ، ملاعن جمع دملعن ده، یا خو اسم مکان دے ځائے د لعنت اویا مصدر میمی دے، په معنی د لعنت سره، او مراد به اسباب دلعنت وی. یعنی د درے اسباب د لعنتونو نه ځان بچ کړئ !۔

الْبَرَازَ فِي الْمَوَارِدِ : متیازے کول په ګودرونو دخلقو کښې۔ براز نه مراد تغوط کول دی، او موارد جمع دمورد ده، هغه ځائے چه خلق ورته داوبو څکلو یا اودس کولو دپاره راځی، یعنې ګودر وغیره .

وَقَارِعَةِ الطَّرِيْقِ : یعنې مینځ دلارے۔ دا اضافت دصفت دے موصوف ته، أی الطریق المقروعة بأرجل الناس. یعنې هغه لار چه خلقو په خپوباندے تکولے ده،خلق پرے ځی راځی . په دے ځایونو کښې د بول وبراز کولو نه منع ځکه اوشوه چه ددے نه انسانان فائده اخلی نو دلته بول وبراز کول دوئ ته تکلیف رسوی . وقد تقدم تشریحه .

درجة الحديث : أخرجه أبوداود (٢٦) وابن ماجة (٣٢٨) وفى الإسناد جهالة وانقطاع، كما ذكر الحافظ فى التلخيص، لأن أبا سعيد الحميرى لم يسمع من معاذ وأبو سعيد هذا مجهول. لكن ذكر الألبانى فى الإرواء (٦٢) شواهد ، بها يتقوى الحديث ويحسن على أقل الأحوال .ولكنه صحيح لشواهد كثيرة ولذا صححه ابن السكن والحاكم (تعليق المشكاة لرمضان والمرعاة ٢/٦٣).

---

٢٣ – وَعَنْ اَبِىْ سَعِيْدٍ رضی اللہ عنہ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (لَا يَخْرُجُ الرَّجُلَانِ يَضْرِبَانِ الْغَائِطَ كَاشِفَيْنِ عَنْ عَوْرَتِهِمَا يَتَحَدَّثَانِ فَاِنَّ اللهَ يَمْقُتُ عَلٰى ذٰلِكَ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَةَ .

ترجمه : جناب ابو سعيدؓ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دے : يو ځائے دے دوه سړي ډكو متيازو دپاره داسے نه كيني چه خپل عورتونه ئے ښكاره كړي وي اوخپلو كښے خبرے كوي، ځكه چه دے سره الله تعالىٰ غصه كيږي ـ (أبوداود، ابن ماجه)ـ

تشريح : **يَضْرِبَانِ الْغَائِطَ** : دضرب الأرض نه مراد په كلام عربئ كښے قضاء حاجت ته تلل دي، يعنے متيازے كول، او ضرب فى الأرض نه مراد سفر كول دي، بناء په دے باندے الغائط منصوب بنزع الخافض دے، أى يضربان للغائط . اى يذهبان للغائطـ

٢ – مختصر النهايه كښے ليكي چه : يضرب الغائط والخلاء والأرض ټول په معنىٰ د قضاء حاجت ته د تللو دپاره استعماليږي ـ بناء په دے باندے دا منصوب دۓ په يضربان سره، مفعول له دے . مطلب دحديث دادے چه دوه كسان متيازے كوئ او عورتونه ئے ښكاره كړي وي اوخپل مينځ كښے خبرے اترے كوي لكه داد زنانو عادت دے، نودا كار حرام دے، دالله تعالى ډير بدے شي، نو أدب دادے چه انسان به په حالت دبول وبراز كښے كپ شپ او خبرے نه كوي.

يَمْقُتُ عَلٰى ذٰلِكَ : ذلك اشاره ده (١) يو بل ته عورت ښكاره كولو ته (٢) يا دقضائے حاجت په وخت يو بل سره خبرے اترے كولو ته.

٢ – **فائده** : دا حديث دليل دے په وجوب دستر العوره باندےـ

۳ – د بول وبراز په وخت خبرے اترے کول هم منع دی، وجه داده چه ناخبیث کار دے او په قلتِ حیاء باندے دلیل دے ۔ دغه شان ملائك به ستا خبرے لیکی نو هغوئ ته په دے حالت کښے تکلیف ملاویږی.

درجة الحديث : أخرجه أحمد (٢٦/٤) وأبوداود (١٥) وابن ماجة (٣٤٢) والحاكم (١٥٧/١) والإسناد فيه جهالة واضطراب، كما بينه الألباني في ضعيف سنن أبي داود رقم (٣) وله شاهد عند أحمد برواية جابر مرفوعاً (اذا تغوط الرجلان فليتوار كل واحد منهما من صاحبه، و لا يتحدثان فإن الله يمقت على ذلك. وهو حديث حسن، قال العلامة المباركفوري في المرعات : وصححه ايضاً ابن السكن وابن القطان. وقال الشوكاني : لا وجه لتضعيفه ، قال الحافظ : وهو معلول. فهذا الحديث وان كان بهذا السند ضعيفاً لاجل الجهالة في عياض بن هلال، لكن له شاهد بسند حسن برواية جابر يقويه فالحديث حسن لغيره ولله الحمد كما في توضيح الأحكام شرح بلوغ المرام : ٢٦٨/١، ونيل المرام للشيخ النورستاني : ٧٨/١.

---

٢٤ – وَعَنْ زَيْدِ بْنِ اَرْقَمَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (اِنَّ هٰذِهِ الْحُشُوْشَ مُحْتَضَرَةٌ ، فَاِذَا اَتٰى اَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلْيَقُلْ : اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ). رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او زید بن أرقمؓ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائی : بیشکه چه تښئ ګانے (د شیطانانو او پیریانو) دحاضریدو ځایونو دی ، نو کله چه په تاسو کښے څوك بیت الخلاء ته لاړ شی نو هغه له دا دعاء وئیل پکار دی : أعوذ بالله من الخبث والخبائث (یعنی : زه دناپاك نارینه اوزنانه پیریانو نه په الله پورے پناه غواړم)۔ (أبوداود، ابن ماجه)۔

تعارف : د زید بن ارقم ﷺ :

انصاری خزرجی مشهور صحابی دے، اولنئ غزوه ئے غزوه خندق ده په دے کښے شریك شویدے، اود نبی ﷺ سره ئے (۱۷) غزوات کړیدی، اودده یو فضیلت دا هم دے چه دده تصدیق الله تعالی په سورت المنافقون کښے رالیږلے دے .کوفه کښے اوسیدلو او هلته

په سنه (٦٦) هـ کښې د (٨٥) کالو په عمر وفات شويدے. دعلي رضي الله تعالى عنه خاص ملګرے وو. جنګ صفين کښې هم ورسره شريك شوے وو. ټول (٩١) احاديث ئې امت ته نقل کړي دي. رضي الله تعالى عنه.

تشريح : اِنَّ هٰذِهِ الْحُشُوْشَ : جمع د حش بفتح الحاء وضمها۔ دا په اصل کښې دکجورو ګڼرے وُنے وے چه دوئ به په کورونو کښې د بيت الخلاء جوړولو نه مخکښې په کښې قضاء حاجت کولو، بيا په کښې فراخي اوشوه او مطلق د قضائے حاجت ځائے ترے مراد کيږي، يعني ټټئ ګانې، ليټرونونه.

مُحْتَضَرَةٌ : ديته حاضريدل کيدے شي. يعني جنات اوشيطانان ورته دفساد او ضرر دپاره حاضريږي ځکه دلته انسان د الله تعالى د ذکر نه غافل وي نو شيطان پرے قوي وي.

اَعُوْذُ بِاللهِ : د بخاري مسلم په روايت کښې (اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِکَ) الفاظ راغلي دي او په دے روايت کښې (اَعُوْذُ بِاللهِ) لفظ راغلے۔ نودا راوي روايت بالمعنىٰ کړے، اګرچه دا هم صحيح حديث دے، خو هغه راجح دے. او امام ترمذيؒ چه فرمائيلي دي چه : حديث زيد بن ارقم فى اسناده اضطراب (٧/١)، نو ددے اضطراب دفع شيخ مبارکفوريؒ په تحفه الأحوذي شرح الترمذي (١٥/١) کښې ډير په ښه انداز سره کړيدے، هغے ته رجوع اوکړه۔

درجة الحديث : اخرجه احمد (٣٦٩/٤) وابوداود (٦) وابن ماجه (٢٩٦) وصححه ابن حبان واورده الهيثمى فى موارد الظمآن (١٢٦) (١٢٧) قال الألبانى فى تعليق المشكاة : ١١٦/١ : واسناده صحيح، وكما فى صحيح ابى داود رقم : ٤۔

نودواړه الفاظ لوستل جواز لري، ليکن اولني الفاظ د بخاري او مسلم دي، نو هغے لره به ترجيح وي په حديث د باقي کتبو باندے۔

---

٢٥ ـ وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (سِتْرُ مَا بَيْنَ اَعْيُنِ الْجِنِّ وَعَوْرَاتِ بَنِيْ آدَمَ اِذَا دَخَلَ الْخَلاءَ اَنْ يَقُوْلَ : بِسْمِ اللهِ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَاِسْنَادُهٗ لَيْسَ بِقَوِيٍّ.

ترجمه : علي رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے دے : د پيريانو

د سترګو او د انسانانو د عورتونو ترمینځه پرده - کله چه انسان بیت الخلاء ته ننوځی - بسم الله وئیل دی۔ (دا حدیث ترمذی روایت کړے او وئیلی ئے دی : دا حدیث غریب دے او سند ئے قوی نه دے)۔

درجة الحدیث : أخرجه ابن ماجه (۲۹۶) وابوداود (٦) وأورده الهیثمی فی موارد الظمآن (۱۲٦) واخرجه الترمذی وقال : هذا حدیث غریب واسناده لیس بذاك - ای لیس بالقوی - لأن فیه محمد بن حمید الرازی شیخ الترمذی، وهو ضعیف، قال البخاری : فیه نظر.

لیکن صحیح خبره داده چه دا حدیث حسن دے، ځکه ترمذی په ډیرو ځایونو کښے د محمد بن حمید الرازی حدیث حسن کړیدے۔ دے وجے نه شیخ البانی په السلسلة الصحیحة (۱۰۷۰) کښے ورته صحیح وئیلی دی۔ وله شواهد ذکرها فی الارواء (۵۰) فالحدیث صحیح بمجموع الطرق۔

---

۲٦ - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ :(كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ قَالَ :غُفْرَانَكَ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ .

ترجمه : بی بی عائشهؓ فرمائی : نبی کریم ﷺ به چه څه وخت د بیت الخلاء نه را اووتلو نو دا دعاء به ئے اوکړه : غفرانك (اے الله ! ستا بخښنه غواړم)۔ (ترمذی، ابن ماجه، دارمی)۔

تشریح : غُفْرَانَكَ : یعنے نبی ﷺ چه به کله دبیت الخلاء نه را بهر شو نو دا دعاء به ئے کوله چه (غُفْرَانَكَ) اے الله ! زه تانه ستا خاص بخښنه غواړم کومه چه ستا د شان سره مناسب ده۔ یا هغه بخنه غواړم دکومے چه زه مستحق نه یم، بلکه خاص ستا په فضل سره کیږی، دا ځکه وایو چه دا سوال پیدا نشی چه دمغفرت اضافت ئے الله تعالی ته ولے کړیدے۔ دے کښے څه فائده ده ځکه چه د بل چانه مغفرت غوښتل خو دلته نه جوړیږی، نو جواب اوشو چه دے نه مراد خاص مغفرت دے۔ فتدبر !

بیا غُفْرَانَكَ مفعول به دے دا طلبُ او أسئل فعل دپاره، یا مفعول مطلق دے۔ أی : اغفر غفرانك اللائق بك . اومصدر چه کله خپل فاعل ته بلا واسطه د حرف جر مضاف

وی نو عامل ئے حذف کیږی.

د مغفرت طلب کولو وجه او حکمت :

نو ددے ډیر وجوهات کیدے شی (١) یو دا چه نبی ﷺ به همیشه ذکر کولو (کان رسول الله ﷺ یذکر الله علی کل أحیانه) فترك الذکر فی هذه اللحظات. نو بیت الخلاء کښے یو څو منټه ذکر بند شو، نو دالله نه بخنه غواړی (٢) دویمه وجه داده چه انسان د بولو په وجه دګندګئ او مصیبت نه خلاص شی، نو دا یو لوئے نعمت دے چه شکرئے نشی اداء کیدے، نو ځکه دخپل تقصیر مغفرت طلب کوی. (نعمة عظیمة لا یؤدی شکرها فیستغفر) کما نقل عن علی فی کشف النقاب ـ ولے که د انسان متیازے بندے شی نو انسان تق چوی.

قیصه : تاریخ الخلفاء کښے یوه قیصه نقل شویده چه دیو بادشاه متیازے بندے شوے وے، نو ملائك یا یو حکیم سرے راغے او ورته ئے اووئیل : زه به درلره متیازے کهلاؤ کړم خو څه به راکوے ! نیمه بادشاهی به راکړے ! هغه ورته اووئیل : آو، خو چه زه کهلاؤ شم، نو هغه ورله دعاء اوکړه، کهلاؤ شو، خو داسے کهلاؤ شو چه بیائے متیازے نه بندیدلے، ډیر علاجونه ئے اوکړو خو روغ نشو، دغه شخص ورته بیا راغلو او ورته ئے اووئیل : زه به دے بند کړم خو نیمه بادشاهی به راکوے ! هغه ورته اووئیل : صحیح ده. نو د هغه په دعاء سره ئے متیازے اودریدلے، او توله بادشاهی ئے ترے واخسته. اوبیرته ئے ورته حواله کړه چه په دے مونږ څه کوو. په هغه بادشاهی باندے ځوك څه کوی چه دی و ځاځکی متیازو مقابله پرے نشی کیدے. نودا ډیر لوئے نعمت دے چه دانسان متیازے آزادے کیږی که توله دنیا یو سړی له ورکړے اومتیازے ئے بندے شی نو څه به پرے اوکړی !

٣ – دریمه وجه داده : چه کله د انسان یا د نبی ﷺ ذهن دبول او براز په حالت کښے الله طرفته لاړو، لکه د مؤمنانو ذهن کله دے طرفته هم ځی، ځکه د الله لوئی والے ئے زړه کښے وی، نو دا یو نوع بے احترامی ده،غیر اختیاری نو مغفرت غواړی، چه اے الله ! ته مغفرت اوکړے ځکه زمونږ قضاء حاجت ضرورت دے کله رانه ستا بے احترامی کیږی.

٤– څلورمه وجه داده: چه (غُفْرَانَکَ) لفظ متضمن دے شکر لره، امام سیبویهؒ په

خپل کتاب کښې ليکلي دي چه د عربو دا محاوره مشهوره ده (غُفْرَانَکَ ، لَا كُفْرَانَکَ) په دې محاوره کښې د (غُفْرَانَ) لفظ د شکر په معنیٰ راغلې دے، لکه د (لَا کُفْرَانَکَ) د تقابل نه معلوميږي، نوکه دلته هم دا معنیٰ مراد کړے شي نو خبره واضحه کيږي۔ او ددے وجے تائيد په روايت د ابن ماجه کښې راغلے دے (۲٦ : باب ما يقول اذا دخل الخلاء) د انسؓ روايت دے، او نسائي کښې د ابوذرؓ روايت دے چه نبي ﷺ به کله د بيت الخلاء نه را اووتلو نو داسے به ئے لوستل : (الحمد لله الذى اذهب عنى الأذى وعافانى) دلته ئے حمد وئيلے دے، وسنده حسن بمجموع الطرق۔ يعنى نشكرك على هذه النعمة العظيمة۔

۵- پنځمه وجه خطيب شربيني ذکر کړيده (وقيل انه لما خلص من النحو المثقل للبدن سأل التخليص مما يثقل القلب وهو الذنب لتكمل الراحة) ۔ مغنى المحتاج (۷۵/۱) چه کله بنده د هغه ګندګئ نه خلاص شو کومه چه په بدن باندے بوج وو نو د زړه د بوج لرے کولو سوال هم کوی چه هغه ګناه ده دے دپاره چه پوره راحت ورته ملاؤ شي ځکه چه پوره راحت دا دے چه د انسان بدن د ظاهري او باطني ګندګونه پاك شي۔

نور وجوهات هم کيدے شي۔ د الله او رسول ﷺ په خبرو کښې ډير حکمتونه وی چه هغوئ ته معلوم وی۔

درجة الحديث : أخرجه الترمذى (۷) وأبوداود (۳۰) وأحمد (۱۵۵/٦) والدارمى (۱۷٤/۱) وقال الترمذى : هذا حديث حسن غريب، وقال الحاكم فى المستدرك (۱۵۸/۱) : هذا حديث صحيح وأقره الذهبى. وقال الألبانى : واسناده صحيح. صحيح أبى داود رقم (۲۲). وقال النووى : حديث عائشة حديث حسن صحيح، مرعاة (٦٦/۲).

---

۲۷ - وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: (كَانَ النَّبِىُّ ﷺ اِذَا اَتَى الْخَلَاءَ اَتَيْتُهُ بِمَاءٍ فِىْ تَوْرٍ اَوْ رَكْوَةٍ فَاسْتَنْجٰى ثُمَّ مَسَحَ يَدَهٗ عَلَى الْاَرْضِ ثُمَّ اَتَيْتُهٗ بِاِنَاءٍ آخَرَ فَتَوَضَّأَ). رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالدَّارِمِىُّ وَالنَّسَائِىُّ مَعْنَاهُ .

ترجمه : ابو هريرهؓ نه روايت دے فرمائي : نبي کريم ﷺ به چه کله بيت الخلاء ته لاړو نو مابه ورله پياله يا د څرمنے بتکي کښې اوبه راوړلے، نبي کريم ﷺ به هغے سره

استنجاء كوله، بیا به مې ورله بل لوښې راوړو او په هغې به ئې اودس اوكړو ـ (ابو اود، دارمی، نسائی)ـ

تشريح : اَتَيْتُهُ بِمَاءٍ فِيْ تَوْرٍ : تور بفتح التاء وسكون الواو د زيړو يا دكانړو نه جوړ لوښې دې چه خلق پرې اودس كوي او خوراك څكاك په كښې هم كولې شي.

اَوْ رَكْوَةٍ : بفتح الراء وسكون الكاف : د څرمنې وړوكې لوښې چه خلق په كښې اوبه څكي او اودس هم ترې كوي. د بګې، او بتكې. دلته (او) يا خو شك د راوي دې، يا د تنويع دپاره دې، يعني ابو هريرةؓ به نبي ﷺ ته كله يو لوښې راوړو او كله بل.

فوائد الحديث : ١ – په اوداسه كښې د بل چا نه خدمت اخستل جواز لرى، البته استعانت نه دې جائز چه د هغې تفصيل به روستو باب الاستعانه كښې راشي درې طريقې دي. ٢ – اوبو باندې استنجاء كول ترې معلوم شو چه دا يوه طريقه داستنجاء ده.

٣ – داستنجاء دپاره جدا لوښې استعمالول اوداوداسه دپاره جدا لوښې استعمالول بهتر دي، اګرچه جواز د دې هم شته چه د يو يې كوزې لوټې نه استنجاء او اودس دواړه اوكړي.

٤ – بيا دې حديث كښې دا مسئله ناشنا ده چه داستنجاء نه روستو به د نبي ﷺ عادت مبارك دا وو چه لاس به ئې په زمكه يا ديوال باندې راخكلو، چه په ديوال كښې د ډير لاس راخكلو په وجه كنده شوې وه. د دې حكمت دا دې چه كله دا كار اونه كړې شي نو د لاس نه بد بوئي نه ختميږي، او پس د وينځلو نه به هم لاس بوئي كوي كه څوك تجربه اوكړي، خو كله چه خاوره وغيره باندې لاس راكاږي نو بدبوئي ختم شي ـ نو داستنجاء نه روستو لاس په ديوال، خاوره وغيره باندې راخكل سنت دي. دا خبره هم د فقهاؤ په مشهورو كتابونو كښې په باب د سنن الوضوء كښې نشته. معلومه شوه چه ټول دين د فقه په كتابونو كښې هم نه دې راګير، دا دليل دې چه احاديثو كښې كمال دې ـ په حديث كښې هر څه ذكر وي.

فائده نادره : د استنجاء نه مخكښې يا روستو بسم الله وئيل په هيڅ حديث كښې نه دي ثابت، نو فقه كښې چه دا خبره مشهوره ده چه ويسمى قبل الاستنجاء وبعده. نو دا سنت طريقه نده.

درجة الحديث : أخرجه الدارمي (۱/۱۷۳) وأبوداود (٤٥) والنسائي (۱/٤٥) وابن ماجة (۳۵۸) وسنده حسن، وكذا في صحيح أبي داود رقم (۳۵) .

---

۲۸ – وَعَنِ الْحَكَمِ بْنِ سُفْيَانَ رضي الله عنه قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا بَالَ تَوَضَّأَ وَنَضَحَ فَرْجَهُ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ .

ترجمه : حکم بن سفیانؓ فرمائي : نبي کريم ﷺ به چه کله واړه بول اوکړل نو اودس به ئے اوکړو او خپل عورت ته به ئے اوبه ورچنړکاؤ کړے ۔ (ابواود، نسائي)۔

تعارف : **د حکم بن سفيان** رضي الله عنه :

دده په نوم کښې اختلاف دے بعضے وائي : دا حکم بن سفيان دے، بعضے وائي : سفيان بن الحکم دے، بعضے وائي : ابو الحکم بن سفيان دے، لس أقوال په کښې دي. حافظ ابن حجرؒ ذکر کړيدی۔ کما في تهذيب التهذيب (۲/٤۲۵) . امام بخاریؒ او ابن المدينيؒ فرمائي : صحيح داده چه دا حکم بن سفيان دے، هريو چه وي خو مشهور قول دادے چه دا صحابي دے، کما قال به الحافظ وابن عبد البر وابو زرعه۔ او جهالت (نامعلوم والے) د صحابي حديث ته ضرر نه رسوي۔

تشريح : وَنَضَحَ فَرْجَهُ : ددے خلق دوه مطلبه بيانوي : يو غلط بل صحيح، غلط مطلب دادے چه استنجاء به ئے په اوبو سره اوکړه، پس د بول کولو نه۔ وجه د غلط والي داده چه رووستو فصل ثالث کښې دحديث الفاظ داسے راغلي دي : (فلما فرغ من الوضوء أخذ غرفة من الماء فنضح بها فرجه)، يعنے : د اوداسه نه پس ئے دا کار کړيدے۔

صحيح مطلب دادے چه د نبي ﷺ عادت مبارك داوو چه کله به ئے متيازے اوکړے او بيا به ئے اودس اوکړو نو د اوداسه نه روستو به ئے دپرتوګ يا لنګ خختګ ته اوبه چنړکاؤ کړے۔ دے کښې ډير حکمتونه دي، بعضے دادي (۱) چه دا شك او وسوسے ختموي، کله کله په انسان پرتوګ يخ اولګي نو داګمان اوکړي چه مانه څه خارج شو، خاصکر داپه ژمي کښې ډير کرتے کيږي، نو کله چه تا مخکښې نه اوبه اچولي وي نو شيطان ته به وائے چه ورك شه دا خو ما اوبه اچولي دي د هغے يخوالے دے۔ نو دهغه وسوسه به ختمه شي۔

(۲) بله فائده داده چه کله تا اوبه وا چولے نودا ځائے يخ شي نو بيا د بول قطره بنده شي، هغه نه راځي، نودا کار هم سنت عمل دے۔ ددے په باره کښے يو قولي حديث دے اويل فعلي۔ قولي حديث روستو راروان دے چه جبرئيل عليه السلام أمر وکړو: (اذا توضأت فانتضح) اے پيغمبر! کله چه ته اودس اوکړے نو روستو داوبو چنړکاؤ اوکړه۔ دا روايت ضعيف دے۔ اوفعلي حديث ثابت دے، ولے که قولي حديث ثابت شي نو بيا به دا چنړکاؤ کول واجب وے۔

درجة الحديث : رواه أبوداود (١٦٦) والنسائي (٨٦/١) وابن ماجة (٤٦١) وأحمد (٤١/٣)؛ واسناده ضعيف، لاضطرابه الشديد، كما في التدريب : ٩٥، وعلل ابن ابي حاتم : ٤٦/١٠، كذا في المرعات، ولكن الحديث صحيح لشواهده منها ما يأتي في (٣٦٦) وبعضها في صحيح سنن ابي داود رقم : ١٥٩، قاله الألباني في تعليق المشكاة، والشيخ رمضان في تعليقه.

---

۲۹ – وَعَنْ أُمَيْمَةَ بِنْتِ رُقَيْقَةَ قَالَتْ :(كَانَ لِلنَّبِيِّ ﷺ قَدَحٌ مِنْ عَيْدَانٍ تَحْتَ سَرِيْرِهٖ يَبُوْلُ فِيْهِ بِاللَّيْلِ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ .

ترجمه : بي بي أميمه بنت رقيقهؓ فرمائي : نبي كريم ﷺ دپاره د لرگي يو پياله وه چه د کټ لاندے به پرته وه۔ نبي کريم ﷺ به هغے کښے د شپے تشے متيازے کولے۔ (أبوداود، نسائی)۔

تعارف : د اميمه بنت رقيقه رضى الله عنها :

صحابيه ده دپلار نوم ئے عبد الله بن بجاد التيمي دے، دخديجه رضي الله عنها خور زه ده۔ د فاطمه رضي الله عنها د خاله (ترور) لور ده، يوه بله اميمه بنت رقيقه هم شته، هغه تابعيه ده۔

تشريح : كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدَحٌ : يعني د نبي كريم ﷺ يوه کاسه وه د لرگي چه د شپے به ئے په کښے بول کول ځکه دا هغه زمانه وه چه دخوف د وجے نه به رسول الله ﷺ بهر نشو راوتلے ، د دشمنانو نه نه به ويريدلو۔ دا حکم اوس هم دے چه يو

انسان داسې ځائې کښې وی چه بهر نشي راوتلې يره وی د دشمنانو يا درندګانو يا د غلو نه نو په يو لوښي کښې بول کولې شي چه بيا به ئې صبا له توئي کوی۔

عَيْدَانٍ : دا که په فتحه د عين شي نو جمع د عيدانة ده او دو کجورو ته وائي او جمع شويدې په اعتبار د اجزاؤ د کجورو يا جمع حمل ده په جنس باندې او که په کسره د عين شي نو جمع د عُوْدٌ ده لرګي ته وائي دلته دواړه جائز دی مګر اول ظاهر دې۔

يَبُوْلُ فِيْهِ بِاللَّيْل : **سوال** دادې چه بل حديث دطبراني في الأوسط باسناد جيد کښې دعبد الله بن يزيد نه مرفوعا نقل دی (فان الملائكة لا تدخل بيتا فيه بول منتقع) يعنې کوم کور کښې چه بول ساتل شوی وی هغې ته ملائك نه داخليږي۔ اودلته نبي ﷺ به دبولو کاسه دکټ لاندې کيښودله، دا خو ظاهرا تعارض ښکاري ؟۔

جواب دادې چه : يو هغه کاسه ده چه متيازې په کښې اوکړې شي او ګذار کړې شي نو هغه ساتل جواز لري۔ اوبله هغه کاسه ده چه متيازې په کښې اوکړې شي او بيا په کښې پرتې ساتلې شوې وی نو هغه نا روا دی۔ او د نبي ﷺ اول قسم کاسه وه۔ اودا تطبيق دلفظ د (بول منتقع) نه معلوميږي يعنې ډير وخت بول ساتل منع دی چه بد بوئي اوکړي

٢ - ملائك هغه کور ته نه داخليږي چه بول په کښې ډيره موده پراته وی، اوچه کله لږ وخت دپاره پرتې وی لکه يوه شپه وغيره، نو بيا داحرام کار نه دې، بلکه جائز دې، اود نبي ﷺ بول به هم سحر ګذارلې شو۔

٣ - علامه مغلطائي يو بل جواب هم کړيدې چه ملائك هغه کور ته نه راځي کوم کښې چه ډير زيات نجاست وی او ټول ځايونه پليت وی، اوکله چه پياله، کاسه وغيره کښې بول وی په دې سره هغه هيڅ ځائې پليت نه وی، نو ددې ساتل جواز لري۔ ځکه هلته ملائك نه بنديږي۔

درجة الحديث : رواه أبوداو (٢٤) والنسائي (٣١/١) وفي الاسناد حكيمة بنت أميمة، قال عنها الذهبي في الميزان : تفرد عنها ابن جريج وهذا يدل على أنها مجهولة العين. وقال الحافظ في التقريب : لا تعرف. ولا اعتداد بذكر ابن حبان لها في الثقات : ١٩٥/٤. وقال الألباني في تعليق المشكاة : ١١٧/١، رقم : ٣٦٢ : اسناده حسن او محتمل للتحسين

وقد صححه جماعة، وله شاهد عند النسائي نحوه بسند صحيح عن عائشة، انظر صحيح النسائي رقم : ٣٢، وقال هناك : حسن صحيح. وكذا في صحيح أبي داود رقم : ١٩، وقد رد الشيخ رمضان في تعليقه على المشكاة : ١٧٦/٢، على الشيخ الألباني في تصحيحه لهذا الحديث ولكنه ردّ بدون أي دليلٍ فلا يعتبر . وقال في عون المعبود : والحديث وان كان فيه مقال لكنه يؤيده حديث عائشة الذي أخرجه النسائي . فهذا الحديث صحيح .

---

٣٠ - وَعَنْ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ : رَآنِي النَّبِيُّ ﷺ وَاَنَا اَبُوْلُ قَائِمًا فَقَالَ : يَا عُمَرُ، لَا تَبُلْ قَائِمًا، فَمَا بُلْتُ قَائِمًا بَعْدُ). رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه، قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِ السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللهُ : قَدْ صَحَّ عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه قَالَ : أَتَى النَّبِيُّ ﷺ سُبَاطَةَ قَوْمٍ فَبَالَ قَائِمًا . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ . قِيْلَ : كَانَ ذٰلِكَ لِعُذْرٍ.

ترجمه : جناب عمر فاروق رضي الله عنه فرمائي : نبي ﷺ زه په داسې حالت کښې اوليدم چه ما په ولاړه واړه بول کول، وې فرمائيل : اې عمر ! په ولاړه بول مه کوه۔ عمر فاروق رضي الله عنه فرمائي : دې نه پس ما په ولاړه متيازې اونه کړې ۔ (ترمذي، ابن ماجه)۔ امام محي السنة رحمه الله فرمائي : د حذيفة رضي الله عنه نه منقول دي چه نبي کريم ﷺ د يو قوم ډيران ته راغې، او په ولاړه ئې بول اوکړل ۔ (متفق عليه)۔ وئيلې شوي دي چه نبي ﷺ دا کار د څه عذر په وجه کړې وو۔

تشريح : **فَمَا بُلْتُ قَائِمًا بَعْدُ** : پدې مقام کښې دوه قسمه حديثونه راغلل چه بعضو کښې په ولاړه بول کولو ته حرام وئيلې شويدي او بعضو کښې ددې جواز ثابت شويدې۔نو اوس ددې تطبيق څنګه کيدې شي ؟

مسئله : په ولاړه بول څه حکم لري ؟

په دې کښې اختلاف دې :

١ - احناف وائي : په ولاړه متيازې کول مکروه دي، الا من عذر۔

٢ - د امام مالک رحمه الله قول دادې چه که د بول نه څاڅکي نه اوڅڅيږي نو جائز دي، اوکه دا خطره وي نو مکروه دي ۔

۳ - بعضے أهل ظواهر وائي : بول قائما مطلقًا حرام دی ـ دا قول خو صحیح نه دے۔

٤ - دامام احمد بن حنبلؒ، عام محدثینوؒ، سعید بن المسیبؒ، عروه بن الزبیرؒ، ابن سیرینؒ، شعبیؒ، او په صحابو کښې د عمر بن الخطابؓ، زید بن ثابتؓ، ابو هریرهؓ، ابن عمرؓ، او سهل بن سعدؓ مذهب دادے چه بول قائما مطلقا جائز دی، غالبا به ئې په ناسته کوی، او کله کله په ولاړه هم جواز لری ـ (کما فی الموطأ : ٥٠ ونیل الاوطار ١/١٠٩)۔

ددے قول **دلائل** دا دی :

۱ - **اول دلیل** : عن حذیفة قال : کنت مع النبی ﷺ فانتهی الی سباطة قوم فبال قائما فتنحیت فقال : ادنه، فدنوت حتی قمت عند عقبیه فتوضأ فمسح علی خفیه.

(البخاری : ١/٣٦، ومسلم : ١/١٣٢)۔

۲ - روایت د حذیفه فی البخاری بشرح الفتح (١/٢٦٣) ابو موسی اشعریؓ به په ولاړه بول کولو کښې تشدد کولو چه په دے سره انسان ته څاڅکی کیږی او ځان سره به ئې یو بوتل ګرځولو په هغے کښې به ئې متیازے کولے او د بنی اسرائیلو قیصه به ئې ذکر کوله۔ کذا فی مسلم (١/١٣٣) والعینی (٢/١٣٨)۔ نو حذیفهؓ پرے رد اوکړو چه دا کار په دین کښې نشته، دا تکلف دے، رسول الله ﷺ په ولاړه بول کړی دی او ته په کښې تشدد کوے ! بوتل ګرځوے۔

غرض ئے دادے چه په ولاړه بول کښې انسان ته څاڅکی ضرور کیږی، رشاش ورته راځی او ته دومره ځان ساتے چه بوتل ګرځوے دا په دین کښې تکلفات دی، او ته د رسول الله ﷺ صحابی ئے، تول امت به ستا تابعداری کوی، خلق به په حرج کښې واچوے !۔

۲ - دویم دلیل : روستو راروان دے په هغے کښې قصه داعرابی ده (فقام یبول في المسجد) دا حدیث دلیل دے په جواز البول قائما باندے ځکه دا مقام د بیان دے اونبی ﷺ د بول قائمًا (په ولاړه بول کولو) نه منع نه کړو۔

۳ - موطأ (١/٥٠) کښې د عبد الله بن دینارؒ نه نقل دی فرمائی چه ما عبد الله بن عمرؓ اولیدلو چه په ولاړه ئې بول کول۔ واسناده صحیح۔

٤ - امام نوویؒ په شرح د مسلم (١/١٣٣) کښې د ابن المنذرؒ نه نقل کوی : (انه قال

فی الاشراف : اختلفوا فی البول قائما، فثبت عن عمر بن الخطاب وزید بن ثابت وابن عمر وسهل بن سعد : انهم بالوا قیاما، قال : وروی ذلك عن انس وعلی وابی هریرة وفعل ذلك ابن سیرین وعروة بن الزبیر.

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (۱/۱٦۳) کښې فرمائی : چه هیڅ صحیح حدیث په باره د نهی دبول قائما کښې دنبی ﷺ نه نه دے ثابت۔ دغه شان امام ابن ماجه د بعض استاذانو نه نقل کړی دی چه دعربو عادت دا وو چه په ولاړه به ئے بول کول، اوڅوك چه به کیناستلو نو هغه پورے به ئے خندا اوتعجب کولو، لکه ددے دلیل دا یو حدیث د ابن ماجه او نسائی او ابوداود (۱/٥) بسند صحیح دے : (انظروا الیه یبول کما تبول المرأة) روستو راځی۔

په روایت د عبد الرحمن بن حسنه کښې دی (بال رسول الله ﷺ جالسا فقلنا انظروا الیه یبول کما تبول المرأة) اخرجه النسائی وابن ماجة وغیرهما وسنده صحیح وصححه الداقطنی کذا قال الحافظ فی الفتح۔

او په حدیث د حذیفةؓ کښې دی : (فقام کما یقوم أحدکم) نو دا دلیل دے چه نبی ﷺ به دهغوئ خلاف کولو او کیناستلو به په عام حالتونو کښې ځکه چه په دے کښې پرده ډیره ده۔ (کذا فی النیل : ۱/۱۰۹).

او کوم علماء - لکه صاحب مشکات وغیره - چه په حدیث دحذیفةؓ کښې تاویل کوی چه ځکه ئے په ولاړه بول اوکړو چه دده په زنګون باندے درد وو او په ولاړه بول کولو سره شفاء حاصلیږی۔ اوددے په باره کښې روایت د ابو هریرةؓ ذکر کوی چه (انما بال قائما من جرح کان بمأبضه) أخرجه البیهقی والدارقطنی والخطابی فی معالم السنن (۱/۲۹) والحاکم (۱/۱۸۲)، ضعفه البیهقی والدارقطنی ـ

نو ددے (۱) جواب دادے چه دا حدیث ضعیف دے. تفرد به حماد بن غسان وهو ضعیف. کما قال الذهبی فی تخلیص المستدرك (۱/۱۸۲) ، تعلیق المشکاة، شرح السنة (۱/۲۹۰)، کذا فی فتاوی الدین الخالص (۱/۳۹۷)۔

(۲) دویم جواب دادے چه که دا په عذر حمل وے نو پکار ده چه نبی علیه السلام بار بار

دا کار کولے ترڅو چه ددے نه نه وے جوړ شوے، اومونږ ته به رانقل شوی وے، او حال دا چه د نبی ﷺ نه همیشه دا نه دی نقل بلکه کله ناکله نقل دی، بغیر دحالت دعذر نه، لکه مخکښے روایت دحذیفهؓ وغیره تیر شو۔

د **مقلدینو** دا عادت دے چه هغوئ د خپل مذهب د مدافعت دپاره د نبی ﷺ اعمال په عذر حمل کوی، هغه ئے بیمار کړیدے، په جلسه الاستراحه کښے وائی چه پیغمبر ﷺ بوډا شو زنګنونو ئے کار نه کولو، ځکه ئے جلسه استراحت کوله۔ د تورك په مسئله کښے وائی چه د نبی ﷺ په طرف باندے درد وو په سجده کښے مخکښے لاسونو کیخودلو باره کښے وائی چه زنګنونه ئے خوږیدل، دا غلط وائی۔ بلکه د نبی ﷺ هرحالت چه وی نو دا دین دے په هغے باندے عمل اتباع ده، عذرونه چه الله او رسول ﷺ نه دی بیان کړی، نو هغه عذر نه وی فتدبر!

دلائل الحنفية : اول دلیل د ابن مسعودؓ قول دے چه امام ترمذی (٩/١) تعلیقا راوړیدے (ان الجفاء أن تبول قائما) دا حدیث صحیح موقوف دے اومرفوع نه دے، كما فی (٢/٤٥٤) البيهقی : ٢/٢٨٥، وابن ابی شيبة : ١/١٣٤، والبخاری فی التاريخ : ٢/٤٥٤۔

اود هغے الفاظ داسے دی : (اربع من الجفاء ... ان يبول قائما)۔

جواب : ١ - يو خودا حديث موقوف دے اوحديث موقوف چه كله مخالف راشی د مرفوع رواياتو سره نو دا حجت نه وی۔

٢ - **جواب**: په دے كښے دجفاء لفظ دے، اوجفاء لفظ په تحريم دلالت نه كوی، صرف دا چه هميشه دپاره په ولاړه كول د ادب خلاف دی۔

٢ - **دليل** : دا حديث (الباب) د عمر فاروقؓ دے چه نبی ﷺ زه په ولاړه بول كولو باندے اوليدم، وے فرمائيل : (يا عمر لا تبل قائما، فما بلت قائما)۔

جواب : دا حديث ضعيف دے، فيه عبد الكريم بن أبی المخارق وهو ضعيف باجماع المحدثين. كما قال الترمذی (٩/١) والبيهقی فی السنن الكبری (١٠٢/١)۔

او بل روايت د عمر فاروقؓ نه امام ترمذیؒ ذكر كوی : (ما بلت قائما منذ اسلمت) دا صحيح روايت دے خو محمول دے په غالب اوقاتو باندے ځكه چه ابن حجرؒ په الفتح

کښې د عمرؓ، زید بن ثابتؓ، سهل بن سعدؓ نه نقل کړېدی چه (انهم بالوا قائما) ـ دوئ په ولاړه بول کړېدی۔

۳ – **دريم دليل** : حديث د عائشةؓ دے : (من حدثكم أن النبی ﷺ كان يبول قائما فلا تصدقوه، ما كان يبول الا قاعدا) اخرجه النسائی و الترمذی و سنده صحيح على شرط مسلم، كما في السلسلة الصحيحة : ۱/۳٤٥، رقم : ۲۰)۔

جواب : دا حديث معارض نه دے د مخکنو رواياتو سره (۱) وجه داده : چه دا قول دعائشےؓ دخپل علم مطابق دے، چه هغې نبی ﷺ په داسے حالت کښې نه دے ليدلے، او د عائشےؓ نه ماسوا حذيفةؓ ليدلے دے چه (كان يبول قائما) نو عام حالت کښې د نبی ﷺ نه ناسته نقل ده، او کله کله په ولاړه هم ثابت دی (بياناً للجواز)۔

لکه دا خبره ابن القيمؒ په زاد المعاد (۱/۱٦٥) کښې او حافظ په فتح الباری (۱/۲٦۳) کړېده۔ او عائشةؓ دلته عادت د نبی ﷺ ذکر کوی چه په دے باندے دليل دحديث الفاظ دی (ما كان يبول قائما) نو تعارض ختم شو۔

۲ – دويمه وجه داده : چه که تعارض صورت شي نو عائشةؓ نفي کوی او حذيفةؓ اثبات کوی او قاعده داده (دا قاعده عقلي هم ده او شرعي هم ده) چه کله تعارض په مابين د نافی او مثبت کښې راشي نو ترجيح به مثبت لره وی، ځکه دده علم زيات وی ځکه ده ليدلے دے او نافی نه دے ليدلے، خصوصا عائشةؓ دنبی ﷺ سره په سفر کښې نه گرځيدله، او غالبا بهر هم نه گرځيدله، نو که دے نه وی ليدلے نو ددے دشان نه دا څه بعيده نه ده، دغه شان ديکښې دنسخ احتمال هم نشته، وجه داده چه حافظ ابن حجرؒ په الفتح کښې (۱/۲٦۳) ليکی چه حذيفةؓ نبی عليه السلام په مدينه کښې ليدلے دے۔ نو قول دحذيفةؓ راجح شو۔

خلاصه داچه : بغير د ضرورت او عذر نه کله کله په ولاړه بول کول جائز دی، هر کله چه د څاڅکو لګيدلو خطره نه وی، او مستحب طريقه داده چه په ناسته بول او کړے شي لکه دا خبره المغنی (۱/۸۷) کښې هم ذکر ده۔ او نبی عليه السلام هم په ولاړه باندے دپاره کړيدی چه امت ته اوښائی چه په دے کښې دومره سختی نشته، بلکه جواز لری۔ او په نهی کښې چه څومره احاديث راغلی دی هغه ټول ضعيف دی، كما قال الحافظ

(۱/۱٦٥) لكه چه تا اوپيژندل۔

او كوم علماؤ چه دا خبره كړيده (لكه درس ترمذى :۱/۱۹۹ كښې) چه دا شِعار دغير مسلم دے نو ځكه ناجائز دى، نو دا خبره خطاء ده۔ ځكه چه شعار به هله وے چه كله زمونږ دين كښې نه وے راغلے او انسان دهغوئ پشان عمل كولے نو هله به ناجائز وه۔ اوهركله چه ددے شرعا نقل راغے نودا بيا دغير مسلم شعار پاتے نشو ۔ ددے وجے نه صاحب د السنن والمبتدعات ص (۱۹) كښے ليكى چه خوك په ولاړه متيازے كونكى ته بد ګورى نو داغبى او بدعتى او باطل پرست دے۔ د هغه الفاظ دادى :

فصل : فمن الغباوة والجهالة انكار كثير من الناس على من يبول قائما ويرمونه مرة كاليهود، ومرة يقولون : انه يرفع رجله ويبول كالكلب ويحتقرونه وينقصون بعد ذلك مع انه على الحق وهم على الباطل، وهو على السنة وهم على البدعة والجهالة۔

بيا روسته ليكى : نعم يجب على البائل من قيام ان يستر عورته من عيون الناس وان يختار مكانا رخوا لئلا يصيبه الرشاش، وان لا يستقبل القبلة وان لا يقابل الريح، فان فعل ذلك واصروا على الانكار عليه فليبل عليهم۔ يعنى كه خوك په ولاړه بول كونكى باندے سخت انكار او اعتراض كوى نو بول كونكى له پكار دى چه په هغه باندے بول اوكړى۔

درجه د حديث : مخكښې په ضمن د مسئله كښې بيان شوه۔

الفصل الثالث - دريم فصل

۳۲ - عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : (مَنْ حَدَّثَكُمْ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَبُوْلُ قَائِمًا فَلَا تُصَدِّقُوْهُ، مَاكَانَ يَبُوْلُ اِلَّا قَاعِدًا) رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ وَالتِّرْمِذِيُّ .

ترجمه : أم المؤمنين عائشة ؓ فرمائى : چاچه تاسو ته دا خبره اوكړه چه نبى ﷺ به په ولاړه واړه بول كول نو ددے تصديق مه كوئ، بلكه هغوئ به صرف په ناسته واړه بول كول ـ (أحمد، ترمذى، نسائى)۔

تشريح : مَاكَانَ يَبُوْلُ اِلَّا قَاعِدًا : دا نفى دعائشے ؓ دخپل علم مطابق ده اوهر شخص په خپل علم باندے محجوج دے، اويا دلته عائشة ؓ د نبى عليه السلام هَدْيِ

(سيرت) ذكر كوى په بول كښې چه عادت به ئې په ناسته بول كول وو ، نو معنىٰ دعبارت به داوى : (ماكان يعتاد البول الا قاعدا) او هرچه حديث دحذيفةؓ دے نو هغې كښې خلاف عادت قائما بول هم راغلى دى، نو هغه هم جائز شو، بغير دعذر نه هم. نوٓدا دواړه حديثونه صحيح دى او هيڅ تعارض په كښې نشته.

وكذا قال ابن القيم في زاد المعاد (۱/۱٦٥).

درجة الحديث : رواه احمد والترمذى وقال : حديث عائشه أحسن شئ في هذا الباب وأصح آهـ. ليكن په دے روايت كښې شريك بن عبد الله النخعى قاضى الكوفه راوى متكلم فيه دے، په وخت د قضاوت كښې دده حافظه خرابه شوے وه، دا وجه ده چه حافظ ابن حجرؒ فرمائى : په نهى عن البول قائما كښې هيڅ صحيح روايت نشته، نو بناء په دے باندے د ترمذى دخبرے مطلب دادے چه په حديث دعائشه كښې ضعف كم دے او راجح دے په نسبت د نورو احاديثو باندے كوم چه په دے باب كښې وارد دى، لهذا د (أصح شئ) معنىٰ شوه (اقل ضعفا) يعنې نور احاديث ډير ضعيف دى او دا كم ضعيف دے، داسے دے لكه ديوے سترګے خاوند په ړندو كښې.

لكن الحديث صحيح لان الحاكم وابا عوانة والبيهقى (۱/۱۰۱، واحمد : ٦/۱۳٦، ۲۱۳) نقلوه من طريق سفيان الثورى، لا من هذا الطريق واعتذر الألبانى من تضعيفه نفسه فى الأحاديث الصحيحة (۱/۳٤٦) رقم (۲۰۱) وانظر صحيح النسائى (۸) وصحيح ابن ماجة (۳۰۷) نو د شريك متابع موجود دے چه هغه سفيان ثورىؒ دے. ومثله فى المرعاة (۲/٦۹).

---

۳۳ - وَعَنْ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ ؓ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ (اَنَّ جِبْرِيْلَ اَتَاهُ فِيْ اَوَّلِ مَا اُوْحِيَ اِلَيْهِ فَعَلَّمَهُ الْوُضُوْءَ وَالصَّلَاةَ، فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الْوُضُوْءِ اَخَذَ غُرْفَةً مِنَ الْمَاءِ فَنَضَحَ بِهَا فَرْجَهُ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِقُطْنِيُّ .

ترجمه : جناب زيد بن حارثةؓ د نبى ﷺ نه روايت كوى چه جبرئيل عليه السلام د ټولو نه د وړومبنى وحى په موقع نبى ﷺ ته راغے، نو نبى ﷺ ته ئے اودس اوښودلو بيا ئے ورته مونځ اوخودلو بيا چه اودس نه فارغ شو نو يو چونګ اوبه ئے واخستے او هغه ئے

خپل عورت باندے چنړکاؤ کړے ۔ (أحمد، دارقطني)۔

تعارف : د زید بن حارثه رضي الله عنه :

د نیکه نوم ئے شراحیل الکلبي دے، د نبي علیه السلام محبوب او آزاد کړے شوے غلام وو، ابو اسامه ئے کنیه ده، د مور نوم ئے سعدی بنت ثعلبه د بنو معن قبیلے نه ده، د جاهلیت په زمانه کښے ئے مور د خپل قوم ملاقات له روانه وه چه په لاره کښے ورته ډاکوان د بني القین بن جسر را اووتل او زید چه (۸) آته کلن ماشوم وو د مور نه اوتښتولو اود عکاظ په میله کښے ئے خرڅ کړو۔ نو حکیم بن حزام دخپلے چاچي خدیجه الکبریٰ دپاره په څلور سوه درهمه واخستو، بیا چه کله خدیجهؓ د نبي ﷺ په نکاح کښے راغله نو هغه ته ئے زید هبه کړو ۔ بیا ئے کورته خبر اورسیدو چه د نبي کریم ﷺ سره دے، نو پلار (حارثه) او تره ئے راغلل چه را آزاد ئے کړي، نو نبي کریم ﷺ زید ته اختیار ورکړو چه پلار او تره سره ځے اوکه ما سره پاتے کیږے آزاد به دے کړم ! زیدؓ دخپل عقل نه کار واخستلو اود نبي کریم ﷺ سره پاتے کیدل ئے دپلار او تره سره د تللو نه غوره کړل، نو نبي کریم ﷺ حجر اسود خواته راوستلو او اعلان ئے اوکړو چه زید زما ځوئي دے او مانه به میراث وړي۔ بیا چه کله اسلامي دور راغلو نو الله تعالیٰ آیت نازل کړو ﴿ ادعوهم لآبائهم هو اقسط عند الله ﴾ نو بیا به ورته زید بن حارثه وئیل کیدو ۔

د علي بن ابي طالب رضي الله عنه نه پس په نارینه ؤ کښے دا اولنے مسلمان دے، أو نبي کریم ﷺ نه لس یا شل کاله کشر دے۔ نبي کریم ﷺ ورته ابتداء کښے خپله مَولَاګئ (وینزه) أم أیمن په نکاح ورکړه نو اسامه ترے پیدا شو،بیا ئے ورته زینب بنت جحش په نکاح کړه، کما هو معروف ۔ دده یو خصوصي فضیلت دادے چه په ټولو صحابو کښے صرف دده نوم الله تعالیٰ په قرآن کریم کښے ذکر کړیدے۔ په غزوه موته کښے د سپه سالار او أمیر په حیثیت په سنه (۸) هـ کښے د (۵۵) کالو په عمر شهید شوے دے۔ ټول (٤) څلور احادیث ترے نقل دي ۔ نبي اکرم ﷺ چه کله دده د وفات خبر واوریدو نو د سترګو نه ئے اوښکے لاړے ۔ رضي الله عنه

تشریح : اَنَّ جِبرَئِيلَ اَتَاهُ : **فائده جلیله** : جبرئیل علیه السلام د مانځه اوداسه د تعلیم

دپاره دوه کرتے راغلے دے (١) يو کله چه ورته ابتدائي وحي اوشوه په غار حراء کښے، اودس او مونځ ئے ورته اوخودلو، سَحر او مازيګر۔ (٢) دويم په دولسم کال دنبوت کله چه دمعراج نه واپس شو، دوه ورځے امامتي ئے ورته اوکړه۔ ابتداء کښے دوه مونځونه فرض وو اود اسراء او معراج نه پس پنځه مونځونه فرض شو، نو هر يو مونځ ورته په خپل خپل وخت کښے اوخودلو، او شروع ئے د ماسپخين نه اوکړه لکه چه دا به په باب المواقيت کښے راشي ان شاء الله۔ غرفة : بفتح الغين وجاء ضمها۔

فَنَضَحَ بِهَا فَرْجَهُ : په خختک باندے اوبه اوچول پس د اودس کولو نه په هر اودس کښے جائز دي يعني که په اوبو سره استنجاء شوے وي اوکه په کانړو سره، او جبرئيل عليه السلام دا کار د تعليم دامت دپاره کړيدے چه د وسوسو نه په دے طريقه سره بچ شي۔ (٢) يا دپاره ددے چه بول منقطع شي ځکه يخے اوبو سره بول اودريږي۔ اوتشريح ئے مخکښے تيره شويده۔

بيا دا عمل به کوي برابره خبره ده که په هر څه ئے استنجاء کړے وي، داوبو قيد په کښے نشته، نو دحاشيه والا دا خبره صحيح نه ده چه وائي (والظاهر ان النضح مختص بمن استنجى بالماء) دا خبره ظاهره نه ده د ظهور دليل نشته بلکه عموم ظاهر دے۔

درجة الحديث : رواه أحمد والدارقطني وسنده حسن كما قال الألباني في تعليق مشكاة المصابيح (١/١١٨) قال : ورواه ابن ماجة ايضا رقم : ٤٦٢ ـ وهو من شواهد حديث الحكم بن سفيان المتقدم۔

---

٣٤ – وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : (جَآءَنِيْ جِبْرِيْلُ فَقَالَ : يَا مُحَمَّدُ، اِذَا تَوَضَّأْتَ فَانْتَضِحْ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ، وَسَمِعْتُ مُحَمَّدًا – يَعْنِي الْبُخَارِيَّ – يَقُوْلُ : الْحَسَنُ بْنُ عَلِيِّ الْهَاشِمِيُّ الرَّاوِيُّ مُنْكَرُ الْحَدِيْثِ .

ترجمه : جناب ابو هريرةؓ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے دے : ماته جبرئيل

راغے او راته ئے اوفرمائيل : اے محمد ! کله چه ته اودس اوکړے نو (خپل عورت ته) اوبه چنړکاؤ کړه ۔ (دا حديث امام ترمذی روايت کړے دے او وئيلی ئے دی : دا حديث غريب دے، او ما د امام بخاری نه واوريدل چه فرمائيل ئے : حسن بن علی الهاشمی راوی منکر الحديث دے)۔

تشريح : مخکښے تير شوی دی چه د دے چنړکاؤ متعلق دوه قسمه حديثونه راغلی دی : قولی، او فعلی۔ قولی دا حديث دے او دا ضعيف جدا دے۔ او فعلی حديث صحيح دے، لکه چه مخکښے هم تير شو او روستو به هم راشی نو کوم حديثونو کښے چه امر بالانتضاح راغلے دے هغه ټول ضعيف دی او کوم کښے چه امر نشته هغه صحيح دی۔

رَوَاهُ التِّـرمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ، وَسَمِعْتُ مُحَمَّدًا – يَعْنِي الْبُخَارِيَّ – يَقُوْلُ : الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْهَاشِمِيُّ الرَّاوِيُّ مُنْكِرُ الْحَدِيْثِ :

او د امام بخاری لويه فتویٰ ده په راوی کښے څکه هغه نه نقل دی چه (اذا قلت في الراوي : فلان منكر الحديث فلا تحل الروايه عنه) نو دا ضعيف جدا حديث دے، قابل داستدلال نه دے۔

---

۳۵ – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ :بَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَقَامَ عُمَرُ خَلْفَهٗ بِكُوْزٍ مِنْ مَآءٍ، فَقَالَ : مَا هٰذَا يَا عُمَرُ، فَقَالَ : مَاءٌ تَتَوَضَّأُ بِهٖ. قَالَ : مَا أُمِرْتُ كُلَّمَا بُلْتُ اَنْ اَتَوَضَّأَ، وَلَوْ فَعَلْتُ لَكَانَتْ سُنَّةً). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه .

ترجمه : بی بی عائشهؓ فرمائی : رسول الله ﷺ واړه بول اوکړل او عمرؓ د نبی ﷺ شا ته د اوبو کوزه نيولے ولاړ وو، رسول الله ﷺ (چه کله د بولو نه فارغ شو نو وے) فرمائيل : دا څه دی اے عمر ؟ هغه وئيل : دا اوبه دی چه ته پرے اودس اوکړے ۔ نبی ﷺ ورته اوفرمائيل : ماته دا حکم نه دے شوے چه هر وارے زه بول اوکړم نو اودس دے کوم، اوکه چرے زه دا کار اوکړم نو زما دا کار به سنت شوے وو ۔ (ابوداود، ابن ماجه)۔

تشریح : مَا اُمِرْتُ كُلَّمَا بُلْتُ اَنْ اَتَوَضَّأَ: مطلب دحدیث دادے چه یو ځائے کښے نبی ﷺ متیازے اوکړے نوعمر فاروق د اوبو کوزه وروړه او دهغه شاته اودریدلو، نبی ﷺ چه فارغ شو، عمر فاروق ته ئے اوفرمائیل : څه دی ؟ هغه وئیل : اوبه مے راوړیدی چه اودس پرے اوکړے ! نبی کریم ﷺ دده نظریه جوړه کړه اوداځے ورته اوفرمائیل : د بول کولو نه پس ماته داحکم نه دے شوے چه زه به خامخا اودس کوم، اوس که رسول الله ﷺ دا کوزه اخستے وے، نو د عمر فاروق په ذهن کښے به دا خبره ضروری ښکاره شوے وے چه د متیازو کولو نه پس به سمدستی اودس کول فرض او ضروری وی، اودے اودسئ په حالت کښے ګرځیدل به جائز نه وی، اوبیا به ئے پرے خلق وهلے، او هغه شے به ئے په خلقو فرض کړے وے چه شریعت نه دے فرض کړے، نو ځکه نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل : چه دا کار څه ضروری نه دے، هسے نه چه فرض ئے اوګنړے، نبی کریم ﷺ ډیر زیات حکیم وو، د اعمالو مرتبے به ئے خلقو ته خودلے او د ملګرو ذهن سازی به ئے کوله ، چه په غلو کښے واقع نشی۔ نو مطلب دا شو چه د متیازو وغیره نه فورا پس اودس کول مستحب دی، فرض او سنت مؤکد نه دی۔

۲ – بعضے وائی د (وضوء) نه مراد وضوء لغوی دے یعنے لاسونه وینځل پس د بول کولو نه ضروری نه دی، لیکن داخبره ظاهره نه ده۔

۳ – یا ددے مطلب دادے چه دبول کولو نه روستو ماته داحکم نه دے شوے چه زه دے خامخا استنجاء په اوبو سره اوکړم، بلکه په کاڼو وغیره سره استنجاء کول هم جائز دی۔ لیکن اول مطلب ظاهر دحدیث دے، کما قاله ولی الدین العراقی۔

وَلَوْ فَعَلْتُ لَكَانَتْ سُنَّةً : ۱ – یعنی که زه دا کار اوکړم چه دبول نه فورا پس خامخا اودس کوم نو دابه سنت یعنی واجبه طریقه شی زما په امت باندے، یاکه زه استنجاء په اوبو اوکړم نودابه په امت باندے لازمه طریقه شی، او رخصت به ختم شی، داپه نیز دهغه چا چه فعل دنبی ﷺ اومواظبت دهغه دلیل دوجوب ګنړی۔

۲ – دویم مطلب دادے چه دسنت نه مراد سنت مؤکده دے (أی : لو فعلت هذه الفعلة لكانت فعلتی سنة مؤكدة لازمة) یعنی که زه بول نه روستو اودس اوکړم همیشه دپاره نو دا

به سنت مؤكد شي په امت باندې، او حال دا چه دا خو سنت مؤكد نه دې بلكه مستحب دې، او زما په هميش والى به مؤكد گرځيدلې وې.

فائده : ددې حديث نه معلومه شوه چه نبي كريم ﷺ هره خبره يا عمل كوى نو دا د الله تعالى په حكم كوى. ۲ – دغه شان دا خبره هم معلوميږى چه د نبي كريم ﷺ سنت هم مامور بها دى، يعنى د نبي ﷺ په سنت باندې دعمل كولو حكم كړې شويدې، اگرچه هغه فرضى نه وى. ۳ – دغه شان نبي ﷺ به أدنىٰ ځيزونه دخپل امت دآسانئ په خاطر پريخودل، دې دپاره چه هغه په امت باندې فرض نشى لكه په جَمع تراويح ئې پريخودلې، يا لكه دلته ئې دبول كولو نه فورا روسته اودس كول پريخودل ـ وغيره.

درجة الحديث : رواه ابوداود وابن ماجة وسنده ضعيف، فيه عبد الله بن يحيى بن التوأم قال الحافظ : ضعيف، كما فى تعليق المشكاة، والمرعاة، وضعيف سنن ابن ماجة (۷۰). ليكن ددې پشان بل روايت د ابن عباس ابوداود رقم : ۳۷۶۰، كتاب الأطعمه كښې دى : (ان رسول الله ﷺ خرج من الخلاء فقدم اليه طعام فقالوا : الا نأتيك بوضوء ؟ فقال : انما امرت بالوضوء اذا قمت الى الصلاة) وسنده على شرط البخارى .

نو دا حديث شاهد جوړيږى ددې حديث په دې معنىٰ چه اودس د بول او طعام نه روستو ضرورى نه دې، بلكه د اودس حكم صرف د مانځه په وخت دې، فمعنى الحديث صحيح، والله اعلم.

---

۳۶ – وَعَنْ أَبِى أَيُّوْبَ وَجَابِرٍ وَأَنَسٍ : اَنَّ هٰذِهِ الآيَةَ لَمَّا نَزَلَتْ : ﴿ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا وَاللهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ ﴾، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : يَا مَعْشَرَ الْاَنْصَارِ، اِنَّ اللهَ قَدْ اَثْنٰى عَلَيْكُمْ فِى الطُّهُوْرِ فَمَا طُهُوْرُكُمْ ؟ قَالُوْا : نَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ وَنَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ وَنَسْتَنْجِىْ بِالْمَاءِ. قَالَ : فَهُوَ ذٰلِكَ فَعَلَيْكُمُوْهُ). رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه .

ترجمه : جناب أبو أيوبؓ، جابرؓ او أنسؓ نه روايت دې دوئ فرمائى چه كله دا آيت

نازل شو ﴿ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوا وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ ﴾ (ترجمه : په دے مسجد قباء كښے داسے خلق دی چه دوئ ددے سره مينه لری چه ځان ښه پاك كړی، او الله هم د پاكی خوښونكو سره مينه كوی)، نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : اے دانصارو ټولګيه! بيشكه الله تعالىٰ په پاكئ كولو سره ستاسو صفت كړيدے نو ستاسو هغه پاكی څه ده ؟ هغوئ اووئيل : مونږ مانځه دپاره اودس كوو، اود جنابت نه غسل كوو، او په اوبو باندے استنجاء كوو. نبی ﷺ اوفرمائيل : هان! هغه داده نو دا لازم اونيسئ . (ابن ماجه).

تشريح : فَعَلَيْكُمُوْهُ : يعنى لازم اونيسئ داكارونه، دا امر مشترك دے د وجوب اوندب ترمينځه. دوه څيزونه الوضوء للصلوة (٢) والغسل من الجنابة فرض دی، او استنجاء بالماء مندوب ده.

فائده : په دے روايت كښے صرف دا خبره راغله چه اهل قباء به صرف په استنجاء كښے اوبه استعمالولے اوجمع بين الماء والأحجار په كښے نشته. اودا روايت دخپلو شواهدو د وجے نه صحيح دے، نور سندونه ئے صحيح دی . اوكوم روايت د بزار كښے چه دا الفاظ دی (انا نتبع الحجارة الماء) نودا روايت ضعيف دے. فيه محمد بن عبد العزيز وقد ضعفه البخاری والنسائی وغيرهما وايضا فيه عبد الله بن شبيب وهو ضعيف ـ مرعاة (٢/٧٢) تفسير ابن كثير (٢/٣٩٠).

فائده: ١ – نبی كريم ﷺ عالم الغيب نه دے ځكه تپوس كوی.

٢ – صحابه كرامو دا عمل دخپل ځانه كړيدے ليكن د الله تعالى خوښ شويدے، او نبی كريم ﷺ د دين عمل تحسين اوكړو نو دين شو .

٣ – بعضے اهل علم لكه امام مالك، حذيفه بن اليمان او ابن عمر او ابن الزبير نه نقل دی چه استنجاء په اوبو باندے صحيح نه ده، امام مالك فرمائی : نبی ﷺ په اوبو استنجاء نه ده كړے، مالكيه دليل وائی : ځكه چه دا طعام دے. ليكن ددے علماؤ او صحابو عمل بناء دے په اجتهاد او عام عادت باندے چه كاڼری به ئے استعمالول، مګر د رسول الله ﷺ نه عملاً، تقريراً او قولاً په اوبو باندے استنجاء ثابت ده. عملی حديث امام بخاری باب الاستنجاء بالماء (١/٢٧) كښے د انس په روايت راوړيدے (كان النبی ﷺ اذا

خرج لحاجته أجئ انا وغلام معنا اداوة من ماء) يعني يستنجي به۔

دارنګه امام ترمذی بشرح التحفه (۳۱/۱) کښې راوړيدې : عن عائشة قالت مرن ازواجكن ان يستطيبوا بالماء فاني استحييهم فان رسول الله ﷺ كان يفعله.

او قولي حديث دا حديث الباب شو۔ وتفصيله في التحفه (۳۲/۱)۔

درجة الحديث : رواه ابن ماجة . قال الحاكم : هذا حديث صحيح الاسناد وأقره الذهبي لكن قال الحافظ ابن حجر في التلخيص (۱۱۳/۱) : اسناده ضعيف، وكذا قال الألباني : سنده ضعيف، ولكن له شواهد ذكر الشيخ بعضها في صحيح أبي داود ، كذا في تعليق المشكاة : ۱۱۸/۱ . وبعض الشواهد في ابن كثير (۳۸۹/۲) . وقد روى الحاكم من حديث مجاهد عن ابن عباس اصل هذا الحديث وليس فيه الا ذكر الاستنجاء بالماء حسب . مرعاة (۷۳/۲) والتلخيص (۱۱۲/۱)۔ فالحديث صحيح۔

---

۳۷ – وَعَنْ سَلْمَانَ ﷺ قَالَ : قَالَ بَعْضُ الْمُشْرِكِيْنَ وَهُوَ يَسْتَهْزِئُ : اِنِّي لَارٰى صَاحِبَكُمْ يُعَلِّمُكُمْ حَتَّى الْخِرَائَةَ.(قُلْتُ : أَجَلْ. اَمَرَنَا اَنْ لَا نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ وَلَانَسْتَنْجِيَ بِاَيْمَانِنَا وَلَا نَكْتَفِيَ بِدُوْنِ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ لَيْسَ فِيْهَا رَجِيْعٌ وَلَا عَظْمٌ). رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَأَحْمَدُ وَاللَّفْظُ لَهُ .

ترجمه : جناب سلمانؓ فرمائي : ځينې مشرکانو د ټوقو اوخندا په طور دا اووئيل چه زه ستاسو سردار (يعني رسول الله ﷺ) وينم چه هغه تاسو ته هر څيز ښائي تردې چه د قضائې حاجت ته د ناستې طريقه هم درښائي ما ورته اووئيل : هاؤ ! مونږ ته ئې حکم فرمائيلې دې چه قبلې طرفته به نه مخ کوو، اونه به په ښي لاسونو باندې استنجاء کوو، اوددرې کاڼرو نه به په کمو باندې اکتفاء هم نه کوو، چه په دې درېؤ کښې به خوشائي او هډوکي هم نه وي۔ (مسلم، احمد)۔

تشريح : حَتَّى الْخِرَائَةَ :۱ – بول ته وائي۔ ۲ – يا كيفيت او هيئت دبول ته وائي،بكسر الخاء او بفتحها۔

۱ - سلمان ؓ باندې يو مشرك اعتراض اوكړو چه ستاسو پيغمبر ﷺ په هر څه كښې ګوتې وهي هرڅه درته ښائي، تردې چه دمتيازو طريقه هم درښائي، دائې ورپورې مسخرې كولې۔ نو سلمان ؓ ورته د جواب وركولو سره دعوت هم وركړو۔

أَجَلْ : حاصل دجواب د سلمان ؓ دادې چه په دې كارونو كښې كومه خبره قابل د اعتراض ده! حال داچه دې كښې څه شر او ضرر نشته اونه دڅه عيب خبره ده، بلكه ټول ښائسته آداب دي، ټول خير خير دې۔

---

۳۸ - وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ حَسَنَةَ ؓ قَالَ : خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَفِيْ يَدِهِ الدَّرَقَةُ فَوَضَعَهَا ثُمَّ جَلَسَ فَبَالَ اِلَيْهَا فَقَالَ بَعْضُهُمْ : اُنْظُرُوْا اِلَيْهِ يَبُوْلُ كَمَا تَبُوْلُ الْمَرْأَةُ ؟، فَسَمِعَهُ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ : وَيْحَكَ أَمَا عَلِمْتَ مَا اَصَابَ صَاحِبَ بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ كَانُوْا اِذَا اَصَابَهُمُ الْبَوْلُ قَرَضُوْهُ بِالْمَقَارِيْضِ فَنَهَاهُمْ فَعُذِّبَ فِيْ قَبْرِهٖ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

۳۹- وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْهُ عَنْ اَبِيْ مُوْسٰى .

ترجمه : جناب عبد الرحمن بن حسنة ؓ فرمائي : رسول الله ﷺ مونږ ته په داسې حالت كښې رااووتلو چه په لاس كښې ئې ډهال وو، هغه ئې كيخودلو او بيا كيناستلو او هغه ډهال طرفته ئې واړه بول اوكړل۔ (دې ليدو سره) يو مشرك اووئيل : دې ته اوګورئ داسې واړه بول كوي څنګه چه ښځه واړه بول كوي ۔ دا خبره نبي ﷺ واوريده او وې فرمائيل : په تا افسوس دې آيا ته هغه څيزونه پيژنې چه د بني اسرائيلو ملګرى ته اورسيدل (يعنې عذاب)، بني اسرائيلو چه به متيازې كولې او دهغوئ جسم يا كپړې ته به متيازې اولګيدلې نو هغه به ئې قينچۍ سره پريكولو۔ نو بني اسرائيلو ته يو سړي (دې حكم منلو نه) خلق منع كړل نو هغه د قبر عذاب كښې مبتلا كړې شو ۔ (أبو داود، ابن ماجه)۔ اونسائي دا حديث عبد الرحمن نه اوهغه دابو موسى نه روايت كړې دې۔

تعارف : د عبد الرحمن بن حسنه ؓ :

دا د شرحبیل بن حسنه ورور دے،صحابی دے، صرف دا یو حدیث ترے نقل دے، او حسنه ئے د والدے نوم دے، دپلار نوم ئے المطاع بن عبد الله دے۔

تشریح : **اَلدَّرَقَةُ** : دڅرمنے ډهال ته وائی اودا به ئے ددے دپاره دځان سره ګرځولو چه په حالت د بول کښے دا مخکښے اودروی، دپاره دپردے کولو، اوددے دپاره هم چه دمانځه دپاره ستره شی ۔اودا کار ضروری دے ۔

اُنْظُرُوْا اِلَيْهِ يَبُوْلُ كَمَا تَبُوْلُ الْمَرْأَةُ : (داسے متیازے کوی لکه د ښځو پشان) تشبیه په دوه شیانو کښے ده (۱) یو په قعود (ناسته)کښے (۲) دویم په تستر (پرده) کښے، ځکه دجاهلیت په دور کښے به عربو پرده نه کوله۔ ددے نه معلومیږی چه دے معترض تردے وخته پورے عام خلق په بول کښے په ولاړه لیدلی دی ځکه تعجب کوی ۔ لیکن نبی کریم ﷺ چه ورته قیصه د بنی اسرائیلو ذکرکړه، ددے مطلب دادے چه ستا د خندا مطلب دادے چه ته خلق منع کړے دمعروف کار نه لکه چه صاحب د بنی اسرائیلو چه به خلق دښه کارونو نه منع کول، نو زما کیناستل بولو دپاره ښه کار دے نو ته ولے ددے ښه کار نه خلق منع کوے ۔

أَمَا عَلِمْتَ مَا اَصَابَ صَاحِبَ بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ : أما کښے (ما) نافیه ده، اوما أصاب کښے ما موصوله ده، مراد ترینه عذاب دے، یعنی ته نه ئے خبر په هغه عذاب چه یو بنی اسرائیلی ته رسیدلے دے ؟ هغه دا چه په هغوئ کښے دا حکم وو چه کله به بول دهغوئ جامے ته اورسیدل نو هغه به په وینځلو نه پاکیدل بلکه هغه به ئے پریکوله، نو دے شخص به دهغه معروف کار نه منع کوله، چه جامے ولے پریکوئ ؟ نو الله تعالیٰ ورته عذابِ قبر ورکړو۔ نو د (اصابهم) نه مراد (اصاب ثوبهم) دے لکه دا په بل روایت کښے ذکر دے۔ رواه ابو داود : ۱/۱۲۔

قَرَضُوْهُ بِالْمَقَارِيْضِ : یعنے ګنده ځائے به ئے په قینچیانو سره پریکولو دا هغه اِصر أو أغلال دی چه په بنی اسرائیلو باندے وو، دا ګران احکام وو، دے امت ته أسانی شوه چه جامه وغیره ئے د نجاست نه په اوبو سره پاکیږی ۔ بل حکم دا وو چه د بنی اسرائیلو مونځونه بغیر دمسجد نه نه کیدل، لکه دا د حدیث نه معلومیږی (وجعلت لی الأرض

کلها مسجدا وطهورا)۔

درجة الحديث : رواه ابوداود وابن ماجة رقم : ٣٤٦، وسنده صحيح، انظر صحيح النسائي ص : ٩۔

---

٤٠ – وَعَنْ مَرْوَانَ الْأَصْفَرِ قَالَ : (رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ اَنَاخَ رَاحِلَتَهُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ ثُمَّ جَلَسَ يَبُوْلُ اِلَيْهَا، فَقُلْتُ : يَا اَبَا عَبْدَ الرَّحْمٰنِ ؟ اَلَيْسَ قَدْ نُهِيَ عَنْ هٰذَا ؟ قَالَ : بَلْ اِنَّمَا نُهِيَ عَنْ ذٰلِكَ فِي الْفَضَاءِ فَاِذَا كَانَ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ شَيْئٌ يَسْتُرُكَ فَلَا بَأْسَ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : جناب مروان الأصفرؒ فرمائي : ما ابن عمرؓ اوليدلو چه قبلې طرفته ئې خپله سورلئ كينوله، بيا هغه كيناست او سورلئ ته ئې واړه بول اوكړل ۔ (دے ليدو سره) ما عرض اوكړو : ابو عبد الرحمن (دا، د ابن عمرؓ كنيت دے) ! آيا داسے قبلې طرفته مخ كولو سره بول كولو نه منع نه ده راغلې ؟ وے فرمائيل : بيابان كښے دے نه منع فرمائيلے شويده، ليكن كله چه ستا اود قبلې ترمينځه څه څيز حائل وى نو بيا څه حرج نشته ۔ (أبوداود)۔

تعارف : د مروان الأصفر رحمه الله :

دپلار نوم ئې خاقان، يا سالم دے، كنيه ئې ابوخليفه البصري ده، ثقه تابعي دے ۔

تشريح : فَلَا بَأْسَ : دا رائے دابن عمرؓ ده، دا احتمال هم شته چه د نبي كريم ﷺ د عمل نه ئې فهم كړے وى ، كله چه ئې د حفصةؓ دكور دپاسه نبي كريم ﷺ اوليدلو مستدبر القبله، نو ده دا استدلال اوكړو چه نهي مختص ده په بنيان پورے، اوده سره مرفوع قولي حديث نشته، نفس احتمال حجت نه دے، ليكن د ضرورت په بناء په دے باندے هم عمل كول جواز لري ۔ ددے حديث پوره تشريح ابتداء د باب كښې تيره شويده۔

درجة الحديث : اسناده حسن وصححه جماعة كما بينته فى صحيح السنن رقم (١٨١) قاله الألباني. وقال المباكفورى فى المرعاة (٢/٧٥) وذكر فى الفتح (١/١٢٠) انه اخرجه ابوداود والحاكم باسناد حسن۔

---

٤١ - وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ قَالَ : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَذْهَبَ عَنِّيْ الْاَذٰى وَعَافَانِيْ). رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه .

ترجمه : جناب أنس ؓ فرمائی: نبی کریم ﷺ به چه کله د بیت الخلاء نه رابهر شو نو دا دعاء به ئې کوله : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَذْهَبَ عَنِّيْ الْاَذٰى وَعَافَانِيْ (ترجمه : هغه ذات لره ثناء ده چه مانه ئې تکليف ده شي لرې کړو او ماله ئې عافيت راکړو)۔ (ابن ماجه)۔

تشريح : اَلْاَذٰى : په معنى د مُؤْذِيْ (ضررناك) شئ سره دے، شامل دے بول وبراز ته هم، اونوروضررى شيانو ته هم، باقى تشريح ئې مخکښې تيره شويده۔

درجة الحديث : رواه ابن ماجة : دا روايت ضعيف دے فيه اسماعيل بن مسلم المكى وهو متفق على تضعيفه، قاله الألبانى فى التعليق (١ / ١٢٠) ۔ ليکن سيوطى په رموز د سعيد بن منصور کښې دے حديث ته د (ص) علامه ورکړيده، يعنى دا روايت صحيح دے، دا کتاب سيوطى سره موجود وو، نن صبا سنن سعيد بن منصور نه ملاويږى ۔

او دے روايت ته حافظ په الفتوحات الربانيه (١ / ٤٠٥) کښې حسن حديث وئيلے دے د وجې د کثرت الطرق نه چه هغې نه معلوميږى چه دا روايت په مجموع الطرق سره حسن درجې ته رسيږى چه هغه طرق په کشف النقاب : ١ / ٢٣٨، او درس ترمذى : ١ / ١٨١، کښې هم ذکر شوى دى۔ چه د هغې نه معلوميږى چه ان شاء الله دا حديث به د نبى عليه السلام وينا وى۔ او شيخ البانى دے روايت ته بمجموع الطرق ضعيف وائى، انظر الضعيفة جلد (٩) و كذا ابن السنى رقم (٢٢، ٢٥، والارواء رقم : ٥٣)۔

---

٤٢ - وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ؓ قَالَ : لَمَّا قَدِمَ وَفْدُ الْجِنِّ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ قَالُوْا : يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! اِنْهَ اُمَّتَکَ اَنْ يَسْتَنْجُوْا بِعَظْمٍ اَوْرَوْثَةٍ اَوْحُمَمَةٍ، فَاِنَّ اللّٰهَ جَعَلَ لَنَا فِيْهَا رِزْقًا، فَنَهَانَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ ذٰلِکَ). رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : جناب ابن مسعود ؓ فرمائى : کله چه د جناتو (پيريانو) وفد نبى کريم ﷺ ته راغې نو هغوئ اووئيل : يا رسول الله ! خپل امت ددے نه منع کړه چه په هډوکى يا

خوشائی اویا سکرو باندے استنجاء اوکړی (اودس اوچ کړی)، ځکه چه الله تعالی مونږ دپاره په دے کښے رزق مقرر کړیدے۔ نو رسول الله ﷺ مونږ ددے څیزونو نه منع کړو۔ (أبوداود)۔

تشریح : اِنَهَ : دا صیغه دأمر ده د باب نهی ینهیٰ نه، یعنی امت دے منع کړه د استنجاء کولو نه په دے شیانو باندے۔

اَوْحُمَمَةٍ : بضم الحاء وفتح المیم : هغه لرګے اوهډوکے چه اوسوزی او سکاره شی۔ دے حدیث کښے په درے څیزونو باندے داستنجاء کولو نه منع راغلے ده خو ددے سره دهر موذی شی اوګنده څیز باندے د استنجاء کولو نه منع راغلے ده۔ ځکه علت په دے کښے (۱) یاخو دادے چه صفائی نه راولی (۲) دویم : بعضے ددے نه دجناتو او دهغوئ دحیواناتو خوراکه ده، نو هغوی ته پرے ضرر ملاویږی۔ او هرچه سکاره دی نو په دے سره خو صفائی نه راځی یا داچه ددے نه جنات وغیره فائده اخلی چه اور پرے بلوی نوداد هغوئ درزق سبب شمارشویدے نو ځکه ترے منع راغله۔

درجة الحدیث : رواه ابوداود وسنده صحیح کما فی صحیح أبی داود رقم (۳۹).

* * * * * * * *

باب السواك

د مسواک وهلو بیان

دا باب ئې مستقل راوړو: ١ - ځکه چه احکام او مسائل ئې ډیر دي.
٢ - دویمه وجه داده چه مسواك دخصوصیاتو داوداسه نه نه دے، بلکه ډیرو مقاماتو کښې استعمالیږي . دے وجے نه ئې مستقل باب کښې راوړو.

مناسبت : د قضاء حاجت نه چه انسان فارغ شي نو بیا اودس کول پکار وي چه طهارت حاصل شي، او د اودس په ابتداء کښې مسواك وهل سنت عمل دے نو هغه ذکر کوي.

د مسواک او سِواک لغوی معنیٰ :

١ - دا لفظ د سَاكَ يَسُوكُ سُوگًا نه راوتے دے چه ددے معنیٰ ده مږل، رګړول.
٢ - بعضے وائي : دا د تَسَاوَكَ الإِبِلُ نه ماخوذ دے چه ددے معنیٰ ده : داوښانو اخوا دیخوا طرفته مائل کیدل . مناسبت ئې ظاهر دے چه مسواك هم مږلے کیږي او اخوا دیخوا مائل کولے شي . (النهاية لابن الأثير : ٢/٤٢٥).

او مسواك اوسِوَاك په دوه معنو کښې استعمالیږي : ١- یو هغه لرګے چه په هغې باندې مسواك کیږي. ٢ - دویم : استعمال العود، یعني نفسِ فعل (مسواك کولو) ته وائي، اودا په کسره د سین سره دے، کما قاله الجزري وحكاه النووي عن أهل اللغة . اودا دواړه معنے په باب السواك کښې اخستے شي،خو بناء په اوله معنیٰ به مضاف حذف وي. ای استعمال السواك (العود).

دلته یو بل لفظ هم استعمالیږي چه هغه استنان دے، دا د باب استفعال نه دے اود سَنّ نه مشتق دے په معنیٰ د مسواك مږلو سره، لیکن ددے لفظ اطلاق صرف په غاښونو

مړلو سره کیږي، برابره خبره ده چه په مسواك سره وي (لکه استن بالسواك) اوکه بغير دمسواك نه وي (لکه استاك، واستن بالأصابع). دا خو لغوي تحقيق وو.

د مسواك متعلق لس (١٠) مسائل :

١ - اوله مسئله : د مسواك شرعاً مقدار څه دے ؟

نو په دے خبره ځان پوهه کړه چه د مسواك دپاره څه حد شرعي نشته دے ځکه چه دے باره کښے صريح نصِ نه دے راغلے. اوکومو علماؤ چه يو لیشت شرط کړيدے نو په دے باندے هيڅ صحيح دليل نشته، هسے عقليات دي.

د ټولو علماؤ او فقهاؤ په دے اتفاق دے چه شرعي مقادير او اندازے په قياسونو سره نه ثابتيږي، بلکه ددے بيان شريعت ته سپارل شويدے. لکه داخبره ملاعلي القاري په المرقات : ١٩٦/٨) کښے هم ذکر کړيده.

نو هر هغه لرګے مسواك جوړيدے شي چه د ژبے آخر سرته رسيږي او غاښونه اوخله پاکوي، لکه حديث کښے دي چه نبي کريم ﷺ به په ژبه باندے مسواك مړلو تردے چه اع اع به ئے اوکړل.

اود يو لیشت خبره ځکه خطاء ده چه روستو حديث د ابو سلمهؓ راځي چه دصحابو مسواکونه به دومره وو چه غوږونو باندے به ئے کيخودل نو هغه خو غټ نشي کيدے چه انسان ورسره مونځ اوکړے شي. لکه دا کار به زيد بن خالدؓ کولو :

وسواكه على أذنه موضع القلم من أذن الكاتب . واسناده صحيح. أخرجه ايضا ابوداود : ١١/١، والترمذي : ٩/١، واحمد : ١١٦/٤.

٢ - دويمه مسئله : کوم لرګے به استعمالوي ؟

نو مسواك په هر لرګي جائز دے مګر عود الأراك (ډيکر ونے لرګے) استعمالول مستحب دي، دليل داستحباب : حديث دعبد الله بن مسعودؓ دے (انه كان يجتني سواكا من اراك للنبي ﷺ .... الحديث . أخرجه ابوداود الطيالسي برقم : ٢٥٥، واحمد : ٤٢/١، ابو نعيم في الحلية : ١٢٧/١، والهيثمي في المجمع : ٢٨٩/٩، والحاكم : ٣٢٧/٣، كما

فی الارواء : ١/١٠٤، رقم : ٦٥، واسناده : حسن۔

نودا افضل دے۔ اونور لرګی استعمالول هم جواز لری۔

دلیل دجواز : حدیث دمعاذ بن جبل دے مرفوعا : (نعم السواك الزیتون من شجرة مباركة یطیب الفم ویذهب الحفر، وهو سواكی وسواك الأنبیاء قبلی۔

أخرجه الطبرانی فی الأوسط باسناد فیه احمد بن محمدٌ بن محیض كما فی تلخیص الحبیر : ١/٧٢، ومجمع الزوائد : ٢/١٠٥۔ حفر : دغاښونو زیړ والے۔

٢ - دویم : حدیث د عائشهؓ دے فرمائی چه عبد الرحمن بن أبی بكرؓ ته نبی كریم ﷺ اوفرمائیل : مسواك درسره شته ؟ نو هغه سر اوخوزولو، نبی كریم ﷺ هغه استعمال كړو (وانه من جریده رطبه) أخرجه البخاری ۔ او دا د یوے لمدے څانګے نه جوړ وو۔

٣ - تلخیص الحبیر (١/٧٢) كښے حافظ فرمائی : معرفه الصحابه كښے ابو نعیم په ترجمه دابو زید الغافقی كښے وائی :

الأسوكة ثلاثة : اراك فان لم یكن اراك فعنم او بطم۔ او عنم زیتون، او بطم شنئ ته وائی ۔ یعنی كیكر، زیتون او شنئ نه جوړول جائز دی۔

٣ - **دریمه مسئله** : مسواك نارینه اوزنانه دواړو دپاره سنت دے، په دے كښے د دواړو هیڅ فرق نشته، ځكه نبی كریم ﷺ نارینه او زنانه دواړو ته را لیږل شویدے۔ حدیث كښے دی : (لولا أن اشق علی امتی لأمرتهم بالسواك .... الحدیث) كښے امت دواړو ته شامل دے ۔ او احادیثو كښے د زنانو دپاره هم مسواك كول راغلی دی، لكه مجمع الزوائد : ٢/١٠٠، كښے دی : یزید بن الأصم (دمیمونےؓ خورئے) فرمائی : میمونے رضی الله عنها به مسواك همیشه دپاره وهلو مګر كله چه به ئے څه كار كولو نو كیبه ئے خودلو، بیا به چه فارغه شوه نو را وابه ئے خستو۔

المطالب العالیه : ١/٢٣، كښے دی : كان أصحاب رسول الله ﷺ یوثقون مساویكهم فی ذوائب سیوفهم والنساء فی خمرهن .

نو كومو علماؤ (لكه ابن عابدین فی رد المحتار : ١/٧٨، او صاحب الهدایه : ١/٢٢١، فی الصوم) چه دا خبره كړیده چه زنانه به ژاوله ژوی ځكه دا قائم مقام دمسواك

ده په حق ددوئ کښې۔ نو **اول** خو په دے خبره څه شرعي دلیل نشته، **دویم** دا چه: د نبی کریم ﷺ د نیمائی نه زیات امت (زنانه) دمسواكِ د فضائلو نه محرومول دی۔ لهذا د دوئ دا خبره غلطه او په بے تحقیقئ باندے بناء ده۔

٤ - **څلورمه مسئله** : د هرچا مسواك استعمالول جائز دی، کله چه اجازت وی، زنانه، سړی او ماشومان ټول په دے کښې مره برابر دی۔ اوپه دے کښې رد دے په هغه حنفی فقهاؤ باندے چه هغوئ وائی: چاچه د بل چا مسواك اووهلو نوغټ ګنهګار شو او مونځ ئے نه کیږی ۔ او په عوامو کښې دا خبره هم مشهوره ده چه چا د بل چا مسواك اووهلو نو ګویا که د هغه ذکرئے په خله کښې اووهلو ۔ دا بے بنیاده خبره ده ۔

دلیل په جواز باندے: ١- حدیث دعائشة دے۔ قالت: کان للنبی ﷺ سواك یستاك فیعطینی السواك لأغسله فأبدأ به فاستاك، ثم أغسله وأدفعه الیه. رواه ابو داود: ١٣/١۔

دلته نبی ﷺ اوعائشة دواړویو مسواك وهلے دے ۔ او مخکښے د عبد الرحمن بن ابی بکر روایت تیر شو (من جریده)۔

٥ - **پنځمه مسئله** : په روژه کښې صبا اوبیګاه مسواك استعمالول جائز دی ۔ په دے کښې رد دے په قول د امام شافعی باندے څکه هغه وائی: مازیګر کښې به ئے نه وهی۔ دلیل دا وائی چه حدیث کښې راغلی (لخلوف فم الصائم أطیب عند الله من ریح المسك) نو کوم شے چه الله خوښوی د هغے زائل کول مناسب نه دی ۔ .

وجه درد داده چه دا استدلال ډیر بعید دے، څکه چه (خلوف) بد بوئی د معدے نه خارجیږی نه دخولے نه ۔

خلوف : د خلے د بوئی هغه تغیر ته وائی چه د معدے د خالی کیدو په وجه د روژه دار دخلے نه خیژی ۔

او دلیل دجواز دادے چه أمر بالسواك باره کښے چه کوم احادیث راغلی دی هغه مطلق دی، وقت دون وقت پورے خاص نه دی،نو تخصیص دمسواك وهلو په یو وخت پورے صحیح نه دے،مګر په دلیل سره اودلیل دلته نشته۔ بلکه دلیل ددے په خلاف موجود دے هغه داچه :

عبد الرحمن بن غنم فرمائي : ما دمعاذ بن جبل ؓ نه تپوس اُوکړو: اتسوك وأنا صائم ؟ قال : نعم ! قلت :أي النهار، قال : غدوة وعشية. قلت : ان الناس يكرهونه عشية ويقولون : ان رسول الله ﷺ قال : لخلوف فم الصائم الخ، قال : سبحان الله ! لقد أمرهم بالسواك وما كان بالذى يأمرهم ان ينتنوا أفواههم عمدا ما فى ذلك من الخير شئ بل فيه شر.

(كذا فى تلخيص الحبير ص :١١٣، والارواء ١٠٦/١، واسناده جيد)۔

يعني د روژه په وخت مسواك نه وهلو کښې خير نشته بلکه پدے کښې شر دے۔

٢ – دارنګ امام بخاريؒ باب منعقد کړيدے : باب السواك الرطب واليابس للصائم، وذكر عن عامر بن ربيعة قال : رأيت رسول الله ﷺ يستاك وهو صائم مالا أحصى أو أعد (بخارى : ١٥٩/١)۔ عامر بن ربيعه فرمائي : نبي ﷺ د روژے په حالت کښے دومره ډير کرتے مسواك اووهلو چه شمارئے نه وو۔

قال الحافظ : في التلخيص : ٦٢/١ : واسناده حسن۔

اوکومه منع چه د علي او ابو هريره – رضى الله عنهما – نه په البيهقي : ٢٧٤/٤، او الدارقطني : ٢٠٣/٢، کښې نقل ده نو دهغې سند ضعيف دے، او موقوف هم دے۔ انظر فتاوى الدين الخالص : ٥٢٦/١۔

٦ – شپږمه مسئله : آيا ډکوتے نه د مسواک کار اخستے شى که نه ؟

نو سنت طريقه داده چه لرګے استعمال کړے شي، ليکن دضرورت په بناء که لرګے ميسر نشي نوګوته وهل هم جائز دى۔ اوپه دے باره کښے پنځه روايات راغلى دى او ټول ضعيف دى ۔ نو صحيح خبره داده چه په ضرورت باندے محمول دى، يعنے کله چه مسواك نه وى نو غاښونه په ګوته صفا کول پکار دى خو دمسواك والا سنت پرے نه اداء کيږى ۔

اول روايت دهغه رواياتو نه دادے : (١) طبراني په الأوسط كما في مجمع الزوائد :١٠٠/٢، کښے دعائشة ؓ نه روايت نقل کوى : قالت : قلت : يا رسول الله ! الرجل يذهب فوه أيستاك ؟ قال : نعم ! قلت : كيف يصنع ؟ قال : يدخل اصبعه فى فيه فيدلكه۔

دا حديث ضعيف دے سند کښے ئے عيسى بن عبد الله الأنصارى دے وهو ضعيف۔

التلخيص : ۱/۷۰۔

۲ – دويم روايت : عن أنس عن النبي ﷺ قال : يجزئ من السواك الأصابع.

(أخرجه البيهقي : ۱/۴۰، وفيه عبد الحكم القلمي قال البخاري : منكر الحديث۔

۳ – روايت : علي بن ابي طالبؓ اودس كولو (فأدخل بعض اصابعه في فيه ... (وفيه) هذا وضوء رسول الله ﷺ۔

يو خو په دې كښې نفي دمسواك نشته۔ دويم : ددې په سند كښې ابو مطر دې اودا مجهول دې (ميزان الاعتدال : ۴/۵۷۴، وموسوعة رجال الكتب التسعة : ۴/۴۵۴).

۴ – روايت : عن كثير بن عبد الله عن أبيه عن جده قال : قال رسول الله ﷺ : الأصابع تجزئ مجزى السواك اذا لم يكن سواك. وفيه كثير وهوضعيف جدا ومتهم. اخرجه الطبراني في الأوسط ايضا .

۵ – روايت : عن عثمان انه كان اذا توضأ يسوك فاه بأصبعه. كذا في التلخيص ، ولم يذكر سنده (۱/۷۰)۔

اودارنګ دا حمل دې په جواز باندې۔ نو معلوميږي چه ګوته دمسواك په ځائې نه ده قائم، صرف دا چه دا جائز ده۔ او په فقه السنه (۱/۴۳، اورد المحتار : ۱/۷۸) كښې ئې چه ورته سنت وئيلې ده (چه دچا غاښونه نه وي نو ګوته وهل سنت دي) او استدلال ئې كړيدې په حديث دعائشهؓ باندې كوم چه مخكښې تير شو، نو دا خبره هم خطاء شوه ځكه چه حديث دعائشهؓ ضعيف دې لكه چه تا اوپيژندلو۔ نو سنيت په ضعيف حديث سره نه ثابتيږي --- امام نوويؒ په المجموع (۱/۲۸۲) كښې ليكي : چه كله مسواك موجود وي يا نه وي نو د مسواك سنيت په ګوته استعمالولو سره نه حاصليږي ۔

۷ - اوومه مسئله : فوائد السواك :

د مسواك ډيرې فائدې په احاديثو او اقوالو د علماؤ كښې راغلي دي، بعضې دهغې نه دادي : ۱ – السواك مظهرة للفم : خوله پاكوي۔ ۲– ومرضاة للرب : الله پرې رضا كيږي ۔ (حديث)۔ ۳ – په دې كښې امتثال او عمل كول دي په أمر د نبي كريم ﷺ۔

۴ – علي رضي الله عنه فرمائي : ان أفواهكم طرق للقرآن فاطهروها بالسواك (رواه ابن

ماجه وابونعيم باسناد ضعيف)۔

٥ - ابن عباسؓ فرمائی : فی السواك عشر خصال : مرضاة للرب ـ رب خوشحالوی۔ ٦ - ومسخطة للشيطان - شيطان خفه کوی۔ ٧ - ومفرحة للملائكة : ملائك خوشحالوی۔ ٨ - جيد للثة : اوریٔ مضبوطوی. ٩ - ويذهب الحفر : د غاښونو زیړ والے ختموی. ١٠ - ويجلو البصر : نظر روښانه کوی. ١١ - ويطيب الفم : د خولے خوند مزيدار کوی. ١٢ - يقلل البلغم : بلغم کموی. ١٣ - وهو من السنة . ١٤ - ويزيد في الحسنات : دمے سره نیکئ ډیریږی. (الدارقطنی : ١/٥٨، وسنده ضعيف فيه معلى بن ميمون وهو ضعيف متروك)۔ سند اگرچه ضعيف دے خو دا فوائد مسواك کښے شته دے۔

تلخيص الحبير (١/٧١) کښے نور فوائد ذکر دی، قشیری بلا سنده دأبو الدرداءؓ قول راوړیدے چه په مسواك کښے (٢٤) گنړ فوائد دی، غير مذکور په کښے دادی :

١٥ - يرفع الصلاة الى سبعين درجة : مونځ ورسره اویا درجو ته رسی. ١٦ - په رزق او مالداریٔ کښے فراخی پیدا کوی. ١٧ - دخلے بوئی لرے کوی. ١٨ - صداع يعنی سر درد ورسره ښه کیږی. ١٩ - دغاښونو درد ښه کوی. ٢٠ - دمخ درنړا اود غاښونو د پړق په وجه ورسره ملائك مصافحه کوی۔

رد المحتار (١/٧٨) کښے نور **فوائد** ذکر دی ـ لکه : ٢١ - يبطئ بالشيب : ويښته ورسره ډير وخت پس سپينیږی. ٢٢ - يحد البصر : دید تیزوی. ٢٢ - شفاء لما دون الموت : مرگ نه علاوه د هرے بیماریٔ شفا ده. ٢٣ - انه يسرع فى المشى على الصراط : پل صراط باندے انسان په جلتیٔ سره تیروی. ٢٤ - ويبيض الأسنان : غاښونه سپینوی. ٢٥ - ويهضم الطعام : خوراك هضم کوی. ٢٦ - ويزيد فى الفصاحة : فصاحت زیاتوی. ٢٧ - ويقوى المعدة : معده مضبوطوی. ٢٨ - ويقطع المرة : ترخے اوبه ختموی. ٢٩ - ويسكن عروق الرأس : د سر رگونو ته آرام رسوی. ٣٠ - ويسهل خروج الروح : روح ورسره آسان اوځی. ٣١ - اماطة الأذى : ضرر دفع کوی.

٣٢ - وأعلاها تذكير الشهادة عند الموت : غټه فائده په کښے داده چه د مرگ په وخت به ورته کلمه شهادت نصيب شی۔

مرقات (٣/٢) کښې ملا علي القاري فرمائي : په مسواك کښې (٧٠) اويا فوائد دي لکه څنګه چه په افيون کښې اويا (٧٠) ضررونه دي۔

٨ - اتمه مسئله : د مسواک وهلو څه طريقه ده ؟

نو کيفيت ئې په غابښونو کښې دادې چه مسواك به عرضا (په پلنو) وهي نه طولا (په اوږدو)، لکه په السنن الکبرى (٤٠/١) والتلخيص (٦٥/١) کښې روايات راوړيدي خو هغه ضعيف دي۔

٢ - او په ژبه باندې چه وهي نو کيفيت ئې دادې چه طولا به ئې وهي او د ژبې آخر سرته به ئې رسوي لکه مخکښې حديث تير شويدې چه نبي کريم ﷺ به پرې اُع اُع کولو۔

او په روايت د بخاري (٣٨/١) او مسلم (١٢٨/١) کښې دي : ابو موسى فرمائي : اتيت النبي ﷺ يستن بسواك بيده يقول : اع اع، والسواك في فيه كأنه يتهوع. وفي رواية مسلم : وطرف السواك على لسانه. وفي لفظ احمد : وطرف السواك على لسانه يستن الى فوق. قال الراوي : كأنه يستن طولا۔

اوګوتونيولو کښې چه کوم کيفيت رد المحتار (٧٨/١) ذکر کړيدې اوحواله ئې په ابن مسعودؓ ورکړيده نودا حديث مونږ چرته نه دې موندلې۔

٩ - نهمه مسئله : اوقات السواک کوم کوم دي ؟۔

د مسواك وهل په ډير اوقاتو کښې په احاديثو کښې ثابت دي، لکه :

١ - دمضمضه په وخت۔ ٢ - مانځه ته اودريدو په وخت، ٣ - کور ته داخليدلو په وخت، لکه روستو حديث راروان دې۔ ٤ - تهجد ته د پاڅيدو په وخت د اوداسه نه مخکښې (اذا قام للتهجد يشوص فاه بالسواك) . ٥ - عند النوم۔ : د اوده کيدو په وخت، لکه په حديث د ابو نعيم في معرفه الصحابه کښې دي : ان رسول الله ﷺ ما نام ليلة حتى استن (يعنې رسول الله ﷺ به چه کله اوده کيدو نو خامخا به ئې مسواك کولو .

٩ - السواك لكل صلاة : هر مانځه ته اودريدو په وخت. ١٠ - السواك بعد فراغه من كل شغل وعمل : د هر قسم کار نه فارغيدو په وخت . كما في حديث ميمونة۔ ١١ - د خلې د بدبوئي په وخت. لکه ابن ابي شيبه کښې دي چه نبي ﷺ د يو سري نه دخلې بدبوئي

محسوس کړه، ورته ئې اووفرمائيل : أما تستاك ؟ يعنې مسواك ولې نه وهې ؟۔

۱۲ – خوب نه را پاسيدو په وخت۔

۱۰ – لسمه مسئله : په کوم لاس مسواک وهل سُنت دی ؟۔

نودامسئله مخکښې په حديث د عائشه باب آداب الخلاء کښې تيره شوه چه دوه قوله دی په کښې۔ ۱ – شيخ الاسلام ابن تيميهؒ وائي : دا د قبيلې د ازالة المستقذرات نه دے نو ګس لاس سره وهل ئې بهتر دی.

۲ – دويم قول دادے چه مسواك وهل سنت دی، او سنت طاعت د الله تعالی دے او قربت دے اوقربات او طاعاتِ په ښی لاس سره کيږی ۔ اوبل دليل روايت دابوداود (۲۱۷/۲ ، کتاب اللباس باب الانتعال) دے کما مر عن عائشة وفيه : کان رسول الله ﷺ يحب التيمن ما استطاع في شانه کله في طهوره وترجله وتنعله قال مسلم : وسواکه واسناده صحيح۔

۳ – قول ثالث والا تفصيل کوی چه که مسواك د تطهير الفم دپاره وی لکه دخوب نه پاخی يا استنجاء نه پس نوګس لاس سره وهل بهتر دی، اوکه د تحصيل السنة (د سنت عملی کولو) دپاره وی نو دا بيا مجرد قربت دے نو په ښی لاس سره وهل ئې بهتر دی ۔

تنبيه : برش وغيره استعمالولو هم هغه حکم دے کوم چه په ګوته کښې دے، چه په دے سره هم جائز دے ليکن سنت ورسره نه اداء کيږی، يعنې دا د مسواك پشان حکم نه لری، بلکه صرف کفايت په کښې دے، اوبه د مسواك فائدے په دے سره حاصليږی۔ دارنګه دے سره دا شرط هم ياد لرل پکار دی چه دا به دخنزير دخرمن نه نه وی جوړ۔

الفصل الأول – اولنے فصل

۱ – عَنْ أَبِی هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلٰى أُمَّتِیْ لَأَمَرْتُهُمْ بِتَأْخِيْرِ الْعِشَاءِ وَبِالسِّوَاکِ عِنْدَ کُلِّ صَلَاةٍ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : جناب أبو هريرةؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلی دے : که ما په خپل امت باندے دا خبره مشکله نه ګڼړلے نو مابه دوئ ته دا حکم ورکړے وو چه

ماسخوتن مونځ تاخير سره کوئ، او هرمونځ دپاره مسواك کوئ۔ (بخاري، مسلم)۔

تشريح : لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلٰى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُم :

فوائد : ۱ – په دې حديث کښې د نبي عليه السلام شفقت ته اوګوره په امت باندې چه فرمائي : زما په امت باندې دا ګرانيږي چه هر مانځه ته مسواك وهل پرې فرض کړم۔

۲ – هر حديث دنبي کريم ﷺ وحي منزل نه ده، ځکه که وحي وې نو ځان ته نسبت کول صحيح نه وو، په (أَنْ أَشُقَّ) سره۔ او په دې معنی ورته وحي وئيلې کيږي چه د نبي کريم ﷺ په دې عمل باندې الله تعالیٰ رد نه دې کړې بلکه په دې باندې خوشحاله دې۔

۳ – الأمر للوجوب، اودا قاعده شرعيه ده، دې دپاره نور هم قرآني او حديثي دلائل شته دې، چه په خپل ځائے کښې به راشي۔

سوال : نبي کريم ﷺ خو سونړ ته په ډيرو ځايونو کښې دمسواك کولو امر کړيدې نو دلته څنګه فرمائي چه (لأمرتهم بالسواك) مابه ورته دمسواك امر کړې وې ؟۔

جواب : هلته کښې أمر للاستحباب دې، او په دې حديث کښې معنیٰ داده چه (لأمرتهم وجوبًا ولزومًا) يعني ما به ورته د فرض کيدو امر کړې وې۔ لکه چه دا د يو حديث نه معلوميږي۔ نو دا دليل دې چه امر دوجوب دپاره دې۔

۴ – دماسخوتن مونځ موخر کول عند الجمهور مستحب دی۔ اود امام شافعیؒ په نيز تقديم ئې مستحب دې، ليکن قول اول راجح دې، وجه درجحان داده چه حديث کښې منع د سمر بعد العشاء نه راغلې ده، نوکه مونځ وختي اوشي نوخوب به زر نه کوي نوقيصې به کوي، نو په دې ممنوع کار کښې به واقع شي۔ باقي اختلاف به روستو راځي۔

عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ : مسواك عند الوضوء کښې خو اتفاق دې چه سنت عمل دې، ليکن مانځه ته د اودريدو په وخت مسواك وهلو کښې اختلاف دې۔ (۱) عند الجمهور مانځه ته داودريدو په وخت کښې هم سنت عمل دې، او ظاهر ددې حديث پرې دليل دې، تاويلاتو ته ضرورت نشته دخپل مذهب ثابتولو دپاره۔ دغه شان عمل دصحابوؓ دليل دې چه هغوئ به عند القيام الى الصلاة مسواك وهلو، دزيد بن خالد الجهني رضی الله عنه نه روايت مخکښې تير شو، چه دده مسواك به هميشه دپاره په غوږ باندې پروت وو، دمانځه په

وخت كښې به ئې وهلو ـ دغه شان بخاري (۱۲۲/۱) باب الجمعه كښې (مَعَ كُلِّ صَلَاةٍ) لفظ راغلے دے، چه دا دلالت كوي په اتحاد زماناً او مكاناً باندې، نو بناء په دې داحنافو تاويل باطل شو چه دلته مضاف حذف كوي اى عند وضوء كل صلاه، فتدبر !ـ

۳ – دليل : محققين متقدمين احناف هم وائي چه مسواك عند القيام الى الصلاة مستحب دے، لكه صاحب د بذل المجهود (۶۱) كښې دتاتارخانيه نه دا نقل كړيدى چه :

ويستحب السواك عندنا عند كل صلاة ووضوء ـ

امام ابن الهمام په فتح القدير شرح الهدايه (۳۲/۱) كښې ليكي :

ويستحب في خمسة مواضع : اصفرار السن، وتغير الرائحة، والقيام من النوم والقيام الى الصلاة وعند الوضوء واول ما يدخل البيت، انتهىٰ.

وقال العلامة عبد الحى فى عمدة الرعاية حاشية شرح الوقاية : ۶۳/۱ : ويستحب ايضا عند كل صلاة ـ

او مسواك عند الصلاة كښې نكته داده چه دا حال د تقرب الى الله او مناجات دے نو پكار ده چه انسان په كمال نظافت سره الله تعالىٰ ته اودريږى او اهتمام دعبادت اوكړي ـ

۲ – دويم قول : د متأخرينو احنافو دے، دوئ دا سنت نه مني، بلكه مكروه ورته وائي،

۱ – اوله وجه دا بيانوي چه په دې كښې خطره ده د راوتلو د وينې دخولے نه او اورئ زخمي كوي، او وينه راوتل خو ناقض للوضوء دے د دوئ په نيز نو د سنيت نه به په دې كار سره حرمت ته نقل شي ـ

ليكن ددې (۱) **جواب** دادے چه دا قياس دے په مقابله د نص صريح كښې ـ اودا باطل دے، په دې باندې هيڅ دليل نشته سوى د مذهبي حمايت نه ـ

(۲) دارنګ وينه راوتل عند الجمهور ناقض نه ده كما مر، دارنګه كه لاړے غالبے وى په وينه باندې نو داحنافو په نيز هم اودس نه ماتيږي، نو بيا په صحيح حديث باندې دعمل نه كولو دپاره ولے خامخا بهانے ګوري !ـ

(۳) بلـه دا چه په آرام سره دے مسواك مږي چه اورئ نه وينه نه راوځي، نو دا بهانه به ئې هم ختمه شي ـ

۲ – دویمه وجه دا بیانوی چه دے کښے ازاله دګندګئ ده نو مسجد کښے دا کار نه دے پکار۔ ددے جواب شیخ محمد طاهر الفتنی الحنفی په مجمع البحار (۱۵۸/۲) کښے ورکړیدے (کما فی المرعاة: ۷۸/۲) چه مسواك عند الصلاة عبادت دے نو مسجد کښے کول پکار دی، اوکه ته وائې چه ګندګی راوځی نو جواب دادے چه په داسے طریقه سره ئے استعمال کړه چه لاړے وغیره ورسره اونه توکلے شی په نرم انداز سره ئے استعمال کړه اهـ۔

۲ – دویم دلیل : پدے حدیث کښے تاویل کوی چه دلته مسواك عند وضوء کل صلاه مراد دے، دلیل دا پیش کوی چه ابن خزیمه (۷۳/۱) حاکم (۱/ ٤٦) بخاری تعلیقا (لأمرتهم بالسواك عند کل وضوء، ولمسلم : عند کل طهور) روایت کړیدے نو دلته مضاف حذف کوی۔ یعنی د هر مانځه په اوداسه کښے مسواك سنت دے۔

ددے جواب دادے چه دلته دوه قسمه احادیث دی (۱) یو عند کل وضوء (د هراودس په ابتداء کښے) (۲) دویم : عند کل صلاةٍ (هر مانځه ته اودریدو وخت کښے)۔ اودا دواړه جدا جدا احادیث دی، په دواړو باندے جدا جدا عمل پکار دے یو په بل کښے داخلول او تاویل کول مناسب نه دیٔ، کله کله په دے بل حدیث هم عمل کول پکار دی، خو الله دے دمقلدینو انصاف روزی کړی چه تاویل په حدیث کښے یا آیت کښے اونه کړی نو ساعت پرے نه تیریږی، خامخا به حدیث د خپل مذهب سره په زوره برابروی، داسے نه کوی چه حدیث ته خپل مذهب ورواړوی اود خپل امام خبره هم عملی کړی چه : اذا صح الحدیث فهو مذهبی. فیا للتقلید ! کم من عاقل ألقاه فی ورطة الهلاك !۔

نو که انسان ئے همیشه نه وهی نو کله کله خو په دے باندے عمل کول پکار دی چه دا احادیث ضائع نشی، خاصکر کله چه انسان د اودس نه پس خبرے اترے کړے وی۔ بله فائده داده چه مسواك سره ښځو دواړو دپاره دے۔لفظ د امت پرے دلیل دے۔

---

۲ – وَعَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ رضي الله عنه قَالَ : سَأَلْتُ عَائِشَةَ بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يَبْدَأُ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ قَالَتْ : بِالسِّوَاكِ). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : شریح بن هانی ؒ فرمائی : ما د بی بی عائشه ؓ نه تپوس اوکړو چه رسول الله

به چه کله کور ته داخل شو نو په څه شی به ئے شروع کوله ؟ هغے اوفرمائیل : په مسواك وهلو باندے ۔ (مسلم)۔

تعارف د شریح بن هانئ رحمه الله :

کنیه ئے ابو المقدام الکوفی ده، او د علی رضی الله عنه ملګرے دے، ډیرو غزواتو کښے ورسره حاضر شویدے، ثقه تابعی دے په سجستان کښے د عبید الله بن أبی بکره سره شریك قتل شویدے په سنه (٧٨) هـ کښے ۔

تشریح : دا حدیث دلیل دے چه نبی ﷺ په عام اوقاتو کښے مسواك وهلے دے تردے چه کور ته به ننوتو هم مسواك به ئے وهلو، نو مسواك وهل مستقل عبادت دے، داوداسه پورے خاص نه دے ۔

٢- ددے نه معلومه شوه چه د نبی علیه السلام د مسواك سره ډیره مینه وه هر وقت به ئے مسواك وهلو۔ ٣- د پردئ زنانه آواز عورت نه دے۔ ٤- د پردئ زنانه نه تعلیم زده کول یا د یوے مسئلے تپوس کول جواز لری کله چه فتنه ترے نه پیدا کیږی مثلا د هغے کیسټ اوری یا لاوډ سپیکر نه غائبانه د هغے آواز اوری۔ جائز دی۔

---

٣ - وَعَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا قَامَ لِلتَّهَجُّدِ مِنَ اللَّيْلِ يَشُوصُ فَاهُ بِالسِّوَاكِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : جناب حذیفة فرمائی : نبی کریم ﷺ به چه کله د شپے تهجدو دپاره پاڅیدلو نو په خله به ئے مسواك مږلو ۔ (متفق علیه)۔

تشریح : يَشُوصُ فَاهُ : شاص یشوص او ماص یموص په یوه معنیٰ سره دی یعنی مږل، ای یدلك اسنانه۔ ددے دوه معانی دی (١) یشوص فاه فی الوضوء : یعنے د اودس په وخت به ئے مسواك وهلو، دا معنیٰ کمزورے ده څکه بیا د تهجدو ذکر کول بے فائدے کیږی، والتاسیس أفضل من التاکید، فتدبر ! (٢) دویمه معنیٰ : لکه چه د نورو حدیثونو نه معلومه ده چه نبی کریم ﷺ به دبالښت لاندے مسواك کیخودلو کله چه به دخوب نه

رابيدار شو نو مسواك به ئے وهلو، بيا به ئے (ان فى خلق السموات والأرض الخ آخرى آيتونه دسورت آل عمران اولوستل، بيا به ئے اودس شروع كولو.

---

٤ – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ : قَصُّ الشَّارِبِ وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ وَالسِّوَاكُ وَاسْتِنْشَاقُ الْمَاءِ وَقَصُّ الْاَظْفَارِ وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ وَنَتْفُ الْاِبْطِ وَحَلْقُ الْعَانَةِ وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ – يَعْنِي الْاِسْتِنْجَاءَ – قَالَ الرَّاوِيْ : وَنَسِيْتُ الْعَاشِرَةَ اِلَّا اَنْ تَكُوْنَ الْمَضْمَضَةَ). رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِيْ رِوَايَةٍ :الْخِتَانُ بَدَلَ اِعْفَاءِ اللِّحْيَةِ، لَمْ أَجِدْ هٰذِهِ الرِّوَايَةَ فِي الصَّحِيْحَيْنِ، وَلَا فِيْ كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ . وَلٰكِنْ ذَكَرَهَا صَاحِبُ الْجَامِعِ، وَكَذَا الْخَطَّابِيُّ فِيْ مَعَالِمِ السُّنَنِ عَنْ أَبِيْ دَاوُدَ بِرِوَايَةِ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ .

ترجمه : بى بى عائشهؓ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دے : لس څيزونه د فطرت نه دى (يعنے ددين خبرے دى) : (١) بريت واړه كول (٢) ږيره اوږدول (٣) مسواك كول (٤) پوزه كښے اوبه اچول (٥) نوكونه پريكول (٦) دجوړونو ځائے وينځل (٧) د ترخ وېښته ويستل (٨) د نامه لاندے وېښته خرئيل (٩) اوبو سره استنجاء كول (١٠) راوى وائي لسم څيز مانه هير شو، ممكنه ده چه هغه خله كنگالول وى . (مسلم) . او يو روايت كښے (دويم څيز) ږيره اوږدولو په ځائے ختنه (سنت) كول دى . او صاحب مشكوه فرمائى : ما دا روايت نه په صحيحينو (بخارى، مسلم) كښے بياموندے دے اونه په كتاب الحميدى كښے (چه دصحيحينو جامع دے)، البته دا روايت صاحب د جامع الأصول (په خپل كتاب كښے) ذكر كړے دے دغه شان خطابى په معالم السنن كښے د أبوداود په حواله د عمار بن ياسر روايت سره نقل كړے دے .

تشريح : عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ : د فطرت درے معانى دى، باب القدر كښے تيرے شوى دى، دلته يا سنه الأنبياء مراد دے، يعنى دا سنت، الله تعالىٰ انبياؤ دپاره غوره كړيدے، او مونږ ته ئے د هغوئ د اقتداء حكم كړيدے، نو گويا چه دا د هغوئ جبلى اوفطرى أمر وو،

چه دوئ پرے پیدا شوی وو ځکه ورته فطرت وائی۔ (۲) یا مراد طبع الانسان ده، یعنی دهر انسان طبیعت دا کارونه ښه ګڼړی، د طبیعت د انسان سره موافق دی۔

وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ :

﴿ ازالة الخفاء عن مسئلة اعفاء اللحیٰ ﴾

د ټول امتِ مُسلمه په دے خبره اتفاق دے چه ګیره د قبضے نه کمول ګناه ده، صرف د علامه مودودی صاحبؒ اود بعضے دکتورانو تحقیق دادے چه دګیرے حد نشته، لیکن مونږ وایو چه احادیثو کښے اعفوا اللحیٰ، ارخوا اللحیٰ الفاظ راغلی دی نودا ئے شرعی حد دے، چه ګوتے مه وروړه۔ دارنګ نور دلائل روسته راځی۔

البته د قبضے نه چه زیاته وی د هغے وهل څنګه دی ؟ په دے کښے اختلاف دے :

۱ – یو قول دادے (وهو قول الجمهور) چه د قبضے نه زیات ویښته وهل مستحب دی، دوه دلیلونه بیانوی (۱) یو عقلی : چه انسان په ډیره اوګده ګیرے سره بدنما معلومیږی او ثوبِ شهرت کښے داخلیږی (۲) نقلی دلیل : څلور موقوف روایات دی چه نصب الرایه (۲/٤٥٧) کښے ذکر دی، اګرچه مرفوع روایات هم شته لیکن هغه ضعیف دی، موقوف روایاتو کښے : ۱– یو د عمر فاروقؓ نه دے (کما فی تحفة الأحوذی : ٤/١١، نقلا عن ابن جریر الطبری : أنه فعل ذلك برجل ۔ چه هغه دا کار د یو سړی سره کړے وو۔

۲ – دویم د ابن عمرؓ نه دے چه ده به په حج او عمره کښے دګیرے دقبضے نه زیات ویښته اخستل (اخرجه البخاری : ۸۷٥/۲، وابوداود : ۳۲۸/۱، باب القول عند الافطار، والنسائی فی کتاب الصوم والحاکم : ٤۲۲/۱، والدارقطنی، وکما فی نصب الرایة : ٤٥٧/۲). وکلا الحدیثین فی ابن أبی شیبة (۳۷۳/۸)۔

۳ – دریم دجابر بن عبد اللهؓ روایت دے (أخرجه ابوداود : ۲۲٥/۲) قال : کنا نعفی السبال – أی اللحیٰ – الا فی حج وعمرة. وسنده ضعیف. حسنه فی التحفة : ٤/١١، وضعفه الألبانی فی ضعیف أبی داود رقم : (٤۲٥١) باب فی اخذ الشارب۔

٤ – روایت د ابو هریرهؓ دے چه ده به د قبضے نه زائد ویښته اخستل (أخرجه ابن ابی شیبة : ۳۷۳/۸، وکذا فی نصب الرایة۔

۲ - دويم قول : د شيخ البانی ؒ دے، دده رائے داده چه د قبضے نه زيات ويښته اخستل واجب دی، دليل دا وائی چه : عبد الله بن عمرؓ د رسول الله ﷺ شديد الاتباع وو، نو ده به ضرور نبی کريم ﷺ ليدلے وی، ځکه دده د شدت الاتباع تقاضا داده چه دا کار به نبی کريم ﷺ کړے وی، اومرفوع ضعيف روايات هم په دے باب کښے شته دے۔

۳ - ليکن علامه مبارکفوری ؒ صاحب د تحفة الأحوذی ليکی : چه نه وهل ئے افضل دی او وهل ئے جواز لری، وجه د افضيلت داده چه احاديث په نه وهلو کښے مطلق راغلی دی (ارخوا، اعفوا اللحی) او هر چه عمل ددے صحابوؓ دے نو دا چه کله د مرفوع صحيح مقابله کښے راشی نو متروك به وی، او عمل او أمر د نبی کريم ﷺ به اخستل ضروری وی۔ اودا په کښے أسلم الأقوال دے، اوهمدا رائے د شيخ صالح العثيمين ؒ هم ده۔ او زمونږ رائے هم داده۔

۴ - خو، ښه جواب دادے چه د صحابوؓ نه دا وهل په حج او عمره کښے ثابت دی تتميما للحلق، الا من ابن عمرؓ۔ اودليل په دے باندے قول د جابر بن عبد اللهؓ دے : (کنا نعفی السبال الا فی حج) حسنه فی التحفة : ۱۱/٤، وضعفه الألبانی فی ضعيف أبی داود (٤٢٠١)۔

نو ښه طريقه هم دا شوه چه دحج او عمرے نه ما سوی اوقاتو کښے په (اعفوا) باندے عمل دے او په حج او عمره کښے په قصّ باندے عمل دے، اودا زائد علی القبضه وهل صرف مونږ جائز قدرے ګڼو، د وجے د احترام د اجتهاد ددے صحابه کرامو ؓ۔

ليکن سلسلة الأحاديث الصحيحة : ۲٤۹/۳، او مجمع الزوائد : ۱۳۱/۵ ، کښے يو حديث دے : چه صحابوؓ نبی کريم ﷺ ته عرض اوکړو : (ان اليهود يقصون عثانينهم و يوفرون سبالهم) نبی کريم ﷺ ورته اوفرمائيل : (وفروا عثانينكم وقصروا سبالكم) واسناده حسن -- عثانين جمع د عثنون ده ګيرے ته وائی اوسبال جمع د سبله ده، بريتوته وائی، کله کله ګيرے ته هم وائی۔

دا حديث مطلق دے په ګيره پريخودلو کښے ځکه دا أمر په مقابله ديهودو کښے شويدے اوهغوئ به ګيرے لنډولے، څومره مقدار به ئے لنډولے ؟ نو ددے معلومات خو

نشته ! نو دلته نبی کریم ﷺ تعیین او تحدید اونه کړو چه څومره اندازه ئے اوګده کړئ، اویهودو به وړه کوله، نو نبی ﷺ دهغوئ په مقابله کښے امر په (وفروا) سره اوکړو چه اوګدے ئے کړئ. نو په دے روایت سره د مودودی صاحب خبره هم غلطه شوه، او د شیخ البانی صاحب د وجوب قول هم کمزورے شو، تدبر !.

لِحْيَة : اصل کښے د ژامے هډوکی ته وائی یعنے هغه ویښته چه په اننګو او ژامه او زنه باندے راختلی وی . نو د مخ نه ویښته اخستل یا د مخ خرئیل هیڅ روایت کښے نه دی نقل. پاتے شوه د فتاویه شامیه (۲۶۱/۵) دا خبره چه دمخ نه ویختته اخستل او د ګیرے طرفونه اخستل جواز لری نو دا خطاء خبره ده، وجه دخطائی داده چه د لحیه تعریف دے تولو ته شامل دے. (مجموعه الفتاوی : ۱۲۰/۲۱، لشیخ الاسلام).

الفائدة الفائقة : اوس دلته د **بدن د ویختو اقسام** بیانیږی :

۱ – یو قسم هغه دی چه دهغے اخستل واجب دی، لکه حلق العانه (زیر ناف ویښته) نتف الابط وقص الشارب (د ترخونو او بریتو ویښته).

۲ – بل هغه دی چه دهغے اخستل حرام دی ، لکه حلق اللحیه والحاجب للمرأه والرجل. ګیره، اود سرې او ښځے وروځے.

۳ – دریم هغه دی چه ترک ئے افضل دی او اخستل ئے جائز دی، وهو حلق الرأس . سر خرئیل. ٤ – بل هغه دی چه اخستل او ترک دواړه علی السویه وی، لکه دعام بدن ویښته اخستل ما سوی دمذکوره مواضعو نه. دا په اباحت عامه کښے داخل دی. لکه دپوزے دننه ویښته، دپنډوا ویښته، ماتحت الخصیتین وغیره ددے اخستل جائز دی.

دلیل په دے باندے دا حدیث دے (وما سکت عنه فهو مما عفا عنه). رواه ابوداود . په دے باندے ډیر مسائل حل کیږی .

وَقَصُّ الْاَظْفَارِ : نوکونه پریکول .ددے پریکولو آخری موده څلویښت ورځے ده (کما فی الحدیث : ان لا نترك أكثر من أربعين ليلة – مسلم : ۱۲۹/۱) اوهره هفته یا دوه هفتے پس اخستل ئے افضل دی. او د اخستلو په کیفیت کښے څه خاص طریقه د پریکولو مسنون نه ده، په دے باره کښے هیڅ صحیح حدیث نه دے وارد. او کوم کیفیت

چه بعض خلقو ذکر کړيدے يا لکه شيخ عبد القادر جيلانیؒ په غنية الطالبين (۱/۱۵) کښے ذکر کړيدے چه اول بـه د خنصر ګوتے نوکان د ښی لاس پريکوی بيا به د وسطیٰ، بيا به د ابهام، بيا به د بنصر بيابه د ګس لاس نه د ابهام، وسطیٰ، خنصر، سبابه، بنصر پريکوی ۔ نو ددے کيفيت هيڅ وجود په احاديثو کښے نشته۔ بعضے خلق دے باره کښے ضعيف او موضوع حديث پيش کوی چه (من قص أظفاره مخالفا – کما مر – لم ير فی عينيه رمدا) چاچه په دغه مذکوره طريقه خپل نوکونه پريکړل نو سترګے به ئے چخنے نشی۔ قال السخاوی : لم اجده (موضوعات الکبری للقاری ص : ۷۴، وقال ابن القيم فی المنار المنيف ص : ۱۴۰ : من اقبح الموضوعات. وفی المختارات الحلية ص : ۲۳)۔

دا روايت موضوع دے نو ځکه پرے استحباب نه ثابتيږی، دا د صوفياؤ طريقے دی ۔ ملا علی قاری په کښے وائی : فانه انفع لرمد العينين ۔ نودا حديث ضعيف دے۔ بلکه احاديثو کښے داخبره ده چه اول بـه د ښی لاس او ښی طرفنه شروع اوکړی بيا به د ګس لاس، ځکه (کان رسول الله ﷺ يعجبه التيمن فی کل شئ)۔

وَنَتْفُ الْإِبْطِ : ۱ – يعنے په ګوتو سره د ترخ ويښته ويستل، او په دے سره دا ويښته ضعيف کيږی نو د بدن نه بخارات اوبد بوئی کميږی۔ خو آيا خرئيل ئے او نوره – يو قسم چونه – وغيره استعمالول جائز دی که نه ؟ په دے کښے اختلاف دے ۔

۱ – يو قول دادے چه مقصود په نتف الابط کښے نظافت دے نودا په هره ذريعه سره حاصلولے شی، او غالباً ويستل ګران دی نو خرئيل ئے هم جائز دی ۔

۲ – قول ثانی دادے چه نبی کريم ﷺ نتف (ويستل) لفظ وئيلے دے نودا ضروری دے، او ابتداء کښے ويستل ګران وی خو چه کله انسان ورسره عادت شی بيا تکليف نه وی، او په نتف کښے فوائد دی کوم چه په حلق (خرئيلو) وغيره کښے نشته، کما مر۔ خو چاته چه په نتف کښے تکليف وی نو حلق ورلره جواز لری ۔ تفسير قرطبی (۲/۱۰۵) کښے دی چه د ترخ ويښته خرئيل جائز دی اګرچه افضل نه دی ځکه مقصود په نتف (ويستلو) کښے نظافت حاصلول دی او دا په خرئيلو سره هم حاصليږی۔ امام شافعیؒ وائی : زه پرے قوی نه يم۔

وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ : د ګوتې بندونو دپاره په عربئ کښې ډير الفاظ استعماليږي براجم، اشاجع، رواجب، انامل دا ټول مفاصل ته وائي خو فرق دادې چه بَرَاجِم جمع دبُرْجُمَةٌ ده د ګوتې هغه بندونو ته وائي چه تلي سره نزدې دي، د هغې نه بره رَوَاجِب، د هغې نه بره اَشَاجِع، د هغې نه بره اَنَامِل يعنې د ګوتو سرونه دي (حاشية المتنبي ص : ٧٩)، بعضې انسانان خاصکر د زميندار د ګوتو بندونه زر نه لمديږي نو په دې وجه ئې دا جدا ذکر کړو۔

امام نووي شرح مسلم : ١٢٩/١، کښې وائي : د غسل البراجم په حکم کښې هغه خيرې چه په نوکونو او پوزه کښې او د بدن په بل ځائے کښې جمع وي داخل دي۔

وَحَلْقُ الْعَانَةِ : عانه زير ناف ويښتو ته وائي، د نارينه وي که دزنانه۔ ابو العباس بن سريج لغوي وائي : دا هغه ويښتو ته وائي چه د دبر د حلقې نه ګير چاپيره وي، امام نووي وائي : بناء په دواړو تفسيرونو د قبل او دبر ويښته خرئيل مستحب دي (شرح مسلم : ١٢٨/١) ليکن ظاهره داده چه اول تفسير د جمهور اهل لغتو دې، نو صرف د عانه خرئيل ضروري دي، او د دبر نه ګير چاپيره ويښته خرئيل مباح درجه کښې دي، که اخلي اوکه نه لکه مخکښې د ويښتو تقسيم کښې تير شو۔ بيا ددې په لرې کولو کښې درې طريقې جائز دي، سنت په کښې حلق (خرئيل) دي، اودوه طريقې جائز دي (١) يو ويستل اودا شهوت کښې نقصان پيدا کوي (٢) دويم نوره – يو قسم چونه – وغيره استعمالول، ليکن دا بدن توروي ۔(٣) خرئيل : اودا شهوت کښې زيادت پيدا کوي ۔ دليل دادې چه يو صحابي نبي کريم ﷺ ته د زيات شهوت فرياد اوکړو، نبي کريم ﷺ ورته اوفرمائيل : وفر شعر جسدك ... الحديث. أخرجه ابو داود بسند ضعيف۔

يعنې د بدن ويښته زيات کړه، شهوت به دې کم شي،اودا کار په واده زنانو له پکار دې چه ويښته اوباسي يا دوائي کريم وغيره استعمال کړي، دې دپاره چه شهوت ئې کمزورې شي ۔ بيا ددې کمه موده مقرره نه ده، او زياته موده ئې څلويښت ورځې ده، ددې نه ئې اړول نه دي پکار، لکه مسلم (١٢٩/١) کښې حديث د انس ؓ دې (وُقِّتَ لنا في قص الشارب وتقليم الأظفار ونتف الابط وحلق العانة : ان لا نترك اكثر من اربعين ليلة)۔

امام نووي وائي : د حديث معنىٰ داده چه څلويښت ورځونه به ئې نه اړوي او دا مطلب

نه دے چه څلوېښت ورځو نه مخکښې به ئے نه پريکوي۔

وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ : ۱ – اضافت دمصدر دے فاعل ته، او مفعول حذف دے، أي انتقاص البول بالماء، يعني چه انسان ذکر په اوبو سره اووينځي نو يخوالے به اثر اوکړي نوبول به اودريږي اولګ لګ به نه خارجيږي، نو مراد ترينه استنجاء شوه ۔

۲ – بعضے وائي چه د انتقاص نه مراد انتفاض دے يعنے چنړکاؤ د اوبو چه دا معنیٰ د نضح او انتضاح هم ده کما مر في حديث جبرئيل۔ يعني داودس نه پس خختګ ته اوبه اچول د وسوسے ددفع کولو دپاره۔ اومرعات (۲/۸۱) کښے دا توجيه غوره کړيده۔ دليل دادے چه حديث دعمارؓ کښے دانتقاص په ځائے دانتضاح لفظ ذکر دے، کما في أبي داود وابن ماجه ۔

يَعْنِي الْاِسْتِنْجَاءَ : دا تفسير د وکيع راوي دے، لکه په روايت د مسلم (۱/۱۲۸) کښے قتيبه بيان کړيدے۔

الْخِتَانُ : **﴿ توجيه الكسلان الى مسئلة الختان ﴾**

دخِتان معنیٰ ختنه کول (سُنتول) يعني دذکر دحشفے نه چه کومه څرمن تاؤ وي هغه پريکول دومره حد پورے چه زورنده غوښه پاتے نشي او يا دومره چه ټوله حشفه راښکاره شي۔ دا ختنه به د هغه چا کولے شي چه قلفه لري، اوکه همداسے مختون پيدا شوے وي نو سنتول ئے نشته، لکه بناء په يو قول باندے نبي کريم ﷺ مختون پيدا شويدے ۔ اګرچه دا قول ضعيف دے، شرعه الاسلام ۔ زاد المعاد : ۱/۸۰ ۔ وتحفة المودود۔

د ختنے څه حکم دے ؟

نوددے په حکم کښے اختلاف دے : ۱ – جمهور علماء ددے قائل دي چه ختنه د نارينه دپاره واجب ده، او ابن عباسؓ به په دے باره کښے ډيره سختي کوله اودا به ئے وئيل چه د بے ختنے شخص حج او مونځ مقبول نه دے تر څو چه ختنه اونه کړي، كذا في المغني (۱/۱۳۹)۔ وتحفة المودود ص (۱۲۹) وهو قول الشعبي وربيعة والاوزاعي ويحيى بن سعيد الانصاري والشافعي ۔

۱– **دليل د وجوب** : نبي کريم ﷺ ته يو شخص راغے او ورته ئے عرض اوکړو : ما

اسلام قبول کړو، نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائيل : الق عنك شعر الكفر، واختتن۔ أخرجه ابوداود : ٥٧/١، واحمد : ٤١٥/٣، كذا فى التلخيص : ٨٢/٤، باسناد صحيح ۔

٢ - **دليل** : بخاری رقم (٦٠) کښې دی (اختتن ابراهيم خليل الرحمن بعد ما أتت عليه ثمانون سنة، واختتن بالقدوم) هرکله چه ابراهيم عليه السلام د اتيا کالو په عمر ختنه کوی نودا سنت ابراهيمی دے اومونږ ته ددے د اتباع او اقتداء حکم شويدے ﴿ ثم اوحينا اليك ان اتبع ملة ابراهيم حنيفا ﴾ ﴿ فبهداهم اقتده ﴾۔

٣ - **دليل** : دا د شعائرو دمسلمانانو نه دے لکه چه نور بعضے شعائر واجب دی دا هم واجب دے، او په دے سره فرق راځی دمسلم او نصرانی ترمينځه۔ لکه داد ابن عباسؓ دسختئ دليل دے ۔ قاله الحافظ فى الفتح (٢٨١/١)۔

٤ - **اويو عقلی** دليل دا هم دے چه په ختنه کښې عورت ښکاره کول دی، او عورت ښکاره کول حرام دی، او هرکله چه دختنې حکم اوشو نو دا دليل دے چه ارتکاب د حرام د تحصيل د واجبو دپاره کيږی، نه دسنتو دپاره ۔

١ - بيا د امام شافعیؒ رائے او يو روايت دامام احمدؒ نه دادے چه دنارينه اوزنانه دواړو دپاره دا حکم د وجوب يو شان دے ۔

٢ - او د احنافو او حسن بصریؒ په نيز د سړو او ښځو دواړو دپاره دا حکم سنت دے، واجب نه دے۔ كذا فى المرقات (٢٩/٨، والمجموع : ٣٠٠/١، شرح مسلم : ١٢٨/١، نيل الأوطار : ١٣٨/١، قاضی خان۔ او فقه حنبلی کښې دی چه (انه واجب على الرجال ومكرمة للنساء، كذا فى المغنى) ۔ ٣ - اود امام مالكؒ په نيز د سړو دپاره مسنون اود ماشومانو جينکو دپاره مندوب دے۔

او حديث کښې دی : اذا التقى الختانان وجب الغسل - متفق عليه۔

دواړو ته ئے ختانان وئيلی دی۔

د احنافو دليل مسند احمد، والطبرانی کښې د والد د ابو المليح اود ابن عباسؓ روايت دے : الختان سنة للرجال ومكرمة للنساء۔

جواب : سنت نه مراد طريقه قديمه ده، چه وجوب ته هم شامل ده، لکه حافظ ابن

القيم فرمائی : چه د سنت معنی دا ده چه سنه رسول الله وامر به فيكون واجبا۔ يعنی سنت معنی دا ده چه رسول الله ﷺ مشروع کړيدی او امرئے پرے کړيدے نو دا واجب ته هم شامل دے او بيا وائی چه سنت د صحابو په دور کښے عام وو (هی الطريقة المتبعة وجوبًا واستحبابًا) يعنی سنت نفس هغه طريقے ته وائی چه د هغے تابعداری کيدے شی مشروع وی په دين کښے مستحب وی او که واجب او سنت پدے اصطلاحی معنی باندے چه د فرض نه خکته او د مندوب نه بره -- د صحابو په دور کښے دا اصطلاح نه وه بلکه دا اصطلاح حادث ده ۔او دليل باندے دا دے چه حديث د صحيحينو کښے راځی (فمن رغب عن سنتی فليس منی) دلته د سنت نه منهج او طريقه مراد ده ۔ ابن القيم بل جواب دا ورکړے چه دا روايت د ابن عباس ضعيف دے ۔

والمحفوظ انه موقوف۔ تحفة المودود (۱۲۹) ۔

نو صحيح داده چه سړو دپاره واجب او فرض او زنانو دپاره سنت او مستحب دے۔ دليل : حديث مرفوع دے : الختان سنة للرجال ومكرمة للنساء، رواه احمد بسند حسن عن والد ابی المليح والطبرانی عن شداد بن اوس كذا فی المرقاة (۲۸۹/۸، ۳۱۱) وفتاوی الدين الخالص (۵٦۳/۱) ۔ اود زنانه دپاره په ختنه کولو کښے حديث کښے دوه فائدے ذکر دی ۔

انه أحظیٰ للمرأة وأحصن للفرج ۔

اوپه الصحيحة (۳۵۷/۲) کښے د عثمان بن ابی العاص حديث دے چه دا د ختان الجاريه د روټئ نه پاخيدلو اودائے اووئيل : چه دا د پيغمبر ﷺ په زمانه کښے نه وو (اخرجه احمد : ۲۱۷/٤، والطبرانی فی الكبير : ۷/۳، واسناده حسن) ۔ يعنے دا دعوت طعام مستحب کار نه دے اګرچه مباح دے ۔ معلوميږی چه ختان الجارية شته خو روټئ ورکول پرے غير مناسب دی ۔

په تحفة المودود (۱۳۰) کښے ابن قيم دلائل او وجوهات ذکر کړی دی، هغه په دے موضوع باندے احاطه کړيده ۔ وكذا فی تمام المنة ص (٦۹) وفتاوی الدين الخالص : ۵۸۵/۱ ۔

په مشكاة (۲/) برواية ابی داود : ۳٦۸/۲، وسنده صحيح ، کښے به راشی چه مدينه

کښې ام عطیه نومې یوه زنانه وه چه هغې به ختنه کوله، نو نبی ﷺ طریقه ور اوخودله چه (لَا تَنْهَکِیْ) یعنې مبالغه مه کوه په پریکولو ددغه خاصه غوښه دماشومې کښې (فانه احظیٰ للمرأة وأحب الی البعل) ځکه په دې کښې د زنانه برخه ده هسې نه چه ډیرئې واخلې چرته شهوت ئې ختم نشي نو برخه به ئې هم ختمه شي، او خاوند ته ډیر محبوب کار دے ځکه زنانه چه شهوت والا وی نو سړی ته محبوبه وی۔ الأدب المفرد رقم (۱۲٤٥) کښې دا روایت هم دے چه عثمانؓ ته د بهر ملکونو نه وینځې راغلې نو هغه حکم اوکړو چه دا سنت کړئ (فخفضوهما وطهروهما)۔ یعنې ختنه وړله اوکړئ او صفائې کړئ۔

تنبیه : د وړو جینکو په ختنه کښې به دفرج نه زیاتي غوښه پریکوی کومه چه دعرفه الدیك یعنی د چرگ د څړئ پشان وی چه هغې ته عربئ کښې بظر وائی۔ اودا به ډیره لګه پریکوی، ځکه که زیاته پریکړے شی نود شهوت د ختمیدو خطره په کښې ده ۔او فائده ئې داده چه زنانه کښې حیاء پیدا کیږی، او خاوند ته په کښې لذت پیدا کیږی ۔ اوکومه جینئ چه ناسنته وی هغه سړو ته ډیره گوری (کل امرأة قلفیٰ تتطلع الی الرجال أکثر)۔ اودا خبره هم یاد لرل پکار دی چه دا ختنه دجینکو به په بوډئ گانو زنانو کولې شی لکه چه پخوا بوډئ گانو کولو، اود چاچه تجربه نه وی نو احتراز ترې پکار دے ورنه بله مسئله به ترې جوړه شی ۔

خلاصه : داچه دا مسئله په څلورو مذهبونو کښې ثابته ده، خو حکم کښې ئې اختلاف دے۔ بعضې مذهبی قمقل وائی : دا کار اهل حدیث کوی، حال داچه دا د ټولو مذهب دے۔ اوس زمانه کښې مصر، سوډان کښې دا کار کیږی۔

لَمْ أَجِدْ هٰذِهِ الرِّوَايَةَ فِي الصَّحِيْحَيْنِ : د دې روایت نه مراد هغه روایت دے چه ختان په کښې ذکر دے او په مصابیح کښې امام بغویؒ ذکر کړیدے، نودا روایت په بخاری اومسلم کښې نشته، بلکه دا دابو داود روایت دے ۔ نو مصنف وائی چه صاحب المصابیح له دا روایت د فصل اول په ځائې ذکر کول مناسب نه دی۔

الفصل الثاني - دويم فصل

٦ - عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (اَلسِّوَاکُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ، مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ). رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ وَأَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ وَالنَّسَائِيُّ. وَرَوَى الْبُخَارِيُّ فِيْ صَحِيْحِهٖ بَلَا اِسْنَادٍ.

ترجمه : بی بی عائشةؓ نه روايت دے فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے دے : مسواك کول د خلے پاکوالے اود الله تعالىٰ د رضا سبب دے ـ (شافعي، أحمد، دارمي) او امام بخاريؒ دا حديث خپل صحيح (جامع بخاري) کښے بغير سند نه نقل کړے دے ـ

تشريح : اَلسِّوَاکُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ : په دے حديث کښے دوه فائدے د مسواك ذکر دی (۱) يو دا چه په دے سره خله پاکيږی ـ ۲ - دويم دا سبب د رضا دالله دے ـ

مطهره : دے کښے کسره او فتح دميم دواړه جائز دی، ليکن فتح افصح ده، او کسره مشهوره ده ـ دا هر هغه آله ته وائي چه په هغے سره پاکی حاصليږی يعنی مسواك آله ده دپاره دپاکولو دخلے، اودا يقيني خبره ده چه دمسواك پشان بل داسے شے نشته چه په هغے سره د مسواك غوندے صفائي راشي، اود خلے خوند هم برابر شي او طبيعت هم تازه شي، او اورئ هم مضبوطے شي ـ

۲ - اوکه مطهرة په فتحه دميم سره شي نو بيا دا مصدر ميمی دے په معنىٰ داسم فاعل سره، اى مُطَهِّرٌ للفم (خله پاکونکے دے) ـ (۳) اويا مصدر په خپله معنىٰ دے، او معنىٰ داده چه دا سبب دپاکوالی دخلے دے ـ

مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ : په فتح دميم سره دے (۱) يا صيغه د مصدر بمعنىٰ اسم الفاعل، اى مُرْضٍ لِلرَّب (الله لره رضا کونکے دے) (۲) يا مصدر په خپله معنىٰ دے يعنے سبب درضا درب دے ـ

درجة الحديث : وسنده صحيح اخرجه البخاری تعليقا فی کتاب الصوم باب السواك الرطب بصيغة الجزم والشافعی فی الام (۱/۲۳) واحمد (٦/٤٧ - ٦٢ - ١٢٤) والدارمی (١/١٧٤) والنسائی (١/١٠) صححه ابن حبان (١٠٦٧ - الاحسان).

۷ – وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (اَرْبَعَةٌ مِنْ سُنَنِ الْمُرْسَلِيْنِ : اَلْحَيَاءُ وَيُرْوَى الْخِتَانُ وَالتَّعَطُّرُ وَالسِّوَاكُ وَالنِّكَاحُ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ .

ترجمه : جناب أبو أيوبؓ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : څلور خيزونه د پيغمبرانو د سنتونو نه دي : (۱) حياء كول، او په يو روايت كښې د حياء په ځائې (ختان يعني سنتول) ذكر دي (۲) خوشبوئي لږول (۳) مسواك كول (٤) نكاح كول ـ (ترمذي)۔

تشريح : اَرْبَعَةٌ مِنْ سُنَنِ الْمُرْسَلِيْنِ : يعنې څلور كارونه د پيغمبرانو طريقې اوسنت دي، يعنې دا څلور درته زه بيانوم نور هم شته نو حصر مقصود نه دې چه صرف همدا څلور كارونه دپيغمبرانو سنت دې بلكه دا صرف په دې موقعه كښې بيان شويدي ـ

بيا ددې رسولانو نه اكثر رسولان مراد دي، نه ټول ـ ځكه بعضې انبياء داسې هم شته چه په هغوئ كښې بعض كارونه نه وو، لكه يحيىٰ او عيسىٰ عليهما السلام نكاح نه وه كړې، او نوح عليه السلام نه دې ختنه شوې، نو ددې نه مراد به هغه رسولان وي چه د ابراهيم عليه السلام د زمانې نه پس وي ځكه د هغه د زمانې نه روستو د عامو رسولانو دا طريقې دي ـ او دا قضيه مهمله ده په قوت د جزئيه كښې ده۔ يعني بعض رسولان۔ من لدن ابراهيم عليه السلام۔

اَلْحَيَاءُ : دلته دحياء نه مراد دادې چه بنده خپل نفس د بدو كارونو نه جدا كړي اود بدو خبرو نه ځان اوساتي، دا حياء ممدوح ده چه انسان بې حيائي، زنا، غلا، فواحش، عورت ښكاره كولو او بې مروته كارونو نه ځان اوساتي، اودا شرعي حياء ده۔ اويو بله مذمومه حياء ده چه انسان دحق خبرې په بيانولو كښې شرميږي دا جبلي اوطبعي حياء ده خو دې ته رُعب وائي، دا حياء نه ده، لكه تفصيل اول جلد كښې تير شويدې۔

وَالتَّعَطُّرُ : يعنې عطر او خوشبوئي لګول انبياؤ ته او خصوصا زمونږ پيغمبر ﷺ ته ډير محبوب وو ځكه چه هغه ډير لطيف الطبع انسان وو، په دې وجه نبي ﷺ په ډيرو

موقعو کښې امر کړېدے چه تاسو خوشبوئی لګوئ، اوددے فضائل ئے بیان کړی دی. خصوصا دجُمعے او اختر په ورځ، دغه شان، دینی حلقو، قرآن ته د کیناستو په وخت، مانځه ته اودریدو په وخت ددے اِستعمالول افضل دی۔ او هغه فرمائیلی دی چه درے څیزونه به نشی واپس کولے، یو دهغے نه عطر دی، ددے رد کول مناسب نه دی۔

وَالنِّکَاحُ : شریعت کښې د نکاح ډیر لوئی مقام دے، دے وجے نه نبی کریم ﷺ نکاح خپل سنت ګرځولے دے، فرمائی : واتزوج النساء، فمن رغب عن سنتی فلیس منی، څکه چه د نکاح بے شماره فوائد دی چه دمشکاه په جلد ثانی کښې به راشی ۔ ان شاء الله۔

اَلْحَیَاءُ وَیُرْوَی الْخِتَانُ: دے روایت کښې درے قسم الفاظ نقل دی : (١) الحیاء (٢) الختان (٣) الحناء۔ په دے کښې کوم صحیح دے ؟ نو صاحب د تحفه الأحوذی (١٢٦/٢) د علامه عراقی نه نقل کړی دی چه دا حدیث مونږ ته په حاء او یاء سره نقل دے، یعنی الحیاء۔ حناء ته بعضے علماؤ خطاء وئیلی دی، وجه د خطائی علامه طیبی ذکر کړیده هغه دا چه حناء نکریزو ته وائی، او سړو دپاره لاسونه خپے سره کول د تشبه بالنساء د وجے نه حرام دی۔ او پاتے شو په سر باندے نکریزے لګول نو دا خو صرف زمونږ د نبی ﷺ د زمانے نه شروع دی، مخکښې دا نه وو، نو مرسلین ته ددے نسبت صحیح نه دے۔ (کذا فی المرقاة والمرعاة : ٨٣/٢، والتحفة)۔

پاتے شو الحیاء او الختان نو دواړه صحیح دی، نو بعضے علماؤ یو ته ترجیح ورکړیده، بعضو بل ته۔ علامه ابن القیمؒ په زاد المعاد (٢٣١/٤) کښې وئیلی دی چه (روی فی الجامع بالنون والیاء (ای الحناء والحیاء) ، بیا فرمائی : ما د خپل استاذ ابو الحجاج الحافظ نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئے : (الصواب انه الختان) ، حقه خبره داده چه دا د ختان لفظ دے، (وسقطت النون من الحاشیة و کذلك رواه المحاملی عن شیخ ابی عیسی الترمذی) یعنی په بعضو نسخو کښې ترے نون غورځیدلے دے، ورنه صحیح لغت (ختان) دے، او علامه عبید الله مبارکفوریؒ په المرعاة (٨٣/٢) کښې دا غوره کړیدے، فرمائی : وهذه الروایة انسب لحدیث عمار المتقدم، وحدیث ابی هریرة الآتی فی الترجل فانه ذکر فیهما الختان من خصال الفطرة۔ او حافظ عراقی لفظ د (الحیاء) غوره کړیدے، کما تقدم۔ اوهمدا

ظاهر ښكاري ځكه په روايت د مسند احمد كښې هم د حياء لفظ دے۔

درجة الحديث : قال الشيخ الألباني : قال الترمذي : حديث حسن وفيه نظر من وجوه اصحهما ان بين مكحول وابى ايوب الأنصارى ابا الشمال ولا يعرف الا بهذا الحديث كما قال ابو زرعة وذكر له فى ارواء الغليل رقم (٧٥) هناك طريقين آخرين عن ابن عباس مرفوعا، وثالثا عن ابى هريرة وليس فيها ما يتوى الحديث والله اعلم. وحسنه الترمذي لشواهد، فروى نحوه عن غير ابى ايوب قال الحافظ بعد ذكر حديث ابى ايوب هذا، رواه احمد والترمذي ورواه ابن ابى خيثمة من حديث مليح بن عبد الله عن ابيه عن جده نحوه. ورواه الطبرانى من حديث ابن عباس، انتهى۔ تحفة الأحوذي، مرعاة (٢/٨٤) ولكن هذه الشواهد ايضا ضعيفة كما فى ارواء الغليل رقم (٧٥)۔

٨ - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يَرْقُدُ مِنْ لَيْلٍ وَلَانَهَارٍ فَيَسْتَيْقِظُ اِلَّا يَتَسَوَّكُ قَبْلَ اَنْ يَتَوَضَّأَ . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : بى بى عائشه رضى الله عنها نه روايت دے دا فرمائى : نبى ﷺ به چه كله هم د شپے يا دورځے د خوب نه رابيدار شو نود اودس كولو نه مخكښې به ئے مسواك كولو ۔ (أحمد، أبوداود)۔

تشريح : فَيَسْتَيْقِظُ : دا مرفوع هم وئيلے شي اود نفى لاندے به وى، يعنى نبى كريم ﷺ به دخوب نه نه راپاڅيدو مگر مسواك به ئے وهلو، كه شپه به وه كه ورځ، وجه داده چه دخوب په وجه داتسان خله كښې تغير او بدلون راځى او په مسواك وهلو سره خله صفا كيږى۔ ٢ - يا دا لفظ منصوب دے او جواب د نفى دے، يعنے نه به اوده كيدو مگر چه رابيدار به شو نو مسواك به ئے وهلو، نو دا حديث دليل دے چه د خوب نه روستو مسواك وهل سنت مؤكده دى، او اوداسه سره مسواك وهل هم سنت دى، دلته صرف د خوب نه پس مسواك وهل راغلل او نورو حديثونو نه معلومه ده چه بيا به ئے اودس ته هم وهلو ۔

درجة الحديث : رواه احمد وابوداود وهو حديث حسن دون قوله ولا نهار، فانه ضعيف كما بينته فى صحيح سنن رقم (٥١) قاله الألبانى فى تعليق المشكاة (١/١٢٢) الا ان

في سنده علي بن زيد بن جدعان. قال الحافظ في التلخيص (١/٦٣) وعلي ضعيف. ولكن ذكر بعده حديث عائشة : ان رسول الله ﷺ كان يرقد فاذا استيقظ تسوك ثم توضأ۔

دا مطلق دے، ليل او نهار دواړو ته شامل دے، فارتقى الحديث الى درجة الحسن۔

---

٩ – وَعَنْهَا قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَسْتَاکُ فَيُعْطِيْنِي السِّوَاکَ لِاَغْسِلَهٗ فَأَبْدَءُ بِهٖ فَأَسْتَاکُ ثُمَّ اَغْسِلُهٗ وَأَدْفَعُهٗ اِلَيْهِ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : بی بی عائشے رضی الله عنها نه روايت دے دا فرمائی : نبی کريم ﷺ به مسواك كولو، بيا به ئے ماته راكولو چه زه هغه اووينځم، ما به (د نبی کريم ﷺ) مسواك واخستو اوبه مے وهلو او بيا به مو اووينځلو او رسول الله ﷺ ته به مے وركولو ۔

تشريح : فَأَسْتَاکُ : يعنے نبی کريم ﷺ چه به كله مسواك اووهلو نو عائشة ؓ ته به ئے د وينځلو دپاره وركړو نو هغے به دا مسواك پخپله اووهلو، دے دپاره چه تبرك پرے حاصل كړی او استشفاء حاصل كړی دنبی کريم ﷺ په لاړو باندے كومے چه مسواك سره لګيدلے وی، دارنګه دے دپاره چه د نبی کريم ﷺ دمباركو غاښونو لاړے په اوبو سره زمكے ته پرے نه وځی، دا د عائشة ؓ ډير لوئے أدب دے ۔اودا ډيره هوښيارتيا ده ۔

٢ - **فائده** : دا حديث هم دليل دے چه د بل چانه خاصكر دخپلے بی بی نه خدمت أخستل جائز دی ۔

٣ – دارنګه د بل چا مسواك دهغه په رضا سره وهل جائز دی۔

لِاَغْسِلَهٗ : د مسواك په وينځلو كښے فائده داده چه كله وهلے شوے مسواك اونه وينځلے شی نو دے ته حيوانات وغيره راځی هغه پرے خله وهی، نوكيدے شی چه زهريله حيران پرے خله اووهی نوانسان ته به ضرر اورسی، نود اهم سنت دی چه دمسواك وهلو نه پس هغه اووينځل اوشی ۔

ثُمَّ اَغْسِلُهٗ وَأَدْفَعُهٗ اِلَيْهِ : ددے مطلب دادے چه كله به نبی ﷺ ماته مسواك راكړو نو ما به هغه د وينځلو نه مخكښے اووهلو، بيا به مے هغه اووينځلو او كيبه مے خودلو. اوكله چه به نبی کريم ﷺ بيا بل وخت اوغوښتلو نو ورته به مے وركړو، اوداسے نه ده چه د

وينځلو نه پس به مے بيا ورکړو، ځکه بيا خونه استعماليږي ـ

درجة الحديث : رواه ابوداود وسكت عنه هو والمنذري، وقال الألباني : اسناده حسن، وسكت عليه الحافظ في التلخيص (١/٦٩)ـ

الفصل الثالث - دريم فصل

١٠ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ :(أَرَانِيُ فِي الْمَنَامِ اَتَسَوَّكُ بِسِوَاكٍ فَجَاءَ نِيُ رَجُلَانِ اَحَدُهُمَا اَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ فَنَاوَلْتُ السِّوَاكَ الْأَصْغَرَ مِنْهُمَا، فَقِيلَ لِيُ : كَبِّرْ، فَدَفَعْتُهُ اِلَى الْأَكْبَرِ مِنْهُمَا). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : جناب ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دے چه نبي کريم ﷺ اوفرمائيل : ما خپل ځان په خوب کښے اوليدلو چه مسواك مے وهلو، دے کښے دوه کسان راغلل چه يو په کښے د بل نه لوئي وو، نو ما مسواك هغه چاته ورکړو چه په دے دواړو کښے وړوکے وو، ماته اووئيلے شو چه مشرته مسواك ورکړه، نو ما مشرته ورکړو ـ (متفق عليه)ـ

تشريح : أَرَانِيُ :بفتح الهمزة درؤيت نه ماخوذ دے أي أریٰ نفسي،خپل ځان وينم، دا افعال قلوب دي ددے خصوصيت دادے چه دفاعل اومفعول دواړو ضميرونه يو شخص ته راجع کيدل صحيح دي، دلته دواړه متکلم ته راجع دي، بيا داحديث صريح دے په دے کښے چه دا واقعه په خوب کښے راپيښه شويده او په روايت د احمد او بيهقي (١/٦٥) رقم (١٧٢) کښے دي چه ابن عمرؓ فرمائي : ما رسول الله ﷺ اوليدو چه مسواك ئے وهلو نو بيا ئے د قوم مشرته ورکړو، بيا ئے اوفرمائيل : جبرئيل عليه السلام ماته داحکم اوکړو چه زه ئے مشرته ورکړم۔ نودا دلالت کوی چه دا واقعه په ويښه راغلے ده،او ددے تائيد دوه حديثه روستو په حديث د عائشےؓ کښے راروان دے۔ نو تطبيق د دواړو دادے چه دا واقعه کله په ويښه راغله نو نبي کريم ﷺ په کښے خپل خوب ذکرکړو چه ماځکه مشرته مسواك ورکړو چه ماته خوب کښے دغه شان وحي شويده، چه مشرته مسواك ورکول مناسب دي ـ نود راويانو داختصار په وجه اشتباه راغله، ورنه حقيقت هغه دے کوم چه

مونږ ذکر کړو۔

الْأَصْغَرَ مِنْهُمَا : يعنے ما مسواك وړوكى ته وركولو، وجه داده چه دا ورته نزدے وو، يا نبى ﷺ ته مسواك معمولى شے ښكاره شو، يا د شفقت دوجے نه ئے كشر ته وركړو، يا دواړو مطالبه كړے وه۔ نو الله ورته اوفرمائيل : چه مشر ته ئے وركړه، ځكه چه مسواك مشر دپاره مهم دے او هغه أفضل دے اومسواك هم أفضل شے دے، نو دده مناسب دے۔

فوائد الحديث : ١ – وحى د نبى كريم ﷺ به په خوب كښے هم راتله اودا يوه طريقه وه د وحى ۔٢ – د بل چانه د مسواك مطالبه كول جائز دى، دلته دے دوه كسانو د نبى ﷺ نه مطالبه كړيده ۔٣ – كَبِّرْ : يعنے مشر ته ئے وركړه ادبا، ځكه دمشر أدب پكار دے اودا زمونږ داسلام خوبى ده۔ ٤ – ملا على قاريؒ فرمائى : دا دواړه كسان د نبى ﷺ په يو طرف كښے وو يائے گس طرفته وو، وهو الأنسب۔ نو نبى ﷺ اراده اوكړه چه نزدے ته ئے وركړى، نو أمر ورته اوشو چه مشر ته ئے وركړه نو دا حديث منافى نه دے دهغه بل حديث دابن عباسؓ سره چه نبى ﷺ داپه پاتے شوى پئ كښے په ابو بكر او عمر – رضى الله عنهما – باندے مخكښے كړو، وجه داده چه دا ښى طرفته ناست وو، او دا حضرات گس طرفته وو، اوحق د ښى طرف وى۔ او په دے حديث كښے دواړه گس طرفته ناست وو، يا دواړه ښى طرفته وو، خو ماشوم أقرب وو نو ځكه نبى ﷺ ده ته وركړو۔

---

١١ – وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ رضي الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : (مَاجَاءَنِيْ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَطُّ اِلَّا أَمَرَنِيْ بِالسِّوَاكِ، لَقَدْ خَشِيْتُ أَنْ أُحْفِيَ مُقَدَّمَ فِيَّ). رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : جناب ابو أمامه رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ماته چه كله هم جبرئيل عليه السلام راغلے دے نو د مسواك كولو حكم ئے راته كړے دے، تردے پورے چه زه اريريدم چه (دمسواك د ډير وهلو په وجه) چرته زه د خپلے خلے مخكښنئ حصه اونه خيرم ۔ (أحمد)۔

تشريح : اِلَّا أَمَرَنِيْ بِالسِّوَاكِ : يعنے د نورو امرونو سره سره ئے دمسواك حكم بار بار كړيدے او په دے حديث اومخكښني حديث كښے دمسواك ډير فضيلت ذكر دے۔

أَنْ أُحْفِيَ مُقَدَّمَ فِيَّ : صيغه دمضارع متكلم دباب افعال نه ده، احفاء په اصل كښے دخلے غوښه زوړندلو ته وائي په سبب ډير وهلو دمسواك، نو حاصل معنىٰ داده چه ويريږم چه مخكنئ حصه دخلے د ستي نه اونړوم، يعنے اوریٔ ختمے کړم په ډير مسواك وهلو سره۔

ددے نه ثابته شوه چه جخت مسواك وهل سنت دي۔

فِيَّ: مشدد دے، اضافت د (فوه) شويدے ياء د متكلم ته، اصل كښے فمي وئيلے كيږي، لكه چه ددے په اضافت كښے دوه طريقے دهذيل او حجازينو دي. حجازين (فيّ) وائي او هذيل فمي۔

درجة الحديث: رواه احمد : ۲٦۳/۵، بسند ضعيف جدا، في سنده علي بن يزيد الألهاني وهو ضعيف، قال الشيخ الألباني : ومن قواه فما احسن، تعليق المشكاة : ۱۲۳/۱، وروى نحوه عن ابن عباس وانس وسهل بن سعد وعائشة، وذكر احاديثهم الهيثمي في مجمع الزوائد : ۹۸/۲، مع الكلام عليها۔

دا حديث اګرچه سندا ضعيف دے، مګر معنىٰ ئے د نورو روايتونو نه ثابته ده، لولا ان اشق علي امتي والا حديث، يا روسته را روان حديث وغيره۔

۱۲ - وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (لَقَدْ أَكْثَرْتُ عَلَيْكُمْ فِي السِّوَاكِ). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه: جناب أنس رضى الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : بيشكه چه ما تاسو ته د مسواك متعلق ډير څه بيان كړي دي - (بخاري)۔

تشريح: لَقَدْ أَكْثَرْتُ عَلَيْكُمْ فِي السِّوَاكِ : ۱ - دا صيغه د متكلم معلوم ده يعنى ما تاسو ته ډير امر او وصيت اوكړو په باره دمسواك وهلو كښے، اوبار بار مطالبه مے درنه اوكړه، يا مے ډير ترغيب دركړو، نو ددے مطلب دادے چه هركله ما دومره حكمونه اوكړل نو تاسو له پكار دي چه ددے تابعداري اوكړئ (فحقيق أن تطيعوه) اوغرض په دے خبره كښے دادے چه مسواك ډير اهتمام لري، او سره ددے نه چه صحابهٔ په دے امرونو باندے خبر وو

خو نبي ﷺ ورته بيا تاكيدا اوفرمائيل چه ما درته ډير حكمونه اوكړل، دا عظيم الشان شے درنه فوت نشي.

٢ - علامه كرماني فرمائي : اكثرتُ صيغه دمتكلم مجهول ده، أي بولغتُ من عند الله بطلبه منكم، يعني ماباندے دالله دطرفنه ډير زور اومبالغه شويده چه تاسو نه ددے د استعمالولو مطالبه اوكړم.

درجة الحديث : رواه البخاري في الجمعة واخرجه ايضا احمد والنسائي في اول سننه.

١٣ - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَسْتَنُّ وَعِنْدَهُ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ، فَأُوحِيَ إِلَيْهِ فِي فَضْلِ السِّوَاكِ أَنْ كَبِّرْ أَعْطِ السِّوَاكَ أَكْبَرَهُمَا). رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه : بي بي عائشه رضي الله عنها فرمائي : نبي كريم ﷺ مسواك وهلو او دده سره دوه كسان ناست وو چه يو په كښے د بل نه مشر نه وو، نبي كريم ﷺ ته د مسواك د فضيلت په باره كښے وحي اوشوه چه په دے دواړو كسانو كښے چه كوم يو مشر دے، هغه له مسواك وركړه. (أبوداود).

تشريح : يَسْتَنُّ : أي يُمِرّ السواك على أسنان، استنان په اصل كښے په غاښونو مسواك استعمالولو ته وائي، دا هله چه د سِن بالكسر نه ماخوذ شي چه غاښ ته وائي، اوكه د سَن بالفتح نه مشتق شي نو بيا غاښونه تيره كولو ته وائي، او په مسواك هم غاښونه تيره كيږي (صفا كيږي).

وَعِنْدَهُ رَجُلَانِ : ظاهر داده چه داد ويښے واقعه ده او خوب نه دے.

أَعْطِ السِّوَاكَ أَكْبَرَهُمَا : داد كَبِّر معنىٰ ده، بعضے راويانو ذكركړيده، يا نبي ﷺ پخپله ذكر كړيده.

فائده : دے حديث نه معلومه شوه چه مشر به مخكښے كولے شي په مسواك وركولو كښے او په دے پورے طعام شراب او مزل او خبرے او سورلئ هم ملحق ده، چه په دے كښے به هم مشر مخكښے كولے شي. خودا په هغه وخت كښے چه خلق په ترتيب سره

ناست نه وي، اوکه په ترتيب سره ناست وي نو بيا سنت طريقه داده چه ښي طرف والا به مخکښې کولے شي، اګرچه هغه کشر ولے نه وي، دليل پرے واقعه دابن عباسؓ ده لکه چه مخکښے حديث کښے تيره شوه۔

درجة الحديث : رواه ابوداود واسناده صحيح وهو بمعنى الحديث السابق (١٠) في اول هذا الفصل. تعليق المشكاة : ١/١١٣ ـ وقال المباركفوری : رواه ابوداود بسند حسن كما قال الحافظ في الفتح والتلخيص، وقال المنذری : واخرج مسلم معناه من حديث ابن عمر مسندا، واخرجه البخاری تعليقا، انتهى (مرعاة : ٢/٨٦)۔

١٤ – وَعَنهَا قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (تَفْضُلُ الصَّلَاةُ الَّتِيْ يُسْتَاکُ لَهَا عَلَى الصَّلَاةِ الَّتِيْ لَا يُسْتَاکُ لَهَا سَبْعِيْنَ ضِعْفًا). رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : بي بي عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : هغه مونځ چه هغے دپاره مسواك اووهلے شي په هغه مونځ چه هغے دپاره مسواك اونه کړے شي اويا (٧٠) درجے فضيلت لري ۔(بيهقی)۔

تشريح : "يُسْتَاکُ لَهَا" : ١ – ددے نه مراد دادے چه دمانځه په وخت کښے اووهلے شي۔ ٢ – يا دا چه ددغه مانځه په اوداسه کښے اووهلے شي، نو ان شاء الله چه الله تعالیٰ ته به دا اجر انسان ته ورکوی، اوکه دمانځه په وخت کښے هم ورسره اووهلے شي نو بيا به خامخا دا اجر ورته ملاويږی ۔

درجة الحديث : رواه البيهقي في شعب الايمان واحمد في المسند : ٦/٢٧٢ ـ

دا حديث حسن درجه کښے دے ځکه ددے روايت دپاره په حلية الأولياء کښے ابو نعيم دوه شاهدين ذکر کړيدی : عن ابن عمر باسناد جيد وعن ابن عباس باسناد صحيح، قاله المنذری (مرعاة : ٢/٨٦) ـ چه په هغے سره دا روايت حسن درجے ته رسيږی ـ رواه الحاكم (١/١٤٦) باسناد صحيح على شرط مسلم۔

١٥ – وَعَنْ أَبِيْ سَلَمَةَ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدِ الْجُهَنِيِّ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ

اللهِ ﷺ يَقُولُ : (لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ، وَلَأَخَّرْتُ صَلَاةَ الْعِشَآءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ، وَقَالَ : فَكَانَ زَيْدُ بْنُ خَالِدٍ يَشْهَدُ الصَّلَوَاتِ فِي الْمَسْجِدِ وَسِوَاكُهُ عَلَى أُذُنِهِ مَوْضِعَ الْقَلَمِ مِنْ أُذُنِ الْكَاتِبِ لَا يَقُومُ إِلَى الصَّلَاةِ إِلَّا اسْتَنَّ، ثُمَّ رَدَّهُ إِلَى مَوْضِعِهِ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ : وَلَأَخَّرْتُ صَلَاةَ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه : جناب أبو سلمةؓ فرمائی : زید بن خالد جهنیؓ فرمائی : ما درسول الله ﷺ نه واوریدل : که ما خپل امت دپاره دا مشکل نه ګنړلے نو هغوئ ته به مے هر مونځ دپاره د مسواك کولو (ضروری) حکم ورکړے وو، اوما به ورته حکم کړے وو چه د ماسخوتن مونځ دریمے حصے شپے پورے روسته کړی، راوی وائی : دے نه پس زید بن خالدؓ به مونځ دپاره راتلو نو مسواك به ئے غوږ کښے ایخے وو څنګه چه کاتب غوږ کښے قلم ګدی، هغه چه به کله مونځ ته اودریدلو نو مسواك به ئے کولو او بیا به ئے غوږ کښے کیخودلو ـ (أبوداود، ترمذی)ـ أبو داود (لأخرت صلاة العشاء الی ثلث اللیل) الفاظ نه دی ذکر کړدی، ترمذی وئیلی دی چه دا حدیث حسن دے ـ

تعارف : د ابو سلمه رضي الله عنه :

ده پوره نوم ابوسلمه بن عبد الرحمن بن عوف الزهری القرشی المدنی دے، خپل نوم ئے عبد الله یا اسماعیل دے، اوبعضے وائی چه ابو سلمه ئے خپل نوم دے، دا ثقه تابعی دے، فقیه او کثیر الحدیث دے، او د مدینے د فقهائے سبعه ؤ نه شمار دے، په (۹٤) یا په (۱۰٤) هـ کښے د (۷٤) کالو په عمر وفات شوید ے ـ دابو هريرةؓ او عائشےؓ شاګرد دے ـ

تعارف : د زید بن خالد الجهنی رضي الله عنه :

ابو عبد الرحمن، ده سره په فتح د مکه کښے د خپل قوم جهینه قبیلے جنډه وه ـ ټول (۸۱) احادیث ترے نقل دی ـ په کوفه کښے په سنه (٦۸) یا (۷۸) هـ کښے د (۸٥) کالو په

عمر وفات شویدے۔

فوائد الحدیث : په دے حدیث کښے مقدار دمسواك ذکر دے چه دومره اندازه به وی چه په غوږ باندے کیخودلے شی اومرئ ته رسیږی، کما مرّ۔

٢ – د راوی (زید) عمل ذکر دے چه ده به په وخت د مانځه کښے مسواك همیشه استعمالولو د وجے د قول د نبی کریم ﷺ نه، اودا همیش والے معلومیږی د حصر نه (لا یقوم الی الصلاة الا استن) الفاظ پرے دلیل دے۔ نو د مشکوه په نکته کښے لفظ د (ربما) ذکرکول صحیح نه دی۔

وَلَأَخَّرْتُ صَلَاةَ الْعِشَآءِ اِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ : د تاخیر نه مراد حکم د تاخیر دے یعنی ما به امت ته حکم کړے وے په ناوخته کولو د مانځه د ماسخوتن۔

درجة الحدیث : رواه ابوداود (٤٧) والترمذی (٢٣) وقال : حدیث حسن صحیح، قال الألبانی : وهو کما قال باعتبار طریق اخری له عند احمد (١١٦/٤) وقد تکلمت علیه فی صحیح سنن ابی داود رقم (٣٧)۔

* * * * * * * *

باب سنن الوضوء

بعضې کتابونو کښې په دې مقام کښې (باب صفة الوضوء) دې، بعضو کښې (باب كَيْفِيَّةِ الوُضُوْءِ فِي السُّنَّةِ الْمُطَهَّرَةِ) دې، او بعضو کښې (باب سنن الوضوء) دې، لکه دلته بیا د فقهاؤ طریقه داده چه دوئ فرائض او واجبات او سنن او مستحبات جدا جدا ذکر کوی، او په دې څیزونو کښې فرق کوی، او عام محدثین باب سنن الوضوء ذکر کوی، نو دا به کله په درجه د فرضو کښې وی، کله واجب، کله سنت او کله به د مستحب په درجه کښې وی.

فقه حنفي کښې دی چه په اودس کښې واجب نشته بلکه صرف څلور فرائض دی په کښې، باقی ټول سنت دی، ځکه ﴿اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُؤُسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ .. الآية﴾ (المائدة) کښې څلور فرائض ذکر دی، نو باقی ټول سنت دی. ځکه چه د دوئ په نیز په احادیثو باندې فرضیت نه ثابتیږی .

لیکن علامه ابن الهمامؒ په فتح القدير (۲۰/۱) کښې رد کړیدې چه زمونږ د احنافو دا قول خطاء دې چه اودس کښې واجب نشته، وجه داده چه بسم الله د اوداسه په ابتداء کښې وئیل واجب دی، کما يأتي، لکه چه دا د محققینو علماؤ قول هم دې چه د اوداسه په ابتداء کښې بسم الله وئیل فرض دی، او د احنافو په نیز چه کوم واجب دی، جمهور علماء دا نه مني بلکه وائي : په دین کښې صرف فرض یا سنت دی، او دوئ واجب په معنیٰ د فرضو استعمالوی. سیوا د حج نه چه په دې کښې د امام احمدؒ په نیز واجب شته، ددې نه علاوه باقی مسائلو کښې صرف یا فرض ګنړی یا سنت یا نفل وغیره. او احناف چه واجب منی نو صرف عملاً. او عقیده د قطعیت او د وجوب پرې نه لری بلکه ظني ئې شماری . خو لیکن راجح داده چه لکه څنګه چه عمل په دې سره واجب ګنړی نو عقیده هم د وجوب پرې پکار ده ځکه چه ظني دلیل باندې ظني عمل ثابتیږی ځکه چه عمل د عقیدې

مطابق کولے شی۔

نو دا یو **سوال** دے په احنافو چه علامه آلوسی صاحب د روح المعانی هم دے طرفته متوجه شویدے چه عقیده د ظنیت او عمل په طریقه وجوب دواړه منافی دی۔

نو بناء په دے، په بسم الله باندے عقیده د وجوب لرل ضروری دی۔

فائده عجیبه : دا خبره زده کړه چه د تقلید ډیر سوالونه پرے حل کیږی ، هغه دا چه نبی ﷺ چرته دا نه دی فرمائیلی چه فلانی عمل کښے دومره واجب دی اودومره په کښے فرض دی، او دومره سنت او دومره مستحب دی۔ بلکه دا یو اصطلاح د علماؤ ده، اودے اصطلاح ډیر خلق بے عمله اوبے تقوئ جوړ کړل، ځکه چه مستحب عمل چاته بوس اوخزله هم نه ښکاری۔ صحابه کرامو د نبی کریم ﷺ نه په غالب احکامو کښے دا تپوس نه دے کړے چه دا فرض شو که واجب اوکه مستحب ؟ بلکه هغوئ به صرف دا معلوموله چه پیغمبر ﷺ دا کار کړیدے اوکه نه ؟ لکه داخبره شاه ولی الله دهلویؒ صاحب په الانصاف او حجة الله (۴۰۴) کښے ذکر کړیده، چه دصحابوؓ په زمانه کښے د فرض او واجبو تپوس نه وو، دا وجه ده چه ابن عمرؓ نه چا تپوس اوکړو چه وِتر واجب دی اوکه نه ؟ نو هغه جواب ورکړو : (اوتر رسول الله ﷺ وأوتر المسلمون) ۔ یعنے نبی کریم ﷺ او مسلمانانو وتر کړی دی نو ته ئے فرض او واجب څه کوے !

سیر اعلام النبلاء (۱۱۴/۸) کښے د عبد الله بن عمر بن الرماح نه نقل دی دا فرمائی :

دخلت علی مالك فقلت : یا ابا عبد الله ! مافی الصلاة من فریضة وما فیها من سنة ؟ اوقال : نافلة؟ فقال مالك : كلام الزنادقة اخرجوه۔

یعنے : زه امام مالكؒ ته ورغلم تپوس مے ترے اوکړو چه په مانځه کښے څومره فرض دی او څومره په کښے سنت یا نفل دی، امام مالكؒ، غصه شو او وے فرمائیل : دا خو د زندیقان (بے دینه خلقو) خبرے دی۔ (دا سړے هم راته زندیق ښکاری، شاګردانو ته ئے اوویل) دا اوباسئ۔

دا اصطلاح خو ددے دپاره علماؤ جوړه کړے وه چه مثلا یو شخص بسم الله په اوداسه کښے پریدی یامضمضه وغیره پریدی نو مونږ به په ده باندے څنګه فتوئ ورکوو، چه آیا

دا شخص به دوباره اودس کوی، اوکه اودس ئے شوید ے خو صرف نقصان والا دے، نو داحکامو مُراتب ئے دشریعت نه پیژندلی دی، او دهغے مطابق ئے فیصله کړیده، چه مثلا چا فرض ترك کړل اودس ئے نه کیږی، یا واجب ئے ترك کړل نو مانځه کښے به سجده سهو کوی وغیره، نو دا احکام لګول صرف د علماؤ کار دے۔ اوکه عوام دا فرض او واجب سنت حکم زده هم نه کړی نو څه ګناهګار نه دی، کله چه دنبی کریم ﷺ په طریقه باندے اعمال کوی، او په (تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ) باندے عمل کوی، اوپه مانځه کښے په (صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِيْ أُصَلِّيْ) باندے عمل کوی۔ هاؤ ! د فرض او واجب اوسنت معلومول ورله بهتر دی، خو واجب پرے نه دی، اوکه دا د هر چا دپاره ضروری وے نو نبی کریم ﷺ به صراحت سره بیان کړی وے، نو دا پیژندل صرف مفتیانو علماؤ له پکار دی، عوام ئے که معلوم نه کړی نو څه نقصان په کښے نشته۔

بیا دوئ دا د کوم ځائے نه معلوموی ؟ نو دا ددے نه چه کله أمر راشی او قرینه صارفه د وجوب نه وی نو دا أمر به د وجوب دپاره وی، اوکه قرینه صارفه وی نو بیا به استحباب او سنیت یا اباحت دپاره وی۔

نو بناء په دے تحقیق سره د مقلدینو دا اعتراض ختم شو چه اهل حدیثو ته وائی چه تاسو هر شے په قرآن او سنت ثابتوئ نو نبی کریم ﷺ کوم ځائے فرمائیلی دی چه مانځه کښے (الله اکبر) فرض دے ؟ مونږ وایو چه ددے پیژندل څه فرض هم نه دی۔ بلکه د پیغمبر ﷺ په طریقه عمل کوه، الله اکبر وایه، مونځ دے کیږی۔

۲ – دویم دا چه هرکله دا څیزونه دین کښے شته خو صرف امامانو مجتهدینو راښکاره کړل نو بیا دین ناقص نه دے، لکه څنګه چه دوئ پرے خیال کوی۔ اوکه دین کښے نه وی او صرف امامانو د ځانه کړی وی نو بیا ورته ضروت نشته، نو بهر صورت تقلید باطل دے

بیا علماء چه فرضیت او وجوب معلوموی نو دا د امر نه څکه چه د الله او رسول ﷺ أمر منل ضروری دی، نو أمر به دپاره د وجوب وی، کله چه د وجوب نه اړونکے قرینه نه وی اود بل څه احتمال نه وی موجود۔ څکه مخالفت دأمر سبب دعذاب الیم اود فتنے دے، کما قال الله تعالیٰ : ﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ

اَلِيْمٌ﴾۔ سورة النور۔

بیا فرضیت او وجوب عند الجمهور یو شے دے، داوجه ده چه دوئ وائی : الأمر للوجوب، أی الفرضیة ۔ او عند الأحناف فرق دے فرض هغه دی (ما ثبت بدلیل قطعی لیس فیه شبهة) والواجب ما ثبت بدلیل فیه شبهة۔

نو حاصل داشو چه دجمهورو په نیز په اوداسه کښے ډیر فرائض دی، صرف څلور نه دی، کما سیأتی تحقیقها ۔ دا ضروری تحقیق دے که ځان دے پرے پوهه کړو۔

الفصل الأول -اول فصل

۱ – عَنْ أَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷛ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (إِذَا اسْتَیْقَظَ اَحَدُکُمْ مِنْ نَوْمِهٖ فَلَا یَغْمِسْ یَدَهٗ فِی الْإِنَاءِ حَتّٰی یَغْسِلَهَا ثَلَاثًا، فَإِنَّهٗ لَا یَدْرِیْ اَیْنَ بَاتَتْ یَدُهٗ). مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ .

ترجمه : جناب أبو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلی دے : کله چه پتاسو کښے څوك چه د خپل خوب نه رابیدار شی نو تر هغے دے په لوښی کښے خپل لاس نه منډی تر څو پورے ئے چه درے ځله وینځلے نه وی، ځکه چه ده ته پته نشته چه دده لاس چرته شپه تیره کړیده ۔ (متفق علیه)۔

تشریح : إِذَا اسْتَیْقَظَ اَحَدُکُمْ مِنْ نَوْمِهٖ فَلَا یَغْمِسْ یَدَهٗ فِی الْإِنَاءِ حَتّٰی یَغْسِلَهَا ثَلَاثًا :

دے حدیث کښے مسئله داستیقاظ ده، مسئله دا ده چه کله یو انسان د خوب نه رابیدار شی نو دا به لوښی کښے لاس نه ننباسی ترڅو ئے چه درے کرتے په اوبو باندے وینځلے نه وی۔ اودا حکم دویخ هم دے دخوب پورے خاص نه دے ځکه نبی کریم ﷺ په وینښه هم لاس وینځلے دے، مخکښے دداخلولو نه لوښی ته، لیکن خوب کښے غالبا د نجاست تو هم وی ځکه ئے ذکرکړو ۔ اودا درے ځل لاسونه وینځل دمستحب او سنت په درجه کښے دی عند الجمهور، برابره ده که دخوب نه روسته وی اوکه داسے نه وی، ځکه نبی کریم ﷺ به عام حالاتو کښے لاس وینځل ۔

مِنْ نَوْمِهٖ : په دے کښے اختلاف دے چه کوم خوب مراد دے د شپے که دورځے هم ؟

١ - امام حمیدیؒ، ابن جریرؒ، حسنؒ او اسحقؒ فرمائی : داحکم دشپے دخوب په باره کښے دے چه د شپے دخوب نه بیدار شی نو لوښی ته لاس داخلول پکار نه دی، اود ورځے خوب کښے به داسے ضروری نه وی۔

دليل : ځکه حدیث د ترمذی بشرح التحفه (١١٥/١) کښے ورسره قید من اللیل ذکر دے، نو مطلق به محمول وی په مقید باندے۔

٢ - دغه شان د (بَاتَتْ يَدُهُ) نه استدلال کوی ځکه چه حقیقةً مبیت د شپے پورے خاص دے ۔ ٢ - لیکن امام شافعیؒ، احناف اوجمهور فقهاؤ مسلك دادے چه فرق نشته دخوب د شپے اود ورځے۔

دليل : دادے چه په دے حدیث کښے (فَاِنَّهٗ لَا يَدْرِىْ) سره علت ذکر دے ځکه چه عدم درایت (علم) په نوم اللیل والنهار دواړو کښے برابر دے، نو حکم به هم په دواړو کښے برابر وی، اودویم د (من اللیل) قید نه جواب کوی چه دا قید اغلبی دے او احترازی نه دے، یعنی غالبا خلق مستغرق خوب دشپے کوی، دا وجه ده چه دا روایت په بخاری کښے مطلق دے قید ورسره نشه نو د جمهورو مذهب راجح شو او همدا ظاهر هم ښکاری۔

انظر تحفة الأحوذی (١١٧/١)۔

بله فائده : کله چه يو شخص خوب نه پاڅیدو او لاس اونه وینځی اولاس په اوبو کښے داخل کړی نو آیا اوبه پلیتے شوے که نه ؟ نو صحیح داده چه نه پلیتیږی، کما هو قول مالك۔دلیل پدے باندے فتوی د عائشےؓ ده سنن کبری د بیهقی (١٨٧/١) کښے راځی عائشے نه تپوس اوشو په باره د يو شخص کښے چه لوخی ته لاس داخل کړی په حالت د جنابت کښے مخکښے د وینځلو نه ؟ هغے ورته اوفرمائیل : ان الماء لاينجسه شئ ولكن ليبدأ فيغسل يده قد كنت انا ورسول الله ﷺ نغتسل من اناء واحد) یعنی اوبه په هیڅ شی باندے نه پلیتیږی (ترڅو چه خوند رنګ بوئی ئے بدل نشی) ځکه ما او رسول الله ﷺ به دیو لوخی نه غسل کولو۔انتهی ۔

اوکه لاسونه اووینځی او بیا ئے لوښی کښے داخلوی نو هم خیر دے ۔لکه په دے باندے د

(حَتّٰى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا) غايه دلالت كوي ـ

نو معلومه شوه چه مستعملې اوبه نجسې نه دي كما يأتي (الا اذا تغير احد اوصافه) ـ خو دومره ده چه د وينځلو نه مخكښې لوښي ته لاس داخلولو سره انسان ګنهګار شو، د رسول الله ﷺ دحكم خلاف ئې اوكړو.

تنبيه : په حاشيه كښې ئې د توريشتي خبره نقل كړيده چه دا لاس داخلول دهغه چا دپاره ممنوع دي چه استنجاء بالأحجار ئې كړې وي، ځكه چه په دې استنجاء كښې په مقعد باندې دنجاست آثار باقي وي نو كيدې شي چه لاس ئې مقعد له وړې وي. اوكه چرې استنجاء بالماء ئې كړې وي نو داخلول دلاس باك نه لري ـ خو دا خبره خطاء ده، ځكه چه نبي كريم ﷺ تعميم كړيدې، برابره خبره ده كه استنجاء بالأحجار ئې كړې وي اوكه بالماء ـ په دواړو صورتونو كښې د وينځلونه مخكښې لاس لوښي ته داخلول پكار نه دي ـ وجه داده چه ډير كرته داسې كيږي چه انسان باندې دانه ولاړه وي كله خوب كښې هغه ماته كړي ترخونو كښې ګوتې اووهي، زخمونو باندې لاس راكاږي، ذكر باندې لاس راكاږي، په ټولو صورتونو كښې لاس ګنده كيږي ـ ٢ – دارنګه استنجاء بالماء كښې هم كه انسان مقعد له لاس وروړي نو لاس ئې ګنده كيږي ـ

٣ – بله دا چه يوازې خو مقعد له لاس وروړل ګندګي نه ده بلكه كيدې شي ترخ يا ذكر يا پوزه كښې ګوتې اووهي ـ وقد تقدم ـ

فائده كښې فائده : ددې بحث نه معلومه شوه چه نجاست متوهم له شريعت اعتبار وركړيدې نو دهغې ازاله ضروري ده نو د نجاست حقيقي ازاله خو په طريق اولیٰ سره ضروري ده ـ برابره خبره ده كه نجاست كم وي اوكه زيات ـ

بناء په دې باندې داحنافو دا مذهب دې چه شريعت قدر الدرهم نجاست په مقعد كښې معاف كړيدې، نو د دوئ په نيز په كومه جامه وغيره چه قدر الدرهم نجاست پريوځي او ورته ياد هم وي نو مونځ ورسره كيږي، اودائې قياس كړيدې په نجاست فى المقعد باندې چه هغه خو معاف دې (عندهم) ولې چه استنجاء ددوئ په نيز سنت ده، نو داهم معاف شو، نو ددې نه ئې قاعده كليه جوړه كړيده ـ

نو دا مذهب هم خطاء شو، يوه وجه مخکښې تيره شويده چه استنجاء فرض ده، نه سنت۔ نو د قدر الدرهم في المقعد دپاره څه دليل دے ؟ ځکه چه عند الجمهور استنجاء فرض ده، او احناف ئے صرف سنت ګڼړي، او بيا ددے نه استدلال کوی په معافئ دقدر الدرهم نجاست باندے، دا استدلال مصادره على المطلوب ده، ځکه چه دليل هم دخپل کوره دے او مدعىٰ هم دخپل کوره ده (غير مُسَلم عند الخصم ده)، اول خو مونږ دا نه منو چه استنجاء دے سنت شی، پاتے لا دا چه بيا دے دا دليل د معافئ د نجاست قدر الدرهم هم اوګرځی۔ فتدبر فانه دقيق۔

٢ – بله وجه داده چه که اومنو چه مقعد کښے نجاست قدر الدرهم معاف دے نو په دے کښے خو ضرورت دے چه په کانړو باندے استنجاء مشروع ده، او ددے نه علاوه په بل ځائے کښے هيڅ ضرورت نشته ، چه هلته دے هم قدر الدرهم نجاست معاف شی، او بيا دے په کښے قياسونه هم اوکړے شی، بلکه الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ وثيابك فطهر ﴾ اودا مطلق دے شامل دے قدر الدرهم او زيات د قدر الدرهم دواړو ته، نو د قليل او کثير نجاست فرق هم باطل شو چه يو قدر الدرهم دے او بل زائد دے نه۔

بيا احناف د قدر الدرهم دپاره دا حديث په دليل کښے پيش کوی :

(تعاد الصلاة من قدر الدرهم من الدم) أخرجه البيهقي : ٢/٤٠٤، والدارقطني : ١/٤٠١، عن أبي هريرة۔

١ – ددے **جواب** دادے چه دا حديث موضوعی دے ددے په سند کښے روح بن غطيف متروك الحديث راوی دے، كذا في الضعفاء للعقيلي (٢/٥٦، ونصب الراية (١/٢١٢) وابن الجوزي والسيوطي في اللآلي، وقال البخاري : هذا الحديث باطل۔

زيلعیؒ دابن حبانؒ نه نقل کوی : هذا حديث موضوع لا شك فيه، لم يقله رسول الله ﷺ، ولكن اخترعه أهل الكوفة، وكان روح بن غطيف يروي الموضوعات عن الثقات۔

خلاصه : دا چه په دے باره کښے چه کوم احاديث رانقل دی هغه ټول موضوعی دی، لکه ددے تحقيق په فتاوى الدين الخالص (١/٤٢٦) کښے اوګوره۔

٢ – **دويم** دا چه : په دے حديث باندے خو احناف هم عمل نه کوی بلکه د دوئ

مذهب خلاف دے، ځکه احناف قدر الدرهم نجاست معاف ګڼي، او په دے حديث كښے (تعاد الصلاة من قدر الدرهم من الدم) دے يعنے مونځ به راګرځوى ځکه قدر الدرهم نجاست معاف نه دے ۔ نو بيا ددے نه ولے احناف استدلال كوى ؟۔

۳ – دارنګه دے حديث الباب كښے (فَلَا يَغْمِسْ يَدَه) كښے نجاست متوهم لره اعتبار وركړے شويدے نو حقيقةً نجاست كه قدر الدرهم وى اوكه ددے نه زيات وى نو هغه به په طريق اولىٰ سره نجس حسابيږى، كما مر۔ نو د قدر الدرهم مسئله بے أصله او باطله شوه ۔ ځکه ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ او دا حديث الباب، ددے په بطلان باندے صريح دلالت كوى ۔

مسئله : په دے كښے اختلاف دے چه غسل اليدين حكم په كومه درجه كښے دے ؟۔

۱ – ابن عمرؓ، ابو هريرةؓ، حسن بصرىؒ، امام احمدؒ په نيز دا حكم وجوبى دے، يعنى لاس وينځل فرض دى۔ كما ذكره ابن قدامه فى المغنى (۱/۱۱۱) ځکه أمر للوجوب دے او نهى دپاره د تحريم ده ۔

۲ – امام شافعىؒ په نيز دا حكم مسنون درجه كښے دے۔

۳ – او د امام مالكؒ ، اسحقؒ او اوزاعىؒ په نيز دا مستحب دے، ځکه حديث كښے علت ذكر دے (فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي) سره ۔

ليكن احناف په كښے تفصيل كوى، كما فى البحر الرائق، كه په لاس باندے نجاست يقينى وى نو غسل اليدين فرض دے، اوكه ظن غالب وى نو واجب دے، اوكه شك وى نو مسنون دے، اوكه شك نه وى نو مستحب دے ۔ (درس ترمذى : ۱/۲۲۹)۔

دجمهورو په قول باندے دلته توهم د نجاست علت ګرځول شويدے دپاره دحكم نوددوئ په نيز په وهم سره وجوب نه ثابتيږى، بلكه مسنون دے، او احمدؒ په كښے علت ته نظر نه كوى، نو نفس حكم د وجوب دپاره ګڼړى ۔

حَتّٰى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا : ددے مفهوم دادے چه درے كرتے لاس اووينځى نو بيا لوښى ته لاس داخلولے شى جائز ده، دے نه احنافو قاعده جوړه كړيده چه هر اندام به درے ځل وينځى په نجاست كښے ۔

۲ – جمهور وائى : دا قاعده نه ده بلكه بعض نجاسات يو يو ځل وينځل دى، لكه

مذی اود ماشوم متیاز ے۔ اوبعضے نجاسات درے ځل او بعضے اووه ځله وینځل دی، لکه د سور الکلب نه به اووه ځله لوښے وینځلے شی، دا وجه ده چه امام مالکؒ فرمائی : دا حکم تعبدی دے که په لاس نجاست وی اوکه نه نو هم وینځل دلاس ضروری دی۔

فَإِنَّهُ لَا يَدْرِیْ : شان ورود د حدیث کښے امام نوویؒ د امام شافعیؒ نه نقل کړیدی چه د خوب نه پس د لاسونو وینځلو حکم په دے وجه شویدے چه عربو به استنجاء بالحجاره کوله، اولنګ به ئے اچولو او ملك ئے ګرم وو، نو بدنونه به ئے خوله شو دخوب په وجه نو په هغه زمانه کښے ددے خبرے زیات احتمال وو چه د اوده انسان لاس به مقام د نجاست باندے اولګی اوملوث شی، نو ځکه دا حکم اوشو، نو ددے نه بعضے علماؤ دا معلومه کړیده چه کوم شخص استنجاء بالماء کړے وی یائے پرتوګ اغوستے وی نو د هغه دپاره دا حکم نه دے۔

لیکن علامه ابو الولید الباجیؒ په دے باره کښے ښه خبره نقل کړیده چه په اصل کښے دا حکم د طهارت دپاره نه دے بلکه د نظافت سره تعلق لری، یعنے اګرچه دلاس دنجس کیدو احتمال هم نه وی بیا هم لاس نه وینځل دخوب کولو نه پس د نظافت خلاف دی۔ او په شریعت کښے دطهارت سره نظافت لحاظ ساتل هم ضروری ښودل شوی دی، لهذا دا حکم دهغه زمانے پورے مختص نه دے بلکه ذهرے زمانے انسانانو دپاره دا حکم عام دے او همدا صحیح خبره ده، کما تقدم۔

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ دا وجه بیانوی چه د لاسونو د وینځلو مشروعیت په دے وجه دے چه شیطان دے لاسونو ته ګوتے وروری او مسه کوی ئے، او په دے باندے دلیل دا تعلیل دے چه (فانه لا یدری أین باتت یده) او دغه شان بل حدیث کښے دی (فان الشیطان یبیت علی خیشومه) شیخ بسامؒ فرمائی : (هذا تعلیل مرضی مقبول) توضیح الأحکام : ١/١٧٤۔

بعضے علماء وائی د خوب نه پس د درے ځله لاسونو وینځلو حکم د حکمت نه مونږ نه یو خبر، البته د اعقیده لرو چه د الله تعالیٰ احکام مبنی وی په مصالح او منافعو د بندګانو باندے۔ او د نبی ﷺ دا الفاظ (فانه لا یدری این باتت یده) د علت پټ والی ته اشاره کوی۔

فوائد : ددې نه حديث نه نورې فائدې دا معلوميږي :

۱ – په عبادت كښې په احتياط باندې عمل كول پكار دي.

۲ – درې ځل نجاست وينځل مستحب دي، ځكه چه مونږ ته د درې ځلو وينځلو حكم شويدې په وخت د توهم د نجاست كښې، او چه كله يقيني نجاست وي نو په طريق اولىٰ به درې ځلو وينځلو حكم مستحب وي.

۳ – علامه خطابیؒ فرمائي : كه په موضع النجاست (دُبر) كښې د نجاست اثر (بوئي) باقي وي، هم مونځ ورسره جائز دې، او دا رخصت خاص دې دې ځائې پورې.

٤ – خوب سره اودس ماتيږي، قاله ابن عبد البر.

٥ – په دې كښې تقويه ده د دليل د هغه چا چه مس الذكر ته ناقض وائي، حكاه ابو عوانةؒ في صحيحه عن ابن عيينة.

٦ – د اوبو په لوخي كښې پاك لاس داخلولو سره اوبه نه پليتيږي، او نه مستعملې كرځي. ۷ – د حياء په خبرو كښې كنايه الفاظ استعمالول پكار دي كله چه مقصود (افهام) حاصليږي، هذا كله في فتح الباري (۱/ ۲۱۳).

فائده : (لايدري) نه نفي د علم الغيب عن غير الله معلومه شوه، چه ما سوی د الله نه هيڅوك عالم الغيب نه دې نو په دې (لا يدري) حكم كښې پير، شيخ، مرشد، عبد القادر جيلانیؒ او نور پيران فقيران ټول داخل دي .

---

۲ – وَعَنْهُ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا اسْتَيْقَظَ اَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهٖ فَتَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلَاثًا، فَاِنَّ الشَّيْطَانَ يَبِيْتُ عَلٰى خَيْشُوْمِهٖ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : اود همدې أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كله چه پتاسو كښې څوك د خپل خوب نه رابيدارشي او اودس كوي نو درې ځل دې (پوزې ته اوبه اچولو نه پس) پوزه سونړ كړي، ځكه چه شيطان دده د پوزې په بره حصه كښې شپه تيروي . (بخاري، مسلم).

تشريح : فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلَاثًا : دا حكم د فقه په عامو كتابونو كښې نشته او احاديثو كښې

راغلي دي، نو معلومېږي چه پوره دين د فقه په كتابونو كښې نشته دے۔
په دے كښې گوته وهل په پوزه كښې نه دي راغلي، كه څوك ئې د صفائي دپاره كوي نو كوي دے، خو ضروري نه دي اونه مستحب دي، البته سونړول ضروري دي۔
بيا په دے كښې اختلاف دے چه استنثار – پوزے نه اوبه ويستل – كومه درجه كښې دي ؟۔
١ – امام احمدؒ، اهل ظواهرؒ فرمائي : استنثار كول واجب دي، اگرچه امام شافعيؒ، مالكؒ استنثار سنت گڼړي۔
دليل : د دوئ دادے چه په احاديثو كښې أمر راغلے دے په استنثار باندے لكه حديث د سلمه بن قيس مرفوعا كښې دي (اذا توضأت فانتثر) رواه الترمذي : ١/ ١٠، والنسائي : ١/ ٢٧۔ او پدے حديث الباب متفق عليه كښې امر دے (فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلَاثًا)۔
او أمر د وجوب او فرضيت دپاره دے، او په دے كښې احتياط دے، كيدے شي بغير ددے نه اودس كول قبول نشي۔
٢ – عند الجمهور دا أمر د استحباب دپاره دے۔ ليكن قول ئې بے دليل دے۔
فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَبِيتُ عَلَى خَيْشُومِهِ : دا علت ذكر كوي د پوزے سوتړولو۔ بيا ددے نه مراد خو يا هر سړے دے چه دهغه په خيشوم يعني د پوزے په دننه سوري كښې شيطان شپه تيروي ۔٢ – يا هغه څوك مراد دے چه ذكر اذكار ئې دشپے نه وي وئيلي، خو اول ظاهر دے، شيطان په خيشوم كښې څكه ناست وي چه دا چوك دے، زړه، اودماغ ته لاړے تلي دي، نو بدعتي مُلا په كښې شپه تيره كړيده وينځل ئې پكار دي۔
بيا د شيطان په شپه تيرولو كښې دوه قوله دي (١) بعضے وائي : دا په حقيقت باندے حمل دے، څكه چه دا ځائے كهلاؤ دے، شيطان ورته داخليدے شي، اوشيطان بند ځائے نشي كهلاوولے، كما في الحديث (ان الشيطان لا يفتح غلقا) ، او په حديث كښې د تثاؤب يعني آوسيلي په وخت كښې دخلے په پټولو باندے أمر راغلے دے څكه چه شيطان په كښې داخلېږي۔ (٢) بعضے وائي دا مجاز دے څكه چه دغه ځائے د رطوباتو اوگندونو اوغبار ځائے دے دشيطان سره موافق دے چه شپه په كښې تيره كړي، نو انسان له ددے پاكول پكار

دی، خو اول قول راجح دے چه دا په حقیقت باندے بناء دے ۔ دغه شان په هر ځائے کښے به قرآن او حدیث په ظاهر باندے حملولے شی ۔

---

٣ - وَقِيلَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ ﷺ : كَيْفَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَتَوَضَّأُ ؟ فَدَعَا بِوَضُوءٍ فَأَفْرَغَ عَلٰى يَدَيْهِ فَغَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ ، ثُمَّ مَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثًا، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلٰثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ اِلَى الْمِرْفَقَيْنِ، ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ بِيَدَيْهِ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ، بَدَءَ بِمُقَدَّمِ رَأْسِهٖ ثُمَّ ذَهَبَ بِهِمَا اِلٰى قَفَاهُ ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتّٰى رَجَعَ اِلَى الْمَكَانِ الَّذِىْ بَدَأَ مِنْهُ، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَالنَّسَائِيُّ، وَلِأَبِىْ دَاوٗدَ نَحْوُهٗ، ذَكَرَهٗ صَاحِبُ الْجَامِعِ.

٤ - وَفِى الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ : قِيلَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ : تَوَضَّأْ لَنَا وُضُوْءَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ! فَدَعَا بِإِنَاءٍ فَأَكْفَأَ مِنْهُ عَلٰى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثَلٰثًا ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهٗ فَاسْتَخْرَجَهَا فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ، فَفَعَلَ ذٰلِكَ ثَلٰثًا، ثُمَّ اَدْخَلَ يَدَهٗ فَاسْتَخْرَجَهَا فَغَسَلَ وَجْهَهٗ ثَلٰثًا، ثُمَّ اَدْخَلَ يَدَهٗ فَاسْتَخْرَجَهَا فَغَسَلَ يَدَيْهِ اِلَى الْمِرْفَقَيْنِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، ثُمَّ اَدْخَلَ يَدَهٗ فَاسْتَخْرَجَهَا فَمَسَحَ بِرَأْسِهٖ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ اِلَى الْكَعْبَيْنِ، ثُمَّ قَالَ : هٰكَذَا كَانَ وُضُوْءُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ .

وَفِىْ رِوَايَةٍ : فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ، بَدَأَ بِمُقَدَّمِ رَأْسِهٖ ثُمَّ ذَهَبَ بِهِمَا اِلٰى قَفَاهُ، ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتّٰى رَجَعَ اِلَى الْمَكَانِ الَّذِىْ بَدَأَ مِنْهُ، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ.

وَفِىْ رِوَايَةٍ : فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلٰثًا بِثَلٰثِ غَرَفَاتٍ مِنْ مَاءٍ . وَفِىْ أُخْرٰى : فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفَّةٍ وَاحِدَةٍ، فَفَعَلَ ذٰلِكَ ثَلٰثًا. وَفِىْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِىِّ : فَمَسَحَ رَأْسَهٗ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ مَرَّةً وَاحِدَةً، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ اِلَى الْكَعْبَيْنِ.

وَفِىْ أُخْرٰى لَهٗ : فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ مِنْ غَرْفَةٍ وَاحِدَةٍ .

ترجمه: او عبد الله بن زيد بن عاصمؓ نه تپوس او شو چه رسول الله ﷺ به څنګه اودس كولو ؟ - (دے آوریدو سره) عبد الله د اوداسه اوبه راوغوښتے، كوم وخت چه اوبه راوړے شوے نو هغه دواړو لاسونو باندے واچولے او هغه ئے مړوندونو پورے دوه دوه ځله اووينځل، بيا ئے خلے ته اوبه واچولے، بيا ئے پوزے ته درے ځله اوبه واچولے او سونړ ئے كړه، بيا ئے درے ځله مخ اووينځلو، بيا ئے دواړه لاسونه تر مړوندونو پورے دوه ځله اووينځل، بيا ئے په خپل لاس سره په سر مسح اوكړه (داسے چه) دواړه لاسونه ئے د مخے نه پورته بوتلل او روستو نه ئے مخے ته راوستل، يعنى د خپل سر د شروع نه ئے مسح شروع كړه او دواړه لاسونه ئے څټ پورے بوتلل، بيا ئے هغه ځائے ته را واپس كړل كوم ځائے نه ئے چه شروع كړے وه، بيا ئے دواړه خپے اووينځلے - (مالك، نسائى، ابوداود)، او بخارى او مسلم كښے دا روايت داسے دے : چه عبد الله بن زيدؓ بن عاصم ته اووئيلے شو چه رسول الله ﷺ څنګه اودس كولو نو هغسے ته مونږ ته هم اودس اوكړه ! نو عبد الله بن زيدؓ د اوبو لوښے راوغوښتلو، لوښے چه راوړے شو نو هغے نه ئے په دواړو لاسونو باندے اوبه راواړولے او درے ځله ئے اووينځل، بيا ئے خپل لاس (لوښى ته) داخل كړو او هغے نه ئے اوبه راوخكلے او (هغے سره ئے) مضمضه او استنشاق اوكړو په يو ورغوى سره، دا كار ئے درے ځله اوكړو، بيا ئے خپل لاس لوښى ته ننه ايستلو او اوبه ئے راوخكلے نو مخ ئے درے ځله اووينځلو، بيا ئے لاس ننه ايستلو او اوبه ئے را وخكلے او دواړه لاسونه ئے تر څنګلو پورے دوه دوه ځل اووينځل، بيا ئے خپل لاس لوښى ته ننه ايستلو او راويستلو نو په سر باندے ئے مسح اوكړه (داسے چه) دواړه لاسو نه ئے د مخے نه شا طرفته بوتلل او بيا ئے د شا نه مخے طرفته راوستل، بيا ئے دواړه خپے تر پړكو پورے اووينځلے، بيا ئے اوفرمائيل : د رسول الله ﷺ اودس داشان وو۔

او د بخارى او مسلم په يو روايت كښے داسے دى : چه دواړه لاسونه ئے د مخكښے نه روستو طرفته بوتلل او بيا ئے د روستو نه مخكښے طرفته راوستل، يعنى د سر د ابتدائى حصے نه ئے شروع اوكړه او دواړه لاسونه ئے څټ طرفته بوتلل بيا ئے دواړه هغه ځائے ته واپس راوستل كوم ځائے نه ئے چه شروع كړے وه ، بيا ئے دواړه خپے اووينځلے۔ او د بخارى

او مسلم په يو بل روايت كښې داسې دى : چه (مسح دپاره ئې) خپل دواړه لاسونه دمخكښې نه روستو طرفته بوتلل بيا د روستو نه مخكښې طرفته ئې راوستل، يعنى د خپل سر د مخكنئ حصې نه ئې مسح شروع كړه اولاسونه ئې څټ پورې بوتلل، بيا د څټ طرف نه ئې هغه ځائې ته راوستل چرته نه ئې چه مسح شروع كړې وه، بيائې خپلې خپې اووينځلې. او د صحيحينو په يو دويم روايت كښې داسې دى چه : خله ئې كنگال كړه او يو چونګ سره ئې پوزې ته اوبه واچولې دغسې ئې درې ځله اوكړل. اود بخارى د روايت الفاظ داسې دى : چه د سر مسح ئې اوكړه (داسې چه) خپل دواړه لاسونه ئې دمخكښې نه روستو طرفته بوتلل او د روستو نه ئې مخكښې طرفته راوستل او داسې ئې يو ځل اوكړل. بيائې دواړه پښې ئې گيټو پورې اووينځلې. د بخارى د يو بل روايت الفاظ دادى : نو خلې ته ئې درې ځلې يو چونګ سره اوبه واچولې، او پوزه ئې صرف يو چونګ سره درې ځله سونړ (صفا) كړه.

تشريح : وَقِيلَ لِعَبْدِ اللهِ : دا اوس اختلاف الروايات ذكر كوى، ځكه حديث بعضې تفسير دبعضو وى. وقيل : قائل عمرو بن أبى الحسن الأنصارى چه رور دعماره بن أبى الحسن دې، عبد الله بن زيد بن عاصم الأنصارى مشهور صحابى دې، يو څو حديثونه ترې نقل دى، دا د وحشىؓ سره په قتل د مسيلمة الكذاب كښې شريك وو، بدرته حاضريدو كښې ئې اختلاف دې، په حره مقام كښې شهيد شوې دې، په آخر ذى الحجة سنه (٦٣) هـ، د (٧٠) كالو په عمر باندې، اودا عبد الله بن زيد بن عبد ربه نه دې، كوم ته چه په خوب كښې آذان خودلې شوې وو.

فوائد الحديث : ١ - په اوداسه كښې د بل چانه استعانت غوښتل جائز دى.

٢ - لاس وينځلو كښې خوب نه پاخيدل شرط نه دى، دا حديث پرې دليل دې.

٣ - دوه كرته وينځل دلاسونو هم جواز لرى.

ثُمَّ مَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثًا : دلته درې الفاظ دى : مضمضه، استنشاق، استنثار. مضمضه ديته وائى چه خله كښې اوبه واړوى راواړوى. او استنشاق پوزې ته اوبه اچول او پورته راخكلو ته وائى. او استنثار : بيرته دغه اوبو ويستلو ته وائى.

دلته ئې صرف استنثار ذكر كړو ځكه چه دا مستلزم دې استنشاق لره، ځكه چه اوبه

راويستـل هلـه كيـږي چـه كـله داخلـې كړے شوې وي، نو استنثار فرع داستنشاق دے ۔ نو دلته دعبارت معنىٰ داده چه (واستنثر أي بعد الاستنشاق) نو استنشاق التزاماً ذكر شو ۔

مسئله : د مضمضه او استنشاق څه حكم دے ؟

د ټولو عـلـمـاؤ په دے اتفاق دے چه دا دواړه مشروع دي خو آيا واجب دي اوكه نه ؟ ۔ په دے كښے اختلاف دے۔

۱ – د امام شافعيؒ، مالكؒ، حسن بصريؒ، حمادؒ، قتادةؒ، ربيعةؒ، ليثؒ، اوزاعيؒ او يحيى الأنصاريؒ په نيز مضمضه او استنشاق په اودس اوغسل الجنابة دواړو كښے واجب نه دي بلكه سنت دي۔

دليل : د دوئ سره قوي دليل نشته، سوا ددے نه چه حديث كښے راغلي دي (عشر من الفطرة) ۔ چه په دے حديث كښے مضمضه او استنشاق ئے د فطرت نه شمارلي دي او فطرت نه مراد سنت دے، او فطرت ئے ورته ځكه وئيلے دے چه د نور اودس نه مخالف دي، ليكن ددے جواب دادے چه دا دليل صريح نه دے ځكه چه فطرت سره نفي دوجوب نه راځي، ځكه فطرت لكه څنګه چه سنت ته شامل دے دغه شان واجب او مندوب ته هم شامل دے، لكه ختان واجب دے او ديته ئے هم فطرت وئيلے دے۔

۲ – **بل دليل** : د اودس باره كښے حديث د اعرابي دے چه نبي كريم ﷺ ورته اوفرمائيل : (توضأ كما أمرك الله) رواه ابوداود والترمذي، وقال : حديث حسن، ولكنه صحيح، كذا قال النووي في المجموع (۱/۳۵۳)۔

نو حواله ئے په آيت باندے وركړه او آيت كښے خو مضمضه او استنشاق او استنثار نه دي ذكر، نو واجب نشو ۔ ليكن ددے نه هم جواب دادے چه دا څيزونه د نبي كريم ﷺ نه صحيح ثابت دي او هغه پرے أمر كړيدے لكه روستو په دلائلو كښے راځي ۔ نو مونږ به په قرآن پاك هم عمل كوو او د نبي كريم ﷺ په صحيح حديث به هم عمل كوو، د قرآن بيان نبي كريم ﷺ كړيدے، نو مضمضه او استنشاق بعينه (كما أمرك الله) كښے داخل دي، او دارنګه دا مقام د تعليم وو، په دے كښے ټول احكام بيانول په يو ځل آسان نه وو، نو ځكه ئے ورته اختصارا اوفرمائيل : (توضأ كما أمرك الله) نو دا دليل ددے خبرے نه دے چه ګنے دا

دواړه واجب نه دي.

٣ - بله دا چه کله د مخ په وينځلو امر اوشو نو حتما په کښې أمر بالمضمضه والاستنشاق هم راغلو، نو بعينه واجب شو.

٢ - د احنافو، سفيان ثوري اود امام احمد دويم قول دادے چه مضمضه او استنشاق په غسل الجنابت کښې واجب دي، او په اوداسه کښې سنت دي.

١ - دليل : دادے چه غسل کښې حکم مؤکد راغلے دے (فَاطَّهَّرُوْا) ځکه چه په غسل کښې مسح على الخفين نشي کيدے او په اوداسه کښې کولے شي، اودارنګه په غسل کښې دګنړو ويښتو يخونه هم وينځل ضروري دي، په خلاف دا اوداسه نه، چه په ګيره کښې بيخونو ته اوبه رسول ضروري نه دي. كذا في المغني (١٥٧/١).

او په اودس کښې دعدم وجوب دليل دا بيانوي چه حديث کښې دي :

(عشر من سنن المرسلين) يو په کښې مضمضه او استنشاق دي، نو دا سنت دي په اودس کښې او فرض نه دي.

جواب : ددے نه جواب دادے چه حافظ په التلخيص الحبير (١١٤/١) کښې فرمائيلي دي چه حديث په دے الفاظو سره نه دے ثابت، بلکه دا سے الفاظ دي (عشر من الفطرة)، رواه مسلم، او دا د باب السواك په څلورم نمبر حديث کښې تير شو.

اوکه بالفرض دا حديث ثابت هم شي، نو بيا هم دليل په عدم الوجوب باندے نه ګرځي، ځکه چه مراد د سنت نه طريقه ده، نه سنت په معنىٰ اصطلاحي اصولي سره. او طريقه خو واجب ته هم شامله ده، کما مر في الفطرة.

٢ - **دويم دليل** : استدلال کوي په حديث دابن عباسؓ مرفوعا باندے : المضمضة والاستنشاق سنة رواه الدارقطني (٨٥/١).

جواب : قال الحافظ في التلخيص : هو حديث ضعيف جدا، كذا في النيل : ١٧٣/١، وتحفة الأحوذي : ١٢٧/١، و اعلام الموقعين : ٢٩٢/٢، وفيه اسماعيل بن مسلم وهو ضعيف، قال علي بن المديني : لا يكتب حديثه، وقال يحيى بن معين : ليس بشيء، كذا في فتاوى الدين الخالص : ٤٧٩/١.

۳ - **قول ثالث** : د جمهورو علماؤ يعني : امام احمدؒ، اسحقؒ، ابو عبيدؒ، ابو ثورؒ، داود ظاهريؒ، ابن المبارکؒ، ابن ابی ليلیٰؒ، حماد بن أبی سليمانؒ، ابو بکر بن المنذرؒ او عام محدثينؒ دمضمضے او استنشاق په وجوب (فرضيت) باندے قائل دی په اودس او په غسل دواړو کښے ـ که چرے يو په کښے پريدی نو اودس اوغسل نه کيږی، بلکه اعاده يې ضروری وی ـ

د جمهورو دلائل : ۱ - يو **دليل** دادے چه قرآن او احاديثو کښے أمر راغلے دے، او أمر للوجوب وی، لکه د قرآن آيت دے ﴿فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ﴾ ـ أمر دے په غسل الوجه باندے، او مضمضه او استنشاق د متمماتو دغسل الوجه نه دی، او أمر په غسل الوجه أمر دے په دے دواړو باندے ضمناً ـ

(الاستذكار لابن عبد البر : ۱/۱۲٤، السيل الجرار : ۱/۲۲۱، للشوكاني ـ

۲ - **دليل الوجوب** : حديث د لقيط بن صَبِرہ رضی الله عنه کښے دی : (اذا توضأت فمضمض) أخرجه أبوداود (۱/۲۱) قال الحافظ : واسناده صحيح. (فتح الباری : ۱/۲۱۱)ـ

نو پدے حديث کښے أمر بالمضمضه اوشو ـ

۳ - **دليل** : حديث دابو هريرةؓ دے : (ان رسول الله ﷺ قال : اذا توضأ أحدكم فليجعل فی أنفه ماء، ثم لينثر) وسنده صحيح، أخرجه ابوداود : (۱/۲۹) وفی رواية مسلم : من توضأ فليستنشق ـ

٤ - حديث د : (واذا استيقظ احدكم من منامه فتوضأ فليستنثر ثلاثا فان الشيطان يبيت علی خيشومه) بخاری باب بدء الخلق، فتح الباری : ۱/۲۱۱ ـ

٥ - دا حديث الباب دليل دے وفيه : (فليستنثر ثلاثا)ـ

٦ - حديث دابو هريرةؓ دے مرفوعا : قال : أمر رسول الله ﷺ بالمضمضة والاستنشاق، رواه الدارقطنی وقال : لم يسنده غير هدبة وداد بن المحعد، وغيرهما يرويه عن عمار، عن النبی ﷺ مرسلًا ـ

ليکن زه وايم چه دا خبره ضرر نه رسوی ځکه چه هدبه د رجالو دصحيحينو نه دے نو دده رفع مقبوله ده، اوتفرد يې هم مقبول دے ـ كذا فی النيل (۱/۱٥٦) و فتاوی الدين

الخالص (١/٤٧٦)۔

دلته هم أمر راغلو او فرق د وضوء او غسل په کښې نشته بلکه په دواړو کښې يو شان د وجوب حکم دے۔

٧ - **دليل** : حديث د لقيط بن صبرةؓ دے : (اخبرني عن الوضوء ! قال : أسبغ الوضوء، وخلل بين الأصابع، وبالغ في الاستنشاق، الا ان تكون صائما) أخرجه ابوداود (١/٢٩) والترمذي : ١/١٤، وابن ماجة : ١/٧٠) واسناده صحيح۔

٨- **بل دليل** الوجوب : حديث عائشةؓ دے : ان رسول الله ﷺ قال : المضمضة والاستنشاق في الوضوء الذي لا بد منه. أخرجه البيهقي : ١/٥٢، وفي سنده محمد بن الأزهر الجوزجاني، ولكن رواه البيهقي باسناد آخر، فقال : حدثنا ابو سعيد احمد بن محمد الصوفي عن ابن عدي الحافظ عن عبد الله بن سليمان بن الأشعث عن الحسين بن علي بن مهران عن عصام بن يوسف عن ابن المبارك عن ابن جريج عن سليمان بن يسار عن الزهري عن عروة عن عائشة الخ. وأخرجه الدارقطني أيضا : ١/٨٤۔

٩ - **دليل** : د نبي کريم ﷺ هميش والے او مواظبت او عدم ترك دائما، دليل دے چه دا واجب دی، ځکه چه دا قسم مواظبت دليل د وجوب وی۔ نو قولًا او عملًا او مواظبةً وجوب ثابت شو۔ او عمل د نبي کريم ﷺ بيان د قرآن دے، او په دے خبره کښې احتياط هم دے۔

دے وجے نه حافظ ابن قيم رحمه الله فرمائی : ولم يتوضأ الا تمضمض واستنشق ولم يحفظ عنه انه اخل به مرة واحدة (زاد المعاد ١/١٨٧)۔

يعنې : رسول الله ﷺ هيڅ داسے اودس نه دے کړے چه په هغے کښې ئے مضمضه او استنشاق نه وی کړے، او هيچا د رسول الله ﷺ نه دا نه دی نقل کړی چه هغه يو ځل هم په اوداسه کښې مضمضه او استنشاق پريښی وی۔

٢ - حافظ عسقلانیؒ فرمائی : ولم يحك احد ممن وصف ضوئه ﷺ على الاستقصاء انه ترك الاستنشاق، بل ولا المضمضة، وهو يرد على من لم يوجب المضمضة ايضا (فتح الباری : ١/٢٤٨)۔

يعني : كومو صحابه كرامو چه پوره طور سره د نبي كريم ﷺ اودس نقل كړيدے په دوئ كښے هيچا هم دا نه دی نقل كړی چه رسول الله ﷺ استنشاق او مضمضه پريښی وی۔ او په دے حديث كښے په هغه چا هم رد دے چه مضمضے ته واجب نه وائی۔ (السيل الجرار : ١/٢٢١، تحفة الأحوذی : ١/١٢٤)۔

احناف دا احاديث په درجه داستحباب كښے گنړی، خو د دوئ قول ضعيف دے، ځكه چه أمر مطلق للوجوب دے، كله چه قرينه صارفه ددے په خلاف نه وی۔ لكه دلته نشته۔

١ - **سوال** : مضمضه او استنشاق ځكه نه دی واجب چه د پوزے اود خلے اود وجه (مخ) نوم جدا جدا دے نو دا څنگه په وجه كښے تاسو داخلوئ او د وجه (مخ) حكم ورته وركوئ چه وجوب دے ؟۔

جواب : بناء په دے باندے بيا خو د عينين، اهداب، خدين، جبهه، حاجبين او ظاهر الأنف اودارنگه د مخ د ټولو اجزاؤ دپاره جدا جدا نومونه دی، نو پكار ده چه بيا دا هم په وجه كښے تاسو داخل نه كړئ، اودا خو ډيربيكاره دليل ځكه دے چه ددے نه لازميږی عدم وجوب د غسل الوجه۔ وهو باطلٌ عندكم أيضاً۔

٢ - **سوال** : تاسو چه مضمضه او استنشاق واجب گنړئ پكار ده چه غسل باطن العين هم واجب اوگنړئ ؟۔

جواب : دا به هله لازميدو چه د نبي كريم ﷺ بيان په دے سره نه وے منحصر، اوحال دا چه نبي كريم ﷺ باطن العين نه دے وينځلے، نو مونږ باندے هم ندی لازم، كه هغه وينځلے وے نو مونږ به ولے نه وينځلو ؟ لكه مضمضه او استنشاق باندے دوام كړيدے نو مونږ به هم پدے دوام بلا ترك كوو۔

دا وجه ده : امام شاه ولی الله دهلوی په حجة الله البالغة (٢/١٧٥) كښے فرمائی :

چه ما په دے باره كښے صحيح صريح روايت نه دے موندلے چه نبي كريم ﷺ بغير د مضمضے او استنشاق او ترتيب نه اودس كړے وی، نو دا ډير مؤكد دی غاية الوكادة۔

والتفصيل في المحلى : ١/٢٤٩، وتمام المنة ص: ٩٢، المغني : ١/١٥٦، والنيل : ١/١٧٤)۔

تكميل : د مضمضے او استنشاق طريقه :

په مضمضه او استنشاق كښے صحيح صريح سنت طريقه داده (١) چه يوه غرفه كښے اوبه واچولے شي، نيم د خلے دپاره او نيم دپوزے دپاره، لكه په دے حديث د عبد الله بن زيدؓ كښے مرفوعا دي : (ان رسول الله ﷺ تمضمض واستنشق من كف واحد فعل ذالك ثلاثا) متفق عليه ـ ٢ – اوجدا جدا اوبه هم د هر يو دپاره راخستل جواز لري چه اول دخولے دپاره بيا د پوزے دپاره اوبه راواخلي دا هم په بعضے احاديثو كښے راغلے ده، په دے كښے د افضليت اختلاف دے۔

١ – احناف وائي : ست غرفات بالفصل أفضل دي، يعنے درے درے چونګونه اخستل دخولے اوپوزے دپاره جدا جدا۔

٢ – او د امام شافعيؒ امام احمدؒ او امام بخاريؒ قول دادے چه ثلاث غرفاتٍ بالوصل أفضل دي، داد امام مالكؒ نه يو هم روايت دے، يعنے درے غرفے (چونګونه) به راواخلي او خلے او پوزے ته به ئے شريك واچوي۔

بيا په دے كښے درے طريقے بيانوي (١) يو دا چه نيمے اوبه پوزے ته واچوي او نيمے خلے ته (٢) دواړو ته ئے په يو ځل ورواچوي لږے به خلے ته لاړے شي اولږے به پوزے ته۔ څوك چه په دے آموخته شي نو داكار ورته آسان وي (٣) دريم دا چه اول ئے خلے ته واچوي بيا ئے بيرته را اوباسي او پوزے ته ئے واچوي۔ دا طريقه لږه مستقذره شان ده، ظاهر د حديث دويمه طريقه ده۔ دا مسئله به روستو هم راشي ان شاء الله ـ

فيصله : دواړه طريقے جواز لري، اوديته تنوع في العبادات وائي، خو ليكن د وصل (ومن كف واحد) روايات په صحيحينو كښے راغلي دي، اود فصل روايات سنن كښے راغلي دي، اګرچه بعضو كښے لږ كلام هم شته۔

او أكثر علماؤ د وصل رواياتو ته راجح وئيلي دي، كما قال في سبل السلام والتحفة والعيني وهو الأصح۔ نو أكثر وصل كوه، او كله كله فصل كوه ـ

او نور دلائل او احاديث د ترجيح په تحفة الأحوذي (١/٤١) كښے اوګوره ـ

مَرَّتَيۡنِ مَرَّتَيۡنِ : په احاديثو كښے **د اوداسه څلور طريقے** اوكيفيات ذكر شوي دي :

۱ - **اول کیفیت** : دادے چه یو کرت ټول اندامونه اووینځلے شي یعنې یو کرت لاسونه، یو کرت مخ، یو ځل لاسونه تر څنګلو پورے، بیا یو ځل مسح او یو ځل خپے اووینځلے شي۔ دا طریقه په بخاري (۲۷/۱) کښے په حدیث دابن عباسؓ کښے راغلے ده (توضأ النبي ﷺ مرة مرة). وسیأتي۔

۲ - **دویم کیفیت** : په دے حدیث کښے ذکر دے چه (مرتین مرتین) یعنی دوه دوه ځله اندامونه اووینځی، دوه ځله لاسونه تر مړوندونو پورے، دوه ځله لاسونه تر څنګلو پورے، یو کرت مسح او دوه ځله خپے اووینځی۔ دا په بخاري (۲۷/۱) کښے د عبد الله بن زیدؓ په حدیث کښے راغلے ده (إن النبي ﷺ توضأ مرتین مرتین)۔

۳ - **دریم کیفیت** : دادے چه درے درے ځله اندامونه اووینځی او یو ځل په سر مسح اوکړی، دا کیفیت هم په بخاري (۲۷/۱) کښے په حدیث د عثمان بن عفانؓ کښے ذکر دے، چه د نبي کریم ﷺ د اوداسه کیفیت ئے خپل شاګرد ته خودلو، مسلم کښے هم راغلے دے۔ وابوداود والترمذي عن علي۔

٤ - **څلورم کیفیت** : دا وضوء مختلف دے په دے کښے یو (۱) کیفیت دادے چه لاسونه ابتداءً کښے دوه ځله اووینځی، بیا مخ درے ځله، بیا لاسونه تر څنګلو پورے دوه دوه ځله اووینځی، او یو ځل مسح اوکړی، او بیا خپے اووینځی - بخاري : ۴۱/۱، باب مسح الرأس کُلِّه۔ (۲) دویم کیفیت: چه لاسونه مړوندونو پورے درے ځله، مخ هم درے ځله، لاسونه څنګلو پورے دوه دوه ځله، مسح یو ځل، او بیا خپے دوه ځله اووینځی۔ (عدد نشته، البته دارقطني : ۸۲/۱، کښے دی : ورجلیه مرتین، بسند صحیح) ۔ دا طریقه هم په حدیث د عبد الله بن زیدؓ کښے په بخاري (۳۱/۱) باب غسل الرجلین کښے ذکر ده۔

دا ټولے طریقے په احادیثو کښے راغلي دي، په دے باندے د ټولو علماؤ اجماع ده (لکه دا اجماع علامه شوکانیؒ هم ذکر کړیده په النیل : ۱۷۵/۱، ۲۱۵، کښے) چه په انسان باندے په اوداسه کښے صرف یو یو ځل اندامونه وینځل واجب (فرض) دي، او درے درے ځله وینځل سنت دي، ځکه چه نبي کریم ﷺ کله کله اکتفاء په یو دوه او درے ځلو باندے هم کړیده، کما مرّ، که درے یا دوه ځله وینځل د هر اندام واجب وے نو یو یو وینځل به نه

وې ثابت۔

نو په يو ځل كښې صرف جواز قدرې دې، صرف واجب پرې ساقطيږي، او دوه ځله درميانه حالت دې او درې ځله وينځل بهتر دي، او په دې سره كمال په اوداسه كښې پيدا كيږي۔

او د درې ځلو نه زيات وينځل حرام دي، لكه دا په روايت دابو داود رقم (١٣٥) كښې راغلي دي : (فمن زاد على هذا او نقص فقد تعدى وظلم) ۔ اګر چه په دې روايت كښې (أو نقص) لفظ شاذ دې۔ كما أشار الشوكاني في النيل : ١/٢١٦، الى الشذوذ. وقال الألباني :شاذ، كذا في في صحيح أبي داود رقم (١٣٥)، وقال ابن المبارك : لا آمن اذا زاد في الوضوء على الثلاث أن يأثم، وقال الامام احمد واسحق : لا يزيد على الثلاث الا رجل مبتلى، وقال الشوكاني : لا خلاف في كراهة الزيادة على الثلاث، كذا في فتاوى الدين الخالص ١/٤٩١:۔

يعني : شيخ الباني وائي (او نقص) لفظ شاذ دې۔ او عبد الله بن مبارك فرمائي : چه درې ځلو نه زيات اندامونه اووينځي نو ماسره خطره ده چه ګنهګار به شي۔ امام احمدؒ او اسحقؒ فرمائي : درې كرتو نه زيات وينځل صرف وسواسي سړې كوي۔ امام شوكانيؒ فرمائي : په دې كښې اتفاق دې چه درې كرتو نه زيات وينځل مكروه دي۔

نو صاحب د هدايه (١/٢٠) چه (والوعيد لعدم رؤيته سنة) سره جواز وركړې دا خطاء دې۔ هغه وائي پدې حديث كښې وعيد د هغه چا دپاره دې چه درې كرتو نه زيات وينځلو ته سنت وائي او درې كرت سنت نه ګڼړي او كه يو انسان درې ځله وينځل سنت ګڼړي او زيادت د احتياط دپاره اوكړي نو جواز لري۔ (پدې عبارت بعض موليان ندي پوهه شوي نو وائي دا خبره هدايه كښې نشته)۔ وجه د خطائي د صاحب هدايه داده چه پدې سره د انسان نه وسواسي جوړيږي او احتياط صرف په عمل د نبي كښې دې۔ او نبي عليه السلام زيادت كونكي ته مسيء، ظالم او متعدي وائي۔

اِلَى الْمِرْفَقَيْنِ : أي مع المرفقين، دا دواړه داخل دي په ... سل اليدين كښې، او په دې مقام كښې غايه په مغيا كښې داخل ده۔ وهو القول الراجح۔ اودلته (الیٰ) په معنیٰ د (مَع)

دے، اودليل په دے باندے دادے چه نبی کريم ﷺ په اوداسه کښے دا وينځلی دی، لکه دارقطنی (۸۳/۱) د عثمانؓ حديث راوړيدے (باسناد حسن، قاله فی التعليق المغنی : ۸۳/۱، للعظيم آبادی) چه په کښے د نبی ﷺ د اوداسه کيفيت ذکر دے، دا الفاظ دی په کښے (فغسل يديه الی المرفقين حتی مس أطراف العضدين) دارنګه حديث دجابرؓ ئے هم نقل کړيدے (قال : کان رسول الله ﷺ اذا توضأ أدار الماء علی مرفقيه) واسناده ضعيف. بلوغ المرام : ۱۹۱/۱، بشرح التوضيح.

مسند البزار اوطبرانی کښے د وائل بن حجرؓ حديث دے په صفة الوضوء کښے په هغے کښے دی (وغسل ذراعيه حتی جاوز المرافق)۔

دارنګه طحاوی کښے حديث د ثعلبه بن عباد عن أبيه مرفوعا نقل دے :

(ثم غسل ذراعيه حتی يسيل الماء علی مرفقيه). فتح الباری : ۲۳٤/۱۔

په دے حديثونو کښے اګرچه په بعضو کښے کلام شته، ليکن د يو بل تقويه کوی، کذا فی سبل السلام (۶۰/۱)۔ قال الحافظ فی حديث جابر عند الدارقطنی : اسناده ضعيف، ويغنی عنه ما رواه مسلم عن ابی هريرة انه توضأ حتی اشرع فی العضد، قال : هکذا رأيت رسول الله ﷺ توضأ. وقال ابن القيم : حديث ابی هريرة فی مسلم فی صفة وضوء النبی ﷺ (انه غسل يديه حتی اشرع فی عضديه) يدل علی ادخال المرفقين فی الوضوء (توضيح الأحکام : ۱۹۱/۱) ۔ يعنی د مسلم حديث کښے د نبی عليه السلام د اوداسه په کيفيت کښے داسے دی چه لاسونه ئے اووينځل تردے چه څنګلے ئے په وينځلو کښے داخلے کړے (يعنی د څنګلو نه ئے زيادت کړيدے)۔

دا وجه ده امام اسحق بن راهويهؒ فرمائی : چه په قرآن کريم کښے (الیٰ) کښے دوه احتماله دی (۱) يو دا چه دا (الیٰ) په معنیٰ د انتهاء الغايه شی (۲) اودا احتمال هم شته چه په معنیٰ د (مع) شی۔ نو سنتِ نبوی ددے خبرے بيان اوکړو چه دا (الیٰ) په معنیٰ د (مع) دے، کما مرّ من فعله ﷺ۔

اود امام شافعیؒ نه منقول دی چه هغه فرمائی : لا اعلم خلافا فی ايجاب دخول المرفقين فی الوضوء ۔ نو دا ګويا اجماعی مسئله ده چه څنګلے په لاسونو کښے داخل دی،

نو ددې وينځل هم واجب دي.
زمخشري په كشاف كښې هم داخبره كړيده چه لفظ د (الیٰ) مطلقا په معنیٰ دغايه سره راځي، اودا خبره چه آيا ددې مابعد په حكم د ماقبل كښې داخل دې،كه خارج ؟ نودا دليل ته محتاج دې، لكه مثال دهغه چه دليل موجود وي په خروج دهغې باندې دا قول دالله تعالیٰ دې : ۱- ﴿ فنظرة الى ميسرة ﴾ دلته ميسره په انتظار كښې نه ده داخل.
۲ - دارنګه : ﴿ ثم أتموا الصيام الى الليل ﴾ كښې ليل په صيام كښې نه دې داخل،ځكه بيا وصال لازميږي او وصال حرام دې. او مثال دهغې چه دليل موجود وي په دخول باندې لكه (قرأت القرآن من أوله الى آخره) يا لكه : ﴿ من المسجد الحرام الى المسجد الأقصى ﴾ كښې بيت المقدس په اسراء كښې داخل دې.
اودلته خو تاته معلومه شوه چه دليل موجود دې په دخول المرافق په غسل اليدين كښې د وجې د هغه احاديثو سابقه ؤ نه .
نو مذهب دهغه علماؤ چه مرفقين په غسل اليدين كښې وجوبا داخل ګڼړي حق شو، اودا مذهب دجمهورو علماؤ دې، لكه عطاء،مالك، شافعي، اسحق، ابو حنيفه او صاحبين - رحمهم الله جميعًا.
او مذهب د امام زفر، ابن داود او بعضې مالكيانو - چه قائل دي په عدم وجوب د غسل المرفقين باندې - خطاء شو .
اود دوئ استدلال په حرفِ الیٰ باندې دې، چه دا راځي دپاره د انتهاء الغايه، نو الله تعالیٰ أمر كړيدې په وينځلو دلاسونو ترځنګلو پورې نوما بعد د (الی) چه مرفقين دي، دابه نه وي داخل په حكم د ما قبل دالیٰ كښې چه غسل اليدين دي، لكه د ﴿ أتموا الصيام الى الليل ﴾ پشان، ليكن وجه دخطائي تابنه اوپيژندله چه عمل د نبی كريم ﷺ دليل دې د خطائي ددې قول دپاره كما مرّ .
ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ : فائده :د سر په مسح كښې :۱ - يو **كيفيت** دادې چه د ابتداء د سر نه به شروع اوكړي او آخر ته به اورسيږي، او واپس به هغه ځائې ته راشي كوم ځائې نه چه ئې شروع كړې وه. دا طريقه په دې حديث الباب كښې هم ذكر ده .

۲ - دويم كيفيت : چه د سر د مينځ نه مسح شروع كړى او دا په حديث د رُبَيِّع كښې راغلې دے، كما في أبي داود رقم (۱۲۸) او دا په هغه وخت كښې چه كله ويښته د انسان ګومنز شوى وى، نو په اول كيفيت عمل كولو سره ويښته خرابيږى، نو د مينځ نه دے شروع اوكړى ۔ فمسح الرأس كله من قرن الشعر كل ناحية لِمُنْصَبِّ الشَّعْرِ۔

مسئله جليله : په **مسح د سر كښې درے طريقے** راغلى دى : (۱) اول : تول سر مسح كول د اول نه تر آخره پورے (۲) نيمائى مسح په سر او نيمائى په عمامه (پټكى) باندے كول (مسح على الخفين ومقدم رأسه وعلى عمامته – الحديث)۔ او يوائځے ناصيه (تندى) باندے مسح كول نه ده نقل شوے (۳) صرف په عمامه باندے مسح كول، بغير دمسح كولو د ويښتو نه۔

اول قسم مسح په حديث د عبد الله بن زيدؓ كښې راغلے ده،لكه حديث الباب شو، چه بخارى (۱/ ۵۸، اومسلم (۱/ ۱۲۳) ترمذى (۱/ ۲۸)، صحيح ابى داود رقم (۱۱۸) احمد (۳۸/٤) دارمى (۱/ ۷۰۰) اوحميدى (۱/ ٤۱۷) او ابن خزيمة (۱/ ۱۵۵) هم روايت كړيدے ۔

دويم قسم د مسح په حديث دمغيره بن شعبهٌ كښې راغلے دے چه دا مسلم (۱/ ۱۳٤) باب المسح على الخفين كښې ذكر دے او صحيح حديث دے ۔

او دريم قسم مسح په حديث دعمرو بن اميه الضمرىؓ كښې ده (أنه رأى رسول الله ﷺ مسح على الخفين والعمامة، وفي رواية : قال : رأيت رسول الله ﷺ يمسح على عمامته وخفيه) رواه احمد ۳۸/۲، والبخارى وابن ماجة ، وفي رواية مسلم (۱/ ۱۳٤) عن بلال ان رسول الله ﷺ مسح على الخفين والخمار، قال النووى : يعني بالخمار العمامة، لأنها تخمر الرأس اى تغطيه (مسلم : ۱/ ۱۳۵)، باب المسح على الخفين۔

نكته بديعه : په مسح د سر كښې څه خاص كيفيت دكيفياتو مذكوره نه علاوه د نبى ﷺ نه دے ثابت ۔ او كوم كيفيت چه بعضے فقهاؤ ذكر كړيدے چه اودس كونكے به درے ګوتے دهر لاس د سر په ابتداء باندے كيدى او دوه ګوتے به لاندے ساتى او په دے طريقه سره به ئے راكاږى په سر باندے تر آخره پورے او بيا به دوه ګوتے هم كيدى او واپس به ئے

ابتداء د سر ته راکاړی، (کما فی منیة المصلی) نو دا کیفیت په هیڅ صحیح حدیث کښې نه دے ثابت، بلکه دځانه جوړے شوے کیفیت دے۔ کما فی الکفایة (۲۹/۱) ذیل فتح القدیر ۔ اودا کیفیت ځکه ذکر کوی چه که دوه ګوتے ورسره هم ملاؤ کړی نو بیا دا اوبه مستعملے ګرځی۔ درس ترمذی کښې لیکلی چه دا طریقه په ابن حبان کښې شته دے، لیکن حواله غلطه ده، ابن حبان کښې نشته۔

الاختلاف فی مقدار مسح الرأس المفروض

۱- په دے کښې خو د ټولو أئمو اتفاق دے چه ټول سر په مسح کښې راګیرول افضل او مستحب دی (په هغه طریقه سره کوم چه دے حدیث الباب کښې ذکر ده)۔

۲ - او په دے کښې هم اتفاق دے چه مسح د سر فرض ده ۔ لیکن په مقدارِ جائزه کښې اختلاف دے چه څومره مقدار باندے مسح اوشی نو کافی ده ؟ په دے کښې یو څو اقوال دی :

۱ - **اول قول** : د امام شافعی، سفیان ثوری دے دوئ فرمائی : چه یو ویښته یا دوه ویښتو یا درے ویښتو باندے مسح کافی ده علی اختلاف الروایات ۔ اودا قول په أدنیٰ درجه دکمزورئ کښې دے، دلیل نقلی صریحی په دے نشته دے۔

۲ - **قول ثانی** : د امام ابوحنیفه دے چه ربع الرأس (مقدار الناصیه) یعنی مطلقا څلورمه حصه د سر مسح کول کافی دی، که د سر هر طرفنه وی ۔

۳ - **قول ثالث** : امام اوزاعی، لیث بن سعد او امام نووی قول دادے چه مسح دمقدم رأس به کوی۔ دا درے واړه اقوال بناء دی په دے باندے چه مسح د بعض الرأس کافی ده، او ټول سر باندے مسح کول واجب نه ده۔

۱- احناف استدلال کوی په حدیث د مغیر بن شعبةؓ باندے چه په هغے کښې دا ألفاظ دی (ومسح علی ناصیته) أخرجه البخاری (۵۸/۱) مسلم (۱۰٤/۱) وسیأتی فی هذا الباب۔

۱- **جواب** : دا استدلال ناقص دے ځکه چه په دے حدیث کښې عمامه (پټکے) هم راغلے دے او په هغے باندے احناف عمل نه کوی، بلکه دسره ئے منی هم نه، نو په نیم حدیث عمل کوی او باقی نیم باندے عمل نه کوی (دا جواب احنافو ته علامه ابن الهمام

ورکړيدے)۔

په دے وجه امام كمال الدين الحنفي په الكفايه (١٦/١) کښے سخت رد کړيدے په احنافو باندے چه د دوئ مذهب په دے باب کښے ضعيف دے ځکه چه دليل أخص دے د مدلول نه، ځکه مدلول مقدار الناصيه دے وهو ربع الرأس اودليل کښے خو تعين الناصيه راغلے دے، ومثله لا يفيد المطلوب۔

٢ – **دويم جواب** : دا چه په حديث کښے خو ناصيه ذکر ده او احناف ربع الرأس مطلقا واجب وائي، که دهرے حصے نه وی۔ نو استدلال ناقص شو۔

٣ – **دريم رد** دادے چه په حديث د مغيره بن شعبهؓ کښے داسے الفاظ راغلي دی : (ان النبي ﷺ توضأ فمسح بناصيته وعلى العمامة وعلى الخفين) رواه مسلم، كما في المشكاة (٤٦/١) يعنے نبی کريم ﷺ په تندی باندے مسح اوکړه اودا ئے بيا کامله کړيده په عمامه باندے، نودا په ټول سر باندے مسح ده، خو نيم په تندی او نيم په عمامه باندے، او صرف په تندی باندے مسحه نه ده شوے۔ دا وجه ده چه امام حافظ ابن القيمؒ په زاد المعاد (٦٧/١) کښے فرمائی : چه مسح د بعضے سر د نبی کريم ﷺ نه په هيڅ صحيح حديث کښے نه ده ثابت، اوپه حديث دمغيرهؓ کښے چه مسح دبعضے سر ده نو هلته هم اقتصار په بعض الرأس نه دے شوے بلکه مسح ئے کړيده په ناصيه باندے او کامله کړيده په عمامه باندے۔ لکه دا کيفيت مخکښے هم تير شو۔

اوس که څوك **سوال** اوکړی چه مسح په بعض الرأس باندے خو په عمل د ابن عمرؓ کښے راغلے ده لکه دا خبره ابن المنذرؒ وغيره کړيده، اوصحابوؓ په ده باندے انکار نه دے کړے نو دا دليل دجواز شو، كما قال ابن حزم في المحلى (٢٩٨/١، مسألة رقم : ١٩٨، وفتح الباري : ٢٣٤/١۔

جواب : اول خو دا خبره واوره چه دالله او رسول ﷺ نه ماسوا د بل چا په قول او عمل کښے حجت نشته، زمونږ ددين شارع الله دے او هغه نبی کريم ﷺ ته خودنه کړيده او د نبی کريم ﷺ نه د بعضے سر مسح نه ده ثابته۔

٢ – دويم دا چه په دے حديث دابن عمرؓ کښے تاويل هم شته او هغه دا چه کيدے شی چه

ابن عمرؓ عمامه (پټکے) وهلی وی نو بعضے مسح په سر شوے وی او بعضے په عمامه باندے۔ او په دے طریقه سره به نے نبی کریم ﷺ لیدلے وی، لکه مخکښے حدیث تیر شو۔

او مرفوع روایت په کښے نشته، مګر د عطاء نه مرسلا نقل دی، خو هغه حجت نه دے۔ قال علی بن المدینی : مرسلات مجاهد احب الی من مرسلات عطاء بکثیر، کان عطاء یأخذ من کل ضرب۔ وقال یحیی بن سعید : مرسلات سعید بن جبیر احب الی من مرسلات عطاء، (جامع التحصیل للعلائی ص : ٣٧۔ نو دا مرسل قابل قبول نه دے۔

٤ - **څلورم قول** : دامام احمدؒ، امام مالكؒ او امام بخاریؒ دے اودا راجح قول دے په اعتبار د دلائلو سره، دوئ وائی چه د **ټول سر مسح واجب** ده، او استیعاب کول ضروری دی، لکه چه طریقه ئے مخکښے ذکر شوه۔

دلائل ددے قول : ددے قول ډیر دلائل دی، بعضے دهغے نه دادی :

١ - **اول دلیل** : آیت : ﴿ فامسحوا برؤسکم ﴾ المائده : ٦۔

په دے آیت کښے داخبره ده چه مسح اوکړئ په سرونو باندے او سر د انسان د مرئ نه پورته چه څو مره اعضاء دی - لکه مخ، ګیره، د سر ویښته وغیره - هغے ته شامل دے، خو کله چه الله اودس جدا ذکر کړو، نو د بعضے اندامونو د غسل (وینځلو) حکم اوشو اود سر ویښتو دپاره مسح پاتے شوه، که چرے د غسل حکم نه وے شوے نو د مخ، ګیرے ویښتو وغیره باندے به هم مسح واجب وے، لکه دا استدلال امام قرطبیؒ په خپل تفسیر (٦٧/٦) کښے ذکرکړیدے۔ اودیته امام مالكؒ هم اشاره کړیده په قول خپل سره چه کله دده نه تپوس اوشو چه مسح دبعض الرأس اوکړی اوبعضے پریدی نو آیا دابه جائز وی اوکه نه ؟ نو هغه جواب ورکړو : (أرأیت ان ترك غسل بعض وجهه أکان یجزیه ؟) یعنے که یو شخص د مخ څه برخه اونه وینځی نو دابه څه جائز وی ؟ نو هرکله چه دا ناجائز ده نو بعض مسح خو په طریقه اولیٰ سره ناجائز ده۔ صحیح ابن خزیمة رقم : ١٥٧، الموسوعة الفقهیة المیسرة : ١١٣/١، للشیخ حسین بن عودة۔

سوال : که څوك اووائی چه (برؤسکم) کښے باء د تبعیض دپاره ده، یعنے په بعضے حصه د سر مسح اوکړئ، لکه دا په شرح وقایه وغیره کښے ذکر دی، اومذهب دامام شافعیؒ

هم دي۔ جواب : مونږ وايو چه په لغت کښې باء د تبعيض دپاره نه ده راغلې، دا وجه ده ابن برهان نه صاحب المغني (۱/۱۴۲) نقل کړيدي : (من زعم أن الباء تفيد التبعيض فقد جاء أهل اللغة بما لايعرفونه) وهكذا عن ابن دريد وابن عرفة ۔ اوسيبويه په خپل کتاب کښې پنځلس ځايه د باء د تبعيض نه انکار کړيدے۔ (المنار للمقبلي : ۱/۵۳)۔

اوددے خبرے تائيد د حنفي په ژبه دادے چه اصول الشاشي کښې په بحث الحروف کښې وائي : (فصل : حرف الباء للالصاق في وضع اللغة) صاحب د اجمل الحواشي ص (۳۰۲)، ليکي : باجماع اهل لغت باءُ الصاق دپاره ده، يعنے دباء حقيقي معنیٰ دالصاق ده) نو دلته باء د تبعيض دپاره اخستل مجاز دے اود مجاز ارتکاب هله کيدے شي کله چه حقيقت باندے عمل کول ممکن نه وي لکه چه دا خبره په کتابونو د اصول الفقه کښې امام ابو حنيفةؒ او صاحبينوؒ ته منسوب ده ۔ نو په دے سره د احنافو خپل مابين کښې تدافع او تقابل ثابت شو، او د صاحب شرح وقايه د خود ساخته قاعدے هم رد اوشو، چه په آيت کښې باء د تبعيض مراد کوي۔

۲ - **بله** داچه دلته يوه قاعده ده، هغه داچه کله په لغتِ عربي کښې په يو کلام کښې باء نه وي نو هلته دکمال معنیٰ نه وي، اوکله چه باء وي او په فعل متعدي باندے داخله شي نو هلته باء دکمال معنیٰ ورکوي، او باء دالصاق دپاره وي، لکه قرآن کريم کښې دي : ﴿ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللّٰهِ ﴾ نو که دلته (يَشْرَبُ مِنْهَا) اووئيلے شي نو دا دلالت نه کوي په مريدو باندے بلکه نفس څکل به مراد وي، خو کله چه باء په کښې راوړے شوه او (يشرب بها) اووئيلے شو نو دا دلالت کوي په کمالِ مريدو باندے۔

نو که دلته ﴿ فَامْسَحُوْا رُؤُسَكُمْ ﴾ وئيلے شوے وے نو دے به دلالت نه کولے په کمال باندے، اوکله چه ﴿ فامسحوا بِرُؤُسِكُمْ ﴾ اووئيلے شو نو اوس دکمال معنیٰ ئے پيدا کړه، او باء دالصاق دا معنیٰ ورکړه، نو معنیٰ داشوه چه (دګوتو پورے چه کومے اوبه وي هغه د سر سره جوختے او ملصق کړئ) لکه په باب د تيمم کښې داسے دي ﴿ فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ ﴾ کښې باء دالصاق ده، فائده ئے داده چه که ديو شخص لاس ملصق (جوخت) نه وي دخاورو سره او آثار دخاورو نه وي، نو تيمم به ناجائز وي، لکه په بے غباره ځادر تيمم وهل شو۔

اودا تحقيق شيخ الاسلام ابن تيمية په خپله فتاویٰ (۱۲۲/۲۱) كښې تفصيلاً ذكر كړيدے۔

۳ - **دريمه** وجه داده : چه قرآن كښې هيڅ دليل نشته په جواز د مسح دبعض رأس باندے ځكه چه دا آيت ﴿ فامسحوا برؤسكم ﴾ نظير دے د آيت التيمم ﴿ فامسحوا بوجوهكم وأيديكم منه ﴾ چه په دواړو كښې لفظ د (مسح) دے او په دواړو كښې باء ذكر ده، نو هر كله چه په تيمم كښې اكتفاء په مسح د بعضے اندام باندے ناجائز ده، سره ددے نه چه دا بدل دے د اوداسه نه، نو دغه شان په اوداسه كښې به هم مسح په بعضے سر باندے كول په طريق اولیٰ سره ناجائز وي۔ سره ددے نه چه دا اصل دے ۔ بل مثال ﴿ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴾ دے آيت كښې هم هغه باء ده كوم باء چه په ﴿ برؤسكم ﴾ كښې ده، او په دے باندے اجماع ده چه طواف د بعضے حصے د بيت الله نه جائز نه دے، بلكه د پوره بيت الله نه به ګير چاپيره طواف كوي، نو دغه شان د سر مسح هم ده چه پوره سر به مسح كوي، نو چاچه د بعضے حصے د سر مسح اوكړه نو ده د سر مسح اونه كړه۔ نودلته په يو كښې باء د تبعيض منل او په بل آيت كښې نه منل بے دليله فيصله ده، هيڅ قرينه پرے نشته، نه د قرآن نه اونه حديث او نه دلغت نه۔ اود سياق د قرآن هم خلاف ده، كما مرّ۔

٤ - **څلورم** جواب دادے چه آيت مجمل دے مونږ په كښې دځانه دا نشو وئيلے چه دا باء د تبعيض دپاره ده، بلكه د نبی كريم ﷺ نه به ددے مجمل دبيان تپوس اوكړو، كله چه مونږ تپوس اوكړو نو معلومه شوه چه نبی كريم ﷺ د ټول سر مسح كړيده اوداسے ترے نقل ده، لكه چه په رواياتو دصحيحينو وغيره كښې دی۔ نو عمل اومواظبت د نبی كريم ﷺ دليل شو په دے خبره چه مسح په بعضے سر باندے ناجائز ده۔

كذا في فقه السنة : ٤١/١۔

دا وجه ده چه امام بخاریؒ باب تړی : باب مسح الرأس كله : ٣١/١، او بيا دا احاديث راوړی۔

۲ - بعضے علماء حديث د أنسؓ، يا حديث د قُطرِي بن الفجائة پيش كړے چه په دے كښې مسح د بعضے سر راغلے ده (اخرجه ابوداود : ١٢٧/١، رقم، و كما في الدراية على

الهداية : (رأيت رسول الله ﷺ يتوضأ وعليه عمامة قطرية فأدخل يده من تحت العمامة فمسح مقدم رأسه ولم ينقض العمامة).

نو دلته په څه حصه د سر باندې مسح شويده.

ليكن ددې (۱) **جواب** دادې چه په دې حديث كښې داخبره نشته چه بعضې حصه مسح شويده، بلكه هغې كښې داخبره ده چه مسح ئې په ټول سر اوكړه (لكه چه دا د هغه عادتِ مستمره وو) اوعمامه ئې ورانه نه كړه، اودا په اصل كښې جواب د يو وهم دې چه څوك چه دا وهم اونه كړي چه آيا په مسح الرأس كښې به عمامه ورانول ضروري وي ؟ نو أنس ؓ فرمائي : دا شرط نشته مسح په ټول سر اوكړه او پګړئ مه ورانوه.

نو په دې حديث كښې هم مسح د ټول سر ده، اودا يو طريقه د مسح ده، دلته ورسره مسح په عمامه نه ده ملګرې شوې لكه څنګه چه په حديث دمغيرةؓ كښې په دواړو مسح شويده.

(۲) **جواب** : دا حديث سندا ضعيف دې په دې كښې ابو معقل راوي مجهول دې كما في التقريب (٦٧٤) دارنګه ضعيف ابن ماجه (٤٤/١) هم راوړيدې. نو په دې باندې په مسح دبعضې سر او مقدار الناصيه باندې استدلال كول جائز نه دي.

سوال : په حديث دعطاءؒ كښې مرسلا نقل دي : (ان رسول الله ﷺ توضأ فحسر العمامة عن رأسه ومسح مقدم رأسه) أخرجه الشافعي في مسنده (٣٢/١).

جواب : دا حديث مرسل دې او قابل داستدلال نه دې څكه مرسل حجت نه دې، عند أكثر المحدثين. خاصكر مراسيل د عطاء.

قال علي بن المديني : مرسلات مجاهد احب الى من مرسلات عطاء بكثير، كان عطاء يأخذ من كل ضرب، (جامع التحصيل للعلائي ص : ٣٧

دغه شان بعضې علماء استدلال كوي په حديث د عثمانؓ باندې چه په صفت د وضوء النبي ﷺ كښې وارد دې، په هغې كښې دا الفاظ دي (ومسح مقدم رأسه) أخرجه سعيد بن منصور. ۱ - **جواب** : دا حديث قابل داستدلال نه دې څكه چه په دې كښې خالد بن زيد أبي مالك راوي مختلف فيه دې، كذا في فتح الباري : ٢٣٤/١ ، اګرچه ابن حجرؒ ددې

مؤید حدیث عمل دابن عمرؓ پیش کړیدے لیکن دا خبره په نسبت دتحقیق مذکور سره کمزورے ده۔ ۲ - **جواب** : کومو روایاتو کښے چه د نبی ﷺ نه مسح د مقدم الرأس نقل ده، نو دا محمول ده په دے چه دا مسح مع العمامه ده، لکه ددے تفسیر په حدیث د مغیرهؓ کښے راغلے دے، نو مسح د ټول سر شویده، خو کله یوائے سر دے اوکله ورسره په نیم سر او نیم پټکی اوکله صرف په پټکی باندے مسح شویده، علی کل حال مسح د کل رأس ضروری ده ۔ فتدبر ! ومثله فی الروضة الندیة (۱/ ۴۰) نقلا عن سفر السعادة ۔ بل دا هم کیدے شی چه دا روایت مختصر وی د مطول روایت نه ۔

الزامی رد :

په مذکوره روایاتو کښے د (مقدم الرأس) تذکره راغلے ده نوکه د آیت د اجمال دپاره دا تفسیر شی نو بیا خو بعینه (مقدم الرأس) مسح کول فرض دی، حال دا چه دا مذهب داحنافو نه دے بلکه د دوئ په نیز (مقدار مقدم الرأس) او مقدار الناصیه فرض دے (کما فی الشامی : ۱/۶۸)، لهذا مذکوره روایاتو نه استدلال کول د احنافو دپاره څه فائده نه ورکوی۔

خلاصه : داچه راجح قول داشو چه مسح دټول سر فرض او واجب ده، او تعمیم او استیعاب په مسح د سر کښے ضروری دے، اګرچه هر ویښته ته اوبه اونه رسیږی خو په ټول سر باندے دواړه لاسونه راخکل ضروری دی ۔ لکه په دے طریقه د نبی کریم ﷺ عمل مستمره وو۔ او د سر په بعضے حصه باندے مسح کول مرجوح دی، که چا اوکړو نو اودس به ئے ان شاء الله چه باطل نه وی ۔ په دے شرط چه محقق وی۔ اوکه چرے د تقلید په وجه دا ښکاره دلائل پریدی، نو بیا ئے مونځ نه کیږی۔ زکریا صاحب په درس بخاری کښے وائی : په دے قول کښے احتیاط دے۔

وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ : ددے نه روستو دوه روایتونه د مصابیح نه دی بلکه دا صاحب المشکاة نقل کړیدی، او په دے سره غرض اعتراض کول دی په صاحب المصابیح باندے چه مخکښے ئے ذکرکړو نو دا په بخاری اومسلم کښے نشته، حال دا چه صاحب المصابیح په فصل اول کښے دبخاری اومسلم د احادیثو سره دا ذکر کړیدے، نو پکار داده چه د بخاری

او مسلم روایت کوم چه ما ذکر کړو هغه هم ذکر کړے وے، چه ترتیب صحیح شوے وے۔
ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ : یعنی بیائے لوښی کښے لاس داخل کړو۔ ددے نه دا معلومه شوه چه مستعملے اوبه پاکے دی۔ او پدے کښے اختلاف شته۔

استعمال شوے اوبه طاهر دی که نجس ؟

۱ - د امام محمدؒ او امام شافعیؒ یو قول دادے چه ماء مستعمل طاهر دی پخپله، او غیر مطهر دی بل شئ لره۔

۲ - دامام ابو حنیفةؒ نه مشهور قول دے چه ماء مستعمل نجس دی په نجاست غلیظه سره، اودس کول پرے ناجائز دی، او امام ابویوسفؒ ورته نجس وائی په نجاست خفیفه سره۔ کذا فی الهدایه (۳۸/۱)۔

۳ - امام زفرؒ وائی : که استعمالونکے ددے اوبو متوضئ وو، نو استعمال شده اوبه طاهر اومطهر دی، اوکه محدث (بے اودسه) وو نو مستعملے اوبه طاهر غیر مطهر دی، کذا فی الهدایه (۳۸/۱) وبذل المجهود (۴۵/۱)۔

٤ - څلورم قول : د امام مالكؒ او یوقول قدیم د امام شافعیؒ دے، دغه شان د حسنؒ، عطاءؒ، نخعیؒ، اهل ظواهروؒ او ابن المنذرؒ قول دے : چه ماء مستعمل طاهر او مطهر دی په هر حال کښے۔

احنافو د امام ابو حنیفةؒ دپاره څه دلیل نه دے موندلے۔ د امام ابوحنیفه دپاره بعضے خلق : ۱ - **دا دلیل** بیانوی چه دا صاحبِ کشف وو، د خلقو ګناهونه به ورته دهغوئ د اوداسه په وخت ښکاره کیدل۔ دا وجه ده چه بعضے کسانو ته به ئے وئیل (تُبْ من الزنا، وتب من السرقة، وتب من شرب الخمر) نو وے وئیل چه ماء مستعمل سره ګناهونه لړے کیږی نو دا ګناهونه دوباره په ځان پورے راخکل نه دی پکار، او بیائے الله تعالیٰ ته سوال اوکړو چه مانه دا کشف واخلی، ځکه چه په دے کښے دخلقو په عیبو باندے خبریدل راځی (کذا فی حاشية شرح الوقاية : ۸۸/۱، ومثله فی حاشية الهداية ۳۸/۱)۔

لیکن دا واقعه اولا سند نه لری، اوکه ثابته شی نو دلیل په نجاست د مستعملو اوبو نه کرځی، ځکه چه الله تعالیٰ ته خودا خبره معلومه وه چه په دے سره ګناهونه زائله

کيږي، هغه به رسول الله ﷺ ته أمر کړے وے چه مستعملے اوبه نجسے دي، نو دامام صاحبؒ دکشف په وجه سره خونجاست نه ثابتيږي، ځکه نجاست خو حکم شرعي دے دليل شرعي غواړي او کشف دليل شرعي نه دے، نو په کشف باندے تفريع دمسئلے صحيح نه ده، ځکه چه په نجاست د ماء مستعمل باندے دليل نشته ـ بلکه دلائل ددے په خلاف کښے دي، کما سيأتي ـ

۲ - **دويم دليل** دا بيانوي: چه حديث دابو هريرةؓ کښے داسے راځي: (لا يغتسل أحدكم في الماء الدائم وهوجنب اوبل روايت کښے داسے دی: (لا يبولن أحدكم في الماء الدائم ثم يغتسل فيه) طريقه داستدلال داسے ده چه په بولو سره څنګه اوبه نجسے ګرځي نو دغه شان په اغتسال سره هم نجسے ګرځي ـ(طرح التثريب : ۱/۳۳)ـ

ليکن ددے نه **جواب** دادے چه دا استدلال دے په دلالة الاقتران باندے ،يعنے د اوبو نجس ګرځيدل په غسل کولو سره پيوسته شوی دي داوبو د.نجس کيدو سره په بول باندے، اودا صريح نه دے بلکه ضعيف دے، ځکه چه احنافو خپله دا خبره باطله کړيده، لکه حسامي کښے په وجوه فاسده کښے دي: (القِران في النظم لا يوجب القِران في الحكم) يعنے دوه څيزونه يو ځائے ذکر شي نو ددے نه دا نه لازميږي چه ددے دواړو حکم به هم يو وي ـ لکه ﴿ كلوا من ثمره اذا اثمر وآتوا حقه يوم حصاده ﴾ دلته اکل مقترن شويدے دزکوه ورکولو سره، نو دا لازم نه ده چه لکه څنګه زکات ورکول واجب دي نو خوړل به هم واجب وي ـ

۲ - **دويم جواب** دادے چه نبي کريم ﷺ د بول او اغتسال نه په ماءِ دائم کښے ځکه منع اوکړه چه ستا په هميشه داسے عمل کولو سره به دخلقو طبيعت اونه مني، او هغوئ ته به طبعا ضرر اورسي، نودا د نظافت خلاف ده نو دا دليل د نجاست د ماءِ مستعمل ندے ـ

۳ - **جواب** : شاه ولي الله دهلويؒ په حجة الله (۱/۱۸۳) کښے د نهي حکمت ذکر کوي فرمائي : حکمت په نهي کښے دادے چه دا دواړه کارونه د دوه امرينو نه خالي نه وي، يابه بالفعل اوبه متغير شي، اويا به بالفعل متغير نشي، ليکن تغير ته به مفضي شي، په

دې طريقه چه خلق به دا سرې په دې كار كولو اووينى نو هغوئ به هم داسې كار كول شروع كړى، نو دا په منزله د (لاعنين) شو يعنې هغه دوه كارونه چه د لعنت سبب جوړيږى، چه هغه بول فى الطريق والبول فى ظل الناس دى. مګر كه اوبه ډيرې زياتې وى، يا جارى وى (نو جائز به وى) بيا وائى : والعفاف افضل على كل حال. نظافت او پاكى كول په هر حال افضل دى. په الفتح الربانى (۲۰۹/۱) كښې علامه عبد الرحمن البناء باب تړلې دې (باب طهارة الماء المتوضأ به) او بيا ئې د جابرؓ واقعه راوړيده چه زه بيمار ووم نبى ﷺ زما عيادت اوكړو او زه په ځان نه پوهيدم، نو اودس ئې اوكړو او د اوداسه مستعملې اوبه ئې په ما باندې واچولې. (اخرجه البخارى : ۳۹۸/۱، رقم : ۱۹٤).

امام نووىؒ فرمائى : واستدل اصحابنا وغيرهم بهذا الحديث على طهارة الماء المستعمل فى الوضوء والغسل ردا على ابى يوسف القائل بنجاسته، وهى رواية عن ابى حنيفة (شرح مسلم: ۳٤/۲).

يعنې : زمونږ شوافعو او نورو علماؤ دا حديث دليل نيولې دې په پاكوالى د مستعملو اوبو باندې په غسل او اودس دواړو كښې، او په دې كښې رد دې په ابو يوسف باندې چه قائل دې په نجاست د مستعملو اوبو باندې، او دده دا قول يو روايت هم دې د ابو حنيفةؒ نه.

۳ - دريم دليل دا ذكر كوى چه مسلم (۱۳۸/۱) كښې حديث دې : (لا يغتسل أحدكم فى الماء الدائم وهو جنب، قالوا كيف يفعل يا أبا هريرة ! قال : يتناوله تناولا).

نو دا دليل دې چه په انغماس سره اوبه نجس ګرځى او په تناول (راخستلو) سره نجس نه ګرځى. ليكن دده نه هم جواب دادې چه په انغماس سره نظافت كښې خلل راځى اګرچه اوبه بيا هم طاهر دى، ليكن دنظافت خلاف دى، اود نظافت اوطهارت ما بين كښې فرق دې، نو ماءِ مستعمل اګرچې نظيفې نه دى ليكن طاهرې ضرور دى، شاه ولى الله وائى چه مستعملې اوبه بې شكه طاهرې دى (حجة الله : ۱۸۱/۱). نو د احنافو دا دلائل په خپله مدعىٰ باندې ډير كمزورى دى، مدعىٰ پرې نه ثابتيږى.

دلائل الجمهور :

١ - يو دليل حديث د ابو جحيفة په بخاري (٣١/١) كښې دے :

(قال : خرج علينا رسول الله ﷺ بالهاجرة فأتي بوضوء فتوضأ فجعل الناس يأخذون من فضل وضوئه فيتمسحون به)۔

نو د نبي كريم ﷺ استعمال كړے اوبه صحابوؓ په خپلو بدنونو باندے راخكلے، دا دليل دطهارت ددے مستعملے اوبو دے۔ اودليل دخصوصيت د نبي كريم ﷺ هم نشته، ولے چه نبي كريم ﷺ دخپل امت سره په احكام شرعيه ؤ كښې شريك وى۔

٢ - دليل : دحديث دابو موسى اشعرىؓ په بخاري (٣١/١) كښې دے چه نبي كريم ﷺ يوه پيالـه راطلب كړه چه اوبه په كښې وے،نو لاسونه او مخ ئے په كښې اووينځل او دخلے اوبه ئے په كښې واچولے، بيا ئے ابو موسىؓ او بلالؓ ته اوفرمائيل : (اشربا منه) دا اوڅكئ او خپلو مخونو اوسينو باندے ئے واچوئ۔

٣ - دليل : حديث د سائب بن يزيدؓ نه روايت دے چه زه خپلے ترور نبي كريم ﷺ خواته بوتلم هغے ورته عرض اوكړو : اے دالله رسوله ! زما دا خورئے مريض دے، نو هغه زما په سر باندے لاس راخكلو اوزما دپاره ئے د بركت دعاء اوكړه، بيا ئے اودس اوكړو اوما دهغه د اوداسه اوبه اوڅكلے ... الحديث (٣١/١)۔

سوال : دلته اشكال راځي چه په دے احاديثو كښې مستعملے اوبه د نبي كريم ﷺ ذكر شوى دى، كيدے شي چه دابه دهغوئ د خصوصياتو نه وى، چه د هغه مستعملے اوبه به پاكے وى اود نور امت مستعملے اوبه به نجسے وى ؟۔

جواب : دا دعوىٰ بلادليله ده، ځكه چه دا قانون دے چه نبي كريم ﷺ په احكامو كښې د امت سره شريك دے، ترڅو چه دليل دخصوصيت پيدا نشي، اودلته هيڅ دليل د خصوصيت نشته كه وے نو مونږ ته نقل شوے وے لهذا دعام امت د ماءِ مستعمل هم دا حكم دے ۔ (نيل الأوطار : ٢٨/١)۔

بله داچه : كوم حكم چه د نبي كريم ﷺ پورے خاص وى نو په نبي كريم ﷺ دا ضروري وى چه امت ته به دا خبر وركوى چه دا حكم ما پورے خاص دے، كه داسے نه وىٔ نو حكم به عام وى۔

٤ - **دليل** : نبي كريم ﷺ اوعائشې وغيره به ديو خانك ته غسل كول، نو خامخا به د يو بل اوبه په خانك كښې پريوتلې -

٥ - دارنګه صحابه كرامؓ اودهغوئ بيبيانو به دخانكونو اوكاسو نه غسل او اودسونه كول ، او په دې سره خامخا څاڅكي په اوبو كښې پريوځي، او نبي كريم ﷺ د دينه نه دى منع كړي، نو كه چرې ماءِ مستعملې نجس وې نو نبي كريم ﷺ به دوئ منع كړي وې چه ستاسو اوبه په دې لوښو كښې پريوځي نو غسل ترې مه كوئ- (المغنى : ٢٩/١، الروضه الندية : ١٥/١)-

٦ - حديث كښې دى (المؤمن لا ينجس) بخارى : ٧٩/١، مسلم : ١٩٤/١ -

نو أعضاء د محدث (بې اودسه) پاك دى نو د هغه مستعملې اوبه به هم پاكې وى-

٧ - ان الماء طهور لا ينجسه شيء ، أخرجه ابو داود رقم (٦٧) بسند صحيح-

دغه شان : الماء لا يجنب (صحيح ابى داود رقم : ٦٨ - (هيڅ قسم اوبه نه پليتيږى، مګر چه خوند، رنګ، بوئې ئې بدل شى)-

٨ - **دليل** : حديث الباب دې (ثم أدخل يده)-

دې نه معلوميږى چه نجس نه دى، ځكه لاس ئې په اوبو كښې غوپه كړيدې نو ضرور به مستعملې اوبه په يو لوښى كښې پريوتى وى-

٩ - **دليل** : دا قاعده شرعيه ده چه : الأصل فى كل شيئ الطهارة - يعنې هر شې په دين كښې پاك دې تردې چه بل نص نه وى راغلې د هغې په نجاست، او دلته بل نص نشته، دا قاعده اول جلد كښې ذكر شويده-

(انظر المنخلة النونية ص : ١٤ ، القواعد والأصول الجامعة ص : ٤٥)-

فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ :

په مضمضه او استنشاق كښې اختلاف مخكښې تير شو چه دجمهورو مذهب دا وو چه دې دواړو كښې به **وصل** كوى، يعنې د يو لاس اوبو نه به لګې اوبه خلې ته، اولږې پوزې ته اچوى، او دا كار به درې ځله كوى-

٢ - احنافو رائې داده چه **فصل** به كوى، يعنې د يو لاس اوبه به اول خلې ته واچوى درې

ځل او بیا به درې ځله پوزې ته جدا اوبه واچوی۔ نو دا ست غرفات شو په نیز د احنافو، او ثلث غرفات شو په نیز د جمهورو۔ اودا دواړه طریقې جائز دی عندنا۔ اودا د تنوع في العباده د قبیلې نه دی، لیکن راجح وصل دے کما مرّ، نو أکثر عمل په وصل کول پکار دی او کله کله عمل په فصل۔ نو په ټولو روایاتو باندې به عمل راشی، اودا روایت د جمهورو د مذهب مطابق دے صراحةً۔

لیکن احناف شارحین د خپل مذهب د اثبات دپاره دلته داسې **تاویل** کوی چه د (مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ) معنیٰ داده چه په یو لاس ئے اوبه اچولی دی، نه په دوه لاسونو۔

لیکن دا تاویل **خطاء** دے وجه دخطائی داده چه (۱) یو خو په دوه لاسونو باندې اوبه اچول خلې اوپوزې ته سخت ګران کار دے۔ نو بیا په تخصیص د یو لاس کښې فائده نه ښکاری۔

۲ - **دویم** داچه د نبی کریم ﷺ عادت مبارك دا نه وو چه په دوه لاسونو به ئے اوبه اچولې، نو د دې نفی کولو ته ضرورت نشته، او څه قرینه هم په دې نفی نشته۔ نو دومره بعیده توجیه اختیارولو ته هیڅ حاجت نشته، بلکه خپله قاعده اورائے او مذهب صحیح کولو دپاره دنبی کریم ﷺ احادیث ورانول اوخطاء تاویلونه کول د فطرتِ انسانی نه خلاف دی (و کذلك التقلید یفعل بأهله)۔

۳ - **بله** وجه د دې تاویل دخطائی داده چه بناء په دې تاویل دلته پکار وه چه داسې ئے وئیلی وې (فمضمض واستنشق بکف واحدة، لا من کف واحدة) یعنې مضمضه او استنشاق ئے په یو لاس سره اوکړل او د یو لاس نه ئے اونه کړل، او دلته خو (مِن) لفظ ذکر دے، یعنې د یولاس نه دواړه په یو ځائے شوی دی۔ او داسې نه ده چه په یو لاس سره دواړه جدا جدا شویدی۔ فتدبر!۔ نو دا تاویل خطاء شو۔

٤ - **څلورمه** وجه دخطایئ داده چه دلته بیا پکار دا وو چه داسې عبارت ئے وئیلې وې : (ففعل ذلك سِتًّا) یعنې درې ځله ئے مضمضه او درې ځله ئے استنشاق اوکړو، اودلته خو (ثلاثًا) ذکر دے نودا روسته لفظ ددې تاویل نه انکار کوی، اوددې په خطایئ باندې دلیل او حجتِ واضحه دے د جمهورو دپاره ۔ لکه داخبره په احنافو کښې ابن الملكؒ ذکر کړیده،

كذا في المرعاة (۲/ ۹۳)۔

ثُمَّ اَدْخَلَ يَدَهُ : طريقه د اوبو راخستو داده چه هراندام لره به په يو لاس اوبه راخلی او بل لاس به ورسره هسې ملګرې کوی، اوحفنه (يوه لپه) ډکول د مخ وغيره وينځلو دپاره اسراف دې بلکه غرفه (چونګ) به راخلی، اودې قسم اسراف في الوضوء کښې اکثر عوام څه چه مُلیان او طالبان هم واقع دی، بميه به راخلاصه کړی اوبه به هسې بهيوی۔

نکته : دلته يوه قاعده واوره چه په يو حديث کښې تول احکام نه وی ذکر، دا د بدعتيانو طريقه ده، چه يو حديث اووينی بس هغه واخلی اود هغې نه قاعده کليه جوړه کړی۔ دا وجه ده چه اصول فقه کښې قاعده ايښې ده چه د قرآن سره د حديث تعارض راشی نودا کار به کوو، ډير مثالونه ئې ورله ذکر کړيدی، لکه (لانکاح الا بولي) دوئ مخالف ګنړی د دې قول د الله تعالیٰ سره ﴿ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ﴾ دغه شان تغريب عام والا حديث د قرآن مخالف ګنړی، د تعديل الأركان د فرضيت والا حديث د أيت ﴿ وَارْكَعُوْا ﴾ نه مخالف ګنړی، دارنګه حديث د (لاتحرم المصة ولا المصتان) د آيت : ﴿ وَأُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْٓ أَرْضَعْنَكُمْ ﴾ نه مخالف ګنړی۔

حال داچه صحيح **حديث** هيڅ کله هم د قرآن نه **مخالف** نه راځی نودا د **اهل بدعت** طريقه ده چه آيت دحديث نه وهی او حديث دآيت نه او په يو بل کښې مخالفت راؤباسی۔ دغه شان يو حديث واخلی او نورو حديثونو نه جوابونه کوی،او غلط تاويلونه په کښې کوی، او يائې په څه چل رد کوی، نه ئې منی، کله وائی : دا منسوخ شويدې۔ دا ټول بې دليله خبرې دی، بلکه د اهل السنت والجماعت طريقه داده چه په باب کښې ټول احاديث راجمع کوی بيا روسته مسئله ترې ثابتوی، ځکه چه يو حديث کښې يو حکم وی بل حديث کښې بل وی، نوکله چه دواړه جمع شی نو د دې نه به بيا د مسئلې هيئت او صورت معلوم شی۔

ثُمَّ ذَهَبَ بِهِمَا اِلٰى قَفَاهُ : په دې حديث کښې دا خبره ده چه نبی ﷺ مسح د ابتداء د سر نه شروع کړه او شا طرفته ئې دواړه لاسونه اوړسول، نو آيا د شا مستقله مسحه کول دين کښې شته اوکه نه ؟ نو په دې کښې د علماؤ اختلاف دې۔

ازالة القلق فى مسألة مسح العنق

١ – د **جمهورو** علماؤ مذهب دادے چه د څټ مستقله مسح كول بدعت دے، كمالك والشافعي واحمد رحمهم الله۔

لكه چه امام نووىؒ فرمائى: لم يصح عن النبى ﷺ فيه شئ، وليس هو بسنة، بل بدعة، كذا فى نيل الأوطار (١/٢٠٢)۔

امام ابن القيمؒ په زاد المعاد (١/٦٨) كښے فرمائى: لم يصح عنه ﷺ فى مسح العنق حديث البتة۔ (يعنے دڅټ دمسح په باره كښے هيڅ صحيح حديث د نبى كريم ﷺ نه نه دے ثابت) نو په دے باندے عمل كول بدعت دى۔

٢ – بل طرفته د **احنافو** مذهب دادے چه مسح د څټ مستحب عمل دے، لكه دا خبره رشيد احمد لدهيانوىؒ په احسن الفتاوى (٢/١٢) او د فقه حنفى په نورو كتابونو كښے ذكر شويده لكه كنز (١/٣) شرح وقايه (١/٦٩) وغيره كښے۔ او لدهيانوى صاحب ددے په استحباب باندے پنځه روايات نقل كړى دى د نيل الأوطار نه، او بيا ئے دا وئيلى دى چه دا روايات اگرچه ضعيف دى ليكن په فضائل اعمالو كښے ضعيف روايت هم معتبر دے۔

او دغه شان خبره عبد الحى لكهنوى په (تحفة الطلبة فى تحقيق مسح الرقبة : ١/٢٥٤، ضمن مجموعة رسائل اللكنوى) كښے ذكر كړيده، چه په دے باره كښے احاديث قوليه او فعليه وارد دى، مگر د هغے اسانيد ضعيف دى، بيا وائى : كه چا اوكړه نو مستحب ده اوكه چا اونه كړه نو څه باك نشته۔

ددے **جواب** دادے چه په **ضعيف** حديث سره هيڅ كله استحباب نه ثابتيږى، خصوصا كله چه ضعف هم زيات وى۔ لكه دا خبره علماء المصطلح بيان كړيده، او دغه شان ډير ضعيف روايات چه كله راجمع شى نو حسن درجے ته نه رسى، بلكه حسن هله گرځى كله چه دا ضعف كم وى او په سند كښے په يو ځائے باندے نه وى، كما فى تمام المنة ص (٣١) مباركفورى صاحبؒ په تحفة الأحوذى (١/٣٩٩) كښے د زيلعىؒ نه نقل كړيدى چه كله تعدد طرق الحديث سبب د ضعف وى، او په دے سره قوت نه پيدا كيږى۔

نو دا خبره چه ضعيف حديث په فضائل اعمال کښې معتبر دے : هم صحيح نه ده، وجه دا ده چه مسح الرقبة مستقل حکم شرعي دے، اودا د فضائل الأعمال د قبيلے نه نه دے، څکه استحباب حکم شرعي دے. ددے دپاره قوي ثبوت او دليل پکار دے او هغه نشته.

په مسح د څټ کښې راغلي روايات او د هغے تجزيه :

اوس هغه روايات ذکر کوو چه رشيد احمد صاحب پرے د استحباب د مسح الرقبه استدلال کړيدے او د هغے جائزه :

۱ - عن مصرف بن عمرو يبلغ به کعب بن عمرو قال : رأيت رسول الله ﷺ توضأ فمسح لحيته وقفاه. أخرجه ابن السكن في كتاب الحروف و ابوداود (۱۹/۱) واحمد.

جواب : دا حديث ضعيف السند دے، په دے کښې ليث بن ابي سليم دے امام نووي په تهذيب الأسماء واللغات کښې فرمائي : (هو مجمع على ضعفه) يعنے اتفاقي ضعيف دے.

دارنګه مصرف بن عمرو مجهول راوي دے، قاله ابن القطان كذا في النيل : ۲۰۳/۱، وضعفه احمد وابن عيينة، كما في أبي داود (۱۹/۱)، راجع فتاوى الدين الخالص : (۵۰۱/۱).

۲ - ابو نعيم الأصفهاني په تاريخ د أصفهان (۱۱۵/۲) کښې د عبد الله بن عمرؓ حديث راوړيدے : (ان النبي ﷺ قال : من توضأ ومسح عنقه وقي الغل يوم القيامة، كما في السلسلة : ۱۶۷/۲، والنيل : ۲۰۳/۱، وتحفة الطلبة (۱۰/۱).

جواب : دا روايت هم ضعيف بلکه موضوعي دے، ددے په سند کښې محمد بن عمرو الأنصاري راوي واهي ، ضعيف دے. وقال الذهبي : محمد بن عمرو الأنصاري ضعفه القطان (المغني في الضعفاء : ۳۵۷/۱) رقم (۵۸۸۲) و كذا قاله ابن حجر في التقريب (۱۳۰/۲) رقم (۶۵۵۶)، او سلسله : ۱۶۷/۲، رقم : ٦٤٤ ، کښې ئے دے حديث ته موضوعي وئيلي دي.

۳ - ابو عبيد په كتاب الطهور کښې د عبد الرحمن بن مهدي نه نقل کوي هغه موسى بن طلحه نه دا روايت رسوي، (انه قال : من مسح قفاه مع رأسه وقي الغل يوم

القيامة)۔

علامه عينيؒ په شرح دهدايه كښې وائي : دا حديث اګرچه موقوف دے ليكن ددے دپاره حكم دمرفوع دے څكه په داسے مقام كښې درائے دپاره هيڅ دخل نه وي۔

جواب : دا خبره د دوه وجهو نه باطله ده (١) اوله وجه داده چه : موسى بن طلحه صحابي نه دے (الاصابة : ٣١٥/٦، لابن حجر)، چه روايت ئے موقوف شي، بلكه دا يا تابعينو نه دے يا د اتباع التابعين نه، او بناء په دے قول بيا ټول مقطوع روايات او اقوال د تابعينوؒ به أقوال د رسول الله ﷺ شي، وهذا واضح البطلان۔

٢ - دويمه وجه داده چه : ددے په سند كښې المسعودي راوي دے او هغه باندے اختلاط راغلے دے، كذا في التلخيص الحبير : ٩٢/١، والسلسلة : ٩٨/١، رقم : ٦٩، و ٧٤٤۔ اوحكم د مختلط راوي دادے چه كه راوي ثقه وي نو قبل الاختلاط احاديث به ئے مقبول وي، اوكه په زمانه د اختلاط كښې كوم حديثونه بيانوي، يا پته نه لګي چه دائے قبل الاختلاط زده كړي دي يا بعد الاختلاط نو دابه بالكل قابلِ قبول نه وي۔ (كذا في نهاية الاغتباط بمن رمي من الرواة بالاختلاط ص : ٣٤)۔

٤ - **څلورم روايت** : روى الديلمي في مسند الفردوس من حديث ابن عمر مرفوعا : (مسح الرقبة أمان من الغل يوم القيامة)۔

جواب : دا روايت اودويم روايت يو دي، اوددے روايت سند هم ډير ضعيف دے، كما في الموضوعات الكبرى (٦٣) څكه په دے كښې محمد بن عمرو الأنصاري ابو سهل البصري دے اودا اتفاقي ضعيف دے، دا وجه ده چه امام نوويؒ دے حديث ته (موضوع) وئيلے دے۔ او مسح الرقبه بدعت ګڼړي۔ (المجموع : ٤٦٥/١) : هذا موضوع ليس من كلام النبي ﷺ و نقله السيوطي في ذيل الأحاديث الموضوعة ص (٢٠٣) عن النووي و أقره. (انظر الضعيفة : ٩٧/١، رقم : ٦٩) و كشف الخفاء للعجلوني (٢٠٨/٢)۔

هركله چه دا روايات يا خو موضوعي دي او يا شديد الضعف دي نو قابل د استدلال نه دي، په دے باندے استحباب ثابتول باطل دي۔

دا وجه ده چه شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په فتاوى (١٢٧/٢١) كښې فرمائي :

لم يصح عن النبي ﷺ أنه مسح على عنقه في وضوئه بل ولا روى عنه ذلك في حديث صحيح، بل الأحاديث الصحيحة التي فيها صفه وضوء النبي ﷺ لم يكن يمسح عنقه، ولهذا لم يستحب ذلك جمهور العلماء، كمالك والشافعي واحمد في ظاهر منهبهم۔

يعني : د نبي كريم ﷺ نه دا نه ده ثابته چه هغه په څټ باندې مسح كړې وي په اوداسه كښې، بلكه په هيڅ صحيح روايت كښې دهغه نه دا نه ده نقل، اوكوم صحيح احاديثو كښې چه د نبي كريم ﷺ داوداسه كيفيت رانقل شويدې نو دڅټ مسح په كښې نه ده ذكر شوې۔ دا وجه ده چه جمهورو علماؤ ديته مستحب نه دى وئيلي (بلكه بدعت ئې ورته وئيلي دى)۔

٥ - بعضې خلق - لكه عبد الحى لكهنوىؒ - يو بل روايت ذكر كوى چه ابوداود (١٩/١) راوړيدې (عن ليث عن طلحة بن مصرف عن أبيه عن جده قال : رأيت رسول الله ﷺ يمسح رأسه مرة واحدة حتى بَلَغَ الْقَذَالَ، وهو أول القفا)۔

اودا استدلال كوى چه دلته په (قذال) يعني څټ باندې مسح شويده، اودغه شان دې حديث الباب كښې هم دى (ثم ذهب بهما الىٰ قفاه) په څټ باندې مسح شويده، نو دا دليل داستحباب دې۔

جواب : ددې نه عظيم آبادىؒ په عون المعبود (٤٩/١) كښې دوه جوابونه كړيدى :

١ - اول جواب دادې چه دا حديث ضعيف دې، په دې كښې ليث بن ابى سليم دې، تركه يحيى بن القطان، وابن معين، واحمد بن حنبل، وقال النووى في تهذيب الأسماء واللغات : اتفق العلماء على ضعفه۔

باقى كلام په نيل الأوطار (٢٠٢/١) كښې اوګوره ۔

٢ - دويم دا چه كه صحيح هم شى نو هم دليل داستحباب نه ګرځى، ځكه چه په دې كښې اتفاق دې چه مسح د سر به د ابتداء نه شروع كوى او آخر ته به ئې رسوى او څټ به ورسره مسح كړى او بيا به واپس هغې ابتدائى ځائې ته راشى۔

ليكن اختلاف په هغه صورت كښې دې چه دڅټ دپاره جدا لاس لوند كړى او مستقله مسح پرې اوكړى، نو دا نه ده ثابته په احاديثو كښې، اوپه دغه حديث د ابوداود

کښې او په دے حدیث الباب دواړو کښې داخبره ده چه د څټ مسح شویده خو د مسح د سر سره یو ځائے کړیده، اوداخو اتفاقي صورت دے۔ دا د محل النزاع نه بهر دے۔

خلاصه : دا چه جمهور علماء مسح الرقبه بدعت ګڼړي اواحناف ئے مستحب ګڼړي، لیکن بعضے احنافو ورته هم بدعت وئیلی دی (كذا في فتح القدير : ۲۱/۱ : وقيل انه بدعة أيضا)۔

او هرچه مسح د مرئ ده نو په دے کښې احناف د جمهورو سره ددے په بدعت کیدو باندے متفق دی، كذا في الشامي : لانه بدعة اذ لم يرد في السنة (۸٤/۱) وفتح القدير (۳۱/۱) او علامه شوكاني هم مسح الرقبه ته مستحب وائي لیکن هغه خطاء شویدے، او په دے اتفاقي صورت باندے ئے استدلال کړیدے (کوم چه د سر سره مسح کولے شي)۔ اودا استدلال خطاء دے ځکه د څټ مستقل مسح کولو دپاره مستقل دلیل پکار دے، او دلته خو د سر د مسح سره څټ مسح شویدے، نه دا چه مستقلاً۔

نو په صفة الوضوء کښې د رسول الله ﷺ نه مسح العُنُق نه ده ثابته په صحيح يا حسن روایاتو کښې، نو دا کار به بدعت وي۔

بیا بعضے خلقو دا فرق کړیدے چه په ژمي کښې د څټ مسح مه کوه او اوړي کښې کوه، دے دپاره چه په ټولو روایاتو عمل اوشي۔

لیکن مونږ وایو دا فرق د خیټې نه ایجاد شویدے هیڅ دلیل اوثبوت نه لري، ځکه بل طرفته روایات ټول ضعیف او موضوعي دی۔ نو په دے حدیث کښې چه (قفاه) لفظ ذکر دے ددے نه مراد مؤخر الرأس دے، سره دمسح دسر نه، دلیل په دے باندے لفظ د (ذهب بهما الى قفاه) دے۔ اودغه شان حدیث د ابوداود کښې هم (بَلَغَ الْقَذَالَ) لفظ د (بلغ) دلیل دے چه دا څټ مسح شویدے خو په مسح د سر کښې، او مستقلا نه دے مسح شوے۔ او مرئ مسح کول خو بدعت دے، هیڅ دلیل پرے نشته۔

حاصل داچه : (۱) د مرئ مسح اتفاقا بدعت دے (۲) د څټ مسح د سر سره یو ځائے سنت ده (۳) مستقلا د څټ په مسح کښې اختلاف دے، راجح داده چه نشته دے۔

وَفِيْ رِوَايَةِ الْبُخَارِيِّ : فَمَسَحَ رَأْسَهُ .... مَرَّةً وَاحِدَةً :

په تثليث المسح کښې اختلاف :

١ - امام مالكؒ، ابو حنيفةؒ، بخاريؒ، حسن بصريؒ، مجاهدؒ اوجمهورو علماؤ مسلك دادے چه مسح د سر يو ځل ده، او تکرار سنت نه دے۔

٢ - ليکن امام ابو حنيفةؒ نه دا هم نقل دی چه درے ځله مسح کول هم شته، خو بماء واحد، لکه صاحب الهدايه نقل کړيدی (٢١/١) : و التثليث مشروع ولکن بماء واحد على ما روى عن أبي حنيفة رحمه الله۔

٣ - د امام شافعيؒ او عطاءؒ مذهب دادے چه تثليث المسح مشروع ده۔

دلائل الجمهور : ١ - د رسول الله ﷺ نه په صفه الوضوء کښې مسح الرأس يا مطلق ذکر ده، لکه (فمسح برأسه) اود مطلق يقيني فرد يو وی، اويا مقيده ذکر ده، لکه په دے روايت د بخاری کښې دی (فمسح رأسه مرة واحدة) په روايت د عبد الله بن زيدؓ کښې۔

٢ - **دليل** : د عثمان رضى الله عنه نه په صفه الوضوء کښې چه څو مره روايات نقل دی په هغے کښې مسح الرأس يو ځل ذکر ده، اوکوم روايت د عثمانؓ کښې چه مسح د سر درے ځله راغلے ده هغه شاذ دے، لکه د دے شذوذ ته امام ابوداود (١٦/١) اشاره کړيده په دے عبارت خپل سره : (واحاديث عثمان الصحاح كلها تدل على مسح الرأس انه مرة، فانهم ذكروا الوضوء ثلاثا وقالوا فيها : ومسح رأسه، لم يذكروا عددا، كما ذكروا في غيره۔

غرض : د امام ابوداودؒ په دے عبارت سره رد کول دی په يو روايت باندے چه روستو راځي۔

٣ - **دليل عقلي** : دادے چه که مسح د سر درے ځله راشي نوبيا مسح مشابه کيږی دغسل سره، سره ددے نه چه ددواړو ترمينځه فرق دے، ځکه مقصود د شريعت آساني کول دی په مسح کښې او که چه مسح درے ځل شي نو بيا به د عضو ممسوح او عضو مغسول فرق رانشي، اود مسح نه غسل جوړول صحيح نه دی، ځکه مامور به په رأس کښې مسح ده نه غسل۔

دليل د امام شافعيؒ : ١ - ابوداود (١٦/١) کښې د عثمانؓ روايت ذکر دے په باب صفة وضوء النبي ﷺ کښې : (عن شقيق بن سلمة قال : رأيت عثمان بن عفان غسل ذراعيه

ثلاثا ثلاثا، ومسح رأسه ثلاثا ثم قال : رأيت رسول الله ﷺ فعل هذا)۔ او دغه شان بل روايت د حمران مولیٰ عثمان هم دے (۱/۱٦)۔

جمهور ددے نه جواب کوی چه امام ابوداودؒ دے روايت ته شاذ وئيلی دی، لکه مونږ مخکښے دهغه عبارت ذکر کړو۔ او په هغے کښے شذوذ ته اشاره ده ځکه په مقابله د صحاح کښے ئے راوړيدے يعنی په عام رواياتو کښے مسح برأسه) مطلق راغلی دے بغير د ذکر د عدد نه، او دے يو روايت کښے قيد د (ثلاثا) ذکر دے نو دا شاذ دے ځکه مخالفت د ثقاتو نه شويدے۔

ليکن **انصاف** دادے چه دا روايت د عثمانؓ په درے سندونو سره نقل دے او دواړه حسن او صحيح روايات دی۔ ۱ – يو روايت د شقيق بن سلمه دے چه ابن خزيمه په خپل صحيح کښے راوړيدے او دارنګه دارقطني (۹۰/۱) او ابوداود (۱۶/۱) ذکر کړيدے، او ديته شيخ الباني ؒ په صحيح سنن أبی داود رقم (۱۱۰) کښے حسن صحيح وئيلے دے، اګرچه عامر بن شقيق راوی په کښے مختلف فيه دے (قال الحافظ : لين الحديث) تقريب التهذيب : ۳٤/۱ ـ وقال النسائی فی الأحكام الكبری ص : ٤٦٤ : لا بأس به ـ نو قابلِ قبول دے، روايت ئے حسن دے۔

۲ – **دويم دليل** : روايت دحمران دے (أخرجه ابوداود : ۱۶/۱، و البزار فی مسنده كذا فی التعليق المغنی : ۹۱، علی سنن الدارقطنی، قال : رأيت عثمان بن عفانؓ توضأ وفيه : ومسح رأسه ثلاثا... الحديث) ـ او په دے کښے هم د نبی کريم ﷺ د اوداسه حکايت کوی، ديته هم شيخ البانی ؒ په ابوداود رقم (۱۰۷) کښے حسن صحيح وئيلے دے،ځکه مدار د سند عبد الرحمن بن وردان دے، قال ابن معين : صالح. وقال ابن أبی حاتم : لا بأس به . (التعليق المغنی : ۹۲/۱)۔

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښے ليکی : په دے روايتينو کښے زيادت د ثقه دے او زيادت د ثقه مقبول دے۔ لکه چه امام دارقطنی، امام ابن جوزی، امام نووی، حافظ زيلعی وئيلی دی (نصب الراية : ۳۹/۱، ۱۸۶/۲، ۱۰۰/٤، مستدرك : ٤۲/۱، حجة الله : ۱۳٤/۱، وقال الحاكم : مذهب الشيخين قبول الزيادة من الثقة . نصب الراية : ٤۳۳/۲،

مستدرك : ۱۲۸/۳ ، تمام المنة ص : ۹۱)۔

او ديته شاذ نه دی وئيل پکار، ځکه چه نور راويانو مطلق مسح ذکر کوی، اوپه دے روايت کښے تقييد ذکر دے په ثلاثا سره ـ

دغه شان ددے رواياتو دپاره نور ډير شواهد په الدارقطني (۹۰) کښے موجود دی ـ چه يو دهغے نه موقوف روايت د انسؓ دے چه امام بيهقي (۶۲/۱) او ابن ابی شيبه په المصنف (۱۵/۱) کښے راوړيدے (عن قتادة عن انس انه كان يمسح على رأسه ثلاثا، يأخذ لكل واحدة ماء جديداً)۔

۲ – بل روايت د سعيد بن جبيرؒ، ابراهيم تيميؒ، عطاءؒ، زاذانؒ او ميسرةؒ دے : (انهم كانوا اذا توضؤوا مسحوا رؤسهم ثلاثا) أخرجه ابن ابی شيبة : ۱۶/۱، وابن حجر في التلخيص (۸۵/۱).

ددے تحقيق نه معلومه شوه چه دعثمانؓ نه په صفه الوضوء کښے تثليث المسح هم ثابت دے۔

٤ – **څلورم دليل** د امام شافعيؒ، حديث د عليؓ دے چه دارقطني (۸۹/۱) نقل کړيدے : (انه توضأ فغسل يديه وفيه : ومسح برأسه ثلاثا... الحديث)۔

بيا دارقطني په دے روايت کښے داسے فرمائی : خالف ابو حنيفة الثقات في قوله ثلاثا)، نو ګويا دا د امام ابو حنيفةؒ روايت دے نو احنافو له ئے قبلول پکار دی۔

٥ – **پنځم دليل** : متفق عليه حديث دے : (ان النبي ﷺ توضأ ثلاثا ثلاثا)۔

ليکن : ددے نه جمهور دا جواب کوی چه دا روايت مجمل دے او په نورو رواياتو کښے ددے بيان شويدے چه (مسح الرأس) کښے تکرار نشته، نو دابه په تغليب باندے حمل وی يعنی درے اندامونو کښے ئے تثليث اوکړو، يابه مختص وی په هغه اندامونو پورے چه وينځلے شی ـ كذا في عون المعبود : ۴۰/۱ ـ

امام صنعانيؒ فرمائی : په سنن ابی داود کښے د عثمان رضی الله عنه په حديث کښے درے ځل مسح نقل ده، چه د يو سند امام ابن خزيمه صحيح کړيدے او دا کافی ده د درے ځله مسح د سنت کيدو دپاره، اود ابو داود د کلام نه جواب ورکوی (واجيب : بان كلام ابی

داود ينقضه ما رواه هو وصححه ابن خزيمة كما ذكرناه) يعنې د امام ابوداود په كلام كښې تعارض دے، وجه داده چه ده پخپله په صحيح سند سره د عثمانؓ حديث نقل كړے او ابن خزيمه هم ورته صحيح وئيلې دى، نو بيا څنګه وائى چه صحيح روايات د عثمان نه صرف په يو ځل سر مسح كولو كښې دى ؟

(سبل السلام شرح بلوغ المرام : ۶۲/۱، تمام المنة ص : ۹۱).

اود دليل عقلى نه جواب دادے چه هركله د نبى ﷺ نه درے ځل مسح ثابت شوه نو دا خبره كول چه مسح مشابه كيږى د غسل سره نو دا هسے بيباكه خبره ده او قياس دے په مقابله د نص كښې (سبل السلام : ۶۲/۱).

المحاكمة بين القولين

د انصاف تقاضا داده چه دا مسئله هم د قبيلے د تنوع فى العبادات نه اوګڼلے شى، يعنې دواړه طريقے جائز او مشروع دى، اودواړو باره كښې حديثونه راغلى دى، كما سبق.

ليكن درے كرت مسح أحيانا (كله كله) شويده، اودليل ئے دادے چه په عام احاديثو كښې (مرة واحدة) ذكر كيږى، يا مطلقا بغير د قيد د (ثلاثاً) نه ذكر كيږى، او په بعضے احاديثو كښې ورسره قيد د (ثلاثاً) ذكر دے. نو كله كله په دے باندے هم عمل پكار دے او بالكل متروك ګرځول ئے ښه كار نه دے، او په دے كښې څه تعارض او تناقض هم نشته، چه مونږ په يو عمل اوكړو او بل پريدو. ځكه چه تعارض اوتناقض كښې وحداتِ ثمانيه نه اتحاد د زمان او مكان شرط دے، اودا دواړه عملونه په يو وخت او يو مكان كښې نه دى شوى، بلكه په مختلفو اوقاتو او مكاناتو كښې شوى دى. تناقض به هله وے چه مثلا نبى كريم ﷺ نه دشوال په مياشت كښې د ما سخوتن په اوداسه كښې يو ځل مسح نقل وے، او په بل روايت كښې همداسے راشى په همدغه ماسخوتن اوداسه كښې ئے درے ځل مسح كړيده، نو مونږ به وايو چه دا خو تناقض دے ځكه يو وخت څنګه په دوه طريقو اودس اوكړے شى ؟

نو هركله چه تناقض نشته نو مونږ به دا اووايو چه دا تنوع فى العبادات د قبيلے نه دے، اودا قانون په اكثرو ځايونو او مسائلو كښې جارى كيږى، اوپه دے سره عمل په تواو

احاديثو راځي، والحمد لله. او په دې سره د تقليد شخصي بنياد هم ختميږي.

او د مقلدينو خوئې دادې چه احاديثو کښې تناقض پيدا کړي او ورته موقعه ملاؤ شي او خپل مذهب لـه ترجيح ورکړي. او دا قول علامه صنعاني او شيخ الباني هم غوره کړيدې.

او په کومو احاديثو کښې چه مسح الرأس مرتين راغلې ده لکه په حديث د ربيع بنت معوذ بن عفراءؓ عند الترمذي و ابي داود (١/٢٧) رقم (١٢٦) وفيه : (ومسح برأسه مرتين) چه په دې کښې هم د نبي کريم ﷺ داوداسه حکايت دې. او دا حسن حديث دې.

نو دا غالباً د اقبال او ادبار په دواړو حرکتونو باندې محمول دي، چه دا په حقيقت کښې مسح مرتين نه ده، بلکه د ابتداء نه مسح شروع شويده څټ پورې او بيا د څټ نه بيرته مقدم الرأس طرفته، نو د يو طرفنه مسح او بل طرفنه مسح دواړه جدا جدا مسحې ګرځولې شوي دي چه په حقيقت کښې دا د استيعاب الرأس يوه طريقه ده او دواړه مستقلې مسحې نه دي. او دليل په دې باندې روستني الفاظ دي چه : (يبدأ بمؤخر رأسه ثم بمقدمه) او دې روايت ته شيخ الباني حسن وئيلې دې، صحيح ابي داود : ١/٢٧.

دغه شان حديث د عبد الله بن زيدؓ دې عند النسائي (١/٢٣) رقم (٩٦) والبخاري باب الوضوء مرة مرة، او المشكاة کښې په دې باب کښې دا روستو متصل حديث راروان دې.

اګرچه د وکيع بن جراح او بعضې اهل کوفه مذهب دادې چه دوه کرته مسح مستقلا مشروع ده، کما ذکره الترمذي.

او استدلال کوي په دې روايتينو سره. ليکن علامه عظيم آبادي په عون المعبود (١/٤٨) کښې د ابن العربي نه دا خبره نقل کړيده چه په حديث د ربيعؓ کښې چه مسح مرتين راغلې ده نو په دې کښې راوي خطاء شويدې او د (فأقبل بهما و أدبر) نه ئې دا فهم کړيده چه ګنې دا مسحتين شو، او اصل کښې دا يوه مسح ده، کما مر. او امام شعراني دا تاويل د بعض السلف نه په تثليث المسح کښې هم ذکر کړيدې کذا في عون المعبود (١/٤٩). بعضو دا جواب کړيدې چه دا کار نبي کريم ﷺ بيانا للجواز کړيدې. ظاهر داده چه دوه ځله مستقله مسحه هم جواز لري، لان الرواة ثقات فاحتمال الخطأ بعيد.

۵- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضی اللہ عنہ قَالَ : تَوَضَّأَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَرَّةً مَرَّةً لَمْ يَزِدْ عَلٰى هٰذَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه : جناب عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائي : رسول الله يو يو ځل اودس اوکړو، (يعنې د اوداسه اندامونه ئې صرف يو يو ځل اووينځل)، په دې باندې ئې زيادت اونه کړو - (بخاري)-

تشريح : لَمْ يَزِدْ عَلٰى هٰذَا : مطلب دا نه دې چه رسول الله ﷺ درې درې ځله اندامونه نه دي وينځلي، او صرف دوه دوه ځل ئې وينځلي، بلکه : ۱ - مطلب دادې چه صرف په دې موقعه او په دې وخت کښې ئې دوه دوه ځله اندامونه اووينځل . ۲ - يا په دې اوداسه کښې ئې دوه دوه ځله اووينځل- که دا مطلب وانه خلو نو بيا نور ډير روايات ضائع کيږي چه په هغې کښې درې درې ځله اندامونه وينځل راغلي دي-

۳ - يا دا نفي عبد الله بن عباسؓ د خپل علم مطابق کوي، هغه ته به نور حديثونه د درې ځله وينځلو نه وي رسيدلي- اوله توجيه زياته مناسب ده-

٦ - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ رضی اللہ عنہ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .

ترجمه : جناب عبد الله بن زيد رضی الله عنه فرمائي : نبي کريم ﷺ دوه دوه ځله اودس اوکړو (د اوداسه اندامونه ئې دوه دوه ځله اووينځل) - بخاري-

تشريح : مخکښې تير شو چه درې درې ځل اندامونه وينځل اعلىٰ درجه مستحب دي، نو نبي ﷺ دلته ولې دوه دوه ځله اووينځل ؟ نو وجه داده چه دا د بيان د جواز دپاره، چه دا طريقه هم جائز ده . ۲ - يا د جلتئ موقع وه . ۳ - يا اوبه کمې وې- نوکه داسې موقع راپيښه شي نو انسان په کښې په دې رخصت باندې هم عمل کولې شي، چه يو کرت يا دوه کرته اندامونه اووينځي- د شريعت هر حکم د حکمت نه خالي نه وي چه په هغې باندې الله تعالىٰ ښه پوهيږي- بيا دا حديث دليل دې چه يو يو ځل اندامونه وينځل فرض او

ددیے نه زیات وینځل مستحب او بهتر دی۔

---

۷ – وَعَنْ عُثْمَانَ رضي الله عنه أَنَّهُ تَوَضَّأَ بِالْمَقَاعِدِ فَقَالَ : أَلَا أُرِيكُمْ وُضُوءَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ ؟ فَتَوَضَّأَ ثَلٰثاً ثَلٰثاً . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .

ترجمه : جناب عثمان رضی الله عنه نه روایت دیے چه دویٔ په مقاعد مقام کښے اودس اوکړو، وہے فرمائیل : آیا تاسو ته زه د رسول الله ﷺ اودس در اونه ښایم ؟ نو دریے دریے ځل ئے اودس اوکړو ـ (یعنی د اوداسه اندامونه ئے دریے دریے ځل اووینځل) ـ مسلم۔

تشریح : بِالْمَقَاعِدِ : جمع د مقعد ده ځائے د ناستے ته وائی، دلته مراد دکانونه دی د عثمانؓ د کور په خوا کښے، یا پوړئ دی۔ بعضے وائی : دا یو ځائے وو د مسجد په خوا کښے چه خلق به په کښے کیناستل د اوداسه او نورو حاجتونو دپاره۔

فَتَوَضَّأَ ثَلٰثاً ثَلٰثاً : داحدیث د امام شافعیؒ دلیل دیے چه دریے ځل مسح سنت ده، لیکن مخکښے د جمهورو د طرفنه جواب تیر شو چه داحدیث مجمل دیے او نور صحیح روایتونو نه ثابت ده چه مسح یو ځل شویده، نو دا به محمول وی په بعضے اوقاتو، یا به دا دریے والے مختص وی د هغه اندامونو پورے چه وینځلے شی، او مطلب دا شی چه د وینځلو اندامونه ئے دریے ځله اووینځل، اود مسح ذکر په کښے نشته۔

---

۸ – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنه قَالَ : رَجَعْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِيْنَةِ حَتّٰى إِذَا كُنَّا بِمَاءٍ بِالطَّرِيقِ تَعَجَّلَ قَوْمٌ عِنْدَ الْعَصْرِ فَتَوَضَّؤُوا وَهُمْ عُجَّالٌ فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ وَأَعْقَابُهُمْ تَلُوحُ لَمْ يَمَسَّهَا الْمَاءُ، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : (وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ، أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : جناب عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ سره موږ د مکے نه مدینے ته واپس شو تردیے چه کله موږ اوبو ته اورسیدو چه په لار کښے وے، نو ځنے خلقو مازیگر مونځ دپاره اودس کولو کښے تادی اوکړه او هغه خلق ډیر تادی

کوونکی وو، څه وخت چه مونږ هغې خلقو ته اورسیدو نو مونږ اولیدل چه د هغوئ پوندو چمك کولو (یعنی اوچې پاتې شوې وې)، اوبه ورته نه وې رسیدلې (د هغوئ دې اوچو پوندو لیدو سره) رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ویل الخ یعنی هلاکت او عذاب دې پوندو دپاره د اور نه، اودس پوره کوئ (مسلم).

تشریح : عُجَّالٌ : جمع د عاجل ده، لکه جهال جمع د جاهل ده.

تَلُوحُ : معنی ځلیدلې . لم یمسها الماء : جمله حالیه تفسیر او بیان دې د تلوح، یعنی اوبه ورته نه وې رسیدلې ځکه کوم ځائې چه اوچ وی هغه سپین ښکاری.

فوائد الحدیث : ۱- بعض خلق لکه هلکان د قوم د مشرانو نه مخکښې تللې شی، دې دپاره چه مشرانو ته لارخالی شی اودا بې أدبی نه ده، لکه دلته چینې ته بعضې خلق مخکښې راغلی دی د نبی کریم ﷺ او مشرانو صحابوؓ نه.

۲ - چینه د ټولو انسانانو ترمینځه مشترکه ده (الا ما خص لقوم) او تشریح به ئې په خپل مقام کښې راشی.

۳ - وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ نه معلومیږی چه که په اوداسه کښې په یو اندام کښې لګ شان اوچ ځائې پاتې شی نو اودس نه صحیح کیږی، بلکه دغه شخص قابل د (ویل) دې. ٤ - د نبی کریم ﷺ دعوت کله د دهمکئ په الفاظو سره هم وو، لکه دلته ئې دهمکی ورکړیده.

۵ - وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ : (هلاکت دې وی پوندو دپاره د اور نه) یا د اهل الأعقاب دپاره هلاکت یا د دوزخ کنده ده، اعقاب مستحق د عقاب دی کله چه اوچې پاتې شی. په الأعقاب کښې الف لام عهدی دی یعنې دغه پوندې چه اوبه ورته نه دی رسیدلی.

٦ - دا حدیث رد دې په شیعه ګانو باندې چه هغوئ په رجلین (خپو) باندې مسح کوی، او خپې په اوداسه کښې نه وینځی، او مسلمانان غسل الرجلین کوی، کله چه خفین (موزې) نه وی، اومسح کوی کله چه موزې په خپو وی.

او په دې حدیث کښې دلیل دې چه غسل الرجلین واجب دې په اوداسه کښې او دا د ټولو مسلمانانو محدثینو، مفسرینو او فقهاؤ اتفاقی مذهب دې، په خلاف د شیعه ګانو

چه هغوئ مسح على الرجلين كوى او موزو باندے مسح كول نه منى۔ زمونږ د اهل السنت دليل دادے چه د نبى كريم ﷺ نه په تواتر سره دا نقل دى چه هغه په اوداسه كښے خپے وينځلى دى كما ذكره الحافظ (فتح البارى : ۳۲۰/۱، علامه مباركفورى په تحفة الأحوذي : ۱۵۹/۱، ابن خزيمة : ۱۲۹/۱، رقم : ۲٦۰)۔

او عمل د نبى كريم ﷺ بيان دے دپاره د قرآن۔ لكه په حديث د عمرو بن عبسةؓ كښے كوم چه ابن خزيمه نقل كړيدے دا فرمائيلى دى : (ثم يغسل قدميه كما أمره الله) نو غسل الرجلين بعينه عمل دے په قرآن كريم باندے۔ او نبى ﷺ د خپو په مسح كونكو باندے سخت رد كړيدے، او د (ويل) كلمه ئے ورله استعمال كړيده۔ د ابن عمر په حديث كښے دى (تخلف رسول الله ﷺ فى سفر سافرناه فأدركنا وقد أرهقنا الصلاة صلاة العصر ونحن نتوضأ فجعلنا نمسح على أرجلنا فنادى بأعلىٰ صوته : ويل للأعقاب من النار، مرتين اوثلاثا). (بخارى : ۲۳/۱، رقم : ٦۰، مسلم : ۱٤۸/۱)۔

(يعنے رسول الله ﷺ سره مونږ شريك په سفر كښے اوتى وو، رسول الله ﷺ رانه روستو پاتے شو، بيا ئے مونږ په داسے وخت كښے را لاندے كړو چه د مازيگر د مانځه وخت وو، مونږ اودس كولو نو مونږ شروع شو چه په خپو باندے مو مسح كوله، رسول الله ﷺ په خپل اوچت آواز سره دوه يا درے ځله اوفرمائيل : پوندو دپاره دے د اور د وجے نه هلاكت وى)۔

شيعه استدلال كوى په آيت ﴿وامسحوا برؤسكم وأرجلكم﴾ باندے طريقه د استدلال داده چه الله تعالىٰ رجل عطف كړيدے په رأس باندے او په رأس باندے خو مسح ده نو په خپو به هم مسح وى، ځكه د معطوف او معطوف عليه حكم يو وى۔

ليكن ددے نه څو **جوابونه** دى : اول خو شيعه گانو سره خبرے نه دى پكار ځكه د دوئ تول دين زمونږ د دين مخالف دے مگر دخپل دين د حفاظت دپاره دا جوابونه كيږى :

۱ - اول جواب : دادے چه ﴿وأرجلكم﴾ په آيت كښے لكه څنگه چه بالكسر راغلے دے نو دغه شان په نصب سره هم راغلے دے چه دا نصب قرأت د نافع، ابن عامر، حفص، كسائى او يعقوب دے، كما ذكرها محمود الآلوسى فى تفسيره روح المعانى : ۷۳/٦.

او احادیث صحیحه متواتره مؤید د قرأت النصب دی، نو خامخا به مونږ په قرائت دجر کښې تاویل کوو، د وچې ددې احادیثو نه ۔ نو چا یو تاویل دا کړیدے چه ﴿ وأرجلكم ﴾ کښې دا جر للجوار دے، او دا په کلام عربئ کښې په فصیح کلام کښې راځي لکه همدغه قرآن کښې ﴿ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴾ ﴿ عَذَابَ يَوْمٍ مُحِيطٍ ﴾ کښې أَلِيمٍ او مُحِيطٍ مجرور دی او جر په کښې للجوار دے، ورنه دا په حقیقت کښې صفت دعذاب دے او هغه مرفوع دے۔

۲ - **جواب** دادے چه که ﴿أرجلكم ﴾ کښې مسح مراد واخلے نو بیا ﴿ الى الكعبين ﴾ ذکر کول دپاره د تحدید صحیح نه دی، معلومیږی چه دا تحدید دغسل دپاره دے لکه په ﴿ الى المرافق ﴾ کښې چه د غسل دپاره دے، او په ﴿ برؤسكم ﴾ کښې ورسره تحدید نشته نو هلته مسح مراد ده۔

۳ - اوکه اومنو چه د رجلین وظیفه مسح ده نو دا په وخت د تخفف (موزو اچولو) کښې ده نو قرائت النصب کثیر دے نو دا په عام حالاتو باندې محمول دے او قرائت الجر په حالت التخفف باندې حمل دے۔

پوره تفصیل ددې مسئلے په تفسیر روح المعانی او مرعات : ۱۰۱/۲، وغیره کښې کتل پکار دی ۔

۷ - **فائده** : په دې حدیث کښې مسئله د موالات فی الوضوء هم ده، یعنې په اوداسه کښې پرله پسے اندامونه وینځل په داسے طریقه چه د اودس ختمولو پورے اندامونه اوچ نشي واجب دی که نه ؟ او چه هواء هم معتدل وی ولے کله د هواء د سختوالی په وجه د اودس کونکی اندامونه زر اوچیږی نو په دې باره کښې اختلاف دے :

۱ - د امام مالك، احمد بن حنبل، اوزاعی، قتادة، او شافعی یو قول دادے چه موالات واجب دے او بغیر ددې نه اودس نه کیږی ۔ (کذا قاله العظیم آبادی فی العون : ۲۰۵/۱)۔

۲- د امام ابو حنیفة، نخعی او سفیان الثوری قول دادے چه موالات واجب نه دے۔

د دوئ (۱) **دلیل** دادے چه په آیت کښې مامور به صرف د اندامونو وینځل دی ۔ نو په هره طریقه ئے چه ووینځی نو مامور به اداء کیږی۔

٢ - دويم دليل : قياس دے په غسل باندے چه په هغے کښے موالات واجب نه دے، سره ددے نه چه هغه طهارت کبرئ دے نو په طهارتِ صغرئ کښے به هم موالات واجب نه وی۔

دلائل الجمهور : **١ - اول دليل** : حديث د مسلم (١/١٢٥) اوابوداود (١/٣٥) باب تفريق الوضوء : عن أنس بن مالك رضی اللہ عنہ أن رجلا جاء الى النبى ﷺ وقد توضأ وترك على قدميه مثل موضع الظفر، فقال له رسول الله ﷺ : ارجع فأحسن وضوئك.

انس بن مالك رضی اللہ عنہ فرمائی : يو سړے نبی کريم ﷺ ته راغلو چه اودس ئے کړے وو او په قدمونو کښے ئے د نوك هومره ځائے اوچ پريښے وو، نو نبی کريم ﷺ ورته اوفرمائيل : لاړ شه ښه اودس اوکړه۔ نو په بل روايت کښے دی چه هغه لاړ او اودس ئے اوکړو او بيا ئے مونځ اوکړو۔

وعن عمر عن النبى ﷺ نحوه، قال : ارجع فأحسن وضوئك.

وفى رواية احمد : فرجع فتوضأ ثم صلى. (١/٢١، ٢٣، ٣/١٤٦، وكذلك فى المغنى ١/١٥٨)۔

امام نووی رحمہ اللہ په شرح د مسلم (١/٢٤٣) كتاب الطهارة باب وجوب استيعاب جميع اعضاء محل الطهارة، کښے فرمائی : قاضی عياض په دے حديث باندے د وجوب الموالات استدلال کړيدے ځکه چه (أحسن وضوئك) لفظ ئے وئيلے دے او (اغسل الموضع الذى تركته) ئے نه دے وئيلے يعنے دا ئے ورته اونه فرمائيل : چه کوم ځائے درنه اوچ پاتے شويدے صرف هغه اووينځه بلکه ټول اودس ئے پرے دوباره اوکړو، نو دا دليل دے ددے خبرے چه موالات واجب دے۔

ليکن امام نووی رحمہ اللہ وائی چه دا استدلال ضعيف يا باطل دے، ځکه چه (أحسن وضوئك) احتمال د تتميم او استيناف دواړو لری، چه دغه اودس ئے پرے د دغه ځائے نه پوره کړے وی، يائے پرے د سر نه بيرته دوباره کړے وی، او ترجيح د يو په بل باندے نشته۔

ليکن مونږ وايو چه د امام نووی رحمہ اللہ خبره باطله ده، ځکه چه حمل په استيناف باندے واجب دے وجه داده چه بل حديث ددے دليل دے هغه ابوداود (١/٣٦، رقم : ١٧٥) د بعضو

صحابيٌّ نه نقل كړيدي : (ان النبي ﷺ رأى رجلا يصلي وفي ظهر قدمه لمعة قدر الدرهم لم يصبها الماء فأمره النبي ﷺ أن يعيد الوضوء والصلاة)، وسنده حسن كما قال ابن القيم في تهذيب السنن (١/٢٠٤) قال الأثرم : قلت لأحمد بن حنبل : هذا اسناد جيد، قال : جيد. وصححه صاحب عون المعبود۔

نبي كريم ﷺ يو سړے اوليدو چه په داسے حال كښې ئې مونځ كولو چه د خپې پاسنى طرف كښې د روپۍ په اندازه لږ شان اوچ ځائے پاتے وو چه اوبه ورته نه وے رسيدلے، نبي كريم ﷺ هغه ته د اودس او مونځ دواړو دوباره كولو حكم اوفرمائيلو۔

نو دا حديث صريح دليل دے په وجوب الموالات باندے ځكه چه نبي كريم ﷺ أمر كړيدے په اعاده د اوداسه باندے كله چه څه ځائے اوچ پاتے شي، نو دا أمر دليل دے په لزوم د موالات باندے، كما قال في عون المعبود : ١/٦٨.

اودا حديثونه ئې صحيح ګرځولي دي، او په دے كښې رد دے په قول د امام نوويؒ باندے۔

٢- دويم دليل : وعن عمر رضي الله عنه قال رأى رسول الله ﷺ رجلا توضأ فترك موضع الظفر على قدمه فامره ان يعيد الوضوء والصلاة قال فرجع (سنده صحيح) صحيح ابي داود (١٦٥) وابن ماجه رقم (٦٦٦)۔ الارواء (١/١٢٧)۔

دا حديث هم صريح رد دے په قول د امام نووي باندے ځكه دے سړي په قدم كښې په اندازه د نوك باندے اوچ ځائے پريخے دے او نبي عليه السلام ورته د مانځه او اوداسه دواړو راګرځولو حكم فرمائيلے دے۔ نو دا دليل شو چه موالات فرض دے۔

٢ - دويم دليل : ابن أبي شيبه : ١/٤١، كښې دي :

عن أبي قلابة أن عمر رأى رجلا يصلي وقد ترك على ظهر قدمه مثل الظفر فأمره أن يعيد الوضوء وصلاته) انظر الارواء لتحقيق هذه الأحاديث : ١/١٢٦، رقم : ٨٦، والنيل : ١/٢٢٧۔

يعنے : عمر فاروقؓ يو سړے اوليدلو چه په داسے حالت كښې ئې مونځ كولو چه د هغه د خپې پاسني طرفته د نوك هومره ځائے ته اوبه نه وے رسيدلے، عمر فاروقؓ ورته د اودس او مونځ دواړو راګرځولو حكم اوكړو۔

۳ - **دریم دلیل** : آیت کښې دلیل دے په وجوب دغسل الأعضاء باندے، اونبی کریم ﷺ دهغے کیفیت بیان کړیدے او ددغه مجمل بیان ئے په خپل فعل او عمل سره کړیدے چه نبی کریم ﷺ بغیر دموالات نه اودس نه دے کړے، اوچا چه موالات پریښے دے هغه ته ئے د مانځه او اودس دوارو راګرځولو حکم کړیدے، مجمل باندے تر هغه وخته پورے عمل نه کیږی ترڅو پورے چه ددے بیان نه وی شوے، لهذا په آیت باندے د عدم وجوب الموالات دپاره استدلال کول صحیح نه دی۔

او هرچه قیاس دے په غسل باندے نو دا قیاس صحیح نه دے، وجه داده چه غسل په منزلـه د یو اندام دے، نو موالات په کښې ضروری نه دے، په خلاف داوداسه نه چه په دے کښې متعدد اندامونه دی، موالات په کښې ضروری دے۔ نو دا قیاس مع الفارق دے اودا باطل وی۔

بله وجه داده چه نبی کریم ﷺ موالات سره اودس کړیدے او په غسل کښې ئے موالات پریښے دے ۔ لکه په حدیث دابن عباس‌ؓ کښې دی چه نبی کریم ﷺ غسل اوکړو او اوګه باندے ئے څه اوچ ځائے پاتے وو هغه ئے د سر په ویښتو لوند کړو۔

(أخرجه ابن أبی شیبة : ١/٤١، کذا فی الدین الخالص : ١/٤٠٥، وسنده ضعیف، فیه ابو علی الرحبی وهو مجهول).

اودا احادیث دابن عمرؓ د حدیث سره متعارض نه دی چه ابن عمرؓ حدیث بخاری ذکر کړیدے کذا فی فتح الباری (١/٢٩٨) چه ابن عمرؓ بازار کښې اودس اوکړو بیا مسجد کښې ئے مسح اوکړه په موزو باندے او بیائے مونځ اوکړو، نو موالات ئے اونه کړو۔

وجه د عدم تعارض داده چه دابن عمرؓ په فعل کښې دلیل نشته چه ده ګنې موالات نه دے کړے، نو دا دے ضروری هم نه وی، ځکه مرفوع حدیث مخکښې تیر شو چه نبی کریم ﷺ خپله په موالات باندے مواظبت فرمائیلے دے او چانه چه پاتے شویدے هغه ته ئے د اعادے حکم فرمائیلے دے، لهذا ددے مرفوع حدیث په مقابله کښې به د ابن عمرؓ فعل نشی پیش کولے ۔او مخکښې د ابن عمرؓ د والد صاحب عمر فاروق‌ؓ اثر ذکر شو چه دوئ هم یو شخص ته د موالات په پریخودلو سره د اعادے حکم اوکړو۔

ددے مسئلے د تفصیل دپاره دا کتابونه اوګورئ: (المجموع شرح المهذب : ١/ ٥١٤، عون المعبود : ١/ ٢٠٥، نیل الأوطار : ١/ ١٩١، السیل الجرار : ١/ ٢٤٥، بلوغ الأمانی : ٢/ ٣٧، بدایة المجتهد : ١/ ٤٧، اعلام الموقعین : ٢/ ٢٦٥، مجموعة الفتاوی : ٢١/ ١٣٥).

او دے تولو علماؤ موالات ته فرض وئیلی دی۔

مسئلة وجوب الترتیب فی أعضاء الوضوء

په ترتیب سره اودس کول په کومه درجه کښے دی آیا فرض دی او که سنت؟ نو په دے کښے اختلاف دے

١ – د امام احمدؒ، شافعیؒ، ابو ثورؒ، ابو عبیدةؒ او اسحق بن راهویهؒ مذهب دادے چه په اوداسه کښے ترتیب واجب دے، لکه څنګه چه الله تعالیٰ ذکر کړے دے۔

او **دلیل** د وجوب د ادے چه نبی ﷺ په ترتیب سره اودس اوکړو او آخر کښے ئے دا اوفرمائیل :

(هذا وضوء لا یقبل اللّٰه الصلاة الا به) ۔ لیکن شوکانیؒ وئیلی دی چه دے حدیث کښے مقال دے غیر صالح للاحتجاج۔ نیل الاوطار (١/ ١٧٥-٢١٨)

٢ – بله **دلیل** دادے چه په حدیث د جابرؓ کښے بیان د طریقے د حج د نبی ﷺ دے، او په هغے کښے نبی ﷺ دا فرمائیلی دی (اِبْدَؤُا بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ بِهِ– اخرجه النسائی (٢/ ٣٣٠) رقم (٢٩٦٢) بسند صحیح) نو أمر ئے کړے دے چه کوم شے الله تعالی په قرآن کریم کښے مخکښے ذکر کړے وی نو تاسو هم هغه مخکښے کوئ او ترتیب مه خرابوئ، نو دا حدیث صالح دے د احتجاج دپاره په وجوب د ترتیب په اوداسه کښے هم، ځکه چه دا عام دے او مختص نه دے په سبب پورے، نو آیت د اوداسه ددے عموم لاندے مندرج دے. لان العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص السبب۔

٣ – دریم دلیل دادے چه نبی ﷺ نه بے ترتیبه اودس نه دے ثابت۔ نو دا تول عمری مواظبت خامخا دلیل د وجوب دے .

٢ – **قول ثانی** : د امام، مالکؒ، سفیان ثوریؒ حسن بصریؒ، ابن المسیبؒ، ابو حنیفةؒ دے، هغه دا چه ترتیب نه دے واجب، دلیل دادے چه الله تعالی أمر کړے دے په غسل

الأعضاء سره، او بعضے اندامونه ئے په بعضو باندے عطف کړی دی په واؤ سره، او واؤ د ترتیب تقاضا نه کوی، هر څنګه چه اووینځلے شی نو په آیت به عمل راشی۔

اول قول والا ددے جواب دا ورکوی چه دلته په آیت کښے د ترتیب دپارهٔ قرینه موجوده ده، او هغه دا چه الله تعالیٰ ممسوح (سر) په مغسولینو (اَیۡدِیۡ او رِجۡلَیۡن) کښے داخل کړے دے، او نظیر ئے د بل نظیر نه قطع کړے دے په ﴿ وأرجلکم ﴾ سره، او عرب دا کار د یوے فائدے دپاره کوی چه هغه ترتیب دے۔

سوال : دا فائده دے دپاره د استحباب الترتیب شی نه د وجوب الترتیب دپاره ؟۔

جواب : آیت چلول شوے دے دپاره د بیانولو د واجب۔ دا وجه ده چه سنن ئے په کښے نه دی ذکر کړی۔

۲ - **دلیل** دادے چه علی رضی الله عنه نه نقل دی چه (ما أبالی اذا أتممت وضوئی بأی أعضائی بدأت) دغه شان د ابن مسعودؓ نه هم نقل دی۔

جواب : د علی رضی الله عنه نه ددے خلاف هم نقل دی، کما فی مسند احمد اود ابن مسعودؓ قول دپاره هیڅ اصل نشته، کما فی المغنی (۱/۱۴۹) مع الشرح الکبیر۔

: بله وجه داده چه ترتیب څکه واجب دے چه د نبی ﷺ نه چه څومره صحابوؓ اودس نقل کړے دے نو هغه ئے په ترتیب سره نقل کړے دے، اودا تفسیر د آیت دے، که دا واجب نه وے نو پکار وه چه نبی ﷺ یو کرت دوه کرتے د بیان الجواز دپاره ترک کړے وے۔ لیکن هرکله چه ئے هیڅ کله ترک نه کړو نو دا دلیل دے په دے چه ترتیب په اودسه کښے ضروری دے۔

۳ - **دریم دلیل** : استدلال کوی په حدیث د مقدام بن معدیکرب رضی الله عنه

رواه احمد وابوداود : اتی رسول الله ﷺ بوضوء فتوضأ فغسل کفیه ثلاثا ثم غسل وجهه ثلاثا ثم غسل ذراعیه ثم مضمض واستنشق ثلاثا ومسح برأسه واذنیه ظاهرهما وباطنهما وغسل رجلیه ثلاثا۔ قال الشوکانی واسناده صالح وحسن اسناده النووی والحافظ ابن الحجر انظر الموسوعة الفقهیة (۱/۱۴۷) لحسین بن عودة وتمام المنة (۸۸).

نو پدے روایت کښے نبی علیه السلام د څنګلو وینځلو نه پس مضمضه او استنشاق

کړيدی نو دا دليل دے چه بے ترتيبی اودس نه فاسدوی كما قال به الالبانی وتلميذه حسين بن عودة ۔ او د حافظ ابن القيم په نيز باندے دا روايت شاذ دے۔ زاد المعاد (۱/۱۸۷) کښې وائی : انه ﷺ رتب الوضوء لم يخل به مرة واحدة البتة ۔ يعنی يو کرت هم نبی عليه السلام بے ترتيبه اودس ندے کړے۔

او دا جواب هم کيدے شی چه په دے حديث کښې صرف د مضمضه او استنشاق بے ترتيبی راغلے ده او مقصود د شوافعو دا دے چه په فرضی څلورو اندامونو کښې ترتيب ضروری دے۔

---

۹ – وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رضي الله عنه قَالَ : إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ تَوَضَّأَ فَمَسَحَ بِنَاصِيَتِهِ وَعَلَى الْعِمَامَةِ وَعَلَى الْخُفَّيْنِ). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : اوجناب مغيره بن شعبه رضی الله عنه فرمائی : نبی کريم ﷺ اودس او کړو، نو په خپل تندی او پګړئ او دوارو موزو باندے ئے مسح اوکړه ۔ (مسلم)۔

تشريح : إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ تَوَضَّأَ فَمَسَحَ بِنَاصِيَتِهِ وَعَلَى الْعِمَامَةِ وَعَلَى الْخُفَّيْنِ :

دا هغه حديث دے چه علمائے احنافو ددے نه استدلال کوی چه د سر څلورمه حصه مسح کول فرض دی، ځکه دلته (مسح بناصيته) لفظ راغلے دے۔

ليکن مخکښې په قول د ابن الهمام کښې تير شو چه دا استدلال صحيح نه دے، ځکه چه حديث کښې (ناصيه) ذکر ده، او ناصيه د سر مخکنئ حصے ته وائی، او احناف مطلق ربع الرأس ته فرض وائی. برابره خبره ده که ناصيه وی او که د سر مؤخره حصه وی او که يمينا وی او که شمالا وی خو چه څلورمه وی نو فرض ده، نو په دے حديث کښې تعيين د ناصيه دے او احناف قول بالتعيين نه کوی، لهذا دے حديث نه د احنافو استدلال درست نه دے۔

۲ – دويم دا چه په دے حديث کښې د (ناصيه) سره دا هم ذکر دی چه (وعلى العمامة) يعنے په پټکی باندے ئے هم مسح اوکړه، او احناف د پټکی مسح نه منی، نو که دا حديث د قرآن کريم بيان جوړيږی، نو که دا اولنئ نيمائی حصه ئے بيان جوړيږی نو دا روستنئ

نيمائی حصه به ئے هم بيان جوړيږی۔ ﴿ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ﴾۔
نه، بلکه قرآن کريم حکم اوکړو ﴿ وَامْسَحُوا بِرُؤُسِكُمْ ﴾ او رسول الله ﷺ ئے په درے طريقو سره بيان اوکړو (۱) يا مسح دټول سر (۲) يا نيم په سر او نيم په پټکی باندے لکه په دے حديث کښے دا طريقه ذکره (۳) يا صرف عمامه باندے مسح ـ لهذا دحديث الباب نه داحنافو استدلال په فرضيت دربع الرأس باندے باطل دے۔

احناف وغيره ددے قسم احاديثو نه شپاړس **جوابونه** کوی، چه ټول دحديث ورانول دی، بعضے جوابونه دادی ـ

۱ – وائی نبی کريم ﷺ په سر مسح کوله نو پټکے ئے وران شو نو هغه ئے برابرولو، دے کښے صحابی اوليدلو نو دا گمان ئے اوکړو چه داگنے نبی ﷺ په پټکی باندے مسح اوکړله۔ لکه مرقات کښے ليکلی دی (۱٦/۲)۔

جواب : دا بيهوده خبره ده، وجه داده چه په دے کښے تخطئة الثقات دے ، دصحابه کرامو ؓ پشان معتمد خلق د خپل مذهب دپاره خطاء کول دی، او هغوئ ته د بے احتياطئ نسبت کول د چا کار دے ؟۔ ددے فائده شيعه گانو، پرويزيانو ته لاړه چه منکرين حديث شو۔ اودا کار مقلدين أکثر کوی، لکه تاسو ته به په دے کتاب کښے بار بار راشی ان شاء الله، د مقلدينو په دے کار کښے د صحابه کرامو ؓ بے أدبی ده ـ

۲ – امام محمد وائی : احاديث د مسح العمامه منسوخ شويدی۔

جواب : نسخ ناسخ غواړی، تاريخ معلومول غواړی، تعارض غواړی۔ اودلته نه ناسخ شته، نه د تاريخ معلوم دے چه کوم مخکښے دے اوکم روسته، او تعارض هم نشته د مسح الرأس سره، بلکه ټولو طريقو سره مسح جائز ده کما تقدم. صرف دامام محمد په قول سره خو نسخ نه ثابتيږی، او هغه د نسخ دليل هم نه دے پيش کړے، بلکه صرف دائے وئيلی دی چه (بلغنا أن المسح على العمامة كان فترك – الموطأ)۔

۳ – بعضے جواب کوی چه : دا خبر واحد دے او قرآن کښے الله تعالیٰ په سر باندے مسح وئيلے ده، نو نص د کتاب الله څنګه په خبر واحد باندے پريخودلے شی ؟ څکه الله تعالیٰ أمر کوی چه په سر مسح اوکړئ او حديث کښے پټکے ذکر دے ؟ نو خبر واحد سره

زیادت په کتاب الله صحیح نه دے !۔

جواب : قرآن کریم کښے سر ذکر دے اورسول الله ﷺ د سر تشریح کړیده په خپل عمل سره نو نه زیادت شته په کتاب الله باندے اونه د کتاب الله خلاف شته، بلکه پټکے چه کله د سرنه اوتړلے شي نو ددے حکم د سر وی، او نبی کریم ﷺ ورله حکم د سر ورکړیدے په صحیح حدیث کښے، ځکه چه قرآن کریم کښے خو د ویښتو تخصیص نشته، اوددے خبرے مثال هم شته لکه موزه چه په خپه کښے واچولے شی نو ددے حکم دخپے وی، نو په موزه لاس راخکل داسے دی لکه په خپه باندے لاس راخکل۔ فتدبر !۔

٤ - **جواب** : د مسح العمامه په احادیثو کښے اضطراب دے، او په سند کښے ئے مجاهیل دی۔

جواب : هیڅ اضطراب نشته، بعضے حدیثونه ضعیف دی مگر أکثر احادیث صحیح مستقیم السند دی، لکه حافظ په تلخیص الحبیر او علامه زیلعی په نصب الرایه کښے ذکر کړیدی ۔

٥ - **جواب** : په دے حدیث کښے په ناصیه باندے مسح شویده، او په دے سره فرض اداء شو چه ربع الرأس ده، او په پټکی سره اتمام د مسح راغلے دے، نو دا په فرض کښے داخل نه ده۔

جواب : د پټکی په مسح کښے خو ځانله دا یو حدیث نه دے بلکه مختلف واقعات او احادیث دی چه په بعضو کښے صرف په پټکی باندے مسح شویده او په بعضو کښے په سر او په پټکی دواړو باندے شویده۔ (کما مر هذه الأحادیث)، او پاتے شوه دا خبره چه پټکی باندے مسح داتمام دمسح الرأس دپاره ده نو دا هسے دعوئ ده بے دلیله، هیڅ قرینه په حدیث کښے په دے باندے نشته چه دا د اتمام دپاره شویده، اونه نبی کریم ﷺ دیته اشاره کړیده، اونه چرته په بل یو روایت کښے راغلے ده، بلکه دا هسے حدیث ورانول دی۔

٦ - بعضے وائی : دا پټکے داسے وړوکے او نرے وو چه لوندوالے ددے نه سرته رسیدو !۔

جواب : اول خو په دے باندے دلیل نشته چه دا وړوکے او نرے وو، بلکه بعض مقلدین خو لا دا وائی چه نبی کریم ﷺ به دولس گزه پټکے وهلو، لکه د قندهاریانو نه تپوس

اوکړه، نو دلته ئې د مذهب دپاره څنګه د نبی ﷺ پټکے وړوکے او نرے کړو؟۔

۲ – دويم دا چه مونږ دا نه منو چه د پټکی نه لوندوالے دِے سر ته اورسی اګرکه وړوکے هم وی، څکه چه پټکی کښے خو وَلونه وی، هر څومره چه نرے وی خو لوندوالے سر ته نه کوزيږی، لکه هر سړے دِے په دے تجربه اوکړی، داخو څه رومال نه وو چه هسے په سرئے اچولے وو، بلکه هر څنګه چه وی نو زمونږ دپاره حجت دے۔

۷ – بعضے وائی : دلته مجاز دے مَسَحَ عَلَى الْعِمَامَةِ معنىٰ ده مَسَحَ مَا تَحْتَهَا، ذکر دحال او مراد ترينه محل دے۔

جواب : مجاز خلاف الأصل دے، دے ته ضرورت کول سره د وجود د حقيقت نه باطل دی، فتدبر ! ---- دغه شان نور جوابونه هم شته چه ټول باطل اوبے ځايه دی، اود يو بل معارض هم دی۔ انظر المرعاة (۲/۱۰۳)۔

نو ثابته شوه چه صحيح قول دامام احمدؒ وغيره دے چه په مسح الرأس کښے دا ټولے طريقے جائز ګڼړی، کما مرّ۔

---

۱۰ – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِيْ شَأْنِهِ كُلِّهِ، فِيْ طُهُوْرِهِ وَتَرَجُّلِهِ وَتَنَعُّلِهِ . متفق عليه .

ترجمه : اوبى بى عائشه رضى الله عنها فرمائى : نبى كريم ﷺ به د خپل وس مطابق په خپلو ټولو کارونو کښے ښی لاس سره شروع کول خوښول (مثلا) خپل طهارت کښے، خپل ګومنز کولو کښے، خپل پيزار اچولو کښے ۔ (بخاری، مسلم)۔

تشريح : يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ : ددے حديث نه معلوميږی چه نبی کريم ﷺ به دا خوښوله چه په هر کار کښے په ښی طرف باندے اوښی لاس باندے شروع اوکړی، څو پورے چه به ممکن وه، چه په ښی لاس کيدے شی۔ اوکه په يوائے په ښی لاس سره به نشو کيدلے، بيا به ئے ورسره ګس لاس هم ملګرے کولو، لکه دمخ وينځل، د سر مسح، غوږونه مسح کول، څکه دلته دانسان وسع نشته چه په يو لاس سره دا کار اوکړی ۔

اود : مَا اسْتَطَاعَ : نه مراد ددے اهميت معلوميږی چه نبی کريم ﷺ به ښی لاس سره

کارونه ډیر په تاکید سره کول، اوددے اهتمام به ئے ساتلو۔

بیا (شَأْنِهِ كُلِّهِ) نه مراد هر هغه کارونه دی چه د بزرګئ اود شرافت سره تعلق لری، لکه اوداسه کښے شروع کول شو، چه اول به ئے ښے لاس بیا ګس لاس دارنګه اول خئ خپه بیا ګسه خپه وینځله، د سرګومنزول به ئے د ښی طرفنه شروع کول، چپل ځپلئ اچولو وخت کښے ئے خئ خپه مخکښے کوله، دا درے ځیزونه په دے حدیث کښے صرف بطور مثال ذکر دی، ورنه تخصیص په دے درے ؤ کښے نشته، ځکه (فی شانه کله) نه عموم معلومیږی۔ اوکوم کارونه به چه دګندګئ د صفایئ سره تعلق لرلو، یا به په کښے شرافت نه وو، نو هغه به ئے په ګس لاس او خپے سره کولو لکه ددے تشریح مخکښے تیره شویده۔

مَا اسْتَطَاعَ : د استطاعت نه مراد استطاعت شرعی دے، یعنے شریعت کښے به چه دهغه پدے وسع وه نو هغه به ئے په ښی طرف کول، اوکه شرعا به استطاعت نه وو لکه خروج عن المسجد ، بیت الخلاء ته داخلیدل، استنجاء کول وغیره، نو دابه ئے په ګس لاس خپے سره کول۔ ځکه شرعا دا کارونه په ښی طرف کول جائز نه دی۔

الفصل الثانی - دویم فصل

١١ - عَنْ أَبِی هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : (اِذَا لَبِسْتُمْ وَاِذَا تَوَضَّأْتُمْ فَابْدَؤُوْا بِاَيَامِنِكُمْ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : جناب أبو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : کله چه تاسو جامے اغوندئ اویا اودس کوئ نو خپل ښی طرفنه شروع کوئ۔ (احمد، ابوداود)۔

تشریح : فَابْدَؤُوْا بِاَيَامِنِكُمْ : أیامن جمع دأیمن ده، په معنیٰ د یمین سره ښی لاس ته وائی، په بل روایت کښے داسے دی : (فَابْدَؤُوْا بِمَيَامِنِكُمْ) میامن جمع دمیمنه ده، دا هم ښی لاس ته وائی۔ دواړه الفاظ په عربئ کښے استعمالیږی۔ په دے حدیث کښے أمر دے په ښی طرفنه شروع کولو باندے۔

اوس که څوك په ښی طرف اودس اونه کړی نو دده به څه حکم وی ؟۔

نو اصح خبره داده چه سنت ترې پاتې شو او اودس ئې باطل نه دې، دليل په دې باندې دادې چه دلته اقتران داودس راغلې دې دجامې سره نو که څوك په جامې اغوستلو كښې په كس طرف باندې شروع اوكړي نو صرف سنت ترې پاتې شو، نه واجب۔ نو دغه شان اودس هم دې۔ نو أمر په دواړو داستحباب او سنيت دپاره دې، او په دې باندې أمام نووی اجماع د اهل السنت نقل كړيده چه دا أمر د استحباب دې، نه د فرضيت۔ كه دا پاتې شي نو هم اودس صحيح دې، صرف فضيلت فوت شو۔ خلافا للشيعة، ولا اعتداد بهم. اګرچه اقتران قوي دليل نه دې هميشه دپاره، بلكه كيدې شي چه يو حديث كښې دوه حكمه وي يو دې فرض وي او بل دې مستحب وي، ليكن كله كله علامه اونبنه ګرځي د نورو دلائلو په وجه۔

۲ - **دويم دليل** : مخكښې حديث د عائشةؓ دې چه په هغې كښې داسې دي : كان النبي ﷺ يحب التيمن ما استطاع في شانه كله الخ۔ په دې حديث كښې (يحب التيمن) لفظ دليل دې په استحباب باندې۔ ليكن دومره واضح نه دې، فَاِنَّ الْوَاجِبَ ايضًا يُحِبُّهُ۔

---

۱۲ - وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ زَيْدٍ ﷛ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (لَا وُضُوْءَ لِمَنْ لَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

۱۳ - وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ .

۱٤ - وَالدَّارِمِيُّ عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ عَنْ أَبِيْهِ وَزَادَ فِيْ أَوَّلِهِ : (لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَا وُضُوْءَ لَهُ).

ترجمه : او سعيد بن زيد رضى الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائي : دهغه چا اودس اونه شو چه د اوداسه په شروع كښې ئې د الله نوم وانه خستلو (يعنې بسم الله ئې اونه وئيله)۔ (ترمذی، ابن ماجه)، او احمد او ابوداود دا حديث د ابو هريرهؓ نه او دارمی د ابو سعيد خدري نه او هغه د خپل پلار نه روايت كړې دې او دهغې په اول كښې ئې دا الفاظ زياتی كړي دي چه : دهغه چا مونځ نه كيږي د چا چه اودس نه وي۔

تعارف : د سعيد بن زيد رضي الله عنه :

سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل العدوي القرشي أبو الأعور، يو د عشره مبشره نه اود مهاجرينو اولينو نه دے، پخوانے مسلمان دے، ټولو غزواتو ته د نبي كريم ﷺ سره حاضر شويدے، سيوا د بدر نه ځكه چه دا دطلحه بن عبيد الله سره د قريشو د قافلے د طلب كولو دپاره تلے وو، او نبي كريم ﷺ ورله حصه هم مقرر كړے وه، دا د فاطمے بنت الخطاب خاوند وو، يعني د عمر فاروق اوخے وو، په شكل غنم رنګے ، او تك تور ډيرو ويښتو والا صحابي وو- په سنه (٥١) هـ يا (٥٠) هـ كښے څه دپاسه اويا كالو په عمر، په عقيق علاقه كښے وفات شو، بيا مدينے طيبے ته را نقل كړے شو او بقيع كښے دفن كړے شو - ټول (٣٨) احاديث ترے نقل دي - رضي الله تعالیٰ عنه۔

تشريح : لَا وُضُوءَ لِمَنْ لَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ :

دے حديث كښے دوه مسئلے دي : ★ - لا وضوء كښے كومه نفي ده ؟

★ - بسم الله عند الوضوء كښے اختلاف۔

١ - نو په دے كښے اختلاف دے چه دا نفي كومه ده ؟

١ - شوافع او احناف او مالكيه او يو قول دامام احمدؒ دادے چه دلته نفي دكمال ده، يعني كه چا بسم الله په ابتداء د اودس كښے اونه وئيله نو اودس ئے كيږي، خو صرف سنيت او استحباب او فضيلت ترے فوت شو- او فرض او واجب ترے ندی فوت شوی۔

اوس په دے **سوال** وارد شو چه تاسو دا كوم ځائے نه وائے، ځكه چه په نفي د كمال سره خو نفي د ذات د شئ نه راځي، كما أن نفي جزء الشئ لا ينفي الكل كقطع الورقة من الشجرة۔ نو هغوئ جواب كوي چه دا روسته حديث دابو هريرةؓ، ابن مسعودؓ او ابن عمرؓ نه معلوميږي (كما يأتي قبيل باب الغسل) چه بسم الله وئيل واجب نه دي، بلكه سنت دي، لكه حديث داسے دے (چه چا په اوداسه كښے بسم الله اووئيله نو په دے سره به ټول بدن دده پاك شي، اوكه چا بسم الله اونه وئيله نو صرف د اوداسه اندامونه به ئے پاك شي) ددے نه معلوميږي چه بسم الله وئيل واجب نه دي په اوداسه كښے، كه چرے دا واجب وے نو پكار ده چه د اوداسه والا اندامونه هم نه وے پاك شوے او اودس نه وی شوے !۔

لیکن د دے نه **جواب** دادے چه داحدیث ضعیف جداً دے (أخرجه الدارقطني والبيهقي مرفوعا من حديث ابن عمر) ددے په سند کښے ابو بکر الداهری عبد الله بن الحکم متروك راوی دے، اودارنګه وضاع هم دے، او په حدیث د ابو هریرةؓ کښے مرداس بن محمد بن عبد الله بن أبان عن أبيه دے، اودا دواړه ضعیف دی۔ او په حدیث دابن مسعودؓ کښے یحییٰ بن هشام السمسار متروك راوی دے، نو دے حدیث کښے ډیر زیات ضعف دے، نو په دے وجه دا دلیل نه ګرځی ددے دپاره چه نفی دکمال دپاره شی۔ اودا خبره هم صحیح نه ده چه ددے حدیث ډیرے طریقے دی نو قوت پیدا کوی۔ ځکه چه دا قوت هله پیدا کوی چه کله دا ضعف کم وی په طرقِ الحدیث کښے۔ اوهرکله چه ضعف سخت وی لکه په دے روایت کښے نو بیا کثرة الطرق دلیل د قوت نه وی۔ بلکه لا ضعف زیاتوی۔ کما في مصطلح الحديث . تمام المنة ص : ٣١، تحفة الأحوذی : ١/٣٩٩، نقلا عن الحافظ۔

٢ – دویم دلیل : دا بیانوی چه ابن سید الناس په شرح د ترمذی کښے لیکی چه بل روایت کښے داسے راغلی دی : (لاوضوء کاملا لمن لم یذکر اسم اللّٰه) نو دلته پخپله نفی دکمال ذکر شوه۔

لیکن ابن حجر عسقلانیؒ فرمائی : لم أره هكذا ۔ دا روایت ما پدے طریقه نه دے موندلے، نو دا روایت نه دے ثابت۔ بعضے حنفیه وائی چه دابن حجرؒ نه موندل دلیل نه دے په هغه چا چه هغه لیدلے دے په متقدمینو کښے۔ نو داخبره د دوئ خطاء ده وجه داده چه نفس لیدل هم کافي نه دی د اثبات دمطلوب دپاره ترڅو چه صحت او حسن نه وی معلوم شوے۔ اوددے زیادت حال نه دے معلوم۔ او تراوسه پورے دا څوك په صحیح معتبره طریقه سره نشی ثابتولے۔ نو صرف لیدل دابن سید الناس دلیل نه دے۔

٢ – دامام احمدؒ، اهل ظواهرؒ، حسن بصریؒ، اسحق بن راهویهؒ مذهب دادے چه بسم الله په ابتداء داوداسه کښے وئیل واجب دی۔ اودا رائے په احنافو کښے دشاه ولی الله دهلویؒ او ابن الهمامؒ هم ده۔ (لکه شاه انور شاهؒ په العرف الشذی : ١/١٣، کښں وائی : وتفرد بالوجوب منا ابن الهمام)۔ دغه شان علامه عبد الحی هم دے (کما فی احکام القنطرة فی احکام البسملة : ١/٦٢)۔

او علامه كاساني په البدائع والصنائع : ٢٠/١، كښې دامام مالكؒ نه هم د فرضيت قول نقل كړيدے۔

البته : امام اسحقؒ په كښې داوائي چه كه : عمداً ئې بسم الله پريخودله نو اودس باطل شو، اعاده ئې فرض ده، اوكه سهواً تـرې پاتے شوه يا په تاويل سره، نو اودس ئې جائز دے۔ دابنه قول دے ځكه د بسم الله احاديث داسے ډير قوي نه دي، ګوياكه دا دريم قول شو ۔

ددے **دويم قول والا دلائل** :

١- يو خو دا حديث دے چه په دے كښې نفي د شئ شويده اونفي د شئ د ترك د ركن يا ترك د فرض په وجه كيږي، معلومه شوه چه تسميه شرط او ضروري ده۔ اودلته نفي د صحت، نفي دذات ته نزدے ده ځكه عدم د حقيقت سره عدم د ذات لازم دے، او كله چه نفي د صحت اوشوه نو معنىٰ به داوي چه هغه شے به باطل وي، نو معنىٰ دحديث به دا شي (لاوضوء : أي لا يصح الوضوء ولا يوجد شرعا الا بالتسمية)۔ اوكوم علماء چه نفي د كمال مراد كوي نو هغه مجاز دے، اومجاز ته هله رجوع كيږي كله چه حقيقت متعذر شي او دلته حقيقت نه دے متعذر، دارنګه په مجاز كښې قرينے ته ضرورت دے او دلته نشته، كما سبق بطلانها۔

٢ - دويم حديث دابو هريره دے : (قال رسول اللّٰه ﷺ : لا صلاة لمن لاوضوء له، ولا وضوء لمن لم يذكر اسم اللّٰه عليه) أخرجه ابن ماجة :٣٩٩/١، وابوداود : ١٠١/١، واحمد :٤١٨/٢ . قال الحاكم : صحيح الاسناد، وصححه الألباني في صحيح سنن أبي داود :٢٠/١، رقم : ١٠١)۔

٣ - دارنګه په بعضے رواياتو كښې - لكه په روايت د ترمذي او ابن ماجة كښې - ورسره په ابتداء كښې دا الفاظ زيات شويدي : (ولا صلاة لمن لاوضوء له) نودلته هغه جمله مقترنه شويده ددے جملے سره، او په دے جمله كښې خو نفي دصحت ده نو په (لا وضوء لمن الخ) كښې به هم نفي د صحت مراد وي، ځكه د دواړو جملو ترمينځه اقتران شويدے، اودا قِران دليل دے كله چه د دے مخالف دليل صريح نه وي۔

دا وجه ده شاه ولي الله دهلويؒ په حجة الله البالغة (١٧٥/١) كښې ليكي :

هو - أي حديث أبي هريرة - نص على أن التسمية ركن او شرط، ويحتمل أن يكون المعنىٰ : لايكمل الوضوء، لكن لا أرتضي بمثل هذا التاويل، فانه من التاويل البعيد الذي يعود بالمخالفة على اللفظ، انتهى۔

يعني دا حديث صريح دے چه بسم الله وئيل ركن يا شرط دي، بغير ددے نه اودس نه كيږي، اود نفي د كمال معنى چه كومو علماؤ كړيده نو زه دا نه خوښوم ځكه چه دا بعيد تاويل دے اود ظاهر لفظ دحديث نه مخالف دے۔

بعضے احناف وائي : چه مونږ په دے مقام كښے دا روايت (لا وضوء آه) په معنىٰ حقيقي ظاهري باندے ځكه نشو حمل كولے چه په دے سره تخصيص په آيت كښے راځي په خبر واحد سره په مرتبه د شرطيت كښے، اودا تخصيص زيادت دے په كتاب الله باندے او زيادت په كتاب الله نسخ دكتاب الله ده، او نسخ په خبر واحد سره نه ده جائز، ځكه كتاب الله نص قطعي دے، اوخبر واحد ظني دے او نسخ د قطعي په ظني سره جائز نه ده۔

ددے نه **جواب** : ١ - دادے چه نه منو داخبره چه زيادت په كتاب الله باندے نسخ ده، ځكه چه نسخ خو رفع دحكم شرعي ثابت بالخطاب ته وائي، اودلته خو رفع دحكم نشته بلكه هغه حكم ثابت دے سره د زيادت نه، نو تعريف د نسخ پرے نه صادقيږي۔ كما قدمنا هذا البحث في المجلد الاول۔

٢ - **دويم جواب** دادے چه زيادت په خبر واحد سره په نص قطعي باندے په مرتبه د وجوب او استحباب كښے خو احناف هم منى، چه دا جائز دے، نوګويا كښے دا دَ سره زيادت نه دے د دوئ په نيز هم، نو بناء په دے باندے احنافو له پكار دي چه قول په وجوب د تسميه باندے اوكړي، لكه څنګه چه علامه ابن الهمامؒ دا قول كړيدے، او لكه څنګه چه جمهور احناف د وجوب د فاتحے قائل دي په مانځه كښے په خبر مشهور سره (كما في اصول الشاشي و شرح الوقايه : ١٦١/١)، نو پكار ده چه دلته هم قائل بوجوب التسميه شي په اودس كښے۔

اوكه دوئ وائي چه په اوداسه كښے واجب نشته نو مونږ وايو : دا خبره هم فاسده ده لهذا دا د بناء الفاسد على الفاسد د قبيلے نه شوه۔ نو ددے اعتراض نه د احنافو خلاصے

نشته ـ بل جواب دادے چه دغه قاعده باطله ده، لکه په اول جلد (٤٨٩/١) کښې تفصيلا تيره شويده ـ

٢ - **بل جواب** دادے چه دا حديث التسميه أصح او أقوىٰ او ډير مشهور دے د حديث الوضوء بالنبيذ نه، نو چه په حديث د وضوء بالنبيذ باندے زيادت جائز ګڼړئ نو پکار ده چه داخو ډير مشهور دے په دے باندے دے هم زيادت په کتاب الله باندے راشي ځکه چه زيادت دکتاب الله په خبر واحد سره خو احناف هم مني ـ

امام ابن الجوزیؒ په التحقيق (١٣٧/١) کښې فرمائي : مسئلة : التسمية في الوضوء واجبة (فرض)، لنا أربعة أحاديث على فرضيتها، الى آخر ما قال .

بيا جمهور اعتراض کوی چه دا حديث د سعيد بن زيدؓ ضعيف دے، نو وجوب پرے نه ثابتيږی، او وجوب دپاره قوی دليل پکار دے، اوددے خبرے دپاره دامام احمدؒ دا قول ذکر کوی کوم چه امام ترمذیؒ رانقل کړيدے : (لا أعلم في هذا الباب حديثا له اسناد جيد) يعنے : په دے باب دتسميه کښې جيد حديث نشته ـ دغه شان قول دامام بزارؒ او ابو زرعهؒ هم دے، كما في تحفة الأحوذی : ٣٩/١ ـ

ليکن ددے **جواب** اهل ظاهر دا ورکوی چه ددے روايت ډير اسانيد دی، چه بعضے په بعضو سره قوی کيږی اوډير ضعف په کښې نشته ـ

دا وجه ده چه ابن حجرؒ په تلخيص الحبير (١١٢) کښې ليکی : والظاهر أن مجموع الأحاديث يحدث منها قوة تدل على أن له أصلا ـ

دارنګه د ابو أبو بكر بن أبي شيبةؒ نه نقل دی چه : (ثبت لنا أن النبي ﷺ قاله) يعني د نبی کريم ﷺ نه دا ثابته ده چه هغه دا حديث وئيلے دے ـ (الترغيب والترهيب)ـ

٣ - دارنګه ابن سيد الناسؒ په شرح د ترمذی کښې فرمائي : (لا يخلو هذا الباب من حسن صريح وصحيح غير صريح، انتهى) ـ يعنے : په باب د بسم الله وئيلو کښې په ابتداء داوداسه کښې حسن حديثونه صريح دی او صحيح حديثونه غير صريح ثابت دی ـ

(تلخيص الحبير : ١١٢/١)ـ

٤ - امام حافظ منذریؒ په الترغيب (٢٢٤/١) کښې فرمائي : چه په دے باب کښې چه

کوم حدیثونه راغلی دی په هغه ټولو کښې مقال شته مګر (فانها تتعاضد بکثرة طرقها وتکتسب قوة). یعنې چه ټولې طریقې راجمع کړې شي نو یو قوت پیدا کوي۔ او ضعف په کښې زیات نه دے۔

۵ – دارنګه ابن کثیر په الارشاد (۳٦/۱) کښې نقل کړیدی : (وقد روی من طرق يشد بعضها من بعض فهو حديث حسن او صحيح). تعليق ابي داود : ۳۵۔

یعنې د دے حدیث ډیر سندونه دی چه بعضې د هغې نه بعضې قوی کوي، نودا یا حسن حدیث دے اویا صحیح۔

ځکه چه کله په سند کښې ضعف وی او متابعات شواهد اولری نو دا حدیث بیا صحیح لغیره درجه کښې شمارلے شي، کما في المصطلح۔

دا وجه ده چه : ٦ – ابن الصلاحؒ هم دا خبره کړیده چه : (يثبت بمجموعها ما يثبت بالحديث الحسن) هذا كله في عون المعبود : ۳۸/۱، والتحفة : ۳۸/۱، والمرعاة : ۱۰۸/۳). وتنقيح الرواة (۷٦/۱)۔

۷ – علامه عبد الحی لکهنوی فرمائی :

فان حديث (لا وضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه) وان لم يكن مثل حديث (لا صلاة الا بفاتحة الكتاب) في الصحة، لكنه ليس بساقط ايضا، فان كثرة الطرق وان كان كل منها ضعيفا قد رقاه الى الحسن على ما هو مقرر في اصول الحديث، فما المانع من ثبوت الوجوب به ؟ فافهم (احكام القنطرة في احكام البسملة، لعبد الحي : ٦۲/۱)۔

یعنې : (لا وضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه) حدیث اګرکه د (لا صلاة الا بفاتحة الكتاب) حدیث سره په صحت کښې برابر نه دے، لیکن ساقط هم نه دے، ځکه چه کثرت د طرقو – اګرکه یوه یوه طریقه ضعیفه هم ده – دا حدیث، حسن درجې ته رسولے دے، لکه چه دا خبره په اصول الحدیث کښې بیان شویده۔ نو اوس هرکله چه دا حدیث حسن شو نو بیا په دے سره د وجوب ثابتیدلو نه څه شي مانع دے ؟ ښه پو هه شه ! انتهی۔

۸ – علامه شوکانیؒ فرمائی : وهذه الطرق يقوى بعضها بعضا فتصلح للاحتجاج بها، (السيل الجرار : ۲۱۱/۱)۔

۹ - علامه ابن قیم الجوزیهؒ فرمائی : احادیث التسمیة علی الوضوء احادیث حسان.
فالخلاصة : ان الحدیث حسن .
(المنار المنیف فی الصحیح و الضعیف ص : ۱۳۰، رقم : ۲۷۱ ۔

بل دلیل په فرضیت د بسم الله وئیلو باندے حدیث د انسؓ دے (قال طلب بعض اصحابنا من رسول الله ﷺ وضوء فقال رسول الله ﷺ : هل مع احد منکم ماء ؟ فوضع یده فی الماء ویقول : توضؤوا بسم الله فرأیت الماء یخرج من بین اصابعه، فتوضؤا حتی توضؤا من آخرهم ... الحدیث) اخرجه النسائی : ۱/۶۱۲، والبخاری : ۱۶۹، کتاب الوضوء باب التماس الوضوء، واحمد : ۳/۱۶۵، وابن عبد الهادی فی التنقیح : ۱/۱۰۶ . قال النووی فی المجموع شرح المهذب : ۱/۴۰۵ : واصح ما فی التسمیة حدیث انس و اسناده جید، واحتج به البیهقی فی معرفة السنن والآثار، انتهی واخرجه عبد الرزاق رقم : ۲۰۵۳۵، وابو یعلیٰ : ۳۰۳۶)۔

ترجمه : بعضے صحابوؓ د رسول الله ﷺ نه اوبه طلب کړے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : پتاسو کښے چاسره اوبه شته ؟ نو نبی ﷺ اوبو کښے لاس کیخودلو او وے فرمائیل : د الله په نوم اخستلو سره اودس شروع کړئ۔ انسؓ وائی : ما اوبه اولیدلے چه د رسول الله د ګوتو د مینځ نه راوتلے ، نو تولو صحابوؓ اودس اوکړو۔

او دا حدیث دریمه مسئله کښے هم را روان دے۔ او په دے باب کښے نور حدیثونه هم ډیر دی لکه حدیث ابی سعید، اخرجه احمد : ۳/۴۱، وابو یعلیٰ : ۲/۳۳۴، الدارقطنی : ۱/۷۱، ابن ماجة (۳۹۷)۔

۴ - **څلورم** : حدیث د سعید بن زیدؓ اخرجه الترمذی رقم : ۲۵، ابن ماجه : ۳۹۸، الطیالسی رقم : ۲۴۳، البیهقی : ۱/۴۳۔

۵ - **پنځم** : حدیث د عائشهؓ دے اخرجه الدارقطنی : ۱/۷۲۔

خلاصه : داچه د اوداسه په شروع کښے د (بسم الله) احادیثو ته اکثرو علماؤ صحیح یا حسن وئیلی دی چه بعضے د هغوئ نه دادی (۱) امام اسحق بن راهویهؒ (۲) امام بخاریؒ (۳) امام ابن حجرؒ (۴) امام ابن کثیرؒ (۵) حافظ منذریؒ (۶) امام ابن قیمؒ (۷) علامه

شمس الحق عظیم آبادیؒ (۸) علامه شوکانیؒ (۹) شیخ البانیؒ (۱۰) علامه الأحناف عبد الحی لکنویؒ (۱۱) شیخ عبد الرحمن مبارکفوریؒ (۱۲) امام ابن جوزیؒ (۱۳) امام ابن قدامهؒ (۱٤) علامه ابن سید الناسؒ (۱۵) امام ترمذیؒ (۱٦) علامه سندهی حنفیؒ (۱۷) علامه ابن صلاحؒ (۱۸) علامه نواب سید صدیق حسن خانؒ (۱۹) امام بوصیریؒ (۲۰) امام احمد بن حنبل – رحمهم الله۔

نو معلومه شوه چه دا حدیث ثابت دے او وجوب پرے ثابتیدے شی، او احتیاط هم په دے قول کښے دے، ځکه که دا حدیث ثابت وی او انسان پرے عمل اونه کړی نو نقصان کښے به پریوځی، اودس به ئے خراب شی، اګرچه آسانی په قول د جمهورو کښے ده، خو لیکن دا اختلاف علمی دے، نه عملی، په استحباب کښے اختلاف نشته صرف وجوب کښے اختلاف دے۔ په دے باندے یوه بله مسئله تفریع ده۔

او هغه دا چه یو انسان په بیت الخلاء کښے اودس کوی آیا هغه به بسم الله وائی که نه ؟ ۔ **۱ – یو قول** دادے چه نشے وئیلے ځکه دا بے عزتی ده د الله تعالیٰ د نوم۔ دا د هغه علماؤ قول دے چه بسم الله وئیلو ته مستحب وائی۔ ځکه چه د مستحب په عملی کولو سره به بے ادبی کول نه اختیاروی۔

۲ – دویم قول دادے چه بسم الله وئیل واجب دی په هر ځائے کښے چه اودس کوی حتی چه بیت الخلاء کښے به ئے هم وائی اودلته اګرچه ظاهرا بے أدبی معلومیږی لیکن د واجبو د رعایت په وجه ظاهرا بے أدبی کښے پریوتل جواز لری، اګرچه په زړه کښے به ئے د بے أدبئ اراده نه وی خصوصا نن صبا بیت الخلاء (لیټرینونه) خو داسے صفا فرشی وی هیڅ ګندګی په کښے نه ښکاری په اوبو استعمالولو سره، او بیت الخلاء فراخه وی ګندګی جدا ځائے وی او د غسل خانے ځائے جدا وی، نو بسم الله به ضرور وائی۔ او په دے باندے دلیل دادے چه نبی کریم ﷺ به د عائشےؓ په غیږه کښے په حالت د حیض د هغے کښے قرآن لوستلو۔ وهو الراجح دلیلاً۔

۳ - دریمه مسئله : بسم الله به په کومو الفاظو سره وائی ؟

۱ یو قول دادے چه فقط (بسم الله) لفظ به وائی، دلیل په دے باندے دادے چه په

عمل اليوم والليلة د ابن السني رقم (٢٧) كښې د أنس بن مالكؓ يو صحيح حديث دے چه په هغې كښې د رسول الله ﷺ معجزه ذكر ده، چه بعضو صحابوؓ د نبي كريم ﷺ نه د اوبو مطالبه اوكړه نو نبي كريم ﷺ اوفرمائيل : تاسو سره څه لوښى كښې اوبه شته ؟ نو په لوښى كښې ئے لاس كيخودلو اودائے اوفرمائيل : (توضؤا بسم الله) بسم الله سره اودس شروع كړئ. لكه چه مخكښې تير شو.

أنسؓ فرمائى : مونږ اويا كسانو د هغې نه اودس اوكړو. (باب كيف التسمية على الوضوء). وكذا أخرجه النسائى : ١/١٨، رقم : ٧٧، والبيهقى : ١/٤٣، والدارقطنى : ١/٧١.

په دے حديث كښې صرف (بسم الله) ذكر ده ، چه بسم الله اووائے اودس شروع كړئ.

٢ - **دويم قول** : دادے چه بسم الله والحمد لله، الفاظ به وائى، لكه چه حديث د طبراني في الصغير : ٧٣، اومجمع الزوائد : ١/٢٢٠، كښې دابو هريرةؓ حديث دے چه رسول الله ﷺ ده ته اوفرمائيل : يا أبا هريرة ! اذا توضأت فقل : بسم الله والحمد لله.

اودے حديث ته ئے حسن وئيلى دى، دارنګه رد المحتار : ١/٧٤، كښې هم وئيلى دى چه : واسناده حسن.

٣ - **بعضے** علماؤ دا وئيلى دى چه (بسم الله العظيم والحمد لله على دين الاسلام) به وائى، كما في الدر المختار : ١/٧٤، ليكن بے سنده خبره ده. په هيڅ صحيح يا حسن حديث كښې نه ده ثابته. داد فقهاؤ تعمقات دى.

خلاصه : داچه چه يا خو به صرف (بسم الله) وائى، او يا به (بسم الله الحمد لله) دواړه جمع كوى. ليكن بسم الله سره (الرحمن الرحيم) يو ځائے كول چرته حديث كښې نه دى راغلى [بدے مقام كښې]، بلكه صرف بسم الله لفظ راغلے دے، لكه په مقام د ذبح كښې چه صرف (بسم الله) لفظ راغلے دے.

اګرچه عون المعبود : ١/٣٧، كښې علامه عظيم آبادىؒ د شيخ محمد طاهر، صاحبِ تكمله مجمع البحار نه نقل كړيدى چه : (ويكفى بسم الله، والأكمل : بسم الله الرحمن الرحيم. وهكذا في المجموع : ١/٣٤٤).

ليكن په دے خبره هم دليل نشته، صرف قياس دے، او په احاديثو كښے فقط لفظ د (بسم الله) ذكر دے نه مكمله (بسم الله الرحمن الرحيم) ـ كما أشار اليه صاحب العون :

۳۹/۱ ـ او په المغني : ۱/۱۱۵، كښے فرمائي :

والتسمية وهى قول بسم الله : لا يقوم غيرها مقامها كالتسمية المشروعة على الذبيحة ـ (يعني : صرف بسم الله لفظ به وائي، لكه په ذبح كښے چه صرف بسم الله وائي، ددے په ځائے بل لفظ نشي وئيلے)ـ

په دے باندے بله مسئله تفريع ده --- او هغه دا چه : يو شخص نه په ابتداء داوداسه كښے **بسم الله وئيل هير شي** نو آيا داودس په مينځ كښے به ئے وائي اوكه نه ؟ـ

۱ – احناف وائي چه د اوداسه په مينځ كښے بسم الله وئيل نه دى پكار او روټئ په ابتداء كښے چه بسم الله هيره شي نو په مينځ كښے به ئے وائي كه ورته ياده شي۔

دليل دا وائي : ځكه چه روټئ كښے هره لقمه (نوړئ) جدا عمل دے نو بسم الله وئيل ورله پكار دى، او اودس خو د ابتداء نه تر انتهاء پورے يو عمل دے نو چه بسم الله د يو محل نه فوت شوه نوبل محل كښے نشي راوړے، اودا قول قوى دے، لعدم ورود النص فى الأمر بذلك عند الفوات فى الوضوء، كما ورد الأمر به فى اثناء الطعام۔

۲ – امام شافعيؒ په كتاب الأم (۱/۳۱) كښے دا فتوىٰ وركړيده چه بسم الله داوداسه په مينځ كښے لوستے شي (فان سها سمى متىٰ ذكر)۔

دليل ورله داسے ذكركولے شي : چه قرآن كريم كښے دى :

﴿ فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ﴾ التغابن۔

د الله نه دخپل طاقت مناسب يره كوئ، نو بناء په دے باندے هيره كښے دانسان طاقت نه وى نو الله ئے نه رانيسى چه ابتداء كښے فوت شوه نو وسط كښے دے راوړى، اوكله كله يو عمل بل مقام كښے اداء كولے شى، لكه ددے ډير مثالونه دى۔

عَنْ اَبِيْهِ : په دے مقام كښے مصنفؒ باندے دوه كرت وهم غالب شويدے :

۱ – يو كرت وهم خو دادے چه دلته ئے (عَنْ اَبِيْهِ) لفظ وئيلے دے يعني ابو سعيد الخدريؓ دپلار نه دا حديث نقل دے، حال دا چه دابو سعيد خدريؓ پلار مالك بن سنان دے

اوهغه خو مخکښې تیر شویدې حدیثونه ترې نه دی نقل ـ نو صحیح عبارت داسې دې (عن ابن ابی سعید الخدری عن ابیه، وابنه عبد الرحمن، کما فی الدارمی : ۱/۱٤۱)، او نسخه د نصیر الدین کښې هم داسې دی۔

۲ – دویم وهم دادې چه : (زادوا فی أوله) کښې ئې داوئیلی دی چه دا روستو عبارت احمد او ابوداود او دارمی تولو زیات کړیدې، سره ددې نه چه دا عبارت دارمی نه دې زیات کړې، نو داسې عبارت وئیل پکار وو : (وزاد غیر الدارمی)۔

---

۱۵ – وَعَنْ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ رضی الله عنه قَالَ : قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَخْبِرْنِيْ عَنِ الْوُضُوْءِ قَالَ : اَسْبِغِ الْوُضُوْءَ ، وَخَلِّلْ بَيْنَ الْأَصَابِعِ، وَبَالِغْ فِي الْإِسْتِنْشَاقِ اِلَّا اَنْ تَكُوْنَ صَائِمًا). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ. وَرَوَى ابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ اِلٰى قَوْلِهٖ : بَيْنَ الْأَصَابِعِ.

ترجمه : او جناب لقیط بن صبره رضی الله عنه فرمائی : ما عرض اوکړو یا رسول الله ! ماته د اوداسه په باره کښې خبر راکړئ، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : پوره اوس کوه، ګوتو کښې خلال کوه، که ستا روژه نه وی نو پوزې ته په ښه شان اوبه رسوه ـ (ابوداود، دارمی، نسائی)، ابن ماجه او دارمی دا حدیث (بین الأصابع) پورې روایت کړې دې ـ

تعارف د لقیط بن صبره رضی الله عنه :

دده پوره نوم او سلسله نسب داسې ده : لقیط بن عامر بن صبره ابو رزین العقیلی، د بنی المنتفق قبیلې مشهور صحابی دې۔ تول (۲٤) احادیث ترې نقل دی ـ

۲ – بعضې وائی لقیط بن صبره جدا شخص دې اولقیط بن عامر بن صبره جدا دې۔

تشریح : قُلْتُ : داپه وفد کښې راغلې دې اود نبی کریم ﷺ نه تپوسونه کوی نور تپوسونه کتابونو د تاریخ ذکر کړیدی، زاد المعاد (۵۸۸/۳) کښې ـ وکذا فی صحیح ابی داود رقم (۱٤۲)۔

وَخَلِّلْ بَيْنَ الْأَصَابِعِ: یعنی اصابع الیدین والرجلین۔

د لاسونو او خپو د ګوتو په خلالولو کښې اختلاف:

١ – امام شافعیؒ اومالكؒ په نیز مستحب دے۔

٢ – دامام ابو حنیفهؒ اواحمدؒ په نیز سنت عمل دے۔

٣ – داهل ظواهرؒ په نیز خلال اصابع الرجلین واجب دے۔ اودا قول علامه شوکانیؒ په نیل الأوطار (١٩١/١) کښې، او علامه مبارکفوریؒ په تحفه الأحوذی (٤٩/١) کښې راجح کړیدے۔

دلائل الوجوب: په دے باره کښې ډیر احادیث دی (ذکر بعضها فی التحفة والنیل والدین الخالص: ٤٩٨/١) چه په هغے کښې أمر راغلے دے په تخلیل الأصابع باندے او وعید داور راغلے دے په هغه چاچه دا نه کوی۔ بعضے دهغے نه دادی:

١ – **اول** حدیث د لقیط بن صبرةؓ (حدیث الباب) دے، چه په دے کښې أمر راغلے دے په تخلیل الأصابع باندے (أخرجه الترمذی: ١٤/١، وابوداود: ٢٩/١، وابن ماجه: ٧٥/١، وسنده صحیح وصححه الترمذی والبغوی وابن القطان کذا فی النیل: ١٩١/١)۔

٢ – **دویم** حدیث د ابن عباسؓ دے (قال: قال رسول الله ﷺ: اذا توضأت فخلل أصابع یدیك و رجلیك) رواه الترمذی: ١٤/١، وابن ماجه: ٧٥)۔ یعنی: کله چه اودس کوے نو دلاسونو او خپو ګوتو خلال کوه (ګوتے په کښے راکاږه)۔

والحدیث وان کان فی سنده صالح مولی التوأمة وهو اختلط بآخره، لکن حسنه البخاری لأنه من روایة موسی بن عقبة عن صالح وسماع موسیٰ عنه قبل أن یختلط، کذا فی النیل. وقال الألبانی حسن صحیح، صحیح ابن ماجه: ٧٥/١۔

٣ – **دریم** حدیث: د مستورد بن شدادؓ دے (قال: رأیت رسول الله ﷺ اذا توضأ دلك اصابع رجلیه بخنصره) رواه الترمذی: ١٥/١، رقم: ٤٠، وابن ماجة، وفی سنده ابن لهیعة، لکن تابعه اللیث بن سعد وعمرو بن الحارث خرجه البیهقی وابو بشر الدولابی والدارقطنی فی غرائب مالك من طریق ابن وهب عن الثلاثة، و صححه ابن القطان، کذا فی النیل (١٩١/١).
وقال الألبانی: صحیح، صحیح أبی داود (١٣٥) وصحیح ابن ماجة (٧٥/١، رقم: ٣٦٠، باب تخلیل الأصابع)۔

٤ – **څلورم** حديث : د واثلةؓ دے (عن النبي ﷺ قال : من لم يخلل اصابعه بالماء، خللها الله بالنار، يوم القيامة). أخرجه الطبراني في معجمه عن العلاء بن كثير عن مكحول عن واثلة، كذا في نصب الراية : ١/٢٦۔

نبي کريم ﷺ فرمائي : چاچه په اوبو سره دګوتو خلال اونه کړو، الله به دهغه ګوتے د قيامت په ورځ په اور سره خلال کړي۔

٥ – مصعب بن سعدؓ فرمائي : عمر فاروقؓ په يو قوم باندے تير شو چه اودس ئے کولو، نو عمرؓ ورته أمر اوکړو چه (خللوا) خلال اوکړئ (أخرجه ابن أبي شيبة : ١/١١)۔

٦ –ابن مسعودؓ فرمائي : (لينهكن الرجل ما بين أصابعه بالماء اولتنهكنه النار) يعنے خلال نه کونکي شخص ته به الله دا سزا ورکوي چه ګوتے به ورله په اور سوزوي۔

٧ – حذيفه رضي الله عنه فرمائي : (خللوا بين الأصابع في الوضوء، قبل أن تخللها النار) أخرجهما ابن ابي شيبة : ١/١١، وعبد الرزاق۔

(په اوداسه کښے دګوتو خلال اوکړئ، مخکښے ددے نه چه الله ئے په اور اوسوزوي)۔

ددے احاديثو د نقل کولو نه پس شوکانيؒ فرمائي :

والأحاديث قد صرحت بوجوب التخليل وثبتت من قوله ﷺ وفعله، ولا فرق بين امكان وصول الماء بدون تخليل و عدمه، ولابين أصابع اليدين و الرجلين، فالتقييد بأصابع الرجلين اوبعدم امكان وصول الماء لا دليل عليه نيل الأوطار : ١/١٩١۔

ترجمه : احاديث صريح راغلي دي په دے کښے چه تخليل الأصابع واجب دے اودا د رسول الله ﷺ دقول او فعل دواړو نه ثابت دے، برابره خبره ده چه اوبه په غير د خلال نه ګوتو ته رسيږي اوکه نه، او برابره خبره ده چه دلاس ګوتے وي اوکه دخپو، نو کومو علماؤ چه داخبره کړيده (لکه ابن سيد الناس) چه خلال په هغه وخت کښے ضروري دے کله چه ګوتے ته اوبه نه رسيږي بغير دخلال نه، نو داخبره ددوئ بے دليله ده، هيڅ حديث کښے ورته اشاره هم نه ده شوے، بيا فرمائي :

وأحاديث الباب تدل على مشروعية تخليل أصابع اليدين و الرجلين ويقوى بعضها بعضا، فتنتهض للوجوب، لا سيما حديث لقيط بن صبرة۔

يعنې : ددې باب حديثونه دلالت كوي په دې خبره چه د لاسونو اود خپو دګوتو خلال مشروع دې، اوبعضې حديثونه اګرچه ضعيف دي خو لېكن نور حديثونه هغې لره قوي كوي، خصوصاً حديث د لقيط بن صبرة.

دا وجه ده چه امام صنعاني په (سبل السلام : ٦٧/١) كښې فرمائي :

وحديث لقيط دليل على ايجاب تخليل الأصابع.

يعنې : د لقيط حديث دليل دې چه خلال د ګوتو واجب دې.

دليل الجمهور : كوم علماء چه تخليل الأصابع واجب نه ګڼړي بلكه مستحب يا سنت ورته وائي، نو د هغوئ دليل دادې چه كومو حديثونو كښې أمر راغلې دې نو دا أمر د ندب او استحباب اوسنيت دپاره دې او أمر دوجوب نه دې، او وجه دا بيانوي چه درسول الله ﷺ داوداسه حكايت كونكي صحابهٔ ډير زيات دي، اوپه هغې كښې كم صحابه تخليل ذكر كوي، نو كه دا واجب وې نو ټولو صحابه كرامو به ذكر كولې.

لېكن ددې دليل نه **جواب** دادې چه مخكښې بار بار تير شو چه دين ټول په يو حديث كښې نه وي، دارنګه ټول احكام او فرائض هم په يو حديث كښې نه وي ذكر، بلكه د اهل السنت دا طريقه ده چه په باب كښې وارد ټول احاديث راجمع كوي بيا حكم را اوباسي، په يو حديث كښې يو حكم ذكر وي، په بل كښې بل حكم ذكر وي، نو چه كله په بعضې احاديثو كښې تخليل الأصابع ذكر نشو او په بعضو كښې ذكر شو نو ددې نه دا نه لازميږي چه دا حكم به واجب او ضروري نه وي، كله چه دا په نورو احاديثو كښې په صحيح سند سره ثابت وي لكه چه مخكښې تا احاديث اوليدل. ددې مسئلې دتفصيل دپاره (فتاوى الدين الخالص : ٤٩٨/١، السيل الجرار، نيل الأوطار، تمام المنة، سبل السلام، نصب الراية، درس ترمذي او عون المعبود ته مراجعه اوكړه).

فائده : د خلال او تخليل يوه معنىٰ ده، يعنې (التفريج بينها واسالة الماء بينها). يعنې د ګوتو كهلاؤل او د هغې ترمينځ اوبه ورداخلول (توضيح الأحكام : ١٧٥/١).

تكمله : دلاس په ګوتو كښې دخلال څه خاص طريقه په احاديثو كښې نه ده راغلې، كه په طريقه د تشبيك سره وي اوكه په طريقه د تصفيق سره وي دواړه جائز دي، يعنې كه د

دواړو لاسونو ګوتې يو بل کښې مخامخ داخلې کړې اوکه يو لاس په بل لاس اوچت کړې اوګوتې يو بل کښې ننباسي. هره يوه طريقه جائز ده، البته دخپو دګوتو په خلال کښې طريقه داسې راغلې ده چه دګس لاس په خنصر (قچې) ګوتې سره به د ښئ خپې د قچې ګوتې نه شروع کوي، او په خپه کښې به د غټې (ابهام) ګوتې نه شروع کوي. لکه چه دا طريقه په حديث د مستورد بن شداد کښې راغلې ده، کما مرّ (دلك أصابع رجليه بخنصره)، اوبل حديث کښې دي : (كان رسول الله ﷺ يحب التيامن في كل شئ). بيا که د لاندې نه شروع کوي اوکه د بره نه هيڅ حرج په کښې نشته، دارنګه د قچې (خنصر) ګوتې سره د ګس لاس ذکر هم صريح حديث کښې نشته، مګر داد قبيلې د نجاست زائل کولو نه دي او حديث دعائشة کښې دي چه د نبي کريم ﷺ ګس لاس به د ناپاك څيزونو صفا کولو او استنجاء دپاره وو.

وَبَالِغْ فِي الِاسْتِنْشَاقِ : په روايت د دولابي کښې داسې دي (وبالغ في المضمضة والاستنشاق) نو دا حديث دليل دې په دې چه مضمضه او استنشاق په اوداسه کښې واجب دي ځکه په دې دواړو باندې أمر راغلې دې، اود مسئلې تفصيل مخکښې ذکر شو.

اعتراض : جواب مطابق د سوال نه ښکاري ځکه چه صحابي تپوس داوداسه کړيدې او نبي کريم ﷺ صرف اختصار په دې خصلتونو باندې اوکړو ؟

ددې **جواب** دادې چه دا حديث خو يا راويانو ترديې پورې نقل کړيدې او نبي ﷺ ورته پوره اودس ښودلې دې، اويا کيدې شي چه راوي ترديې ځائې پورې مهم ګنړلو او هغه نور به ورته واضح ښکاره شوي وي.

۲ – يا داچه نبي کريم ﷺ ترديې ځائې پورې ذکرکړيدې ځکه چه هغه ته په وحي يا دمخاطب دحال نه دا معلوميدله چه ده لفظ د (وضوء) ذکر کړو خو غرض ئې صرف دا څيزونه تپوسل دي، نو ځکه ئې ورته صرف دغه خصلتونه ذکر کړل نو جواب مطابق د سوال دې.

درجة الحديث : رواه ابوداود : دا حديث امام ابوداود، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، دارمي، شافعي، احمد، ابن خزيمه، ابن الجارود، ابن حبان او حاكم نقل کړيدې، اوحاكم او

ترمذي او بغوي او ابن القطان ورته صحیح وئیلی دی، دارنګه حافظ ابن حجرؒ عسقلاني په الاصابه (۳۲۹/۳) کښې نقل کړیدې اوېیا ئې وئیلی دی: هذا حدیث صحیح۔ امام نوويؒ فرمائي: (حدیث لقیط بن صبرة اسانیده صحیحة)، شیخ البانيؒ په صحیح ابن ماجه رقم: ٤٤٦، او صحیح أبي داود رقم (۱٤۲) ورته صحیح وئیلی دی۔

وَرَوَى ابْنُ مَاجَةَ اِلٰى قَوْلِهٖ: بَيْنَ الْاَصَابِعِ:

دا هم د مصنفؒ خطائي ده ځکه چه ابن ماجه کښې دا روایت دوه کرته ذکر دے یو ځل په باب المبالغة في الاستنشاق کښې اودا مکمل روایت دے اودویم ځل په (باب تخلیل الأصابع) کښې او په دے کښې صرف (بین الأصابع) پورې روایت نقل شویدے۔ نو د مصنف دا خبره چه ابن ماجه دا روایت صرف (بین الأصابع) پورې ذکر کړے او پوره روایت ئې نه دے ذکر کړے، صحیح نه ده۔ ځکه مصنفؒ دا روایت صرف په یو باب کښې ناقص لیدلے نو حکم ئې کړیدے، ورنه په بل باب کښې مکمل روایت هم شته، کما عرفتَ۔

---

۱٦ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: (اِذَا تَوَضَّأْتَ فَخَلِّلْ اَصَابِعَ يَدَيْكَ وَرِجْلَيْكَ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَرَوَى ابْنُ مَاجَه نَحْوَهٗ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه: او جناب ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کله چه ته اودس کوې نو د دواړو لاسونو او خپو د ګوتو خلال کوه (ګوتو کښې ګوتې ورکوه)۔ (ترمذي)، او ابن ماجه ددے پشان روایت کړے دے، ترمذي وئیلی دی: دا حدیث غریب دے۔

درجة الحدیث: رواه الترمذي (۳۹) وابن ماجة (٤٤٧):

دا روایت امام ترمذيؒ، احمدؒ او حاکمؒ نقل کړیدے، امام ترمذيؒ ورته حسن غریب وئیلے، لکه په موجوده نسخو کښې دا عبارت دے (حدیث حسن غریب)، په دے روایت کښې اګرچه صالح مولی التوأمة راوي ضعیف دے په آخري عمر کښې ئې حافظه ګډه وډه شوې وه نو په حدیثونو کښې به خطاء کیدو، لیکن مونږ د نیل الأوطار په حواله نقل کړي

وو چه موسیٰ بن عقبه چه ددے روایت راوی دے هغه دا حدیث د صالح نه مخکښے داختلاط نه آوریدلے دے کله چه هغه صحیح الحافظه وو، لهذا دا روایت صحیح دے۔
دا وجه ده چه امام ترمذیؒ هم ورته صحیح وئیلی دی ۔ او امام بخاریؒ هم تحسین کړیدے، لکه چه حافظ ابن حجرؒ په تلخیص الحبیر ص (٣٤) کښے نقل کړیدے او شیخ البانیؒ په صحیح ابن ماجه رقم (٤٤٧) کښے ورته حسن صحیح وئیلی دی۔

---

١٧ – وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ ﷺ قَالَ : رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اِذَا تَوَضَّأَ يَدْلُكُ اَصَابِعَ رِجْلَيْهِ بِخِنْصَرِهٖ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او جناب مستورد بن شداد رضی الله عنه فرمائی : ما رسول الله اولیدو چه کله به ئے اودس کولو نو په کچے گوتے سره به ئے د خپلو دواړو خپو گوتو خلال کولو ۔ (ترمذی، ابو داود، ابن ماجه)۔

تعارف : د مستورد بن شداد ﷺ

دا قریشی حجازی صحابی دے او پلار ئے هم صحابی دے، دکوفے اوسیدونکے پاتے شویدے۔ د مصر فتح ته حاضر شویدے او په اسکندریه مقام کښے په سنه (٤٥) کښے وفات شویدے۔ ټول (٧) احادیث ترے نقل دی، امام مسلمؒ صرف دوه نقل کړیدی۔ رضی الله عنه ۔

تشریح : اِذَا تَوَضَّأَ يَدْلُكُ اَصَابِعَ رِجْلَيْهِ بِخِنْصَرِهٖ : د يدلك مطلب دادے چه نبی علیه السلام به دکس لاس په قچه گوته باندے د خپو په گوتو کښے خلال کولو، لکه په روایت د أحمدؒ کښے (ویدلك) په ځائے (یخلل) لفظ راغلے دے، نو دا حدیث دلیل دے چه قچے گوتے سره د خپو په گوتو کښے خلال کول مستحب دی۔ غرض په خلال کښے دادے – والله أعلم – چه اوبه دگوتو بیخونو ته اورسی، او هیڅ ځائے اوچ پاتے نشی، اود گس لاس په قچه گوته به ځکه خلال کوی چه دا ازاله دنجاست ده، اودا په گس لاس سره کول پکار دی اوقچه گوته دگوتو بیخونو ته ښه ننوځی ۔
٢ – یاد (یدلك) معنیٰ داده چه قچه گوته به ئے د خپو په گوتو باندے راخکله او مږله،

نو بيا به په دې کښې دليل وي چه دټولو اندامونو مږل مستحب دي، دپاره ددې چه اوبه هرځائې ته اورسي . لکه دا سنت په بل حديث د عبد الله بن زيد ؓ کښې راغلې دې (ان النبى ﷺ اتى بثلثى مد فجعل يدلك ذراعيه) حديث صحيح (مسند احمد : ٣٩/٤، ابن خزيمة : ١١٨، وصححه، وابن حبان : ١٠٨٣، والحاكم : ١٤٤/١، وصححه شعيب فى تحقيقه لابن حبان، وصححه البسام فى توضيح الأحكام : ٢١٥/١) وسيأتى.

يعنې : نبى ﷺ ته د يو مُد دوه حصې اوبه راوړې شي نو رسول الله ﷺ شروع شو چه دواړه څنګلې ئې مږلې.

درجة الحديث : رواه الترمذى : دا حديث هم ترمذى، ابن ماجه، ابوداود او احمد نقل کړيدې، ابوداود په دې حديث سکوت کړيدې او امام ترمذىؒ وئيلى دي چه عبد الله بن لهيعه په دې روايت سره متفرد دې، ليکن دا خبره صحيح نه ده ځکه دده متابعين موجود دي چه هغه حافظ ابن حجرؒ په التلخيص (٣٤) کښې ذکر کړيدي، يو ليث بن سعد دې، او بل عمرو بن الحارث. دا وجه ده چه ترمذى ورته په بعضو معتمدو نسخو کښې (هذا حديث حسن غريب) وئيلى دي، بيهقى، ابو بشر الدولابى او دارقطنى په (غرائب مالك) کښې په طريقه دابن وهب ددرې واړو نه دا روايت نقل کړيدې نو متابعين ئې شته دې، دې وجې نه امام ابن القطانؒ ورته صحيح وئيلى دى، شيخ البانىؒ په صحيح الترمذى رقم (٤٠) او ابن ماجه رقم (٤٤٦) کښې صحيح کړيدې.

---

١٨ – وَعَنْ أَنَسٍ ؓ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا تَوَضَّأَ اَخَذَ كَفًّا مِنْ مَاءٍ فَاَدْخَلَهُ تَحْتَ حَنَكِهٖ فَخَلَّلَ بِهٖ لِحْيَتَهٗ. وَقَالَ : هٰكَذَا أَمَرَنِىْ رَبِّىْ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او جناب أنس رضى الله عنه فرمائى : رسول الله ﷺ به چه کله اودس کولو نو د اوبو يو چونګ به ئې راواخستلو . د زنې لاندې به ئې کړو او په هغې سره به ئې د ګيرې خلال اوکړو، او وې فرمائيل : همدا شان ماته مې خپل رب حکم کړې دې. (ابوداود).

تشريح : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا تَوَضَّأَ اَخَذَ كَفًّا مِنْ مَاءٍ فَاَدْخَلَهُ تَحْتَ حَنَكِهٖ:

حنك په فتح د حاء او نون سره د دننه خولے بره او د ژبے لاندے طرف حصے ته وائی او تحت الحنك د زنے لاندے طرف ته وائی ۔

د تخلیل معنی : ګیره جدا جدا کول په ګوتو سره او ددے په مینځ کښے اوبه تیرول دے دپاره چه د اوداسه اوبه د ویښتو مینځ ته داخل شی او څرمن د مخ ته اورسی ۔

۲ – بیا په لحیه کښے خلال یو ځل کافی دے ۔ اودوه ځله اودرے ځله چه کومو احادیثو کښے راغلی دی هغه ضعیف دی، نو سنت عمل نه دے ۔ کما فی فتاوی الدین الخالص (۱/۴۹۵) بیا په دے باب کښے دوه مسئلے دی :

۱ – یوه دګیرے وینځل ۔ ۲ – دویمه : تخلیل اللحیه ۔

۱ – نود اولے مسئلے تفصیل دادے : ۱ – عطاءؒ او ابو ثورؒ فرمائی : ګنړه ګیره اوګده اوخفیفه وغیره کښے هیڅ فرق نشته، بلکه د ټولو وینځل واجب دی، دوئ قیاس کوی په جنابت باندے چه په هغے کښے ددے فرق نه کیږی، نو په اوداسه کښے به هم ددے فرق نشی کولے ۔ ۲ – د جمهورو مذهب کښے تفصیل دے :

(۱) **شق اول** : که ګیره ګنړه او اوګده نه وی یعنے د مخ د دائرے نه بهر نه وی اود مخ څرمن په کښے ښکاری، نو ددے په وینځلو کښے تقریبا د ټولو علماؤ اتفاق دے چه وینځل ئے واجب او فرض دی، که یو ویښته اوچ پاتے شی نو اودس به بیا راګرځوی ۔ الفقه علی المذاهب الاربعه (۱/۶۰) ۔

(۲) – **شق ثانی** : اوکه ګیره مسترسل (زوړنده) اوګده یا ګنړه وی نو په دے کښے دا ګنجائش شته چه د مخ د دائرے ویښته اووینځل شی اوکوم ویښته چه زوړند دی که هغه اوچ پاتے شو نوباك نه لری، البته دهغے وینځل مسنون دی واجب نه دی ۔ او د ګیرے ګنړ ویښتو کښے صرف ګوتے ورداخل کړے شی اګرکه هغه اونه وینځل شی هم جائز ده ۔ خو دا مذهب داحنافو او مالکیانو دے ۔ داحنافو د مذهب تشریح داسے ده چه د هغوئ نه په مقدار مفروض د ګیرے کښے څو روایات دی (۱) مسح ربع اللحیة (۲) مسح کل اللحیة (۳) مسح ما یلاقی بشرة الوجه (مخ سره مخامخ ویښته مسح کول فرض) وصَحَّحَهٗ قاضی خان (۴) مسح الثُلُث (دریمه حصه د ګیرے مسح کول ۔ (۵) وروی عدم وجوب

شئ- (پدے کښے هيڅ شے نه دے واجب) او دا روايات صرف په ګڼړه ګيره کښے دی او په خفيفه ګيره کښے خو وينځل د ټولے ګيرے واجب دی تردے چه لاندے څرمن د مخ ته اوبه اورسوی۔ او که ګيره مسترسل (زوړنده) وی نو د هغے نه وينځل واجب دی او نه مسح کول او منية المصلى کښے دی چه مسح کول ئے سنت دی كذا في البحر الرائق (۴۱/۱)

اود شوافع او د حنابله مذهب دادے چه که ګيره مسترسل (زوړنده) وی او يا د مخ د دائرے نه بهروی نو د هغے وينځل هم واجب دی۔ ځکه چه دا د مخ نه حساب ده او په محل د فرض کښے زرغونه شويده ۔ كذا في المغنى

ليکن دا فرقونه صرف علماؤ کړيدی، احاديثو کښے دګڼړے او نرئ ګيرے صراحه فرق نه دے خودلے شوے۔ بلکه علماؤ د حديث نه استنباط کړيدے لکه په حديث د ابن عباس کښے دی چه نبی ﷺ د مخ دپاره يو چونك اوبه راواخستے او بل لاس ئے ورسره يو ځائے کړو او مخ ئے پرے اووينځلو ـ الحديث (أخرجه البخاری : ۲۶/۱) ـ

نو د دے نه معلوميږی چه ګڼړه ګيره په يو کرت اوبو اچولو سره هيڅ کله پوره نه وينځلے کيږی، دا عادتاً ممکن نه ده، بلکه ضرور څه ويښته اوچ پاتے کيږی۔ اوخوك چه دا نه منی نو دا مکابره (سينه زوری) ده، د وجدان خلاف کول دی، كما قال الشوكانی فی النيل (۱۸۵/۱) اودا قول او فرق کول مذهب د أکثرو علماؤ دے۔

دلائل : احناف او مالکيه دليل دا پيش کوی چه نبی ﷺ پخپله دګڼړے ګيرے والا وو، اودهغه نه هيچرے نه دی نقل چه هغه به باطن دګيرے هم وينځلو، بلکه صرف خلال ترے نقل دے۔ ۲- دارنګه زوړند ويښته د محل د فرض نه خارج دی نو ددے مثال داسے دے لکه هغه ويښته چه د سر نه راځکته شوی وی۔ او دننه اوبه ورننويستل هم ځکه ضروری ندی چه وجه (مخ) نوم دے د هغه څرمن چه په هغے سره مواجهت حاصليږی او دننه څرمن خو داسے نده۔

شوافع او حنابله دليل دا وائی ځکه چه: ۱- دا مسترسل په محل د فرض کښے را زرغونه شويده او په نوم دګيره کښے داخل ده، يعنی د لحيه لفظ هغے ته هم شامل دے۔

۲ - **دويم دليل :** مسلم (۱۲۰/۱) کښے حديث د عمرو بن عبسه کښے دی : (ثم اذا

غسل وجهه كما أمره الله الا خرت خطايا وجهه من أطراف لحيته مع الماء)۔

نو ددے نه معنٰو ميږی چه أطراف اللحيه وينځل هم واجب دی، او په دے قول کښے احتياط دے، او اول قول کښے ګنجائش دے۔

تنبيه : دا اختلاف صرف په اوداسه کښے دے، هر چه غسل دجنابت دے نو په هغے کښے د ګيرے وينځل مطلقا واجب دی، يعنے که ګيره هر څنګه مقدار کښے وی وينځی به ئے۔ وجه داده چه په قرآن او احاديثو کښے د جنابت په غسل کښے ډير تاکيد راغلے دے۔

١ - لکه آيت : ﴿ فَاطَّهَّرُوا ﴾ کښے مبالغه فی التطهير راغلے ده۔

٢ - او حديث : (تحت كل شعرة جنابة، فبلوا الشعر وانقوا البشر)، ابو داود، ترمذی، ابن ماجه، بسند فيه مقال، ويؤيده رواية على مرفوعا، وسيأتی فی باب الغسل۔ يعنی د هر ويښته لاندے جنابت دے۔

دويمه مسئله : تخليل اللحيه ده :

اول په دے کښے اختلاف دے چه آيا د ګيرے خلال شته که نه ؟۔

١ - **نو يو قول** دادے چه د ګيرے خلالول نشته، او په دے باره کښے چه څو مره احاديث راغلی دی هغه ټول باطل دی، لکه دا قول د ابن أبی حاتمؒ، احمدؒ او ابو زرعهؒ دے او ابن القيمؒ هم ذکر کړے دے۔

نصب الرايه (١/٢٦) کښے فرمائی :

قال ابن أبی حاتم فی كتاب العلل : سمعت أبی يقول : لا يثبت فی تخليل اللحية حديث، آه۔

علامه ابن القيمؒ په زاد المعاد (١/١٩٠) کښے فرمائی :

وقال أحمد وأبو زرعة: لا يثبت فی تخليل اللحية حديث، آه۔

٢ - **قول ثانی** : د اکثرو علماؤ دے چه په دے باب کښے ډير صحيح احاديث شته دے چه هغه نصب الرايه، تلخيص الحبير، تحفة الأحوذی او نيل الأوطار کښے ذکر دی۔ لکه چه روستو به راشی۔ نو خلال اللحيه په اوداسه کښے شته دے، او دغه نه منونکی علمائے کرام خطا شويدی، هغوئ ته به صحيح حديثونه نه وی رسيدلی، يا ئے تقليدی انداز کښے قول نقل کړيدے۔

حكم د تخليل اللحية :

اوس كوم علماء (جمهور) چه د خلال قائل دي دوئ خپل مينځ كښې مختلف دي په حكم د تخليل اللحيه كښې چه دا په كومه درجه كښې ده ؟

١ - **نو يو قول** : دادے چه تخليل اللحيه واجب دے، اودا قول د اسحق بن راهويهؒ دے، دا فرمائي : (ان تركه ناسيا او متأولاً أجزأه، وان تركه عامداً أعاد) ، يعني كه په هيره يا تاويل سره ئے پريدي نو اودس ئے جائز دے، اوكه قصداً ئے پريدي نو بيا به دوباره اودس كوي (ترمذی : ١/١٣٧).

او علامه مقبليؒ هم ورته واجب وائی، كما قال في المنار (١/٥) : وتخليل اللحية واجب كقبل نباتها الخ.

٢ - د شوافعو او ابو يوسف په نيز سنت دے.

٣ - د احنافو په نيز مستحب دے.

الغرض : د جمهورو په نيز واجب نه دے بلكه مستحب او سنت دے.

قائلينو د **وجوب** دپاره دليل دادے چه د تخليل اللحيه باره كښې ډير احاديث راغلي دي، او په بعضو احاديثو كښې أمر شويدے په تخليل اللحيه باندے لكه په حديث د أنسؓ (حديث الباب) كښې دي (فخلل به لحيته، وقال : هكذا أمرني ربي). او أمر دپاره د وجوب دے. ٣ - دارنګه نبي كريم ﷺ نه په تخليل اللحيه كښې مداومت ثابت دے په احاديثو كښې. نو دا دليل د وجوب دے، لكه چه په حديث د عثمانؓ (كما يأتي متصلا في الكتاب) كښې دي : (ان النبي ﷺ كان يخلل لحيته) اوكان د دوام دپاره دے، اودا صحيح حديث دے لكه چه ترمذيؒ ورته حديث حسن صحيح وئيلی دی .

قائلينو د استحباب او سنيت دپاره دلائل دادي :

تخليل اللحيه ځكه مونږ د استحباب په درجه كښې ګڼرو چه په دے باب كښې څومره حديثونه راغلي دي هغه اګرچه زيات دي، ليكن ضعيف دي. اوكه اومنو چه صحيح دي، اوقابل داستدلال دي (لكه چه دا خبره صحيح ده - كما قال الشوكاني : ١/١٨٥ - نو بيا هم وجوب پرے نه ثابتيږي. ځكه چه په دے رواياتو كښې افعال د نبي كريم ﷺ ذكر

دی، او افعال وجوب نه پیدا کوی نو مستحب شو۔ او هغه روایات نصب الرایه (۲٤/۱) او نیل الأوطار (۱٦٥/۱)، تحفة الأحوذی (۱۳۹/۱)، السیل الجرار (۲۲۳/۱)، تلخیص الحبیر (۱٥۳/۱)، الفتح الربانی (۲۸/۲)، صحیح الجامع (۸٥۷/۲)، کښې ذکر دی۔

۲- او هرچه په بعضې روایاتو کښې دأمر راتلل دی لکه چه په دې حدیث د أنس کښې (هکذا أمرنی ربی) نو دا حدیث اګرچه حسن درجه کښې دې یا صحیح دې کما یأتی، خو لیکن بیا هم په دې سره وجوب نه ثابتیږی، وجه داده چه په دې کښې أمر نبی ﷺ ته شویدې نه امت ته، نو په أمت باندې ددې وجوب نه دې ضروری ځکه دا الفاظ صریح دی په تخصیص کښې په نبی ﷺ پورې، او فرائض خو په احتمال باندې نه ثابتیږی ترڅو چه یقینی دلیل نه وی، کما فی المرعاة (۱۱۱/۲) والنیل (۱۸٦/۱)، او که تخصیص رانشی هم نو دا مجرد فعل د نبی کریم ﷺ او فعل وجوب نه پیدا کوی۔

۳- **بله وجه** او دلیل دا بیانوی: چه د نبی ﷺ نه د اودس حکایت ډیرو صحابوٌ کړیدې لیکن د تخلیل اللحیه متعلق احادیث صرف دڅو صحابوٌ نه نقل دی، که دا واجب وې نو پکار ده چه د هر صحابی په حدیث کښې نقل کیدلې۔

او دا علماء، د عثمانؓ د حدیث نه دا جواب کوی چه (کان یخلل لحیته) کښې کان همیشه دپاره د دوام او استمرار دپاره په احادیثو کښې نه راځی، بلکه په احیانا وقوع باندې هم دلالت کوی۔ لکه علامه نوویؒ په شرح د مسلم کښې ددې تصریح کړیده۔ اوددې ډیر مثالونه په احادیثو کښې موجود دی چه بعضې صحابوٌ دا وئیلی دی (کان رسول الله ﷺ یفعل کذا) او حال دا چه هغه کار د هغه نه یو څو کرت نقل وی۔ دا وجه ده چه حافظ ابن القیمؒ زاد المعاد (۱۹۰/۱) کښې فرمائی:

وکان یخلل لحیته احیانا ولم یکن یواظب علی ذلك۔

یعنې: نبی ﷺ به کله کله ګیره مبارکه خلال کوله، په دې باندې به ئې همیش والې نه کولو۔ دارنګه د ګیرې د خلال په پریخودلو رخصت د ابن عمر او حسن بن علی او بیا نخعی او جماعت د تابعینو نه نقل دې۔ کما فی السنن الکبر للبیهقی (٥٤/۱) لکه چه د ابن عمر روایت کښې دی (ویشبك لحیته اصابعه احیانا ویترك احیانا) (٥٥/۱).

ددې په خلاف علامه مقبلیؒ په المنار (۵۰/۱) کښې لیکي چه : تخلیل اللحیه واجب دې او په احادیثو د باب کښې په بعضې روایاتو کښې تصریح د وجوب ده (هکذا أمرني ربي) نو په باندې عمل کول شي او ددې معارض حدیث نشته، مګر صرف هغه حدیث چه نبي ﷺ یو یو کرت اودس کړیدې او په یو غرفه (چونګ) باندې ئې مخ وینځلې دې، نو په یوه غرفه باندې خو دمخ وینځل اوډ ګیرې خلال دواړه نشي کیدې، مګر - دې وائي - په دې حدیث کښې هیڅ دلیل نشته په نفي دوجوب باندې، وجه داده چه هغه یوه غرفه تامه کامله وه، او په کامله غرفه سره د مخ وینځل اوخلال دواړه ممکن دي، نو دا حدیث په نفي د وجوب کښې صریح نه دې۔

خلاصه : ★ داچه تخلیل اللحیه ضروري ده، په درجه د استحباب یا وجوب کښې، او پرېښودل ئې صحیح نه دي۔ وجه داده چه دا په سنت کښې ثابت ده، لکه ابن ابي شیبه (۱۲/۱) دعمار بن یاسرؓ، ابن عمرؓ، أنسؓ، عليؓ، ابو امامهؓ، عثمانؓ، ابن سیرینؒ او ابراهیمؒ نه تخلیل اللحیه نقل کړیده۔

★ امام ترمذیؒ فرمائي : وقال بهذا أكثر أهل العلم من أصحاب النبي ﷺ ومن بعدهم رأوا تخليل اللحية، وبه يقول الشافعي، وقال أحمد : ان سهى عن التخليل فهو جائز. (ترمذي : ۱۳۷/۱)۔

★ دارنګه ډیر متعدد احادیث په کښې دي چه بعضې دهغې نه دادي :

۱ - یو حدیث دأنسؓ دې (هكذا أمرني ربي) په دې کښې اګرچه ولید بن زوران راوي دې لیکن دا حسن الحدیث دې اودا حدیث په نورو سندونو ثابت دې، وصححه الحاكم (۱۴۹/۱) ووافقه الذهبي كما سيأتي۔

۲ - دویم حدیث : دعثمانؓ دې (کما یأتي في الکتاب) : أن رسول الله ﷺ توضأ فخلل لحيته) رواه الترمذي برقم : ۳۰، وهو صحيح كما سيأتي الكلام عليه۔

۳ - حدیث دعماربن یاسرؓ : قال : رأيت رسول الله ﷺ يخلل لحيته (أخرجه ابن ماجة : ۷۲/۱، رقم : ۴۲۹، والترمذي رقم : ۲۹۔

امام ترمذیؒ ددې حدیث باره کښې فرمائي چه ابن عیینهؒ فرمائي : عبد الكريم بن أبي

المخارق د حسان بن بلال نه دا حديث التخليل نه دے آوريدلے۔ خو ليكن بيا همدغه حديث په بل سند سره ذكر كوى۔ دا حديث په دوارو سندونو امام حاكم النيسابورىؒ په المستدرك (١٤٩/١) كښے صحيح كړيدے۔ دارنګه شيخ البانىؒ ورته په صحيح ابن ماجه رقم (٤٢٩) كښے صحيح وئيلى دى دوجے د كثرتِ شواهدو نه په دے باب كښے۔

٤ – حديث دعائشةؓ دے : (كان رسول الله ﷺ اذا توضأ خلل لحيته بالماء) نبى كريم ﷺ به چه كله اودس كولو نو ګيره مباركه به ئے خلال كوله۔

(أخرجه الحاكم فى المستدرك :١٥٠/١، وصححه، وسكت عنه الذهبى، بلوغ الأمانى : ٢٨/٢)۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائى : واسناده حسن، كذا فى التلخيص : ٨٦/١۔

٥، ٦ – دارنګه حديث دانس بن مالكؓ او ابو أيوب أنصارىؓ دے چه حاكم (١٤٩/١) اونصب الرايه (٢٦/١) كښے ذكر دے، او شيخ البانىؒ په صحيح ابن ماجه (٧٢/١) كښے نقل كړيدے او د شواهدو په وجه باندے صحيح دے۔

٧ – حديث ابن عمر : أخرجه الطبرانى وابن ماجة والبيهقى وصححه ابن السكن بلفظ (كان اذا توضأ عرك عارضيه بعد العرك ثم يشبك لحيته بأصابعه من تحتها) وفى اسناده عبد الواحد وهو مختلف فيه، كذا فى النيل :١٨٥/١۔

ددے نه علاوه نور احاديث هم په نصب الرايه، تلخيص الحبير أونيل الأوطار كښے كتلے شئ۔

نو ددے ګڼړو احاديثو په رڼړا كښے – چه بعضے ډير صحيح دى، او بعضے ګذاره حال دى – دا خبره مخے ته راځى چه تخليل اللحيه مشروع عمل دے، ياخو په درجه د وجوب كښے اويا په درجه د استحباب كښے، عمل پرے پكار دے۔

نو په دے احاديثو ذكر كولو كښے رد راغلو په هغه علماؤ چه هغوئ منكر دى دخلال اللحيه نه، په دے ګمان چه په دے باب كښے هيڅ يو حديث صحيح نشته۔ نودا صحيح روايتونه مونږ د دوئ په رد كښے ذكر كړل۔

تكميل : هركله چه تخليل اللحيه ثابت شو نو اوس به ددے **څه طريقه** وى ؟۔

نو د دے طريقه په احاديثو كښے داسے راغلے ده : چه په لاس كښے به اوبه را واخلى اود

زنې لاندې به ئې کړې اود لاندې نه به خلال دګيرې اوکړې۔

درجة الحديث : رواه ابوداود (۱٤٥) : په دې حديث د انسؓ بن مالك كښې وليد بن زوران راوى دې، حافظ ابن حجرؒ په التقريب كښې فرمائى : لين الحديث دې۔ اودده نه علاوه نور راويان ثقات دى۔ ابن حِبّانؒ دا په ثقاتو كښې ذكر كړيدې۔

شيخ البانىؒ په تعليق د مشكاة المصابيح (۱/۱۲۸) كښې فرمائى : ددې حديث اسناد احتمال د تحسين لرى، ليكن حديث صحيح دې دكثرت طرق اوشواهدو په وجه۔ او په ارواء الغليل : ۱/۱۳۰، كښې فرمائى : ددې حديث بل طريق دې صححها الحاكم : ۱/۱٤٩، ووافقه الذهبى، ومن قبله ابن القطان، وله شواهد كثيرة ذكرت بعضها فى صحيح أبى داود تحت رقم : ۱۳۳، وبها يرتقى الحديث الى درجة الصحة۔

---

۱۹ - وَعَنْ عُثْمَانَ ﷺ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُخَلِّلُ لِحْيَتَهٗ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او جناب عثمان رضى الله عنه نه روايت دې چه نبى كريم ﷺ به خپله ګيره مباركه خلال كوله ۔ (ترمذى، دارمى)۔

تشريح : كَانَ يُخَلِّلُ لِحْيَتَهٗ : يخلل معنىٰ ده : يُدْخِلُ يَدَهٗ فى خِلَلِهَا، اوخِلَلُ د ويښتو كهلاؤ ځايونو ته وائى، دا حديث ترمذى (۳۲)، دارمى (۱/۱۷۸ - ۱۷۹)، ابن ماجه (٤۳۰)، ابن الجارود فى المنتقىٰ، دارقطنى، ابن خزيمه، ابن حِبّان او حاكم روايت كړيدې۔

امام ترمذىؒ فرمائى : حديث حسن صحيح۔ اود امام بخارىؒ نه نقل كوى چه هغه فرمائى : أصح شئ فى هذا الباب حديث عامر بن شقيق عن أبى وائل عن عثمان۔ اوحسن ئې ورته وئيلى دى۔

امام حاكمؒ په المستدرك : ۱/۱٤٩، كښې فرمائى :

اسناد صحيح لا نعلم فيه طعنا بوجه من الوجوه ووافقه الذهبىؒ۔ (يعنى : په هيڅ يوه طريقه كښې په كښې طعن نشته) اوددې دپاره ئې شواهد راوړيدي، د انسؓ، عائشهؓ، علىؓ،

عمارؓ نه ـ

حافظ په التلخيص (۸۵/۱) کښې فرمائي : ددې نور شواهد د أم سلمةؓ، أبي أيوبؓ، أبو أمامهؓ، ابن عمرؓ، جابرؓ، جريرؓ، ابن أبي اوفیٰؓ، ابن عباسؓ، عبد الله بن أبي عکبرةؓ او أبو الدرداءؓ نه په مختلفو سندونو سره نقل شويدي ـ او په هغې ئې بيا کلام کړيدې ـ

دارنګه حافظ په التهذيب (۶۹/۵) کښې ددې حديث تصحيح دابن خزيمهؒ، ابن حِبانؒ نه هم نقل کړيده، دارنګه حافظ زيلعيؒ په نصب الرايه (۲۶/۱) کښې فرمائي : أمثل احاديث تخليل اللحية حديث عثمان ـ

او دغه شان ابن القطانؒ دې حديث ته صحيح وئيلې دې، شيخ البانيؒ په صحيح ابن ماجه (۷۲/۱) کښې فرمائي : صحيح۔

او هرچه دا قول د ابن معينؒ دې چه په دې روايت کښې عامر بن شقيق دې او هغه ضعيف دې، او ابو حاتم وائي : ليس بالقوي۔ نو ددې جواب دادې چه علامه مبارکفوريؒ په تحفه الأحوذي (۴۴/۱) کښې ليکي چه دا حديث صحيح دې او صالح دې د احتجاج دپاره، او هرچه ددې علماؤ تضعيف دې نو دا مجمل دې، سره ددې نه چه د دوئ په خلاف حاکم او ترمذي او امام بخاريؒ ورته حسن او صحيح وئيلې دې، نسائي دده باره کښې فرمائي : ليس به بأس۔ نو د عامر حديث مقبول دې خصوصا چه کله ورسره دغه شواهد کثيره هم ملګرې شي ـ

---

۲۰ – وَعَنْ أَبِيْ حَيَّةَ قَالَ: رَأَيْتُ عَلِيًّا تَوَضَّأَ فَغَسَلَ كَفَّيْهِ حَتّٰى اَنْقَاهُمَا ثُمَّ مَضْمَضَ ثَلٰثًا وَاسْتَنْشَقَ ثَلٰثًا وَغَسَلَ وَجْهَهٗ ثَلٰثًا وَذِرَاعَيْهِ ثَلٰثًا، وَمَسَحَ بِرَأْسِهٖ مَرَّةً ثُمَّ غَسَلَ قَدَمَيْهِ اِلَى الْكَعْبَيْنِ، ثُمَّ قَامَ فَاَخَذَ فَضْلَ طُهُوْرِهٖ فَشَرِبَهٗ، وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ قَالَ : اَحْبَبْتُ اَنْ اُرِيَكُمْ كَيْفَ كَانَ طُهُوْرُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ .

ترجمه : او جناب ابو حيهؒ فرمائي : ما علي رضي الله عنه اوليدلو چه اودس ئې

اوکړو، نو خپل دواړه ورغوی ئے اووینځل تردے پورے چه صفائے کړل، بیا ئے درے ځلے خلے ته اوبه واچولے او درے ځله ئے پوزے ته اوبه واچولے، او درے ځله ئے خپل مخ اووینځلو، او درے ځله لیچے، او یو ځل ئے په سر باندے مسح اوکړه، بیا ئے ترپړکو پورے خپلے دواړه خپے اووینځلے، بیا اودریدلو او د خپل اوداسه نه پاتے شوے اوبه ئے راواخستے او هغه ئے په ولاړه اوڅکلے، بیا ئے اوفرمائیل : ما دا خوښه اوګڼړله چه زه تاسو ته اوښایم چه د رسول الله ﷺ اودس څنګه وو ۔ (ترمذی، نسائی)۔

تعارف : د ابی حیه رحمه الله :

دا د قیس الوداعی الهمدانی الحارثی ځوئے دے، خپل نوم ئے نه دے ذکر، ابو حیه باندے مشهور دے، ابن حبان په ثقاتو کښے ذکر کړیدے، ابن القطانؒ فرمائی : وثقه بعضهم۔ اوده حدیث ته ابن السکنؒ صحیح وئیلی دی، ابن الجارودؒ په الکنیٰ کښے فرمائی : وثقه ابن نمیر۔

تشریح : وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ مَرَّةً : داد جمهورو دلیل دے چه مسح الرأس یو ځل ده، امام شافعیؒ فرمائیلی دی چه تثلیث هم سنت دے، لیکن محاکمه داده چه دا تنوع فی العبادات د قبیلے نه دے، أکثر یو ځل مسح پکار ده، اوکله کله تثلیث هم سنت دے، باقی دلائل مخکښے تیر شوی دی ۔

فَشَرِبَهُ، وَهُوَ قَائِمٌ: ددے حدیث نه په ولاړه څکل ثابتیږی او ددے په شان نور احادیث هم شته نو آیا په لاړه اوبه څکل جواز لری نو د مسئلے تفصیل داسے دے چه پدے باره کښے دوه قسمه احادیث راغلی دی چه د بعضو نه اباحت معلومیږی او د بعضو نه حرمت لکه مسلم (۲/۱۷۳) ترمذی (۱۹۵۷) کښے دی انس فرمائی : ان النبی ﷺ زجر عن الشرب قائما وفی روایة لمسلم نهی ان یشرب الرجل قائما ۔

۲- عن ابی هریرة قال : قال : رسول الله ﷺ : لایشربن احد منکم قائما فمن نسی فلیستقئ مسلم (۱/۱۷۲)

۳- طحاوی مشکل الآثار (۳/۱۹) کښے د ابو هریره روایت ذکر کړیدے : فرمائی رسول الله ﷺ یو سړے اولیدو چه په ولاړه ئے اوبه څکلے ۔ ورته ئے اوفرمائیل : دا اولتهئ کړه !

هغه اووئيل ولے ؟ نبي ﷺ ورته اوفرمائيل : آيا ستا دا خوښه ده چه پيشو تاسره څکل اوکړه ؟ هغه اووئيل : نه ! نبي ﷺ ورته اوفرمائيل : قد شرب معك الشيطان) يعنى شيطان تاسره څکل اوکړه ـ واخرجه احمد (٧٩٩/٣) انظر الصحيحة رقم (١٧٥ – ١٧٦)ـ

٤– د ابو هريره مرفوعا روايت كښے دى : لو يعلم الذى يشرب وهو قائم ما فى بطنه لاستقاء . اخرجه احمد (٧٧٩٥ – ٧٧٩٦) والطحاوى (١٨/٣) يعنى كوم سړے چه په ولاړه اوبه څكى كه هغه ته پته اولګى چه دده خيټه كښے څه دى ؟ نو خامخا به هغه قئ (اولټئ) كړى ـ

بل طرفته د جواز روايتونه هم شته لكه :

١– ابوداود رقم (٣٧١٨) كښے د نزال بن سبره روايت دے چه على رضى الله عنه اوبه را اوغوښتلے او په ولاړه ئے اوڅكلے بيائے اوفرمائيل : ان رجالا يكره احدهم ان يفعل هذا وقد رأيت رسول الله ﷺ يفعل مثل ما رأيتمونى أفعله ـ يعنى بعض خلق دا كار بد ګنړى خو ما رسول الله ﷺ پدے كار ليدلے دے كوم چه تاسو اوليدلو ـ واخرجه البخارى بمعناه ـ

٢– ابن عمر : فرمائى : كنا نأكل على عهد رسول الله ﷺ ونحن نمشى ونشرب ونحن قيام . رواه الترمذى رقم (١٩٥٩) . يعنى مونږ به د نبى ﷺ په زمانه كښے په لاره په روانه خوراك كولو او په لاړه به مو اوبه څكلے ـ

٣– د كبشه رضى الله عنها نه روايت دے چه رسول الله ددے كور ته ورغلو او هلته يوه مشكيزه زوړنده وه نو رسول الله ﷺ په ولاړه اوڅكلے نو هغے د هغه مشكيزے خوله پريكړه چه د نبى ﷺ د خولے د ځائے نه بركت واخلى ـ رواه ابن ماجه رقم (٣٤٢٣) والترمذى (١٩٧١)ـ

٤– د عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده نه روايت دے قال : رأيت رسول الله ﷺ يشرب قائما وقاعدا) رواه الترمذى رقم (١٩٦١) واسانيدها صحيحة ـ يعنى ما رسول الله ﷺ) ليدلے دے چه په ولاړه او ناسته (دواړه حالتونو كښے) ئے اوبه څكلى دى ـ

نو پدے احاديثو كښے ١– بعضے علماؤ داسے **تطبيق** كړيدے چه احاديث د اباحت منسوخ دى لكه دا خبره ابن الحزم په المحلى (٢٣٠/٦) كښے كړيده ليكن صحيح نده په

دليله نسخ ته ضرورت نشته۔

۲- پدے کښې جمهور علماء دا وائي چه احاديث نهي محمول دي په **كراهت** تنزيهي باندے يعني په ولاړه اوبه څکل د مستحب خلاف دي۔ او احاديث د رخصت محمول دي په بيان للجواز باندے۔

ليکن شيخ الباني په سلسلة الاحاديث الصحيحة (۲۸۹/۱) کښې فرمائي چه د نهي په احاديثو کښې چه کومه نهي ده نو ظاهر دا ده چه دا تحريم دپاره ده بغير د عذر نه په ولاړه اوبه څکل حرام دي۔ وجه دا ده چه پدے احاديثو کښې لفظ د (زجر) راغلے دے دارنګه قئ کولو امر، او د شيطان د ملګرتيا وعيدو نه راغلي دي او په شريعت کښې دا په ترک د مستحب باندے نه راځي بلکه سخت نفرت مقصود دے۔

۳- بعضے علماء وائي چه په ولاړه اوبه څکل خاص دي په هغه اوبو پورے چه د اوداسه نه پاتے شوي وي، ځکه دے کښې برکت راځي، لکه دا حديث (الباب) دليل دے، او دارنګه د زمزم اوبو باره کښې صرف حديث دے، او باقي په ولاړه اوبه څکلو نه منع راغلے ده۔ ليکن صحيح خبره داده چه په احاديثو کښې په نورو ځايونو کښې هم په ولاړه اوبه څکل راغلي دي۔

يا دا چه کومو احاديثو کښې چه په ولاړه اوبه څکل راغلي دي هغه به محمول وي په ضرورت او عذر باندے۔ خاصکر نبي کريم ﷺ به چه د مشك نه اوبه څکلے نو ولاړ به وو چه دے ته کيناستل ګران دي چه توله مشکيزه راکوزه کړي يا به ځائے تنګ وو۔

نو اوس هم که ديو انسان ضرورت وي مثلا ځائے د کيناستو نه وي چه چکړے وي يا ګنړه وي نو په ولاړه څکل به ورله ان شاء الله چه جائز وي۔

نو **راجح** دا ده چه په ولاړه اوبه څکل نه دي په کار ځکه چه احاديث د نهي قولي او محرم دي او دا اصولي مسلمه قاعده ده چه کله د قولي او فعلي حديث تعارض راشي يا د محرم او مبيح تعارض راشي نو ترجيح قولي حديث لره وي په فعلي باندے ځکه چه فعلي کښې احتمال د تخصيص او ضرورت کيدے شي او دارنګه ترجيح محرم لره وي په مبيح باندے۔ نو تقوی او احتياط پدے کښې دے چه انسان حتی الوسع په ولاړه باندے

اوبه اونه څکې والله تعالى اعلم۔

فائده : دے حدیث نه بل سنت د اوداسه معلوم شو چه د اوداسه نه پاتے شوے اوبه څکل پکار دی، دے کښے ډیر خیر دے۔

درجة الحديث : رواه الدارمی (۱۷۸/۱) من طریق خالد بن علقمة الهمدانی : حدثنی عبد خیر، واخرجه احمد والنسائی (۶۷/۱) ایضا صححه عبد الحق فی احکامه الکبری (۴۸۶/۱) والألبانی فی صحیح الترمذی، قال الألبانی فی تعلیق المشکاة : قلت : وهذا سند صحیح، و کذا فی تعلیق المشکاة بتحقیق رمضان بن احمد۔

---

۲۱ – وَعَنْ عَبْدِ خَيْرٍ قَالَ : نَحْنُ جُلُوْسٌ نَنْظُرُ اِلٰى عَلِيٍّ حِيْنَ تَوَضَّأَ فَاَدْخَلَ يَدَهُ الْيُمْنٰى فَمَلَأَ فَمَهُ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَنَثَرَ بِيَدِهِ الْيُسْرٰى فَعَلَ هٰذَا ثَلٰثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قَالَ : مَنْ سَرَّهُ اَنْ يَنْظُرَ اِلٰى طُهُوْرِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَهٰذَا طُهُوْرُهُ . رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ .

ترجمه : او عبد خیرؒ فرمائی : مونږ ناست وو د جناب علی رضی الله عنه اودس ته مو کتل، هغه د لوښی نه ښی لاس سره اوبه واخستے او په ډکه خله ئے خله کنګال کړه او پوزه کښے ئے اوبه واچولے او ګس لاس سره ئے پوزه صافه کړه، دغسے ئے درے ځله اوکړل، بیا ئے اوفرمائیل : چا لره چه دا خبره خوشحالوی چه د رسول الله ﷺ اودس ته اوګوری، نو دا دَ هغه اودس دے۔(دارمی)۔

تعارف : د عبد خیر رضی الله عنه :

عبد خیر بن یزید الهمدانی أبو عماره الکوفی، د نبی کریم ﷺ زمانه ئے لاندے کړیده لیکن نبی کریم ﷺ سره ئے ملاقات نه دے شوے، او د علیؓ سره ملګرے پاتے شویدے، ثقه مامون شخص دے، د کوفے اوسیدونکے دے۔ یو سل شل (۱۲۰) کاله عمر ئے وو۔

تشریح : فَهٰذَا طُهُوْرُهُ : دلته درے کارونو ته اودس وئیلے شویدے، دا د راوی اختصار دے، ځکه چه باقی اودس معلوم وو، دلته صرف د مضمضے او استنشاق او استنثار کیفیت بیانول مقصود وو، په دے وجه ئے په دے باندے اکتفاء اوکړه، او ټول روایت په

تلخیص الحبیر (۲۸/۱) کښې ذکر دے۔

درجة الحدیث : اخرجه الدامی (۱۷۸/۱) والنسائی (۶۷/۱) واسناده صحیح.
ولحدیث علی فی صفة الوضوء طرق صحیحة عنه، عند ابی داود والترمذی، جمعها الحافظ فی التلخیص (۸۰/۱) باب سنن الوضوء، فالحدیث سنده صحیح۔

---

۲۲ - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ رضي الله عنه قَالَ : رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدٍ فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلٰثًا . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او جناب عبد الله بن زید رضی الله عنه فرمائی : ما رسول الله ﷺ اولیدلو چه خلے او پوزے ته ئے د یو چونګ نه اوبه واچولے، دا کارئے درے ځله اوکړو۔

ددے عبد الله نه مراد عبد الله بن زید بن عاصم المازنی دے، نه عبد الله بن عبد ربه۔

تشریح : مَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدٍ : دا حدیث صریح دلیل دے دجمهورو دپاره چه جمع بین المضمضه والاستنشاق من کف واحد به کوی، لکه چه مصنف دا حدیث په فصل اول کښې ذکر کړیدے او اختلاف هم تیر شویدے ۔ کف : بعضے نسخو کښې کف واحده په تاء سره دے، خو هندوستانئ نسخه کښې بدون التاء دے، او دواړه جائز دی، ځکه چه کف مؤنث سماعی جائز التانیث دے۔

درجة الحدیث : رواه ابوداود والترمذی وسنده صحیح کما تقدم باتم مما ههنا فی روایة الشیخین فی اول الفصل الاول رقم (۳)۔

---

۲۳ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ مَسَحَ بِرَأْسِهِ وَأُذُنَيْهِ بَاطِنَهُمَا بِالسَّبَّاحَتَيْنِ وَظَاهِرَهُمَا بِإِبْهَامَيْهِ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه : او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : نبی کریم ﷺ په خپل سر او دواړو غوږونو باندے مسح اوکړه، او غوږونو کښې دننه مسح ئے د خپل شهادت ګوتو سره او پورته ئے قتهو ګوتو سره اوکړله ۔ (نسائی)۔

تشريح : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ مَسَحَ بِرَأْسِهِ وَأُذُنَيْهِ : دلته دوه مسئلې دي :

۱- يو دا چه غوږونو دپاره مسح ده که غسل (وينځل)۔

نو په دې کښې اختلاف دے : ۱ - دامام زهريؒ اوداؤد ظاهريؒ مذهب دادے چه غوږونو دپاره غسل (وينځل) دي د مخ سره، اودا دواړه د مخ نه حساب دي۔ دا قول ډير ضعيف دے، ظاهر دليل ئې نشته۔ مګر وائي چه الاذنان من الرأس والا احاديث ضعيف دي۔ ليکن دا خبره غلطه ده لکه چه روستو به راشي ان شاء الله۔

۲ - قول ثاني : دادے چه مسح مع الرأس او غسل مع الوجه دے۔ يعني دغوږونو مخامخ طرف به دمخ سره وينځي او شا طرف به ئې د سر سره مسح کوي۔ اودا قول دحسن بن صالحؒ او شعبيؒ دے۔

ددې قول خاوندانو دپاره دليل دادے چه : امام طحاويؒ (۲۸/۱) په خپل سند سره د عليؓ نه نقل کړيدي چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ د اوداسه بيان دے۔ دارنګه امام ابوداود رقم (۱۱۷) باب حکم الأذنين، او مسند احمد کښې روايت شويدے، وکذا في المنتقى بشرح نيل الأوطار (۱۸۷/۱) چه په هغې کښې داسې الفاظ دي : (فأخذ حفنة من ماء بيديه جميعا، فضرب بهما وجهه ثم الثانية مثل ذلك، ثم الثالثة، ثم ألقم ابهاميه ما أقبل من أذنيه، ثم أخذ كفا من ماء بيده اليمنىٰ فصبها على ناصيته، ثم أرسلها تسيل على وجهه، ثم غسل يده اليمنىٰ الى المرفق ثلاثا، واليسرىٰ مثل ذلك، ثم مسح برأسه وظهور أذنيه)۔

ابن تيميةؒ په المنتقىٰ (۱۸۷/۱) کښې فرمائي : فيه حجة لمن رأى ما أقبل من الأذنين من الوجه، انتهى، وكذا في تحفة الأحوذي (۴۸/۱)۔

ترجمه : علي رضي الله عنه يوه لپه راواخسته په لاسونو کښې اومخ ته ئې واچوله، دغه شان دويم اودريم ځل ئې اوکړل، بيائې دغوږونو مخامخ طرف کښې غټې ګوتې ورکړې، بيائې په ښي لاس کښې اوبه راواخستې او په تندي ئې واړولې، او دغسې ئې پريخودلې چه په مخ روانې وي، بيائې ښي لاس تر څنګلو پورې اووينځلو دريې ځله، اودغه شان ګس لاس اوبيائې په سر اود غوږونو په ظاهر طرف باندې مسح اوکړه۔

نو په دې حديث کښې عليؓ مسح کړيده په غوږونو باندې دسر سره او وينځلي ئې دي

دمخ سره.

جواب : امام منذريؒ فرمائی : په دے حدیث کښے مقال دے، امام ترمذیؒ فرمائی : ما دمحمد بن اسماعیل البخاریؒ نه تپوس اوکړو نو هغه دا حدیث ضعیف کړو، اودائے اووئیل : چه زه نه پو هیږم چه داڅه دی ؟ تحفة الأحوذی : ١/٤٨ ـ نیل الاوطار (١/١٨٧).

او هرچه دلیل د قول اول دے نو هغه حدیث د عائشةؓ دے په سجود القرآن کښے چه هغے کښے دا الفاظ دی : (سجد وجهی للذی خلقه وشقَّ سمعه وبصره الخ)، رواه أصحاب السنن – نو دا حدیث دلیل دے په دے خبره چه غوږونه د مخ نه حساب دی. ځکه چه (سَمْعَهُ) کښے ضمیر وجه ته راجع دے، یعنے هغه الله ته مے سجده اوکړه چه غوږونه د مخ ئے څیرلی دی.

دارنګه دا حدیث دعائشةؓ او حدیث د (الأذنان من الرأس) د دویم قول والا دلیل هم دے چه په اول حدیث (د عائشه) کښے غوږونه د مخ نه حساب شوی دی، او په حدیث د (الأذنان من الرأس) کښے غوږونه د سر نه شمارلے شوی دی، نو معلومیږی چه مخامخ غوږونه به د مخ سره وینځلے شی، او شاطرفونه به ئے د سر سره مسح کولے شی.

لیکن ددے نه **جواب** دادے چه دا حدیث دعائشةؓ نص او صریح نه دے په دے کښے چه غوږونه به د مخ سره وینځلے شی. داوجه ده چه علامه شیخ مبارکفوریؒ په التحفه (١/٤٩) کښے فرمائي : په دے باره کښے صحیح صریح حدیث نه دے ثابت. ٢ – دارنګه د نبی کریم ﷺ نه غسل الأذنین نه دے ثابت، بلکه دهغه نه صرف مسح الأذنین ثابت ده.

اودلیل په دے باندے چه (الأذنان) د سرنه حساب دی، حدیث د عبد الله الصنابحی دے أخرجه النسائی رقم (١٠٠) وابن ماجه رقم (٢٨٢)، ، وقد مر فی اول الفصل الثالث من كتاب الطهارة، وفيه : (فاذا مسح برأسه خرجت الخطايا من رأسه حتى تخرج من أذنيه). وسنده صحيح.

علامه ابن تیمیةؒ په المنتقیٰ (١/١٨٦) کښے فرمائی : چه (تخرج من أذنيه) دلیل دے په دے چه غوږونه د سر نه حساب دی، اود رأس په مسمیٰ کښے داخل دی.

د اول حدیث (عائشه) نه بل جواب دادے چه دغه حدیث ظاهر دے په دے کښے چه

غوږونه د مخ نه دی، او د مسح خبره په کښې نشته، او بل طرفته احاديث نص دی په دې چه غوږونه به د سر سره مسح کولے شی۔ او کله چه د نص او ظاهر تعارض راشی نو ترجيح نص لره وی، نه ظاهر لره۔ بله وجه داده چه غوږونه د مخ سره نزدې دی، ځکه ئے ضمير (سمعه) مخ ته راجع کړيدے۔

۳ - **قول ثالث** : دأئمه اربعه وغيرهم دے، امام ترمذیؒ فرمائی : دا قول د سفيان ثوریؒ، ابن المبارکؒ، احمدؒ او اسحق بن راهويهؒ دے چه د غوږونو وظيفه صرف مسح ده۔ او په دې باره کښې بے شماره دلائل او احاديث دی، چه بعضې د هغې نه به روستو راشی۔

المسألة الثانية:

بيا دا جمهور علماء خپل مينځ کښې مختلف دی چه هر کله د غوږونو دپاره مسح ثابت ده، نو ددې دپاره به نوې مستقلې اوبه راخلی او که د سر د مسحې نه چه کومې اوبه پاتې وی په لاسونو پورې، په هغې به ئې مسح کوی؟۔

نو په دې کښې دوه قوله دی :

۱ - **قول اول** : د ابن عمرؓ، امام شافعیؒ، احمدؒ، مالکؒ او ابو ثورؒ رائے داده چه دې دپاره به مستقلې اوبه راخلی او جدا اوبه راخستل سنت دی۔ (كذا في المغنى : ۱/ ۱٤٥)۔

۲ - **قول ثانی** : ددې په خلاف ابو حنيفهؒ، ثوریؒ، احمدؒ، ابن المبارکؒ او يو روايت د مالکؒ هم دے، او د نخعیؒ او اسحقؒ قول دے دوئ فرمائی چه : د سر په اوبو باندې به دواړه غوږونه مسح کوی، جدا اوبه راخستو ته ضرورت نشته۔ او دا قول علامه ابن عبد البرؒ د يو لوئی جماعت د صحابوؓ او تابعينوؒ نه نقل کړيدے، كما قال المباركفوریؒ في التحفة (۱/ ٤۹) او همدا راجح قول دے ددليل په اعتبار سره (ورجحه الصنعانى فى سبل السلام : ۱/ ۷۰)۔

دلائل الفريقين ----د اول قول والا دلائل :

۱ - حديث د عبد الله بن زيدؓ دے چه حاکم او بيهقی روايت کړيدے ونقله الحافظ فى بلوغ المرام بشرح توضيح الأحكام (۱/ ۱۸۰)۔ د حرملة عن ابن وهب نه چه په هغې کښې عبد الله بن زيد د نبی کريم ﷺ د اوداسه طريقه ښائی هغې کښې دا الفاظ دی :

انه يأخذ لأذنيه ماء غير الماء الذى أخذه لرأسه۔

يعنې د غوږونو مسح ئې د سر د مسح نه پاتې شوو اوبو نه علاوه نورو اوبو سره اوکړه۔

امام نوويؒ په المجموع (۴۱۲/۱) کښې دا حديث ذکر کړيدے او وئيلې ئې دى چه هذا حديث حسن رواه البيهقى وقال اسناده صحيح او په (۴۱۴/۱) کښې وائى وهو حديث صحيح كما سبق بيانه قريبا ـ بيا وائى : دا حديث صريح دليل دے پدے چه غوږونه د سر نه ندى ځکه که دا د سر نه وے نو جدا اوبه به ئې ورله نه راخستے لکه د باقى اجزاؤ د سر پشان او دا صريح دے په نوے اوبه راخستو کښې او پدے کښې رد دے په هغه چا چه دا وائى چه غوږونه د مخ نه حساب دى۔

حافظ په تلخيص الحبير (۸۹/۱) کښې فرمائى : دا روايت حاکم نقل کړيدے (باسناد ظاهره الصحة) ، اوبيهقى د عثمان الدارمى عن الهيثم بن خارجه عن ابن وهب په طريقه نقل کړيدے چه د هغې الفاظ دادى : فأخذ لأذنيه ماء خلاف الماء الذى أخذ لرأسه. وقال هذا اسناد صحيح، انتهى . وكذا فى المستدرك للحاكم : ۱۵۱/۱، وصححه الحاكم ووافقه الذهبى.

ليکن په بلوغ المرام بشرح توضيح الأحكام (۱۸۰/۱) کښې فرمائى : أخرجه البيهقى وهو عند مسلم من هذا الوجه بلفظ ومسح برأسه بماء غير فضل يديه وهو المحفوظ۔

يعنې په دے حديث کښې چه مستقلې اوبه راخستل شويدى نو داد سر د مسح دپاره دى، اوهمدا قوى سند سره ثابت دے، لکه دا امام ترمذيؒ او ابن حبانؒ هم په همدے الفاظو نقل کړيدے۔ او هرچه مسح دأذنين دپاره جدا اوبه راخستل دى، نودا غير محفوظ حديث دے، يعنې شاذ دے، او حکم د شاذ رد کول دى، او حکم د محفوظ قبلول دى۔ (توضيح الأحكام : ۱۸۰/۱)۔ اوصحيح سند کښې د (أذنان) ذکر نشته، لکه دا سند ابن دقيق العيدؒ په (امام کتاب) کښې هم په مسح د سر کښې ذکر کړيدے په هغې کښې هم مسح الأذنين نشته۔ دغه شان صحيح ابن حبان کښې هم (ومسح رأسه بماء غير فضل يديه) الفاظ دى، اود اذنان ذکر په کښې نشته۔ كذا فى التلخيص : ۸۹/۱۔ دا دليل دے چه د اذنين ذکر کول شاذ دى۔

شيخ البانيؒ د بيهقيؒ ددې روايت شذوذ په السلسه الضعيفه رقم (۹۹۵) کښې داسې بيانوي : چه اصل روايت کښې د اذنين ذکر نشته بلکه (مسح برأسه بماء غير فضل يديه) الفاظ دي، کوم چه مسلم کښې هم راغلي دي خو ابن وهب او هيثم بن خارجه او ابن مقلاص راويانو باندې اختلاف راغلو پدې حديث کښې هغوی اذنين ذکر کړيدي او د دوی په خلاف ابن معروف او ابن سعيد الايلي او ابو الطاهر راويان اذنين نه ذکر کوي۔

او ددې روستنو راويانو درې نور راويان متابعين هم موجود دي ١ - حجاج بن ابراهيم الازرق ٢ - ابن اخي ابن وهب اسمه احمد بن عبد الرحمن بن وهب ٣ - وسريج بن النعمان نو دوی شپږ شو نو شپږ راويان اذنين نه نقل کوي او درې ئې نقل کوي۔ نو دا دليل دې په شذوذ ددغه روايت باندې او ددې شپږ راويانو بل تائيد هم موجود دې عبد الله بن لهيعة عن حبان بن واسع مثل رواية الستة اخرجه الدارمي (١/١٨٠) واحمد (٤/٣٩-٤٢) او ددې شذوذ ته حافظ ابن حجر اشاره کړيده په بلوغ المرام کښې چه دا روايت بيهقي ذکر کړيدې وهو غير محفوظ اي شاذ۔

٢ - **دليل** : حديث د عبد الله بن عمرؓ نه نقل دې (انه كان اذا توضأ يأخذ الماء باصبعيه لأذنيه) ابن عمرؓ چه به کله اودس کولو نو په دوه ګوتو به ئې د غوږونو دپاره اوبه راخستله۔

٣ - **دريم دليل** : حديث د أنسؓ دې چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ د اوداسه حکايت دې په هغې کښې دا الفاظ دي : (فأخذ ماء جديدا لصماخه فمسح صماخه) رواه الطبراني في الصغير : ٦٤، وهكذا في مجمع الزوائد : ١/٢٣٥، ونصب الراية : ١/٢٢۔

جواب : ددې په سند کښې دوه مجهول راويان دي، يو عمر بن أبان، دويم : جعفر بن حميد شيخ الطبراني، دواړو باره کښې حافظ ذهبيؒ په ميزان الاعتدال : ١/٤٠٥ : کښې ليکي : وعمر بن أبان لا يدرى من هو ؟ والحديث انما دلنا على ضعفه۔

او په (٣/١٨١) کښې فرمائي : (عمر بن أبان عن أنس في الوضوء لايعرف، وعنه شيخ الطبراني جعفر بن حميد فمن جعفر)۔ يعنې دواړه مجهول دي۔

نو ثابته شوه چه دا حديث ضعيف دې، اګرچه ابن حبان عمر بن أبان په ثقاتو کښې ذکر

کړیدي، لیکن دا قاعده ده دأصحاب المصطلح چه دوئ فرمائي : ابن حبانؒ مجهول راویان هم ثقه ګڼړي، نو په مجهول راویانو کښې دهغه توثیق مقبول نه دے۔ اذا لم یوافقه غیره۔

۲ – دویم **جواب** دا هم کوی : که اومنو چه دا حدیث ثابت دے نو بیا هم دا محمول دے په هغه صورت باندے چه کله په ګوتو کښې د سر د مسح نه روستو هیڅ لوندوالے باقي پاتې نه وي، نو بیا مستقل اوبه راخستل مشروع او سنت عمل دے۔ لکه دا خبره علامه صنعانیؒ فی سبل السلام (۷۰/۱) کښې کړیده۔ لکه دے فرمائي :

وتاویل حدیث : أنه أخذ لهما ماء خلاف الذی مسح به رأسه : أقرب ما یقال فیه : انه لم یبق فی یده بلة تکفی لمسح الأذنین، فأخذ لهما ماء جدیدا، انتهیٰ۔

او دغه شان شیخ البانی په تردید د امام نووی کښې وائي : پدے حدیث د بیهقی کښې د شوافعو هیڅ حجت نشته ځکه غایه ما فی الباب پدے حدیث کښې صرف مشروعیت او اجازه راځي چه جدید اوبه راخستل د غوږونو دپاره هم جائز دي لکه څنګه چه د سر په اوبو سره مسح کول جائز دي نو دا منافي ندے د الاذنان من الرأس حدیث سره۔ یعنی په (الاذنان من الرأس) حدیث کښې دا خبره راغله چه غوږونو مسح کولو دپاره د سر د مسح نه پاتے شوے اوبه کافي دي او پدے حدیث کښې دا راغلل چه نوے اوبه راخستل هم جائز دي۔ نو دواړو روایتونو کښې هیڅ تعارض نشته بلکه دواړه د یوبل موافق دي۔ السلسله الضعیفه (۹۹۵) بیا وائي : دا تطبیق هله دے چه کله مونږ اومنو چه حدیث د عبد الله بن زید (بیهقی روایت) ثابت دے لیکن دا ثابت ندے۔ وقد تقدم شذوذه۔

٤ – **دلیل** قیاس دے : چه غوږ مستقل اندام دے لهذا په مستقلو اوبو سره ئے مسح کول ضروري دي۔

جواب دادے چه دا قیاس ستاسو په مقابله د نص کښې دے ځکه چه مسح د أذنین دا د سر تابع ده، اودا په صحیح احادیثو سره ثابت ده، نو ددے نه پس قیاس کول داد نص سره مقابله ده، چه هغه نامنظوره اومردود ده۔

دلائل القول الثانی :

اول دليل : حديث الباب، حديث د ابن عباسؓ دے چه نبی کریم ﷺ (مسح برأسه وأذنيه باطنهما بالسباحتين، وظاهرهما بابهاميه) رواه النسائی وابن ماجة والحاكم والبيهقی والترمذی، بالفاظ متقاربة وقال الترمذی : حديث ابن عباس حيث حسن صحيح. وقال الحافظ فی التلخيص ص : ٩٠، رواه ابن حبان فی صحيحه وصححه ابن خزيمة وابن مندة ـ

شيخ البانیؒ په ارواء الغليل : ١٢٩/١، رقم : ٩٠، كښے فرمائی : صحيح، أخرجه الترمذی (١٠/١) والنسائی (٢٩/١) وابن ماجه رقم (٤٣٩) والبيهقی (٦٦/١) من طريق محمد بن عجلان عن زيد بن أسلم عن عطاء بن يسار عن ابن عباس.

قلت : وسنده حسن، لأن فی ابن عجلان ضعفا يسيرا، لكنه قد توبع فيرتقی الحديث الی درجة الصحة، فقد أخرجه ابوداود رقم (١٢٦) من سننه والحاكم (١٤٧/١) من طريق، انتهیٰ ـ وصححه ابن خزيمة وابن مندة كذا فی النيل (٢٠١/١)ـ

نودا حديث حسن دے ليكن د توابعو په وجه درجے د صحت ته ختلے دے، نوبس صحيح حديث دےـ

او په دے كښے نبی کریم ﷺ په سر اوغوږونو دواړو باندے په يو اوبو سره مسح كړيده، اود مستقل اوبو راخستلو ذكر نشته، لكه چه په عام احاديثو كښے كښے دا ذكرنشتهـ

٢ - دليل : حديث د ربيع بنت معوّذؓ (لكه چه كتاب كښے متصل راروان دے) :

انها رأت النبی ﷺ يتوضأ قالت : فمسح رأسه ما أقبل منه وما أدبر وصدغيه وأذنيه مرة واحدة وفی رواية : أنه توضأ فأدخل أصبعيه فی جحری أذنيه). رواه ابوداود. وروی الترمذی الرواية الأولی (١٠/١)، واحمد وابن ماجة الرواية الثانيةـ

يعنے : نبی ﷺ په سر مسح اوكړه اوپه غوږونو باندے اونوے اوبه په كښے نه دی راخستلے شویـ

امام صنعانیؒ په سبل السلام (٧٠/١) كښے ليكی : چه مسح رأسه وأذنيه مرة واحدة) دليل دے چه ماء جديد نه دی راخستل شوی ځكه كه د غوږونو دپاره ماء جديد را واخلی نو په دے باندے دا نه صادقيږی چه (انه مسح رأسه وأذنيه مرة واحدة) ځكه دا خو دوه ځله مسح شوه، يو په سر او بل په غوږونو۔ او په دے كښے دا احتمال بيانول چه ددے نه مراد دا

دے چه مسح ئے مکرر نه ده کړے او ماء جديد ئے راخستے دی دغوږونو دپاره، نودا احتمال بعيد دے ظاهر لفظ ددے ته اضا نه کوی ۔ انتهىٰ۔

دغه شان الفاظ یا دیته قریب الفاظ حاکم په مستدرك کښے په روایت د ربیع ؓ کښے ذکر کړیدی۔ په دے حدیث کښے علامه شوکانی ؒ په نیل الأوطار (۱۹٤/۱) باب مسح الرأس کله کښے لیکی : چه ددے روایت دپاره نور روایات هم شته چه هغه احمد، ابن ماجه او بیهقی ذکر کړیدی، لیکن ددے ټولو مدار په عبد الله بن محمد بن عقیل باندے دے، اوده باره کښے مشهور مقال دے،خصوصا کله چه دا عنعنه هم اوکړی۔ او په دے ټولو روایاتو کښے ئے عنعنه کړیده۔ انتهىٰ۔

لیکن دا حدیث حسن دے۔ امام ترمذی ؒ فرمائی : هذا حدیث حسن صحیح۔ ابوداود پرے سکوت کړیدے۔ اوشیخ البانی ؒ په صحیح ابی داود (۲۷/۱) رقم : (۱۱۸) کښے فرمائی : دا حدیث حسن دے۔

او عبد الله بن محمد بن عقیل اګرچه مدلس راوی دے لکه حافظ ابن حجر عسقلانی ؒ په طبقات المدلسین کښے ذکر کړیدے، مګر دده په حدیث باندے امام أحمد ؒ، اسحق ؒ او امام حمیدی ؒ احتجاج کړے، امام بخاری ؒ ورته مقارب الحدیث وئیلے دے (کما ذکره الترمذی فی باب : مفتاح الصلاة الطهور)۔

دے وجے نه امام ذهبی ؒ فرمائی : حدیثه فی مرتبة الحسن وقال فی التلخیص علی المستدرك (۳۸/۱) : عبد الله بن عقیل مستقیم الحدیث ۔

اودا قول صاحب المرعاة (۱۱٤/۲) هم غوره کړیدے چه دا حدیث ربیع ؓ په مرتبه د حسن کښے دے۔

۳ - **دلیل** : حدیث د مقدام بن معدیکرب ؓ دے چه هغے کښے دا الفاظ دی : (ثم مسح برأسه وأذنیه ظاهرهما وباطنهما) رواه ابوداود رقم (۱۲۳) والطحاوی (۲۸/۱) قال الحافظ فی التلخیص (۹۰/۱) : واسناده حسن، نیل الاوطار (۲۰/۱)۔ دے کښے هم د سر اود غوږونو دواړو طرفونو مسح شویده۔

شیخ البانی ؒ په صحیح ابی داود (۲٦/۱) کښے فرمائی : واسناده صحیح۔

٤ – حدیث د عثمان بن عبد الرحمن التیمیؒ دے چه دا فرمائی : د ابن أبی ملیکةؒ نه تپوس اوشو د اوداسه په باره کښې، نو هغه جواب ورکړو : چه ما عثمان بن عفانؓ اولیدو چه هغه نه هم د اوداسه په باره کښې تپوس شوے وو، او هغه ورته د نبی ﷺ د اوداسه حکایت اوکړو، په هغې کښې دا الفاظ دی : (فمسح برأسه وأذنیه فغسل بطونهما وظهورهما مرة واحدة ... الحدیث. ثم قال : أین السائلون عن الوضوء ؟ هکذا رأیت رسول الله ﷺ یتوضأ). أخرجه ابوداود رقم (۲۳) واحمد والحاکم (۱/۱۵۲) والدارقطنی (۱/۱۰) کذا فی النیل (۱/۲۰۲).

دے روایت ته شیخ البانیؒ په صحیح ابی داود (۱/۲۳) کښې حسن صحیح وئیلی دی.

۵، ٦ – حدیثونه د حسن بصریؒ عن أنس بن مالكؓ دی. وفیه : (ومسح رأسه وأذنیه) او حدیث د براء بن عازبؓ کښې دی (ومسح برأسه وأذنیه ظاهرهما وباطنهما) . دا دواړه روایتونه نصب الرایه (۱/۱٤) کښې دی .

۷ – مخکښې حدیث د عبد الله الصنابحی په اول د کتاب الطهارة کښې تیر شویدے چه (فاذا مسح برأسه خرجت الخطایا من رأسه حتی تخرج من أذنیه). رواه النسائی : ۱/۲۹. ددے نه معلومیږی چه أذنین د سر تابع دی. کما مرّ.

۸ – حدیث د أبی أمامةؓ دے، کما فی صحیح سنن الترمذی (۱/۱٤، رقم : ۳۷) وصحیح سنن ابن ماجة رقم : (٤٤٤) : الأذنان من الرأس.

علامه مناوی فیض القدیر کښې فرمائی : الاذنان من الرأس لا من الوجه ولا مستقلتان) یعنی غوږونه د سر په حکم کښې دی د مخ نه هم حساب ندی او مستقل هم ندی یعنی جدید اوبو راخستو ته په کښې ضرورت نشته بلکه په پاتے شوی اوبو د سر به مسح کولے شی. نقله الالبانی فی الصحیحة (۱/٥٦).

دا حدیث صریح دے په دے کښې چه غوږونه د سر تابع دی په مسح کولو کښې، او مستقل اوبو راخستو ته ددے د مسح کولو دپاره ضرورت نشته.

په حدیث : الأذنان من الرأس اعتراضونه :

لیکن په دے حدیث باندے څو اعتراضونه شویدی:

۱ - **اول اعتراض** : امام ترمذیؒ دا کړیدي چه حماد بن زید - چه ددې حدیث راوي دې - فرمائي : (لا أدري، هذا من قول النبي ﷺ أو من قول أبي أمامة) ـ يعنې ماته دا پته نشته چه دا الفاظ د نبي كريم ﷺ دي اوكه د ابو امامهؓ دي. نو ددې نه معلوميږي چه ددې حديث مرفوع كيدل مشكوك دي ـ

۱ - **جواب** : دادې چه حافظ زيلعيؒ په نصب الرايه (۱۹/۱) او شيخ البانيؒ په الصحيحه رقم (۳٦)، كښې د دې حديث ډير سندونه ذكر كړيدي، يو په روايت د ابن عباسؓ.

۲ - بل په روايت د عبد الله بن زيدؓ. ۳ - بل په روايت دابو هريرةؓ. ٤ - بل په روايت د ابو أمامهؓ، او ابن عمرؓ. (وصححه الألباني في المشكاة : ۳۱/۱). اونور هم شته. نو په دې كښې ئې صرف دابو هريرةؓ او أنسؓ او عائشةؓ روايت ضعيف كړيدې اوباقي صحيح روايتونه دي ـ د ابن عباسؓ روايت ته ابن القطانؒ صحيح يا حسن وئيلي دی (وصححه الألباني في المشكاة : ۱۳۱/۱، والصحيحة : ٤٧/١، رقم : ٣٦) د ابن عمرؓ روايت ته ئې حسن وئيلې دې، د عبد الله بن زيد روايت ته ئې صحيح وئيلې دې.

نو دهغه رواياتو نه معلوميږي چه دا حديث مرفوعا ثابت دې، اود حمادؒ شك لره اعتبار نشته ـ

۲ - **دويم جواب**: دادې چه د حماد نه په خپله هم رفع ددې روايت ثابت ده، لكه دا ترې أبو الربيع شاگرد نقل كړيده، او موقوف والې ترې هم ثابت دې لكه دا ترې ابن حرب شاگرد نقل كړيدې. دارنګه په دې سند كښې په مسدد راوي باندې هم اختلاف راغلې دې، چنانچه كله د حماد نه رفع نقل كوي اوكله ترې وقف ـ اودا د أصول الحديث قاعده ده چه كله يو ثقه راوي يو حديث مرفوع كوي او بل راوي ئې موقوف كوي. يا يو شخص په دوه وختونو كښې موقوف هم نقل كوي او مرفوع هم، نو رفع كونكي ته به ترجيح وي، ځكه چه ده زيادت باندې راتلل كړي دي. دارنګه دا هم جائز ده چه يو شخص يو حديث واوري، نو په يو وخت كښې په هغې فتوى وركړي، او په بل وخت كښې ئې مرفوع نقل كړي ـ هكذا قال الحافظ الزيلعي في نصبه (۱۹/۱).

او دليل ددې خبرې چه دا مرفوع دې او موقوف نه دې روايت د صحيح سنن ابن ماجه (٤٤٤) دې : عن محمد بن زياد عن حماد باسناده بلفظ (ان رسول الله ﷺ قال : الأذنان من الرأس، وكان يمسح رأسه مرة، وكان يمسح الماقين)۔ نو دا الفاظ دليل دې چه الأذنان من الرأس موقوف نه دې بلكه دا نص دې چه دا الفاظ د نبي ﷺ دي۔ مرعاة (١/١١٦).
وقال الألباني في صحيح سنن ابن ماجة (٤٤٤) : سنده صحيح، دون مسح الأذنين، وصحيح ابي داود (١٢٣)۔

۲ - **دويم اعتراض** دادې چه امام ترمذي دا حديث نقل کړې دې او بيائې وئيلي دي (هذا حديث ليس اسناده بذاك القائم) ، يعنې ددې حديث سند ضعيف دې ځکه ددې په سند کښې شهر بن حوشب راوي دې ۔

جواب : دادې چه شهر بن حوشب يو مختلف فيه راوي دې، حافظ زيلعيؒ او علامه مباركفوريؒ (تحفة الأحوذي : ١/٤٨) کښې د ابن القطان نه نقل کړيدي چه هغه په كتاب الوهم والإيهام کښې فرمائي : (شهرب بن حوشب وثقه قوم وضعفه آخرون، وممن وثقه ابن حنبل وابن معين، وقال ابو زرعة : لا بأس به، وقال أبو حاتم : ليس هو بدون الزبير وغيرهم يضعفه، قال : ولا أعرف لمضعفه حجة الخ. ومثله في الجوهر النقي ذيل السنن الكبرى (١/٦٦)۔

يعني : بعضې علماؤ ورته ثقه وئيلي دي (وصححه الألباني في المشكاة : ١/٣١) اوبعضو ورته ضعيف، ليکن چاچه ورته ضعيف وئيلي دي هغوئ سره هيڅ دليل نشته، بيائې هغه جرح چه په هغه لګيدلې ده هغه ئې باطله کړيده ۔ لكن قال في التقريب : ان شهرا صدوق كثير الارسال والأوهام (٢٢٦)۔

دارنګه فرمائي : چه دې روايت ته خو امام ترمذيؒ د شهر بن حوشب په وجه ضعيف وئيلي دي، مګر امام ترمذيؒ پخپله د شهر حديث ته صحيح وئيلې دې ۔

شهر بن حوشب عن أم سلمة أن النبي ﷺ لف الحسن والحسين وعلي وفاطمة في كساء وقال : هؤلاء أهل بيتي. وقال : هذا حسن صحيح، انتهى باب فضل فاطمة وكذا في الجوهر النقي (١/٦٥)۔

دارنګه باب (اسم الله الأعظم) کښې ئې هم د شهر روايت کړې حديث ته حسن وئيلې دې۔ دا وجه ده امام بيهقي په السنن الکبرى (۶۶/۱) کښې ليکي : حديث الأذنان من الرأس أشهر اسناد ۔ او ابن دقيق العيد په الامام کښې ليکي – کما نقله الزيلعي : ۱۸/۱: هذا الحديث معلول بوجهين أحدهما : الکلام في شهر بن حوشب، والثاني : الشك في رفعه ولکن شهرا وثقه احمد ويحيى والعجلي ويعقوب بن أبي شيبة الخ۔

بيا يو کرښه روسته فرمائي : فالحديث عندنا حسن. انتهى کلامه —— دارنګه دې حديث ته په صحيح أبي داود رقم (۱۳۴) کښې شيخ الباني ؒ ليکلي : صحيح ۔

نو ثابته شوه چه دا حديث صحيح يا حسن دې، د وجې د کثرت شواهدو او متابعاتو نه کما ذکرها الزيلعي ۔

۳ – **دريم اعتراض** دادې : چه بعضې علماء وائي چه که د (الأذنان من الرأس) مطلب دا شي چه أذنين په حکم د مسح کښې د سر جزء دې نو بيا که يو شخص صرف د أذنين مسح اوکړي، اود سر مسح پريدي، نو دده مسح دې صحيح شي، ځکه چه أذنين ستاسو په نزد د سر جزء دې۔

ددې **جواب** دادې چه د (الأذنان من الرأس) دا مطلب نه دې چه أذنين د سر جزء دي، بلکه دا مطلب دې چه أذنين په مسح کښې د سر تابع دي، ددې دپاره جدا اوبه اخستو ته ضرورت نشته ۔

۴ – بعضې دا **اعتراض** کوي چه ددې حديث د مسح سره هيڅ تعلق نشته، بلکه دا د بيان د خلقت دپاره دې او مطلب ئې دادې چه غوږ خِلْقَةً د سر جزء دې ۔

ليکن ددې نه **جواب** دادې چه رسول الله ﷺ د أحکامو بيانولو دپاره راليږلې شوې دې، نه د بيان د خلقت دپاره۔ او داخو هرچاته معلومه ده چه غوږونه د سر نه حساب دي، نو ددې په بيانولو کښې فائده نشته۔

دارنګه په حديث کښې دا تصريح ده چه دا جمله رسول الله ﷺ د مسح د سر نه فورا روستو وئيلې ده، چه هغه ددې خبرې دليل دې چه ددې جملې تعلق د مسح سره دې ۔ او ددې جملې نه روستو ئې هم مسح ذکر کړيده، لکه په روايت د ابن ماجه کښې د اول اعتراض

د جواب لاندے تیر شو۔ انظره۔

خلاصه : داچه عام أوقاتو کښے به مستقل اوبه نه راخلی د مسح دأذنین دپاره، کما ثبت من حدیث ابن عباس والربیع ومعدیکرب وأبی أمامه۔ لیکن کله کله اوبه راخستل هم جواز لری ۔ د وجے د حدیث ابن عمرؓ نه چه هغه نه موقوفا ثابت دے۔ دا وجه ده چه علامه ابن القیمؒ په زاد المعاد (۱/۱۸۷) کښے فرمائی :

وكان يمسح أذنيه مع رأسه وكان يمسح ظاهرهما وباطنهما، ولم يثبت عنه أنه أخذ لهما ماء جديدا، وانما صح ذلك عن ابن عمر ۔

یعنے : د رسول الله ﷺ نه دا صحیح ثابت نه ده چه هغه نوے اوبه راخستے وی د غوږونو مسح کولو دپاره ۔ صرف د ابن عمرؓ نه صحیح ثابت دی۔

لاندے معلق شعیب الأرناؤط لیکی : (رواه مالك فی الموطأ : ۱/۳٤) فی الطهارة باب ماجاء فی المسح بالرأس علی الأذنین، وسنده صحیح آه۔ او مخکښې په دلائلو کښے تیر شو۔

معلومه شوه چه پدے باب کښے مرفوع صحیح حدیث نشته۔ لکه چه علامه شیخ مبارکفوری هم په التحفه (۱/٤۹) کښے فرمائی : لم اقف علی حدیث مرفوع صحیح خال عن الكلام یدل علی مسح الاذنین بماء جدید) ۔ یعنی داسے صحیح مرفوع حدیث نشته چه د کلام نه خالی وی او د غوږونو دپاره په نوے اوبو راخستو باندے دلالت اوکړی۔

مگر کله چه په لاسونو کښے هیڅ لوندوالے پاتے نه وی نو بیا تازه اوبه راخستل هم سنت دی ——— نو معلومه شوه چه ماء جدید راخستل هم جواز لری مگر بهتره طریقه داده چه په هغه اوبو سره د غوږونو مسح اوکړی کومے اوبه چه د سر مسح کولو نه باقی پاتے شوے وی ۔

فائده : ددے حدیث الباب (حدیث ابن عباس) او حدیث الربیع نه طریقه د مسح د غوږونو ښکاره شوه، هغه داچه مسواکۍ گوتے به د غوږونو په سورو کښے ننباسی او غټے گوتے به د غوږونو په ظاهر طرفونو باندے سر طرفته راتاؤ کړی ۔ وبالله التوفیق ۔

المسألة الثالثة : حکم مسح الاذنین :

د غوږونو د مسح کولو په حکم کښې اختلاف دے :

١- ابن عباس، ابن عمر، ابوموسی الاشعری رضی الله عنهم او احمد بن حنبل او اسحق فرمائی چه د غوږونو مسح فرض ده۔ **دلیل** : حدیث د ابوامامه وغیره دے چه (الأذنان من الرأس) ځکه چه دا حدیث صریح دے پدے کښې چه غوږونه به د سر سره مسح کولے شی ځکه چه غوږونه ئے د سر سره ملحق کړیدی۔ او د نبی علیه السلام پدے الحاق کښې غرض هم دا دے چه د سر د مسح کوم حکم وو هغه به د غوږونو هم وی۔

٢- جمهور علماء وائی : د غوږونو مسح کول سنت دی فقط کما فی الفقه علی المذاهب الاربعة (١/٥٦) ددے علماؤ څه خاص **دلیل** نشته صرف پدے حدیث تنقید کوی امام نوویؒ په المجموع (١/٤١٥) کښې وائی : انه ضعیف من جمیع طرقه ۔ یعنی حدیث د ابوامامه (الأذنان من الرأس) په ټولو طریقو ضعیف دے۔

جواب : تا مخکښې اوپیژندل چه دغه حدیث بالکل صحیح دے بلکه قول د امام نووی خطاء دے۔ پدے وجه شیخ البانی په سلسلة الاحادیث الصحیحة رقم (٣٦) ص (١/٥٥) کښې ددے قول داسے تردید کوی : واذا علمت ان الامر لیس کذلك وان بعض طرقه صحیح لم یطلع علیه النووی والبعض الآخر صحیح لغیره استطعت ضعف هذه الحجة۔

یعنی هرکله چه تا ددے حدیث بعض صحیح طرق هم معلوم کړل نو تا ته پدے سره د امام نووی د دلیل ضعف هم معلومیږی۔

جمهور یو بل دلیل دا وائی چه حدیث د اعرابی کښې امر راغلے دے (توضأ کما امرك الله) یعنی څنګه چه الله تعالی امر کړیدے په قرآن کریم کښې هغه شان اودس کوه او قرآن کریم کښې خو غوږونه ندی ذکر نو فرض هم نشو۔

جواب : احادیثو کښې د غوږونو بیان راغلے دے، او احادیث تشریح د قرآن ده نو پدے باندے هم فرضیت ثابتیږی وهو الحق الراجح، انظر المجموع شرح المهذب (١/٤١٣)۔

---

٢٤ – وَعَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ أَنَّهَا رَأَتِ النَّبِيَّ ﷺ يَتَوَضَّأُ قَالَتْ : فَمَسَحَ

رَأْسَهُ مَا أَقْبَلَ مِنْهُ وَمَا أَدْبَرَ وَصُدْغَيْهِ وَأُذُنَيْهِ مَرَّةً وَاحِدَةً. وَفِي رِوَايَةٍ : أَنَّهُ تَوَضَّأَ فَأَدْخَلَ اِصْبَعَيْهِ فِي جُحْرَيْ أُذُنَيْهِ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ الرِّوَايَةَ الْأُوْلٰى وَأَحْمَدُ وَابْنُ مَاجه الثَّانِيَةَ .

ترجمه : بی بی ربیع بنت معوذ نه روایت دے چه دے نبی ﷺ په اودس کولو اولیدلو، فرمائی : نبی ﷺ د خپل سر په مخکنئ حصه، په روستنئ حصه، غوږونو او سترګو ترمینځه ځائے (څنړه) او غوږونو باندے یو ځل مسح اوکړه۔ او یو روایت کښے دی چه نبی ﷺ اودس اوکړو، او (مسح دپاره ئے) خپلے دواړه ګوتے د غوږونو سورو کښے داخلے کړے ۔ (ابوداود) ترمذی اولنے حدیث اواحمد او ابن ماجه دویم حدیث روایت کړے دے ۔

تعارف : د ربیع رضی الله عنها :

رُبَيِّع : بضم الراء وفتح الباء وتشدید الیاء المکسوره۔ دا ربیع بنت معوذ بن عفراء ده، اوعفراء د معوذ والده ده، د پلار نوم ئے الحارث بن رفاعه دے، د بنو نجار نه انصاریه صحابیه ده، اوصلح حدیبیه کښے ئے د رسول الله ﷺ سره د ونے لاندے بیعت کړے دے، ابن عبد البرؒ فرمائی : لها قدر عظیم۔ لویه قدرمنه بی بی ده۔ د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کښے ئے ډیر غزوات کړی دی ۔ ټول (۲۱) احادیث ئے امت ته را نقل کړی دی ۔ رضی الله تعالی عنها ۔

تشریح : غوږونه خو د سر نه حساب دی شرعاً او لغةً او عرفاً نو بیا ددے مسح جدا ولے ذکر شوه څه حکمت دے ؟ نو وجه دا ده چه ددے په مسح کولو سره کمالِ طهارت حاصلیږی ظاهراً او باطناً او ددے نه هغه ګناهونه اوځی کوم چه دے کړی وی لکه د باقی اندامونو د اوداسه نه چه ګناهونه رژیږی۔ نو پدے مسح کښے طهارت حسیه او طهارت معنویه حاصلیږی۔

وَصُدْغَيْهِ : صدغ هغه ځائے ته وائی چه د سترګے او غوږ ترمینځ وی او هغه وینته چه هلته رازوړند وی ۔ ددے مسح کول هم سنت دی۔

ددے حدیث په سند باندے کلام تیر شویدے په بیان د دلائلو کښے چه حسنٌ یاصحیح حدیث دے ۔اخرجه احمد (۳۵۹/٦) والترمذی (۳٤) وحسنه الشیخ الالبانی فی صحیح ابی

داود (١/٢٧) رقم : (١١٨) .

٢٥ - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ رضي الله عنه أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ ﷺ تَوَضَّأَ وَأَنَّهُ مَسَحَ رَأْسَهُ بِمَاءٍ غَيْرِ فَضْلِ يَدَيْهِ) . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ مَعَ زَوَائِدَ.

ترجمه : عبد الله بن زيد رضى الله عنه نه روايت دے چه ده نبى ﷺ په اودس كولو اوليدلو، نبى ﷺ د سر مسح هغے اوبو سره اوكړه چه دلاسونو نه پاتے شوے اوبو نه علاوه وے (يعنے نوے اوبه ئے ددے دپاره را واخستے)۔(ترمذى) او مسلم دا روايت زيادت سره نقل كړے دے چه هغے كښے د اودس د نورو اندامونو وينځلو ذكر هم دے ۔

تشريح : وانه مسح رأسه بماء غير فضل يديه : يعنے رسول الله ﷺ مسح اوكړه په سر باندے په هغه اوبو سره چه هغه غير وے د زياتى اوبو د لاسونو نه،يعنے ماء جديد سره ئے مسح اوكړه، نه په هغه اوبو سره كومے چه په لاسونو پورے باقى وے۔

مسئله : په دے كښے اختلاف دے چه آيا د سر مسح كولو دپاره به جدا مستقلے اوبه راخلى، اوكه په هغه اوبو به ئے مسح كوى كومے چه لاسونو پورے پاتے وى ؟۔

نو په دے كښے دوه قوله دى :

١ - **اول قول** دادے : چه ماء جديد او مستقلے اوبه به ورله نه راخلى، اودا قول د امام ابو حنيفة او امام شافعى دے۔ امام ترمذى فرمائى :

والعمل على هذا عند أكثر أهل العلم ـ يعنے دا د جمهورو علماؤ مذهب دے ـ (ورجحه المباركفورى في التحفة (١/٤٧)۔

٢ - **قول ثانى** : دادے چه جدا اوبه به راخلى۔ دوئ لاندينى دلائل وائى :

١ - اول دليل : حديث د عبد الله بن زيد (حديث الباب) دے چه په دے كښے د رسول الله ﷺ عمل داسے نقل شوے دے چه نوے اوبه ئے راخستے دى ـ دا حديث امام ترمذى رقم (٣٥) نقل كړے او بيائے وئيلى دى : هذا حديث حسن صحيح، وكذا أخرجه مسلم (١/٢٣) مطولا ـ او دے حديث ته شيخ البانى په صحيح أبى داود (١/٢٦) قم (١١١) كښے صحيح وئيلى دى ، په دے وجه علامه صنعانى په سبل السلام (١/٧٠) كښے

فرمائي :

وأخذ ماء جديد للرأس أمر لا بد منه ـ

يعنې : سر مسح کولو دپاره نوے اوبه راخستل ضروري کار دے ـ

د اول قول والا **دليل** : دويم په همدغه حديث د عبد الله بن زيدؓ کښې په روايت د ابن لهيعه کښې دا الفاظ پيش کوي (انه مسح رأسه بماء غبر من فضل يديه)، يعنې رسول الله ﷺ د سر مسح اوکړه په هغه اوبو سره کومې چه د لاسونو د اوبو نه زياتې پاتې شوې وې ـ اودا روايت هم امام ترمذيؒ نقل کړے دے ـ

٢ - دليل : حديث د ربيع بنت معوذ دے، چه ابو داود (٢٧/١) کښې نقل کړے دے :

ان النبي ﷺ مسح برأسه من فضل ماء كان في يده . قال الألباني في صحيح أبي داود (٢٧/١) : وسنده حسن . انظر تلخيص الحبير (٣٣/١) والسلسلة الصحيحة (٥٧/١)ـ

يعنې : رسول الله ﷺ د سر مسح په هغه اوبو سره اوکړه کومې چه په لاس پورې باقي پاتې شوې وې ـ

نو ظاهر کښې ددې حديثونو تعارض ښکاري، مګر شيخ مبارکفوريؒ په تحفه الأحوذي (٤٨/١) کښې فرمائي : چه دا تعارض نه دے ـ وجه داده چه اول حديث د عبد الله بن زيدؓ په روايت د عمرو بن الحارث نقل دے، اودويم حديث په روايت د ابن لهيعهؒ نقل دے، او عمرو بن الحارث ثقه حافظ دے، او عبد الله بن لهيعهؒ ضعيف دے، نو د ابن لهيعهؒ روايت غير محفوظ شو ـ دا وجه ده چه امام ترمذيؒ هم دے ته اشاره کړيده په دے عبارت سره (ورواية عمرو بن الحارث عن حبان أصح، لأنه قد روى من غير وجه هذا الحديث عن عبد الله بن زيد وغيره أن النبي ﷺ أخذ لرأسه ماء جديدا)ـ

او هر چه حديث د رُبَيّع دے نو اول خو دا ضعيف دے، ځکه په دے کښې ابن عقيل راوي دے، او په ده کښې مشهور مقال دے، کما مرّ ـ دارنګه ددے په متن کښې اضطراب هم دے، بيائے هغه ذکر کړے دے چه کله (مسح بماء جديد) نقل کوي، كما مرّ في روايه ابن ماجه من طريق شريك بن عبد الله عن عبد الله بن عقيل عن الربيع ـ او کله (مسح بماء غبر في يديه) نقل کوي ـ

۲ – ثانيا : که دا روايت د رُبَيّع ثابت هم شي (وهو الحق) نو حمل دے په جواز باندے، يعنے دواړه طريقے جائز دي که نوے اوبه راخلے اوکه د لاسونو نه پاتے اوبه سره د سر مسح کوي۔ مګر راجح داده چه نوے اوبه را واخلي، ځکه چه حديث د عبد الله بن زيدؓ په روايت د عمرو بن الحارث ډير صحيح دے، نو عمل هم په دے باندے پکار دے۔ اودا راجحه خبره ده۔ ځکه چه روايت ثانيه د عبد الله بن زيدؓ د ابن لهيعه په روايت هم شيخ البانيؒ ورته حسن وئيلے دے، نو اوله طريقه راجحه اودويمه طريقه غير راجح صرف جائز ده۔

تنبيه : صاحب المشكاة دا حديث الباب (حديث عبد الله بن زيد) د ترمذي نه نقل کړے دے او په احاديث حسنه کښے ئے شمارلے دے، سره ددے نه چه دا حديث په مسلم کښے هم موجود دے، خو امام ترمذيؒ تر يے بعض الفاظ را نقل کړي دي، يا دا چه صاحب المشكاة ته هم دا پته ده چه دا حديث مسلم کښے شته، ليکن په صحاح کښے ئے نه دے شمارلے، د وجے د هيرے او نسيان نه پدے وقت کښے۔

---

۲۶ – وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ رضي الله عنه ذَكَرَ وَضُوْءَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَ : وَكَانَ يَمْسَحُ الْمَاقَيْنِ. وَقَالَ : اَلْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَأَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ. وَذَكَرَا : قَالَ حَمَّادٌ : لَا أَدْرِيْ اَلْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ مِنْ قَوْلِ أَبِيْ أُمَامَةَ أَمْ مِنْ قَوْلِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه : ابو امامه رضی الله عنه نه روايت دے چه ده د رسول الله صلی الله عليه وسلم اودس ذکر کړو او وے فرمائيل چه رسول الله ﷺ به د سترګو ګوټونه هم مسح کول او فرمائيلي دي چه غوږونه په سر کښے داخل دي۔ (ابن ماجه، ابوداود، ترمذي) او أبو داود او ترمذي ذکر کړي دي چه حماد اووئيل : زه په دے نه پوهيږم چه (غوږونه په سر کښے داخل دي) دا د ابو امامه خپل قول دے اوکه د رسول الله ﷺ ارشاد دے۔

تعارف : د أبو أمامه رضي الله عنه :

دده نوم صُدي بن عجلان الباهلي دے، او طيبي چه دا وئيلي دي چه راوي ددے حديث

أبو أمامه أسعد بن سهل بن حنيف الأنصاري الأوسي دے، نو هغه خطاء شويدے ځکه همدا روايت أحمدؒ په مسانيدو د أبو أمامه صدی بن عجلان الباهلي کښے ذکر کړے دے، دغه شان عبد الغني النابلسي هم دده روايت نقل کړے دے او په کنيه باندے ئے صرف دا أبو أمامه الباهلي مشهور دے، اود اسعد سره أبو أمامه يو ځائے ذکر کيږي ـ هغه په أبو أمامه کنيه سره نه دے مشهور ـ

تشريح : وَكَانَ يَمْسَحُ الْمَاقَيْنِ . : ماقين تثنيه دَ مأق ده، په فتحه د ميم او سکون دَ همزه سره ـ ياپه الف سره ـ په دے کښے مشهور لغت مُوق دے، دا هغه طرفونو د سترگو ته وائي چه پوزے او غوږ ته نزدے دی، يعنے د سترگو قنجونه، او ددے مسح کول مستحب دی، ځکه په دے کښے کله چخي انختي وی نو اوبه منع کړی د سترگو نه ـ د عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما نه نقل دی چه ده به سترگے هم وينځلے، تردے چه ددے په وجه ئے سترگے ضعيفے شوے ـ خو دا دده اجتهاد دے ـ باقي تشريح ددے حديث مخکښے تيره شويده ـ اودرجة الحديث هم مخکښے ذکر شويده چه مرفوع حديث دے، مدرج نه دے ـ صحيح حديث دے اويا حسن درجه کښے دے ـ فتذکره ـ اودا حديث په روايت د أبو هريرةؓ او أبو موسیٰ او ابن عمر او عائشه او أنس – رضي الله عنهم – سره هم نقل دے ـ انظر التلخيص (١/٣٣) ونصب الراية (١/٢٠) والصحيحة رقم (٣٦) ـ

---

٢٧ – وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ رضي الله عنه قَالَ : جَآءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ يَسْأَلُهُ عَنِ الْوُضُوْءِ، فَأَرَاهُ ثَلَاثاً ثَلَاثاً، ثُمَّ قَالَ : هٰكَذَا الْوُضُوْءُ، فَمَنْ زَادَ عَلٰى هٰذَا، فَقَدْ أَسَاءَ وَتَعَدّٰى وَظَلَمَ). رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجه، وَرَوَى أَبُوْدَاوُدَ مَعْنَاهُ.

ترجمه : عمرو بن شعيب د خپل پلار په واسطه سره د خپل نيکه نه روايت کوی چه ده اوفرمائيل : يو بانډه چی د رسول الله ﷺ په خدمت کښے حاضر شو او د هغه نه ئے د اودس باره کښے تپوس اوکړو ـ رسول الله ﷺ ورته د اوداسه اندامونه درے درے ځل

وینځل اوخودل، بیا ئے اوفرمائیل : اودس داسے وی، نو چا چه په دے باندے زیادت اوکړو (یعنے درے ځلو نه ئے زیات اندامونه اووینځل) نو بیشکه چه ده بد کار اوکړو او زیاتے او ظلم ئے اوکړو ـ (نسائی، ابن ماجه)، او ابو داود هم ددے مطلب حدیث روایت کړے دے ـ

عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده : عن أبیه نه مراد شعیب دے، اوجده نه مراد د شعیب نیکه (عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما) دے ـ

تشریح : فَأَرَاهُ ثَلَاثاً ثَلَاثاً : دا تثلیث په ما سوا د مسح الرأس کښے مراد دے ـ ځکه چه په دے حدیث کښے راغلی دی چه مسح ئے یو ځل اوکړه، لکه دا په روایت د سعید بن منصور کښے حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښے ذکر کړیدے ـ

فَقَدْ أَسَاءَ وَتَعَدّٰى وَظَلَمَ : یعنے دے شخص بدی اوکړه چه د آدابِ شرعیه ؤ لحاظ ئے اونه کړو، د شریعت دا عمل ورته ناقص ښکاره شو نو ځکه ئے زیادت اوکړو ـ

او **تَعَدّٰى** : معنی داده چه زیادت ئے اوکړو په حدودو شرعیو باندے، رسول الله ﷺ د وینځلو حد درے ځل مقرر کړے دے اوده پرے زیادت اوکړو ـ فتجاوز من السنة ـ

وَظَلَمَ : معنیٰ دا چه ځان سره ئے زیاتے اوکړو، چه ځان ئے ستړے کړو په زیادت سره او ثواب ورته ملاؤ نشو ـ دارنګه زیاتے ئے اوکړو په بے ځایه اوبو استعمالولو او په مخالفت د سنت رسول الله ﷺ سره ـ

تنبیه : صاحب الهدایه (١/٢٠) وائی : ددرے کرته وینځلو نه زیات هم جواز لری د احتیاط دپاره چه ځلور یا پنځه کرتے اوبه واچوی ـ بیا ورته دا حدیث هم معلوم دے نو ددے نه ئے جواب کړے دے ـ لیکن طریقه داده چه یو سړے یو شئ ته جائز وائی نو اول دهغے دپاره حدیث دلیل کښے پیش کړی، بیا د بل روایت نه جواب اوکړی، کله چه تعارض ورته ښکاری ـ اوهرکله چه په جواز باندے هیڅ دلیل پیش نه کړی اود حدیث نه جواب کوی نو دا ددغه حدیث ورانول وی ـ

نو دلته دا کار د صاحب هدایه خطائی ده په اجتهاد کښے خطاء شویدے، جواب ئے داسے کړیدے چه (هذا الوعید محمول علی عدم رؤیته سنة)، یعنے په حدیث کښے چه ددرے ځلو نه زیاتو وینځلو باندے کوم وعید راغلے دے دا د هغه چا دپاره دے چه درے ځله وینځل

مسنون نه ګڼړي او زيادت کوي. او کله چه انسان د قطع وسوسے او احتياط د وجے نه د درے ځلو نه زيات وينځل کوي نو دا وعيد ورته شامل نه دے - ليکن حديث په دے باب کښے مطلق راغلے دے، چه په هره وجه ددرے ځلو نه زيادت کوي نو دا وعيد به ورته شامل وي. بلکه احتياط بعينه په حديث باندے په عمل کولو کښے دے. چه درے ځله اندامونه وينځه، او که ددے نه زيادت کوے نو دا خو وسوسه جوړه شوه، ځکه چه شيطان د اوداسه په شروع کښے انسان ته وسوسه اچوي - د نبي ﷺ په خبره کښے احتياط دے، او دغه مذکوره خبره زيادت او غلو في الدين او اعتداء في الطهور ده - او دا رد حافظ په فتح الباري (١٨٩/١) کښے هم کړيدے. دارنګه بعض فقهاء احناف هم درے ځله وينځلو نه زيادت بدعت ګڼړي لکه رد المحتار (٨١/١) کښې تتارخانيه عن الناطفي نه نقل کوي چه (لوزاد على الثلاثة فهو بدعة).

فائده : دا حديث دليل دے په دے چه درے ځلو نه زيات اندام وينځل ناجائز دي - او دا اعتداء في الطهور ده، کوم چه نبي کريم ﷺ د قيامت د علاماتو نه شمارلے ده، چه داسے قوم به په دے امت کښے پيدا شي چه په اوداسه او دعاء کښے به د حد نه ورتيريږي .لکه روستو حديث راروان دے.

تنبيه : د أبوداود په روايت کښے ددے حديث سره دا الفاظ دي (فمن زاد على هذا او نقص) نو بعضے علماؤ باندے دا مشکله شويده چه د درے ځلو نه کم وينځل خو جائز دي، د رسول الله ﷺ نه خو يو ځل دوه ځله اندامونه وينځل هم نقل دي - نو بيا د نقص څه معنیٰ ده ؟ نو بيائے توجيهات کړي دي - کما في النيل (٢١٦/١) .يو توجيه دا کوي چه :

١ – د نقص نه مراد دادے چه اندامونه پوره اونه وينځي.

٢ – يا د نقص نه روستو تقدير دے، يعني نقص من واحده يعني د يو ځل نه ئے کم اودس اوکړي. كما ورد في حديث مرسل رجاله ثقات كما قال الحافظ في فتح الباري (١٨٨/١).

ليکن أصح داده چه دا روايت حسن درجه کښے دے او د (اونقص) لفظ زياتي کول په کښے منکر دي. شيخ الباني په صحيح أبي داود (٢٨/١) رقم (١٣٥) کښے فرمائي : چه دا

لفظ د (اونقص) په کښې شاذ دے، باقي روايت حسن صحيح دے۔ وكذا في فتاوى الدين الخالص (٤٩١/١)۔ وقال الحافظ في الفتح : صحّحه – أي هذا الحديث – ابن خزيمة وغيره۔ وقال في التلخيص : هذا الحديث روى من طرق صحيحة۔

نو ثابته شوه چه دا روايت صحيح دے، سيوا د لفظ د (أو نقص) نه ۔

---

٢٨ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ ﷺ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَهُ يَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَسْأَلُكَ الْقَصْرَ الْأَبْيَضَ عَنْ يَمِيْنِ الْجَنَّةِ قَالَ : اَىْ بُنَىَّ ! سَلِ اللهَ الْجَنَّةَ وَتَعَوَّذْ بِهٖ مِنَ النَّارِ، فَاِنِّىْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : اِنَّهٗ سَيَكُوْنُ فِىْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ يَعْتَدُوْنَ فِى الطُّهُوْرِ وَالدُّعَآءِ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : عبد الله بن مغفل ؓ نه روايت دے چه ده د خپل ځوئے نه واريدل چه دا دعاء ئے کوله : اے الله ! زه تانه د جنت ښى طرفته سپينه بنګله غوارم۔ عبد الله بن مغفل ؓ ورته اوفرمائيل : اے ځويه ! د الله نه د جنت سوال کوه او په هغه سره د اوره پناه غواره، ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى چه فرمائيل ئے : بيشکه چه په دے امت کښے به څه داسے خلق پيدا شى چه په اوداسه او دعاء کښے به د حد نه تجاوز کوى ۔ (احمد، ابوداود، ابن ماجه)۔

تشريح : أَنَّهٗ سَمِعَ ابْنَهٗ : ددے ابن نه مراد يا يزيد بن عبد الله بن مغفل دے، دکوم نه چه أبو نعامة الحنفى روايت کوى ـ په ترک د جهر بالبسملة کښے كما فى الترمذى وغيره ـ او بناء په دے باندے يزيد مجهول الحال راوى دے۔

٢ – او يا بل ځوئے د عبد الله دے، چه نوم ئے نه دے ذکر شوے۔ لکه دا لا علمى صاحب المرعاه (١١٨/١) هم ښکاره کړيده۔

اَىْ بُنَىَّ ! سَلِ اللهَ الْجَنَّةَ : **سوال** : عبد الله بن مغفل ؓ ولے خپل ځوئے د داسے قسم دعاء نه منع کړو، اودا ئے د اعتداء فى الدعاء نه اوشمارلو ؟۔

جواب : ددے څو وجوهات دى : ١ – اوله وجه داده چه عبد الله بن مغفل ؓ خپل ځوئے

پيژندلو چه د عمل په لحاظ هغه درجې ته نشي رسيدلے كومه چه غواړي، چه هغه د انبياؤ – عليهم السلام – سره مناسب ده. نو په دے دعاء كښے دده څوئے د أدب نه تجاوز اوكړو. او ځان ته ئے د كمال په نظر اوكتل. نو ځكه ئے پرے داسے انكار اوكړو.

٢ – دويمه وجه داده : چه څوئے معين شے طلب كړو، نو كيدے شي چه دا بل چا دپاره مقرر وي، نو داسے دعاء مناسب نه ده، چه قيدونه په كښے لګوي.

٣ – يا وجه داده : چه دده په دعاء كښے اعتداء نه وه، ليكن د سد باب الاعتداء نه دے، ځكه چه كله داسے دعاء غواړي نو كيدے شي چه صبا له داسے دعاء طلب كړي چه هغے كښے اعتداء وي. نو ځكه ئے تنبيه وركړه.

٤ – يا داچه : عبد الله ورته تنبيه وركړه، مقصد ئے داوو چه ته كوم قيدونو سره دعاء غواړے دا غلط او د عبوديت د شان نه خلاف دي، ځكه په دے كښے يو طرفته په الله باندے تحكم دے، اوبل طرفته په جنت كښے يو خاص صفت يا خاص ځائے طلب كول دا بے ځايه كار دے، بلكه طريقه داده چه تاسو صرف د الله نه جنت غواړئ، او دوزخ نه پناه غواړئ، بيا د الله خوښه ده چه په جنت كښے كومه درجه او مرتبه دركوي. دا وجه ده چه نبي عليه السلام هم فرمائي : د الله نه فردوس أعلىٰ غواړئ (يعنے خاص قيدونه مه لګوئ بلكه اجمالا سوال كوئ).

فِي الطُّهُورِ : زيادت په اوداسه كښے دادے چه درے كرتو نه زيات اندامونه اووينځي، يا په اوبو كښے زيادت اوكړي، ډيرے اوبه استعمال كړي. يا په اندامونو وينځلو كښے داسے مبالغه اوكړے شي چه هغے نه وهم او وسوسه پيدا شي.

بيا كه په اوداسه كښے وي كه په غسل كښے اوكه په نجاست زائل كولو كښے وي. لكه چه دا كار نن صبا عام خلق په مساجدو كښے كوي، خصوصًا وسوسے والا خلق.

وَالدُّعَآءِ : اعتداء او د حد نه تجاوز كول په دعاء كښے دادي : چه نا جائز څيزونه غواړي، تيز آوازونه او چغے په كښے وهي، يا دَ أنبياؤ درجے او كورونه غواړي، يا په دعاء كښے په تكلف سره سجع او وزنونه جوړوي. د دعاء دپاره د ځانه وختونه مقرروي، كوم چه شريعت نه دي مقرر كړي، لكه د جنازے نه روستو دعاء كول، يا د فرضو يا سنتو نه پس په

هيئت اجتماعي سره دعاء كول، اودا لازم ګڼړل۔ دا ټول اعتداء ده په دعاء كښې ۔
دارنګه په **ذواتِ** فاضله ؤ باندې توسل كول، يا په **جاه** اوحرمت او طفيل د فلان يا نبي وغيره سره كول۔ دا ټول په اعتداء كښې داخل دي۔ دارنګه داسې څيزونه غواړي چه هغه عادتا ممكن نه وي۔ لكه په هوا ألوتل، د اوبو دپاسه تلل وغيره۔ دا د رسول الله ﷺ پيشن ګوئي ده چه رښتينې شويده په دې امت باندې۔ څومره مبتدعين او باطل پرست خلق په دعاء بعد الفرض والسنن او بعد الجنازه او په توسل بالذوات الفاضله باندې جګړې او مناظرې كوي، اودې ثابتولو دپاره دروغجن دلائل وائي۔ يقينا چه دا خبره په همداسې خلقو باندې صادقه شويده ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، قال الشيخ الألباني وصححه جماعة وأعل بما لا يقدح كما بينته في صحيح ابي داود رقم (٨٦) هذا، و ليس عند ابن ماجة الاعتداء في الطهور في تعليق المشكاة : ١/١٣١، رقم : ٤١٨ـ

---

٢٩ – وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : اِنَّ لِلْوُضُوْءِ شَيْطَانًا يُقَالُ لَهُ الْوَلَهَانُ، فَاتَّقُوْا وَسْوَاسَ الْمَاءِ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَلَيْسَ اِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيْثِ، لِأَنَّا لَا نَعْلَمُ أَحَدًا أَسْنَدَهُ غَيْرَ خَارِجَةَ وَهُوَ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَصْحَابِنَا.

ترجمه : أبيّ بن كعب رضي الله عنه نه روايت دې چه نبي ﷺ ارشاد اوفرمايه : بيشكه د اوداسه يو شيطان دې چه هغه ته ولهان وئيلې كيږي نو د اوبو د وسوسې نه بچ اوسئ۔ (ترمذي، ابن ماجه) او امام ترمذيؒ فرمائيلي دي : دا حديث غريب دې او د محدثينو په نزد ددې اسناد قوي نه دې ځكه چه مونږ ته نه ده معلومه چه خارجه (راوي) نه علاوه بل چا ددې سند بيان كړې وي، او خارجه زمونږ محدثينو په نزد قوي نه دې۔

تشريح : **اَلْوَلَهَانُ** : بروزن فعلان، د وله نه مشتق دې صفت مشبهه صيغه ده، وله مصدر دې، په معنىٰ د حيرانتيا او ليونتوب سره دې، چه د سخت محبت او عشق نه پيدا

کیږی، نو شیطان ته ولهان څکه وائی چه داهم ډیر حرص لری په حیرانولو د انسان کښې او په وسوسه اچولو کښې انسان ته۔ تردے چه انسان حیران کړی چه زما اندام ته به اوبه رسیدلے وی اوکه نه۔ یا حیران وی چه څوکرته اوبه مے اچولی دی۔ نو بس لګیا وی بار بار اوبه اچوی تردے چه د انسان نه د جماعت مونځ فوت کړی۔

فَاتَّقُوْا وَسْوَاسَ الْمَاءِ : وسواس یا په کسرے د واو سره دے نو بیا مصدر دے پشان د زلزال رباعی مجرد دے۔ ۱ – نو معنیٰ ئے داده چه تاسو ځان اوساتئ دهغه وسوسے نه چه دهغے په سبب ډیرے اوبه تویے کولے شی په اوداسه او استنجاء کښے۔

۲ – یا معنیٰ داده : چه په پاکوالی او نجاست د اوبو کښے شکونه مه کوئ، تر څو چه علامات د نجاست نه وی ښکاره شوی، مثلاً چه انسان دا شك كوی چه زما د اندامونو نه په لوته کښے څاڅکی پریوتل نو اوبه به نجسے شوے وی۔

۲ – یا وسواس په فتحِ دَ واؤ سره دے، نو بیا دا اسم دے، او مراد ترینه شیطان دے، یعنے ځان اوساتئ ددے شیطان نه چه په اوبو کښے درته وسوسے اچوی۔

صاحب المرعاة (۱۱۹/۱) کښے دعلامه ابن الملكؒ نه یوه بله معنیٰ هم نقل کړیده چه د وسواس الماء نه مراد وسواس الولهان دے، نو په ځائے د ضمیر ددے باندے الماء لفظ وضع شو دپاره د مبالغه ددے شیطان په کمال وسوسه کښے د اوبو په باره کښے او دپاره د شدتِ ملازمت د شیطان د اوبو سره، نو ګویاکه دا اوبه بعینه شیطان دے۔

فائده : دا حدیث هم دلیل دے په دے خبره چه په اوداسه کښے په اوبو کښے اسراف کول حرام دی، کما مر فی حدیث عبد الله بن مغفل۔

فائده عجیبه : د شیطان د وسوسے څو طریقے دی :

---

۱ – اوله وسوسه د شیطان داده چه انسان په اوداسه کښے شکی کوی۔ چه دا ځائے دے اوچ پاتے دے وغیره۔

۲ – بیا دویم نمبر په مانځه کښے وسوسه اچوی چه درے رکعته دے اوکړل یا څلور، او فلانے لفظ درنه پاتے شو۔

٣ – ددے نه چه خلاص شی بیا ورته طلاق متعلق وسوسے اچوی چه ستا ښځه طلاقه شوے ده ځکه کیدے شی چه فلانے لفظ ستا د خولے نه وتلے وی ۔ ددے نه چه هم خلاص شی نو:

٤ – بیا د ایمان، کفر، قرآن، الله باره کښے وسوسے اچوی ۔

٥ – بیا د قتل د خپل ځان باره کښے وسوسے اچوی ۔

بیا شیطان په دوه څیزونو خوشحالیږی، یو په افراط او بل په تفریط، لکه یو شے فرض نه وی او انسان ئے فرض اوګنړی، یا یو شے فرض وی او انسان ئے مستحب اوګنړی۔ افراط دا هم دے چه د دین یو امام دَ ألوهیت درجے ته اورسوی۔

مثلا تنظیم الأشتات (٤٦/١) کښے یو حنفی د امام أبو حنیفهؒ په باره کښے وائی : امام ابو حنیفهؒ د آسمان او زمکے په سیاست باندے پوهیدلو ۔ دا غلو فی الصالحین هم افراط او حرام کار دے، خو په اکثرو مقلدینو کښے دا مرض زیات دے چه خپل مشران او علماء د پیغمبر درجے ته رسوی او په ځان نه پوهیږی دَ تقلید په جذبه کښے وی ۔ او تفریط دا هم دے چه څوك یو عالم ته کنځل اوکړی یا یو امام سره دشمنی اوکړی نو دا تفریط دے۔ لیکن دا خبره ډیره واضحه وی چه د یو امام خبره په دلیل سره رد کول دا بے أدبی او تفریط نه دے، بلکه دا بعینه دین دے، اود سلفوؒ علماؤ نه همدا شان طریقه را روانه ده، چه هغوئ به د حق په مقابله کښے د هیچا پروا نه کوله، که هرڅوك به وو خو چه خبره به ئے د حق نه خلاف وه نو هغوئ به اکرام او احترام سره دَ هغه خبره رد کوله ۔

درجة الحديث : رواه الترمذی ۔ دا حدیث په اعتبار د سند سره ضعیف دے، امام ترمذیؒ فرمائی : دا حدیث غریب دے او اسناد ئے ضعیف دے ځکه په دے سند کښے خارجه بن مصعب ابو الحجاج السرخسی راوی دے، او هغه ضعیف دے، ابن المبارك، ابن معین، احمد، وکیع، نسائی دارقطنی، ابن حبان – رحمهم الله – وغیرهم ورته ضعیف وئیلی دی۔

حافظؒ فرمائی : متروك و كان يدلس عن الكذابين ـ لیکن ددے حدیث مؤیدات موجود دی لکه مخکښے حدیث د عبد الله بن مغفلؓ تیر شو، اود عمرو بن شعیب روایت هم تیر

شو، او روستو په فصل ثالث کښې د عبد الله بن عمرو بن عاصؓ په روايت د أحمد او ابن ماجه را روان دے، نو دا دليل دے چه ددے حديث دپاره اصل شته دے په دين کښې۔ او ددے صحت د نورو ځايونو د دين نه معلوميږی۔

---

٣٠ - وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ﷺ قَالَ : رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اِذَا تَوَضَّأَ مَسَحَ وَجْهَهُ بِطَرَفِ ثَوْبِهِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : معاذ بن جبلؓ نه روايت دے دا فرمائی : ما رسول الله ﷺ په اودس کولو اوليدلو چه خپل مخ ئے د جامے په يوے پيڅکی سره اوچ کړو۔ (ترمذی)۔

تشريح :

مسئله : د اوداسه او غسل نه روستو **اندامونه اوچول** په کومه درجه کښې دی ؟ څه حکم لری ؟۔ نو په دے کښې اختلاف دے په څو اقوالو سره :

١ - **اول قول** دادے : چه د توليه وغيره استعمالول مکروه دی، د نبی کريم ﷺ نه نه دی نقل۔ اودا قول د ابن عمرؓ او ابن أبی ليلیٰ دے (بقول النوویؒ)، او سعيد بن المسيبؒ او امام زهریؒ دے۔

د دوئ **دليل** دادے چه په بخاری (١/٩١، ١/٤٠) باب من جلس فی المسجد ينتظر الصلاة کښې حديث د ميمونهؓ دے دا فرمائی : رسول الله ﷺ ته (داندامونو اوچولو دپاره) کپړه پيش کړے شوه نو رسول الله ﷺ رد کړه ۔ کما يأتی فی المشكاة، باب الغسل (١/٤٩) فناولته ثوبا فلم يأخذه فانطلق وهو ينفض يديه۔

بعض علماء لکه حافظ ابن حجرؒ دا جواب کوی چه ممکنه ده چه د عذر په بناء نبی ﷺ نه وی اخستی چه مثلا کپړه کښې وريښم استعمال وويا جلتی وه، ليکن دا جواب مناسب نه دے ځکه که عذر وے نو بيان شوے به وے۔

٢ - **بل** دليل دا فرمائی : چه په دے باره کښې چه څومره احاديث راغلی دی هغه ټول ضعيف دی، امام ترمذیؒ فرمائی : ولا يصح فی هذا الباب شئ عن النبی ﷺ۔ او په صحيحينو کښې نه دی نقل ۔ دارنګه المنار المنيف کښې هم دی۔

دارنګه زاد المعاد (۶۸/۱) کښې حافظ ابن القیمؒ فرمائی : (ولم یکن رسول الله ﷺ یعتاد تنشیف أعضائه بعد الوضوء ولا صح عنه فی ذلك حدیث ألبتة، بل الذی صح عنه خلافه)۔ یعنی د رسول الله ﷺ د اوداسه نه روستو اندامونه اوچول عادت نه وو او نه د هغه نه په هیڅ صحیح حدیث کښې ثابته ده بلکه د هغه نه دديے په خلاف (نه اوچول) په صحیح سند ثابت دے ۔ (یعنی اکثرئے اوچول ندی کړی)۔

۳ – امام ترمذیؒ د کراهت قول دپاره یو دلیل دا هم ذکر کړے چه (لأن الوضوء یوزن)، یعنے د اوداسه اوبه تللے کیږی۔

۲ – **قول ثانی** : دادے چه دا عمل مباح او جائز دے بغیر د کراهت نه، اودا قول د امام مالکؒ، احمدؒ، ثوریؒ، اسحقؒ، امام شافعیؒ او احنافو دے، کما فی قاضیخان ۔ او منیة المصلی کښې ورته مستحب وئیلی دی، لیکن هغه قول محققینو رد کړے دے او مفتیٰ به قول د قاضیخانؒ دے ۔ درس ترمذی (۲۶۱/۱)۔

دلیل : په دے باره کښې ډیر احادیث نقل دی د مختلفو صحابوؓ نه، کما أوردها فی التحفة (۵۷/۱) اګرچه ضعیف هم په کښې شته مګر صحیح سندونو والا روایات هم شته او عمل د صحابوؓ په کښې هم راغلے دے۔ لکه ابن المنذرؒ نه صاحب د تحفة الأحوذی (۵۷/۱) نقل کړیدی :

قال : أخذ المندیل بعد الوضوء عثمان، والحسن بن علی وأنس، وبشیر بن أبی مسعود – رضی الله عنهم – ورخص فیه الحسن وابن سیرین وعلقمة والأسود ومسروق والضحاك آه۔

اودا حدیث الباب اګرچه ضعیف دے ځکه په دے کښې دوه ضعیف راویان دی (۱) رشدین بن سعد (۲) عبد الرحمن بن زیاد بن أنعم الأفریقی، دواړو ته امام ترمذیؒ ضعیف وئیلی دی (یُضَعَّفان فی الحدیث)۔ لیکن :

۲ – دویم حدیث : د عائشه رضی الله عنها قول دے لکه کتاب کښې راروان دے، هغه دا چه عائشه رضی الله عنها فرمائی :

---

۳۱ – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كَانَتْ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ خِرْقَةٌ يُنَشِّفُ بِهَا أَعْضَائَهُ

بَعْدَ الْوُضُوءِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: د رسول الله ﷺ دپاره یوه کپړه وه چه په هغې سره به ئې داودس کولو نه پس خپل اندامونه اوچول۔ (ترمذی)۔

تشریح : امام ترمذیؒ دے حدیث ته اگرچه ضعیف وئیلے دے د وجے د أبو معاذ راوی نه، لیکن صحیح خبره داده چه أحمد شاکر په شرح د ترمذی کښې دے حدیث ته صحیح وئیلی دی، هغه فرمائی : ابو معاذ دوه کسان دی (۱) یو أبو معاذ فضیل بن میسره دے اودا قوی راوی دے (۲) او دویم أبو معاذ سلیمان بن أرقم دے، اودا ضعیف دے۔ او په دے روایت کښې ابو معاذ فضیل بن میسره دے کما قال الحاکم فی روایته۔ نو دا روایت صحیح دے، لیکن شیخ البانیؒ په سلسلة الأحادیث الصحیحة (۱۳۳/۵) کښې فرمائی :

دا حدیث زما په نیز حسن دے، اوصحیح نه دے۔ وجه داده چه په دے روایت کښې ابو معاذ سلیمان بن أرقم راوی دے او دا خو ضعیف او متروك راوی دے۔ او داخبره امام بیهقی هم کړیده۔ او دے دپاره ئې دا دلیل ذکر کړیدے چه دا ځکه سلیمان بن أرقم دے چه علماؤ دده په ترجمه کښې لیکلی دی چه دا د زهری نه نقل کوی، او په دے سند کښې هم د زهری نه ئې نقل کړے دے، نو دا قرینه ده ددے خبرے چه دا سلیمان بن أرقم دے۔ بیا وائی : ددے حدیث شواهد موجود دی، لکه روایت د رشدین بن سعد شو، چه ددے په راویانو کښې ضعفٌ من قبیل الحفظ دے، او په ذات کښې ئې تهمت نشته، نو د دویٔ په حدیث باندے استدلال او استشهاد کیدے شی ۔نو دا حدیث په مجموعه طرقو او شواهدو سره زما (البانیؒ) په نیز حسن درجه کښې دے، نو دا حدیث د شیخ البانیؒ په نیز حسن، اود أحمد شاکر په نیز صحیح دے، او وجه د اختلاف ابو معاذ راوی دے، که دا فضیل وی نو صحیح روایت دے، اوکه سلیمان بن أرقم شی نو حسن روایت دے ۔

خلاصه : د مسئلے داشوه چه : دَاودس نه پس اندامونه همیشه دپاره اوچول نه دی پکار، اوکله کله اوچول جواز لری، لکه دے خبرے ته مخکښې اشاره اوشوه په عبارت د ابن القیمؒ کښې۔ دغه شان په سنن أبی داود (۳۷/۱) کښې دی : قال الأعمش : فذکرت ذلك لابراهیم فقال : کانوا لا یرون بالمندیل بأسا، ولکن کرهوا العادة ۔

يعني : صحابه كرامو ؓ به د اودس نه پس رومال استعمالول جائز ګڼړل، مګر عادت ګرځول او هميشه استعمالول به ئے مکروه ګڼړل ـ

او د نبي عليه السلام نه عملا اوچول هم په ابن ماجه (١/٧٨) رقم (٤٦٨) کښې ثابت دی ـ عن سلمان الفارسي ان رسول الله ﷺ توضأ فقلب جبة صوف كانت عليه فمسح بها وجهه. وسنده حسن (حسنه الالباني) ـ يعني رسول الله ﷺ د وړئ يوه چوغه (کوټ) اغوستے وو چه کله ئے اودس اوکړو نو د چوغے (په يو طرف) ئے خپل مخ مبارك اوچ کړو۔

٢- دارنګه امام تيمي ؒ فرمائي دا حديث دليل دے چه نبي عليه السلام به اندامونه کله کله اوچول ځکه که اندامونه ئے بالکل هميشه دپاره نه اوچولے نو عائشے ؓ به ورته ولے رومال راوړلو۔ معلوميږي چه کله رسول الله ﷺ اندامونه اوچ کړيدی۔ مرعات (٢/١٢٠) ـ

او نبي عليه السلام ددے د استعمال نهي هم نده کړے چه مه استعمالوئ خو خپله ئے هم اکثر نده استعمال کړے نو بهتره دا ده چه اوچ نکړے شی اګرچه جواز د اوچولو هم شته۔ بعضو دا فرق کړيدے چه ژمی کښے اوچوه او اوړی کښے مه اوچوه ليکن پدے باره کښے هم صريح حديث نشته صرف د دواړو حديثونو تطبيق کښے ئے دا قول کړيدے۔ والله تعالى اعلم ـ

الفصل الثالث - دريم فصل

٣٢ - عَنْ ثَابِتِ بْنِ أَبِيْ صَفِيَّةَ قَالَ : قُلْتُ لِأَبِيْ جَعْفَرٍ - هُوَ مُحَمَّدُ بْنُ الْبَاقِرُ - حَدَّثَكَ جَابِرٌ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ تَوَضَّأَ مَرَّةً مَرَّةً، وَمَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، وَثَلٰثاً ثَلٰثاً ؟ قَالَ : نَعَمْ. رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه.

ترجمه : ثابت بن أبي صفية ؒ فرمائي : ما ابو جعفر باقر ؒ ته عرض اوکړو : آيا تاته جابر داسے حديث بيان کړے دے چه نبي ﷺ د اوداسه اندامونه يو يو ځل، دوه دوه ځل او درے درے ځل اووينځل ؟ ابو جعفر اوفرمائيل : هو ! ـ

تعارف : د ثابت بن أبي صفيه :

دده د پلار نوم دينار دے، كنيه ئے ابو حمزه ده، د صغار التابعين نه دے، كوفي دے، ضعيف اورافضي دے، په خلافت د ابوجعفر كښے مړ شويدے۔

مُحَمَّدُ بْنُ الْبَاقِرِ : داد ابو جعفر نوم دے، سلسله د نسب ئے داسے ده : ابو جعفر محمد بن الباقر بن علي زين العابدين بن الحسين بن علي بن أبي طالب الهاشمي، ثقه او فاضل دے، د تابعينو د فقهاؤ نه حساب دے۔ اودده د أبو بكر او عمر – رضي الله عنهما – په باره كښے صحيح عقيده وه، خو شيعه ګان دده نيے خبرے نه مني۔ په سنه (٥٦) كښے پيدا شوے دے، او په مدينه كښے په سنه (١١٤) هـ، يا (١١٧) هـ د (٦٤) كالو په عمر وفات شوے دے۔ او په بقيع كښے دفن شويدے۔

الْبَاقِرِ : باقر ورته ځكه وائي چه باقر د بَقْرٌ نه دے شلولو ته وائي، اوده هم په علم كښے فراخي او ژور والے لرلو، ګوياكه علم ئے څيرلے دے۔ او دهغے بيخ ته رسيدلے دے، نو ځكه په باقر العلم سره مشهور دے۔ دده ځوئے جعفر ابو عبد الله په جعفر صادق مشهور دے۔

درجة الحديث : رواه الترمذي وابن ماجة۔ دا حديث په اعتبار د سند سره ضعيف دے ځكه دوه راويان په كښے ضعيف دي :

١ – يو شريك بن عبد الله النخعي، اودا كثير الغلط دے.

٢ – دويم دده استاذ ثابت بن أبي صفيه۔ اودا په اتفاق د محدثينو ضعيف الحديث دے۔ ليكن ددے حديث معنىٰ ثابت ده، لكه مخكښے تير شو، حديث د ابن عباسؓ اوجابرؓ او عبد الله بن زيدؓ چه په هغے كښے يو يو كرت اودوه او درے كرته اودس د نبي كريم ﷺ ذكر شوے وو۔

---

٣٣ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ ﷺ قَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، وَقَالَ : هُوَ نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ).

ترجمه : عبد الله بن زيدؓ فرمائي : رسول الله ﷺ دوه دوه ځل اودس اوكړو (يعنے د اوداسه اندامونه دوه دوه ځله اووينځل) او وے فرمائيل : دا نور دپاسه نور دے۔

تشريح : هُوَ نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ : ددے نه مخكښے روايت صحيح ثابت دے او دا الفاظ د

نبی ﷺ قول نه دے، بلکه داد سلفو وینا ده، اودا حدیث په هیڅ کتابونو د حدیثو کښے نه دے راغلے، کما قال المنذری فی الترغیب (۱۶۳/۱)۔ په کتاب د زرین کښے راغلے دے خو هغه هم مرفوع نه دے۔ اودا چا اخستے دے د هغه حدیث نه چه (من توضأ علی طهر کتب الله له عشر حسنات) او معنیٰ به ئے دا وی چه یو کرت اندامونه وینځلو سره فرض اداء شو اودویم کرت سره سنت اداء شو او دواړه نور دے، ددے نه مخکښے جمله صحیح ثابت ده ځکه نبی ﷺ دوه ځل اندامونه هم وینځلی دی، کما تقدم فی الحدیث المتفق علیه۔

---

۳۴ – وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ تَوَضَّأَ ثَلٰثاً ثَلٰثاً، وَقَالَ : هٰذَا وُضُوْئِیْ وَوُضُوْءُ الْاَنْبِیَاءِ قَبْلِیْ، وَوُضُوْءُ اِبْرَاهِیْمَ). رَوَاهُمَا رَزِیْنٌ وَالنَّوَوِیُّ ضَعَّفَ الثَّانِیْ فِیْ شَرْحِ مُسْلِمٍ.

ترجمه : عثمان رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ د اوداسه اندامونه درے درے ځل اووینځل او بیا ئے اوفرمائیل : دا زما اودس دے او مانه مخکښے د انبیاؤ – علیهم السلام – اود ابراهیم – علیه السلام – اودس دے ۔(دا دواړه حدیثونه رزین روایت کړی دی او امام نوویؒ په شرح دمسلم کښے دویم حدیث ته ضعیف وئیلے دے)۔

تشریح : په دے روایت د عثمان کښے دا جمله چه (هذا وضوئی الخ) دا هم په ضعیف سند سره نقل ده، امام نوویؒ هم ورته ضعیف وئیلے ده، اودارنګه حافظ ابن حجر په فتح الباری (۱۸۹/۱) کښے ورته ضعیف وئیلی دی، اګرکه معنیٰ ئے صحیح ده ۔

مسئله : پخوانو امتونو باندے اودس وو که نه ؟ نو دا مسئله کتاب الطهارة کښے تیره شویده ـ هلته ئے اوګوره۔ (۶۱۰/۱)۔

---

۳۵ – وَعَنْ أَنَسٍ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ یَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ وَكَانَ أَحَدُنَا یَكْفِیْهِ الْوُضُوْءُ مَا لَمْ یُحْدِثْ . رَوَاهُ الدَّارِمِیُّ.

ترجمه : انسؓ فرمائی : رسول الله ﷺ به د هر مانځه دپاره اودس کولو، او مونږ

کښې د يو کس دپاره تر هغه وخته پورې يو اودس کافي دے څو پورې چه پے اودسه شوے نه وي - (دارمي)۔

تشريح : يَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ : دا خو يا محمول دے په استحباب باندے، يعنې نر فرض مانځه دپاره اودس کول مستحب دي، کله چه اودس وي، ليکن په روايت د ترمذي کښې داسې راغلي دي (طاهرًا او غير طاهرٍ)، يعنې که اودس به ئے کړے وو که نه خو هر مانځه دپاره به ئے اودس کولو، نو دا يا د نبي کريم ﷺ خصوصيت او عادت وو، او په هغه باندے فرض وو، بيا په حديث د سويد بن النعمان باندے - کوم چه په باب ما يوجب الوضوء کښې تير شو - د خيبر په غزا کښې منسوخ شو۔ روستو راروان حديث هم په دے دليل دے چه په نبي ﷺ باندے هر مانځه ته اودس کول گران شو نو دا حکم ترے الله تعالیٰ لرے کړو الخ۔ او زمونږ دپاره اجازه ده په (وكان أحدنا) لفظ سره يعنې يو اودس زمونږ د ډيرو مونځو دپاره کافي دے۔

يا دا چه رسول الله ﷺ باندے هم واجب او فرض نه وو، کله چه زوړ اودس وي، خو دوباره اودس کول صرف مستحب وو، او په عزيمت باندے ئے عمل کولو۔ بيا ئے دا گمان اوکړو چه هسے نه خلق ئے واجب اونه گڼړي نو د بيان د جواز په طور ئے پريخودلو۔ او دا قول حافظ عسقلاني رح راجح کړے دے۔ اوددے خبرے دليل هغه حديث د بريدهؓ دے کوم چه په (باب ما يوجب الوضوء) کښې تير شو، چه رسول الله ﷺ په فتح د مکه کښې گڼړ مونځونه په يو اوداسه سره اوکړل، او عمر فاروق رضي الله عنه ترے تپوس اوکړو، هغه جواب ورکړو چه (عمدا صنعته) أي لبيان الجواز۔ يعنې قصدا د جواز دپاره مے دا کار اوکړو

درجة الحديث : رواه الدارمي (۱/۱۹۸) وعزو المصنف اليه فقط فيه قصور فالحديث عند الستة الا مسلما وكذلك اخرجه احمد والطيالسي اخرجه ابوداود (۱۷۱) والترمذي (۶۱) وابن ماجة (۵۰۹) باسناد صحيح۔

---

۳۶ - وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيٰى بْنِ حِبَّانَ قَالَ : قُلْتُ لِعُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : أَرَأَيْتَ وُضُوْءَ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ لِكُلِّ صَلَاةٍ طَاهِرًا كَانَ أَوْ

غَيْرَ طَاهِرٍ عَمَّنْ أَخَذَهُ ؟ فَقَالَ : حَدَّثَتْهُ أَسْمَاءُ بِنْتُ زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ حَنْظَلَةَ بْنِ أَبِي عَامِرٍ الْغَسِيلِ حَدَّثَهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ أَمَرَ بِالْوُضُوْءِ لِكُلِّ صَلَاةٍ، طَاهِرًا كَانَ أَوْغَيْرَ طَاهِرٍ، فَلَمَّا شَقَّ ذٰلِكَ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ أُمِرَ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَوُضِعَ عَنْهُ الْوُضُوْءُ، إِلَّا مِنْ حَدَثٍ. قَالَ : فَكَانَ عَبْدُ اللهِ يَرٰى أَنَّ بِهِ قُوَّةً عَلٰى ذٰلِكَ فَفَعَلَهُ حَتّٰى مَاتَ . رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او محمد بن يحيى بن حبان فرمائي : ما د عبد الله بن عمر ځوی عبيد الله ته اووئيل ما ته اوښايه چه عبد الله بن عمرؓ به هر مانځه دپاره اودس کولو برابره ده که هغه به اودس کښې وو يا بې اودسه، (نو) هغه دا عمل د چا نه حاصل کړے وو؟، عبيد الله اووئيل : چه عبد الله بن عمرؓ ته اسماء بنت زيد بن خطاب دا حديث بيان کړو چه عبد الله بن حنظله بن ابى عامر الغسيل هغې ته دا حديث بيان کړے وو چه رسول الله ﷺ ته هر مانځه دپاره د اودس کولو حکم ورکړے شوے وو برابره ده که رسول الله ﷺ به اودس کښې وو يا بې اودسه ، خو هر کله چه رسول الله ﷺ ته دا مشکله شوه نو د هر مونځ په وخت د مسواك کولو حکم ورته اوشو او د اودس حکم ترے لرے کړے شو (يعنى هرمونځ دپاره تازه اودس کول واجب پاتې نشو)۔ ځو پورے چه اودس مات نشي۔ عبيد الله اوفرمائيل د عبد الله بن عمرؓ دا خيال وو چه ما کښې هر مونځ دپاره د تازه اودس کولو قوت دے نو هغه به پدے د مرګ وخته پورے عمل کولو۔ (احمدؒ)۔

تعارف : د محمد بن يحيى بن حبان

ده کنيه أبو عبد الله ده، ثقه فقيه تابعى دے، واقدیؒ فرمائي : ده ته به په مسجد دَ مدينه کښې يوه حلقه راجمع کيدله، او ده به فتوے ورکولے، اودا ثقه او کثير الحديث دے، امام مالكؒ به ورله ډير عزت او احترام کولو، اوده تذکره به ئے کوله په ډير عبادت او زهد او فقه او علم سره۔ په مدينه کښې په سنه (١٤١) هـ کښې وفات شوے دے د (٧٤) کالو په عمر۔

تعارف : د عبيد الله بن عبد الله بن عمر:

کنیه ئے أبو بکر ده، دده ورور شقیق، سالم بن عبد الله بن عمر ثقه دے اود اوساط التابعین نه دے، دا ثبت دے۔ دا د عبد الله بن عمرؓ مشر ځوئے دے، ثقه او قلیل الحدیث دے، په سنه (۱۰۵) کښے وفات شوے دے۔

تشريح : عَمَّنْ أَخَذَهُ ؟ : د **سوال** مطلب دادے چه عبد الله بن عمرؓ به هر مانځه دپاره اودس کولو – برابره خبره ده که اودس به ئے وو اوکه نه به وو – دائے د چانه اخستے دے ؟ اود **جواب** مطلب دادے چه هغه ته اسماء بنت یزیدؓ حدیث بیان کړے دے او هغے ته عبد الله بن حنظلهؓ حدیث بیان کړے دے الخ۔ یعنی نبی علیه السلام باندے هر مانځه ته اودس کول فرض وو بیا کله چه هغه ته دا کار مشکل شو نو دا حکم منسوخ شوددے په ځائے هر مانځه په وخت کښے د مسواك کولو حکم اوشو۔ لیکن عبد الله بن عمرؓ ددے حدیث نه دا اجتهاد او استنباط اوکړو چه هرمانځه دپاره اودس کول مخکښے فرض وو، بیا منسوخ شو، او استحباب ئے دهغه چا په حق کښے باقی دے چه هر مانځه دپاره اودس کولو طاقت لری ۔ او زه هم طاقت لرم نو ځکه هر مانځه ته اودس کوم۔

الْغَسِيلِ : دا صفت دے د حنظله، نه دهغه د پلار أبو عامر الفاسق ۔ ځکه أبو عامر الفاسق کافر مړ شوے دے، او غسیل الملائکه د هغه ځوئے – حنظله – دے۔ ده ته غسیل الملائکه ځکه وائی چه د غسیل معنیٰ ده : لمبولے شوے، اودا هم د شهادت نه پس ملائکو لمبولے وو، سیرت کښے راځی چه حنظلهؓ کلهٔ أحد جنګ ته روانیدو نو دے وخت کښے ئے د کور والا سره همبستری اوکړه، نو بیا ورته د غسل موقع ملاؤ نشوه، ناڅاپه ورته د وتلو آواز اوشو نو غسل ئے هیر شو۔ د عروه بن الزبیرؓ نه روایت دے دا فرمائی : رسول الله ﷺ د حنظلهؓ د بی بی نه تپوس اوکړو : د هغه څه حال وو (کله چه هغه د کور نه وتلو) نو څه کارئے کولو ؟ هغے ورته اووئیل : هغه جنب وو ۔ (د ناپاکئ په حالت کښے وو)، اود لمبولو په وخت کښے ما دهغه د سر یوه حصه وینځلے وه چه په دے کښے ئے دجهاد آواز واوریدو (چه رسول الله ﷺ جهاد ته لاړو) نو په دے حالت کښے هغه د کور نه اووتلو، او په غزوه احد کښے شهید شو۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ما ملائك اولیدل چه ده ته ئے غسل ورکولو ۔ (کذا فی الاستیعاب : ۱۰۵/۱)۔

أُمِرَ بِالسِّوَاکِ: علامه طيبيؒ فرمائي : په دے کښے تنبيه ده په عظمتِ شان د مسواك باندے، ځکه چه دا د واجبو په ځائے قائم شو اونزدے ده چه په نبي ﷺ فرض شوے وے۔

فَكَانَ عَبْدُ اللهِ يَرٰى أَنَّ بِهٖ قُوَّةً عَلٰى ذٰلِکَ : عبد الله بن عمرؓ به هر مانځه دپاره تازه اودس په دے وجه کولو چه هغه دا اجتهاد اوکړو چه اګرچه وجوب منسوخ شوے دے ليکن د هغه شخص دپاره چه په دے باندے د عمل کولو طاقت لري ددے فضيلت باقي دے۔ په دے وجه هغه په ځان کښے ليدل چه طاقت او همت ئے شته دے چه زه دا کار په ښه طريقه پوره کولے شم نو هيڅ وجه نشته چه زه ددے فضيلت اوسعادت نه محروم پاتے شم، نو هغه دا خپل معمول جوړ کړو، چه هر مانځه ته به ئے تازه اودس کولو، او ترمرګه پورے په دے باندے قائم او دائم پاتے شو۔رضي الله تعالىٰ عنه۔

فائده : ۱ – دا دليل دے چه هر فرض مانځه ته اودس کول مستحب دي، ددے فرضيت اګرچه منسوخ شوے دے ليکن استحباب ئے اوس هم باقي دے، او منسوخ نه دے، ولے که استحباب ئے هم منسوخ شوے وے نو په منسوخ باندے عمل کول نا جائز دي۔

۳ – دوام او هميش والے په مستحب باندے ښه کار دے، حديث کښے دي (أفضل الأعمال الى الله أدومها وان قل) ۔ بهترين أعمال د الله په نيز هغه دي چه هميشه وي اګرکه کم وي۔ ليکن فرض به ئے نه ګنړي، اوکله چه ورنه پاتے شي نو ځان به ګنهګار نه ګنړي۔ نو دوام دَ مستحب او التزام د مستحب ترمينځه فرق ياد لره۔ بعضے خلق دوام د مستحب ته هم بد ګوري، دا صحيح نه دے۔ دوام هم پکار دے مګر التزام او په ځان باندے فرض ګنړل صحيح نه دي۔

درجة الحديث : رواه احمد (۵/۲۲۵) واسناده صحيح قال رمضان في تحقيقه على المشكاة (۱/۱۹۷) وقال الالباني سنده حسن وقد رواه ايضا ابوداود رقم (۳۸) بسند حسن۔

---

۳۷ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رضي الله عنه اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ مَرَّ بِسَعْدٍ وَهُوَ

يَتَوَضَّأُ فَقَالَ : مَا هٰذَا السَّرَفُ يَا سَعْدُ ! قَالَ : اَفِي الْوُضُوْءِ سَرَفٌ ؟ قَالَ : نَعَمْ، وَإِنْ كُنْتَ عَلٰى نَهْرٍ جَارٍ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه :عبد الله بن عمرو بن العاصؓ نه روايت دے چه (يو ځل) رسول الله ﷺ په سعد رضى الله عنه باندے تير شو چه هغه اودس كولو (او اودس كښے ئے اسراف كولو) دے ليدو سره رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل : اے سعدؓ دا څه اسراف (زياتے) دے؟۔ سعدؓ عرض اوكړو: آيا په اودس كښے هم (ګنے) اسراف شته۔ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : هاؤ ! اګر كه ته په جارى نهرباندے اودس كوے۔ (احمد، ابن ماجه)۔

تشريح : اَفِي الْوُضُوْءِ سَرَفٌ ؟ : د سعدؓ خيال دا وو چه په طاعت او عبادت كښے به اسراف نه وى، په دے وجه ئے تعجب اوكړو، دارنګه د سعد دا خيال وو چه اوبه خو څه ناياب شے نه دے او زياتے هم دى نو پدے كښے د اسراف څه معنى ده، اسراف خو به هغه شى كښے راځى چه هغه ډير نه ملاوېږى او ستا په ډيرو لګولو سره ختميږى نو رسول الله ﷺ جواب وركړو په مبالغه سره، يعنے دا خو په طريق اولىٰ سره اسراف دے،كه د نهر نه اودس كوے او د اوبو په استعمال كښے زيادت كوے هغه هم اسراف دے چه په دے كښے خولا د اسراف پته هم نه لګيږى، پاتے لا عامے اوبه، اسراف هسے د الله بدے شى۔

۲ - يا دا چه د اسراف نه مراد ګناه ده، چه په سبب د تجاوز د حد شرعى نه حاصله شوے ده۔ بيا په نهر جارى كښے اسراف داسے كيږى چه انسان بار بار په ځان ډيرے ډيرے اوبه اړوى او د شرعى حد نه زيادت كوى نو په دے كښے يو وخت او عمر ضائع كيږى۔

۲ - دويم بے حاجته اوبه استعمالول دى، اودا كار د هر صحيح فطرت والا انسان په طبيعت باندے بد لګى، په دے وجه په نهر جارى كښے هم اسراف كيدے شى ۔

اسراف هر شئ كښے راتلے شى په ډير سبق وئيلو كښے هم شته، چه د الله عبادت ته اوزګار نشى۔ ډيرو خبرو كښے هم شته۔ ډير خوب كښے هم شته۔ كثرت جماع كښے هم شته۔ دغه شان نورو ډيرو څيزونو كښے اسراف واقع كيږى ۔

نو پدے حديث كښے لازمى ادب دا دے چه په اودس او غسل كښۓ د ضرورت نه زياتے اوبه خرچ كول نه دى پكار ځكه چه دا اسراف دے او اِنَّ اللهَ لَايُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ۔ الله تعالى

اسراف کونکي نه خوښوي دا وجه ده چه کله انسان په اودس وغيره کښې اسراف کوي نو په مانځه کښې ئې هغه کمال نه پيدا کيږي کوم چه پکار دے۔ د اودس نقصان سبب دے د مانځه د نقصان دپاره۔ عصمنا الله من الاسراف۔

درجة الحديث : رواه احمد (۲/ ۲۲۱) وابن ماجة (٤٢٥) :

په دے روايت کښې عبد الله بن لهيعۃ دے او ده باره کښې ابو حاتمؒ او أبو زرعۃ فرمائي : يکتب حديثه للاعتبار۔ حافظ ابن حجرؒ په تلخيص الحبير ص (۵۳) کښې فرمائي : اسناده ضعيف۔ او په فتح الباري (۱۱۸/۱) کښې فرمائي : باسناد لين۔ ليکن أصح داده چه دا حسن الحديث دے، په شواهدو کښې مقبول دے، اود دے حديث معنیٰ هم د دين نه ثابت ده۔ وقال الالباني في ضعيف ابن ماجة رقم (۹٦) سنده ضعيف وقال في الارواء رقم (۱٤۰) ابن لهيعة سيئ الحفظ وجزم الحافظ في التلخيص (۵۳) بضعف اسناده وكذا البوصيري في الزوائد ق (۲/۳۲) قال لضعف حيي بن عبد الله وعبد الله بن لهيعة ثم قال قلت : ويغني عن هذا حديث ابي نعامة ان عبد الله بن مغفل سمع ابنه يقول : اللهم اني اسألك القصر الابيض وفي آخره : انه سيكون في هذه الامة قوم يعتدون في الطهور والدعاء رواه احمد وغيره باسناد صحيح كما بيناه في صحيح ابي داود رقم (۸٦)۔ نو د حديث معنی صحيح ده اګرچه سند ضعيف دے۔

---

۳۸ – وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ وَابْنِ مَسْعُوْدٍ وَابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : (مَنْ تَوَضَّأَ وَذَكَرَ اسْمَ اللهِ فَإِنَّهُ يُطَهِّرُ جَسَدَهُ كُلَّهُ، وَمَنْ تَوَضَّأَ وَلَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللهِ، لَمْ يُطَهِّرْ إِلَّا مَوْضِعَ الْوُضُوْءِ).

ترجمه : ابو هريره، ابن مسعود، او ابن عمر رضی الله عنهم د نبی ﷺ نه روايت کوی : چه کوم سړی اودس اوکړو او بسم الله وئيلو سره ئې اودس شروع کړو نو هغه خپل تمام بدن (د ګناهونو نه) پاك کړو او چا چه اودس اوکړو او د الله تعالی نوم ئې وانخستلو (بسم الله ئې او نه وئيله) نو هغه صرف د اوداسه ځايونه پاك کړل۔

تشريح : مَنْ تَوَضَّأَ وَذَكَرَ : يعنے که د اودس په ابتداء کښې بسم الله اووئيلے شی

نو پدے سره به ټول بدن د ګناهونو نه پاك شي او كه بسم الله اونه وئيلے شي نو صرف د هغه خاص مواضعو ګناهونه به لرې كړے شي.

فَإِنَّهُ يَطْهُرُ : دا مبني للفاعل دے او ضمير په كښے راجع دے اودس كونكي ته يعنې ده د الله نوم يادولو سره خپل ټول بدن پاك كړو. دا حديث دليل دے د هغه چا دپاره چه قائل دي په عدم وجوب د تسميه باندے په ابتداء د اوداسه كښے ځكه چه دلته د بسم الله فضيلت ذكر دے او كه بسم الله او نه وئيلے شي نو بيا هم اودس صحيح دے خو زيات فضيلت به ورته نه حاصليږي ليكن دا به هله صلاحيت د دليل لري چه حديث صحيح ثابت شي ليكن حديث ضعيف جدا دے قابل د استدلال نه دے. نو اصح دا ده چه بسم الله وئيل په ابتداء د اوداسه كښے واجب دي بغير ددے نه اودس نه كيږي. كما مر تفصيل المسئلة فى هذا الباب فى حديث سعيد بن زيد (لا وضوء لمن لم يذكر اسم الله) وسنده حسن فليراجع.

درجة الحديث : ددے حديث درے سندونه دي او درے واړه ضعيف جدا دي.

١ – يو په روايت د أبو هريرة سره، اودا هم ضعيف جدا دے، په دے كښے مرداس بن محمد بن عبد الله بن أبان عن أبيه دے، او مرداس اوپلار ئے، دواړه ضعيف دي.

٢ – دويم په روايت د ابن مسعود سره، دا هم ضعيف جدا دے، په دے كښے يحيىٰ بن هشام السمسار، متروك راوي دے. دا دواړه روايتونه دارقطني نقل كړي دي.

٣ – دريم روايت ابن ماجه نقل كړے دے، په روايت د ابن عمر سره. اودا روايت هم ضعيف جدا دے، په دے كښے أبو بكر الداهري عبد الله بن الحكم دے اودا متروك او منسوب الى الوضع دے.

---

٣٩ – وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا تَوَضَّأَ وُضُوءَ الصَّلاةِ حَرَّكَ خَاتَمَهُ فِي إِصْبَعِهِ. رَوَاهُمَا الدَّارِقُطْنِيُّ وَرَوَى ابْنُ مَاجه الْأَخِيرَ.

ترجمه : ابورافع رضى الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ به چه كله د مانځه دپاره اودس كولو نو خپله ګوته كښے به ئے ګوتمه اوخوزوله. دا دواړه حديثونه دارقطني روايت

کړیدی او ابن ماجه صرف دویم حدیث، نقل کړیدے۔

تشریح : مسئله دا ده چه که ګوتمه سسته وی او ددے خبرے ګمان وی چه د اودس په وخت کښے اوبه د ګوتمے لاندے ته رسی نو پدے صورت کښے ګوتمه خوزول سنت دی ځکه د اوداسه په اندامونو کښے استیعاب فرض دے او ګوتمه خوزول پکښ سنت شو او که ګوتمه تنګه وی او دا یقین وی چه د ګوتمے خوزولو نه بغیر د هغے لاندے اوبه نه رسی نو بیا ګوتمه خوزول واجب دی چه اوبه د هغے لاندے ته اورسی، دے دپاره چه څه ځائے اوچ پاتے نشی۔ (ملا علی القاری)۔ ۲- دارنګه د ګوتمے خوزول ځکه مشروع شو چه د ګوتمے نه لاندے خیری صفا شی۔ او کامله صفائی حاصله شی۔

بیا پدے روایت کښے صرف ګوتمه ذکر شویده خو ددے په حکم کښ بنګړی او نوره ګانړه وغیره هم دی د هغے خوزول هم ضروری دی دے دپاره چه اوبه مواضع د اوداسه ته اورسی۔

درجة الحديث : رواه الدارقطنی (۱/۳۱) وابن ماجة رقم (٤٤٩) وفی سنده معمر بن محمد بن عبید الله وهو وابوه ضعیفان ولا یصح هذا الحدیث فهو ضعیف السند . دواړه روایان منکر الحدیث دی ۔ شیخ البانی په تعلیق المشکاة کښے په ملا علی القاری رد کړیدے چه هغه دے حدیث ته حسن وئیلے دے سره ددے نه چه په سند کښ ئے معمر راوی دے نو د کوم ځائے نه حسن شو۔ قال عبید الله المبارکفوری فی المرعات ۲/۱۲٦) وقد ذکره البخاری تعلیقا عن ابن سیرین ووصله ابن ابی شیبة۔

* * * * * * * * *

بابُ الغسل

مناسبة الباب :

كله چه مصنفؒ د طهارتِ صغرى نه فارغ شو نو اوس طهارتِ كبرىٰ بيانوى ـ

۲ - دويم دا چه : وضوء - اودس - كثير الوقوع دے، دا مقدم شو او غسل قليل الوقوع (كم واقع كيږى) په دے وجه مؤخر شو ـ

د لفظ غسل لغوى تحقيق :

غسل په فتحے د غين سره استعماليږى د مطلق وينځلو دپاره هم، اودغه شان د لمبلو دپاره هم، اودا په كښے فصيح او مشهور قرائت دے ـ امام نووى فرمائى : د اهل لغت په نيز فتحه زياته فصيحه ده ليكن فقهائے اكثر ضمه استعمالوى ـ المجموع (۱٤۸/۲) ـ

اوپه ضمے د غين سره هغه اوبو ته وائى چه انسان په هغے سره لامبى ـ او په كسرے د غين سره هغه څيز ته وائى چه په هغے سره وينځل كيږى، لكه بيرے، خطمى، صابون وغيره ـ كذا قاله القسطلانى وابن السكيت وابن برى ـ

امام نوویؒ فرمائى : كه د غسل نه كله اوبه مراد شى نو بيا مضموم الغين دے، اوكله چه معنىٰ مصدرى مراد شى، نو بيا مضموم الغين او مفتوح الغين دواړه لغته مشهور دى ـ

۳ - بعضے وائى : كه غسل لفظ د غسلتُ دپاره مصدر واقع شى نو بيا به منصوب وى، لكه ضربتُ ضربا پشان غَسَلْتُ غَسْلًا به وى ـ اوكه په معنىٰ د اغتسال (لامبلو) سره شى نو بيا به مضموم الغين وى ـ لكه فقهاء وائى : غسل يوم الجمعة مسنون. كذا فى نيل الأوطار (۲۷٤/۱) والمرعاة (۱۲٤/۲) والبحر الرائق ـ

تعريفات الغسل : ۱ - غسل په شريعت كښے د اوبو استعمالول دى په ټول په بدن كښے په مخصوصه طريقه سره كوم چه نبى عليه السلام خودلے ده سره د نيت نه ـ توضيح الاحكام (۳۳۲/۱) ـ

٢- افاضة الماء الطهور علی جمیع البدن علی وجه مخصوص (الفقه الاسلامی) : راړول د پاکو اوبو دی په ټول بدن باندے په خاص طریقه سره۔

٣- شوافع ئے داسے تعریف کوی : اسالة الماء علی جمیع البدن مع النیة۔ یعنی بهیول د اوبو دی په ټول بدن باندے سره د نیت نه۔

٤- مالکیه د غسل داسے تعریف کوی : ایصال الماء لجمیع الجسد مع النیة لاستباحة الصلاة مع الدلك. حاشیة الصاوی علی الشرح الصغیر (١/١٦٠) - یعنی رسول د اوبو دی ټول بدن ته سره د نیت او مږلو د بدن نه دپاره د جائز کیدو د مانځه۔

أقسام الغسل :

غسل په دوه قسمه دے : ١- یو غسل واجب۔ ٢- دویم غسل مستحب۔

د غسل واجبی دپاره یو څو اسباب دی چه هغے ته (موجبات الغسل) هم وائی۔

١- انزال او خروج د منی په ټوپ اوخوند سره،که د سړی نه وی اوکه د زنانه نه۔

٢- التقاء الختانین۔ یعنے د زنانه په خاص اندام کښے د حشفے داخلیدل۔

٣- حیض۔ ٤- نفاس۔ ٥- اسلام الکافر۔ ٦- الموت۔

او أغسالِ مستحبه دوه قسمه دی : ١- یو اجتهادی دی، دا صاحب د نور الایضاح شپاړس ذکر کړی دی، بعضو باندے دلیل شته اوبعضو باندے نه شته۔

٢- او بل غیر اجتهادی دی۔ دا دولس غسلونه دی، چه دهغے تفصیل په به په خپل باب صفحه (٥٥) کښے راشی، ان شاء الله تعالیٰ۔

دلته صرف (١) موجبات الغسل او (٢) کیفیة الغسل بیانیږی۔

مسئله : د علماؤ په دے اتفاق دے چه په غسل کښے ټول بدن لمدول فرض دی، که چرے یو ویښته هم اوچ پاتے شو نو غسل نه کیږی۔

خو په دے کښے اختلاف دے چه آیا دلك (بدن مږل) شرط دے اوکه نه ؟۔

١- مالکیه وائی : دلك ضروری او واجب دے، اودا قول د امام ابویوسف او شیخ ابن الهمامؒ حنفی هم دے، په فتح القدیر (١/٥٠) کښے۔

٢- نور علماء دلك ضروری نه ګڼی، د دوئ دلیل دادے چه غسل په لغت کښے صبّ

او اِسَالَه ته وائي، يعنې په بدن باندې اوبه اړول، او په دې کښې دَلُك وغيره نشته، نو واجب هم نشو.

مالكيه وغيره دليل دادې چه دلك معتبر دې په معنیٰ د غسل كښې لغةً هم او شرعًا هم، هرچه لغةً دې نو دا ځكه چه غسل هغه ته وائي چه په هغې كښې دلك وي، (وما لا دلك فيه لا يسمى غسلا، بل يسمى صَبًّا وَاِسَالَةً). يعنې كوم غسل چه كښې مږل نه وي هغه غسل نه دې بلكه صرف اوبه اړول دي.

اوشرعاً ځكه چه غرض په غسل كښې دادې چه ظاهري اندامونه انسان ددې دپاره پاك صفا كړي چه الله تعالیٰ ته په پاكئ سره اودريږي، اودا نه حاصليږي په غير د دلك (مږلو) نه غالبا. او قرآن كريم كښې د ﴿فَاطَّهَّرُوْا﴾ د تشديد نه هم معلوميږي. يعنې په آيت كښې دا حكم دې چه ځان ښه پاك كړئ او ښه پاكولو دپاره مږل ضروري دي.

٢ – دارنګه حديث كښې راځي : (بلوا الشعر، وأنقوا البشر). رواه ابوداود باسناد فيه مقال وسيأتي تحقيق الحديث.

دا دليل دې په وجوب د **دلک** باندې ځكه چه انقاء او پاكي نه حاصليږي په صرف اوبو اړولو سره په بدن باندې، ترڅو چه مږل په كښې نه وي. اودا قول راجح دې په اعتبار د دليل سره. واقعي كه څوك تجربه اوكړي نو د مږلو نه بغير په هسې اوبه راړولو سره د انسان بدن نه لمديږي، خاصكر كله چه انسان هغه اوبه استعمالوي كوم چه سنت كښې راغلي دي چه هغه يو صاع وغيره دي.

٣ – بعضې وائي : چه دلك په هغه وخت كښې واجب دې چه اوبه پوره بدن ته نه رسيږي. د بعضې اندامونو او ويښتو وغيره اوچ پاتې كيدو امكان وي. اوكه داسې نه وي نو دلك واجب نه دې، لكه دا قول ابن الحاج په شرح د منيه المصلي كښې ذكركړيدې.

فرائض الغسل : په غسل كښې څو فرائض دي ؟

١ – احناف وائي درې فرائض دي (١) ټول بدن باندې اوبه اچول (٢) خله (٣) او پوزه كښې اوبه اچول. او نور الايضاح او مراقي الفلاح (٢٣) كښې ئې يولس فرائض شمارلي دي، ليكن هغه د بدن د هر اندام تفصيل كړې دې ځكه ئې يولس ذكر كړي دي، د هغې رجع هم

درے ؤ ته کیږی۔

۲ – مالکیه وائی : درے فرائض دی (۱) نیت کول په زړه کښے (۲) دلك یعنی بدن مږل (۳) ټول بدن وینځل۔

۳ – د جمهورو علماؤ په نیز دوه فرائض دی : (۱) یو نیت کول (۲) دویم ټول بدن وینځل۔ اودا قول ئے په فقه السنة (۶۶/۱) کښے ذکر کړے دے کما قال : (لاتتم حقيقة الغسل المشروع الا بأمرين : النية، اذ هى المميزة للعبادة عن العادة. والثانى : غسل جميع أعضاءِ البدن ۔ پدے ټولو کښے راجح قول دا دے چه نیت کول هم فرض دی ځکه چه انما الاعمال بالنيات حدیث دلیل دے، دارنگه مږل د بدن هم ضروری دی خاصکر کله چه د بدن کوم ځائے اوچ پاتے کیدو امکان وی ځکه امر د ﴿فَاطَّهَّرُوْا﴾ کښے مبالغه مطلوب ده په غسل کښے او دا په دلك حاصلیږی او ټول بدن باندے اوبه اوچول هم فرض دی۔ نو د مالکیه قول راجح شو۔

تنبیه : په دے باب کښے اول موجبات الغسل بیانوی ۔

الفصل الأول - اول فصل

۱ – عَنْ أَبِیْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :(اِذَا جَلَسَ أَحَدُكُمْ بَيْنَ شُعَبِهَا الْأَرْبَعِ ثُمَّ جَهَدَهَا فَقَدْ وَجَبَ الْغُسْلُ وَاِنْ لَمْ يُنْزِلْ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : ابو هريرةؓ نه روایت دے دا فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلی دے : کله چه په تاسو کښے یو تن د ښځے د څلورو څانګونو ترمینځه کینی او بیا هغے سره کوشش اوکړی نو په تحقیق سره غسل واجب شو، اګرکه انزال ئے نه وی شوے (منی ترے نه وی خارجه شوی)۔ (بخاری، مسلم)۔

تشریح : شعب : جمع د شعبه ده په معنیٰ د حصے او قطعے د یو شیٔ سره۔ د شعب أربعه په مصداق کښے متعدد أقوال دی :

۱ – بعضے وائی : شعب أربعه نه مراد دواړه لاسونه او خپے دی، لکه دا ابن دقیق العیدؒ ونیلی دی۔

٢ -- دواړه خپے او ورنونه دی۔ (٣) بعضے وائی : دواړه پونډئ او ورنونه دی۔ (٤) بعضے وائی : څلور واړه طرفونه د فرج مراد دی۔

اودا کیناستل په څلور واړو طرفونو د زنانه کښے کنایه ده دجماع نه، یعنے جماع اوکړی۔ او د (جهدها) معنیٰ داده چه ځان ئے ستړے کړو په جماع کولو سره، یائے کوشش اوکړو د هغے سره په جماع کښے ۔ نو جهد (کوشش) هم کنایه ده د دخول الحشفه نه۔ د أبوداود په روایت کښے د (جهدها) په ځائے دا الفاظ دی (ألزق الختان الختان)، دا دلیل دے چه مراد د جهد نه جماع ده۔

مسئله : په ابتداء د اسلام کښے دا حکم وو چه ترڅو پورے انزال نه وی شوے نو هسے په دخول الحشفه سره غسل نه واجبیدلو، بیا دا حکم منسوخ شو، په دے حدیث د ابو هریرهؓ او ددے پشان په حدیث د عائشهؓ باندے چه (اذا جلس أحدكم بين شعبها الأربع ومس الختان الختان فقد وجب الغسل). رواه مسلم وأحمد۔ او په روایت د ترمذی بشرح التحفه (١١٠/١) کښے (جاوز الختان الختان) الفاظ دی۔

اود دے منسوخ کیدل په ډیرو احادیثو او آثارو سره ثابت دی لکه چه دا نیل الأوطار (٢٧٩/١) کښے په روایت د ابو هریرهؓ او عائشهؓ او أبی بن کعبؓ او رافع بن خدیجؓ سره ذکر کړی دی ۔دا وجه ده بعضے صحابوؓ ته – لکه أبیّ بن کعبؓ، علیؓ، طلحهؓ، زبیرؓ، أبو أیوبؓ، عثمانؓ او عتبان بن مالکؓ ابوسعید الخدریؓ، زید بن خالد، سعد بن ابی وقاص۔ ومعاذ بن جبلؓ ته دا منسوخ کیدل نه وو رسیدلی، نو د هغوئ رائے دا وه چه تر څو پورے منی نه وی خارجه شوی نو غسل نه واجبیږی۔ استدلال ئے کولو په حدیث د أبو سعیدؓ (الماء من الماء) باندے، یعنے غسل به هله واجبیږی چه کله منی خارجه شی، والا فلا۔

بیا عمر فاروقؓ پدے باره کښے د عائشے رضی الله عنها نه تپوس کولو دپاره سړے اولیږلو لکه طحاوی (٤٧/١) کښے راځی : عبید الله بن عدی بن الخیار فرمائی چه د عمر فاروق په خوا کښے صحابه کرامو د جنابت د غسل متعلق خبره ذکر کړه بعضو پکښے اووئیل کله چه یو فرج د بل فرج نه تیروشی نو بس غسل واجب دے بعضو اووئیل چه اوبه نه وی خارج شوی نو غسل نه واجبیږی۔ نو عمر فاروق اوفرمائیل : تاسو خو په

ما باندې اختلاف راوستو او حال دا چه تاسو بدریان غوره خلق یئ (نو چه تاسو اختلاف کوئ) ستاسو نه روستو خلقو به څه حال وی پدې کښې علی بن ابی طالبؓ عمر فاروق ته اوفرمائیل اې امیر المؤمنین! که ته دا مسئله معلوممول غواړې نو د نبی ﷺ د بی بیانو پسې څوك اولیږه او د هغوی نه ددې په باره کښې تپوس اوکړه نو عمر عائشې پسې سړې اولیږلو نو عائشےؓ جواب ورکړو چه کله د سنت ځائې د سنت ځائې نه تیروځی نو بس غسل واجب دې (اګرکه اوبه نه وی وتلی) نو عمر فاروق فیصله اوکړه چه (ددې نه بعد) زه دې هیچا نه دا وانه ورم چه دا وائی الماء من الماء مګر هغه ته به څه عبرتناکه سزا ورکوم۔ امام طحاوی پدې باندې تفریع کوی چه اوګوره دا عمر دې چه د صحابو په مخامخ خلقو ته دغه حکم بیانوی او هیڅوك پرې انکار نکوی نو دا اجماع شوه۔

صحیح ابن خزیمه (۱/۱۱٤) او مسلم (۱/۱٥٦) کښې روایت داسې دې۔ ابو موسی اشعریؓ فرمائی: صحابه خپل مابین کښې ناست وو نو دائې ذکر کړه چه غسل په څه سره واجبیږی؟ نو حاضرینو کښې بعض مهاجرینو اووئیل: کله چه ختان د ختان نه تیر شی نو غسل واجب دې او حاضرینو کښې بعض انصارو اووئیل نه! (بلکه) هله به غسل واجب وی چه کله تهوپ اووهی (اوبه خارج شی) ابو موسی اشعریؓ فرمائی (ماورته اووئیل) زه به درته خبر راوړم۔نو دې عائشې ته لاړو سلام ئې پرې واچولو بیا ئې اووئیل زما اراده ده چه زه تا نه د څه (مسئلې) باره کښې تپوس اوکړم خو زه د هغې (د ذکر کولو) نه حیاء کوم (شرمیږم) عائشےؓ ورته اوفرمائیل: د څه باره کښې چه تپوس کول غواړې اوکړه ما د خپلې مور پشان اوګڼړه چه ته ترې پیدا شوې ئې زه ستا موریم (وایه) دې فرمائی: ما ورته اووئیل: مایوجب الغسل) غسل په څه سره واجبیږی؟ هغې اوفرمائیل: (علی الخبیر سقطت) یعنی د خبردار شخص نه دې تپوس اوکړو۔ رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کله چه سړې د زنانه په څلور څانګو کښې کینی او فرج د فرج سره ملاؤ شی نو غسل واجب شو (یعنی اګرکه انزال نه وی شوې)۔

بس اوس دا د ټول امت مذهب دې سره د أئمه أربعهؒ وغیرهم نه کما قال الحازمی فی الاعتبار فی الناسخ والمنسوخ من الآثار ص (۲۱)۔

صرف امام داؤد ظاهریؒ په دے باره کښے اختلاف کړے دے (كما صرح بقوله ابن العربي ونقله في نيل الأوطار) چه د غسل واجبيدو دپاره خروج المني ضروري دے۔
ليکن د هغه دا قول په دے باب کښے ضعيف دے، په خطاء باندے دے۔
امام نوویؒ فرمائی : اعلم ان الامة مجتمعة الآن على وجوب الغسل بالجماع وان لم يكن معه انزال وكانت جماعة من الصحابة على انه لا يجب الا بالانزال ثم رجع بعضهم وانعقد الاجماع بعد الآخرين انتهى۔
حافظ وائی اګر چه اجماع نه ده بلکه خلاف د بعض صحابو په کښے موجود دے خو د جمهور علماؤ قول دے۔ چه انزال ضروري ندی صرف دخول الحشفه کافی ده۔ صاحب د تحفه الاحوذی (۱۱۱/۱) فرمائی دا قول د جمهورو دے خو همدا حق او صواب دے۔
امام ابن حزمؒ فرمائی : غسل ځکه واجبیږی چه دلته سبب الانزال چه دخول الحشفه دے قائم ده په مقام د انزال کښے، ځکه انزال أمر خفی دے، کله منی خارجه شی او انسان پرے خبر هم نشی۔ لکه څنګه چه نفس سفر قائم دے په مقام د مشقت باندے په رخصت کښے۔ نو دا اجماعی مسئله ده چه په نفس دخول الحشفه سره غسل فرض او واجب دے۔
علامه شوکانیؒ فرمائی : که بالفرض اومنو چه حدیث د مس الختان الختان روستو ندے د الماء من الماء نه او دا الماء من الماء منسوخ ندے نو بیا هم دا حدیث الماء من الماء معارضه نشی کولے د حدیث د عائشه او ابو هریره وغیره سره ځکه چه دا حدیث مفهوم دے او هغه دواړه حدیثونه منطوق دی او منطوق راجح وی د مفهوم نه۔
تکمیل : دا خبره پیژندل ضروری دی چه ذکر د فرج سره یو ځائے کول په غیر د داخلولو نه صرف د دواړو په ملاقات سره، په دے سره هم غسل نه واجبیږی۔ تر څو چه دخول د رأس الحشفه نه وی راغلے۔ دا وجه ده چه په احادیثو کښے د حشفے د غائب کیدو ذکر هم راغلے دے او دارنګه کومو احادیثو کښے چه مس ذکر شویدے د هغے نه ادخال او ایلاج مراد دے نفس ختان د ختان سره ملاوول ندی مراد ځکه چه د زنانه دختنه ځائے د فرج په بره طرف کښے وی او په حالت د جماع کښے هغے سره ذکر نه لګیږی نو د علماؤ پدے اتفاق دے چه که سړے ذکر د زنانه د ختان ځائے سره ملاؤ کړی او ذکر دا خل نکړی نو

پدے سره غسل نه واجبیږی ۔ او دا هم اجماعی مسئله ده ۔ کما قال صاحب التحفة (۱/۱۱۰) والشوکانی فی النیل (۱/۲۷۸) نقلا عن ابن العربی ۔

حکمت د غسل : شریعت د جنابت نه روستو ولے غسل کول فرض کړیدی۔ نو ددے فائده اصل کښے راجع ده انسانانو ته۔ ځکه چه منی وتو سره انسان کښے سستی او بدنی ضعف پیدا کیږی ددے د اعادے دپاره شریعت اووئیل چه غسل اوکړه ددے وجه نه شیخ بسام فرمائی : واما المنی فهو عبارة عن مادة مکوّنة من جمیع اجزاء البدن ولذا نری الجسم یتأثر بخروجه ولا یتأثر بخروج البول توضیح الاحکام (۱/۲۹۰) یعنی منی هغه مادے ته وائی چه جوړیږی د ټول اجزاؤ د بدن نه دا وجه ده چه ددے په وتو سره جسم متأثر کیږی او د بول په وتو سره نه متأثر کیږی دارنګه پس د جماع کولو نه د انسان د بدن قوت کښے ضعیف پیدا کیږی خو کله چه په اوبو باندے اولامبی نو بدن ته دوباره دا ورك شوے قوت راواپس شی کوم چه په خروج المنی سره ختم شوے وو او هغه سستی ختمه شی او په غسل سره یو نشاط او تازګی پیدا شی او طبیبانو دا تصریح کړیده چه د جماع نه پس غسل کول بدن ته خپل قوت راواپس کوی او دا په بدن کښے د وینے په ګردش کښے د تازګی پیدا کولو دپاره ډیر فائده مند وی۔ او غسل نه کولو نه ډیر اضرار پیدا کیږی۔

۲- دارنګه جنابت حالت کښے په انسان باندے د شیطان تسلط زیات وی ځکه دا د ناپاکئ حالت دے نو شریعت اووئیل چه ددے حالت نه ځان اوباسه چه دشمن درباندے تسلط اونکړی۔ والله اعلم۔

---

۲ - وَعَنْ أَبِیْ سَعِیْدٍ رضی الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ : (اِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ)۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

قَالَ الشَّیْخُ الْإِمَامُ مُحْیِ السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللهُ : هٰذَا مَنْسُوْخٌ.

۳ -وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضی الله عنه: اِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ فِی الْاِحْتِلَامِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ، وَلَمْ أَجِدْهُ فِی الصَّحِیْحَیْنِ .

ترجمه : ابو سعيد فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي : اوبه د اوبو نه دي، يعني مني وتلو سره غسل واجبيږي. (مسلم) اوامام محيي السنة فرمائي : دا حكم منسوخ دي، او ابن عباس فرمائيلي دي : اوبه د اوبو نه دي، دا حكم د احتلام په باره كښي دي. او ما دا روايت بخاري او مسلم كښي نه دي موندلي.

تشريح : اِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ : د اول ماء نه مراد معروفي اوبه دي، اود دويم ماء نه مراد مني خارجيدل دي. او په دي كښي د علم البديع نه جناس تام شوي دي. معنیٰ داده : غسل واجبيدل به هله وي كله چه اوبه (مني) د انسان نه خارج شي، نو ددي مفهوم مخالف دا شو چه كله د انسان نه په جماع كښي اوبه خارج نشي نو غسل به واجب نه وي.

نو دا حكم منسوخ شو په حديث د سهل بن سعد عن أبيّ بن كعب :

قال : انما كان الماء من الماء رخصة فى أول الاسلام ثم أمرنا بالاغتسال بعد (أخرجه أحمد والدارمي والترمذي وابوداود رقم (۲۱۵) وابن ماجة وصححه ابن خزيمة وابن حبان وقال الاسماعيلي : انه صحيح على شرط البخاري. وقال الحافظ : انه اسناد صالح لا ن يحتج به. يعني دا حكم چه په اوبو وتلو سره غسل واجب دي په ابتداء د اسلام كښي رخصت وو بيا مونږ ته ددي نه روستو د غسل كولو حكم اوشو (كله چه دخول الحشفه شوي وي).

دارنګه نور آثار او احاديث نيل الأوطار او كتاب الناسخ والمنسوخ د علامه حازمي كښي ذكر شوي دي چه هغه دليل د نسخ دي.

لكه روايت د رافع بن خديج عند أحمد (۱٤۳/٤) كښي دي د افرمائي : زه د خپلي ښځي سره په جماع كښي مشغول ووم چه رسول الله ﷺ راته آواز اوكړو نو زه بغير د انزال نه راپاسيدم اوغسل مي اوكړو او بهر را اووتلم. نبي ﷺ ته مي خبر وركړو، نو هغه راته اوفرمائيل : (لا عليك، الماء من الماء). بيا رافع فرمائي : (ثم أمرنا رسول الله ﷺ بعد ذلك بالغسل). يعني : ددي وخت نه روسته مونږ ته رسول الله ﷺ د غسل كولو حكم اوكړو په داسي حالت كښي چه انزال نه وي شوي او دخول الحشفه راغلي وي.

نو دا دليل د نسخ دي په قول د صحابي باندي.

خو دا حديث – د أبو سعيد – به هله منسوخ شمارلي كيږي چه كله دا يقيني طور

سره معلومه شي چه حديث د أبو هريرةؓ او عائشةؓ كوم چه ناسخ دے متأخر دے، اودا حديث د أبو سعيدؓ منسوخ مقدم دے، وهو الراجح۔

اوكه چرے تقدم او تأخر معلوم نشي نو بيا هم حديث د (الماء من الماء) معارض نشي كيدے د حديث د ابو هريرةؓ او عائشةؓ سره، وجه داده چه دا حديث د الماء په دے مسئله باندے دلالت په مفهوم مخالف سره كوى، كما عرفتَ۔ اوحديث د أبو هريرةؓ اوعائشةؓ دلالت په منطوق سره كوى، اودا قاعده ده چه كله د مفهوم اومنطوق تعارض راشي نو ترجيح منطوق لره وى۔ كما قال الشوكاني (١/٢٧٧) والأمير الصنعاني في سبل السلام (١/١٢٩)۔

٣ – يا داچه د حديث الماء من الماء هيڅ تعارض د حديث د أبو هريرةؓ او عائشةؓ سره په دے وجه هم نشته، چه عبد الله بن عباسؓ فرمائي : د (الماء من الماء) مطلب دادے چه دا حمل دے په احتلام باندے، معنىٰ داده چه په احتلام كښے يو شخص خوب اووينى او سَحر راپاڅى نو كه منى يا د هغے لوندوالے اووينى نو غسل به واجب وى۔ اوكه هيڅ محسوس نه كړى نو غسل پرے واجب نه دے۔

او هرچه حالت د بيدارئ كښے د جماع حكم دے نو هغه په دے حديث كښے نه دے مراد بلكه دهغے حكم په حديث د ابو هريرةؓ او عائشةؓ كښے ذكر دے چه په نفس غيبوبت د ذكر سره غسل واجب دے، انزال ئے شوے وى اوكه نه وى شوے۔

او عبد الله بن عباسؓ چه دا جمع بين الروايتين كړے ده نو دا يا د ناسخ حديث نه خبر نهٔ وو، هغه ورته نه وو رسيدلے، يا ورته رسيدلے وو، او دا ورته معلومه وه چه دا حديث منسوخ دے ليكن بله مسئله ئے ترے معلومه كړه چه هغه حكم د احتلام دے۔ دے دپاره چه حديث ضائع نشي۔

او ددے حديث (الماء من الماء) نورے معانى هم علماؤ ذكر كړى دى چه هغه دومره واضح نه دى، كما ذكر في المرعاة (١/١٢٨)۔

فائده : څنګه چه د قرآن كريم بعضے آيتونه بعضے نورو لره منسوخ كولے شي، دغه شان بعضے احاديث بعضے نورو لره منسوخ كولے شي، كما هو معروف۔

۲ - فقه حنفي (شامي، فتاوئ ودودیه، سقایه شرح شرح وقایه) کښې د احتلام په باره کښې څوارلس صورتونه ذکر کړي دي، هغوی داسې تفصیل کوی : که یو انسان د خوب د بیداریدو نه بعد په کپړه (جامه) باندې لوندوالې اووینی نو پدې کښې څوارلس صورتونه ابن عابدین شامي ذکر کړیدی (۱) اول دا چه په لوندوالی باندې د منی کیدو یقین وی (۲) - د مذی کیدو یقین وی (۳) - د ودی کیدو یقین وی (٤) - اولنو دواړو کښې شك وی (٥) اخیرنو دواړو کښې شك وی (٦) - په طرفینو کښې شك وي چه منی ده که ودی۔ (۷) بیا په پدې هریو صورت کښې به ورته یا احتلام یاد وی یا به نه وی یاد۔ نو څوارلس صورتونه شو ۔

پدیکښې په لاندیني اووه صورتونو کښې غسل واجب دې : (۱) د منی کیدو یقین وی او خوب یاد وی (۲) د منی کیدو یقین وی او خوب یاد نه وی (۳) د مذی کیدو یقین وی او خوب یاد وی او څلورم نمبر نه تر اوم (۷) نمبر پورې د شك څلور صورتونه کله چه خوب یاد وی نو غسل به واجب وی۔

او لاندیني څلور صورتونو کښې غسل بالاتفاق بینهم واجب ندې (۱) ودی کیدو یقین وی او خوب یاد وی (۲) د ودی کیدو یقین وی او خوب یاد نه وی (۳) د مذی کیدو یقین وی او خوب یاد نه وی (٤) مذی او ودی کښې شك وی او خوب یاد نه وی۔

او لاندیني صورتونو کښې اختلاف دې (۱) مني او مذی کښې شك وی او خوب یاد نه وی (۲) منی او ودی کښې شك وی او خوب یاد نه وی (۳) درې واړو کښې شك وی او خوب یاد نه وی پدې صورتونو کښې د طرفینو په نیز احتیاطا غسل واجب دې لیکن امام ابویوسف په نیز غسل واجب نه دې للشك في وجود الموجب۔ کذا في تحفة الأحوذي (۱۱۲/۱) ودرس ترمذی (۳٤۳/۱)۔

صاحب د نور الایضاح په کښې د انتشار خبره هم کړیده چه کله انسان نرئ اوبه اووینی نو که د خوب نه مخکښې آله منتشروه نو غسل به واجب وی او که د خوب نه مخکښې انتشار نه وی نو غسل واجب نه دې۔ مراقی الفلاح ص (۲۲)۔

دا تول د متأخرینو متفقهو و **تعمقات** دی چه په دین کښې هیڅ أساس او بنیاد نه

لري، محض ذهن تيزي ده، بلكه حكم د احتلام دادے كوم چه عبد الله بن عباسؓ په دے حديث كښے بيان كړو ـ هغه دا چه انسان د شپے خوب اووينى او سحر راپاڅي نو كه منى يا د منى لوندوالے ئے اوليدلو نو غسل به كوى او كه نه وى نو نه به ئے كوى۔ آسان حكم دے۔

وَلَمْ أَجِدْهُ فِي الصَّحِيحَيْنِ : دا اعتراض د صاحب المشكاة په مصابيح والا باندے صحيح نه دے، چه دا قول د ابن عباسؓ په صحيحينو كښے نشته، نو تا ولے په أحاديث صحيحه ؤ كښے راوړو ؟۔

وجه داده چه مصنفؒ د مصابيح، د ابن عباسؓ قول د روايت د مسلم د توجيه دپاره ذكر كړے دے، او دا مقصود الباب نه دے، نو كه دا په صحيحينو كښے نه وى موجود، څه مضر نه دے، ځكه دا شرط په مقاصدو د باب كښے صاحب المصابيح ساتلے دے نه په ذكر د أقوالو كښے تَبْعاً۔

---

٤ ـ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ : يَا رَسُوْلَ اللهِ، اِنَّ اللهَ لَا يَسْتَحْيِيْ مِنَ الْحَقِّ فَهَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ مِنْ غُسْلٍ اِذَا احْتَلَمَتْ ؟ قَالَ : نَعَمْ، اِذَا رَأَتِ الْمَاءَ. فَغَطَّتْ أُمُّ سَلَمَةَ وَجْهَهَا وَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَوَ تَحْتَلِمُ الْمَرْأَةُ ؟ قَالَ : نَعَمْ، تَرِبَتْ يَمِيْنُكِ ! فَبِمَ يُشْبِهُهَا وَلَدُهَا). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

٥ ـ وَزَادَ مُسْلِمٌ بِرِوَايَةِ أُمِّ سُلَيْمٍ : اِنَّ مَاءَ الرَّجُلِ غَلِيْظٌ اَبْيَضُ وَمَاءَ الْمَرْأَةِ رَقِيْقٌ أَصْفَرُ، فَمِنْ أَيِّهِمَا عَلَا اَوْ سَبَقَ يَكُوْنُ مِنْهُ الشَّبَهُ).

ترجمه : ام سلمهؓ فرمائي : ام سليمؓ عرض اوكړو : يا رسول الله ! الله تعالىٰ د حق وئيلو نه شرم نه كوى آيا د زنانه چه كله احتلام اوشي (اودس پرے واوري) نو په دے باندے غسل لازم دے ؟ رسول الله اوفرمائيل : هاؤ، كله چه اوبه اووينى۔ نو ام سلمےؓ خپل مخ پټ كړو او عرض ئے اوكړو : يا رسول الله ! آيا د زنانه ګنے هم احتلام كيږى ؟ (يعنے د سړى غوندے اوبه ئے وى او اوځى ؟)، نبى ﷺ ورته اوفرمائيل : هاؤ، ستا ښے لاس دے په خاورو

کښې ککړ شي، که داسې نه وي نو بيا د هغې بچې د هغې مشابه کيدې څنګه شو ؟ (بخاري، مسلم) او د مسلم په روايت د ام سليمؓ سره زيات کړي دي چه د سړي اوبه ټينګې او سپينې وي، او د ښځې اوبه نرمې او زيړې وي، نو دې کښې چه د چا مني غالبه شي يا مخکښې والې اوکړي نو د بچي مشابهت هغې سره وي۔

تعارف : د أم سليم رضی الله عنها :

دا ام سليم بنت ملحان أنصاريه صحابيةٌ ده، د انس بن مالكؓ والده ده، خپل نوم ئې سهله يا رميثه يا رميله دې، ډيره غوره صحابيه ده، په کنيه باندې مشهوره ده څوارلس (١٤) احاديث ترې نقل شوي دي، په جاهليت کښې د مالك بن نضر ښځه وه. هغه نه أنس پيدا شو۔ کله چه د اسلام زمانه راغله نو دې اسلام قبول کړو او خاوند ته ئې هم اسلام پيش کړو، ليکن هغه ورته غصه شو اوشام ته ترې لاړو هلته مړ شو۔ بيا د هغې نه پس د أبو طلحهؓ سره ئې نکاح اوکړه۔ اول کښې خو ابو طلحهؓ ددې خِطبه اوکړه (د نکاح پيغام ئې ورته راوليږلو)، ابو طلحهؓ دغه وخت مشرك وو۔ نو دې انکار اوکړو چه تر څو پورې ابو طلحهؓ اسلام قبول کړې نه وي نو نکاح نشي کيدې۔ نو ابو طلحهؓ اسلام قبول کړو او نکاح ئې اوشوه۔ بيا د أبو طلحهؓ نه د ام سليمؓ يو هلك پيدا شو چه ابو طلحهؓ ته ډير ګران وو، خو هغه وفات شو نو ډير سخت غمژن شو۔ بعضې وائي دا أبو عمير صاحب النغير وو۔ بيا د هغې نه پس عبد الله بن أبي طلحه پيدا شو، نو الله ورله په ده کښې برکت واچولو، دده نه پس بيا لس اولاد پيدا شو، يو په کښې اسحق بن عبد الله بن أبي طلحه وو، چه دا ډير لوئې فقيه اوګرځيدلو اودې ټولو به دده نه علم زده کولو۔ د ام سليمؓ کور ته به نبي کريم ﷺ ډير تلو راتلو، ډيره اخلاقي کورنۍ وه۔ أم سليمؓ به فرمائيل : ماته رسول الله ﷺ داسې دعاء کړې ده چه نور هيڅ نه غواړم هغه دعاء ما دپاره کافي ده۔ په خلافت د عثمانؓ کښې وفات شوې ده۔ رضی الله تعالىٰ عنها۔

تشريح : اِنَّ اللهَ لَا يَسْتَحْيِيُ مِنَ الْحَقِّ : أم سليمؓ د خپل تپوس نه ـ کوم چه د حياء سره تعلق لري ـ مخکښې د تمهيد په طور باندې دا مقدمه کيخودله چه الله تعالىٰ د حق بيانولو نه حياء نه کوي، نو موږ له هم پکار دي چه په حق مسئلو کښې حياء او شرم

اونه کړو، چه دا تپوس د حیاء سره تعلق لري چه د سړو په مخامخ داسې مسائل وړاندې کول د زنانه د شان سره مناسب نه دي، لیکن دا دین دې په دې وجه ددې په تپوسلو کښې حیاء او شرم نه کوم ـ لیکن زمونږ د زمانې د عوامو دا مزاج الته جوړ شوې دې، چه خپله به ئې کورته دګمراهۍ او فحاشۍ عریانۍ سامانونه را دننه کړي وي، ټي، وي ـ وي سي آر ـ کیبل وغیره دګمراهۍ سامانونه به ورکړه وي دا به ورته د بې حیایۍ کار نه ښکاري. زنانه به ئې بازارونو کښې ګرځي راګرځي ـ خو که د قرآن او سنت کښې د زنانه ؤ کومه مسئله راشي نو بیا به په علماؤ باندې اعتراض کوي چه دا قچر مُلا دې لاؤډ سپیکر پر بند کړئ په مسجد کښې د زنانو داسې د حیاء او شرم خبرې کوي ـ نو دا د عوامو بې وقوفي او د دین نه لرې والې دې ـ دا د شیطان وسوسه وي چه انسان ته نیك کار بد ښکاره کړي او بد ورته ښه ښکاره کړي ـ

فَغَطَّتْ أُمُّ سَلَمَةَ وَجْهَهَا : دا قول یا د زینبؓ دې چه د ام سلمهؓ نه روایت کوي، یا په خپله د ام سلمه دې، لیکن ځان ئې غائب فرض کړې دې او التفات ئې کړې دې ـ

سوال : په روایت د مسلم کښې د أنسؓ نه داسې نقل دي چه دا کار د عائشهؓ نه واقع شوې وو، او دلته أم سلمهؓ ذکر ده، ددې تعارض څه توفیق دې ؟ ـ

جواب : د أم سلیمؓ د تپوس په وخت کښې عائشهؓ او أم سلمهؓ دواړه حاضرې وې نو کیدې شي چه دواړو مخ پټ کړې وي ـ

أَوَ تَحْتَلِمُ الْمَرْأَةُ ؟ : **سوال** : ام سلمهؓ دا تپوس ولې اوکړو آیا په زنانه ؤ څه احتلام نه راځي ؟ **جواب** : ددې څو وجوهات دي (۱) بعضې وائي : د نبي ﷺ په ازواج مطهرات باندې شیطان نه راتلو ـ لیکن دا جواب خطاء دې، وجه داده چه أم سلمهؓ وغیرها خو سخکښې د نبي ﷺ بي بي نه وه، نو آیا په هغه حالت کښې هم پرې د شیطان راتللو امکان نه وو ؟ ـ

۲ – دویمه توجیه داده چه زنانو باندې هم احتلام راځي خو غالباً د زنانو طبیعت یخ وي، نو شیطان ورله ډیر نه راځي، په ډیر کم کوز زنانو باندې احتلام راځي، نورې اکثرې ددې نه ناخبره وي ـ نو أم سلمهؓ هم په هغه زنانو کښې وه چه طبیعت کښې ئې یخوالې وو،

نو احتلام ئې نه پيژندلو ځکه ئې داسې تعجب اوکړو.
تَرِبَتْ يَمِيْنُكِ : ددې الفاظو په معنىٰ کښې ډير اقوال علماؤ ذکر کړي دي. علامه ابن العربيؒ د ترمذى په شرح کښې لس اقوال راوړي دي. أصح داده چه ددې معنىٰ داده چه ستا لاسونه دې په خاورو ککړ شي يعنې ته دې فقيره او خواره شې، خو دا بيا عرب صرف د انکار او زجر او ملامتيا دپاره استعمالوي، او اصل معنىٰ ئې نه وي مراد چه بنيرې دي. لکه په هره ژبه کښې داسې قسم الفاظ استعماليږي، لکه پښتو کښې (خوارشې، غرق شې) استعماليږي.
فَبِمَ يُشْبِهُهَا وَلَدُهَا : دا جواب دې په لازم سره، يعنې که ددې نطفه نه وې نو بچې به ئې نه پيدا کيدلې، خو نطفه ئې شته دې ځکه بچي راوړي او د هغې په وجه د مور پلار سره بچې مشابه کيږي. اوهر کله چه نطفه شته نوا حتلام ئې هم ځکه کيږي. حاصل دا چه: اولاد پيدا کيدل لازم دي د نطفې سره، او د نطفې د وجود سره د احتلام موجود والې هم ضروري دې. ځکه احتلام لازم دې د نطفې سره.
دا دليل دې چه ولد د نارينه اوزنانه د دواړو د اوبو نه پيدا کيږي. کما قال الله تعالى: ﴿من نطفة أمشاج﴾. اوکله چه د سړي مني مخ کښې رحم ته لاړه شي نوولد د هغه سره مشابه وي، اوکه د زنانه مني مخکښې لاړه شي نو هغې سره مشابه وي.
فَمِنْ أَيِّهِمَا عَلَا اَوْ سَبَقَ يَكُوْنُ مِنْهُ الشَّبَهُ : دې کښې ډير صورتونه جوړيږي: ۱ - يو دا چه کله د نارينه مني عالي (بره) شي او د زنانه مني رحم ته مخکښې لاړه شي نو غالباً ماشوم جينئ پيدا کيږي، خو دپلار سره مشابه وي.
۲ - اوکله د سړي مني عالي هم شي اورحم ته هم مخکښې لاړه شي نو غالباً هلك د پلار سره مشابه وي.
۳ - اوکله د زنانه مني عالي هم شي اورحم ته هم مخکښې لاړه شي نو جينئ وي او د مور سره مشابه وي.
٤ - اوکله د زنانه مني عالي شي او د سړي مني مخکښې رحم ته لاړه شي نو هلك د مور سره مشابه شي.

٥ – پنځم صورت دادے چه د سړي مني مخکښے لاړه شي او د دواړو مني برابره وي، يو طرفته زيادت نه وي، نو ماشوم هلك وي او د يو سره هم پوره نه وي مشابه۔

٦ – شپږم صورت ددے عکس دے۔ چه د زنانه مني مخکښې لاړه شي او د دواړو مني يو برابر وي، يو طرفته هم زيادت نه وي نو ماشوم جينۍ وي او د يو سره هم پوره مشابه نه وي۔

اودا مشابهت بيا په صورت کښے هم وي او په مزاج اوطبيعت کښے هم وي۔

اود دے صورتونو بيان په احاديثو سره ثابت دے۔ لکه په حديث د بخاري بشرح الفتح (٢١٨/٧) باب الهجرة کښے په قصه د اسلام د عبد الله بن سلامؓ کښے دی (اذا سبق ماء الرجل ماءَ المرأة نزع الولد، واذا سبق ماء المرأة ماء الرجل نزعت الولد)۔

او په حديث د مسلم کښے په روايت د عائشةؓ کښے دی (اذا علا مائها ماء الرجل أشبه الولد أخواله، واذا علا ماء الرجل مائها أشبه أعمامه)۔

دے حديث کښے د علو نه مراد سبقت دے (لأن من سبق فقد علا شانه فهوعلو معنوی، قاله الحافظ)۔ نو علو علامه د مشابهت ده او سبقيت علامه د تذکير او تانيث ده۔ فتح الباری (٢١٩/٧)۔

فائده عجيبه : شيخ عبد الله البسام فرمائی : پدے حديث کښے اشاره ده قانون الوراثه ته (عند الاطباء) او هغه دا چه اولاد کله د مور مشابه وي او کله د پلار، ځکه چه هغه عوامل چه هغه سبب د مشابهت وي په هغے کښے انتقال راشي د زنانه رحم ته بيا دا يو اساسي ماده اوګرځي او ددے په اعتبار سره ميراثي صفات پيدا شي نو هريو بچے د خپل مور پلار نه ميراث وړي نو کوم صفت چه په مور کښے وي او بچے د هغے مشابه وي نو بچي کښې هم هغه صفت پيدا کيږي او کوم صفت چه په پلار کښې وي (مثلا بهادري، بزدلي) او بچے د هغه مشابه وي نو هغه کښې هم دغه صفت پيدا کيږي او يوائځے صرف په اولادو کښې نه بلکه دا کله دومره اوږد شي چه په ډيرو پشتونو (نسلونو) کښې تاثير اوکړي يعنی په ځکته نمسو، کړوسو وغيره کښې د نيکونو او نياګانو خويونه وي، د هغوی پشان حسن، شکل، اخلاق، او استعدادونه بدني، نفسي او اخلاقي پيدا شي۔ او دے ته

اشاره شويده پدے حديث كښے (عَسٰى اَنْ يَكُوْنَ نَزَعَهٗ عِرْقٌ – متفق عليه) او دے اكتشاف په دغه حديث كښ يوه معجزه راپيدا كړه. د نبى عليه السلام يو مختصر لفظ كښے دومره معنى پرته وى. توضيح الاحكام (١/٢٩٧)

دكتور طبيب محمد على البار فرمائى : د نبى عليه السلام پدے يوه مختصره كلمه كښے قانون الوراثة ته اشاره ده چه خلاصه ئے دا ده چه صفات وراثى دوه قسمه دى (١) سرسرى ښكاره صفات (٢) پټ صفات چه نه ښكارى. كله چه په يو د ابوين كښ ښكاره صفات وى نو ددے په نيم اولادو كښ ښكاره كيدل كافى دى او كه په ابوين كښ پټ صفات وى نو په اولادو كښ نه ښكارى مګر هله چه دا صفت په مور او پلار دواړو كښ موجود وى اګركه د هغوى نه فى الحال نه ښكاره كيږى – نو دا په څلورمه حصه د اولادو باندے ښكاره كيږى او ربع ثانى بالكل ددے صفاتو نه خالى وى.

انظر توضيح الاحكام (١/١٩٦).

٦– وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ بَدَأَ فَغَسَلَ يَدَيْهِ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ كَمَا يَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ، ثُمَّ يُدْخِلُ اَصَابِعَهٗ فِى الْمَاءِ فَيُخَلِّلُ بِهَا اُصُوْلَ شَعْرِهٖ ثُمَّ يَصُبُّ عَلٰى رَأْسِهٖ ثَلَاثَ غَرَفَاتٍ بِيَدَيْهِ، ثُمَّ يُفِيْضُ الْمَاءَ عَلٰى جَسَدِهٖ كُلِّهٖ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِىْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ : يَبْدَأُ فَيَغْسِلُ يَدَيْهِ قَبْلَ اَنْ يُدْخِلَهُمَا الْاِنَاءَ ثُمَّ يُفْرِغُ عَلٰى شِمَالِهٖ فَيَغْسِلُ فَرْجَهٗ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ.

ترجمه : بى بى عائشه رضى الله عنها فرمائى : رسول الله ﷺ چه به د غسل د جنابت (يعنى ناپاكئ لرے كولو دپاره د غسل) اراده اوكړه، نو غسل به ئے داسے شروع كولو چه مخكښے به ئے خپل دواړه لاسونه (مړوندونو پورے) اووينځل، بيا به ئے اودس كولو څنګه چه مانځه دپاره اودس كولے شى. بيا به ئے خپلے ګوتے په اوبو كښے ننويستے او د خپلو ويښتانو په بيخونو كښے به ئے خلال كولو، بيا به ئے په خپل لاس سره په سر باندے درے لپے واچولے، بيا به ئے په خپل ټول بدن باندے اوبه واړولے. (بخارى، مسلم)، او د مسلم يو

روايت کښې دی: شروع به ئې داسې کوله چه دواړه لاسونه به ئې اووينځل، بيا به ئې د خپل ښی لاس په ذريعه په ګس باندې اوبه را واړولې نو خپل فرج به ئې اووينځلو، بيا به ئې اودس کولو.

تشريح: إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ: په دې حديث او راتلونکی حديث کښې د غسل کيفيت او طريقه بيانيږی.

د غسل نه مخکښې اودس کول بالاتفاق سنت او مستحب دی، واجب او ضروری نه دی. که يو شخص بغير ددې اودس نه غسل اوکړی بيا هم غسل ئې اداء شو. مګر أفضليت او سنيت ترې پاتې شو. البته د امام داود ظاهریؒ رائې داده چه په غسل د جنابت کښې اودس کول واجب دی، وهو الراجح عند صاحب المرعاة (١٣٢/٢). ځکه چه د ﴿حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا﴾ آيت کښې د اغتسال نه مراد اغتسال شرعی دې، او ددې کيفيت نبی ﷺ عملًا دا بيان کړې دې چه اودس ئې د غسل نه مخکښې کړې دې، نو ددې مجمل غسل بيان نبی ﷺ اوکړو، نو شرعی غسل دا دې چه اودس ئې په ابتداء کښې اوکړې شی نو هله به عمل په آيت راځی اوکه ابتداء کښې اودس اونکړې شی نو دا شرعی غسل ندې ددې نه بغير جنابت نه زائل نه کيږی.

بيا دا خبره زده کول پکار دی چه که يو شخص په ابتداء د غسل کښې اودس اوکړو او اودس ئې مات نشی نو دوباره اودس کولو ته ضرورت نشته، ځکه په دې کښې اتفاق دې چه دوه اودسونه کول غير مشروع عمل دې، بلکه وضوء بعد الغسل بدعت عمل دې.

ثَلَاثَ غَرَفَاتٍ بِيَدَيْهِ: د جمهورو علماؤ مذهب دادې چه سر وينځل په غسل کښې درې کرته دی، اوپه بدن باندې يو ځل اوبه اچول دی. او درې ځله په بدن باندې اوبه اچول په هيڅ صحيح يا ضعيف حديث کښې نه دی ثابت، بلکه طريقه داده چه په سر به درې ځله اوبه اچوی او په ټول بدن به يو ځل اوبه واړوی، لکه په دې حديث کښې چه څنګه ذکر ده. بيا د يو ځل اوبو اچولو مطلب دانه دې چه هسې يو ځل به اوبه پرې واچوی نو دا کافی دی، نه بلکه مطلب دادې چه په ټول بدن باندې ديوې لوټې کوزې نه اوبه اچول کافی دی، بار بار لوټې کوزې ډکول او په بدن باندې راړول - اګرکه هغه لوند شوې وی -

صحیح نه دی. صرف بدن یو ځل لوندول کافي دی. په بدن دے دومره اوبه واچوی چه تر خپو پورے لوند شی، نو بیا دوباره اوبه اچول نشته.

۲ – صرف د احنافو رائے داده چه په غسل کښے به یو ځل په سر اوبه اچوی، بیا به په ښئ اوګه، او دریم ځل به په ګسه اوګه باندے اوبه اچوی. لیکن دا طریقه د نبی کریم ﷺ نه نه ده ثابت. او تثلیث په غسل کښے سنت نه دے. دلیل او حکمت دادے چه جنابت خو ظاهری نجاست نه دے چه درے ځل پرے اوبو اچولو سره پاك شی، بلکه دا نجاست معنوی دے، لکه حدیث کښے دی (ان المؤمن لا ینجس)، که جنب وی او اوبو کښے لاس اووهی نو دا نجس نه دی، کله چه ظاهری نجاست ئے په لاس باندے نه وی.

مسئله : بعضے علماء فرمائی : په غسل د جنابت کښے په سر باندے درے ځله اوبه اچول مستحب دی، اګرکه په یوکرت اچولو باندے سر لوند شی خو تکرار مسنون دے لکه چه په دے حدیث کښے ذکر شوی دی.

۲ – او بعضے نور علماء فرمائی چه درے ځله اوبه اچول مستحب نه دی. او ددے روایت مطلب دادے چه نبی کریم ﷺ هره غرفه (لپه) د سر په اطرافو باندے اچولے ده، نو ددے سره غرض استیعاب د سر دے یو ځل، او تکرار مقصود نه دے.

---

۷ – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : قَالَتْ مَيْمُوْنَةُ : وَضَعْتُ لِلنَّبِيِّ ﷺ غُسْلًا فَسَتَرْتُهُ بِثَوْبٍ وَصَبَّ عَلٰى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ صَبَّ عَلٰى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ صَبَّ بِيَمِيْنِهِ عَلٰى شِمَالِهِ فَغَسَلَ فَرْجَهُ فَضَرَبَ بِيَدِهِ الْاَرْضَ فَمَسَحَهَا ثُمَّ غَسَلَهَا فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ ثُمَّ صَبَّ عَلٰى رَأْسِهِ وَاَفَاضَ عَلٰى جَسَدِهِ ثُمَّ تَنَحّٰى فَغَسَلَ قَدَمَيْهِ فَنَاوَلْتُهُ ثَوْبًا فَلَمْ يَأْخُذْهُ فَانْطَلَقَ وَهُوَ يَنْفُضُ يَدَيْهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَلَفْظُهُ لِلْبُخَارِيِّ.

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنهما وائی : ام المؤمنین بی بی میمونے رضی الله عنها اوفرمائیل : ما د رسول الله ﷺ دپاره اوبه کیخودلے، او په یو جامه باندے مے پټ کړو، په خپل دواړو لاسونو باندے ئے

اوبه واچولے، هغه ئے اووینځل، بیائے په خپل ښی لاس سره په ګس باندے اوبه واچولے او خپل عورت ئے اووینځلو، بیائے خپل ګس لاس په زمکه اومړلو او هغه ئے اووینځل، بیا ئے خله کنګال کړه، پوزه کښې ئے اوبه واچولے او مخ لاسونه ئے تر څنګلو پورے اووینځل، بیائے په خپل سر اوبه واچولے او تول بدن باندے ئے اوبه اوبهیولے، بیا (هغے ځائے نه) اخوا شو (چرته ئے چه غسل کړے وو) او خپلے دواړه خپے ئے اووینځلے. بیا ورته ما جامه ورکړه خو هغه ئے قبوله نه کړه، او په داسے حال کښې روان وو چه دواړو لاسونو نه ئے اوبه څنډلے .(بخاري، مسلم او الفاظ د بخاري دي).

تشریح : فَغَسَلَ قَدَمَيْهِ : **سوال** : په دے روایت او دارنګه په روایت د بخاری کښې داخبره ده چه قدمونه روستو وینځل شوی دی د غسل نه، او په تیر شوی روایت د عائشهؓ کښې دی (ثم یتوضأ کما یتوضأ للصلاة)، یعنې قدمونه به ئے د اوداسه سره وینځل. نو دا ظاهر کښې تعارض معلومیږی ددے څه جمع او توفیق دے ؟.

۱ – **جواب** : روایت دعائشهؓ حمل دے په مجاز باندے یعنې مراد د داوداسه نه اکثر اودس دے، سیوا د خپو وینځلو نه، نو تعارض نشته یعنې. خپے ئے روستو وینځلی دی، په دواړو حدیثونو کښې.

۲ – **جواب** : دا چه دواړه حدیثونه حمل دی په دوه قسمه حالاتو باندے، کله به نبی کریم ﷺ قدمونه د اوداسه سره وینځل، کله چه به ګنده ځائے کښې نه وو ولاړ، مثلا په تخته یا کانړی یا اوچت ځائے کښې به وو، چه خپے به نه ګنده کیدلے نو خپے به ئے د اودس سره اووینځلے. اوکله به ئے روستو وینځلے، کله چه به په داسے مکان کښې وو چه اوبه به په کښې جمع کیدلے، خپے به نجس کیدلے. دا وجه ده : د امام مالکؒ هم دا مذهب دے چه کله انسان په پاك ځائے کښې وی نو قدمین به مخکښې وینځی (یعنې اوداسه سره) اوکله چه پاك ځائے کښې نه وی، نو مستحب داده چه قدمین به روستو وینځی. لکه چه خپے روسته وینځل اکثری طریقه د نبی کریم ﷺ وه. وهو الراجح.

لکه حافظ ابن حجر او امام نووی فرمائی : چه هیڅ یو روایت کښې تصریح پدے نده راغلے چه نبی ﷺ خپے اوداسه سره مخکښې وینځلی دی، بلکه صرف احتمالی روایات

شته لكه (يتوضأ كما يتوضأ للصلاة) او بل طرفته د عائشې روايت كښې صراحت ددې خبرې دې چه خپې ئې د غسل كولو نه روستو وينځلى دى (ثم أفاض على سائر جسده ثم غسل رجليه) او ددې روايت بل شاهد هم شته چه ابو سلمه د عائشهؓ نه روايت كوى هغه دا چه (فاذا فرغ غسل رجليه) يعنې كله به چه فارغ شو نو خپې به ئې اووينځلې.

فتح البارى (١/٤٣١) وتحفة الاحوذى (١/٣٦٧).

٢ - د شوافعو دوه قوله نقل دى : أصح او مشهور قول دادې چه اودس به كامل كوى.

وهو ينفض يديه : ١ - دا حديث دليل دې په دې خبره چه لاسونه ځنډل جواز لرى، امام بخارى رحمه الله په دې باب تړلې دې : باب نفض اليدين . او بل حديث چه ددې معارض راغلې دې (لا تنفضوا أيديكم فى الوضوء، فانها مراوح الشيطان) أخرجه ابن حبان فى الضعفاء . نودا حديث ضعيف جدا دې، د معارضې قابل نه دې، اودا حديث الباب متفق عليه قوى حديث دې.

٢ - دا حديث دليل دې چه غُسَالَةُ البدن طاهر ده، يعنې د بدن نه چه كومې اوبه په نورو اندامونو باندې لګى نو نجس نه دى. ځكه د لاس په ځنډلو سره ضرور څاڅكى په بدن لګيږى.

٣ - اودس نه پس اندامونه اوچول بهتر نه دى، لكه چه دا مسئله مخكښې تيره شوه.

---

٨ - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : إِنَّ امْرَأَةً مِنَ الْاَنْصَارِ سَأَلَتِ النَّبِيَّ ﷺ عَنْ غُسْلِهَا مِنَ الْمَحِيْضِ فَأَمَرَهَا كَيْفَ تَغْتَسِلُ ثُمَّ قَالَ : خُذِىْ فِرْصَةً مِنْ مِسْكٍ فَتَطَهَّرِىْ بِهَا، قَالَتْ : كَيْفَ أَتَطَهَّرُ بِهَا ؟ فَقَالَ : تَطَهَّرِىْ بِهَا. قَالَتْ : كَيْفَ أَتَطَهَّرُ بِهَا ؟ قَالَ : سُبْحَانَ اللّٰهِ ! تَطَهَّرِىْ بِهَا، فَاجْتَذَبْتُهَا إِلَيَّ فَقُلْتُ : تَتَبَّعِىْ بِهَا أَثَرَ الدَّمِ).
مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : عائشهؓ فرمائى : د انصارو يوې زنانه د رسول الله ﷺ نه د خپل حيض نه د غسل متعلق تپوس اوكړو، نو نبى ﷺ هغې ته د غسل كولو حكم اوكړو چه څنګه

غسل اوكړي، بيا ئے اوفرمائيل : د مشكو يوه ټكړه واخله او هغے سره پاكي حاصله كړه.
هغے اووئيلے : دے سره څنګه پاكي حاصله كړم؟ نبي ﷺ ورته اوفرمائيل : دے سره پاكي حاصلهٔ كړه، هغے بيا تپوس اوكړو: دے سره څنګه پاكي حاصله كړم؟ نبي ﷺ ورته اوفرمائيل : سبحان الله ! (الله پاك دے) ته دے سره پاكي حاصله كړه. بي بي عائشةؓ فرمائي : نو ما هغه ځانته راخكله او ورته مے اووئيل : كوم ځائے چه د وينے اثر وى هغے باندے دا كېږه كيده. (بخارى، مسلم).

تشريح : كَيُفَ تَغْتَسِلُ :أى أمرها كيفية الغسل :

خُذِىُ فِرُصَةً مِنُ مَسُكٍ : فرصه لفظ په كسره د فاء سره دے، د وړئ يا مالوچو ټوټے ته وائي، يا هغه څرمن چه په هغے باندے وړئ لګيدلے وى .

مَسُكٍ : ١ - چا وئيلي دي چه دا لفظ په فتح د ميم سره دے، نو څرمنے ته وائي، او وجه دا بيانوى چه كه مشك مراد شى، نو هغه خو ډير ګران قيمت والا شے دے، هغه دا صحابيهؓ څنګه پيدا كړى، سره د غربت او فقر د هغوئ نه . ليكن دا خبره صحيح نه ده، وجه داده چه په هغه زمانه كښے مشك ډير استعماليدل نو دومره ګران قيمت ئے نه لرلو. او په دے زمونږ دور كښے ځكه ګران دى چه دا طبيبان په دوايانو كښے اچوى چه هغه مقوى د قوتِ باه دى. نو په دے وجه دا ګران شوى دى . نو اصح داده چه ددے نه مراد مشك دى، اودا مسك لفظ په كسره د ميم سره دے، او دا قول ځكه راجح دے چه ددے تفسير په روايت د عبد الرزاق كښے داسے راغلے دے (خذى فرصة من ذريرة) ، ذريره خوشبوئى ته وائي. بل روايت كښے دى (فرصة ممسكة)، يعنے هغه ټكړه چه مشك پرے لګيدلے وى

بيا دا خوشبوئى استعمالول مستحب دى، وجه داده چه كله زنانه د حيض موده تيره كړى نو هغه بدبويه شوے وى،نو كله چه غسل اوكړى نو كيدے شى چه د هغے د بدن د بعضے حصے نه بد بوئى راځى، نو زنانه به خوشبوئى را واخلى او د خپل اندام، بغاندو وغيره سره به ئے اولګوى، دے دپاره چه كومه بد بوئى وى هغه ختمه شى اوخاوند ترے نفرت اوكړكه اونه كړى. خو نن صبا دور كښے زنانه عطرونه نشى لګولے ځكه چه په دے عطرونو كښے كحول او تيزاب وى، چه اندام سوزوى، خصوصا نرم اندام، نو داسے اوچ

عطر دې استعمال کړي، یا دې په داسې طریقه عطر استعمال کړي چه ضرر ورته اونه رسي۔ لکه مالو چو کښې دې اولګوي اوهلته دې ئې اوتړي، خو صابون وغیره تقریبا ددې په ځائې کار ورکوي۔ ځکه غالباً صابن خوشبویه وي۔

الغرض : د نبي کریم ﷺ غرض دادې چه زنانه پاکي او نظافت اختیار کړي، اود خاوند د نفرت نه بچ شي۔

سُبْحَانَ اللهِ ! : دا د تعجب کلمه ده، چه نبي ﷺ ددې زنانه نه تعجب اوکړو چه دومره معمولي مسئله ده او ستا دماغ پرې نه خلاصیږي، او نبي ﷺ ورته تشریح هم نشوه کولې ځکه ورته بار بار همدغه لفظ ذکر کوي چه (تطهري بها)، (١) یو خو نبي ﷺ کښې حیاء زیاته وه (٢) دویم دا چه هسې یو سړې د پردۍ زنانه سره دا قسم خبرې نشي کولې، په نسبت ددې چه سړو سره ئې اوکړي، ځکه دا کار ډیر ګران وي، چه زنانه ته اووائي چه داسې داسې ځائې کښې استعمال کړه، ځکه نبي ﷺ په دغسې اجمالي طریقه سره پوهه کوله۔

فَاجْتَذَبْتُهَا : نو هلته عائشهؓ ناسته وه فرمائي چه دا زنانه ما ځان ته راخکله او تشریح مې ورته اوکړه چه په کوم ځائې وینه لګیدلې وي نو په هغه ځائې خوشبوئي اولګوه۔ ددې نه دا فائده معلومه شوه چه رسول الله ﷺ ډیرې بیبیانې ددې وجې نه کړې وې چه خلقو ته دعوت اوکړي او د زنانو مسائل ورته بیان کړي، ځکه بعضې داسې مسائل دي چه زنانه ؤ ته سړې د هغې پوره طور سره تشریح نشي کولې ۔

فائده : په غسل د جنابت او غسل د حیض کښې په کیفیت کښې څه ډیر فرق نشته، سیوا د فرصه ممسکه استعمالولو نه، چه دا به په غسل د حیض کښې استعمالوي، یعنې د غسل نه به ئې روستو استعمالوي۔ ځکه چه په دې سره بد بوئي د حیض ختمیږي چه هغه سبب د نفرت د خاوند جوړیږي۔ او بل فرق لږ روسته راروان دې۔

تَتَبَّعِي بِهَا أَثَرَ الدَّمِ : یعنې فرج باندې اولګوه اوکومې جامې ته چه د وینې اثر رسیدلې وي هلته به ئې اولګوي۔ لیکن که په نرم اندم اولګي نوانسان سیزي، نو عطر دې استعمال کړي، یا دې په جامو اولګوي، یا خوشبویه صابن ددې په ځائې کافي کیږي ۔

۹ - وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا قَالَتْ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ! إِنِّي امْرَأَةٌ أَشُدُّ ضَفْرَ رَأْسِيْ أَفَأَنْقُضُهُ لِغُسْلِ الْجَنَابَةِ ؟ فَقَالَ : لَا، إِنَّمَا يَكْفِيكِ أَنْ تَحْثِيَ عَلٰى رَأْسِكِ ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ ثُمَّ تُفِيضِيْنَ عَلَيْكِ الْمَاءَ فَتَطْهُرِيْنَ). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ام سلمةؓ فرمائی : ما عرض اوکړو : يا رسول الله ! زه يوه داسې ښځه يم چه د خپل سر ويښتـه مضبوط تړم، آيـا د جنـابت د غسـل دپاره به دا پرانيزم ؟ نبي ﷺ اوفرمائيل : نه، تا پاره دا کافي ده چه په خپل سر باندې درې لپې اوبه واچوې او بيا په خپل ټول بدن باندې اوبه واچوې پاکه به شې ۔(مسلم)۔

تشريح : ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ : مسئلة : فرق بين غسل الحيض والجنابة :

د غسـل الحيض حکم دادې چه دا ډيره موده پس راځي، نو ټول اندامونه وينځل ضروري دي، کـه چوټـيـه وي نـو هـغـه لمدول به هم ضروري وي، تردې چه اوبه د ويښتو بيخونو ته اورسي ۔

او غسـل الـجنابت کښې زنانه دوه قسمه دي (۱) يو هغه دي چه ټول ويښته راټول کړي او يو چوټيه ترې جوړه کړي، لکه د ښار زنانه، نو ددې حکم دادې چه ددې ټول سر وينځل فرض دي، ځکه حرج او ګرانتيا په کښې نشته ۔

(۲) دويـم هـغـه زنانـه دي چه ډيرې کـونځۍ کوي، لکه د کلو او باندو زنانه، نو حکم دادې چه کـه زنانـه کـونځۍ او چوټيـه وغيره اونه پرانيزي نو جواز لري، او پرانستل ئې ضروري نه دي کله چه بيخونو د ويښتو ته اوبه رسوي۔

دليل : ځکه په دې پرانستلو کښې حرج دې او حرج په شريعت کښې مدفوع (ختم شوې) دې ۔کـه کـونځۍ اوچې پاتې شي نو باك نه لري، ليکن شرط دادې چه اصول الشعر (د ويښتو بيخونه) لمدول به ضروري وي، کما في الحديث (اذا بلغ الماء أصول شعرك)۔

او غسـل الـجنابت چونکه زر زر مکرر کيږي، لهذا په دې کښې شريعت سهولت کړې دې نو چوټيه وينځل که پاتې شي نو باك نه لري۔

٢ – دويم دليل ددې خبرې دپاره چه په غسل د جنابت كښې كونڅئ پرانستل ضروري نه دي، حديث د عائشة دې چه ديته د عبد الله بن عمرو بن العاص دا خبره را ورسيدله چه عبد الله بن عمروؓ زنانو ته داحكم كوي چه په غسل كښې به كونڅئ پرانيزي، نو عائشې اووئيل: تعجب دې په عبد الله باندې چه دا حكم وركوي، نو بيا دې ورته دا حكم هم اوكړي چه سرونه اوخروئ (لقد كنت أغتسل أنا ورسول الله ﷺ من اناء واحد وما أزيد على أن أفرغ على رأسي ثلاث افراغات). الحديث. أخرجه مسلم (١/١٥٠) وأحمد عن عبيد بن عمير . يعني ما او نبي عليه السلام به شريك لامبل او صرف درې ځل اوبه به مې په سر اچولې۔

د عائشې رضي الله عنها مطلب داوو چه د ويښتو اوكونڅو پرانستل ضروري نه دي، بلكه بيخونو ته اوبه رسول ضروري دي۔

اود عبد الله بن عمروؓ د حديث نه جواب دادې چه داحكم وركوي نو يا خو دا بناء دې په استحباب او احتياط باندې، نه په وجوب باندې۔

(٢) اويا په وجوب باندې حمل دې خو دا دده مذهب وو، او حديث د عائشةؓ او أم سلمةؓ ورته نه وو رسيدلې چه (انما يكفيك أن تحثي على رأسك ثلث حثيات)، نو ځكه ئې زنانو ته دا حكم وركولو۔

اصل مسئله خو دغه شوه خو پدې مسئله كښې هم څه نا څه اختلاف شته۔

د جمهور علماؤ مذهب دا دې (ومنهم الائمة الثلاثة) چه زنانه دپاره په غسل د جنابت او حيض دواړو كښې دا واجب نه دي چه ويښته (كونڅئ) به پرانيزي بلكه صرف دا ورله كافي دي چه درې ځله پرې درې لپې اوبه واچوي۔ او دا قول د مفتي الديار السعودية شيخ عبد العزيز بن بازؒ هم دې۔

٢– ابراهيم نخعي وائي چه په دواړو كښې به ئې پرانيزي كه غسل د جنابت وي او كه د حيض كما في النيل (٣١٢)۔

٣– حسن بصري او طاوس وائي په غسل الجنابة كښې به كونڅئ نه پرانيزي او په حيض كښې به ئې پرانيزي۔ او دا مشهور قول د امام احمد دې كما في التحفه (١/١٢٠٨)

وتوضيح الاحكام (١/ ٣٦٠) وهو قول ابن الحزم والشيخ الالبانيؒ فى تمام المنة۔
نو د ائمه اربعهؒ اتفاق دے پدے کښې چه د جنابت په غسل کښې پرانستل ضروري ندي كما قال صاحب المغني۔

دلائل : د ابراهيم نخعي قول دپاره خو څه خاص دليل نشته سوی ددے نه چه عقلي دليل وائي چه شريعت په غسل کښې ټول بدن او ويښته وينځل ضروري کړيدي او کونځئ خو ددے نه مانع دي نو څکه به ئے په دواړو غسلونو کښې پرانيزي ليکن هغه ته د زنانو دپاره د رخصت حديث ندے رسيدلے دے۔

د جمهورو سره دليل پدے چه په دواړو کښې پرانستل واجب ندي دا دے چه په بعض روايات د حديث د ام سلمه کښې د جنابت سره حيض هم ذکر شويدے داسے تپوس شويدے (انى امرأة اشد ضفر رأسي افأنقضه للحيض والجنابة قال : لا) رواه مسلم۔

ليکن ددے روايت په باره کښې حافظ ابن القيم فرمائي : الصحيح فى حديث ام سلمة الاقتصار على ذكر الجنابة دون الحيض ۔ شيخ الباني هم فرمائي چه پدے روايت کښې د حيض ذکر شاذ دے او ندے ثابت۔

او د امام احمد **دليل** : حديث د عائشه دے چه بخاري او مسلم کښې راغلے دے کله چه عائشه حائضه شوه نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل : (انقضى رأسك وامتشطى) او په روايت د ابن ماجه وغيره کښې باسناد صحيح داسے دي (انقضى شعرك واغتسلى) نو دلته ورته نبي عليه السلام حکم اوکړو چه سر اوسپړه او غسل اوکړه۔ دليل دے چه حائضه زنانه باندے کونځئ سپړل واجب دي۔

ليکن ددے حديث په باره کښې علامه صنعاني په سبل السلام (١/ ١٣٩) کښې وائي چه دا حديث د حج په موقعه کښې وئيلے شويدے څکه چه عائشے د عمرے احرام تړلے وو نو بيا حائضه شوه مخکښې د دخول د مکه نه نو نبي ﷺ ورته حکم اوکړو چه سر اوسپړي او کومنزئے کړي او غسل اوکړي د احرام د حج دپاره او هغه خو لا تر اوسه د حيض نه پاکه شوے نه ده نو دا غسل صرف د تنظيف او صفائي په خاطر شويدے او دا د حيض غسل نه دے نو دا حديث معارض نه دے د حديث د ام سلمه سره انتهى۔

حافظ فتح الباري کښې فرمائي د روايتينو مينځ کښې تطبيق داسې کيدې شي چه په حديث د عائشه کښې چه کوم امر (انقضي) راغلې دے هغه به حمل شي په استحباب باندې ـ او دا قول د امام زرکشي هم دے کما في الانصاف وتوضيح الاحکام (١/ ٣٦٠) او دا تطبيق امام شوکاني هم غوره کړيدے فرمائي : والجيب بان الخبر ورد في مندوبات الاحرام والغسل في تلك الحال للتنظيف لا للصلاة والنزاع في غسل الصلاة. النيل (١/ ٣١٣) ـ دارنګه علامه صنعاني فرمائي : دليل په عدم نقض حديث د ابن عمر دے کما في مسلم (١/ ١٥٠) لکه مخکښې تير شو چه ده به زنانو ته حکم کولو چه په غسل کښې کونځې اوسپړي نو عائشې پرې رد اوکړو او ظاهر دا ده چه ابن عمر به زنانو ته په غسل د جنابت او حيض دواړو کښې د کونځې سپړلو حکم کولو اګرچه عائشې په جواب کښې د جنابت د غسل ذکر کړو۔ انتهى ـ

نو ثابته شوه چه حائضه زنانه دپاره په غسل د حيض کښې کونځې وغيره سپړدل مستحب دی ـ

دا خو د زنانو متعلق حکم دے، او ديته استثناآت شرعيه وائي۔

او د سړو په غسل د جنابت کښې حکم دادے چه که د سړي ګنړ ويښته وي او تړلې ئې وي د کونځو پشان نو په ده باندې لازم او واجب دی چه ويښته به پرانيزي او ظاهر او باطن دواړه به لمدوي۔ د وجې د ډيرو احاديثو نه، يو دوه حديثونه د ابو هريرةؓ دی او يو حديث د ثوبانؓ دے (کما في عون المعبود : ١/ ١٩٤) چه صحابوؓ د نبي ﷺ نه په دے باره کښې تپوس اوکړو (فقال : أما الرجل فلينشر رأسه فليغسله حتى يبلغ الماء أصول الشعر، وأما المرأة فلا عليها أن لا تنقضه)، يعنې سړے به ويښته پرانيزي او سر به وينځي تردے چه اوبه د ويښتو بيخونو ته اورسيږي، او په ښځه باندې کونځې پرانيزل نشته۔

درجة الحديث : رواه ابوداود۔ حافظ ابن قيمؒ فرمائي : (رواه ابوداود من حديث اسماعيل بن عياش وهذا اسناد شامي وحديثه عن الشاميين صحيح) نو دا صحيح حديث دے او د سړي او زنانه د غسل فرق په کښې ذکر دے۔ وكذا قاله الشوكاني في النيل (١/ ٣١٢)۔

---

۱۰ - وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ وَيَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ إِلَى خَمْسَةِ أَمْدَادٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : انس رضي الله عنه فرمائی : نبی ﷺ به په يو مُد اوبو باندے اودس کولو، او په يو صاع (اوګی) اوبو باندے به ئے غسل کولو، تر پينځو اوګو پورے۔ (بخاری، مسلم)۔

تشريح : يَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ : په دے خبره کښے اتفاق دے چه د اوداسه او غسل اوبو لره داسے حدّ معين نشته چه د هغے نه کمے زياتے جائز نه وی۔ دا وجه ده چه احاديث هم مختلف راغلی دی۔ لکه دا خبره امام ترمذیؒ د امام شافعیؒ، أحمدؒ او اسحقؒ نه نقل کړيده۔ او علامه مبارکفوریؒ په تحفة الأحوذی (۱/٦١) کښے فرمائی : چه دا قول راجح او معتبر دے، وجه ذاده چه د نبی کريم ﷺ نه په اوداسه او غسل کښے مختلف اقسام او مقدارات په اوبو استعمالولو کښے نقل دی، کله ئے کمے استعمال کړی دی، اوکله ئے د حاجت مطابق زياتے استعمال کړے دی۔ احاديث په کښے مختلف راغلی دی۔ په دے حديث د أنسؓ کښے دی (يتوضأ بالمد ويغتسل بالصاع الى خمسة أمداد)، او په روايت د أبوداود (۱/١٣) کښے دی چه نبی کريم ﷺ په داسے لوښی اودس اوکړو چه دوه ثلثه (حصے) د مُد په کښے ځائيدل۔ (باناء فيه قدر ثلثي المد)۔

او په روايت د عائشهؓ کښے دی (کما فی أبی داود) چه ما او رسول الله ﷺ به د يو لوښی نه غسل کولو چه هغے ته (فرق) وئيل کيدو او درے صاع به په کښے ځائيدل۔ دا ټول احاديث دليل دے په دے خبره چه نبی کريم ﷺ کله زيادت کړے دے او کله کمے د حاجت مطابق۔

او يو (فرق) شپاړس رطل جوړيږی نو درے صاع شو، په يو نيم باندے عائشےؓ غسل کړے دے او په يو نيم باندے نبی ﷺ۔

او هرچه په دے حديث کښے دا مقدار راغلے دے چه په يو مُد سره ئے اودس کولو او په يو صاع (دوه کلو پنځه سوه يا دوه کلو يوسل شپږ اويا ګرامه) يا زيات نه زيات پنځه مده (دوه نيم کلو) اوبو سره به ئے غسل کولو۔ نو دا صرف د افضليت د پاره دے، او تحديد او مقداريت په کښے معين نه دے، بلکه أکثر او غالب اندازه د استعمالولو د اوبو ددے مقدار

مطابق وه- نو په دې باندې عمل أفضل او مستحب دے، اوكه حاجت زياتوالى ته پيښ شى نو زيادت هم جائز دے، نو درميانه به چليږى داسے به هم نه كوى چه هسے اندامونه غوړ كړى، او هيڅ اوبه تويے نه كړى، او ډيرے اوبه به هم نه تويئے كوى چه هسے ئے په ځان راړوى -اودا د جمهورو علماؤ مذهب دے- امام ابوعبيدؒ په كتاب الاموال (٤٦٠) كښے فرمائى : وكان النبى ﷺ لايزيد على صاع ونصف وهو ثمانية ارطال ولا ينتقص فى الغسل من الصاع وهو خمسة ارطال وثلث) يعنى نبى عليه السلام په غسل كښے د يو نيم صاع نه زيادت ندے كړے او د يو صاع نه ئے كموالے نه دے كړے-نو ددے په درميان كښے چليدل بهتر دى-

او په دے كښے رد دے په بعضے احنافو او ابن شعبان مالكى باندے چه دوئ ددے حديث مقدار په اوداسه او غسل كښے ضرورى كړيدے او زيادت او نقصان ئے حرام ګڼلے دے-

او وجه د غلطئ ددے تا اوپيژندله-

المسئلة الثانية : مقدار الصاع والمد :

د صاع اومد په مقدار كښے اختلاف واقع شوے دے :

١ - د امام مالكؒ، شافعىؒ، ابو يوسفؒ او حجازينو مذهب دادے چه يو مُد رطل او ثلث رطل دے، يعنے يو صحيح او ايك بټه تين (١/٣، ١) رطل يو مد كيږى - بناء په دے باندے صاع په دے حساب سره پنځه رطل او يو ثلث رطل جوړيږى - يعنے پنځه صحيح او ايك بټه تين (١/٣، ٥) رطل يو صاع وى- نو مقدار د يو صاع نبوى (دوه كلو پنځه سوه ګرامه (٢٥٠٠) كما قال الشيخ البسام فى التوضيح (١٧٨/١).

او بعضے وائى دوه كلو يوسل شپږ اوويا ګرامه (٢١٧٦)جوړيږى كما قال يوسف القرضاوى فى فقه الزكوة (٩٤٢/٢) او مد خپله اندازه امتداد اليدين المعتدلتين ده كما فى القاموس نو په دغه مقدار يو مد تقريبا نيمه كلو وى-

٢ - **دويم قول** : د امام ابو حنيفةؒ، محمدؒ او عراقينو دے چه يو مُد دوه رطل- او يو صاع آته (٨) رطل دے- نو څلور مد يو صاع كيږى - صاحب د عَرف شذى او امام بيهقىؒ (كتاب المعرفه) كښ په دے باره كښے د امام ابو يوسفؒ او امام مالكؒ مناظره نقل كړيده

چه امام ابو يوسفؒ يوه ورځ مدينے ته لاړو، د امام مالكؒ او اهل مدينه نه ئے تپوس اوكړو چه ستاسو صاع كوم مقدار كنبے دے؟ امام مالكؒ كورته لاړو اوصاع ئے ورته راويستو چه دا د رسول الله ﷺ صاع دے (چه دا پنځه رطل او ثلث رطل وو)، نو ابو يوسفؒ اووئيل : په دے څه دليل دے؟ـ امام مالكؒ د صحابوؓ نوسو اوځامنو ته اووئيل چه صبا له صاع راوړئ۔ امام ابويوسفؒ فرمائي : چه ما اوكتل پنځوس ځامن د صحابوؓ خپل خپل صاعونه راوړل چه دا هغه صاعونه دی چه زمونږ پلارانو به په دے باندے پيمانه كوله په زمانه د رسول الله ﷺ كنبے ـ امام ابو يوسفؒ فرمائي : ما چه هغه اندازه كړه نو هغه پنځه رطل او ثلث رطل وو، نو ما دَ امام ابو حنيفةؒ د رائے اومذهب نه رجوع اوكړه ځكه چه حجت راته ښكاره شو، او بيائے اووئيل : كه زما صاحب – ابو حنيفةؒ – ژوندے وے نو هغه به هم رجوع كړے وے لكه چه ما اوكړه ـ (فرأيت أمرا قويا وتركت قول أبي حنيفة في الصاع)۔

او د كتاب الأموال ص (٤٦٢) په حاشيه كنبے دی چه د امام محمدؒ نه هم رجوع نقل ده (وكذا في الشامي : ١/ ١٧٠)۔ او د احنافو سره هيڅ قوى دليل نشته، سيوا د قول د مجاهدؒ نه چه معاني الآثار كنبے امام طحاويؒ نقل كړے دے (قال دخلنا على عائشة فاستسقى بعضنا فأتي بعس – القدح الكبير – قالت عائشة : كان النبي ﷺ يغتسل بمثل هذا. قال مجاهد : فحزرته فيما أحزر ثمانية أرطال، تسعة أرطال، عشرة أرطال)۔

يعنے : مجاهدؒ فرمائي : مونږ عائشےؓ ته ورغلو نو داوبو مطالبه مو ترے اوكړه، نو يوه غټه كاسه راوړے شوه۔ عائشےؓ اوفرمائيل : نبي ﷺ ددے په مثل باندے غسل كولو، مجاهد فرمائي : ما چه اندازه كړه نو هغه آته رطله يا نهه رطله يا لس رطله اوختله۔

نو په دے روايت كنبے هم شك دے يقيني معلومات بيا هم اونشو او باقي مرفوع روايات هم ضعيف دی ـ

او په نسائي (١/ ٤٨ – رقم ٢٢٠) كنبے موقوف روايت شته ليكن هغه هم صريح ندے لكه داسے الفاظ دی : عن موسى الجهني قال مجاهد : اتي باناء يسع ثمانية ارطال فقال حدثتنا عائشة ان رسول الله ﷺ كان يغتسل بمثل هذا ـ نو دے روايت كنبے مثل لفظ راغلے

دے چه صريح ندے په مقدار کښے۔

دا وجه ده امام ابو عبيدؒ په كتاب الأموال (١/٤٦٢) کښے فرمائی : عراقينو د صاع په آته رطل کيدو باندے ځکه قول کړے دے چه دوئ د نبی ﷺ دا حديث آوريدلے دے (كان يغتسل بالصاع، وسمعوا فی حديث آخر انه كان يغتسل بثمانية أرطال وفی حديث آخر انه كان يتوضأ برطلين فتوهموا أن الصاع ثمانية أرطال لهذا)۔ يعنے : چه نبی ﷺ په يو صاع غسل کړے دے او بل حديث ئے دا آوريدلے دے چه په آته رطله به ئے غسل کولو، او بل حديث دے چه اودس به ئے په دوه رطله کولو، نو په دے جه دوئ دا تو هم اوګمان اوکړو چه صاع آته رطله دے۔ بيا فرمائی : ددے سره سره د دوئ قول مضطرب هم دے، نو صاع ئے ددے اندازے نه هم کم کړے دے۔

او هرچه حجازين دی نو په دوئ کښے هيڅ اختلاف نشته، عالم او جاهل تول ئے پيژنی چه خمسه أرطال وثلث رطل دے۔ او دا صاع د نبی ﷺ صاع دے چه نسل در نسل را روان دے۔ او ما (ابوعبيد) چه کله دا صاع وزن ته واړولو نو د دوئ په قول کښے ډير تفاوت نشته۔ اود اهل عراق په قول کښے د صاع ترمينځه په وزن کښے ډير تفاوت دے۔ نو ددے نه ما معلومه کړه چه صاع د اهل حجاز معتبر دے۔

او بيا په حديث سره ثابته شوه چه نبی ﷺ فرمائی : (المكيال مكيال اهل المدينة، والميزان ميزان اهل مكة). قال فی تلخيص الحبير : رواه البزار واستغربه، وابوداود والنسائی وصححه ابن حبان والدارقطنی والنووی. وهو حديث صحيح كما فی صحيح ابی داود۔

او دغه شان حديث د ابن عمر عن النبی ﷺ هم نقل دے۔ اودا مذهب ئے په درے وجهو راجح کړے دے۔

نو بناء په دے باندے د جمهورو مقدار څومره دے؟ نو د يو صاع مقدار دوه کلو او ېنځه سوه يا دوه کلو يو سل شپږ اوويا ګرامه دے، يعنے تقريبا پاؤ باندے دوه کلو دے۔

د احنافو په نيز يو صاع تقريبا درے يا پاؤ باندے درے کلو جوړيږی۔

اود لغت عربی په لحاظ ئے معلومات داسے دے : چه د معتدل سړی د غنمو وغيره يوه ډکے لپے ته مد وائی۔ نو يو صاع څلور مُده دے، او مد ته مُد ځکه وائی چه (لامتداد

الیدین فیه) په دے کښې دواړه لاسونه اوړدیږی. امام نووی فرمائی : قال جماعة من العلماء الصاع اربع حفنات بکفی رجل معتدل الکفین. یعنی د معتدل سړی څلور لپے یو صاع جوړیږی. نو چه یو صاع (٢٥٠٠) ګرامه شی نو یو مد به (٦٢٥) ګرامه جوړیږی، چه دا څلورمه حصه د یو صاع ده.

ابن حجر عسقلانیؒ په فتح الباری کښې تطبیق کړے دے چه په باب د زکات او عشر او صدقه الفطر کښې د جمهورو په قول عمل پکار دے، او په باب د اوبو کښې چه د اوداسه یا د غسل دپاره اوبه استعمالوی نو په قول د احنافو عمل پکار دے، نو نیم کلو یو مُد دے. زیات وضاحت کتاب الأموال (٤٦٢) او تحفة الأحوذی (٦٠/١) کښې کتلے شئ.

خلاصه : دا چه د اوداسه او غسل د اوبو معینه او مقرره اندازه معلومه نه ده، خو غالبه اندازه په غسل کښې داده چه د انسان ټول بدن پرے لوند شی او اوبه ترے اوڅاڅی. دومره کمے هم نه وی چه بدن پرے پوره لوند نشی، او احتمال د اوچ پاتے کیدو په کښې پاتے شی، او دومره زیاتے هم نه وی چه د اسراف حد ته اورسیږی. او مستحب او أفضل په کښې هغه مقدار دے کوم چه په دے حدیث د أنسؓ کښې ذکر دے. یعنې په اودس کښې یو مد او په غسل کښې پنځه مدونو پورے. او دغه شان په اوداسه کښې به هم دومره اوبه استعمالوی چه نه ډیرے کمے وی، چه اندامونو نه اوبه اونه څاڅی او اوچ پاتے کیدو امکان وی. او دومره زیاتے به هم نه کوی لکه د سوسے والو پشان چه په دوه لوټو باندے ئے هم ګذاره نه کیږی.

---

١١ – وَعَنْ مُعَاذَةَ قَالَتْ : قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا : کُنْتُ اَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مِنْ اِنَاءٍ وَاحِدٍ بَیْنِیْ وَبَیْنَهٗ فَیُبَادِرُنِیْ حَتّٰی اَقُوْلَ : دَعْ لِیْ دَعْ لِیْ، قَالَتْ : وَهُمَا جُنُبَانِ . مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ.

ترجمه : معاذه وائی : عائشےؓ اوفرمائیل : ما اورسول الله ﷺ به د یو لوښے نه شریک غسل کولو، چه زما اودده ترمینځه به پروت وو. نو رسول الله ﷺ به – اوبو اخستو کښې – ماته تادی کوله، تردے چه مابه اووئیلے : ما دپاره اوبه پریده، ما دپاره اوبه پریده. بی

بی معاذةؒ فرمائی : عائشهؓ او رسول الله ﷺ به دواړه جنب (ناپاکئ حالت کښیے) وو۔ (بخاری، مسلم)۔

تعارف د معاذه :

د دیے نوم معاذه بنت عبد الله العدویه دیے، أم الصهباء البصرية العابدة. ثقة، حجة تابعيه ده۔ د خاوند ابو الصهباء د مرگ نه پس په بستره نه ده اوده شویے، تردیے چه وفات شوه۔ امام ذهبیؒ فرمائی : چه دیے به د شپے عبادتونه کول، ویښه به وه، او دا به ئے وئیل : (عجبت لعين تنام وقد علمت طول الرقاد في القبور)، تعجب دیے په هغه سترگه چه خوبونه کوی او په دیے یقین لری چه په قبر کښیے اوگده خوبونه راروان دی۔ دعائشےؓ او علیؓ نه احادیث نقل کوی۔ په سنه (۸۳) ھ کښیے وفات شویده۔

فوائد الحديث : ۱ – د ښځے اوخاوند په یو ځائے لمبل جائز دی، اگرکه برېنډ وی۔ او په دیے باندیے امام نوویؒ په شرح د مسلم (۱/۱٤۸) کښیے او طحاوی او قرطبی اجماع د مسلمانو نقل کړیے ده، البته ابو هريرهؓ او بعضے نورو په کښیے اختلاف کړیے دیے۔

۲ – که سړیے مخکښیے اولامبی او زنانه د هغے نه پاتے شوو اوبو سره اولامبی جواز لری، په دیے کښیے هم اتفاق دیے۔

۳ – زنانه اولامبی او د هغے نه پاتے شوو اوبو باندیے سړی لره لمبل ناجائز دی په نیز د احمدؒ او اسحقؒ باندیے لکه ددیے تفصیل به په آخر د باب (مخالطة الجنب (۲،۱) حدیث د الحکم بن عمرو کښیے راشی ان شاء الله تعالى۔

٤ – په یو ځائے لامبلو کښیے د سړی کتل زنانه ته اود زنانه کتل سړی ته دواړه جائز دی ۔ اگرچه برېنډ وی۔ دلیل په دیے باندیے دا حدیث دیے۔

۲ – بل حدیث د عطاء دیے چه د عائشهؓ نه ئے تپوس اوکړو نو هغے ورته دا حدیث په جواز کښیے ذکر کړو۔ (كما في ابن حبان : ٤٣٩/٧، رقم : ٥٥٥٠)۔

بل حدیث د معاویه بن حیده دیے قال : قلت يا رسول الله عوراتنا ما نأتي منها وما نذر؟ قال : احفظ عورتك الا من زوجتك او ماملكت يمينك وسنده حسن وصححه الحاكم. آداب الزفاف ص (۳۹۵)۔

٣ – هدايه كتاب الكراهية كښې دى : ابن عمرؓ فرمائي : استكمالا للذة كتل جواز لرى. دا مسئله به په دويم جلد د مشكات كتاب النكاح كښې تفصيلا راشي. غرض په دې مسئله كښې دادې چه چا يوه مقوله وئيلې ده او حديث ئې ترې جوړ كړې دې چه عائشةؓ فرمائي (ما رأيت منه ولا رأى مني) يعني العورة. چه نه ما د رسول الله ﷺ عورت ليدلې دې او نه هغه زما عورت ليدلې دې (لكه دا ئې په تلخيص او مختصر المعاني كښې د استهجان الذكر په مثال كښې راوړيدې او عائشةؓ ته ئې منسوب كړې دې) خو دا حديث نه دې او نه د عائشېؓ نه نقل دې لكن اخرجه الطبراني في الصغير ان عائشة قالت ما رأيت عورة رسول الله ﷺ قط. وفي سنده بركة بن محمد الحلبي ولا بركة فيه فانه كذاب وضاع. نو دا موضوعي حديث دې آداب الزفاف ص (٣٧) وهناك روايات بهذا المعنى كلها باطلة انظر الضعيفة رقم (١٩٥).

اوكه صحراء كښې لامبې كله چه څوك نه وي نو جانگې، يا لنگ وغيره اچول أفضل دي. ٥ – د جنب لاس منډل په اوبو كښې او د هغې نه لپه راخستل جواز لرى، او په باقي اوبو باندې هم غسل جائز دې. او نارينه او زنانه دواړه په دې كښې برابر دي.

٦ – په حالت د جنابت كښې دارنگه په برېنډه باندې د غسل په وخت د ضرورت خبرې اترې كول جائز دي. ٧ – دارنگه د جنب سرى په اوبو كښې لاس وهلو سره اوبه نه مستعملې كيږي، اوكه مستعملې شي نو طاهر مطهر دي.

الفصل الثاني - دويم فصل

١٢ – عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنِ الرَّجُلِ يَجِدُ الْبَلَلَ وَلَا يَذْكُرُ احْتِلَامًا، قَالَ : يَغْتَسِلُ، وَعَنِ الرَّجُلِ الَّذِيْ يَرٰى اَنَّهٗ قَدِ احْتَلَمَ وَلَا يَجِدُ بَلَلاً قَالَ : لَا غُسْلَ عَلَيْهِ . قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ : هَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ تَرٰى ذٰلِكَ غُسْلٌ ؟ قَالَ : نَعَمْ، إِنَّمَا النِّسَاءُ شَقَائِقُ الرِّجَالِ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْدَاوُدَ، وَرَوَى الدَّارِمِيُّ وَابْنُ مَاجَه اِلٰى قَوْلِهٖ : لَا غُسْلَ عَلَيْهِ .

ترجمه : بي بي عائشهؓ فرمائي : رسول الله ﷺ نه دهغه سړي باره کښې تپوس اوشو چه خوب نه پاخي او په کپړه بانديې د منى لوندوالې محسوس کړي اوخوب - احتلام - ورته ياد نه وي. نبي ﷺ اوفرمائيل : غسل به کوي. او د داسې سړي باره کښې ترې هم تپوس اوشو چه خوب نه پاڅيدو او احتلام ورته ياد وي، ليکن لوندوالې نه محسوسوي، نبي ﷺ ورته اوفرمائيل : په هغه غسل واجب نه دې. بي بي ام سليمؓ تپوس اوکړو : که ښځه هم دا لوندوالې اووينى نو په هغې غسل واجب دې ؟ نبي ﷺ اوفرمائيل : هاؤ، ښځې هم د سړو پشان دي (په دې معامله کښې). (ترمذی، ابوداود) او دارمي او ابن ماجه دا حديث (په هغه غسل واجب نه دې) پورې نقل کړيدې.

تشريح : يَجِدُ الْبَلَلَ وَلَا يَذْكُرُ احْتِلَامًا :

١ - دا خو اجماعي مسئله ده چه انسان خوب اووينى او خوب ورته ياد نه وي،نو که لوندوالې په جامه بانديې بيا مومي نو غسل به کوي، اوکه لوندوالې اونه وينى نو غسل پرې نشته ، ځکه لوندوالې علامه او دليل دې د وجوب الغسل او احتلام . (کما حکاه ابن المنذر وابن قدامه - مرعاة : ٢/١٣٩).

صرف ابن رسلان د امام شافعيؒ نه نقل کړي دي چه غسل واجب نه دې، مګر هله چه کله ورته د خوب بيداريدو نه پس پته اولګي چه ما خوب کښې د چا سره جماع کړې ده. اوکه پته ورته اونه لګي نو غسل واجب نه دې. خو دا قول درست نه دې.

اوکه ويښ انسان په جامو کښې لوندوالې اووينى او دا ورته معلومه نه وي چه منى ده که مذي، نو په دې کښې اختلاف دې، صاحب المرعات په نيز وجوباً احتياطاً غسل ضروري دې، او نور علماء وائي : غسل پرې نشته. صحيح خبره دا ده چه غسل پرې نشته ځکه انسان ته ضرور خپل حال معلوميږي.

شيخ بسام داسې تحقيق کوي : چه کوم سړې يا زنانه د خوب نه پس په جامه يا بدن بانديې لوندوالې اووينى نو دده درې حالات دي :

(١) - چه دا يقين وي چه دا منى ده نو صرف غسل به کوي اګرچه احتلام ورته ياد نه وي. (٢) - چه دا يقين ئې وي چه مذي ده نو دا نجاست دې وينځل ئې واجب دي او غسل

پرې نشته۔ (٣) - د منی یا مذی کیدو باندې ناپوهه وی نو پدې حال کښې ځه دده دخوب نه مخکښې د ښځې سره ملاعبه (ګپ شپ) لګیدلې وی یائې فکر کړې وی یا حالت د انتشار کښې وی نو غالبه دا ده چه دا مذی ده نو صرف هغه جامه یا بدن وینځل واجب دی کوم ځائې ته چه رسیدلې وی او غسل پرې نشته او که د خوب نه مخکښې سبب د خروج المذی نه وی راغلې یعنې دغه مخکنی کارونه نه وی شوی نو پدې صورت کښې په ده باندې غسل واجب دې او د هغه جامې او بدن چه دا ورته رسیدلی وی احتیاطا وینځل واجب دی۔ توضیح الاحکام (١٩٦/١)۔

فائده : ١- إِنَّمَا النِّسَاءُ شَقَائِقُ الرِّجَالِ: نه دا معلومه شوه چه په احکام شرعیه ؤ کښې زنانه د نارینه ؤ تابع دی، نو کله چه څه حکم نارینه ؤ ته اوشی، زنانه به په کښې داخلې وی، مګر کله چه د زنانو سره جدا حکم متعلق وی نو بیا د هغې تذکره کوی۔

٢- دارنګه دې نه قیاس هم ثابت شو، او حمل د یو نظیر په بل نظیر باندې په حکم کښې، لکه دلته حمل د زنانو شوې دې په نارینه ؤ باندې په وجوب الغسل کښې په وخت د احتلام کښې لیکن قیاس صرف دوه وقتونو کښې حجت وی (١) د مجتهد دپاره حجت وی په هغه وخت کښې چه دې ته نص صریح ملاو نشی نو ده باندې د حکم شرعی معلومولو دپاره قیاس ضروری دې لکه تحری فی القبلة خو دا صرف د مجتهد دپاره حجت دې نه د بل چا دپاره۔ (٢) دویم په هغه وخت کښې چه کله په یوه مسئله کښې آیت یا حدیث موجود وی او ته په کښې قیاس هم اوکړې نو دا قیاس په درجه د دلیل عقلی کښې دې پس د وجود د دلیل نقلی نه نو دا قیاس هم معتبر دې ځکه چه اصل مسئله کښې خو آیت یا حدیث شته خو دا قیاس صرف د زیاتی معلومات دپاره ذکر کولې شی۔

إِنَّمَا النِّسَاءُ شَقَائِقُ الرِّجَالِ : زنانه د سړو سره مشابه دی په خلقت او طبیعت کښې۔

درجة الحدیث : شیخ البانی په صحیح سنن ابی داود رقم (٢١٦) کښې وائی :

حدیث حسن الا قول ام سلیم المرأة تری الخ محقق رمضان په تعلیق المشکاة کښې وائی : الحدیث اسناده صحیح اخرجه احمد (٢٥٦/٦) وابوداود (٢٣٦) والترمذی (١١٣) والدارمی (١٩٥/١) واما روایة ابن ماجه (٦١٢) الی قوله لا غسل علیه ضعیفة لان مدارها

علی عبد الله العمری المكبر وهو ضعيف من قبل حفظه وقال الالبانی فی صحيح ابن ماجة رقم (٦١٢) حديث حسن. نو روايت صحيح دے۔ ددے حديث قصه په ځلورم نمبر حديث د ام سلمه کښې هم تيره شوه۔

---

١٣ - وَعَنْهَا قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (إِذَا جَاوَزَ الْخِتَانُ الْخِتَانَ وَجَبَ الْغُسْلُ، فَعَلْتُهُ أَنَا وَرَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَاغْتَسَلْنَا). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او د همدے بی بی عائشہؓ نه روايت دے دا فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : کله چه د سړی د ختنے ځائے د ښځے د ختنے ځائے نه تجاوز اوکړی (يعنے حشفه) غائب شي۔ نو دواړو باندے غسل واجب کيږی۔ (بی بی عائشہؓ فرمائی) ما او نبی ﷺ داسے اوکړل او مونږ دواړو اولامبل۔ (ترمذی، ابن ماجه)۔

تشريح : إِذَا جَاوَزَ الْخِتَانُ الْخِتَانَ : ١- دا حديث دليل دے په دے چه په غير د انزال نه په نفس جماع سره هم غسل واجبيږی، كما مرّ، او عمل او قول د نبی ﷺ دواړه برابر دی ۔

٢ - ختان نه مراد ځائے د ختن (سنتولو) دے په دے کښے دليل دے چه د ورو جينکو ختنه کول هم سنت عمل دے ځکه د واړو دپاره ختان لفظ استعمال شوے دے۔ د هلك نه به د حشفے په سر زياتی غوښه پريکوی، او د جينئ نه به د فرج بره طرفته د بول په سوری باندے يوه پرده ده هغه به پريکوی۔ اودا ختنه کول د ماشومے جينئ په ډيرو احاديث کښے راغلی دی، او ډير فوائد لری، زنانه کښے حياء پيدا کوی، او خاوند ته په کښے لذت پيدا کوی، خو بيا دا خبره يادول ضروری دی چه دا کار هر څوك نشی کولے، بلکه بوډئ تجربه کاره زنانه دا کولے شی، لکه عربو کښے به دا کار عام وو، بوډئ ګانو به کولو۔

٣ - مصنف پدے مقام کښې لږه خطائی کړيده او هغه داسے چه دلته ئے دوه حديثونه چه يو مرفوع حديث دے (اذا جاوز الختان الختان وجب الغسل) او بل موقوف حديث د عائشه دے چه په هغے کښې فَعَلْتُهُ أَنَا وَرَسُوْلُ اللهِ الفاظ دی او دواړه په بيل بيل سند ترمذی نقل کړيدی - مصنف دلته دواړه په يو حديث کښې راجمع کړل، دا خطائی ده۔

١٤ - وَعَنْ أَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (تَحْتَ کُلِّ شَعْرَةٍ جَنَابَةٌ، فَاغْسِلُوا الشَّعْرَ وَأَنْقُوا الْبَشَرَةَ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِیُّ وَابْنُ مَاجه وَقَالَ التِّرْمِذِیُّ : هٰذَا حَدِیْثٌ غَرِیْبٌ وَالْحَارِثُ بْنُ وَجِیْهٍ الرَّاوِیُّ هُوَ شَیْخٌ لَیْسَ بِذٰلِکَ.

ترجمه : ابو هریرهؓ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د هر ویښته لاندے جنابت (ناپاکی وی) نو تاسو ویښتان وینځئ او بشره (بدن) پاکوئ ـ (ابوداود، ترمذی، ابن ماجه، او ترمذی وائی : دا حدیث غریب دے، اوحارث بن وجبه راوی بوډا سړے دے چه معتبر نه دے ـ (یعنی د بوډا والی او د غلبه نسیان په وجه دده روایت قابل اعتماد او قوی نه دے بلکه ضعیف دے ـ

تشریح : تَحْتَ کُلِّ شَعْرَةٍ جَنَابَةٌ : دا کنایه ده چه ټول بدن ته اوبه رسول ضروری دی، ځکه جنابت هر اندام ته رسیدلے دے، اودا په حقیقت باندے نه دے حمل، وجه داده چه که د هر ویښته لاندے جنابت شی نو بیا اوبه رسول د ویښتو نه لاندے به هم ضروری وی، او ځرمن لمدول به ضروری نه وی، او ویښته وینځل به هم ضروری نه وی، حال دا چه خبره ددے برعکس ده ـ

فَاغْسِلُوا الشَّعْرَ : الشعر کښے الف لام استغراقی دی یعنے ټول ویښته اووینځئ، بیا ددے حدیث د ظاهر نه دا معلومیږی چه ویښته او کونځئ پرانستل ضروری دی، ځکه دهغے سره ویښته نه وینځلے کیږی، مګر چه کله ئے اوسپړی، او دا حکم نارینه او زنانه دواړو دپاره دے، لیکن د زنانو دپاره په نورو احادیثو کښے رخصت راغلے دے چه که زنانه کونځئ اونه سپړی نو هم څه حرج نشته، لکه مخکښے ذکر شو ـ نو دا حکم به – دنورو حدیثونو په وجه – صرف سړو ته شامل وی ـ او دغه شان حکم په حدیث د علیؓ کښے هم را روان دے په هغے کښے هم دا تحقیق دے ـ

وَأَنْقُوا الْبَشَرَةَ : ١ - دا دلیل دے د مالکیه ؤ دپاره چه په غسل کښے دلك (مږل) واجب دے، ځکه أمر راغلے دے په پاکوالی د بشره باندے او دا د دلك او مږلو نه بغیر نه

حاصلیږی ـ ۲ – بشره : په فتح د باء او شین سره، ظاهری څرمن د انسان ته وائی ـ
۳ – اودا حدیث دلیل دے په دے چه په غسل د جنابت کښے مضمضه او استنشاق واجب دی، ځکه په پوزه کښے ویښته، او د خلې دننه حصه هم د بشره نه حساب ده، نو وینځل ئے واجب دی ـ

درجة الحديث : رواه أبوداود (٢٤٨) ـ امام ابوداودؒ دے حدیث ته ضعیف وئیلے دے او امام ترمذیؒ ورته غریب وئیلے دے، ځکه په دے کښے حارث بن وجیه یا وجبه ضعیف جدا راوی دے، قاله الحافظ ـ امام ابوداودؒ فرمائی : والحارث حديثه منكر وهو ضعيف ـ امام شافعیؒ فرمائی : الحديث ليس بثابت ـ امام بیهقیؒ فرمائی : اهل علمو کښے امام بخاریؒ او امام ابواودؒ ورته منکر حدیث وئیلے دے ـ
وضعفه الالباني في ضعيف سنن ابي داود رقم (٣٦)ـ

---

١٥ – وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (مَنْ تَرَكَ مَوْضِعَ شَعْرَةٍ مِنْ جَنَابَةٍ لَمْ يَغْسِلْهَا فُعِلَ بِهَا كَذَا وَكَذَا مِنَ النَّارِ، قَالَ عَلِيٌّ : فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِيْ فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِيْ، فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِيْ ثَلٰثًا. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ، إِلَّا أَنَّهُمَا لَمْ يُكَرِّرَا : فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِيْ .

ترجمه : علیؓ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چاچه د جنابت په غسل کښے د یو ویښته هومره ځائے هم اوچ پریخودلو چه هغه ئے اونه وینځلو، نو هغه ته به داسے داور عذاب ورکولے شی ـ علی رضی الله عنه فرمائی : په دے وجه ما خپل سر سره دشمنی اوکړه، ما خپل سر سره دشمنی اوکړه (چه اومے خرئیلو) درے ځله ئے دغسے اووئیل ـ (ابوداود، احمد، دارمی) خو احمد دا الفاظ (ما خپل سر سره دشمنی اوکړه) مکرر نه دی ذکر کړی ـ

تشریح : عَادَيْتُ رَأْسِيْ : ددے حدیث نه أفضلیت د سر خرئیلو نه معلومیږی، بلکه صرف دلیل د جواز دے ـ

یا دا چه : دا رائے د علیؓ ده، او ویریدلے دے د حدیث نه، نو د احتیاط په بناء باندے ئے سر خرئیلو چه هسے نه کوم ویښته رانه اوچ پاتے شي ۔ ورنه د رسول الله ﷺ عامه طریقه د سر ویښته ساتل وو۔

٢ – بیا د سړی دپاره د سر په ویښتو لمدولو کښے گنجائش نشته څکه په ده باندے د سر ویښته پریخودل واجب نه دی، اود زنانه دپاره سر ویښته ساتل واجب دی، نو څکه ورته شریعت په غسل کولو کښے گنجائش هم ورکړو۔

درجة الحديث : اخرجه ابوداود رقم (٢٤٩) وابن ماجة وفى اسناده عطاء بن السائب اختلط كما فى ارواء الغليل (١٦٦/١) وسمع منه حماد بعد الاختلاط ورجاله ثقات ورواه احمد من هذا الوجه رقم (٧٢٧) ولكن الحافظ قال فى التلخيص وفى الباب عن على مرفوعا من ترك موضع شعره من جنابة لم يغسلها فعل به كذا وكذا وقال اسناده صحيح اخرجه ابوداود وابن ماجه لكن قيل ان الصواب وقفه على على رضى الله عنه انتهى قال الشيخ البسام : قلت ولا يضر وقفه حيث له حكم الرفع لانه لا مجال للرأى فيه توضيح الاحكام (٣٢٣/١) ولكن سماع حماد عن عطاء السائب قد ثبت بعد الاختلاط ايضا كما ثبت قبل الاختلاط فلا يعلم هل سمع هذا الحديث قبل الاختلاط او بعده وقد صحح الحافظ اسناده بدليل ان سماع حماد عن عطاء قبل الاختلاط ولكن الشيخ الالبانى قال قد سمع حماد عن عطاء بن السائب بعد الاختلاط ايضا. فهذه علة هذه الرواية۔

---

١٦ – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يَتَوَضَّأُ بَعْدَ الْغُسْلِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : عائشهؓ فرمائی : نبی ﷺ به د غسل کولو نه پس اودس نه کولو۔ (ترمذی، ابوداود، نسائی، ابن ماجه)۔

تشريح : لايتوضأ بعد الغسل : که د غسل نه پس په شهوت سره د ذکر مسح اوشی یا څه شے د بول یا مذی وغیره خارج شی نو دوباره اودس کول ضروری دی، اولنے اودس په دے کارونو سره ماتیږی۔ اوکه داسے نه وی بلکه ابتداء کښے ئے اودس کړے دے نو

دوباره اودس کول بدعت دی۔ کما مرّ۔

درجة الحديث : رواه الترمذی باسناد حسن صحيح. والبيهقی باسانيد جيدة۔

---

١٧ – وَعَنْهَا قَالَتْ : كَانَ النَّبِیُّ ﷺ يَغْسِلُ رَأْسِهِ بِالْخِطْمِیِّ وَهُوَجُنُبٌ يَجْتَزِئُ بِذٰلِکَ وَلَا يَصُبُّ عَلَيْهِ الْمَاءَ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوْدَ.

ترجمه : عائشهؓ فرمائی : رسول الله ﷺ چه به جنب وو نو خپل سر به ئې په خطمي سره وينځلو، په همدې به ئې كفايت كولو او دوباره به ئې په خپل سر باندې خالصې اوبه نه اچولې۔ (ابوداود)۔

تشريح : بِالْخِطْمِیِّ : دا سپين بوټې دې ځكونه كوی، پخوانو خلقو به د پاكوالي دپاره استعمالولو، دا حديث دليل دې په دې چه په غسل الجنابت كښې په خطمي يا صابون باندې سر وينځل مستحب دی۔

وَلَا يَصُبُّ عَلَيْهِ الْمَاءَ : مطلب دادې چه كله يو انسان په غسل د جنابت كښې سر لوند كړی اوصابون وغيره پرې اووهی او هغه زګونه په سر كښې پريدی او دوباره اوبه پرې وانه چوی نو دا هم جائز ده، دوباره اوبه اچول ضروری نه دی په سر باندې كله ئې چه نور بدن لوند كړې وی۔ ځكه غسل اوشو اګركه صابون يا نكريزې پرې پاتې وی۔

٢ – يا مطلب دادې چه نبی ﷺ به د خطمي بوټې اوبو كښې اچولو او اوبه به ئې اوخوټ كولې او بيا به ئې دغه اوبو باندې اولامبل او ددې نه پس به ئې نورې خالص اوبه پرې نه اچولې ، بلكه په همدغه اوبو به ئې اكتفاء كوله اولكه څنګه چه عام خلق نن صبا د صابن اوبو وغيره نه پس خالص اوبه استعمالوی، داسې كار به نبی ﷺ نه كولو ـ يجتزئ بذلك ای يكتفی بذلك۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف اخرجه احمد (٦/ ٧٨) وابوداود (٢٥٦) واللفظ له واخرجه البيهقی فی الكبری (١٨٢/١) والدارقطنی فی سننه (٢٢٦/٢)۔

---

١٨ – وَعَنْ يَعْلٰی ﷺ قَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ رَأىٰ رَجُلًا يَغْتَسِلُ بِالْبَرَازِ

فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ فَحَمِدَ اللهَ وَاَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ: إِنَّ اللهَ حَيِيٌّ سِتِّيرٌ يُحِبُّ الْحَيَاءَ وَالتَّسَتُّرَ، فَاِذَا اغْتَسَلَ اَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَتِرْ). رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَفِيْ رِوَايَتِهٖ: قَالَ: إِنَّ اللهَ سِتِّيْرٌ، فَاِذَا اَرَادَ اَحَدُكُمْ اَنْ يَغْتَسِلَ فَلْيَتَوَارَ بِشَيْءٍ).

ترجمه: يعلی فرمائی: رسول الله ﷺ يو سړے اوليدلو چه په ميدان كښے ئے برېنډ لامبل۔ نبی ﷺ (وعظ دپاره) منبر ته اوختلو، د الله حمد او ثناء ئے اووئيله، بيا ئے اوفرمائيل: بيشكه چه الله تعالىٰ حياناك او پرده اچونكے دے (په عيبونو د بندګانو باندے)، هغه حياء او پرده پوشي خوښوی، نو كله چه په تاسو كښے څوك غسل كوی نو ځان دے پټ كړی۔ (ابوداود، نسائی) او د نسائی په روايت كښے داسے دی چه نبی ﷺ اوفرمائيل: الله تعالىٰ ډير زيات پرده اچونكے دے، هركله چه تاسو كښے څوك د لامبلو اراده اوكړی نو هغه له پكار دی چه په څه شئ سره ځان پټ كړی۔

تعارف : د يعلىٰ رضی الله عنه :

دده مكمل نوم يعلی بن أميه بن أبی عبيدة التميمي أبو صفوان المكی دے، د قريشو حليف دے، دده نسبت كله والدے ته كيږی، يعلی بن منيه وئيلے كيږی، مشهور صحابی دے، په فتح د مكه كښے مسلمان شوے دے، حنين او طائف او تبوك غزا ته د رسول الله ﷺ سره حاضر شوے دے، ابو بكر صديق رض په حلوان علاقه باندے ګورنر مقرر كړے وو، او عمر فاروق رض په بعضے حصه د يمن باندے ګورنر مقرر كړے وو، مګر عمر رض ته دا خبره اورسيده چه ده خپل ځان دپاره چراګاه جوړه كړے ده، نو دا پيغام ئے ورته اورسولو چه پياده مدينے ته راشی، نو پنځه ورځے يا شپے پياده مزل ئے اوكړو، نو دعمر فاروق رض د شهادت نه خبر شو نو بيا سور شو۔ او عثمان رض په جند باندے عامل مقرر كړے وو، كله چه د عثمان رض د شهادت نه خبر شو نو د هغه د مدد دپاره راغلو او زبير رض او عائشة رض سره ملګرے شو۔ ټول (٤٨) احاديث ترے نقل دی۔ (٥٠) هجری پورے ژوندے وو۔

٢ – بل يعلىٰ بن مُرّة صحابی دے، دلته كتاب كښے مطلق يعنی يعلىٰ ذكر دے نو دواړو ته شامل دے څكه دواړه صحابه دی، عادلان دی۔

فوائد الحديث : ١- د نبي ﷺ عادت مبارك داوو چه کله په يو بيان او تقرير کښے به ئے د يو شخص اصلاح کوله نو خبره به ئے عامه کوله، دے دپاره چه هغه انسان او نه شرميږي او نور خلقو ته هم د هغے نه فائده ملاؤ شي ـ دا د وجه د حياء د هڅے ده.

٢- فائده : د (فحمد الله، وأثنىٰ عليه) دوه مطلبه دی :

١- يو دا چه خطبه ئے اوونيله او تقرير ئے اوکړو.

٢- دويم دا چه د خطبے نه پس به ئے د الله تعالىٰ احسانات اوکمالي صفات ذکر کړل ـ

٣- سِتِّيرٌ : دا د الله تعالىٰ د اسماء حسنىٰ نه يو اسم او نوم دے. او هرچه سَتار دے نو دا په احاديثو کښے چرته نشته، اګرچه ددے معنىٰ هم صحيح ده، چه هغه پرده اچونکے او پرده ورکونکے ذات دے، مګر دا په دعاء کښے نشے وئيل کيدے، او په جمله خبريه کښے استعماليدے شي، مثلا داسے وئيلے شي چه الله سَتار - يعنے پرده اچونکے ذات - دے. او په دعاء کښے به داسے نه وائي چه : يا سَتار ! ما باندے پرده واچوه ـ وجه داده چه د الله دپاره به د ځانه نومونه نشي کيخودلے، (لکه خدائے يا خلائے يا ګاډ وغيره) ځکه ددے نه منع راغلے ده ـ

٤- فَلْيَتَوَارَ بِشَيْءٍ : يعنے ځان دے پټ کړي په څه شي سره، مثلا جانګے، څادر، پناه ځائے وغيره ـ ددے نه معلومه شوه چه په غسل کښے ځان پټول واجب دی کله چه ستا خواته څوك موجود وي. بيا که د غسل او تستر (ځان پټولو) تعارض راشي، دواړه نشي کيدے، مثلا يو شخص جنب دے، د غسل اراده لري خو هلته خلق موجود دي، نو دلته به دا شخص عورت نه ښکاره کوي، بلکه ترجيح به زيات واجب لره وي کوم چه پرده ده ـ او دغسل په ځائے به تيمم اووهي. ځکه د غسل نائب شته چه تيمم دے او د ستر العورت نائب نشته.

درجة الحديث : الحديث صحيح ذكره الالباني في صحيح ابي داود (٢/٧٥٨) رقم (٤٠١٢) وقال الشوكاني الحديث رجال اسناده رجال الصحيح فالحديث صحيح ورواه احمد (٤/٢٢٤) وابوداود (٤٠١٢) والنسائي رقم (٣٠٦- ٣٩٣) ـ

الفصل الثالث - دريم فصل

١٩ - عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ ﷺ قَالَ : إِنَّمَا كَانَ الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ رُخْصَةً فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ ثُمَّ نُهِيَ عَنْهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : أبیّ بن کعبؓ فرمائی : دا حکم (چه غسل صرف د منی وتلو نه پس واجب کیږي) د اسلام په شروع کښې د آسانئ په وجه وو. بیا دے نه منع اوکړے شوه.(یعنے دا حکم منسوخ شو).

تشریح : رُخْصَةً فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ : دا حدیث دلیل دے د جمهورو علماؤ دپاره چه (الماء من الماء) دا حکم په ابتداء د اسلام کښې وو، بیا په حدیث د عائشةؓ باندے منسوخ شو چه کله یو ختان د بل ختان نه تیر شي نو غسل واجب شو، انزال شوے وی اوکه نه .او دلیل پرے دا حدیث د أبی بن کعبؓ دے. اودا صحیح حدیث دے، ترمذیؒ ورته حسن صحیح وئیلی دی . او أبوداودؒ پرے سکوت کړے دے، وصحّحه ابن خزیمة وابن حبان وقال الاسماعیلی : انه صحیح علی شرط البخاری وصحّحه رمضان فی تعلیق المشکاة (١/ ٢٠٤) وقال ابن حجر اسناده حسن .باقی کلام په تلخیص الحبیر او تعلیق الترمذی د أحمد شاکر (١/ ١٨٤) کښې اوګوره .

---

٢٠ - وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ : إِنِّي اغْتَسَلْتُ مِنَ الْجَنَابَةِ وَصَلَّيْتُ الْفَجْرَ فَرَأَيْتُ قَدْرَ مَوْضِعِ الظُّفْرِ لَمْ يُصِبْهُ الْمَاءُ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَوْ كُنْتَ مَسَحْتَ عَلَيْهِ بِيَدِكَ أَجْزَأَكَ). رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه.

ترجمه : علی رضی الله عنه فرمائی : یو سړے نبی ﷺ ته راغے او عرض ئے اوکړو: ما د جنابت نه غسل اوکړو، او د صبا مونځ مے اوکړو، بیا مے (په خپل بدن کښې) د نوک هومره ځائے داسے اولیدلو چه هغے ته اوبه نه وے رسیدلے. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل : که چرے تا په هغے باندے خپل لاس راخکلے وے نو دا به تا دپاره کافی وو. (ابن ماجه).

تشریح : لَوْ کُنْتُ مَسَحْتَ عَلَیْهِ بِیَدِكَ أَجْزَأَكَ :

حاصل د جواب د نبی علیه السلام دا دے چه که تا د غسل په وقت کښ په هغه ځائے کوم چه اوچ پاتے شوے وو – لوند لاس راخکلے وے یا ډِے هغه معمولی شان وینځلے وے نو دا به کافی کیدو او ستا غسل به پوره شوے وے او که تا ته ددے ځائے د اوچ پاتے کیدو احساس روستو شوے وی نو تالره دا پکار وه چه هغه ځائے ډِے د وینځلے وے اگرکه معمولی شان ولے نه وی، لیکن هرکله چه تا په هغے باندے لوند لاس رانخکلو او په دغه حالت کښے دے مونځ اوکړو نو دغه مونځ ډِے ندے شوے او ددے قضاء راوړه او دغه ځائے اووینځه (طیبی مرقات) علامه طیبی فرمائی : دا معنی معلومیږی د لو نه ځکه چه دا راځی دپاره د امتناع د ثانی د وجے د امتناع د اول نه نو اجزاء (کافی کیدل) منفی دی د وجے د نه مسح کولو د هغه شخص نه اوچ ځائے لره۔

فوائد الحدیث ومسائله : ۱ – اوداسه کښے موالات واجب او ضروری دے ۔او په غسل کښے موالات واجب نه دے۔ دا حدیث پرے دلیل دے۔

۲ – په ابن ماجه رقم (٤٤١) کښے د ابن عباس ﷺ بسند ضعیف او په مغنی (۱/ ٢٥٤) کښے د علاء بن زیاد ﷺ او ابن أبی شیبه (۱/ ٤۱) کښے حدیث دے چه نبی ﷺ نه په غسل کښے د اوګے نه اوچت یو ځائے اوچ پاتے شوے وو، نو نبی ﷺ د سر د ویښتو په لوندوالی سره هغه ځائے لوند کړو ۔ (وأخرجه احمد) دارنګه ترتیب په وینځلو د اندامونو کښے هم ضروری نه دے په غسل کښے، لیکن د سر نه ابتداء کول (پس د اوداسه نه) اولیٰ او أفضل دی، د نبی ﷺ سنت عمل دے، کما مرّ۔

۲ – **مسئله :** په یے اودسئ باندے د شوی مانځه اعاده په اتفاق د علماؤ سره ضروری ده، برابره خبره ده که عمدا وی او که سهوا یانسیانا، ځکه چه اودس شرط دے دمانځه دپاره، او چه کله شرط نه وی نو مشروط هم نه وی۔ دغه شان اودس د مانځه دپاره چابی ده، چه چابی نه وی نو تاله نه کولاویږی، دارنګه که په جنابت کښے مونځ اوکړے شی نو هم د هغے اعاده ضروری ده ۔

دلیل : یو دا حدیث دے۔ دویم په ابن أبی شیبه کښے آثار دی ۔

بیاکه امام د پې اودسۍ یا د جنابت په حالت کښې مونځ اوکړي، نو آیا امام به مقتدیانو ته حال وائی اوکه نه؟ دغه شان د مقتدیانو مونځ اوشو که نه؟ نو پدې مسئله کښې اختلاف دے:

١ - نو د امام ابو حنیفهؒ او احنافو رائے داده چه د مقتدیانو خبرول ضروري دي، ځکه د امام مونځ متضمن دے مانځه د مقتدیانو لره اود مقتدیانو مونځ د امام د مانځه تابع دے صِحَّةً وَفَسَادًا، نو کله چه د امام مونځ اونشو چه اصل دے نو د مقتدیانو مونځ به په طریقه اولیٰ نه کیږي. نو د مقتدیانو خبرول ضروري دي.

٢ - ائمه ثلاثهؒ فرمائی: امام به ځانله مونځ را اوګرځوی، او د مقتدیانو خبرول نشته، ځکه چه د امام مونځ جدا دے، اود مقتدیانو مونځ جدا دے، د امام د مانځه په فساد سره د مقتدی مونځ نه فاسدیږي، کله چه مقتدي ته پته اونه لګی. البته امام مالکؒ فرمائی: چه که امام عمداً او قصداً پے اودسه مونځ اوکړي، نو اعاده د مقتدیانو هم ضروري ده، او خبرول د هغوئ هم ضروري دي، او په نسیان کښې د مقتدیانو د مانځه اعاده هم لازم نه ده، او امام لره د مقتدیانو خبرول هم ضروري نه دي. دلیل په دے باندے احادیث مرفوعه او آثار د صحابه کرامو دي. بعضے دادي:

١ - صحیح بخاري (٩٦/١) کښې دي:

عن أبی هریرة مرفوعا: یصلون لکم فان أصابوا فلکم ولهم، وان أخطأوا فلکم وعلیهم.

ابن منذرؒ فرمائی: دا حدیث رد کوی په هغه چا باندے چه وائی: د امام مونځ چه کله فاسد شي نو د مقتدي مونځ هم فاسدیږي.

امام بغویؒ په دے باندے استدلال کوی چه د مقتدیانو مونځ صحیح دے کله چه امام ئے پے اودسه مونځ کړے وی، صرف په امام باندے اعاده ضروري ده، په مقتدیانو نشته. کذا فی النیل (٢١٤/٣) شرح السنه (٤١٤).

٢ - **دلیل**: عمل د خلفاء راشدینو رضی الله عنهم دے، لکه: مطیع بن الأسود فرمائی: عمر بن خطاب رضی الله عنه خلقو ته د سَحر جمع اوکړه، بیا ما او هغه خپلے زمکے ته لاړو، کله چه یو لښتي باندے کیناستو او اودس ئے کولو نو په وروِن باندے ئے د

احتلام مني اوليدله، نو وې فرمائيل : د احتلام مني زما په ورون ده او زه پرې نه يم پوهه شوې، بيا ئې اوفرمائيل : کله چه ما غوړي (وازدې) اوخوړې او عمر مې ډير شو نو مانه مني اوځي او زه پرې نه پوهيږم۔ بيا ئې غسل اوکړو او د سَحر مونځ ئې دوباره اوکړو، او هيچا ته ئې د مانځه راګرځولو حکم اونه کړو۔

(ابن أبي شيبة : ٢/ باب الجنب يعيد الصلاة، البيهقي : ٢/٣٩٩، المحلى : ٣/١٢٢)۔

٣ – **دليل** : عثمان رضي الله عنه خلقو ته – په هيره سره – د جنابت په حالت کښې مونځ اوکړو۔ کله ئې چه صبا کړو نو په جامه ئې احتلام اوليدلو، وې فرمائيل : زه بوډا شوې يم، قسم په الله ! زه جنب کيږم او بيا نه پوهيږم۔ بيا ئې خپله مونځ را اوګرځولو او مقتديانو ته ئې د اعادې حکم اونه کړو (بيهقي : ٢/٤٠٠)۔

٤ – ابن عمر رضي الله عنه خلقو ته بې اودسه مونځ اوکړو نو خپله ئې اعاده اوکړه او خلقو ته ئې د اعادې حکم اونه کړو۔ (تمهيد : ٢/١٨٤، لابن عبد البر)۔

٥ – علي رضي الله عنه فتویٰ : (أنه يعيد ولا يعيدون)۔

ترجمه : صرف امام به مونځ راګرځوي، مقتديانو باندې اعاده نشته۔ (المنتقى لابى البركات بشرح نيل الأوطار : ٣/٢١٣، والمحلى : ٣/١٢١)۔

امام ابن حزمؒ فرمائي : د عمر فاروقؓ، ابن عمرؓ او سعيد بن جبيرؒ نه هم نقل دي چه دوئ دا فتویٰ ورکوي چه امام به د خپل مونځ اعاده اوکړي او مقتديانو باندې اعاده نشته كذا في السنن الكبرى للبيهقي (٢/٤٠٠) ۔ ابن حزم په المحلى (٣/١٣١) کښې فرمائي : د عمرؓ او ابن عمرؓ روايت ډير صحيح دې، او د هيڅ يو صحابي نه د دوئ خلاف نه دې ثابت۔ او روايت د عليؓ – چه په هغې کښې د اعادې حکم دې – ډير ضعيف دې ځکه په هغې کښې په ټولو سندونو کښې عباد بن کثير ضعيف او غالب بن عبيد الله مجهول راوي دې۔ او ابن حزمؒ فرمائي : دا قول د ابراهيم نخعيؒ او حسنؒ او عطاءؒ هم دې۔ ابن عمرؓ د مازيګر مونځ – په هيره سره – د بې اودسۍ په حالت کښې اوکړو، نو خپله ئې اعاده اوکړه او ملګرو ئې اعاده اونه کړه۔

٦ – ابن خزمؒ فرمائي : وعمدتنا في هذا الباب حديث أبي بكرة : أن رسول [illegible]

دخل فی صلاة الفجر فكبر فأومأ اليهم ان مكانكم، ثم جاء ورأسه يقطر فصلى بهم، فلما قضى الصلاة قال : انما أنا بشر مثلكم، وانى كنت جنبا. (ذكره أبوداود : ١/٣٥) والبيهقى (٢/٣٩٧) فقد اعتدوا بتكبيرهم خلافه وهو عليه السلام جنب. المحلى : ٣/١٢١).

يعنې : نبي ﷺ ته د تكبير افتتاح نه پس جنابت را ياد شو، صحابوؓ ته ئې اشارې سره اوفرمائيل : په خپل ځائې ولاړ اوسئ، بيا راغلو او سر نه ئې اوبه څڅيدلې، مونځ ئې اوكړو، مونځ نه پس ئې اوفرمائيل : زه ستاسو پشان انسان يم، زه د جنابت په حالت كښې ووم. نو صحابوؓ هغه تكبير معتبر اوشمارلو كوم چه نبي ﷺ د جنابت په حالت كښې كړې وو.

دا واقعه ډير كرتې راغلې ده، يو ځل د تكبير افتتاح نه مخكښې، دويم ځل د تكبير افتتاح نه پس راغلې ده. انظر فی ذلك فتاوى الدين الخالص (٥/٢١٤).

٧ - بل دليل دادې چه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ لا يكلف الله نفسا الا وسعها ﴾ ، او زمونږ په وسع كښې دا نشته چه د امام د طهارت نه ځان خبر كړو.

نو دا احاديث او آثار دليل دې چه كله امام - په هيره سره - د بې اودسئ په حالت كښې مونځ اوكړي نو امام به مونځ را اوګرځوي او مقتديانو باندې مونځ را ګرځول نشته.

اوكوم مرفوع حديث كښې چه دي (صلى جنبا، فاعاد وأعادوا)، يعنې نبي ﷺ د جنابت په حالت كښې مونځ اوكړو، نو خپله ئې هم اعاده اوفرمائيله او صحابوؓ ته ئې هم د اعادې كولو حكم اوكړو. نو دا ضعيف جدا روايت دې، فى اسناده ابو جابر البياضى وهو متروك . (التقريب)، والسنن الكبرى (٢/٤٠١) وكان يحيى بن معين يقول ابوجابر البياضى كذاب.

او د على رضى الله عنه په أثر كښې دي : (أنه صلى جنبا، فأعاد وأمرهم فاعادوا)، چه علىؓ د جنابت په حالت كښې خلقو ته مونځ اوكړو، نو خپله ئې د مانځه اعاده اوكړه او مقتديانو ته ئې هم د اعادې حكم اوكړو، نو هغوئ اعاده اوكړه.

نو دا روايت ضعيف منقطع دې - فيه حبيب ابن أبى ثابت ولم يسمع عن عاصم ، كما فى السنن الكبرى (٢/٤٠١).

بله دا چه ددې مخالف فتوىٰ د على رضى الله عنه مخكښې تاسو اوليدله.

دا خو د بې اودسئ مسئله وه، خو كه :

۳ - يو امام يا ځانله مونځ کونکے په نجاست کښې مونځ اوکړي او پته ورته نه وي، يا ئے قبلـه خطا کړه پس د تحري او سوچ کولو، نو دده مونځ صحيح دے، بيرته راګرځول ئے نشته دے، ځکه استقبال د قبلے او نجاست سره مونځ کول عند الجهالت ساقطيږي۔

۱ - دليل : أبوداود (۱/ ٦١) کښې د أسود عامريؓ په روايت کښې دي چه رسول الله ﷺ په يو ځادر کښې د سَحر مونځ اوکړو، د مانځه نه پس ورته يو صحابي عرض اوکړو: يا رسول الله ! په دے ځادر کښې وينه ده، نو رسول الله ﷺ هغه را اونيوله او يو غلام ته ئے ورکړه او بعضے بيبيانو ته ئے اوليږله۔ او نبي ﷺ دوباره مونځ اونه کړو. اونه صحابوؓ۔

۲ - دليل : حديث د خلع النعال دے : چه د نبي ﷺ په پيزار کښې ګندګي وه او په مانځه کښې ئے اوويستله، صحابوؓ هم خپل پيزارونه اوويستل، سلام نه پس رسول الله ﷺ اوفرمائيل : تاسو ولے خپل پيزار اوويستل ؟ زما پيزار کښې ګندګي وه، جبرئيل ماته راغلو چه پيزار اوباسه ۔ (أبوداود : ۱/ ۱۰۷)۔

نو دلته نبي ﷺ د مونځ اعاده اونه فرمائيله ۔ ځکه چه په ابتداء د مانځه کښې هغه په ګندګئ باندے خبر نه وو۔ ددے نه معلومه شوه چه اودس ډير ضروري شرط دے، دا په نسيان سره هم نه دے معاف، ليکن نجاست د نسيان په صورت کښې معاف دے۔ لکه ددے مسئلے تفصيل په (المغني ۱/ ۷۵۱، نيل الأوطار ۲/ ۱۲۱، فتاوى الدين الخالص ۳/ ٤۹٤، ۵/ ۲۱۵، مجموع الفتاوى لشيخ الاسلام ۲۲/ ۱۸٦، تمام المنة ص ۵۵، المجموع شرح المهذب ٤/ ۲٦۰، الموطأ ۱/ ۳۵، المحلى ۳/ ۱۲۱)، کښې کتلے شئ.

درجة الحديث : رواه ابن ماجة رقم (٦٦٤) باسناد ضعيف جدا فيه محمد بن عبد الله ضعيف قال الالباني اسناده ضعيف فيه عدة علل بينتها في ضعيف ابي داود رقم (۳۷)۔

---

۲۱ - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : كَانَتِ الصَّلَاةُ خَمْسِيْنَ وَالْغُسْلُ مِنَ الْجَنَابَةِ سَبْعَ مَرَّاتٍ وَغَسْلُ الْبَوْلِ مِنَ الثَّوْبِ سَبْعَ مَرَّاتٍ، فَلَمْ يَزَلْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَسْأَلُ حَتّٰى جُعِلَتِ الصَّلَاةُ خَمْسًا وَغُسْلُ الْجَنَابَةِ مَرَّةً وَغُسْلُ الثَّوْبِ مِنَ الْبَوْلِ مَرَّةً).

رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی : (مخکښې) پنځوس مونځونه فرض وو، جنابت نه لامبل او کپړے نه متیازے وینځل اووه ځله فرض وو، بیا نبی ﷺ تخفیف (او آسانتیا) دپاره دعا غوښتله تردے چه مونځونه پنځه شو، او د جنابت نه غسل او د متیازو نه کپړه وینځل یو ځل پاتے شو۔ (ابوداود).

تشریح : **فوائد** : ۱ - نسخ د حکم په دوه قسمه ده (۱) یو هغه ده چه عمل پرے شوے وی او د عمل نه روسته منسوخ شی۔ (۲) دویمه هغه ده چه عمل په هغه حکم نه وی شوے، لکه پنځوس مونځونه وغیره ابتداء کښې فرض شو بیا په دے باندے د عمل کولو نه مخکښې منسوخ شو، پنځه مونځونه پاتے شو، دیته نسخ قبل العمل وائی، او دا په دے حدیث کښې ذکر ده۔

۲ - وَغُسْلُ الْجَنَابَةِ مَرَّةً : یعنے یو ځل اوبه اچول په ټول بدن باندے فرض او ضروری دی، او هرچه په سر باندے درے کرتے اوبه اچول دی نو هغه سنت عمل دے، او دا (مره) د هغے منافی نه دے، ځکه ددے نه فرض مراد دے او تثلیث په سر کښې سنت دے۔

وَغُسْلُ الثَّوْبِ مِنَ الْبَوْلِ مَرَّةً : ۱ - دا حدیث د امام شافعیؒ وغیره دپاره دلیل دے چه جامه په یو ځل وینځلو سره هم پاکیږی، او درے ځله وینځل مستحب دی۔ او هرچه احناف دی نو د هغوئ په نیز درے ځله وینځل واجب دی په نجاست غیر مرئیه کښې، دوئ تفصیل کوی چه که نجاست مرئی - په سترګو ښکاره کیدو والا - وی، نو د هغے د پاکولو طریقه داده چه عین او ذات د نجاست به زائل کوی، که په هر څو ځلو وینځلو سره وی، او که غیر مرئی وی نو دومره حد پورے به وینځی چه غالب ګمان ئے راشی چه پاک شو، او ددے اندازه درے کرتے ده، ځکه غالب ګمان په درے ځله وینځلو سره حاصلیږی نو ځکه ئے درے ځل وینځل واجب ګنړلی دی۔

دلیل : دا پیش کوی چه حدیث کښې دی (اذا استیقظ احدکم من منامه فلا یغمسن یده فی الاناء حتی یغسلها ثلاثا - کذا فی الهدایة : ۱/۷۸) والبحر الرائق (۱/٤٦٨)۔

په دے حدیث کښې درے ځله لاس وینځل ذکر دی، کله چه انسان د خوب نه بیدار شی

ځکه دلته هم نجاست متوهم معنوی دے نه ظاهری۔ لیکن ددے استدلال نه جواب دادے چه د جامه وغیره نه نجاست غیر مرئیه درے وینځلو قیاس په دے حدیث باندے صحیح ندے چه ګنے خوب نه بیداریدو نه پس لاس درے ځل وینځل واجب دی نو عام نجاست معنوی به هم درے ځل وینځل واجب وی، دا قیاس ځکه صحیح نه دے۔ وجه داده چه د خوب نه بیداریدو کښے درے ځله لاس وینځل حکم تعبدی دے، دا وجه ده چه که په لاس هیڅ نجاست هم نه وی، نو بیا هم درے ځل لاس وینځل واجب او فرض دی، نو دا حکم په دغه ځائے پورے خاص دے او قاعده کلیه نه ده، نو دا حکم غیر معقول المعنی شو په دے باندے قیاس کول درست نه دی۔

او هرچه نجاست غیر مرئیه دے نو دا حقیقی نجاست دے متوهم ندے نو په دے کښے د تثلیث الغسل د اثبات دپاره بل نص پکار دے، او هغه نشته۔

٢- علامه باجیؒ او علامه ابن تیمیهؒ فرمائی : حدیث د باب النظافت نه دے، نه د باب النجاست نه، یعنے په حدیث کښے تثلیث او درے والے د نظافت دپاره راغلے دے، نه د نجاست لرے کولو دپاره۔ نو قیاس د ازاله د نجاست غیر مرئیه په دے باندے صحیح نه دے۔ مرعات (١٤٦/٢)۔

درجة الحديث : رواه ابوداود : دا حدیث امام ابوداودؒ راوړے او سکوت ئے پرے کړے، لیکن دا حدیث ضعیف السند دے، ځکه په دے کښے أیوب بن جابر الیمامی دے چه ابن معین، ابن مدینیؒ، نسائیؒ، ابو زرعهؒ، ابو حاتمؒ، ابن حاتمؒ او یعقوب بن سفیانؒ ورته ضعیف وئیلے دے۔

او کومو علماؤ چه دده توثیق کړے دے، لکه امام احمدؒ فرمائی : حديثه يشبه حديث أهل الصدق. امام بخاریؒ په تاریخ أوسط کښے فرمائی : هو أوثق من أخيه محمد ۔ نو ددے جواب دادے چه دا توثیق په مقابله د جرح کښے نا منظور دے، ځکه چه اکثر جارحین دی، او کم موثقین دی۔

٢ - دویم : ددے توثیق نه دا نه معلومیږی چه دا حدیث دے مقبول شی، بلکه که نور روایات ئے شواهد راغلل نو دده روایت به حسن درجه کښے شی، مګر دلته دا حدیث

ضعيف جدا دے، داوجه ده چه شيخ الباني" په ضعيف أبي داود (٢٤/١) رقم (٢٤٧) كښې ورته ضعيف وئيلے دے، دارنګه په دے كښې يوبل أضعف راوى هم دے، وهو عبد الله بن عصم۔ وضعفه الشيخ رمضان (٢٠٥/١).

٣ - بله وجه داده چه په هيڅ روايت كښې دا خبره نشته چه د معراج په شپه رسول الله ﷺ ته دا خبره شوې وه چه غسل الجنابت او غسل الثوب ډير ځله دے او بيا يو ځل ته نقل شوے دے نو دا روايت د باقى ټولو رواياتو نه مخالف هم دے چه په هغے كښې صرف دمانځه په باره كښې خبره ذكر ده، نه د جنابت او غسل الثوب باره كښې۔ نو دا حديث معلول بعلّةٍ شو۔

*** *****

باب مخالطة الجنب وما يباح له

د جنب د احكامو بيان

جنب سره د يوځائے كيدو
او جنب دپاره چه كوم څيزونه جائزى دى د هغے بيان

مناسبت : د باب د ما قبل سره دادے چه دا باب دفع د يو وهم دے، هغه دا چه د جنب دپاره خو غسل كول واجب او ضرورى دى، نو غسل به كوى مگر يو شخص دے چه لا تر اوسه ئے غسل نه وى كړے نو د هغه دپاره به هر شئ ته نژدے كيدل حرام وى، نو كوم كارونه ورله په دے وخت كښے مباح دى او كوم ندى مباح؟ نو په دے باب كښے هغه ذكر كوى۔

٢ – **د باب معنىٰ** : باب دے په بيان د گډون د جنب سړى او زنانه كښے او هغه كارونه چه ده له مباح او جائز دى، يعنے چه جنب د چا سره كينى يا خوراك كوى، مصافحه كوى، مزل كوى، وغيره نو دده احكام بيانوى چه آيا دا كارونه كول جائز دى اوكه نه؟ نو په دے باره كښے حديثونه ذكركوى۔

٣ – د جنب لفظ اطلاق په واحد تثنيه اوجمع، مذكر مونث ټولو باندے كيږى، په ضمه د جيم او نون سره استعماليږى. كله دده جمع هم راځى او تثنيه هم۔ جنبان، جنوب او اجناب وئيلے كيږى۔ او هرچه جنابت دے نو دا اسم او نوم دے د دغه ناپاكئ حالت دپاره۔ په اصل كښے جنابت په معنىٰ د بُعد او لرے والى سره راځى او جنب هم منع شوے دے دے نه چه مونځ اوكړى او د مانځه ځائے دارنگه نوروعباداتو ته راتگ اوكړى بلكه دده نه به وړاندے وى۔

الفصل الأول - اولنے فصل

١ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : لَقِيَنِي رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَأَنَا جُنُبٌ فَأَخَذَ بِيَدِي فَمَشَيْتُ مَعَهُ حَتَّى قَعَدَ فَانْسَلَلْتُ فَأَتَيْتُ الرَّحْلَ فَاغْتَسَلْتُ ثُمَّ جِئْتُ، وَهُوَ قَاعِدٌ، فَقَالَ : أَيْنَ كُنْتَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ! فَقُلْتُ لَهُ . فَقَالَ : سُبْحَانَ اللهِ ! إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَا يَنْجُسُ). هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ وَلِمُسْلِمٍ مَعْنَاهُ وَزَادَ بَعْدَ قَوْلِهِ : فَقُلْتُ لَهُ : لَقِيْتَنِي وَأَنَا جُنُبٌ فَكَرِهْتُ أَنْ أُجَالِسَكَ حَتَّى أَغْتَسِلَ . وَكَذَا الْبُخَارِيُّ فِي رِوَايَةٍ أُخْرَى .

ترجمه : ابو هريرةؓ فرمائي : رسول الله ﷺ ماسره په داسے حال کښے ملاؤ شو چه زه جنب ووم، زما لاس ئے اونيولو او زه هغه سره روان شوم تردے چه هغه کيناستلو، نو زه ترے غلے شان اووتم، خپل کور ته راغلم او غسل مے اوکړو، بيا ورته راغلم او هغه لا ناست وو۔ وے فرمائيل : ابو هريره چرته وے ؟ ما ورته واقعه ذکر کړله (چه زه جنب ووم ځکه لاړم) نبي اوفرمائيل : سبحان الله ! مؤمن ناپاك نه وي۔ ددے روايت الفاظ د بخاري دي۔ مسلم ددے پشان روايت نقل کړيدے او دا الفاظ ئے مزيد نقل کړي دي چه : هغه اووئيل : زه د ناپاکئ حالت کښے ووم، ځکه دا راته مناسب معلوم نشوه چه تاسو سره کينم تر څو پورے چه اونه لامبم۔ دغسے د بخاري يو بل روايت کښے هم دا الفاظ منقول دي۔

تشريح : ابو هريره رضي الله عنه د نبي عليه السلام نه روستو شو او کور ته واپس شو او د پيغمبر ﷺ ملګرتيا ئے پريخوده او اجازه ئے هم وانخسته ددے وجه دا ده چه ابو هريرهؓ دا ګمان اوکړو چه نبي عليه السلام به زما پدے کار باندے خوشحاله شي ځکه ده ته دا پته وه چه پيغمبر خو مونږ ته په طهارت او نظافت باندے حکم کوي او تيزي راکوي۔ ليکن نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل چه ته پدے ګمان کښے تيروتے ئے ځکه چه جنابت خو څه ظاهري ګندګي نه ده مؤمن سړے په حالت د جنابت کښے هم پاك دے ځکه چه دا معنوي ناپاکي ده او پدے حالت کښے جنب سړے د خلقو ناسته پاسته کولے شي او دا خيال کول چه جنب سړے به هيڅ ځيز له ګوتے نه وړي او نه به چاسره کيني نو دا په دين

کښې سختي پيدا کوی اګرکه صفائي ښه شے خو دلته د نبی عليه السلام تعجب ځکه اوکړو چه د ابو هريره پدے کار نظريه جوړه شويده۔

فوائد : ١ - استاذ له د شاګرد لاس نيول او په هغه باندے په مزل کښے تکيه لګول جائز دی ۔ ٢ - دا لاس ئے د ابو هريرهؓ د شفقت او محبت په نيت نيولے دے۔ نو په دے کښے اشاره ده شفقت د رسول الله ﷺ ته ۔

٣ - فَانسَلَلْتُ : زه پټ اووتلم، ددے نه نفی د علم الغيب معلوميږی چه نبی عليه السلام د ابو هريره په پټ وتلو خبر نشو۔

٤ - سُبْحَانَ اللهِ ! : د تعجب دپاره ئے وئيلے ده چه ستا دا عقيده ساتل چه په جنابت سره انسان نجس کيږی، ظاهرا دا خو د تعجب خبره ده۔ دا ښکاره مسئله پتا باندے پته پاتے شوے ده !۔ ٥- ددے حديث نه دا ثابته شوه چه کله سړے د مشرانو او ديندارو خلقو، علماؤ ملاقات ته ځی يا ورسره ملګرتيا کوی نو پکار ده چه دا په کامل حالت او ښائسته صفاتو باندے متصف شی دے دپاره چه ددۀ نه هغوی ته تکليف اونه رسی۔

اِنَّ الْمُؤْمِنَ لَا يَنْجُسُ : دا باب د کرم او سمع دواړو نه استعمال دے په جيم باندے فتحه او ضمه دواړه وئيل جواز لری۔

سوال : هر کله چه مؤمن نجس نه دے نو د غسل کولو حکم ولے شوے دے ؟۔

جواب : ١ - دا حکم تعبدی دے، د نجاست په وجه نه دے۔ شارع ورته دا حکم کوی چه غسل اوکړه، اګرچه ستا بدن ګنده نه دے۔ نو دے کښے به ډير حکمتونه وی ۔

٢ - يا معنیٰ داده چه المؤمن لا ينجس بالجنابة۔ يعنے مؤمن د جنابت په وجه داسے نجس نه دے چه ددۀ په وجه د مصافحے کولو او ورسره د مزل کولو او کيناستلو نه منع شوے وی۔ بلکه دا معنوی نجاست دے دا کارونه ورسره منع نه دی۔ نو په دے باندے دا فائده مرتبه شوه چه پس خورده او جوته او خوله او لاړے د مؤمن وغيره پاکے دی۔ فبطل مسئلة البير جحط۔ دا بے دليله قياسی مسئله ده۔ او د (ان المؤمن لا ينجس) دا مغنی نه ده چه که په مؤمن باندے ګندګی پريوځی نو هم نه پليتيږی۔ دغه شان مړی له غسل ورکول دا حکم تعبدی دے، د نجاست په وجه نه دے اګرکه مړے بالکل پاك وی هم پړ س د

مړګ نه به غسل ورکولے شي۔ امام بخاريؒ تعليقا د ابن عباس نه نقل کړی دی (ان المسلم لا ينجس حيا ولا ميتا) ---- بيا دلته دا اووئيل شو چه مؤمن نه نجس کيږی نو

د کافر حکم به څه وی؟

نو په دے کښے اختلاف دے۔ ١ - دا کثرو علماؤ رائے داده چه کافر هم ظاهرا - د بدن په لحاظ - په حالت د جنابت کښے پاك دے اګرچه د خارج نه نجاست ورته عارضيږی لکه د مؤمن پشان۔ خو په اعتبار د اصل سره پاك دے۔ او هرچه تخصيص د نبی ﷺ دے د مؤمن په دے حديث کښے چه (ان المؤمن لا ينجس) نو ددے ډير وجوهات دی۔ (١) يو دا چه دلته خطاب مؤمن ته دے (وهو أبو هريرة)، نو ځکه ئے هغه ذکر کړو (فخرج مخرج الخطاب)، ورنه د کافر حکم هم دغه دے۔ (٢) دويم په دے کښے اشاره ده چه دکفارو نه به انسان داسے ځان سچ کوی لکه د ظاهری ګندګئ نه، نو په دے کښے د کافرو نه نفرت او دهغوئ سپکوالے دے (٣) دريم دا چه : کافران ځان د پليتو نه نه ساتی، هميشه د جنابت په حالت کښے وی، د پاکئ خيال نه ساتی۔ نو هغوئ په اعتبار د اصل سره پاك دی مګر ځان ئے نجس کړے دے، او هرچه مؤمن دے نو هغه د پاکئ خيال ساتی نو په جنابت حالت کښے هم هغه پاك دے۔

(٤) اشاره ده چه مومن نه ظاهراً نجس دے اونه باطناً، او هرچه کافر دے نو هغه اګرچه ظاهراً پاك دے مګر باطناً په اعتبار د عقيدے سره پليت دے، وهذا هو الراجح۔

او **دلائل** په طهارت د بدن د کافر باندے ډير دی، بعضے دادی :

١ - چه ثمامه بن أثال په حالت د کفر کښے رسول الله ﷺ په مسجد نبوی کښے تړلے وو، که دا ظاهرا د بدن په لحاظ نجس وے نو مسجد کښں دده تړل جائز نه وو۔

٢ - دويم دليل شريعت کښے د اهل کتابو زنانه ؤ سره نکاح جائز ده، نو يو شخص چه د کتابيه زنانه سره نکاح اوکړی، نو دے مؤمن ته به د هغے د بدن خوله، جوته، پس خورده وغيره رسيږی، نو پکار ده چه هغه په ده بيا حرامه شی او دا هيڅ کله نه ده حرامه، معلومه شوه چه کافر نجس نه دے ظاهراً۔

سوال : قرآن کريم کښے دی : ﴿انما المشركون نجس فلا يقربوا المسجد الحرام

الآية﴾ التوبة ـ (٢) دارنګه ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : (من صافح مشركا فليتوضأ)، ددې نه معلومه شوه چه مشرك او كافر نجس دې۔

جواب : دادې چه دا نجاست معنوی دې په اعتبار د عقيدې سره دې، نه په اعتبار د ظاهری بدن سره، ځکه ډير کفار دی چه د ظاهری صفائی ډير خيال ساتی، شيمپو او صابن وغيره استعمالوی، اود ابن عباس ؓ غرض هم تغليظ او سختی کول دی د مشركانو سره، او د هغوئ نه تجنب او اعراض مقصود دې۔

فَكَرِهْتُ أَنْ أُجَالِسَكَ : دا د أبو هريرة ؓ أدب دې په باره د نبی ﷺ کښې، ليکن نبی ﷺ ورته اوفرمائيل : چه داسې أدب، أدب نه دې، چه د هغې په وجه سره انسان په دين کښې غلو اوکړی ـ

٢ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ؓ قَالَ : ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ؓ أَنَّهُ تُصِيبُهُ الْجَنَابَةُ مِنَ اللَّيْلِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ ذَكَرَكَ ثُمَّ نَمْ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابن عمر ؓ فرمائی : عمر فاروق رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه ماته د شپې جنابت کيږی (يعنی احتلام يا جماع سره غسل واجب کيږی) نبی ﷺ اوفرمائيل : اودس اوکړه او ذکر وينځه او بيا اوده شه (متفق عليه)۔

تشريح : توضأ واغسل ذكرك ثم نم : د جنب دپاره په احاديثو کښې څلور طريقې ذکر دی (١) **يو**، داوده کيدو نه مخکښې غسل کول، او دا بهتره طريقه ده، او د صحت او طب په لحاظ هم په کښې فوائد شته دې، انسان ته بيرته طاقت را واپس کيږی، او دا طريقه په روايت د مسلم (١٤٤/١) کښې راغلې ده، عبد الله بن أبی قبيس د عائشې ؓ نه د رسول الله ﷺ د طريقې په باره کښې تپوس اوکړو چه آيا د غسل نه مخکښې به رسول الله ﷺ اوده کيدو ؟ عائشې ؓ ورته اوفرمائيل : (ربما اغتسل فنام، وربما توضأ فنام) ـ يعنې کله به ئې د اوده کيدو نه مخکښې غسل کولو، اوکله به ئې صرف اودس اوکړو بيا به اوده شو ـ

٢ – **دويمه طريقه** دا چه : صرف اودس اوکړی، او بيا اوده شی ـ (كما فی البخاری : ٣٥/١، ومسلم :١/ ١٢٥)، او دا هم ښه طريقه ده، ځکه مجمع الزوائد (٢٧٤/١) کښې يو

حديث دے چه کله انسان اودس اوکړي اوده شي، که ده له مرګ راشي نو ده جنازے ته جبرئيل او ملائکة المقربين حاضريږي ـ قال : رواه الطبراني بسند فيه عثمان بن عبد الرحمن الحراني الطرائفي وثقه يحيى بن معين وقال ابوحاتم صدوق وقال ابن عدى لا باس به يروي عن مجهولين۔

٣ - دريمه طريقه : چه تيمم اووهي، اګرکه اوبه موجودے وي۔ او دا طريقه په حديث د بيهقي (١/٢٠٠) کښے قال الحافظ : اسناده حسن (١/٣٣) عن عائشة، او مجمع الزوائد (١/٢٧٤) باب فيمن أراد النوم والأكل والشرب وهو جنب، کښے راغلے ده۔

٤ - مفضوله طريقه داده : چه د اودس يا تيمم کولو نه بغير اوده شي، هيڅ اوبه او خاوره مسه نه کړي، اودے باره کښے يو روايت د عائشةؓ دے په (موطأ امام محمد : ١/٧١، الترمذي : ١/٣٢، ابن أبي شيبة : ١/٤٥، ابن ماجة : ١، رقم : ٥٨١، بيهقي : ١/٢٠٠، وهو حديث صحيح)، امام محمدؒ وائي (وهذا أرفق بالناس)۔

٢ - دارنګه ام سلمهؓ فرمائي : رسول الله ﷺ به د جنابت په حالت کښے اوده شو بيا به را بيدار شو، بيا به اوده شو، (رواه احمد ورجاله رجال الصحيح، كذا في مجمع الزوائد : ١/٢٧٥، والعرف الشذي، وآداب الزفاف للألباني ص : ٤١)۔ خو په دے طريقو کښے اودس درميانه کيفيت دے۔

المسألة الخلافية :

دخوب نه مخکښے د **جنب** دپاره **اودس** کولو په حکم کښے اختلاف دے :

امام نوويؒ په شرح د مسلم (١/١٤٤) کښے فرمائي :

١ - داؤد ظاهريؒ او ابن حبيب مالکيؒ په نيز وضوء قبل النوم واجب دے، استدلال کوي په دے روايت د ابن عمرؓ باندے چه په دے کښے رسول الله ﷺ عمرفاروقؓ ته أمر اوکړو چه اودس اوکړه (توضأ واغسل ذكرك ثم نم)۔ متفق عليه۔ او أمر د وجوب دپاره وي۔

دارنګه مسلم (١/١٤٤) کښے دي چه عمر فاروقؓ د نبي ﷺ نه تپوس اوکړو (أيرقد أحدنا وهو جنب ؟ قال : نعم، اذا توضأ)۔ (يعنے آيا مونږ کښے يو تن د جنابت په حالت کښے اوده کيدے شي ؟ وے فرمائيل : هاؤ، کله چه اودس اوکړي)۔ نو رسول الله ﷺ اودس

شرط کړو د خوب کولو دپاره، نو دا دليل د وجوب دے۔

۲ - **دويم** قول د جمهورو دے چه د خوب نه مخکښے اودس کول د جنب دپاره مستحب دی، او واجب نه دی، اودا تاسو چه کوم احاديث ذکر کړل نو په دے کښے أمر د استحباب دپاره دے، اودليل او قرينه په دے باندے داده چه نبی ﷺ نه نورے طريقے هم نقل دی، کما مرّ۔ چه د تيمم يا اودس کولو نه بغير هم اوده شوے دے۔

دارنګه حديث د ابن خزيمه (۱۰۹/۱) باب رقم (۱۷۱) او أبو عوانه او ابوداود رقم (۳۷٦۰) کښے دی، نبی ﷺ فرمائی :

(انما أمرت بالوضوء اذا قمت الى الصلاة) وسنده على شرط البخاری۔

او په دے سره تطبيق د ټولو احاديثو هم راځی څکه چه په حديث د ام سلمه او عائشهؓ کښے دی (ينام ولا يمس ماء) ۔ او بل روايت د عائشهؓ دے (توضأ وضوئه للصلاة) متفق عليه ، او دارنګه حديث دعمرؓ (أيرقد أحدنا وهو جنب ؟ قال : نعم، اذا توضأ) ، کښے د اودس ذکر دے۔

نو **تطبيق** دا شو چه اودس مخکښے د خوب نه په حالت د جنابت کښے کول مستحب دی، او واجب نه دی، نو کله ئے پريخودل هم شته کما مرّ، فتدبر، نو هيڅ تعارض نشته۔ اوس د اودس کولو څه حکمت دے ؟په کومو احاديثو کښے چه امر په اودس کولو راغلے دے نو ددے څو حکمتونه دی (۱) يو دا چه په دے سره په نجاست کښے تخفيف او آسانی راځی، لکه ددے تائيد په حديث د شدّاد بن اوسؓ کښے راغلے دے، کما رواه ابن أبی شيبة (۱/ ٦۰) بسند رجاله ثقات : (قال : اذا أجنب أحدكم من الليل ثم أراد أن ينام فليتوضأ، فانه نصف غسل الجنابة)۔ يعنے دا نيمائی غسلِ جنابت دے۔

۲ – دويم حکمت دادے چه په يو د دوه طهارتونو کښے اوده شی په دے هيره سره چه هسے نه خوب کښں مړ نه شی۔

۳ – يادا چه په دے سره دوباره جماع کولو کښے نشاط اود طبيعت تازګی راځی۔ او ددے حکمتونو نه هم معلوميږی چه دا حکم استحبابی دے۔

۳ - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا كَانَ جُنُبًا فَأَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ أَوْ يَنَامَ، تَوَضَّأَ وُضُوْئَهُ لِلصَّلَاةِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : عائشة رض فرمائي : نبي ﷺ به چه كله جنب وو اود خوراك يا د خوب اراده به ئے اوكړه نو د مانځه داودس پشان اودس به ئے اوكړو۔ (بخاري، مسلم)۔

تشريح : فَأَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ :

د جنب دپاره د خوراک نه مخکښ د لاس وينځلو حيثيت او اختلاف

په دے حديث كښے استحباب د اوداسه دے دپاره د جنب، كله چه اراده د خوراك يا دخوب كوى، ليكن د خوب په باره كښے اودس مؤكد دے، په نسبت سره اودس كولو ته دپاره د خوراك۔

او په روايت د ابوداود (۱/۳۳) او نسائي (۱/٥٤) كښے دى (غسل يديه)، يعنے جنب سړے به د خوراك دپاره لاس وينځى، هغے كښے اودس نه دے راغلے۔ اوعام اوقاتو كښے (بغير د حالت د جنابت نه) طعام دپاره لاس وينځلو كښے اختلاف دے۔

۱ - علامه منذرى په الترغيب (۳/۱۵۱) كښے فرمائي : كرهه سفيان الثورى والشافعي ومالك بن انس والبيهقي ۔ او د سفيان ثورى رح نه امام ترمذى رح نقل كړى دى چه طعام ته لاس وينځل بدعت دے (۲/٦)۔ او ددے قول د دليل دپاره علامه منذرى رح د ابن عباس رض مرفوعا روايت راوړے دے (انما أمرت بالوضوء اذا قمت الى الصلاة الخ) ۔ او په دے باره كښے هيڅ حديث نشته، دا وجه ده چه شيخ الاسلام ابن تيميه رح په فتاوى (۱/٥٦) كښے فرمائي : والأمر دائر بين الكراهة والاستحباب، فتركه أولىٰ) ۔ يعنے خوراك دپاره غسل اليدين بعضے علماء مكروه ګڼړى، او بعضے نور ورته مستحب وائي، اود شريعت قانون دادے چه كله په يو شئ كښے د كراهت او استحباب احتمال راشي نو د هغے پريخودل ضرورى وى۔ د نبي ﷺ نه په دے باره كښے هيڅ صحيح حديث نه دے ثابت۔

۲ - **قول ثاني** : دادے چه لاس وينځل د طعام دپاره مستحب دى، دے قول والا سره

هيڅ دليل نشته، سيوا د قياس نه۔

البته شيخ البانیؒ په سلسلة الأحاديث الصحيحة (٣٩٠) والضعيفة (١/٢٠٠) كښې فرمائي : ما يو حديث پيدا كړے دے چه نسائي (٥٤/١) او ابوداود (٣٣/١) كښې د عائشهؓ نه مرفوعا نقل دے (كان اذا أراد أن ينام وهو جنب توضأ، واذا أراد أن يأكل غسل يديه)۔

ليكن شيخ البانیؒ په دے استدلال كښې خطاء شوے دے، ځكه چه په دے حديث كښې د جنابت قيد دے، يعنې د جنابت په حالت كښې به ئے چه كله د خوراك اراده اوكړه نو لاسونه به ئے وينځل، كما مرّ۔ او د جنابت په حالت كښې د خوراك دپاره لاس وينځل د ابن عمرؓ په نيز واجب دي، كما حكى ابن سيد الناس في شرح الترمذي۔ (نيل : ١/٢٧١)۔ او جمهور ورته واجب نه وائي، مگر مضبوط سنت ئے گڼړي۔

ليكن أصح داده چه د خوراك نه مخكښې د غير جنب دپاره لاسونه وينځل نه دي پكار ، مگر كله چه گنده وي، نو بيا لاس وينځل ضروري وي ، او مكروه نه دي۔ زيات تحقيق په ، مرقات (١٨٤/٨، الترغيب والترهيب : ١٥٠/٣، عرف الشذى ٦/٢ كښې اوگوره۔

---

٤ ۔ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : (اِذَا أَتَى اَحَدُكُمْ أَهْلَهُ ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يَعُوْدَ فَلْيَتَوَضَّأْ بَيْنَهُمَا وُضُوْءً). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ابي سعيد خدریؓ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : كله چه پتاسو كښې څوك خپلې بي بي ته راتگ اوكړي (جماع ورسره اوكړي) او بيا دوباره هغې ته د راتلو (يعنې جماع كولو) اراده اوكړي، نو هغه له پكار دي چه د دواړو ترمينځه اودس اوكړي۔ (مسلم)۔

تشريح : ۔ د دوه ځل جماع كولو مينځ كښ د اودس كولو حكم

مسئله : كله چه يو كرتے جماع كولو نه پس دوباره جماع كولو اراده وي نو اودس كولو څه حكم دے ؟ نو په دے كښې اختلاف دے ؟۔

١ ۔ اهل ظواهرؒ او ابن حبيب مالكیؒ رائے داده چه د دوه جنابتونو ترمينځ اودس كول واجب او فرض دي، دليل : استدلال كوي ددے حديث نه، چه نبي ﷺ أمر كړيدے په

اودس کولو باندے، او أمر د وجوب دپاره وی۔ او دوئ هیڅ علتونو له اعتبار نه ورکوی۔

٢ – د جمهورو علماء رائے داده چه أمر د استحباب دپاره دے، او اودس کول مستحب دی، او قرینه په دے باندے داده چه په حدیث د حاکم، ابن خزیمه او ابن حبان کښے په همدے روایت د أبو سعید کښے ورسره علت ذکر شوے دے (فانه أنشط للعود)، یعنے د دوباره جماع کولو دپاره انسان قوی او تازه کیږی)۔

نو دا حدیث معلول بعلة دے، نو اودس کول واجب نه دی۔

٢ – دویم دلیل په استحباب د اوداسه باندے حدیث د أبو رافع دے، کما یأتی فی الفصل الثالث. وحدیث أنس الأتی متصلا (یطوف علی نسائه بغسل واحد)۔

٣ – دریم دلیل حدیث د ابن عباسؓ دے (انما أمرت بالوضوء اذا قمت الی الصلاة)۔

٤ – څلورم دلیل : حدیث د عائشةؓ دے چه طحاوی ص (٩٨) راوړے دے (قالت : کان النبی ﷺ یجامع ثم یعود ولا یتوضأ)، یعنے نبی ﷺ به دوباره جماع کوله او اودس به ئے نه کولو. نو د اهل ظواهرو قول د دووه وجهو نه ضعیف شو، یو ددغه علت ذکر کولو دوجے نه، دویم روستو د حدیث د انسؓ او أبو رافعؓ د وجے نه، کما یأتی۔

فائده : فلیتوضأ بینهما وضوء : کښے ئے صرف په (فلیتوضأ) باندے اکتفاء اونه کړه بلکه (وضوء) مفعول مطلق ئے ورسره زیات کړو، اشاره ده دیته چه مراد د اوداسه نه هغه اودس دے کوم چه د مانځه دپاره کیږی، لکه دا په روایت د بیهقی او ابن خزیمه (١/١٠٨) باب رقم (١٦٩) کښے ذکر دے. او وضوء لغوی نه دے مراد، چه صرف لاس وینځل دی۔ څکه مفعول مطلق ئے د تاکید دپاره ذکر کړو، نو په دے کښے رد دے په هغه چا چه ددے وضوء نه ئے وضوء لغوی مراد کړے دے ۔

---

٥ – وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَطُوفُ عَلٰى نِسَائِهِ بِغُسْلٍ وَاحِدٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : انسؓ فرمائی : نبی ﷺ به په یو غسل سره خپلو بیبیانو سره صحبت کولو۔ (مسلم)۔

تشريح : يَطُوْفُ عَلٰى نِسَائِهٖ بِغُسْلٍ وَاحِدٍ :

مسائل الحديث : ١ – حديث کښې طاقت د نبی ﷺ ته اشاره ده چه حقوق د بيبيانو په ښه طريقه سره پوره کولے شی۔

٢ – د هرے جماع نه پس غسل ضروری نه دے، کما مرّ، ځکه دلته نبی ﷺ نه دے کړے، اګرچه په حديث د ابو رافعؓ کښې راځی چه هرے جماع سره ئے غسل هم کړے دے، هغه په استحباب باندے محمول دے، اودا حديث بيانا للجواز دے۔

٣ – فقهاؤ کښې دا مشهوره ده چه خاوند به د ښځو تر مينځ په قسم (نمبر) کښې يوه يوه شپه نمبر ګدی، نو په هغوئ باندے په دے حديث سره اشکال راغلے دے چه نبی ﷺ څنګه په دے وخت کښې په يوه شپه کښې تولو بيبيانو ته نزدے شوے دے ! نو بيا ئے ددے نه جوابونه کړی دی۔

١ – چا دا جواب کړے دے چه نبی ﷺ باندے د بيبيانو ترمينځ قسم واجب نه وو۔

٢ – بعضے وائی : رسول الله ﷺ چه دا کار کړے دے نو دا په سفر د حج کښې وو، او په سفر کښې قسم واجب نه دے۔

٣ – يائے د نمبر والا نه ئے اجازت غوښتلے دے ۔

٣ – ښه جواب ابن حزم ظاهریؒ کړے دے چه أے فقهاؤ ! ستاسو دا خبره د اصل نه ضعيفه ده چه په قسم کښې به يوه يوه شپه مقرروی۔ د الله د رسول ﷺ نه دا نه ده ثابته چه هغه شپه مقرر کړے وی، بلکه رسول الله ﷺ عدل فرمائيلے دے چه عدل به کوی، او دا عدل کله په شپه سره وی، کله په ګينټه يا دوه ګينټو سره وی، او دلته نبی ﷺ عدل کړے دے، او کوم روايت کښې چه بيتوتت لفظ راغلے دے هغه بنا بر أغلب دے، دپاره د أسانئ دے، ځکه چه يوه يوه ګينټه يا نيمه نيمه شپه تيرول انسان ته ګرانه وی، خوب ئے خرابيږی ۔او دا د عدل کولو يو قسم دے چه شپه تيره کړی، يا دوه دوه شپے۔

---

٦ – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَذْكُرُ اللهَ عَلٰى كُلِّ أَحْيَانِهٖ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَحَدِيْثُ ابْنِ عَبَّاسٍ سَنَذْكُرُهٗ فِيْ كِتَابِ الْأَطْعِمَةِ اِنْ شَآءَ اللهُ تَعَالٰى.

ترجمه : عائشة فرمائي : نبي ﷺ به په خپل هر حالت کښې د الله ذکر کولو۔ (مسلم)۔اود ابن عباس حديث به ان شاء الله مونږ په كتاب الأطعمة کښې ذکر کړو۔ (ځکه هلته مناسب دے)۔

تشریح : يَذْكُرُ اللهَ عَلَىٰ كُلِّ أَحْيَانِهِ :

مناسبت د حديث دادے چه په حالت دجنابت کښې د الله ذکر کول جائز دی، ځکه چه نبي ﷺ به په هر وخت کښې ذکر کولو اگرچه جنب به وو۔ البته د جماع په حالت کښې يا د بول وبراز په حالت کښې ذکر کول مکروه دی۔ نو دا وختونه ددے (كل أحيانه) نه مستثنیٰ دی ۔او په (كل أحيانه) کښې د كل نه مراد كل عرفي دے، يعنے عامو اوقاتو کښې، نو ددے نه دا نه لازميږی چه گنے نبي ﷺ به د بول وبراز په حالت کښې ذکر کولو۔ او دا قسم کلام په هره ژبه کښې وی، فلانے سړے دا کار هر وخت کوی، او دے نه مراد دا وی چه اکثرئے کوی ۔

٢ - **فائده** : دا حديث دليل دے په دے چه نبي ﷺ به د بے اودسئ په حالت کښې هم د الله ذکر کولو۔ نو د هغه علماؤ خبره ضعيفه ده چه دا وائی : د اوداسه نه مخکښې (بسم الله) وئيل ځکه واجب نه دی چه په دے کښې د الله نوم او ذکر دے، او دليل دا پيش کوی چه رسول الله ﷺ باندے يو صحابي أبو الجهيم سلام واچولو، او نبي ﷺ په حالت د بولو کښې وو، کله چه فارغ شو، نو په ديوال ئے تيمم اووهلو، او بيائے د سلام جواب ورکړو، او دائے اوفرمائيل : چه زه د بے اودسئ په حالت کښې ووم (وكرهتُ أن أذكر الله الا على طهارة – أبوداود) ۔ ځکه مے جواب در نه کړو۔ دا استدلال طحاوی کړيدے او خطاء شويدے۔

وجه د ضعف داده چه د نبي ﷺ طبيعت دا وو، چه هغه به د الله ذکر په طهارت او پاکئ حالت کښې خوښولو، ليکن د أمت د آسانئ دپاره ئے بغير د طهارت حالت نه هم د الله ذکر کړے دے، نو ددے نه دا نه لازميږی چه گنے (بسم الله) وئيل په ابتداء د اوداسه کښې ځکه واجب نه دی، چه په ابتداء د اوداسه کښې انسان لا اودس نه وی کړے او پاک نه وی . لهذا دا استدلال بعيد او خطاء دے، كما عرفتَ۔

الفصل الثانی - دویم فصل

۷ – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه قَالَ : اِغْتَسَلَ بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ ﷺ فِيْ جَفْنَةٍ فَاَرَادَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنْ يَتَوَضَّأَ مِنْهُ، فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللهِ! اِنِّيْ كُنْتُ جُنُبًا فَقَالَ : اِنَّ الْمَآءَ لَا يُجْنِبُ) رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه، وَرَوَى الدَّارِمِيُّ نَحْوَهُ.

۸– وَفِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ عَنْهُ عَنْ مَيْمُوْنَةَ بِلَفْظِ الْمَصَابِيْحِ.

ترجمه : ابن عباس رض فرمائی : د نبی ﷺ ځینے بیبیانو د یو خانك نه غسل اوکړو، رسول الله ﷺ اراده اوکړه چه د هغے نه اودس اوکړی، نو هغے بی بی اووئیل : یا رسول الله ! زه جنبه ووم (اوما دے سره غسل کړیدے)، نبی ﷺ اوفرمائیل : اوبه خو نه جنبی کیږی (یعنے د جنبی لاس یا دهغه څه اندام باندے پریوتو سره اوبه نه ناپاکه کیږی). (ترمذی، ابوداود، ابن ماجه)۔ او دارمی هم داسے روایت نقل کړے دے۔ او شرح السنه کښے ابن عباس رض نه او هغوئ د بی بی میمونے رض نه دمصابیح پشان الفاظ روایت دی۔

تشریح : اِغْتَسَلَ بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ ﷺ فِيْ جَفْنَةٍ :

۱ – ددے نه مراد میمونه رضی الله عنها ده چه د ابن عباس رض خاله (ترور) ده، لکه دا په روایت د دارقطنی کښے مصرح ده۔ ۲ – (فی جفنةٍ) نه مراد (من جفنةٍ) دے، یعنے لاس سره به ئے د خانك نه اوبه راخستے او داسے نه ده چه دننه په خانك کښں ناسته وی۔

۳ – د جنب په لاس داخلولو سره اوبو ته نجاست سرایت نه کوی۔

٤ – حدیث دلیل دے په دے مسئله چه سړی دپاره د زنانه نه پاتے شوو اوبو باندے اودس کول جواز لری، اودا د جمهورو مذهب دے، لکه ددے تحقیق فصل ثالث کښے راروان دے۔ او جمهور دا حدیث ناسخ ګنړی ددغه حکم۔

اِنَّ الْمَآءَ لَا يُجْنِبُ : ٥ – دا لویه فائده او قاعده کلیه ده، ځکه (الماء) کښے الف لام استغراقی دی، نو دا دلیل دے په دے چه ټولے اوبه پاکے دی، که هر څه په کښے پریوتی وی،

مګر کله چه يو د اوصاف ثلاثه د هغې په نجاست سره بدل شي، نو بيا به نجسې وي، كما يأتي تحقيق المسألة تفصيلا في باب المياه ان شاء الله تعالى۔

درجة الحديث : اسناده صحيح اخرجه ابو داود (٦٨) والترمذي (٦٥) وقال حسن صحيح وابن ماجة (٣٧٠) ۔

---

٦ – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ يَسْتَدْفِئُ بِيْ قَبْلَ أَنْ اَغْتَسِلَ). رَوَاهُ ابْنُ مَاجه وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ وَفِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ بِلَفْظِ الْمَصَابِيْحِ.

ترجمه : عائشه‎ؓ فرمائي : رسول الله ﷺ به چه كله د جنابت غسل اوكړو، نو بيا به هغه زما د غسل كولو نه مخكښې ما پورې (جو ختيدلو سره) ځان ګرمولو۔ (ابن ماجه) او امام ترمذیؒ هم دغسې روايت نقل كړې دے او شرح السنه كښې دمصابيح دلفظ پشان روايت منقول دے۔

تشريح : ثُمَّ يَسْتَدْفِئُ بِيْ : يعنے ما باندې به ئې ځان ګرمولو، استدفاء د دفء نه دے ګرمايش ته وائي۔ د حديث مطلب دادے چه عائشهؓ فرمائي : نبي ﷺ چه به كله د همبسترئ كولو نه فارغ شو نو مانه به ئې مخكښې غسل كولو، بيا چونكه د يخنئ په موسم كښې د غسل كولو په وجه انسان يخني محسوسوي، دے وجې نه نبي ﷺ چه به كله اولامبل، نو بيا به راغې او خپل اندامونه مبارك به ئې زما د بدن سره يو ځائے كړل، دے دپاره چه تود شي۔ نو دے حديث نه معلومه شوه چه :

١ – د جنب بدن او خرمن پاكه ده، ځكه چه ظاهر داده چه نبي ﷺ د عائشهؓ په بدن باندې ځان ګرم كړې دے اګرچه دا احتمال هم شته چه په جامه ئې ځان مرلے وي، ليكن غالبا ګرمي په بدن سره حاصليږي، ځكه بدن ګرم وي نو انسان په دے سره زر ګرميږي، او بله دا چه دلته د جامې ذكر هم نشته، بلكه دا د جنابت نه پس د برېنډ والي حالت معلوميږي۔ (طيبي)۔

٢ – دا حديث دليل دے په دے چه مستعملې اوبه بالكل پاكې دي، ځكه چه د نبي ﷺ

د اندامونو نه د ځان ګرمولو په وخت کښې به ضرور لوندوالے او څاڅکی د عائشہؓ په بدن لګیدلے وی، یا د هغے په جامو باندے لګیدلے وی، او بیا به نبی ﷺ نه بیرته را نقل شوے وی۔ او د اپه هیڅ حدیث کښې نشته – نه په صحیح او نه په ضعیف کښې – چه نبی ﷺ به هغه اندامونه وینځل کوم چه به د عائشہؓ د بدن سره د ځان ګرمولو په وخت لګیدلی وو۔ معلومه شوه چه مستعملے اوبه پاکے دی۔

بیا ددے ځان ګرمولو په حکم کښې خوب کول هم دی، چه سړے اولامبی او د ښځے د غسل نه مخکښے هغے سره اوده شی۔ دا هم جائز ده۔ کما قال به الترمذی، او دا اتفاقی مسئله ده۔

درجة الحديث : حسنه القاری، وقال الترمذی : هذا حدیث لیس به بأس، ولكن فی سنده حریث بن عمرو الفزاری، وقد ضعفه أكثر العلماء، قال البخاری : فيه نظر، وقال الحافظ فی التقریب : ضعیف، وقال ابن العربی : حدیث لم یصح، ولم یستقم، فلا یثبت به شئ. شرح الترمذی : ١٩١/١ . وقال الالبانی فی تعلیق المشكاة (١٤٣/١) رواه ابن ماجة فی سننه رقم (٥٨٠) وسنده ضعیف فیه شریك عن حریث. فقوله فی المرقات (٣٣٣/١) وسنده حسن – غیر حسن وقول الترمذی لیس به بأس غیر صحیح – لان فیه كل البأس كما عرفت من حال حریث وحسبك دلیلا قول البخاری فیه وهو – شیخ الترمذی – فیه نظر۔

او معنی ددے حدیث د نورو ځایونو د دین نه معلومه ده۔

---

١٠ – وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَخْرُجُ مِنَ الْخَلَاءِ فَيُقْرِئُنَا الْقُرْآنَ وَيَأْكُلُ مَعَنَا اللَّحْمَ، وَلَمْ يَكُنْ يَحْجُبُهُ – اَوْ يَحْجِزُهُ – عَنِ الْقُرْآنِ شَيْءٌ لَيْسَ الْجَنَابَةَ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَى ابْنُ مَاجَه نَحْوَهُ.

ترجمه : علیؓ فرمائی : رسول الله ﷺ به د بیت الخلاء نه را اووتلو او (د اودس کولو نه به ئے مخکښے) مونږ ته قرآن لوستلو۔ او (هغه وخت به ئے) مونږ سره غوښه خوړله۔ نبی ﷺ به د جنابت نه سیوا بل هیڅ شئ د قرآن لوستلو نه نه منع کولو۔ (أبوداود۔ نسائی۔ او ابن ماجه ددے پشان روایت نقل کړیدے)۔

تشريح : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَخْرُجُ مِنَ الْخَلَاءِ فَيُقْرِئُنَا الْقُرْآنَ :

دے حدیث نه دوه مسئلے معلومیږی : (۱) بے اودسۍ باندے د قرآن کریم تلاوت کول جائز دی۔ (۲) لیکن د قرآن کریم تلاوت د جنابت په حالت کښے کول جائز نه دی ۔ نبی ﷺ به نه کولو۔ تفصیل داسے دے :

مسئله : بے اودسۍ سره قرآن لوستل څه حکم لری ؟

نو اول داچه په یادو د حفظ نه لولی، نو په دے کښے اتفاق دے چه د بے اودسۍ په حالت کښے قرآن کریم لوستل جائز دی، اودا د قرآن کریم بے أدبی نه ده، هاؤ، د افضلیّت خلاف خبره ده، او رسول الله ﷺ چه دا عمل کړے دے نو دا د أمت د آسانتیا دپاره، او د نبی ﷺ دپاره مفضول شئ باندے عمل کول أمت ته دخودنے دپاره د هغه په حق کښے أفضل دی۔

حکمت په کښے دادے چه قرآن کریم ډیر لوستلے کیږی، که هر وخت دے دپاره اودس کول ضروری شی نو مسلمانان به په حرج او تنګسیا کښے پریوځی۔ د بے أودسۍ په حالت کښے قرأت کول شاه ولی الله صاحبؒ په حجة الله کښے هم ذکر کړیدی ۔

د بے اودسۍ په حالت کښ د قرآن کریم تلاوت کولو حکم

۲ – دویمه مسئله : د بے اودسۍ په حالت کښے قرآن له لاس وروړلو کښے اختلاف دے

۱ – ابن عباسؓ شعبیؒ او ضحاکؒ ابن حزمؒ، امام بخاریؒ، وغیره فرمائی چه بے اودسه شخص قرآن کریم راخستے شی۔ دوئ **دلیل** دا بیانوی چه په دے باره کښے د نهی او منع هیڅ حدیث نه دے ثابت، او اصل برائتِ أصلیه دے۔

۲ – دویم **دلیل** : مسلم رقم (۱۷۷۳) بخاری (۳/۱) کښے حدیث د هرقل کښے دا الفاظ دی (فقرأ فاذا فیه بسم الله الرحمن الرحیم، ویا أهل الکتاب تعالوا، الآیة)، نو هرقل د قرآن کریم آیت لاس کښے اخستے دے او هغه ئے لوستلے دے، حال داچه هغه کافر وو، او کفار د جنابت نه ځان نه پاکوی۔ او دیو آیت او تول قرآن حکم یو شان دے په احترام کولو کښ۔

۲ – **قول ثانی** : د جمهورو أئمه أربعه ؤ دے چه بے اودسه شخص قرآن نشی مسه

کولے، دے باره کښې ډیر دلائل دی، بعضے د هغے نه دادی :

۱ - **اول دلیل** : دارقطنی (۱۲۱/۱) کښې د ابو بکر بن محمد بن عمرو بن حزم عن أبیه عن جده په روایت نقل دی چه رسول الله ﷺ اهل یمن ته خط اولیږلو او په هغے کښې ئے ورته داسے اوفرمائیل : (لا یمس القرآن الا طاهر)، ورجاله ثقات۔ دا حدیث اګرچه مرسل دے مګر طبرانی (۳۲۲/۱) اوحاکم (۴۸۵/۳) او بیهقی (۸۸/۱) کښې دا په ګنړو طریقو اوسندونو سره نقل دے، چه بعضے د بعضو دپاره مقوی او مؤید دی۔ دا وجه ده اسحق ؒ ورته صحیح وئیلے دے، او امام احمدؒ پرے استدلال کړے دے۔ دارنګه شیخ البانی ؒ ورته په ارواء الغلیل (۱۵۸/۱) کښې صحیح وئیلے دے، وکذا فی التلخیص۔

نو معلومه شوه چه بے اودسه شخص دپاره قرآن مسه کول منع دی۔ او د طاهر معنی په مؤمن سره کول لکه بعضو کړیده - بعید دی ۔

۲ - **دویم دلیل** : موطأ مالك (۴۲/۱) رقم (۵۹۱) او بیهقی (۸۸/۱) او طحاوی (۶۱/۱) د مصعب بن سعد بن أبی وقاص ؓ په روایت نقل کړی دی چه ما خپل پلار سعد بن أبی وقاص ؓ ته قرآن نیولے وو (هغه راته قرأت کولو)، نو ما خپل ذکر اوګرولو، نو ماته سعدؓ اوفرمائیل : لاړشه اودس اوکړه، ځکه چه تا ذکر مسه کړو۔

نو دا واضح مؤید دے چه سعد رضی الله عنه هم بے اودسۍ سره قرآن کریم مسه کول نا جائز ګنړل، ځکه خپل ځوئے ته د اودس حکم کوی۔

۳ - **بل روایت** : اثر د سلمان فارسی ؓ دے، علقمهٔ فرمائی : مونږ د سلمان ؓ سره سفر کښې وو، هغه قضائے حاجت اوکړو، مونږ ورته اووئیل : اودس اوکړه چه د قرآن د یو آیت په باره کښې درنه تپوس اوکړو، هغه اوفرمائیل : (سلونی فانی لست أمسه)، مانه تپوس اوکړئ ځکه زه خو قرآن له ګوتے نه وړم۔ (فقرأ علینا ما أردنا ولم یکن بیننا وبینه ماء)، رواه الداقطني (۱۲۳/۱) عن سلمان بأسانید رجالها ثقات. ذکره فی الدین الخالص :۲/ ۴۱۳) والحاكم (/ ۱۸۳) والسنن الكبرى (۱/ ۸۸)۔

٤ - قرآن کریم نه استدلال کوی ﴿ لا یمسه الا المطهرون ﴾ ، په دے کښې یو تفسیر دادے چه ضمیر منصوب قرآن ته راجع شی او د مس نه ظاهری مس (لاس لګول) مراد

شي، اود مطهرون نه اودس والاخلق مراد شي۔ اوجمله خبريه په معنیٰ د جمله انشائيه سره شي۔ نو معنیٰ دا جوړيږي (ګوتې دې قرآن ته نه وروړي مګر هغه خلق چه پاك - په اوداسه کښې - وي)۔

دا استدلال مونږ څکه روستو کړو چه دا لګ غوندې بعيد دې د سياق نه۔

اودا **قول راجح** دې څکه په دې کښې أدب او تعظيم د قرآن دې۔ او الله فرمائي :

﴿ ومن يعظم شعائر الله فانها من تقوى القلوب ﴾ الحج آيت (٣٢) د الله د شعائرو تعظيم او أدب کول د زړونو د تقویٰ سبب دې، او دا دوه آثار په کښې هم دي د صحابوؓ۔ امام بخاريؒ وغيره پرواز چونکه ډير اوچت دې، په دې وجه د هغه په نيز مرفوع صحيح روايت نشته، او دا آثار د صحابوؓ دي۔ او اثر د صحابي حجت ندې۔ فتح الباری (١/٣٦٧)۔

وَيَأْكُلُ مَعَنَا اللَّحْمَ : دې کښې اشاره ده چه د غوښې خوړلو نه روستو تلاوت کولو دپاره اودس کول ضروري ندي بلکه بغير د اودس او مضمضې نه هم تلاوت د قرآن کريم جائز دې۔

وَلَمْ يَكُنْ يَحْجُبُهُ - أَوْ يَحْجِزُهُ - عَنِ الْقُرْآنِ شَيْءٌ لَيْسَ الْجَنَابَةَ :

يعنې د قرآن کريم نه به هيڅ شي نه منع کولو مګر جنابت به منع کولو۔

ليس الجنابه : ليس د د ادواتو د استثناء نه دې په معنی د غير سره او شئ کښې چه کوم عموم دې نو دې نه مراد هغه حالات دي چه د قرآن کريم لوستل په کښې جائز وي او تهول حالات ندي مراد څکه د بول او غائط په حالت کښې قرآن لوستل منع دي۔ او دا خبره عقلا معلومه وه پدې وجه ئې صرف جنابت ذکر کړو۔

مسئله : آيا جنب قرآن لوستې شي ؟

٢ - دويم قسم : د جنب دپاره قرآن لوستلو کښې هم اختلاف دې :

١ - **اول قول** : د بعض علماؤ دې لکه امام بخاريؒ، ابن حزمؒ، ابن المنذرؒ، داؤد ظاهريؒ او طبريؒ : دوئ وائي جنب سړې وي که زنانه د قرآن کريم تلاوت کولې شي۔ اوپه دې مدعیٰ باندې دوه درې دلائل بيانوی :

١ - **اول دليل** دا چه په منع د قرأت کښې هيڅ حديث صحيح نه دې ثابت، او اصل

برائت أصليه دے، اوكه دا كار حرام وے نو نبي ﷺ به ددے بيان كړے وے۔

٢ - **دويم دليل** : امام بخاريؒ په خپل صحيح (١/٤٤) كښې : باب تقضى الحائض المناسك كلها الا الطواف بالبيت ، كښې آثار نقل كړى دى فرمائى : (ولم ير ابن عباس بالقرائة للجنب بأسا. وقال ابراهيم : لا بأس أن تقرأ الآية)، يعنے ابن عباسؓ جنب دپاره قرآن كريم لوستل جائز ګنړى۔ او ابراهيم نخعيؒ په يو آيت لوستلو كښ باك نه ګنړى۔

٣ - **دريم دليل** : مخكښې حديث د هرقل تير شو چه هغه په حالت د كفر كښې د نبي ﷺ خط لوستلے وو، كوم چه مشتمل وو په آيتِ قرآنيه باندے۔ حال دا چه كفار د جنابت نه د غسل كولو پرواه نه ساتى۔ او د يو آيت تلاوت كول او د ټول قرآن تلاوت كول په حكم كښې يو برابر دى ۔او دوئ راتلونكى روايت د ابن عمرؓ ته ضعيف وائى، يعنے (لا تقرأ الحائض ولا الجنب شيئا من القرآن)، رواه الترمذى وفى اسناده اسماعيل بن عياش وهو ضعيف فى الرواية عن الحجازيين وهذامنها۔

٢ - **قول ثانى** : دادے چه د جنب دپاره د قرآن تلاوت كول مكروه دى، او حرام نه دى (وهو الأحوط عندى)۔ او په دے باندے **دلائل** دادى :

١ - **اول** : دا حديث الباب دے چه امام ترمذيؒ رقم (١٤٦) ، ابوداودؒ (٢٢٩)، ابن ماجهؒ (٥٩٦)، طحاويؒ (١/٧٠) او ابن حبانؒ په خپل صحيح (٢/٨٥) او بغويؒ په شرح السنه (١/٥٣١) كښې راوړے دے : (عن على كان رسول الله ﷺ لا يحجبه عن القرآن شئ ليس الجنابة) ۔ او ددے حديث راويان ثقات دى، سيوا د عبد الله بن سلمه نه چه شاګرد د علىؓ دے، دده په آخر عمر كښې حافظه خرابه شوے وه۔ دا وجه ده ابن حجر عسقلانيؒ فتح البارى (١/٣٢٤) كښې فرمائى : حقه خبره داده چه دا حديث د قبيلے د حسن نه دے، او صالح دے دپاره د دليل۔ ليكن دلالت په تحريم باندے نه كوى، ځكه دا مجرد فعل دے، يعنے ترك محضه دے او دا دلالت په حرمت نه كوى۔ ځكه كيدے شى چه نبي ﷺ ته په دے حالت كښې تلاوت خوند نه وركولو، او په افضليت ئے عمل كولو، نو د نبي ﷺ په دے حالت كښې قرآن نه لوستل دليل د حرمت نه دے۔

٢ - **دليل** : حديث د أبو الجهيمؓ كښې دى چه نبي ﷺ ده ته د سلام نه وركولو په

جواب کښې اوفرمائیل کله چه هغه په بولو مشغول وو: (انی کرهت أن أذکر الله الا علی طهر) متفق علیه . وأخرجه الطحاوی : ١/٦٨۔

دا حدیث دلیل دے چه نبی ﷺ د الله ذکر په حالت د بے أودسۍ کښې بد او مکروه ګنړلے دے، نو د قرآن کریم تلاوت کول به په طریقه اولیٰ سره په حالت د جنابت کښې مکروه وی، ولے چه دا خو لوئی ذکر دے د الله ۔ دا حدیث دلیل د کراهت دے، ځکه د نبی ﷺ طبیعت دا وو چه بے اودسۍ کښې به ئے ذکر نه خوښولو۔ اګرچه د بے اودسۍ په حالت کښې ترے ذکر کول هم ثابت دی، (یذکر الله علی کل أحیانه)۔

٣ - **دلیل** : مجمع الزوائد (٢٧٦/١) والمرعات (١٥٥/٢) کښې قولی حدیث راغلے دے چه نبی ﷺ نه تپوس اوشو چه جنب به قرآن وائی ؟ وے فرمائیل : (لا، ولا آیة)۔ وسنده صحیح ورجاله موثقون۔ یعنے یو آیت به هم نه لولی۔

٤ - **دلیل** : طحاوی (٦٩/١) کښې د عمر، علی، ابن عباس، ابن عمر او سلمان - رضی الله عنهم - نه نقل کړی دی (انهم کرهوا قرائة القرآن للجنب)، یعنے : دوئ به د جنب دپاره قرآن کریم لوستل مکروه ګنړل ۔

وصح عن عمر - رضی الله تعالیٰ عنه - أنه کان یکره أن یقرأ القرآن وهو جنب۔ (رواه البیهقی فی الخلافیات، باسناد صحیح. مرعاة :٢/١٥٥)۔

٥ - **قیاسی دلیل** : د جنابت نجاست زائل کول آسان دی، هیڅ مشقت په کښې نشته، نو څه وخت روستو دے تلاوت اوکړی، کله چه بنه ځان پاك کړی۔ په خلاف د حیض او نفاس د حالت نه چه دا د انسان په وسع او اختیار کښې نه وی۔ کما یأتی. کذا فی فتاوی الدین الخالص (٤١٤/٢، والمجموع شرح المهذب : ١٥٩/٢، والارواء : ٢٤١/٢، وتمام المنة ص : ١١٢، والدارقطنی : ١١٧/١۔

فائده : د جنب دپاره د قرآن د لوستلو د کراهیت په باره کښې روایتونه صحیح دی، لیکن د امام بخاریؒ پرواز اوچت دے، د هغه په شرائطو برابر نه دی، دے وجے نه دے له هغه اعتبار نه ورکوی۔

د حائضے او نفساء زنانه د قرآن لوستلو حکم

۳ - دریم : دحائضے اونفاسے زنانه دپاره قرآن لوستل حفظاً ونظراً، نو دا هم اختلافي مسئله ده :

۱ - **اول قول** : د امام بخاريؒ، امام مالكؒ، قول قديم د امام شافعيؒ، طبريؒ، ابن المنذرؒ او داود ظاهريؒ دے : چه د حائضے او نفساء دپاره قرآن لوستل جواز لري، ورجحه ابن تيميةؒ وابن الحزمؒ **دلائل** ددے قول دا دي :

۱ - **اول دليل** : امام بخاريؒ فرمائي : باب تقضي الحائض المناسك كلها الا الطواف بالبيت ـ ۱/٤٤ ... بيا ئے دعائشےؓ روايت راوړے چه دا د حج په سفر كنبے حائضه شوه، نبي ﷺ ورته اوفرمائيل : (فافعلي ما يفعل الحاج، غير أن لا تطوفي بالبيت حتى تطهرين).
او قرأت د قرآن كريم د حاجيانو په اعمالو كنبے بهتر عمل دے، او دلته ئے صرف د طواف استثناء اوكړه، نه د بل شيُ، نو دا دليل دے چه قرأت د حائضے او نفساء دپاره جائز دے. ځكه دا د بيان ځائے دے او قرأت نه منع اونشوه. او دا يو دليل هم كافي دے.

۲ - **دويم دليل** : امام بخاريؒ مسنداً او معلقاً (۱/٤٤) د أم عطيةؓ نه روايت راوړے :
(قالت : كنا نؤمر أن يخرج الحيض فيكبرن بتكبيرهم، ويدعون .... الحديث).
يعنے : مونږ حائضه زنانو ته به د حيض په حالت كنبے دا امر كيدے شو چه عيدګاه ته اووځو، او د سړو سره تكبيرونه اووايو او دعاګانے اوكړو.

طريقه د استدلال ددے حديث نه داسے ده : چه د قرأت د قرآن او د تكبيرونو او دعاګانو ترمينځ په تكريم كنبے هيڅ فرق نشته. حال دا چه دلته د حائضے دپاره دا اجازه اوشوه چه په حالت د حيض كنبے تكبير او دعاء اوكړي، اودے دعاګانو كنبے به قرآني دعاګانے غوښتل هم راځي، نو قرآن به په دے حالت كنبے لوستلے شي. نو دا دليل شو ددے خبرے چه د حائضے او نفساء دپاره د قرآن كريم تلاوت كول جائز دي. او بل طرفته د منع دليل نشته، ځكه د دعاء القرآن احترام او د قرآن احترام دواړه ضروري دي.

۳ - **دريم دليل** قياسي عقلي :
شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په فتاوى (۲٦/۱۹۱) كنبے فرمائي : د نبي ﷺ په زمانه كنبے به زنانه حائضے اونفاسے كيدلے، نو كه د مانځه پشان د قرآن قرأت هم په هغوئ حرام

وي نو دا به نبي ﷺ ضرور بالضرور أمت ته بيان كړې وي، او أمهات المؤمنين به زده كړې وي، او دا به ئې بيا امت ته را نقل كړې وي. هركله چه په دې باره كښې هيڅ نهي نشته، نو معلومه شوه چه دا حرام نه دې.

٤ - دارنګه حائضې او نفاسې زنانه ته وينه راځي خو دهغې په كښې اختيار نه وي چه د ځانه ئې دفع كړي، نو د هغې نه به ډير درسونه تيريږي (چه كه چرې طالب العلمه وي) او د نورو شاګردانو نه به روستو پاتې كيږي، دغه شان كه چرې مدرّسه وي نو په تعليم كښې به اهمال او نقصان واقع شي. لهذا زنانه په قرأت د قرآن كښې ډير حاجت لري. او شريعت كښې ددې منع هم نه ده راغلې. نو مونږ پرې ولې د عبادت او علم او تعليم دروازه بنده كړو، او د ځان نه شارعان جوړ كړو.

٥ - **الزامي دليل**: احناف نيم آيت او تقطيع د آيت (نيم نيم آيت لوستل) او سعيد بن جبيرؒ او ابراهيم نخعيؒ مكمل آيت تلاوت كول د حائضې دپاره جائز كړي دي، كما رواه البخاري (١/٤٤) والدارمي (١/١٨٩) والطحاوي (١/٧١). نو يو آيت يا نيم آيت ټول د قرآن حصه ده، نو په فرق باندې دليل پكار دې، او هيڅ دليل نشته، بلكه د يو آيت او نيم آيت احترام به هم هغه شان واجب وي څنګه چه د ټول قرآن احترام واجب دې، نو دوئ له هم دا پكار دي چه قائل شي په جواز د قرأت د قرآن د حائضې دپاره. دارنګه احنافو قرآني دعاګانې لوستل هم د حائضې دپاره جائز ګنړلي دي، نو په دې هم هيڅ دليل نشته، او هيڅ فرق نشته په مابين د قرآن او د دعاء د قرآن كښې په احترام كولو كښې، ولې چه دواړه قرآن واجب الاحترام دې.

٦ - دارنګه محلى د ابن حزم (١/٩٥) كښې د عثمان رضي الله عنه او سعيد بن المسيبؒ اثر نقل دې چه حائضه زنانه سجده تلاوت كولې شي، نو دا دليل دې چه قرآن هم لوستلې شي. فتدبر!.

٢ - **القول الثاني**: امام احمدؒ، شافعيؒ، او ابو حنيفهؒ په نيز حائضه او نفاسه دپاره قرآن لوستل حرام دي، البته امام ابو حنيفهؒ د قرأت د مادون الآية قائل دې، كما مرّ.

١ - **اول دليل**: راتلونكې حديث (١١) د ابن عمرؓ مرفوعا دې (لا تقرأ الحائض ولا

الجنب شيئا من القرآن) رواه الترمذی : (۱/ ۳٤)۔

لیکن ددینه **جواب** دادے چه حافظ عسقلانی په فتح الباری (۱/ ۳٤٤) کښے فرمائی : حدیث د ابن عمرؓ په ټولو طرقو سره ضعیف دے، نو قابل د استدلال نه دے، او امام احمدؒ فرمائی : انه حدیث باطل۔ او ترمذیؒ هم ضعیف کړے دے، کما یأتی. فیه اسماعیل بن عیاش. وقال ابن تیمیة : ضعیف باتفاق أهل العلم.وضعفه الالبانی۔

۲ - دویم : أثر د جابر بیهقی (۱/ ۳۰۹) او دارقطنی (۱/ ۱۲۱) کښے راوړے دے فرمائی : (لا یقرأ الحائض ولا الجنب والنفساء القرآن)۔

جواب : دا أثر هم ضعیف دے، په دے کښے ابن أبی أنیسه راوی ضعیف او کذاب دے، او هرچه مرفوعا نقل دے نو په هغے کښے محمد بن الفضل متروك او وضاع راوی دے۔ انظر التعلیق المغنی علی سنن الدارقطنی (۱/ ۱۲۱)، دا وجه ده علامه ابن الحزم په المحلی (۱/ ۹۵) کښے فرمائی : په منع کښے چه څومره احادیث راغلی دی هغه ټول ضعیف دی، قابل د استدلال نه دی۔

درجة الحديث : رواه أبوداود والنسائی وروی ابن ماجة نحوه :

دا حدیث ترمذی مختصرا ذکر کړے دے او فرمائیلی دی : هذا حدیث حسن صحیح۔ دارنګه ابن حبان، ابن السکن، بغوی په شرح السنه کښے او حاکم او ذهبی هم ورته صحیح وئیلی دی ۔

حافظ ابن حجر فتح الباری (۱/ ۳۲٤) کښے فرمائی : بعض علماؤ ددے روایت بعض راویانو ته ضعیف وئیلی دی مګر حقه خبره داده چه دا حدیث د قبیلے د حسن نه دے، او قابل دے دپاره د احتجاج او دلیل نیولو۔ او کومو علماؤ چه ورته ضعیف وئیلے دی، لکه امام احمدؒ وغیره، نو هغه د عبد الله بن سلمه المرادی الکوفی په وجه، چه دا په آخری عمر کښے د حافظے په لحاظ سره کمزورے شوے وو، لیکن دا راوی صدوق دے، کما قال فی المرعاة (۲/ ۱۵٤) او ددے حدیث په معنیٰ بل متابع موجود دے، او هغه جید الاسناد دے، امام احمدؒ په خپل مسند (۱/ ۱۱۰) کښے ذکر کړیدے په روایت د علیؓ او هغه قولی روایت دے، چه په هغے سره د روایت نه د خطائی شبهه ختمیږی، او هغه دا چه علی رضی

الله عنه د نبي ﷺ د اوداسه حكايت اوكړو، بيا ئے د قرآن كريم تلاوت اوكړو، بيا ئے اوفرمائيل : (هذا لمن ليس بجنب، فاما الجنب فلا، ولا آية) ـ ليكن شيخ الباني په ارواء الغليل ٢/ ٢٤٤ رقم (٢٨٥) كښې او امام نووي ورته ضعيف وئيلي دے لكه امام نووي په المجموع (٢/١٥٩) كښې د ترمذي تصحيح نقل كولو نه پس تعقيب كوي وائي :

وقال غيره من الحفاظ المحققين هو حديث ضعيف وضعفه الشافعي والبيهقي۔

او شيخ الباني وائي چه قولي روايت د عليؓ چه په مسند احمد كښې نقل شويدے هغه ددے حديث الباب متابع نشي جوړيدے بلكه هغه هم ضعيف دے د هغے په سند كښې ابو الغريف راوي دے چه سوي د ابن حبان نه بل چا ئے توثيق ندے كړے، بيا وائي چه ددے تحقيق نه دا ثابته شوه چه راجح دا ده چه دا متابع حديث موقوف دے په عليؓ او كه بالفرض د هغه نه صحيح ثابت شي بيا هم دا شاهد نه ګرځي د مرفوع حديث۔ انتهى۔ نو دا روايت مختلف فيه شو۔

---

١١ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ؓ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (لَا تَقْرَأُ الْحَائِضُ وَلَا الْجُنُبُ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ) . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : ابن عمرؓ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : حائضه او جنب به د قرآن هيڅ حصه نه لولي ـ (ترمذي)۔

تشريح : حديث كښې مسئله مخكښې تيره شوه۔

درجة الحديث : دا حديث ضعيف جدا دے۔ حافظ ابن حجر فتح الباري (١/ ٣٤٤) كښې فرمائي : اما حديث ابن عمر فضعيف من جميع طرقه. وقال احمد : انه حديث باطل۔

او امام ترمذيؒ هم ضعيف كړے دے، او د امام بخاريؒ نه ئے ددے تضعيف نقل كړے دے۔ كما في تحفة الأحوذي. وقال ابن تيمية : ضعيف باتفاق أهل العلم ـ ځكه په دے كښې اسماعيل بن عياش دے، او دده روايت د اهل حجاز او عراق نه نه دے صحيح، اودلته ئے د حجازينو نه روايت كړے دے، او ابن أبي حاتم فرمائي : حديث اسماعيل بن عياش هذا خطأ۔

---

١٢ – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (وَجِّهُوْا هٰذِهِ الْبُيُوْتَ عَنِ الْمَسْجِدِ فَإِنِّيْ لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَاجُنُبٍ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : عائشهؓ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ددې كورونو دروازې د مسجد طرف نه واړوئ، ځكه زه د جنب او حائضې ښځې دپاره مسجد حلال نه كړم. (رواه أبوداود).

تشريح : فَإِنِّيْ لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَاجُنُبٍ :

د بعضې كوټو دروازې مسجد نبوي طرفته وې چه دهغې نه به خلق مسجد ته داخليدل او په كښې تيريدل به، نبي ﷺ ورته أمر اوكړو چه ددې دروازې بل طرفته واړوئ چه جنب اوحائضه زنانه په مسجد كښې تير نشي.

مسئله : د حائضه په باره كښې خواتفاق دې چه مسجد ته نشي راتلې.

١ – يو دليل دا حديث دې. ٢ – دويم : مسلم كښې حديثِ عائشه دې :(ان حيضتك ليست في يدك) روسته باب الحيض كښې راځي. اود جنب باره كښې تفصيل دې :

١ – امام ابو حنيفهؒ فرمائي : جنب دپاره مسجد ته راتلل اوتيريدل كه په اوداسه كښې وي كه بې اودسه وي، لګ ساعت دپاره وي، كه ډير ساعت دپاره ټولو احوالو كښې داخليدل حرام دي.

١ – دليل اطلاق ددې حديث دې، چه دا حديث مطلق دې ټولو احوالو ته شامل دې.

٢ – دويم دليل : حديث د علي رضي الله عنه دې لكه روستو راوان دې (لا تدخل الملائكة بيتا فيه صورة ولا كلب ولا جنب). دا حديث هم مطلق دې. (وسنده صحيح دون زيادة جنب كما سيأتي).

٢ – امام شافعيؒ، مالكؒ فرمائي : مسجد كښې تيريدل ورله جائز دي، خو ډير ايساريدل ورله ناجائز دي. دوئ استدلال كوي د آيت ﴿ولا جنبا الا عابري سبيل﴾ نه، علامه شوكانيؒ فرمائي : عبور په ځائې د مانځه كښې كيږي نه په مانځه كښې، نو معنىٰ د آيت به داشي (ولا تقربوا مواضع الصلاة حال كونكم جنبا الا حال عبوركم المسجد من جانب الى جانب) اودا تفسير د ابن مسعودؓ دې. دويم تفسير د علي رضي الله عنه نه نقل

دے چه (عابری سبیل) نه مراد مسافرین دی، یعنے مسافر خلقو له د جنابت په حالت کښے په مسجد کښے ایساریدل جائز دی، لکه طالبان وغیره۔ لیکن دا تفسیر دلته مقصود نه دے۔

٣ – امام احمدؒ او یحییٰؒ فرمائی : جنب دپاره مسجد ته داخلیدل جائز دی، کله چه اودس اوکړی او بغیر د اوداسه نه ناروا دی ۔

دلیل : ١ – أصحاب صفه به مسجد کښے اوسیدل او نبی ﷺ ورته أمر نه دے کړے چه په حالت د جنابت کښے به نه پاتے کیږی۔

٢ – **دلیل** : نور آثار ابن أبی شیبه (١٤٦/١) کښے راوړی دی۔(کان أصحاب رسول الله ﷺ یدخلون المسجد ویتوضؤن وهم جنب)۔ (ابن أبی شیبه وقرطبی)۔ نو په دے کښے ډیر ګنجائش دے چه جنب اودس اوکړی بیا مسجد ته داخل شی، اوکه اودس اونه کړی نو بیا به ددے حدیث د لاندے راځی ۔

درجة الحدیث : رواه ابوداود (٢٣٢) والبیهقی فی السنن الکبری (٢/٤٤٢) :

دے حدیث ته بعض علماؤ ضعیف وئیلے دے، د وجے د افلت بن خلیفه نه، لکه ابن حزم فرمائی : افلت مجهول الحال دے۔ لیکن صحیح خبره داده چه دا حدیث حسن یا صحیح دے، ډیرو علماؤ افلت ته ثقه وئیلی دی، لکه امام احمدؒ فرمائی : لابأس به۔ ابو حاتمؒ فرمائی : هو شیخ۔ ابن حبانؒ فرمائی : ثقه دے، البدر المنیر کښے فرمائی : هو مشهور ثقة۔

او دے حدیث ته ابن خزیمهؒ او ابن القطانؒ صحیح وئیلے دے۔ لیکن شیخ البانیؒ ورته ضعیف وئیلے دے۔ ارواء الغلیل (٢١٠/١) رقم (١٩٣) کښے بخاری نه نقل کوی چه عند جسرة عجائب، یعنے په دے روایت کښے جسره راویه هم ده، او هغه ضعیف ده، حافظ ورته په تقریب کښں لینه وئیلے ده، مګر جسره ته عجلی ثقه تابعیه وئیلے ده، او ابن حبان ئے هم توثیق کړے دے۔ او ددے حدیث دپاره بل شاهد هم شته د أم سلمهؓ په روایت (کما فی الطبرانی وابن ماجة) اګرچه ابو زرعةؒ فرمائی : حدیث دعائشةؓ صحیح دے د هغه روایت نه بیهقیؒ فرمائی : که دا حدیث صحیح شی نو محمول به شی په ډیر ایساریدلو باندے او هرچه تیریدل دی نو د هغے جواز په کتاب الله سره ثابت دے (کذا فی الارواء : ٢١٠/١)۔

١٣ - وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيْهِ صُوْرَةٌ وَلَا كَلْبٌ، وَلَا جُنُبٌ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ .

ترجمه : عليؓ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ملائك هغه كور ته نه داخليږي چه په هغې كښې تصوير يا سپے يا جنب وي. (أبوداود، نسائي).

تشريح : لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا : د ملائكه نه مراد د رحمت او بركت ملائك دي، نه كراما كاتبين اوملك الموت. ځكه هغه په هر وخت كښې انسان سره وي، هيڅ حال كښې نه جدا كيږي، او هر وخت ورته راتلے شي ، ورنه كه دا سے نه وے نو بيا كومو كورونو كښې چه تصاوير دي د هغې اوسيدونكي به نه مړه كيدے او نه به د هغوى اعمال ليكلے كيدلے.

قيصه : يو ماجن مُلا دا حديث آوريدلے وو، نو هغه به ځان سره سپے گرځولو او دا به ئے وئيل چه ملك الموت به هم زما خواته نه راځي، نو زه نه مرم، چا ورته اووئيل : سپے خو هم مري، د هغه نه روح څوك اخلي ؟ هغه هم ملائك دي، نو تابه د سپو ملائك وژني. معلومه شوه چه صرف د رحمت ملائك به جدا وي، او حفظه ملائك انسان سره هميشه وي. ﴿ما يلفظ من قول الا لديه رقيب عتيد﴾ ، حديث كښې دي (فان معكم من لا يفارقكم، فاكرموهم).

د صُوْرَةٌ: نه مراد هغه تصاوير دي چه په كورونو كښې ديوالونو ته زوړند شوے وي، يا په ميزونو پراته وي او خلق د هغې قدر او احترام كوي. كه د انسانانو تصاوير وي اوكه د حيواناتو، مگر هغه تصويرونه چه د ونو بوټو يا د ځايونو وي، يا دحيواناتو او انسانانو وي خو ليكن د خپو لاندے كيږي، يا د ماشومانو د لوبو دپاره وي او د هغې بيعزتي كيږي، نو هغه باك نه لري. او د تصاوير والو كور ته ملائك ځكه نه راځي چه دا كور مشابه دے د بوتانو د كور سره.

وَلَا كَلْبٌ : د سپي نه مراد هغه دے چه د څوكيدارئ، يا د گډو بيزو ساتنے، يا د ښكار دپاره نه وي. ورنه دا قسم سپي ساتل جائز دي.

وَلَاجُنُبٌ : ددې دوه معاني دي : ١- امام بخاريؒ ددې معنیٰ کوي : باب كينونه الجنب فى البيت اذا توضأ، يعنى كه اودس اوكړي نو بيا ملائك راځي، كما مرّ۔
٢ - دويم : كه انسان غسل اونه كړي نو ګنهګار نه دې، كما مرّ الحديث۔ خو د بهتر مجلس نه به محروم وي چه د ملائكو مجلس دې، دارنګه ملائك به ئې جنازې ته هم نه حاضريږي كه مړ شو، كما تقدم۔
ددې مثال داسې دې لكه يو شخص مشكوة درس كوي او بل شخص اوده پروت دې نو دا شخص چه مشكوة ته نه حاضريږي ګنهګار نه دې، خو د ډير خير نه محروم دې۔
٢ - او يا د جنب نه مراد هغه دې چه د مونځ وخت هم پرې په جنابت كښې تيريږي، سست وي، جنابت زر نه زائل كوي، نو بيا دا مجرم دې، د مغضوب عليهم صفت په كښې راغلې دې، بيا ملائك دده خوا كښې څه كوي ؟۔
نو غرض په حديث كښې تيزي وركول دي جنب ته چه په تادئ سره صفائي اوكړه او دې دپاره چه بې ځايه تاخير اونه كړې۔

درجة الحديث : رواه ابوداود (٢٢٧) والنسائى (١/١٤١) واحمد (١/٨٣- ١٠٧- ١٣٩- ١٥٠) والدارمى (٢/٢٨٤) : په دې حديث كښې عبد الله بن نجى راوى دې، امام بخاريؒ فرمائي : فيه نظر۔ ليكن أكثر علماؤ دده توثيق كړې دې، لكه عجلى، ابن حبان او نسائى۔ او امام ابوداؤدؒ پرې سكوت كړې دې۔ حافظ عسقلانيؒ فرمائي : مقبول دې، يعنې كله چه ددې متابع موجود شي نو مقبول دې، نو دا حديث خو يا حسن دې او يا صحيح۔ وضعفه الالبانى فى المشكاة (١/١٢٤). وضعيف الجامع الصغير (٦٢٠٣).
او په روايت د بخارى او مسلم كښې د ابو طلحه نه په هغې كښې (لاجنب) لفظ نشته۔ نو دليل دې چه دې راوى څه نقصان كړيدې او حافظ چه لفظ د مقبول استعمال كړى مراد ئې دا وي چه لين الحديث دې الا عند المتابعة. لكن قال الشيخ الالبانى الحديث صحيح دون قوله (ولا جنب) صحيح الجامع (٧٢٦٢)۔

---

١٤ - وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (ثَلٰثَةٌ لَا تَقْرُبُهُمُ

الْمَلَائِكَةُ : جِيفَةُ الْكَافِرِ، وَالْمُتَضَمِّخُ بِالْخَلُوقِ، وَالْجُنُبُ إِلَّا أَنْ يَتَوَضَّأَ).
رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه : عمار بن یاسر‌ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ او فرمائیل : درے کسه دی چه (درحمت) ملائك هغوئ له خواته نه راځی : (١) د کافر بدن (٢) هغه کس چه خلوق خوشبوئے لګونکے وی (٣) جنب شخص څو پورے چه اودس اونه کړی۔ (أبوداود)۔

تشریح : جِيفَةُ الْكَافِرِ : یعنے بدن د هغه شخص چه کافر وفات شوے وی، مراد د جیفه نه مړ دے، د ابوداود په روایت کښے داسے دی : (ان الملائکة لا تحضر جنازة الکافر) ۔ یعنی ملائك د کافر سړی جنازے ته نه حاضریږی۔

وَالْمُتَضَمِّخُ بِالْخَلُوقِ : خلوق هغه خوشبوئی ته وائی چه زعفران په کښے اچولے شوے وی، خلوق داسے رنګ دے لکه د ګونګی سترګه، زیړوالے پکښے وی۔ دا وجه ده بل روایت کښے دی (ولا المتضمخ بالزعفران) یعنے هغه شخص چه ککړ شوے وی په زعفرانو باندے، یعنے ځان پورے ئے د زعفرانو خوشبوئی لګولے وی۔ او ملائك ده ته ځکه خواله نه راځی چه ده ځان پورے داسے شے (زعفران) مرلے دے کوم نه چه نهی (منع) راغلے ده۔ ځکه نبی ﷺ د سړو دپاره د زعفرانو خوشبوئی لګولو منع فرمائیلے ده۔ نو دا شخص په ګناه باندے مشتمل دے، ځکه ملائك ورله خواله نه راځی۔ او په دے کښے دیته هم اشاره ده چه یو سړے به د زعفران خوشبوئی دے دپاره لګوی چه زیب او زینت ورته حاصل شی او معزز ښکاره شی، لیکن د سنت خلاف کولو سره دغه انسان نجس دے، اود سپی نه هم زیات خسیس دے، چه ملائك ورته خواله نه راځی، چه د خیر الهام ورته اوکړی۔

إِلَّا أَنْ يَتَوَضَّأَ : کښے اشاره ده چه جنب کله اودس اوکړی نو دے سره ئے نیم جنابت ختم شی۔

درجة الحديث : رواه ابوداود : دا حدیث منقطع دے، امام منذری‌ؒ فرمائی : الحسن لم یسمع من عمار، لیکن د حدیث رجال ثقات دی، نو دا حدیث حسن درجه کښے دے۔ (کما فی الترغیب : ١/٩١). والصحیح انه حدیث حسن کما فی صحیح ابی داود رقم (٤١٨٠)و آداب الزفاف (٣٨)۔

١٥ - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ أَنَّ فِي الْكِتَابِ الَّذِي كَتَبَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لِعَمْرِو بْنِ حَزْمٍ: أَنْ لَا يَمَسَّ الْقُرْآنَ إِلَّا طَاهِرٌ). رَوَاهُ مَالِكٌ وَالدَّارِقُطْنِيُّ.

ترجمه: عبد الله بن أبي بكر بن محمد بن عمرو بن حزمؒ فرمائي: رسول الله ﷺ چه کومه هدايت نامه عمرو بن حزمؓ دپاره ليکلے وه، هغے کښے دا (حکم هم) وو چه قرآن کريم ته دے پاك خلق لاس وروړي۔ (مالك، دارقطني)۔

تعارف: د عبد الله بن أبي بكر بن محمد بن عمرو بن حزم:

دا ثقه تابعي دے، د انس او سالم بن عبد الله شاګرد دے، او امام زهريؒ او امام مالكؒ او سفيانينوؒ استاذ دے۔ امام مالكؒ فرمائي: كان كثير الحديث، وكان رجل صدق ومن أهل العلم والبصيرة وقال احمد: حديثه شفاء۔ په سنه (١٣٥) يا (١٣٠) کښے على اختلاف القولين د (٧٠) کالو په عمر وفات شوے، هيڅ اولاد ئے نه وو۔ او دده نيکه عمرو بن حزم صحابي دے، او غزوه خندق ته په پنځلس کلنئ کښے حاضر شوے دے۔ رضي الله تعالىٰ عنه۔

تشريح: فِي الْكِتَابِ الَّذِي: دا خط او کتاب نبي عليه السلام د عمرو بن حزم دپاره ليکلے وو کله ئے چه هغه د يمن اطرافو کښ په يو ښار عامل مقرر کړے وو او ليږلو وقت کښ ئے ورته دغه خط ورکړو چه دے کښ د فرائض او صدقات او دياتو مسائل او احکام ليکلے شوي وو چه بعضے د هغے نه دا مسئله وه کوم چه دلته ئے راوي بيانوي۔

أَنْ لَا يَمَسَّ الْقُرْآنَ إِلَّا طَاهِرٌ: دا طهارت، طهارتِ صغرىٰ او کبرىٰ دواړو ته شامل دے، نو أدب دادے چه قرآن ته د بے اودسئ او د جنابت په حالت کښے لاس ور نه وړے شي۔ کما مرّ۔ اګرچه په حدثِ اصغر کښے ابن عباسؓ، ضحاكؒ، شعبيؒ او امام بخاريؒ او ابن حزمؒ اختلاف کړے دے۔

درجة الحديث: رواه مالك (١/٩٩) والدارقطني (١/١٢١- ١٢٢) والحاكم (١/٣٩٥) بسند صحيح: دا حديث امام مالكؒ مرسلا را وړے دے، او ابو داودؒ هم په مراسيلو

کښې ذکر کړے دے۔ وقد تقدم انه حديث صحيح كما فی الارواء (١/١٥٨) والتلخيص (٤/١٧) وله طرق وشواهد ذكرها الزيلعي فی نصب الراية (١/١٩٦) تعليق المشكاة للشيخ رمضان (١/٢١٠)۔

---

١٦ - وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ انْطَلَقْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ فِيْ حَاجَةٍ فَقَضَى ابْنُ عُمَرَ حَاجَتَهُ وَكَانَ مِنْ حَدِيْثِهِ يَوْمَئِذٍ أَنْ قَالَ : مَرَّ رَجُلٌ فِيْ سِكَّةٍ مِنَ السِّكَكِ، فَلَقِيَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ وَقَدْ خَرَجَ مِنْ بَوْلٍ اَوْ غَائِطٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتّٰى اِذَا كَادَ الرَّجُلُ أَنْ يَتَوَارٰى فِي السِّكَّةِ ضَرَبَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِيَدَيْهِ عَلَى الْحَائِطِ وَمَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ ثُمَّ ضَرَبَ ضَرْبَةً أُخْرٰى فَمَسَحَ ذِرَاعَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَى الرَّجُلِ السَّلَامَ وَقَالَ : إِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِيْ أَنْ اَرُدَّ عَلَيْكَ السَّلَامَ اِلَّا اَنِّيْ لَمْ اَكُنْ عَلٰى طُهْرٍ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : نافع وائی : زه د ابن عمرؓ سره د قضائے حاجت دپاره لاړم، ابن عمرؓ خپل حاجت پوره کړو، او په دغه ورځ ده دا حديث بيان کړو چه يو سړے د کوڅو نه په يوه کوڅه کښې تيريدلو، نو رسول الله ﷺ سره په داسے حالت کښې ملاؤ شو چه رسول الله ﷺ د بولو يا غائطو نه را اووتلو۔ هغه سړی پرے سلام واچولو، نبی ﷺ د سلام جواب ورنه کړو، تردے چه نزدے وه چه سړے په کوڅه کښې غائب شی نو رسول الله ﷺ په ديوال باندے لاس اووهلو او بيا دواړه لاسونه ئے خپل مخ مبارك پورے راخكل، بيا ئے بل ځل ديوال مسح کړو، او خپل دواړه څنګلے ئے مسح کړے، بيائے د هغه سړی د سلام جواب ورکړو۔ او وے فرمائيل : زه تاله د سلام جواب درکولو نه صرف دے خبرے منع کړم چه زه په اودس کښې نه ووم۔ (أبوداود)۔

تشريح : فوائد : ١- بول کونکی باندے سلام اچول جائز نه دی۔ ٢ - سوال په حديث د عائشةؓ کښې تير شوی دی چه رسول الله ﷺ به په هر حالت کښې د الله ذکر کولو، او دلته فرمائی : ما ځکه د سلام جواب درنه کړو چه طهارت کښې نه ووم ؟۔

ددے **جواب** مخکښے اوشو، هغه دا چه ذکر د الله بيانا للجواز شوے دے، نو دے کښے عمل بالرخصه دے، او خپل طبيعت د رسول الله ﷺ دا وو، چه بے اودسۍ په حالت کښے به ئے ذکر نه کولو، نو دلته عمل دے په عزيمت باندے۔

٢ – د زړه مختلف احوال دی، کله د انسان طبيعت نشاط او تازګۍ کښے وی، نو د الله تعلق او محبت زيات وی، نو الله صرف د پاکۍ په حالت کښے يادوی، اوکله دومره نشاط او تازګی نه وی نو بيا ئے د بے اودسۍ په حالت کښے هم يادوی۔ نو دا د زړه په کيفياتو باندے بناء دے۔

٣ – الرجل نه مراد ابو الجهيمؓ دے لکه بل روايت کښے ذکر شوے دے۔

٤ – فائده : په ديوال باندے تيمم وهل جواز لری۔

٥ – په بحر الرائق کښے علامه ابن نجيم حنفی ددے حديث نه په دے مسئله استدلال کړے چه که انسان په اوبو قادر وی نو هم تيمم وهل ورله جائز دی خو په مستحب اوداسه کښے، نه په واجب کښے۔ مثلا غسل نه پس اوده کيدو دپاره۔ ليکن ددے خلاف امام نووی فرمائی : نبی ﷺ په دے حال کښے اوبه نه موندلے، ورنه په اوبو باندے قادر شخص دپاره تيمم د فرض او نفل دواړو دپاره جائز نه دے۔ برابره خبره ده چه په وخت کښے تنګی وی که فراخی، د اختر مونځ وی اوکه د جنازے۔

او په دے حديث باندے امام بخاریؒ باب تړلے : باب التيمم فی الحضر اذا لم يجد الماء وخاف فوت الصلوات۔ اشاره کوی چه دا حديث په باره د هغه چا کښے دے چه اوبه نه مومی۔ اودا قول د جمهورو دے۔ دامام ابو حنيفةؒ قول دادے چه د جنازے او اختر مانځه دپاره – کله چه وخت کم وی – سره د قدرت نه په اوبو باندے تيمم وهل جائز دی۔ او امام طحاویؒ ورله په دليل کښے دا حديث ذکر کړے چه دلته نبی ﷺ نه د سلام جواب ورکول فوت کيدو نو په دے وجه ئے تيمم اووهلو، نو په دے سره به د هغه شۍ دپاره تيمم وهل جائز وی دکوم دپاره چه د سره خلف نه وی، چه هغه جنازه او اختر مونځونه دی۔

ليکن دا استدلال د دوه وجهو نه **خطاء** دے : ١ – يو دا چه خبره زمونږ په فرض اوداسه کښے ده او حديث کښے مستحب اودس ذکر دے، ځکه دسلام د جواب ورکولو دپاره اودس

کول واجب نه دی، نو دا قیاس مع الفارق دے ځکه علة الحکم په طرفینو کښې یو نه دے۔
۲ - دویم داچه په دے حدیث کښې خو دا خبره نشته چه نبی ﷺ اوبه موندلے په حالت د تیمم کښې بلکه خبره بالعکس ده کما مر فی قول النوویؒ۔
۳ - دریم داچه : اصل مسئله مونږ نه منو چه اخترونو دپاره ځکه تیمم جائز دے چه ددے خلف نشته ـ ولے نشته ! بلکه که جماعت فوت شی نو د اختر مونځ یواځے هم کیږی۔ د عبد الله بن مسعود نه نقل دی فرمائی : من فاته العید مع الامام فلیصل اربعا - اخرجه سعید بن منصور باسناد صحیح)۔
۲- انس بن مالك نه نقل دی : (کان انس اذا فاته العید مع الامام جمع اهله فصلی بهم مثل صلاة الامام فی العید. اخرجه البیهقی) یعنی انس نه به چه کله د اختر مونځ فوت شو نو خپل کور والا به ئے راجمع کړل او هغوی ته به ئے د اختر مونځ اوکړو۔ عطاء بن ابی رباح فرمائی : من فاته العید یصلی رکعتین ویکبر. رواه ابن ابی شیبة) چا نه چه د اختر مونځ فوت شی نو دوه رکعاته به اوکړی او تکبیرونه به پکښې اووائی۔
۳- دارنګه د اختر مونځ د نورو مونځونو پشان دے نو قضاء ئے هم شته او دا قول د امام احمدؒ، ثوریؒ، شافعیؒ، نخعیؒ، مالكؒ، اوزاعیؒ، ابوثورؒ، ابن المنذرؒ دے او امام بخاریؒ (۱/۱۳٤) پرے باب تړلے دے باب اذا فاته العید یصلی رکعتین .انظر فی ذلك فقه السنة (۱/۲۸۱) والمرعاة (٥/٦٤) وفتاوی الدین الخالص (٦/۳۰۰)۔
دغه شان جنازه خو څه فرض عین نده کله چه اودس نه وی نو په نه کولو باندے انسان ګناهګار ندے۔ او جنازے او اختر مانځه ته د تیمم په باره کښې چه کوم آثار د ابن عمر او ابن عباس راغلی دی هغه ټول ضعیف دی۔انظر فتاوی الدین الخالص (۲/٤۲۱) والبیهقی (۱/۲۳۰) ۔
ثُمَّ ضَرَبَ ضَرْبَةً أُخْرٰی : ددے نه احنافو استدلال کړے دے چه تیمم کښې دوه ضربتین دی، دپاره د مخ او لاسونو تر څنګلو پورے۔
لیکن دا استدلال صحیح نه دے ځکه د (ضربتین) او (ذراعین) ذکر په دے حدیث کښې منکر دے، لکه روسته به راشی۔ دا وجه ده علماء فرمائی : د نبی ﷺ نه عملا تیمم

ترڅنګلو پورې نه دے ثابت، البته د ابن عمرؓ نه نقل دے۔ تفصيل راراون دے۔

درجة الحديث : رواه أبوداود (٣٣٠) والدارقطني (١٧٧/١) والبيهقي في الكبرى (٢٠٦/١) : ددې حديث سند ضعيف دے، ځکه په دے کښے محمد بن ثابت العبدي ضعيف راوي دے، ابن معينؒ، ابو حاتمؒ، امام احمدؒ او امام بخاريؒ ضعيف کړے دے، امام بخاريؒ فرمائي : ايوب او عبيد الله او نور شاګردانو دده نه خلاف کړے دے ځکه هغوئ دا حديث د نافع عن ابن عمر موقوف ګرځولے، چه دا د ابن عمرؓ عمل دے، نه د نبي ﷺ۔

امام ابوداودؒ خپله فرمائي : ولم يتابع أحد محمد بن ثابت في هذه القصة على ضربتين عن النبي ﷺ، ورووه عن فعل ابن عمر۔

امام خطابيؒ معالم السنن کښے فرمائي : حديث ابن عمر لا يصح، لان محمد بن ثابت ضعيف جدا لا يحتج بحديثه۔

تنبيه : په دے باب کښے مختلف قسم حديثونه نقل دی، په بعضو حديثونو کښے دادی چه نبي ﷺ د بول نه فارغ شو، بيا پرے سلام واچولو، هغه جواب ورنه کړو تردے چه تيمم ئے اووهلو، او علت هم ذکر دے، لکه په دے حديث کښے دا ذکر دے۔

په روايت د ضحاكؒ عن نافع عن ابن عمر کښے دی چه په نبي ﷺ باندے په حالت د بول کښے سلام اچول شوے دے۔ او روستو روايت د مهاجر بن قنفذؓ کښے دی چه په حالت دبول کښے سلام اچول شوے۔ نو هغه اودس نه پس جواب ورکړے، او په روايت د ابن الهادؒ عن نافع عن ابن عمر کښے هم هغه شان قصه ده کومه چه په دے حديث کښے ذکر ده۔ مګر فرق دادے چه په هغے کښے علت هم نه دے ذکر او د ضربتين او ذراعين ذکر هم نشته، بلکه (مسح وجهه ويديه) لفظ ذکر دے، او دغه روايت ته امام منذريؒ حسن وئيلے دے، او هغه مطابق دے د روايت د أبي الجهيمؓ سره کوم چه امام بخاريؒ او مسلمؒ ذکر کړے دے۔ نو په دے کښے تطبيق دادے چه حديث د محمد بن ثابت خو ضعيف دے، او حديث د مهاجر بن قنفذؓ يوه قيصه ده۔ او حديث د ابن الهادؒ بله قيصه ده۔ نو دا حمل دے په متعدد قيصو باندے۔ کله ئے جواب نه دے ورکړے أدبا، او کله ئے جواب د تيمم نه پس ورکړے دے، او کله ئے داودس نه روسته جواب ورکړے دے۔

١٧ - وَعَنِ الْمُهَاجِرِ بْنِ قُنْفُذٍ رضي الله عنه (اَنَّهُ اَتَى النَّبِيَّ ﷺ وَهُوَ يَبُوْلُ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتّٰى تَوَضَّأَ ثُمَّ اعْتَذَرَ اِلَيْهِ قَالَ : اِنِّيْ كَرِهْتُ اَنْ اَذْكُرَ اللهَ اِلَّا عَلٰى طُهْرٍ). رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ .

ترجمه : مهاجر بن قنفذ رضي الله عنه نه روايت دے چه دے نبي ﷺ ته په داسے حال كښے راغے چه هغه بول كول، سلام ئے پرے واچولو خو نبي ﷺ د هغے جواب ورنه كړو، تردے چه اودس ئے اوكړو او بيا ئے ورته دا عذر اوكړو : چه ما دا بده اوګڼړله چه په بے اودسۍ باندے دالله ذكر اوكړم ۔(أبوداود)۔

تعارف : د المهاجر بن قنفذ رضي الله عنه :

مهاجر ئے لقب دے خپل نوم ئے عمرو دے، او د پلار نوم ئے خلف دے او قنفذ ئے لقب دے۔ حافظ په اصابه (٤٦٦/٣) كښے ليكي : كان أحد السابقين الى الاسلام، كله چه د هجرت اراده ئے اوكړه، مشركانو اونيولو او عذاب ئے وركړو۔ آخر ترے اوتختيدلو او مدينے ته راغلو، نبي ﷺ اوفرمائيل : هذا المهاجر حقا، دا يقيني مهاجر دے۔ عثمان رضى الله عنه په فوج مشر كړے وو، د بصرے اوسيدونكے او په هغے كښے وفات شوے دے۔

فائده : دا حديث هم دليل دے چه په جنابت حالت كښے قرآن لوستل مكروه دي۔

فلم يرد عليه : دا دليل دے چه د سلام جواب د ضرورت په بناء روستو كول هم جائز دي، دلته نبي ﷺ د اودس كولو نه پس د سلام جواب وركړے دے۔

درجة الحديث : رواه أبوداود (١٧) واحمد (٣٤٥/٤) و(٥/ ٨٠، ٨١) وصححه ابن حبان واورده الهيثمي في موارد الظمآن رقم (١٨٩) وصححه الحاكم والذهبي وسنده صحيح صححه الألباني في صحيح السنن رقم : ١٣، وقال النووي في الأذكار : هذا حديث صحيح۔

١٨ - عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُجْنِبُ ثُمَّ يَنَامُ ثُمَّ يَنْتَبِهُ ثُمَّ يَنَامُ . رَوَاهُ أَحْمَدُ .

ترجمه: أم سلمة رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ به د جنابت په حالت كښے اوده كيدلو ، بيا

به راويښ کيدلو او بيا به اوده کيدلو ـ (أحمد)ـ

تشريح : ثُمَّ يَنَامُ : **فوائد** : ۱ – نبي ﷺ نه کله کله – بيانا للجواز – دا طريقه هم نقل ده کومه چه په دے حديث کښے ذکر ده چه بغير د اوداسه نه د جنابت په حالت کښے اوده شوے دے، لکه مونږ دا حديث په کيفياتو د جنب کښے پيش کړو ـ

۲ – دويم دا هم ضروري نه ده چه يو انسان د جنابت په حالت کښے اوده شي او بيا د شپے راپاڅي نو غسل به کوي، بلکه بيرته هم په دغه حالت کښے اوده کيدے شي، خو چه کله د تهجدو يا د صبا وخت رانزدے شي نو غسل دے اوکړي ـ

درجة الحديث : رواه أحمد (٣٩٨/٦) وسنده ضعيف لكن عند احمد (٣٠٦/٦) طريق اخرى عنها بلفظ كان رسول الله ﷺ يمس اهله من الليل فيصبح من غير احتلام فيغتسل ويصوم) وسنده حسن. فالحديث صحيح ـ

---

۱۹ – وَعَنْ شُعْبَةَ قَالَ : إِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ ﷺ كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ يُفْرِغُ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى عَلٰى يَدِهِ الْيُسْرٰى سَبْعَ مِرَارٍ ثُمَّ يَغْسِلُ فَرْجَهٗ فَنَسِيَ مَرَّةً كَمْ أَفْرَغَ فَسَأَلَنِيْ فَقُلْتُ : لَا أَدْرِيْ فَقَالَ : لَا أُمَّ لَكَ، وَمَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَدْرِيَ ؟ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوْئَهٗ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ يُفِيْضُ عَلٰى جِلْدِهِ الْمَاءَ ثُمَّ يَقُوْلُ : هٰكَذَا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَتَطَهَّرُ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : شعبهؒ فرمائي : ابن عباسؓ چه به کله د جنابت نه غسل کولو نو په خپل ښي لاس سره به ئے په ګس لاس باندے اووه کرته اوبه واچولے، بيا به ئے عورت اووينځلو، يو ځل ترے دا هير شو چه څو ځله ئے اوبه واچولے نو مانه ئے تپوس اوکړو، ما عرض اوکړو، ماته ياد نه دي، هغه اوفرمائيل : مور دے مړه شه ! ته د ياد ساتلو نه څه شئ منع کړے ؟ بيابه ئے د مانځه د اودس پشان اودس اوکړو، بيا به ئے په خپل ټول بدن باندے اوبه واچولے، بيا به ئے فرمائيل : رسول الله ﷺ به داسے ځان پاکولو ـ (أبوداود)ـ

تعارف : **د شعبه** بن دينار الهاشمي المدني :

د ابـن عباس آزاد كرده غلام وو، او د هغه شاگرد وو، اودا هغه مشهور محدث شعبه نه دے ځكه هغه شعبه بن الحجاج دے ثقه دے۔

تشريح : سَبْعَ مِرَارٍ : په دے روايت كښے د لاس وينځل په غسل كښے اووه كرتے راغلـي دي، ليكـن دا حديث ضعيف دے، د صحيح احاديثو – چه په هغے كښے درے ځله وينځـل ذكـر دي – معـارضه نشي كولے ۔اودا جواب قوي دے، اوكه حديث ثابت شي نو جواب دادے چه د :

٢ – ابـن عباس ؓ دا عـمل په ابتداء د اسلام حمل دے، لكه مخكښے باب الغسل فصل ثـالـث آخر كښے د ابن عمرؓ حديث كښے ناسخ تير شوے دے، خو ابن عباسؓ باندے ناسخ پټ پاتے شوے دے۔

٣ – يا دا چـه ابـن عباسؓ ته نسخ معلومه وه ليكن د هغه دا رائے وه چه يو شے منسوخ شي نو استحباب بيا هم باقي وي۔

٤– دے حـديث نه استعانت په اوداسه كښ ثابت شو۔ ٥– د غسـل په وقت كښ خبرے كـول ترے ثـابت شو ٦– عادتي خيرے جواز لري۔ ٧– مسائل شرعيه په حالت د اوداسه او غسـل كـښ بيـانـولـو جـواز ترے ثابت شو۔ ٨– په وخت د تعليم وركولو كښ شاگرد ته په خبره نه يادولو باندے زورنه وركول ترے ثابت شو۔

درجة الحديث : رواه أبو داود (٢٤٦) بسند ضعيف، فيه شعبة بن دينار، قال المنذري : شـعبة هـذا مـدنـي مـولى ابن عباس. وهو اضعف موالى ابن عباس، لا يحتج بحديثه، وضعفه الجمهور. والحديث بظاهره منكر ايضا۔

---

٢٠ – وَعَـنْ اَبِـىْ رَافِعٍ ﷛ قَـالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ طَـافَ ذَاتَ يَـوْمٍ عَلٰى نِسَـائِـهٖ يَغْتَسِـلُ عِـنْـدَ هٰـذِهٖ وَعِنْدَ هٰذِهٖ، قَالَ : فَقُلْتُ لَهٗ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اَلَا تَجْعَلُهٗ غُسْلًا وَاحِدًا آخِرًا ؟ قَالَ : هٰذَا أَزْكٰى وَأَطْيَبُ وَأَطْهَرُ) . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : ابـو رافـعؓ فـرمـائـي : رسـول الـلـه ﷺ يو ورځ په خپلو ټولو بيبيانو باندے اوگرځيدلو (او جماع ئے وررسره اوكړه) چه د هرے يوے بي بي سره (دجماع كولو نه پس) به

ئے جدا جدا غسل کولو، ابو رافعؓ وائی : ماته ورته اووئیل : یارسول الله ! تاسو په آخر کښې یو غسل ولے اونه کړو ؟ نبی ﷺ اوفرمائیل : دا کار ښه پاکول کوی او ډیر مزیدار دے او بدن ښه صفا کوی۔

تشریح : په دے حدیث کښې د نبی ﷺ بل عمل ذکر دے په باب د غسل کښې او داهم د تنوع فی العبادات د قبیلے نه دے، یعنے کله په دے باندے عمل کول، چه ډیر جنابتونو دپاره یو غسل اوکړی، اوکله په دے باندے چه د هر جنابت دپاره جدا جدا غسل اوکړی، او دا په کښې ډیر بهتر دے، نبی ﷺ ئے پخپله فائده بیان کړه چه (هذا أزكىٰ وأطيب أطهر)۔

او دا تعارض نه دے بلکه په مختلف اوقاتو کښې داسے اعمال شوی دی، دپاره د آسانئ دامت۔ اکثرو علماؤ ته یو حدیث اورسی بیا ورته بل حدیث اورسی نو هغوئ ترے تعارض جوړ کړی، بلکه جمع پکار ده چه دواړه اعمال په جدا جدا وختونو باندے حمل دی۔

أَزْكَىٰ وَأَطْيَبُ وَأَطْهَرُ : درے واړه الفاظ مترادفه دی، یوه معنیٰ لری، مګر لږ فرق دے، ازکی أی أكثر أجرا وثوابا۔ أجرئے ډیر دے۔ (أطيب) : ألذ وأحلىٰ وأجود عند النفس۔ په نفس باندے مزیدار لګی، نشاط ورسره پیدا کیږی ۔ (اطهر) : أی أنظف وأحسن۔ حسن او پاکی پیدا کوی په نفس کښے۔

۲ – علامه طیبیؒ داسے فرق کوی چه د تطهیر استعمال د ظاهر سره تعلق لری، او د تزکیه او تطییب استعمال د باطن سره، یعنے تطهیر د بد اخلاقو د ازالے دپاره دے او تزکیه او تطییب د خائسته اخلاق حاصلولو دپاره دے، نو ګویاکه مطلب دا شو چه هرے جماع سره جدا جدا غسل کولو سره بد اخلاق – غصه وغیره – لرے کیږی، اوښه اخلاق – حلم، تقوی وغیره – ورسره حاصلیږی ۔ یعنے تخلیه او تحلیه ورسره حاصلیږی ۔ یاد ظاهر او باطن دواړو پاکی ورسره راځی۔

درجة الحديث : رواه أحمد وأبوداود : واسناده حسن، كذا قال الألباني في صحيح السنن (١/١) رقم (٢١٥)۔

---

٢١ – وَعَنِ الْحَكَمِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنه قَالَ : نَهَى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنْ يَتَوَضَّأَ

الرَّجُلُ بِفَضْلِ طُهُوْرِ الْمَرْأَةِ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجه وَالتِّرْمِذِيُّ، وَزَادَ : اَوْقَالَ : بِسُؤْرِهَا. وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.

ترجمه : حکم بن عمرو فرمائی : رسول الله ﷺ ددے نه منع کړیده چه سړے دے د زنانه په پاتے شوو اوبو باندے اودس اوکړی ـ (أبوداود، ابن ماجه، ترمذی) ـ او ترمذی زیاتی نقل کړی دی چه یا نبی ﷺ د ښځے د اودس نه پاتے شوو اوبو نه منع اوفرمائیله ـ او ترمذی وئیلی دی : دا حدیث حسن صحیح دے ـ

تعارف : د الحکم بن عمرو رضي الله عنه :

دا د غفار قبیلے نه صحابی دے، ډیر احادیث ترے نقل دی، ابتداء کښے په بصره کښے اوسیدلو، د زیاد د طرفنه د خراسان والي – گورنر – هم پاتے شوے دے، او بیا په مرو کښے – چه د خراسان په مضافات کښے علاقه ده – اوسیدلو او هلته په (٤٥) یا (٥٠)، یا (٥١) کښے وفات شو ـ رضی الله تعالیٰ عنه ـ

تشریح : نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنْ يَتَوَضَّأَ الخ :

پدے مقام کښے یو څو مسئلے دی ـ

۱ – اوله مسئله دا ده : چه سړی دپاره د سړی نه پاتے شوو اوبو باندے اودس او غسل کول هم جائز دی دلیل حدیث د ابن خزیمه (۵٦/۱) کښے د جابر بن عبد الله واقعه ذکر ده فرمائی چه زه بیمار شوم نو رسول الله ﷺ او ابوبکر زما پوښتنے ته راغلل او په ما باندے بے هو شی راغلے وه (فتوضأ فصبه علی فافقت) نو نبی ﷺ اودس اوکړو او د اوداسه اوبه ئے په ماباندے را واچولے نو زه بیدار شوم ـ واخرجه الشيخان ايضا. او پدے حدیث باندے امام ابن خزیمه باب تړلے دے باب اباحة الوضوء من فضل وضوء المتوضئ ـ

۲– حدیث د جابر او حدیث د انس دے چه مونږ په سفر اووتلو د مانځه وقت راغلو اوبه نه وے نو نبی علیه السلام لگے اوبه طلب کړے چه په یوه پیاله کښے وے نو هغے کښے ئے گوتے مبارکے کیخودلے او خلقو ته ئے اووئیل اودسونه شروع کړے ـ دارنگه (ان الماء طهور لاينجسه شئ) او (ان الماء لا يجنب) والا احادیثو د عموم نه استدلال ددے مسئلے دپاره کیدے شي ـ

٢- دويمه مسئله : په دے مسئله کښے اتفاق دے چه زنانه دپاره د سړی په پاتے شوو اوبو باندے اودس او غسل کول جائز دی لکه دا اتفاق امام نووی نقل کړيدے په شرح مسلم (١/١٤٨) کښے۔ اګرچه حافظ د هغه تعقيب کړيدے چه طحاوی پدے کښے اختلاف ثابت کړيدے۔

ددے قول **دليل** : يو دا چه احاديث د نهی منسوخ دی دليل د نسخ حديث د ابن عباس دے چه بعض بے بيانو د نبی عليه السلام په يو خانك کښے غسل اوکړو نو نبی ﷺ د هغينه د اودس کولو اراده اوکړه نو دے ورته اووئيل : يارسول الله ! زه جنبه ووم ، نبی ﷺ ددے په جواب کښے اوفرمائيل : (ان الماء لا يجنب) دا دليل دے چه مخکښے نبی عليه السلام نهی کړے وه مطلقا او بيائے پدے الفاظو سره منسوخ کړه۔ دارنګه کله چه د سړو دپاره د زنانه باقی مانده اوبه استعمالول عند الجمهور جائز دی (کما سيأتی) نو د زنانو دپاره د سړو اوبه استعمالول خو به په طريق اولی جائز وی۔ لکه دے خبرے ته سبل السلام کښے هم اشاره شويده چه (ويقاس عليه العکس لمساواته له)۔

٣- دريمه مسئله : آيا سړی دپاره د زنانه په پاتے شوی اوبو باندے اودس او غسل کول جائز دی او که نه ؟ نو پدے کښے اختلاف دے۔

١- امام احمدؒ او اسحقؒ فرمائی : چه کله زنانه يواځے اودس اوکړی او اوبه ترے پاتے شی نو په هغے باندے سړی دپاره اودس کول جائز نه دی، يعنی مکروه دی۔

او دا قول د عمر فاروق رضی الله عنه، عبد الله بن سرجسؓ، او حکم بن عمروؓ او جويريهؓ او ام سلمه – رضی الله عنهم– او د سعيد بن المسيبؒ او حسن بصریؒ هم دے۔

دوئ او امام احمد استدلال کوی په دے حديث الباب (حديث حکم بن عمرو) باندے۔ چه پدے روايت کښے سړے منع شويدے د پاتے شوو اوبو د زنانه نه۔

٢- جمهور علماء (مالك ابو حنيفه، شافعی او په يو قول کښے امام احمدؒ) فرمائی چه دا ټول مخکنی صورتونه بلا کراهت جائز دی ۔ او د جمهورو قول ته علامه صنعانی هم ترجيح ورکړيده فرمائی : والاظهر جواز الامرين. سبل السلام (١/٢٩)۔

استدلال کوی په روايت د ابن عباس بروايه الترمذی (١/١٩) (ان الماء لا يجنب) کما

مر۔

دا دليل دے چه د نهی حکم مخکښې وو او روستو پدے الفاظو منسوخ شو. چه اوبه نه پليتيږی۔ او دغه شان نبی ﷺ به د خپلو بی بيانو سره شريك لامبل لکه حديث د ميمونه کښې دی چه دے او نبی عليه السلام به د يو لوښی نه شريك لامبل او د يو بل پاتے شوے او مستعملے اوبه به ئے استعمالولے او دغه شان حديث د عائشه هم دے كما فی مسلم (١/١٤٨)۔ او پدے کښې د خلوت دپاره څه تاثير نشته ـ

دا حديث صريح دے په جواز کښې اودا ناسخ دے د حديث الباب دپاره۔ او ميمونه رضی الله عنها يوائے دا اوبه استعمال کړے وے، روستو بيا نبی ﷺ استعمال کړے۔ نو دا عمل او قول د نبی عليه السلام ناسخ دے د دغه حديث د نهی ـ

اودامام احمدؒ د استدلال نه **جواب** دا ورکوی چه دغه حديث د حکم بن عمرو ضعيف دے لکه دا جواب امام نوویؒ کړيدے شرح مسلم (١/١٤٨) خو دا جواب صحيح ندے څکه چه حديث د حکم هم صحيح دے هيڅ ضعف پکښې نشته حافظ فتح البارى کښې فرمائی : (ولقد اغرب النووی بذلك وله شاهد عند ابی داود والنسائی انتهی (وهو حديث حميله الحميری الذی يأتی متصلا)۔

٢– دويم **جواب** دا دے چه دغه حديث کښې کومه نهی راغلے ده نو د انهی تنزيهی ده، يعنے د انسان د طبيعت په تقاضا شوے ده، لکه دا خبره حافظ عسقلانیؒ کړے ده۔ دا وجه ده علامه انورشاهؒ ليکی : دا نهی په حقيقت کښې د باب د معاشرت سره تعلق لری، چونکه زنانه عموما د سړی په نسبت د نظافت او طهارت اهتمام کم کوی په دے وجه ددے په پاتے شوو اوبو استعمالولو سره سړی ته **طبعا** تکليف رسی۔ او دا کار د زوجينو په مابين کښې د سوءِ معاشرت سبب جوړيږی، په دے وجه ددے نه منع اوشوه، ورنه دا نهی د تحريم دپاره نه ده۔

٣– علامه خطابیؒ د دوارو حديثونو جمع کولو دپاره يوه بله توجيه کړے ده، هغه دا چه کومو حديثونو کښې چه نهی راغلے ده، نو ددے نه مراد هغه اوبه دی چه د اندامونو نه په کښې څاڅکی پريوتی وی، څکه بيا اوبه مستعملے شوے، او کومو حديثونو کښې

چه جواز دے، د هغې نه هغه اوبه مراد دی چه مستعملې نه وی۔ لیکن جمهور د علامه خطابیؒ دا جمع او تطبیق ښه نه ګنړی ځکه دا ډیره بعیده ده۔ او بله دا چه مستعملې اوبه هم پاکې دی کما هو القول الراجح۔

۲ - دارنګه نبی ﷺ (الماء لا یجنب) کښې تعمیم کړے دے دا په کښې نشته چه مستعملې وی او که نه۔ ښه جواب هغه دے چه حافظ ابن حجرؒ ذکر کړے دے چه نهی د تنزیه ده، که د چا طبیعت ئے بد ګنړی نو اودس دے په دغه اوبو نه کوی، اوکه د چا طبیعت ئے بد نه ګنړی، نو اودس دے پرے کوی۔

بِسُؤْرِهَا : پدے حدیث کښې د سؤر لفظ نه معنی لغوی یعنی جوټه نه ده مراد بلکه د اودس یا غسل نه پاتے شوے اوبه مراد دی، دلته صرف د راوی شك واقع شویدے چه نبی علیه السلام د سؤر لفظ وئیلے دے یا د فضل لفظ ئے وئیلے دے او مطلب د دواړو یو دے لکه تحقیقی خبره هم دا ده چه ترمذی دا حدیث د محمد بن بشار او محمود بن غیلان نه روایت کوی نو د محمود شك واقع شو په (سؤر او فضل) لفظ کښې او محمد بن بشار شك ندے کړے نو لفظ د سؤر غلط دے د اوهامو د محمود بن غیلان نه دے انظر الترمذی (۱۹/۱)۔

درجه الحدیث : وسنده صحیح اخرجه ابوداود رقم (۸۲) والترمذی (٦٣-٦٤) والنسائی (۱۷۹/۱) وابن ماجة (۳۷۳) وصححه ابن حبان ایضا قال الالبانی : قلت وسنده صحیح (تعلیق المشکاة ۱٤٦/۱) وتبعه رمضان (۲۱۲/۱)۔

---

۲۲ -- وَعَنْ حُمَيْدِ الْحِمْيَرِيِّ قَالَ : لَقِيْتُ رَجُلًا صَحِبَ النَّبِيَّ ﷺ أَرْبَعَ سِنِيْنَ كَمَا صَحِبَهُ أَبُوْ هُرَيْرَةَ قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنْ تَغْتَسِلَ الْمَرْأَةُ بِفَضْلِ الرَّجُلِ أَوْ يَغْتَسِلَ الرَّجُلُ بِفَضْلِ الْمَرْأَةِ. زَادَ مُسَدَّدٌ : وَلْيَغْتَرِفَا جَمِيْعًا. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَزَادَ احْمَدُ فِيْ اَوَّلِهٖ : نَهٰى أَنْ يَمْتَشِطَ أَحَدُنَا كُلَّ يَوْمٍ أَوْ يَبُوْلَ فِيْ مُغْتَسَلِهٖ. وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَه عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ.

ترجمه : حميد حميرىؒ فرمائى : زه يو سړى سره ملاؤ شوم چه د ابو هريرهؓ پشان څلور کاله د نبى ﷺ سره ملګرے پاتے شوے وو، هغه اووئيل : نبى ﷺ دے نه منع فرمائيلے ده چه ښځه د سړى د غسل نه پاتے شوو اوبو سره اولامبى، يا سړے د ښځے د غسل نه پاتے شوو اوبو سره اولامبى۔ مسدد راوى دا الفاظ زياتى نقل کړى دى : دواړه دے ترے چونګونه راخلى۔ (أبوداود، نسائى) او احمدؒ ددے روايت په شروع کښے دا الفاظ زياتى نقل کړى دى : چه نبى ﷺ دے نه هم منع فرمائيلے ده چه په مونږ کښے يو سړے هره ورځ ګومنز کوى او د لامبلو په ځائے کښے متيازے کوى۔ او ابن ماجه دا روايت د عبد الله بن سرجسؓ نه نقل کړے دے۔

تعارف : د حميد الحميرى :

حمير قبيلے ته منسوب دے، د عبد الرحمن ځوئے دے، د ابن عباسؓ او ابو هريرهؓ شاګرد دے، جليل القدر تابعى، ثقه شخص دے، د خپل عمل او فضل په بناء به د بصرے امام يادېدلو۔

تشريح : أَنْ تَغْتَسِلَ الْمَرْأَةُ بِفَضْلِ الرَّجُلِ الخ :

جمهورو دے حديث ته منسوخ وئيلے دے، امام احمدؒ وائى : يو طرف جائز چه زنانه د سړى نه پاتے اوبه استعمال کړى، خو ددے عکس صحيح نه دے۔

بيا که دا حديث منسوخ نشى نو وجه د نهى داده چه سړى دپاره د زنانه پاتے اوبه استعمالول ځکه نه دى پکار چه اوبو کښے مستعملے اوبه پريوتے وى، او دا اګرکه طاهرے دى او نجس نه دى ليکن شرعا د غسل اوبو کښے مطلوب احتراز دے د مستعملے اوبو نه، او غالبا زنانه د پاکئ متعلق احتياط کم کوى، نو سړے منع شو ددے نه چه د زنانه استعمال کړے اوبه استعمال کړى، او زنانه منع شوه ددے نه چه د سړى استعمال کړے اوبه استعمال کړى، ځکه چه د زنانه د طبيعت تقاضا داده چه هغوئ سړو ته دکم پاکى کونکو په نظر ګورى، نو اول کښے لحاظ د نفس الأمر اوشو، او په دويم کښے د زنانو د ګمان، دے دپاره چه زنانه د طهارت باره کښے وسوسے پيدا نشى، او په شريعت کښے دا خبره مطلوب ده چه د تطهر متعلق وسوسے نه انسان محفوظ شى۔ نو ښځه ئے ځکه منع کړه د اودس

كولو نه په باقي مانده اوبو د سرى باندے ، قطعاً للوسوسة۔
نو كه د يوے زنانه وسوسے نه پيدا كيږى نو هغے دپاره د سړى په پاتے شوو اوبو باندے غسل كول بالكل صحيح او جائز دى۔

فائده : د ښځے او سړى دواړو په يو ځائے باندے غسل او اودس كول اتفاقى دى د علماؤ ترمينځ مګر صرف ابن المنذر د ابو هريره نه نقل كړيدى چه هغه به ددے كار نه منع كوله او ابن عبد البرّ د بعض كسانو نه ددے حكايت كړيدے كذا قاله الشوكانى۔ د اتفاقى صورت دلائل ډير زيات دى چه عائشے او نبى عليه السلام به په شريكه غسل كولو لكه چه دا حديث مخكښے تير شويدے۔ او د ابوداود په روايت د ام صبيه جهنيه كښے دى : (قالت اختلفت يدى ويد رسول الله ﷺ فى الوضوء من اناء واحد) ۔ يعنى زما او د نبى عليه السلام لاسونه به ګډوډ كيدل په وخت د اودس كولو كښے د يو لوښى نه۔ او په روايت د ابن عمر كښے دى : (كان الرجال والنساء يتوضؤن فى زمان رسول الله ﷺ من الاناء الواحد) ۔ يعنى په زمان د رسول الله ﷺ كښے به سړو او ښځو د يو لوښى نه اودسونه كول۔ حافظ په فتح البارى كښے وائى ددے ظاهر دا دے چه دوئ به په يو حالت كښے د لوښى نه اوبه راخستلے۔ انظر النيل (١/٣٤)۔

درجة الحديث : رواه ابوداود (٨١) والنسائى (١/١٣٠) قال الحافظ فى بلوغ المرام اسناده صحيح وصحح الشيخ الالبانى فى صحيح ابى داود وتعليق المشكاة (١/١٤٧). فالحديث اسناده صحيح. وله شواهد قوية ايضا ذكرها الشوكانى فى النيل (١/٣٢) ۔

* * * * * * * * *

باب احكام المياه

باب دے په بيان د احكامو د اوبو كښے چه كومے اوبه پاكے دى او كومے نجسے دى ؟۔

مناسبة الباب : واضح دے چه جنب سړے به په كومو اوبو سره غسل كوى، نو دهغه اوبو تعيين كوى۔

٢ – دارنګه مخكښے اودس بيان شو، دلته وائى اودس به په كومو اوبو سره كوى۔

مِيَاهُ: جمع د مَاءٌ ده، همزه په هاء سره بدله شوه، او جمع ئے ځكه ذكر كړه چه د اوبو ډير اقسام او انواع دى، او د هريو جدا جدا احكام دى۔

لكه (١) ماء السماء (٢) ماء البئر (٣) ماء البحر (٤) ماء العين (٥) ماء السيول (٦) الماء المستعمل (٧) الماء القليل (٨) الماء الكثير (٩) الماء المشمس – نمر ګرمے كړے اوبه – (١٠) ماء الحوض فى الصحراء (١١) الماء المستعمل بسور السباع والبهائم۔

په دے ټولو اقسامو كښے **مركزى اقسام څلور** دى ۔

(١) – **يو قسم ماء مطلق** دى، ددے حكم دادے چه دا پخپله هم طاهرے دى او بل شے هم پاكوى، مطهرے دى، دا بيا ډيرو اوبو ته شامليږى :

١ – د باران ، واورے اوګليځ اوبه۔ ٢ – ماء البحر، لكه (هوالطهور ماؤه والحل ميتته) رواه الخمسة. ٣ – ماء زمزم۔ ٤ – هغه اوبه چه رنګ ئے بدل شوے وى په يو ځائے كښے د ډير پاتے كيدو سره، يا د وُنو په پاڼو سره، نه دګندګئ په وجه سره، دا ټولے اوبه پاكے دى، ماء مطلق كښے داخل دى، او ﴿فلم تجدوا ماء﴾ ورته شامل دے، ددے اوبو په موجودګئ كښے تيمم وهل صحيح نه دى، بلكه ددے استعمال واجب دے۔

(٢) – **دويم قسم** : الماء الذى خالطه شئ طاهر : هغه اوبه چه پاك شے ورسره يو ځائے شوے وى، لكه د صابون او زعفرانو او اوړو او خاورو اوبه شوے، ددے حكم دادے چه په دے اوبو سره هم پاكوالے راځى، تر څو پورے چه د مطلق اوبو نوم ورته شامل وى۔

دليل : ميمونےؓ اورسول الله ﷺ د يو خاناك او قصعے نه غسل اوكړو، چه په هغے

كښې اثر العجين (د اوړو اثر) وو۔ رواه النسائي وسيأتي قبل الفصل الثالث۔

٢ - كله چه د رسول الله ﷺ لور زينب وفات شوه، نو رسول الله ﷺ أم عطيةؓ ته حكم اوكړو چه دا په هغه اوبو اولمبوئ چه بيرے په كښې اچولے شوے وى، نو په دے حديثونو كښې هغه اوبه ذكر دى چه په هغے كښې اختلاط د پاك شى راغلے وى، خو د مطلق اوبو نوم ورته شامل دے نو دا هم پاكونكى دى۔

(٣) - **دريم قسم** : الماء الذى لا قته النجاسة : هغه اوبه چه نجاست ورسره ملاؤ شوے وى، ددے دپاره دوه حالتونه دى : ١ - **يو** هغه چه په دے نجاست سره د اوبو خوند، رنگ، بوئى بدل شى، نو په دے اوبو سره پاكوالے مطلقا ناجائز دے۔ او دا اتفاقى مسئله ده۔ كما قال ابن المنذر وابن الملقن. الاجماع لابن المنذر ص (٣٣- رقم ١٠)، مختصر البدر المنير ص (١٨) لابن الملقن. المجموع شرح المهذب (١/ ١١٠) للنووىؒ، المغنى لابن قدامة (١/ ٣) الروضة الندية (١/ ٨) للصديق حسن خان۔

٢ - **دويم حالت** : چه په دے نجاست سره هيڅ يو صفت د درے صفاتو نه نه وى بدل شوے، بلكه اوبه په خپل اطلاق باندے باقى پاتے وى، نو دا قسم اوبه طاهر او مطهرے دى، لګيے وى كه ډيرے۔

دليل : حديث د ابو سعيد خدرىؓ أبوداود (٦٦) ترمذى (١/ ٥٩ ، رقم ٦٦) نسائى ٨٤/١ رقم ٣٢٧ ، بلوغ المرام ص (٣) كښې د بئر بضاعه په باره كښې دے : (الماء طهور لا ينجسه شئ).

(٤) - **څلورم قسم** : ماء مستعمل دى، يعنے هغه اوبه چه د اودس كونكى يا غسل كونكى د بدن نه جدا شى، ددے حكم دادے چه دا د ماءِ مطلق پشان دى، طاهر او مطهر دى۔ كذا فى فقه السنة۔ دا خو اقسام د اوبو شو۔

اوس دا مسئله چه كومے اوبه پاكے دى اوكومے نا پاكے دى ؟ دا مسئله په اول حديث ددے باب كښې بيانيږى ۔

په طهوريت اونجاست د اوبو كښې اختلاف دے :

په دې خبره اتفاق دے چه اوبه تولو نجاساتو لره پاکونکی دی ۔
خو اختلاف په دې خبره کښې دے چه اوبه په کوم وخت کښې پلیتیږی ؟
نو په دې باره کښې يو څو اقوال دی :

١ - اول قول : د امام مالکؒ او اهل ظواهرؒ دے، دوئ وائی : ټولې اوبه طاهرې اومطهرې دی، مګر هغه اوبه چه خوند، رنګ، بوئی کښې ئے تغير راشی، په سبب د وقوع النجاسه سره، لږې وی که ډيرې (لا بسبب الطاهر کالتراب والأوراق ومرور الزمن الکثير عليه) ۔ اودا قول علامه عبد الحی اللکنوی په التعليق الممجد ص (٦٠٢) کښې راجح ګرځولے دے نو قليل او کثير يو شان دی ۔ وهو الحق الذی لا محيد عنه ۔

٢ - دويم قول : د امام ابو حنيفهؒ او شافعیؒ دے چه لږې اوبه پليتيږی په نجاست واقع کيدو سرهؒ او ډيرې اوبه نه پليتيږی په وقوع د نجاست سره، مګر کله ئے چه خوند، رنګ، بوئی بدل شی نو بيا به ډيرې اوبه هم پليتې حسابيږی ۔ نو ګوياکه په ډيرو اوبو کښې د درې واړو ائمهؤ اتفاق شو چه نه پليتيږی ۔ کله چه يو د اوصاف ئے متغير نشی ۔

بيا د ابو حنيفهؒ او شافعیؒ په خپل مينځ کښې په تعيين د لږو او ډيرو اوبو کښې اختلاف دے (١) امام شافعیؒ فرمائی : زه لږې او ډيرې اوبه په قلتين (دوه چاټو) سره معلوموم، که د قلتين نه کم وی نو دا قليلې دی، اوکه قلتين يا قلتين نه بره وی نو ډيرې دی ۔ بيا به خوند، رنګ، بوئی ته کتلے شی که دائے د نجاست په وجه بدل شوی وی نو نجس دی او که نه وی بدل شوی نو پاکې دی ۔ اوکه د قلتين نه کمې وی نو پليتې دی ۔

(٢) او د ابو حنيفهؒ او دهغه د اصحابو په قليل او کثير کښې دولس روايات نقل دی ۔ لکه صاحب د تحفة الأحوذی (١/٦٧) په حواله د التعليق الممجد ذکر کړی دی ۔

مشهور په هغې کښې څلور اقوال دی (١) يو قول دا چه تعيين د قليل او کثير رائے د مبتلیٰ به ته سپارلے شوی دی، (اودا د امام صاحبؒ عادت وو، چه اکثر داسې مسائل به ئے رائے د مبتلیٰ به ته حواله کول) ۔ نوکه د هغه په اجتهاد ډيرې معلوميدلے نو ډيرې به حسابيږی او پليتې به نه وی ۔ الا اذا تغير أحد اوصافه ۔ اوکه د هغه په اجتهاد کمې وی نو کمې به حسابيږی او پليتې به وی ۔ اګرکه اوصاف ثلاثه ئے نه وی متغيره شوی ۔ اودا قول

ئے په در مختار (١٢٨/١) کښے معتبر گرځولے دے، او دا ظاهر الروایت دے، او بحر الرائق کښے وائی : دا معمول به قول دے، او د اکثرو مشائخو نه نقل دے۔

لیکن په دے باندے متأخرینو احنافو رد کړے دے چه عوام په ډیرو اولګو څه پو هیږی د هغوئ گمانونه متفرق دی، بعضو ته به ډیرے اوبه لګے ښکاری، او بعضو ته به لګے اوبه ډیرے ښکاری، نو هغوئ په دے نه پو هیږی ترڅو پورے چه تا ورته خودلی نه وی چه دا لګے دی او دا ډیرے دی۔ نو ددے دپاره یوه منضبطه قاعده بیانول پکار دی چه هغے ته رجوع کوی۔

(٢) نو دویم قول دا کوی : چه ډیرے اوبه هغه لوئی حوض ته وائی چه د یو طرف په خوزلو سره ئے بل طرف نه خوزیږی۔ دا هم یو روایت د امام ابو حنیفهؒ نه دے چه صاحب قدوریؒ راوړیدے۔ لیکن د اخوزول هم نه دی معلوم چه کوم قسم خوزول او په څه سره خوزول دی ؟ نو په دے کښے درے قوله نقل دی : ١ – یو دا چه په اودس کولو سره۔ ٢ – دویم په غسل کولو سره۔ ٣ – دریم په لاس وهلو سره۔ یعنے چه یو طرف کښے لاس وهی یا غسل یا اودس کوی، نو بل طرف نه خوزیږی، نو دا ډیرے اوبه دی، او که خوزیدلے نو دا کمے اوبه دی۔

(٣) دریم مشهور قول عشر فی عشر دے : یعنے لس په لسو کښے څلورو طرفونو ته، یعنے څلویښت گزه څلورو طرفونو ته وی، نو دا مقدار زیاتے اوبه دی، او که ددے نه کمے وی نو کمے دی۔ بیا دا په کومو گزونو معلومولے شی ؟ نو وائی : بذراع الکرباس۔ وهو ست قبضات فوق کل قبضة أصبع قائم۔ (البحر والخانیة، وفی المحیط : انه یعتبر فی کل زمان ومکان ذراعهم۔ رد المحتار : ١٣١/١)۔ ذراع الکرباس اندازه دا ده چه شپږ څله د لاس څلور واره گوتے موتے کړی او غټه گوته ترے جدا اودروی۔ کرباس د وړئ کپړے ته وائی۔ ٢ – یا ذراع المساحة سره معلومولے شی چه وهو سبع قبضات فوق کل قبضة اصبع قائمة۔ ٣ – یا د هرمکان او زمان خپل ذراع مراد دے۔

اعجوبه : دا د احنافو یوه عجیبه مسئله ده چه که اوبه نهه دیرش (٣٩) گزه وی نو په یو څاڅکی متیازو سره تولے پلیتیږی، خو چه څلویښت گزو ته اورسیږی نو بیا په کښے

دَړئ متيازے واچوه هيڅ نه پليتيږي !! دا تناقض او د صريح عقل خلاف خبره ده، اکثر قياسونه چه د نص نه ماخوذ نه وي داسے وي !!۔

(٤) – بل قول دادے چه تعيين د قليل او کثير دادے چه ثمانية في ثمانيةٍ ۔ يعنے آته گزه اوګده او آته گزه پلن حوض وي په څلور طرفونو کښے نو دا کثيرے اوبه دي، او ددے نه چه کمے وي نو هغه قليل دي۔

اوس دا اختلاف ولے راغلے دے ؟ نو ددے وجه داده چه ابو سليمان الجوزجاني د امام محمدؒ نه د ډيرو اوبو باره کښے تپوس اوکړو چه ډيرے اوبه څومره دي ؟ هغه ورته اووئيل : کمسجدي هذا۔ يعنے زما مسجد کچ کړئ۔ روستو بيا ابو سليمان د امسجد کچ کړونو دننه طرفنه آته په آتو کښے وو۔ او د بهر طرفنه عَشْرٌ فی عَشْرٍ وو۔ نو متأخرينو د احتياط په بناء باندے لس په لس قول غوره کړو۔

دا خو د طولِ مقدار دے او عمق کښے هم څو اقوال کوی ۱- بعض وائي چه څلور کولاوے گوتو په اندازه به جور وي ۲- بعض وائي يو لويشت۔ ۳- بعض وائي يو گز . ٤- بعض وائي دوه گزه۔ ٥- هدايه ملا وائي : يكون بحال لاينحسر بالاغتراف : يعنى دومره اندازه جور وي چه په لاس سره اوبه راخستو باندے ئے زمکه نه ښکاره کيږي۔ الدر المختار (۱۲۸/۱-۱۳۱)۔

ليکن د احنافو ددے ټولو اقوالو دپاره هيڅ **دليل نشته** ، نه د کتاب الله نه، اونه د سنت رسول الله ﷺ نه ، او نه د اجماع او نه د قياس صحيح نه ۔ سيوا د أدلهٔ عامه نه لکه صاحب د شرح وقايه د (عَشْرٌ فِیِ عَشْرٍ) دپاره دا دليل راوړے چه نبي ﷺ منع کړے ده د کنستو د کوهي نه د بل کوهي په خوا کښے کم د څلويښت گزونه، دے دپاره چه دا کوهے د هغه بل کوهي نه اوبه رانه کاږي، او اوبه ئے کمے نشي، نو شريعت دا حد گرځولے دے په دے مقام کښے۔ نو وائي مونږ دا حد گرځوو د قليل او کثير دپاره۔

ليکن په دے باندے ابن عابدين په رد المحتار (۱۲۸/۱) کښے رد کړے دے۔ فرمائي : (ورده في البحر بان الصحيح في الحريم انه اربعون من كل جانب) يعنى حديث کښے چه څلويښت گزه ذکر دي نو د هغے صحيح مطلب دا دے چه د هر طرف نه به څلويښت

ثلوېښت ګزه وي او زمونږ مدعي خو دا ده چه مجموعه به ثلوېښت ګزه وي. نو حديث زمونږ د مدعى خلاف دے.

دا رنګه فرمائي : (والتقدير بعشر في عشر لا يرجع الى اصل يعتمد عليه) يعني پدے باره کښې مونږ سره هيڅ داسے دليل نشته چه اعتماد پرے اوکړو. بيا وائي : دا خبره رايه د مبتلي به ته سپارلے شويده (بناء على عدم صحة ثبوت تقديره شرعاً. واليه رجع محمد) آهـ ځکه چه دا اندازه شرعا نده ثابته. او دے ته امام محمد هم رجوع کړيده (١٢٨/١).

(٢) – او امام بغوىؒ په احنافو باندے داسے رد کوى : وقدر بعض اصحاب الرأى الماء الكثير الذى لاينجس بان يكون عشرة اذرع فى عشرة اذرع وهذا تحديد لايرجع الى اصل شرعي يعتمد عليه، شرح السنة (٥٩/٢) .يعني د بعض اصحاب الرأى دا تحديد د لس په لسو کښې هيڅ شرعي اصل نه لرى چه په هغې اعتماد اوکړے شي.

(٣) دغه شان امام نوويؒ په المجموع (١٧٤/١) کښې هم وئيلي دى. (٤) علامه شوکانيؒ فرمائي : وللناس فى تقدير القليل والكثير اقوال ليس عليها اثارة من علم فلا نشتغل بذكرها. نيل الاوطار (٤٠/١).

(٤) – علامه ابن قدامه فرمائي : وليس معهم نص ولا اجماع المغنى (٤٠/١).

د احنافو سره په دے تحديد نه نص شته او نه اجماع.

(٥) محدث الهند شاه ولي الله صاحب وائي فرمائي : وبالجملة فليس فى هذا الباب شئ يعتمد به ويجب العمل به. حجة الله (١٨٥/١) .يعني خلاصه دا چه پدے باب کښې د احنافو سره هيڅ دليل نشته چه اعتماد پرے اوکړے شي.

او د اول قول دپاره چه هغه ظاهر الروايت دے چا استدلال ذکر کړے دے په حديث د استيقاظ باندے، كما مرّ فى اول باب سنن الوضوء، او حديث د ولوغ الكلب او حديث النهى عن البول فى الماء الدائم. چه په ولاړو اوبو کښې د بول نه ځکه منع راغله چه اوبه پليتيږى په وقوع د نجاست سره.

ليکن ددے حديث تحقيق دادے چه په دے حديث کښې رسول الله ﷺ دانه دى

فرمائيلي چه تاسو بول په هغه ولاړو اوبو كښې مه كوئ چه عشرا في عشر ته نه وي رسيدلي۔ اوكه چرې عشرا في عشر ته رسيدلي وي، نو بيا بول كولو سره اوبه نه پليتيږي، دا خبره حديث كښې نشته۔ بلكه حديث كښې د هر قسم اوبو كښې د بول كولو نه منع راغلې ده، لګې وي اوكه ډيرې، عشرا في عشر وي اوكه كمې وي، بلكه د منع حكمت دادې چه په دې بول كولو سره جمع بين الافراط والتفريط راځي، ځكه چه اوبو كښې متيازې كول او بيا بيرته په هغې غسل كول افراط او تفريط دې، او په دې حديث كښې دا خبره نشته چه دا اوبه پرې پليتې شوې، بلكه يو حكمت ئې دغه شو، دويم حكمت دادې چه طبعا د انسان بول بد ګنړلې شي، او بدبويه وي۔ نو كيدې شي چه دا اوبه به بل مسلمان استعمال كړي، نو اګرچه نجس به نه وي ليكن د هغه طبيعت باندې دا ډير بوج جوړيږي، چه هغه داسې اوبه استعمال كړي چه بول په كښې شوې وي اګركه ډير لوئې حوض ولې نه وي ۔ حاصل دا چه : دا عام حديث دې اوپه مدعىٰ باندې صريح نه دې، ځكه عشرا في عشر مسئله په دې كښې نشته، بلكه د مدعىٰ سراسر خلاف دې۔ ځكه د لس په لسو نه زياتو اوبو ته هم دا منع شامل ده نو هغې سره به څه كوې ! فتدبر فيه !۔

استدلالات الأئمة :

دويم مذهب د امام شافعيؒ دې چه هغه په قليل او كثير كښې په قلتين سره فرق كوي۔ د اپه حديث د ابن عمرؓ كښې را روان دې۔اول حديث د فصل ثالث دې۔ چه په هغې كښې دا الفاظ دي (اذا كان الماء قلتين لم يحمل الخبث)، په بل روايت كښې د ابوداود كښې دي (لاينجس)۔

طريقه د استدلال داسې ده : چه په دې حديث كښې د قليل او كثير اوبو ترمينځه تحديد شوې دې چه كله اوبه دوه قلتينو (چاټو) ته اورسي نو د پليتئ واقع كيدو په وجه نه پليتيږي ۔ دې نه معلومه شوه چه كه د قلتينو نه كمې وي نو بيا د پليتئ واقع كيدو په وجه پليتيږي ۔

اعتراضات الحنفية او د هغې جائزه :

احناف پدې حديث باندې څو اعتراضونه كوي :

(۱) - **اول** : داچه دا حدیث سنداً، متناً او معنیً مضطرب دے۔ سندا خو څکه مضطرب دے چه ددے حدیث درے راویان دی :

۱ - یو روایت د ولید بن کثیر دے، دده په استاذانو کښې اختلاف دے :

۱ - کله دا محمد بن جعفر بن الزبیر الأسدی عن عبد الله بن عبد الله بن عمر نه نقل کوی۔ ۲ - اوکله د محمد بن عباد بن جعفر المخزومی عن عبد الله بن عمر نه روایت کوی۔ ۳ - اوکله دابن عمرؓ څوئے عبد الله یا دیړی، کله عبید الله۔ ٤ - اوکله زهری عن سالم عن ابن عمر نقل کیږی۔ ٥ - او کله موقوف علی ابن عمر نقل کیږی، کما فی أبی داود۔ اوکله مرفوع وی، کما فی الترمذی۔

او متناً اضطراب دادے چه په بعض روایتونو کښې (اذا کان الماء قلتین لم یحمل الخبث) راغلی، او په بعضو کښې (قلتین اوثلاثا) وارد دے، کما فی الدارقطنی وابن عدی۔ دارنګه په بعضو کښې (أربعین قلة) الفاظ راغلی دی۔ کما فی الدارقطنی۔ او په بعضو کښې (أربعین دلواً) راغلے دے۔

اود اضطراب فی المعنیٰ تشریح داده چه د (قلة) لفظ ډیرے معنے دی، لکه صاحب د قاموس اللغات نقل کړی دی : ۱ - د غر سر۔ ۲ - منګے۔ او دے کښې هم تفاوت دے، بعضے واړه او بعضے غټ وی۔ ۳ - د انسان قد ته هم وائی۔ نو د (قلة) تعیین په عربئ کښې نشته۔ نو اے شوافعو ! تاسو کومه معنیٰ مراد کوئ ؟ نو په دے حدیث عمل نشی کیدے۔

۲ - او صاحب هدایه پرے داسے اعتراض کړے دے چه د (لم یحمل الخبث) معنیٰ داده چه (هو یضعف عن احتمال النجاسة) یعنے کله چه اوبه دوه چاټو ته اورسی او پلیتی په کښې واقع شی نو هغه اوبه کمزورے دی، پلیتی نشی پورته کولے، نو نجسے دی۔

لیکن دده دا اعتراض بے ځایه دے، او دا تاویل ئے **غلط** دے، وجه داده چه روایت د أبوداود او ابن حبان کښې داسے لفظ راغلے دے (لاینجس) یعنے نه پلیتیږی، او دارقطنی (۲۲/۱) کښې څوارلس (١٤) ځائے د (لم ینجسه او لاینجس) الفاظ موجود دی۔ خو د صاحب **هدایه** ډیر تعلق د احادیثو سره نه وو، څکه ئے داسے غلط تاویل کړے دے چه د بل روایت

سره صریح مخالف دے۔ ٢- دویمه وجه داده چه حافظ عسقلانی ؒ فرمائی : که چرے دا معنیٰ شی نو بیا د قلتین قید هیڅ معنیٰ نه جوړیږی ځکه چه که ددے نه کمے اوبه وی نو هغه په طریقه أولیٰ سره پلیتی نشی پورته کولے۔ نو دا قید د قلتین بیا ولے لګوی ؟ فتدبر۔ اوس احنافو ته **جوابونه** دادی :

احنافو چه په حدیث د (قلتین) باندے کوم اعتراضونه کړی دی، هغے باره کښے شیخ رشید احمد ګنګوهی په الکوکب الدری (٤٣) کښے فرمائی :

وأنت تعلم أن کل ذلك تعسف۔

یعنے : زمونږ اعتراضونه ضعیف دی، او په تکلف بناء دی۔ او بیائے د هغے جوابونه ورکړی دی۔ په حدیث کښے هیڅ قسم اضطراب نشته ځکه اضطراب هله حدیث ضعیف کوی چه د هغے جمع نشی کیدے، یا ټول طرق صحیح وی، او دلته جمع هم کیدے شی او بعضے طرق ضعیف هم دی، چه تشریح ئے داده :

چه اضطراب په سند کښے نشته، ځکه چه ولید بن کثیر دا حدیث د محمد نه آوریدلے دے، یعنے محمد بن جعفر او محمد بن عباد نه، او بیا محمد بن جعفر د دواړو ځامنو د عبد الله بن عمرؓ نه آوریدلے دے، چه عبد الله او عبید الله دی۔ او دا دواړه ثقه، ثبت راویان دی۔ نو ولید بن کثیر کله د محمد بن جعفرعن عبد الله بن عبد الله بن عمر نه روایت نقل کوی، اوبل کرتے د محمد بن جعفر عن عبید الله بن عبد الله بن عمر المصغر نه روایت کوی۔او کله ولید د محمد بن عباد عن عبد الله بن عبد الله بن عمرؓ نه روایت کوی، نو په دے کښے هیڅ تکلف نشته، ټول ثقه راویان دی، نو دا اضطراب قادح نه دے په صحت د حدیث کښے، او دا جمع امام نووی ؒ کړے ده چه صاحب د بحر الرائق (٨١/١) ترے نقل کړیده۔ (کذا فی أبکار المنن : ١٤)۔

حافظ ابن حجر ؒ په تلخیص (١٨/١) کښے فرمائی : دا اضطراب صحت د حدیث ته مضر نه دے، ځکه نتیجه ددے اضطراب به دا راوځی چه په دے کښے انتقال د یو ثقه نه بل ثقه ته راغلے دے او دامضر نه دے۔

لیکن بیا فرمائی : دا توفیق به هله کیږی کله چه ټولے طریقو ته صحیح اووئیلے شی،

لیکن صواب او حق خبره داده چه دا حدیث په روایت د ولید بن کثیر عن محمد بن عباد بن جعفر عن عبد الله بن عبد الله بن عمرؓ المکبر ـ وعن محمد بن جعفر بن الزبیر عن عبید الله بن عبد الله بن عمرؓ المصغر نقل دے، او دا په کښې صحیح سند دے، باقی خطاء دی۔ هاؤ ! یو دریمه طریقه هم صحیح راغلې ده (رواها الحاکم) د حماد بن سلمه عن عاصم بن المنذر عن عبد الله بن عبد الله بن عمر عن أبیه، دیته ابن معینؒ صحیح وئیلے ده۔ نو بناء په دے باندے د جمع طریقه دا شوه چه نور سندونه ضعیف دی او صرف دا درے سندونه صحیح دی، نو اضطراب ختم شو۔ او ددے اضطراب فی السند تحلیل امام دارقطنی ډیر په ښه انداز کړیدے او عظیم آبادی د هغه تحسین کړیدے۔ التعلیق المغنی (١٧/١)۔

٢ - او هرچه اضطراب فی المتن دے، هغه هم نشته تردے چه عمل پرے اونه کړے شی، بلکه کوم روایت کښې چه (أربعین قلة) راغلي هغه ضعیف جدا دے، په سند کښې ئے قاسم بن عبد الله العمری دے، امام احمدؒ فرمائی : دا موضوعی حدیثونه جوړوی، دروغژن دے، حدیث ئے خلقو پرېښے دے۔

اوکوم روایت کښې چه (قلتین، او ثلاثًا) په شك سره راغلي، نو دا شك یا د حماد نه واقع شوے یا د عاصم بن المنذرؒ نه، ما سیوا د دوئ نه چه کوم راویان د عبید الله بن عبد الله نه نقل کوی، هغه قلتین بغیر د شك نه ذکر کوی، نو روایت د شك بیا راجع کیږی روایت د قلتین ته، کوم چه بے شك دے۔

٢ - او علامه سندیؒ فرمائی : چه په دے روایت کښې هم شك نشته بلکه تحدید په قلتین سره ددے دپاره نه دے چه زیادت پرے منع دے، بلکه دادے دپاره دے چه د قلتین نه نقصان منع دے، نو د قلتین مقدار نه به کمے نه وی، اوکه زیاتے شی هر څومره چه وی، هغه منع نه دی۔

دارنګ روایت د (أربعین دلواً) هم ضعیف دے کذا فی الدارقطنی (٢٧/١) نو صحیح روایت د (قلتین) پاتے شو، او اضطراب معنوی هم نشته، څکه (قلة) اګرچه مشترك ده په ما بین د سر د غر او سر د سړی او منګی کښې مګر رأس الجبل او رأس الرجل دلته نشی

مراد کیدے، وجه داده چه دلته مقصود تحدید دے، او په هغے سره تحدید نه حاصلیږی، نو معلومه شوه چه دلته به مراد منګے وی، او ذ هغه منګی په یو حدیث کښے تعیین راغلے دے (من قلال هَجَر)۔ یعنے د هجر علاقے منګے مراد دے او هجر په یمن کښں یوه علاقه ده چه هلته نه به دا منګی راوړلے شو بعضے وائی چه دا مدینے ته نزدے علاقه وه۔

دا حدیث اګرچه د مغیره بن صقلاب – متکلم فیه – راوی په وجه ضعیف دے، مګر د نورو مؤیداتو لکه د اجماع په وجه معمول به دے۔ وجه داده چه د صحابوؓ په دور کښے د هجر منګی مشهور وو، نبی ﷺ به هغه په تشبیه کښے ذکر کول، لکه په حدیث د معراج کښے دی (واذا بنقها مثل قلال هجر – والبنقة هی الجرة) دارنګه عربو دا په خپلو اشعارو کښے ذکر کول، او دا غټ منګی وو، د چاټو پشان۔ عربو پیژندل۔

بلـه دا چه نبی ﷺ خو د بیان دپاره راغلے وو، هغه مبهمے خبرے نه کوی، چه صحابهؓ پرے نه پوهیدل، نو هغوئ ته د (قلتین) مقدار معلوم وو چه د هغے امام شافعیؒ اندازه لګولے ده، اندازه ئے پنځه سوه رطله ده۔ کذا فی مجمع البحار، کما فی نیل الاوطار (۳۸/۱) والروضة الندية ص (۱۳) او د یوے چاټئ د اوبو اندازه (۹۰) لیټر او د دواړو چاټو (۱۸۰) لیټره جوړیږی۔

امام نوویؒ په المجموع (۱۷۹/۱) کښے فرمائی: قال الخطابی قلال هجر مشهورة الصنعة معلومة المقدار لاتختلف كما لا تختلف المكاييل والصيعان المنسوبة الى البلدان قال وقلال هجر اكبرها واشهرها لان الحد لايقع بالمجهول وقال الشيخ ابوحامد فی تعليقه: قال ابواسحق ابراهيم بن جابر صاحب الخلاف: سألت قوما من ثقات هجر فذكروا ان القلال بها لا تختلف، وقالوا قايسنا قلتين فوجدناهما خمسمائة رطل. انتهىٰ۔

نو دا **حدیث د قلتین** سندا، متنا او معنی **صحیح** دے، او عام علماؤ لکه امام ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن حجر عسقلانیؒ، عبد الحی لکهنویؒ، رشید احمد ګنګوهیؒ، شاه ولی الله دهلویؒ ورته صحیح وئیلے دے۔ لکه شاه صاحب په حجة الله البالغه (۱٤۷/۱) کښے فرمائی: (وحديث القلتين أثبت من ذلك كله بغير شبهة). وصححه الالبانی فی ارواء الغليل (۱/ ٦٠– رقم ۲۳) و الشوكانی فی نيل الأوطار (۱/ ۳۷) وابن الجوزی فی التحقيق

(١/٣٣). شيخ الاسلام ابن تيميه فرمائي : اكثر اهل العلم بالحديث على انه حديث حسن. كذا في توضيح الاحكام (١/١٢٩)۔

فائده : صاحب هدايه (١/٣٥) ددې حديث نه دويم جواب دا کړې چه (ضعفه أبو داود) دې روايت ته أبوداود ضعيف وئيلې دې، نو په دې خبره کښې **خطاء** شوې دې، لکه دده دا خطائي محققينو احنافو هم منلې ده، ځکه چه په دې روايت کښې أبوداود هيڅ ضعف نه دې بيان کړې، بلکه دا د صاحب هدايه خطائي شمارلې شي، لکه داخبره محققينو کړې ده۔ وذكره في درس ترمذي (١/ ٢٧٢) هغه بيا عذر بيان کړې ليکن هغه هم غلط دې۔

اوس دلائل د اول مذهب :

چه ټولې اوبه طاهرې مطهرې دي، او د قليل او کثير فرق نشته، مګر کله چه يو د درې اوصافو نه ئې متغير شي نو بيا به نجس وي۔

١ - **اول دليل** : آيت : وينزل عليكم من السماء ماء ليطهركم به۔ الانفال آيت (١١) ددې آيت نه معلوميږي چه ترڅو اوبو ته اوبه وئيلې کيږي او نور اجزاء پرې غالب نه وي نو دا خپله هم پاکې دي او نور څيزونه به پرې هم پاکيږي۔

٢- **دويم دليل** : حديث د أبو سعيد الخدريؓ دې (أخرجه الترمذي : ١/٢٠، وابوداود : ١/١١، باسناد صحيح) فصل ثاني کښې را روان دې : چه نبي ﷺ نه تپوس اوشو (أنتوضأ من بئر بضاعة، وهي بئر يلقى فيها الحيض ولحوم الكلاب والنتن ؟ فقال رسول الله ﷺ : ان الماء طهور لا ينجسه شئ)، وكذا أخرجه البيهقي : ١/٢٥٧، والنسائي وأحمد)۔

په دې حديث کښې (الماء طهور) کښې الف لام استغراقي دي، يعنې ټولې اوبه پاکې دي ځکه په دې کښې نبي ﷺ د اسې نه دي فرمائيلي چه (ان هذا الماء طهور) چه الف لام عهدي شي۔ بلکه په طريقه د قاعده کليه سره ئې اوفرمائيل، دې دپاره چه په امت باندې آساني شي، اوکه الف لام عهدي وې نو بيا پکار ده چه په (ان هذا الماء) سره تعبير شوې وې -

بله دا چه اصولی شرعی قاعده ده چه العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص السبب نو دلته عام الفاظ استعمال شویدی اګرکه تپوس د کوهی په باره کښې شویدے۔

اوکومو علماؤ چه دا خبره کړے ده چه دلته رسول الله ﷺ د اوبو خلقت بیانوی چه اوبه طبعاً پاکے دی، او په نجاست عارضی سره پلیتیږی، نو دا خبره صحیح نه ده، ځکه چه دا سوال د صحابوؓ دلالت کوی په دے خبره چه هغوئ خلقت د اوبو پیژندلو چه پاکے دی، خو دائے نه پیژندل چه آیا په وقوع د نجاست سره پلیتیږی که نه ؟۔

دارنګه جواب د نبی ﷺ په طریقه د عموم سره ددے خبرے دلیل دے چه هر قسم اوبه پاکے دی۔ او ستاسو چه کوم شك دے چه دے کوهی ته خو ګندونه پریوځی نو دا شك صحیح نه دے، بلکه دا اوبه پاکے دی، په همدے حالت کښې هم ۔ دارنګه صحابو د اوداسه متعلق تپوس کړے وو چه ددے کوهی د اوبو نه اودس کول جائز دی ؟ نو که د نبی علیه السلام تخصیص ددغه کوهی د اوبو مراد وے نو داسے جواب پکار وو چه توضئوا منها فانه طهور۔ ددے کوهی اوبه پاکے دی اودسونه ترے کولے شئ، بلکه نبی علیه السلام په جواب کښې عامه خبره ذکر کړه چه هر قسم اوبه پاکے دی په هیڅ شی نه پلیتیږی (مګر چه خوند، رنګ او بوئی ئے د نجاست په وجه بدل شی) نو دا کوهے هم پدے ګندونو پریوتو سره ندے پلیت۔

شوافع دا وائی چه دا اوبه د قلتین نه زیاتے وے، ځکه نبی ﷺ ورته اووئیلے (ان الماء طهور) نو (ان الماء) کښې چه کوم عموم دے هغه خاص شوے دے په (قلتین) سره، لأن الخاص یقضی علی العام ویبینه الخ۔

٢ - **دویم دلیل** : ترمذی، ابوداود، ابن ماجه د ابن عباس‌ؓ نه راوړے دے لکه مخکښې په مسئله وضوء بفضل المرأة کښې تیر شو، چه (اغتسل بعض أزواج النبی ﷺ فی جفنة فأراد رسول الله ﷺ أن یتوضأ منه، فقالت یا رسول الله ! انی کنت جنبا، فقال : ان الماء لا یجنب) وسنده صحیح۔

نو دلته صراحت راغلے چه هیڅ اوبه نه پلیتیږی۔ او ددے (ان الماء لا یجنب) نه معلومه شوه چه مخکښې حدیث کښې (الماء طهور لا ینجسه شئ) کښې الف لام

استغراقي دى نه عهدي۔

٣ - دليل : بيهقي (٢٥٨/١) د ابو سعيد خدري نه روايت كړے (قال : كنا مع رسول الله ﷺ فأتينا على غدير فيه جيفة، فتوضأ بعض القوم وأمسك بعض القوم، حتى يجئ رسول الله ﷺ فجاء النبي ﷺ في أخريات الناس، فقال : توضئوا واشربوا فان الماء لا ينجسه شئ)۔

په دے حديث كښے هم د حديث د بئر بضاعه پشان الفاظ دى، دليل دے چه هلته الف لام استغراقي يا جنسي دى، عهدي نه دى۔

كه څوك اووائي چه دا اوبه عشرا في عشر وے، او هغه خو پاكے دى اګرچه نجاست په كښے پريوځى۔ ددے **جواب** دا دے چه د اخبره د آخر د حديث سره سمون نه خورى ځكه چه الماء كښے مطلق ماء ذكر دى، كه عشرا في عشر وى او كه ددے نه كمے وى، يعنے هر قسم اوبه نه پليتيږى۔ فتدبر!

بل دا چه په دے څه دليل دے چه دغه حوض عشرا في عشر وو ؟۔ دارنګه نبي ﷺ دلته خاص جواب ورنكړو چه ان هذا الماء لاينجس بهذه الجيفة بلكه لا ينجسه شئ كښے ئے په عام لفظ سره تعبير اوكړو او نكره په سياق د نفي كښے دلالت په عموم كوى، نو معنى دا شوه چه اوبه په هيڅ شى سره نه پليتيږى اګركه مردار حيوان يا نور ګند پكښ پريوتے وى (تردے چه درے صفتونو كښے ئے يو صفت بدل شى)۔

٤ - دليل : بيهقي (٢٥٩/١) كښے د عمر فاروق رضي الله عنه واقعه نقل كړے ده (أنه ورد حوض مجنة فقيل : يا أمير المؤمنين ! انما ولغ الكلب فيه آنفا، فقال : انما ولغ الكلب بلسانه فشرب وتوضأ) ۔ دا حديث هم دلالت كوى په دے چه اوبه په نجاست پريوتو سره نه پليتيږى ترڅو پورے چه اوصاف ثلاثه ؤ كښے ئے يو صفت بدل شوے نه وى۔

٥ - دليل : بيهقي (٢٥٩/١) د سعيد المسيب اعلم التابعين قول ذكركړے دے چه دا فرمائي : (ان الماء طهور كله لا ينجسه شئ)۔

٦ – دارنګه امام زهري نه نقل دى (الغدير تموت فيه الدابة قال :الماء طهور ما لم يتغير طعمه او لونه او ريحه)۔

٧ - دليل : ابن عباس فرمائي : (أربع لا ينجس : الانسان، والماء، والثوب،

والأرض)۔ بل روایت کښې دی (الماء لا یجنب)۔
دا ټول احادیث او آثار صریح دی په استدلال کښې۔
سوال : دا قید د کوم ځائے نه لګوی چه خوند، رنګ، بوئی ئے نه وی متغیر شوے، دا خو دے مذکوره ټولو حدیثونو کښې نشته، نو تاسو هم په اطلاق ددے احادیثو عمل اونه کړو؟۔ **جواب** : دادے چه مونږ دا قید په دے حدیثونو کښې د دوه وجونه لګولے دے :
١ – یو د حدیث په وجه ابن ماجه روایت کړے دے او هغه اګرچه ضعیف مرسل دے مګر معنیٰ ئے صحیح ده ، کما فی بلوغ المرام (٢٦) (الا ما غلب علی لونه او ریحه او طعمه)۔
٢ – دویم په اجماع د مسلمانانو سره د اثابته ده چه کله نجاست په اوبو کښې پریوځي او خوند، رنګ، بوئی ئے بدل شي نو دوئ ورته نجس وائی۔ او ددے اجماع مأخذ دادے چه عقل ددے خبرے ګواهي کوی چه کله د اوبو خوند، رنګ، بوئی بدل شي نو دیته څوك اوبه نه وائی، بلکه دیته نجاست وائی دارنګه قرآن هم ګواه دے ﴿فلم تجدوا ماء﴾ او د نجاست والا اوبو ته ماء نه وئیلے کیږی۔ په دے باندے اطلاق د اوبو نه کیږی۔ نو د ماء مطلق نه اووځی۔ لکه دا اجماع امام شافعیؒ او امام بیهقیؒ بیان کړیده او امام نوویؒ په المجموع ١١٠/١ او ابن المنذر په الاجماع ص (٣٣ – رقم ١٠)، او ابن الملقن په مختصر البدر المنیر ص (١٨) ۔ او ابن قدامه په المغنی (٣/١) اونو اب صدیق حسن خان په الروضة الندیة (٨/١) او شوکانی په نیل الأوطار (٣٥/١) او المهدی په البحر الزخار ص (٣١) کښې بیان کړیده۔
بیا شوافع وائی : زمونږ قول راجح دے ځکه چه حدیث القلتین دلیل دے، اوکوم حدیثونه چه تاسو پیش کړل د هغے تخصیص په حدیث القلتین سره شوے دے، بئر بضاعه د (قلتین) نه زیات وے، او (الماء طهور لا ینجسه شئ) نه مراد ما زاد علی القلتین دی۔
لیکن **اول قول راجح** دے چه د مالکیه ؤ قول دے، ځکه چه اصل په أشیاؤ کښې حِل او طهارت دے تردے چه دلیل د نجاست راشي، او دویم نمبر **قوی قول** د شوافعو دے،

د وجې د حدیث القلتین نه – او هرچه مذهب الأحناف دے نو دا **ضعیف** او کمزورے دے، د وجې د عدم دلیل نه، دویٔ سره صرف قیاسونه دی۔ کما عرفتَ۔

اشکال او جواب :

دلته یو قوی اشکال او مهم **اعتراض** په حدیث کښې راغلو هغه دا چه حدیث د ابن عمرؓ (اذا کان الماء قلتین لم یحمل الخبث) د مفهوم نه معلومیږی چه کله اوبه د قلتین نه کمې وی نو نجاست قبلوی، نو د مفهوم تقاضا داده چه لګې اوبه چه د قلتین نه کمې وی پلیتیږی۔ او حدیث د أبو سعید الخدریؓ (انما الماء طهور لا ینجسه شئ) منطوق دا تقاضا کوی چه هیڅ اوبه نجاست نه قبلوی۔ لګې وی که ډیرے۔ نو تعارض راغلو په مابین د مفهوم او منطوق کښې ؟۔

جواب : دامسلمه أصولی قاعده ده چه کله د منطوق او مفهوم تعارض راشی نو منطوق لره اعتبار وی په مقابله د مفهوم کښې۔ نو په منطوق به عمل کیږی، اومفهوم به پریخودلے کیږی۔ نو حدیث القلتین به منو چه دوه چاټیٔ اوبه په نجاست پریوتو سره نه پلیتیږی، خو مفهوم له به اعتبار نه ورکوو (چه دوه چاټو نه کمې وی نو هغه به ګنې پلیتے وی)، ځکه چه مفهوم کښې عموم نه وی۔ اود دغه احادیثو الفاظ عام دی۔ او اکثر علماء مفهوم له اعتبار ورکولو نه منکر دی ۔

۲ – یا دویم جواب داسے کیږی چه د (قلتین) نه چه بره وی، نو هغے کښې نجاست تاثیر نه کوی، او چه قلتین نه کمے وی، نو دا به کله نجاست قبلوی، په دے وجه چه خوند، رنګ، بوئی کښې به ئے تغیر راغلے وی۔ نو بیا د مفهوم القلتین دپاره هغه حدیث د (الا ما غیّر لونه الخ) مقید شو، کوم چه مؤید بالاجماع دے۔ اوکله به نجاست نه قبلوی، خو شارع دلته یقینا دا خبره نه ده کړے چه (قلتین) نه چه کمے وی نو هغه به ضرور نجاست قبلوی، بلکه هغه په حکم د مسکوت عنه کښې دے۔ نو دلائل خارجیه ته به ګورو، که خوند، رنګ، بوئی کښې ئے تغیر راغلے وو، نو دابه د هغه حدیث مؤید بالاجماع په وجه سره نجاست قبلوی۔ اوکه اوصاف ثلاثه کښې ئے تغیر نه وو راغلے، نو بیا نجاست نه قبلوی، د وجې د منطوق د حدیث د ابوسعید خدریؓ نه۔

او دے جمع ته علامه شوکانیؒ په السیل الجرار (۱/٥٥) کښې اشاره کړے ده (وکذا فی الدین الخالص ۲/۳۰۰)۔

بهر حال د اُمت د آسانئ اود شریعت د حکمت پیشِ نظر قول المالکیه راجح دے۔

لکه چه علامه عبد الحی اللکهنوی هم دے قول ته ترجیح ورکړیده هغه فرمائی :

ولقد خضتُ فی بحار هذه المباحث وطالعت لتحقیقها کتب اصحابنا المبسوطة و کتب غیرهم المعتمدة فوضح لنا ما هو الارحج منها وهو الثانی وهو مذهب المالکیة انه لا تنجس الا ما تغیر لونه او طعمه او ریحه. (التعلیق الممجد – ٦٢) ۔

یعنے زه ددے مسئلے د بحثونو د دریابونو مینځ ته ننوتلم او ددے د تحقیق دپاره مے د احناف او غیر احنافو تول معتمد لوئی کتابونه مطالعه کړل نو ددے نه مونږ ته دا خبره واضح شوه چه راجح قول د مالکیهؤ دے چه اوبه په هیڅ شی نه پلیتیږی (لږے وی که ډیرے) مګر کله چه خوند، رنګ، بوئی ئے بدل شی (بیا به پلیتے وی)۔

او سعایه کتاب کښے فرمائی : کچرے امام **ابوحنیفه** ته د (ان الماء طهور لاینجسه شئ) حدیث رسیدلے وے نو هغه به قیاسات او دغه مذکوره تحدیدات پریخودنی وے او په حدیث به ئے ضرور عمل کولے۔ نقله عنه المبارکفوری فی ابکار المنن فی تنقید آثار السنن ص (۱۲) ۔

تنبیه : هرکله چه دا ثابته شوه چه تولے اوبه پاکے دی، او نه نجس کیږی، نو ددے مطلب دا نه دے چه ګندګی په کښے پریوتو اوبو باندے اودس کول خامخا ضروری دی، بلکه مطلب دادے چه که نورے پاکے اوبه نه وی نو ستا دپاره دا سے قسم اوبه استعمالول شرعا جائز دی، اودس په دے اوبو سره هم جائز کیږی۔ د وجے ددے دلائلو مذکورو نه۔ اګرچه بهتر او أفضل دادے چه طهارت اونظافت په داسے اوبو سره حاصل کړے شی چه په هغے کښے هیڅ قسم ګندګی نه وی پریوتی۔

د کوهیانو د مسائلو شرعی حیثیت

فائده مهمه : هرکله چه دا ثابته شوه چه تولے اوبه پاکے دی، نو په دے باندے بله مسئله تفریع شوه هغه داچه کومے مسئلے چه د کوهیانو په باره کښے فقهاؤ جوړے کړی

دی هغه باطلے او بے ځایه دی. مثلا د دوئ دا مسئله چه که چرګه یا کونتره کوهی ته پریوځی نو څلویښتو نه تر شپیتو پورے بوقے، او که مږه یا چینچنړه پریوځی نو شلو نه تر دیرشو پورے بوقے به راوباسی، دا تحدیدونه صحیح نه دی، ځکه دا مسائل رسول الله ﷺ أمت ته نه دی بیان کړی، که دا ضروری مسائل وے نو نبی ﷺ به ضرور څه فرمان کړے وے.

او د امام ابو حنیفهؒ نه چه د اخبرے نقل دی، نو هغه د بعض تابعینو تقلید کړیدے په دے مسائلو کښے، چه هغوئ د موقع او محل مطابق فتویٰ ورکړے ده، او دا څه حکم شرعی نه دے، هغه آثار مصنف عبد الرزاق (١/٨٠) او ابن أبی شیبه (١/١٦١) راوړی دی ، لکه عطاءؒ نه نقل دی چه سپے کوهی ته پریوځی نو شل بوقے به ویستلے شی، او کله چه مړ شی نو بیا به شپیته یا اویا بوقے ویستلے شی.

(٢) د ابراهیم نخعیؒ نه نقل دی چه پیشو پریوځی نو څلویښت بوقے به ویستلے شی.

٣ – د عطاءؒ نه د چرګے باره کښے نقل دی چه یوه بوقه به ویستلے شی، او که پړسیدلے وی نو بیا به څلویښت بوقے ویستلے شی.

٤ – د علی رضی الله عنه نه نقل دی چه مږه پریوځی نو دومره اوبه به اوباسی چه غالب ګمان ئے د پاکیدو راشی.

لیکن دا قول هم د احنافو د مذهب خلاف دے، هغوئ ددے نه سیوا د نورو بوقو د عدد تعیین کوی، کما عرفت فی الفقه.

٥ – د امام زهریؒ اثر: قال معمر : سألت الزهری عن دجاجة وقعت فی بئر فماتت، فقال : لا بأس أن یتوضأ منها ویشرب الا أن تنتن حتی یوجد ریح نتها فی الماء فتنزح. أخرجه عبد الرزاق فی المصنف (١/٨١).

دا وجه ده چه شاه ولی الله محدث الهند صاحبؒ په حجة الله البالغة (١/١٤٧) کښے فرمائی : و قد اطال القوم فی فروع موت الحیوان فی البئر والعشر فی العشر والماء الجاری ولیس فی کل ذلك حدیث عن النبی ﷺ ألبتة، وأما الآثار المنقولة عن الصحابة و التابعین کأثر ابن الزبیرؓ فی الزنجی وعلیؓ فی الفارة والنخعی والشعبی فی نحو السنور، فلیست مما یشهد له

المحدثون بالصحة، ولا مما اتفق عليه جمهور أهل القرون الأولىٰ، وعلى تقدير صحتها يمكن أن يكون ذلك تطييبا للقلوب، وتنظيفا للماء، لا من جهة الوجوب الشرعي، كما ذكر ذلك في كتب المالكية، ودون نفي هذا الاحتمال خرط القتاد. وبالجملة : فليس في هذا الباب شئ يعتد به، ويجب العمل عليه. وحديث القلتين أثبت من هذا كله، بغير شبهة. انتهى۔

يعنې احنافو په كوهي كښې د حيوان مړ كيدو او لس په لسو كښې او د ماء جاري په مسائلو كښې ډير اوږد والې كړيدې خو پدې تولو كښې هيڅ حديث د نبي ﷺ نه بالكل ندې ثابت۔ او د صحابه او تابعينو نه چه كوم آثار نقل دي لكه اثر د ابن الزبير په باره د زنجي كښې او اثر د علي په باره د مږه كښې او د نخعي او شعبي په پيشو وغيره كښې نو (اول خو) د محدثينو په نيز باندې دا صحيح ندي ثابت (دويم) دا په اولنو پيړو (زمانو) كښې اتفاقي مسائل ندي (دريم) كه اومنو چه صحيح دي نو بيا ممكن ده چه دې علماؤ دا (تحديدات) د خلقو د زړونو د خوشحالولو دپاره كړيدي، او د اوبو د نظافت په وجه كړيدي، نه ددې وجې نه چه ګنې دا شرعا واجب دي۔ لكه چه داخبره د مالكيهؤ په كتابونو كښې (هم) ذكر ده۔ او ددې خبرې نفي كولو مخې ته ازغيداره ونه ده يعني دا ځوك نشي نفي كولې۔ (او كه ځوك ئې نه مني نو په ازغو باندې به زخمي كيږي) خلاصه دا چه پدې باب كښې هيڅ داسې دليل نشته چه اعتماد پرې اوكړې شي او عمل پرې واجب شي او حديث د قلتين ددې تولو نه ښه مضبوط دې بغير د شك نه۔ انتهى۔

اوكه چرې شوافع دا مسائل د مفهوم د حديث القلتين نه ثابت كړي چه نجس دي، نو بيا هم لا څه خبره ده، مګر احناف خو هغه حديث ته هم مضطرب وائي، نو په دې مسائلو ثابتولو كښې هيڅ دليل شرعي نه لري۔ نو دا اعتراض د مقلدينو غلط شو چه وائي قرآن او حديث نيمګړې دې د كو هيانو مسئلې په كښې نشته، مونږ وايو الحمد لله۔ په دې يو حديث (ان الماء طهور لاينجسه شئ)كښې دا تولې مسئلې حل دي۔

الفصل الأول - اولنې فصل

١ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (لَا يَبُوْلَنَّ أَحَدُكُمْ فِي

الْمَاءِ الدَّائِمِ الَّذِیْ لَا يَجْرِیْ ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ) . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِیْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ : لَا يَغْتَسِلُ اَحَدُكُمْ فِی الْمَاءِ الدَّائِمِ وَهُوَ جُنُبٌ. قَالُوْا : كَيْفَ يَفْعَلُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ : يَتَنَاوَلُهُ تَنَاوُلًا).

ترجمه : ابو هريره فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : پتاسو کښې دِې څوك په هغه ولاړو اوبو کښې چه بهيدونکې نه وي متيازې نه کوي چه بيا په هغې کښې غسل هم کوي. (بخاري، مسلم)، د مسلم د يو روايت الفاظ دادي چه نبي ﷺ اوفرمائيل : تاسو کښې دې يو سړې د جنابت په حالت کښې په ولاړو اوبو کښې غسل نه کوي. خلقو اووئيل : اې ابو هريره ! څنګه لامبل پکار دي ؟ هغه اوفرمائيل : هغې نه دِې لږې لږې اوبه راخلي (او هغې سره دې د اوبو نه بهر لامبي).

تشريح - حکمتونه د نهي څه دي ؟

چه شريعت اووئيل په ولاړو اوبو کښې متيازې مه کوئ چه بيا پکښې بيرته غسل هم کوې؟ نو پدې باره کښې :

۱ - بعض علماء وائي : چه د بول کولو نه پس که خوند رنګ بوئي نه وو خراب شوې نو اوبه پاکې دي او د نهي په حکمت مونږ نه پو هيږو او دا حکم تعبدي دې.

۲ - په ولاړو اوبو کښې د بولو او بيا غسل کولو نه ځکه منع شوې ده چه اوس في الحال خو به په متيازو کولو سره دا اوبه نجسې نشي ليکن صبا له به نجسې شي، چه ستا په ليدو سره به هر څوك متيازې کول شروع کړي، نو بيا به نجسې شي، نو دا منع سدا للذريعة شوې ده. قاله القرطبي في المفهم . (طرح التثريب ۲/ ۳۰)

۲ - دويم دا چه دا اوبه بيا په سر باندې اچوي نو د نظافت خلاف ده.

۳ - دريم دا چه : دا منع ده د تکليف نه چه مسلمانانو ته په دې سره تکليف رسيږي، هغوئ به دا اوبه ځکې اوته به په کښې متيازې کوې نو هغوی به ستا ددې عمل نه کرکه کوی نو تکليف کښې به شي ځکه چه د انسان بول نه خلق کرکه کوی اګرکه دا په ډيرو زياتو اوبو کښې ولې نه وي. اوشريعت وائي چه عام خيرن او ګنده څيزونه به هم داسې اوبو ته نه اچوي چه مسلمان ترې فائده اخلي، پاتې لا دا چه په هغې کښې نجاستِ غليظه (بول)

اوکړے شي پدے سره خو انسانانو ته ضرور تکليف رسي۔

٤- علامه ابن حزم ظاهريؒ په کښې لا دا وائي چه پدے حديث کښې نهي (منع) صرف دغه بائل (متيازے کونکي) ته شامل ده چه دا به په دغه اوبو کښې غسل او اودس نه کوي بل چا ته نده شامله ځکه که بل چاته هم شامل وے نو نبي عليه السلام به د هغے بيان ضرور کړے وے : فلو اراد عليه السلام ان ينهى عن ذلك غير البائل لما سكت عن ذلك عجزا ولا نسيانا آه. المحلى (١/١٤٥) يعني که منع د بول کونکي نه سيوا بل چاته شامل وے نو نبي ﷺ به چپ نه وے پاتے شوے ځکه هغه د بيان نه عاجز هم نه وو او هير شوي ترے هم ندي۔

بيا د بول په حکم کښے براز او غائط هم د جمهورو علماؤ په نيز داخل دي، صرف داؤد ظاهريؒ د ظاهر د حديث په بناء وئيلي دي چه غائط منع نه دي، ځکه حديث کښے بول ذکر دي، كما قال النووى فى شرح مسلم (١/١٣٨) والتحفة (١/٧٢)۔

ليکن دده قول ضعيف دے وجه د ضعف دا ده چه مقصود په حديث کښې دا دے چه مسلمانانو ته په بول کولو سره ضرر او نه رسي او دا ضرر لکه څنګه چه په واړه بولو سره رسي نو په غټو بولو سره خو په طريق اولی تکليف رسي۔

٢- دارنګه بول دا په اعتبار د غالب سره وئيلے شويدی۔ غالبا خلق اوبو کښې واړه بول کوی، نه غټ، نو ځکه ئے واړه بول ذکر کړل ورنه تخصيص د بول احتراز د غائط نه ندے بلکه دا قيد اغلبي دے۔ دارنګه (لاضرر ولا ضرار فى الاسلام) حديث پرے دليل دے۔

ظاهر ددے حديث تقاضا کوی چه په وقوع د نجاست سره ډے تولے اوبه پليتے شي، ځکه چه نبي ﷺ منع اوکړه د متيازے کولو نه په ولاړو اوبو کښے، ځکه چه په بول کولو سره دا اوبه پليتيږي، نو دا عام دے که لږے اوبه وي اوکه ډيرے۔ ليکن علامه بدر الدين العينيؒ او ابن دقيق العيدؒ اتفاق نقل کړے دے په دے خبره چه عموم ددے حديث مقيد دے، نو احنافو په عشر في عشر يا په رائے د مبتلیٰ به سره مقيد کړے دے۔ او شوافعو په قلتين سره مقيد کړے دے، چه که قلتين نه کمے وے، نو اوبه پليتے دي، اوکه زياتے وے نو هغه په حکم د جاري اوبو کښے دي، نه پليتيږي، اودلته د قلتين نه کمے اوبه مراد دي۔

او مالكيه ؤ په عموماتو سره مقيد كړے دے چه ترڅو پورے يو د اوصاف ثلثه ؤ نه وى متغير شوى، نوكه لګے وى اوكه ډيرے، نه پليتيږى، اودلته نهى محمول ده په كراهت تنزيهى باندے -

صرف ددے حديث متعلق امام احمدؒ د انسان په بول او د نورو حيواناتو په بولو كښے فرق كړے دے، او د ائے فرمائيلى دى چه د انسان د بول په وجه ولاړے اوبه پليتيږى، لګے وى كه ډيرے، د وجے د عموم د حديث نه. اود نورو حيواناتو بول كښے تقييد كوى په قلتين سره، پشان د مذهب د امام شافعيؒ - يعنى كه نورو حيواناتو په ولاړو اوبو كښ بول اوكړل نو دا به هله پليتے وى چه د قلتين نه كمے وى او كه قلتين نه زياتے وى نو هغه هم ندى پليتے۔

ليكن **صحيح** خبره داده چه په دے حديث سره استدلال د احنافو وغيره دپاره صحيح نه دے، ځكه چه دلته نبى ﷺ منع كړيده د افراط او تفريط نه، چه اول په اوبو كښے بول اوكړى او بيا پرے غسل كوى، نو دے كښے د نجاست او غير نجاست خبره نشته، اونه د عشر فى عشر فرق شته. او په دے جواب باندے حكمتونه د نهى دلالت كوى، كما عرفت۔

ثم يغتسل فيه : مستعملے اوبه او د جنب بدن بالاتفاق پاك دے، پاكوالى باندے دليل دا هم دے چه ابو هريرةؓ ته چا اووئيل چه څه به كوو ؟ هغه ورته اوفرمائيل : (يتناوله تناولا) ، يعنے د حوض په غاړه به كينى او په لاس كښے به اوبه راخلى او په سر به ئے اچوى، نوكه څاڅكى اوشى، يا لاس په اوبو كښے داخل كړى نو خير دے، خو اوبو ته به د غسل كولو په وخت نه ننوځى ځكه دا د نظافت خلاف ده۔

فائده : (ثم يغتسل فيه) كښے امام نووىؒ د خپل استاذ علامه ابن مالكؒ نحوى صاحب الالفيه نه درے تركيبونه نقل كړى دى :

١- اول دا چه يغتسل فيه مجزوم دے، او عطف دے په (يبولن) باندے او هغه مجزوم دے په لا ناهيه سره، ليكن د نون ثقيله په وجه منصوب ګرځيدلے -

٢ - دويم : دا خبر دے دپاره د مبتداء محذوف أى ثم هو يغتسل فيه. علامه قرطبىؒ

فرمائي : په دې كښې تنبيه ده په مآل او عاقبتِ حال باندې، يعنې كه په دغه اوبو كښې بول اوكړې نو كله به دې اوبو ته محتاج شي، نو دهغه اوبو استعمالول به ورله منع شي۔

٣ – دريم تركيب دادې چه يغتسل منصوب دې په (ان) مقدره ناصبه سره، او ان اګرچه د ثم نه روستو نه مقدر كيږي دجمهورو په نيز، مګر د ابن مالك نحوىؒ په نيز ثم په معنیٰ د واؤ سره دې چه د هغې نه پس مقدر كيدې شي په معنیٰ د ويغتسل فيه سره دې۔ لكه لا تأكل السمك وتشرب اللبن۔ أى وأن تشرب اللبن۔

بناء په دې تركيب، منع ده د جمع بين البول فى الماء الراكد والاغتسال فيه، نه۔

نو په دې حديث كښې دا خبره نشته چه اوبه نجسې شوې۔

وفى رواية : لا يغتسل أحدكم فى الماء الدائم وهو جنب۔

مسئلة : حكم الماء المستعمل :

د مستعملو اوبو په طهارت او نجاست كښې د علماؤ اختلاف دې :

١ – د امام ابو حنيفةؒ نه محمدؒ نقل كړې دى چه مستعملې اوبه طاهر غيرمطهر دى۔ او ظاهر الروايت كښې دادى چه (لا يجوز التوضى به) يعنى اودس پرې ندې جائز۔ اود طاهر او نجس حكم په كښې نشته۔

٢ – د امام زفرؒ په نيز فرق دې، كه استعمالونكې اودس د مخكښې نه لرى نو مستعملې اوبه طاهر او مطهر دى، اوكه محدث وى نو بيا طاهر غير مطهر دى۔ اودا يو قول د امام شافعىؒ هم دې۔

٣ – د علىؓ، ابن عباسؓ، ابن مسعودؓ او ابن عمرؓ او د امام مالكؒ، اهل ظواهروؒ، قول ثانى د امام شافعىؒ، حسن بصرىؒ، سعيد بن جبيرؒ، نخعىؒ، عطاءؒ، ابن المسيبؒ، ليث بن سعدؒ، اوزاعىؒ، ابن المنذرؒ قول دادې چه : مستعملې اوبه په هر حال كښې طاهر مطهر دى ـ الاستذكار (١/١٦١) والمحلى (١/١٦٨) وهو الحق۔

٤ – د امام ابو يوسفؒ او يو روايت د امام ابو حنيفةؒ نه دادې چه مستعملې اوبه نجس دى په نجاست خفيفه سره۔ دا روايت ترې حسن بن زياد نقل كړيدې۔ هداية (١/٤٣) طرح التثريب (٢/٣٠)۔

احنافو په دے حدیث الباب استدلال کړے دے چه دلته منع شوے ده د غسل کولو نه په ولاړو اوبو کښے، اګرچه بول په کښے نه وی کړی، نو دا دلیل دے چه په حالت د غسل کښے چه کومے اوبه مستعملے شوے هغه نجس دی۔

لیکن علامه شوکانیؒ (٢٨/١) ددے (١) جواب ورکړیدے چه علت د نهی دلته دا نه دے چه دا اوبه مستعملے ګرځی، بلکه کله چه په کښے انسان غسل کوی نو دا اوبه خبیثے ګرځی، نو څوك ترے فائده نشی اخستے، خلق ئے د څکلو دپاره نشی استعمالولے، څکه چه طبیعت ئے بد ګنړی۔ او ددے خبرے دلیل پخپله قول د ابو هریرهؓ دے چه (یتناوله تناولًا) یعنی په لاس سره به ئے ترے راخلی او اوبو ته به نه ننوځی۔ څکه چه دلته نهی د انغماس نه ده، یعنے ځان په اوبو کښ داخلول منع دی ، نه استعمال د هغه اوبو، ولے که داسے نه وے نو بیا به د انغماس او تناول فرق نه وے، نو معلومیږی چه استعمال ئے جائز دے، خو انغماس په کښے نا روا دے، د وجے د خباثت نه، نه د وجے د نجاست نه۔ فتدبر!

٢ - **دویم** داچه : دلیل أخص دے د دعویٰ نه، څکه دعویٰ کښے دا خبره ده چه هرے مستعملے اوبه د طهوریت نه خارجے دی، او دلیل کښے د جنابت اوبه د طهورت نه وتل دی ۔ ومثله لایفید المطلوب فتدبر!۔

او راجح مذهب دادے چه ماء مستعمل پاك او پاكونكی دی، په دے باندے ډیر **دلائل** دی : كما تراها فی المغنی (٤٢/١) والدین الخالص (٢٩٦/٢) والمحلی (١٦٩/١) وفتح المالك علی الموطأ لمالك (٢٩٢/١) وسبل السلام (٢٢/١)۔

بعضے د هغے نه دادی چه :

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وأنزلنا من السماء ماء طهورا ﴾، نو ټولے اوبه طاهر او مطهر دی، سیوا د هغه اوبو نه چه د نجاست په وجه ئے یو د اوصاف ثلثه بدل شوے وی، او ماء مستعمل نجس نه دی، څکه چه نجاست ورسره نه دے ملاؤ شوے، څکه بدن د انسان پاك دے، دلیل په دے باندے حدیث د ابو هریرهؓ دے : (ان المؤمن لاینجس) اخرجه احمد (٢٣٥/٢) والبخاری (٧٩/١) كتاب الغسل، مسلم (١٩٤/١).

یعنے هر کله چه مؤمن نجس ندے نو بیا څنګه هغه اوبه چه ده استعمال کړیوی

نجسې دې شي په استعمال سره !!.

٢ - دليل : امام بخاري (٦٢/١)، بيهقي (٢٣٥/١) د جابرؓ حديث نقل کړے دے چه هغه فرمائي : زه بيمار شوم، نبي ﷺ زما پوښتنې ته راغے، نو اودس ئے اوکړو او د اوداسه اوبه ئے په ما باندې را واچولے ... الحديث.

نو دا صريح دليل دے په دے چه مستعملے اوبه پاکے دي.

٣ - دليل : د مسور بن مخرمهؓ په حديث کښې دي : چه صحابوؓ به د نبي ﷺ د اوداسه په اوبو اختستو باندې د يو بل سره جګړے کولے. أخرجه البخاري (٢٧٨/١)، واحمد (٣٢٨/٤)، نو دا صريح دليل دے چه مستعملے اوبه پاکے دي.

او نبي ﷺ د امت سره په احکامو کښې شريك دے، ترڅو چه دليل د خصوص رانشي، اودلته دليل الخصوص نشته.

٤ - دارنګ صحابوؓ او نبي ﷺ اودسونه کړي دي، او د هغوئ په جامو باندې به ضرور د اوداسه د اوبو څاڅکي لګيدل، او د هغوئ نه دا نه دي ثابت چه هغوئ جامے بدلے کړي يا دغه ځايونه ئے وينځلي وي. فتدبر ! کذا قال الامام الشافعي.

٥ - دارنګ صحابوؓ او د هغوئ زنانو به شريك غسل کولو د خانکونه، او په هغے کښې به د اندامونو اوبه غورځيدلے، او هغوئ به هغه اوبه استعمالولے، لکه عائشهؓ او نبي ﷺ به هم دا کار کولو (حتى قالت عائشة : دع، دع لي).

٦ - عقلي دليل : پاکے اوبه د پاك بدن سره لګيدلي دي، نو دے اوبو ته د نجس وئيلو هيڅ وجه نشته.

دا وجه ده، امام ابن حزمؒ المحلى (١٨٢/١) کښې، او امام ابن تيميهؒ په فتاوى (٤٨/٢١) کښې فرمائي : چه په مستعملو اوبو اودس کول جائز دي، او دارنګه د جنابت غسل هم پرے جائز دے. برابره خبره ده چه نورے اوبه موجودے وي اوکه نه وي موجودے، دغه شان په دغه اوبو ئے د فرضو دپاره اودس کړے وي اوکه د نفلو دپاره، يا ئے پرے د جنابت غسل کړے وے، او برابره ده چه اودس کونکے سړے وي اوکه زنانه.

او بيا ئے ددے دليل په ﴿فلم تجدوا ماء فتيمموا﴾ سره ذکر کړے چه دا قسم اوبه هم په

ماء لفظ كښې داخل دى، نو كه دا موجود وى نو تيمم كول جائز نه دى، ځكه دا هم په (ماء مطلق) كښې داخل دى۔

علامه ابن عبد الهادىؒ په التنقيح على التحقيق (١/٣٢) كښں داسې فرمائى :

والدليل على طهوريته قول النبى ﷺ : الماء لايجنب وقال الماء ليس عليه جنابة. قالوا ولانه غسل به محل طاهر فلم تزل طهوريته كما لو غسل الثوب ولانه لاقى محلا طاهرا فلا يخرج عن حكمه بتادية الفرض كالثوب يصلى فيه مرارا. انتهى۔

يعنى دليل په پاكوالى د مستعملو اوبو دا قول د نبى ﷺ دے چه اوبه نه جنبے كيږى او په اوبو باندې جنابت (ناپاكى) نه راځى او علماؤ وئيلى دى چه په دغه اوبو پاك اندام د مؤمن وينځل شويدے نو پاكوالے ئے پاتے دے لكه چه سرے كپړه اووينځى۔ او بله دا چه اوبه د پاك محل سره ملاقات كړيدے نو د پاكوالى د حكم نه به نشى ويستلے چه هغه فرض اداء كول دى (يعنے پدے باندې فرض - اودس - ادا كولے شى) لكه يوه كپړه چه په هغے كښں بار بار مونځ كولے شى۔

علامه شوكانىؒ هم په نيل الأوطار (١/٢٨) كښې فرمائيلى دى چه مستعملے اوبه طاهر مطهرے دى، او د مخالفينو د شبهاتو جوابونه ئے وركړے دى، او دا ئے فرمائيلى دى چه مستعملے اوبه د طهوريت نه نه دى وتلى، او باقى دى په خپل اصلى حالت باندې چه طهارت دے، او په دې باندې دليل (خلق الماء طهورا) حديث دے، او حديث د مسح د نبى ﷺ سر لره په هغه اوبو سره چه كومے په لاس كښې باقى پاتے وى۔ نو ثابته شوه چه مستعملے اوبه طاهرے او مطهرے دى، كه دوباره ئے څوك استعمال كړى نو هيڅ حرج په كښې نشته، مگر صرف دومره خبره ده چه كه غير مستعملے اوبه ددے نه سيوا ملاويږى نو ددے اوبو استعمالول نه دى مناسب، ځكه چه د نبى ﷺ په زمانه كښې به داسې كار نه كيدلو چه يو سړى دې اودس كړے وى او بل يو سړى دے هغه راجمع كړے وى او اودس دے ئے پرے كړے وى، يائے د ځان له دوباره استعمال كړے وى۔

وجه دا ده چه په دے اوبو سره گناهونه زائل شوى دى، نو هغه دے انسان ځان پسے نه راكاږى۔ خو دا مسئله ددے دپاره بيانيږى چه كه دے مستعملے اوبو كښں چا لاس وهلے وى

یائے په کښې د خلے اوبه توئے کړے وی نو ددے استعمالول جائز دی۔

اکمال : مستعملے اوبه په څه سره مستعملے کرځی ؟

په دے کښې اختلاف دے :

۱ - د امام ابو حنیفهؒ او ابو یوسفؒ په نیز په یو د دوه څیزونو سره :

۱ - یا خو په دے اودسئ زائل کولو سره. ۲ - یا په قربت (ثواب) حاصلولو سره.

۲ - او امام محمدؒ وائی : صرف په اقامت د قربت سره مستعملے کرځی۔

۳ - امام زفرؒ او امام شافعیؒ وائی : اوبه صرف په حدث زائل کولو سره مستعملے کرځی، فتدبر!

---

۲ - وَعَنْ جَابِرٍ ﷜ قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنْ يُبَالَ فِي الْمَاءِ الرَّاكِدِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : جابرؓ فرمائی : رسول الله ﷺ دے نه منع فرمائیلے ده چه په ولاړو اوبو کښې دے تشے متیازے اوکړے شی ۔ (مسلم)۔

تشریح : د راکد نه مراد هغه ولاړے اوبه دی چه نه بهیږی۔ پدے کښ متیازے کولو نه ځکه منع اوشوه چه که چرے اجازه د بول ورکړے شی نو بیا به هر سړے راځی او بول به پکښې کوی نو د ډیرو بولو په وجه به په کښ تغیر راشی (خوند، رنګ، بوئی به ئے بدل شی) نو نجسے به شی اګرکه ستا په دے یو کرت بول کولو سره به په هغے کښې تغیر نه وی راغلے خو دا سبب د تغیر کرځی نو شریعت ځکه منع اوکړه۔

۲ - یا منع ځکه اوشوه چه بول غالبا طبعا بد ګڼړلے شی نو که ډیرو اوبو کښ هم اوکړے شی نو انسانان دا اوبه طبعا بدے ګڼړی اګرکه اوصاف ثلثه ؤ کښ ئے تغیر نه وی راغلے، نو پدے کښ د انسانانو د طبیعتونو لحاظ ساتلے شویدے او د نجاست خبره په کښ نشته۔

---

۳ - وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ ﷜ قَالَ : ذَهَبَتْ بِيْ خَالَتِيْ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اِنَّ ابْنَ أُخْتِيْ وَجِعٌ فَمَسَحَ رَأْسِيْ وَدَعَالِيْ بِالْبَرَكَةِ ثُمَّ تَوَضَّأَ

فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ ثُمَّ قُمْتُ خَلْفَ ظَهْرِهِ فَنَظَرْتُ اِلٰى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ مِثْلَ زِرِّ الْحَجَلَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : سائب بن يزيدؓ فرمائي : زما خالې (ترور) زه نبي ﷺ ته بوتلم او عرض ئې اوکړو: يا رسول الله ! زما دا خورئيے بيمار دے، نو نبي ﷺ زما په سر لاس راخکلو او ما دپاره ئې د برکت دعاء اوکړه، بيا ئې اودس اوکړو، نو ما د هغوئ د اودس نه پاتے شوو اوبو نه اوڅکلے، بيا زه د نبي ﷺ شا طرفته اودريدم او د هغوئ مُهر نبوت مے د هغوئ د دواړو اوګو ترمينځه اوليدلو چه د ډولئ د زونډی (بټنے) پشان وو.

تعارف : د سائب بن يزيد رضي الله عنه :

هو السائب بن يزيد بن سعيد بن ثمامة الليثي أو الأسدي أو الهزلي، وړوکے صحابي دے په دويم کال د هجرت پيدا شوے دے، او دپلار سره حجة الوداع ته حاضر شوے دے داوو کالو په عمر بانـدے. او د ماشومانو سره ثنيّة الوداع مقام ته د نبي ﷺ د استقبال دپاره وتلے وو کله چه نبي ﷺ د غزوه تبوك نه واپس راتلو. ټول اووه (۷) احاديث ترے نقل دی. د مدينے د بازار ګورنر مقرر شوے وو په زمانه د خلافت د عمر فاروق رضي الله عنه کښے. په (۹۱) سنه کښے وفات شوے دے. دا په مدينه کښے آخري صحابي دے چه وفات شو.

مناسبة الحديث :

دا حديث ددے دپاره راوړل شوے دے چه مستعملے اوبه پاکے دی.

تشريح : فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ : وَضوء لفظ دلته دوه معنے دی : ۱- يو دا چه هغه اوبه چه لوته کښے پاتے شوی وی د اوداسه نه. ۲ - دويم هغه اوبه چه اندامونه پرے وينځلے شوی وی، او مستعملے شوے وی. بهر حال حديث ددے دپاره راوړے شوے دے چه مستعملے اوبه پاکے دی.

اوس که څوك دا **سوال** اوکړی چه د نبي ﷺ فضلجات وغيره پاك وو، نو د هغه استعمال کړے اوبه به هم پاکے وی په خلاف د أمت ؟

ددے **جواب** دادے چه نبي ﷺ په احکامو کښے د أمت سره شريك دے، هغه به د نجاست سره هغه کار کولو، کوم چه نورئے امت ئے کوی. ترڅو چه دا ثابته نشی چه داکار

د نبي ﷺ پورې خاص دې، او په دې هيڅ دليل نشته۔ نو دا يو دليل دې دپاكوالي د مستعمل شده اوبو، نو اوبه صرف دوه قسمه دي : (۱) طاهرې (۲) نجسې۔ نور اقسام په كښې نشته چه طاهر غير مطهر وغيره۔ هغه اقسام صرف عقلي دي۔

زِرِّ الْحَجَلَةِ : د زر جمع أزرار ده، تنړۍ او بټنې ته وائي كومې چه په جامو او څادرونو باندې وهلې شي، او حجله په فتحې د حاء اوجيم سره، د ناوې ډولۍ ته وائي۔ نو معنیٰ داده : چه د نبي ﷺ خاتم النبوت پشان د بټنې د ډولۍ وو. ۲ - بعضو نسخو كښې دا لفظ (رز الحجله) دې په تقديم د راء سره، نو معنیٰ داده چه پشان د اګۍ د زركې وه۔

د نبي ﷺ د خاتم النبوه په باره كښې مختلف روايات دي، په بعضو كښې (مثل بيضه الحمامه) راغي، كما رواه جابر بن سمره عند الترمذي۔

او بعضو كښې د زركې اګۍ مطابق راغي، او په بعضو كښې د ډولۍ د بټنې پشان ذكر كيږي، نو دې كښې هيڅ تعارض نشته، بلكه دا بناء دي په تخمين او اندازې لګولو باندې، بعضې صحابوؓ يو شان اندازه لګولې ده، او د هغې مثال ئې د خپل ذهن مطابق وركړې دې۔ او بعضو بل شان اندازه لګولې ده نو جدا مثال ئې وركړې دې په دې كښې هيڅ نقصان نشته۔

فوائد الحديث : ۱ - نيكانو خلقو ته ماشومان د دعاء دپاره بوتلل مستحب دي۔

۲ - مستعملې اوبه پاكې دي۔ ۳ - د نبي ﷺ خوش اخلاقي چه دې ماشوم ورته شا مباركه باندې ګوتې وهلې او هغه ترې نفرت نه دې كړې، بلكه شفقت ئې پرې اوكړو۔

٤ - خاتم النبوة (مهر نبوت) نه مراد د غوښې هغه ټوكړه ده چه د نبي ﷺ د دواړو اوګو ترمينځه د زركې د اګۍ پشان وه۔ ديته ځكه مهر نبوت وائي چه پخوانو انبياؤ عليهم السلام ته الله تعالى په خپلو كتابونو كښې وئيلي وو، چه آخري پيغمبر را روان دې او د هغه علامه داده چه د اوګو ترمينځه به ئې د غوښې يوه ټكړه وي۔ په دې وجه نبي ﷺ چه كله مبعوث شو نوعام نصاراؤ به دهغه شا كتله، او پيژندل به ئې چه دا هغه نبي آخر زمان دې، دكوم خبر چه په مخكنو كتابونو كښې وركړې شوې دې، نو دا به د نبوت او رسالت يوه نښه وه۔

الفصل الثاني - دويم فصل

٣ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ : سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنِ الْمَاءِ يَكُوْنُ فِي الْفَلَاةِ مِنَ الْاَرْضِ وَمَا يَنُوْبُهُ مِنَ الدَّوَابِّ وَالسِّبَاعِ فَقَالَ : اِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ لَمْ يَحْمِلِ الْخَبَثَ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَابْنُ مَاجه وَفِيْ أُخْرىٰ لِأَبِيْ دَاوُدَ : فَاِنَّهُ لَا يَنْجُسُ.

ترجمه : ابن عمرؓ فرمائي : رسول الله ﷺ نه د هغه اوبو باره کښې تپوس اوشو چه په ځنګل کښې وي او اکثر ځناور او درنده ګان هغې ته وخت په وخت راځي - نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : کله چه اوبه دوه چاټۍ وي نو هغه ناپاکي نه قبلوي (يعنې نه ناپاکه کيږي)۔ احمد، ابوداود، ترمذي، نسائي، دارمي، ابن جه۔ او د ابوداود په يو بل روايت کښې دي چه نه نجسې کيږي۔

تشريح : لَمْ يَحْمِلِ الْخَبَثَ : ددې سره يو قيد اولګوئ چه معنىٰ واضحه شي (لم يحمل الخبث اى اذا لم يتغير أحد اوصافه الثلثة) يعنې دا به هله نجسې وي کله چه خوند، رنګ، بوئي کښې ئې تغير راشي، او دا هله کيږي چه کله ډير حيوانات پکښې بول اوکړي يا ئې په کښې هميشه کوي، اوکه يو کرت دوه کرت ئې په کښې اوکړي نو اوبو باندې ددې څه فرق نه پريوځي، بلکه اوبه په خپل اصل حالت باندې سپينې مزيدارې پاتې وي، خوند يا رنګ يا بوئي نه وي متغير شوې نو دا پليتې نه دي۔

په دې حديث کښې يوه بله مسئله ده چه د حيواناتو د جوټې څه حکم دې ؟۔

نو **اول** : په دې کښې اتفاق دې چه د کومو حيواناتو غوښه خوړلې کيږي د هغې جوټه پاکه ده، لکه غوا، ميښه، ګډه، چيلۍ، چرګه وغيره۔

دويم : غير مأکول اللحم حيوانات دي، نو ددې په جوټه کښې اختلاف دې :

١ - **اول قول** : د امام مالكؒ، شافعيؒ، حسنؒ، عطاءؒ، زهريؒ او ابن المنذرؒ دې : د دوئ په نيز د ټولو حيواناتو جوټه پاکه ده۔ (المغني : ١/٧٢)۔

د دوئ سره په دې باب کښې ډير دليلونه دي (فتاوى الدين الخالص : ٢/٢٩١) کښې

اوګوره)، بعضے **دلائل دادي :**

١ - اول دليل : دا چه (الماء طهور لا ينجسه شئ) قانون دے، چه د اوبو په اوصاف ثلثه کښے يو وصف نه وي بدل شوے اوبه نه پليتيږي. ترڅو پورے چه دليل د نجاست رانشي. **٢ - دويم دليل** : ډير احاديث وارد دي په دے کښے چه د سباع البهائم جوټه پاکه ده، لکه روستو حديث (١٠) د داؤد بن صالح کښے د پيشو جوټے ته عائشے؆ پاکه وئيلے ده. دارنګه حديث د کبشه؆ کښے ورته پاکه وئيلے شويده، كما سيأتي.

٣ - روستو حديث نمبر (١١) د جابر؆ کښے راځي (وبما أفضلت السباع كلها) اګرچه دا حديث سندا ضعيف دے. خو د نورو ملګرو سره صحيح معنی ورکوي.

٤ - دارنګه فصل ثالث کښے د عبد بن عبد الرحمن په روايت کښے د عمر رضي الله عنه په عمرو بن العاص؆ باندے رد، او بيا دا وينا چه (فانا نرد على السباع وترد علينا) أخرجه مالك في الموطأ (١/١٧) دليل دے چه د ټولو سباعو جوټه پاکه ده.

٥ - دارنګه حديث د أبو سعيد خدري؆ په باره د حوضونو د مکے او مدينے کښے دليل دے چه د هر قسم حيواناتو جوټه پاکه ده. په هغے کښے دا الفاظ دي (فقال : لها ما حملت في بطونها، ولنا ما غبر طهور) رواه ابن ماجة، كما سيأتي في المشكاة (٢/٥١) وان كان سنده ضعيفا. ليکن کله چه مجموعه احاديث راجمع شي نو معنیٰ ئے صحيح وي.

٢ - قول ثاني : د احنافو دے - وهو قول أحمد أيضا - چه د سباع البهائم جوټه پليته ده، د دوئ سره په دے قول باندے صرف دوه دليلونه دي :

١ - يو مفهوم د حديث القلتين دے، چه که اوبه د قلتين نه کمے وي نو د سباع او دوابو په وجه پليتيږي.

جواب : مونږ مخکښے وئيلي دي چه په دے کښے دليل د نجاست مفهوم دے، او د هغه احاديثو منطوق، دليل د طهارت دے، او کله چه د منطوق او مفهوم تعارض راشي، نو ترجيح منطوق لره وي.

٢ - جواب : د حديث القلتين د مفهوم نه استدلال کول هم صحيح نه دي، وجه داده چه هلته نجاست د جوټے په وجه نه دے راغلے، ځکه چه حديث کښے دا خبره نه ده راغلے

چه د سباع البهائم جوته پاکه ده اوکه نجسه؟ بلکه د (وما ینوبه) لفظ دے، یعنے د حیواناتو بدنونه ناپاك دی غالبا، گندونه ورپورے نختي وی، او اوبو ته داخل شی، بیا کله چه په کښے بول متیازے هم اوکړی نو په دے وجه پلیتیږی۔ (لکه چه دا د حیواناتو عادت دے چه کله اوبه اوڅکی نومتیازے هم په کښے کوی)۔ په دے کښے د جوټے هیڅ تذکره نشته، او (ینوب) لفظ دلیل دے په هغه څه چه مونږ اووئیل۔ او که صرف خله په کښے اووهی نو جوته ئے پاکه ده، کله چه تاته یقینی معلومه ده چه نور نجاست په کښے نه دے راغلے، د بول په وجه۔ فتدبر!۔

تعارض : په دے مقام کښے د احنافو په قولینو کښے تعارض دے، اوگوره چه په باب د قلیل الماء او کثیر کښے حدیث د قلتین رد کوی۔ اومختلفے بهانے د هغه د غورځولو دپاره جوړوی چه دا حدیث ضعیف دے او مضطرب دے۔ او بیا چه کله تپوس اوشی چه په نجاست د سور البهائم څه دلیل دے؟ نو بیا دوئ ددے نه استدلال کوی او ښه ئے قوی گڼړی، دا هم وجه د ضعف ددے قول ده۔

۲ – **دویم دلیل** د احنافو : حدیث د ولوغ الکلب دے چه په هغے کښے اووه ځله وینځلو حکم شوے دے په دے وجه چه نجس دے۔

لیکن ددے نه جواب دادے چه په دغه حدیث کښے د اووه ځلو وینځلو حکم تعبدی دے، او په دے وجه نه دے چه دا نجس دے، لکه دا مذهب د امام بخاری او امام مالك هم دے۔ او دلیل دا وائی چه ښکاری سپے کله د ښکار پسے لاړ شی، په ښکار باندے غاښونه اولگوی، او بیا ئے مالك ته راوړی نو د هغے خوړل بالاتفاق حلال دی، معلومه شوه چه جوته ئے پاکه ده۔ (فما هو جوابکم فی هذا فهو جوابنا فی ذلك)۔

لیکن **راجح قول** دادے چه د ټولو سباعو (درنده گانو) جوته پاکه ده، سیوا د کلب او د خنزیر نه۔

۲ – او هرچه حمار او بغل دے، نو احناف وائی ددے جوته مشکوك فیه ده، دلیل دا وائی چه د صحابو په دے باره کښے اختلاف دے، بعض صحابه ورته پاکه وائی، لکه ابن عباس (فتح القدیر : ۱/۹۹)، او بعضے ورته نجس وائی، لکه ابن عمر وغیره۔ نواقوال په

کښې متعارض دی۔

دارنګ مونږ قیاس ته رجوع اوکړه نو هغې کښې هم تعارض وو، ځکه چه مونږ ددې غوښې ته اوکتل چه نجس ده، او جوټه خو ددې نه پیدا کیږی، نو دا تقاضا کوی چه جوټه دې هم نجس شی، لیکن بل طرفته مو عَرق (خولې) ته اوکتل نو هغه پاکه ده، ځکه چه نبی ﷺ په دې شیانو سورلی کړې ده، نو دا تقاضا کوی چه جوټه به ئې هم پاکه وی، ځکه د خولې او جوټې یو حکم دې۔ نو هر کله چه تعارض د قیاسینو هم راغلو نو زمونږ شك شو په طهارت او نجاست کښې۔

لیکن نور علماء په دې باندې رد کوی چه د امام ابو حنیفهؒ په دې باره کښې **شك** شو نو – الی یوم القیامة – د احنافو په دې باره کښې شك شو، او ددې شك نه خو دا نه لازمیږی چه زمونږ دې هم په کښې شك وی ترقیامته پورې۔ بلکه شریعت کښې داسې مسائل نشته چه د ټول امت دې په کښې شك وی، که چرې د یو عالم شك وی، نو د نورو علماؤ شك نه وی، ضرور به یا نجس وی یا پاکه۔ نو مونږ چه دلائل مذکوره ؤ ته اوکتل نو مونږ ته دا ثابته شوه چه د خر اوقچر جوټه پاکه ده، ځکه چه د سباع البهائم جوټه پاکه شوه نو د خر او قچر جوټه خو په طریقه اولیٰ سره پاکه ده۔ اوکه چرې ددې جوټه نجس وې نو الله او رسول ﷺ به بیان کړې وې۔ (کذا فی فتاوی الدین الخالص : ۱/۲۹۵)۔

۴ – او هرچه پیشو ده، نو ددې په جوټه کښې احناف وائی : چه دا نجس ده په نجاست خفیفه سره، یعنې مکروه ده۔ دوئ استدلال کوی په حدیث د ترمذی (۱/۲۷) عن محمد بن سیرین عن أبی هریرة عن النبی ﷺ قال : یغسل الاناء اذا ولغ فیه الکلب سبع مرات، واذا ولغت فیه الهرة غسلت مرة). قال الترمذی : هذا حدیث حسن صحیح۔

دغه شان نور احادیث په دارقطنی او ابوداود کښې راغلی دی، چه په هغې کښې د لوښی په وینځلو حکم راغلې دې د جوټې د پیشو نه۔ او غسل (وینځل) دلیل د نجاست دې۔

جواب : دا حکم د نجاست په وجه نه دې، بلکه د نظافت حاصلولو دپاره دې، یعنې طاهر خو دې، لیکن نظافت په وینځلو کښې دې۔ او دلیل په دې باندې (انها لیست بنجس، انها من الطوافین علیکم والطوافات) حدیث دې۔

٢ - ائمه ثلاثهؒ او ابويوسفؒ په نيز د پيشو جوټه بلا كراهته پاكه ده. (وهو القول الراجح المعول عليه). په دے باندے **دلائل** دادي :

١ - اول دليل : روستو حديث نمبر (٩) د كبشه صحيح حديث را روان دے چه په هغے كښے د نبي ﷺ فرمان دے (انها ليست بنجس، انها من الطوافين والطوافات)، دا صريح دے په عدم نجاست كښے. او ابو قتادهؓ ورته لوښے هم راكوږ كړيدے، دپاره ددے چه پيشو ښے اوبه اوڅكي. دارنګه روستو حديث د داؤد بن صالح كښے د عائشهؓ په روايت هم دغه الفاظ راغي (انها ليست بنجس). او د كوم ځائے نه چه پيشو خوراك كړے دے د هغه ځائے نه عائشےؓ هم كړيدے.

او احناف چه حديث د ابو هريرهؓ (في الدارقطني والمستدرك) پيش كوي چه (الهرة سبع) نو د سبعيت نه دا نه لازميږي چه جوټه دے هم ناپاكه وي، ځكه دا احاديث دليل دے چه د پيشو جوټه پاكه ده.

٢ - علاوه لا دا چه كه (سبع) هم شي نو د سبع جوټه هم پاكه ده. كما مرّ تفصيلا، في حديث أبي سعيد في الحياض ويأتي).

٣ - دارنګه په دغه حديث د ابو هريرهؓ كښے مقال هم دے، كما في النيل (٤٥/١).

نو حق قول دادے چه د هر قسم حيواناتو جوټه پاكه ده، او په دے كښے أمت دپاره آسانى ده. او دا د شريعت د سماحت سره عين مناسبه خبره ده. ددے مسئلے ښه تفصيل فتاوى الدين الخالص (٢٨٨/٢)، نيل الأوطار (٤٤/١)، تحفه الأحوذى (٦٧/١) او المغنى (٦١/١) كښے اوګورئ.

درجة الحديث : رواه أحمد وأبوداود والترمذى والنسائي والدارمى وابن ماجة.

حديث القلتين باره كښے حافظ په فتح البارى كښے فرمائي : رواته ثقات، وصححه جماعة من أهل العلم. ابن مندهؒ فرمائي : هو صحيح على شرط مسلم.

يحيى بن معينؒ فرمائي : الحديث جيد الاسناد. امام بيهقيؒ فرمائي : اسناد صحيح، موصول. امام حاكمؒ فرمائي : حديث صحيح على شرط الشيخين. ووافقه الذهبى. ملا علي قاريؒ د طحاويؒ نه نقل كوي فرمائي : خبر القلتين صحيح، واسناده ثابت.

عبد الحی لکنوی ؒ په السعایه (۱/۳۷۷) کښې فرمائی :

والذی یظهر بعد ادارة النظر من الجوانب أن نفس الحدیث صحیح، سالم من المعارضة ومخالفة الاجماع۔

دارنګه شاه ولی الله صاحبؒ هم ورته صحیح وئیلی دی، کما مرّ۔

مولوی رشید احمد صاحبؒ په الکوکب الدری (۷۲) کښې فرمائی :

وقد اخذ الشافعی فیما اختاره بحدیث جید الاسناد قابل للاعتماد۔

بیا فرمائی : ان فی تضعیف سند الحدیث انکار البداهة۔

شیخ البانی ؒ په صحیح أبی داود رقم (۵۸۵٦) کښې ورته صحیح وئیلی دی۔

او کومو علماؤ چه ورته ضعیف وئیلی دی - لکه ابن عبد البرؒ په التمهید کښې، قاضی سهیل بن اسحقؒ او ابن العربیؒ - نو هغه د اضطراب فی السند والمتن په وجه دے، او ابن حجرؒ په تلخیص کښې د هغه اضطرابونو جوابونه ورکړیدی، د ابن دقیق العیدؒ وغیره نه ئے نقل کړی دی۔ اومونږ هم هغه بیان کړی دی۔ اشاره۔ نو حدیث صحیح او متصل دے، اضطراب په کښې نشته۔

---

٤ - وَعَنْ أَبِی سَعِیدِ الْخُدْرِیِّ ؓ قَالَ : قِیلَ : یَا رَسُولَ اللهِ ! ، اَنَتَوَضَّأُ مِنْ بِئْرِ بُضَاعَةَ وَهِیَ بِئْرٌ یُلْقٰی فِیهَا الْحِیَضُ وَلُحُومُ الْکِلَابِ وَالنَّتْنُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : اِنَّ الْمَاءَ طُهُورٌ لَا یُنَجِّسُهُ شَیْءٌ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُودَاوُدَ وَالتِّرْمِذِیُّ وَالنَّسَائِیُّ.

ترجمه : ابو سعید الخدریؓ فرمائی : نبی ﷺ ته چا عرض اوکړو چه یا رسول الله ! آیا مونږ د بضاعه کوهی نه اودس کولے شو حال دا چه دا داسے کوهے دے چه په هغے کښې د حیض د وینے کپړے، د سپو غوښې او ګندګی اچولے شی ؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : اوبه پاکے دی، هیڅ شے هغه نشی ګنده کولے۔ (ترمذی، ابوداود، نسائی)۔

تشریح : اَنَتَوَضَّأُ مِنْ بِئْرِ بُضَاعَةَ : دا حدیث مشهور دے په حدیث د بئر بضاعه

سره، اوبضاعه په ضمه د باء، او بعضے وائی کسره هم جائز ده، د يو سړی نوم دے، چه دا كوهے ئے په محله د بنی ساعده کښے په مدينه کښے کنستے وو، د هغه په نوم مشهور شوے دے۔

يُلْقَى فِيهَا الْحِيَضُ : په كسره د حاء او فتحے د ياء سره، جمع د حيضه ده په كسره د حاء اوسکون الياء سره۔ اودا هغه ټوټو ته وائی چه زنانه ئے په حيض کښے استعمالوی۔

تنبيه : په دے کوهی کښے صحابه کرامو او دهغوئ زنانه ؤ د حيض ټوټے قصدا نه ارتولے ځکه چه صحابهؓ ډير پاك خلق وو، او د هر انسان پاكی او صفائی خوښه وی، اګرچه كافر ولے نه وی، پا تے لا بيا صحابهؓ چه اشرف المخلوقات بعد الأنبياء دی۔ نو بناء په دے باندے ددے لفظ دوه معانی دی :

١- اوله معنیٰ : يلقی يعنے د پخوا زمانے راسے په دے کښے دا ګندونه اچولے شوی دی، دا نه دے پاك شوے، نو د صحابوؓ وهم (ګمان) راغلو چه دابه ناپاك وی نو ځکه ئے تپوس اوکړو. ٢- دويمه معنیٰ : اوس په کښے غير اختياری ګندونه او د حيض ټوټے او د سپو غوښے غورځولے شی، يعنے بادونه او سيلابونه ئے ورغورځوی۔ ځکه دا د بنی ساعده په باغ کښے وو او هغه باغ ته به خلقو دا ګندونه ګذارل نو بيا به بادونو کوهے ته ګذارل او دليل پدے باندے لفظ د يلقی دے (مجهول صيغه ده) يعنی ورغورځولے شی غير اختياری۔

اِنَّ الْمَاءَ طَهُوْرٌ لَا يُنَجِّسُهُ شَيْءٌ : دا حديث د امام مالك مستدَل دے، هغه په عموم ددے حديث استدلال کوی په پاکوالی د ټولو اوبو باندے، قليلے وی که کثيرے، ترڅو چه يو د اوصاف ثلثه ئے نه وی بدل شوے، او الماء کښے الف لام استغراقی او جنسی دی۔ وهو الحق۔

شوافع وائی : دا حديث عام دے اوحديث د قلتين خاص دے، او (الخاص يقضی على العام، ويحمل عليه) او خاص بيان دعام کوی، ليکن جمهور ورته جواب ورکوی چه دا حديث منطوق دے، او حديث القلتين مفهوم دے، اوعند التعارض منطوق لره اعتبار وی۔ او د شوافعو رائے شاه ولی الله صاحبؒ په حجة الله، اوعلامه عبيد الله په مرعاة کښے او ابن القيم په جامع الفقه کښې غوره کړيده۔ ليکن راجح قول د امام مالك او اهل ظواهرو

دے دوجے دلائل مذکورونه.

او دا حدیث د احنافو د مذهب خلاف دے، چه هغوئ عشر فی عشر، یا رائے د مبتلیٰ به سره نجاست او طهارت د اوبو معلوموی. نو هغوئ جوابونه کوی.

۱ - یو جواب دا کوی چه (الماء) کښې الف لام عهدی دی، یعنے خاص اوبه مراد دی چه هغه د بئر بضاعه اوبه دی، یعنے دا اوبه د بئر بضاعه په دغه حالت کښې نه پلیتیږی، او دا تخصیص ځکه شوے دے چه دا اوبه ډیرے وے، عشر فی عشر ته رسیدلے.

او طحاویؒ (۱۱/۱) د واقدی نه نقل کوی چه (کان طریقا الی البساتین).

لیکن ددے نه **جواب** دادے چه واقدی باره کښې د علماؤ فیصله ده چه دا کذاب راوی دے (کذا فی میزان الاعتدال) نو روایت له ئے هیڅ اعتبار نشته.

۲ - **دویم جواب** دادے چه د اخبره چه واقدی نه ثابته ده نو هغه سند باره کښې علامه زیلعیؒ په نصب الرایه (۱۱٤/۱) کښې فرمائی : (وهذا سند ضعیف مرسل) او د واقدی متصل مسند روایت نه دے معتبر، پاتے لا مرسل. او درایه (۲۷) کښې حافظ فرمائی : (هذا اسناد واه جدا).

۳ - **دریم جواب** : که اومنو چه دا روایت د واقدی نه ثابت دے نو بیا د واقدی د کلام معنیٰ داده چه ددے کوهی نه به اوبه باغونو ته په سانیه سره را نقل کیدے، لکه د آرټ پشان اوبه به ترے را ویستل کیدے، او بیا به د اوښانو په ذریعه باغونو ته اړول کیدلے. او دا تاویل او احتمال حق دے، دا وجه ده چه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائی :

ولم یکن فی المدینة ماء جار.

په مدینه کښې د اوبو قلت زیات وو، جاری اوبه په کښې نه وے، بلکه مدینے والو به د لرے علاقو نه لکه سُقیا علاقے نه اوبه راوړلے، او درے ورځے مزل به ئے ورپسے کولو.

او علامه نور الدین علی سمهودیؒ په وفاء الوفاء (۹۵۸/۳) کښې فرمائی : (لاطباق مؤرخی المدینة العالمین باخبارها علی تسمیتها بئرا لا کما قال بعض الحنفیة أنها کانت عینا جاریة الی بساتین اذ المشاهدة ترده) انتهی. یعنی د مدینے د ټولو تاریخ دان علماؤ پدے اتفاق دے چه دا (بئر بضاعه) په کوهی باندے یادیږی او دا سے نه ده لکه چه بعض احناف

وائي چه دا باغونو ته جاري چينه وه ځکه چه مشاهده ددې ترديد کوي.

بل دليل د عدم جريان دادې چه وفاء الوفاء کښې علامه سمهوديؒ حديث را وړيدې چه نبي ﷺ بئر بضاعه کښې لاړې توکلې، نو خلقو به په هغې سره تبرك حاصلولو۔ او مريضانو به وئيل (اغسلوني من بئر بضاعة) ۔ اسماء بنت أبي بكرؓ فرمائي : (كنا نغسل المرضى من بئر بضاعة ثلثة أيام فيعافون آهـ) نو که دا اوبه جاري وې نو د تبرك بيا څه معنى جوړيږي ځکه د پيغمبر ﷺ لاړې خو به په اول ځل غورځولو سره سمدست ختمې شوې وې۔ (كذا في أبكار المنن ص : ٢٤) للشيخ المباركفوريؒ۔

او دا اوبه عشر في عشر هم نه وې، ځکه امام ابوداودؒ فرمائي : زه مدينې ته لاړم او بئر بضاعه مې گز کړو په خپل څادر سره او په هغې مې ورخور کړو، نو د هغې د پلنوالي مقدار شپږ گزه وو، او د خپل استاذ قتيبه بن سعيدؒ نه هم نقل کوي فرمائي : چه ما د خپل استاذ نه آوريدلي دي چه فرمائيل : ما د بئر بضاعه د قيّم نه تپوس اوکړو، چه دا اوبه څومره ژورې دي ؟ هغه اووئيل : کله چه زياتې وي نو نامه ته رسيږي، اوکله چه کمې وي نو ما دون العورة ته رسيږي۔

او امام ابوداودؒ پخپله فرمائي : ما د هغه باغ د څوکيدار نه تپوس اوکړو چه ددې کوهي په بناء (آبادئ) کښې د نبي ﷺ د زمانې نه څه تغير راغلې دې ؟ هغه اووئيل : نه۔

بعض احناف – لکه نيموي په آثار السنن کښې – وائي : چه په دې کوهي باندې دوه سوه کاله تير شوي دي د نبي ﷺ د زمانې نه را پديخوا، نو ضرور به په دې کښې تغير پيدا شوې وي، ورکوټې شوې به وي۔

ليکن دا خبره غلطه ده، د دوه وجهو نه : ١ – يو د امام ابوداودؒ په مذکوره قول سره۔ ځکه هغه د هغې د قيّم نه تپوس کړې دې چه دا خو متغير شوې نه دې، هغه وئيل نه دې متغير شوې، أو صاحب البيت أدرىٰ بما فيه۔ نو ددې قيّم خبره به راجحه وي۔

ځکه کوهې زر نه خرابيږي، هغه ژور وي، د سيلابونو او هواګانو او بارانونو نه په أمن وي، نو په آبادئ باندې دکوهي قياس کول صحيح نه دي، کما فعله۔ او ددې تائيد په قول د علامه سمهوديؒ باندې کيږي هغه فرمائي : (ومن شاهد بئر بضاعة علم انه كذلك

لانها فی وهدة وحولها ارتفاع)۔ یعنے دا کوهے په اوچته زمکه کښے وو او ګیر چاپیره ددے نه لوړ والے وو، نو بارانونه ئے نشی خرابولے۔ الوفاء (۹۵۸/۳)۔

۲ – دویمه وجه دا ده چه اوبو ته د انسانانو ډیر ضرورت دے، او انسانان د نبی ﷺ د زمانے نه په مدینه کښے زیات شوی دی، نو د قیاس تقاضا هم داده چه کوهے دے نور هم غټ شوے وی۔

۲ – **دویم جواب** احناف ددے حدیث نه دا کوی چه : دا حدیث په دفع د وهم (ګمان) د صحابوؓ کښے وئیلے شوے دے، چه د هغوئ دا وهم وو چه دے کوهی ته به پخوا ګندګی پریوتی وی او غاړو پورے به ئے نختی وی، نو اوبه به دے سره پلیتے ګرځیدلے وی۔ ځکه چه د عشر فی عشر نه کمے اوبه په وقوع د نجاست سره پلیتیږی۔

دویم وهم : دا وو چه په دے کښے خو ګندونه چا نه دی اچولی نو کیدے شی چه هواء وغیره ورته ګندونه غورځولی وی، او حقیقت کښے ورته چا ګندګی نه ګذارله، نو په دے وجه ئے تپوس اوکړو چه دا اوبه به پاکے وی که ګنده ؟۔ او دا د عشر فی عشر خلاف نه دے۔ نو نبی ﷺ جواب ورکړو چه هسے شکونه مه کوئ اوبه پاکے دی، ترڅو چه تاسو په کښے ګندګی نه وی لیدلی۔

جواب : دادے چه د اخبره صحیح نه ده چه ګندونه ورته یقینا نه غورځیدل، بلکه د (یلقی فیها الحیض) مضارع صیغے نه معلومیږی چه دا ګندونه به وخت په وخت ورغورځیدل، مضارع دلالت په تجدد او حدوث باندے کوی، نو پخوا به هم ورغورځیدل او دے زمانه کښے به هم بادونو ورغورځول، او بیا هم نبی ﷺ حکم اوکړو په پاکئ ددے اوبو باندے، قلیلے وی که کثیرے۔ قطع نظر د بئر بضاعه نه او عام الفاظ ئے ذکر کړل چه ان الماء طهور هر قسم اوبه پاکے دی که د بئر بضاعه اوبه وی او که نورے اوبه وی لکه چه داسے عموم په حدیث د ابن عباس کښں هم راغلی دے (ان الماء لایجنب) رواه الترمذی وابوداود بسند صحیح۔ چه اوبه نه پلیتیږی مګر کله چه خوند رنګ بوئی کښں ئے فرق راشی نو دا دلیل دے چه د نبی علیه السلام مقصد عموم دے او تخصیص د بئر بضاعه نشته ځکه که تخصیص د بئر بضاعه مراد وے نو بیا به بل ځائے کښں داسے نه وئیلے چه

(ان الماء لایجنب) اوبه نه پلیتیږی ـ فتدبر!

نو داسے تاویل په حدیث کښے - چه الفاظ پرے دلالت نه کوی -- صحیح نه دے۔ پکار ده چه مذهب حدیث ته ور اوګرځول شی، نه دا چه حدیث خپل مذهب ته په تاویلاتو سره راتاؤ کړے شی۔ فتدبر وانصف!۔

۳ - **دریم جواب** دا کوی : چه دا حدیث سندا ضعیف دے، او ددے دپاره دوه وجے بیانوی، ۱ - اول دا چه ددے حدیث سند کښے عبید الله بن عبد الله بن رافع بن خدیج دے، اوحافظ ابن حجر په تقریب (۳۷۲) کښے فرمائی : دا مستور الحال راوی دے، نو دا یوه وجه د ضعف ده. ۲ - دویمه وجه داده چه ابن القطان په کتاب الوهم والایهام کښے وئیلی دی چه ددے حدیث په سند کښے اختلاف او اضطراب دے، او دا وجه نیموی په شد او مد سره په آثار السنن کښے ذکر کړیده، او بیائے وئیلی دی (والحق معه)۔

او هغه اضطراب دادے چه بعض روایاتو کښے عبید الله بن عبد الله بن رافع بن خدیج راځی، او بعضو کښے عبید الله بن عبد الرحمن، او په بعضو کښے عبد الله بن عبد الله بن رافع، او په بعضو کښے عبد الرحمن بن رافع راځی۔ چه دا سبب د ضعف السند دے۔ (کذا فی التحفه ۶۶/۱، وأبکار المنن ۲۱)۔

جواب : ۱ - د اول شق نه دادے چه عبید الله راوی ته امام احمد بن حنبل او یحیی بن معین چه د جرح اوتعدیل امامان دی ثقه وئیلی دی۔ او دا حدیث ئے صحیح ګڼړلے دے۔ او ابن حبان په ثقاتو کښے ذکر کړیدے، نو ثابته شوه چه ددے امامانو په نیز دا راوی مستور الحال نه دے، بلکه معروف الحال دے، او اعتبار هغه چالره دے چه راوی ورته معلوم وی، نه هغه چاله چه هغه ته مجهول وی، او عارف مقدم وی په غیر عارف باندے په اعتبار کښے ۔

۲- د دویم شق نه جواب دادے چه اعتراض د اضطراب السند پے ځایه دے ځکه اضطراب د سند په هغه وخت کښے سبب د ضعف الحدیث ګرځی چه کله ټول سندونه په قوت او صحت کښے مساوی او برابر وی، اودلته داسے نه ده، بلکه روایت د عبید الله بن عبد الله بن رافع بن خدیج -- کوم چه امام ترمذی راوړے دے -- راجح دے په نورو روایاتو

باندے - کوم چه دارقطنیؒ راوړیدی - وجه داده چه د هغه روایاتو مدار په محمد بن اسحق دے، او په هغه باندے په دے روایاتو کښے اختلاف او اضطراب راغلے دے۔ او هرچه روایت د امام ترمذیؒ دے نو دا صحیح السند دے، هیڅ شك شبه په کښے نشته۔ امام ترمذیؒ خپله فرمائی : هذا حديث حسن، وقد جود أبو أسامه هذا الحديث ولم يرو حديث أبي سعيد في بئر بضاعة أحسن مما روى أبو أسامه، آه.

دارنګه دے حدیث ته امام احمدؒ، ابن معینؒ ابن حزمؒ حاکمؒ، شوکانی، شمس الحق عظیم آبادیؒ، مبارکفوریؒ، احمد شاکرؒ، شیخ البانیؒ او نورو علماؤ هم صحیح وئیلی دی۔ انظر ارواء الغليل (١/٤٥ رقم - ١٤) الاستذكار لابن عبد البر (١/١٦١)۔

او علامه عبد الحی لکهنویؒ په السعایه (١/٣٦٣) کښے ددے اعتراض ډیر ښه جواب ورکړیدے۔ فراجعه ان شئت۔

---

٦ - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : سَأَلَ رَجُلٌ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّا نَرْكَبُ الْبَحْرَ وَنَحْمِلُ مَعَنَا الْقَلِيْلَ مِنَ الْمَاءِ، فَإِنْ تَوَضَّأْنَا بِهِ عَطِشْنَا أَفَنَتَوَضَّأُ بِمَاءِ الْبَحْرِ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : هُوَ الطُّهُوْرُ مَاؤُهُ وَالْحِلُّ مَيْتَتُهُ). رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ .

ترجمه : ابو هريرةؓ فرمائي: يو سړي د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو: يا رسول الله ! مونږ په (تريخ) درياب کښے د کشتئ په ذريعه سفر کوو، اوځان سره لږ شان اوبه اخلو، که چرے په هغے مونږ اودس اوکړو نو تږی به شو، نو آيا مونږ د سمندر په اوبو اودس کولے شو ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د سمندر اوبه پاکونکی دی او ددے مرداره حلاله ده۔ (مالك، ترمذی، ابوداود، نسائی، ابن ماجه، دارمی)۔

تشريح : سَأَلَ رَجُلٌ : دده نوم عبد الله المدلجی، يا عبيد الله العركی د بنو مدلج قبيلے نه دے او دا کشتی بان وو۔

إِنَّا نَرْكَبُ الْبَحْرَ : فائده : درياب کښے سفر کول جواز لری دپاره د ضرورت، او بلا

ضرورته سفر نه دے پكار، ځكه نبی ﷺ منع فرمائيلے ده چه تاسو په سمندر كښے سفر مه كوئ (لا تركبوا البحر فان تحت البر نارا) اگرچه په دے حديث كښے كلام دے۔
او دے صحابوؓ په سمندر كښے بے ضرورته سفر نه كولو بلكه د ښكار دپاره سمندر كښے گرځيدل۔ لكه دا په روايت د حاكم كښے ورسره زيات شوى دى (نريد الصيد).
اَفَنَتَوَضَّأُ بِمَاءِ الْبَحْرِ ؟

د سوال پيدا كيدو وجه او منشأ څه ده ؟

نو ددے يو څو وجوهات دى : ١ – يوه وجه داده چه دوئ ته د سمندر اوبه گنده اونجسے ښكاره شوے ځكه چه حيوانات په كښے مرى او ميته خو نجس ده نو سمندر مجمع الميتات دے۔ نو دا به هم نجس وى ؟۔
٢ – يا وجه داده چه د دوئ دا گمان وو چه هركله د سمندر اوبه مالگينے دى، څكل ترے نشى كيدے نو اودس به هم پرے ناجائز وى، ځكه چه اودس غوره دے د اوبو څكلو نه ؟۔ نو ځكه نبى ﷺ جواب وركړو چه اودس او څكلو كښے فرق دے، د انشى څكلے مگر اودس پرے جائز دے۔
٣ – يا وجه داده چه دوئ دا حديث آوريدلے دے (لا تركبو البحر فان تحت البحر نارا، وتحت النار بحرا، مشكاة : ٢)۔
نو دا عذابى اوبه دى اودس به پرے ناجائز وى، ځكه چه اودس خو رحمت دے او دا اوبه اثر د غضب دالله دے۔ نو رسول الله ﷺ ورته جواب وركړو چه خير دے دا اوبه پاكے دى۔
٤ – يا وجه داده چه ددے اوبو خوند، رنگ، بوئى بدل شوے دے، نود دوئ گمان راغے چه په دے به اودس كول جائز نه وى، نو ځكه ئے تپوس اوكړو، او جواب وركړے شو چه په دے سره اودس وغيره كول جائز دى، ځكه دا تبديلى د نجاست په وجه نه ده راغلے بلكه د زمكے په وجه راغلے ده، فتدبر!
هُوَ الطُّهُوْرُ مَاؤُهُ : دلته نبى ﷺ په هو الطهور سره جواب وركړو، نه په (نعم) سره، ځكه : ١ – كه په نعم سره ئے جواب وركړے وے نو بيا به د ضرورت په وجه د سمندر په اوبو باندے اودس جائز وے، اوبه غير د ضرورت نه به اودس جائز نه وے۔ ځكه چه سوال د

ضرورت په بناء شوے دے۔ نو جواب به خاص وے د سوال موافق، نو عموم به په کښے نه وے، مګر نبی ﷺ عام قانون ورته بیان کړو چه د سمندر اوبه مطلقا پاکے دی که ضرورت وی او که نه۔ ۲ – دویمه وجه داده چه په نعم سره ئے ځکه جواب ورنه کړو چه بیا به صرف اودس د سمندر په اوبو جائز وے او غسل یا نور نجاست زائل کولو دپاره به نه استعمالیدلے، نو نبی ﷺ عام جواب ورکړو د قانون په شکل چه د سمندر اوبه مطلقا پاکے دی، که د اودس دپاره ئے استعمالوئ او که د غسل یا د نورو نجاساتو زائل کولو پاره، نو علت د اوبو دلته طهوریت ذکر شو، چه ترڅو پورے په کښے طهوریت وی نو د هرڅه دپاره ئے استعمالول جائز دی۔

او بیا دا د ټول امت اتفاقی مذهب دے چه د سمندر په اوبو باندے طهارت حاصلیږی۔

سیوا د عبد الله بن عمرؓ او عبد الله بن عمرو بن العاصؓ او سعید بن المسیبؒ او علامه ابن عبد البرؒ نه چه دوئ ته دا منسوب ده چه د سمندر په اوبو سره طهارت نه حاصلیږی، لیکن دا د دوئ اجتهاد دے، او دا حدیث ورته نه دے رسیدلے۔ وأیضا لا حجة فی قول الصحابی لا سیما اذا عارض المرفوع. انظر النیل (۱/ ۲۰) فتدبر۔

اشکال: **سوال** دادے چه (هو الطهور) کښے هو مبتداء اول او الطهور مبتداء ثانی ده او بیا الطهور معرف باللام هم دے، او ماؤه ئے خبر دے او دا هم معرفه ده۔ او مبتداء اوخبر دواړه چه کله معرفے وی نو حصر او اختصاص پیدا کوی۔ نو دلته معنی داشوه چه صرف اوصرف د سمندر اوبه طاهرے دی، نه نورے اوبه۔ او دا خو صریح البطلان ده ؟۔

ددے **جواب** دادے چه دلته دواړه معرفے راغلے دی د وجے د دفع د شك او وهم د سائلینو نه، نو د هغوئ د وهم ختمولو دپاره تاکید دے، نو په صورت د معرفه کښے ئے تاکید اوکړو، او دلته حصر مقصود نه دے۔ یا دلته قصر قلب دے، سائلینو دا اوبه نجس ګنړلے نو دوئ ته اووئیلے شو چه همدا اوبه پاکے دی نو دا قصر دے په نسبت سره د أذهان المخاطبین ته، نه په نسبت د جمیع ما عدا سره۔ ۲ – یا ئے دواړه ځکه معرفه راوړل چه دلالت اوکړی په حصر د مسند الیه په مسند کښے، یعنے دا اوبه پاکے دی، او تجاوز نه کوی نجاست طرفته، او دا مطلب نه دے چه نورے اوبه نه دی پاکے، نو قصر په نسبت سره نجاست ته دے، نه

نورو اوبو ته۔ فتدبر فيه !۔

۳ – شيخ عبد القاهر فرمائی : کله خبر په دے وجه معرفه راځی چه په دے سره د مبتداء د حالت پيژندنه او شناخت حاصل شی لکه أولئك هم المفلحون۔ او حصر مقصود نه وی۔ تنظيم الأشتات۔

وَالْحِلُّ مَيْتَتُهُ : **سوال** : دا په جواب کښے زيادت دے چه د بلاغت خلاف دے، اوجواب موافق د سوال نه دے۔

جواب : دا بعينه د بلاغت موافق دے، او دا زيادت فی الجواب حامل دے نکتے لره۔ اوديته په اصطلاح د اهل بلاغت کښے أسلوب الحکيم وائی۔ ځکه چه رسول الله ﷺ به په جواب ورکولو کښے زيادت کولو په سوال باندے دپاره د تعليم او بيان، نو دلته دا تپوس کونکے جاهل وو په حکم د اوبو د سمندر باندے، نو ضرور به جاهل وی په حکم د ميته د سمندر باندے، او د مفتی دپاره کله زيادت په جواب کښے ضروری وی، کله چه فائده مخاطب ته په دے سره حاصليږی۔

او دا د نبی ﷺ هوښيارتيا ده چه په دے پوهه شو چه دا خلق په سمندر کښے ګرځی نو اوبو ته به هم محتاج وی اوکله کله به خوراك ته محتاج کيږی نو طعام ئے ورته هم اوخودلو چه د سمندر حيوانات اګرچه مړۀ وی خو پاك او حلال دی۔

۲ – دويمه وجه داده چه دوئ ته د اوبو د تپوس شك په دے وجه راغلے وو چه حيوانات په کښے مری، نو دويمه جمله کښے ورته اووئيلے شو چه ستاسو دا وهم صحيح نه دے، ځکه چه ميته البحر (ددرياب مرداره) پاکه ده، نو اوبه هم پاکے دی نو د دواړو جمع کول مناسب دی۔

مَيْتَتُهُ : اضافت د ميته ضمير ته دا د قبيلے د اضافت د مصدر نه دے فاعل ته، نو معنیٰ داده : حلاله ده مرداره د سمندر چه سمندر وژلے وی، يعنے په سمندر کښے په خپل مرګ او د درياب تيزو چپو کښے وژلے شوی وی۔

۲ – يا اضافت د مصدر مفعول ته دے، يعنے حلاله ده مرداره کړے شوے د سمندر، يعنے چه خلقو په کښے وژلے وی، نو ددے دواړو احتمالينو نه مسئلے را اووتلے، هغه دا چه په

دے کښې اتفاق دے چه په سمندر کښې څوك كوم حيوان يا ښكار مړ كړى نو د هغے خوړل حلال دى۔

او چه د سمندر وژلے وى د چپو وغيره په وجه يا دكوم مرض په وجه، نو ددے حلال والى كښې اختلاف دے، او ديته (سمك طافى) وائى۔

١ – جمهور علماء فرمائى : دا هم حلال دے۔ ٢– احناف وائى : سمك طافى خوړل مكروه دى، يعنے هغه كب او ماهے چه پخپله مړ وى، يا بل ماهى وژلے وى يا د اوبو چپو وژلے وى او د اوبو سرته را پورته شوے وى۔

احناف استدلال كوى په حديث د جابرؓ باندے فرمائى : (ما القاه البحر او جزر عنه فكلوه، وما مات فيه وطفا فلا تأكلوه)، دا حديث مرفوعا هم د جابرؓ نه نقل دے۔ أخرجه ابو داود والدارقطنى (٤/٢٦٧)۔

ليكن د مرفوع روايت په سند كښې درے قسمه كلام دے (١) يو په كښې اسماعيل بن عياش متكلم فيه راوى دے (٢) دويم په كښې عبد العزيز بن عبيد الله ، واهى الحديث دے، او په ترمذى كښې ابو الزبير عن جابر روايت هم ضعيف دے، قال الترمذى : سألت محمد بن اسماعيل عن هذا الحديث فقال : ليس بمحفوظ۔

٣ – دارنګه ابن أبى ذئب د ابو الزبير نه هيڅ روايت هم نه دے نقل كړے، نو منقطع هم دے، كذا فى التعليق المغنى على سنن الدارقطنى (٤/٢٦٨)۔

داوجه ده امام ابو زرعةؒ فرمائى : (هذا خطأ انما هو موقوف على جابر) يعنے دا روايت مرفوعا خطاء دے، اوموقوفا صحيح دے، كما قال الحافظ فى الفتح۔

جواب : ددے قول دجابرؓ معارض قول د ابو بكر الصديقؓ موجود دے، هغه فرمائى : (الطافى حلال) كذا ذكره البخارى (٢/٨٢٥) معلقا. ووصله الدارقطنى وابن أبى شيبة كما يأتى۔ نو تعارض راغلو بين الموقوفين، نو مونږ قياس ته رجوع اوكړه (بعد الرجوع الى النصوص العامة) نو قياس هم دا تقاضا كوى چه دادے حلال شى، ځكه دا ماهى دے او بغير د ذبح نه خوړلے شى اګرچه په اوچه مړ شى، پاتے لا دا چه په سمندر كښې مړ وى، او د حرمت دپاره هيڅ دليل نشته، او ستا په لاس وژل او د سمندر په وژلو كښې هيڅ فرق

نشته۔

او جمهور استدلال کوی د ډیرو احادیثو او آثارو نه کوم چه امام بخاریؒ (١/٨٢٥) را وړی دی۔

١ - یو قول د أبو بکر صدیقؓ دے په روایت د ابن عباسؓ عند الدارقطنی (٤/٢٦٩) : السمکة الطافیة حلال ۔ طحاوی ورسره دا لفظ زیاتی کړے دے (لمن أراد أن یأکله) ۔ دارنګه د دارقطنی په بل روایت کښے د ابو بکر صدیقؓ حدیث راوړیدے۔

ان الله ذبح لکم ما فی البحر، فکلوه کله، فانه ذکی ۔ (یعنی دریاب کښ وژلے شوی تول حیوانات حلال دی ددے خوړل بغیر د ذبح نه حلال دی)۔

٢ - دویم : قول د عمر فاروقؓ دے هغه په دے آیت ﴿ احل لکم صید البحر وطعامه متاعا لکم ﴾ المائدة ۔ کښے فرمائی : (صیده مااصطید وطعامه ما رمی به – أی السمك الطافی –أخرجه البخاری) ۔ (یعنی صید نه مراد هغه دے چه انسان ئے ښکار کړی او طعام نه مراد هغه دے چه دریاب ئے انسان ته راپورته کړی)۔

٣ - دلیل : دا حدیث دے (هو الطهور ماؤه والحل میتته)۔

٤ - دلیل : واقعه د جیش الخبط کښے جابرؓ فرمائی : مونږ اوګی شو نو سمندر مونږ ته یو ماهی راګوذار کړو، (لم یر مثله یقال له العنبر، فاکلنا منه نصف شهر) بخاری (٢/٨٢٦)۔ (یعنی عنبر ماهی مونږ نیمه میاشت اوخوړلو)۔

دا واضح صریح دلیل دے په دے چه سمك طافی حلال دے۔

المسألة الثانیة : په حدیث کښے (میته) لفظ مطلق راغلے دے، د ماهی وغیره قید په کښے نشته، نو بناء په دے باندے د سمندر کوم حیوانات پاك دی ؟۔

نو په دے کښے اختلاف دے : ١ – احناف وائی : د ماهی د تولو اقسامو نه سیوا (منجد کښے دی چه د ماهی دولس اقسام دی) باقی نور تول حیوانات حرام دی۔

٢ – امام احمدؒ فرمائی : تول حیوانات حلال دی سیوا د ضفدع (چیندخ) او تمساح (مګرمچه) نه۔ ٣ – امام مالكؒ ، ابن أبی لیلیؒ ، مجاهدؒ او ثوریؒ فرمائی : هر څه چه په سمندر کښے دی هغه تول حلال دی، بلا استثناء۔

٤ – بعض علماء دا وائی چه په اوچه کوم حیوانات حلال دی هغه په سمندر کښې هم حلال دی، اوکوم چه په اوچه کښې حرام دی هغه په سمندر کښې هم حرام دی۔ نو دوئ قیاس کوی په اوچه باندے۔

۵ – د شوافعو نه ډیر روایات نقل دی، امام نووی ؒ فرمائی : ضفدع خو حرام دے، د وجے ددے نه چه ددے د وژلو نه منع راغلے ده۔ او ددے نه په علاوه کښې درے اقوال دی (۱) سمندری حیوانات حرام دی، سیوا د ماهی نه (۲) دویم : د سمندر حیوانات قیاس کوی په اوچه باندے (۳) دریم : أصح الأقوال دا ذکر کوی چه ټول حیوانات د سمندر حلال دی، تردے چه سپے اوخنزیرئے هم حلال دے (٤) او په یو روایت کښې د خنزیر استثناء راغلے ده۔

بهر حال د جمهورو مذهب داشو چه د سمندر ټول حیوانات حلال دی۔ او احناف وائی : ټول حرام دی، سیوا د ماهیانو نه۔

دلائل : د احنافو دلیل دادے چه په آیت کښې دی ﴿ ویحرم علیهم الخبائث ﴾ (الأعراف)، اود ماهیانو نه علاوه نور حیوانات خبیث دی۔ کذا فی العینی ۔

۲ – **دویم دلیل** : ﴿ حرمت علیکم المیتة ﴾ کښې (میته) مطلق ده، بحری اوبری دواړو ته شامل ده، او ددے نه په حدیث سره صرف دوه میتے مستثنیٰ شوی دی، لکه حدیث د ابن عمر ؓ کښې دی (أحلت لنا میتتان و دمان. فأما المیتان فالجراد والحوت، وأما الدمان فالطحال والکبد). أخرجه ابن ماجة واحمد۔

نو دلته تخصیص دلیل دے په دے چه نور حیوانات حرام دی۔

لیکن جمهور علماء دوئ ته **جوابونه** ورکوی :

(۱) **د اول دلیل** نه **جواب** دادے چه خبائث هغه دی چه الله او رسول ﷺ ورته خبیث وئیلی وی، نه هغه چه انسانان ورته په خپل عقل سره خبیث وائی، ځکه چه ډیر انسانان داسے دی – لکه مالکیه – چه ډیر حیوانات خبیث نه ګڼړی، او بعضے خلق – لکه وزیرستان والا – داسے دی چه ماهیان هم خبیث ګڼړی، اویا لکه زمونږ ډیر پښتانه خلق د سوئ (خرګوش) غوښه خبیثه ګڼړی۔ نو د انسانانو طبیعتونه مختلف دی، د دوئ په خبیث ګڼړلو سره شے خبیث نه ګرځی، ترڅو چه الله او رسول ﷺ ورته خبیث نه وی

وئيلي۔ او الله او رسول ﷺ دا چرته نه دی وئيلی چه ما سيوا د ماهی نه نور تول حيوانات خبيث او حرام دی۔ هاؤ ! البته دا دليل به هله تام وی کله چه يو حيوان کښې واقعي خباثت او ضرر موجود وی، لکه مار او خنزير او سپے او ضفدع وغيره، نو هغه به حرام وی۔ او د نورو حيواناتو قياس کول په دے باندے صحيح نه دی۔

او دويم دليل نه **جواب** دادے چه ﴿ حرمت عليكم الميتة ﴾ کښې د ميته نه مراد برّی (د اوچے) ميته ده، يعنے د اوچے ميته حرام ده، نه د سمندر، او په دے باندے دليل حديث د (الحل ميتته) دے، يعنے سمندری ميته او مرداره حلاله ده۔ او هرچه (أحلت لنا ميتتان) تخصيص دے نو تاسو پخپله دا قاعده جوړه کړيده چه تخصيص د يو شئ په اسم علمی سره نفی د ما عدا نه کوی، كما في الحسامي في مبحث الوجوه الفاسدة ۔ نو دلته چه (ميتتان) خاص کړيدے په حلت سره نو ددے نه دا نه معلوميږی چه ما سيوا ددے ميتتان نه حرام دی۔ فتدبر !۔

علاوه لا دا چه ميته خو مطلق ده، نو سمك طافي تاسو ولے استثناء کوئ؟ دا خو تقييد المطلق دے وهو غير جائز عندكم !۔

دلائل الجمهور : ١ - اول دليل : آيت ﴿ أحل لكم صيد البحر وطعامه متاعا لكم ﴾ الآية (المائدة)، کښې صيد عام دے، ماهی او غير ماهی تولو ته شامل دے، صاحب الهدايه جواب کوی چه صيد البحر نه مراد معنیٰ مصدری ده، يعنی احل لكم الاصطياد في البحر، يعنے ښکار کول درله په سمندر کښې جائز دی۔ ليکن دا جواب صحيح نه دے، وجه داده چه اصطياد (ښکار کول) خو بهر د سمندر نه هم جائز دی (سيوا د حالت د احرام نه)، نو تخصيص د البحر ته بيا ضرورت څه دے؟ بلکه مراد د صيد نه مصيد دے، يعنے هغه حيوانات چه ښکار شوی وی په سمندر کښې، او تخصيص د ماهی په کښې نشته۔ لکه ددے تفسير عمر فاروق رضی الله عنه په (ما اصطيد) سره کړے دے، كما مر۔

او دا دليل د حلت د سمك طافي هم دے۔

٢ - دويم دليل : حديث الباب دے (الحل ميتته) کښې ميته عام ده، او تخصيص پکښې د ماهی نشته۔

۳ – مشكوة كتاب الذبائح رقم (۳۵۹) كښې دي :

عن جابر قال : قال رسول الله ﷺ : ما من دابة في البحر الا وقد ذكاها الله لبنى آدم۔

٤ – **څلورم دليل** : قول د ابو بكر صديق او عمر فاروق مخكښې تير شو چه (الطافي حلال)۔

۵ – امام بخاري (۸۲۵/۲) آثار راوړيدي چه دلالت كوي په حلال والى د هر سمندري حيوان باندې (قال عمر : صيده ما اصطيد وطعامه ما رمى به، أى السمك الطافي)۔

ابن عباس فرمائي : (طعامه ميتة الا ما قذرت منها، والجريث لا تأكله اليهود ونحن نأكله)۔

ابو شريح صاحب النبي ﷺ فرمائي : (كل شئ في البحر مذبوح) ۔ يعنې ټول سمندري حيوانات حلال دي۔

امام شعبي فرمائي : (لولا أن أهلي أكلوا الضفادع لأطعمتهم)۔ يعنې كه زما كور والو چيندخان خوړلې نو ما به ورته وركړې وې (ځكه چه دا دده په نيز حلال دي)۔

ليكن دا خبره خطاء ده، ځكه چيندخان خوړل حرام دي، ځكه چه حديث كښې ديته خبيث وئيلې شوي دي۔

★ امام حسن بن علي رضى الله عنهما د سمندري سپي د څرمن نه زين جوړ كړې وو، په هغې به كيناستلو۔

★ ولم ير الحسن بالسلحفاة بأسا۔ (حسن بصري په نيز شمشتئ حلاله ده)۔

قال ابن جريج : قلت لعطاء : صيد الأنهار وقلات الصيد ؟ يعنې د نهرونو او حوضونو ښكار هم حلال دې۔

نو **صحيح مسئله** دا را اووتله چه ټول حيوانات د سمندر حلال دي، **سيوا** د هغه حيوان نه چه خبيث وي، يا په كښې ضرر وي، لكه زهر وغيره په كښې وي، او په دې كښې ډير حيوانات داخليږي لكه (۱) خنزير (۲) سپي (۳) چيندخان (٤) ماران، لړمانان (۵) تمساح (مگر مچھ)، **او يا** هغه حيوانات چه د هغې د خوراك نه په نص كښې منع راغلې وي ، هغه هم حرام دي۔ او سمندري انسان د وجې د اكرام د هغه نه خوړل نه دي پكار۔

ومزيد التفصيل يطلب من التحفة وغيرها ـ ددې حديث په باره کښې امام حميدي د امام شافعي نه نقل کړيدي چه فرمائي : هذا الحديث نصف علم الطهارة ـ يعني پدې حديث کښې د طهارت متعلق نيمائي علم دې۔

درجة الحديث : اخرجه مالك (۱/۲۲ رقم ۱۲) والشافعي في الام (۱/۳) واحمد (۲/۳۶۱) والدارمي (۱/۱۸۵، ۱۸۶) وابوداود (۸۳) والترمذي (۶۹) وقال حسن صحيح والنسائي. فاسناده صحيح. وصححه الالباني۔

---

۷ – وَعَنْ أَبِيْ زَيْدٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ لَهُ لَيْلَةَ الْجِنِّ : مَا فِيْ إِدَاوَتِكَ ؟ قَالَ : قُلْتُ : نَبِيْذٌ قَالَ تَمْرَةٌ طَيِّبَةٌ وَمَاءٌ طَهُوْرٌ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَزَادَ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ فَتَوَضَّأَ مِنْهُ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : أَبُوْ زَيْدٍ مَجْهُوْلٍ.

ترجمه : ابو زيد د عبد الله بن مسعودؓ باره کښې نقل کوي چه رسول الله ﷺ ده ته په ليلة الجن (پيريانو ته د تقرير په شپه) اوفرمائيل : ستا په بتکۍ (مشکيزه) کښې څه دي ؟ عبد الله بن مسعودؓ وائي ما عرض اوکړو : د قجورو شربت۔ وې فرمائيل : کجوره پاکه او اوبه پاکونکې دي۔ (ابوداود) او امام احمدؒ او ترمذيؒ دا الفاظ زيات نقل کړي دي چه (نبي ﷺ هغې سره اودس اوکړو) امام ترمذيؒ فرمائي : ابو زيد پته نه لږي چه دا څوك دې۔

تشريح : أَبِيْ زَيْدٍ : المخزومي، دا د عمرو بن حريث آزاد کرده غلام دې، ابن عبد البرؒ فرمائي : اتفقوا على أنه مجهول۔ ۲ – امام ترمذيؒ هم فرمائي : دا مجهول الحال راوي دې د محدثينو په نزد۔

نَبِيْذٌ : **د نبيذ معنى** : نبيذ هغه اوبو ته وائي چه کجورې پکښې واچولې شي او خوږوالې پيدا کړي او نرمې وي او نشه نه پيدا کوي، برابره ده که خوت کيدلې وي او که نه۔

۲–علامه جزريؒ فرمائي : نبيذ هغه شربت ته وائي چه د کجورو، وڅکو، شهد، وربشو او غنمونه جوړيږي۔ مرعات (۲/۱۷۸)۔

مسئله د نبیذ التمر

دلته مسئله د نبیذ التمر بیانیږی، چه آیا په نبیذ باندے اودس کول جائز دی او که نه ؟

نو اول نوعیت د مسئلے بیانیږی، بیا وروسته اختلاف د علماؤ :

۱ - کله چه مطلق اوبه ملاویږی نو په نبیذ باندے په اتفاق سره اودس ناجائز دے، کما قال الطحاوی۔ ۲ - حضر کښے پرے اودس ناجائز دے۔ ۲ - خو کله چه مطلق اوبه نه وی او نبیذ موجود وی، نو آیا تیمم به وهی او که په نبیذ (شربت) باندے به اودس کوی، او که په دے باندے اودس او تیمم دواړه به جمع کوی ؟۔

۱ - نو جمهور علماء - ائمه ثلثه - او امام ابو یوسفؒ او په احنافو کښے محققین وائی : تیمم به وهی، او په نبیذ باندے اودس کول جائز نه دی۔

۲ - امام ابو حنیفهؒ نه ډیر روایات نقل دی (۱) مشهور روایت دادے چه اودس به کوی په دغه نبیذو باندے، او تیمم به نه کوی۔ ځکه دا نبیذ اوبه دی دده په نیز، او دا قول د امام زفرؒ هم دے۔ (۲) دویم روایت - وهو قول محمد - دادے چه که نورے اوبه نه وی نو دواړه به جمع کوی، یعنے اول به تیمم اووهی بیا به په نبیذ باندے اودس اوکړی۔

(۳) او دریم روایت ترے د جمهورو پشان نقل دے ۔

اختلاف په کوم نبیذ کښے دے ؟

نو د نبیذ څلور قسمه دی : (۱) یو هغه نبیذ دے چه انسان ئے اوبو کښے واچوی، خوند، رنګ ئے نه دے پریښے۔ (یعنی غیر مطبوخ غیر مسکر غیر متغیر غیر حلو رقیق) نو په داسے اوبو باندے بالاتفاق اودس کول جائز دی۔

(۲) دویم دا چه د کجورو اچولو نه پس سکر (نشه) راولی۔ (یعنے مطبوخ مسکر غلیظ) نو په دے باندے بالاتفاق اودس کول نا جائز دی۔

(۳) دریم : هغه نبیذ چه خوند، رنګ ئے بدل شی، خو خوږ والے پیدا کړی او خوټ کیدلے نه وی۔ لیکن اوبه نرمے وی، په اندامونو باندے بهیدلے شی (یعنی غیر مطبوخ، غیر مسکر، حلو، متغیر، رقیق وی)۔

(٤) څلورم دا چه : خوټ کیدلے وی او خوند، رنګ هم پیدا کړی او نرمے هم

وی۔(یعنی مطبوخ، حلو، متغیر، رقیق، غیر مسکر)۔ نو دا دواړه صورتونه د جمهورو او امام ابو حنیفهؒ ترمینځه اختلافی دی۔ احناف وائی چه دې دواړه قسمه نبیذ باندې په سفر کښې اودس کول جائز دی، نه په حضر کښې۔ اوجمهور علماء وائی : نه په سفر کښې جائز دې اونه په حضر کښې۔

د لائل الطرفین : ۱ - د احنافو مستدل دا حدیث الباب د ابن مسعودؓ دې۔ چه ده ته نبی ﷺ په لیلة الجن کښې اوفرمائیل : ستا په مشکیزه کښې څه دی؟ هغه وئیل : نبیذ دی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دا کجورې مزیدارې او پاکې دی، او اوبه ئې پاکې دی۔ په روایت د ترمذی کښې دی (فتوضأ منه) په هغې سره ئې اودس اوکړو۔ نو نبی ﷺ په نبیذ التمر سره اودس کړې دې، نو دا دلیل دې چه اودس پرې کول جائز دی۔

لیکن **جمهور علماء** په دې حدیث باندې **قوی اعتراضونه** کوی، چه دا اعتراضونه محققینو احنافو هم تسلیم کړی دی۔

۱ - اول اصولی اعتراض : او هغه دا چه ستاسو په نیز زیادت په کتاب الله باندې په خبر واحد سره نا جائز دې۔ او تاسو په دې حدیث سره په کتاب الله باندې زیادت اوکړو، ځکه چه ﴿ فلم تجدوا ماء فتیمموا ﴾ کښې ماء مطلق دې اوتاسو په نبیذ التمر سره اودس جائز ګڼړئ، سره ددې چه هغه مطلق اوبه نه دی او تاسو پرې زیادت اوکړو چه (فلم تجدوا ماء ولا نبیذ التمر)، نو نبیذ التمر مو ورسره زیات کړو، حال دا چه دا خبر واحد دې او ورسره ضعیف هم دې۔ !! ددې اعتراض نه د احنافو مخلص نشته۔

امام نوویؒ فرمائی : فمن توضأ بالنبیذ فقد ترك المامور به. المجموع (۱/۲۲).

یعنی چا چه په نبیذ اودس اوکړو هغه د آیت مامور به پریخوده چه آیت کښې دی که اوبه نه مومئ نو تیمم وهئ او دا انسان تیمم نه وهی او په نبیذ اودس کوی کوم چه اوبه ندی نو ده قرآنی حکم پریخودو۔

صاحب هدایه (۱/۴۸) دا دعویٰ کړیده چه دا خبر **مشهور** دې، او په خبر مشهور سره زیادت په کتاب الله جائز دې عندهم۔ لیکن بیا حاشیه والا په دې اعتراض کړې دې چه دا خبر مشهور نه دې، ځکه د خبر مشهور دپاره خو کم از کم په هره طبقه کښې درې راویان

وی، او ددے خو صرف يو راوی دے چه ابو زيد دے۔ ليکن بيا خپله محشی جواب کوی چه دا خبر مشهور لغوی دے، او بيا غلے شويدے۔

ليکن مونږ وايو دا **جواب** غلط دے، ځکه چه مشهور لغوی خو موضوعی احاديث هم دی، لکه (لولاك لولاك لما خلقت الأفلاك)، چه په عوامو کښے مشهور وی، نو آيا په مشهور لغوی سره زيادت په کتاب الله څنګه جائز کيدے شی؟ وکما قال الزيلعی فی نصب الراية (١/١٣٨). ولا يصح هذا الحديث (ای حديث النبيذ) عن النبی ﷺ وهو خلاف القرآن۔

او محققينو احنافو هم دا اقرار کړے دے چه دا قوی اعتراض دے په مونږ احنافو باندے، چه زمونږ جوابونه ددے د حل نه قاصر دی، او واقعی جواب ددے نشته۔

نو ددے نه معلومه شوه چه دا قاعده خطاء ده، (أبطلها العلامة ابن القيم فی الاعلام ٢/٢٩٣) چه زيادت د خبر واحد په کتاب الله باندے نا جائز دے، دا خو معتزلی جراثيم دی او د منکرين سنت غوندے خبره ده، بلکه داسے وئيل پکار دی چه دا زيادت تشريح د قرآن ده۔ او نبی ﷺ د کتاب الله بيانونکے او شارح دے، نو زيادت په خبر واحد سره په کتاب الله باندے جائز دے، او په دے کښے څه نقصان نشته چه زيادت راشی۔

سوال : که څوك دا اووائی چه خبر واحد ظنی دے، او کتاب الله قطعی دے، نو څنګه زيادت دخبر واحد په کتاب الله باندے جائز شی؟

جواب : مونږ وايو چه أخبار **آحاد هم يقينی** دی، ځکه چه زمونږ ټول دين په اخبار آحادو سره نقل شويدے۔ الله يو ذات دے، قرآن يو جبرئيل راوړيدے۔ او يوائے محمد ﷺ صحابوؓ ته بيان کړيدے۔ او د يو شخص خبره يقينی ده۔ کله چه په هغه باندے تهمت د دروغو او خطائی نه وی۔ او په دے باندے هيڅ دليل په شرع کښے نشته چه تاسو د يو سړی خبره ګمانی ګنړئ، او يقين پرے مه کوئ، بلکه شريعت خو دا امر کړيدے چه د مؤمنانو خبره به يقينی ګنړئ، او دا وجه ده چه دروغژن شخص ته ئے د خيانت نسبت کړيدے کله چه هغه دروغ وائی، او د هغه مخاطب په هغه باندے تصديق او يقين کوی۔ (کبرت خيانة أن تحدث أخاك حديثا هو لك مصدق وأنت به كاذب)۔ نو ددے نه په اشاره

النص سره دا ثابته شوه چه مؤمن به د بل مؤمن په خبره باندے تصدیق او یقین کوی۔ نه گمان۔ فتدبر!

ددے مسئلے تفصیل ددے کتاب په اول جلد کښے اوگورئ۔

٢ - دویم اعتراض : (چه ضمنا تیر شو) دادے چه دا حدیث د ډیرو وجهو نه ضعیف السند دے باتفاق المحدثین۔ کما قال فی المرقاة (١/٣٤٤) نقلا عن السید جمال الدین : اجمع المحدثون علی أن هذا الحدیث ضعیف۔

ددے په سند کښے ابو زید مجهول الحال راوی دے، چه صرف دا یو روایت ترے نقل دے، لکه دا خبره امام ترمذیؒ ذکر کړیده۔ اوحافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (٢٨٢) کښے فرمائی : هذا الحدیث أطبق علماء السلف علی تضعیفه۔

امام نوویؒ فرمائی : حدیث النبیذ ضعیف باتفاق المحدثین

وقال البغوی فی شرح السنة : حدیثه غیر ثابت۔

★ قال ابن حبان فی کتاب الضعفاء : ابو زید شیخ یروی عن ابن مسعود، لیس یُدرٰی من هو، ولا یعرف أبوه ولا بلده، ومن کان بهذا النعت، ثم لم یرو الا خبرا واحدا خالف فیه الکتاب والسنة والاجماع والقیاس، استحق مجانبة ما رواه. کذا فی التحفة (١/٩٠) ونصب الرایة (١/١٣٨)۔

★ امام طحاویؒ په شرح معانی الآثار (١/٧٥) کښے فرمائی :

ولیست هذه الطرق طرقا تقوم بها الحجة۔

یعنی : دا حدیث په داسے طریقو او سندونو سره نقل دے چه په دے باندے دلیل نیول درست نه دی۔ د اوجه ده چه د امام طحاویؒ، ابن نجیم او قاضی خان مذهب هم دادے چه په نبیذ التمر باندے اودس جائز نه دے۔ او یو عقلی دلیل ئے دا پیش کړیدے چه دا خبره اتفاقی ده چه په نبیذ الزبیب او سرکه اومرق (شوروا) باندے خو اودس جائز نه دے، نو عقل دا تقاضا کوی چه نبیذ التمر دے هم دغه شان شی۔

(٢) دارنگه که نبیذ التمر د اوبو حکم لرلے نو پکار ده چه په وخت د وجود د اوبو کښے هم په دے باندے اودس کول جائز وے، حال داچه احناف هم په دے حالت کښے په دے باندے

اودس کول جائز نه ګڼړی۔ معلومه شوه چه دا د اوبو حکم نه لری۔

(۳) دارنګه که نبیذ التمر د اوبو حکم لرلے نو بیا پکار ده چه په حضر کښے هم ددے استعمال جائز وے۔ هر کله چه دا تاسو هم نا جائز ګڼړئ نو ددے نه معلومه شوه چه ستاسو په نیز هم په دے أثر د ابن مسعودؓ باندے عمل نه دے شوے۔ او دا وجه د ضعف د دے حدیث هم ده، چه متروك العمل عند الجميع دے لضعفه۔

بعضے احنافو – لکه عینیؒ او بذل المجهود والا – ددے حدیث نه جواب کوی چه دا حدیث څوارلس متابعات لری، چه د هغے په وجه تقویه پیدا کوی۔ او قابل د استدلال ګرځی۔ بیائے هغه راوړیدی۔ و کذا فی مفتاح النجاح، بذل المجهود (١/٥٤)۔

نو ددے نه علامه عبید الله مبارکفوریؒ په المرعاة(١٨٧/٢) کښے جواب ورکړیدے چه دا متابعات اکثر ضعیف دی۔ او بعضو کښے د سرنه وضوء بالنبیذ ذکر نه دے، نو دا متابعات نه شمارل کیږی۔ بلکه دا ددغه حدیث ضعف نور هم زیاتوی۔ او دا صرف دعویٰ ده، چه د بعضو سندونه هم نشته۔ د کومو چه سندونه شته نو هغه ټول ضعیف دی۔ داوجه ده امام طحاویؒ فرمائی : دا ټولے طریقے ضعیفے او غیر ثابتے دی (لم يثبت له طريق)، كما قدمنا۔

بعضے دا جواب کوی چه د ابو زید دوه شاګردان دی (١) ابو فزاره راشد بن کیسان (٢) ابو روق عطیه بن الحارث ، اودا صدوق دے۔ نو بناء په دے ابو زید د جهالت نه خارج شو۔

جواب : په مصطلح الحدیث کښے دا قاعده ذکر ده چه کله د یوراوی نه دوه ثقه راویان نقل اوکړی، او معین ئے کړی، نو د هغه راوی نه جهالت د ذات او عین ختمیږی۔ لیکن دعدالت حکم ورله بیا هم نه ثابتیږی، کما فی تدریب الراوی (١/٣١٧) وفتاوی الدین الخالص ٢/٣٠٢)۔ او دلته دے شاګردانو ابوزید معین کړے ندے نو هغه شان مجهول پاتے شو۔ په نفس شاګردئ باندے تعیین د استاذ نه راځی او عدالت خو درکنار!۔

دا وجه ده چه دا حدیث بالاتفاق ضعیف دے، هرکله چه هغه ابن حبان ضعیف کړو چه هغه مجاهیل ثقه کوی، نو دلیل دے په ضعف ددے روایت باندے۔ ځکه ابن حبان وائی چه ابوزید به هله مستقیم الحدیث وی کله چه دده بره راوی هم ثقه وی او لاندے هم ثقه

وی او دلته ابوزید داسے ندے۔

٣ - بل اعتراض : دادے چه دا حدیث منقطع هم دے ځکه چه ابو زید د عبد الله بن مسعودؓ په شاګردانو کښے نه دے ذکر شوے۔ لکه امام بخاریؒ فرمائی : ابو زید مجهول لا یعرف بصحبة عبد اللّٰه بن مسعود۔

امام ابن المدینیؒ فرمائی : لم یلق أبو زید عبدَ اللّٰه. کذا فی التحفة (١/٩١). امام ابوداود فرمائی : کان ابوزید نباذا بالکوفة۔ یعنی ابوزید په کوفه کښے د نبیذو کاروبار کولو نو کیدے شی چه هغه د خپل کاروبار د ترویج دپاره دا حدیث دځان نه جوړ کړے وی۔ ځکه چه دده پخپله ابن مسعود سره ملاقات ندے شوے۔

٤- اعتراض : دادے چه دا حدیث د متن اوالفاظو په لحاظ سره هم نه دے ثابت۔ ځکه چه مسلم (١/١٨٤) باب القرائة فی الصبح کښے دی چه د ابن مسعودؓ نه علقمهٔ تپوس اوکړو : ته لیلة الجن کښے د نبی ﷺ سره ملګرے وے ؟ نو هغه اوفرمائیل : (لا) زه د رسول الله ﷺ سره نه اوم أرمان دے چه زه ورسره وے نو څنګه به ښه وه (لم أکن مع رسول اللّٰه ﷺ ووددتُ أن اکون معه)۔

نو ابن مسعودؓ نه ددے مخالفت ثابت شو۔ نو تعارض بین القولین راغلو، او روایت د مسلم قوی دے ددے روایت نه، نو هغے له به ترجیح وی۔

احناف ددے **جواب** کوی چه لیلة الجن واقعه په مکه اومدینه کښے درے درے ځله واقع شویده، نو ابن مسعودؓ په اول ځل نه وو، او باقی ته حاضر شویدے۔ اوکوم روایت کښے چه نفی راغلے ده نو دا اول ځل مراد دے۔ کما رواه أبو نعیم فی دلائل النبوة۔

جواب : ددے نه دادے چه د هغه نورو واقعو سندونه نه دی ثابت۔ او یو ځل لیلة الجن سند ثابت دے۔ اوصحابؓو کښے همدغه یوه مشهوره وه، او همدے ته ابن مسعودؓ نه دے حاضر شوے، لکه مخکښے تیر شو۔

بله وجه داده چه ابن مسعودؓ مطلقا نفی کړیده په حدیث د مسلم کښے، او په اول کرتے پورے ئے نه ده مقیده کړے۔ چه زه اول کرتے لیلة الجن ته نه یم حاضر شوے۔ بلکه مطلقا ئے نفی کړیده۔ معلومیږی چه لیلة الجن یو کرت واقع شویده۔

(٥) - **اعتراض** : بالفرض كه اومنو چه حديث ثابت دے نو بيا وايو چه دا اول او دويم قسم نبيذ وو چه صرف كجورے اوبو كښے اچولے شوے وے او تينګوالے ئے نه وو پيدا كړے او دا خو اتفاقى صورت دے چه اودس پرے جائز دے۔ پدے باندے دليل قول د ابو العاليه دے (انبذتكم هذه خبيثة انما كانت زبيبا وماء). كذا فى الدارقطنى۔

يعنى ستاسو نبيذونه خو خبيث دى (نشے والا دى) او د صحابو نبيذ دا وو چه اوبو كښے به ئے اوڅكے، كجورے واچولے۔

امام نووىؒ په المجموع (٢٣/١) كښے دے جواب ته داسے اشاره كوى : (الثالث : ان المراد بقوله : نبيذ اى ماء نبذت فيه تمرات ليعذب ولم يكن متغيرا، وهذا تاويل سائغ لان النبى ﷺ قال ثمرة طيبة وماء طهور فوصف النبى ﷺ شيئين ليس النبيذ واحدا منهما)۔

يعنى د ابن مسعود ددے قول چه دا نبيذ دى مطلب دا دے چه دا هغه اوبه دى چه كجورے په كښے اچولے شويدى او متغير شوى ندى۔

او دا تاويل څكه پكار دے چه نبى ﷺ ورته پاكه ميوه او پاكے اوبه وئيلى دى نو نبى ﷺ دوه څيزونه بيان كړل چه يو (هم) پكښے نبيذ نه وو (څانله كجوره هم نبيذ ندى او څانله اوبه هم نبيذ ندى بلكه خوږے اوبه دى)۔

٦-**اعتراض** : صاحب د بذل المجهود (٥٥/١) كړيدے هغه دا چه كه حديث النبيذ صحيح هم شى بيا هم عمل په دے نشى كيدے، وجه داده چه دا منسوخ دے په آيت د تيمم سره، څكه چه دا واقعه د ليلة الجن په مكه كښے واقع شويده، او آية التيمم په مدينه كښے نازل شويدے۔ نو دا روايت منسوخ دے په دے آيت سره۔

حافظ زيلعى هم داسے خبره كړيده : (فالمذهب الصحيح المختار عندنا هو عدم الجواز موافقة للائمة الثلاثة فلا حاجة الى الاشتغال بحديث ابن مسعود لان من العلماء من تكلم فيه وضعفه وعلى تقدير صحته فهو منسوخ بآية التيمم لتاخرها اذ هى مدنية وحديث ابن مسعود مكية وعلى هذا مشى جماعة من المتاخرين)۔

بعضے احنافو بل دليل وئيلے دے چه په روايت دحاكم فى المستدرك (٥٠٣/٢) كښے نقل دى ابن مسعودؓ فرمائى : نبى ﷺ اوفرمائيل : (په مكه كښے) ما سره څوك أمر

الجن ته نن شپه حاضرېږي، نو حاضر دے شي، نو په صحابهٔ ؤ کښې ورسره صرف زه حاضر شوم۔

جواب : دا حديث ضعيف السند دے، ددے په سند کښې ابو عثمان بن سنه الشامي مجهول راوي دے۔ ابو زرعة فرمائي : لا أعرفه. كذا في المرعاة (۱۸۱/۲) ۔ او دا په څوارلس متابعاتو کښې عيني شمارلے دے چه سند ئے ضعيف دے۔ او که بالفرض صحيح هم شي نو نو دا مخالف دے د ددے قول د ابن مسعود نه چه لم اكن ليلة الجن مع رسول الله ﷺ او دا قوي د روايت د حاکم نه۔

۳- علاوه لا دا چه په دغه روايت د حاکم کښې د وضوء بالنبيذ ذکر هم نشته۔فتدبر۔

۷ - **بل اعتراض** : دادے چه دا روايت د ابن مسعودؓ د قرآن خلاف دے، ځکه چه الله تعالیٰ طهوريت په اوبو پورے خاص کړيدے او نبيذ ئے په کښې نه دی ذکر کړی، نو نبيذ ورسره زياتول خلاف د قرآن دی۔او صحيح حديث هم نشته۔

زياته تشريح په فتاوى الدين الخالص (۳۰۴/۲)، تحفة الأحوذي (۹۱/۱)، المغني (۳۸/۱) ، نيل الأوطار کښې اوګورئ۔

نو ثابته شوه چه په نبيذ التمر باندے اودس کولو کښې هيڅ دليل نشته، او په دے باندے اودس کول جائز نه دی، اودے قول الجمهور ته امام ابو حنيفةؒ هم رجوع کړيده، اودا ئے آخيرنے قول دے، واختاره الطحاوي، كذا في البذل والمرعاة (۱۸۱/۲)۔

۸- وَصَحَّ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ : لَمْ أَكُنْ لَيْلَةَ الْجِنِّ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ .رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او د علقمهؒ نه دا صحيح ثابته ده چه عبد الله بن مسعودؓ فرمائي : زه په ليله الجن کښې د رسول الله ﷺ سره ملګرے نه ووم۔ (مسلم)۔

تعارف : د علقمه رحمه الله :

داد عبد الله بن مسعودؓ شاګرد دے، د کوفے اوسيدونکے دے، فقيه او عابد، ثقه اوثبت راوي دے، داد ابن مسعودؓ سره په هيئت او سيرت کښې مشابه وو، د اويا (۷۰) هجري نه

پس وفات شویدے۔

تشریح : ددے روایت سره مخکښے واقعه داسے وه چه مسلم (۱/۱۸٤) کښے راځی عامر د علقمه نه تپوس اوکړو چه آیا ابن مسعود د نبی ﷺ سره لیلة الجن ته حاضر شوے وو نو علقمه اووئیل ما دا تپوس د ابن مسعود کړے وو چه تاسو کښے د رسول الله ﷺ سره څوك لیلة الجن ته حاضر شوے وو ابن مسعود اووئیل نه الخ۔ نو ابن مسعود چه مطلقا دا نفی کوی چه زه د پیغمبر سره دے شپے ته نه اوم حاضر شوے دلیل دے چه هیڅکله ورسره نه وو حاضر شوے ولے که یو کرت وزسره حاضر شوے وے نو علقمه ته به ئے تفصیل کړے وے چه زه اول کرت نه اوم حاضر او روستو ورسره حاضر شوے یم۔

---

۹ – وَعَنْ كَبْشَةَ بِنْتِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَكَانَتْ تَحْتَ ابْنِ اَبِیْ قَتَادَةَ أَنَّ أَبَا قَتَادَةَ دَخَلَ عَلَيْهَا فَسَكَبَتْ لَهٗ وَضُوْءً فَجَاءَتْ هِرَّةٌ تَشْرَبُ مِنْهُ فَاَصْغٰى لَهَا الْاِنَاءَ حَتّٰى شَرِبَتْ قَالَتْ كَبْشَةُ : فَرَآنِیْ اَنْظُرُ اِلَيْهِ فَقَالَ : اَتَعْجَبِيْنَ يَا ابْنَةَ أَخِیْ قَالَتْ : فَقُلْتُ نَعَمْ، فَقَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : اِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ اِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِيْنَ عَلَيْكُمْ اَوِ الطَّوَّافَاتِ). رَوَاهُ مَالِكٌ وَاَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِیُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِیُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِیُّ.

ترجمه : بی بی کبشه بنت کعب بن مالك نه – چه د ابو قتادة د ځوئے ښځه ده – روایت دے چه یوه ورځ د هغے سخر ابو قتادة هغے ته راغے (بی بی کبشة وائی) ما دهغه د اودس دپاره یو لوښی کښے اوبه کیخودلے، یوه پیشو راغله هغے نه ئے اوبه څکل شروع کړل، ابو قتادة هغے طرفته لوښے ښکته کړو (چه آسانئ سره اوبه اوڅکی) نو پیشو اوبه اوڅکلے، بی بی کبشه وائی : ابو قتادة چه زه اولیدم چه زه تعجب سره هغه طرفته ګورم، نو هغه اووئیل : زما وریرے ! تاته په دے تعجب کیږی ؟ ما اووئیل : هاؤ، ابو قتادة اووئیل : نبی ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : بیشکه چه پیشو ګانے ناپاکے نه دی، ځکه چه دوئ تاسو ته د تلونکو راتلونکو نه دی۔ (مالك، احمد، ترمذی، ابوداود، نسائی، ابن ماجه، دارمی)۔

تشريح : كَبْشَةَ : دا د عبد الله بن أبي قتاده زوجه ده او د ابو قتادةؓ انګور ده، ابن حبان ورته ثقه وئيلي ده، امام ترمذیؒ ددې حديث ته صحيح وئيلي دی۔

فوائد الحديث : ۱ - اِنګور د سخر خدمت کولې شي او واجب پرې نه دې بلکه د مشر والي په وجه ادبا او د احسان په بدله کښې به خدمت کوی۔ او داسې نه ده چه دا بعينه د مور پلار حق لری. ۲ - په دې حديث کښې مسئله د جوټې د پيشو ده، چه تفصيل ئې مخکښې تير شو۔ د جمهورو په نيز جوټه ئې پاکه ده، او عند الأحناف مکروه ده، ليکن دا حديث د هغویٔ په قول ردّ دې، چه نبی ﷺ ورته نجس نه ده وئيلي، او کوم ځائې کښې چه ددې د جوټې نه د لوښي يو ځل وينځلو أمر راغلي دې (يغسل مرة، ابو داود، صحيح موقوفا ومرفوعا کما في صحيح ابي داود رقم (٦٥) نو وينځل مستلزم ندی کراهت لره، بلکه هغه وينځل د نظافت د وجې نه دی، نه د نجاست د وجې نه، کما مرّ۔

۳ - **فائده** : د پيشو ذات نجس نه دې، او جوټه ئې پاکه ده، لکه د خر پشان، او کوم حديث کښې چه دا وئيلي شوی دی چه (السنور سبع) اخرجه احمد والدارقطني والبيهقي، نو ددې معنیٰ داده چه ددې غوښه نه خوړلې کيږی، خوراك ئې حرام دې، ځکه چه دا نور حيوانات خوری، د درندګانو پشان۔ او په هغې کښې د جوټې متعلق هيڅ خبره نشته، کما سبق۔ نو بدن او جوټه ئې پاکه ده، او غوښه ئې حرامه ده۔

اِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِيْنَ عَلَيْكُمْ اَوِ الطَّوَّافَاتِ : دلته او د شك دپاره نه دې، ځکه بل روايت کښې په واؤ سره هم راغلي دې ځکه چه بعضې مذکر دی او بعضې مؤنث دی۔

٤ - الطوافين جمع د طوّاف ده، هغه خادم چا ته وائي چه ډير ګرځی راګرځی۔ علامه ابن الاثير فرمائي : الطائف الذي يخدمك برفق و عناية۔ يعنی طوّاف هغه شخص ته وائی چه ستا خدمت کوی په نرمیٔ او اهتمام سره۔ دا حيوانات ئې مشابه کړل د هغه خادم سره چه په مخدوم باندې ورداخليږی او د هغه نه ګرځی راګرځی۔

٥ - په دې روايت کښې علت د طهارت د جوټې حرج راتلل دی په کثرة الطواف سره، يعنې پيشو کور کښې ډيره ګرځی راګرځی، نو ددې نه ځان او لوښي ساتل ګران دی، انسان په حرج کښې واقع کيږی، نو شريعت دا حرج لرې کړو په طهارت د جوټې د دې سره۔

٦- دا حديث او ددې پشان نور احاديث دلالت كوي په يوه لويه قاعده كليه شرعيه باندې چه هغه دا ده (المشقة تجلب التيسير). په كوم شي كښې چه مشقت راځي نو شريعت پكښې آساني پيدا كوي. نو د پيشو نه څيزونه، لوښي ساتل ګران دي نو شريعت ددې جوټه هم پاكه كړه اګركه په لامده څيزونو كښې خوله اووهي.

٧- دارنګه ددې حديث نه معلومه شوه چه څانله جوټه نه بلكه د پيشو هراندام چه د جامې يا لوښي نه اولګي نو پاك به وي.

بيا نور علماء په دې علت باندې نور طوافين حيوانات هم قياس كوي، لكه مار، لړم، مږه وغيره. نو هغوئ كښې هم دا علت شته دې نو د هغې جوټه هم پاكه ده. او دارنګه قياس ته ضرورت هم نشته بلكه دا معلوميږي د عموم د راتلونكي حديث نه.

او همدا خبره صحيح ده، لأن الماء طهور لا ينجسه شئ، الا ما تغير لونه، او طعمه، او ريحه.

الفائدة الفائقة : احكام شرعيه د اهل الظواهر په نيز معلول بعلّةٍ نه دي. او د ائمه أربعه ؤ په نيز أكثر احكام معلول بعلّةٍ دي، نو كوم ځائې چه علت موجود وي هلته به حكم هم موجود وي، اوكه علت نه وي موجود نو حكم به هم نه وي موجود.

درجة الحديث : رواه النسائي وابوداود وابن ماجة والدارمي وصححه البخاري والعقيلي والدارقطني وابن خزيمة فسنده صحيح.

---

١٠ - وَعَنْ دَاوُدَ بْنِ صَالِحِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ أُمِّهِ اَنَّ مَوْلَاتَهَا اَرْسَلَتْهَا بِهَرِيْسَةٍ اِلٰى عَائِشَةَ قَالَتْ : فَوَجَدتُّهَا تُصَلِّيْ فَأَشَارتْ اِلَيَّ : اَنْ ضَعِيْهَا فَجَائَتْ هِرَّةٌ فَأَكَلَتْ مِنهَا فَلَمَّا انْصَرَفَتْ عَائِشَةُ مِنْ صَلَاتِهَا أَكَلَتْ مِنْ حَيْثُ أَكَلَتِ الْهِرَّةُ، فَقَالَتْ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : اِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ. اِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِيْنَ عَلَيْكُمْ وَاِنِّيْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَتَوَضَّأُ بِفَضْلِهَا . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُد .

ترجمه : داود بن صالح بن دينارؒ د خپلې مور بي بي نه نقل كوي چه يوه ورځ د هغې

آزادونکے مالکے هغه له حلواء سره عائشےؓ ته اولیږله، د هغه مور وائی : زه چه هلته اورسیدم نو بی بی عائشےؓ مونځ کولو، هغے اشارے سره د هغے ایخودلو دپاره ماته اووئیل۔ نو ما د حلواء لوښے کیخودلو۔ دے کښے یوه پیشو راغله او د هغے نه ئے خوراك شروع كړو، بی بی عائشهؓ چه د مونځ نه فارغ شوه، نو پیشو چه د کوم ځائے نه خوراك كړے وو، د هغے ځائے نه ئے خوراك اوكړو، او وے فرمائیل : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : پیشو ناپاکه نه ده، دا خو تاسو ته د تلونکو راتلونکو نه ده۔ او ما خپله رسول الله ﷺ اولیدو چه د پیشو په جوته کړو اوبو باندے ئے اودس کولو۔ (ابو داود)۔

تعارف : د داؤد بن صالح بن دینار :

التمار المدنی، مولی الأنصار، امام احمدؒ فرمائی : لا اعلم به بأسا، ابن حبانؒ ورته ثقه وائی، حافظ ابن حجرؒ فرمائی : صدوق من صغار التابعین۔

تشریح : بِهَرِيْسَةٍ : هریسه هغه حلواء ته وائی چه د تکولے شوو اوربشو او غوښے نه پخه کړے شوے وی۔

اِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ : یعنے ددے پیشو جوته پلیته نه ده۔ دا حدیث صریح دلیل دے په دے چه د پیشو په جوته شوو اوبو سره اودس کول جائز دی، او رسول الله ﷺ پخپله هم په دے سره اودس کړیدے، نو کومو علماؤ – لکه امام ابو حنیفهؒ – چه دیته مکروه وئیلی دی نو دا قول ضعیف دے، او ددے حدیث خلاف دے۔

فائده : امام طحاویؒ د مخکښے حدیث د ابو قتادهؓ نه دا جواب کړیدے چه (انها لیست بنجس) نه دا نه معلومیږی چه د پیشو جوته پاکه ده، بلکه دا محمول دے په دے باندے چه کله د جامے وغیره نه پیشو اولګی نو دا به نه وی نجس، او عمل د أبو قتادهؓ دده خپل اجتهاد دے، چه ددے حدیث نه ئے استدلال کړیدے۔ مګر د امام طحاویؒ دا خبره مردود ده، په دے الفاظ سره چه (رأیت رسول الله ﷺ یتوضأ بفضلها)، ځکه دا نص دے په دے کښے چه نبی ﷺ د هغے جوته پاکه ګڼړلے ده او په هغے باندے ئے اودس کړے دے۔ او عائشےؓ په هغه ځائے خله ایخے ده په کوم ځائے چه پیشو خله ایخے وه۔ بعضے خلقو لا دا فرق کړیدے چه کله پیشو مږه یا ګندګی وغیره تازه خوړلی وی، نو جوته ئے نجس ده،

اوکه تازه ئے نه وی خوړلی نو پاکه ده، دا هسے اجتهادی فرق دے، او د تازه اود زړو خوړلو منضبط فرق هم گران دے۔

فَأَشَارَتْ اِلَیَّ : ١ - په مانځه کښے تعلیم او تعلم جواز لری، او په دے سره مونځ نه فاسدیږی، دلته عائشهؓ په لاس یا په سر سره اشاره کړیده۔ دارنگه نبی ﷺ په مانځه کښے ډیر تصرفات کړیدی، لکه مار،لړم ئے وژلے دے، دروازه ئے کهلاوه کړیده، د سلام جواب ئے د لاس په اشارے سره ورکړیدے، ماشومه جینئ ئے اوچته کړے ښکته کړیده، مانځه کښے مخے ته تیریدونکی ته به ئے لاس نیولو۔ یو صحابی ته ئے اووئیل (ترّب وجهك) د بهر مانځه نه داخل الصلاة ته فتح ورکړے شویده۔ دا په صورت د (وتعاونوا علی البر والتقویٰ) باندے حمل دی۔

درجة الحديث : رواه أبوداود : ددے حدیث په سند کښے عبد العزیز بن محمد الدراوردی صدوق راوی دے، وثّقه مالك والنسائی وابن معین، لیکن أم داؤد په کښے مجهوله راویه ده، البته نور احادیث چه زیلعیؒ په نصب الرایة کښے ذکر کړیدی، ددے مؤید کیدے شی۔ او دا روایت پرے قوی کیږی۔ وکما مرّ۔لیکن البانی صاحب دے حدیث ته حسن صحیح وئیلے دے صحیح سنن ابی داود رقم (٧٥) ویشهد له الحدیث الذی قبله۔

---

١١ - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنَتَوَضَّأُ بِمَا أَفْضَلَتِ الْحُمُرُ ؟ قَالَ : (نَعَمْ وَبِمَا أَفْضَلَتِ السِّبَاعُ كُلُّهَا). رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه : جابرؓ نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو : آیا مونږ هغے اوبو سره اودس کولے شو چه خرونو جوټه کړے وی ؟ نبی ﷺ اوفرمائیل : آو، (هغے سره اودس کول جائز دی) او هغه اوبو سره هم اودس کول جائز دی چه درندگانو ټولو جوټه کړے وی۔ (شرح السنه)۔

تشريح : **نَعَمْ وَبِمَا أَفْضَلَتِ السِّبَاعُ كُلُّهَا** : دا حدیث د جمهورو د مذهب مطابق دے چه د سباع البهائم (درندګان حیواناتو) جوټه پاکه ده۔ ٢ - دارنگه د هر قسم خرو، قچرو جوټه هم پاکه ده۔ اومشکوك والا خبره خطاء ده۔

دا حديث عموم كلي دے څكه ئے په جواب كښے زيادت هم اوكړو، په بما افضلت السباع كلها سره څكه خرة خو لا په څائے پريده د هر قسم حيوان درنده جوته پاكه ده. ددے نه سپے اوخنزير په نورو دلائلو سره خاص شوى دى۔

درجة الحديث : رواه فى شرح السنة : دا حديث دارقطني (٦٢/١) او بيهقى فى الكبرى (٢٤٩/١) والشافعي فى الام (٦/١) هم راوړيدے، ددے حديث دوه سندونه دى، لكه دارقطنى ذكر كړيدى :

١ – د يو په سند كښے ابرهيم بن محمد بن أبى يحيىٰ متروك راوى دے، او :

٢ – په دويم كښے ابراهيم بن اسماعيل بن أبى حبيبه ضعيف دے، او دارقطنى دا حديث ددے دواړو سندونو په وجه ضعيف كړيدے، وفى سند البيهقى داود بن الحصين وابوه ضعيفان. ليكن ددے معنىٰ صحيح ده، د شواهدو په وجه. او د آثار الصحابة په وجه، چه هغه آثار امام طحاوىؒ او امام ابن أبى شيبةؒ او فتاوى الدين الخالص (٢٩١/٢) كښے اوګوره. قال الشوكانى : قال البيهقى : له أسانيد اذا ضم بعضها الى بعض كانت قوية النيل (٤٥/١).

---

١٢ – وَعَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ اِغْتَسَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ هُوَ وَمَيْمُوْنَةُ فِىْ قَصْعَةٍ فِيْهَا أَثَرُ الْعَجِيْنِ . رَوَاهُ النَّسَائِىُّ وَابْنُ مَاجَه .

ترجمه : ام هانئ نه روايت دے دا فرمائى : رسول الله ﷺ او ميمونهؓ ديو بنانك نه اودس اوكړو چه په هغے كښے د اخكلي ښوو اوړو اثر وو. (نسائى، ابن ماجه).

تعارف : د أم هانئ : رضى الله عنها :

ددے نوم فاخته يا هنده دے، دا د على رضى الله عنه خپله خور ده، او د أبو طالب لور ده، دا په زمانه د جاهليت كښے نبى ﷺ او هبيره بن أبى وهب د ابو طالب نه په نكاح اوغوښتله، هغه هبيره ته په نكاح وركړه، بيا دے د فتح مكه په ورځ اسلام قبول كړو، نو اسلام ددے او ددے د خاوند – هبيره – ترمينځه نكاح ماته كړه، بيائے نبى ﷺ مطالبه اوكړه، نو دے ورته اووئيل : زما ستا سره په جاهليت كښے محبت وو، نو په اسلام كښے خو

خامخا محبت دے، ليکن خبره داده چه زه د ډيرو ماشومانو موريم، نو نبي ﷺ ترے نه عذر قبول کړو. ټول (٤٦) احاديث ددے نه نقل دی.

تشريح : فِيُ قَصْعَةٍ : د خانك پشان کاسه ده، په دے حديث کښے دا مسئله ده چه ټولے اوبه پاکے دی، اګرچه طاهر – يعنے پاك څيز – ورسره ګډ شوے وی. او په دے حديث کښے هغه اوبه ذکر دی. (خالطه طاهر) : يعنے چه پاك څيز ورسره ملاؤ شوے وی، د شوافعو په نيز په اوبو کښے تغير راتلو سره – برابره خبره ده که ملاؤ شوے څيز پاك وی اوکه ناپاك – اوبه پليتيږی. اود اوداسه او غسل دپاره قابل نه وی. په دے وجه هغوئ ددے حديث داسے تاويل کوی چه کاسه يا خانك کښے دومره وړه نه پاتے کيږی چه په اوبو کښے تغير پيدا شی، نو ځکه په دے اوبو باندے نبي ﷺ او ميمونهؓ غسل اوکړو. ليکن دا قول د دوئ کمزورے دے کماعرفت.

درجة الحديث : رواه احمد (٣٤٢/١) والنسائي (٤٧/١) وابن ماجة (٣٧٨) : وسنده حسن أو صحيح ورجاله ثقات لكن اعله البيهقي بالانقطاع بين مجاهد وام هانئ كما في السنن الكبرى (١/٧-٨) لكن رواه النسائي (٧١/١) من طريق عطاء قال حدثتني ام هانئ به وهو متصل وسنده حسن. كذا في تعليق المشكاة لرمضان (٢١٨/١).

الفصل الثالث - دريم فصل

١٣ – عَنۡ يَحۡيَى بۡنِ عَبۡدِ الرَّحۡمٰنِ قَالَ : اِنَّ عُمَرَ خَرَجَ فِيۡ رَكۡبٍ فِيۡهِمۡ عَمۡرُو بۡنُ الۡعَاصِ حَتّٰى وَرَدُوۡا حَوۡضًا ، فَقَالَ عَمۡرٌو : يَا صَاحِبَ الۡحَوۡضِ! هَلۡ تَرِدُ حَوۡضَکَ السِّبَاعُ ؟ فَقَالَ عُمَرُ بۡنُ الۡخَطَّابِ : يَا صَاحِبَ الۡحَوۡضِ ! لَا تُخۡبِرۡنَا، فَاِنَّا نَرِدُ عَلَى السِّبَاعِ وَتَرِدُ عَلَيۡنَا). رَوَاهُ مَالِكٌ.

١٤ – وَزَادَ رَزِيۡنٌ قَالَ : زَادَ بَعۡضُ الرُّوَاةِ فِيۡ قَوۡلِ عُمَرَ : وَاِنِّيۡ سَمِعۡتُ رَسُوۡلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوۡلُ : لَهَا مَا اَخَذَتۡ فِيۡ بُطُوۡنِهَا وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَنَا طَهُوۡرٌ وَشَرَابٌ).

ترجمه : يحيى بن عبد الرحمنؒ فرمائي : عمر بن الخطابؓ يو ے قافلے سره چه هغے

کښې عمرو بن العاص هم وو روان شو، هر کله چه قافلې واله یو حوض ته اورسیدل نو عمرو بن عاص اووئیل : اے د تالاب مالکه ! آیا ستا دے تالاب ته (اوبو څکلو دپاره) درندګان راځي ؟ (دے آوریدو سره عمر بن خطابؓ) اوفرمائیل : اے د تالاب مالکه ! ته مونږ ته ددے خبر مه راکوه، څکه چه مونږ په درندګانو راځو او درندګان په مونږ راځي۔ (یعنې کله مونږ اوبو له راځو او کله درندګان اوبو له راځي)۔ (مالك) او رزین دا زیاتي وئیلي دي چه بعضے راویانو د عمرؓ په دے قول کښې دا زیاتي کړي دي چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي دي چه فرمائیل ئے : د درندګانو دپاره هغه څه دي چه په خپلو خیټو کښې یوسي، او څه چه باقي پاتے شي هغه زمونږ د څکلو قابلے او پاکونکے دي۔

تعارف : د یحیی بن عبد الرحمن رحمه الله :

د حاطب بن أبی بلتعه رضی الله عنه نواسے او ثقه تابعيؒ دے، د عثمان رضی الله عنه په دور خلافت کښې پیدا شویدے، او په سنه (۱۰٤) ھ کښې وفات شویدے، عثمان، علي او زید بن ثابت رضي الله عنهم سره ئے ملاقات شوے دے، کثیر الحدیث راوی دے۔

تشریح : هَلْ تَرِدُ حَوْضَکَ السِّبَاعُ ؟

د **سوال** مطلب دادے چه که درندګان حوض ته راځي نو اودس تړے نه کوو، اوکه نه راځي نو اودس به تړے اوکړو۔ په بل روایت کښې دي چه عمر رضي الله عنه په عمرو بن العاص باندے رد اوکړو چه : یاصاحب المقراة لا تخبره هذا متکلف لها ما حملت فی بطونها ولنا ما بقي شراب وطهور .اخرجه الدارقطني بروایة ابن عمرؓ کذا فی النیل (۱/٤٥) . یعنې اے د حوض مالکه ! ده ته خبر مه ورکوه څکه چه دا متکلف (متشدد) دے بلکه مسئله دا ده چه د درنده ګانو نه چه مونږ ته کومے اوبه پاتے شویدي نو دا بالکل پاکے اوبه دي۔ د هغوی په جوټه سره دا اوبه نه خرابیږي۔

فانا نرد علی السباع : یعنې مونږ په غرونو اوکندووونو کښې د هغوئ څکلے شوے اوبه څکو، اوکله زمونږه حوضونو ته درندګان راځي۔ دا حدیث دلیل دے په طهارت د جوټه د سباع البهائم (درندګانو) او هر قسم حیواناتو باندے۔

درجة الحدیث : رواه مالك في الموطا (۱/۲۳-۲٤) رقم (۱٤) : دا روایت منقطع او

مرسل دے، ځکه يحيىٰ اګرچه ثقه دے ليکن د عمر فاروقؓ نه ئے آوريدل نه دی کړی، او ورسره نه دے ملاؤ شوے، كذا قال البيهقي. وابن عبد الهادي في تنقيح التحقيق (١/٢٤٦) في اسناده انقطاع۔ ليکن دا احتمال شته چه ده به د عمرو بن العاصؓ نه آوريدلے وی، نو بيا د نورو رواياتو سره کار ورکوی۔ هغه ورله تائيد ورکوی۔

---

١٥ – وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ سُئِلَ عَنِ الْحِيَاضِ الَّتِي بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ تَرِدُهَا السِّبَاعُ وَالْكِلَابُ وَالْحُمُرُ عَنِ الطُّهْرِ مِنْهَا فَقَالَ: لَهَا مَا حَمَلَتْ فِي بُطُونِهَا وَلَنَا مَا غَبَرَ طَهُورٌ). رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه .

ترجمه : ابو سعيد خدريؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ نه د هغه حوضونو باره کښے تپوس اوشو کوم چه د مکے او مدينے ترمينځه دی، چه دے ته درندګان، سپی او خره راځی، چه ددے نه اودس کول څنګه دی؟ نبی ﷺ اوفرمائيل : څه چه د هغوئ خيټو کښے راشی هغه د هغوئ دی، او څه چه باقی پاتے شی هغه زمونږ دپاره پاکونکے دی۔ (ابن ماجه)۔

تشريح : عَنِ الطُّهْرِ : دا بدل دے د عن الحياض نه، يعنے د نبی ﷺ نه د حوض نه د اودس کولو متعلق تپوس اوشو، چه ديته درندګان راځی، نو نبی ﷺ جواب ورکړو، چه دا اوبه چه د حيواناتو نه پاتے شوی دی بالکل پاکے دی۔

مَا غَبَرَ : بفتح الباء په معنی د مابقی سره۔

درجة الحديث : دا حديث هم سندا ضعيف دے، ځکه چه عبد الرحمن بن زيد بن أسلم راوی په کښے سئ الحفظ دے۔ ليکن ددے په معنىٰ باندے ډير آثار او احاديث موجود دی، چه ټول راجمع کړے شی نو يوه صحيح معنىٰ ورکوی چه سؤر البهائم پاکه ده۔ برابره خبره ده که لږو اوبو کښے خله اووهی، او که ډيرو اوبو کښے۔

١٦ – وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه قَالَ : (لَا تَغْتَسِلُوا بِالْمَاءِ الْمُشَمَّسِ فَإِنَّهُ يُورِثُ الْبَرَصَ). رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ .

ترجمه : عمر بن خطابؓ فرمائي : په نمر باندے گرمو شوو اوبو باندے اودس مه کوئ ځکه چه دے سره برگے مرض پيدا کيږی۔ (دارقطنی)۔

تشريح : لَا تَغْتَسِلُوا بِالْمَاءِ الْمُشَمَّسِ الخ :

د ماء مشمس (نمر باندے گرمے شوو اوبو) باره کښے مرفوع احاديث حافظ ابن عبد الهادی په تنقيح التحقيق (٤٤/١) کښں او زيلعیؒ په نصب الرايه (١٠١/١) او حافظ په تلخيص الحبير (٢٢/١) او بيهقی (٦/١) کښے راوړيدی، ليکن هغه ټول ضعيف دی، او نه دی ثابت۔ او هرچه موقوف حديث د عمر فاروقؓ دے، نو دا هم ضعيف دے، کما يأتی۔ دا وجه ده چه د جمهورو په نيز په هغه اوبو باندے چه نمر ته پرتے وی، نمر وهلی وی، اودس جواز لری۔

٢ – امام شافعیؒ فرمائی : مکروه دی، ليکن روستنی شوافع وائی : امام شافعیؒ ورته مکروه ځکه وئيلی چه طبی نقصان په کښے دے هغه دا چه برگے مرض پيدا کوی۔ او دا مطلب د عمر فاروق رضی الله عنه هم دے۔ د دين د وجے نه ئے منع نه ده کړے، د الله او رسول ﷺ په نزد ممنوع نه دی۔ يا د عمر فاروقؓ مقصد دادے چه تاسو په دے کار هميش والے مه کوئ، هسے نه چه برگی مرض کښے مبتلا نشئ۔ او عمر فاروقؓ دا د نبی ﷺ نه نه دی آوريدلی، مرفوعا نه دے ثابت۔ خو راجح داده چه امام شافعیؒ د کراهت نه په يو قول کښے د جمهورو قول ته رجوع کړيده۔

درجة الحديث : رواه الدارقطني والبيهقي (٦/١) وابن حبان وسنده ضعيف فيه حسان بن ازهر السلكي لم يوثقه غير ابن حبان وتوثيقه لا يعتد به كثيرا لان من عادته ان يوثق المجهولين وقد روى مرفوعا من طرق كلها واهية راجع التلخيص الحبير (١٢٢)۔

* * * * * * * * * * *

باب تطهیر النجاسات

مناسبت : مخکښې داوبو احکام بیان شو، اوس وائی چه د نجاساتو لرې کولو دپاره به پاکې اوبه استعمالولې شی، او هغه به په پاکو اوبو سره وینځلې شی۔

۱ – نجاست په دوه قسمه دے (۱) یو نجاست باطنی، لکه جنابت او بے اودسی وغیره۔

۲ – دویم نجاست ظاهری، د اعام طور سره په اوبو لرې کیږی، او بعضې نجاستونه د اوبو نه علاوه په بل شئ سره هم لرې کیږی، لکه دا د احنافو رائے هم ده، وهو الراجح دلیلا۔ ★ او د جمهورو مذهب دادے چه نجاسات د اوبو نه علاوه په بل شئ سره نه زائل کیږی، مثال د هغه نجاساتو چه د اوبو نه علاوه بل څه سره لرې کیږی، لکه زمکه چه پلیته شی، نو د هغې پاکوالے په اوچ والی سره راځی، یا گنده څپلئ چپړه زمکې پورې راکاږه او مسجد ته داخل شه، یا څرمنې ته چه رنګ ورکړے شی نو پاکه شی۔

بیا نجاسات اوپلیتئ ډیر اقسام لری : (۱) ولوغ الکلب (۲) منی (۳) د حیض وینه (٤) بول متیازے (۵) د ماشومانو بول (٦) چقړو کښې گنده کیدل (۷) څرمن ـ د هر یو دپاره خپل خپل زائل کول اوصفا کول دی۔ چه تفصیل به ئے راشی۔

الفصل الأول – اولنے فصل

۱ – عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا شَرِبَ الْكَلْبُ فِیْ اِنَاءِ اَحَدِكُمْ فَلْیَغْسِلْهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ). مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ .وَفِیْ رِوَایَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ : طُهُوْرُ اِنَاءِ اَحَدِكُمْ اِذَا وَلَغَ فِیْهِ الْكَلْبُ اَنْ یَغْسِلَهٗ سَبْعَ مَرَّاتٍ اُوْلَاهُنَّ بِالتُّرَابِ .

ترجمه : ابو هریرهؓ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کله چه پتاسو کښې د چا په لوښی کښې سپے څکل اوکړی، نو هغه دے اووه کرتے اووینځی ـ (بخاری، مسلم) او د

مسلم په روايت کښې دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : پاکوالے د لوښي د يو کس ستاسو - کله چه په کښې سپے خله اووهي - دادے چه دا اووه ځله اووينځي، چه په دے کښې به ئے اول ځل په خاوره اووينځي۔

تشريح : اِذَا وَلَغَ فِيْهِ الْكَلْبُ :وَلَغَ د باب فتح نه مصدرئے وُلُوْغاً اويَالَغُ وَلْغاً بسكون اللام في المصدر : ۱- اذا شرب بطرف لسانه ۲- او ادخل لسانه فيه فحرّكهٔ۔يعنى د سپى وغيره په طرف د ژبه باندے اوبه څکل- يا ژبه په لوښى کښې داخلول او هغے کښې خوزولو ته ولوغ وائى كذا في لسان العرب (٤٩١٧/٦) فتح العلام ص (۵۵)۔

مسئلة ولوغ الكلب : صورت د مسئلے : سپے چه کله په لوښي کښې خله اووهي نو هغه لوښے پاك دے كه پليت ؟ په دے کښې دوه قوله دى۔

(۱) امام مالكؒ او امام بخاريؒ مذهب دادے چه دغه شے او اوبه پليت نه دى، او ددے نه لوښے وينځل ضرورى دى، او دا حكم تعبدى دے (۲) او جمهور علماء وائى : هركله چه لوښے پليت شو نو هغه شے به هم پليت وى، ليكن امام بخاريؒ جواب كوى چه شے پاك دے او د لوښى وينځلو حكم تعبدى دے، د نجاست په وجه نه دے۔

۲ - **دويمه مسئله** : لوښے به څو كرته وينځلے كيږى كله چه پكښې سپى خله اووهى؟ نو دے كښے اختلاف دے :

۱ - امام مالكؒ، شافعىؒ، احمدؒ، ابن عباسؓ، عروه بن الزبيرؒ، ابن سيرينؒ، اسحقؒ، اوزاعىؒ رائے داده چه اووه (۷) كرتے وينځل واجب دى۔

۲ - احناف وائى درے كرته وينځل كافى دى اووه (۷) او اته (۸) كرته وينځلو ته ضرورت نشته۔ بلكه كه اووه كرت وينځى نو صرف مستحب قدرے دى۔

او هر چه په خاورو باندے ككړول دى نو مالكيه وائى چه صرف اووه كرتے وينځل كافى دى نه اته كرته او تتريب (يعنى په خاورو باندے ككړول) هم نشته۔

۳ - او شوافع د خاورو سره اووه (۷) كرتے وائى۔

٤ - او حسن بصرىؒ پدے حديث عمل كړيدے چه وائى اته كرتے وينځل دى سره د

خاورو نه يعني يو ځل به ئے په خاورو ككړل كړي او اووه ځل به ئے په اوبو وينځي۔ او هم دده قول راجح دے كما رجحه الصنعاني في سبل السلام (۳۲/۱)۔

نو احناف اووه كرته وينځل او خاورو سره صفا كول په درجه د وجوب كښ نه مني، بلكه وائي چه درے كرتے به وينځلے شي، لكه عام نجاساتو پشان حكم لري۔

كذا ذكره الشوكاني في النيل (۱/۴۲-۴۶) والمباركفوري في التحفة (۲/۹۳) والنووي في شرح مسلم (۱/۱۳۸)۔

دلائل : احناف قاعده كليه پيش كوي چه حديث كښے ذكر ده۔

اذا استيقظ احدكم من منامه فلا يغمس يده في الاناء حتى يغسلها ثلاثا. رواه الشيخان وقد مر في اول باب سنن الوضوء۔

وجه د استدلال امام طحاويؒ داسے بيانوي چه هركله بول او براز په درے كرته وينځلو سره پاكيږي – چه دا اغلظ النجاسات دي – نو سؤر الكلب خو په طريقه اولىٰ سره په درے كرته وينځلو سره پاكيدل پكار دي۔ او دا قاعده كليه ده په زائل كولو د ټولو نجاساتو كښے۔ او دوئ وائي دا حديث مخالف دے ددے قاعدے نه، نو دوئ وائي درے ځل وينځل واجب دي، او اووه ځل وينځل مستحب دي۔

جمهور جواب وركوي چه دغه قاعده كليه نه ده، بلكه دهغه مقام پورے خاص ده، ځكه ډير اوقاتو كښے يو ځل وينځل هم راغلي دي، لكه تاسو دا وئيلي دي چه د پيشو جوټه به يو ځل وينځلے كيږي، كما مرّ۔ نو هغه هم ددے قاعده كليه نه مخالف شو، نو معلوميږي چه د سپي په باره كښے قانون جدا دے، او دغه قانون جدا دے۔ نو دواړه حديثونه جدا جدا قاعدے دي۔ يوه قاعده په بله كښے نه دي مدغم كول پكار۔

اودارنګه دا حديث په استحباب باندے حمل كول هم صحيح نه دي، ځكه چه نبي ﷺ په روايت د أبو هريرةؓ كښے عند مسلم (۱/۱۳۸) والدارقطني (۱/۶۳) كما ذكره المصنف) داسے فرمائيلي دي : (طهور اناء احدكم .... الحديث) ۔ يعنے دائے د پاكولو حد دے، او ددے نه په كم سره پاكوالے نه حاصليږي۔ نو د ځانه قاعده جوړول، او بل حديث په هغے باندے حملول د مذهب په بناء باندے صحيح نه دي، بلكه احاديث ټول په خپله

قواعد دي۔

۲ - **دويم دليل** : دا وائي چه دا حديث ابو هريرةؓ نقل کړيدے، او دارقطني (۶۲/۱) کښے دي چه ده فتویٰ ورکړيده په درے کرته وينځلو سره، لکه هغے کښے (عن عبد الملك عن عطاء عن أبي هريرة : اذا ولغ الكلب في اناء احدكم فليغسله ثلث مرات)، نو تعارض راغلو په مابين د روايت د رواى کښے او عمل او رائے د راوى کښے۔ نو مونږ د راوى رائے لره اعتبار ورکوو، نه روايت ده لره۔ ځکه چه هرکله راوى د خپل روايت مخالف فتویٰ ورکړى، معلوميږى چه دا روايت دده په نيز نه دے ثابت۔

جواب : ددے دوه جوابونه دي :

۱ - **اول جواب** دادے چه دارقطني (۶۳/۱) کښے دده بله فتویٰ هم موجود ده۔ (عن ابي هريرة في الكلب يلغ في الاناء قال : يهراق ويغسل سبع مرات - صحيح موقوف)، او دا صحيح موقوف دے، کما قال الدارقطني، نو تعارض راغلو ددوه فتویٰ ګانو دده، نو دا دواړه به پريدو، اګرکه د تثليث فتوى ئے په ضعيف سند سره نقل ده او حديث مرفوع باندے به عمل اوکړو، کوم چه ده نقل کړيدے۔

بلـه دا چه دا روايت د ډيرو صحابوؓ نه نقل دے، د علي، ابن عباس او ابن عمر - رضي الله عنهم - نه، چه اووه (۷) کرته به ئے وينځي۔ کما في الدارقطني (۶۳/۱) يوائحے د ابو هريرةؓ روايت نه دے۔

۲ - دارنګه قول او فعل د ابو هريرةؓ چه دارقطني نقل کړيدے هغه هم په روايت د عبد الملك بن أبي سليمان سره دے، اوده باره کښے علماء فرمائي : (صدوق له اوهام، وكان يخطئ). کما قال الحافظ في التقريب (۳۶۳)۔

امام بخاريؒ په خپل صحيح کښے په ده باندے احتجاج نه دے کړے، كذا في التحفة (۹۳/۱) وتنقيح التحقيق (۵۵/۱)۔ دارنګه امام بيهقيؒ په المعرفة کښے فرمائي : عبد الملك په خپل روايت کښے د ثقاتو نه خلاف کړيدے : وعبد الملك لا يقبل منه ما يخالف فيه الثقات لمخالفته أهل الحفظ والثقة في بعض رواياته تركه شعبة بن الحجاج. انظر التعليق المغني : ۶۴/۱۔

نو عبد الملك په خپل روايت کښې خطاء شويدې چه د تثليث روايت ئې د ابو هريرةؓ نه نقل کړيدې، او نورو ملګروئې تسبيع نقل کړيده، نو د حاشيه والاخبره صحيح نه ده چه فرمائي : رواه الدارقطني باسناد صحيح۔ بلکه کلام په کښې دې (فهي رواية منكرة)۔

۳ – دارنګه دا حديث که صحيح ثابت هم شي نو بيا هم مخالف دې د مرفوع حديث نه، او عند التعارض مرفوع حديث له به اعتبار وي په مقابله د موقوف کښې۔

٤ – دارنګه دويم **جواب** دادې چه دا قاعده ضعيفه ده چه کله تعارض په مابين د رائې د راوي او د روايت د راوي کښې راشي نو رائې له به اعتبار وي۔ بلکه صحيح خبره داده چه روايت له به اعتبار وي په مقابله د رائې ده کښې۔ ځکه د رائې په باره کښې دا احتمال کيدې شي چه دا په نسيان د روايت باندې بناء وي، لکه ډير راويان وائي حدثني فلان عني۔ يعنې روايت به ترې هيروي، او رائې به ئې د روايت مخالف قائمه شوې وي، لکه داسې ډير واقع شوي دي، لکه مثلا ابو هريرةؓ (لا عدوى ولا طيرة) والا حديث هير کړې وو، او ددې په خلاف ئې رائې قائمه شوې وه، چا ورته اوويل : تا نه مونږ دا روايت آوريدلې دې۔ نو هغه غصه شو او په غصه کښې ئې په حبشه ژبه کښې خبرې اوکړې، بيائې ورته اوويل چه ته به وائې ماته ئې کنځلې اوکړې، ما دا اوويل چه زه ددې خبرې انکار کوم۔ مانه هير شوې دې۔

دارنګه احنافو هم په مختلفو ځايونو کښې د راوي رائې د هغه د روايت په مقابله کښې پريښې ده، او روايت ئې اخستې دې، لکه د عثمانؓ او عائشةؓ نه روايت دې چه په سفر کښې رکعتين دي، او هغوئ به پخپله عمل په څلورو رکعتونو باندې کولو، او تاسو د هغوئ عمل ترک کړيدې او د هغوئ مرفوع روايت مو اخستې دې۔

۲ – يا دا چه د هغه راوي به دا عقيده وي چه اووه کرتې وينځل مستحب دي، نو ځکه په درې کرتې باندې فتوىٰ ورکړيده۔

نو ددې نه دا نه لازميږي چه دا روايت دې منسوخ وي، بلکه ما سيوا د ابو هريرةؓ نه د عبد الله بن مغفلؓ نه هم دا روايت د تسبيع نقل دې، هغې کښې دا احتمال نشي راتلې۔ كذا في التحفة (۱/۹۳)۔ نو مرفوع روايت په تثليث کښې نشته، نه دې ثابت، او قول ضعيف دې، لکه دارقطني او ابن عدي في الكامل راوړيدي۔ او موقوف معارض د مرفوع نشي

جوړيدلے۔ كما عرفت۔

دلائل الجمهور : ١ - اول دليل : حديث الباب د ابو هريرةؓ دے، چه دے كښے أمر دے په تسبيع باندے۔ او په روايت د مسلم كښے (اولاهن بالتراب) راغلے، او په روايت د عبد الله بن مغفلؓ كښے (فاغسلوه سبع مرات، وعفروه الثامنة بالتراب) رواه مسلم۔ راغلى دى۔ دغه شان روايت د ابن عمرؓ هم دے۔

نو احناف اووه ځله وينځل او په خاورو ككړول نه منى په درجه د وجوب كښ۔

٢ - او مالكيه اووه كرته منى، ليكن آتم ځل خاورو سره ككړ كول نه منى، حديث ورته نه دے رسيدلے۔

٣ - او شوافع اووه كرته سره د خاورو نه منى، ليكن آته كرته وينځل نه منى۔

نو ټولو ددے احاديثو د ظاهر خلاف كړيدے، يا ورته حديث نه دے رسيدلے۔ ليكن بعض علماؤ د خپل مذهب په خاطر جمع كړيده په دے رواياتو كښے، لكه امام نوويؒ وائى (عفروه الثامنة) معنىٰ داده چه اغسلوه سبعا واحدة منهن بالتراب مع الماء۔ نو دلته خاوره قائم مقام د جدا وينځلو ده۔ نو ځكه ثامنه وئيلے ده۔ ورنه دا اووه كرته وينځل دى، سره د خاورو نه۔ نو لهذا دا حديث د شوافعو د قول مطابق شو ليكن علامه الامير الصنعانى په سبل السلام (٣٢/١) كښے فرمائى : (وهو تاويل مستكره، وتاويل من قال باخراجها من الحقيقة الى المجاز كل ذلك محاماة عن المذهب والحق مع الحسن البصرى) . يعنى په دے حديث كښے تاويل كول مستكره (قبيح) دى او دا د مذهب مدافعت دے چه جائز ندے۔ او حق د حسن بصريؒ سره دے۔

او بعضے احنافو په دے احاديثو اعتراض كړے چه دا مضطرب دى، ځكه بعضے رواياتو كښے (اولاهن بالتراب) راځى، كما فى روايه مسلم او بعضو كښے (اولاهن او أخراهن بالتراب) دى، كما فى روايه الترمذى والبزار او بعضو كښے (احداهن بالتراب) دے كما فى رواية الدارقطنى۔ او بعضو كښے عفروه الثامنة بالتراب دے كما فى مسلم والنسائى۔

جواب : اضطراب دوه قسمه دے (١) يو قسم هغه دے چه تطبيق ممكن نه وى، نو دا مضر دے صحت د حديث ته (٢) دويم هغه دے چه تطبيق په كښے ممكن وى، او دلته

تطبيق ممكن دے، هغه دا چه (اولاهن بالتراب والا روايت قوى دے من حيث الاكثرية والاحفظية او من حيث المعنى هم (لان تتريب الاخيرة يقتضى الاحتياج الى غسله اخرى لتنظيفه) يعنى ځكه چه آخر ځل خاوره راخكل احتياج راولى دوباره وينځلو ته دپاره د صفا كولو دلوښى د خاورو نه، او (اخراهن) والا روايت كښې شك د راوى دے نو د نورو رواياتو سره ئے تطبيق دا دے چه اولاهن لفظ صحيح دے نه اخراهن. او يوائځے اخراهن والا روايت ضعيف دے.

او (احداهن) والا روايت مطلق دے، چه حمل دے په (اولاهن) باندے. او هغه ئے بيان دے. او دارنګه د (عفروه الثامنة) نه مراد دادے چه يو كرت به په خاورو اووينځى، اووه كرته په اوبو. نو كله چه دواړه جمع شى آته كرته شو، چه جدا حساب شى. نو اوبه اووه ځل شوے او خاوره يو ځل. ددے وجے نه د سبع مرات اوثمانى مرات منافات نشته.

بعضے احناف وائى : دا حديث د أمر بالتسبيع منسوخ دے، اودا په هغه وخت كښے وو، كله چه أمر شوے وو په قتل الكلاب – سپو وژلو – باندے. بيا دغه أمر منسوخ شو نو حكم د تسبيع هم منسوخ شو. لكه چه دا ابن الهمام اوصاحب د تنظيم الأشتات وئيلى دى.

جواب : (۱) اول خو ستاسو خپل مينځ كښې اختلاف او تردد راغلو هغه دا چه كله وايئ دا حكم حمل دے په استحباب باندے يعنے اووه كرتے وينځل مستحب دى او كله وايئ چه منسوخ دے نو آيا منسوخ حكم مستحب جوړيدے شى، خو دا د حديث د ورانولو دپاره حيلے دى.

۲– دويم دا چه : د منسوخ كيدو خبره سراسر خطاء ده، ځكه چه امر د تسبيع په روايت د ابو هريرةؓ او ابن المغفلؓ سره نقل دے كما فى مسلم (۱۳۷) او د ابو هريرةؓ او ابن المغفلؓ اسلام په اووم (۷) كال د هجرت وو، او أمر بقتل الكلاب دا په اوائلو د هجرت كښے شويدے. نو دواړو مابين كښے ډيره فاصله ده. او متقدم څنګه ناسخ جوړيدے شى د متأخر دپاره. دارنګه د عبد الله بن المغفلؓ په روايت د مسلم (۱۳۷/۱) او طحاوى شرح معانى الآثار ص (۲۱) كښے دى چه دا فرمائى : امر رسول الله ﷺ بقتل الكلاب ثم قال ما

بالهم وبال الكلاب ثم رخص في كلب الصيد وكلب الغنم .وقال اذا ولغ الكلب في الاناء فاغسلوه سبع مرات وعفروه الثامنة في التراب. واللفظ لمسلم۔

يعني رسول الله ﷺ د سپو په وژلو امر اوکړو بيا ئې د ښکاري او د بزو د حفاظت دپاره د سپي ساتلو اجازه ئې ورکړه او وې فرمائيل : کله چه سپے په لوښي کښې خوله اووهي نو اووه کرت ئې اووينځئ او اتم کرت ئې په خاورو ککړل کړئ۔ وكذا أخرجه الترمذي وحسّنه۔

نو دے نه صراحت سره معلومه شوه چه أمر د قتل الكلاب مخکښې وو، بيا منسوخ شو، او د تسبيع حکم ذهغې نه پس اوشو، لکه دا خبره په السعاية کښې علامه عبد الحي لکنوی ؒ صاحب هم تفصيلا کړيده، او رد ئې کړيدے په امام طحاوی ؒ او ابن الهمام ؒ باندے۔ او بيائې په آخر کښې وئيلي دي (ولعل المنصف غير المتعسف يعلم بعد ملاحظة هذا البحث ضعف كلام أرباب التثليث، وقوة كلام أصحاب التسبيع والتثمين)۔

او ښه تفصيل ددے مسئلے علامه مبارکفوری ؒ په أبکار المنن ص (٣٥) او تحفة الاحوذي (٩٤/١) کښې کړيدے۔ سره درد نه په علامه نيموی باندے۔ او د هغه په تعصب مذهبي باندے۔

اعجوبه : أطباء او ډاکټرانو دا معلومه کړيده چه د سپي په خله کښې داسے جراثيم دي چه دا بغير د خاورو نه نه لرے کيږي، دا وجه ده چه نبي ﷺ حکيم الحکماء دے، په دے وجه ئې د تسبيع او ترتيب حکم کړيدے، او دا دليل دے چه دا حکم وجوبي دے۔ ځکه ددے نه په غير په درے ځله وينځلو سره جراثيم په لوښي کښې پاتے وي۔ نو مرضونه ترے پيدا کيږي۔ او يو انگريز په دے حکم تجربه اوکړه، هغه اووه کرته په اوبو سره اووينځلو نو جراثيم لرے نشو، بيا چه کله ئې خاوره استعمال کړه، او په خورد بين ئې اوکتل نو هغه جراثيم ختم شو، نو ايمان ئې راوړو۔ چه د الله پيغمبر ﷺ لوئې سائنسدان وو، نو دا حديث د طب سره برابر دے، او که د طب برابر هم نشي، نو دا الله د نبي ﷺ خبره ده، دا بغير د تجربے نه هم واجب الاطاعت ده۔

---

٢ ـ وَعَنْهُ رضي الله عنه قَالَ : قَامَ أَعْرَابِيٌّ فَبَالَ فِي الْمَسْجِدِ فَتَنَاوَلَهُ النَّاسُ فَقَالَ لَهُمْ

النَّبِيُّ ﷺ : (دَعُوهُ وَهَرِيقُوا عَلٰى بَوْلِهٖ سَجْلًا مِنْ مَاءٍ اَوْ ذَنُوبًا مِنْ مَاءٍ، فَاِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِيْنَ وَلَمْ تُبْعَثُوا مُعَسِّرِيْنَ). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : ابو هريرةؓ فرمائی : يو بانډه چې پاخيده او په جومات كښې ئې په ولاړه متيازې اوكړې، خلق هغه پسې شول. نو نبی ﷺ اوفرمائيل : دې پريدئ او دده په متيازو باندې د اوبو يو ډول واړوئ، ځكه چه تاسو آسانی كونكی رالیږل شوی يئ او سختی كونكی نه ئې رالیږل شوی. (بخاری).

تشريح : ددې اعرابی باره كښې راځی چه دې سائل، قائل او بائل دې. سائل خو ځكه دې چه تپوس ئې كړيدی. او بائل ځكه دې چه په مسجد كښې ئې بول كړيدی. او قائل ځكه دې چه دعاء ئې كړيده (اللهم ارحمنی ومحمدا، ولا ترحم معنا احدا). يعنې : اې الله ! ما او محمد ﷺ اوبخښه او مونږ سره بل هيڅوك مه بخښه. نبی ﷺ دده باره كښې اوفرمائيل : هو أضلّ أم بعيرهٔ. دې ډير ناپوه دې اوكه دده اوښ. يعنې دعائې خطاء ده. دده نوم يا خو ذو الخويصرة اليمامی، يا أقرع بن حابس التميمی دې. يا عُيَيْنَة بن حصن الفزاری دې. أعرابی ورته ځكه وائی چه دا په بانډه كښې اوسيدل، بيا اعرابی عام دې كه عربی وی اوكه عجمی، خو چه بانډه كښې اوسيږی هغه ته أعرابی وائی.

فائده : د روايت په ابتداء كښې چه كله اعرابی راشی ته پو هه شه چه څه ناشنا كار به شوې وی.

فَبَالَ فِي الْمَسْجِدِ : ۱ – **مسئله** : كله نا كله بول قائما جواز لری، دليل دا حديث دې چه دلته نبی ﷺ په ده باندې رد نه دې كړې چه په ولاړه بول مه كوه. نو دا تقرير د نبی ﷺ دې. او اعرابی په ولاړه بول كړيدی، لكه راتلونكی روايت كښې دی (فقام يبول).

ددې مسئلې تحقيق په فصل ثانی كښې په حديث (۳۰) د عمر باب آداب الخلاء كښې تير شويدې.

دَعُوهُ : دلته په ظاهر كښې نبی ﷺ صحابهؓ منع كړل د نهی عن المنكر كولو نه، او وې فرمائيل چه دې پريدئ چه مسجد كښې شروع كړی بول پوره كړی. او دا خو منكر كار دې. ددې وجه داده چه دا قانون دې چه په شريعت كښې چه كله يو مقام كښې

مصلحت او مفسدت راجمع شی، او مصلحت ډیر وی د مفسدت نه، نو مصلحت اختیارول پکار دی، په نسبت سره لگ مفسدت ته۔ اودلته مصلحت ډیر دے په دے کښې چه دا اعرابی بول پوره کړی۔ ولے که دا منع کړے شی د بول کولو نه، نو دے کښې مفسدت ډیر راځی : ۱- ځکه که دا منع شی نو منډه به کړی، نور مسجد به گنده شی، او جامے به ئے هم خرابے شی، ۲- دارنگه هغه ته به د بول په ایسارولو سره ضرر اوتکلیف اورسیږی۔

۳- دریم دا چه مسجد کښے شور جوړیږی۔ ٤- دارنگه دے منع کولو سره انسان بد اخلاقه معلومیږی، ځکه دا انسان ناپوهه دے او ناپوهه سره سختی کول مناسب نه دی۔

۵- بل دا چه یو ځل ئے مسجد گنده کړیدے لگ وی اوکه ډیر، او بل طرفته په پریخودلو کښے دده فائده هم ده چه ټول متیازے خلاصے کړی۔

٦- او په دے کښے عمل دے په قاعده شرعیه د (من ابتلی ببلیتین فلیختر أهونهما) باندے، ځکه دلته هم دوه فسادونه دی، که متیازو ته ئے پریدو نو مسجد گنده کیږی، اوکه منع کوو ئے، نو دغه ډیر مفاسد مذکوره راځی، نو ځکه یو مفسدت - د بول کولو - اختیار کړے شو۔ شیخ بسام فرمائی : عند تزاحم المفاسد یرتکب اخفها ۔ یعنی کله چه ډیرے مفاسد راجمع شی نو اخف او آسان به په کښې اختیارولے شی توضیح الاحکام (۱۱۳/۱) ۔

فائده : ۱- په تعلیم او دعوت کښې به د جاهل سره نرمی کولے شی سختی به ورسره نشی کیدلے۔

۲- په احکام شرعیه ؤ باندے چه په ژوند کښې کوم آثار مرتب وی نو دا صرف په حق د هغه چا کښې دی چه عالم وی په حکم باندے، خو کله چه څوك په یو حکم باندے جاهل وی د هغے د گناه او عقوبت نه نه وی خبر نو هغه باندے ملامتیا نه وی لیکن تعلیم به ورته ورکولے شی، دے دپاره چه آینده کښې پدے حکم عمل اوکړی۔ لکه چه په بل روایت کښې راغلی دی چه نبی ﷺ دا اعرابی را اوغوښتو او ورته ئے اوفرمائیل چه مساجد ددے بول او گندگئ دپاره مناسب ندی دا خو د الله د ذکر او مونځ او تلاوت دپاره دی۔ لکه روستو حدیث راروان دے۔

وَهَرِيْقُوْا عَلٰى بَوْلِهٖ سَجْلًا : هريقوا : بفتح الهاء وكسر الراء (يعنى اوبه واړه وئ) هاء بدل د همزے نه راغلے ده اصل كښې باب افعال دے اراق الماء يعنى اوبه ئے تويه كړے. او دا هاء بيا لازم شويده د كلمے سره او كله نا كله همزه او هاء دواړه جمع كيږى. اهراق وئيلے شى.

د پليتے زمكے پاكولو څه طريقه ده ؟

۱ – احناف وائى : په اوبو هم پاكيږى، اگرچه دا گند په دے اوبو سره په زمكه تقسيم شى. ۲ – او په اوچ والى سره هم پاكيږى، چه زمكه اوچه شى نو پاكه شوه. او دا صحيح او راجح قول دے. د احاديثو مطابق دے.

يو دليل أثر د ابو قلابهؒ دے په مصنف عبد الرزاق كښې (جفوف الأرض طهورها). كما فى فقه السنه (۱/ ۳۰).

۲ – عائشهؓ نه موقوفا نقل دى (زكاة الأرض يبسها)، وكذا فى ابن أبى شيبة وعبد الرزاق. انظر كشف النقاب (۳/ ۱۲۷) والتلخيص الحبير (۱/ ۳۷) قال الحافظ ولا اصل له فى المرفوع.

۳ – حديث د ابن عمرؓ كښے دى (كانت الكلاب تقبل وتدبر فى المسجد فلم يكونوا يرشون شيئا من ذلك – أبو داود والبخارى تعليقا). د باب المسح على الخفين نه مخكښے را روان دے. د ابوداؤد (۱/ ۵۵) په روايت كښې ورسره (وتبول) لفظ هم راغلے دے.

دلته هم طهارت بالجفاف شويدے، نه بالماء.

او احناف وائى : كله چه لامده وى نو وينځل هم شته. ليكن احناف ورسره دا فرق كوى چه دغه نجسه زمكه چه په نمر اوچه شوے وى په دے مونځ كول جائز دى خو تيمم كول پرے ناجائز دى. د دوئ په دے فرق باندے هيڅ دليل نشته. قياسى خبره ده. ځكه مونځ خو اعلىٰ دے د تيمم نه، دا فرق بين المتماثلين دے، چه جائز نه دے، شريعت ورته پاكه وائى.

۲ – جمهور علماء وائى : صرف په اوبو سره پاكيږى. دليل دا وائى چه دلته رسول الله ﷺ صرف په اوبو باندے أمر كړيدے.

جواب : دلته صرف یوه طریقه اختیار کړے شویده۔ ددے نه دا نه لازمیږی چه بله طریقه نشته، وجه داده چه روستو راځی چه څپلۍ وغیره هم صرف په زمکه راښکلو سره پاکیږی، نو اوبه د پاکوالی دپاره متعین نه دی۔

بعضے شوافع د (کانت الکلاب) حدیث نه دا جواب کوی چه په دے روایت کښے مونږ تاویل کوو، چه (کانت الکلاب تبول خارج المسجد، وتقبل وتدبر فی المسجد)، لیکن دا نور علماء ورته وائی چه بیا داسے ولے نه وایئ چه سپو به بهر متیازے کولے او هلته به ئے استنجاء هم کوله او بیا به مسجد ته راتلل۔ نه! سپو کښے عقل نشته، چه هغه دے خامخا بهر بول اوکړی او روسته دے مسجد ته راځی۔ بلکه دلته کښے مسجد کښے دننه بول کول مراد دی۔ د عبد الله بن عمر غرض په دے حدیث سره هم دادے چه سپی که مسجد ته راشی نو مسجد وینځل لازم نه دی، اوکه متیازے اوکړی او اوچے شی نو دهغے وینځل هم لازم نه دی۔

فَإِنَّمَا بُعِثْتُمْ : د بعث لفظ ډیرے معنے دی: را پورته کیدل، را پاڅیدل، مقرول، رالیږل وغیره۔ دے وجے نه دا لفظ د غیر نبی دپاره هم استعمالیږی۔ په معنیٰ د مقررولو سره، او په دے کښے أدب دے دوئ ته چه تاسو د أمت داعیان ئے او داعیانو دپاره آسانی کول پکار دی دجاهلانو سره، نه سختی۔

۳- وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : بَيْنَمَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ إِذْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَقَامَ يَبُوْلُ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ : مَهْ مَهْ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَا تُزْرِمُوْهُ دَعُوْهُ، فَتَرَكُوْهُ حَتّٰى بَالَ ثُمَّ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ دَعَاهُ فَقَالَ لَهُ : إِنَّ هٰذِهِ الْمَسَاجِدَ لَا تَصْلُحُ لِشَيْءٍ مِنْ هٰذَا الْبَوْلِ وَالْقَذَرِ، إِنَّمَا هِيَ لِذِكْرِ اللهِ وَالصَّلَاةِ وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ . أَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ. قَالَ : وَأَمَرَ رَجُلًا مِنَ الْقَوْمِ فَجَاءَ بِدَلْوٍ مِنْ مَاءٍ فَسَنَّهُ عَلَيْهِ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه : انس فرمائی : یو ځل مونږ په جومات کښے د رسول الله ﷺ سره ناست

وو چه يو بانده چې راغے او په ولاړه ئے په جومات کښے متيازے شروع کړے، نو د رسول الله ﷺ ملګرو ورته اووئيل : مه کوه مه کوه! رسول الله ﷺ اوفرمائيل : په ده باندے متيازے مه بندوئ، پريدئ، نو خلقو پريخودلو تردے چه متيازے ئے پوره کړے، بيا دے رسول الله ﷺ را اوغوښتلو او ورته ئے اوفرمائيل : بيشکه دا جوماتونه ددے متيازو او ګندګو دپاره نه ښائيږي، دا خو د الله د ذکر، مانځه او قرآن لوستلو دپاره دی - يا رسول الله ﷺ ددے پشان خبره ورته اوکړه - انسؓ فرمائی : (دے نه پس) رسول الله ﷺ په دغه خلقو کښے يو سړی ته حکم اوکړو نو هغه يو ډول اوبه متيازو باندے اوبهيولے۔ (بخاری، مسلم)۔

تشريح : مَهُ مَهُ : دا اسم فعل دے په معنیٰ د اکفف سره، يعنے بند شه بند شه۔ اصل کښے دا ماهذا ؟ دے۔ نو د زجر دپاره استعماليږي۔ بيا په کښے تخفيف اوکړے شو۔ په دے کښے تنوين وئيل هم جائز دی۔ مَهٍ مَهٍ۔

لَا تُزْرِمُوْهُ : بضم التاء وسكون الزاى، د ازرام نه ماخوذ دے، قطع او پريکولو ته وائی، أى لا تقطعوا عليه بوله۔

اِنَّمَا هِىَ لِذِكْرِ اللهِ وَالصَّلَاةِ وَقِرَائَةِ الْقُرْآنِ : د ذکر الله نه مراد هغه ذکر دے چه شرعی طريقے سره وی، چه هغے کښے سکون او آرام وی، او په پټه باندے وی۔

بيا مسجد صرف دے درے خبرو پورے خاص نه دے، بلکه نور عبادات هم په مسجد کښے کيدے شی لکه جهادی کارونه وغيره۔ دا ټول په ذکر الله کښے داخل دی۔

٢ - يا دا چه دلته چه کوم حصر - په درے څيزونو کښے - شويدے نو دا په مقابله د بول کښے دے، يعنے نور ګندونه وغيره مسجد کښے نه دی پکار، بلکه دا کارونه او ددے پشان نور کارونه کول پکار دی۔ بيا مسجد کښے لکه څنګه ګندونه، بول وغيره کول ناجائز دی، نو دغه شان فضول خبرے، ورك شوی شئ اعلان کول، د مړی اعلان کول، بيع شراء ټول نا جائز دی۔

٢ - دا حديث دليل دے چه وقفی زمکه او مسجد کښے بيت الخلاء نشی جوړيدے، ځکه مسجد ته ضرر رسيږي۔ دا هله چه مسجد مخکښے جوړ شوے وی۔ اوچه کله

روستـه زمـكه وقف كړے شي نو څه حصه كښې دے مسجد جوړ كړي او څه كښې دے بيت الخلاء جوړه كړي.

. **اَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ** : دا د راوي شك دے نبي ﷺ به داسے الفاظ وئيلي وي او كـه نه ددے پشان نور الفاظ، نو ځكه ذا الفاظ استعمالوي. معنىٰ ئې داده : (او أقول : كما قال رسول الله ﷺ، يا قال هذا القول أو قولا شبيها به) . امام نووي ؒ فرمائي : راوي او د حديث لوستونكي له دا پكار دي چه كله په هغه باندے كوم لفظ مشتبه شي او په طريقه د شك ئې اولولي نو روستو دے داسے الفاظ اووائي : (أو كما قال). دے دپاره چه په نبي كريم ﷺ باندے دروغ وئيل رانشي. دارنگه ځوك چه روايت بالمعنىٰ كوي هغه دپاره هم مستحب دي لكه چه دا كار به صحابة ؓ او تابعينو ؒ كولو، او دے باره كښې امام دارمي ؒ په خپل مسند كښې ډير آثار نقل كړيدي په (باب من هاب الفتيا مخافة السقط) كښې.

وَأَمَرَ رَجُلًا : ١ - د مسجد نه پخپله هم گندگي لرے كول سنت عمل دے، لكه نبي ﷺ مسجد كښې خراشكے اوليدلو نو هغه ئې پخپله صفا كړو، دارنگه بل ته هم حكم كول سنت دي، لكه دلته ئې أمر كړيدے.

فَسَنَّهُ عَلَيْهِ : دلته بعضے نسخو كښې فسنه لفظ دے په سين سره او بعضو كښې فشنه لفظ دے په شين سره . د دواړو يوه معنى ده چه اړول د اوبو. ليكن لږ فرق دے چه سَنّ هغه اوبو اړولو ته وائي، چه په يو ځل سره وي، او تفريق په كښې نه وي. او شَنّ ديته وائي چه په هغے كښې د تفريق په طور لگے لگے اړوي. كذا في صحاح اللغة و القاموس.

١ - **فائده** : بول باندے كله چه ډيرے اوبه واچول شي نو د هغے نجاست ختميږي، تس نس شي، اگرچه يو كرت وي، خو شرعا نجاست ختم شي. او دا ضروري نده چه خاورے د دغه ځائے نه نقل كړے شي، يا زمكه اوكنستے شي، كه دا ضروري وے نبي ﷺ به پرے امر كړے وے او كوم روايت كښې چه امر په نقل التراب راغلے دے نو هغه منقطع او مرسل روايت دے او ضعيف دے. كما في نصب الراية (٢١٢/١) فتح الباري (٢٥٩/١).

دارنگه د خاورو نقل كول كه ضروري وے نو بيا ئې پرے د اوبو راړولو تكليف خله كولو؟ ځكه چه پدے كښې خو بے فائدے تكليف دے، زمكه خو پرے هسے هم نه پاكيږي؟.

٢ – دا حديث دليل دے په دے خبره چه نجاست باندے يو كرت اوبه اړول هم نجاست زائل كوى په بعضے شيانو كښے ـ او تثليث ضروري نه دے ـ نو دا ردّ دے په احنافو باندے چه هغوئ وائى د نجاست په زائل كولو كښے درے ځل والے ضرورى دے او درے ځلو نه په كمو باندے نه صفا كيږى ـ ٣ – اشاره ده چه د انسان بول نجس دى، نو زمكه او بدن او جامه به ددے نه پاكولے شى ـ

٤ – بعض علماء ددے حديث نه دا **استدلال** كوى چه زمكے ته نجاست اورسى او په نمر يا په هواء باندے اوچه شى نو نه پاك كيږى ځكه كه دا څيزونه هم كافى وے نو د اوبو اړولو تكليف ئے ولے كولو؟ ـ ليكن **جواب** دا دے چه حديث كښ اوبه ځكه ذكر شويدى چه مسجد زر پاك شى ځكه دا ورځ وه ـ كيدے شى چه د مانځه وقت له اوچه نشى نو ځكه ئے اوبو سره پاكى حاصله كړه نو پدے سره نفى د نورو طريقو د پاكئ نه راځى ـ

---

٤ – وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِى بَكْرٍ قَالَتْ : سَأَلَتِ امْرَأَةٌ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَرَأَيْتَ إِحْدَانَا إِذَا أَصَابَ ثَوْبَهَا الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ كَيْفَ تَصْنَعُ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (إِذَا أَصَابَ ثَوْبَ إِحْدَاكُنَّ الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ فَلْتَقْرُصْهُ ثُمَّ لِتَنْضَحْهُ بِمَاءٍ ثُمَّ لِتُصَلِّ فِيْهِ) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : اسماء بنت ابى بكرؓ وائى : يوے زنانه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو، وے وئيل : يا رسول الله ! دا راته اوښايه چه كه مونږ كښے څوك د حيض وينه په كپړے بيا مومى نو څه به كوى ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : پتاسو كښے چه د چا جامے ته د حيض وينه اورسى نو هغه دے ګرولو سره اومږى، بيا دے په اوبو اووينځى او بيا دے په كښے مونځ كوى ـ (بخارى، مسلم) ـ

تشريح : سَأَلَتِ امْرَأَةٌ : په يو روايت د امام شافعیؒ كښے دى چه دا تپوس كونكے زنانه خپله اسماء ده ـ

فوائد : ١ – د حيض وينه نجس ده په اتفاق د علماؤ سره، ځكه امر راغلے دے په

وینځلو ددې سره. لږه وی که ډیره. او ددې د زائل کولو دپاره قرص، ګرول هم پکار دی. دې دپاره چه اثرئې ختم شی.

★ **نجاست دوه قسمه دے** (١) نجاست مرئی (٢) نجاست غیر مرئی.

د نجاست **مرئیه** د طهارت طریقه داده چه کله په ثوب او بدن باندې وی نو ددې اثر به زائل کولے شی، مګر که مشقت د هغې په زائله کولو کښې وو، نو بیا خیر دے، که زائل نشی. ٢ - **غیر مرئیه** لکه بول متیازې، ددې دپاکوالی طریقه داده چه اوبه به پرې واچولے شی تردې چه یقین ئې راشی چه پاك شو. احناف وائی درې ځله به پرې اوبه واچوی او هر ځل به ئې نچوړ کوی، لیکن دا خبره بې دلیله ده، په دې باره کښې هیڅ حدیث نشته، أصح داده چه غالب ګمان له اعتبار دے، که غالب ګمان سره پاکه شوه نو پاکه ده، اګرچه د درې ځلونه زیات یا کم وی.

٢ - **بیا نجاست په دوه قسمه دے** (١) نجاست شرعیه (٢) نجاسات اجتهادیه.

په نجاست **شرعیه** کښې **مغلظ او مخفف نشته**، او نه په کښې **معافی** شته، بلکه د ټولو پاکول واجب دی، لکه: ١- بول ٢- براز ٣ - دم الحیض. او په دې باندې دلیل دادې چه قرآن کښې دی ﴿ وثیابك فطهر ﴾، جامې دې پاکې کړه. په دې کښې د ربع الثوب او قدر الدرهم استثناء نه ده شوې. (٢) نجاسات اجتهادیه کښې بعضې علماؤ بعضې څیزونه نجس ګڼړی او بعضې ورته پاك وائی. لکه ذات د خمر عند الأحناف نجس دے. او بعض علماء لکه لیث بن سعدؒ، مزنی صاحب الشافعی، او ربیعهؒ وائی چه ذات د خمر پاك دے. کذا فی تفسیر القرطبی (٢٨٨/٦).

٢ - یا لکه قئ عند الأحناف نجس دے. او جمهور محققینو په نیز پاك دے.

٣ - او منی هم د نجاساتو اجتهادیه نه ده، په دې کښې به راجح او مرجوح ته کتلے شی.

ثُمَّ لِتَنْضَحْهُ : د نضح دوه معنې دی (١) الغسل الخفیف (معمولی وینځل) (٢) څنړکاؤ کول د اوبو. او دلته مراد غسل خفیف دے.

فائده : ددې حدیث نه هم نفی د تثلیث معلومیږی. ثلاثا ئې ورسره نه دے وئیلے.

٥ – وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ : سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنِ الْمَنِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ، فَقَالَتْ : كُنْتُ أَغْسِلُهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَيَخْرُجُ إِلَى الصَّلَاةِ وَأَثَرُ الْغَسْلِ فِي ثَوْبِهِ) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : سليمان بن يسارؒ وائي : ما د عائشهؓ نه د منى باره كښې تپوس اوكړو چه كپړے ته اورسي، نو هغې اوفرمائيل : مابه د رسول الله ﷺ د جامے نه منى وينځله بيا به هغه مانځه ته په داسے حالت كښې وتلو چه د وينځلو اثر به د هغه په كپړه كښې وو۔ (بخاري، مسلم)۔

تشريح : مسئلة طهارة المنى و نجاسته :

د منى په طهارت او نجاست كښې اختلاف دے۔ اول خو په دے كښې اتفاق دے چه منى مستقذر شے دے، يعنے طبيعت ئے بد او قابلِ نفرت گڼړى۔ دويم : په دے كښې هم اتفاق دے چه لمده وى نو وينځى به ئے اويا به ئے پر سرگړى لرے كوى كما قال ابن عباسؓ۔ خو په نجاست كښې اختلاف دے :

١ – امام مالكؒ فرمائي : د انسان منى نجس ده، او د اوبو نه علاوه په بل څه نه پاكيږى، برابره خبره ده كه په جامو لگيدلے وى اوكه په بدن باندے۔

٢ – امام ابو حنيفهؒ فرمائي : منى نجس ده، خو كه لمده وى نو په اوبو به وينځلے شى، اوكه اوچه وى نو په مږلو سره پاكيږى۔ دا درميانه قول دے۔ مگر دوئ يو بل قول كړيدے چه نجاست كله په بدن او جامه باندے واقع شى، نو دا به صرف په اوبو سره پاكولے شى، نه په مږلو سره۔ نو دا قول معارض دے د دغه مخكنى قول سره چه په باب د منى كښې ئے كړيدے۔

٣ – ليث بن سعدؒ فرمائي : منى نجس ده مگر كه دچا په يوه كپړه منى لگيدلى وى او مونځ ورسره اوشى نو اعاده واجب نه ده۔ او دا قول د حسن بصرىؒ هم دے۔ مگر هغه د بدن او جامے فرق كوى، چه د جامے نه اعاده د مانځه نشته او كه په بدن لگيدلے وى نو اعاده ضرورى ده۔

٤ - او د اکثرو علماؤ دا مذهب دے چه منی پاکه ده، او دا قول د علي بن أبي طالب، سعد بن أبي وقاص، ابن عمر، ابن عباس، عائشه - رضي الله تعالى عنهم - داؤدؒ او روایت د امام احمدؒ او مذهب د امام شافعيؒ او محدثینو دے، كما قال في التحفة (١/١١٤). وهو قول ابن تيمية وابن القيم وابن المنذر - رحمهم الله۔

د نجاست د قائلینو دلائل :

١ - رسول الله ﷺ وینځلے ده، او وینځل دلیل د نجاست دے۔

قائلین د **طهارت** د اجواب کوی چه وینځل دوه قسمه دی (١) یو د طهارت د وجے نه (٢) بل د نظافت د وجے نه، نو دلته د نظافت دپاره وینځل شویده، لکه خیری، ګړنګ وغیره هم وینځلے کیږی، خو نجس نه دی۔ اوکه دا نجس وے نو فرك (مږل) او ګرول به ئے کافی نه وے۔ لکه د وینے پشان به ئے وینځل ضروری وے۔

٢ - دویم دلیل : منی د بول په لاره راځی، نو بول به ورسره ملګری شوی وی۔ نو ځکه نجس ده۔

نور علماء جواب کوی چه لارو کښے فرق دے، منی د شا نه راوځی په بیلو رګونو کښے، او بول د مثانے نه راوځی په جدا رګونو کښے، او په وتلو د منی کښے د بول لاره صفا وی، كما هو مشاهد معلوم۔

د طهارت المنی د قائلینو دلیلونه :

کوم علماء چه منی ته پاکه وائی د هغوئ (١) **دلیل** هغه احادیث دی چه په هغے کښے فرك او سلت وغیره راغلی دی، كما في حديث مسلم (١/١٤٠) دلته مشکاه کښے هم عائشهؓ فرمائی : ما به د رسول الله ﷺ د جامے نه منی ګروله، نو که منی نجس وے نو پکار ده چه ګرول نه کافی کیدلے، بلکه وینځل به ئے ضروری وو، لیکن دا قانون په جامه کښے دے نه په موزو کښے۔

٢ - مسند احمد (٦/٢٤٣) السنن الكبرى (٢/٤١٨) ارواء الغليل (١/١٩٧) کښے دعائشهؓ روایت دے (كان رسول الله ﷺ يسلت المنى من ثوبه بعرق الأذخر، ثم يصلي فيه ويحته يابسا ثم يصلي فيه - و سنده صحيح)، نو په دے روایت کښے په سرګړی سره منی

صفا شویده، حال دا چه په سرګړی (بروَزِے) سره منی پوره طور سره نه لرے کیږی، ضرور اثر ئے باقی وی، بلکه په دے سره صفا کولو باندے نوره هم خوریږی. او دا ئے په دے وجه پاکه کړیده چه مخکښے تیر شو چه منی طبعا مستقذر (کرکجن) شے دے. نو دا صفائی د نظافت حاصلولو دپاره ده، نه ددے وجے نه چه ګنے دا نجس ده، ځکه نجس شے په سرګړی سره لرے کولو سره نه پاکیږی.

٣ - دریم دلیل : عن ابن عباس قال : سئل النبی ﷺ عن المنی یصیب الثوب، قال : انما هو بمنزلة المخاط و البزاق، و انما یکفیك أن تمسحه بخرقة أو باذخرة.

(ابن عباسؓ وائی نبی ﷺ نه تپوس اوشو د منی باره کښے چه کپړے ته اورسی، نو نبی ﷺ جواب ورکړو : چه منی د ګرنګ او لاړو پشان ده، تاله دا کافی ده چه هغه په کپړه یا سرګړی سره لرے کړے).

دا حدیث دارقطنی (١٢٤/١) امام بیهقی (٤١٨/٢) امام طحاوی (٤١/١) ذکر کړیدے. و کذا فی نصب الرایة (٢١٠/١) مجمع الزوائد (٢٧٩/١). دا روایت څوك موقوفا ګڼړی او څوك مرفوع. و التحقیق فی نصب الرایة.

٤ - حدیث دعمر فاروقؓ دے چه د هغه نه تپوس اوشو چه زه کله په خپله بستره جنب شم نو د خپلے منی سره څه اوکړم ؟ نبی ﷺ جواب ورکړو : که لونده وی نو وے وینځه، او که اوچه وی نو وے ګروه، او که نه ئے وینے نو بیا ورته چنړکاؤ اوکړه په اوبو سره. (ابن أبی شیبة : ٨٥/١، نصب الرایة : ٢١٠/١).

په دے حدیث کښے هم وینځل د نظافت دپاره دی، ځکه ګرول هم په کښے راغلی دی، قاله ابن الجوزی کذا فی تنقیح التحقیق (٨٢/١) ونقله فی نصب الرایة (٢١٠/١).

٥ - حدیث د مصعب بن سعد ابن أبی وقاصؓ دے : دا فرمائی : کله چه به زما پلار - سعد بن أبی وقاصؓ - ته منی اورسیدله نو که لونده به وه، نو مسح به ئے کړه، او که اوچه به وه، نو اوبه ئے ګروله. بیا به ئے په همدغه جامه کښے مونځ کولو. (کذا فی ابن ابی شیبة ٨٤/١). والبیهقی السنن الکبری (٤١٩/١). امام بیهقیؒ فرمائی : کله کله چه منی وینځل کیږی دا سے ده لکه چه یو سړے د پوزے اوبه په اوبو سره وینځی د نظافت د وجے نه،

نه ددې وجې نه چه دا د پوزې اوبه ګنې ګنده دي.

٦ – كه منى نجس وې، نو رسول الله ﷺ به حكم كړې وې په لرې كولو او پاكولو سره، او په نجاست د هغې سره. حال دا چه نبى ﷺ په دې باب كښې دانه دي فرمائيلي چه دا نجس ده. سره ددې نه چه دا منى خارجيدل خپله د نبى ﷺ نه او د صحابهؤ په زمانه كښې د صحابوؓ نارينه او زنانهؤ نه واقع كيدل. نو پكار ده چه رسول الله ﷺ ددې پوره تفصيل كړې وې، سره ددې نه چه ددې نه كم واقع كيدونكى څيزونه ښه واضح بيان كړې شوى دي، لكه د سپى جوټه، د پيشو جوټه، وغيره دا كم واقع كيږي او د منى واقع كيدل زيات دي. او تاخير د بيان د وخت د حاجت نه جائز نه دې. كه منى والا جامه - كپړه – استعمالول ناجائز وې يا منى نجسه وې، نو ضرور به رسول الله ﷺ ددې بيان فرمائيلې وې، هركله چه نبى كريم ﷺ ددې نجاست بيان نه كړو – نه قولاً، نه فعلاً، نه صراحةً او نه دلالةً – نو دا دليل د طهارت د منى دې په بيان الحال سره.

سوال : كه څوك اووائى چه دليل موجود دې چه نبى ﷺ وينځلې ده.

جواب : نبى ﷺ مرلې او ګرولې هم ده، نو دا وينځل دليل د نجاست نه دې، بلكه دا د نظافت په طور سره وينځلې شويده. لكه د پوزې ګړنګ وغيره نجس نه دې ليكن خلق هغه صفا كوي. او فعل د رسول الله ﷺ دليل د وجوب هم نه دې، كله چه دوام پكښې نه وي، بلكه استحباب او سنيت په كښې وي.

٧ – په صحيح مسلم (١/٢٣٨) كښې د عائشةؓ روايت دې چه د هغې يو ميلمه وو، چه د شپې ئې ورته يوه بستره واچوله د خوب دپاره، نو د هغه احتلام اوشو، او ددې په وجه ئې هغه بستره هغې ته بيرته داسې ورنه كړه، بلكه په اوبو كښې ئې غوپه كړه، او بيا ئې عائشېؓ ته واپس كړه. عائشةؓ اوفرمائيل : ولې ئې زمونږ بستره خرابه كړه په اوبو باندې، ده له دا كافى وو چه په ګوتو باندې ئې منى ګرولې وې، ځكه مابه ډير كرته د رسول الله ﷺ د كپړو نه په ګوتو سره منى ګروله. كما فى الترمذى (١/٢٠٠) بتعليق الشيخ أحمد شاكر.

٨ – **دليل** دادې چه منى په خِلقت كښې هم مخالفه ده. منى د خاورو پشان ده. د مذى او ودى او بولو نه په رنګ او بوئې او غلظت كښې هم مخالفه ده، ځكه منى غليظه

(تيـنـګـه) ده، اودا څيزونـه رقيق (نرم) دي. په دے وجه دا پاکه ده اودغه نور څيزونه نجس دي.

دارنګـه مـنى أصل د خلقت د انبياء عليهم السلام او أولياء اوصالحينو ده، او دا څنګه كيدے شي چه د يو نجس او پليت شئ نه پاك خلق پيدا شي. او ددے پاكو خلقو أصل او بنيـاد نجس شي. فـان الـخبيـث لا ينشأ منه الا الخبيث. او دا خو د عيب خبره ده چه د چا اصـل داسے خبيـث او پـليت شي. او دا پښتو كښے يو ه كنځله هم ده، خلق وائى د پے أصله ځـويه ! حال دا چه عام انسانان هم مكرم او محترم دي، ځكه چه اصل ئے نجس او پليت نه دے، پاتے لا انبياء كرام عليهم السلام او اولياء او صالحين !

نو دا دليل اِنى شو په طهارت د منى باندے.

اوكـوم مُـليـانـو چه دا وئيلى دي چه بيا غسل پرے ولے واجبيږى ؟ نو دا دليل د نجاست دے. **جواب** : غسـل د مـنـى پـه راتـلـو سره ددے وجے نه نه واجبيږى چه ګنے دا نجس ده، بـلـكـه په دے وجه دے چه ددے په وتو سره بدن كښے فتور او سستى راځى، چه دا مفضى كيږى تـعـلـق د شيطان او ترك عبادت ته، او چه كله غسل اوكړے شي نو بدن كښے تازګى پيدا كيږى.

او دے مُـليـانـو تـه دا وئيـل پـكار دي چه ستاسو ددے قياس تقاضا داده چه تاسو د ډكو متيـازو په وجه غسل كوئ او د منى په وجه صرف اودس كوئ. ځكه ډكے متيازے تاسو د جامو نه نه ګروئ او او چه منى د كپړو نه ګروئ ؟ حال دا چه دا قياس غلط دے.

حـافـظ ابـن حـجـرؒ په فتح البارى (١/٢٦٥) كښې پدے مسئله كښې داسے تحقيق كوى چـه څـوك مـنـى تـه طاهر وائى هغوى د حديث الفرك او حديث الغسل داسے تطبيق كوى چـه وينـځـل حـمـل دى پـه استـحـبـاب بـانـدے دپاره د تـنظيف (نظافت حاصلولو) نه په وجوب. او دا طريقه د امام شافعيؒ، احمد او اصحاب الحديث ده.

او څوك چه منى نجس ګڼړى د هغوى په نيز باندے وينځل حمل دى په لامده اوګرول حـمـل دى پـه اوچه باندے او دا طريقه د احنافو ده ليكن اوله طريقه راجحه ده ځكه په هغے كـښې عمل دے په حديث او قياس دواړو باندے ځكه چه منى كه نجس وى نو قياس تقاضا

كوى چه وينځل دے واجب شى لكه د وينے پشان او په ګرولو دے اكتفاء اونكړے شى ځكه احناف په وينه كښے په فرق (ګرولو) باندے اكتفاء نكوى، نو پكار ده چه په منى كښ خو په طريق اولى اكتفاء اونكړى) او ددے دويمے طريقے ترديد په روايت د ابن خزيمه كښ دے چه په بل سند د عائشے رضى الله عنها نه نقل دى :

[كانت تسلت المنى من ثوبه بعرق الاذخر ثم يصلى فيه وتحكه يابسا من ثوبه ثم يصلى فيه] ـ نو دا حديث متضمن دے ترك د غسل (وينځلو) لره په دواړو حالتونو كښ يعنى لامده او اوچه دواړو صورتونو كښ نده وينځل شوے. او احناف خو دا وائى چه لامده به خامخا وينځى نو مذهب ئے د حديث خلاف شو. انتهى بتصرف يسير. (فتح البارى) ـ

ددے مسئلے ښه تفصيل په مجموعة الفتاوى (٥٩١/٢١) كښے سره د جوابونو د مخالفينو نه اوګوره. دارنګه فتاوى الدين الخالص (٤١٢/١) والتحقيقات فى رد الهفوات ص (٣٤)ـ

---

٦ – وَعَنِ الْأَسْوَدِ وَهَمَّامٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كُنْتُ اَفْرُكُ الْمَنِيَّ مِنْ ثَوْبِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

٧– وَبِرِوَايَةِ عَلْقَمَةَ وَالْأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ نَحْوَهُ وَفِيْهِ (ثُمَّ يُصَلِّىْ فِيْهِ).

ترجمه : اسود او همام دواړه د عائشة نه روايت كوى چه دے اوفرمائيل : مابه د رسول الله ﷺ د كپړے نه (اوچه) منى ګروله. او علقمه او اسود د عائشة نه هم ددے پشان روايت كړے او په دے كښے دا الفاظ دى : بيا به رسول الله ﷺ په هغه كپړه كښے مونځ كولو.

تشريح : ثُمَّ يُصَلِّىْ فِيْهِ : مصنف پدے زيادت ذكر كولو كښ رد كوى په مالكيه ؤ باندے چه بعض مالكيه وائى چه كومے جامے نه عائشے منى ګروله نو هغه د خوب جامه وه او كومه ئے چه وينځله نو هغه د مانځه جامه وه ليكن دا تاويل صحيح ندے ځكه نبى ﷺ په همغه جامه كښ چه منى، ترے ګرول شويده – مونځ كړيدے لكه په بل روايت د مسلم كښے : (فيصلى) په فاء تعقيب مع الوصل سره راغلے دے يعنى ددے ګرولو نه پس ئے متصل مونځ كړيدے او مالكيه دا تاويل ځكه كوى چه د هغوى په نزد د لامدے او اوچے ډواړو وينځل ضرورى دى.

٨ - وَعَنْ أُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ أَنَّهَا أَتَتْ بِابْنٍ لَهَا صَغِيرٍ لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَأَجْلَسَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِي حِجْرِهٖ فَبَالَ عَلٰى ثَوْبِهٖ فَدَعَا بِمَاءٍ فَنَضَحَهُ وَلَمْ يَغْسِلْهُ) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ام قيس بنت محصنؓ نه روايت دے چه دے خپل يو وړوکے ځوئے چه لا خوراك ئے نه وُ کړے رسول الله ﷺ ته راوستو، رسول الله ﷺ هغه په خپله غيږه کښې کينولو، نو هغه ماشوم د هغه په جامه باندے متيازے اوکړے، نو رسول الله ﷺ اوبه را اوغوښتے او په هغے ځائے باندے ئے چنړکاؤ کړے او هغه ئے اونه وينځلو۔

تعارف : د أم قيس بنت محصن : رضي الله عنها :

دا د عکاشه بن محصنؓ خور ده، د بنو أسد قبيلے نه ده، په مکه مکرمه کښې ئے ابتداءً اسلام قبول کړيدے، او د نبي ﷺ سره ئے بيعت کړيدے، او مدينے ته ئے هجرت اوکړو، ددے خپل نوم آمنه دے۔ ټول (٢٤) احاديث ئے أمت ته نقل کړی دی۔ ديته نبي ﷺ د اوګد عمر دعاء کړے وه۔ دا وجه ده چه په ټولو صحابياتو کښې ددے عمر زيات وو۔

تشريح : أَنَّهَا أَتَتْ بِابْنٍ لَهَا صَغِيرٍ : دا ماشوم ئے : ١- د تحنيك (يعنی مرئ کښې د ژولے کهجورے اچولو) دپاره راوستے وو، يا د تبرك حاصلولو دپاره۔

★ په دے کښې نفي د علم غيب ده د نبي ﷺ نه، ځکه چه هغه ته دا پته نه وه چه دا ماشوم به متيازے کوی۔

★ او په دے کښې شفقت د رسول الله ﷺ ته هم اشاره ده چه د ماشومانو نه نفرت نکوی چه هسے نه متيازے راباندے اونکړی۔

★ په حديث کښې مسئله داده چه کوم ماشوم لا طعام نه وی خوړلے، بلکه د مور په پيئو باندے اکتفاء کوی، نو د هغه بولو کښې تخفيف دے، صرف اوبه ورته چنړکاؤ کول کافي دی۔ او پوره طور سره ئے وينځل ضروری نه دی۔ او دا قانون صرف په هلك کښې دے، او دا قول د جمهورو علماء او محدثينو دے۔ او هرچه د ماشومے جينۍ بول دی نو د هغے وينځل واجب او ضروری دی۔

د احنافو او امام مالكؒ رائے داده چه د هلك اوجينئ بولو كښے فرق نشته، د دواړو وينځل واجب دی، البته د محدثينو احنافو په نيز د هلك په بولو كښے غسلِ خفيف دے، او د جينئ په بولو كښے غسل غليظ (مضبوط وينځل) دی۔

د جمهورو دلائل : ۱- يو دليل حديث د أم قيس دے چه په دے كښے نضح چنړكاؤ راغلے دے، او نفی د غسل شويده۔ (ولم يغسله) او په بل وايت د مسلم كښے (۱/۱۳۹) ولم يزد على ان نضح بالماء ۔ او په دے كښے تاويل كول خلاف الأصل دی۔او دا واضح دليل دے چه صرف چنړكاؤ شويدے۔

۲ – روايت د لبابه بنت الحارث فی الفصل الثانی كښے دی، نبی ﷺ فرمائی : (انما يغسل من بول الأنثی وينضح من بول الذكر) رواه احمد وابوداود وأحمد۔

۳ – په نسائی او ابوداود كښے د أبی السمح په روايت كښے داسے دی۔ (يغسل من بول الجارية ويرش من بول الغلام) قال البخاری حديث حسن وصححه الحاكم .مرعات (۲/۲۰۰)۔ نو دلته د نضح تفسير په (رش) سره اوشو، نو معلومه شوه چه د نضح نه مراد رش دے، چه چنړكاؤ ته وائی، ځكه د نضح لفظ دوه معنے دی (۱) چنړكاؤ كول (۲) او وينځل۔ دلته ترے مراد چنړكاؤ كول دی، دارنګه بل دليل په دے چه د نضح نه مراد چنړكاؤ دے دادے چه ددے په مقابله كښے نفی د غسل شويده (لم يغسله) دويم : نور احاديث د عائشهؓ او عبد الله بن عمرو او زينب نه ترمذی بشرح التحفة (۱/۷٦)، كښے راوړيدی چه هغه دليل دے چه فرق په مابين د بول الغلام وبول الجاريه كښے ضروری دے۔ چه يو كښے وينځل دی اوبل كښے چنړكاؤ كول۔

۲ – د احنافو دليل په عدم فرق باندے حديث د (استنزهوا من البول) دے چه دا عام دے بول الغلام او بول الجاريه دواړو ته شامل دے۔

ليكن ددے نه **جواب** دادے چه دواړه حديثونه منل پكار دی، دا حديث په باره د نارينه ؤ كښے دے، او هرچه بول الغلام دی، نو هغه ددے نه مستثنیٰ دی۔ او نبی ﷺ پخپله مستثنیٰ كړيدی، قولاً او عملاً۔ عملی حديث خو دا حديث دے (فنضحه) لفظ راغلے دے۔ او قولی حديث فصل ثانی كښے د لبابة بنت الحارث حديث دے (وينضح من بول

الذكر)۔

او احناف داسے کار کوی چه احادیثو کښے تعارض پیدا کوی، او بیا د خپل مذهب مطابق توفیق او تطبیق کوی۔ نو حدیثونو کښے هیڅ تعارض نشته، بلکه په ټولو احادیثو عمل داسے راځی، چه کومو حدیثونو کښے فرق دے په بول الغلام والجاریه کښے، نو په هغے عمل کوه، او کوم حدیث کښے چه (استنزاه من البول) باندے أمر راغلے دے نو هغه په ما سوا دِ بول الغلام باندے حمل دی۔ او دا عام دی او حدیث د لبابه خاص دے والخاص يقضي على العام لانه بمنزلة الاستثناء من القاعدة الكلية۔

احناف د مذهب دپاره په دغه مذکوره احادیثو کښے تاویلونه کوی۔ چه نضح نه مراد غسل (وینځل) دے، او د رش نه هم مراد غسل دے، لیکن دا تاویل خطاء دے، ځکه (لم یغسله) لفظ چه کله راغلو نو واضحه شوه چه چنړکاؤ شوید ے، نه وینځل۔ نو احناف ددے احادیثو د عمل نه محروم دی په تاویلاتو سره۔ او کوم احناف چه د احادیثو نه متأثر دی، نو هغوئ وائی : نضح نه مراد غسل دے، خو غسل خفیف دے، نه غسل غلیظ۔

صاحب المرعات (٢٠١/٢) شیخ عبید الله مبارکفوریؒ وائی چه دا حدیث او ددے پشان نور احادیث رد کوی په هغه چا چه د هلك او جینئ ترمینځ فرق نکوی او د قیاس تابعداری کوی چه دا بول قیاس کوی په بول الشیخ باندے – د دوئ پدے کار کښ تقدیم د قیاس دے په نص باندے او صحیح صریح سنت رد کول دی په قیاس باندے۔

حکمت : د دے څه حکمت دے چه د جینئ او هلك بولو کښے فرق دے ؟

نو بعضے وائی حکمت دادے چه د جینئ په بولو کښے بدبوئی ډیره وی او د هلك په بولو کښے بدبوئی کمه وی۔ (٢) یا داچه هلك سره زیات ألفت اوتعلق وی په نسبت سره جینئ ته، په دے وجه هلك په غیرو کښے ډیر اخستے شی، نو دده په بولو کښے تخفیف اوکړے شو، دے دپاره چه امت په حرج کښے پرے نه وځی۔ نو کوم خلق چه فرق نه کوی نو هغوئ په أمت باندے په زوره سختی راولی، کومه چه د شریعت د یسر او سماحت منافی ده۔ (٣) دارنګه هلك بول نه خوریږی، او د جینئ بول خوریږی، نو په دے کښے ټولے جامے خرابیږی۔ ذکره الحافظ ابن القیمؒ۔

(٤) پاداچه د هلك بول نرم وی د جینئ د بولو نه، نو د محل پوره نه پیوسته کیږی، نو د هلك په بولو کښې تخفیف اوشو۔ هر څه حکمت چه وی خو نبی ﷺ فرق کړیدے۔ مونږ به په دے فرق کولو باندے عمل کوو۔ او مومن سړے به په عمل کولو کښې حکمت ته نظر نکوی بلکه د الله او د رسول د خبرے منل او اتباع به کوی۔ زمونږ وظیفه حکمتونه معلومول ندی بلکه اتباع ده۔

سوال : د هلك بول خو تاسو هم منئ چه نجس دی، او نجاست چه کله بدن یا جامے ته اورسیږی، نو هغه بغیر د وینځلو نه نه پاکیږی۔ نو مونږ به ضرور د نضح (چنړکاؤ) نه مراد غسل (وینځل) اخلو۔

جواب : داخبره مخکښې تیره شوه چه د غلام په بولو کښې چنړکاؤ د نبی ﷺ نه ثابت دے، نه غسل۔ او دا خبره چه جامے او بدن ته نجاست اورسیږی نو صرف په وینځلو سره پاکیږی داخبره غلط ده، ځکه تاسو خپله ددے خبرے خلاف کړیدے چه د منی په باره کښې وائے دانجس ده اوکله چه اوچه شی نو ګرولو سره هم پاکیږی۔ نو دغه شان بول الغلام چه بدن یا جامے ته اورسی دا اګرچه نجس دی خو چنړکاؤ کافی کیږی۔

خلاصه : داچه د جمهورو مذهب د حدیث مطابق دے او د احنافو مذهب د ظاهر حدیث نه مخالف دے، نو ځکه تاویلونه کوی۔

تنبیه : دا اختلاف په هغه صورت کښې دے چه ماشوم لا خوراك نه وی کړے بلکه صرف په پیئو باندے اکتفاء کوی، اوکله چه خوراك شروع کړی او زمانه د رضاعۍ ختم شی (نوویؒ شرح مسلم ۱۳۹/۱) نو بیا اتفاق دے چه دده بول وینځل ضروری دی۔ برابره خبره ده که بول الغلام وی اوکه بول الجاریه، لکه دا خبره قتادهؒ په خپل حدیث علیؓ کښې کړیده۔ قال قتادة : هذا ما لم یطعما الطعام فاذا طعما غسلا جمیعا- وقال ابن شهاب مضت السنة ان یرش من بول من لم یأکل الطعام من الصبیان. (ابن ابی شیبة وابن حبان)۔

تنبیه : د نضح نه څه مراد دے ؟۔ امام نوویؒ شرح د مسلم (۱۳۹/۱) کښې وائی نضح نه مراد دا دے چه کوم شئ ته بول اورسی نو هغے باندے به دومره اوبه واچول شی چه اوبو کښې پټ شی او دومره چنړکاؤ اوکړے شی چه اوبه بهیدلو ته او نه رسی او اونه ځاځی۔

سبل السلام (۱/۵٤)۔

۹ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : (إِذَا دُبِغَ الْإِهَابُ فَقَدْ طَهُرَ) رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے : کله چه څرمن رنګ کړے شی نو هغه پاکه شوه۔ (مسلم)۔

تشريح : اِذَا دُبِغَ الْاِهَابُ فَقَدْ طَهُرَ :

د دباغت معنی : د څرمنے بد بوئی او نجس رطوبات زائل کولو ته دباغت وائی۔ دا رنګ کول په دوایانو سره هم کیږی لکه قرظ (د کیکر پاڼړے) یا په نمر باندے اوچولو سره یا په هواء سره یا په خاورو سره یا په انار پوستکی سره یا په نور جدید کیمیکل موادو سره دا ټول صورتونه د پاکوالی دی۔

د څرمن نه فائده اخستلو کښے اختلاف

د څرمن متعلق اختلاف دے چه آیا ددے نه فائده اخستل جائز دی که نه ؟۔

نو د هر ماکول اللحم حیوان څرمن نه فائده اخستل بغیر د څه شرط نه جائز دی۔

خو د غیر ماکول اللحم او مردار شوی حیوان دِ څرمنے نه فائده اخستلو کښے اختلاف دے :

۱ – د امام احمد رحمه الله او امام مالك رحمه الله نه یو یو روایت دادے چه هیڅ څرمن په دباغت (رنګولو) سره نه پاکیږی۔ او دا حکم منسوخ دے۔ وهو مروی عن عمربن الخطاب وابنه عبد الله وعائشة رضی الله عنها۔

۲ – د ماکول اللحم حیواناتو څرمن په رنګ کولو پاك کیږی او د غیر ماکول اللحم نه پاك کیږی او دا مذهب د اوزاعی رحمه الله، ابن المبارك رحمه الله، ابوثور رحمه الله، او اسحق بن راهویه دے۔ (نووی ۱/۱۵۹)۔

۳ – امام مالك رحمه الله وائی : ټولے څرمنے په رنګولو سره پاکیږی، خو صرف لامده څیزونه به په څرمن کښے نه استعمالوی۔ یعنے ظاهر د څرمنے پاکیږی، او باطن ئے نه پاکیږی۔ کیناستل او مونځ کول پرے جائز دی۔ دے تفصیل باندے دلیل نشته۔

٤- د امام ابو حنيفةؒ او امام شافعيؒ او يو روايت د امام احمدؒ نه دادے چه ټولے څرمنے كه د مردار حيوان وى او كه د پاك حيوان - په رنګولو سره پاكيږى. اوچ او لامده ټول اشياء په كښے اچول جواز لرى. بيا امام ابو حنيفةؒ ددے عموم نه د انسان او خنزير څرمنه مستثنیٰ كوى. د كرامت او نجاست العين د وجے نه. او امام شافعيؒ د خنزير، انسان او سپى څرمن مستثنیٰ كوى، سپى قياس كوى په خنزير باندے د وجے د علت د نجاست نه. دا په ﴿ فانه رجس ﴾ سره مستثنیٰ كوى.

٥ - ټولے څرمنے په دباغت سره پاكيږى ظاهراً او باطناً اګركه د خنزير او سپى هم وى او دا مذهب د داود ظاهرى، اهل ظاهر او امام ابويوسف دے او ديته علامه شوكانى راجح وئيلے دے. ځكه چه پدے باب كښے چه كوم احاديث راغلى دى هغے كښے فرق د سپى او خنزير وغيره نشته. خو حق داده چه په احاديثو كښے د جلود السباع والنمر وغيره نه منع راغلے ده، چه دا به په رنګ كولو هم نه پاكيږى. لكه روستو روايت د ابو المليح او مقدام كښے دى (نهى رسول الله ﷺ عن جلود السباع). أبوداود، نسائى.

او دارنګه خنزير او كلب د نجاست په وجه مستثنیٰ دى. او انسان د كرامت په وجه.

٦- امام زهرىؒ وائى : بغير د دباغت او رنګولو نه د هر مردار حيوان څرمنه پاكه ده، او په هر څه كښے ئے استعمالول جائز دى اوچه كه لامده. استدلال كوى په (فهلا انتفعتم باهابها) باندے، چه په بعض رواياتو كښے ورسره دباغت نه دے ذكر ليكن دا مذهب ضعيف دے، وجه دا ده چه دا مطلق روايت محمول دے په دباغت باندے. او شايد چه زهرى ته به نور روايات او احاديث نه وى رسيدلى په كوم چه دباغت شرط ګرځولے شويدے. شوكانى نقل كړيدى چه دا قول د اجماع نه هم مخالف دے. النيل (١/٧٦).

دلائل العلماء : ★ امام مالكؒ سره په فرق باندے هيڅ دليل نشته، صرف عقلى فرق دے او نبى ﷺ د مردارے ګډے په څرمن كښے اوبه اچولى دى.

★ د امام احمدؒ دليل دادے چه حديث د عبد الله بن عكيمؓ كښے دى چه : نبى ﷺ جهينه قبيلے ته خط اوليږلو چه : (انى رخصت لكم فى جلود الميتة، فاذا جائكم كتابى هذا فلا تنتفعوا من الميتة باهاب ولا عصب).

(أخرجه الترمذی، وقال : هذا حدیث حسن وصححه ابن حبان، ورواه أبوداود)۔

دا الفاظ په روایت د ابوداود کښې دی۔ اود احمدؒ په روایت کښې دا الفاظ دی :

(أتانا کتاب رسول الله ﷺ قبل وفاته بشهر أو شهرین : أن لا تنتفعوا من المیتة باهاب ولاعصب)۔

په دې کښې عموم دې چه قبل الدباغة وی که بعد الدباغة وی۔ نو دا حدیث ناسخ دې روایاتو د اباحت لره۔ او اباحت منسوخ دې۔

لیکن دې روایت کښې اول خو ضعف دې اضطراب دې لکه روستو راځی، اوکه صحیح شی نو په دې کښې صحیح تاویل شته چه دې کښې (اهاب) لفظ راغلې، او اهاب کچه غیر رنګ شوې څرمنې ته وائی، او داخو نور علماء هم جائز نه ګنړی ترڅو چه رنګ شوې نه وی۔ خبره په رنګ شوې څرمن کښې ده چه پس د رنګ کولو نه پاکه ده، نو داحدیث هم مخالف نه دې د نورو حدیثونو نه ۔

د جمهورو دلائل :

جمهورو سره په اباحت (جواز) د جلد میته باندې پس د رنګولو نه پنځلس روایات دی۔ چه یو د هغې نه دا روایت د ابن عباسؓ دې چه په روایت د مسلم کښې ورسره : (أیما اهاب) لفظ راغلې دې چه دا قاعده کلیه ده چه هره څرمنه چه رنګ کړې شی پاکه ده۔

۲ – بل روایت روستو متصل را روان دې چه د (میمونهؓ نه ګډه مرداره شوه نو نبی ﷺ په هغې تیر شو او وې فرمائیل : (هلا أخذتم اهابها فدبغتموه فانتفعتم به ؟) تاسو ولې ددې څرمن نه راخسته چه رنګ کړې مو وې او فائده مو ترې اخستې وې ؟ هغوئ اووئیل : دا خو مرداره ده ؟ نبی ﷺ اوفرمائیل : ددې خوراك حرام دې، نه د څرمنې استعمال ۔ (بخاری،مسلم)۔

او **جواب** د حدیث د عبد الله بن عکیمؓ نه دادې چه دا حدیث ضعیف دې په ډیرو وجهو سره : (۱) یو خو ددې سند منقطع دې (۲) دویم سند ئې مضطرب هم دې، څکه بعضې روایاتو کښې داسې وائی (عن کتاب النبی ﷺ) بعضو کښې (حدثنا مشیخة لنا من جُهَینة) بعضو کښې (عمن قرأ الکتاب) لفظ راغلې دې۔

او متن كښې ئې هم اضطراب دے چه بعضو كښې (قبل موته بشهر) دے، او بعضو كښې (بشهرين) دے، او بعضو كښې (أربعين يوما او ثلاثة أيام) دے، او بعضو كښې ددے هر قسم قيد نه مطلق راغلے دے. او دا حديث مرسل هم دے ځكه عبد الله بن عكيم د نبي ﷺ نه آوريدلى نه دى او انقطاع هم ده، چه عبد الرحمن بن أبى ليلىٰ د عبد الله بن عكيم نه آوريدل نه دى كړى. نو دا حديث مضطرب او منقطع او مرسل دے، نو قابل حجت او استدلال نه دے، كما فى حاشية المغنى لابن قدامة (١/٨٥).

او هرچه احاديث د اباحت دى نو هغه ډير هم دى او صريح هم دى او صحيح هم دى.

٢ – دويم **جواب** دادے چه كه اومنو چه دا حديث د عبد الله بن عكيم صحيح دے، نو بيا هم نقصان نشته، وجه داده چه په دے روايت كښې منع د (اهاب) نه راغلے ده، چه د اهاب نه فائده مه اخلئ، او اهاب كچه پے رنګه څرمنے ته وائى. چه پخه شوى نه وى اوكچه وى. اوكله چه رنګ شى نو هغے ته شنّ او قربه وائى. لكه دا خبره د اهل اللغة نه نقل ده، كذا فى الصحاح والقاموس. او نضر بن شميل ؒ نه امام ابوداودؒ نقل كړيدى.

او داسے څرمن نه فائده اخستل د عامو علماؤ په نيز جائز نه دى. او په دے روايت كښې بعد الدباغه (پس د رنګ كولو نه) منع نشته، او په دے سره تطبيق د ټولو احاديثو راځى. دا وجه ده چه امام ترمذىؒ فرمائى: امام احمدؒ دا حديث د عبد الله بن عكيم په آخر كښې پريښے دے د وجے د اضطراب نه. او د جمهورو مذهب په دے باره كښې حق دے.

---

١٠ – وَعَنْهُ رضي الله عنه قَالَ: تُصُدِّقَ عَلٰى مَوْلَاةٍ لِمَيْمُوْنَةَ بِشَاةٍ فَمَاتَتْ فَمَرَّ بِهَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، فَقَالَ: هَلَّا أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا فَدَبَغْتُمُوْهُ فَانْتَفَعْتُمْ بِهَا؟ فَقَالُوْا: إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ: إِنَّمَا حُرِّمَ أَكْلُهَا) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ابن عباسؓ فرمائى: د ميمونےؓ آزاد كړے شوے وينزے ته په صدقه كښې يوه بيزه وركړے شوه، بيا هغه مړه شوه. رسول الله ﷺ په هغے باندے تير شو، نو وے فرمائيل: تاسو ولے ددے څرمن وانه خسته چه رنګ كړے مو وے او د هغے نه مو فائده اخستے وے؟. خلقو عرض اوكړو: دا خو مرداره ده، رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ددے خو

صرف خوراك حرام دے۔ (بخاری، مسلم)

تشریح : فَانْتَفَعْتُمْ بِهَا : دا فائده اخستل عام دی که داوچے څرمنے نه وی اوکه د لمدیٔ نه وی، نو په دے کښے ردّ دے په قول د امام مالكؒ باندے۔ دارنګه په دے کښے اوبه اچول او بیا د هغے نه اودس کول هم جواز لری۔ دارنګه دا د هغه علماؤ دلیل دے چه د څرمن او غوښے نه علاوه وېښته او غاښونه او ښکر وغیره نه فائده اخستل جائز ګنړی۔ ځکه په دے کښے حیات اوژوند نشته۔ نو په مرګ سره په کښے نجاست نه راځی۔ لکه دا خبره امام بغویؒ په شرح السنه کښے ذکر کړیده۔

---

۱۱ – وَعَنْ سَوْدَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَتْ : مَاتَتْ لَنَا شَاةٌ فَدَبَغْنَا مَسْكَهَا ثُمَّ مَازِلْنَا نَنْبِذُ فِيهِ حَتّٰى صَارَ شَنًّا) رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : د رسول الله ﷺ بی بی، سودهؓ فرمائی : زمونږ یوه چیلئ مړه شوه نو مونږه د هغے څرمن رنګ کړه، بیا به مونږ په هغے کښے همیشه دپاره (د اوبو او قجورو) شربت جوړولو تردے چه هغه زوړ مشك شو۔

تعارف : د سوده رضی الله عنها :

دا د زمعه بن قیس لور ده، او ام المؤمنین د رسول الله ﷺ بی بی ده۔ د مکے پخوانئ مسلمانه ده۔ دے د خپل خاوند – سکران بن عمرو – سره حبشے ته هجرت اوکړو، او خاوند ئے هلته وفات شو۔ بیا رسول الله ﷺ سره ئے نکاح اوشوه، او په مکه کښې ئے ورسره واده اوشو۔ روسته د وفات کیدو د خدیجےؓ او مخکښے د نکاح د عائشهؓ نه۔ بیا دے مدینے ته هجرت اوکړو۔ دا چه کله بوډئ شوه نو نبی ﷺ ددے د طلاقولو اراده اوکړه، نو دے عرض اوکړو : ما خپل نمبر عائشےؓ ته اوبخښلو۔ نو نبی ﷺ دا اراده پریخودله۔ په سنه (۵۵) کښے وفات شویده۔

مَسْكَهَا : په فتح د میم سره، څرمنے ته وائی، مسك ورته ځکه وائی چه په دے کښے څیزونه ساتلے شی۔ لکه اوبه وغیره۔

۱ – دا حدیث هم دلیل دے په اباحت د څرمن د مردار حیوان باندے، اونه دے منسوخ۔

۲- او دليل دے چه لامده څيزونو دپاره هم د مردار خيوان څرمن استعمالول جواز لري
نَنبُذُ : بكسر الباء من باب ضرب يعنے نبيذ به مو په كښے جوړول۔
شَنًّا : بفتح الشين وتشديد النون، زړه تپكه او مشك۔

الفصل الثاني - دويم فصل

١٢ - عَنْ لُبَابَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ قَالَتْ : كَانَ الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ رضي الله عنه فِي حِجْرِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَبَالَ عَلَى ثَوْبِهِ، فَقُلْتُ : اِلْبَسْ ثَوْبًا وَأَعْطِنِي إِزَارَكَ حَتّٰى اَغْسِلَهُ، قَالَ : اِنَّمَا يُغْسَلُ مِنْ بَوْلِ الْأُنْثٰى، وَيُنْضَحُ مِنْ بَوْلِ الذَّكَرِ) رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : لبابه بنت الحارث وائي : حسين بن علي رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په غيږه كښے وو، نو د رسول الله ﷺ په جامه ئے تشے متيازے اوكړے، ما ورته عرض اوكړو : بله جامه واغونده او لنګ دے راكړه چه وے وينځم۔ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : د ماشومے جينۍ متيازے وينځلے شي، او د ماشوم هلك متيازے چنړكاؤ كولے شي۔ (احمد، ابوداود، ابن ماجه)۔

تعارف : د لبابة بنت الحارث رضی الله عنها :

دا د عباس بن عبد المطلب بي بي ده، أم الفضل، د فضل بن عباس رضي الله عنه مور او د ميمونة رضي الله عنها خپله خور ده۔ دا اولنۍ زنانه ده چه د خديجة رضي الله عنها نه روستو ئے ايمان راوړيدے۔ دا ډيره شريفه زنانه وه، نبي ﷺ به ئے ملاقات كولو۔ د عثمان رضي الله عنه په دور خلافت كښے وفات شويده، د خاوند نه پس۔

تشريح : ددے حديث تشريح مخكښے تيره شوه۔ چه په بول الصبي والجاريه كښے فرق شته دے۔ او دا صريح دليل دے چه د هلك په متيازو به صرف چنړكاؤ كولے شي ځكه دلته نضح مقابل د غسل ذكر شويدے فتدبر۔

درجة الحديث : وسنده صحيح اخرجه احمد (٣٣٩/٦-٣٤٠) وابوداود رقم

(٣٧٥) وابن ماجة (٥٢٢) والحاكم (١/١٦٦) وصححه ووافقه الذهبي۔

---

١٣ – وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ عَنْ أَبِي السَّمْحِ قَالَ : يُغْسَلُ مِنْ بَوْلِ الْجَارِيَةِ، وَيُرَشُّ مِنْ بَوْلِ الْغُلَامِ).

ترجمه : اود ابوداود او نسائي په روايت كښې د ابو السمح نه نقل دى چه دے فرمائى : د ماشومے جينئ متيازے به وينځلے شى اود ماشوم هلك متيازو ته به چنړكاؤ كولے شى۔

تعارف : د أبى السمح : دا د رسول الله ﷺ غلام او خادم دے، خپل نوم ئے أياد دے، صحابى دے، صرف دا يو حديث ترے نقل دے۔

تشريح : دا حديث هم دليل دے په دے چه مخكښې روايت كښې چه (نضح) ذكر دے، د هغے تفسير په (رش) سره دے۔ يعنے چنړكاؤ كول مرادى ۔ وينځل نه دى مراد۔

اوكوم علماء چه دا فرق نه كوى نو هغوئ قياس مقدم كړيدے په نص صريح واضح باندے، چه هغوئ بول الرضيع قياس كړيدى په بول الشيخ باندے۔ وقد مر تفصيل المسئلة فى هذا الباب۔

درجة الحديث : وسنده صحيح اخرجه ابوداود (٣٧٦) والنسائى (١/١٥٨) وابن ماجة (٥٢٦) وصححه الحاكم فى المستدرك (١/١٦٦) واقره الذهبي۔

---

١٤ – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (إِذَا وَطِئَ أَحَدُكُمْ بِنَعْلِهِ الْأَذٰى فَإِنَّ التُّرَابَ لَهُ طَهُوْرٌ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَلِابْنِ مَاجه مَعْنَاهُ.

ترجمه : ابو هريرهؓ فرمائى : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كله چه پتاسو كښې څوك په خپلے څپلئ سره په ګندګئ ځى نو خاوره د هغے پاكونكے ده۔(ابوداود) او ابن ماجه ددے پشان مضمون نقل كړيدے۔

تشريح : په دے حديث كښې د نجاست د پاكولو بله طريقه ذكر ده۔

كله چه د يو شخص څپلئ، چپړه ګنده شى نو د هغے دپاكوالى دپاره په زمكه باندے د

هغې راخکل کافي دي، او په اوبو سره وينځل نه دي پکار، ځکه چه په اوبو وينځلو سره خرابيږي۔

فائده : ددې حديث د ظاهر نه احنافو خلاف کړيدې لکه صاحب هدايه (۷۲/۱) باب الانجاس کښې وائي : کله چه په څپلۍ وغيره پورې ذي جرم نجاست اولګي او اوچ شي نو بيا زمکې پورې مږل کافي دي، اوکه نجاست ذي جرم نه وي - لکه متيازې - يا ذي جرم وي خو لوند وي، نو بيا په مږلو باندې نه پاکيږي، بلکه وينځل ئې ضروري دي۔ ځکه چه په زمکه راخکلو سره نور هم پليتي زياتيږي۔ حال دا چه دا فرق صحيح نه دې، په دې حديث کښې دا فرق نشته، بلکه هر قسم نجاست - اوچ وي که لوند، ذي جرم وي که غير ذي جرم - تولو دپاره صرف زمکې پورې مږل کافي دي، وينځل ضروري نه دي۔ دا وجه ده چه احنافو په دې باب کښې د امام ابو حنيفهؒ مذهب پريښې دې، او رجوع ئې کړيده مذهب د امام ابو يوسفؒ ته، لکه نهايه، عنايه، فتح القدير(۱۷۲/۱) او البحر الرائق (۲۲۳/۱) کښې وائي : وعليه الفتوىٰ لعموم البلوىٰ، ولاطلاق الحديث، انتهى. شامي (۲۰۶/۱)۔

ليکن علامه شيخ مباركفوريؒ په أبكار المنن ص (٤٦) کښې فرمائي : : دا حديث د ابو يوسفؒ د مذهب هم خلاف دې ځکه د ابو يوسفؒ مذهب دادې چه چپړه څپلۍ په مږلو سره پاکيږي کله چه ورته ذي جرم نجاست اورسيږي اوچ وي که لوند۔ اوکله چه ورته غير ذي جرم نجاست اورسي لکه بول وغيره، نو بيا په غير د وينځلو نه هم نه پاکيږي۔ نو پدې فرق هم دليل نشته، بلکه حديث مطلق دې که ذي جرم نجاست وي اوکه غير ذي جرم وي۔ د دواړو يو حکم دې، چه زمکه پورې راخکلو سره پاکيږي اګرچه نجاست باقي وي، ليکن هغه شريعت معاف کړيدې۔ نو د امام ابو حنيفهؒ او ابو يوسفؒ مذهب خطاء دې، د ظاهر د حديث نه - چه په ابتداء د فصل ثالث کښې را روان دې - خلاف دې۔

۲- **فائده** : حديث نه معلومه شوه چه نجاست پاکول صرف اوبو پورې خاص نه دي

درجة الحديث : رواه ابوداود : دا حديث په طريقه د وليد بن مزيد او أبو المغيره اوعمر بن عبد الواحد عن الأوزاعي سره نقل دې، اوزاعيؒ فرمائي : أنبئت أن سعيد الخ ۔

نو په دې روايت کښې اوزاعيؒ خپل استاذ نه دې ذکر کړې نو هغه مجهول دې، ليکن

شاید چه هغه استاذ محمد بن عجلان وی، لکه په بل روایت د ابوداود کښې په سند د محمد بن کثیر الصنعانی عن الأوزاعی عن ابن عجلان عن سعید نقل دے، او محمد بن کثیر اګر چه متکلم فیه راوی دے، لیکن متابعین دده موجود دی، چه یو ابو المغیره او بل ولید او بل عمر دے، اودا ټول ثقه راویان دی۔ او محمد بن عجلان هم متکلم فیه راوی دے، مګر اکثرو دده توثیق کړیدے۔

نو ثابته شوه چه دا حدیث صحیح دے، لکه ابن حبان او حاکم په خپل کتاب کښې وئیلی دی چه: صحیح علی شرط مسلم۔ امام نوویؒ په الخلاصه کښې وائی: رواه أبوداود باسناد صحیح۔ ابن همام وائی: حدیث أبی هریرة حسن، لم یطعن فیه. کذا فی المرقات (٣٥٦/١) وقال النیموی: حدیث حسن الاسناد۔ او ددے حدیث دوه شاهده نور هم شته، أبوداود راوړیدی د عائشةؓ او ابو سعیدؓ نه۔ قال الالبانی فی تعلیق المشکاة (١٥٦/١) فی سنده انقطاع ووصله بعض الضعفاء فصححه بعض المتساهلین. لکن الحدیث صحیح لان له شاهدین احدهما عن عائشة والآخر عن ابی سعید الخدریؓ باسنادین صحیحین ذکرتهما فی صحیح ابی داؤد رقم (٣٧٤-٣٧٥) وقال رمضان فی تعلیق المشکاة (٢٢٣/١) اسناده صحیح بشواهده۔

---

١٥ - وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ لَهَا امْرَأَةٌ: اِنِّيْ اُطِيْلُ ذَيْلِيْ وَأَمْشِيْ فِي الْمَكَانِ الْقَذِرِ، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: (يُطَهِّرُهُ مَا بَعْدَهُ) رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ. وَقَالَا: اَلْمَرْأَةُ أُمُّ وَلَدٍ لِإِبْرَاهِيْمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ.

ترجمه: ام سلمهؓ نه روایت دے چه دے ته یوے ښځے ووئیل: زما لمن اوګده ده او زه په ګنده ځائے کښې ګرځم۔ ام سلمهؓ ورته ووئیل: رسول الله ﷺ فرمائی چه ددے نه پس چه کومه زمکه راځی نودے لره پاکوی۔ (احمد، مالك، ترمذی، ابوداود، دارمی) او ابوداود او دارمی وئیلی دی چه هغه تپوس کونکے ښځه د ابراهیم بن عبد الرحمن بن عوف ام ولده وه (چه د هغې نوم حمیدهٔ وو - تابعیة صغیرة مقبولة)۔

(ام ولده: هغه وینزه چه د مالك نه ئے ماشوم پیدا شوے وی۔ داسے وینزه د مالك د

مرګ نه پس پخپله آزادیږي)۔

تشریح : په دے حدیث کښے د نجاست زائل کولو دپاره بله طریقه بیانوي، هغه داچه کله یو انسان په یو ګنده ځائے باندے تیر شي او د هغه د څادر یا د زنانه د قمیص لمن یا برقع په هغے ګند باندے ګنده شي، یا د باران په ختو باندے ګنده شي نو چه کله په روستو پاکه اوچه زمکه ورتیر شي نو هغه جامه برقع او قمیص پاکیږي۔ او وینځلو ته ئے ضرورت نشته۔

په حاشیه د مشکوة کښے تاویل کوي چه کله لمن پورے اوچه ګندګي او بول اونخلي او په پاکه زمکه تیر شي نو پاکیږي۔ نو ګند ئے خاص کړو د اوچ پورے۔ (و کان القذر یابسا)، او ملا علي قاريؒ وائي : دا تاویل متعین دے اجماعاً۔

لیکن دا **تاویل** صحیح نه دے، بلکه ددے حدیث خلاف دے، ځکه چه دا زنانه په اقذار رطبه – لامده ګندونو – باندے تیره شویده (بدليل يطهره ما بعده) ځکه ما بعد ددے زمکے نه اوچه ده، په هغے سره پاکیږي۔ بلکه ددے نه مراد د باران ختے او چقړے دي، لکه ددے حدیث تشریح په اول حدیث د فصل ثالث ددے باب کښے را روانه ده، هلته د باران په باره کښے تپوس شویدے، او مقصود په دے حدیث کښے آساني د شریعت ده لکه دا خبره شاه ولي الله دهلويؒ په المسوی شرح الموطأ کښے تفصيلا بیان کړیده۔

و كذا فی فقه السنة (١/٣١) قال كميل بن زياد : رأيت عليا يخوض طين المطر ثم دخل المسجد فصلى ولم يغسل رجليه. الشامي (١/٢٠٦) المجموع شرح المهذب (١/٢٠٩) مجموعة الفتاوى ۔ نو دا حدیث حمل دے په طِيْنُ الْمَطَر، وَوَحْلِهٖ باندے۔

درجة الحديث : رواه مالك۔ دا حدیث بعضے علماؤ ضعیف ګڼلے دے ځکه امرأه په کښے نه ده معلومه چه ثوك ده۔ نو مجهول راوي په کښے راغلو ۔ لیکن صحیح خبره داده چه دا حدیث صحیح دے، اوکه امرأه مجهوله ده، نو هغه خو تپوس کونکے ده د ام سلمهؓ نه، او هغه خو په سند کښے نه ده راغلے، بلکه روایت خو أم سلمهؓ پخپله نقل کوي، نو که امرأه مجهوله شي، نو روایت ته هیڅ ضرر نه رسیږي۔ فتدبر!

٢ - **دويم جواب** داچه ابوداود او دارمي دا وئیلي دي چه امرأه أم ولد د ابراهیم ده،

كما في الكتاب۔ او تقريب كښې حافظ عسقلاني وائي : دا وړوكې تابعيه ده، او مقبوله ده۔ نوم ئې حميده دے۔ دارنګه امام مالكؒ د مدينې په خلقو ډير أعرف دے۔ نو چه كله هغه ددے حديث نقل كړو، معلوميږي چه هغه ته دا معلومه ده، نو مجهوله پاتے نشوه د هغه په نيز۔ دا جواب هله دے چه كله راويه دغه تپوس كونكے زنانه شي۔ وقال الشيخ الالباني اسناده صحيح بشاهد صحيح يأتي في اول الفصل الثالث۔

---

١٦ - وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيْكَرِبَ رضي الله عنه قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنْ لُبْسِ جُلُوْدِ السِّبَاعِ وَالرُّكُوْبِ عَلَيْهَا). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : مقدام بن معديكربؓ فرمائي : رسول الله ﷺ د درندګانو د څرمنو اغوستلو او په هغې باندے د سوريدلو نه منع فرمائيلے ده۔ (ابوداود، نسائی)۔

تشريح : جُلُوْدِ السِّبَاعِ : د درندګانو د څرمنو نه فائده اخستل حرام دی۔ لكه عربو به ددے څرمنے د اس په شا باندے اچولے، بيا به پرے كيناستل اودا د جبابره او متكبرانو خلقو كار دے۔

بيا دا په دباغت او رنګ كولو سره هم نه پاكيږي۔ ځكه چه دباغت خو خلق د فائدے اخستلو دپاره وركوي او ددے نه فائده اخستل حرام شو۔ او دامخصص دے هغه احاديثو د دباغت لره۔ او د (اذا دبغ الاهاب فقد طهر) د عموم نه دا مستثنیٰ دی۔ علامه شوكانيؒ فرمائي : په دے حديث كښے صرف د ركوب ددے څرمنو او د اغوستلو ددے نه منع ده، ددے نه دا نه لازميږي چه دادے نجس هم وي۔ بلكه په دباغت سره پاكيږي۔ وهو الظاهر من حيث الادلّة۔

مناسبت : د حديث د باب سره دادے چه بعضے څيزونه نجس العين دی، نو د هغے د پاكوالي هيڅ صورت نه وي، لكه جلود السباع۔ او يا كه په دباغت پاك شي بيا هم استعمال ئے ندے جائز۔

درجة الحديث : رواه ابوداود والنسائي : تول رجال ئے ثقات دی ليكن په دے روايت كښے بقيه بن الوليد دے اودا صدوق كثير التدليس راوی دے عنعنه ئے كړيده، ليكن په

مسند أحمد (۱۳۲/۱) کښې ددې قصې يو طرف ذکر دې او په هغې کښې تصريح بالتحديث موجود ده، نو حديث ثابت دې۔ قاله المباركفورى فى المرعات (۲/ ۲۰۴).

---

۱۷ – وَعَنْ أَبِى الْمَلِيحِ بْنِ أُسَامَةَ عَنْ اَبِيهِ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ : (نَهَى عَنْ جُلُودِ السِّبَاعِ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ، وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ أَنْ تُفْتَرَشَ.

ترجمه : ابو المليح بن اسامه د خپل پلار په واسطې سره د نبی کريم ﷺ نه دا روايت نقل کوی چه نبی ﷺ د درندګانو د څرمنو – استعمالولو – نه منع فرمائيلې ده۔ (احمد ابوداود، نسائی) او ترمذی او دارمی دا الفاظ زيات نقل کړی دی چه ددې نه ئې منع فرمائيلې ده چه دغه څرمنو نه فرش جوړ کړې شی۔

تعارف : **د أبى المليح** : ابن أسامه، دده نوم عامر دې، د اوساط التابعين نه دې، په (۹۸) کښې وفات دې، پلار ئې صحابی دې۔

تشريح : يعنی د ځيرونکی حيواناتو لکه پړانګ، زمرې، ګيدړ وغيره د څرمنو استعمالولو نه منع شويده چه ددې اغوستل يا پدې باندې کيناستل وغيره حرام دی ځکه دا قسم څرمنې انسان کښې تکبر او فخر پيدا کوی۔ بعض وائی منع ځکه شويده چه پدې باندې ويښته وی او هغه نجس دی دباغت نه قبلوی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح اخرجه احمد فى المسند (۵/ ۷۴، ۷۵) والدارمی (۳۴۷/۴) والترمذی (۱۷۷۰ - ۱۷۷۱) والنسائی (۱۷۶/۷) وليس فى رواية احمد وابى داود والنسائى ذكر ...... ان تفترش۔

---

۱۸ – وَعَنْ أَبِى الْمَلِيحِ أَنَّهُ كَرِهَ ثَمَنَ جُلُودِ السِّبَاعِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : د ابوالمليح باره کښې منقول دی چه هغه به د درندګانو د څرمنو قيمت هم مکروه ګڼړلو۔ (ترمذی)۔

تشریح : أَنَّهُ كَرِهَ ثَمَنَ جُلُوْدِ السِّبَاعِ : په دے حدیث کښې یو قانون دے هغه داچه : هر هغه شے چه د زنانه او سړی د دواړو دپاره استعمالول جائز وی، یا د یو دپاره استعمالول جائز وی، اوحرام اوحلال پرے دواړه کیږی لکه ریډیو، ټائیپ، ریښم، سره، سپین وغیره، نو د هغے اخستل خرڅول جائز دی۔ اوکوم چه نارینه زنانه دواړو دپاره نا جائز وی، لکه ټی، وی، وی‌سی آر وغیره څیزونه نو دهغے اخستل خرڅول حرام دی۔ ځکه ددے نه فائده نشی اخستل کیدے۔ نو د جلود السباع نه فائده اخستل حرام دی نو دهغے خرڅول هم حرام دی او دا د ابو الملیح ؒ مسلك هم دے۔

درجة الحدیث : رواه : دلته د مشکاة مصنف ؒ دا روایت نه دے موندلے نو بیاض ئے پریخے دے۔ اصل کښې دا اثر د ابو الملیح امام ترمذی ؒ راوړیدے په کتاب اللباس (١٧٧٠) کښې۔ امام جزری ؒ فرمائی : هذا الأثر سنده جید، وقال الطیبی : سنده و جیه۔ لیکن که ددے سند پیدا هم نشی نو څه ضرر نشته ځکه دا د تابعی وینا ده۔ قال الشیخ الالبانی فی صحیح الترمذی (٢/١٥٣) رقم (١٨٤٤) الحدیث سنده صحیح۔

---

١٩ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُكَيْمٍ رضی الله عنه قَالَ : أَتَانَا كِتَابُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ : (أَنْ لَا تَنْتَفِعُوْا مِنَ الْمَيْتَةِ بِإِهَابٍ وَلَا عَصَبٍ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه .

ترجمه : عبد الله بن عکیم فرمائی : مونږ (جهینه قبیلے) ته چه د رسول الله ﷺ کوم خط راغلے وو په هغے کښې دا وو : چه د مردارے د (کچه) څرمنے او پلے (پټے) نه فائده مه اخلئ۔ (ترمذی، ابوداود، نسائی، ابن ماجه)۔

تعارف : د عبد الله بن عُکیم رضی الله عنه :

دده کنیه ابو معبد الجهنی، مخضرم، ثقه دے۔ دا ډیر علماؤ په صحابو ؓ کښې شمیرلے دے۔ لیکن صحیح خبره داده چه دا تابعی دے، او د نبی ﷺ زمانه ئے نه ده موندلے۔ نبی ﷺ ئے نه دے لیدلے، او روایت ئے هم ترے نه دے نقل کړے۔ او د نبی ﷺ خط ئے آوریدلے

دے کوم چه جهینه قبیلے ته لیږلے شوے وو۔ په زمانه د امارت د حجاج بن یوسف کښے وفات شویدے۔

أَنْ لَا تَنْتَفِعُوا مِنَ الْمَيْتَةِ بِإِهَابٍ وَلَا عَصَبٍ : اهاب کچه څرمنے ته وائی، چه رنګ شوے نه وی۔ او عصب پلے ته وائی کوم چه په جسم کښے خورے دی۔ او په هغے سره انسان حرکت او حس کوی، او ددے څیزونو نه څکه فائده نشی اخستل کیدے چه دا نجس دی۔ په مرګ سره په دے کښے نجاست پیدا کیږی۔

دا حدیث د امام احمدؒ دلیل دے چه څرمن په دباغت سره نه پاکیږی، لیکن ددے جواب مخکښے تیر شویدے چه یو خو دا حدیث مرسل دے۔ عبد الله بن عکیم رسول الله ﷺ نه دے لیدلے، او دا روایت نقل کوی۔

۲ – دویم انقطاع ده په مابین د عبد الرحمن بن أبی لیلیٰ او عبد الله بن عُکیم کښے۔

۳ – دریم اضطراب کثیر دے۔ کما مرّ۔ نو دا حدیث ضعیف دے قابل د استدلال نه دے۔ او که چرے صحیح شی نو بیا په کښے دا تاویل دے چه (اهاب) هغه څرمنے ته وائی چه نه وی رنګ شوے۔ او دامسلم ده اتفاقا چه بے رنګه کچه څرمن پاکه نه ده۔ دارنګه په دے روایت کښے قبل ان یموت بشهر او بشهرین نه خو دا نه معلومیږی چه دا ناسخ دے ټولو احادیثو د جواز لره څکه چه روستو حدیث د میمونه کښے چه د شاه واقعه ذکر ده نو د هغے تقدم یقینی ندے څکه کیدے شی چه دغه ورځو کښے د جواز دغه حدیث وئیلے شوے وی نو د نسخ قول خو علم بالتاریخ غواړی او هغه نشته۔

درجة الحديث : رواه الترمذی (۱۷۲۹) وأبوداود (٤١٢٨) .والنسائی (۱۷۵/۷) وابن ماجة (۳٦۱۳)۔ امام ترمذی فرمائی : هذا حدیث حسن۔ لیکن دا تحسین د جهت د ثقات راویانو نه دے، ورنه په اعتبار د انقطاع او ارسال او اضطراب سره ضعیف دے۔

دا وجه ده امام احمدؒ په دے روایت کښے تردد کړیدے چه راویان ثقه دی لیکن اضطراب دے په کښے۔ نو په دے وجه ئے بیا رجوع او کړه مذهب د جمهورو علماؤ ته، کما نقل الترمذی رجوعه۔ لیکن شیخ البانی په صحیح ابی داود او صحیح الترمذی کښې ورته صحیح وئیلے دے او شیخ رمضان په تعلیق المشکاة (۲۲٦/۱) کښې د هغه تائید کړیدے

او همدا خبره صحیح ده، دے باره کښې ډیر زیات روایات په مختلف سندونو راغلی دی کما فی صحیح ابی داود۔

---

٢٠ – وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ أَمَرَ أَنْ يُسْتَمْتَعَ بِجُلُوْدِ الْمَيْتَةِ إِذَا دُبِغَتْ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : عائشہؓ فرمائی : رسول الله ﷺ حکم فرمائیلے دے چه د مردارے د څرمنے نه د رنګ کولو نه پس فائده اخستلے شی۔ (مالك، ابوداود)۔

تشریح : اَنْ يُسْتَمْتَعَ : دا حدیث رد دے په هغه چا باندے چه د مردارے څرمن پاکه ګنړی په دباغت سره خو بیائے خاص کوی په اوچ شیانو پورے، چه اوچ شیانو دپاره ترے فائده اخستل جواز لری، نه په لامده څیزونو۔ ځکه چه حدیث کښے استمتاع مطلق ده، که اوچ شیان اچوی اوکه لامده تول جواز لری۔

درجة الحدیث : رواه ابوداود رقم (٤١٢٤) ومالك فی الموطأ (٢/٢٩٨) رقم (١٨) ورجاله ثقات کلهم غیر ام محمد بن عبد الرحمن بن ثوبان فانها تروی عن عائشة ولا تعرف. ولکن الحافظ قال انها مقبولة (ای حین المتابعة) ولذا قال الشیخ الالبانی فی تعلیق المشکاة (١/٢٥٨) وسنده حسن فی المتابعات وتبعه الشیخ رمضان فقال سنده حسن۔

---

٢١ – وَعَنْ مَيْمُوْنَةَ قَالَتْ : مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ رِجَالٌ مِنْ قُرَيْشٍ يَجُرُّوْنَ شَاةً لَهُمْ مِثْلَ الْحِمَارِ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (لَوْ أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا قَالُوْا : إِنَّهَا مَيْتَةٌ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُطَهِّرُهَا الْمَاءُ وَالْقَرَظُ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : میمونهؓ فرمائی : د قریشو څه سړی په رسول الله ﷺ باندے په داسے حال کښے تیر شو چه هغوئ خپله یوه چیلئ لکه د خره غوندے راخکله۔ نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل : کاش چه تاسو ددے څرمن اوخکلے وے۔ هغوئ عرض اوکړو : دا خو مرداره ده، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دا د کیکر پانړے او اوبه پاکوی۔ (احمد، ابوداود)۔

تشریح : **يُطَهِّرُهَا الْمَاءُ وَالْقَرَظُ** : قرظ د کیکرونے پانړو ته وائی چه دا اوړه کړی په دے کښے اوچ والے او تینګوالے وی۔ نو کله چه دا د اوبو سره ګډ شی نو څرمن پرے رنګ کیږی او اوچیږی۔ دے نه علاوه په نورو طریقو سره رنګول ئے هم جائز دی، لکه انار پوستکی سره، نمر سره، هواء وغیره سره۔ دلته صرف یوه طریقه ذکر ده۔ کما قال النووی۔

فائده : د څرمن رنګولو دپاره صرف اوصرف دباغت راغلے دے، او ددے دپاره بیا ډیرے طریقے دی، او دباغت نه ما سیوا څیزونو باندے پاکوالے صحیح نه دے۔ صاحب الهدایه (۴۱/۱) وائی : ثم ما يطهر جلده بالدباغ يطهر بالذكاة، لانه يعمل عمل الدباغ فی ازالة النجاسة والرطوبة۔ یعنی په ذبح کولو د یو مردار حیوان سره هم د هغه څرمن پاکیږی، مثلاً خر ذبح کړی او وینه ترے لاړه شی نو څرمن ئے پاکه شوه اګرچه رنګ نه وی ورکړے شوے۔ دارنګه غوښے ته ئے هم پاکه وائی۔ شرح الوقایه (۹۰/۱)۔ دا خبره صحیح نه ده، بلکه بے دلیله قیاسی خبره ده، ځکه حدیثونو کښے (اذا دبغ الاهاب فقد طهر) او بل روایت کښے (طهور کل اهاب دباغه) راغلے دے۔ اخرجه مسلم والبیهقی فی السنن (۲۰/۱).
نو دباغ شرط دے۔ او دے باندے امام بیهقیؒ باب تړلے : باب اشتراط الدباغ فی طهارة جلد ما لا يوكل لحمه وان ذكی ۔ نو فقه حنفی ددے حدیث خلاف شوه۔ او په ذبح کولو سره ازاله د رطوباتو هم نه راځی، دا هسے دعویٰ ده۔

درجة الحدیث : واسناده صحیح کما فی صحیح ابی داود رقم (۴۱۲۶)۔

---

۲۲ - وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبِّقِ رضی الله عنه قَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ جَاءَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ عَلٰى أَهْلِ بَيْتٍ فَاِذَا قِرْبَةٌ مُعَلَّقَةٌ فَسَأَلَ الْمَاءَ فَقَالُوْا لَهٗ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اِنَّهَا مَيْتَةٌ. فَقَالَ : دِبَاغُهَا طَهُوْرُهَا). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه : سلمه بن المحبقؓ فرمائی : رسول الله ﷺ د غزوه په موقعه د یو سړی کور ته تشریف راوړلو، ناڅاپی په یو زړوند مشك باندے ئے نظر اولګیدلو۔ نو رسول الله ﷺ اوبه ئے غوښتلے۔ نو خلقو عرض اوکړو : یا رسول الله ! دا خو د مردارے څرمن ده۔ رسول

الله ﷺ اوفرمائيل : رنګولو دا پاکه کړيده۔ (احمد، ابوداود)۔

تعارف : د سلمه بن المحبق : رضى الله عنه :

دده کنيه ابو سنان دے، بعضے وائی دده نوم سنان بن المحبق دے۔ د هذيل قبيلے نه دے، د بصرے اوسيدونکے مجاهد صحابی دے، بعض وائی : دا هغه اصحاب بابا دے کوم چه دلته په پيښورمټۍ کښے پروت دے، دلته د بت پرستو د مقابلے دپاره په سنه (۴۳) هـ کښے راغلے وو، کما فی تاريخ البلاذری. و الکامل فی التاريخ لابن الاثير ۔ مظلوم صحابی دے۔ احناف دده باره کښے وائی : کله چه دده حديث راشی او د عقل او قياس خلاف وی نو قياس له ترجيح وی دده په حديث باندے۔ کذا فی الحسامی باب السنة۔

دا خبره د دوئ **غلطه** ده۔ دده نه دولس (۱۲) احاديث نقل دی۔ او د احنافو ناپوهه عوام دده په قبر باندے شرکيات کوی۔

دا حديث هم صريح دليل دئ په دے چه دباغت سره څرمن مطلقا پاکيږی، او د اوچ او لمدو څيزونو فرق په کښے نشته، په دے څرمن کښے اوبه ساتلے شوی دی۔ نو دا تائيد دے د قول د جمهورو، او رد دے په قول د امام مالکؒ باندے۔

درجة الحديث : اخرجه احمد (۱/۳۳۴) وابوداود و النسائی (۱۷۴/۷) والدارقطنی (۱/۴۵) وصححه ابن حبان واورده الهيثمی فی موارد الظمآن رقم (۱۲۲) وحسن سنده الشيخ رمضان وقال الشيخ الالبانی سنده صحيح کما فی صحيح ابی داود رقم (۴۱۲۵)۔

الفصل الثالث - دريم فصل

۲۳ - عَنِ امْرَاَةٍ مِنْ بَنِيْ عَبْدِ الْاَشْهَلِ قَالَتْ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اِنَّ لَنَا طَرِيْقًا اِلَى الْمَسْجِدِ مُنْتِنَةً فَكَيْفَ نَفْعَلُ اِذَا مُطِرْنَا ؟ قَالَتْ : فَقَالَ : اَلَيْسَ بَعْدَهَا طَرِيْقٌ هِيَ أَطْيَبُ مِنْهَا ؟ قُلْتُ : بَلٰى. قَالَ : فَهٰذِهٖ بِهٰذِهٖ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : د بنو عبد الأشهل د يوے ښځے نه روايت دے دا وائی : ما عرض اوکړو : يا رسول الله ! مسجد ته چه کومه لاره زمونږ ده هغه ګنده ده، نو کله چه باران اوشی نو

مونږ څه اوکړو؟ هغه ښځه وائی : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : آيا دغه ګنده لارے نه پس بله صافه لاره نه راځی ؟ ما عرض اوکړو : ولے نه، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : دا پاکه لاره د دغه ناپاکے لارے په بدل کښے ده۔ (ابوداود)۔

تشريح : عَنِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِيْ عَبْدِ الْأَشْهَلِ : دا صحابيه ده اونوم ئے نه دے ذکر شوے۔ او صحابهؓ ټول عادلان دی۔ كذا فی أسد الغابة لابن الأثير الجزری، والتهذيب۔ نو دا صحيح حديث دے، هيڅ علت په کښے نشته۔

اودا حديث دليل دے په دے چه لمده ګندګی او اوچه ګندګی چه څادر يا لمن پورے اونخلی او په پاکه زمکه ورتيرشی او په هغے پورے راخکلے شی نو پاکه شوه، او تخصيص د اوچے ګندګی په کښے نشته۔ او مراد ترے نه د باران ختے دی چه ګندونه ورسره ملاؤ شوے وی۔ دا شريعت معاف کړی دی، وينځل ئے ضروری نه دی بلکه د زمکے په مړلو سره هم پاکيږی۔

درجة الحديث : رواه ابوداود رقم (۳۸٤) وابن ماجة (۵۳۳) واسناده صحيح قاله الالبانی فی تعليق المشكاة (۱۵۹/۱) وتبعه رمضان۔

---

٢٤ – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه قَالَ : كُنَّا نُصَلِّيْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَلَا نَتَوَضَّأُ مِنَ الْمَوْطِئِ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : عبد الله بن مسعودؓ فرمائی : مونږ به د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو او په (ګنده) زمکه باندے د تلو په وجه به مو اودس نه کولو۔ (ترمذی)۔

تشريح : وَلَا نَتَوَضَّأُ مِنَ الْمَوْطِئِ : دا په فتحه د ميم او سكون د واؤ او كسره د طاء او همزے سره دے، يا په فتحه د طاء او همزے سره دے، دا اسم ظرف دے د وطئ نه معنیٰ ئے داده (الوضوء من وطئ الموضع القذر) يعنے مونږ به اودس نه کولو د پائمال کولو د ګنده ځائے نه۔ علامه عراقیؒ وائی : پدے حديث کښں د وضوء نه مراد لغوی وضوء دے چه هغه تنظيف دے يعنی مونږ به خپے د ختو وغيره نه نه صفا کولے۔ ځکه د صحاب کرامؓ عادت مبارك دا وو چه هغوی به کور کښں اودسونه کول او بيا به مسجد ته تلل نو که په لاره

کښې موزه یا څپلۍ وغیره به د ګندګۍ یا ختو سوتو وغیره نه اولګیدله نو خپې به ئې نه وینځلې او اودس به ئې هم دوباره نه کولو۔

دا حدیث حمل دے په حدیث د امرأة الأشهلية او أم سلمة باندے چه اوچه یا لمده ګندګی جامے یا قدم پورے اونخلی او بیا په پاکه زمکه تیرشی نو دغه پاکه شوه۔ او اودس کول ضروری نه دی۔ او د هغه قدم او جامے وینځل ضروری نه دی۔ بلکه دا نجاست زائل شویدے۔

درجة الحديث: رواه الترمذی تعليقا و ابن ماجة رقم (۱۰٤۱) وابوداود (۲/۲۷) وابن خزيمة (۱/۲۵) وعبد الرزاق (۱/۳۳) والحاكم (۱/۱۳۹) وصححه ووافقه الذهبی وصححه الالبانی۔

---

۲۵ - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : كَانَتِ الْكِلَابُ تُقْبِلُ وَتُدْبِرُ فِي الْمَسْجِدِ فِيْ زَمَانِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرُشُّوْنَ شَيْئًا مِنْ ذٰلِكَ). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : ابن عمرؓ فرمائی : د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به په جومات کښې سپی تلل راتلل، او صحابوؓ به د هغوئ د تګ راتګ په وجه هیڅ نه وینزل۔ (بخاری)۔

تشريح : فَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرُشُّوْنَ شَيْئًا مِنْ ذٰلِكَ :

صحابه کرامؓ به مسجد ته د سپو په راتلو او تیریدو سره مسجد نه وینځلو۔ وجه داده چه (۱) د سپی بدن دانسان یا د زمکے وغیره سره اولګی نو نجس نه دے، ځکه دلته خو داسے نه ده چه سپو متیازے کړی دی، بلکه تیریدل را تیریدل ذکر دی۔ اودا بغیر د بول نه هم متصور دے۔ (۲) یا که متیازے ئے کړے وی په مسجد کښې لکه د ابوداود (۵۵/۱) په روایت کښې ورسره (وتبول) لفظ هم راغلے دے نو حکم دادے چه زمکه کله ګنده شی په بولو سره او هغه اوچه شی (فذكاة الأرض يبسها) كما مر ـ یعنے هغه اوچیدو سره پاکه شوه۔ نو ځکه ئے پرے اوبه نه دی اچولی۔ لکه چه امام ابوداود هم پدے حدیث باندے داسے باب ترلے دے : باب فی طهور الارض اذا يبست۔

فائده : دلته نفی د (رش) شویده، ځکه دا مبالغه ده په نفی د غسل کښې۔ یعنې څنګاؤ قدرے به ئے پرے هم نه کولو۔ اوکه نفی د غسل شوے وے نو بیا مبالغه نه راتله،

نو ددې نه د هغه احنافو استدلال هم صحيح نه دے چه (رش) په معنىٰ د غسل سره هم استعماليږي. لكه فلم يكونوا يرشون په معنىٰ د يغسلون سره اخلي. فتدبر. تفصيل مخكښې په (٧- حديث د ام قيس) كښې تير شو.

---

٢٦ - وَعَنِ الْبَرَاءِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَا بَأْسَ بِبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ). ٢٧- وَفِيْ رِوَايَةِ جَابِرٍ قَالَ: (مَا أُكِلَ لَحْمُهُ فَلَا بَأْسَ بِبَوْلِهِ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِقُطْنِيُّ.

ترجمه: براء وائي: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د كوم حيوان غوښه چه خوړلے شي د هغه په متيازو كښې هيڅ باك نشته. او په روايت د جابر كښې دى: د كوم حيوان غوښه چه خوړلے شي نو د هغه په متيازو كښې څه حرج نشته. (احمد، دارقطني).

تشريح: لَا بَأْسَ بِبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ : دا حديث دليل دے چه بول د ماكول اللحم حيوان پاك دى. ليكن دا حديث ضعيف جدا دے، قابل د استدلال نه دے، اګرچه معنىٰ ئے صحيح ده. د نورو دلائلو په وجه چه هغه دلالت كوى په طهارت د بول ماكول اللحم وغيره، كما مرت المسألة .و هذا الحديث اخرجه الدارقطني . او په دے كښې سوار بن مصعب متروك الحديث راوى دے.

او روستو روايت د جابر كښې عمرو بن الحصين عن يحي بن العلاء دے او دا دواړه متروك راويان دى. ذاهب الحديث دى، كذا قال الحافظ في التلخيص (١/٤٣) : اسناد كلا الحديثين ضعيف جدا.

ليكن ددے دواړو رواياتو شپاړس (١٦) تائيدات موجود دى. چه هغه په خپل ځائے كښې بيان شوى دى. حديث العرنيين و مرابض الغنم.

* * * * * * * * * * *

باب المسح على الخفين

داد شریعت بله آسانی ده چه په موزو باندے مسح جائز کړیده۔ امام ابو حنیفهؒ نه نقل شویدی چه فرمائی چه ما په ابتداء کښے په موزو باندے مسح نه منله (حتی جائنی فیه مثل ضوء النهار) تردے چه ماته ډیر احادیث را ؤرسیدل لکه دورځے د رنړا پشان۔

او دائے هم فرمائیلی دی چه د اهل السنة والجماعت مسلمانانو علامه داده چه (اکرام الشیخین، وحب الختنین، والمسح علی الخفین) یعنے : چه د ابو بکرؓ او عمرؓ اکرام او تعظیم اوکړے شی، اود عثمانؓ او علیؓ سره محبت اوکړے شی، او په موزو باندے مسح اوکړے شی) او دا خبره ئے په رد د شیعه ګانو کښے کړے وه ځکه په کوفه کښے شیعه ګان ډیر وو او غلطے غلطے عقیدے ئے لرلے۔ دا وجه ده چه امام ابو حنیفهؒ به ډیر احادیث هم د هر چا نه نه نقل کول دپاره د احتیاط، هسے نه چه د شیعه نه حدیث نقل نه کړی۔ او دا خبره د امام مالكؒ نه هم نقل ده۔

بیا مسح علی الخفین اتفاقی مسئله ده په مابین د أمت مسلمه کښے چه دا جائز ده او دا رخصت دے د شریعت محمدیه ﷺ۔

صرف شیعه ګان او روافض مسح علی الخفین نه منی۔ ځکه آیت کښے غسل الرجلین ذکر ده۔ لیکن ددے نه جواب دادے چه غسل الرجلین په هغه وخت کښے دے کله چه موزے نه وی او چه موزے اچولی وی نو بیا غسل (وینځل) نشته بلکه مسح جائز ده۔ اودا مسح په موزو باندے په سفر او حضر، ضرورت او غیر ضرورت تولو کښے جائز ده۔ او دا په متواتر احادیثو سره ثابت ده۔ او دا اجماعی مسئله ده لکه امام نوویؒ فرمائی :

(مذهبنا ومذهب العلماء كافة جواز المسح على الخفين فى الحضر والسفر وقالت الشيعة والخوارج لايجوز- وقد نقل ابن المنذر فى كتاب الاجماع الاجماع على جواز المسح على الخف ويدل عليه الاحاديث المستفيضة فى مسح النبى ﷺ فى الحضر والسفر وامره بذلك وترخيصه فيه واتفاق الصحابة فمن بعدهم عليه. انتهى. المجموع (١/٤٧٦).

وكذا قاله الشوكاني في النيل (۱/۲۲۲)۔

حسن بصريؒ فرمائي : ماته اويا (۷۰) صحابوؓ دا حديث بيان کړيدے چه رسول الله ﷺ په موزو مسح کړيده۔ أخرجه ابن أبي شيبه وكذا في شرح مسلم (۱/۱۳۲) او ابو القاسم بن منده په تذکره کښې د مسح على الخفين راويان أتيا (۸۰) صحابهؓ ذکر کړيدي، او دغه شان بو جماعت په کښې ترمذي او سنن کبرى (۱/۲۶۹) راوړيدي۔ انظر المجموع (۱/۴۷۷)

تعريف الخف : خف (موزه) څه ته وائي ؟ نو صحابهؓ او تابعينو او سلفوؒ زمانه کښې خف هر هغه شئ ته وئيل کيدلو چه خپې ته اچولے شي او د خپې نه راتاؤ وي، برابره خبره ده که اوبه جذب کوي که نه ، او دا به د څپلو، چپړو په ځائے استعماليدله، مزل به په کښې کيدلو، برابره ده چه که تړلے نه وي اوکه د څرمنے نه اوکه د وړئ نه وي۔ او دا مذهب د ابن حزمؒ هم دے (کما في المحلى : ۱/۳۳۴)۔

فائده جليله : په مسح على الخفين کښې **شرطونه دوه قسمه دي** (۱) شرعي شرطونه (۲) اجتهادي شرطونه۔

شرعي شرطونه څلور دي (۱) يو دا چه خپې به پاکې وي، لکه را روان متفق عليه حديث کښې دي (فاني أدخلتهما طاهرتين) يعنې داوداسه نه پس به موزې اغوندي (۲) دويم شرط دا چه : موقت به وي په وقت پورې۔ يعنې په موده د مسح کښې به مسح کوي، چه هغه يو ورځ او شپه ده د مقيم دپاره، او درے ورځې او درے شپې د مسافر دپاره۔ لکه دا به حديث د شريح بن هانيؓ کښې را روان دے۔

۳ – دريم دا چه : موزه به پاکه وي که ګنده وي نو مسح به پرے نه کوي، کما في حديث خلع النعال۔ (۴) مسح به د جنابت په حالت کښې نه کيږي۔ بلکه په وړه بے اودسئ کښې به کيږي ۔ او د جنابت په واجبيدو سره به موزه اوباسي او د خپې وينځل به واجب وي۔ لکه دا په حديث د صفوان بن عسالؓ کښې راغلي دي : (كان رسول الله ﷺ يأمرنا اذا كنا سفرا أن لا ننزع خفافنا ثلاثة أيام ولياليهن الا من جنابة) أخرجه الترمذي وسيأتي في الكتاب۔

او **اجتهادي شرطونه** هغه دي چه په کتاب او سنت کښې نه وي ذکر شوي، بلکه

بعضے فقهاؤ د اجتهاد په طور سره وضع کړے وی۔ نو ددے اجتهادی شرطونو لحاظ ساتل واجب نه دی ، بلکه ددے پریښودل لازم دی۔ ځکه په دے کښے په انسانانو باندے تنګی او سختی راځی کوم چه منافی ده د سماحت د شریعت او د جواز د مسح علی الخف سره۔ (وکل شرط لیس فی کتاب الله فهو باطل) الحدیث۔

او هغه **اجتهادی شرطونه** صاحب د نور الایضاح اووه (۷) ذکر کړیدی۔

(۱) اول : د خپو وینځلو نه پس به ئے اغوندی اګرکه د مکمل اودس کولو نه مخکښے ئے واغوندی (۲) سترهما للکعبین : یعنے ساتر به وی محل د فرضو لره چه کعبینو پورے به وی، که ددے نه لاندے وی او پړکی پټ نه کړی نو مسح به پرے جائز نه وی (۳) امکان متابعة المشی فیهما : یعنے پرله پسے مزل به په کښے ممکن وی، نو دشیشے او لرګی او اوسپنے موزه باندے مسح جائز نه ده (٤) استمساکهما علی الرجلین من غیر شد : یعنے بغیر د تړلو نه به په خپه باندے ټینګیږی (۵) منعهما وصول الماء الی الجسد : یعنے اوبه به نه جذب کوی چه لاندے خپے ته اوبه اونه رسی (٦) ان لا یخرق کل منهما قدر اصابع : یعنے د درے ګوتو په مقدار به په هره موزه کښے شلیدل نه وی (۷) ان یبقی من مقدم القدم قدر ثلاث اصابع من اصغر اصابع الید : یعنے د خپے مخکښے حصه به د لاس د درے وړو ګوتو په مقدار باقی وی، نو که د یو انسان مخکنۍ حصه د خپے پرے کړے شوی وی او صرف قدم پاتے وی، او موزه ئے پرے اغوستے وی، نو په دغه موزه مسح جائز نه ده، ځکه محل د مسح نشته، نو بله موزه به هم اوباسی او دواړه خپے به اووینځی۔

(مراقی الفلاح ص : ۳۱)۔

په دے شرطونو کښے سختی ده او نبی ﷺ دا شرطونه نه دی بیان کړی ۔ سره ددے نه چه په صحابه کرامو کښے به ډیر خلق فقیران وو چه دهغوئ موزے به شلیدلے هم وے، او نرئ به هم وے، که چرے دغه مذکوره شرطونه ضروری وے نو نبی ﷺ به ضرور ددے خبر ورکړے وے۔ او دارنګه د موزو اچولو نه مقصد د خپے پټول نه دی بلکه مقصد خپه ګرمول دی، نو که د درے ګوتو نه زیات شلیدلے وی یا نرئ وی نو په دے تولو باندے مسح کول جائز دی۔ او دا مسح په موزه باندے ځکه جائز شویده چه ددے ویستل ګران دی، نو

ترڅو پورې چه ورته موزه وئيلے کيږي نو مسح پرے جائز ده۔ اوکه مونږ دا شرطونه لازم کړو نو بيا په موزه باندے چه د کوم غرض او مقصد دپاره مسح کيږي هغه فوت کيږي چه هغه آساني ده۔ ددے مسئلے ښه تحقيق په المحلى (٣٣٤/١) کښے او فتاوى الدين الخالص (٣٥٦/٢) کښے اوګوره۔

الفصل الأول - اول فصل

١ - وَعَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ قَالَ : سَأَلْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رضي الله عنه عَنِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ، فَقَالَ جَعَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ثَلٰثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ لِلْمُسَافِرِ، وَيَوْمًا وَلَيْلَةً لِلْمُقِيْمِ). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : شريح بن هانئ فرمائي : ما د علي بن ابي طالب نه په موزو باندے د مسح باره کښے تپوس اوکړو : نو هغه اوفرمائيل : رسول الله ﷺ د مسافر دپاره درے ورځے او درے شپے، اود مقيم دپاره يوه ورځ او شپه مقرر کړيده۔ (مسلم)۔

تعارف : د شريح بن هانئ رحمه الله :

دا مخضرم تابعي دے، د نبي ﷺ په زمانه کښے وو، دده پلار رسول الله ﷺ په ابو شريح سره مکني کړے وو۔ او د علي رضي الله عنه ملګرے وو۔

فائده : اول حديث ئے د علي رضي الله عنه راوړو دپاره د رد په شيعه ګانو باندے چه دوئ د خپل مشر نه مخالف او منکر دي ۔

تشريح : وَيَوْمًا وَلَيْلَةً لِلْمُقِيْمِ : په دے مقام کښے دوه مسئلے دي (١) يو **تحديد او توقيت** په مسح کښے شته که نه ؟

١ -نو د امام شافعي، امام ابو حنيفة، امام احمد، امام اسحق بن راهويه اوصاحبينو ، امام ثوري او اهل ظاهر په نيز توقيت په مسح کښے شته دے چه د مسافر دپاره درے ورځے او شپے دي او د مقيم دپاره يوه ورځ او يوه شپه ده۔ د جمهورو دپاره دا حديث او ددے پشان ګڼړ احاديث دليل دے، لکه حديث د صفوان بن عسال او ابو بکرة او دا توقيت د

عـمـر، ابـن مسـعـود، عـلـي، ابن عباس، حذيفه او مغيره بن شعبه رضى الله عنهم نه ثابت دي. د سلو نه زياتو صحابوؓ نه توقيت والا احاديث نقل دي.

۲ – د امام مالكؒ مشهـور قول او حسن بصريؒ قول دادے چه په مسح د موزو كښې د مسافر او مقيم دپاره هيڅ **توقيت نشته** بلكه ځومره موده ئې چه خوښه شي مسح دې كوي اګركه لس ورځو پورے وي. او دا مذهب د ليث بن سعد هم دے.

او دوئ تـه اشكـال د حـديث د خزيـمـه بـن ثـابتؓ او أبى بن عمارةؓ نه راغلے دے چه په حديث د خزيمهؓ كښې داسې الفاظ دي : (الـمسح على الخفين للمسافر ثلاثة أيام ولياليهن ولـلـمـقـيـم يـوم وليـلـة، ولو استزدناه لزادنا) رواه أبوداود . او د أبى ابن عماره د حديث الفاظ دادي (قـال : يا رسول الله ! أمسح على الخفين ؟ قال : نعم. قال : يوما ؟ قال : ويومين ؟ قال : وثلاثة ؟ قال : نعم وما شئت).

نـو پـه دے روايـاتـو كښے د درے ورځـو نـه د زيـاتـو ورځو مسح كولو اختيار راغلے دے، معلوميږي چه توقيت نشته.

ليـكـن ددے نه جواب دادے چه دا (لو استزدناه لزادنا) د صحابيؓ ګماني خبره ده، چه كه مـا د درے ورځـو نـه زيات اجازت طلب كړے وے نو نبي ﷺ به اجازه راكړے وے، ليكن په واقـع كښې نه هغه تپوس كړے دے او نه نبي كريم ﷺ د زيادت اجازت وركړيدے. (والظن لا يغنى من الحق شيئا) او بل طرفته په متواتر احاديثو كښې د مسح توقيت راغلے دے نو په هغے به عمل كيدے شي او ددے ګماني خبرے په وجه به يقيني احاديث نشي پريخودلے.

او **جواب** د حـديـث د أبـى بـن عـمـارةؓ نـه دادے چـه دا حديث ضعيف السند دے، امام أبـوداودؒ خپـلـه فرمائي : وقـد اختـلـف فـى اسناده وليس هو بالقوى . يـعـنـى داحديث قوى الاسناد نه دے بلكه ضعيف دے. قال النوويؒ وهو حديث ضعيف باتفاق اهل الحديث شرح مسلم (۱/۱۳۵) فيه قطن لين وابى بن عمارة فى حديثه اضطراب . وضعفه الالبانى.

۲ – اوكـه صـحـيح شي نو بيا ددے **مطلب** دادے چه ستا ځومره خوښه وي نو درے درے ورځے او شپے مسح كوه، اوصرف د يو وقت پورے مه خاص كوه. په هره زمانه كښې ئے كـولے شے، او چـه درے ورځے او شپے تيرے شي نو بيا درے ورځے او شپے نورے موزے

اچوه، الى آخر الأبد. او دا مطلب نه دے چه توقيت نشته، ځکه بيا نبي ﷺ په اول د همدغه حديث کښې درے ورځے او درے شپے د مسافر دپاره ولے ذکر کولے ـ او دا مطلب متعين دے، او په دے سره جمع بين الأحاديث راځي۔

٣ - بعضے لا داسے وائی : چه په ابتداء کښې توقيت المسح نه وو، ليکن کله چه صحابو ؓ تپوسونه ډير کړل نو په ځان ئے سختي اوکړه، الله هم ورسره سختي اوکړه چه توقيت ئے پرے مقرر کړو، لکه د بني اسرائيلو پشان چه غوا کښې ئے تشدد اوکړو نو الله هم ورسره د سختئ معامله اوکړله۔

٣- دلته يو دريم مسلك هم شته او هغه دا چه په عام حالاتو کښې بغير د سفر او ضرورت نه مسح کښې توقيت شته البته که يو انسان مسافر وي او موزے ئے اچولي وي او د هغے په ويستلو کښې تکليف محسوسوي يا که هغه اوباسي او اودس کوي نو د ملګرو (قافله) په حصارولو کښې تکليف جوړيږي نو بيا بغير د توقيت نه مسح کول به هم جائز وي دليل پدے باندے صحيح حديث د عمرفاروق رضی الله عنه دے چه عقبه بن عامر ؓ د دمشق نه را روان شو مدينے ته راتلو او د يوے جمعے نه ئے تر بلے جمعے پورے په موزو مسح کړے وه او مينځ کښے ئے ويستلے نه وے۔نو عمر رضی الله عنه ورته اوفرمائيل : اصبت السنة كما فى السلسلة الصحيحة (٦/ ٢٣٩) رقم (٢٦٢٢).

او دا مسلك د شيخ الاسلام ابن تيميه او شيخ البانیؒ دے۔

شيخ الاسلام وائي : چه په احاديث د توقيت المسح کښې امر د مسح يوه ورځ او يوه شپه او درے ورځے درے شپے راغلے دے خو په هغے کښې نهي د زيادت نشته مگر هغه صرف د مفهوم مخالف نه معلوميږي او مفهوم کښې عموم نه وي نو که د وقت تيريدو نه پس ئے اوباسي نو هم پدے احاديثو عمل راځي او پدے (ضرورت) باندے به حديث د عقبه بن عامر ؓ حمل کيږي کله چه هغه د دمشق نه مدينے طرفته راووتو او خلقو ته ئے د دمشق د فتحے بشارت ورکولو او يوه هفته ئے په موزو باندے مسح کړے وه، نو عمر ؓ ورته اوفرمائيل : اصبت السنة (تا په سنت طريقه عمل کړيدے) وهو حديث صحيح. انتهى - مجموعة الفتاوى (٢١/١٧٧).

او شيخ الاسلام دا هم فرمائي چه ما باندې هم داسې حالت راغلې وو چه زه په يو سفر كښې ووم نو ملګرې حصارولو كښې ډير تكليف جوړيدلو نو ما ته دا حديث راياد شو او عمل مې پرې اوكړو. شيخ البانى فرمائي : وهذا من نوادر فقهه رحمه الله.

دويمه مسئله : د مسح موده به د كوم وخت نه شروع كيږي ؟

١ - **اول قول** : دادې چه من وقت اللبس (يعنى د اغوستلو د وخت) نه شروع كيږي.

٢ - محدثين فرمائي : من وقت المسح (د مسح كولو د وخت) نه شروع كيږي.

٣ - احناف او شوافع وائي : د حدث او بې أودسئ نه پس شروع كيږي (من وقت الحدث بعد اللبس). يعنى كله چه موزې واچولې شي، او ددې نه پس انسان اودس مات كړي نو ددغه وخت نه به موده شروع كيږي.

شرح مسلم (١/١٣٥) وشرح وقايه (١/١١٤).

دويم **قول راجح** دې ځكه چه احاديثو كښې لفظ د مسح راځي لكه (جعل رسول الله ﷺ ثلاثة أيام – أى المسح).

---

٢ – وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رضي الله عنه أَنَّهُ غَزَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ غَزْوَةَ تَبُوكَ. قَالَ الْمُغِيرَةُ : فَتَبَرَّزَ رَسُولُ اللهِ ﷺ قِبَلَ الْغَائِطِ فَحَمَلْتُ مَعَهُ إِدَاوَةً قَبْلَ الْفَجْرِ، فَلَمَّا رَجَعَ أَخَذْتُ أُهْرِيقُ عَلٰى يَدَيْهِ مِنَ الْإِدَاوَةِ فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَوَجْهَهُ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ مِنْ صُوفٍ ذَهَبَ يَحْسِرُ عَنْ ذِرَاعَيْهِ فَضَاقَ كُمُّ الْجُبَّةِ، فَأَخْرَجَ يَدَيْهِ مِنْ تَحْتِ الْجُبَّةِ وَأَلْقَى الْجُبَّةَ عَلٰى مَنْكِبَيْهِ، وَغَسَلَ ذِرَاعَيْهِ، ثُمَّ مَسَحَ بِنَاصِيَتِهِ وَعَلَى الْعِمَامَةِ ثُمَّ أَهْوَيْتُ لِأَنْزِعَ خُفَّيْهِ، فَقَالَ : دَعْهُمَا فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ، فَمَسَحَ عَلَيْهِمَا ثُمَّ رَكِبَ وَرَكِبْتُ فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَوْمِ. وَقَدْ قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ وَيُصَلِّي بِهِمْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ وَقَدْ رَكَعَ بِهِمْ رَكْعَةً، فَلَمَّا أَحَسَّ بِالنَّبِيِّ ﷺ ذَهَبَ يَتَأَخَّرُ، فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ فَأَدْرَكَ النَّبِيُّ ﷺ إِحْدَى الرَّكْعَتَيْنِ مَعَهُ. فَلَمَّا سَلَّمَ قَامَ النَّبِيُّ ﷺ وَقُمْتُ مَعَهُ

فَرَكَعْنَا الرَّكْعَةَ الَّتِي سَبَقَتْنَا). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : مغيره بن شعبةؓ نه روايت دے چه دے د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کښې غزوه تبوك کښې شريك شوے وو. مغيرهؓ فرمائي : (يو ځل) رسول الله ﷺ د سَحَر مونځ نه مخکښې قضائے حاجت دپاره بهر لاړ، نو ما ورسره د اوبو يو لوښے واخستلو. څه وخت چه واپس راغے نو ما د اوبو لوښي نه د هغه دواړو لاسونو ته اوبه اچول شروع کړل، نو هغوئ خپل دواړه لاسونه او مخ اووينځلو، او په هغوئ باندے د وړئ يوه چوغه وه، هغوئ اراده اوکړه چه خپلے دواړه څنګلے راښکاره کړي خو د چوغے نستونړي تنګ وو، نو خپل دواړه لاسونه ئے د چوغے نه لاندے را اوويستل او چوغه ئے په اوګو واچوله، او څنګلے ئے اووينځلے، بيا ئے د سر په ابتدائي حصه او پګړئ باندے مسح اوکړه، بيا ما اراده اوکړه چه دواړه موزے ترے اوباسم، خو هغوئ اوفرمائيل : دا پريده ځکه چه دا ما پاکے ورننه ايستي دي، نو په هغے باندے ئے مسح اوکړله، بيا نبي ﷺ او زه سواره شو او خلقو ته راغلو. خلق د جماعت مونځ ته ولاړ وو، چه عبد الرحمن بن عوفؓ ورته جماعت کولو. يو رکعت ئے ورته کړے وو، کله چه عبد الرحمن د نبي ﷺ په راتګ باندے پوهه شو، نو د روستو کيدلو اراده ئے اوکړه، خو رسول الله ﷺ ورته اشاره اوکړه (چه مه راروستو کيږه) نو رسول الله ﷺ هغه پسے يو رکعت را لاندے کړو، کله چه هغه سلام اوګرځولو نو د الله پيغمبر ﷺ اودريده او زه هم هغه سره اودريدم، نو مونږ هغه رکعت اوکړو کوم چه مونږ نه تلے وو. (مسلم).

تشريح : **فوائد الحديث** : ١ - رسول الله ﷺ د فجر نه مخکښې قضاء حاجت دپاره لاړو ددے نه ثابته شوه چه عبادت مثلا مونځ وغيره د وخت شروع کيدو نه مخکښې د هغه عبادت دپاره تياري کول مستحب دي.

٢ - فَحَمَلْتُ مَعَهُ إِدَاوَةً : دا استعانت او امداد طلب کول دي په اوداسه کښې او دا استعانت في الوضوء په درے قسمه دے (کما ذکره النووي في شرح مسلم : ١/١٣٤) :

١ - يو دا چه اوبه وغيره په بل چا باندے را اوغواړي . دا جائز دي مطلقا هيڅ نقصان په کښې نشته. ٢ - دويم دا چه : بل شخص در اچوي او ته اندامونه وينځې، دا هم جائز

دی، خو د افضلیت خلاف دے خو د أمت دپاره، نه د نبی ﷺ دپاره، ځکه هغه دپاره مفضول شے افضل وی۔ ځکه هغه معلم او بیانونکے د امت دے۔ او د افضلیت خلاف ځکه دے چه د نبی ﷺ د ثوبانؓ او ابو ذرؓ نه دا لوظ اخستے وو چه دچا نه به هیڅ شے نه غواړی، دا د کامل متقیانو بندګانو عادت او خوئے نه دے۔ اوکه عذر او ضرورت وی نو دا تهولو طریقے جائز دی۔ ۳ – دریم دا چه : بل څوك ستا په اندامونو لاس وهي او هغه درله وینځی۔ عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی : دا هیڅ اودس نه دے۔

(فتاوی الدین الخالص : ١/٤٧٠) وشرح مسلم (١/١٣٤)۔

وجه داده چه قرآن کریم کښے أمر شویدے په غسل او وینځلو د مخ خپل سره (فاغسلوا وجوهکم) اوکه بل څوك ستا په اندامونو لاس وهی او وینځی ئے نو ددے امر تعمیل اونه شو۔

۳ – جُبَّةٌ : جبه کوټ اوچوغے ته وائی، ددے اچول اغوستل جائز دی، دارنګه د وړئ جامه اغوستل هم جواز لری۔ بیا سنت طریقه داده چه نستونړی دے تنګ وی۔

٤ – کله چه رسول الله ﷺ د قضاء حاجت او اودس نه فارغ شو، راغلو نو عبد الرحمن بن عوفؓ خلقو ته مونځ کولو، کله چه هغه د أدب په تقاضا روستو کیدو اراده اوکړه، دیے دپاره چه رسول الله ﷺ امامت اوکړی نو نبی ﷺ هغه منع کړو او پخپله ئے آخری رکعت د هغه په اقتداء کښے اوکړو۔ دیے نه معلومه شوه چه یو أفضل شخص په مانځه کښے د خپل ځان نه کم درجه شخص پسے اقتداء اوکړی نو دا جائز ده، دارنګه دا هم ثابت شوه چه د امام دپاره معصوم (بے ګناه) کیدل شرط نه دی، په دے سره په امامیه (شیعه) فرقے باندے رد اوشو چه دوئ وائی : د امام معصوم کیدل شرط دے۔ او په دے کښے فضیلت او منقبت د عبد الرحمن بن عوفؓ هم معلوم شو چه نبی کریم ﷺ ده پسے اقتداء کړیده او دده مقتدی جوړ شویدے۔

ثُمَّ مَسَحَ بِنَاصِيَتِهٖ وَعَلَى الْعِمَامَةِ : دیے نه معلومه شوه چه نبی کریم ﷺ نه په سر او پټکی باندے مسح کول ثابت دی او دا منسوخ نه دی۔

دَعْهُمَا فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ : ١ – د امام مالكؒ او شافعیؒ، احمدؒ او اسحقؒ په

نیز (کما فی شرح مسلم ١٣٤/١) مسح علی الخفین دپاره د اغوستلو په وخت کښې طهارت کامله شرط دے، یعنے اول به پوره اودس اوکړی بیا به موزے اچوی۔

١ - **دلیل** : یو دا حدیث دلیل دے چه نبی ﷺ په پاکئ سره اچولی دی۔

٢ - **دویم دلیل** : مسند حمیدی کښې د مغیره بن شعبهؓ په روایت کښې دی (أیمسح أحدنا علی الخفین ؟ قال : نعم، اذا أدخلهما وهما طاهرتان) وکذا فی مسند أحمد۔

دا حدیث واضح دلیل دے چه طهارت کامله په وقت د اغوستلو د موزو او جورابو کښې شرط دے او ترتیب په اوداسه کښې ضروری دے۔

٣ - او په دے باندے بل دلیل دارقطنی (١٩٤/١) الحاکم (١٨١/١) (چه فصل ثانی کښې راروان دے) کښې د ابو بکرهؓ روایت دے (أن النبی ﷺ رخص للمسافر وفیه : اذا تطهر ولبس خفیه أن یمسح علیهما) وسنده صحیح - نو دلته تطهر (اودس) مخکښې ذکر شوے دے چه اول به طهارت حاصل کړی یعنی اودس به پوره کړی روستو به موزے او جورابے واچوی او په دے کښې تاویل هم نشی کیدے۔ ځکه چه تطهر مطلق ذکر دے مراد تر دے نه کامل طهارت دے۔

٢ - احناف وائی : ترتیب په اوداسه کښې واجب نه دے بلکه د اودس کولو نه مخکښې که خپے اووینځی او موزے واچوی نو مسح کول پرے جائز دی۔ نو د دوی په نیز د طهارت ناقصه نه پس هم مسح کول جائز دی آینده دپاره پرے مسح کولے شی۔

دلیل : د دوئ سره هیڅ دلیل نشته، سیوا د تاویلاتو نه، چه دلته صرف طهارت د خپو ذکر دے، نه پوره اودس، نو ترتیب واجب نه دے۔

لیکن **جواب** دادے چه د ترتیب وجوب د نورو دلائلو نه هم معلوم دے، او ددے دلیل نه هم په ډیر واضح انداز سره۔ هغه دا چه نبی ﷺ خو صرف داسے نه دی کړی چه اول ئے خپے وینځلی وی او بیائے روستو اودس پوره کړے وی، داد کوم ځائے نه دوی ثابتوی ؟ بلکه نبی ﷺ همیشه دپاره په ترتیب سره اودس کړیدے، کما مرّ۔

فَمَسَحَ عَلَيْهِمَا : **کیفیة المسح علی الخفین** :

د **مسح طریقه** داده چه دواړه لاسونه به په یو ځل په دواړو موزو باندے راکاږی د

ګوتو د طرفنه به شروع کوی او پنډو طرفته به ئې بوځي۔ تقديم تاخير به نه راولی، دا ډير اعلیٰ سنت او بهتره طريقه ده۔ او دا ددې حديث د مغيره بن شعبةؓ نه معلومه ده۔ چه دلته (فمسح عليهما) راغلې دې او (بدأ باليمنى) ئې نه دی وئيلی۔ دا دليل دې چه مسح په يو ځل په دواړو لاسونو سره په دواړو موزو باندې شويده، لکه څنګه چه غوړونه مسح کوی۔ او دا ظاهر د سنت دې۔

اګرچه په يو لاس باندې دواړه موزې مسح کول هم جائز دی۔ خو ظاهر د موزو به مسح کوی نه باطن او لاندې طرف۔ لکه علی رضی الله عنه نه امام أبوداودؒ نقل کوی (لو كان الدين بالرأی لكان أسفل الخف اولىٰ بالمسح من أعلاه، لقد رأيت رسول الله ﷺ يمسح على ظاهر خفيه). وسيأتی فی الكتاب۔

اوکوم روايت د ترمذی کښې چه داسې راځي : چه نبی ﷺ په باطن الخف او ظاهر الخف مسح اوکړه، نو هغه ضعيف السند او معلول اومنقطع حديث دې، كما قال الترمذی۔ او أبوداود هم ورته ضعيف وئيلې دې۔ وكذا فی التلخيص (١/١٥٩)۔

بيا دا حديث **دليل** دې چه مسح على الخفين په آيت المائده نه ده منسوخ شوې ځکه غزوه تبوك آخری غزوه ده او د آيه المائده نه روستو ده۔ مسلم (١/١٣٣) کښې راځي : اعمشؒ راوی فرمائی : قال ابراهيم : كان يعجبهم هذا الحديث لان اسلام جرير كان بعد نزول المائدة۔ امام نوویؒ وائی : ددې عبارت مطلب دا دې چه سوره المائده کښې خو امر راغلې دې په وينځلو د خپو باندې په اوداسه کښې نو که اسلام د جريرؓ مقدم وې په نزول د مائده باندې نو بيا به دا احتمال وې چه دده روايت کړه حديث به منسوخ وی په آيت د مائده باندې۔ ليکن هر کله چه د جريرؓ اسلام مؤخر وو نو مونږ ته معلومه شوه چه د جرير حديث معمول به دې او دا بيان دې د آيت چه مراد په آيت کښې هغه سړې دې چه موزه ئې نه وی اغوستلی، نو سنت مخصص شو ددې آيت۔ انتهى۔

فَلَمَّا أَحَسَّ بِالنَّبِيِّ ﷺ : معنى داده : هر کله چه هغه معلومه کړه چه نبی ﷺ راغلو۔

فائده : مانځه کښې په يو کار او خبره باندې پوهيدل د خشوع سره منافی نه دی

بلکه دا دعمیق او ژورو زړونو کمال دے چه په خبره هم پو هیږی او مانځه ته هم متوجه وی، په خلاف د صوفیه ؤ نه چه کله په مانځه اودریږی نو په هیڅ خبره نه پو هیږی۔

ذَهَبَ يَتَأَخَّرُ، فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ : دا حدیث دلیل دے چه د بهر نه مونځ کونکی ته فتح ورکول جائز دی، بیا سوال دادے چه څه وجه ده چه ابو بکر صدیق‌ؓ چه کله امامتی کوله نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل : مه روستو کیږه هغه بیا هم روستو شو، او عبد الرحمن بن عوف‌ؓ روستو نشو، نو ددے وجه داده چه عبد الرحمن‌ؓ عمل کړیدے په دے خبره چه (الأمر فوق الأدب) او ابو بکر صدیق‌ؓ عمل کړیدے په دے قانون چه (الأدب فوق الأمر) نو عبد الرحمن‌ؓ په أمر عمل اوکړو، او ابو بکر‌ؓ په أدب عمل کړیدے ځکه چه د ابو بکر‌ؓ شان لوئی دے د أدب لحاظ زیات ساتی۔

٢ – بله وجه داده چه ابو بکر صدیق‌ؓ په ابتداء د مانځه کښے وو، نو روستو کیدلو ضرر نه رسولو، او عبد الرحمن‌ؓ یو رکعت کړیدے او نبی ﷺ مسبوق شویدے نو که عبد الرحمن‌ؓ روستو شوے وے نو په خلقو به خلل راغلے وے چه نبی ﷺ به یو رکعت خپل پوره کوی او صحابهٔ‌ؓ به ناست وی۔ او دا وجه ډیره مناسبه ښکاری۔

٦ – فَلَمَّا سَلَّمَ قَامَ النَّبِيُّ ﷺ : دے نه معلومه شوه چه د یو شخص نه د امام سره یو رکعت اوشی، نو د هغے د اداء کولو دپاره به په هغه وخت کښے پاځیږی، کله چه امام سلام اوګرځوی۔ لکه چه دا د امام شافعی‌ؒ مذهب هم دے چه مخکښے پاڅیدلو سره مونځ باطلیږی۔ په دے کښے سبقیت عن الامام راځی او دا جائز نه دے۔ د احنافو په نیز د سلام ګرځولو نه مخکښے پاڅیدل مکروه تحریمی دی، البته که په دے صورت کښے خوف وی چه که د امام د سلام انتظار اوکړی نو بیا په ده باندے نمر راخیژی نو مخکښې پاڅیدل جائز دی۔ لیکن دا مسئله د فقه حنفی پے دلیله ده ځکه اګرچه نمر را اوخیژی، نو هم ددے شخص مونځ نه باطلیږی لکه چه ددے تفصیل به په باب المواقیت کښے راشی ان شاء الله تعالی۔

٧ – دے حدیث نه معلومه شوه چه که د جماعت دپاره په مستحب وخت کښے امام موجود نه وی او هغه ته په **انتظار** کولو کښے مستحب وخت فوت کیږی نو د امام د

اجازې نه بغير جماعت اودرول جائز دي. دلته عبد الرحمن بن عوفؓ د مستحب وخت په خاطر د نبي ﷺ د راتلو نه مخکښې جماعت اودرولې دې، دا هله چه د امام د راتګ پته نه وي چه کله راځي. اوکله چه يو امام په خاص ځائې کښې وي، نو بيا دغه خبرول مستحب دي په وخت د مانځه کښې لکه بلال به نبي ﷺ پسې ورتلو پس د اذان کولو نه چه يا رسول الله ! د مونځ وخت پوره شويدې.

فَرَكَعْنَا الرَّكْعَةَ الَّتِيْ سَبَقَتْنَا : **فائده** : دلته دوئ ستره نه ده اودرولې ځکه چه دوئ مسبوق وو او: هر مونځ کونکي باندې ستره لازم ده خو آيا **مسبوق** به ئې اودروي اوکه نه ؟...... نو بعض معاصرين علماء وائي چه امام سلام اوګرځوي نو مسبوق به ځان ته ستره اودروي، يا به ځان سترې ته رسوي، يا د بل مونځ کونکي شا ته به اودريږي. دوئ په عموماتو باندې استدلال کوي.

حديث کښې دي (لا تصل الا الى سترة) نو ستره په هر مونځ کونکي ضروري ده، اګرکه مسبوق وي.

٢ - ائمه أربعه فرمائي : مسبوق له د سترې حکم نشته، بلکه دا به د امام تابع وي او په وسط الصلاة کښې ستره اودرول نشته، دا مکلف نه دې په دې تکلف باندې چه ځان به ستنې ته رسوي. يو دا حديث دليل دې چه نبي کريم ﷺ په صحراء کښې ولاړ دې په اول صف کښې دې اومخې ته ئې ستره نشته وهو الظاهر.

صرف ابن عمرؓ فرمائي : اودا د امام مالك مذهب هم دې چه که د مسجد ستنه نزدې وه نو يو قدم دوه قدمه وړاندې کيدل پکار دي. کذا فی شرح الزرقانی على مختصر الخليل (١/٢٠٨) والدين الخالص (٣/٥٥٨).

دويمه مسئله : د امام سره چه کوم مونځ لاندې شو آيا دا اولنې مونځ دې اوکه آخرنې مونځ دې ؟ مقتدي له څنګه باقي مونځ پوره کول پکار دي ؟

١ - نو احنافو مذهب دادې چه دا **آخري** مونځ دې، نو چه امام سلام اوګرځوي نو دا مقتدي به سبحان هم وائي، نو که يو رکعت ترې شوې وو، نو اولني دوه رکعته به ډك (قرأت سره) کوي او آخري به تش (بغير قرأت نه) کوي.

٢ - او د جمهورو په نيز دا **اول** سر دمانځه دے اوکله چه تا دامام سره کوم رکعت لاندے کړو نو هغه ستا اول د مانځه شو، نو چه امام سلام واړوی نو ته به سبحانك اللهم نه وائے بلکه الحمد نه به شروع اوکړے، او تش رکعت ستا دپاره ډك ګرځی۔

او په دے اختلاف باندے دا خبره مرتب ده چه بعض اوقاتو کښے به قعده کوی اوکله به ئے نه کوئ۔ مثلا ما ښام مانځه کښے دے يو رکعت لاندے کړو نو د احنافو په نيز په دے يو رکعت کښے به سبحان نه وائی، اوچه امام په آخيره قعده کيناستلو نو دا ستا اوله قعده شوه بيا به د دوه رکعاتو مينځ کښے نه کينے، بلکه په آخيره کښے به قعده اوکړے او سلام به اوګرځوے۔ نو يوه قعده دے خپله شوه او يوه د امام سره شوه۔

او دجمهورو په نيز د غه آخری قعدے نه پس به دوه رکعتو کښے کينے نو ستا به درے قعدے شی په ټول مانځه کښے۔

دا حديث په ظاهر کښے د احنافو دليل ښکاری، ليکن ددے نه د انه معلوميږی چه دوئ دا اول مونځ حساب کړيدے اوکه آخير مونځ۔ بلکه صرف دا خبره ده چه مونږ نه کوم رکعت شوے وو هغه مونږ ادا کړو۔ دلائل به روستو راځی۔ په (ما ادركتم فصلوا وما فاتكم فاتموا) حديث په باب الاذان کښ ان شاء الله راروان دی۔ خو دلته صرف د مسئلے خاکه ذهن کښے واچوه۔

الفصل الثاني - دويم فصل

---

٣ - عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ (أَنَّهُ رَخَّصَ لِلْمُسَافِرِ ثَلٰثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهِنَّ وَلِلْمُقِيمِ يَوْمًا وَلَيْلَةً إِذَا تَطَهَّرَ فَلَبِسَ خُفَّيْهِ أَنْ يَمْسَحَ عَلَيْهِمَا) رَوَاهُ الْأَثْرَمُ فِي سُنَنِهِ وَابْنُ خُزَيْمَةَ وَالدَّارَقُطْنِيُّ. وَقَالَ الْخَطَّابِيُّ : هُوَ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ هٰكَذَا فِي الْمُنْتَقٰى.

ترجمه : ابو بکرة رضي الله عنه نه روايت دے چه نبی ﷺ د مسافر دپاره درے ورځے او شپے او د مقيم دپاره يو ورځ او شپه په موزو باندے د مسح کولو اجازت ورکړيدے، کله چه دوئ

موزے د اودس کولو نه پس اچولے وی (اثرم، ابن خزیمه، دارقطنی) او خطابیؒ وائی : دا حدیث د اسناد له مخه صحیح دے او په منتقی کښے هم (چه د ابن تیمیهؒ کتاب دے) دغسے دی۔

تشریح : رَخَّصَ لِلْمُسَافِرِ : ١ - **فائده** : رخصت عام دے کله به ضروری وی، اوکله به ضروری نه وی، په سفر کښے قصر کول په مانځه کښ ضروری دی او موزو باندے مسح کول ضروری نه دی۔

مسئله : په موزو باندے **مسح** کول أفضل دی اوکه خپے **وینځل** أفضل دی ؟

په دے کښے درے أقوال دی :

١ - **اول قول** : دادے چه مسح أفضل ده ځکه نبی ﷺ اکثر اوقاتو کښے مسح کړیده، او داد الله تعالیٰ رخصت دے، قبلول ئے پکار دی، او روستو حدیث کښے امر راغلے دے۔ وهو مذهب الشعبیؒ والحکمؒ وحمادؒ۔

٢ - **قول ثانی** : دادے چه وینځل افضل دی ځکه دا عزیمت دے، والعمل بالعزیمة اولی من الرخصة۔ دا قول د شوافعو دے، او دا حدیث ئے دلیل دے۔ وذهب الیه عمر بن الخطابؓ وابن عمرؓ وابو ایوب الانصاری رضی الله عنهم. نوویؒ (١٣٣/١)۔

٣ - **قول ثالث** : دادے چه موقع او محل ته کتل پکار دی۔ که په شیعه ګانو باطل پرستو دارنګه مسح نه منونکو باندے رد کول غرض وی یا تعلیم غرض وی نو مسح أفضل ده، اوکه داسے نه وی نو د خپو وینځل افضل دی۔

اِذَا تَطَهَّرَ فَلَبِسَ خُفَّيْهِ أَنْ يَمْسَحَ عَلَيْهِمَا : دا حدیث دلیل دے چه موزے به د پوره اودس کولو نه پس اچوی، او طهارت کامله مخکښے ضروری شرط دے۔ نبی ﷺ شرط کړیدے۔ اود احنافو مذهب ضعیف دے، چه اشتراط باندے قائل نه دی۔ عجیبه خبره داده چه کومے شے رسول الله ﷺ نه وی شرط کړے - لکه مذکوره اجتهادی شرطونه - نو هغه دوئ شرط کړی دی اوکوم شے چه رسول الله ﷺ خپله قولًا او عملًا شرط کړیدے نو هغه دوئ شرط نه ګنړی !۔

هٰكَذَا فِي الْمُنْتَقٰى : دا د نیل الأوطار د شوکانی د شرح متن دے چه د شیخ الاسلام

بن تيميةؒ نيكه ليكلے دے د هغه نوم دے (مجد الدين ابو البركات عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم المعروف بابن تيمية) اودا كتاب المنتقى د هغه په سند نه دے نقل بلكه د بخاري، مسلم، ترمذي وغيره محدثينو د كتابونو نه ئے نقل كړے دے لكه د مشكاة پشان۔

درجة الحديث : اخرجه ابن ماجة (٥٥٦) الى قوله وللمقيم يوما وليلة والدارقطني في السنن (١/١٩٤) رقم (١١) والحديث صحيح ان شاء الله لانه في ابن خزيمة (١/٩٥) قال ابوحاتم صحيح وهو في موارد الظمآن (١٨٤) ايضا وصححه الحافظ العسقلاني في التلخيص (١/١٥٧)۔

---

٤ - وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَأْمُرُنَا اِذَا كُنَّا سَفْرًا أَنْ لَا نَنْزِعَ خِفَافَنَا ثَلٰثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيْهِنَّ اِلَّا مِنْ جَنَابَةٍ، وَلٰكِنْ مِنْ غَائِطٍ وَبَوْلٍ وَنَوْمٍ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : صفوان بن عسالؓ فرمائي : هركله چه به مونږ په سفر كښې وو نو رسول الله ﷺ به مونږ ته حكم كولو چه درے ورځو او درے شپو پورے د تشو او ډكو متيازو او خوب په وجه موزے اونه باسو، البته د جنابت د غسل په وجه به ئے اوباسو۔ (ترمذي، نسائي)۔

تشريح : غلطه مسئله : په امپانو كښې مشهوره ده چه كله دے موزے واچولے نو د موزے د مسح موده به پوره كوے۔ دا غلطه ده ځكه د شريعت مقصد په مسح د موزو كښې أساني ده او په دے مسئله كښې تكليف دے۔

٢ - مسئله : د موزے په ويستلو اودس ماتيږي اوكه نه ؟

١ - اول قول دادے چه مسح به راګرځوي، يعني خپے به وينځي۔ وهو قول الحنفية۔

٢ - ائمه وائي : كه يو موزه يا دواړه موزے ئے اوويستلے نو دوباره به اودس كوي او بيا به ابتداء د مسح كوي۔

٣ - د حسن بصريؒ امام احمدؒ، طاؤسؒ، ابراهيم نخعيؒ او جمهورو علماؤ قول دادے

چه په ويستلو د موزو سره په انسان باندې اودس او خپې وينځل ضروري نه دي، او اودس مات نه دې. او دا مذهب د امام بخاريؒ او ابن تيميةؒ او ابن حزم ظاهريؒ هم دې. (كما قال شيخ الاسلام ابن تيمية في الاختيارات العلمية ص (١٥) او دا راجح قول دې.

د مخكنو قولينو دپاره دليل نشته، سيوا د دليل عقلي او قياس نه چه هر كله په موزه باندې مسح اوشوه ، او بيا موزه ويستلې شوه نو خپو ته بيرته نجاست حكمي را واپس شو چه د هغې حكم وينځل وو، ليكن موزه د وينځلو نه مانع وو اوس مانع لرې شو نو وينځل د خپو ضروري دي .

د جمهورو **دليل** حديث د على بن أبي طالبؓ دې. أخرجه الطحاوي (١/ ٧٠) والبيهقي (١/ ٢٨٧) باسناد صحيح . چه ده بول اوكړل بيا ئې اودس اوكړو او په نعلينو ئې مسح اوكړه، بيا مسجد ته دا خل شو او هغه ئې ويستلې او مونځ ئې اوكړو، امامتي ئې اوكړه.

نو على بن أبي طالبؓ د صحابهؓ او تابعينوؒ په مخكښې نعلين ويستلي دي او بيائې امامتي اوكړه او هيڅ صحابي او تابعي پرې رد اونه كړو چه بيا اودس اوكړه.

٢ - دويم دليل : صحيح قياس دې، چه يو شخص په سر مسح اوكړي بيا سر اوخروي، نو په ده باندې اودس راګرځول يا دوباره سر مسح كول نشته، عند الجمهور. نو دغه شان د موزې اوپګړئ ويستلو په وجه هم اودس نه ماتيږي. اونه لازميږي.

اوكوم حديث كښې چه د اعاده د غسل القدمين راغلې ده كما في البيهقي (١/ ٢٨٩) وابن أبي شيبه (١/ ١٨٧) نو هغه ضعيف روايت دې يزيد بن عبد الرحمن الدالاني صدوق يخطئ كثيرا مدلس راوي دې. او عنعنه ئې كړيده، او دارنګه منقطع هم دې. نو قابل د استدلال نه دې. او دغه شان بل روايت ئې هم د مغيره بن شعبةؓ نه نقل كړيدې په هغې كښې (مالم يخلع) لفظ دې. ليكن هغه هم ضعيف السند روايت دې، د عمر بن رديح په وجه چه دا ضعيف راوي دې. او دا لفظ د (مالم يخلع) په كښې زيادت منكره دې. هيڅ شاهد نه لري، صرف دې ضعيف راوي ذكر كړيدې.

٢ - اوكه دا صحيح هم شي نو په دې كښې تاويل هم ممكن دې، چه د (مالم يخلع)

معنیٰ داده چه مسح په موزو باندے تر نه ویستلو پورے جائز ده، خو چه کله موزے اوباسی اُو پے اودسه شی نو بیا پرے مسح نه ده جائز ترڅو چه اودس اونه کړی.
ددے مسئلے تفصیل په (المحلی : ۱/۳۳۸) او فتاوی الدین الخالص (۲/۳٦٠) کښے اوګورئ.

بله مسئله : دا موزے بیرته **اچولے شی** که نه؟ په دے کښے دوه قوله دی :

۱ – اول قول داد ے چه نه به ئے اچوی ځکه په دے حدیث الباب کښے دی (ان لا ننزع خفافنا) یعنے اګرکه ستا اودس برحال دے لیکن چه موزے دے اوویستلے نو بیا به ئے نه اچوی.

۲ – دویم قول دادے چه ویستل نویستل دواړه جائز دی، ځکه دده خپے پاکے دی اود (ان لا ننزع) معنیٰ داده چه مونږ له رسول الله ﷺ دومره مقدار اجازت او رخصت راکړیدے یعنے درے ورځے درے شپے د مسافر دپاره اویوه ورځ او یوه شپه د مقیم دپاره. او دامطلب نه دے چه دمودے ختمیدلو نه مخکښے به موزے نه اوباسو، ځکه دا خو بیا حرج جوړیږی، اوموزے د آسانتیا دپاره وی، هرکله چه ویستل جواز لری نو نه ویستل هم جواز لری.

په دے حدیث کښے څلورم شرط د موزے ذکر دے چه په حدث اصغر کښے به په موزه مسح کولے شی او په حدث أکبر کښے مسح کول جائز نه دی.

درجة الحديث : رواه الترمذی والنسائی : ترمذی وائی : دا حدیث حسن دے، امام بخاریؒ نه نقل کوی چه دا اصح حدیث دے، وصححه ابن خزیمه والخطابی. واسناد ابن خزیمة حسن (۱/۹۸) وقال الشیخ الالبانی فی صحیح سنن الترمذی رقم (۹٦۱) سنده حسن وقال الشیخ رمضان اسناده صحیح اخرجه الشافعی فی الام (۱/۳٤-۳٥) واحمد فی المسند (٤/۲۳۹- ۲٤٠) والترمذی (۹٦) وقال حدیث حسن صحیح.

---

٥ – وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رضي الله عنه قَالَ : وَضَّأْتُ النَّبِيَّ ﷺ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ فَمَسَحَ أَعْلَى الْخُفِّ وَأَسْفَلَهُ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه. وَقَالَ

التِّرمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيثٌ مَعلُولٌ. وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا وَأَبَا زُرْعَةَ عَنْ هٰذَا الْحَدِيثِ فَقَالَا : لَيسَ بِصَحِيحٍ. وَكَذَا ضَعَّفَهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه : مغيره بن شعبهؓ فرمائى : ما غزوه تبوك كښې نبى ﷺ ته اوبه اچولې او هغه اودس كولو، نو هغوئ د موزې بره او خكته طرف باندې مسح اوكړه . (ابوداود، ابن ماجه) امام ترمذىؒ فرمائى : دا حديث معلول دې، ما ددې حديث باره كښې ابو زرعهؒ او امام بخارىؒ نه تپوس اوكړو، نو دواړو اووئيل چه دا حديث صحيح نه دې. دغسې امام ابوداودؒ هم دې حديث ته ضعيف وئيلې دې). او وجه ئې دا بيان كړيده چه پدې روايت كښې ثور راوى دا حديث د رجاء بن حيوه نه ندې اوريدلې نو روايت كښې انقطاع راغله. وضعفه احمد وقال نعيم بن حماد اضربوا على هذا الحديث انظر التلخيص الحبير (١٥٩/١) تفصيلا۔

تشريح : فَمَسَحَ أَعْلَى الْخُفِّ وَأَسْفَلَهٗ : ١ - د جمهورو په نيز مسح په بره طرف د موزو باندې ده، او لاندې طرف باندې مسح نشته، ځكه حرج دې اومقصود په مسح كښې آسانى ده. بلكه جمهور وائى : كه صرف په لاندې طرف باندې ئې په مسح كښې اكتفاء اوكړه نو دا ماسح (مسح كونكې) نه دې. او اعاده د مسح ضرورى ده. لكه دا قول د امام مالكؒ او مشهور قول د امام شافعىؒ دې. او احناف وائى : د درې ګوتو په مقدار باندې مسح ضرورى ده په ظاهر د موزه باندې. امام احمدؒ فرمائى : اكثر الخف باندې مسح ضرورى ده. امام زهرىؒ اوشافعىؒ نه يو روايت دې چه صرف اكتفاء په لاندې طرف هم جائز ده. دا حديث هغه چا دپاره دليل دې چه لاندې باندې دواړو طرفونو باندې مسح كول جائز ګنړى، لكه شوافع ليكن دا حديث ضعيف السند دې، لكه مخكښې تير شو، لكه صاحب المشكاة پرې هم جرح نقل كړيده. نو سنت داده چه بره طرف باندې مسح اوكړې شى او د باطن الخف په باره كښې مسح د نبى ﷺ نه په صحيح حديث كښې نه ده ثابت. نو لاندې طرف د موزه باندې مسح كول سنت نشو.

---

٦ - وَعَنْهُ ؓ أَنَّهٗ قَالَ : رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَمْسَحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ عَلٰى

ظَاهِرِهِمَا. رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه : مغيره بن شعبهؓ فرمائي : ما نبي ﷺ اوليدلو چه د موزو په پورته طرف باندې ئې مسح كوله ـ (ترمذي، ابوداود)ـ

تشريح : دا حديث صريح دليل دې چه رسول الله ﷺ نه مسح د موزو په ظاهر باندې ثابت ده۔ نو دا حديث دليل دې په ضعف د مخكنې روايت باندې چه په هغې كښې د موزو په لاندې باندې دواړه طرفونو باندې د مسح ذكر دې۔ او داموږ په تنوع د عبادت باندې نشو حمل كولې ځكه چه مخكښې روايت ضعيف جدًّا او معلول دې، او دا حديث صحيح دې۔

درجة الحديث : رواه الترمذي وقال حديث حسن ورواه ابوداود وقال الحافظ في التلخيص : إسناده صحيح وصححه الالباني في صحيح السنن رقم (١٦١)۔

---

٧ – وَعَنْهُ ﷺ أَنَّهُ قَالَ : تَوَضَّأَ النَّبِيُّ ﷺ وَمَسَحَ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ وَالنَّعْلَيْنِ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُودَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : مغيره بن شعبهؓ فرمائي : نبي ﷺ اودس اوكړو، او په جورابو او څپلو باندې ئې مسح اوكړه۔ (احمد، ابوداود، ترمذي، ابن ماجه)۔

تشريح : تَوَضَّأَ النَّبِيُّ ﷺ وَمَسَحَ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ وَالنَّعْلَيْنِ :

فائده : د نبي ﷺ د نعلينو (څپلو) دپاره دوه تسمې وې چه په يو كښې به ئې غټه گوته وركوله او په بل كښې به ئې باقي گوتې راگيرې وې نو هغه د څپلو او چپړو پشان وې، او دېنړو معنې صحيح نه ده ځكه د نبي ﷺ هغه شان پنړې نه وې كومې چه مروجې دي، بلكه نعلين څپلو او چپړو ته وائي۔ او دلته اصل كښې مسح په جوربين شويده د چپړو دپاسه، او په نعلين باندې جدا مسح نه ده كړې (كما قال الخطابي والطحاوي)۔

OOOOOOO

رفع العينين الى مسئلة المسح على الجوربين

په مسح د **جورابو** کښې اختلاف د علماؤ دے :

۱ – امام ابو حنیفةؒ نه دوه رائے نقل دی، اول دا چه : مسح په جورابو باندے نه ده جائز، مګر کله چه مجلدین یا منعلین وی۔ او دا قول د امام شافعیؒ هم دے۔ دے فرمائی جوربین به ثخینین وی چه په هغے کښے به مزل کول ممکن وی۔ یا څرمنے والا به وی۔ څرمن ئے خاص کړه ددوه وجونه (۱) اوله وجه داده چه دا څرمنے والا وی نو اوبه نه جذب کوی، ولے که اوبه جذب کړی نو بیا جمع په ما بین د مسح او غسل کښے راځی او دا ناجائز ده۔ (لیکن مونږ وایو : په دے باندے څه دلیل دے چه جمع بین الغسل والمسح ناجائز ده، هیڅ دلیل نشته، دارنګه د اخو داسے پوره غسل نه دے چه ټوله خپه لمده شی بلکه لګے اوبه دے اورسیږی هیڅ باك نه لری، شریعت معاف کړیدے (۲) دویمه وجه داده : چه عام احادیث په مسح د خفین (موزو) کښے راغلی دی، او هغه د څرمنے نه جوړے وی، نو که جورابه د خفین مماثله شوه نو مسح به جائز وی لکه چه مجلدین شی نو د موزے سره مشابه شوه۔ اوکه چرے د خفین سره مماثل نشوه نو مسح بیا جائز نه ده، ځکه په دے باب کښے صحیح حدیث نه دے ثابت۔ او د خفین پشان ګنړ احادیث هم په کښے نشته۔ لهذا ددے مسح به مشروط وی په شرط د تجلید یا تنعیل باندے۔

۲ – دویم روایت د امام أبو حنیفةؒ نه اباحت مطلقا دے، چه په جورابو باندے مسح جائز ده او رجوع ئے کړیده قول د صاحبینو ته۔ او رجوع ئے دلالت کوی په عدم اشتراط التجلید والتنعیل باندے۔ لکه هدایه (۱/ ٢٤٤) کښے دی (وعنه انه رجع الى قولهما وعليه الفتوى)۔

سنن ترمذی نسخه د احمد شاکر کښے دی او نسخه د البانی کښں هم رانقل شویدی (۱/ ۳۱) سمعت ابا مقاتل السمرقندی یقول : دخلت علی ابی حنیفة فی مرضه الذی مات فیه فدعا بماء فتوضأ وعليه جوربان فمسح عليهما ثم قال فعلت اليوم شيئا لم اكن افعله، مسحت على الجوربين وهما غير منعلين) (و فی البدائع والصنائع : ۱/ ۲) : فعلت ما کنت منعت عنه۔

ابو مقاتل السمرقندي وائي زه ابو حنيفةؒ ته ورغلم په هغه بيمارئ کښې چه پکښې وفات شو نو د مرګ نه درنې ورځې مخکښې ئې جورابې طلب کړې او مسح ئې پرې اوکړه او وې وئيل : چه نن ما هغه څه باندې عمل اوکړو کوم نه چه مخکښې ما منع کوله.

٢ - صاحبين وائي : مسح على الجوربين جائز ده خو په هغه جورابو باندې چه په غير د تړلو نه خپو نه راتاؤ وي، او ثخينين (مضبوطې) وي. او دا قول د امام مالكؒ او شافعيؒ او اسحقؒ او ابن المباركؒ هم دې لکه امام ترمذيؒ ذکر کړې دی.

ليکن دا **قيد** هيڅ حديث کښې نه دې راغلې، دا قيد اجتهادی دې، او هيڅ دليل پرې نه د حديث نه شته او نه د کوم صحابي د أثر نه او نه د قياسِ صحيح نه. لکه په تجليد قيد باندې چه څه دليل نشته. او کيدې شي چه ددې علماء کرامو په دې قيد کښې مقصد دا وي چه دومره نرئ نه وي چه خپه په کښې ښکاری چه بيا مسح په خپو رانشي کوم چه د شيعه ګانو مذهب دې، نو د مخالفت د شيعه ګانو دپاره ئې دا قيد لګولې دې. ځکه شيعه ګان په خپو مسح کوی خپې نه وينځي.

لکه ددې ترديد علامه محمود مطرحيؒ په تحقيق المجموع شرح المهذب (٥٦٤/١) کښې کړيدې چه دا بې دليله قيد دې.

شيخ ابن الهمامؒ په فتح القدير شرح الهدايه (١٣٩/١) کښې د نعلين د قيد ترديد کوی وائي : فتخصيص الجواز بوجود النعل حينئذ قصر للدليل اعني الحديث والدلالة عن مقتضاه بغير سبب فلذا رجع الامام الى قولهما وعليه الفتوى. يعنې مسح د جورابو سره دا قيد لګول چه منعلين (يا مجلدين وغيره) به وي دا خو حديث د خپلې تقاضا نه بندول دی بغير د څه سبب نه. نو ځکه امام ابو حنيفه د صاحبينو قول ته رجوع اوکړه. او په همدې جواز باندې فتوی ده.

٣ - **دريم قول** : د امام ابن حزمؒ او محدثينوؒ او امام احمدؒ (برواية ابن المنذر) او شيخ الاسلام ابن تيميةؒ دې : هغه دا چه په جورابو باندې مسح مطلقا جائز ده، بلکه هر هغه شې چه عرف او لغت کښې ورته جورب وائي په هغې باندې مسح کيدې شي.

تعريف الجورب : جورب په لغت کښې څه ته وائي ؟ نو علامه عينيؒ او مجد الدين

فیروز آبادیؒ. علامه حلبیؒ، علامه ابو بکر ابن العربیؒ، شیخ الاسلام بن تیمیهؒ او امام ابن حزمؒ ظاهری په نیز د جورابو تعریف **عام** دے، برابره خبره ده که د وړیٔ نه جوړے وی، اوکه د وینښتو، یا د تارونو نه جوړے وی، خو چه د انسان خپه د یخنیٔ یا دګرمیٔ یا د ګرد او غبار نه ساتی دیته جورب وائی. او همدا مقصد په موجوده نیلون وغیره جورابو کښے هم شته نو په دے باندے مسح کول مطلقا جائز دی. او دا تعریف د صحابی أبو مسعود الأنصاری رضی الله عنه د عمل او د انس بن مالك د قول نه معلومیږی، لکه مصنف عبد الرزاق (۱/۹۹) رقم (۷۷٤) او تحفة الأحوذی (۱/۳٤٥) (وسنده صحیح) کښے دی چه ده به په هغه جورابو مسح کوله کوم چه د وینښتو او وړیٔ نه جوړے وے.

الأسماء و الکنی (۱/۱۸۱) للدولابیؒ کښې د انس بن مالك قول او عمل ذکر دے لکه لږ روستو راروان دے چه هغه د وړیٔ جورابو ته موزے وئیلی دی.

اوکوم علماؤ چه د **جورب** دا تعریف کړیدے چه جورب فقط د څرمنے نه جوړیږی، لکه طیبیؒ او شوکانیؒ او عبد الحق دهلویؒ چه کړیدے نو په دے باندے هیڅ دلیل نشته. بلکه عام اهل لغت خصوصا صحابی د افهم کړیدے چه جورب هغه شیٔ ته وائی چه د خپے نه راتاؤ وی، او د خپے حفاظت کوی، د یخنیٔ او ګرمیٔ یا غبار نه ئے ساتی.

۲ – دارنګه مقصد او علت د مسح د جورابو په شریعت کښے آسانی پیدا کول دی په امت باندے، اوکه مونږ دا قیدونه د ثخانت او تجلید او تنعیل اولګوو نو په دے کښے په امت باندے حرج جوړیږی، چه دا د مسح د مقصود نه خلاف دے. دا وجه ده چه علامه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په مجموع الفتاوی (۲۱/۲۱۳) کښے فرمائی : څرمن ضروری ګنړل دا **علت مؤثره** نه دے، او دا په حکم د مسح کښے څه تغیر نه پیدا کوی، ځکه چه فرق بین المجلد وغیر المجلد کښے دادے چه یو ډیر وخته پورے باقی وی او بل زر ختمیږی، او دا فرق په جواز او عدم جواز د مسح کښے مؤثر نه دے.

(کذا فی التحفة : ۱/۱۰٤) . بلکه کوم حکم چه دموزے دے هغه د جورب هم دے په باب د مسح کښے او دا قیدونه شریعت نه دی لګولی نو مونږ ولے په ځان باندے سختی راولو ؟

لیکن که موجوده نیلون وغیره جورابو ته اوکتلے شی نو د اختلاف علماؤ په نیز پدے

باندې مسح جائز کيدل پکار دي ځکه چه د امام ابو حنيفه رجوع صاحبينو ته شوه او صاحبين د ثخانت قيد لګوي او د ثخانت معنى شرح وقايه دا کړيده چه په غير د تړلو نه په خپه پورې ټينګيږي او دا خبره بعينه پدې نن صبا مروجه جورابو کښې ګنې نشته څه ؟ لږ فکر اوکړه !۔

دلائل د جواز المسح على الجوربين :

په دې باره کښې څلور احاديث راغلي دي :

١ - **اول دليل** : امام احمد په مسند (٢٧٧/٥) او ابو داود په سنن کښې او حاکم په مستدرك (١٦٩/١) کښې راوړيدې ۔ وقال : صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبي د ثوبان رضي الله عنه روايت دې (قال بعث رسول الله ﷺ سرية فأصابهم البرد، فلما قدموا على النبي ﷺ شكوا اليه ما أصابهم من البرد، فأمرهم النبي ﷺ أن يمسحوا على العصائب والتساخين)۔

(نبي ﷺ يوه فوجي دسته اوليګله نو هغه چه واپس راغله نو نبي ﷺ ته ئې د يخنئ شکايت اوکړو، نبي ﷺ ورته حکم اوکړو چه په پټکو او جورابو باندې مسح کوئ)۔ په دې روايت باندې **اعتراض** دې : چه دا منقطع دې په مابين د راشد بن سعد او ثوبانؓ کښې لکه دا خبره امام احمد کړيده چه راشد د ثوبانؓ نه سماع نه ده کړې (كما في جامع التحصيل : ١٧٤ للعلائي)۔

١ - **جواب** : امام بخاريؒ په التاريخ الكبير (٢٩٢/٣) کښې فرمائي : د راشد سماع د ثوبانؓ نه ثابت ده، نو امام بخاريؒ عارف دې په سماع باندې۔

٢ - **جواب** : امام مسلمؒ په مقدمه (٣٢) کښې فرمائي : چه په صحت د حديث کښې په مابين د راوي او مروي عنه کښې صرف امکان د ملاقات شرط دې، يعنې معاصرت ضروري دې، او بالفعل د ملاقات او سماع قيد لګول صحيح نه دي۔ او د دوئ دواړو معاصرت شته دې، امکان د لقاء شته دې۔ او راشد د معاويهؓ په جنګ صفين کښې شريك وو کوم چه په سنه (٣٢) هـ کښې وو۔ او د ثوبانؓ وفات په سنه (٥٤) هـ کښې شويدې۔ نو معلومه شوه چه حديث مذکور متصل دې۔ او انقطاع په کښې نشته، او دا د امام مسلمؒ

په شرط هم صحیح دے۔ نو ټول رجال ثقات دی، سیوا د راشد نه چه دا ثقه کثیر الارسال دے، عنعنه ئے کړیده لیکن مدلس نه دے، عنعنه ئے مقبوله ده۔

دا وجه ده چه د امام بخاریؒ په رجالو کښې دے، علی بن المدینیؒ فرمائی : دا ماته د مکحول نه ډیر غوره دے، امام احمد بن حنبلؒ فرمائی : لا بأس به۔ امام یحیی بن معینؒ فرمائی : ثقه دے، امام یحیی بن سعید القطانؒ فرمائی : ثقه دے۔ امام ابن أبی حاتمؒ او امام ابن سعدؒ ورته ثقه وئیلی دی۔ نو روایت صحیح او سالم دے، اوکوم علماؤ چه ورته ضعیف وئیلے دے نو هغه د ارسال په وجه لیکن اکثر علماؤ دده حدیث ته حسن او صحیح وئیلے دے۔

۲ – **دویم اعتراض** : تساخین صرف موزو ته وائی، نه جورابو ته۔ کما فی النهایة ولسان العرب۔

جواب : عون المعبود (۵٦/۱) او بلوغ الأمانی شرح مسند احمد الشیبانی (۳۸/۲) کښې ابن رسلانؒ فرمائی : اصل ذلك كل ما يسخن به القدم من خف او جورب ونحوهما۔

(نو تساخین موزو او جورابو دواړو ته وائی، یو پورې خاص کول د لغت خلاف دی، هرکله چه تساخین عام شو، جورابو ته هم شامل شو نو مسح پرې سنت شوه۔

۲ – **دویم دلیل** : ابوداود (۲۱/۱) ترمذی (۱۲/۱) ابن ماجه (٤۲/۱) السنن الکبری (۲۸۳/۱) امام ترمذی فرمائی : دا حدیث حسن صحیح دے۔

عن هزيل بن شرحبيل عن المغيرة بن شعبة قال : ان رسول الله ﷺ توضأ ومسح على الجوربين والنعلين ۔

په دے حدیث کښې هم مسح د جوربین شویده۔ ددے روایت ټول رجال ثقات دی، کما فی فتاوی الدین الخالص (۳۳۸/۲) په تهذیب السنن (۱۲٤/۱) کښې علامه عبد الله بن عبد القادر التلیدیؒ فرمائی : سنده صحيح ورجاله ثقات، وقد صححه ابن حزم وابن دقيق العيد وجماعة من الغابرين واللاحقين . وقد اعل الحديث جماعة من الحفاظ بما لا يقدح الخ فانه حديث مستقل لاينافي حديث المسح على الخفين ولا يخالفه كما قد توهمه من ضعفه ۔

۲ – شیخ البانیؒ فرمائی : دا صحیح حدیث دے، هیڅ عیب په کښې نشته آه۔

صحیح سنن الترمذی (٩٩)..

دا حدیث **صحیح** دے، خو بعض علماؤ پرے اعتراض کړیدے ۔ لکه امام أبوداودؒ فرمائی : دا روایت شاذ دے، عبد الرحمن بن مهدیؒ به دا حدیث نه بیانولو۔ وجه داده چه د مغیره بن شعبهؓ نه په موزو باندے مسح نقل کیږی۔ او صرف هزیل بن شرحبیل په جوربینو باندے مسح نقل کوی۔ نو دا روایت شاذ دے۔ د نورو روایاتو خلاف دے۔

جواب : دا هیڅ عیب نه دے، لکه علامه أحمد شاکرؒ په شرح د ترمذی کښے فرمائی : چه د مغیره بن شعبهؓ ډیر شاګردان دی، نو بعضے شاګردان مسح علی الخفین نقل کوی۔ او هغه جدا حدیث دے۔ او بعضے شاګردان – لکه هزیل بن شرحبیل – مسح علی الجوربین ذکر کوی۔ اودا جدا حدیث دے۔ یو د بل منافی نه دے۔ او په یو روایت کښے مخالفت نشته۔ بلکه روایتونه جدا جدا دی۔ لکه بعضے راویان د مغیرةؓ نه په عِمامه باندے مسح ذکر کوی، بعضے مسح علی الخفین ذکر کوی۔ نو هغے کښے هم عیب نشته۔ او شذوذ خو هله راځی چه کله یو راوی نفی کولے او بل اثبات۔ نو یو به د بل مخالف وے۔ او دلته داسے نه ده بلکه دا دوه حدیثونه دی۔

كذا فی المرقات شرح المشكاة (٢/٢٢٣) طبع بیروت۔

شیخ البانیؒ فرمائی : دا علت قادحه نه دے ځکه چه دا زیادت د ثقه دے، او زیادت د ثقه مقبول دے۔ او دا جدا واقعه ده، لکه دا خبره ابن دقیق العیدؒ هم کړیده .

قال الشیخ (ابن دقیق) ومن یصححه یعتمد بعد تعدیل ابی قیس علی كونه لیس مخالفا لروایة الجمهور مخالفة معارضة بل هو امر زائد علی ما رووه ولا یعارضه ولاسیما وهو طریق مستقل لم یشارك المشهورات فی سندها. انتهیٰ كذا فی نصب الرایة (١/١٨٥) و ارواء الغلیل (١/١٣٧) ۔ نو په عام اوقاتو کښے ئے مسح علی الخفین کړیده، او په دے مقام کښے ئے مسح علی الجوربین کړیده۔ اومنافات اومخالفت به هله وے چه مسح علی الخفین حدیث کښے داسے الفاظ وے چه (مَسَحَ علی الخفین دون الجوربین) او دلته خو داسے نشته۔ بلکه دیته تنوع فی العبادات وائی لکه رفع الیدین تر اوګو او غوږونو پورے، او طریقه د آذان او تشهد اود صلاة الکسوف او تشهد مختلف طریقے او الفاظ۔ نو تعارض

نشته بلکه دا انواع العبادات دی۔ راجع لتصحیح الحدیث الی المحلی (١/٣٢٢) وصحیح ابن حبان بتحقیق شعیب الارنووط رقم (١٣٣٨) والسنن الکبری مع الجوهر النقی (١/٢٨٥) و توضیح الاحکام (١/٢٥٢)۔

٣ - دریم دلیل : حدیث د أبو موسی الأشعریؓ دے :

عن الضحاك بن عبد الرحمن بن شوزب عن أبی موسی الأشعری رضی اللّٰه عنه ان رسول اللّٰه ﷺ توضأ ومسح علی الجوربین والنعلین. أخرجه ابن ماجة (١/٥٦٠) رقم (٥٦٠)۔

ددے حدیث رجال الاسناد تول ثقات دی، سیوا د عیسی بن سنان الحنفی الفلسطینی نه چه ده ته امام احمدؒ او ابن معینؒ ضعیف وئیلے دے۔ لیکن ابن حجرؒ په التقریب کښے فرمائی : دا راوی لین الحدیث دے۔ او ابن حبان ورته ثقه وئیلی دی، نو ددے راوی ضعف محتمل دے (کما فی فتاوی الدین الخالص : ٢/٣٢٩) لیکن علامه احمد شاکر په مقدمه د المسح علی الجوربین ص (١٢) کښے فرمائی : دا قسم ضعف احتمالی دے او دداسے راوی حدیث حسن ته ډیر نزدے وی په نسبت سره ضعف ته۔ خصوصاً دا چه امام بخاریؒ ددے حدیث نه سکوت کړیدے۔ نو که د امام بخاریؒ په نیز دا ضعیف وے نو ضرور به ئے بیان کړے وے، لکه داد هغه عادت دے۔ اوسکوت د هغه دلیل د قوت او صحت ددے دے۔

علامه خزرجیؒ فرمائی چه عیسی راوی ابن معینؒ ثقه ګڼلے دے په روایت د یعقوب ابن أبی شیبه کښے (خلاصة تذهیب تهذیب الکمال ص : ٣٠٢۔ رقم (٥٥٦٦)۔

خلاصه : دا چه دا حدیث صحیح دے لکه شیخ البانیؒ په صحیح ابن ماجه (١/٩١) رقم (٤٥٤) او صحیح سنن أبی داود رقم (١٤٨) کښے هم ورته صحیح وئیلے دے۔

اګرچه احتمال د ضعف په کښے شته، خو هغه قوی احتمال نه دے، اوسکوت د امام بخاریؒ دلیل د صحت ددے حدیث دے۔ او ددے حدیث نور شواهد هم شته نو دا حدیث حسن او یا صحیح درجه کښے دے۔ او په جورابو باندے مسح په کښے ذکر ده په غیر د څه قید او شرط نه۔

اعتراض : بعضے علماء وائی : ضحاك راوی د أبو موسی أشعری سره ملاقات نه دے شوے، نو دا روایت منقطع دے ؟۔

جواب : امام بخاریؒ په التاریخ الکبیر (٣٣٤/٢) کښې فرمائی : سمع أبا موسى.
یعني ضحاك د ابو موسیؓ نه سماع ثابت ده. بیائے دا روایت ذکر کړیدے او هیڅ علت ئے
په کښې نه دے بیان کړے، اوسکوت ئے کړیدے نو دا دلیل دے چه دا حدیث دده په نیز هم
مقبول او صحیح دے. دارنګه حافظ جمال الدین المزیؒ په نیز هم د ضحاك سماع د
ابو موسی نه ثابته ده .

(روی عن ابی موسی الاشعری) تهذیب الکمال (٤٧٥/٣ – رقم ٢٩٠٧).

٤ – څلورم دلیل : امام دولابیؒ په الأسماء والکنی (١٨١/١) کښې فرمائی :

حدثنا الأزرق بن قیس قال : رأیت أنس بن مالكؓ أحدث فغسل وجهه ویدیه ومسح علی جوربین من صوف، فقلت : أتمسح علیهما ؟ فقال : انهما خفان، ولکنهما من صوف) أی حکمهما کحکمهما.

(أزرق بن قیسؒ فرمائی : ما أنس بن مالكؓ اولیدلو چه اودس ئے مات کړو، بیائے مخ او دواړه لاسونه اووینځل او په جورابو باندے ئے مسح اوکړه چه د پشم (وړئ) نه جوړے شوے وے، ما ورته اووئیل : ته په دے مسح کوے ؟ (دا جائز ده څه ؟) أنس بن مالكؓ جواب راکړو : چه دا موزے دی اګرچه د وړئ نه جوړے شوی دی (یعنے جوراپے دی چه د موزو حکم لری).

درجة الحدیث : دا حدیث هم صحیح دے. ټول رجال ئے ثقات دی. کذا فی فتاوی الدین الخالص (٣٤٠/٢). او په دے روایت کښې انس بن مالك د وړئ جورابو ته موزے وئیلی دی او هغه عرب فُصحِ اهل لسان دے. د نورو لغوینو نه ئے خبره بهتره ده.

مګر په دے روایت باندے چا دا اعتراض کړیدے چه ابو زیاد سهل بن زیاد راوی ته علامه ازدی په لسان المیزان کښې منکر الحدیث وئیلے دے. وکذا فی المیزان (١١٨/٣).

جواب : علامه ازدیؒ چه کله یوائځے جرح اوکړی نو دده جرح نامنظور ده، څکه دا متشدد دے په جرح کښې. دارنګه سبب د جرح ئے هم نه دے ذکر کړے. علامه عبد الحی لکنویؒ په الأجوبة الفاضلة للأسئلة العشرة الکاملة ص (١٧٨) کښې، او جمال الدین القاسمیؒ په المسح علی الجوربین ص (١٣) کښې فرمائی : ازدی متشدد دے په جرح

كښې، چه كله يو ائځې دے په يو راوي جرح اوكړي نو نامقبول ده. ځكه دا داسې خلقو باندے جرح كړي چه د باقي علماؤ په نيز ثقه وي.

لكه ددے روايت په باره كښې حافظ ذهبيؒ فرمائي : (ما ضعفوه) يعنې أبو زياد سهل بن زياد عن ايوب راوي هيڅا نه دے ضعيف كړے (كذا في ميزان الاعتدال : ١١٨/٣).

طريقة **الاستدلال** : انس بن مالكؓ په جورابو مسح اوكړه او وے فرمائيل : چه د اموزے دي خو د وړئ نه جوړے دي. دا صريح دليل دے په دے خبره چه د نبي ﷺ په زمانه كښې موزے هر قسم جورابو ته هم شاملے وے. او د څرمنے والا موزو ته هم شاملے وے. يعنې موزے عامے دي، كه د څرمنے نه وي اوكه د وړئ نه، اوكه د كپړے يا نيلون نه وي. او أنسؓ صحابي دے، اهل لغت دے، د جوهريؒ اوخليلؒ او ازهريؒ نه مقدم دے په لغت كښې. نو د انسؓ دا قول رد دے په هغه چا باندے چه وائي : موزے صرف د څرمنے نه جوړيږي. دا خبره صحيح نه ده، بلكه موزے د وړئ اوكپړے نه هم جوړيږي. او دغه شان حديث د ابو مسعود الأنصاريؓ نه هم تير شويدے. چه هغه د ويښتانو نه جوړے شوے وے او په هغې باندے ئے مسح اوكړه، نو ګوياكه پنځه روايات شو.

او په هر قسم **جورابو** باندے **مسح** كولو باره كښې د شپاړس (١٦) صحابه كرامو عمل موجود دے، لكه أبوداود په سنن (٢١/١) كښې فرمائي :

چه په جورابو باندے مسح : ١-علي بن أبي طالب، ٢-ابو مسعود ٣- برا بن عازب ٤- انس بن مالك ٥- ابو امامه، ٦- سهل بن سعد ٧- عمرو بن حارث، ٨- عمر بن الخطاب ٩- او ابن عباس - رضي الله تعالى عنهم نه نقل ده.

ابن سيد الناسؒ په شرح د ترمذي كښې فرمائي : ١٠- عبد الله بن عمر بن الخطاب، ١١- سعد بن أبي وقاصؓ. او په شرح الاقناع كښې فرمائي : ١٢- ابن ياسرؓ ١٣- او بلالؓ ١٤- او ابن أبي اوفيؓ. او قاسميؒ فرمائي : ١٥- مغيره بن شعبهؓ ١٦- او ابو موسى اشعريؓ هم دي. چه دا ټول شپاړس صحابه كرامؓ شو. چه ددوئ احاديث په ابن أبي شيبه (٢١٧/١) تهذيب السنن لابن القيم (١٨٧/١) ابن حزمؒ په محلى (٣٢٣/١) النووي په شرح المهذب (٥٦٤/١) السنن الكبرى (٢٨٥/١) تنقيح التحقيق (١٩٧/١) لابن عبد

الهادي، التحفة (١/١٠٠) او فتاوى الدين الخالص (٢/٣٤٣) زاد المعاد (١/٢٢٧) كښې راوړي دي ـ ـ ـ او ددې مسئلې ښه تفصيل زمونږ ورور ابو يزيد عبد القاهر صاحب په التحقيقات في رد الهفوات ص (٧٣٨) كښې كړيدې۔

دا گويا اجماع د صحابه كرامو شوه په دې چه مسح په جورابو باندې جائز او سنت ده۔ نو مقلدين بيا هم د صحابو خبره ارتوي او د خپل امامانو بلكه د متأخرينو خبره اخلي۔ او بيا دعوىٰ كوي چه مونږ د صحابو تعظيم كوو، د هغې په مقابله كښې د امام خبره نه اخلو، سره ددې نه چه د امام ابو حنيفه نه رجوع هم ثابت ده۔

تنبيه : شاه انور شاه كشميري صاحب په العرف الشذى (١/٣٠) كښې وئيلي دي چه د امام ابو حنيفه رجوع مجلدينو او منعلينو نه ثخينينو ته شويده، نه مطلقا جوربينو ته۔

جواب : دا خبره غلطه او بې دليله ده ځكه په سنن ترمذى كښې دا لفظ دې (وعليه جوربان) كما تقدم نو قيد د ثخانت په كښې نشته۔

نور اقوال د علماؤ په (التحقيقات) كښې اوگوره۔

نو ثابته شوه چه په مطلق جورابو باندې په غير د څه قيد او شرط نه مسح جائز څه چه سنت طريقه ده۔ د وجې ددې پنځه احاديثو او عمل د شپاړس صحابه كرامو نه۔ چه دا په منزله د اجماع د امت ده۔ او مخالف ددې نه دې موجود۔ نو د مقلدينو بهانه ددې نه پس پاتې نشوه۔ اوكوم قيدونه چه بعضې علماؤ لگولي دي هغه بې دليله دي، بلكه په هغې كښې سختي ده په امت باندې په غير د څه باعث نه، فتدبر!

فائده : امام نخعي فرمائي : فمن ترك ذلك رغبة عنه فانما هو من الشيطان. ابن ابي شيبة (١/١٨٠) بسند صحيح۔ يعنې څوك چه په جورابو باندې مسح كول ددې د ناخوښئ په وجه پريدي نو يقينا دا د شيطان ملگرې دې۔

فائده : په اقوالو د علماؤ كښې د جورابو سره مختلف قيدونه راغلي دي۔ (١) يو **مجلدين** (٢) **منعلين** (٣) **ثخينين** (٤) **جرموقين**۔ مجلدين هغه جورابو ته وائي چه لاندې باندې دواړه طرفونو ته ئې چمړه (څرمن) لگيدلې وي۔ او منعلين : هغه جورابو

تـه وائـي چـه صرف لاندے طرفته ئے چمړه لګيدلې وي۔ او ثخينين : هغه جورابو ته وائي چـه مـضبـوطے او پيـړے وي چـه پـه غير د تړلو نه پـه خپـه پـورے ايساريږي او مزل پـه كښـې مـمـكـن وي۔ او جرموق : هغه حفاظتي څرمنے ته وائي چه د موزو دپاسه اغوستل كيږي دپاره د حفاظت د اصل موزے او ديته موق هم وائي۔

دا ټول **قيدونه** پـه جورابـو كښـې لګول اجتهادي دي، احاديثو كښـې نه دي ثابت۔ او د مسح الجوربين د فلسفے خلاف دي، چه هغه آساني ده په امت باندے۔

تنبيه : بعض مقلدينو په دے حديث الباب كښـې دا تاويل كړيدے چه دلته رسول الله ﷺ مسح كـړيـده پـه جـوربيـن مـنـعليـن بـانـدے۔ ځكه دواړه ذكر دي۔ ليـكـن دا خبره ډيره خطاء ده، ځكه په ټولو احاديثو كښـې جوربين جدا ذكر كيږي او نعلين جدا ذكر كيږي۔ واؤ عـاطـفه پـه مينځ كښـې ذكر دے۔ پـه دے مقام كښـې تقاضا د مغايرت كوي، نو جوربين باندے جدا مسح ده، اونعالو باندے جدا مسح شويده۔ لكه روستو به راشي۔

اوكـه او مـنو چه رسول الله ﷺ مسح په جوربين مُنعلين باندے كړيده نو په جوربين بانـدے مسح د تطهر دپاره ده او نعلين ورسره زياتي وو، لكه دا خبره علامه ابن القيمؒ، امام طحاويؒ، امام خطابيؒ او علامه طيبيؒ ذكر كړيده (كذا في المرعاة : ٢/٢١٩)۔

نو بيا هم مسح على الجوربين ثابت شوه۔

﴿ المسألة الأخرى ﴾

په څپلو چپړو (نعالو) **مسح** كول څه حكم لري ؟

١ – د بـعضو علماؤ په نيز په نعلين باندے مسح كول جائز دي، لكه شيخ البانيؒ او په دے بـاره كښـې احـاديث پيـش كـوي، بـعـضـے د هـغـے نه مخكښـې تير شو، پنځه احاديث په فتاوى الـديـن الـخـالـص (٣٦٢/٢) او اووه په التحقيقات ص (٧٥٠) كښـې ذكر شوي دي۔ نقلا عن احكام المسح على الجوربين للعلامة القاسميؒ، والجو هر النقى (٢٨٨/١)۔

چه دغـه احاديث بـعـضـے صحيح، بعضے حسن درجه كښـې دي۔ شيخ البانيؒ په تمام الـنـصـح ص (٨٢) كښـې صـحيـح كـړي دي۔ او فـرمـائـي : چه په موزو كښـې محل د فرض پټولو شرط خطاء دے، بلكه دا رخصت دے نو په نعالو مسح جائز ده۔

٢ - جمهور علماء وائی : په ځپلو چپړو باندې مسح کول صحيح نه دی، دا د موزو په حکم کښې نه دی، او ددې په ويستلو کښې هغه حرج او تکليف نشته کوم چه د موزواو جورابو په هر وخت ويستلو کښې دې، لهذا مسح نه ده پکار ـ او د هغه احاديثو نه څو جوابونه کوی :

١ - **اول جواب** : دادې چه هغه رواياتو کښې څه نا څه کلام ضرور شته ـ

٢ - **دويم جواب** : دغه احاديث محمول دی په نفلی اوداسه باندې، نه په فرضی اوداسه باندې ـ لکه دا خبره امام ابن خزيمة (٩٥/١) او علامه قاسمی په احکام المسح علی الجوربين کښې او امام بزار او امام ابن حبان په خپل صحيح (٣٢٤/٢) کښې کړيده ـ

٣ - **جواب** : امام بيهقی فرمائی : په نعلين کښې رسول الله ﷺ خپې وينځلی دی او دارنګه ورسره مسحه ئې هم کړيده تتميمًا يعنی چپړې به ئې په خپو وې او اوبه به ئې پرې واچولې بغير د ويستلو د هغې نه او لاس به ئې پرې هم راخکلو نو دا غسل الرجلين فی النعلين دې او يو اځې مسح علی النعلين ندې فرمائی ددې مثال دا سې دې لکه نبی عليه السلام په ناصيه باندې مسح کړيده او ورسره په عمامه باندې هم ـ السنن الکبری (٢٨٦/١) ـ

٤ - **جواب** : امام زيلعی په نصب الرايه (١٨٨/١) کښې فرمائی : امام طحاوی په معانی الآثار (٧٠/١) کښې فرمائی : مسح په نعلين شويده خو په جورابو دپاسه، يعنی اصالةً مسح په جورابو شويده او تبعًا مسح په نعلين شويده ـ او مستقلا مسح نه ده شوې ـ لکه دا خبره علامه ابن القيم او علامه خطابی او امام قرطبی کړيده ـ

دا وجه ده صالح العثيمين په فتاوی (١٦٨/٤) کښې فرمائی : مسح په نعل نه ده جائز بلکه د نعل ويستل په وخت د اوداسه کښې ضروری دی ـ او قدم وينځل واجب دی ـ امام بخاری هم باب تړی (٢٨/١) باب غسل الرجلين فی النعلين ولايمسح علی النعلين ـ اشاره کوی چه د مسح علی النعلين معنی دا ده چه خپې په نعلين کښې اووينځلې شی ـ

٢ - يا اشاره کوی چه پدې باره کښې احاديث ضعيف دی د هغه په نيز ـ

فيصله : نو احتياط په دې کښې دې چه په چپړو او ځپلو باندې مسح اونه کړې شی،

مګر کله چه د خفين يا جوربين پشان شی چه قدم پټوی او ويستلو کښې ئې حرج وی.

اوډا موجوده چپړې او څپلئ داسې نه دی، نو مسح نه ده پکار. اوکه چا اوکړه نو هغه ته بد کتل هم نه دی پکار، د وجې ددغه احاديثو نه. او شيخ البانی مجتهد دے نو په خپل اجتهاد ئې عمل کړيدے خو زمونږ په نيز مسح په څپلو چپړو غوره نده. ورنه که چا د دغه احاديثو د ظاهر د وجې نه مسحه اوکړه نو بالکل جواز لری.

الفصل الثالث - دريم فصل

٨ - عَنِ الْمُغِيْرَةِ ﷛ قَالَ : مَسَحَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلَى الْخُفَّيْنِ فَقُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! نَسِيْتَ ؟ قَالَ : بَلْ أَنْتَ نَسِيْتَ. بِهٰذَا أَمَرَنِىْ رَبِّىْ عَزَّ وَجَلَّ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : مغيره بن شعبهؓ فرمائی : رسول الله ﷺ په موزو باندې مسح اوکړه، نو ما ورته اووئيل : يا رسول الله ! تاسو نه (خپې وينځل) هير شو ؟ هغوئ اوفرمائيل : بلکه تاته هيره شويده (چه ماطرفته د هيرې نسبت کوې)، ځکه په دې باندې ماته خپل رب عز وجل حکم کړيدے. (احمد، ابوداود).

تشريح : بَلْ أَنْتَ نَسِيْتَ : يعنے تاته هير شو، دائے په طريقه د مشاکلت سره اووئيل يعنی معنی ئې ده (أخطأتَ) ته خطاء شوې چه ماته دې د نسيان نسبت اوکړو، حال داچه زه پيغمبر يم، هر عمل زما د الله تعالی د حکم مطابق دے. نو په موزو باندې مسح کول هم د الله تعالیٰ حکم او اجازت دے چه ماته ئې په وحی غير متلو کښې فرمائيلے دے. مغيره بن شعبهؓ ته د نبی ﷺ په موزو باندې مسح ناشنا ښکاره شوه، ځکه ئې نبی ﷺ ته اوفرمائيل : چه يا رسول الله ! خپې وينځل درنه هير شو. يادلته همزه د استفهام حذف ده. نوتپوس کوی چه يا رسول الله ! آيا دخپې وينځل درنه هير شو اوکه نه دا د الله حکم دے ؟ نو نبی ﷺ ارشاد اوفرمايه چه مانه نه دی هير، بلکه ته په دې تپوس کښې خطاء شوې، دا کار زما د ربّ د حکم موافق دے.

بيا دا حديث هم دليل دے چه مسح علی الخفين په کتاب الله سره ثابت ده، ځکه

چه په قرائت د جر د ﴿ وارجلِكم ﴾ كښې حكم دے په مسح باندے په حالت د تخفف (يعنې موزو اچولو) كښې۔

او دا امر په امرنى ربى كښې د ندب او اباحت دپاره دے، فرض او لازم نه ده۔

درجة الحديث: واسناده ضعيف فيه بكير بن عامر البجلي وهو ضعيف كما في التقريب ضعفه يحيى بن معين والنسائي وابوزرعة ووثقه ابن سعد والحاكم والعجلي وذكره ابن حبان في الثقات وقال ابوداود ليس بالمتروك۔ مرعات (٢/٢٢٠) وضعفه الالباني في ضعيف ابي داود رقم (٢٧) وقال في تعليق المشكاة (١/١٦٣) وقد وقع للشوكاني في هذا الحديث وهم فاحش حيث صحح اسناده وهو يعني اسنادا آخر صحيحا لغير هذا الحديث كما بينته في ضعيف السنن رقم (٢٠)۔

---

٩ - وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ: لَوْ كَانَ الدِّيْنُ بِالرَّأْيِ لَكَانَ أَسْفَلُ الْخُفِّ أَوْلٰى بِالْمَسْحِ مِنْ أَعْلَاهُ، وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَمْسَحُ عَلٰى ظَاهِرِ خُفَّيْهِ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَلِلدَّارِمِيِّ مَعْنَاهُ.

ترجمه: على رضى الله عنه فرمائى: كه چرے دين صرف په عقل او رائے پورے موقوف وے نو د موزے لاندے طرف باندے مسح كول به ددے په بره طرف باندے د مسح كولو نه بهتر وو۔ او ما رسول الله ﷺ ليدلے دے چه د خپلو موزو په بره طرف باندے ئے مسح كوله۔ (ابوداود) او دارمى ددے پشان مضمون نقل كړيدے۔

تشريح: لَوْ كَانَ الدِّيْنُ بِالرَّأْيِ الخ: د على رضى الله عنه د خبرے مقصد دادے چه كه دين په رائے او عقل او قياس باندے بناء وے، او روايت او نقل له په كښې اعتبار نه وے، نو پكار ده چه د موزو لاندے طرف مسح شوے وے۔ وجه داده چه ناپاكى او ګندګى د موزے په لاندے طرف باندے لګى، په دے وجه د عقل تقاضا ده چه كوم ځائے باندے د ګندګئ لګيدو شبهه وى د هغه ځائے د پاكوالى دپاره دے مسح اوكړے شى۔ ليكن ما رسول الله ﷺ ليدلے دے چه د موزو په بره طرف باندے به ئے مسح كوله۔ نو عقل چلولو دپاره هيڅ دخل پاتے نشو۔

نو دا حديث دليل دے په دے چه : ١ – مسح په ظاهر طرف د موزو باندے مشروع ده ـ
٢ – دے نه معلومه شوه چه د شريعت مسائل او احكامو كښے عقل لره دخل وركول نه دي پكار ځكه كامل عقل هغه دے كوم چه د شريعت تابع وى، ځكه د الله تعالى حكمتونه او دهغه اسرار معلومولو كښے عقل مطلقا عاجز دے ـ نو عاقل لره دا پكار دى چه هغه بغير د خپل عقل استعمالولو او حكمتونو معلومولو نه د شريعت د احكامو پابند اوتابع شى ـ او د شريعت احكام د عقل مخالف هم نه دى ـ بلكه د كامل عقلونو سره بالكل برابر دى ـ او دلته په دے مسئله كښے هم دا حكم مطابق د عقل دے ځكه چه دلته كه مسح كښے غرض نجاست زائل كول وانخستے شى بلكه آسانى واخستے شى نو آسانى په دے كښے ده چه ظاهر د موزو باندے مسح اوكړے شى ځكه چه باطن (لاندے طرف) باندے مسح كولو كښے حرج دے ـ او شريعت مسح دے دپاره مشروع كړيده چه آسانى راشى په امت باندے ـ

✽ ✽ ✽ ✽ ✽ ✽ ✽ ✽ ✽ ✽ ✽



باب التيمم

د شریعت د سماحت او آسانئ نه دا هم ده چه هغه په انسانانو باندے د هغوئ د وسع مطابق احکام مقرروی، که یو انسان د اودس او غسل کولو طاقت نه لری نو هغه دپاره ئے بدل تیمم مقرر کړیدے، دے دپاره چه انسانان په حرج کښے واقع نشی. کله چه ورته اوبه نه ملاویږی. یا بدنی معذور وی او دا صرف ددے امت مصطفویه خصوصیت دے، پخوانو امتونو باندے ګران احکام مقرر شوی وو، دے امت باندے اصر او اغلال (ګران احکام) مقرر نه شو. دا خالص د الله رب العزت فضل او مهربانی ده. او زمونږ د نبی اکرم ﷺ اعزاز او اکرام دے.

مناسبت : مخکښے طهارت صغری او کبری په اوداسه او غسل سره بیان شو، اوس ددے دواړو خلیفه او قائم مقام او نائب بیانوی چه تیمم دے.

٢ – دویم دا چه دا باب روستو شو د باب الوضوء نه ځکه چه اودس ډیر واقع کیږی او تیمم ته کله کله حاجت پیښیږی نو ځکه دا روستو کړے شو.

معنی لغوی : تیمم په لغت عربی کښے قصد او ارادے ته وائی. المجموع (٢٣٧/٢) المغنی (٣١٧/١) توضیح الاحکام (٣٦٧/١) نیل الاوطار (٢٧٦/١)

معنی شرعی : او په شرع کښے قصد کول دی پاکے خاورے ته دپاره د بے أودسئ لرے کولو او مانځه جائز کولو، په مسح د مخ او لاسونو سره په یوه ضربه سره. فتح الباری (٥٦٩/١). او دا په قرآن کریم سره ثابت دے ﴿وان کنتم مرضی او علی سفر او جاء احد منکم من الغائط او لامستم النساء فلم تجدوا ماء فتیمموا صعیدا طیبا فامسحوا بوجوهکم وأیدیکم منه .... الآیة﴾ المائدة. او دا صرف ددے امت خصوصیت دے، په پخوانو امتونو کښے دا نه وو، ددے امت دپاره رخصت او آسانی ده.

د تیمم مشروعیت : د تیمم حکم په غزوه د بنی المصطلق کښے په واقعه د ورک کولو د عائشے ؓ کښے امیل لره نازل شویدے، لکه چه هغه فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ

سره په بعضے سفرونو کښې اووتلو، کله چه بيداء يا ذات الجيش علاقے ته اورسيدو نو زما أميل ورك شو، کوم چه ما په سوال باندے د (خپلے خور) اسماءؓ نه اخستے وو، نو نبی ﷺ صحابهؓ د هغے په طلب کولو پسے اوليږل، نو د مانځه وخت شو او اوبه نه وے، خلقو ابوبکرؓ ته شکايت اوکړو چه عائشےؓ رسول الله ﷺ او صحابهؓ ايسار کړی دی، او اوبه نشته، ابو بکر صديقؓ راغے او عائشهؓ ئے په تشو کښې اووهله، ورته ئے اوويل: تول خلق دے ايسار کړی دی۔ نو نبی ﷺ اوده شو تردے چه صبا شو او اوبه نه وے نو الله تعالىٰ د تيمم آيت نازل کړو۔ نو اسيد بن حضيرؓ عائشےؓ ته اوويل:

جزاكِ اللّٰه خيرا، فو اللّٰه ما نزل بك أمر قط الا جعل اللّٰه لك منه مخرجا و جعل للمسلمين فيه بركة۔ او بل روايت کښې دی (ماهي بأول بركتم يا آل أبي بكر) مسلم: ١/١٦٠۔ و توضيح الاحكام (١/٣٦٨)۔ او عائشهؓ فرمائی: کله چه مونږ اوښ پاڅولو نو د هغه لاندے اميل پروت وو۔

تيمم د اوداسه پشان دے ځکه د هغه نائب او قائم مقام دے، نو نيت په کښې ضروری دے، لکه اودس کښې نيت ضروری او واجب دے۔

مسئله : صرف احناف وائی چه تيمم کښې نيت ضروری او واجب دے، او په اودس کښې نيت ضروری نه دے، ځکه چه په تيمم کښې خاورو سره تلوّث او ککړ والے دے، او طهارت په کښې حکما دے۔ دويم دا چه: په معنی د تيمم کښې نيت او قصد پروت دے، نو نيت کول په کښې واجب دی۔

ليکن ابن الهمام په فتح القدير مع الكفايةؒ (١/٢٨) کښې پدے باندے رد کوی فرمائی:

وفيه نظر لانه ينبئ عن القصد لغة و القصد الذى هو النية انما هو قصد خاص وهو قصد اباحة الصلوة والاعم لا دلالة له على الاخص ولان الاول مدلول اللفظ والثانى فعل القلب ولادلالة لاحدهما على الآخر۔

يعنی په تيمم کښې د وجوب د نيت دپاره استدلال کول په لفظ د تيمم باندے خطاء دی ځکه چه دا استدلال د اعم دے په اخص باندے او دا صحيح نه دے ځکه چه تيمم په لغت کښې قصد ته وائی او دا عام دے او هغه قصد چه هغے ته نيت وائی هغه خو خاص قصد

دے د مانځه د اباحت دپاره او عام دليل د خاص نه ګرځي. دارنګه قصد خو د تيمم د لفظ معنى ده او هغه قصد چه هغه نيت دے دا خو د زړه فعل دے او د لفظ معنى دلالت نشي کولے په قصد د زړه باندے (بلکه دلته به خامخا جدا قصد کولے شي- يعنى تيمم، لغوى قصد دے او نيت خو شرعي قصد دے دارنګه په معنى لغوى د تيمم (قصد) کښے انشاء نه وى او په تيمم کښے نيت کولو کښے خو انشاء ضرور ده نو په تيمم کښ په معنى لغوى باندے استدلال په وجوب د نيت صحيح نشو).

٢ - **جمهور** علماء فرمائى : په اودس او تيمم دواړو کښے نيت کول ضرورى دى، ځکه دا دواړه عبادتونه دى او هر عبادت کښے نيت کول واجب وى. لکه قرآن کريم کښے دى :

﴿ وما أمروا الا ليعبدوا الله مخلصين له الدين ﴾ نو دے آيت کښے أمر شويدے دے په اخلاص د عبادت سره او اخلاص په دے نيت سره حاصليږى نو ځکه واجب دے. (انما الأعمال بالنيات – تشريح ته رجوع اوکړه هلته ددے توضيح تيره شويده).

المسألة الثانية : تيمم طهارت مطلقه دے اوکه طهارت ضروريه ؟

دوه قوله دى :

١ - امام مالك او قول جديد د امام شافعيؒ دے دوئ فرمائى : تيمم طهارت ضروريه دے، يعنے د ضرورت د وجے نه مشروع شويدے نو د يو مونځ دپاره کفايت کوى، دويم فرض مونځ پرے نه کيږى، بلکه بل مانځه ته به بل تيمم وهى. (فان ما ثبت بالضرورة يقتدر بقدرها) . او ضرورى شے په اندازه د ضرورت استعماليږى. بلکه امام مالك په کښے لا دا خبره زياتى کړيده چه په يو تيمم باندے نفل او فرض نه اداء کيږى مګر هغه نفل مونځ پرے کيږى کوم چه د فرضو نه روستو وى. دده په نيز که يو انسان د سحر سنت په تيمم سره اوکړى نو فرض مونځ پدغه تيمم باندے نشى کولے بلکه فرضو ته به جدا تيمم وهى

. طرح التثريب (١٠٢/١) للعراقيؒ وفتح البارى (٣٥٤/١).

علامه عراقى فرمائى دا علماء استدلال کوى په آيت ﴿ اذا قمتم الى الصلوة فاغسلوا وجوهكم ﴾ باندے چه آيت کښے هرمانځه ته اودس ضرورى ګرځولے شويدے خو کله چه د اودس کولو نه عاجز شى نو تيمم به وهى هر مانځه ته بيا چونکه په حديث سره ثابته

شويده چه نبي عليه السلام په فتح د مكه كښے په يو اودس باندے پنځه واړه مونځونه كړيدي او د تيمم په باره كښے خو دا ندي نقل چه په يو تيمم باندے ئے د يو مونځ نه زيادت كړے وي نو دا په خپل اصل باندے باقي پاتے شو چه هر مانځه ته به تيمم وهي۔

ليكن ددے ته **جواب** دا وركولے شي چه تيمم ته شريعت قائمقام د اوداسه وئيلے دے نو كله چه په اوداسه باره كښے دا راغلل چه په يو اودس سره ډير مونځونه ادا كول جائز دي نو دغه حكم د تيمم هم دے ځكه چه تيمم شريك دے د اوداسه سره په پوره طهارت حاصلولو كښے۔ ٢- دويم دا چه ﴿ ولكن يريد ليطهركم ﴾ نه معلوميږي چه تيمم طهارت مطلقه دے د اوداسه پشان فيأخذ حكمه۔

٢ - ابو حنيفهؒ، ثوريؒ، ليثؒ او داودؒ وائي : دا طهارت مطلقه دے، هر مونځ پرے كولے شي، واجبات، نوافل، تلاوت، فوائت وغيره تر څو پورے چه يے اودسه شوے نه وي يا ئے اوبه موندلے نه وي۔ وهو مذهب اصحاب الحديث قاله الخطابي۔

دليل : فصل ثاني كښے حديث دے (وان لم يجد الماء الى عشر سنين) او دا قول راجح دے په اعتبار د دليل سره۔ الله تعالى فرمائي : ﴿ ولكن يريد ليطهركم ﴾ نو تيمم ته ئے طهارت وئيلے دے مطلقا۔ او دا قول د حسن بصريؒ او سعيد بن المسيبؒ، زهريؒ او ابن حزمؒ هم دے۔ انظر فتاوى الدين الخالص (٢/٤٢٩)۔

الفصل الأول - اولنے فصل

١ - عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (فُضِّلْنَا عَلَى النَّاسِ بِثَلٰثٍ : جُعِلَتْ صُفُوْفُنَا كَصُفُوْفِ الْمَلَائِكَةِ، وَجُعِلَتْ لَنَا الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدًا، وَجُعِلَتْ تُرْبَتُهَا لَنَا طَهُوْرًا، إِذَا لَمْ نَجِدِ الْمَاءَ). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : حذيفهؓ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے دے : مونږ له په مخكنو تولو امتونو باندے ددرے خيزونو په ذريعه فضيلت راكړے شويدے (١) زمونږ صفونه د ملائكو د صفونو پشان جوړ كړے شوي دي (٢) مونږ دپاره توله زمكه جومات ګرځول

شویده (۳) او د زمکې خاوره مونږ دپاره پاکونکې ګرځول شویده. کله چه مونږ اوبه نه بیاموموـ (مسلم)ـ

تشریح : فُضِّلْنَا عَلَى النَّاسِ بِثَلٰثٍ : دا صیغه د ماضی مجهول جمع متکلم ده اوفاعل ئې حذف دې أی فضلنا الله علی جمیع الأمم السابقة. یعنې الله تعالی دا امت په پخوانو ټولو امتونو باندې په دې درې خصوصیاتو غوره کړیدې :

هسې خو دا امت محمدیه ﷺ د پخوانو امتونو په مقابله کښې په قسما قسم خصوصیاتو او امتیازاتو سره افضل او بهتر دې. په عظمت او فضیلت او شرافت کښې هیڅ امت ددې امت مماثل او برابر نشته. لیکن دلته رسول الله ددې امت بعضې امتیازی خصوصیاتو ته اشاره کوی کوم چه الله تعالی دې امت ته ورکړی دی. چه زما أمت ته په دې درې امتیازی خصوصیاتو سره خاص فوقیت او غوره والې حاصل دې :

۱ – **اول** دا چه : د دوئ صفونه د مانځه یا دجهاد به داسې وی لکه د ملائکو دصفونو پشان، څنګه چه ملائك په صف بندئ سره عبادت کوی اوددې په ذریعه الله تعالی ته نزدې کیږی اوسعادت ورته حاصلیږی، نو دغه شان به دا امت هم په جهاد اومانځه کښې جماعت سره الله تعالی ته قریب کیږی، ددې وجې نه دا امت د مخکنو امتونو په مقابله کښې افضل دې، ځکه چه مخکنو امتونو کښې صف بندی او جماعت نه وو، بلکه هغوئ به چه څنګه غوښتل مونځونه به ئې کول، یوائې یوائې به عبادت خانو کښې ولاړ وو، الله تعالیٰ ورته د جماعت سعادت او فضیلت نه وو ور نصیب کړې.

بیا د ملائکو صفونه څنګه دی ؟ نو ددې تفصیل به په باب الصفوف کښې راشی ان شاء الله. چه (یتمون الصف الأول ویتراصون فی الصف) یعنې ملائك اولنې صف پوره کوی اوصف کښې جوخت جوخت اودریږی، مینځ کښې کهلاؤ ځایونه نه پریدی. نو افسوس دې چه دې امت کښې بعضې خلقو دا فضیلت د خپل ځان نه ختم کړو چه صفونه نه جوختوی، بلکه جدا جدا ولاړ وی. د یو بل نه خفه او مرور ولاړ وی. او یو بل ته جوخت او نزدې اودریدل ورته د وهابیانو عمل ښکاری، که چاته خپه نزدې کړې نو هغه به درته بداوګوری چه دا خو وهابی دې. نو د اتفاقی مسئلې نه ورله شیطان سترګې پټې کړې او دا

عمل ئے صرف د **اهلحديثو** - بارك الله فيهم - پورے خاص کړو۔ او بيا دعویٰ د محبت د نبي ﷺ کوی۔ افسوس اوصد افسوس په داسے جاهلانو ! ۔

٢ - دويم فضليت : د پخوانو امتونو طريقه داوه چه د هغویٔ مونځ بغير د مسجد نه نه کيدلو، او مسجد کښے به ګډوډ ولاړ وو۔ لکه روايت د مسند احمد کښے راځی (و كان من قبلي انما يصلون في كنائسهم) د هغویٔ مونځ د خپلو کنيسو (ګيرجو) پورے خاص وو۔ او زمونږ دے امت ته الله تعالى دا فضيلت او رخصت ورکړو چه اول به مسجد ته ځی دمانځه دپاره، اوکه مسجد نه وی، يا انسان مسافر وی، يا د انسان نه جماعت قضاء شی، يا نوافل کوی، نو په کور کښے هم کيږی۔ او يا کله چه انسانان ګنړ وی او په يو ميدان کښے جماعت کوی نو هم ئے کولے شی۔ مسجد ورله شرط نه دے، ليکن کله چه مسجد موجود وی، او په هغے کښے جماعت کيږی نو بيا ځانله کور يا پټی کښے مونځ کولو سره انسان ګنهګاريږی۔ اودا لوئی جرم دے، لکه خپل ځائے کښے به راشی، ان شاء الله۔

٣ - دريم فضيلت : ددے امت دادے چه دوئ دپاره الله تعالىٰ تيمم مشروع کړو، يعنے کله چه اوبه موجودے نه وی يا موجودے وی خو د هغے په استعمالولو باندے قادر نه وی، يا د اوبو د استعمالولو نه معذور وی، بيمار وی، نو په پاکه خاوره سره دے تيمم وهی، په دے سره به ئے مونځ جائز شی۔

وَجُعِلَتْ تُرْبَتُهَا الخ : ددے حديث نه په ظاهر کښے دا معلوميږی چه تيمم صرف په خاوره باندے جائز دے، نه په بل شی باندے۔ مګر په دے کښے اختلاف دے۔

مسئله : تيمم په کومو څيزونو سره وهل کيږی ؟

په دے کښے اختلاف دے :

١ - د امام شافعیؒ، امام احمدؒ قول مشهور، او ابن المنذرؒ او داود ظاهریؒ رائے داده چه تيمم صرف په خاورو سره وهل جائز دی، نه په نورو څيزونو سره۔

دليل : دا وائی چه احاديثو کښے فقط لفظ د تراب (خاورے) تخصيص راغلے دے، نو تراب او تربت شرط دے نو دا به مراد وی۔

٢ - امام ابو يوسفؒ فرمائی : صرف په خاوره اوشګه باندے جائز دے۔

٣ - امام ابو حنيفه، امام مالك، عطاء، امام اوزاعي او ثوري رائے داده : چه تيمم په هر هغه شئ باندے جائز دے چه دجنس د زمکے نه وی. لکه خاوره، شګه، کانړے وغيره. يعنے هرهغه شے چه اورئے نه سيزی. په هغے تيمم وهلے کيږی.

ليکن شيخ الاسلام ابن القيم په زاد المعاد (١٩٩/١) کښے ليکی چه د تيمم دپاره خاوره شرط نه ده، بلکه په رمل (شګه) خاوره، کانړو وغيره ټولو باندے تيمم کول جائز دی. وجه داده چه قرآن کريم کښے ﴿ فتيمّموا صعيداً طيباً ﴾ راغلے دے او حديث کښے دی (عليك بالصعيد) لفظ راغلے دے. او صعيد په عربی لغتِ کښے (وجه الأرض) يعنی د زمکے مخ ته وائی، او مخ د زمکے کانړی، شګے او خاورے ټولو ته شامل دے کما فی القاموس والمصباح. المعجم الوسيط (٥١٤/١).

٢ - نبی ﷺ او صحابو د تبوك په سفر کښے په کانړو او شګو باندے تيمم وهلو، او دا نه دی نقل چه هغوئ ځان سره خاورے اخستے دی.

٣ - متفق عليه حديث کښے دی (ايما رجل من امتی ادرکته الصلاة فعنده مسجده وطهوره) يعنے : زما په هر امتی باندے چه کله د مانځه وخت راشی نو هغه سره مسجد او پاکونکے شے دواړه شته دے.

نو دا حديث دليل دے په دے چه څوك غره کښے وی نو دده دپاره په تيمم کښے کانړی طهور او پاکونکے څيز دے، اوکه څوك په شګه کښے وی نو دده دپاره شګے طهور دے.

٤ - د رسول الله ﷺ نه په ديوال باندے تيمم وهل نقل دی، لکه روستو حديث را روان دے، نو کيدے شی چه دا ديوال د کانړو وو.

او دا **راجح قول** دے. علامه ابن حزم په المحلی (٣٧٧/١) او ابوبکر بن العربی په احکام القرآن (٤٦٨/١) او ابن عبد البر په فتح المالك بتبويب التمهيد (٤٨١/١) کښے راجح کړيدے. اوکوم احاديثو کښے چه تخصيص د خاورے راغلے دے، لکه دا حديث شو، يا مسند احمد کښے د علیؓ په روايت کښے دی (وجعل التراب لی طهورا) نو هغه بناء دے په عادت باندے، او هغه نفی د ماعدا نه کوی. چه ګنے په غير د خاورو نه کيږی. علامه شوکانی فرمائی : دا استدلال په مفهوم اللقب سره دے اودا د اصوليانو په نيز ضعيف دے،

صرف ابو بكر الدقاقؒ ئے دليل گنړی ، نو په دے سره به تخصيص په منطوق كښے نشی كولے۔ ځكه د نبی ﷺ نه په شگو او كانړو باندے تيمم كول هم نقل دی۔ (النيل : ٣٢٨/١) -- او يا ديته التنصيص على بعض افراد العام وائی چه پدے سره تخصيص په عام كښے نه راځی يعنی پدے حديث كښے بعض افراد د عام ذكر شويدی يعنی په وجه الارض كښے صرف خاوره ذكر شويده چه دا د وجه الارض بعض فرد دے۔ كما فی سبل السلام (١٤٣/١)۔

٢ - وَعَنْ عِمْرَانَ رضي الله عنه قَالَ : كُنَّا فِيْ سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فَصَلّٰى بِالنَّاسِ، فَلَمَّا انْفَتَلَ مِنْ صَلَاتِهٖ اِذَا هُوَ بِرَجُلٍ مُعْتَزِلٍ لَمْ يُصَلِّ مَعَ الْقَوْمِ، فَقَالَ مَا مَنَعَكَ يَا فُلَانُ أَنْ تُصَلِّيَ مَعَ الْقَوْمِ، قَالَ : أَصَابَتْنِيْ جَنَابَةٌ وَلَا مَاءَ، قَالَ : عَلَيْكَ بِالصَّعِيْدِ ، فَاِنَّهٗ يَكْفِيْكَ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : عمرانؓ فرمائی : مونږ د نبی ﷺ سره په يو سفر كښے وو، نو نبی ﷺ خلقو ته مونځ اوكړو، كله چه د مونځ نه فارغ شو نو څه گوری چه يو سړے جدا ناست دے چه د خلقو سره ئے مونځ اونه كړو۔ ورته ئے اوفرمائيل : اے فلانيه ! ته څه شی منع كړے چه دے خلقو سره د جمعے مونځ اوكړے ؟ هغه اووئيل : ماته جنابت رسيدلے دے او اوبه نشته ـ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل : تاله پكار دی چه پاكه خاوره باندے تيمم اوكړے، ځكه تاله دا كافی ده۔ (بخاری، مسلم)۔

تشريح : مصنف دا حديث مختصر كړيدے ورنه دا اوږد حديث دے بخاری باب التيمم بشرح الفتح (٣٥٧/١) كښې راوړيدے تفصيلی واقعه په كښې ذكر ده۔

عَلَيْكَ بِالصَّعِيْدِ : عليك اسم فعل دے په معنىٰ د خُذْ او اِلْزَمْ سره، يعنی تا باندے لازم دی چه په دے خاورو تيمم اووهے۔

فوائد الحديث : ١ - دا سړے د خلقو سره په جمعه كښے شريك نشو، دده دا خيال وو چه د جنب سړی دپاره به تيمم وهل جائز نه وی۔ دا به صرف د بے اودسئ په صورت كښے وهلے شی، نو نبی ﷺ ورته ارشاد اوفرمايه چه تيمم اووهه، دا د جنابت دپاره هم مشروع

دے۔ ٢ – د جماعت دومره اهميت دے چه رسول الله ﷺ په دے سړي باندے رد اوکړو چه د نورو مسلمانانو سره ولے په مانځه کښے شريك نه شوے ؟ **معلومه** شوه چه د جماعت په وخت کښے يوائے کيناستل يا يوائے مونځ کول – سنت وي که نفل وي – جائز نه دي۔

٣ – دا حديث نص دے په دے کښے چه د جُنب شخص دپاره تيمم وهل جائز دي، اودا اتفاقي مسئله ده۔ سَلَفًا وَخَلَفًا ، هيڅوك په کښے مخالف نشته، مګر د بعضے صحابو" نه – لکه عمر بن الخطابؓ او عبد الله بن مسعودؓ – نه نقل دي چه دوئ به د جُنب دپاره تيمم وهل جائز نه ګڼړل۔ اود اقول په تابعينو کښے د ابراهيم نخعي" نه نقل دے۔ بعضے علماء وائي : عمر فاروق" او ابن مسعودؓ د خپل دے قول نه رجوع کړيده (نووي" شرح مسلم : ١/ ١٦٠)۔ او دوئ چه جنب دپاره تيمم جائز نه ګڼړلو نو دائے اجتهاد وو او حديث کښ به ئے تاويل کولو۔ کما في البخاري (٤٧/١)۔ او روستو هم راوران دے۔

٤ – او دا حديث په دے مسئله هم دليل دے چه تيمم طهارت مطلقه دے، فرائض او نوافل او ډير مونځونه کول پرے جائز دي، ځکه نبي ﷺ ورته دا اونه فرمائيل : چه صرف د فرائض يا صرف په دے وخت کښے ستا دپاره کافي دے، بلکه عامه خبره ئے ورته اوکړه چه (فَاِنَّهٗ يَكْفِيكَ) يعنے خاوره ستا د جنابت په لرے کولو کښے کفايت کوي۔ نو معلومه شوه چه جنابت لرے شو په تيمم سره، نو مکمل طهارت حاصل شو۔

٥ – حافظ" فرمائي : امام بخاري" په (عَلَيْكَ بِالصَّعِيدِ) باندے استدلال کړيدے په دے مسئله چه هر مانځه ته تيمم وهل واجب او ضروري نه دي، ځکه چه نبي ﷺ عموم کړيدے او حافظ فرمائي : چه دا هغه مسئله ده چه امام بخاري" پکښے د کوفيينو او جمهورو موافقت کړيدے۔

---

٣ – وَعَنْ عَمَّارٍ رضي الله عنه قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ اِلٰى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه فَقَالَ : اِنِّىْ اَجْنَبْتُ فَلَمْ اُصِبِ الْمَاءَ فَقَالَ : عَمَّارٌ لِعُمَرَ : اَمَا تَذْكُرُ اَنَّا كُنَّا فِىْ سَفَرٍ اَنَا وَاَنْتَ فَاَمَّا اَنْتَ فَلَمْ تُصَلِّ وَاَمَّا اَنَا فَتَمَعَّكْتُ فَصَلَّيْتُ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِىِّ ﷺ فَقَالَ :

اِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ هٰكَذَا فَضَرَبَ النَّبِيُّ ﷺ بِكَفَّيْهِ الْأَرْضَ وَ نَفَخَ فِيهِمَا ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ وَ كَفَّيْهِ). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَلِمُسْلِمٍ نَحْوَهُ. وَفِيْهِ : قَالَ : اِنَّمَا يَكْفِيكَ أَنْ تَضْرِبَ بِيَدَيْكَ الْأَرْضَ ثُمَّ تَنْفُخَ ثُمَّ تَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَكَ وَ كَفَّيْكَ.

ترجمه : عمار ؓ فرمائي : يو سړے عمر بن خطاب ؓ ته راغے او عرض ئے اوكړو : زه جنب شوے يم او اوبه مے بيانه موندے (نو څه اوكړم ؟) نو عمار ؓ عمر فاروق ؓ ته اووئيل : آيا تاته ياد نشي چه زه او ته په سفر كښے وو (او دواړو ته د غسل ضرورت وو) نو تا مونځ اونه كړو، او زه په خاوره كښے ورغښتم او مونځ مے اوكړو، بيا مے دا خبره نبي ﷺ ته وړياده كړه، نو نبي ﷺ راته اوفرمائيل : تاله خو صرف داسے كول كافي وو۔ نبي ﷺ خپل دواړه ورغوي په زمكه اووهل او هغے له ئے پوكے وركړو، بيائے هغه دواړه په مخ او دواړو ورغوو باندے راخكل۔ (بخاري) او مسلم ددے پشان الفاظ نقل كړي دي او په هغے كښے دي : تا دپاره دا كافي ده چه ته خپل دواړه لاسونه په زمكه اووهے او بيا پوكے وركړے او په خپل مخ او دواړو ورغوو باندے ئے راخكاږے۔

تشريح : جَاءَ رَجُلٌ اِلٰى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ؓ : دا وينا د عبد الرحمن بن أبزیٰ ده، ابتداء د قصے هغه نقل كوي (كما في الصحيحين) او په دے باندے دليل لفظ د (فقال عمار لعمر) دے، نو دلته مصنف لره داسے وئيل پكار وو چه (عن عبد الرحمن بن أبزى قال : جاء رجل الخ) نه عن عمار،

فَلَمْ أُصِبِ الْمَاءَ : دا د اصابت نه ماخوذ دے په معنى د (لم اجد) سره دے، يعنے زه جنب شوے يم او اوبه نه بياموم۔ نو په دے حديث كښے د عمر فاروق ؓ جواب نه دے ذكر شوے چه سړي ته ئے څه جواب وركړو۔ او په روايت د مسلم (١٦١/١) كښے دي (لا تصل) يعنے د جنابت په حالت كښے مونځ مه كوه، ترڅو چه درته اوبه ملاؤ نشي، يا دا چه كله دے سړي تپوس اوكړو، نو عمر فاروق ؓ په دے مسئله كښے غلے شو۔ وجه داده چه د هغه په ذهن كښے دجنب دپاره تيمم نه وو، نو عمار ؓ تول واقعه ذكر كړه، دے دپاره چه عمر فاروق ؓ ته دا خبره راياده كړي چه د جنب شخص دپاره هم تيمم جائز دے۔

نو غرض د عمار ؓ رد كول دي په عمر فاروق ؓ باندے چه ولے غلے شوے، يا ولے غلطه

فتوی ورکوے خپله واقعه رایاده کړه. لیکن عمر فاروقؓ ته هغه واقعه هیره شوے وه، ځکه ترے انکار کوی. چه ماته دا نه دی یاد، اودا نظریه ئے جوړه شوے وه چه تیمم صرف قائم مقام او نائب د اوداسه دے، نه د غسل. لیکن د دوئ دا خبره د مرفوع احادیثو موافق نه ده. دے وجے نه عام صحابه کرامؓ دده موافق نه دی.

صرف عبد الله بن مسعودؓ. چه دده هم دا اجتهاد وو، او مرفوع حدیث ورسره نه وو. او دا مسئله قرآن کښے هم صَرَاحَةً راغلے ده ﴿ فلم تجدوا ماء فتیمموا صعیدا طیبا ﴾ لیکن ددے دواړو صحابوؓ ذهن پدے باب کښے بند شوے وو، دے وجے نه مسلم (١٦١/١) کښے راځی، شقیق فرمائی : زما په مخکښے ابو موسی اشعریؓ او عبد الله بن مسعودؓ مناظره شروع کړه، ابو موسیؓ اوفرمائیل : یو سړے جُنب شی او یو میاشت پورے اوبه نه مومی دابه د مانځه سره څه کوی ؟ عبد الله بن مسعودؓ اوفرمائیل : (لا یتیمم وان لم یجد الماء شهرا) مونځ به نه کوی اګرچه یو میاشت پورے اوبه نه مومی. ابو موسیؓ ورته اوفرمائیل : د سورت نساء دے آیت سره به څه کوے ﴿ فلم تجدوا ماء فتیمموا صعیدا طیبا ﴾ ؟ نو عبد الله بن مسعودؓ ئے خاموش کړو.

بیا ابن مسعودؓ د خپل قول توجیه ذکر کړه چه که خلقو ته رخصت ورکړے شی په دے آیت سره نو نزدے ده چه په خلقو به اوبه یخے لګی نو په تیمم به رامنده کوی. نو ځان ته به رخصت پیدا کړی او په حرامو کښے به واقع شی (یعنی ابن مسعودؓ فرمائی : مونږ دا منع د احتیاط په وجه کوو).

نو دے نه دا معلومه شوه چه خرافین چه دا خبره کوی چه د مجتهدینو هره خبره حقه ده – دا غلطه ده. د مجتهد هره خبره حقه نه وی، بعضے مسئلے ئے خطاء هم وی، لکه د صحابه کرامو ؓ په اجتهاد کښے هم بعضے مسائل د مرفوع حدیث خلاف راغلی دی، لکه دلته د عمر فاروقؓ او عبد الله بن مسعودؓ قول د اجماع د صحابهؓ او د قرآن او مرفوع احادیثو موافق نه دے. اګرکه په دے باندے د مجتهد او صحابیؓ په شان او مرتبه کښے څه نقصان نه راځی. مجتهد له الله تعالی په خطاء کیدو باندے هم یو اجر ورکوی. لکه چه دا په حدیث کښے راغلی دی (وان اخطأ فله اجر واحد) لیکن د نور امت دا ذمه واری ده چه

هغوی به دده په دې خطاء خبره کښې تابعداری نه کوی، بلکه د مرفوع حدیث او آیت تابعداری به کوی. لکه دا منهج د سلفو صالحینو" دې.

فَتَمَعَّكْتُ : تمعك ارغښتلو او ارغړېدلو ته وائی یعنې زه په خاورو کښې اورغښتلم. بل روایت د مسلم (۱/۱٦۱) کښې دی (کما تمرغ الدابة) لکه حیوان چه په خاورو کښې رغړی. عمار" ولې رغښتې دې ؟ وجه داده چه ده صرف د تیمم آیت آوریدلې وو چه اوبه نه وی نو تیمم وهل دی، خو د نبی ﷺ نه ئې طریقه نه وه زده کړې، نو په خپل اجتهاد ئې دا کار اوکړو، او دا قیاس ئې اوکړو چه په غسل د جنابت کښې خو ټول بدن وینځل دی، نو په تیمم کښې به ټول اندامونو ته خاورې رسول ضروری وی. قیاس کله کله انسان خطاء کوی، لکه روستو به راشی چه په تیمم کښې استیعاب شرط نه دې.

او احناف صاحبان وائی : استیعاب ضروری دې، وائی ځکه چه دا قیاس دې په اوداسه باندې چه په اوداسه کښې ټول اندامونه وینځل شرط دی، نو په تیمم کښې به هم ضروری وی. نو ټول مخ او ټول لاسونه تر څنګلو پورې په خاورو ککړ کول ضروری دی، چه هیڅ ځائې درنه هم پې مسح پاتې نشی او په دې کښې سختی کوی.

لیکن دا **قیاس** ددوئ غلط دې، وجه داده چه بیا د سر مسح په اودس کښې شته نو پکار ده چه دلته په تیمم کښې هم په سر باندې مسح اوکړې، هلته اودس کښې د خپو وینځل ضروری دی، نو بیا دلته هم په خپو مسح کول پکار دی. حال دا چه د خپو مسح او د سر مسح په تیمم کښې نشته. معلومه شوه چه په استیعاب کښې تیمم په اودس قیاس کول درست نه دی.

دارنګه تیمم خو د غسل خلیفه هم دې نو بیا پکار ده چه ټول بدن په خاوره ککړ کړی او حال دا چه دا هیڅوك هم جائز نه ګڼړی نو معلومیږی چه استیعاب په تیمم کښې ضروری ندې او قیاس د تیمم په اودس باندې صحیح ندې.

بیا په دې حدیث کښې طریقه او کیفیت د تیمم ذکر دې. او دا چه دا د جنابت دپاره هم وهلې شی. دلته عمار" ته د تیمم حکم او کیفیت نه دې معلوم نو نبی ﷺ ورته بیان کوی. او دا اصولی قاعده ده چه (تاخیر البیان عن موضع الحاجة لا یجوز)، او عمار"

مسئلې ته محتاج دې. او نبي ﷺ ورته همدغه كيفيت او خودلو. نو معلومه شوه چه صحيح كيفيت د تيمم همدغه دې. نو د شيخ نوويؒ د نورو علماؤ د طرفنه دا توجيه صحيح نه ده چه وائي : دلته مقصود د نبي ﷺ صرف دا وو چه دا ورته اوښائي چه په خاورو باندې به څنګه لاس وهې. د هغې كيفيت ورته ښائي چه خاورو كښې د رغښتلو ضرورت نشته بلكه خاوره باندې لاس اووهه. دا مقصد نه دې چه ټول كيفيت د تيمم ورته بيانوي. په دې وجه عمارؓ هم په روايت كښې صرف يو كرت ضربه بطور تعليم ذكر كړو (شرح مسلم : ١٦٠/١).

نو دا اخيره خطاء ده څكه چه نبي ﷺ ورته پوره طريقه ولې نه خودله ؟ سره ددې نه چه دا مقام د بيان دې، او عمار رضي الله عنه هم د تيمم پوره كيفيت زده كولو ته محتاج دې ؟ نو دا حديث ولې د نيم كيفيت پورې خاص كړې شي ؟ بلكه په دې حديث كښې چه كوم كيفيت او طريقه د تيمم راغلې ده، همدا صحيح طريقه ده. بله دا چه دلته ورسره بيا وجه (مخ) او كفين (ورغوي) ولې ذكر كوي ؟ معلوميږي چه پوره كافي طريقه ورته بيانوي څكه وائي (انما يكفيك الخ).

﴿ كيفية التيمم ﴾ : د تيمم په طريقه كښې اختلاف دې :

١ - **اول كيفيت** : امام ابو حنيفهؒ، امام مالكؒ، امام شافعيؒ، سفيان ثوريؒ، شعبيؒ، سالم بن عبد اللهؒ، على بن أبى طالبؓ، حسن بصريؒ مذهب دادې چه تيمم دوه ضربه دي، يوه ضربه د مخ دپاره، او دويمه ضربه ده د لاسونو دپاره تر مرفقينو (څنګلو) پورې. امام مالكؒ فرمائي : څنګلو پورې مستحب ده او رسغينو (ورغوو) پورې واجب ده. (نووي : ١٦٠/١).

دليل : ددې قول والاؤ سره صحيح مرفوع حديث نشته، او كوم مرفوع روايت د جابر كښې چه دا دي : التيمم ضربة للوجه وضربه للذراعين الى المرفقين). الحاكم (١٨٠/١ - رقم ٦٣٨) دارقطني (١٨١/١ - رقم ٦٨٠) نصب الراية (١٥١/١).

ددې په سند كښې متكلم فيه راوي عثمان بن محمد بن الانماطي دې. حافظ ذهبيؒ فرمائي : شيخ فيه لين. المغني (٥٠/٢ - رقم ٤٠٦٠) حافظ عسقلاني فرمائي : مقبول

يعنى عند المتابعة تقريب التهذيب (١٤/٢)۔
٢- دويمه وجه دا ده : چه پدے كښے ابو الزبير محمد بن مسلم بن تدرس دے، صدوق الا انه يدلس. تقريب التهذيب (١٣٣/٢) ۔ نو ابو الزبير مدلس دے او پدے روايت كښ ئے عنعنه هم كړيده۔ زيلعیؒ په نصب الرايه (٣٤/٢) كښ د امام نوویؒ نه نقل كړى : المدلس اذا عنعن لايحتج به بالاتفاق آه۔ يعنى مدلس چه كله عنعنه (په عن سره روايت) اوكړى نو دا بالاتفاق قابل قبول نه وى۔ نو دا روايت ضعيف شو۔
٣- دريم دا چه دا روايت شاذ هم دے ځكه ابونعيم دا روايت د عزره بن ثابت نه موقوفا نقل كړيدے او همدا (موقوف كيدل) ئے صحيح دى لكه دا خبره دارقطنى هم كړيده۔ (والصواب انه موقوف) كما فى التلخيص (١٢٥) نو دا موقوف روايت دے او رفع ئے صحيح نه ده۔
او مرفوع روايت د عائشه كښ هم ضعف دے رواه البزار۔ په هغے كښ الحريش بن الخريت راوى دے۔ ابوحاتمؒ او ابوزرعهؒ او امام بخاریؒ ورته ضعيف وئيلے دے۔ (مجمع الزوائد (٥٩١/١) رقم (١٤١٨) والمغنى فى الضعفاء (٢٤١/١) رقم (١٣٥٩)۔
او مرفوع روايت د عبد الله بن عمرؓ نه ضعيف جدّاً دے۔ ټول سندو نه ئے ضعيف دى : اخرجه الحاكم فى المستدرك (١٧٩/١- رقم ٦٣٤) قال الذهبى فى التلخيص فى سنده على بن ظبيان واه، قال ابن معين ليس بشئ وقال النسائى ليس بثقة التحقيق لابن الجوزى (٢٣٥/١)۔
٤- نصب الرايه (١٥٣/١) كښ بل روايت د جابرؓ راوړيدے د حاكم نه خو هغے كښ ابوالزبير مدلس راوى دے، عنعنه ئے كړيده اګرچه زيلعى ورته صحيح وئيلے دے مګر ضعيف دے۔ باقى روايات ټول ضعيف دى۔
البته صحيح موقوف روايات پدے طريقه كښ ثابت دى د عبد الله بن عمرؓ او جابرؓ نه (عن مالك عن نافع انه اقبل عبد الله بن عمر من الجرف حتى اذا كان بالمربد نزل عبد الله فتيمم صعيدا طيبا فمسح بوجهه ويديه الى المرفقين ثم صلى۔ اخرجه مالك فى الموطا (٤١/١- ٤٢) فهذا موقوف صحيح كما فى التلخيص الحبير (١٤٥/١)۔

یعنی ابن عمرؓ دجرف علاقے نه را روان وو کله چه مربد علاقے ته اورسیدو کوز شو او په پاکه خاوره ئے تیمم اووهلو او مسح ئے اوکړه په مخ او لاسونو تر څنګلو پورے بیا ئے مونځ اوکړو۔ نو دا طریقه صرف په درجه د جواز کښ ده چه ترڅنګلو پورے تیمم اووهلے شی۔

۲ - **دویم کیفیت** : اودا ډیر صحیح او راجح کیفیت دے۔ امام بخاریؒ، امام احمد بن حنبلؒ، امام اسحقؒ، امام اوزاعیؒ، عطاءؒ، مکحولؒ، ابن المنذرؒ، شعبیؒ، بعض اهل ظاهرؒ او عام اهل الحدیث مذهب دے (نووی : ۱/۱٦۰)۔

او امام احمدؒ فرمائی : زه ددے نه علاوه بل کیفیت نه پیژنم :

او هغه دا چه یوه ضربه ده، د مخ او مړوندو پورے لاسونو دپاره۔ اول به ئے په مخ راکاږی او بیا به ئے په لاسونو باندے۔ اګرکه دا ترتیب د مخ او لاسونو ترمینځ واجب نه دے۔

کما فی فتح الباری (۱/۳٦۳) و سبل السلام (۱/۱۹٦)۔

په بعض روایاتو د بخاری کښ د لاسونو مسح مخکښ ذکر شویده په مخ باندے او مسح د لاسونو عطف شویده په مسح د مخ باندے په ثم حرف عطف سره چه دلالت کوی په ترتیب مع التراخی باندے او اکثر روایاتو کښ مخ رومبے ذکر کیږی او لاسونه پرے عطف کیږی په واو سره چه تقاضا د ترتیب نه کوی۔ نو دواړه طریقے جائز دی۔ کما فی سبل السلام (۱/۱٤٥)۔

دلیل : حدیث د بخاری (۱/٤٨) او مسلم (۱/۱۲۱) دے په روایت د عمار بن یاسرؓ کښے دی (نبی ﷺ ده ته اوفرمائیل : تا دپاره دا کافی ده چه لاسونه په زمکه اووهے، او بیا ئے پو کړے او مخ لاسونه تر مړوندونو پورے مسح کړے (لکه دا طریقه عملی طور سره نبی ﷺ عمارؓ ته ښودلے ده)۔ الفاظ دادی :

(فضرب النبي ﷺ بكفيه الأرض ونفخ فيهما ثم مسح بهما وجهه و كفيه)۔

دا حدیث صریح دے او دا مقام د بیان دے، او دا طریقه ئے ورته اوخودله، نه بله نو دا دلیل د رجحان ددے طریقے دے او ددے سره پو کول هم مستحب دی۔

۳ - **دریم کیفیت** : دوه ضربے دی۔ اول د مخ، بیا د لاسونو تر مړوندونو دپاره۔ لکه په حدیث د عمار بن یاسرؓ کښے دی۔ (عن عمار بن یاسر : حین تیمموا مع رسول الله ﷺ

فامر المسلمين فضربوا باكفهم التراب ولم يقبضوا من التراب شيئا فمسحوا بوجوههم مسحة واحدة. ثم اعادوا فضربوا باكفهم الصعيد مرة اخرى فمسحوا بايديهم. وسنده صحيح كما فی ابن ماجة (١/٩٣) وابی داود رقم (٣٣٥-٣٤٢) وسيأتی فی الكتاب۔

نو پدے روایت کښې ضربتين ذکر دی او آخر کښې ايدی لفظ مجمل دے شامل دے ورغوو ته هم او څنګلو ته هم۔ ليکن ذکر د يد او مراد ترينه کف (ورغوے) دا حقيقت مشهوره دے لکه ﴿والسارق والسارقة فاقطعوا ايديهما﴾ کښې لاس صرف مړوندونو پورے باتفاق الامت مراد دے۔

٤ - **کيفيت** : امام زهری فرمائی : دوه ضربے دی، يوه د مخ، بله د لاسونو دپاره تر اوګو او ترخونو پورے۔ لکه دا د بعضے صحابو نه ثابت ده۔ نو دا موقوف روايات دی، مرفوعا دا طريقه نه ده ثابت۔ لکه دا د عمار په روايت کښې دی (فتيممنا الی المناکب والآباط) ليکن دا اجتهادی عمل دے، حديث ورته نه دے رسيدلے۔

کما فی الترمذی بشرح التحفة (١/١٣٦)۔

فيصله : ديوے ضربے والا احاديث په صحيحينو کښې راغلی دی، چه هغه بيشکه بے شبهے ډير صحيح او راجح دی د نورو کتابونو په حديثونو باندے۔

او احاديث او آثار د ضربتين په درجه د حَسَن کښې دی، ځکه په هر يو روايت کښې څه نه څه کلام او مقال ضرور شته۔ دا وجه ده چه علامه مبارکفوری په تحفة الأحوذی (١/١٣٥) کښې فرمائی :

(احاديث الضربتين والمرفقين ضعيفة او مختلفة فی الرفع والوقف. والراجح هو الوقف، ولم يصح من احاديث الباب سوی حديثين احدهما : حديث أبی جهيم بذكر اليدين مجملا، وثانيهما : حديث عمار بذكر ضربة واحدة والكفين، وهما حديثان صحيحان)۔

او دغه شان په السيل الجرار (١/١٣٣) کښې علامه شوکانی هم فرمائی : والحاصل ان جميع الاحاديث الصحيحة ليس فيهما الا ضربة واحدة للوجه والكفين فقط وجميع ما ورد فی الضربتين و كون المسح الی المرفقين لايخلو من ضعف يسقط به عن درجة الاعتبار ولا يصلح للعمل عليه حتی يقال انه مشتمل علی الزيادة والزيادة يجب قبولها. انتهی۔

او حافظ په فتح البارى (١/٣٥٢) كښې خلاصه د بحث بيان كړيده فرمائى : فان الاحاديث الواردة فى صفة التيمم لم يصح منها سوى حديث ابى جهيم وعمار وما عداهما فضعيف او مختلف فى رفعه ووقفه والراجح عدم رفعه. فاما حديث ابى جهيم فورد بذكر اليدين مجملا واما حديث عمار فورد بذكر الكفين فى الصحيحين وبذكر المرفقين فى السنن وفى رواية الى نصف الذراع وفى رواية الى الآباط فاما رواية المرفقين و كذا نصف الذراع ففيهما مقال واما رواية الآباط فقال الشافعى وغيره ان كان ذلك وقع بامر النبى ﷺ فكل تيمم صح للنبى ﷺ بعده فهو ناسخ له وان كان وقع بغير امره فالحجة فيما امر به. انتهى۔

ليكن مونږ وايو : ددې نه بعضې احاديث حسن درجه كښې ګرځى۔ نو دابه حمل شى په تنوع د عباداتو باندې۔ نو دا ټولې طريقې جائز دى۔ سيوا د آخرنۍ طريقې نه۔ خو ليكن دا طريقې مرجوحې دى۔ او دويمه طريقه چه (يوه ضربه الى الكفين) ده راجح ده۔ او په دې كښې احتياط دې۔ ځكه دا قوى متفق عليه ثابت ده۔ او ضربتين والا احاديث مختلف فيها دى۔ نو په دې كښې رد دې په بعضې احنافو باندې چه وائى : ضربتين باندې عمل كولو سره په ضربه واحده هم عمل راځى، او وائى چه په دې كښې احتياط دې۔ ليكن دا خطاء وائى۔ وجه د خطائى داده چه احتياط په هغه څيز كښې وى چه قوى اوصحيح ثابت وى، او هغه احاديث الضربة الواحدة دى۔ لكه دا ټول علماء منى چه احاديث د صحيحينو راجح دى په نورو احاديثو د باقى كتابونو باندې۔

دارنګه كومو علماؤ چه دا وئيلى دى (لكه طحاوى او عينىؒ) چه احاديث د عمارؓ مضطرب دى، نو دهغې جواب هم اوشو چه كوم روايت كښې صرف ضربه واحده اوكفين ذكر دى، هغه صحيح او قوى او باقى ضعيف دى۔ يا موقوف دى او موقوف معارض د مرفوع رواياتو نشى كيدې۔ فتدبر!

اوكوم روايت د عمار كښې چه اوږو پورې تيمم راغلې دې، نو حقيقت دادې چه په ابتداء د اسلام كښې چه حكم د تيمم راغلو نو طريقه لا نه وه بيانه شوې، نو عمارؓ په دې وجه په خپل اجتهاد سره په زمكه باندې رغښتې دې۔ بيا ورته نبى ﷺ بيان اوكړو، كما مرّ۔

دارنګه نورو صحابه كرامو په خپل اجتهاد سره تيمم الى المناكب والآباط كړيدې۔ دا

وجه ده چه روستو عمار بن ياسر رضى الله عنه صرف يوه طريقه بيانوى، چه هغه يوه ضربه اوكفين دى. كما فى الصحيحين. نو په همدے به عمل كولے شى، نه په نورو طريقو. لكه عمارؓ به د نبى ﷺ د وفات نه پس په همدے طريقه فتوىٰ وركوله. كما قال الشافعىؒ.

٢ - دويم جواب : امام شافعىؒ دا كړيدے چه كه اوګو پورے تيمم وهل د نبى ﷺ په امر ثابت وى او صحيح ثابت شى، نو بيا هم دا منسوخ دے په هغه طريقه چه د نبى ﷺ نه روستو ثابت دى. دابه ناسخ د هغه مخكنئ طريقے شى.

ګواه از خانه : علامه عبد الحى لكنوىؒ په سعايه (٥١٢/١) كښے فرمائى :

اقول : الأقوىٰ فيه من حيث الدليل : هو الاكتفاء بمسح اليدين الى الرسغين لما ثبت فى روايات حديث عمار الصحيحة : ان النبى ﷺ علمه كيفية التيمم، حين بلغه تمعكه فى التراب واكتفى فيه بمسح الوجه والكفين. انتهى بحوالة التحفة (١٣٥/١).

يعنے : د دليل په بناء په تيمم كښے صرف په يوه ضربه باندے دپاره د مخ او لاسونو تر مړوندو اكتفاء كول ډير زيات قوى قول دے.

ښه تشريح په تحفة الأحوذى كښے اوګوره چه ټول شبهات ئے رد كړيدى. او سعايه كښې علامه عبد الحى اللكهنوى پدے باب كښې اعتراضات نقل كړيدى او بيا ئے ډير ښه جوابات كړيدى كتل ئے پكار دى.

وكذا فى التحقيقات ص (٩٠) وفتاوى الدين الخالص (٤٢٠/٢).

تنبيه : په تيمم كښے استيعاب ضرورى نه دے، لكه چه بعضے خلق يو خاص كيفيت وركوى. چه درے ګوتے د ښى لاس په لاندے طرف د درے ګوتو د ګس لاس راكاږى تر څنګلو پورے. او بيائے بره طرفته آخر سرته رسوى الخ. دا طريقه په هيڅ حديث كښے نه ده ثابت، بلكه سنت ددے په خلاف باندے ثابت دے، كما فى حديث عمار هذا.

ايقاظ : بعض احناف لكه صاحب د شرح وقايه (٩٨/١) وائى چه كه غبار ګوتو مينځ ته داخل نشو نو دريمه ضربه به وهى (فيحتاج الى ضربة ثالثة لذلك) - او حاشيه كښې وائى چه دا قول د امام محمد هم دے. نو دا خبره خطاء ده، دين كښې زيادت دے، غلو فى

الدین ده دریے ضربے په هیڅ صحیح مرفوع او موقوف حدیث کښې نشته او استیعاب هم ضروری ندے۔

٤ – وَعَنْ أَبِی الْجُهَیْمِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ رضی الله عنه قَالَ : مَرَرْتُ عَلَى النَّبِیِّ ﷺ وَهُوَ یَبُولُ فَسَلَّمْتُ عَلَیْهِ فَلَمْ یَرُدَّ عَلَیَّ حَتّٰى قَامَ اِلٰى جِدَارٍ فَحَتَّهُ بِعَصًا كَانَتْ مَعَهُ ثُمَّ وَضَعَ یَدَیْهِ عَلَى الْجِدَارِ، فَمَسَحَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَیْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَیَّ). وَلَمْ أَجِدْ هٰذِهِ الرِّوَایَةَ فِی الصَّحِیْحَیْنِ وَلَا فِیْ كِتَابِ الْحُمَیْدِیِّ وَلٰكِنْ ذَكَرَهُ فِیْ شَرْحِ السُّنَّةِ وَقَالَ : هٰذَا حَدِیْثٌ حَسَنٌ.

ترجمه : ابو الجهیم بن حارث بن صمةؓ فرمائی : زه په نبی ﷺ باندے په داسے حالت کښې تیر شوم چه هغوئ تشے متیازے کولے، نو ما پرے سلام واچولو نو ماته ئے جواب را نه کړو، تردے چه دیوال ته اودریدو، هغه ئے په همسا را اوګرولو چه هغه سره وه، بیا ئے خپل دواړه لاسونه په دیوال کیخودل، او خپل مخ او دواړو لاسونو باندے ئے راخکل۔ بیا ئے ماته د سلام جواب راکړو۔ دا روایت ما نه په صحیحینو کښې اونه د حمیدیؒ په کتاب کښې بیاموندو، البته په شرح السنه کښې (امام بغویؒ) ذکرکړیدے او دیته ئے حسن وئیلی دی۔

تعارف : د ابو الجهیم رضی الله عنه :

دده نوم عبد الله دے، خو په کنیه (ابو الجهیم) باندے مشهور دے۔ دا د ابی بن کعبؓ خوریٔ او مشهور صحابی دے، د معاویهؓ د دور خلافت پورے ژوندے وو۔

تشریح : دا حدیث دلیل دے چه لاسونه په زمکه یا خاوره یالوته باندے کیخودل کافی دی، او وهل د هغے ضروری نه دی، ځکه دلته رسول الله ﷺ وضع الیدین (کیخودل د لاسونو) کړیدی۔ ٢ – دارنګه دلیل دے چه تیمم کښې یوه ضربه کول اولیٰ او راجح دی۔ خو دے روایت کښې ذراعین راغلل، نو د ذراعین نه مراد به کفین وی، ځکه چه حافظ ابن حجرؒ فرمائی : د ابو جهیم په صحیح او ثابت روایت کښې لفظ د (مسح یدیه) راغلے دے۔ (لکه په فصل ثالث کښې متفق علیه روایت راروان دے) نه د (ذراعیه) ځکه چه

د ذراعین روایت شاذ دے۔ ٢ – دارنګه په دے روایت کښے ابو الحویرث ضعیف راوی دے۔
٣ – او د الله ذکر په طهارت کښے افضل او بهتر دے۔ ٤ – هر وخت اوداسه کښے ګرځیدل د مؤمن صفت دے۔ (لا یحافظ علی الوضوء الا مؤمن)۔

درجة الحدیث : شرح السنه کښے دے حدیث ته حسن وئیلے شویدے۔ مګر دا خبره صحیح نه ده۔ بلکه دا حدیث ضعیف السند دے۔ وضعفه الالبانی۔ ځکه په دے کښے یو شیخ د امام شافعیؒ ابراهیم بن محمد بن ابی یحیی دے هغه د محدثینو په نیز ضعیف دے۔ او د ابراهیم استاذ چه ابو الحویرث دے هغه هم ضعیف متکلم فیه دے۔ دارنګه په مابین د اعرج او ابو الجهیم کښے انقطاع ده۔ عمیر راوی ساقط شویدے۔ لکه دا په روایت د بخاری کښے ذکر دی۔ واعله الحافظ فی الفتح (١/٤٤٢-٤٤٣) وقال الثابت فی حدیث ابی جهیم ایضا بلفظ یدیه لا ذراعیه فانها روایة شاذة)۔

لیکن معنیددے حدیث په صحیحینو کښے موجود ده۔ صرف په دے روایت کښے څلور زیادتے دی (١) یو ذراعین ذکر دی (٢) دویم : د الجدار زیادت دے (٣) او دیوال په همسا ګرول (٤) او سلام فی حالة البول زیادت دے۔ دا څلور زیادات په صحیحینو کښے نشته، نور باقی روایت موجود دے۔ لکه فصل ثالث کښے به راشی۔

الفصل الثانی - دویم فصل

٥ – عَنْ أَبِیْ ذَرٍّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (إِنَّ الصَّعِیْدَ الطَّیِّبَ وُضُوْءُ الْمُسْلِمِ وَإِنْ لَمْ یَجِدِ الْمَاءَ عَشْرَ سِنِیْنَ، فَإِذَا وَجَدَ الْمَاءَ فَلْیُمِسَّهُ بَشَرَهُ، فَإِنَّ ذٰلِکَ خَیْرٌ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِیُّ. وَرَوَی النَّسَائِیُّ نَحْوَهُ إِلٰی قَوْلِهٖ عَشْرَ سِنِیْنَ.

ترجمه : ابو ذرؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : پاکه خاوره د مسلمان دپاره پاکونکے ده اګرکه لسوکالو پورے اوبه بیانه مومی۔ خو کله ئے چه اوبه بیاموندے نو بدن پرے وینځل پکار دی ځکه دا بهتر دی۔ (احمد، ابوداود، ترمذی) او امام نسائیؒ ددے

پشان روايت ذكر كړيدے تر (لسو كالو) لفظ پورے۔

تشريح : ابوداود رقم (٣٣٣) كښے ددے حديث سره د ابوذر واقعه ذكر ده۔ دا فرمائی : رسول الله ﷺ ته څه ګډے بزے راجمع شوے نو ما ته ئے اوفرمائيل : اے ابوذرؓ دا څان سره چرته بانديے ته بوځه ! نو زه ريذے ته لاړم (بل روايت كښے دی چه زه د اوبو نه وړاندے اوم او ما سره زما اهل وو نو ما ته به جنابت رسيدلو او پنځه شپږ ورځو پورے به مے بغير د اوداسه نه مونځ كولو) نبی عليه السلام ته راغلم، دا خبره مے ورته عرض كړه نو هغه يوے تورے ښځے ته حكم اوكړو هغے په يوه كاسه كښ اوبه راوړے نو د اوبښ شاته شوم او غسل مے اوكړو (نو ګويا كښ ما د ځان نه غر ګوزار كړو) نو نبی عليه السلام راته دغه ارشاد اوفرمايلو : الصعيد الطيب الخ يعنی داسے حالت كښے اګر كه لسو كالو پورے اوبه نه وی نو ته تيمم وهلے شے۔ بيا د لسو كالو ذكر د تحديد دپاره نه دے صرف د فراخئ د حكم دپاره دے يعنی هر څومره موده چه اوبه نه وی نو تيمم د هغے په ځائے كار وركوی۔

وُضُوءُ الْمُسْلِمِ : تيمم ته ئے اودس ولے اووئيلو ؟ نو وجه دا ده چه دا تشبيه بليغه ده ادات د تشبيه حذف دی ای الصعيد الطيب كوضوء المسلم فی التطهير يعنی خاوره په هغه خاص طريقه استعمالول د مسلمان د اوداسه پشان دی چه پاكی راولی۔

٢- بعض وائی چه وضوء ئے مجازا ذكر كړيدے او مراد طهور دے ای الصعيد طهور المسلم يعنی خاوره مسلمان لره پاكونكے ده خو وضوء ئے ځكه ذكر كړو چه غالبا طهارت او پاكی په اوداسه سره حاصليږی۔ (مرقات)

فوائد الحديث : ١- دا حديث دليل دے چه تيمم طهارت مطلقه دے هر قسم مونځ پرے كول جائز دی (اذا لم يجد الماء عشر سنين) نه معلوميږی۔

٢- تيمم طهارت صغری اوكبرئ دواړو دپاره مشروع او جائز دے۔

٣- امام مالك او شافعیؒ وائی : كله چه وخت تير شی نو تيمم مات شو هر فرض مانځه ته به جدا جدا تيمم وهی۔ **استدلال** كوی په عمل د ابن عمرؓ باندے چه هغه به هر مانځه ته جدا تيمم وهلو۔ **جواب** : دا مستحب عمل دے خو واجب نه دے۔ ځكه د صحابیؓ په عمل باندے يو شے واجب كيږی نه ۔ او ابن عمرؓ خو به هر مانځه ته اودس هم

كولو، عملاً بالاستحباب. اصح داده چه يو تيمم تر هغه وخته پورې كار وركوى چه ترڅو بې اودسه نشي. لكه د اوداسه پشان حكم لري. اودا حديث پرې دليل دې چه تيمم ته وضوء المسلم وئيلې شويدې.

امام خطابى فرمائى : يحتج بهذا الحديث من يرى ان للمتيمم ان يجمع بتيممه بين صلوات ذوات عدد وهو مذهب اصحاب الحديث انتهى. مرعات (١/٢٢٨).

٤ – تيمم قائم مقام د اوداسه دې نو د هغه حكم اخلى، ترڅو چه دليل قائم نشي په خلاف ددې باندې.

٥ – د حديث شان ورود دا وو چه ابو ذرؓ عرض اوكړو : يا رسول الله ! زه په بانډه كښې اوسيږم او چه جنابت راته اورسى او اوبه نه وى نو څه به كوم ؟ نبى ﷺ ورته اوفرمائيل : تيمم وهه دا د غسل په ځائے كار وركوى.

نو دې نه يوه بله نادره مسئله معلومه شوه چه : يو سړے سفر كښې دے اوده ته يقينى معلومه ده چه اوبه نه ملاويږى نو آيا دا د خپلې ښځې سره جماع كولے شي اوكه نه ؟ نو اصح داده چه دے جماع كولے شي، او په تيمم به عمل كوى او دا حديث د ابو ذر پرې دليل دے. كما مر (شرح مسلم : ١/١٦٠). دغه شان حكم د هغه سړى دے چه د اوبو د استعمال نه عاجز وى د مرض د وجې نه، نو هغه له هم د جماع كولو اجازت شته دے، او په دې باره كښې آثار سنن كبرى (١/٢١٦) كښې امام بيهقيؒ راوړى دى.

٦ – يو شخص د جنابت يا د بې اودسئ دپاره تيمم اووهلو نو په مانځه كښې دننه اوبه ملاؤ شي نو اودس هم مات شو او مونځ هم مات شو. او اعاده به كوى. ځكه (فان ذلك خير لفظ دليل دے چه اوبه استعمالول خير دے او خلاف ددے شر دے.

نو په دغه اوبو به غسل يا اودس كوى بيا به مونځ كوى. اوكه مونځ ئے اوكړو روستو اوبه ملاؤ شوے نو اعاده د مانځه مستحب نه ده، لكه دا په حديث د ابوداود كښې راغلى دى، كما يأتى فى الكتاب. دوه كسانو په تيمم مونځ اوكړو بيا اوبه ملاؤ شوے، يو شخص اعاده اوكړه، او بل اونه كړه. نو نبى ﷺ هغه شخص ته اوفرمائيل چه اعاده ئے نه وه كړے : (اصبت السنة) تا په سنت طريقه عمل اوكړو.

٧ - د اوبو طلب کول او هغې پسې گرځیدل څومره حد لري ؟ نو حد دادې چه د مانځه وخت فوت نشي، تر هغه وختهٔ پورې به طلب کوي۔ یا که ملګري او قافله ترې تلله نو بیا هم تیمم وهل جواز لري، ځکه قرآن او حدیث کښې (لم یجد) لفظ دې چه اوبه موجودې نه وي، حتى الوسع۔ نو هله به تیمم وهي، وهذا مذهب البيهقيؒ ايضا (٢٣٣/١)۔
او ابن عمر رضي الله عنهما به درې میله کښې طلب نه کولو۔ رواه البيهقي في السنن الكبرى (٢٣٣/١)۔

نو احناف چه په فقه حنفي کښې دا لیکلي دي چه د یو میل پورې که اوبه نه وي نو تیمم به نه وهي بلکه طلب به کوي او که د یو میل نه زیاتې لرې وي نو بیا به تیمم وهي۔ دې خبرې باندې شرعي دلیل نشته، او تحدید او مقدار د څیزونو به شریعت بیانوي او شریعت کښې د میل خبره نشته۔

وَإِنْ لَمْ يَجِدِ الْمَاءَ عَشْرَ سِنِيْنَ : لس کاله موده د تحدید دپاره نه ده، بلکه د کثرت دپاره ده، یعنې که دومره طویل مدت پورې هم اوبه ملاؤ نشوې نو د غسل یا د اوداسه دپاره تیمم وهلې شي، او بیا چه کله دومره اوبه ملاؤ شي چه د غسل یا اودس دپاره کافي کیدې شي او د څکلو دضرورت نه زیاتې وي او دارنګه د هغې په استعمال باندې قادر هم وي نو غسل یا اودس کول پکار دي، په دې صورت کښې به تیمم کول جائز نه وي۔

درجة الحديث : رواه الترمذي (١٢٤) باسناد حسن صحيح وصححه الحاكم (١٧٦/١) وابن حبان وابو حاتم وابن القطان والدارقطني والذهبي والنووي وصحح سنده كل من الالباني ورمضان۔

---

٦ - وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ : خَرَجْنَا فِيْ سَفَرٍ فَأَصَابَ رَجُلًا مِنَّا حَجَرٌ فَشَجَّهُ فِيْ رَأْسِهِ فَاحْتَلَمَ فَسَأَلَ أَصْحَابَهُ : هَلْ تَجِدُوْنَ لِيْ رُخْصَةً فِي التَّيَمُّمِ ؟ قَالُوْا : مَا نَجِدُ لَكَ رُخْصَةً وَأَنْتَ تَقْدِرُ عَلَى الْمَاءِ، فَاغْتَسَلَ فَمَاتَ فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ ﷺ أُخْبِرَ بِذٰلِكَ، قَالَ : قَتَلُوْهُ قَتَلَهُمُ اللّٰهُ، أَلَّا سَأَلُوْا إِذْ لَمْ يَعْلَمُوْا، فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَالُ، إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيْهِ أَنْ يَتَيَمَّمَ وَيُعَصِّبَ عَلَى جُرْحِهِ خِرْقَةً ثُمَّ يَمْسَحَ عَلَيْهَا،

وَيَغْسِلَ سَائِرَ جَسَدِهِ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

٧- وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجه عَنْ عَطاءِ بْنِ أَبِيْ رَبَاحٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه :جابرؓ فرمائي : مونږ په يو سفر کښې اووتو نو مونږ کښې يو سړے په کاڼړی اولګیدو چه د هغه سرئے زخمی کړو (اتفاقی طور سره) هغه ته د لامبلو حاجت شو (محتلم شو) هغه د ملګرو نه تپوس اوکړو چه تاسو ماله د تیمم کولو رخصت بیا مومئ؟ هغوئ اووئیل : مونږ تا دپاره د تیمم رخصت نه بیامو مو په داسے حال کښې چه ته په اوبو باندے قادر ئے۔ نو هغه سړی غسل اوکړو اود (یخنئ نه) مړ شو۔ هر کله چه مونږ نبی ﷺ ته راغلو نو دا واقعه مو ورته بیان کړه۔ نبی ﷺ اوفرمائیل : خلقو هغه قتل کړو الله دے هغوئ قتل کړی (بیائے اوفرمائیل چه) هغوئ ته چه کومه خبره معلومه نه وه د هغے تپوس ئے ولے اونه کړو، څکه چه د ناپوهئ د بیمارئ علاج خو تپوس کول دی۔ هغه له خو دا کافی وه چه تیمم اوکړی او په خپل زخم باندے یوه ټوټه اوتړی او بیا په هغے باندے مسح اوکړی او باقی بدن اووینځی۔ (ابو داود) او ابن ماجه دا روایت د عطاء بن ابی رباح په واسطے سره د ابن عباسؓ نه نقل کړیدے۔

تعارف : د عطاء بن ابی رباح رحمه الله :

دده کنیه ابو محمد المکی ده قریشو کښې د بنو فهر آزاد کړده غلام دے اصل کښې دا د جند د مولدینو نه دے خو په مکه کښې لوئی شویدے او د مکے والو لوئی مفتی وو ثقه، فقیه، فاضل دے لیکن کثیر الارسال دے۔ عطاء د رنګ نه تور، شیړا (کاڼړے) وو، شل او ګډ وو او روستو ړوند شوے هم وو خو لوئی عالم کثیر الحدیث وو او د عبد الله بن زبیر په ملګرتیا کښې ئے لاس هم پریکړے شوے وو۔ ابن عباس به فرمائیل : یا اهل مكة تجتمعون الي وعندكم عطاء۔ ابو حنیفه فرمائی : ما رأيت فيمن لقيت افضل من عطاء ۔ په مکه کښې په سنه (١١٤) کښې د (٨٨) کالو په عمر باندے د رمضان په میاشت کښې وفات شویدے۔

تشریح : ۱ - ډیر کرت کم علمی او د مسئلے نه نا واقفتیا د یوے خطرناك مصیبت او واقعے سبب جوړ شی، لکه وئیلے شی چه (نیم طبیب خطره جان - نیمګړے مُلا خطره ئے ایمان) دلته هم کله چه دا شخص په سفر کښې جُنب شو او معذور شو او د خپل عذر په

باره کښې ئې د ملګرو نه تپوس اوکړو چه آیا په داسې حالت کښې چه زما سر زخمي دې او اوبه دې دپاره نقصان ده دی، نو د جنابت لرې کولو دپاره د غسل په ځائې تیمم وهلې شم اوکه نه؟ نو ملګری د مسئلې نه ناواقف وو، نو په مسئله کښې ئې تشدد اوکړو، او دا خیال ئې اوکړو چه ﴿فلم تجدوا ماء فتیمموا﴾ مطلب دادې چه تیمم به صرف په هغه وخت کښې جائز وی چه اوبه نه وی موجود، او دلته خو اوبه موجودې دی. نو دې سړی ته ئې فتویٰ ورکړه چه ستا دپاره بالکل تیمم کول جائز نه دی. حالانکه هغوئ په دې خبره نه پوهیدل چه د تیمم وهلو خو صرف یو صورت نه دې، بلکه (۱) کله چه اوبه نه وی. (۲) یا اوبه وی خو انسان ددې په استعمالولو باندې قادر نه وی (۳) یا قادر وی خو د هغې په استعمال سره د کوم نقصان او ضرر خدشه او خطره وی. نو په دې ټولو صورتونو کښې تیمم وهلې شی. نو هغه سړی ددې ملګرو په خبره اعتماد اوکړو او په همدې حالت کښې ئې غسل اوکړو، نتیجه داشوه چه اوبه د هغه په زخم کښې شدت پیدا کړو، او د یخنئ موسم وو نو د هغې په وجه وفات شو.

قَتَلُوْهُ : رسول الله ﷺ ته چه ددې واقعې خبر اوشو نو وې فرمائیل : دا سړې دوئ قتل کړو. د قتل نسبت ئې دوئ ته ځکه کړیدې چه دوئ غلطه فتویٰ ورکړه، او بې تحقیقه مسئله ئې بیان کړه، لیکن رسول الله ﷺ د دوئ نه قصاص او دیت وانخستلو. وجه داده چه دا کسان مفتیان وو، او په مفتی باندې دیت او قصاص نه وی، کله چه فتویٰ خطاء ورکړی. البته د بې تحقیقئ په وجه مستحق د ملامتیا او زجر اوتهدید وو. ځکه ورته نبی ﷺ زجرا ښیرې اوکړې (قتلهم الله).

۲ – **قَتَلَهُمُ اللهُ** : دا د نبی ﷺ ښیرې دی، او نبی ﷺ د الله تعالیٰ سره دا لوظ کړې وو، چه زه چا مسلمان ته ښیرې اوکړم نو دا به ته دهغه د پاکئ او د رحمت دپاره سبب ګرځوې.

۳ – **اَلَّا سَأَلُوْا اِذْ لَمْ يَعْلَمُوْا** : مقلدین ددې حدیث نه **استدلال** کوی په اثبات د تقلید باندې چه سوال تقلید دې، یعنې دې خلقو تقلید ولې نه کولو چه د عالمانو نه ئې دا مسئله زده کړې وې، بیا به ئې دې ملګری ته بیان کړې وې.

جواب : په دے حدیث کښے رد دے په تقلید باندے۔ وجه داده چه دغه صحابی ددے نورو ملګرو تقلید اوکړو، نو څکه مړهم شو۔ که ده د بل زیات پوهه عالم نه تپوس کړے وے او هغه ورته د تیمم فتویٰ ورکړے وے په دلیل سره، نو دا به ان شاء الله نه مړ کیدلے۔ او دوئ خو ورته د خپل ذهن خبره اوکړه (ما نجد لك) او آیت او حدیث ئے ورته بیان نه کړو۔ نو څکه نبی ﷺ په دوئ باندے رد اوکړو چه کله تاسو ته دلیل نه دے معلوم، نو ولے د خپل ذهن مطابق فتوی ورکوئ ؟ اودے صحابی ترے هم د دلیل مطالبه اونه کړه، نو په ځان باندے ئے زحمت راوستلو۔ دا د تقلید د وجے۔

٢ – دویم : په دے حدیث کښے دی (اذ لم یعلموا) یعنے کله چه په قرآن او سنت نه پوهیدلے نو هله به د بل عالم نه تپوس کوے، اوکله چه خپله قرآن او سنت باندے پوهیدلے نو تپوس ته ضرورت نشته۔ نو دا تپوس به د چانه کیږی ؟ ضرور د ژوندی نه کیږی، نو پکار ده چه دا سائل مقلد شی د ژوندی عالم، او مقلدین خو دعویٰ د امام صاحب د تقلید کوی۔ کوم چه دیارلس سوه کاله مخکښے تیر شویدے۔ نو مدعی یو څه ده او دلیل بل څه دے۔

٣ – دارنګه دا تپوس بیا خاص نه دے د یو عالم پورے، نو د هر جیّد عالم نه تپوس کیدے شی نو پکار ده چه تقلید د ډیرو خلقو اوکړے شی۔ او دوئ خو صرف د امام صاحبؒ پورے تقلید خاص کوی۔

٤ – دارنګه مونږ وایو : چه **سوال** تقلید نه دے بلکه دا تحقیق دے، او تحقیق باندے شریعت امر کړیدے څکه تقلید خو د یو سړی د رائے پسے روانیدلو ته وائی۔ او په سوال کښے د قرآن او سنت متعلق تپوس وی، لکه دے حدیث کښے هم دیته اشاره ده چه سوال به د هغه چانه کولے شی چه په قرآن او حدیث پوهه وی۔ ورنه نفس تپوس خو دے صحابی هم کړے وو، مګر هغه بے دلیله فتویٰ ورکړه۔ نو نبی ﷺ اوفرمائیل : داسے خلقو نه تپوس پکار دے چه دلیل د کتاب او سنت ورسره وی۔ د **تقلید** مسائل ټول **خرافات** او دجل او شیطانی وسوسے دی، چه قرآن او حدیث باندے د عمل کولو رکاوټ جوړوی۔

دا کوم عقل دے چه ټول دین د یو عالم پورے خاص کړے شی او په لکونو علماء

پريخودلے شي !! بيا اهل الحديث ته وائي چه دوئ امامان نه مني، حال دا چه د اسلام په بيشماره علماؤ کښے صرف يو امام راتينګول او نور پريخودل هيڅ د انصاف خبره نه ده۔ او ددے نورو تولو امامانو نه منل دي۔

شايد چه د احنافو په نيز به د امامانو منل دا وي چه د يو امام نه علاوه نورو تولو ته د هغوئ د هرے خبرے جواب ورکړے شي، اوکه هغوئ صحيح خبره هم کوي خو چه د دوئ د امام نه خلاف وي نو د هغے جواب ته کلك ولاړ وي !!

فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّوَّالُ : عِيّ په کسره د عين او تشديد د ياء سره چاړاتوب او تحير في الکلام ته وائي، لسان العرب کښے دي چه (العِيّ هو الجهل) معنیٰ ئے داده چه د جهالت شفاء تپوس کول دي۔ يعنے جهل يوه بيماري ده او ددے شفاء په تپوس او تعلم سره حاصليږي۔

اِنَّمَا كَانَ يَكْفِيْهِ : ددے ځائے نه روسته الفاظ صحيح حديث کښے نه دي ثابت (انما شفاء العي) پورے حديث صحيح دے۔ وجه دا ده چه دا حديث دوه سندونه لري کوم چه صحيح سند دے نو هغے کښې دا روستني الفاظ نشته او کوم چه ضعيف سند دے هغے کښې دا الفاظ شته۔ نو (انما كان يكفيه) نه روستو حديث ضعيف دے۔ په دے کښے زبير بن خريق ضعيف الحديث راوي دے، او په دے روايت کښے متفرد هم دے۔ اوزاعیؒ دده نه مخالف راوړيدے . قال الدارقطني وليس بالقوي۔ انظر المرعاة (٢/٢٣٠) والتعليق المغني (١/١٩٠) والارواء (١/١٤٢)۔

نو په دے الفاظو کښے مسئله داده چه جمع بين الغسل والتيمم والجبيرة څنګه ده؟ لکه چه دا د امام شافعیؒ مذهب دے، چه که په اوبو باندے قادر وي، نو باقي بدن به وينځي او په جبيره باندے به مسح کوي۔ اوکه قادر نه وي نو تيمم به وهي، او مسح على الجبيره به هم اوکړي۔ ٢ - جمهور وائي : جمع بين الغسل والتيمم نشته۔

١ - **دليل** : رسول الله ﷺ امت ته نه ده ښودلے۔

٢ - عقلي دليل : جمع بين المبدل والمبدل منه راځي او دا ناجائز ده۔ ليکن اول دليل قوي دے۔ او دا حديث ضعيف السند دے، كما عرفت...... **صحيح** مسئله داده چه : كه

غسل کولے شي نو غسل به اوکړي، اوپه پټئ باندے به مسح اوکړي، اوکه په غسل کولو باندے قادر نه وي نو تیمم به اووهي او په پټئ باندے مسح کول نشته۔

فرع : فی المسائل الخارجیة :

یو سړے د جنابت په حالت کښے دے او دومره اوبه ورسره وي چه صرف اودس پرے کیږي، نه غسل۔ نو آیا دابه تیمم او اودس دواړه جمع کوي اوکه نه ؟

١ – احناف وائي : دواړه به نه جمع کوي، ځکه بیا جمع بین البدل والمبدل منه لازمیږي۔

٢ – لیکن تحقیقي قول د حنابله، شوافعو او محدثینو دے چه دواړه به جمع کوي۔

١ – **دلیل** : عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه وئیلي دي چه زه په سفر کښے جنب شوم نو اودس او تیمم دواړه مے اوکړل او امامتي مے ورکړه، ملګرو راباندے اعتراض اوکړو، نو نبي ﷺ ته راغلم، دا قصه مے ورته ذکر کړه، نو هغه اوخاندل۔ نو دا تقریري سنت شو۔ (رواه ابوداود رقم (٣٣٥) والدارقطني (١٧٨/١) مع التعلیق المغني۔

٢ – دویم : په اوداسه سره تخفیف په جنابت کښے راځي، دا وجه ده چه د جنابت په حالت کښے خوب کونکي ته د اوادسه کولو حکم شویدے، دے دپاره چه تخفیف د جنابت راشي، فهو نور علی نور۔

٢ – **دویمه مسئله** : یو سړي سره دومره اوبه دي چه یو لاس یا مخ وغیره دپاره کافي کیږي، او مکمل اودس پرے نه کیږي نو څه به کوي ؟۔

١ – نو د صالح العثیمین فتوی داده چه تیمم او اوبه دواړه به جمع کوي۔ ځکه قرآن کریم کښے دي ﴿ فاتقوا الله ما استطعتم ﴾ او دده دومره استطاعت دے۔ او حدیث کښے دي (اذا امرتکم بامر فأتوا منه ما استطعتم) متفق علیه: نو که بعض اندامونه اووینځي او اوبه ختمے شي نو دا دده استطاعت دے، د الله نه په دے اندازه اوویریدلو۔ لکه دا خبره په المحلی (٢٦١/١) کښے هم ذکر شویده او علامه المجد ابن تیمیه او علامه شوکاني په نیل الاوطار (٣٢٩/١) کښے راجح کړیدے۔

٢ – **تحقیقي قول**: دادے چه جمع نشته، صرف تیمم به وهي، ځکه دده ته مستطیع

نشي وئيلې، بلکه استطاعت هله وي چه کله مکمل اندامونه وينځلې شي، ځکه چه اودس تـول يو عمل دے، ځکه ﴿فلم تجدوا ماء﴾ کښې ماء مطلق دی، او صَرف ئے کامل ته کيږي. او کامله اوبه هغه دی چه اندامونه پرے پوره طور اووينځلې شي. (کما في المختارات الحلية : ١/٣٣) لناصر السعدیؒ.

٣ - دريمه مسئله : په جبيره (پټۍ) باندے مسح کول واجب دی که نه؟ په دے کښې اختلاف دے :١ - ائمهِ اربعه فرمائي : مسح على الجبيره واجب ده.

دلائل د وجوب دادي : ١ - يو دا حديث الباب دے. ليکن دا ضعيف دے.

٢ - دويم حديث د ابن ماجه (١/٢١٥) کښې د عليؓ نه نقل دي چه دا فرمائي : ما ته نبي ﷺ حکم اوکړو چه مسح په پټۍ باندے اوکړه (فامرني ان امسح على الجبائر). ليکن دا روايت هم واهي او ضعيف جدا دے. (بلوغ المرام) کښې حافظ راوړيدے (وقال رواه ابن ماجة بسند واه جدا)، امام صنعانيؒ په سبل السلام (١/١٥١) کښې فرمائي : په دے کښې عمرو بن خالد الواسطي کذاب راوی دے. ابن ابي حاتمؒ ورته بے اصله باطل حديث وئيلې دے. قال النوويؒ : اتفق الحفاظ على ضعف هذا الحديث.

٣ - د عبد الله بن عمرؓ نه مرفوعا نقل دی. (ان النبي ﷺ كان يمسح على الجبائر) (اخرجه الدارقطني : ١/٢٢٦) - ليکن په دے کښې ابو عمارہ ضعيف جداً راوی دے، کما قال الدارقطني. دا مرفوعا صحيح نه دے. ليکن بيهقي (١/٢٢٨) فرمائي : دا د ابن عمرؓ نه صحيح دے موقوفا عليه.

٤ - عقلي دليل : د پټۍ ځائے وينځل واجب دی، نو مسح د دے په ځائے قائم مقام ده، نو هغه هم واجب ده.

٢ - امام ابن حزم ظاهریؒ او اهل حديثؒ فرمائي : مسح على الجبيره مباح ده. او واجب نه ده. ځکه واجب حکم کول د واجبو پشان قوي دليل غواړي. او په دے باره کښې هيڅ قوي صحيح مرفوع حديث نشته. نو په زوره په ځان يو شے ولے فرض کړو؟ او حال دا چه دا الله رسول نه دی فرمائيلې.

٢ - دليل : د ځائے وينځل ساقط دی. د وجے د عذر نه. نو مسح على الجبيره هم

ساقط ده۔ او قياس ده په تيمم باندے۔ چه هلته ساقط ده۔ نو دلته هم ساقط ده۔
٣ - زمونږ په نيز **راجح** داده چه: په پټو باندے مسح کول افضل او مستحب دی۔ ځکه د ابن عمرؓ نه موقوفا صحيح حديث ثابت دے۔ اګرچه مرفوع احاديث په کښے ضعيف دی۔ اوقياس په تيمم باندے صحيح نه دے۔ ځکه چه عباداتو کښے قياس کول منع دی۔ ځکه دارو مدار د عباداتو په توقيف باندے دے۔

٤ - المسئلة الرابعة :

مسح على الخفين او مسح على الجبيره کښے څه فرق دے ؟

نو دا يو څو فرقونه دی : ١ - مسح على الخفين دپاره معينه موده ده۔ او مسح على الجبيره دپاره موده معين مقرر نه ده۔ ٢ - جبيره په يو مخصوص اندام پورے خاص نه ده۔ او مسح على الخفين په يو اندام پورے خاص ده چه هغه خپے دی۔
٣ - مسح على الخفين کښے دا شرط دے چه په طهارت به ئے اچولی وی۔ او په جبيره کښے د مخکښے نه طهارت شرط نه دے۔ د وجے د حرج نه۔
٤ - جبيره باندے مسح په حدث اصغر او اکبر دواړو کښے جائز ده۔ او مسح على الخفين صرف په حدث اصغر کښے کولے شی۔ نه په حدث اکبر (جنابت) کښے۔ د اشروط په احاديثو کښے ذکر شوی دی۔ والحديث اسناده ضعيف كما مر فی تفصيل المسئلة.

---

٨ - وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ : خَرَجَ رَجُلَانِ فِيْ سَفَرٍ فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ وَلَيْسَ مَعَهُمَا مَاءٌ فَتَيَمَّمَا صَعِيْدًا طَيِّبًا، فَصَلَّيَا ثُمَّ وَجَدَا الْمَاءَ فِي الْوَقْتِ، فَأَعَادَ أَحَدُهُمَا الصَّلَاةَ بِوُضُوْءٍ، وَلَمْ يُعِدِ الْآخَرُ، ثُمَّ أَتَيَا رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَذَكَرَا ذٰلِكَ، فَقَالَ لِلَّذِيْ لَمْ يُعِدْ : أَصَبْتَ السُّنَّةَ وَأَجْزَأَتْكَ صَلَاتُكَ، وَقَالَ لِلَّذِيْ تَوَضَّأَ وَأَعَادَ : لَكَ الْأَجْرُ مَرَّتَيْنِ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ. وَرَوَى النَّسَائِيُّ نَحْوَهُ.

٩ – وَقَدْ رَوَى هُوَ وَأَبُودَاوُدَ أَيْضًا عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ مُرْسَلًا.

ترجمه : ابو سعید خدری﵁ فرمائی : دوه سړی په سفر روان شو (په لاره کښې) مونځ وخت شو خو هغوئ سره اوبه نه وے۔ دواړو پاکه خاوره باندے تیمم اوکړو، اومونځ ئے اوکړو (کله چه مخکښې لاړل) نو هغوئ اوبه بیاموندے اود مونځ وخت هم باقی وو۔ نو په دوئ کښې یو کس اودس کولو سره مونځ را اوګرځولو۔ او هغه بل مونځ را اونه ګرځولو۔ بیا دا دواړه رسول الله ﷺ ته راغلل اودواړو دا خبره ورته ذکر کړه۔ نو نبی ﷺ هغه کس ته چه هغه مونځ نه وو راګرځولے اوفرمائیل : ته سنت (طریقے) ته اورسیدے او مونځ دے کافی شو، او هغه بل کس ته چه اودس کولو سره ئے مونځ کړے وو اوفرمائیل : ستا دوه اجره اوشو۔ (ابوداود، دارمی) او نسائی ددے پشان روایت نقل کړیدے۔ او امام نسائی او ابوداود د عطاء بن یسار نه مرسلا نقل کړیدے۔

تعارف : د عطاء بن یسار رحمه الله :

دا ام المؤمنین میمونے رضی الله عنها آزاد کرده غلام دے ابومحمد الهلالی ئے کنیه ده د مدینے اوسیدونکے دے ثقه، فاضل، لوئی واعظ، او عبادت ګذار وو د صغار التابعین نه شمار دے دا په مدینه کښې د مشهور تابعینو نه حساب دے د عبد الله بن عباس نه زیات روایتونه نقل کوی اسکندریه کښې په سنه (٩٤) یا (٩٧) یا (١٠٣) د (٨٤) کالو په عمر وفات شویدے۔ رحمه الله۔

تشریح : په تیمم سره چه کوم مونځ اداء شو نو هغه صحیح دے او د مونځ کولو نه روستو که اوبه ملاؤ شی نو د مونځ راګرځولو ضرورت نشته۔ او همدا د سنت موافق مسئله ده۔لکه چه مخکښې هم تیره شوه۔

فَصَلَّيَا : دلته یو څو صورتونه دی (١) یو سړی تیمم اووهلو، مونځ ئے لا شروع کړے نه دے چه اوبه پیدا شوے۔ نو عند الجمهور تیمم فاسد شو، ځکه اصل موجود شو نو فرع (تیمم) ته ضرورت نشته۔

٢ – داؤد ظاهری﵀ وائی : تیمم نه دے فاسد ځکه دا عمل باطلول دی ﴿ ولا تبطلوا اعمالکم ﴾ سره منع شویده۔ لیکن اصح داده چه اصل (اوبه) موجود شو نو خلف (تیمم)

ته ضرورت پاتې نشو۔ ځکه دا عند الضرورت وو، کله چه ضرورت ختم شو نو تيمم هم ختم شو۔ او دا بطلان د عمل نه دے، بلکه اصل ته رجوع کول دی۔

(٢) **دويم صورت** : مونځ کښې داخل شو او اوبه ورته ملاؤ شوے۔ نو :

١ - عند الجمهور مونځ دے پوره کړی (٢) امام ابو حنيفهؒ او امام مالكؒ وائی : مونځ او تيمم باطل دے۔ او اعاده به کوی به د مانځه په اوداسه سره۔ او دا راجح قول دے۔ ځکه قرآن کښې ﴿ فلم تجدوا ماء ﴾ دے او دلته اوبه نه وے موجود، بيا پيدا شوے نو دا عادم د اوبو نه دے۔ بلکه واجد د اوبو دے۔ ٢ - مخکښې حديث د ابو ذرؓ کښې تير شو (فاذا وجد الماء فليتق الله وليمس بشرته) نو دلته اوبه پيدا شوے نو اوس حکم دے چه اودس به کوی۔ قال الشوکانی وهو استدلال صحيح۔ النيل (١/٢٣٧)۔

٣ - **دريم صورت** : دادے چه مونځ ئے په تيمم باندے خلاص کړو، بيا روسته د مانځه نه اوبه پيدا شوے۔ نو د جمهورو او ائمه اربعه په نيز به مونځ نه راګرځوی۔ او مستحب هم نه ده چه راوے ګرځوی۔

٢ - طاوسؒ، عطاء، مکحولؒ، ابن سيرينؒ، زهریؒ، او ربيعهؒ وائی : مونځ به ځکه راګرځوی چه په وخت کښې ورته اوبه ملاؤ شوے۔ ليکن د دوئ قول ددے حديث خلاف دے، ځکه دلته مونځ نه راګرزونکی ته (اصبت السنة) وئيلے شويدے۔

سوال : دادے چه ددے حديث نه خو دا معلومه شوه چه کوم شخص مونځ را اوګرځولو نو د هغه دوه اجره دی، او ته وائے چه دا مستحب هم نه دے۔ ددے څه وجه ده ؟

جواب : ددے وجه داده چه دا شخص په دے مسئله باندے نه پو هيدلو چه اعاده کول ضروری نه دی، او دا سنت نه دی، بلکه سنت داده چه اعاده اونه کړے شی۔ نو اجتهاد سره ئے داسے عمل اوکړو، نو ځکه ورته دوه اجره ملاويږی۔ اوکله چه تاته پته اولګيده چه سنت عمل دادے چه اعاده به نه کوے (اصبت السنة) او بيا هم ته سره د علم نه ددے خلاف کوے نو ته مبتدع ئے، اجر لا څه چه د عذاب مستحق ئے۔

او دا **دليل** دے ددے خبرے چه ډير عمل لره اعتبار نشته بلکه د سنتو تابعداریٔ له اعتبار دے، لکه يو سړے د سحر سنت اوږده کوی په دے نيت چه دا وخت د فضيلت دے، او

دا ورته معلومه وي چه سنت داده چه مختصر اوکړے شي، نو دا شخص د سنتو مخالف دے، عمل ئے مردود دے۔

فَأَعَادَ أَحَدُهُمَا : دا اعاده دے صحابیؓ اوکړه د اجتهاد په بناء باندے۔ او په داسے مقام کښے اجتهاد کول واجب دی۔

لَکَ الْأَجْرُ مَرَّتَيْنِ : چاته چه داسے حديث معلوم شو نو د هغه دپاره اعاده کول نا جائز دی، ځکه ده ته سنت معلوم دے چه نه راګرځول سنت دی، اوکه بيا هم دے اعاده کوی تقليدا، نو دا حرام دی ځکه مونږ ته نص را اورسيدو، نو ددے په مقابله کښے به د عالم يا صحابي په اجتهاد باندے عمل نشي کيدے، سره د احترام د هغه نه۔ او پدے حديث کښے دا تاويل کول چه دے دوه سړو اوبه مونداے وے پس د وتلو د وخت نه – صحيح ندی ځکه چه دا د حديث ددے لفظ نه خلاف ده چه فوجدا الماء في الوقت۔ علاوه لکه دا چه پس د خروج الوقت نه که اوبه ملاو شی نو په طريق اولي به مونځ نه راګرځوی۔

درجة الحديث : رواه ابوداود (٣٣٨) والنسائي (١/٢١٣) والدارقطني (٢) والحاكم (١/١٧٩) والدارمي (١/١٩٠) وسنده ضعيف فيه عبد الله بن نافع الصائغ وهو ضعيف الحفظ، و روى النسائي وابوداود رواية عطاء بن يسار مرسلا لكن رواه ابن السكن بسند صحيح موصول عن عمرو بن الحارث وعميرة بن ابي ناجية وهما ثقتان فزيادة الثقة مقبولة وله شاهد من حديث ابن عباس عند اسحق بن راهوية في مسنده وذكره الالباني في صحيح ابي داود (٣٦٥) وصححه الحاكم وقال : هذا صحيح على شرط الشيخين. فاسناده صحيح۔

الفصل الثالث - دريم فصل

١٠ – عَنْ أَبِي الْجُهَيْمِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ رضي الله عنه قَالَ : أَقْبَلَ النَّبِيُّ ﷺ مِنْ نَحْوِ بِئْرِ جَمَلٍ فَلَقِيَهُ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ النَّبِيُّ ﷺ حَتّٰى أَقْبَلَ عَلَى الْجِدَارِ، فَمَسَحَ بِوَجْهِهٖ وَيَدَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو جهيم بن حارث بن صمهؓ فرمائي : نبی ﷺ د جمل کوهی د طرفنه مخامخ راغے نو (په لاره کښے) ورسره يو سړے ملاؤ شو او سلام ئے ورته اوکړو، خو نبي

ﷺ ورلـه جـواب ورنه كړو، تردې چه نبي ﷺ ديوال ته متوجه شو او (تيمم ئې اوكړو) مخ او لاسونه ئې مسح كړل بيائې ورته د سلام جواب وركړو۔ (بخاري، مسلم)۔

تشريح : د رجل نه مراد پخپله ابو الجهيم دے لكه په بل روايت د امام شافعي كښې ددے تصريح راغلے ده۔ چه په هغے داسے الفاظ دي فسلمت عليه۔

حَتّٰى اَقْبَلَ عَلَى الْجِدَارِ : بعضے علماؤ دے نه دا استدلال كړيدے چه په كاڼړو باندے هم تيمم وهلے كيږي اګرچه غبار پرے نه وي وجه دا ده چه د مدينے ديوالونه د تورو كاڼړو نه جوړ دي چه په هغے باندے خاوره نه حصاريږي۔ خو صاحب المرعات وائي : ظاهر دا ده چه د مدينے ديوالونه د خاورے نه جوړ دي يا كه د كاڼړو نه وي نو بيا هم احتمال شته چه نبي عليه السلام د كاڼړو مينځ كښے چه كومه خټه ده په هغے ئې تيمم وهلے وي ليكن اصح دا ده چه په ديوال باندے هم تيمم وهل جائز دي اګركه غبار پرے نه وي۔

---

١١ – وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ رضي الله عنه اَنَّهٗ كَانَ يُحَدِّثُ اَنَّهُمْ تَمَسَّحُوْا وَهُوَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ بِالصَّعِيْدِ لِصَلَاةِ الْفَجْرِ فَضَرَبُوْا بِاَكُفِّهِمُ الصَّعِيْدَ ثُمَّ مَسَحُوْا بِوُجُوْهِهِمْ مَسْحَةً وَاحِدَةً، ثُمَّ عَادُوْا فَضَرَبُوْا بِاَكُفِّهِمُ الصَّعِيْدَ مَرَّةً اُخْرٰى فَمَسَحُوْا بِاَيْدِيْهِمْ كُلِّهَا اِلَى الْمَنَاكِبِ وَالْآبَاطِ مِنْ بُطُوْنِ اَيْدِيْهِمْ . رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ.

ترجمه : عمار بن ياسرؓ نه روايت دے چه دے به دا خبره كوله چه يو ځو صحابهؓ د نبي ﷺ سره ملګري وو (داوبو نه موندلو په وجه) د سحر مونځ دپاره هغوئ پاكے خاورے باندے داسے تيمم اوكړو چه اول ئې خپل لاسونه خاوره باندے اووهل او په خپل مخونو ئې راخكل، بيائې په دويم ځل خپل لاسونه په خاوره اووهل او خپل ټول لاسونه تر اوګو او ترخونو پورے ئې مسح كړل د لاسونو د دننه طرف نه۔ (ابوداود)۔

تشريح : اِلَى الْمَنَاكِبِ وَالْآبَاطِ : مناكب جمع د منكب ده اوږے ته وائي او آباط جمع د إبط ده مذكر او مونث دواړو دپاره راځي۔ يعنے د اوږو او ترخونو پورے ئې مسح اوسوله۔ نو دے حديث كښے دوه ضربے راغلے سره د مسح د اوږو او ترخونو۔

خو مونږ دا مخکښې په کيفياتو د تيمم کښې ذکر کړل چه دا طريقه په ابتداء د اسلام کښې وه. لکه چه د اخبره زمونږ د مشائخو شيخ شاه محمد اسحق محدث دهلوئ هم ذکر کړيده چه دا د صحابو قياس وو، په ابتداء د اسلام کښې، مخکښې د بيان د نبی ﷺ نه. او پس د بيان نه هغوئ کيفيت التيمم او پيژندلو. كذا فی المرعاة (٢/٢٣٤). لکه اسحق بن راهويه هم فرمائی : چه عمار بن ياسر په دے حديث کښې دا نه دی وئيلی چه دا مونږ ته نبی ﷺ حکم کړے وو، بلکه دا د صحابو اجتهاد وو، او د نبی ﷺ نه تيمم د وجه او کفين راغلے دے. دا وجه ده عمار بن ياسر به پس د وفات د نبی ﷺ نه د تيمم کيفيت داسے خودلو چه (ضربة للوجه والكفين) كما مرّ فی حديثه. نو معلومه شوه چه دا روسته طريقه به معتبر او معمول بها وی.

حافظ ابن حجر په عبارت کښې تير شويدی چه د عمار دا عمل که په امر د نبی عليه السلام واقع وی نو هر تيمم چه د نبی عليه السلام نه په صحيح سند روستو ثابت شويدے، هغه به ناسخ وی د عمل د عمار دپاره او که بغير د امر د نبی نه ئے دا عمل کړے وی نو پدے کښې حجت نشته بلکه حجت د پيغمبر په امر کښې دے.

فتح البارى (١/٣٥٢) شرح السنة (٢/١١٤) کښې امام بغوی فرمائی : هذا حكاية فعلهم لم ينقله عن رسول الله ﷺ كما حكى عمار عن نفسه التمعك فى حال الجنابة فلما سأل النبى ﷺ وامره بالوجه والكفين انتهى اليه واعرض عن فعله.

درجة الحديث : اخرجه ابوداود (٣٢٠) اعله المنذر بالانقطاع لكن وصله النسائى (١/١٦٨) وغيره مختصرا وسنده صحيح ووصله ابوداود ايضا بتمامه وسنده صحيح ايضا. وصححه الالبانى وتبعه الشيخ رمضان.

* * * *

* * * * * *

باب الغسل المسنون

يعنې هغه غسلونه چه كول ئې سنت دي۔

مناسبت : بعضې د طهارتونو نه غسل كول دي، مخكښې قائم مقام او نائب د اوداسه او غسلِ واجب بيان شو، اوس غسل مستحب بيانوي۔ په دې باب كښې به اغسالِ مستحبه بيانيږي۔ مخكښې اغسالِ واجبه اوكيفيت د غسل ذكر شو۔

دا **اغسالِ مستحبه** په سنت مطهره كښې دولس (١٢) دي، او اجتهادي ډير دي تقريبا شپاړس غسلونه صاحب د نور الايضاح ذكر كړي دي۔ مراقي الفلاح (٢٥/١)۔

١ - **اول د مستحب** د غسلونو نه : الغسل للاحرام دې۔ لكه ترمذي (١٧١/١) او روستو مشكاة ص (٢٦٣) كښې به هم راشي۔ زيد بن ثابتؓ فرمائي : ما نبي ﷺ اوليدلو چه د احرام دپاره بربنډ شو او غسل ئې اوكړو۔ وسنده صحيح۔

٢ - مكې مكرمې ته د داخليدو په وخت غسل كول۔ ابن عمرؓ به په ذي طوىٰ مقام كښې شپه اوكړه او سحَر به ئې غسل او مونځ اوكړو او مكې مكرمې ته به داخل شو، او دا به ئې وئيل چه دا عمل د نبي ﷺ دې۔ (متفق عليه) المشكاة : ٢٢٣/١۔

٣ - د حاجيانو دپاره په ورځ د عرفه باندې غسل كول : علي رضى الله عنه نه ذاذانؒ تپوس اوكړو چه هره ورځ غسل كووم ؟ هغه اوفرمائيل : هغه غسل كوه كوم چه مسنون غسل دې چه هغه د جُمعې، عرفې، يوم النحر او يوم الفطر غسل دې۔

(اخرجه البيهقي : ٢٧٨/٣) باسناد صحيح كذا في الارواء (١٧٦/١)۔

٤ - غسل يوم الفطر۔ (د وړوكي اختر غسل)۔

٥ - غسل يوم النحر (ابن ماجه رقم : ١٣١٥، البيهقي : ٢٧٨/٣)۔

ابن عباسؓ نه مرفوعا روايت دې چه نبي ﷺ به په يوم الفطر او يوم الأضحى كښې غسل كولو۔ ليكن په دې باره كښې حديثونه ضعيف دي كما قال صاحب المرعات

(٢٣٥/٢) مگر محقق د السيل الجرار (٢٩٧/١ – ٢٩٨) وائي چه پدے باره کښے د ابورافع مرفوع حديث صحيح دے كما في مسند البزار۔ كشف الاستار (٣١١/١)۔

٦ – غسل د جُمعے په ورځ : په دے کښے اختلاف را روان دے۔

٧ – چاچه مړی له غسل ورکړو، هغه به غسل کوی۔ مسند احمد (٢٨٠/٢) کښے د ابو هريرةؓ نه روايت دے (من غسل ميتا فليغتسل) دا أمر د استحباب دپاره دے۔

٨ – د هرے جماع نه روستو غسل کول مستحب دی۔ لکه ابوداود (٢٩/١) کښے دی : ابو رافع فرمائي : نبی ﷺ په خپلو زنانو باندے په يوه شپه کښے اوګرځيدلو، د هرے زنانه سره به ئے غسل کولو۔ كما مرّ۔

٩ – د مستحاضے زنانه هر مانځه ته غسل کول يا ماسپخين او مازيگر دواړو ته۔ يا ماښام او ماسخوتن دواړو دپاره يو غسل کول مستحب دی۔

لکه ابوداود کښے دی چه : ام حبيبهؓ او حمنه بنت جحشؓ ته نبی ﷺ دغه شان حکم ورکړے وو۔ ١٠ – د بے هوشئ نه پس غسل کول : لکه حديث د عائشهؓ کښے دی چه نبی ﷺ باندے درے ځل بے هوشي راغله نو درے ځل ئے غسل اوکړو، نو دا مؤکد سنت دے (متفق عليه)۔

١١ – د مشرك د دفن کولو نه پس غسل کول : لکه نبی ﷺ علی بن ابی طالب ته د ابو طالب په دفن کولو سره د غسل کولو حکم کړے وو، كما في النسائي (١١٠/١) والبيهقي (٢٠٤/١) تمام المنة ص (١٢٢) الارواء (١٧٦/١)۔

١٢ – د اسلام راوړلو په وخت د کافر غسل کول سنت دی۔ لکه حديث د ثمامه بن اثال او قيس بن عاصم کښے دی چه (ما د اسلام اراده اوکړه نو نبی ﷺ راته د غسل حکم اوکړو۔ ليکن دا د جمهورو په نيز سنت دے، او د امام احمدؒ په نيز واجب دے ځکه نبی ﷺ په دے باندے حکم کړيدے۔ لکه روستو راځی۔ دا اغسال صرف مستحب دی۔ د باقی غسلونو په استحباب باندے دليل نشته۔

الفصل الأول - اول فصل

١ – عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ

فَلْيَغْتَسِلْ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابن عمرؓ وائي : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايه : كله چه پتاسو كښې څوك جُمعې مونځ دپاره راځي نو هغه له پكار دي چه غسل اوكړي. (بخاري، مسلم).

تشريح : اِذَا جَاءَ اَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ :

په دې كښې اختلاف دې چه د **جُمعې** د ورځې **غُسل** د ورځې دپاره دې كه د مانځه دپاره دې ؟- پدې كښې درې اقوال دي.

۱- **اول قول** : دادې چه دا غسل د مانځه دپاره دې، او دا شرط دې چه د مانځه سره به نزدې كولې شي او كه معمولي شان فاصله راغله نو خير دې.او دا قول امام مالكؒ (مالكيه) دې او د احنافو نه د ابو يوسفؒ دې. ليكن دا مطلب ندې چه د غسل نه بعد پې اودسي مضره ده بلكه غسل قبل الصلاة سنت دې.

دليل : دا حديث د ابن عمرؓ دې چه دلته وائي : كله چه ستاسو نه څوك جُمعې ته راشي نو غسل دې اوكړي. نو راتګ خو مانځه ته كيږي، نو غسل هم د مانځه دپاره دې. وجه داده چه دا طهارت د مانځه دپاره كيږي. نه د ورځې دپاره. او دا مراد دې په هغه احاديثو كښې چه يوم الجمعة په كښې ذكر ده. يعنې يوم الجمعه للصلاة. ځكه دا مطلق دي او مطلق به محمول وي په مقيد باندې پدې مقام كښې.

۲- **دويم قول**: دادې چه دا غسل د ورځې دپاره دې خو د مانځه نه مخكښې به كولې شي او نزدې والې شرط ندې او مانځه ته نزدې كول ئې مستحب دي او دا قول د جمهورو دې. دليل دادې چه : عام احاديثو كښې لفظ د (يوم الجمعة) راځي او (للصلاة) نه ذكر كيږي . لكه روستو حديثونو كښې راځي (غسل يوم الجمعة واجب) او (من اغتسل يوم الجمعة).

۳- او داود ظاهريؒ او ابن حزمؒ وائي چه دا غسل د تولې ورځې دپاره دې او بعد الصلاة هم غسل كولې شي تر غروب الشمس پورې. خو دا رأى غلطه ده، بې دليله ده او ابن عبد البرؒ د اجماع دعوى كړيده پدې خبره چه چا د مانځه نه پس غسل اوكړو نو ده غسل د جمعې دپاره اونكړو.

جمهور وجه دا بيانوي چه دا غسل خو ددے دپاره كولے شي چه خيرى او بدبويانے ختمے شي او مونځ كونكو ته ضرر اونه رسي او دا خو د جمعے نه بعد نه حاصليږي۔

پدے كښے **راجح قول** د جمهورو دے دليل دا دے چه په احاديثو كښے د جمعے مانځه ته د وختي تللو ترغيب راغلے دے (ومثل المهجر كالمهدى بدنة) يا دا قول (من بكر وابتكر) يا دا قول (من راح الى الجمعة في الساعة الاولى) نو كله چه يو مسلمان په اته بجے يا نهه بجے مسجد ته ځي نو ضرور به ئے مخكښے غسل كړے وي ولے كه دا غسل مانځه ته نزدے كوي نو بيا خو ترے دا فضيلت د وختي راتللو فوت كيږي۔ او پدے قول كښے آساني ده . والله تعالى اعلم. انظر الدين الخالص (٦/ ١٩٦)۔

مسئله : آيا د جنابت غسل د جُمعے د غسل دپاره كافي كيږي ؟

يعني د جنابت غسل د جمعے په غسل كښے مدغم كول څنګه دى او ديته مسئله د تداخل في العبادت وائي۔ پدے كښے دوه قوله دى۔

١ – قول اول : دادے چه دواړه به جدا جدا كولے شي او يو په بل كښے داخلول صحيح نه دى او دا قول ابن حزم او حافظ ابن حجر او شيخ الباني غوره كړيدے۔

كذا في الفتح (٢/ ١٠) والمحلى (٢/ ٢٨٩) وتمام المنة (١٢٦)۔

دوئ سره پدے قول باندے څه خاص دلائل نشته صرف دا چه د بعض صحابه او تابعينو عمل پيش كوي لكه جابر بن زيد، حسن، قتاده، ابراهيم نخعي، حكم، طاؤس، عطاء، عمرو بن شعيب، زهري، ميمون بن مهران وغيره چه دوئ به د جمعے په ورځ دوه غسلونه كول۔ يو غسل د جنابتُ او بل غسل د جُمعے د مانځه دپاره لكه دا آثار امام طحاويؒ په شرح معاني الآثار كښے او علامه ابن الحزم په المحلى (٢٨٩/٢) كښے ذكر كړيدى شيخ الباني وائي د ابوقتاده هم دغه مذهب وو لكه حاكم (٢٨٢/١) كښے د عبد الله بن ابى قتاده اثر راوړيدے چه هغه فرمائي ما باندے پلار داخل شو او ما د جمعے په ورځ غسل كولو ما ته ئے اوفرمائيل د جنابت غسل دے كه د جمعے ؟ هغه فرمائي : ما ورته اووئيل : د جنابت۔ هغه راته اوفرمائيل : (اعد غسلا آخر) دوباره بل غسل اوكړه ! ځكه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دى چه فرمائي : چا چه د جمعے په ورځ غسل اوكړو دا

به تر راتلونکے جمعے پورے په طهارت کښے وی (د ګناهونو نه به پاك وی) وهو اثر صحيح تمام المنه ص (١٢٦)۔

۲- قول ثانى : د اکثر اهل علمو دے چه د جنابت غسل کافی کیږی د جمعے د غسل دپاره۔ او پدے باندے ډیر دلائل دی چه بعضے د هغینه دادی :

(۱)- انما الاعمال بالنيات وانما لامرئ ما نوى - حافظ په فتح البارى کښے فرمائی :

(فيه اشارة الى تعدد المنوى فيجوز التداخل فى بعض العبادات).

چه پدے حدیث کښے اشاره ده تعدد د منوی ته چه په یو عمل کښے د ډیرو څیزونو نیت اوکړے شی نو معلومیږی چه تداخل په بعض عباداتو کښے جائز دے لکه حدیث دے (لك أجر الصدقة وأجر القرابة) نو په انفاق کښے په خپلوانو باندے اجر د صدقے هم دے او اجر د خپلولئ هم دے۔ یا لکه تداخل د تحية المسجد په فرض مانځه کښے کله چه انسان مسجد ته ننوځی او فرض مونځ ته اقامت اوشی نو تحية المسجد ترے ساقط شو۔

(۲) - مسلم کښے د ابن عباس روایت کښے دی : چه نبی ﷺ په ذو الحليفه کښے شپه اوکړه او په نهه بی بیانو باندے اوګرځیدو، بیائے د جنابت او احرام دپاره (یو) غسل اوکړو۔ کما اشار اليه الحافظ ابن كثير فى البداية (۳/ ١٠٤) ۔ نو دا واضح دلیل دے چه نبی علیه السلام د احرام او د جنابت په غسل کښ تداخل کړیدے۔

(۳) متفق علیه حدیث د ابو هریره کښے مرفوعا دی (من اغتسل غسل الجنابة ...... الحديث) نو پدے کښے هم اشاره ده چه چا د جمعے په ورځ د جنابت غسل اوکړو نو دا ورله کافی کیږی۔ کما اشار اليه فى المغنى (٢/ ٢٠١)۔

(٤) - ترمذی او ابوداود (١/ ٥٦) کښے د اوسؓ مرفوعا حديث دے (من غسل يوم الجمعة واغتسل) اى جامع امرأته واغتسل۔ یعنی چا د جمعے په ورځ جماع اوکړه او بیائے غسل اوکړو) او دا یوه معنی د حدیث ده.

کما فى المغنى (٢/ ٢٠١) واختاره فى المرعاة (٤/ ٤٧١) ونقله عن اهل اللغة۔

(٥) - ابن ابى شيبه (٢/ ١٠٠) کښے د ابن عمر موقوفا روايت دے (انه كان يغتسل للجنابة والجمعة غسلا واحدا) ورجاله ثقات غير ليث وهو صدوق فى حفظه كلام۔ نو ابن

عمر د جنابت او د جمعے غسل کښے تداخل کړيدے۔

(٦) صاحب المغني (٢٠١/٢) پدے باب کښے اجماع نقل کړيده فرمائی :

(لا نعلم فيه خلافا) وری ذلك عن ابن عمر ومجاهد ومكحول ومالك والثوری والاوزاعي والشافعي وابی ثور۔

(٧) د ابو هريره په مرفوع حديث کښے دی (ايعجز احدكم ان يجامع اهله فی كل يوم جمعة ؟ فان له اجر اثنين، اجرغسله واجر غسل امرأته) اخرجه البيهقي فی شعب الايمان (٩٨/٣) وكذا فی المرعات (٤٧١/٤) ـ نو پدے روايت کښے د جنابت په غسل باندے اجر ملاؤ شويدے او د جمعے د ورځے جدا غسل ندے ذکر شوے معلومه شوه چه غسل د جنابت کافی کیږی د جمعے د غسل نه۔ نو دا قول په اعتبار د دليل سره ډير قوی دے د اول قول نه ۔ والله تعالى اعلم۔

٢ – وَعَنْ أَبِى سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ رضی الله عنه قَالَ :قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (غُسْلُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلٰى كُلِّ مُحْتَلِمٍ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو سعيد خدری وائی : رسول الله اوفرمائيل : د جمعے دورځے غسل کول په هر بالغ شخص باندے واجب دی۔ (بخاری، مسلم)۔

تشريح : غُسْلُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ : **د جمعے د غسل په حکم** کښے اختلاف دے چه آيا دا واجب او فرض دے او که سنت دے ؟

١ – د امام مالك، امام بخاری، علامه ابن حزم، حسن بصری، داؤد او بعضے نور سلفو زائے داده چه د جمعے د ورځے غسل واجب دے۔ او دا مذهب د عمر بن الخطاب او ابو هريرة، او عمار بن ياسر دے۔ ونصره الشوكاني فی النيل والمباركفوری فی المرعاة ۔

دليل ددے قول : ١ – يو دا حديث دے۔ دويم مخکښے حديث د ابن عمر دے۔ او يو روستو حديث د ابو هريرة دے (حق على كل مسلم ان يغتسل فی كل سبعة أيام يوماً) چه دلته ورته واجب يعنی لازم وئيلے شويدے۔ او امر شويدے په غسل باندے والأمر للوجوب۔ او د صحابو آثار په دے دليل دے چه هغوئ به جمع بين الغسلين کوله په ورځ د جمعے۔

٢ – ائمه ثلاثه او نور محدثين فرمائي : دا غسل د جُمعې سنت او مستحب دے۔ دلائل د استحباب دادي (١) فصل ثاني كښې حديث د سمره بن جندبؓ كښې دي (ومن اغتسل فالغسل افضل) نو دلته ورته افضل وئيلے شوي دي۔

طريقه د استدلال : هركله چه غسل ډير افضل شو نو اودس ورسره په نفس غوره والي كښې شريك دے نو اكتفاء په نفس اودس هم غوره ده۔ فتح الباري (٢/٤٦٠) عون المعبود (٢/١٤)وسنده حسن كما سيأتي۔

٢ – **دليل** : حديث د بخاري (٨٧٨) كتاب الجمعة باب فضل الغسل يوم الجمعة مسلم (٨٤٥) ابوداود (٣٤٠). دے چه د عمر رضي الله عنه خطبے دوران كښې عثمان رضي الله عنه راغلو نو عمر فاروقؓ پرے رد اوكړو چه ولے ناوخته راغلے ؟ هغه اوفرمائيل : زما څه كار وو (فما زدت الا أني توضأت وجئت) صرف اودس مے اوكړو اوراغلم۔ نو عمر فاروقؓ ورته اوفرمائيل : نا وخته هم راغلے او اودس دے هم كړے (غسل دے نه دے كړے) أيا تا د نبي ﷺ نه دا خبره نه ده آوريدلے (اذا راح احدكم الى الجمعة فليغتسل) يعني كله څوك پتاسو كښې د جمعې مانځه ته ځي نو غسل دِے اوكړي۔

طريقه د **استدلال** داسے ده : چه كه غسل واجب وے، نو عمر فاروقؓ به عثمانؓ واپس كړے وے، ليكن هركله چه واپس ئے نه كړو اوصحابوؓ پرے رد هم اونه كړو، نو دا اجماع شوه چه غسل مستحب دے، نه واجب۔

دلته قائلين د وجوب وائي : عثمانؓ ئے ځكه واپس نه كړو چه دلته دوه واجبه متعارض شو، يو مونځ د جُمعې، بل غسل۔ نو غسل حكم ساقط شو دمانځه د وجے نه۔ ځكه دا مقصود دے او فوت كيږي۔ او دعمر فاروقؓ رد كول دليل د وجوب دے۔

ليكن **اصح** خبره داده چه احاديث د وجوب ټول منسوخ شوي دي ۔ او دليل په دے روستو فصل ثالث كښې د عكرمهٌ عن ابن عباسؓ حديث كښې دي۔ چه ابتداء وخت كښې صحابهؓ فقراء وو، د وړئ جامے به ئے اغوستلے او په شاګانو باندے به ئے كارونه كول او د مسجد چت تنګ وو، نو نبي ﷺ په يوه ګرمه ورځ مسجد ته را اوتلو نو بد بوئي وه، صحابهؓ د بوئي نه ډير تنګ شو۔ نو نبي ﷺ حكم اوكړو چه غسل كوئ په دے ورځ۔ ابن عباسؓ فرمائي : بيا الله مالداري او فراخي راوستله او غلامان اونيولے شو۔ خلقو به په

خپلو بدنونو كارونه نه كول، او مسجد هم فراخه شو۔ او هغه بدبويانے ختمے شوے، نو حكم د وجوب منسوخ شو۔

دا حديث حسن الاسناد دے، كما يأتي، او ناسخ دے د احاديثو الوجوب دپاره۔ ځكه علت د وجوب اوس ختم شو۔

او دوئ **جواب** كوى ددے حديث الباب نه چه واجب لفظ راغلے دے نو د واجب نه مراد معنىٰ لغوى ده، چه ثابت دے۔ امام نووىؒ فرمائى : واجب نه جواب دادے چه واجب په معنىٰ د متأكد سره دے، كما يقول الرجل لصاحبه : حقك واجب عليّ أى ثابت (شرح مسلم : ١/٢٧٩) ---- ليكن قائلين د وجوب وائى چه دا معنىٰ اخستل دلته مناسب نه دى، ځكه مستحب هم ثابت دى، نو نبى ﷺ بيا ثابت ولے نه وئيلو۔ اودوئ جواب كوى د حديث (فالغسل افضل) نه چه دا منافى نه دے د وجوب سره، ځكه واجب هم افضل وى، اوزيادت باندے به به عمل وى۔ او (من توضأ) والا حديث باندے مونږ عمل كوو په وخت د ضرورت كښے لكه چه عثمانؓ پرے عمل كړيدے۔

دارنګه كه وجوب منسوخ هم شى نو سنت مؤكد خو ضرور باقى دے۔ او دا تحقيق د ابن حزمؒ دے په المحلى (١/٢٦٣) كښے۔

او دا ئے وئيلى دى چه بعضے صحابوؓ به د جُمعے په ورځ دوه غسلونه كول، يو د جنابت اويو د جُمعے۔ نو دا هم دليل دے چه د جُمعے غسل جدا واجب دے۔ دارنګه عمر فاروق په منبر باندے اعلان كوى : (ان رسول الله ﷺ كان يأمر بالغسل) يعنى رسول الله ﷺ د جمعے د غسل حكم كړيدے۔ نو دا اجماع د صحابو شوه ځكه هيڅ صحابى په هغه رد اونكړو۔ دا وجه ده د عمرؓ د وفات نه روستو به ابو هريره، سعد، ابو سعيد خدرى او ابن عباس په وجوب د غسل د جمعے باندے فتوے وركولے دا دليل دے چه دا غسل ضرورى او فرض دے۔ المحلى (١/٢٥٦)۔

نو د انصاف تقاضا داده چه مؤكد سنت شى، پريخودل ئے بلا ضرورته نه دى پكار دليل پدے باندے دا دے چه په حديث د مسلم (١/٢٨٣) كښے راځى وسيأتى فى باب الجمعة (١/١٢٢) من المشكاة عن ابى هريرة قال قال رسول الله ﷺ من توضأ فاحسن الوضوء ثم اتى الجمعة فاستمع وانصت، غفر له ما بينه وبين الجمعة وزيادة ثلاثة ايام ومن مس

الحصى فقد لغا) ـ نو پدے حدیث کښے اکتفاء صرف په اوداسه شویده ـ او دا صریح دلیل دے په عدم فرضیت د غسل کښے حافظ په التلخیص (٦٧/٢) کښے فرمائی :

وهو من اقوى ما يستدل به على عدم فرضية الغسل للجمعة و كذا فى نيل الاوطار (٢٧٢/١) ـ یعني دا ډیر قوی دلیل دے چه غسل د جمعے فرض ندے ـ

اګرچه حافظ پدے کښے دا وئیلی دی چه پدے کښے نفی د غسل نشته او په بل روایت کښے من اغتسل لفظ راغلے دے ـ نو دا احتمال شته چه د اودس ذکر د هغه چا په حق کښے وی چه جمعے ته د تللو نه مخکښے ئے غسل کړے وی نو دوباره اودس کولو ته محتاج شوے وی انتهی ـــــ په دے باندے بله **مسئله** تفریع ده : هغه دا چه یو سړے اعتکاف ته ناست دے نو د غسل دپاره به د جُمعے په ورځ کور ته ځی که واجب ورته اووئیلے شی ـ او که سنت ورته اووئیلے شی نو د غسل کولو دپاره به کور ته نه ځی ـ او ظاهره داده چه دا سنت مؤکد دے، ځکه نبی ﷺ په اعتکاف کښے سر وینځلو او غسل به ئے نه کولو، یعنے کور ته به نه داخلیدلو ـ

مسئله : آیا دا غسل په زنانو باندے شته او که نه ؟

نو صحیح دا ده چه کومه زنانه چه مانځه ته تلل غواړی نو هغه به غسل کوی او کومه نه ځی هغے باندے غسل نشته ـ دلیل پدے باندے حدیث د صحیح ابن خزیمه (١٢٦/٣) دے ـ عن ابن عمر قال : قال رسول الله ﷺ (من اتى الجمعة من الرجال والنساء فليغتسل، ومن لم يأتها فليس عليه غسل من الرجال والنساء) وهو حديث صحيح، ورواه ابن حبان ايضا، واشار اليه الحافظ فى الفتح (٢٥٨/٢) ـ

---

٣ ـ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : (حَقٌّ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ أَنْ يَغْتَسِلَ فِيْ كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ يَوْمًا يَغْسِلُ فِيْهِ رَأْسَهُ وَجَسَدَهُ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو هریره فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : په هر مسلمان باندے واجب دی چه په هر اوو ورځو کښے په یو ورځ کښے اولامبی، سر په کښے اووینځی او باقی بدن اووینځی ـ (بخاری، مسلم) ـ

تشريح : حَقٌّ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ : ځوك چه د جُمعے غسل واجب ګڼړی هغوئ د حق نه مراد لازم او فرض اخلی، يعنے په هر مسلمان باندے په اووه (٧) ورځو کښے يوه ورځ - يعنے د جُمعے په ورځ - غسل کول حق او لازم دی۔ ليکن جمهور علماء جواب کوی چه حق په معنیٰ د ثابت سره دے، يعنے دا حکم هم مسلمان دپاره مشروع او مستحب دے۔ خو ظاهر د دے حديث دليل دے په وجوب د غسل يوم الجمعه باندے۔

رَأْسَهُ : سرئے د جسد نه روستو ذکر کړو، ديته تخصيص بعد التعميم وائی، اګرکه جسد کښے سر هم داخل دے خو بيا ئے جدا ذکر کړو دپاره د اهتمام، ځکه په هغه وخت کښے به ئے سر کښے تيل او خطمی استعمالول او اول به ئے سر وينځلو بيا باقی بدن۔

الفصل الثانی - دويم فصل

٤ - عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَبِهَا وَنِعْمَتْ، وَمَنِ اغْتَسَلَ فَالْغُسْلُ أَفْضَلُ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : سمره بن جندبؓ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائيل : چاچه د جُمعے په ورځ اودس اوکړو، نو ده په رخصت عمل اوکړو او ډير ښه دے۔ اوچاچه غسل اوکړو نو غسل غوره دے۔ (احمد، ابوداود، ترمذی، نسائی، دارمی)۔

تشريح : فَبِهَا وَنِعْمَتْ : ١ - ددے يوه معنیٰ ده : فيکتفی بتلك الفعلة التی هی الوضوء ونعمت هذه الخصلة۔ يعنے په دے اودس دے صرف اکتفاء اوکړی، اودا ښه کار دے۔ يعنے چا چه صرف په اودس اکتفاء اوکړله نو دا هم شرعا مذموم نه دے۔

٢ - يا معنیٰ ده : فبهذه الخصلة او الفعلة - ای الوضوء - ينال الفضل ونعمت الفعلة هذه۔ يعنے دجُمعے په ورځ صرف په اودس کولو هم فضيلت حاصليږی ۔ او دا هم ښه کار دے۔ ٣ - جمهور وائی معنیٰ ده : فبطهارة الوضوء حصل الواجب، ونعمت الطهارة للصلاة هذه۔ يعنے په صرف اوداسه سره واجب حاصل شو، او دمانځه دپاره دا ښه طهارت دے۔ او غسل کول واجب نه دی۔ ٤ - بعضے داسے معنیٰ کوی : فبالرخصة اخذ، ونعمت الرخصة

هذه۔ یعنے صرف اودس کولو سره ده په رخصت عمل اوکړو، او دا رخصت ښه شے دے۔

٥- ازهریؒ معنی کوی : فبالسنة اخذ ونعمت السنة ۔ چا چه اودس اوکړو نو په سنت ئے عمل اوکړو او ښه سنت دے دا۔

وَمَنِ اغْتَسَلَ فَالْغُسْلُ أَفْضَلُ : یعنے چاچه اودس او غسل دواړه اوکړل نو دابه غوره وی د هغه چانه چه صرف اودس اوکړی، او دامقصد نه دے چه غسل غوره دے په اودس باندے، ولے ځکه چه اودس فرض دے او غسل سنت دے، نو سنت څنګه په فرض باندے افضل کیدے شی ؟ نو دلته په نفس اودس باندے تفضیل د غسل نه دے مراد، بلکه دلته تفضیل الغسل دے په هغه اودس باندے چه غسل ورسره نه وی۔ دا حدیث دلیل د جمهورو دے چه غسل مستحب اوسنت دے۔ واجب او فرض نه دے۔

درجة الحديث : اخرجه احمد (٥/١٦، ٢٢) والدارمی (١/٣٦٢) وابوداود (٣٥٤) والترمذی (٤٩٧) وقال حدیث حسن والنسائی (٣/٩٤) وسنده حسن او صحیح۔

اګرچه حافظ پدے روایت کښے دوه علته بیان کړیدی یو عنعنه د حسن بصری چه دا مدلس دے دویم په روایت کښے اختلاف شویدے چه بعضے راویانو د حسن بصری او سمره په مینځ کښے بل راوی ذکر کړیدے لیکن تحقیق دا دے چه دا حدیث صحیح دے۔ حسنه الالبانی فی ابی داود رقم (٣٥٤) وصححه الشیخ رمضان لشواهد کثیرة۔

---

٥ - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : (مَنْ غَسَّلَ مَيِّتًا فَلْيَغْتَسِلْ) رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَزَادَ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ : (وَمَنْ حَمَلَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ).

ترجمه : ابو هریرهؓ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : چاچه مړی له غسل ورکړل نو هغه دے غسل اوکړی۔ (ابن ماجه) او احمد، ترمذی، او ابوداود دا الفاظ زیات نقل کړی دی : (او چاچه مړے یوړلو نو هغه دے اودس اوکړی)۔

تشریح : مړی له غسل ورکولو نه پس خپله ځکه غسل کول پکار دی چه کیدے شی چه د غسل ورکولو په وخت کښے هغه ته دارے شوے وی۔ لهذا د پاکئ حاصلولو

دپاره لاامبل پکار دی۔

مسئله : چاچه مړے اولمبولوآیا ده دپاره غسل کول واجب دی که نه ؟

١ – ابو هریرةؓ، علیؓ، ابن حزمؒ او بعضے سلفوؒ دا مذهب دے چه دا غسل واجب دے۔

دلیل : یو دا حدیث دے چه امر شویدے والأمر للوجوب۔

٢ – جمهور علماء وائی : دا امر د ندب او استحباب دپاره دے۔ نه د وجوب دپاره۔ په دے باندے دلیل دادے چه په حدیث دابن عباسؓ کښے مرفوعا دی (لیس علیکم فی غسل میتکم غسل اذا غسلتموه ان میتکم یموت طاهرا الخ) ۔ یعنے په لمبونکی باندے غسل نشته۔ اخرجه البیهقی (٣٠٦/١) حافظ ابن حجرؒ فرمائی : دا حدیث حسن الأسناد دے۔ او په دے سره جمع بین الأحادیث راځی چه امر دپاره د استحباب دے۔

٢ – دویم حدیث د ابن عمرؓ دے دا فرمائی : مونږ صحابوؓ به مړے لمبول نو بعضو به غسل کولو او بعضو به نه کولو۔ حافظ ابن حجرؒ په التلخیص کښے فرمائی : وسنده صحیح۔ نو دا دلیل دے چه غسل کول واجب نه دی۔

٣ – دارنګه حدیث د موطأ مالك (١٠٤/١) ومصنف عبد الرزاق (٦١١٣) ابن ابی شیبه (٢٤٩/٣) کښے د اسماء بنت عمیسؓ واقع ذکر ده چه دے ابو بکر صدیقؓ له غسل ورکړو، او صحابوؓ نه ئے تپوس اوکړو چه زه روژه یم اودا ورځ ډیره یخه ده، نو آیا په ما باندے غسل شته ؟ نو صحابوؓ ورته اوفرمائیل : پتا باندے غسل لازم نه دے۔ انظر احکام الجنائز للعثیمین ص (٨٥) وللالبانی ۔

وَمَنْ حَمَلَهُ : حاشیه کښے وائی : دے نه مراد دادے چه چا اراده د مړی د اوچتولو اوکړه نو مخکښے دے اودس اوکړی، دے دپاره چه د جنازے مونځ ترے قضاء نشی۔ لیکن دا تاویل غلط او فاسد دے۔ ځکه مخکښے اودس کولو ته هیڅ ضرورت نشته، ممکن ده چه روستو اودس اوکړی او جنازے ته حاضر شی۔ بله داچه یو انسان جنازے ته راځی نو غالبا د هغه اودس وی، نو بیا په دے الفاظو کښے جدیده فائده نه ښکاری۔ دارنګه که یو انسان صرف مړے یو ځائے پورے یوسی او بیرته را واپس کیږی یا جنازے کولو نه پس مړے مقبرے پورے یوسی نو آیا هغه دپاره هم اودس کول مخکښے مستحب دی، د هغه په حق

کښې دغه علت نه دے موجود چه هغه مانځه ته ځان تیارول دی۔ خو مقلدین چه په حدیث کښې تاویل اونکړی او خپل مذهب ته ئے راتاؤ نکړی نو ساعت پرے نه تیریږی۔ بلکه ظاهره داده چه دلته هم دا امر د استحباب دے، یعنے چه جنازه دے په اوګو باندے واخستـه نو د هغې نه روستو اودس کول بهتر او مستحب دی، او واجب نه دی، یعنے که ته په دے اودس باندے فرض مونځ کوے نو دا به مناسب نه وی۔

او په دے باندے هم دلیل حدیث د ابن عباسؓ دے (فحسبکم ان تغسلوا أیدیکم) ۔ یعنی اودس کول فرض ندی۔

درجة الحدیث : اخرجه إحمد (٢/٢٧٢-٤٥٤) وابوداود (٣١٦١) والترمذی (٩٩٣). دا حدیث ترمذی راوړیدے او حسن ئے ورته وئیلی دی۔ حافظ په تلخیص ص (٥٠) کښې فرمائی : دا حدیث په ډیرو طریقو سره نقل دے، د ټولو رجع دیته کیږی چه دا حدیث حسن درجه کښې دے۔ وقال الشیخ الالبانی فی تعلیق المشکاة (١/١٦٩) الحق انه حدیث صحیح واعلاله بانه روی عن ابی هریرة موقوفا لیس بشیٔ لان الرفع زیادة من ثقة فوجب قبولهما انتهی. وقال الشیخ رمضان اسناده صحیح (١/٢٤٠)۔

---

٦ – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللهُ عَنهَا أَنَّ النَّبِیَّ ﷺ کَانَ یَغْتَسِلُ مِنْ أَرْبَعٍ: مِنَ الْجَنَابَةِ، وَیَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَمِنَ الْحِجَامَةِ، وَمِنْ غُسْلِ الْمَیِّتِ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : عائشهؓ فرمائی : رسول الله ﷺ به د څلورو څیزونو په وجه د لامبلو حکم ورکولو (١) د جنابت یعنے ناپاکئ نه (٢) جُمعے دپاره (٣) ښکر لګولو یعنے وینه ویستلو سره (٤) مړے لامبولو سره۔ (ابوداود)۔

تشریح : کَانَ یَغْتَسِلُ : دلته د یغتسل لفظی معنی نه ده مراد، ولے که لفظی ترجمه واخستے شی نو معنیٰ به دا شی چه نبی ﷺ به ددے څلورو کارونو په وجه غسل کولو، حال دا چه د نبی ﷺ په باره کښې دا هیچرته نه دی ثابت چه هغه مړے لمبولے وی۔ دا کار اګرچه جائز دے مګر بعضے کارونه د یو عظیم المرتبه شخص سره مناسب نه وی، لکه د مسجد په امام باندے مړے لمبول مناسب کار نه دے، په دے وجه دلته به معنیٰ

دا کیږي چه نبی ﷺ به ددې څلورو څیزونو په وجه د غسل او لامبلو حکم کولو۔ (أی یأمر بالاغتسال من هذه الأربع) ۔ او ددې مثال په روایت د ماعز کښې داسې دې (انه رجم ماعزاً) یعنی نبی علیه السلام ماعز لره رجم کړو حال دا چه نبی علیه السلام پخپله هغه ندې رجم کړې بلکه حکم ئې کړې وو چه دا رجم کړئ (ای أمر برجمه) ۔

وَمِنَ الْحَجَامَةِ : د ښکر لګولو په وجه غسل کول د هغه چا دپاره مستحب دی چه هغه ښکر اولګوی۔ وجه داده چه په دې سره ګندونه او د وینې کوم څاڅکی چه ورته لګیدلی وی د هغې د صفائی په نیت باندې دِې اولامبی او نظافت حاصلول مستحب کار دې۔ په دې حدیث کښې امر مشترك دې په بعضو کښې وجوب دې لکه جنابت او د جُمعې په ورځ په یوقول کښې۔ او د مړی لمبولو نه روسته او حجامت نه روستو غسل کول سنت او مستحب دی۔

درجة الحديث : اخرجه ابوداود (٣٤٨) (٣١٦٠) وسنده على شرط مسلم لكن فيه مصعب بن شيبة وهو ضعيف عند الجمهور وعن عائشة عن النبى ﷺ قال يغتسل من اربع ..... اخرجه احمد (١٥٢/٦) وابن خزيمة (٢٥٦) وصححه الحاكم (١٦٣/١) وقال صحيح على شرط الشيخين واقره الذهبى ۔

---

٧ – وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عَاصِمٍ رضي الله عنه أَنَّهُ أَسْلَمَ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ ﷺ أَنْ يَغْتَسِلَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ .

ترجمه : قیس بن عاصمؓ نه روایت دې چه ده اسلام قبول کړو نو نبی ﷺ ده حکم اوکړو چه په اوبو اود بیرې په پاڼړو سره اولامبی۔ (ترمذی، ابوداود، نسائی)۔

تعارف : د قیس بن عاصم رضي الله عنه :

دا صحابی په حلم او صبر سره ډیر مشهور دې۔ د بنی تمیم په وفد کښې په نهم کال باندې نبی ﷺ ته راغلو او اسلام ئې قبول کړو۔ کله چه نبی ﷺ دې اولیدلو نو وې فرمائیل : هذا سید اهل الوبر۔ دا ډیر عاقل، صبرناك، سخی صحابی دې۔ احنف بن قیس ته چا اووئیل : حِلم دې د چانه زده کړې ؟ هغه اووئیل : د قیسؓ نه۔ ده په جاهلیت زمانه کښې په خپل ځان باندې شراب حرام کړی وو۔ بصره کښې ئې ځانله یو کور جوړ

کړے وو، په هغے کښے اوسیدو۔ او هلته وفات شویدے۔ دوه دیرش(۳۲) نارینه اولاد ئے پریښې دی۔

تشریح : فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ ﷺ أَنْ يَغْتَسِلَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ :

د اسلام راوړو په وخت غسل کول د امام احمدؒ په نیز واجب دی۔

دلیل : یو دا حدیث دے چه نبی ﷺ امر کړیدے۔

۲ - دارنګه حدیث د ابو هریرةؓ کښے دی چه ثمامه اسلام راوړو۔

نو نبی ﷺ امر اوکړو چه دا فلانی باغ ته بوځئ او امر ورته اوکړئ چه غسل اوکړی۔

اخرجه احمد (٢/٢٦٧) والبخاری (٤٦٢) وابوداود(٢٦٧٩) وابن خزیمه (٢٥٣)۔

شوکانیؒ په السیل الجرار (١/١٢٣) کښے فرمائی : د وجوب الغسل حکم ظاهر دے او چاچه دا استدلال کړیدے په عدم وجوب باندے چه نبی ﷺ هرچاته په وخت د اسلام راوړلو کښے حکم د غسل نه دے کړے، نو که چرے د اسلام راوړو په وخت غسل کول واجب وے نو هر چاته به ئے حکم کړے وے چاچه د اسلام قبلولو اراده کولے۔ نو دا خبره خطاء ده ځکه چه دا صحابوؓ کښے معلومه مسئله وه۔ دا وجه ده چه ثمامه اسلام قبول کړو نو لاړو او غسل ئے اوکړو، کما فی الصحیحین۔ اوکله چه بعضو ته حکم اوشو نو دا حکم دے ټولو ته۔ او چاته چه دا حکم نه وی معلوم نو د هغه اسلام قبلول بدون الغسل دا په بل چا باندے حجت نه دے۔ ۲ - جمهور وائی : دا حکم د غسل کولو د استحباب دپاره دے۔ او دلیل ئے مخکښے بیان شو چه نبی ﷺ هر اسلام قبلونکی ته د غسل کولو حکم نه دے فرمائیلے۔ او تا د هغے ردّ هم اوپیژندلو په قول د علامه شوکانیؒ کښے۔ او قول د وجوب راجح دے د ظاهر الأحادیث نه۔

درجة الحدیث : اخرجه احمد (٥/٦١) وابوداود (٣٥٥) والترمذی (٦٠٥) والنسائی (١/١٠٩) وابن خزیمة (٢٥٤). امام ترمذیؒ فرمائی : دا حدیث حسن دے، امام ابو داودؒ پرے سکوت کړیدے۔ وحسنه المنذری والحافظ فی الفتح وصححه ابن السکن وابن خزیمة (المسند الجامع (١٤/٥٣٤- رقم ١١٢١٥). وقال الالبانی بعد قول الترمذی قلت بل صحیح فان اسناده صحیح کما بینته فی صحیح ابی داود رقم (٣٥٥). وله شاهد من حدیث عائشة عند البخاری ومسلم وابی داود۔

الفصل الثالث - دریم فصل

٨ - عَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّ نَاسًا مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ جَاءُوْا فَقَالُوْا : يَا ابْنَ عَبَّاسٍ ! أَتَرَى الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبًا ؟ قَالَ : لَا، وَلٰكِنَّهٗ أَطْهَرُ وَخَيْرٌ لِمَنِ اغْتَسَلَ وَمَنْ لَمْ يَغْتَسِلْ فَلَيْسَ عَلَيْهِ بِوَاجِبٍ. وَسَأُخْبِرُكَ كَيْفَ بَدْءُ الْغُسْلِ. كَانَ النَّاسُ مَجْهُوْدِيْنَ يَلْبَسُوْنَ الصُّوْفَ وَيَعْمَلُوْنَ عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ وَكَانَ مَسْجِدُهُمْ ضَيِّقًا مُقَارِبَ السَّقْفِ اِنَّمَا هُوَ عَرِيْشٌ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِيْ يَوْمٍ حَارٍّ، وَعَرِقَ النَّاسُ فِيْ ذٰلِكَ الصُّوْفِ حَتّٰى ثَارَتْ مِنْهُمْ رِيَاحٌ آذٰى بِذٰلِكَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا، فَلَمَّا وَجَدَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تِلْكَ الرِّيَاحَ قَالَ : أَيُّهَا النَّاسُ! إِذَا كَانَ هٰذَا الْيَوْمُ فَاغْتَسِلُوْا وَلْيَمَسَّ أَحَدُكُمْ أَفْضَلَ مَايَجِدُ مِنْ دُهْنِهٖ وَطِيْبِهٖ، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ : ثُمَّ جَاءَ اللّٰهُ بِالْخَيْرِ وَلَبِسُوْا غَيْرَ الصُّوْفِ وَكُفُوا الْعَمَلَ وَوُسِّعَ مَسْجِدُهُمْ وَذَهَبَ بَعْضُ الَّذِيْ يُؤْذِيْ بَعْضُهُمْ بَعْضًا مِنَ الْعَرَقِ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : عکرمه رح فرمائي : د عراق څو سړي راغلل او ابن عباس رض نه ئې تپوس اوکړو چه آيا ته د جُمعې په ورځ غسل واجب (لازم) گنړې ؟ هغه اووئيل : نه، خو د جُمعې په ورځ غسل کول ډيره زياته صفائي او پاکوالے دے، او کوم سړے چه اولامبي هغه دپاره ډيره غوره ده. او څوك چه اونه لامبي نو په ده باندې لامبل واجب نه دي. او زه تاسو ته خبر درکوم چه د جُمعې په ورځ د غسل ابتداء ولې اوشوه. (يعنې د جُمعې په ورځ غسل په وڅه وجه شروع شو، نو خبره دا وه چه د اسلام د شروع زمانه کښې) خلق په تکليف او غربت کښې وو، دوئ به دوړئ جامې اغوستلے او په خپلو شاګانو به ئې کارونه کول او ددوئ جومات تنګ وو او دهغې چهت ښکته او د قجورو د ښاخونو وو. يو ځل دجُمعې په ورځ چه سخته ګرمي وه نبي ﷺ جومات ته راغے او خلق په دغه وړئ کښې خوله شوی وو تردې چه د دوئ نه داسې بويونه ختل چه په دے سره خلقو يو بل ته تکليف ورکړو، کله چه رسول الله ﷺ دا بويونه محسوس کړل نو ارشاد ئې اوفرمايه : اے خلقو ! کله چه دا ورځ شي نو

تاسو غسل کوئ او په تاسو کښې دے هر یو تن ته چه کوم ښه تیل او خوشبوئی ملاویږی هغه دِے لګوی۔ ابن عباسؓ فرمائی : بیا الله تعالیٰ فراخی راوسته او خلقو د وړئ نه سیوا نورے جامے اچول شروع کړل او (خادمانو د دوئ په ځائے کار کول شروع کړل، او ددوئ جومات فراخه شو او ځینے هغه بدبویانے ختمے شوے چه په هغے سره به دوئ یوبل ته تکلیف ورکولو د خولے په وجه ۔ (ابوداود)۔

تشریح : وَمَنُ لَمُ یَغُتَسِلُ فَلَیُسِ عَلَیُهِ بِوَاجِبِ : دا قول د ابن عباسؓ په اجتهاد دے، او نبی ﷺ دا نه دی فرمائیلی چه د جُمعے په ورځ غسل کول منسوخ دی۔

د ابن عباسؓ د قول خلاصه مخکښے تیره شویده، مختصر دا چه ابن عباسؓ د نبی ﷺ د جُمعے دِ غسل په باره کښے د حکم وجه او علت بیانوی۔ چه صحابهؓ ابتداء د اسلام کښے اکثر فقراء او تنګدسته وو۔ او د وړئ جامے به ئے اغوستلے او په هغے کښے به ئے کارو بار هم کولو او د جُمعے په ورځ به مسجد ته بغیر د غسل کولو نه راتلل او مسجد هم تنګ وو، نو په دے حال کښے به خولے شو، او د وړئ د جامو اغوستلو په وجه به د دوئ د بدن نه د خولو بوئی ختلو۔ په دے سره به یو بل ته تکلیف رسیدلو۔ نو نبی ﷺ د غسل کولو حکم اوکړو۔ چه کله مسجد ته راځئ نو غسل کوئ چه یو بل ته تکلیف اونه رسیږی۔

خو کله چه اسلام کښے مسلمانانو ته فراخی راغله اوجامے زیاتے شوے نو خولے کمے شوے نو هغه علت چه یو بل ته تکلیف رسول وو هغه، ختم شو، نو دجُمعے د ورځے د غسل د حکم وجوب هم ختم شو۔ او سنیت ئے باقی پاتے دے د نورو احادیثو په وجه۔ دا خبره چه ابن عباسؓ ذکر کړیده نو دادده اجتهاد دے۔ او د نبی ﷺ قول ئے نه دے ذکر کړے۔ چه هغه فرمائی د غسل وجوب منسوخ دے۔ بلکه دے علت ته ئے اوکتل چه هرکله علت - یو بل ته ضرر رسول - ختم شو نو د غسل فرضیت هم ختم شو۔ او ممکن ده چه دا اجتهاد د ابن عباسؓ د حق موافق وی۔ ځکه چه نبی ﷺ (فالغسل افضل. او فبها و نعمت) فرمائیلے دے۔ خو سنت مؤکد ضرور دے۔ د نورو دلائلو په وجه او تفصیل ئے مخکښے تیر شویدے۔

مَجُهُودِیُن : دا د جهد بالفتح نه جوړ دے په معنی د تنګ دست او قحط زده سره۔

عراق : دا هغه ښارونه دی چه د عبادان نه شروع دی او په موصل باندے ختمیږی طولاً

او د قادسيه نه تر حُلوان پورے عرضاً دے۔ كذا في القاموس ۔ عراق مشهور اسلامي ملك دے، كوفه، بصره، او بغداد پكښې مشهور ښارونه دي د دريائے دجله او فرات په ساحل كښې واقع دے۔ د عراق د وجه د تسميه په باره كښې علامه حموي په معجم البلدان (٤/٩٣-٩٤) كښې مختلف اقوال بيان كړيدي :

١- بعضے وائي عراق د سمندر كنارے ته وائي چونكه عراق د دريائے دجله او فرات په كناره باندے واقع دے پدے وجه ورته عراق وائي۔ ٢- بعضے وائي د عراق معنى : په خبرو كښې برابر والے او استواء ده چونكه د عراق زمكه هم مواره او مستوى ده پدے وجه ورته عراق وائي ٣- بعضے وائي دا د فارسي لفظ (ايراه) نه عراق جوړ شويدے۔

حمويّ وائي : العراق اعدل ارض الله هواء واصحها مزاجا وماء، فلذلك كان اهل العراق هم اهل العقول الصحيحة والآراء الراجحة والشمائل الظريفة والبراعة في كل صناعة مع اعتدال الاعضاء وسمرة الالوان ۔ عراق د هواء په اعتبار سره ډير معتدل دے او د آب وهواء او مزاج په لحاظ ډير صحتمند ملك دے پدے وجه د عراق خلق سليم عقلونو والا او راجح رائے والا او ښائسته خصلتونو والا او په هر كار كښې د مهارت مالكان دي، د اندامونو په لحاظ معتدل او غنم رنګي دي۔

عَرِيْشٌ : هغه كوټے ته وائي چه انسان د هغے لاندے سورے حاصلوي۔ دلته ترے مراد دا دے چه د مسجد چت د كجورو د پوستكو او پټونو نه جوړ شوے وو۔ بعض وائي معنى دا ده چه د مسجد چت د نورو چتونو په شان پوره نه وو بلكه د يو منا (چوپال) پشان وو چه خلق پرے د نمر نه ځان سوري ته كوي۔

كُفُوا : صيغه د ماضي مجهول ده : اى كفاهم الله باستغنائهم وباعطائهم الخدم ووسع مسجدهم من كل جانب۔ قال ابن حجر ووسعه النبي ﷺ في آخر عمره۔

درجة الحديث : رواه ابو داود (٣٥٣) وسكت عليه وقال الحافظ : حسن اسناده كما مرّ. وحسنه الالباني (٣٥٣) قال : وصححه الحاكم والذهبي على شرط البخاري وحسنه النووي والعسقلاني وهو الصواب. تعليق المشكاة (١/١٧٠)۔



باب الحيض

مناسبت : ١ - مخکښې عمومي احکام وو چه شامل وو زنانه او نارینه دواړو ته. اوس خصوصي احکام د زنانه ؤ بیانوي.

٢ - دا باب روستو شو ځکه دې کښې د زنانه احکام دي، او زنانه به همیشه د نارینه ؤ نه روستو وي (أخّروهن من حيث اخّرهن الله - قاله ابن مسعودؓ).

معنی لغوی د حیض : حیض په فتحې د حاء سره په لغت کښې جمع، او جریان اوسیلان ته وائي. ځکه چه حیض په خاصه موده کښې جمع کیږي او په خاصه موده کښې جاري کیږي. مصدر ئې حَیْضًا او مَحَاضًا او مَحِیْضًا رائحي.

د حیض شرعي معنیٰ : په اصطلاح د شرع کښې حیض (١) : هُوَ دَمٌ يَنْفُضُهُ رَحِمُ امْرَأَةٍ بَالِغَةٍ لا دَاءَ بِهَا . یعنې حیض هغې وینې ته وائي چه د بالغې - پیغلې - زنانه د رحم نه روانیږي چه په هغې باندې څه مرض نه وي او نه د ولادت نه پس وي.

٢ - بعضې داسې تعریف کوي : جريان دم امرأة في اوقات معلومة من رحمها بعد بلوغها. دا هغې ته نزدې دې. یعنې د زنانه د رحِم نه وینه روانیدل په خاص اوقاتو کښې پس د بلوغ د هغې نه.

د حیض ابتداء د کوم وخت نه شویده :

پدې باره کښې دوه قسمه حدیثونه راغلي دي بعضو کښې راغلي دي چه(هذا شيئ كتبه الله على بنات آدم) اخرجه البخاري (١/٣٤٢) في الحيض ومسلم (١٢١١) (١١٩) (١٢٠) او بل روایت کښې لکه امام بخاري تعليقا (١/٣٤) ذکر کړیدې وقال بعضهم كان اول ما ارسل الحيض على بني اسرائيل. حافظ ابن حجر فرمائي امام بخاري اشاره کوي هغه روایت د ابن مسعود ته چه عبد الرزاق په صحیح سند راوړیدې :

كان الرجال والنساء في بني اسرائيل يصلون جميعا فكانت المرأة تتشوف للرجل فالقى الله عليهن الحيض ومنعهن المساجد . فتح الباري (١/٣١٨) یعنې بني اسرائیلو کښې به سړو او ښځو په یو ځائې مونځ کولو نو ښځو به سړو ته ځانونه مخې ته مخې ته کول نو الله

تعالی په هغوی باندې حيض واچولو او (پدې سره ئې) د مساجدو نه منع کړې۔

پدې دوه حديثونو کښې **تطبيق** داسې کيږي :

١- علامه داوديؒ وائي چه دواړو حديثونو کښې مخالفت نشته ځکه د بني اسرائيلو زنانه هم د آدم عليه السلام لونړه دي نو بناء پدې قول بناتِ آدم عام دې او مراد ترې نه خاص د بني اسرائيلو زنانه دي نو د دوئ نه ابتداء د حيض شويده۔

٢- د امام بخاري د قول نه تطبيق داسې معلوميږي چه هغه فرمائي (وقول النبي ﷺ اکثر) حافظ ددې يوه معنی دا کوي (ای اشمل) يعني مرفوع حديث کښې عموم دې چه بنات آدم په کښې ذکر دي نو دا اسرائيليات زنانو ته هم شامل دې او د دوئ نه مخکنو ښځو ته هم شامل دې۔يا اکثر يعني اکثرِ قوة و اکثر شواهد ۔

حافظ ابن حجر ددې په تائيد کښې داسې تحقيق کوي چه ابتداء د حيض د آدم عليه السلام د زمانې نه شروع دې او بنات آدم عام دې بني اسرائيلو ته هم شامل دې خو د بني اسرائيلو تخصيص ځکه اوشو چه په هغوی باندې به د سزاء په طور ډير راتلو او اوږديدو به زر به نه ختميدو۔ او پدې باندې دليل د ابن عباس تفسير دې په (وامرأته قائمة فضحکت) کښې چه هغه وائي ای حاضت يعني ضحك په معنی د حيض دې معلومه شوه چه د ابراهيم عليه السلام زمانه کښې خو بني اسرائيل نه وو او حيض وو۔ دا رنګه حاکم او ابن المنذر د ابن عباس نه په صحيح سند نقل کړيدي: چه ابتداء د حيض په حواء باندې راغلو کله چه د جنت نه راکوزه شوه۔ نو معلومه شوه چه بنات آدم نه د آدم عليه السلام خپلې لونړه دي۔ ـ۔ابن الرفعه فرمائي : وئيلې شويدي چه زمونږ مور حواء چه کله ونه ماته کړه نو الله تعالی ورته اوفرمائيل : لادمينك كما ادميتها وابتلاها بالحيض هي و جميع بناتها الى الساعة . كذا في النسخة الهندية للمشكاة بتحقيق رمضان (١/٢٤٢)۔

د حيض احکام :

د حيض دوه قسمه احکام دي : ١ - يو خارجي احکام چه حائضه به کوم کار کوي او کوم به نه کوي۔ ٢ - دويم د وينې متعلق احکام دي، نو د وينې او د حيض د مودې متعلق احکام به روسته باب المستحاضة کښې بيانيږي۔ او خارجي احکام دلته بيانيږي چه بعضې د هغې نه دادي :

١ - يو حكم دادے چه زنانه ته په حالت د حيض كښے طلاق وركول حرام دى.
٢ - كه يوے زنانه سره د خول نه وى شوے نو هغے له قبل الدخول طلاق وركول جواز لرى. ٣ - په حالت د حيض كښے واده جائز دے خو جماع كول حرام دى.
٤ - قرآن كريم راخستے شى كه نه؟ په دے كښے اختلاف دے باب مخالطة الجنب كښے تير شويدے. ٥ - حائضه د كعبے نه طواف نشى كولے. ٦ - احرام تړلے شى.
٧ - مسجد ته نشى داخليدلے. ٨ - حائضه سجده د تلاوت كولے شى د محققينو په نيز. وجه داده چه دے دپاره تلاوت جائز دے نو په هغے كښے خو به آيت السجده هم راځى نو هغه جائز ده. ځكه د سجدے د تلاوت دپاره اودس شرط نه دے اګركه اودس كول هغے دپاره بهتر دى. ٩ - دارنګه د مسجد نه په لاس سره څه شى راخستلے شى.
١٠ - مونځ به نه كوى او نه پرے قضاء شته، د روژے قضاء به راوړى. دارنګه د خاوند متعلق احكام كتاب كښے راروان دى.

الفصل الأول - اول فصل

١ - عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : إِنَّ الْيَهُوْدَ كَانُوْا إِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ فِيهِمْ لَمْ يُوَاكِلُوْهَا وَلَمْ يُجَامِعُوْهُنَّ فِي الْبُيُوْتِ فَسَأَلَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ ﷺ النَّبِيَّ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالٰى ﴿ وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ ... ﴾. الآيَة فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (اِصْنَعُوْا كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا النِّكَاحَ فَبَلَغَ ذٰلِكَ الْيَهُوْدَ فَقَالُوْا : مَا يُرِيْدُ هٰذَا الرَّجُلُ أَنْ يَدَعَ مِنْ أَمْرِنَا شَيْئًا إِلَّا خَالَفَنَا فِيْهِ، فَجَاءَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ فَقَالَا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ الْيَهُوْدَ قَالُوْا كَذَا وَكَذَا، أَفَلَا نُجَامِعُهُنَّ فَتَغَيَّرَ وَجْهُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنْ قَدْ وَجَدَ عَلَيْهِمَا، فَخَرَجَا فَاسْتَقْبَلَتْهُمَا هَدِيَّةٌ مِنْ لَبَنٍ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَأَرْسَلَ فِيْ آثَارِهِمَا فَسَقَاهُمَا فَعَرَفَا أَنَّهُ لَمْ يَجِدْ عَلَيْهِمَا . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : انس رضي الله عنه فرمائى: يهودو كښے چه به كله د يوے ښځے د حيض ورځے شوے نو هغے خلقو به د هغے سره نه خوراك كولو اونه به ورسره په كورونو كښے شريك اوسيدل. نو د نبى ﷺ صحابو رضي الله عنهم د نبى ﷺ نه (دے باره كښے) تپوس اوكړو. نو الله تعالىٰ (دا آيت

نازل کړو ﴿ ويسئلونك عن المحيض، الآية ﴾ (يعنې دا خلق تانه د حيض په باره کښې تپوس کوي) --- نبي ﷺ اوفرمائيل : تاسو خپلو ښځو سره د نزديکت نه علاوه نور هر څه کوئ. دا خبره يهودوته اورسيدله، نو هغوئ اووئيل : دا سړے (يعنې نبي ﷺ) دا اراده لري چه زمونږ په هره خبره کښې زمونږ خلاف کوي. (ديهودو دے خبرے آوريدو سره) دوه صحابه اسيد بن حضير اوعباد بن بشرؓ راغلل او عرض ئے اوکړو : يارسول الله ! يهودو خو دا دا خبره اوکړه، نو آيا مونږ (ديهودو د ښه مخالفت دپاره) دے حائضه ښځو سره کور والے اونه کړو ؟ (دے آوريدو سره) د رسول الله ﷺ مخ مبارك بدل شو تردے چه زمونږ خيال راغے چه رسول الله ﷺ دے دواړو ته غصه شويدے. دا دواړه صحابه اووتل، نو د دوئ مخے ته د پيئو يوه هديه رسول الله ته راغله، نو رسول الله ﷺ دے دواړو پسے څوك اوليږلو (هغوئ دواړه چه راغلل) نو رسول الله ﷺ دوئ دواړو باندے پئ اوڅښول، نو هغه دواړه پوهه شول چه نبي ﷺ دوئ نه خفه نه دے. (مسلم).

تشريح : **وَلَمْ يُجَامِعُوْهُنَّ فِي الْبُيُوْتِ** : يعنې شريك به ورسره نه کيناستل اونه به ورسره اوسيدل بلکه څانله به ئے ورله يوه کوټنئ جوړه کړے وه په هغے کښې به اوسيدله، روټئ به ئے ورليږله او داسے افراط به ئے کولو.

د (لم يجامعوهن) معنئ د جماع کولو نه ده بلکه اختلاط مراد دے.

اِصْنَعُوْا كُلَّ شَيْءٍ اِلَّا النِّكَاحَ : ١ - د حائضے زنانه سره د مباشرت کولو درے صورتونه دي (١) يو دا چه جماع ورسره په فرج کښې اوکړے شي. دا په قرآن او احاديثو سره حرام شوے کار دے. او حلال ګڼړونکے ئے کافر کيږي.

(٢) دويم صورت دا چه : د نامه نه بره او زنګون نه ښکته مباشرت اوکړے شي، په ښکلولو او په غاړه ورکولو او مسح کولو سره، دا په اتفاق د مسلمانانو سره جائز او حلال کار دے. د منع هيڅ دليل نشته. (٣) دريم صورت دا چه : سيوا د فرج نه ټول بدن نه فائده اخستل. نو په دے کښې اختلاف دے :

١ - امام احمدؒ، امام محمدؒ او يو قول د ابو يوسفؒ، ابن حزمؒ، محدثينؒ، ابراهيم نخعيؒ، اسحقؒ، اوزاعيؒ، ثوريؒ، عکرمهؒ او مجاهد رائے داده چه په دے حديث باندے عمل دے او د هرځائے نه فائده اخستل جواز لري (اصنعوا کل شئ الا النکاح - أی الا

موضع الدم) (نووی شرح مسلم : ١/١٤٢)۔
٢ – ائمه ثلاثه، سعید بن المسیب، عطاء، قتادة فرمائی : د نامه لاندې نه تر زنګنونو پورې ترې فائده اخستل حرام دي۔
دلیل : حدیث د عائشة او د معاذ بن جبل دې کوم چه روستو را روان دې۔
٢ – حدیث د میمونة کښې دي چه نبی ﷺ به د بعضې بیبیانو نه فائده اخستله تر نیمائی پونډو یا زنګنونو پورې (رواه ابوداود)۔
٣ – مسلم او ابوداود کښې د عائشة قول دې (وأيكم يملك اربه كما كان النبى ﷺ يملك اربه – أى حاجته – مسلم : ١/١٤١) ۔ یعنې که دا جائز شي نو کیدې شي چه انسان د خپل ځان کنټرول اونه کړې شي او جماع کښې واقع شي۔
لیکن راجح داده چه د جمهورو بعضې روایات هم صحیح دي۔ اودا روایت د مسلم (اصنعوا كل شئ الا النكاح) هم صحیح دې۔ خو تطبیق دادې چه د جمهورو په روایاتو کښې د نبی ﷺ دا عمل ذکر دې۔ او همدا افضل ده چه انسان ځان اوساتي۔ دې دپاره چه دا سبب د جماع اونه ګرځي لکه د عائشې د قول نه معلومه شوه۔ نو ګناه کښې به واقع شي۔ اوکه یو انسان په ځان کنټرول لري نو بیا ورله د هر ځائې نه فائده اخستل جائز دي، سیوا د فرج نه۔ او دا حدیث دلیل دې چه هر شې جائز دې، سیوا د جماع نه۔ او د نبی ﷺ اقتصار په ما فوق الازار باندې محمول دې په استحباب باندې (نووی : ١/١٤٢)۔
★ په دې اختلاف باندې بله نادره فائده مرتبه شوه :
هغه دا چه یو سړې حالت د **حیض** کښې د سفر نه راشي نو دا چه قضاء حاجت کوی نو څه به کوی ؟ نو اصح قول دادې چه ددې سړي دپاره انزال کول په بل ځائې کښې جواز لري، او دا حدیث پرې دلیل دې۔ لیکن دا د افضل خلاف ده۔ ځکه د انسان نطفه بې ځایه استعمالیږي، او په دې سره انسان بدني لحاظ سره خرابیږي۔ ---- او په دې باره کښې ابن أبی شیبه (١/٩٢) باب تړلې دې : باب فى الرجل يجامع امرأته دون الفرج۔ او ډیر آثارئې راوړي دي۔ دارنګه په شرح د مسلم (١/١٤٣) او کشاف القناع (١/١٩٨) رد المحتار (١/١٩٤) سبل السلام (١/١٠٤) کښې ددې مسئلې تفصیل اوګوره۔
أَفَلَا نُجَامِعُهُنَّ : **فائده** : ددې صحابو دا خبره چه مونږ به په حالت د حیض کښې هم

ورسره جماع کوو. نو ددې صحابوؓ غرض په دې سره زیات مخالفت کول وو د یهودو. خو لیکن دا خبره د شریعت خلاف وه، نو ځکه نبي ﷺ غصه شویدې، نو ددې نه یوه نادره فائده معلومه شوه چه د کفارو، مشرکینو او مبتدعینو سره به دومره خلاف او بغض کوې څومره چه د شریعت منشاء وي. او دومره حد ته به دا بغض نه رسوې چه د خپل دین په خلاف کښې واقع شي، لکه بعضې خلق په مبتدعینو دومره سختي کوي چه مونځ کول ورپسې مطلقا حرام ګڼړي. او بدعتي کافر ګڼړي، نو دا افراط کوي، بلکه د شریعت د اصولو مطابق به ورسره بغض کولې شي. لکه بعضې اهل سنت به د شیعه ګانو دومره مخالفت کولو چه هغوئ د دروغو حدیثونه جوړ کړي وو چه څوك د عاشوراء په ورځ رانجه اولګوي نو دآینده کال تر دې ورځې پورې به د سترګو شکایت محسوس نکړي (غنیة الطالبین ٢/٥٤، والمنار المنیف ١٢٢) ځکه شیعه ګان په دې ورځ غم کوي. نو دارنګه مشرکانو سره په مخالفت کښې داسې خبره کول چه د هغوئ باباګانو ته کنځل شروع کړي. یا مقلدینو سره په مخالفت کښې امامانو ؒ ته رد بد او کنځل کول دا تول حرام دي. او ددې آیت نه خلاف دي ﴿ ولا یجرمنکم شنآن قوم علی ان لا تعتدلوا ، اعدلوا هو اقرب للتقوی ﴾ المائدة آیت (٨).

فَسَقَاهُمَا : یعنې دا پئ ئې په دوئ باندې اوڅکول ځکه چه دا د نبي ﷺ عادت مبارك وو چه کله به ئې څوك خفه کړو نو هغه ته به ئې د خوشحالولو دپاره هدیه ورکوله، او دلته دا خفه کول په دې وجه وو چه ددې صحابوؓ نه اِجْتِهَاداً داسې خبره صادره شوه چه د حکم شرعي مخالف وه، اګر که دوئ قصداً مخالفت د حکم شرعي نه کولو، بلکه دا اجتهاد کښې خطائي وه.

فائده : ١ – د یهودو په مخالفت باندې زمونږ دین بناء دې ٢ – په حالت د حیض کښې جماع کول حرام دي ځکه نبي ﷺ غصه شویدې، ٣ – که چا اجتهادي خطائي اوکړه هغه ته معافي کول پکار دي، ٤ – په اجتهادي خطائي باندې تنقید کول هم دین دې، چه دا مسئله غلطه ده مثلا، ٥ – د چا د خفه کولو نه روستو هغه ته څه تحفه ورکول سنت عمل دې.

٢ – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَالنَّبِيُّ ﷺ مِنْ اِنَاءٍ وَاحِدٍ وَكِلَانَا

جُنُبٌ، وَكَانَ يَأْمُرُنِي فَأَتَّزِرُ فَيُبَاشِرُنِي وَأَنَا حَائِضٌ وَكَانَ يُخْرِجُ رَأْسَهُ إِلَيَّ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فَأَغْسِلُهُ وَأَنَا حَائِضٌ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : عائشهؓ فرمائی : ما او نبی ﷺ به دیو لوښی نه شریك غسل کولو، په داسې حال کښې چه مونږ دواړه به جنب وو۔ او (بعضې وخت کښې چه به زه د حیض په حالت کښې ووم نو) نبی ﷺ به ماته حکم کولو چه زه لنګ اوتړم نو ماسره به ئې د حیض په حالت کښې مباشرت کولو (یعنې د نامه دپاسه به ئې راسره بدن لګولو) او نبی ﷺ به ماته سر را بهر کړو په داسې حال کښې چه هغه به اعتکاف کونکې وو نو ما به د هغه سر وینځلو حال دا چه زه به د حیض په حالت کښې ووم۔ (بخاری، مسلم)۔

تشریح : د عائشېؓ حجره مسجد سره بالکل لګیدلې وه تردې چه د هغې دروازه هم مسجد طرفته کهلاؤ وه، نو نبی ﷺ به چه کله په اعتکاف کښې وو، خپل سر مبارك به ئې ددغه دروازې نه حجرې طرفته را بهر کړو او هلته حجره کښې به عائشهؓ ناسته وه، هغې به د نبی ﷺ سر مبارك وینځلو۔ دډې نه معلومیږی چه که څوك په اعتکاف ناست وی او د خپل جسم څه حصه د مسجد نه بهر اوباسی نو په دې سره اعتکاف نه باطلیږی۔ البته بلا ضرورته د مسجد نه وتلو سره اعتکاف خرابیږی۔

فائده :١ - ددې حدیث نه ددې آیت تفسیر معلوم شو ﴿ ولا تباشروهن وانتم عاكفون فی المساجد ﴾ یعنې د مباشرت نه مراد صرف جماع او د هغې دواعی دی، او صرف لاس لګول بغیر د شهوت نه دا مباشرت نه دې۔ نو حرام هم نه دې۔

٢ - د حائضې زنانه خوله او بدن پاك دې۔ ٣ - دحائضې زنانه مسجد ته داخلیدل ممنوع دی۔ ٤ - د ښځې نه خدمت اخستل جائز دی او زنانه له دا کار کول بهتر دی۔

٥ - دا حدیث د جمهورو دلیل دې چه د زنګنونو او نامه ترمینځه حصې نه فائده اخستل جائز نه دی۔ څکه دلته نبی ﷺ امر کړیدې عائشېؓ ته په لنګ تړلو باندې، لنګ تړلو نه پس به ئې ورسره مباشرت کولو۔ لیکن دا د نبی کریم ﷺ خپل عمل دې، او مونږ ته ئې اجازت راکړیدې۔ یا دا محمول دې په استحباب باندې۔

---

٣ - وَعَنْهَا قَالَتْ : كُنْتُ أَشْرَبُ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ النَّبِيَّ ﷺ فَيَضَعُ فَاهُ

عَلٰى مَوْضِعِ فِيَّ فَيَشْرَبُ وَأَتَعَرَّقُ الْعَرْقَ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ النَّبِيَّ ﷺ فَيَضَعُ فَاهُ عَلٰى مَوْضِعِ فِيَّ). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : عائشۃؓ فرمائي : ما به د حیض په ورځو کښې اوبه اوڅکلې او بیا به مې هغه (لوښې) نبي ﷺ ته ورکړو، نو نبي ﷺ به خپله خله په هغه ځائې کیخودله په کوم ځائې به چه ما خله ایخې وه، او اوبه به ئې څکلې. او کله به ما د حیض په ورځو کښې د هډوکي نه غوښه شوکوله او بیا به مې نبي ﷺ ته ورکوله نو هغوئ به خپله خله زما د خلې په ځائې باندې کیخودله. (مسلم).

تشریح : نبي ﷺ به دا عمل د دوه وجهو نه کولو (١) یو دا چه د نبي ﷺ د عائشېؓ سره زیات محبت وو (٢) دویم دا چه نبي ﷺ ته د یهودو مخالفت په نظر کښې وو، ځکه چه یهودو به د حائضې زنانه سره تعلقات اوخوراك څښاك نه کولو. او دې طرفته نبي ﷺ د هغې داوږو څکلو په ځائې باندې خوله ګدی او د هغې هډوکي نه خوراك کوی کوم نه چه عائشېؓ خوراك کړېدې.

وَأَتَعَرَّقُ الْعَرْقَ : عرق : په فتحه د عین او سکون د راء هغه هډوکي ته وائي چه څه غوښه پرې پاتې وی لکه دیته عُراق بضم العین هم وائي مقامات حریري کښې دي (وأغراه عدم العُراق بتطليق العراق). او تعرق په غاښونو باندې غوښه شوکولو ته وائي.

فوائد الحدیث : ١ - د ښځې او خاوند ترمینځه آزادي وی ځکه عائشېؓ اوبه مخکښې څکلې دي د نبي ﷺ نه، او دا بې ادبي نه ده.

٢ - غوښه په غاښونو شکول سنت عمل دې، او دا بعینه تهذیب دې او فائده ده په کښې. او په لاس باندې شکول سنت نه دی.

٣ - د حائضې سره خوراك څښاك کول جائز دي.

٤ - د عائشېؓ مقصد ددې حدیث نه یو خو دغه مسئله واضح کول دی چه د حائضې سره تعلقات لرل جائز دی. ٢ - بل د خپل محبت او نیازبین توب خودل دی چه زه نبي ﷺ ته دومره ګرانه ووم چه مانه به ئې په هیڅ حالت کښې نفرت نه کولو.

---

٤ - وَعَنْهَا : قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَتَّكِئُ فِيْ حِجْرِيْ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ يَقْرَأُ

الْقُرْآنَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : عائشهٔ فرمائي : نبي ﷺ به زما په غيږه کښې تکيه لګوله اوزه به حائضه ووم، بيا به ئې قرآن لوستلو. (بخاري، مسلم).

تشريح : يتكئ في حجري : دې حديث نه هم دا خبره واضحه کيږي چه حائضه ښځه ظاهري طور سره پاکه ده د هغې د ناپاکئ حکم صرف حکماً دې. که حائضه ښځه ظاهرا پاکه نه وې او د هغې د بدن اعضاء نجس وې نو نبي عليه السلام به عائشےؓ باندې په حالت د حيض د هغې کښې تکيه نه وهلې.

فوائد : ١ – په تکيه باندې قرآن لوستل جائز دي، ليکن بې احترامي ده. يو حديث کښې دي (يا اهل القرآن لا تتوسدوا القرآن) وسيأتي في فضائل القرآن . يوه معنی ددې داده چه اې قرآن والو ! قرآن ته تکيه مه وهئ په وخت د تلاوت کولو کښې. نو د افضل نه خلاف کار دې. خو دا هله چه قرآن لاس کښې وي. او هرچه قرآن په يادو لوستل دي نو په هر حالت کښې جائز دي اتفاقاً. لکه چه دلته نبي ﷺ په يادو تلاوت فرمائيلې دې.

٢ – دنجاست په خوا کښې قرآن لوستل جائز دي خو کله چه نجاست پټ وي لکه حيض پټ دې، او دلته رسول الله ﷺ د عائشےؓ په غيږه کښې ددې د حيض په حالت کښې قرآن لوستلې دې. کما قاله النووي. ٣ – دې نه د رسول الله ﷺ د قرآن سره محبت معلوميږي چه په داسې حالت کښې هم قرآن لولې.

٤ – د حائضې بدن اوجامې پاکې دي کله چه څه نجاست ورته نه وي لګيدلې .

مقارنة بين الاديان الثلثة :

ددې حديث نه د اسلام عدل او وسطيت معلوم شو، ځکه چه يهودو به حائضه ښځه پليته نجسه ګڼړله نو د ځانه به ئې جدا کمره کښې ساتله او خوا ته به نه ورتلل د هغې بدن او جامې او بستره او هر څه به ئې پليت ګڼړل خوراك څښاك او جماع به ئې ورسره نه کوله. نو ډير افراط به ئې کولو. د انسانيت نظر به ئې ورته نکولو.

د دوئ په خلاف نصارٰی (عيسيانو) به ډير تفريط او نقصان کولو چه په حالت د حيض کښې به ئې جماع هم ورسره کوله نو ددې پليتئ نه به ئې ځان نه ساتلو.

او هر چه اسلام دې نو دا متوسط دې بين الغلو والتفريط او د عدل دين دې نو صرف

نجاست ئے په خاص اندام باندے بند کړیدے چه جماع ورسره حرامه ده نور هرڅه ورسره جائز دی، او حائضه پدے حالت کښے هم همغه ښځه ده کوم چه مخکښې وه صرف جماع ورسره حرامه ده د وجه د ډیرو ضررونو نه. کما سيأتي بيانها.

---

٥ - وَعَنْهَا قَالَتْ : قَالَ النَّبِيُّ ﷺ نَاوِلِينِي الْخُمْرَةَ مِنَ الْمَسْجِدِ فَقُلْتُ : إِنِّي حَائِضٌ فَقَالَ : إِنَّ حَيْضَتَكِ لَيْسَتْ فِي يَدِكِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : عائشه رضي الله عنها فرمائي : نبي ﷺ اوفرمائيل : د جومات نه ماله بزګے (پوزے) راکړه، نو ما به عرض اوکړو : زه خو د حيض په حالت کښے يم ؟ (نو جومات ته څنګه لاس دننه کړم ؟) نبي ﷺ اوفرمائيل : ستا حيض خو ستا په لاس کښے نه دے۔ (مسلم).

تشريح : نَاوِلِينِي الْخُمْرَةَ : خمره بضم الخاء : هغه بزګی ته وائي چه صرف تندے پرے لګیږی، اوکله کله په عام بزګی باندے ئے هم اطلاق کیږی چه انسان په هغے باندے کيني او مونځ پرے کوی۔

مسئله : ١ - په زمکه باندے مونځ کول مطلقاً بهتر او افضل دی۔

٢ - او په داسے څيز باندے مونځ کول جائز نه دی چه سر زمکے ته نه رسوی، لکه اسپنج - فوم - او پيړه کمبل اوبستره وغيره۔

٣ - اوکه سر زمکے ته رسيږی لکه جانماز، بزګے، څادر وغيره نو ددے حکم دادے چه بزګی باندے خو جواز لری ځکه د نبي ﷺ عمل دليل دے۔ او هر چه جانماز او څادر وغيره دی نو دا د نبي ﷺ نه نه دی نقل چه مونځ ئے پرے کړے وی، مګر په سخته ګرمئ کښے به صحابو رضي الله عنهم د نبي ﷺ سره په جامه باندے سجده کوله، لکه نستونړی وغيره باندے، لکه انس بن مالك رضي الله عنه فرمائيلی دی (كذا في البخاري : ٥٥/١، وسيأتي بعد ورقة من المشكاة) د ضرورت په بناء باندے په جانماز، څادر وغيره باندے مونځ کول جائز دی، او په غير د ضرورت نه په دے څيزونو باندے مونځ کول نه دی پکار، ځکه چه نبي ﷺ به تندے په زمکه لګولو لکه په مسجد نبوی کښے به په خاورو او کاڼړو باندے سجده کوله، او په دے کښے ډيره خشوع او عاجزی راځی (كذا في فتاوى الدين الخالص : ٣٩٦/٣).

امام مالك رحمه الله ورته بدعت وئيلے دے۔ علامه ابن تيمية رحمه الله په مجموعة الفتاوى (١٦٣/٢٢)

كښې د عبد الرحمن بن مهدیؒ عالم اوفقيه العراق واقعه ذكر كړيده چه ده په مسجد نبوي ﷺ كښې په څادر مونځ اوكړو، امام مالكؒ جيل ته واچولو او ورته ئې اووئيل : (أما علمت ان بسط السجادة في مسجدنا هذا بدعة ؟) يعنې تاته دا نه ده معلومه چه مسجد كښې جانماز، څادر غوړول بدعت دے ؟. ٢ – ليكن نور علماء وائي : په دے څيزونو باندے مونځ كول جائز دي، خو د افضليت خلاف دي، كما تقدم۔

مِنَ الْمَسْجِدِ : دا متعلق دے د قال پورے، يعني قال لي النبي ﷺ : من المسجد۔ يعنې نبي ﷺ د مسجد نه ماته دا خبره اوكړه۔ نو مطلب دا شو چه بزكے (پوزے) په حجره كښې وو او نبي عليه السلام په مسجد كښې وو۔

٢ – علامه سندهيؒ وائي : ظاهر داده چه دا متعلق دے د (ناولينى) سره۔ نو مطلب دا شو چه بزكے د حجرے دروازے ته نزدے پروت وو او نبي عليه السلام په حجره كښې وو، عائشےؓ ته ئې اوفرمائيل : لاس اوږد كړه، بزكے راواخله !۔نو عائشے لاس را اوويستو او بزكے ئې د مسجد نه را اوچت كړو۔

اِنَّ حَيْضَتَكِ : دا په كسره د حاء سره هغه حالت ته وائي چه حائضه سره لازم وي چه هغه تجنب او جدائي ده يعني د مسجد نه لاس جدا ساتل لازم ندي او په فتحه د حاء سره وينه د حيض ته وائي يعني وينه خو ستا په لاس كښې نشته۔ دلته دواړه جائز دي۔

---

٦ – وَعَنْ مَيْمُوْنَةَ قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ فِيْ مِرْطٍ بَعْضُهٗ عَلَيَّ وَبَعْضُهٗ عَلَيْهِ وَأَنَا حَائِضٌ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ميمونهؓ فرمائي : رسول الله ﷺ په يو داسے څادر كښې مونځ كولو چه د هغے څينے حصه به په ما او څينے په هغه پرته وه او زه به د حيض په حالت كښې ووم۔ (بخاري، مسلم)۔

تشريح : ١ – : حائضه باندے جامه پرته ده هغے نه سرے په مانځه كښې اولګي نو خير دے، څكه د حائضے ظاهري بدن پاك دے۔

٢ – مس المرأه باندے اودس نه ماتيږي، وقد سبق تفصيله في باب نواقض الوضوء۔

مِرْطٍ : مرط هغه څادر او شړئ ته وائي چه د وړئ يا وريښمونه جوړ وي، او ددے نه به

ئے څادر او لنګونه جوړول۔

الفصل الثانی - دویم فصل

٧ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (مَنْ أَتَى حَائِضًا أَوِ امْرَأَةً فِيْ دُبُرِهَا أَوْكَاهِنًا فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ) رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه وَالدَّارِمِيُّ وَفِيْ رِوَايَتِهِمَا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُوْلُ فَقَدْ كَفَرَ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : لَا نَعْرِفُ هٰذَا الْحَدِيْثَ، اِلَّا مِنْ حَكِيْمِ الْأَثْرَمِ عَنْ أَبِيْ تَمِيْمَةَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ .

ترجمه : ابو هریرة فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلی دے : کوم سړی چه د حیض په ورځو کښے ښځے سره نزدیکت اوکړو یا ئے خپلے ښځے سره په شا طرف کښے بد فعلی اوکړه، یا کاهن (ترویتی) ته (د غیبو خبرو تپوسلو دپاره) ورغے، نو دے سړی په هغه څه باندے کفر اوکړو چه په محمد ﷺ باندے نازل شویدے۔ (ترمذی، ابن ماجه، دارمی) اود ابن ماجه او دارمی په روایت کښے دا الفاظ هم دی چه د کاهن خبره ئے رشتینے اوګڼړله نو دے سړی کفر اوکړو۔ او امام ترمذیؒ فرمائیلی دی : دا حدیث مونږ نه پیژنو مګر د حکیم الأثرم نه چه د ابو تمیمه په واسطے سره د ابو هریرةؓ نه نقل کوی۔

تشریح : دلته نبی ﷺ د درے واړو خبرو یو حکم کړیدے چه (فَقَدْ كَفَرَ) یعنے دا کارونه چه چا اوکړل کافر شو، لیکن دا په بعضو کښے دے، چه کاهن باندے تصدیق کول دی، او هرچه حیض حالت کښے جماع کول، یا دُبر کښے جماع کول دی، نو که دا حلال ګڼړی نو کافر دے، ځکه دا د الله تعالیٰ بیعزتی کول دی۔ دهغه په مقابله کښے اودریدل دی۔ چه الله تعالیٰ ورته حرام وائی او دے ورته حلال۔ اوکه حلال ئے نه ګڼړی نو بیا د اهل السنة په نیز کافر نه دے، ځکه نبی ﷺ د حیض په حالت کښے جماع کولو سره کفاره بیان کړیده چه هغه نصف دینار دے۔ نو که دا کفر وے نو بیا کفارے ته څه ضرورت دے ؟۔ البته خوارج ورته کافر وائی۔ خو غلط وائی۔

اوس که ته **سوال** اوکړے چه دلته رسول الله ﷺ ورته کفر وئیلے دے او حال دا چه تا اووئیل : دا نه کافر کیږی ؟۔ **جواب** : دلته د کفر معنیٰ حقیقی نه ده مراد دوجے د نورو

دلائلو نه بلکه دا کفر دون کفر دے، یعنے په ګناه کبیره باندے هم د کفر اطلاق کیږی۔ ځکه په دے کښے د کافرانو سره مشابهت دے او د کافرانو عمل دے۔ ځکه زنا لوئی شے دے په هغے نه کافر کیږی نو په حالت د حیض کښے په جماع سره په طریقه اولیٰ نه کافر کیږی۔

٢ - امام ترمذیؒ جواب کوی چه داسے احادیث کله راشی نو د هغے مطلب تغلیظ او تشدید وی په دے کارونو کښے، او حقیقت مراد نه وی۔

٣ - یا د کفر نه مراد کفران النعمت دے، ناشکری ئے اوکړه د الله تعالیٰ د نعمت۔

٣ - (ف) او د ساحر او کاهن خواته ورتلل دوه قسمه دی، که د سیل دپاره ورغے نو ځلوینښتو ورځو پورے ئے مونځ نه قبلیږی۔ او که چرے تصدیق ئے اوکړی او خبره ئے رشتینے اوګنړی، نو بیا کافر کیږی۔

کَاهِنًا : کاهن هغه شخص ته وائی چه د آینده واقعاتو خبر ورکوی چه مثلا وائی صبا له به دا کار کیږی۔ ٢ - نجومی دیته وائی چه د ستورو په مدد سره خبرونه ورکوی۔ د خلقو طالع معلوموی د ستورو په ذریعه فالګر ورته هم وائی۔

درجة الحدیث : رواه الترمذی باسناد فیه مقال : لیکن دا حدیث حسن یا صحیح دے، لکه امام نسائیؒ، ابوداودؒ، ابن حبانؒ، ابن المدینیؒ ورته صحیح وئیلے دے، په روایت د ابن أبی شیبه د حکیم الأثرم نه۔ وصححه الالبانی فی صحیح الترمذی (١/١٣٥) وقال الشیخ رمضان فی تعلیق المشکاة (١/٢٤٤) واسناده صحیح اخرجه احمد (٢/٤٠٨-٤٧٦) والدارمی (١/٢٥٩) وابوداود (٣٩٠٤)۔

---

٨ - وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضی الله عنه قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَا يَحِلُّ لِيْ مِنِ امْرَأَتِيْ وَهِيَ حَائِضٌ قَالَ : مَا فَوْقَ الْإِزَارِ وَالتَّعَفُّفُ عَنْ ذٰلِكَ أَفْضَلُ). رَوَاهُ رَزِيْنٌ. وَقَالَ مُحْيِ السُّنَّةِ : اِسْنَادُهُ لَيْسَ بِقَوِيٍّ.

ترجمه : معاذ بن جبلؓ فرمائی : ما عرض اوکړو : یا رسول الله ! ماله د خپلے بی بی نه د هغے د حیض په ورځو کښے څه حلال دی؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د لنګ دپاسه حصه، خو ددے نه هم ځان ساتل غوره دی۔ (رزین) محیی السنه فرمائی : ددے اسناد قوی نه دے۔

تشریح : دا حدیث ضعیف دے، معارض نشي جوړیدے د حدیث (اصنعوا کل شئ الا النکاح) سره۔ ځکه هغے کښے اجازت دے مطلقاً، سیوا د محل النجاست نه۔ او په دے روایت کښے د ما تحت الازار نه فائده اخستل حرام خودل شوی دی۔ علامه عراقیؒ فرمائی : ددے حدیث ضعف ددے روستو لفظ (وَالتَّعَفُّفُ عَنْ ذٰلِكَ أَفْضَلُ) نه هم معلومیږی، ځکه چه دا مخالف دے د هغه څه چه د نبی ﷺ نه منقول دے چه هغه به مافوق الازار نه فائده اخستله، او هغه خو افضل عمل نه پریخودلو نو که دا افضل وے نو بیا ئے ولے پریخودلو ؟۔

درجة الحدیث : رواه ابوداود ایضا (۲۱۳) وقال لیس هو بالقوی فاسناده ضعیف فیه بقیة بن الولید وفیه سعد بن عبد الله الاغطش وعبد الرحمن بن عائذ لم یسمع من معاذ کما فی التلخیص والمرعاة (۲/۲۵۰) وضعیف ابی داود رقم (۳۶) باب المذی. وعزاه ابن الحجر فی التلخیص الی الطبرانی (۱/۱۶۶)۔

---

۹ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (إِذَا وَقَعَ الرَّجُلُ بِأَهْلِهٖ وَهِيَ حَائِضٌ فَلْيَتَصَدَّقْ بِنِصْفِ دِيْنَارٍ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : ابن عباسؓ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : کله چه سړے خپلے ښځے سره د هغے دحیض په ورځو کښے جماع اوکړی، نو هغه له پکار دی چه نیم دینار صدقه کړی۔ (ترمذی، ابوداود، نسائی، دارمی، ابن ماجه)۔

تشریح : فَلْيَتَصَدَّقْ بِنِصْفِ دِيْنَارٍ : د ښځے سره په حالت د حیض کښے جماع کولو په **کفاره** کښے اختلاف دے چه کفاره واجب ده که مستحب ؟۔

۱ – نو اکثر علماء لکه ائمه ثلاثهؒ فرمائی : کفاره صرف توبه ویستل دی ځکه ګناه کبیره ئے کړیده۔ او مال خرچ کول واجب ندی نه په سړی او نه په ښځه۔ بلکه صرف مستحب دی۔ وهو قول عطاء وابن ابی ملیکة والشعبی والنخعی ومکحول والزهری وابوالزناد وربیعة وحماد بن ابی سلیمان وایوب السختیانی وسفیان الثوری واللیث بن سعد رحمهم الله. شرح مسلم (۱/۱٤۱) وقال ابن کثیر : فیستغفر الله ۔ دوی وائی چه اصل برائة الذمة دے مګر چه دلیل موجود شي او دلیل نشته ځکه د دوئ په نیز حدیث کښے

اضطراب دے۔ لیکن د دوئ دا خبره ضعیفه ده۔کما ستعرف۔
٢ - د امام احمدؒ یو قول، د امام شافعیؒ قول قدیم او ابن عباسؓ، حسن بصریؒ، سعید بن جبیرؒ، قتادةؒ، اسحقؒ، اوزاعیؒ فرمائی : چه کفاره مالی واجب ده، او دا قول صحیح دے په اعتبار د دلیل سره۔ او دا حدیث دلیل دے چه کفاره ورکول واجب دی۔ او امر د وجوب دپاره دے۔ او قرینه د استحباب نشته۔
او دا حدیث صحیح دے چاچه په کښے دا اضطراب بیان کړیدے چه کله نصف دینار ذکر کیږی، کله دینار ذکر کیږی نو په کوم به عمل کوو؟ لهذا پدے باندے عمل نشی کیدے۔نو دا خبره د دوئ **صحیح** نه ده۔ وجه داده چه اضطراب نشته ځکه د نصف دینار او دینار د حکم تشریح ابن عباسؓ په بل حدیث کښے کړیده لکه روستو را روان دے چه ابتداء د حیض کښے جماع اوشی نو دینار دے او چه آخر کښے اوشی نو نصف دینار دے۔ نو حدیث کښے هیڅ اضطراب نشته، او صحیح دے او محمول دے په وجوب باندے، امر پکښے راغلے دے او قرینه صارفه د وجوب نشته لکه دا علامه شوکانیؒ په نیل الأوطار (٣٥٢/١) اوعلامه البانیؒ په آداب الزفاف (٢٥/١) کښے فرمائیلی دی۔ و قال : سنده صحیح ، صححه جماعة من المتقدمین والمتأخرین واخرجه اصحاب السنن والبیهقی باسناد صحیح علی شرط البخاری وصححه الحاکم ووافقه الذهبی وابن دقیق العید وابن القیم والله اعلم کذا فی توضیح الاحکام (٣١٦٣/١)۔
٢ - **بله مسئله** : په حالت د حیض کښے جماع دوه صورته لری (١) یو داچه په خطاء او ناخبرئ سره اوشی لکه د واده په اوله شپه وغیره کښے اوشی، نو په دے کښے کفاره نشته۔ ٢ - اوکه قصدا ئے اوکړی، لکه دلته مراد ده۔ ای اذا وقع الرجل باهله أی قصدا ۔ نو بیا کفاره ورکول واجب دی، ځکه دا مجرم دے۔ بیا دوه کفارے ضروری دی (١) مالی (٢) اوبدنی دینی۔ دینی داچه استغفار او توبه اوباسی۔ مالی داده چه که په حالت د حیض کښے په سره وینه کښے جماع اوکړی، یعنے ابتداء کښے، نو یو دینار به ورکوی، اوکه زیړه وینه کښے اوکړی نو بیا نیم دینار دے، او ددے وجه داده چه سره وینه په اول د حیض کښے وی، نو دا شخص په اول سر کښے معذور نه دے، ځکه ده او سه پورے خپل حاجت ولے نه پوره کولو، خو هرکله چه دا ناست دے، حاجت نه پوره کوی خو چه حیض راغلو نو دا اوس خپل حاجت پوره کوی نو دا لوئی مجرم دے، پوره دینار به ورکوی۔ او زیړه وینه په آخر کښے وی، نو کیدے شی چه حیض اوګد شی او انسان کمزورے دے نو که دے جرم

کښې واقع شي نو دا څه لږ شان معذور دے، د مخکښې پشان مجرم نه دے نو نيم دينار به ورکوي۔ اودا د شريعت حکمت دے طبيعتونو ته ئے کتلي دي۔

بعض وائي چه په زيړه وينه کښې نصف دينار ځکه مقرر شو چه زيړه وينه په مابين د سره او سپينه کښې ده نو که سپينه وي نو پکار ده چه هيڅ واجب نشي او که سره وي نو پکار ده چه پوره دينار واجب شي نو په زيړه وينه کښې ځکه دينار نيمائي شو چه زيړه هم درميانه ده په مابين د سپينه او سره کښې۔

فائده : د دينار څه مقدار دے ؟ نو دا معلوميږي د مقدار د نصاب د زکوه نه، شل ديناره د سرو زرو نصاب دے په زکوه کښې۔ او ددے نه اووه نيمے تولے جوړيږي۔ او يو دينار ته يو مثقال وائي۔ نو د دوه نيمو تولو قيمت که شلويښت زره روپئ شي نو د يو دينار قيمت دوه زره پاکستاني روپئ جوړيږي۔ او نيم دينار نه زر (١٠٠٠) روپئ جوړيږي۔ او ددينار نه کويتي دينار نه دے مراد بلکه شرعي دينار مراد دے، چه دا ډير دے د کويتي دينار نه ۔ نو بناء پدے سره د يو دينار مقدار (٤'٢٤) گرامه سره زر جوړيږي۔

تنبيه : ددے حديث په باره کښې امام نووي خطاء شويدے په شرح د مسلم (١٤١/١) کښې چه وائي : دا حديث په اتفاق د حفاظو محدثينو ضعيف دے۔ ليکن هغه بل روايت ضعيف دے چه په هغې کښې (خمس دينار) لفظ دے۔ او دا حديث صحيح دے۔ لکه ارواء الغليل (١٩٧/١) او نصب الرايه کښې اوگوره۔ وقد تقدم الكلام على درجته ضمن البحث.

اخرجه احمد (٣٧٢/١- ٣٢٥) والدارمي (٢٥٣/١- ٢٥٥) وابوداود (٢٦٦) والترمذي (١٣٥) والنسائي (١٥٣/١) وابن ماجة (٦٤٠) وصححه الشيخ رمضان ۔

---

١٠ – وَعَنْهُ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : إِذَا كَانَ دَمًا أَحْمَرَ فَدِيْنَارٌ وَإِذَا كَانَ دَمًا أَصْفَرَ فَنِصْفُ دِيْنَارٍ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : ابن عباس فرمائي : نبي ﷺ اوفرمائيل : که د حيض په حالت کښې د وينې رنګ سور وي (او دے حالت کښې خوك نزديکت اوکړي) نو پوره دينار اوکه د وينے رنګ زيړ وي نو نيم دينار صدقه کول لازم دي۔ (ترمذي)۔

تعارف : د زيد بن اسلم :

دا د عمر بن الخطاب غلام دے، ابو عبد الله يا ابو اسامه ئے کنيه ده، مدني ثقه شخص

دي، او د اهل الفقه والعلم نه حساب دے۔ اودا په تفسیر د قرآن کریم کښې ښه پوهه وو۔ ارسال به ئے کولو په احادیثو کښې۔ په سنه (۱۳۶) هـ کښې وفات شویدے په ابتدائی عشره د ذو الحجه کښې۔

تشريح : د دم احمر نه ابتدائی حالت د حیض مرا دے ځکه چه ابتداء کښې وینه سره وی او د دم اصفر نه آخری حالت د حیض دے ځکه په آخر کښې وینه زیړ والی ته مائل وی نو پدے روایت سره تطبیق د دینار او نصف دینار اوشو۔

(۲) بعض وائی دینار به په وخت د وینه کښې وی او نصف دینار به په وخت د انقطاع د وینه کښې وی۔ (۳) بعض وائی چه دا حکم د اختیار دپاره دے که دینار ورکوی او که نصف دینار۔ او حال د سړی ته به کتلے شی په اعتبار د مالدارئ او غریبئ سره۔ لکه دا په بعض ضعیف روایاتو کښې نقل ده لیکن اول قول غوره دے۔

درجة الحديث : وفی سنده عبد الکریم بن ابی المخارق ابو امیة وهو مجمع علی ضعفه لکن اسناده صحیح وصححه الالبانی فی ارواء الغلیل رقم (۱۹۷). قال وصح عن ابن عباس انه فسر ذلك فقال اذا اصابها الدم فی اول الدم فدینار واذا اصابها فی انقطاع الدم فنصف دینار۔ رواه ابوداود وغیره وقد روی مرفوعا والصواب وقفه کما ذکرنا فی صحیح ابی داود رقم (۲۵۷و ۲۵۸)۔

الفصل الثالث - دريم فصل

---

۱۱ — عَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ قَالَ : اِنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَقَالَ : مَا يَحِلُّ لِیْ مِنِ امْرَأَتِیْ وَهِیَ حَائِضٌ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : تَشُدُّ عَلَيْهَا اِزَارَهَا ثُمَّ شَأْنَكَ بِاَعْلَاهَا. رَوَاهُ مَالِكٌ وَالدَّارِمِیُّ مُرْسَلًا.

ترجمه : زید بن اسلم فرمائی : یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو : ما دپاره د خپلے بی بی نه د هغے د حیض په ورځو کښې څه څه حلال دی؟ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل : ته به په هغے باندے لنګ اوتړے بیا د لنګ دپاسه ستا کار دے۔ (مالكؒ او دارمیؒ دا حدیث مرسل روایت کړیدے۔

تشريح : ثُمَّ شَأْنَكَ بِاَعْلَاهَا : دا منصوب دے په اضمار د (خذ) سره یعنے خذ شانك باعلاها یعنے د لنګ نه بره فائده د زنانه نه اخله، دے روایت کښې دادی چه حائضے

ښځې نه د لنګ نه بره فائده اخستل جائز دی۔

او د لاندې د لنګ څه حکم دے ؟ نو د هغې اجازه رسول الله ﷺ په (اصنعوا کل شیئ) سره ورکړه۔ ۲ - یا دا محمول دے په استحباب باندې چه بهتره داده چه انسان د لنګ نه ښکته فائده وانخلی ځکه چه ممکن ده چه جماع کښې واقع شی (وایکم یملك اربه) البته حرام نه ده۔

درجة الحديث : اخرجه مالك (٤٩، ١٢٢) والدارمی (١١٢٥) والبیهقی (٧/١٩١) وسنده صحیح قال الالبانی وهو مع ارساله صحیح الاسناد وله شاهد من حدیث عبد الله بن سعید الانصاری رواه ابوداود باسناد صحیح کما حققته فی صحیحه رقم (٢٤٠)۔

---

١٢ - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كُنْتُ إِذَا حِضْتُ نَزَلْتُ عَنِ الْمِثَالِ عَلَى الْحَصِيْرِ فَلَمْ نَقْرَبْ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ وَلَمْ نَدْنُ مِنْهُ حَتّٰى نَطْهُرَ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : عائشة ؓ فرمائی : زه به چه کله حائضه شوم نو د بسترې نه به بزکی ته راتلم، ترڅو به چه زه پاکه شوې نه وم نو مونږ به نبی ﷺ ته نه نزدې کیدو اونه به مونږ د هغه خوا ته راتلو۔ (ابوداود)۔

تشریح : نَزَلْتُ عَنِ الْمِثَالِ : ای الفراش۔

فلم نقرب رسول الله ﷺ ولم ندن منه : دا حدیث په ظاهر کښې معارض او مخالف دے د مخکنو روایتونو سره ځکه چه دے روایت کښې دی چه عائشة ؓ فرمائی : چه کله به زه حائضه شوم نو د کټ او بسترې نه به راکوزه شوم، او بزکی باندې به کیناستم او مونږ به نبی ﷺ ته نه نزدې کیدو او هغه به مونږ ته نه نزدې کیدو، د پاکئ د وخته پورې۔ او مخکښې نه ثابته شوه چه رسول الله ﷺ به عائشې ؓ سره خوراك څکاك وغیره کولو ۔

نو ددې **تطبیق** یو سندی دے او بل معنوی۔ ١ : سندی تطبیق دادې چه مخکنی روایتونه صحیح دی اودا روایت ضعیف دے فی سنده ابو الیمان الرحال قال الحافظ فی التقریب : مستور. ذکره ابن حبان فی الثقات. وانظر ضعیف سنن ابی داود رقم (٢٧١)۔

٢ - معنوی تطبیق دادې چه که دا حدیث صحیح هم شی نو دے کښې مقصود دادې چه د دنو او قرب (نزدیکت) نه مراد د جماع دپاره نزدې کیدل مراد دی، لکه قرآن کښې دی ﴿ولا تقربوهن حتی یطهرن﴾ نو د قربان نه قِربان للجماع مراد دے۔ اود بسترې نه ځکه

راکوزه شويده چه ځان ته څه توته وغيره کيدی، او بستره ګنده نشی۔

۲– دويم پدے روايت کښے دا خبره نشته چه رسول الله ﷺ به مونږ ته نه نزدے کيدو بلکه صرف عائشے به احتياط کولو چه نبی ﷺ خوا ته به نه ورتله ۔ او دا کار هم هميشه دپاره ندے شوے بلکه کله ناکله نزدے والے هم راغلے دے لکه چه مخکښے تير شو چه نبی عليه السلام ددے په غيږ کښے تلاوت کولو۔

أضرار الوطئ فی حالة الحيض :

شريعت چه کوم کار حرام کړی په هغے کښې ډير ضررونه او مصيبتونه وی، کله به انسان ته معلوميږی او کله به نه معلوميږی مگر مسلمان به د هغے د حرمت عقيده ضرور لری لکه د هغه ضررونو نه قرآن حکيم په (اذی) سره تعبير کړيدے فرمائی : ﴿ قل هو اذی فاعتزلوا النساء فی المحيض ولا تقربو هن حتی يطهرن ﴾ نو په اذی کښې اشاره ده ډير ضررونو ته۔

دکتور طبيب محمد بن علی البار : فرمائی د حيض په حالت کښے ذکر په فرج کښے داخلول دا هغه ميکروبات داخلول دی چه اعضائے تناسل د هغے مقاومت پدے حالت کښے نشی کولے نو ددے نه لاندينی مرضونه راپيدا کيږی :

(۱) د رحم په لارو-کښے التهابات (سوزش) پيدا شی نو د هغے د وجه نه ښځه کښے شنډوالے پيدا شی يا نيمګړے بچے پيدا کيږی۔

(۲) کله د سړی د متيازو په لاره کښے داسے ګرمائش پيدا کړی چه د هغے د وجه نه مثانه او ګردے ته نقصان اورسی او بيا د متيازو ترتيب خراب شی سوزی، او يا بنديږی، يا ورسره قطره بيماری پيدا شی۔

(۳) د ښځے جنسی رغبت کموی، خصوصا په ابتداء د حيض کښے۔

(٤) دے نه نيم سيرے بيماری پيدا کيږی۔

(٥) په ښځه کښے غم او پريشانی او تنګ حالی پيدا کوی چه بيائے مزاج خراب وی۔

توضيح الاحکام (۳٦۲/۱)۔

* * * * * * * * * *

باب المستحاضة

مناسبت : حيض كله كله داسے شي چه بالكل وينه په كښے نه اودريږي، رګونه را خلاص شي، نو ددے څه حكم دے ؟ نو هغه بيانوي۔

بعضے كتابونو كښے په دے مقام كښے باب الاستحاض لفظ ذكر دے۔

معنى لغوي : استحاض دم العروق (د رګونو وينے) ته وائي۔ چه د رحِم نه نه وي۔

استحاض طبعي حيض ندے بلكه دا يو مرض دے چه ښځے ته د شيطان د وجے نه رسيږي چه په بنده باندے د هغه عبادات خرابوي او دے استحاض ته نبي عليه السلام عرق (رګ) وئيلے دے او ديته په اصطلاح د طبيبانو كښے عاذل رګ وائي هغوي د استحاض تعريف داسے كوي چه دا هغه وينه ده چه د رحم نه يا د عنق الرحم (د رحم او د فرج ترمينځ لاره كښے د رګ) نه خارجيږي د وجے د وجود د پرسوب نه يا سوزش پيدا شي په عنق د رحم كښے د هغے په وجه وينه مسلسل جاري شي او دا اكثر د ګولو استعمالولو په وجه باندے راځي۔

استحاض د حيض نه مشتق دے، باب استفعال دے، ددے باب يو خاصيت مبالغه ده۔ بل خاصيت انقلاب د ماهيت دے۔ او استحاض كښے هم دا دربے واړه معاني راتلے شي۔ يعنے زيادت د وينے ته وائي۔ دارنګه د حيض ماهيت هم په كښے بدل شوے دے، چه دحيض وينه د رحم ده، او دا د رګونو ده او احكام د حيض پرے نه جاري كيږي۔ خو ليكن كله كله د حيض او استحاض فرق نه كيږي۔ نو ددے دواړو معلومولو دپاره به څه كوي، نو دا فرق په احاديثو كښے آسان دے، لو د فقهاؤ په كتابونو كښے ګران دے۔ امام محمدؒ د حيض او استحاض په مسائلو باندے يو كتاب د دوه سوه صفحاتو په مقدار ليكلے دے۔ امام طحاويؒ د پنځه سوه صفحاتو په مقدار كتاب ليكلے دے۔ او دغه شان كتاب دارمي شافعي هم ليكلے دے۔ او يو لوئي جلد امام نوويؒ او ابن نجيمؒ صاحب د بحر الرائق ليكلے دے۔ او بيائے اقرار كړيدے چه دا مسائل ډير ګران دي۔ ابن عابدين وائي چه بعضے علماؤ په كښے پنځه جلده كتاب ليكلے دے، بيائے هم پوره حل كړے نه ده۔

سوال : هر كله چه په دومره ضخيم كتابونو د امسائل نه حل كيږي نو زنانه به څه كوي ؟ هغه به څنګه پوهه شي ؟ چه علماء پرے نه پوهيږي ؟۔

نو ددے **جواب** دادے چه دا مسائل د محققينو په نيز ډير آسان او مختصر دي، اوكومو متأخرينو چه مسائل د متحيره او اقسام د هغے بيان كړي دي هغه تول بے دليله او باطل دي۔ دين نه ئے الغاز (دُوړئ، مُخئ) جوړ كړي دي، اودا د فقهاؤ تعمقات دي۔

اوس دلته بعضے مسائل د حيض بيانيږي۔

۱ - اوله مسئله : د حيض اقله او اكثره موده څومره ده ؟

په دے كښے اختلاف دے ۔

۱ - امام شافعیؒ او امام احمدؒ په نيز اقله موده يوه ورځ او يوه شپه ده۔ او اكثره موده د امام شافعیؒ په نيز پنځلس ورځے دي، او دا يو روايت د امام احمدؒ هم دے۔

۲ - امام ابو يوسفؒ وائي : اقله موده دوه ورځے او د دريمے ورځے اكثره حصه ده۔ او اكثره موده ئے لس ورځے دي۔

۳ - امام ابو حنيفهؒ او امام محمدؒ وائي : اقله موده درے ورځے او درے شپے ده۔ او اكثره موده لس ورځے دي۔ دا آسان قول دے مګر هيڅ صحيح حديث ئے دليل نشته۔

٤ - امام مالكؒ وائي : اقله مودے دپاره حد نشته، او اكثره موده ئے (۱۷) اولس ورځے ده۔ د امام احمدؒ نه درے روايات دي۔ ددے مخكښے پشان۔

٥ - د محدثينوؒ او بعضے سلفوؒ په نيز اقله موده يوه ګينټه هم كيدے شي او اكثره مودے تعيين هم نشته، بلكه قانون دادے چه هره وينه چه زنانه ئے ګوري هغه حيض دے كه هرڅنګه رنګ ئے وي۔ (الا ان يستمر بها الدم) مګر كله چه وينه پرے هميشه شي نو دا به بيا حيض پيژني په درے طريقو سره چه روستو راځي۔ ان شاء الله۔ او دا رائے د امام احمدؒ ده او د حديثونو مطابق ده۔ وبه نقول و كذا اختاره شيخ الاسلام۔

او هغه خړه او زيړه وينه چه حيض نه پس راځي هغه به هم د حيض نه نه حسابيږي، بلكه هغه به استحاض او بيماري وي۔ لكه حديث د ام عطيةؓ كښے دي (كنا لا نعد الكدرة والصفرة بعد الطهر شيئا - بخاري)۔ زيړه يا خړه وينه د پاكوالي نه پس حيض نه دے۔

دلائل الأقوال :

د احنافو سره په اقله او اكثره موده د حيض كښے هيڅ صحيح حديث نشته، بلكه په

دې باره کښې راغلې ټول روایات ضعیف جداً او **موضوعي** دي. لکه ابن جوزي په الموضوعات او ابن القیمؒ په المنار المنیف ((١٢٢/١) کښې دا خبره کړیده.

بیا ملا علي قاريؒ په الموضوعات الکبری ص (١٠٧) کښې وائي: ددې روایاتو ډیرې طریقې دي نو درجې دحسن ته رسیږي. لیکن دا خبره **غلطه** ده. وجه داده چه تعدد د طرق سره هغه حدیث قوي کیږي کله چه ضعف کم وي. او دلته دا ضعف ډیر دې. او چه کله ضعف ډیر وي نو بیا تعدد الطرق ضعف نور هم زیاتوي. لکه دا خبره مصطلح الحدیث کښې معلومه شویده. دا وجه ده علامه زیلعي په نصب الرایه (١٩١/١) کښې هغه احادیث راوړیدي او کلام ئې پرې کړیدې.

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په مجموعه الفتاوی (٦٢٣/٢١) کښې فرمائي: کومو احادیثو کښې چه دا بیان شوي دي چه د حیض اقله موده درې ورځې او اکثره موده لس ورځې ده نو ټول اهل العلم بالحدیث متفق دي پدې خبره چه دا په نبي علیه السلام باندې دروغ دي او دا احادیث موضوعي دي. انتهی. منهاج السنه (١١٥/٤).

٢- علامه شوکانيؒ فرمائي: لم یأت فی تقدیر اقل الحیض واکثره ما یصلح للتمسك به بل جمیع الوارد اما موضوع او ضعیف لمرة. السیل الجرار (٣٣٧/١) ونقله الشیخ الالبانی فی الضعیفة (٦٠٩/٣). یعني د حیض د مودې په تعیین کښې هیڅ داسې حدیث نشته چه هغه قابلِ تمسك وي بلکه ټول روایات یا موضوعي دي یا ضعیف دي.

٣- سید سابق صاحبؒ وائي: لا یتقدر اقل الحیض ولا اکثره ولم یأت فی تقدیر مدته ما تقوم به الحجة. یعني د حیض په اقله او اکثره موده کښې هیڅ تحدید نشته او پدې باره کښې چه کوم روایات راغلي دي هغه قابلِ دلیل ندي. فقه السنة (٩٢/١).

او دغه شان خبره علامه نواب صدیق حسن خان په الروضة الندیه (٦٢/١) کښې کړیده. ٤- امام ابن رشدؒ فرمائي: (لامستند لها) ددې اقوالو هیڅ دلیل نشته.

٥- علامه مراد شکريؒ فرمائي: تحدید الزمن للحیض والطهر ممن حدده لا دلیل علیه وانما رجع للعادة والتجربة. شرح المنخلة النونیة ص (٣٠).

یعنې چاچه د حیض او طهر موده تحدید کړیده پدې باندې هیڅ دلیل نشته بلکه ښځه به عادت او تجربې ته رجوع کوي.

٦- شیخ بسام فرمائي: لا حد لاقل الطهر ولا لاکثره فمادام الدم موجودا فهو دم حیض ومادام النقاء فهو طهر، صحح ذلك فی الکافی وصوّبه فی الانصاف وهو مذهب ابی حنیفة

ومالك۔ توضيح الاحكام (۱/۳۵٦)۔

یعني د طهر (او حیض) اقل او اکثر موده نه ده معلومه بلکه وینه چه موده وی حیض دے او که وینه اودریده نو دا طهر دے او دا مذهب د امام ابو حنیفه او مالك دے۔

وقال خلیل احمد السهارنفوری فی بذل المجهود : کنت لا اعرف هذه المسائل فقلت لعلها تفتح علی عند شرحی لابی داود فلما کتبت الشرح لم یزدنی الا حیرة.

اقول : و کذلك التقلید یفعل باهله !!

د شوافعو او حنابلو په اکثره موده د حیض باندے دلیل دادے چه حدیث کښے ذی :

(ما رأیت من ناقصات عقل ودین) په هغے کښے دا الفاظ دی (تجلس احداکن شطر دهرها فی بیتها لا تصلی ولا تصوم) او شطر په معنیٰ د نصف سره دے، نو میاشت کښے پنځلس ورځے اکثره موده د حیض ده۔ لیکن دا حدیث باطل او غیر معروف دے پدے لفظ باندے، کما قال النووی وضعفه ابن الجوزی. وقال الحافظ : لا اصل له بهذا اللفظ وقال ابن دقیق العید و لا یثبت بوجهٍ من الوجوه . التلخیص الحبیر (۱/۱٦۲)۔

اود احنافو دپاره په اکثره موده باندے- چه لس ورځے دی – درے روایات دی چه نصب الرایه (۱۹۱/۱) او تنقیح التحقیق (۲۳۹/۱) کښے ذکر دی۔ لیکن هغے کښے ډیر کلام دے، او احنافو هم دا منلے ده چه دا ضعیف دی، لیکن دوئ ورته په مجموع الطرق سره حسن وائی، لیکن جمهور محدثین فرمائی : حسن نه جوړیږی ځکه داسے راویان په کښے دی چه هغه متروك دی۔ نو په مجموع الطرق سره هم حسن ته نه رسیږی۔ بلکه لا ضعف زیاتیږی۔ په دے وجه ابن جوزیؒ په الموضوعات کښے فرمائی : (الأحادیث فی هذا الباب باطلة) ۔یعنے په دے باب کښے راغلی ټول احادیث باطل دی۔ ابن قیمؒ په المنار ص (۱۲۲) کښے فرمائی : ومن ذلك أی من الأحادیث الموضوعة ما نقلت فی تقدیر اقل الحیض و اکثره لم یثبت من ذلك شئ بل کله باطل ۔

په دے باب کښے د محدثینو **قول راجح** دے۔ **دلیل** دادے چه د نبی ﷺ په ازواج مطهرات او عام مومنو زنانو باندے هم حیض راتلو او بیا هم نبی ﷺ دانه دی فرمائیلی چه اقله موده یا اکثره موده دومره ده۔ بلکه کارئے وجود ته پریښے دے یعنے کله چه وینه موجوده شی نو هغه حیض دے، اوکله چه منقطع شی نو دا طهر دے۔

بله دا چه ددے دپاره منضبطه **قاعده** نشته بلکه داد فطرت او واقع مطابق راځی، بعضے ملکونه ګرم وی، نو ډیر حیض د زنانو راځی، اوزر زر راځی، او بعضے ملکونه یخ

وی نو حیض لګ راځی، او ډیره موده پس راځی۔ نو په اعتبار د مکان سره په کښې تغیر راځی، نو شریعت په کښې تحدید او توقیت نه دے متعین کړے۔ نه د اکثرے مودے او نه د اقلے مودے۔ بلکه د انسانانو د طبیعت او عادت او تجربے مطابق حکم پریخودے شویدے۔ او که یو قانون ورله مقرر شی نو بیا خو زنانو کښې د خلقت په اعتبار مساوات پکار وو او حال دا چه په خلقت کښې خو تفاوت دے نو حیض کښې به هم تفاوت وی۔

نو په دے ټولو اقوالو کښې راجح قول د محدثینو ؒ دے۔ چه هیڅ تعیین او تحدید د اقلے او اکثرے مودے د **حیض** نشته۔

نو اوس به دا مونږ څنګه معلوموو چه دا **حیض** دے او که **استحاض** یا طهر ؟ ۔

نو **قانون** دادے چه کله وینه راغله نو دا به حیض وی، هر څومره وخت چه وی، مګر کله چه د عام عادت د زنانو نه زیاته شی نو آیا دا به حیض وی که استحاض ؟ نو ددے فرق به کوی په یو د درے طریقو سره چه هغه په احادیثو کښې ذکر دی:

(۱) - **اوله طریقه** : امام بخاری (۴۷/۱) مسلم (۵۱/۱) حدیث د فاطمه بنت ابی حبیش ؓ ذکر کړیدے چه په دے کښے دا طریقه ده چه زنانه به د خپل عادت انتظار کوی چه عادت ئے شپږ یا اووه ورځے وی نو هغه به حیض حساب شی او ما سیوا ددے نه به استحاض وی۔ دا هله چه زنانه خپل عادت پیژنی۔ او عادت ئے مقرر معلوم وی (فاذا اقبلت حیضتك) نه معلومیږی۔ نو ددے عادت نه پس به غسل اوکړی او مونځونه به کوی اګرکه وینه ترے روانه وی۔ تردے چه بله میاشت راشی۔ بله میاشت کښے به بیا خپل عادت په حیض کښے حساب کړی، او ماسِویٰ د هغے به استحاض وی، غسل به کوی او مونځونه به کوی۔ او دا طریقه په را روان حدیث کښے راځی (قدر الأيام التى كنت تحيضين فيها)۔

(۲) - **دویمه طریقه** : که په دے هم نه پوهیدله، عادت ورته نه دے معلوم، نو تمیز به کوی په الوان او رنګونو سره۔ د حیض وینه زنانه پیژنی چه توره وی، او د رګونو وینه سپینوالی ته مائل وی۔ نو دکومے ورځے نه چه په رنګ کښے تغیر راغلو نو مخکښے به حیض وی او روستو به استحاض وی۔ او دا په فصل ثانی کښ اول حدیث کښے (فانه دم اسود يعرف) ذکر ده۔

(۳) - **دریمه طریقه** : که دا هم نشی پیژندلے نو بیا به قیاس کوی۔ علی غالب ایام عادة النساء من اهل البلد۔ یعنے ددے چه کومے همزولے خپلوانے زنانه دی لکه خور ترور

وغيره يا د کلي په همزولے جينکو به قياس اوکړے شي چه د هغوئ څومره موده حيض وي هغه به ددے زنانه هم حساب کړے شي، لکه مثلا د عامو زنانو حيض شپږ يا اوه ورځے وي نو ددے زنانه به هم اووه ورځے حيض حساب شي، او باقي به استحاض وي۔

اودا قول د شيخ الاسلام ابن تيميةؒ او علامه شوکانيؒ السيل الجرار(۱/۱۴۳ - ۱۴۶) کښے راجح کړيدے۔ نو دا قياس به هله کوی چه کله ددے زنانه په ځان شك پيدا شي چه دا وينه زما د عادت نه زياته شويده۔ لکه دا طريقه په حديث د حمنه بنت جحشؓ کښے را روانه ده۔

په دے باندے بله **مسئله تفريع** ده هغه دا چه هره وينه چه په موده د حيض کښے وي نو هر څنگه **وينه** چه وی نو هغه به **حيض** حسابيږي۔ رنگ لره په دے موده کښے اعتبار نشته۔ البته که د عادت نه زياته وينه راغله نو بيا به تمييز بالألوان کوی۔

دا طريقے په احاديثو کښے ذکر دی۔ او ددے نه ماسوا د حيض په باره کښے تفاصيل ورکول هسے تعمقات د فقهاؤ دی۔ چه دا مسائل ئے قصداً گران کړيدی۔ ورنه اصل مسئله آسانه ده۔ د احاديثو په نگاه چه اوکتلے شي نو په دغه درے (۳) طريقو د حيض او استحاض مسائل حل کيږي۔ نورو تعمقاتو او تکلفاتو ته هيڅ ضرورت نشته۔

۲ - مسئله : آيا حيض په يوه مياشت کښے درے کرته راتلے شي که نه ؟

نو اصح داده چه راتلے شي ځکه شريعت ددے دپاره هيڅ حد نه دے معين کړے۔

کما في البخاري باب اذا حاضت في اشهر ثلاث حيض (۱/۴۷)۔

۳ - مسئله : طهر متخلل بين الدمين له په شريعت کسے هيڅ **اعتبار نشته**۔

بلکه د عام امت مذهب دادے چه د طهر موده شريعت نه ده مقرر کړے، يوه ورځ هم کيدے شي لکه څنگه چه د حيض موده نه ده معينه۔ يوه گينټه هم کيدے شي۔ خو طريقه داده چه زنانه لگ آثار د وينے گوري نو غسل به نه کوی۔ بلکه دا حيض دے مگر کله چه بنه پاکه شوه اگرچه يوه گينټه وی نو غسل پرے واجب دے۔

طهر متخلل : ديته وائي چه ابتداء کښے وينه راشي يوه ورځ پس بيا پاکه شي۔ نيمه ورځ يا يوه ورځ يا لگ وخت يا زيات ۔ بيا وينه راغله يوه يا دوه ورځے بيا پاکه شوه بيا وينه راغله نو آيا دا مينځنے طهر به حيض حساب وی اوکه طهر؟ نو دے کښے فقه حنفي

لکه شرح وقایه کښې شپږ مذاهب ذکر کړې دي. او ټول بې دلیله دي. هسې ذهن تیزي او سر زوري ده. نو صحیح دا ده چه طهر متخلل به طهر حسابیږي، لږ وي اوکه ډیر.

اوس هغه فرضي مسائل چه فقهاؤ بیان کړي دي، د هغې یو جهلك ته نظر اوکړئ:

۱ - اوله مسئله : مستحاضه څلور قسمه ده :

(۱) مبتدأه (۲) متحیره (۳) معتاده (٤) ممیزه.

۱- **مبتدأه** : هغه زنانه ده چه بلوغ ته اورسي او د ابتداء نه همداسې وینه پرې همیشه روانه شي. ددې حکم عند الأحناف دادې چه دا زنانه به په هره میاشت کښې اکثره موده د حیض تیره وي او باقي به استحاض حساب شي. یعنې لس ورځې حیض باقي استحاض. لیکن په دې باندې دلیل نشته.

۲ - **معتاده** : هغه زنانه ده چه د حیض عادت ئې معلوم وي چه پنځه یا شپږ اووه ورځې دي، لیکن اوس خپل عادت نه وینه زیاته شوه نو دابه څه کوي؟ حکم ئې دادې چه (ردت الی ایام عادتها) یعنې دا زنانه به د خپل عادت موده حیض حساب کړي، اوباقي چه څومره وینه راغله هغه به استحاض شي. مونځ روژه به په دې ورځو کښې کوي. خو دا هله چه کله د لسو ورځو نه واوړي. امام مالك" عادت له هیڅ اعتبار نه ورکوي.

۳ - **ممیزه** : هغه زنانه ده چه هغه د حیض او استحاض تمیز کولې شي په رنګ د وینې سره چه دا وینه د حیض ده اودا وینه د استحاض ده.

په دې کښې اختلاف دې : ائمه ثلاثه دا تمیز باللون مني او احناف ئې نه مني. بلکه وائي چه عادت له اعتبار دې، نه تمیيز لره. څکه چه نبي ﷺ په حدیث د ام سلمة" کښې هغه زنانه ته دا فرمائیلي وو (لتنظر عدد اللیالي والأیام التي کانت تحیض من الشهر الخ). لکه روستو را روان دې. یعنې د عادت ورځو ته به رجوع کوي. او دلته ئې ورته دا اونه فرمائیل چه تمییز کولې شي په رنګ سره.

لیکن ائمه ثلاثة" وائي : تمییز باللون معتبر دې، احادیث پرې دلیل دې. لکه حدیث د عروه بن الزبیر" کښې را روان دي. فاطمه بنت ابي حبیش" ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل : (اذا کان دم الحیض فانه دم اسود یعرف) دا صحیح حدیث د ابوداود دې. او تمییز له اعتبار په کښې ورکړې شویدې.

صاحب المرعاة د دواړو تطبیق داسې کړیدې چه فاطمة" معتاده ممیزه دواړه وه، نو کله

نبي ﷺ فيصله په عادت کړيده اوکله ئې په تميز باللون سره فيصله کړيده۔
٤ - **متحيره** : يعنې حيرانه زنانه چه هيڅ نه نه وي خبره۔ اوله کښې دا معتاده ده، ليکن بيا پرې وينه هميشه شي نو خپل مخکښې عادت هم ترې هير شي۔
دا په درې **قسمه** ده :
١ - متحيره بالعاده : چه د خپل حيض ورځې ترې هيرې شوې وي، چه پنځه دي که شپږ وغيره ۔ ٢ - متحيره بالوقت والزمان : چه زمانه د حيض ورته نه ده معلومه چه اول د مياشتې وه که وسط اوکه آخر۔ اگرکه ورځې د عادت ورته معلومې وي، چه دومره ورځې وې۔ ٣ - متحيره بهما : يعنې نه ورته عادت معلوم دې اونه ورته زمانه د حيض معلومه ده۔ ...... ددې حکم دادې چه ائمه ثلاثة فرمائي : که دا مميزه وي يعنې د حيض معلومات د وينې په ذريعه کولې شي نو په دې باندې به عمل کوي۔
احناف وائي - لکه بحر الرائق ليکي - چه متحيره د کومو ورځو په باره کښې يقين راشي چه دا د حيض ورځې دي يا ئې غالب گمان راشي، نو په هغې به عمل کوي۔ او په دغه ورځو کښې به روژه نيسي او مونځونه به کوي۔ اوباقي ورځې به طهر حساب شي۔ او د هر مانځه دپاره به اودس کوي پس د غسل کولو نه۔
نو متحيره بالعاده به د خپل حيض د ابتدائي تاريخ نه درې ورځو پورې مونځ پريدی، دا به حيض حسابيږي، ددې نه پس اووه ورځې به غسل د هر مانځه دپاره کوي، ځکه هر وخت او هره ورځ دا احتمال شته چه په دې وخت کښې حيض منقطع شوې وي۔ اوباقي شل ورځې به طهر حسابيږي۔ نو صرف هر مانځه ته به اودس کوي۔
او متحيره بالزمان به د هرې مياشتې د ابتداء نه د خپل عادت مطابق ورځې حيض حسابوي، او هر مانځه ته به اودس کوي۔ ځکه چه ددې په طاهره او حائضه کيدو کښې شك دې۔ مثلا عادت پنځه ورځې دې نو د مياشتې د ابتداء نه تر پنځه ورځو پورې به دا کار کوي۔ اوباقي پنځيشت ورځې به هر مانځه ته غسل کوي۔ وجه داده چه دا احتمال شته چه د هر مانځه نه مخکښې دا د حيض نه پاکه شوې وي۔
اومتحيره بهما به د هرې مياشتې د ابتداء نه درې ورځو پورې د هر مانځه دپاره اودس کوي، اوباقي اوويشت ورځې به هر مانځه دپاره غسل کوي۔ ځکه د خروج من الحيض شك باقي دې۔لکن دا ټول تکلفات دي او صحيح مسئله مخکښې تيره شوه په شريعت کښې مستحاضه متحيره نشته۔

فائده : د نبي ﷺ زمانه کښې يولس (۱۱) زنانو باندې استحاض راغلې وو۔ لکه حافظ په فتح الباري (۲۸۲/۱) کښې ذکر کړی دی۔
(۱) فاطمه بنت أبي حبيش (۲) ام المؤمنين زينب رض (۳) أم المؤمنين سوده رض (٤) زينب بنت جحش رض (٥) حمنة بنت جحش رض زوجة ابو طلحه (٦) أم حبيبه بنت جحش رض، زوجة عبد الرحمن بن عوف (۷) اسماء اخت ميمونة رض (۸) زينب بنت ابي سلمة رض (۹) اسماء بنت الحارثية رض (۱۰) بادية بنت غيلان الثقفية (۱۱) سهلة بنت سهيل۔
امام احمد رح او شيخ الاسلام ابن تيميهٔ فرمائي : مسائل د حيض او استحاض په درې احاديثو کښې راګير شوی دی (۱) يو حديث د فاطمه بنت ابي حبيش (۲) بل حديث د ام حبيبه رض بنت جحش (۳) او حديث د حمنه بنت جحش۔ او يا حديث د ام سلمة رض ، كذا في المغني (۳۲۳/۱) ۔ وتوضيح الاحكام (۳٤۷/۱)۔

الفصل الأول - اول فصل

۱ - عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : جَاءَ تْ فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اِنِّي امْرَأَةٌ أُسْتَحَاضُ فَلَا أَطْهُرُ أَفَأَدَعُ الصَّلَاةَ، فَقَالَ : لَا اِنَّمَا ذٰلِكَ عِرْقٌ وَلَيْسَ بِحَيْضٍ فَاِذَا أَقْبَلَتْ حَيْضَتُكِ فَدَعِي الصَّلَاةَ وَاِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ ثُمَّ صَلِّيْ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : عائشة رض فرمائي : فاطمه بنت ابي حبيش رض نبي ﷺ ته راغله او عرض ئې اوکړو : يا رسول الله ! زه يوه داسې زنانه يم چه زما استحاض - وينه - راځي، زه هيڅ وخت پاکه نه يم، نو آيا زه مونځ پريدم ؟ نبي ﷺ ورته اوفرمائيل : نه، دا خو د يو رګ وينه ده د حيض وينه نه ده، هرکله چه تاته حيض راشي نو ته مونځ پريده، اوکله چه حيض ختم شي نو د خپل ځان نه وينه اووينځه او بيا - د غسل کولو نه پس - مونځ کوه۔ (بخاري، مسلم)۔

تشريح : " أُسْتَحَاضُ فَلَا أَطْهُرُ : يعنې زما وينه نه اودريږي نو زه نه پاکيږم، نو آيا زه حائضه حسابيږم چه مونځ پريدم، اوکه پاکه حسابيږم چه مونځ کوم ؟ نو نبي ﷺ ورته جواب ورکړو چه ته پاکه حسابيږې۔ وجه داده چه دا وينه د حيض نه ده بلکه دا د رګ

د شليدو په وجه جاري شويده، نو دا استحاض - بيماري - حسابيږي. اوچه كله د حيض عادت راشي نو بيا مونځ پريده. اوباقي ورځے استحاض دے.
د استحاض نه لغوی معنی مراد ده چه وينه جاري كيدل دی نه اصطلاحي فقهي معني چه هغه بغير د خپل وخت نه وينه جاري كيدل دی.
فَدَعِي الصَّلَاةَ : يعنے مونځ هم پريده. او روژه هم، لكه دا د نورو احاديثو نه معلومه ده. چه روستو به د روژو قضائي راوړی، او د مانځه قضائي پرے نشته.
عائشه رضي الله عنها ته يوه زنانه راغله تپوس ئے اوكړو (ما بال الحائض تقضی الصوم ولا تقضی الصلوة ؟) يعنی حائضه ولے د روژے قضاء راوړی او د مانځه قضاء نه راوړی سره ددے چه مونځ په درجه كښے د روژے نه اوچت دے. عائشےؓ ورته اوفرمائيل : (احرورية انت ؟). آيا ته هم حروريه ئے ؟. (خوارجو پشان خبرے كوے كوم چه حروراء علاقه (عراق)كښے پيدا شوی وو) بلكه مونږ ته پيغمبر داسے وئيلی دی نو دے كښ د عقل چلولو څه ضرورت ؟. بنده او مسلمان خو ديته وائی چه د الله او د رسول د خبرو تابعدار وی او چون وچرا پكښے نكوی. اګرچه ددے حكمت هم شته ليكن عائشےؓ په هغے رد كولو او نظريه ئے ورله برابرولو څكه ئے ورته حكمت بيان نكړلو علماء د هغے حكمت داسے بيانوی چه روژه په كال كښے يو مياشت وی، او مونځونه په هره ورځ شپه كښے پنځه دی، نو په قضاء د روژه كښے حرج نشته، او په قضائي راوړلو د مانځه كښے حرج او تنګسيا ده. والحرج مدفوع فی الشريعه.
۲ - خوارج وائی : د مانځه قضائی به هم راوړی څكه چه مونځ خو د روژے نه بهتر دے، ليكن دا بے دليله خبره ده، د احاديثو نه خلاف او د تشدد نه ډكه خبره ده. او ځان د الله او رسول نه مخكښے كول، د منصبِ عبديت نه خلاف ده. اوس هم بعضے صوفياء د مانځه قضائی ضروری ګنړی، دا جهالت دے.
۳ - بعضے سلفؒ - لكه عطاءؒ - وائی : تشبه بالمصلين به كوی، يعنے د مونځ ګذارو سره به مشابهت كوی. په دے طريقه چه په مصلیٰ به كينی او ذكر اذكار به كوی. دے دپاره چه ددے زنانه زړه سخت نشی څكه په دے ډيره موده كښے چه كله دا مونځ نه كوی، نو زړه به ئے سخت شی. ليكن دا كار افضل دے او واجب نه دے. او مبالغه په كښے بدعت ده.
فَاغْسِلِيْ عَنْكِ الدَّمَ : يعنے وينه د ځانه اووينځه په غسل كولو سره او بيا مونځ

اوکړه۔ بیا د **مستحاضے** زنانه دپاره په احادیثو کښے درے (۳) کیفیات ذکر دی (۱) اول داچه : هر مانځه ته به اودس کوی، یعنے چه کله وخت داخل شی نو مانځه ته به اودس اوکړی، او چه غیر موقت مونځ وی نو هغے دپاره به اودس کوی، کله چه د هغے اراده کوی۔ کما فی حدیث فاطمة فی نصب الرایة (۲۰۲/۲) وکما یأتی۔

۲ - **دویم کیفیت** : دادے چه جمع بین الصلاتین اوکړی په جمع صوری سره۔ کما فی حدیث حمنة بنت جحش اخرجه ابوداود (۴۶/۱)، والترمذی (۳۳/۱) واحمد۔

یعنے د ماسپخین او مازیگر یا د ماښام او ماسخوتن مونځونه به یو ځائے اوکړی، چه د ماسپخین مونځ مؤخر کړی او مازیگر مونځ را مخکښے کړی او د هر دوه مونځونو کولو نه پس به غسل کوی۔ او د سحر مونځ به جدا کوی سره د غسل کولو نه د هغے دپاره۔

او دا د نبی ﷺ په نیز احبّ او خوښ عمل دے۔ لکه حمنةؓ ته ئے اوفرمائیل : (وهٰذا اعجب الأمرین الیّ). وسیأتی۔

۳ - **دریم کیفیت** : دادے چه د حیض نه پس یو غسل اوکړی او دا فرض دے۔ او بیا هر مانځه ته اودس کوی۔ او دا هم فرض دے۔ او هر مانځه ته غسل کول مستحب دی. فرض نه دی۔ دلیل دادے چه حمنةؓ ته ئے داسے فرمائیلی وو (ان قدرت علی ذٰلك) یعنے که دا کار دے په وسع کښے وی چه جمع بین الصلاتین دپاره غسل اوکړے نو اوکړه (او واجب نه دے)۔

فوائد : ۱ - د حیض وینه نجس ده۔ ۲ - حدیث کښے امر دے په ازاله د نجاست باندے۔ ۳ - مونځ په زنانه باندے د وینے د حیض منقطع کیدو سره سمدست واجب دے، که د مانځه وخت وی نو سمدست به لامبی او روستو والے به نه کوی۔ (نووی شرح مسلم : ۱۵۲/۱)۔ او که تاخیرئے اوکړو او دیته په مقدار د غسلو او یو رکعت وقت ملاویدلو نو ددے مونځ به قضاء راوړی . کما فی الحدیث من ادرك رکعة من الصلاة فقد ادرك الصلاة - بخاری).

الفصل الثانی - دویم فصل

---

۲ - عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ أَبِي حُبَيْشٍ أَنَّهَا كَانَتْ تُسْتَحَاضُ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ ﷺ اِذَا كَانَ دَمُ الْحَيْضِ فَاِنَّهُ دَمٌ أَسْوَدُ يُعْرَفُ، فَاِذَا كَانَ ذٰلِكَ

فَامْسِكِي عَنِ الصَّلَاةِ فَإِذَا كَانَ الْآخَرُ، فَتَوَضَّئِي وَصَلِّي فَإِنَّمَا هُوَ عِرْقٌ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : عروه بن زبیرؓ د فاطمه بنت ابی حبیشؓ باره کښې فرمائي : چه دے ته به جاري وينه راتلله نو ديته نبي ﷺ اوفرمائيل : کله چه د حيض وينه وي نو دا يوه توره وينه ده چه پيژندلې شي کله چه دا وينه وي نو د مانځه نه بنده شه او کله چه هغه بله وينه وي نو اودس کوه اومونځ کوه ځکه چه دا د رګ وينه ده۔ (ابوداود، نسائي)۔

تشريح : إِذَا كَانَ دَمُ الْحَيْضِ فَإِنَّهُ دَمٌ أَسْوَدُ يُعْرَفُ : دا د اقبلت حيضتك تشريح ده، يعنے حيض څه ته وائي نو دا توره وينه ده چه زنانه ئے پيژني۔

۱ – دا حديث دليل دے چه زنانه که مميزه وي نو تمييز به په رنګ د وينے کوي په مابين د حيض او استحاض کښے۔ په دے کښے رد دے په احنافو باندے چه دوئ تمييز باللون نه مني۔

فَتَوَضَّئِي وَصَلِّي : يعنے اودس به هر مانځه ته هله کوي چه کله د حيض د مودے تيريدو نه پس غسل اوکړي، او په دے حديث کښے اول کيفيت دے چه هر مانځه ته اودس کول دي۔ ۳ – دارنګه دا حديث دليل دے چه فاطمهؓ مميزه هم وه، لکه څنګه چه معتاده هم وه۔ او دغه شان زنانه په دواړو طريقو عمل کولے شي چه تمييز په رنګ اوکړي او رجوع ايامو د عادت ته هم اوکړي۔

درجة الحديث : رواه ابوداود (۲۸٦) والنسائي (۱/۱۸۵) والدارقطني (۱/۲۰۷– رقم ۵، ٦) والحاكم في المستدرك (۱/۱۷٤) وقال صحيح على شرط مسلم واقره الذهبي فاسناده حسن او صحيح۔ ابن القطانؒ دے حديث ته منقطع وئيلے۔ ځکه محمد بن ابی عدی دا حديث کله په غير د ذکر د عائشةؓ نه ذکر کوی۔ عن عروة بن الزبير عن فاطمة۔ اوکله مينځ کښے عائشةؓ ذکر کوی۔

ليکن ددے **جواب** ابن القيمؒ ورکړيدے چه دا خبره غلطه ده ځکه محمد بن ابی عدی حافظ او متقن دے۔ اودا حديث ئے ښه ياد کړيدے او په دوه طريقو ورته نقل شويدے۔ نو کله واسطه ذکر کوی۔ اوکله دغه واسطه نه ذکر کوی۔ دواړو سره ملاؤ شويدے۔ ځکه فاطمهؓ ئے د تره لور وه، او عائشهؓ ئے خاله (ترور) وه۔ نو د انقطاع احتمال ختم شو۔ و

صححه ابن حبان ایضا۔

---

٣ – وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ : إِنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تُهَرَاقُ الدَّمَ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَاسْتَفْتَتْ لَهَا أُمُّ سَلَمَةَ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ : لِتَنْظُرْ عَدَدَ اللَّيَالِيْ وَالْأَيَّامِ الَّتِيْ كَانَتْ تَحِيْضُهُنَّ مِنَ الشَّهْرِ قَبْلَ أَنْ يُصِيْبَهَا الَّذِيْ أَصَابَهَا فَلْتَتْرُكِ الصَّلَاةَ قَدْرَ ذٰلِكَ مِنَ الشَّهْرِ ، فَإِذَا خَلَّفَتْ ذٰلِكَ فَلْتَغْتَسِلْ ثُمَّ لْتَسْتَثْفِرْ بِثَوْبٍ ثُمَّ لْتُصَلِّ).
رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَرَوَى النَّسَائِيُّ مَعْنَاهُ.

ترجمه : ام سلمهؓ فرمائی : یوه زنانه ته د استحاض وینه راتله د نبی ﷺ په زمانه کښې، ام سلمهؓ هغې دپاره د نبی ﷺ نه تپوس اوکړو، نبی ﷺ او فرمائیل : دے له پکار دی چه د شپو ورځو هغه شمیرے ته اوګوری چه دے به په میاشت کښې په هغې ورځو کښې حیض تیرولو مخکښې ددے نه چه دیته دا مصیبت اورسی کوم چه ورته اورسیدو، نو د هغې ورځو په اندازه باندے دے د میاشتے نه مونځ پریدی ، او هرکله چه هغه ورځے تیرے شی نو غسل دے اوکړی او لاندے دے جامه اوتړی مونځ دے کوی۔ (ابوداود، دارمی) او نسائی ددے پشان مضمون نقل کړیدے۔

تشریح : تُهَرَاقُ الدَّمَ : ١– دا صیغه د مجهول ده او ضمیر په کښې راجع دے مرأه ته هغه نائب فاعل دے او الدم منصوب علی التمییز دے یعنے دا زنانه به بهیدلے شوه په اعتبار د وینے سره، او په الدم کښې الف لام زائد دی۔

٢– یا الف لام عوض د مضاف الیه دی۔ او اضافت د دم ضمیر د هاء ته دا استغراق فائده کوی، نو بیا به الدم مرفوع وی، او نائب فاعل به وی، ای تهراق دمائها۔

٣ – یا الدم مرفوع دے او بدل دے د ضمیر د تهراق نه ای تهراق هی الدم، یعنے دا به بهیدلے شوه یعنے وینه به ئے بهیدله ۔ ـ ـ په دے حدیث کښې فرق ذکر دے په مابین د حیض او استحاض کښې په رجوع سره ورځو د عادت ته۔

فَاسْتَفْتَتْ لَهَا أُمُّ سَلَمَةَ : دا قول د راوی دے، نه د ام سلمهؓ ۔ دے روایت کښې دی چه ام سلمهؓ ددے زنانه دپاره تپوس کړیدے۔ او په روایت د دارقطنیؒ کښې دی چه فاطمه بنت ابی حبیشؓ چه کله مستحاضه شوه، نو ام سلمهؓ ته ئے حکم اوکړو چه زما دپاره تپوس

اوکړه اومخکښې حدیث د عائشهؓ کښې تیر شو چه فاطمےؓ پخپله تپوس اوکړو۔ او فصل ثالث کښې حدیث د اسماء بنت عمیسؓ کښې را روان دی، چه اسماء تپوس اوکړو۔ نو څنګه درے واړو ته نسبت د تپوس شویدے ؟۔

لیکن ددے روایتونو ترمینځه هیڅ اختلاف او تعارض نشته۔ وجه داده چه فاطمے، اسماء او ام سلمه دواړو ته حکم اوکړو چه زما دپاره د نبی ﷺ نه تپوس اوکړئ، نو هغوئ دواړو په یو ځائے جدا جدا تپوس اوکړو، خو بیا فاطمے پخپله هم د زیات احتیاط او اعتماد په بناء باندے تپوس اوکړو۔

فائده : حدیث نه معلومه شوه چه استفتاء کښې نیابت جائز دے۔ ۲ – د زنانه تپوس د عالم سړی نه جائز دے۔ ۳ – مُشَافَهَةً د سړی نه تپوس هم کولے شی، کله چه د هغے ذاتی مسائل وی۔ (نووی : ۱/۱۵۲)۔ ٤ – دزنانه آواز آوریدل عند الحاجت جائز دی (نووی)۔

لِتَنظُرْ عَدَدَ اللَّيَالِيْ وَالْأَيَّامِ : دا هغه طریقه ده چه مستحاضه زنانه به خپل ورځو د عادت ته رجوع کوی۔ نو دغه ورځے به حیض حساب شی او باقی به استحاض۔ مثلا پنځه ورځے ددے په هره میاشت کښې عادت دے د حیض۔ خو چه کله مستحاضه شوه نو هم په هره میاشت کښې به پنځه ورځے حساب کړی اوباقی به استحاض وی۔

الَّتِيْ كَانَتْ تَحِيْضُهُنَّ : ای تحیض فیهن ۔ بناء دے په حذف او ایصال باندے فتدبر!۔

فَإِذَا خَلَّفَتْ : یعنے کله چه دے زنانه روستو پریخودے هغه ورځے د حیض چه دا په کښې عادت وه او د هغے نه واوړیدله، نو بیا به غسل اوکړی د حیض د ختمیدو په وجه۔

ثُمَّ لْتَسْتَثْفِرْ : استثفار دیته وائی چه فرج او دبر په پلنه کپړه باندے اوتړی چه په هغه کپړه کښې ئے مالوچ تاؤ کړی وی، او بیا ددے کپړے دواړه طرفونه د پرتوغانړ سره اوتړی، نو په دے سره به ئے وینه د بهیدلو نه بنده شی۔ استثفار اصل کښې د کیدړ یا سپی لکئ د ځان نه لاندے کولو ته وائی نو دا زنانه به هم دغه شان کار وکړی۔

فائده : دا حدیث دلیل دے په دے چه د حیض د ورځو تیریدلو نه پس یو ځل غسل فرض دے۔ ۲ – او د مستحاضے حکم د پاکے زنانه دے چه مونځ به هم کوی، روژه به هم نیسی، قرأت د قرآن هم کولے شی، او ټول عبادات کولے شی، او خاوند ورسره نزدیکت هم کولے شی، مګر د هر مانځه دپاره به اودس کوی۔

درجة الحدیث : اخرجه مالك (۱/٦۲) رقم (۱۰۵) والشافعی فی الام (۱/٦۰)

واحمد (٦/٢٩٣، ٣٢٠) والدارمي (١/١٩٩) وابوداود (٢٧٤) والنسائي (١/١١٩-١٢٠) وابن ماجة بمعناه (٦٢٣)۔

دا حديث هم د بعضو علماؤ په نيز منقطع دے ليکن امام نووي په الخلاصه کښے او ابن عبد البر فرمائي چه انقطاع له اعتبار نشته، او حديث صحيح دے۔ ځکه سليمان بن يسار د رجل نه هم آوريدلے دے، او بيا ئے دام سلمة نه هم آوريدلے دے، نو ځکه دواړه ذکر کيږي۔ اسناده صحيح على شرط الشيخين وصححه الالباني ورمضان ۔

---

٤ - وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ : جَدُّ عَدِيٍّ اسْمُهُ دِينَارٌ – عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ فِي الْمُسْتَحَاضَةِ : تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا الَّتِي كَانَتْ تَحِيضُ فِيهَا، ثُمَّ تَغْتَسِلُ وَتَتَوَضَّأُ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ، وَتَصُومُ وَتُصَلِّي). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه : عدي بن ثابت د خپل پلار په واسطے سره د خپل نيکه نه چه يحيى بن معين فرمائي : د عدي د نيکه نوم دينار دے – د نبي ﷺ نه نقل کوي چه نبي ﷺ د مستحاضے باره کښے اوفرمائيل : چه کومو ورځو کښے هغے ته د عادت موافق حيض راتلو هغے له پکار دي چه هغه ورځو کښے مونځ پريدي، بيا دے د هغه ورځو نه پس يو ځل غسل اوکړي او هر مونځ دپاره دے تازه اودس کوي او روژه دے نيسي او مونځ دے کوي۔ (ترمذي، ابوداود)۔

تعارف : د يحيىٰ بن معين رحمه الله :

دا د بغداد اوسيدونکے دے، مشهور ثقه، حافظ او امام الجرح والتعديل دے۔ په سنه (١٥٨) هـ کښے پيدا شوے، او په سنه (٢٣٢) هـ کښے په مدينه کښے د (٧٧) کالو په عمر باندے د نبي ﷺ په تخته او د هغه په کټ کښے مقبرے ته اوړل شويدے۔ کله چه دده پلار مړ شو، نو دده ته هغه يو نيم لاکهه درهم پريخودل۔ نو دده ټول د حديث په علم باندے خرچ کړل۔ دے په خپل لاس باندے شپږ لاکهه احاديث ليکلي دي۔ د امام بخاري او مسلم، ابوداود، احمد، ابو حاتم، ابوزرعة استاذ دے۔ امام احمد دده په باره کښے داسے فرمائي :

(کل حديث لا يعرفه يحيى بن معين فليس هو بحديث) كذا في تهذيب التهذيب :

١١/٢٨٠)۔

فائده : په دې روايت کښې هم اعتبار ورکړې شويدې عادت د زنانه له، چه هغې ته به رجوع کوي۔ او په هغه اندازه به حيض حساب کړي۔ او باقي به استحاض شي۔

وَتَتَوَضَّأُ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ : په دې کښې اختلاف دې چه آيا مستحاضه به هر مانځه ته اودس کوي اوکه د هر مانځه وخت ته ؟۔

١ – جمهور علماء فرمائي : هر مانځه دپاره به جدا جدا اودس کوي، او صرف يو فرض مونځ به پرې کوي او نوافل پرې هم کولے شي۔ مګر فرض مونځ ته به جدا اودس کوي۔ المجموع (٢/٥٣٥)۔

٢ – حنفي علماء وائي : دا اودس متعلق دې په وخت پورې، يعنې د وخت دپاره به اودس کوي، نوبيا په دې وخت کښې په دې اودس سره وقتي مونځ او قضائي مونځ او نوافل او نذري وغيره هر قسم مونځونه په دې اودس باندې اداء کولے شي، مګر کله چه وخت تير شي نو بيا نشي کولے۔

دوئ دليل دا وائي چه (تتوضأ عند كل صلاة) کښې مجاز الحذف دې، يعنې عند وقت كل صلاة۔ ليکن حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري (١/٣٢٥) کښې فرمائي : (ويحتاج الى دليل الخ) يعنې دا خبره دليل غواړي، چه مونږ ئې حمل کړو په مجاز الحذف باندې۔

او صاحب الهدايه (١/٦٧) چه ددې دپاره کوم حديث ذکر کړيدې چه (المستحاضة تتوضأ لوقت كل صلاة) نو حافظ په الدرايه کښې وائي (لم اجده) دا حديث په دې الفاظو سره ما نه دې موندلے۔ او علامه زيلعيؒ په نصب الرايه (١/٢٠٤) کښې وائي : غريب جدا۔ او دا خبره حقه ده۔ او عينيؒ په بنايه (١/٤١٦) کښې ددې حديث د صحت ډير کوشش کړيدې، مګر څه دليل ئې ددې په صحت باندې نه دې ذکر کړې۔ راجع البيهقي (١/٣٤٣)۔ علامه شوکانيؒ فرمائي : چه صحيح حديث کښې صرف (تتوضأ لكل صلاة) دې او (لوقت كل صلاة) روايت صحيح ندې۔ نيل الاوطار (١/٣٤٧)۔

دا وجه ده چه علامه ابن حزمؒ په المحلى (١/٢٣٤) کښې فرمائي : مونږ په شريعت کښې داسې طهارت هيچرې نه دې موندلے چه هغه په خروج الوقت سره ماتيږي۔ او د وخت د قيام پورې صحيح وي۔ نو معلومه شوه چه اولنے قول راجح دې، او هغه دا چه هر مانځه ته به اودس کوي۔ ځکه په عام طرقو د حديث کښې امر د اوداسه هر مانځه دپاره

راغلي دي۔ لكه په حديث د فاطمه عند البخاري (۳٦/۱) كښې داسې دي (توضئ لكل صلاة) او مجاز او تقدير راويستل خلاف الأصل والقياس دي۔ بلا دليله هغې ته عدول نشي كيدلې۔ وانظر فتاوى الدين الخالص (۳/٤۹) وتحفة الأحوذى (۱/۱۱۸)۔

درجة الحديث : رواه الترمذى (۱۲٦) وابوداود (۲۹۷) وابن ماجه (٦۲٥) والدارمى (۱/۲۰۲) : دا روايت په اعتبار د سند سره ضعيف دے، د شريك بن عبد الله النخعي متكلم فيه راوى او د ابو اليقظان عثمان بن عمير الكوفي ضعيف جدا، راوى په وجه۔ ليكن ددې روايت شواهد ډير دي، لكه زيلعيؒ په نصب الرايه او حافظ په الدرايه كښې راوړيدى۔ او معنىٰ د حديث د متفق عليه روايت د عائشےؓ نه معلومه او صحيحه ده۔

وصححه الالبانى فى صحيح الترمذى رقم (۱۲٦) وابن ماجة ورمضان فى تعليق المشكاة (۱/۲٤۸). فالحديث صحيح۔

---

٥ - وَعَنْ حَمْنَةَ بِنْتِ جَحْشٍ قَالَتْ : كُنْتُ أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيْرَةً شَدِيْدَةً فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ أَسْتَفْتِيْهِ وَأُخْبِرُهُ فَوَجَدْتُهُ فِيْ بَيْتِ أُخْتِيْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ، فَقُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ! إِنِّيْ أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيْرَةً شَدِيْدَةً فَمَا تَأْمُرُنِيْ فِيْهَا قَدْ مَنَعَتْنِي الصَّلَاةَ وَالصِّيَامَ قَالَ : أَنْعَتُ لَكِ الْكُرْسُفَ فَإِنَّهُ يُذْهِبُ الدَّمَ. قَالَتْ : هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذٰلِكَ. قَالَ : فَتَلَجَّمِيْ قَالَتْ : هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذٰلِكَ. قَالَ : فَاتَّخِذِيْ ثَوْبًا قَالَتْ : هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذٰلِكَ. إِنَّمَا أَثُجُّ ثَجًّا. فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ ﷺ : سَآمُرُكِ بِأَمْرَيْنِ أَيُّهُمَا صَنَعْتِ أَجْزَأَ عَنْكِ مِنَ الْآخَرِ، وَإِنْ قَوِيْتِ عَلَيْهِمَا فَأَنْتِ أَعْلَمُ. قَالَ لَهَا : إِنَّمَا هٰذِهِ رَكْضَةٌ مِنْ رَكَضَاتِ الشَّيْطَانِ فَتَحَيَّضِيْ سِتَّةَ أَيَّامٍ أَوْ سَبْعَةَ أَيَّامٍ فِيْ عِلْمِ اللهِ، ثُمَّ اغْتَسِلِيْ حَتّٰى إِذَا رَأَيْتِ أَنَّكِ قَدْ طَهُرْتِ وَاسْتَنْقَأْتِ فَصَلِّيْ ثَلَاثًا وَعِشْرِيْنَ لَيْلَةً أَوْ أَرْبَعًا وَعِشْرِيْنَ لَيْلَةً وَأَيَّامَهَا، وَصُوْمِيْ فَإِنَّ ذٰلِكَ يُجْزِئُكِ، وَكَذٰلِكَ فَافْعَلِيْ كُلَّ شَهْرٍ، كَمَا تَحِيْضُ النِّسَاءُ، وَكَمَا يَطْهُرْنَ مِيْقَاتَ حَيْضِهِنَّ وَطُهْرِهِنَّ، وَإِنْ قَوِيْتِ عَلٰى أَنْ تُؤَخِّرِيْنَ الظُّهْرَ وَتُعَجِّلِيْنَ الْعَصْرَ فَتَغْتَسِلِيْنَ

وَتَجْمَعِينَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ : الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، وَتُؤَخِّرِينَ الْمَغْرِبَ وَتُعَجِّلِينَ الْعِشَاءَ ثُمَّ تَغْتَسِلِينَ وَتَجْمَعِينَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فَافْعَلِيْ وَتَغْتَسِلِيْنَ مَعَ الْفَجْرِ، فَافْعَلِيْ وَصُوْمِيْ اِنْ قَدَرْتِ عَلٰى ذٰلِكَ. قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : وَهٰذَا أَعْجَبُ الْأَمْرَيْنِ اِلَيَّ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : حمنه بنت جحشؓ وائي : ماته به ډېره زياته د استحاض وينه راتله نو زه نبی ﷺ ته راغلم چه نبی ﷺ خبر کړم او هغه نه تپوس اوکړم، نو ما نبی ﷺ د خپلے خور زینب بنت جحشؓ په کور کښے مونده کړو او عرض مے اوکړو : یا رسول الله ! ماته د استحاض وینه ډېره زیاته راځی چه زه ئے د مونځ روژے نه بنده کړے یم۔ دے باره کښے تاسو ماته څه حکم کوئ ؟ نبی ﷺ اوفرمائیل : زه تا دپاره مالوچ تجویز کوم ځکه چه دا وینه ایساروی۔ حمنهؓ اووئیل : هغه – وینه – خو ددے نه ډېره ده (دے سره نه بندیږی) نبی ﷺ اوفرمائیل : لنګ تړه، هغے اووئیل : هغه ددے نه هم زیاته ده۔ نبی ﷺ اوفرمائیل : بیا د لنګ د لاندے یوه بله کپړه ګده، هغے اووئیل : هغه دے سره هم نه بندیږی۔ ځکه چه ډېره زیاته ده۔ وینه د بهیدو پشان راځی۔ نبی ﷺ اوفرمائیل : بیا خو زه تاته د دوه خبرو حکم درکوم، هغے کښے چه ته کومه یوه اختیاروے ، نو د بلے نه به کافی کیږی، او که ته په دواړو باندے طاقت لرے نو ته بنه پوهیږے۔ نبی ﷺ هغے ته اوفرمائیل : د استحاض دا وینه د شیطان د لتو نه یوه لته ده، نو ته شپږ یا اووه ورځے د الله په علم کښے په میاشت کښے حیض اوګرځوه، بیا غسل کوه تردے چه ته اووینے چه ته پاکه شوے او بنه صفا شوے نو بیا درویشت یا څلیرشت شپے ورځے مونځ کوه او روژه نیسه، ځکه دا تا دپاره کافی دی، ته هر میاشت کښے دا کار کوه څنګه چه نورے ښځے حیض تیروی او د هغے نه پس پاکیږی، او که ته ددے خبرے طاقت لرے چه ته د ماسپخین مونځ روستو کړے او د مازیګر مونځ را مخکښے کړے بیا غسل اوکړے او دواړه مونځونه جمع کړے، دغه شان د ماښام مونځ روستو کړے او د ماسخوتن مونځ رامخکښے کړے او بیا غسل اوکړے او ددواړو مونځونو ترمینځ جمع والے اوکړے نو دا کار اوکړه، اود سحر مونځ دپاره غسل کولے شے نو وے کړه، او دغه شان که په روژه باندے قدرت لرے نو نیسه ئے۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : اودا کار په دواړو کارونو کښے ماته زیات خوښ دے۔ (احمد، ابوداود، ترمذی)۔

تعارف : د حمنه بنت جحش رضی اللہ عنہا :

دا د زینب بنت جحش ؓ أم المؤمنین ؓ خور ده، او د مصعب بن عمیر ښځه ده، کله چه مصعب په غزوه احد کښې شهید شو نو طلحه بن عبید الله ؓ په نکاح واخسته۔ دا صحابیه ده۔ یو حدیث ترې نقل دې۔

كُنتُ أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيْرَةً شَدِيْدَةً : حیضه مفعول مطلق دې د استحاض دپاره، او په اصل لغت کښې حیض او استحاض په یوه معنیٰ راځی، او علماء په دې مابین کښې فرق کوی، لکه مخکښې تیر شو۔ نو دلته په اصل لغت کښې خبره کوی۔ نو حیض مفعول مطلق د استحاض دپاره صحیح دې۔ لکه انبته الله نباتا پشان، چه فعل دباب افعال نه دې او مفعول مطلق د مجردو نه دې۔

فَاتَّخِذِیْ ثَوْبًا : یعنې دلجام نه لاندې یوه غټه کپړه کیده چه وینه بنده کړی۔

اِنَّمَا اَثُجُّ ثَجًّا : یعنې زه بهیږم په بهیدلو سره۔ یعنې ډیره جاری یم، دا معنیٰ هله ده چه کله اثج لازم شی۔ اوکه چرې دا متعدی شی نو معنیٰ داده چه زه وینه بهیوم (جاری کوم) په جاری کولو سره۔ اوله معنیٰ کښې مبالغه زیاته ده یعنې ګویاکه زما نفس توله وینه ده۔

فائده : په دې حدیث کښې دریمه طریقه د مستحاضې ذکر ده، چه قیاس به کوی په حیض د همزولو خپلو باندې، ځکه نبی ﷺ حمنه ؓ ته اووه یا شپږ ورځې حیض مقرر کړو او باقی استحاض۔

فَقَالَ لَهَا النَّبِیُّ ﷺ : سَآمُرُكِ بِأَمْرَيْنِ : تردې ځائې پورې علاجونه د وینې د بندولو بیان شو۔ ددې ځائې نه روستو ورته د اوداسه اود پاکوالی حکمونه کوی۔

فَأَنْتِ أَعْلَمُ : یعنې زه درته دوه څیزونه بیانوم چه ته ښه پوهیږې چه ستا کوم خوښ وی هغې باندې عمل اوکړه، البته نبی ﷺ په کښې یو ډیر خوښ کړیدې لکه هغه روستو بیانیږی خو اول ورته مقدمه بیانوی په دې لفظ سره چه (هذه رکضه من رکضات الشیطان)۔

رَكْضَةٌ مِنْ رَكَضَاتِ الشَّيْطَان : یعنې دا وینه د استحاض دا یوه لته ده د لتو د شیطان نه، یعنې شیطان ستا په رګ کښې لته وهلې ده اود هغې په سبب دا وینه روانه شویده۔ اودا

لته وهل په حقيقت باندے بناء دی، مجاز ته ضرورت نشته، ځکه شيطان د انسان په رګونو کښے ګرځي۔ (ان الشيطان يجری من الانسان مجری الدم)۔

بيا ئے شيطان ته ددے وينے د استحاض نسبت اوکړو، وجه داده چه ددے په وجه شيطان انسان لره اوخويوی او په عبادت کښے ورته د خلل پيدا کولو موقع ملاؤ شی، او ددے موقعے نه دا فائده واخلی چه په صفائی او پاکئ او مانځه کښے ورته فساد پيدا کړی۔ ددے وجے نه ورته نبی اکرم ﷺ ددے استحاض حقيقت بيان کړو د مقدمے او تمهيد په طور، او ورته ئے اوفرمائيل چه داسے دوه حکمونه درته بيانوم چه په هغے باندے عمل کولو سره شيطان په خپل مقصد کښے نشی کامياب کيدلے۔

★ يو حکم ئے ورته دا اوکړو چه (فتحيضی ستة أيام او سبعة ايام) : يعنے شپږ يا اووه (٧) ورځے د حيض ورځے شمار کړه، ددے مطلب دادے چه يوه زنانه معتاده ده، يعنے په هره مياشت کښے د هغے عادت د حيض شپږ يا اووه ورځے راځی، ليکن د هغے نه دا عادت هير شی چه شپږ ورځے وو اوکه اووه۔ نو حکم دادے چه دابه په هره مياشت کښے شپږ يا اووه ورځے تيروی، کـه غالب ګمان ئے شپږ ورځے وو، نو هغه شپږ ورځے به حيض حساب شی۔ اوکه غالب ګمان ئے اووه (٧) ورځے وو، نو اووه ورځے به حيض وی۔

بيا نبی ﷺ ورسره (فی علم الله) لفظ ذکر کړو، په دے کښے اشاره ده دے خبرے ته چه ته په خپل غالب ګمان باندے عمل اوکړه او اخوا الله تعالی ته علم دے چه دا شپږ دی اوکه اووه ورځے، خو تـه مکلفه ئے په خپل غالب ګمان باندے۔ (ای فيما علم الله من امرك)۔ يا مطلب دادے چه (اوسبعة ايام) کښے (او) د شك د راوی دپاره دے، او فی علم الله هم د هغه قول دے، نو معنیٰ داده چه راوی وائی : نبی ﷺ ورته شپږ يا اووه ورځے اوخودلے زما شك دے او الله ته پته ده۔ اول مطلب ظاهر دے۔

فائده : علامه شوکانیؒ په السيل الجرار (١٤٣/١) کښے فرمائی : د حيض اقله او اکثره موده نه ده مقرر، که يو انسان د حيض موده مقررول غواړی نو پکار ده چه شپږ يا اووه ورځے مقرر کړی ځکه دلته نبی ﷺ د حيض موده حمنہؓ ته دا حد مقرر کړو۔ نه لس ورځے۔انتهی۔ ليکن دلته دا شپږ اووه ورځے هم د تحديد او تعيين دپاره نه دی۔ ځکه چه (فی علم الله) لفظ ئے ورسره ذکر کړو، يعنے الله ته پته ده چه ستا به شپږ ورځے حيض عادت وی اوکه اووه ورځے، خو داسے ښکاره کيږی چه يا به شك کښے وی، يا به اووه ورځے وی۔ او نبی ﷺ به دا پيژندلے وی ددے د همزولو نه۔ ځکه چه دا د نبی ﷺ ښينے ده، يا به

ورته دے وئيلې وى چه زما شك دے په شپږ او اووه ورځو كښے.

وَاسْتَنْقَاتِ : استنقاء مبالغے سره پاكوالى ته وائى، يعنے ښه پاكه شوے په مودے تيريدو سره.

كَمَا تَحِيْضُ النِّسَاءُ : **فائده** : دا حديث هم دليل دے چه مستحاضه زنانه به قياس كوى په خپلو همزولو باندے اودا دريمه طريقه د پيژندلو د حيض او استحاض ده. مطلب ئے دادے چه لكه څنګه ستا همزولو زنانو حيض شپږ يا اووه ورځے وى، نو ته هم هغه شان حيض اوګرځوه. او څنګه چه د هغوئ د طهر موده ده، نو ته هم هغه اندازه طهر حساب كړه. دغه شان لكه څنګه چه د نورو زنانو حيض په مينځ د مياشت كښے راځى نو ته هم په مينځ د مياشت كښے حيض حساب كړه. اوكه هغوئ اول يا آخر نه راځى نو ته هم دغه شان حساب كړه.

خلاصه د اول حكم داشوه چه ته د خپل حيض موده – برابره خبره ده چه شپږ ورځے وى يا اووه – پوره كړه. او هغے نه پس غسل اوكړه. بيا هر مانځه دپاره به غسل كوى. يا هر مانځه دپاره اودس كول دى. لكه چه همدا د نورو روايتونو نه معلوميږى (وسيأتى بعد هذا الحديث) نو يو غسل او هر مانځه ته بيل بيل اودس كول دا اول حكم شو.

وَاِنْ قَوِيْتِ : ددے ځائے نه دويم حكم بيانوى، چه دا صورت د جمع بين الصلاتين جمع صورى دے. يعنے دوه مونځونو ترمينځه به په داسے وخت كښے غسل اوكړى چه د يو مونځ آخرى وخت وى، يعنے د ماسپخين آخرى وخت وى او ددويم مونځ ابتدائى وخت وى، يعنے د مازيګر ابتدائى وخت وى. بيا به ددے نه پس دواړه مونځونه يو ځائے اوكړى. دغه شان د مغرب او عشاء هم واخله. ديته جمع صورى وائى او دا صرف په دے حديث كښے راغلے ده. د مستحاضے دپاره. او په صلاة السفر كښے دا تاويل كول غلط دى، بلكه هلته جمع معنوى او حقيقى دواړه په احاديثو كښے راغلے ده. او په دے باره كښے (۳۶) احاديث راغلى دى، لكه چه خپل ځائے كښے به راشى ان شاء الله تعالى.

خلاصه د دويم حكم داده : چه د دوو مونځونو ترمينځه يو غسل كول پكار دى، او هر مانځه ته بيا اودس هم كول پكار دى، او سحر مونځ ته به جدا غسل كوى.

وَهٰذَا أَعْجَبُ الْأَمْرَيْنِ اِلَيَّ : يعنے دا آخرى حكم ماته په دواړو حكمونو كښے ډير خوښ او پسند دے. امرين نه مراد (۱) يا امر اول اودس كول دى هر مانځه ته پس د غسل

کولو نه د حیض نه چه اووه یا شپږ ورځې تیریې شي او دا اودس کول اګرچه پدې روایت کښې ندی ذکر مګر په بل روایت کښې ذکر دی ځکه چه نبي علیه السلام ته پته وه چه دې باندې وینه همیشه ده او همیشوالې د وینې خو اودس ضرور ماتوی هر مانځه ته به جدا اودس کوي نو ځکه ئې اودس ذکر نکړو۔ امرثاني جمع بین الصلاتین بغسل واحد دې

(۲) یا امر اول غسل کول دي هر مانځه ته، او امر ثاني جمع بین الصلاتین بغسل واحد دې۔ ظاهر داده چه امر اول اودس دې هر مانځه دپاره پس د غسل کولو نه، او امر ثاني جمع بین الصلاتین بغسل واحد دې۔ نو درې غسل کول مستحب شو۔ او په دې کښې آساني ده په نسبت سره دیته چه هر مانځه دپاره غسل اوکړي او پاکي هم په کښې زیاته حاصلیږي۔ ۳- او په دې سره علاج د زنانه هم کیږي چه بدن یخ شي نو وینه به کمه شي یا به اودریږي۔

آیا مستحاضه دپاره هر مانځه ته غسل کول واجب دی

فائده : پدې حدیث د حمنه او روستو حدیث د اسماء بنت عمیس کښې په ورځ او شپه کښې د درې ځله غسل کولو حکم دې او پدې حدیث کښې ورسره دا بیان شویدی چه ماسپخین مونځ روستو کوي نو یو غسل به کوي یا چه ماښام روستوکوي نو بل غسل به کوي نو ددې مفهوم مخالف دا دې چه که زنانه په خپل خپل وخت کښې مونځ اداء کول غواړي نو دا به هر مانځه ته غسل کوي۔ نو ددې وجې نه پدې مسئله کښې اختلاف واقع شویدې چه آیا مستحاضه زنانه دپاره هر مانځه ته غسل کول واجب دی او که نه ؟۔

نو ۱- د ابن عمر، علي بن ابي طالب، ابن الزبیر او عطاء بن ابي رباح او ابن عباس نه نقل دي چه مستحاضه به هر مانځه ته غسل کوي۔ ۱- استدلال کوي په بعض احادیثو باندې چه زینب بنت جحش ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل : اغتسلی لکل صلاة رواه ابوداود والبیهقي وفي سنده محمد بن اسحق وقد حسن المنذری بعض طرقه کذا في النیل (۳۰۲)۔

۲- دویم : په مسلم کښې د ام حبیبه بنت جحش روایت کښې دی (فکانت تغتسل عند کل صلاة) نو نبي علیه السلام دیته حکم کړې وو چه غسل کوه نو دې به هر مانځه ته غسل کولو۔

۲- جمهور علماء (مالك ابو حنیفه، شافعي، احمد) فرمائي : چه په مستحاضه

باندے صرف یو غسل په وخت د انقطاع د حیض کښے فرض دے باقی غسلونه مستحب دی۔ وهو مروی عن علی وابن عباس وابن مسعود وعائشة وعروة بن الزبیر وابی سلمة بن عبد الرحمن .قاله النووی۔

۱- دوئ وائی هر مانځه ته د غسل حکم والا احادیث ضعیف دی او امام بیهقی وغیره د هغے ضعف بیان کړیدے لکه دا خبره امام نووی په شرح مسلم کښے او علامه شوکانی ذکر کړیده۔ او شیخ صدیق حسن خان په شرح الروضه الندیه کښے فرمائی :

لم یأت فی شئ من الاحادیث ایجاب الغسل لکل صلاة ولا لکل صلاتین ولا فی کل یوم بل الذی صح ایجاب الغسل عند انقضاء وقت حیضها المعتاد او عند انقضاء ما یقوم مقام العادة من التمییز بالقرائن الخ ۔

۲- او بعض وائی دغه احادیث منسوخ دی په حدیث د فاطمه بنت ابی حبیش سره چه په هغے کښے دی : انها توضأ لکل صلاة راغلے دے ۔چه صرف اکتفاء په اوداسه شویده۔ او اصل هم برائت اصلیه دے۔

۳- بعض وائی : هر مانځه ته غسل کولو حکم د علاج او تبرید او تقلیل الدم په خاطر شوے وو ۔ ٤ - پدے کښے راجح **تطبیق** دا دے چه کوم احادیثو کښے تعدد د غسل راغلے دے هغه محمول دی په استحباب باندے نه په فرضیت باندے لکه ابن قدامه په المغنی کښے وائی : د نبی ﷺ فاطمے ته دا قول (توضئی لکل صلاة) دلیل دے چه په ټول احادیثو کښے چه په غسل امر راغلے دے هغه مستحب دے نه واجب او هر مانځه ته غسل کول ډیر افضل دی بیا وریسے (جمع بین الصلاتین بغسل واحد) بیا هره ورځ غسل کول پس د هغه غسل نه چه د انقطاع الحیض دپاره شوے دے بیا هر مانځه ته اودس کول او دا ټول جائز کیږی ان شاء الله۔ انتهی مختصراً۔ او دا جمع علامه شوکانی په نیل الاوطار (۳۰۳/۱) کښے راجح کړیده فرمائی حق مذهب د جمهورو دے ځکه چه بل طرفته صحیح دلیل ندے موجود په ایجاب د غسل هر مانځه ته او خاصکر دا ډیر ګران حکم هم دے خاص بندګان ئے عملی کولے شی او زنانه خو کمزورے مخلوق دے او د شریعت د سماحت نه هم بعید ښکاری او دغه احادیثو کښے هر یو کښے څه نا څه کلام هم شته نو ددے وجه نه دا احادیث د امر به په استحباب باندے محمول شی۔ بیا وائی (وهو جمع حسن)۔

شیخ الاسلام ابن تیمیه فرمائی : والغسل لکل صلاة مستحب لیس بواجب عند الائمة

الاربعة وغيرهم بل الواجب عليها ان تتوضأ لكل صلاة من الصلوات الخمس عند الجمهور ومنهم الائمة الثلثة ابوحنيفة ومالك واحمد . نقله في توضيح الاحكام (۱/۳۹٦) ۔

او کوم روایت د ام حبیبه بنت جحش چه قول اول والا پیش کړو نو په هغې کښې د هغوی هیڅ دلیل نشته ځکه چه هغې هر مانځه ته غسل کولو نو دا هغې د خپل ځان نه په خپل اجتهاد کړے وو۔ نبی ﷺ ورته امر نه وو کړے بلکه هغه ورته صرف داسے وئیلی وو (امكثي قدر ما كانت تحبسك حيضتك ثم اغتسلي) كما قال الامام الشافعي والعلامة الشوكاني والشيخ البسام۔

الفائدة الأنيقة الجامعة : بعضے حدیثونو کښې راځي چه مستحاضه به د زنانو غالب عادت ته ګوري لکه حدیث د ام حبیبه‌ؓ وغیره کښې راغلي دی۔ او بعضو کښې دی چه د وینے په صفاتو او رنګونو سره به تمیز کوی، لکه په حدیث د فاطمه بنت ابی حبیش‌ؓ کښې دی۔ نو په دے کښې هیڅ تعارض نشته، وجه داده چه دا درے واړه طریقے دی د استحاض د معلومولو۔ اود فرق بين الحيض والاستحاض دپاره۔

خو علامه عبید الله مبارکفوری صاحب‌ؒ په دے کښې داسے تطبیق کړیدے چه مستحاضه زنانه به خالي نه وی، یا به معتاده وی، نو دا به خپل عادت ته رجوع کوی، کوم چه مخکښې نه معلوم وو۔ برابره خبره ده که دا ممیزه وی اوکه غیر ممیزه۔ لکه چه دا په حدیث د ام حبیبه‌ؓ کښې راغلي دی (امكثي قدر ما كانت تحبسك حيضتك – مسلم)، اوکه معتاده نه وی خو ممیزه وی، نو دابه د وینو په رنګونو اوصفاتو سره تمیز کوی۔ چه توره وه نو دابه حیض وی، والا فلا۔ او زنانه دا پیژنی۔ کما في حديث فاطمة بنت ابی حبیش‌ؓ ۔ اوکه مبتدأه وه، عادت ئے هم نه وو او تمییز ئے هم نشو کولے، یا معتاده وه لیکن عادت ترے هیر شویدے، نو ددے حکم دادے چه دابه د هغه زنانو عادت ته رجوع کوی کومے چه ددے خپلوانے او همزولے دی۔ که د زنانو عادت مختلف وو، نو غالبو او اکثرو زنانو له به اعتبار وی، اوکه غالب په کښې نه وی نو حکم دادے چه دا به شپږ یا اووه ورځے حیض حساب کړی۔ باقي استحاض۔ لکه په دے حدیث کښې نبی ﷺ حمنة‌ؓ بنت جحش ته دا حکم اوکړو۔ نو دا خدیث محمول دے په هغه صورت باندے چه زنانه خپل عادت نه پیژنی، او تمییز هم نشي کولے په رنګونو د وینے باندے۔

(مرعاة ۲/۲۲٦) بتغيير يسير۔

درجة الحدیث : رواه احمد (۶/۴۳۹) وابوداود (۲۸۷) والترمذی (۱۲۸) باسناد صحیح وصححه البخاری و الترمذی واحمد بن حنبل. وصححه الالبانی فی صحیح السنن رقم (۲۸۷)۔

الفصل الثالث - دریم فصل

۶ - عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ قَالَتْ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اِنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِىْ حُبَيْشٍ أُسْتُحِيْضَتْ مُنْذُ كَذَا وَكَذَا، فَلَمْ تُصَلِّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (سُبْحَانَ اللهِ ! هٰذَا مِنَ الشَّيْطَانِ لِتَجْلِسْ فِىْ مِرْكَنٍ فَإِذَا رَأَتْ صُفَارَةً فَوْقَ الْمَاءِ فَلْتَغْتَسِلْ لِلظُّهْرِ وَالْعَصْرِ غُسْلًا وَاحِدًا، وَتَغْتَسِلْ لِلْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ غُسْلًا وَاحِدًا وتَغْتَسِلْ لِلْفَجْرِ غُسْلًا وَاحِدًا وَتَوَضَّأُ فِيْمَا بَيْنَ ذٰلِكَ). رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ، وَقَالَ :

۷ - رَوٰى مُجَاهِدٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ لَمَّا اشْتَدَّ عَلَيْهَا الْغُسْلُ أَمَرَهَا أَنْ تَجْمَعَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ.

ترجمه : اسماء بنت عمیس ؓ فرمائی : ما عرض اوکړو، یا رسول الله ! فاطمه بنت ابی حبیش ؓ د دومره دومره مودے راسے مستحاضه ده (وینه پرے جاری ده) او هغه (دا حیض ګنړلو په وجه) مونځ نه کوی۔ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : سبحان الله ! دا (مونځ پریښودل) خو شیطانی اثر دے، هغے له پکار دی چه یو ښانك کښیے اوبه واچوی او په هغے کښیے کینی، کوم وخت چه په اوبو کښیے زیړ والے اووینی نو د ماسپخین او مازیګر دواړو مونځونو دپاره دے یو غسل اوکړی، دغه شان د ماښام او ماسخوتن مونځونو دپاره دے یو غسل اوکړی، او د سحر مونځ دپاره دے یو غسل اوکړی (او هرکله چه ضرورت وی نو ددے ترمینځه دے اودس اوکړی۔ دا روایت ابوداود نقل کړے دے او فرمائیلی ئے دی چه مجاهد ؒ د ابن عباس ؓ نه نقل کړی دی چه کله فاطمے ؓ ته هر مونځ دپاره غسل کول مشکل شو، نو نبی کریم ﷺ هغے ته یو غسل سره د دوه مونځونو یو ځائے کولو حکم اوکړو۔

تعارف : د اسماء بنت عمیس رضی الله عنها :

دا صحابیه ده او د اولنو مهاجراتو نه ده، د ام المؤمنین میمونه بنت الحارث خور ده د

مور د طرفنه. د خپل خاوند جعفر بن ابی طالبؓ سره اول حبشو ته بیا مدینے ته ئے هجرت اوکړو. د هغه د وفات نه پس ورسره ابوبکرؓ نکاح اوکړه، د هغه نه پس ورسره علی بن ابی طالب نکاح اوکړه او د ټولو نه ئے اولاد راوړیدی. دا عالمه زنانه وه. عمر فاروق به ددیے نه د خوبونو تعبیر تپوسلو. کله چه د خپل ځوی محمد بن ابی بکر د قتل نه خبره شوه نو په خپله سجده ګاه کښې کیناسته او دومره غصه ئے اوخوړله چه د زور په وجه ئے د سینو نه وینه را اووتله. شپیته (٦٠) حدیثونه ئے امت ته نقل کړیدی. د علی رضی الله عنه نه روستو وفات شویده. رضی الله عنهما.

تشریح : مُنْذُ کَذَا وَکَذَا : یعنی د اووه (٧) کالو نه دا په استحاض بیماریٔ اخته وه، او مونځونه ئے ندی کړی پدیے ګمان چه استحاض به د حیض پشان مانع وی د مانځه نه.

سُبْحَانَ اللهِ ! : نبی علیه السلام دا د تعجب په طور اووئیل چه دومره موده ئے په خپل ګمان مونځونه پریښی دی او نبی ژوندیے دیے د هغه نه تپوس نکوی.

هٰذَا مِنَ الشَّيْطَانِ : یعنی دا استحاض بیماری ٢٠- یا دا مونځونه پریخودل شیطانی کار دیے.

فِيْ مِرْكَنٍ : یعنی هغه خانك کښې ډیے کینی چه او به پکښې وی مرکن : هغه خانك وو چه جامے به ئے په کښې وینځلے.

صُفَارَةً فَوْقَ الْمَاءِ : خانك کښې کیناستو فائده دا ده چه اندامونه ئے یخ شی او وینه کمه شی. صاحب المرعات دا فائده بیان کړیده چه وینه د اوبو سر ته را اوخیژی نو زنانه به پدیے سره حیض او استحاض اوپیژنی ځکه کله چه د اوبو سرته زیړه وینه را اوخیژی نو دا به استحاض وی او که توره وینه وی نو دا به حیض وی بیا چه کله غسل کوی. نو دا اوبه به واړوی او په جدا اوبو به د خانك نه بهر غسل اوکړی.

بعض علماء دا عبارت داسے لګوی چه د صفارت نه مراد زیړ والے د نمر دیے یعنی کله چه نمر زائله شی او د مازیګر وقت نزدیے شی نو زنانه به پدیے وقت کښې د اوبو دپاسه د نمر شعاع اووینی چه د زیړوالی پشان به وی ځکه پدیے وقت کښې د نمر شعاع بدلیږی او کمیږی نو زیړ والی سره مشابه کیږی او پوره زیړوالے خو صرف د نمر پریوتو وخت کښې

وى كوم وخت چه مونځ د مازيگر مكروه گرځى ـ نو مطلب داشو چه غسل به په دغه وخت كښې اوكړى چه زوال شوے وى او د نمر شعاع په اوبو كښې زيړ راښكاره شى ـ

وَتَوَضَّأُ فِيْمَا بَيْنَ ذٰلِكَ : يعنى په مابين د ظهر او عصر كښې به اودس كوى او دغه شان په مابين د مغرب او عشاء كښې به اودس كوى يا خو د وقت د وتلو په وجه كما تقول الاحناف او يا د ديو مونځ كولو په وجه كما يقوله الجمهور وهو الحق. والله تعالى اعلم وعلمه اتم واحكم.

درجة الحديث : أخرجه ابوداود (٢٩٦) وصححه الحاكم (١٧٣/١) والذهبى وصححه ابن حزم وهو صحيح على شرط مسلم. ورواية مجاهد سنده صحيح وصله الدارمى (٨٥٢) لكنه موقوف على ابن عباس. ونتفاول بلفظ ابن عباس وعلمه على غزارة علم هذا الكتاب ان شاء الله تعالى.

تم الحق الصريح

شرح مشكاة المصابيح

وصلى الله وسلم على سيدنا ونبينا محمد

وآله وصحبه ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين.

وبهذا الباب تم المجلد الثانى بعون الله وحسن توفيقه

وفرغت من مراجعته يوم الثلثاء يوم عيد الاضحى ١٠/١٢/١٤٢٦هـ

ويليه **المجلد الثالث** من اول كتاب الصلاة ان شاء الله تعالى ـ

وكتبه : أبومحمد أمين الله البشاورى.

وراجعه مرة اخرى ابوزهير.

فهرست د الحق الصريح شرح مشكوة المصابيح جلد ثانی

ختم شو فهرست